تفسیر حکمۃ القرآن

تالیف

فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری

حفظہ اللہ تعالیٰ

جمع وترتیب: ابو زھیر سیف اللہ

المکتبۃ المحمدیۃ

مینگل مارکیٹ گنج - پشاور

Mob: 0301-8828402



حکمۃ القرآن

٣

تالیف

فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری
حفظہ اللہ تعالیٰ

جمع وترتیب : ابوزهير سيف الله

المکتبۃ المحمدیۃ
مینگل مارکیٹ گنج - پشاور Mob: 0301-8828402

د کتاب نوم ———— تفسیر حکمة القرآن
د مؤلف نوم ———— الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله
جمعه وترتیب ———— ابوزهیر سیف الله (غفر له)
سنۀ طباعت ———— (١٤٣٥) هجری ذی الحجه ٢٨/موافق (١/١١/٢٠١٤)
د نسخو تعداد ———— ١١٠٠
فن ———— تفسیر
ناشر ———— مکتبه محمدیه گنج پیښور
کمپوزنګ ———— الراقم ابوزهیر

د ملاویدو پته

١- **مکتبه محمدیه** بیرون گنج گیټ پهندو روډ منګل مارکیټ پیښور پاکستان
ولی الله 03018828402 ابوسامان: 03025953513 ابوزهیر: 03075924001
٢- ایوب مکتبه واسلامی کیسټ مرکز، عقب قصه خوانی پیښور.
٣- معراج کتب خانه قصه خوانی بازار محله جنګی پیښور.
٤- نوروز کتب خانه صوابی اډه پاکستان.
٥- دار الکتاب والسنة، نیو حاجی کیمپ سلطان آباد کراچی: 03002615402
٦- دینی کتب خانه تیمرګره پاکستان.
٧- مکتبه محمدیه، جلال آباد تالاشئ چوك گمرك مسجد ترخنګ دکان نمبر ٢



آیاتها (۲۰۰)	(۳) **سورة آل عمران مدنية** (۸۹)	رکوعاتها (۲۰)

سورة آل عمران مدني دے، پدے کښې دوه سوه آیتونه او شل رکوع دي۔

تفسیر سورة آل عمران

ددے سورت په ابتداء کې یو څو بحثونه دي چه هغه د سورت د فهم دپاره ضروري دی:
(۱) نومونه۔ (۲) فضائل۔ (۳) مناسبت، (٤) شان نزول (٥) موضوع (٦) حاصل د آیتونو۔ (۷) تفسیر او وضاحت د کلماتو او فوائد او حکمتونه۔

۱- ددے سورت **نوم** ((آل عمران)) پدے وجه کیخودے شو چه پدے کې د عمران ﷺ د کورنۍ غوره اشخاص (عیسیٰ، یحییٰ، مریم او د هغې د مور علیهم السلام) په ډیر تفصیل سره ذکر شویدی۔

○ ددے نوم ((زهراء)) هم دے، ځکه چه دا د عیسیٰ ﷺ په باره کې د اهل کتابو د شبهې ازاله کوي او په آخرت کې نُور (رڼا) پیدا کوي او مشتمل دے په اسم اعظم د الله تعالیٰ باندے۔ (قرطبي) ○ ددے نوم ((امان)) هم دے ځکه چه څوك پدے سورت پوهه شي نو د عیسیٰ ﷺ په مرتبه کې د غلطۍ کولو نه بچ کیږي۔ دارنګه د پیریانو او شیطانانو د مارانو نه محفوظ کیږي۔ (کما قال القرطبيؒ) لکه روستو فضائلو کې راځي۔

○ دے ته ((کنز القرآن)) هم وائي ځکه چه دا د عیسوي اسرارو (رازونو) خزانه ده۔ دارنګه نور خزائن هم پکې دي او د عبد الله بن مسعود ﷺ امام دارميؒ نقل کړیدی:

[نِعْمَ كَنْزُ الصُّعْلُوكِ سُورَةُ آلِ عِمْرَانَ يَقُوْمُ بِهَا فِيْ آخِرِ اللَّيْلِ]

[الدارمي: ۳۳۹۸] واسناده صحیح موقوف- حسین سلیم اسد)۔

د فقیر دپاره ښه خزانه سورت آل عمران دے چه د شپے په آخر کې پدے سره قیام کوي۔

○ دے ته ((مجادله)) هم وائي ځکه چه ددے اتیا (۸۰) آیتونونه د نجران د نصاراؤ سره په مناظره کې نازل شویدی۔ ○ دے ته ((سورة الاستغفار)) هم وائي کوم چه د

آیت ﴿وَالْمُسْتَغْفِرِیْنَ بِالْاَسْحَارِ﴾ نه اخستے شویدے۔ ○ دے ته ((طَیِّبه)) هم وائی ځکه چه پدے کی د طیبین یعنی ښو (پاکو) خلقو ذکر راغلے دے۔ یعنی آیتِ کریمه ﴿ اَلصَّابِرِیْنَ وَالصَّادِقِیْنَ وَالْقَانِتِیْنَ وَالْمُنْفِقِیْنَ وَالْمُسْتَغْفِرِیْنَ بِالْاَسْحَارِ ﴾ طرف ته اشاره ده۔ او قرطبیؒ وئیلی دی چه نقاشؒ نقل کړیدی چه دا نوم ورته په تورات کی ورکړے شوے وو۔

۲– قرطبیؒ لیکلی دی چه دا سورة د مفسرینو په اجماع سره مدنی دے۔ او ددے دلیل ابتدائی درے اتیا (۸۳) آیتونه دی کوم چه د نجران د عیسایانو د وفد په حقله نازل شوی وو، او دا وفد په مدینه منوره کی رسول الله ﷺ ته په سنه (۹ هـ) کیراغلے وو۔

د سورت آل عمران فضائل

ددے سورت په فضیلت کی ډیر حدیثونه راغلی دی، امام احمد د بریده ؓ نه یو حدیث روایت کړیدے چه په هغے کی راغلی دی چه [تَعَلَّمُوْا سُوْرَةَ الْبَقَرَةِ وَآلَ عِمْرَانَ فَإِنَّهُمَا الزَّهْرَاوَانِ يُظِلَّانِ صَاحِبَهُمَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَأَنَّهُمَا غَمَامَتَانِ أَوْ غِيَايَتَانِ أَوْ فِرْقَانِ مِنْ طَيْرٍ صَوَافَّ]

سورة البقره او سورة آل عمران زده کړئ، دا دوه ښائسته رڼا کونکی سورتونه دی چه د قیامت په ورځ به په خپلو لوستونکو باندے د وریځے یا د مارغانو وزرو خورونکو په شان سورے کوی۔ (احمد: ۲۳۰۰۰) وسنده حسن– شعیب)

نواس بن سمعان ؓ فرمائی چه ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل [يُؤْتَى بِالْقُرْآنِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَأَهْلُهُ الَّذِيْنَ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ بِهِ تَقْدُمُهُ سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ وَآلُ عِمْرَانَ – كَأَنَّهُمَا غَمَامَتَانِ أَوْ ظُلَّتَانِ سَوْدَاوَانِ بَيْنَهُمَا شَرْقٌ أَوْ كَأَنَّهُمَا حِزْقَانِ مِنْ طَيْرٍ صَوَافَّ تُحَاجَّانِ عَنْ صَاحِبِهِمَا] چه د قیامت په ورځ به قرآن او قرآن والا راوستلے شی چا چه په دنیا کی په هغے باندے عمل کولو، سورة البقره او سورة آل عمران به د هغوی نه مخکی وی۔ بیا رسول الله ﷺ ددے دواړو سورتونو مثال بیان کړو چه ګویا که دا به دوه وریځے وی یا به ګڼ سوری، یا د صف تړونکی مارغانو دوه ډلے، چه د خپلو لوستونکو د طرف نه به دفاع کوی۔ (مسلم، ترمذی، احمد)۔ او دا روایات په اول د سورة البقره کی اُوګوره۔

۳– مسند دارمی کی دی: یو سړی په یوه صحراء کی په یوه وادی (کنده) کی شپه شوه چه هغه وادی الحیات (د مارانو علاقه وه) او د هغے په غاړه دوه راهبان وسیدل نو هغوی وویل: دا سړے به هلاك شی نو دهٔ سورة آل عمران شروع کړو نو هغوی وویل: [إِنَّهُ قَرَأَ سُوْرَةً طَيِّبَةً لَعَلَّهُ سَيَنْجُوْ فَأَصْبَحَ سَلِيْمًا] دهٔ داسے مزیدار سورت شروع کړو چه کیدے شی

ددے په وجه به خلاص شی نو هغه روغ موټ صبا کړو۔ (الدارمی: ۳۳۹۹ وسنده ضعیف عبد السلام متأخر السماع مَن ابی اسحاق وهو موقوف علی ابی السلیل)

٤ – او حدیث کی دی چه چاته سبع طوال (یعنی اولنی اوه) سورتونه یاد وی نو دا حبر (کامل عالم) دے۔

مناسبتونه او ارتباطونه

(۱) دلته ددے مناسبتونه زیات دی خو د دواړو سورتونو مضامین یو بل سره مشابه دی چه دلته اوله حصه کی د یهودو اصلاح ده او په دویمه حصه کی ددے امت تربیت دے۔ او دغه طریقه سورتِ بقره کی هم ده۔ نو دا تقریر د مخکنی تقریر په شان دے۔

ددے نه داسے تعبیر هم کیږی: سورة بقره کی په یهودیانو زیات ردونه وو دلته په نصاراؤ زیات ردونه دی۔ یا داسے: هلته د یهودو اصلاح مقصد وه او دلته د نصاراؤ اصلاح ده۔

(۲) بقره کی په یهودو مشرکانو رد وو چه غوائے د الله سره شریکه جوړه کړے وه، د هغے عبادت ئے کړے وو۔ دلته په نصاراؤ او د هغوی په شرك رد دے چه عیسیٰ علیه السلام ئے د الله سره شریك کړے وو او د هغه بندگی ئے شروع کړے وه۔ هلته د بقرے عجز وو او دلته د آل عمران عجز بیانیږی چه دواړه د الو هیت او بندگئ لائق نهٔ دی۔ (دا ئے د توحید انداز دے)

(۳) بقره کی هم تصفیه او تربیت وو چه د بدو صفاتو نه ځان بچ کړئ او بیا په ښائسته صفاتو ځان ښائسته کړئ۔ او دلته هم اول تصفیه او بیا تربیت ذکر کیږی۔

(٤) (موضوعاتی مناسبت) مناسبت د تضاد دے چه هلته د ایمان او د هغے فائدے وے او دلته په کفر باندے رد دے او وائی چه څوك د الله تعالیٰ کتابونه او آیتونه نهٔ منی هغوی الله تعالیٰ څنګه هلاك کړل نو دلته د کفر نقصانونه او بد آثار بیانیږی، دلته به د کفر الفاظ زیات راځی او د اُور تذکره به زیاته کیږی ځکه چه دا اثر د کفر دے۔ نو پدے کی ښه دعوت دے چه ایمان راوړئ او د هر قسم کفرونو نه ځان بچ کړئ ځکه چه ددے عاقبتونه ډیر سخت دی۔

(٥) هلته هم په آخر د سورت کی د مؤمنانو التجاء الی الله وه او دلته به هم راځی۔

(٦) په بقره کی ئے اُوفرمایل: فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِيْنَ دلته هغه کافر ذکر دی چه یهود او نصاریٰ دی چه ددے کلمے (الله لا اله الا هو الحی القیوم) نه منکر دی۔

(۷) دعوتی مناسبت: مخکی یهودو ته د اسلام دعوت وو او غالباً د هغوی سره بحث وو

اُوس نصاراؤ ته خصوصي او بیا یهودیانو ته هم د اسلام طرفته دعوت دے۔ او په سورة نساء کی به مؤمنانو ته دعوت وی او په مائده کی به تولو ته په یو ځای دعوت وی او په سورة الانعام او اعراف کی به مشرکانو ته دعوت وی او په اعراف کی به خصوصي اتباع د ما انزل ته دعوت ورکوی۔ او انفال او توبه کی به جهاد وی چه په دعوت کارونشی نو بیا به ورسره جهاد کولے شی۔ ډیر ناشنا ترتیب اختیار کړے شویدے۔

(۸) اسمی مناسبت : فَاتِحَةُ أُمِرْنَا إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَلَا نَعْبُدُ الْبَقَرَةَ كَمَا عَبَدَتْهَا الْيَهُوْدُ وَلَا نَعْبُدُ آلَ عِمْرَانَ كَمَا عَبَدَتْهُمُ النَّصَارٰى۔ په فاتحه کی مونږ وایو چه اے الله ! خاص ستا بندگی به کوو او د بقرے عبادت به نهٔ کوو لکه څنګه ئے چه یهودو کړیدے او د آل عمران عبادت نهٔ کوو لکه چه نصاراؤ کړیدے۔

شان نزول

د عربو په جزیره کی یهودیان زیات وو، خاصکر په مدینه او ددے په ماحول کی او په نجران کی (چه یمن ته نزدے علاقه ده اُوس هم په جزیرة العرب کی داخل دے) نصارٰی اُوسیدل. دوی د رسول الله ﷺ د رسالت نه خبر شو نو هغه سره د خبرو اترو کولو او د هغه د رسالت معلومولو دپاره دوی مدینے ته راغلل)۔

مفسرینو لیکلی دی چه دا آیتونه د نجران د نصاراؤ په باره کی نازل شوی دی چه دوی د رسول الله ﷺ خوا ته مدینے ته راغلل شپیته کسان وو چه د دوی په نیز شریفان پکی (۱٤) وو او بیا د دوی مشران درے وو (۱) عاقب۔ چه دا ددے قوم امیر او صاحب رائے او صاحب مشوره وو۔ ددهٔ نوم عبد المسیح وو۔ (۲) دویم سید۔ چه دا ئے د اجتماعاتو او مجلسونو او سفری مشر وو او ددهٔ نوم اَیْهَمْ وو۔ (۳) دریم : ابوحارثه بن علقمه چه د بکر بن وائل قبیلے نه وو، دا د دوی عالِم او دینی مشر وو۔ دوی رسول الله ﷺ ته د مازیگر مانځه نه روستو وخت کی راغلل، چه د مزیدارو ښائسته کپړو نه ئے کوتونه او چوغے او څادرونه اغوستلی وو۔ صحابه فرمائی : مونږ دومره ښائسته او دبدبی والا وفد هیڅ کله نهٔ وو لیدلے۔ دوی مسجد نبوی ته راننوتل، نو د دوی د مانځه وخت شو، نو په مسجد نبوی کی مشرق طرف ته اُودریدل۔ رسول الله ﷺ اُوفرمایل : پریدئ (چه کوم طرفته غواړی مونځ دِے اُوکړی)۔ رسول الله ﷺ سید او عاقب ته د اسلام دعوت ورکړو، (نو بحث شروع شو) هغوی اُووئیل: مونږ ستا نه مخکی اسلام راوړیدے۔

رسول الله ﷺ اُوفرمایل :

[كَذَبْتُمَا يَمْنَعُكُمَا مِنَ الْإِسْلَامِ إِدِّعَاؤُكُمَا لِلّٰهِ وَلَدًا وَعِبَادَتُكُمَا الصَّلِيبَ وَاَكْلُكُمَا الْخِنْزِيرَ]

(تاسو دروغژن یئ ځکه چه ستاسو د اسلام نه مانع دا خبره ده چه تاسو الله دپاره اولاد گنړئ، او د صلیب عبادت کوئ او خنزیر خورئ)۔ هغوی اُووئیل : که عیسیٰ ؑ د الله ولد (او نائب) نهٔ وی نو بیا د هغه پلار څوك شو؟ نو تولو د نبی ﷺ سره د عیسیٰ ؑ په باره کی جګړه شروع کړه۔ (بعض علماء وائی چه دوی د انجیل نه استدلال اُوکړو چه په هغے کی عیسیٰ ؑ ته ابن (ځوی) لفظ استعمال شویدے۔ او الله ته آسمانی پلار۔ نو نبی ﷺ (بنائسته دلیلونه پیش کړل) ورته ئے اُوفرمایل : آیا تاسو ته معلومه نهٔ ده چه هر بچے د پلار مشابه وی؟ هغوی اُووئیل همداسے ده۔ نبی ﷺ اُوفرمایل : آیا تاسو ته معلومه نهٔ ده چه زمونږ رب د هر شی تدبیر کونکے، د هغه حفاظت کوی او رزق ورکوی؟۔ هغوی اُووئیل همداسے ده۔ نبی ﷺ اُوفرمایل : آیا تاسو ته نهٔ ده معلومه چه الله تعالیٰ باندے د زمکے او د آسمان نه هیڅ شے پټ نهٔ دے؟۔ هغوی اُووئیل : همداسے ده۔...... آیا زمونږ رب عیسیٰ ؑ له د مور په رحِم کی شکل او صورت نهٔ دے ورکړے او حال دا چه الله نهٔ خوراك کوی نهٔ څکاك؟ آیا عیسیٰ ؑ خپلے مور په خیټه کی نهٔ وو پورته کړے او بیا ئے نهٔ وو زیږولے لکه څنګه چه یوه زنانه خپل بچے پورته کوی او بیا ئے زیږوی. بیا هغه خوراك، څکاك او قضاء حاجت کولو، آیا پدے صفتونو کی کوم یو صفت هم به عیسی ؑ کی موندلے شی ؟ هغوی غلی شول نو الله تعالیٰ ددے سورت څه دپاسه اتیا آیتونه نازل کړل۔ سیرة ابن اسحاق ۲/٤٥/٤٦) وتفسیر البغوی)۔ دا واقعه په مختلفو طریقو نقل ده لکه تفسیر فتح القدیر للشوکانیؒ اُوګوره (١/٤٧٥)۔

دوی اُووئیل چه ته د عیسیٰ په باره کی وائے چه دا د الله بنده دے نو دا خو ته د هغه بے عزتی کوے هغه خو ابن الله دے۔ نو الله دا سورت راولیږلو چه نه، د الله ځامن نشته، عیسیٰ ؑ د الله بنده دے، اله او معبود نهٔ دے او د الله په کتاب کی که ورته ابن وئیلے شوے دے نو دا د متشابهاتو نه دے، او د متشابهاتو نه استدلال کول د اهل زیغو طریقه ده، د هغے معنی دا ده چه هغه د الله دوست او محبوب دے او حقیقی ځوی والے په هغه کی نشی راتلے بلکه په انجیل کی دا د شفقت کلمه وه، لکه یو شخص یو پردی هلك ته وائی اے ځویه ! اے بچیه ! داسے کار اوکړه، ددے خو دا معنی نهٔ شوه چه هغه ددهٔ نه پیدا دے۔

نو پدے آیتونو کی الله تعالیٰ نبی ﷺ ته د دوی سره د بحث او مناظرے طریقه اُوخودله

چه دوی ته داسې جوابونه ورکړه او د عیسی علیه السلام عبدیت ئې بیان کړو. دارنګه د شبهاتو جوابونه به کوی، بیا آخره کی به مباهله ذکر کړی چه راځئ چه ښیرې اوکړو چه څوك په حقه وی الله به ئې بچ کړی، او څوك چه په باطله وی، الله به ئې هلاك کړی. نو دوی ته د مباهلې دعوت ورکړې شو نو دې کسانو یوه ورځ مهلت اوغوختو، صبا له نبی ﷺ ځان سره علی، فاطمه، حسن او حسین (رضی الله عنهم) راوستل او دوی پسې ئې جواب اولیږلو نو دوی خپل مینځ کی مشوره اوکړه چه دا د الله حق نبی دې که ملاعنه ورسره اوکړو تباه به شو نو آخر جزیه ورکولو ته تسلیم شو. په روایت د بخاری کی دی: نبی ﷺ ته ئې اووئیل چه مونږ سره یو امین سړې اولیږه نبی ﷺ ورته اوفرمایل: زۀ به تاسو سره لائق امانتدار شخص لیږم. آخر ئې ابوعبیده بن الجراح رضی الله عنه د هغوی سره د جزیه راوړلو دپاره اولیږلو. او هغوی باندې ئې جزیه مقرر کړه چه دوه سوه کپړې او دومره کجورې او دومره پیسې به په کال کی ورکوئ. رسول الله ﷺ اوفرمایل: که دوی دا ملاعنه (یعنی مباهله) کړې وې [لَأَمْطَرَ الْوَادِي عَلَيْهِمَا نَاراً] . دا کنده به په دوی باندې د اور نه ډکه بهیدلې وې.

او په روایت د احمد کی دی: [لَوْ خَرَجَ الَّذِينَ يُبَاهِلُونَ رَسُولَ اللهِ ﷺ لَرَجَعُوا لَا يَجِدُونَ مَالًا وَلَا أَهْلًا] (مسند احمد: ۲۲۲۵ وسنده صحیح – شعیب)

که دغه کسان د رسول الله ﷺ مباهلې ته راوتلی وې نو دوی به پداسې حالت کی واپس شوی وې چه نۀ به ئې مال موندلې او نۀ اهل. یعنی ټول به هلاك شوی وې.

پدې سورت کی ابتدائی آیتونه روستو نازل شویدی او روستنی آیتونو کی ئې د بدر او د اُحد غزاګانې ذکر دی چه هغه مخکی نازل شوی دی.

بیا د نجران وفد دوه ځل راغلې دې یو ځل مخکی د فتح د مکې نه او بیا روستو د فتح د مکې نه لکه د جزیه آیت د فتح د مکې نه روستو نازل شویدې لکه تفسیر ابن کثیر (۵۸۵/۱) کی ذکر دی.

د سورت موضوع او مقصد:

د سورت د موضوع او مقصد په تعیین کی یو څو اقوال دی:

۱- زمونږ مشائخ کرامؒ وائی: په دې سورت کی هم د سورتِ بقرې په شان څلور حصې دې او په هریو کی څلور غټې خبرې بیانیږی:

(۱) اثبات د توحید په رد د شبهاتو سره چه د توحید په باره کې راغلې دی خاصکر رد د شرك په باره د عیسیٰ علیه السلام کې نو پدے سره د نصاراؤ د مشرکانه عقائدو رد هم شویدے۔ او زیات زور په شرك اعتقادي باندے ورکړے شویدے۔ اول نه به دا خبره بیانوی تر (۶۳) آیت پورے۔ (قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا)۔

(۲) اثبات رسالت د رسول الله ﷺ او په هغه باندے د اعتراضاتو او شبهاتو جوابونه۔ چه یهود او نصاریٰ خپل دین غوره ګنړی او د رسول الله ﷺ په باره کې د خلکو په ذهنونو کې شبهے اچوی، کله د ابراهیم علیه السلام په باره کې او کله به حیلے جوړوی او کله به وائی چه مونږ سره ددے نبی په باره کې لوظ نهٔ دے شوے او کتمان د حق به کوی او کله به وائی چه زمونږ قبله غوره ده، او دا حصه به د (۶۳) نه تر (۱۰۱) آیت پورے وی۔

(۳) بیا د (۱۰۱) آیت نه تر (۱۲۹) آیت پورے بله حصه ده چه پدے کې خلافت قائمول او د کافرانو سره دوستی پریخودل، او د تَاسِيسُ الْجَمَاعَةِ الْمُسْلِمَه (یعنی خلافت) قوانین او اصول ذکر کوی۔

(٤) بیا د (۱۳۰) نه تر آخر د سورت پورے پدے کې قوانین د جهاد فی سبیل الله او ددے متعلقات بیانوی لکه غزوه د بدر او د اُحد او ورسره د نصرت الهٰی د حاصلولو او د هزیمت (شکست) د دفع کولو (۳۱) قوانین ذکر کیږی چه دے ته قوانین د تربیت ایمانی وائی یا په بل عبارت : احکام د تربیت ددے امت بیانیږی چه هغه (۳۱) احکام دی، چه څه د اموالو او څه د اخلاقو او څه د اعتقادیانو او نظریاتو او د امراؤ د طاعت سره تعلق لری۔

او په آخر د سورت کې به په یهود او نصاراؤ رد ذکر کوی ځکه چه دوی په دے قوانینو کې ورانے پیدا کولو۔ او آخرنئ رکوع کې به د ایمان والو ښکلے صفات د ترغیب دپاره راوړی چه دا هم د تربیت یوه طریقه ده چه اے کفارو ! کفر پریدئ او د دغه مؤمنانو په شان صفات اختیار کړئ۔

ګویا که اول کې وائی چه توحید برابر کړئ، بیا وائی دے رسول (ﷺ) چه کومے خبرے راوړیدی هغه د الله تعالیٰ د طرف نه دی دا اُومنئ او په دهٔ اعتراضونه مهٔ کوئ۔ بیا وائی چه هرکله مو دا رسول (ﷺ) اُومنلو نو اُوس به ددهٔ په ملګرتیا کې جماعت جوړ کړئ او د کافرانو سره د الله په لاره کې جهاد کوئ او د جهاد دپاره به مال خرچ کوئ او تربیت به زده کړئ۔

(۲) دویم قول :

بعض علماء داسے فرمائی : چه دے سورت کې درے قسمه موضوعات او مقاصد

بیانیږی (۱) اول پدے سورت کی د دین او د اسلام معنیٰ او حقیقت او د اسلام حاکمیة بیانیږی او دائے په دیرش مقاماتو کی بیان کړیده۔اول نه وائی دین دا دے چه عقیده به دِےِ د توحید وی۔ د الله په کتابونو باندے ایمان راوړل دین دے۔ ﴿ شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ﴾، ﴿فَقُلْ أَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلّٰهِ﴾، ﴿ فَإِنْ أَسْلَمُوْا فَقَدِ اهْتَدَوْا﴾۔

نو د اسلام، د ایمان او د دین صحیح معنیٰ بیانوی ﴿قُلْ اِنْ کُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ ﴾ کی هم دا دی چه د نبی ﷺ تابعداری صحیح اسلام او دین دے، هسے دعویٰ باندے کار نهٔ کیږی۔ ﴿وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا﴾ قرآن باندے منګولے لګول دین دے۔ نو د صحیح دین او د دعوے والا دین په مینځ کی فرق بیانوی۔

(۲) دویمه خبره : مُقَابَلَةُ الْمُؤْمِنِيْنَ بِهٰذَا الدِّيْنِ بِالْقَبُوْلِ وَالتَّسْلِيْمِ۔ د هغه مؤمنانو صفات راوړی کومو چه دا دین قبول کړے او منلے دے۔ او د هغوی احوال راوړی دا په ﴿ قُلْ أَؤُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرٍ مِنْ ذٰلِكُمْ لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا﴾ ۔ متقیان د الله د دین تابع دی۔ صابرین صادقین دی، د پیغمبر تابع دی، د حق منونکی دی، او په آخر د سورت کی ئے هم د مؤمنانو انقیاد بیان کړیدے ﴿وَاِنَّ مِنْ أَهْلِ الْكِتٰبِ لَمَنْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَمَا أُنْزِلَ اِلَيْهِمْ خٰشِعِيْنَ لِلّٰهِ﴾ ﴿ وَالرّٰسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ يَقُوْلُوْنَ آمَنَّا بِهٖ﴾ کی هم دا بیانوی، نو دا اهل اسلام حال بیانوی۔

(۳) دریم مقصد : موالات المؤمنین بیانیږی، چه صحیح ایمان والا د کافرانو سره دشمنی لری، او د ایمان والو نه سویٰ کافرانو سره دوستی نهٔ کوی۔ او د کافرانو د دوستیٔ ضررونه بیانوی۔ دا موضوعات د ((فی ظلال القرآن)) د عباراتو نه معلومیږی۔

زمونږ نظر

(۳) دریم قول دا دے چه موضوع ددے سورت دوه خبرے دی (۱) اول : معرفة الله عز وجل بالتوحید) چه الله اُوپیژنیٔ چه یواځے ذات دے او هیڅ قسمه شریکان نهٔ لری دا مسئله به تر (۱۰۱) آیت پورے بیانیږی۔دارنګه والتوبیخ بالکفر بآیات الله و آثار الکفر السیئة ۔ څوك چه د الله تعالیٰ د آیتونو نه انکار کوی هغوی ته زورنه او رټنه ورکوی۔ (په بل تعبیر سره : د کفر قبیح آثار او بدی به بیانیږی) پدے وجه د آیات الله او د کفر لفظ به ددے سورت په ابتداء کی ډیر راځی۔او دا دواړه خبرے ئے د ابتداء نه شروع کړیدی۔لکه ﴿اَللّٰهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ﴾ کی دی چه الله حقدار د بندګیٔ دے همیشه ژوندے دے، تدبیر د عالَم کوی، نو ددے صفانو والا د الله نه سویٰ بل هیڅوك نشی کیدے۔ تر شپږم آیت پورے ان الله لا یخفی)۔او دویمه مسئله د ان الذین کفروا) نه شروع کړیده۔ بیا وائی (ان الذین کفروا لن تغنی عنهم

اموالهم)، بيا وائي (قل للذين كفروا ستغلبون) بيا فرمائي : (واخرى كافرة) بيا فرمائي: (ومن يكفر بآيات الله ۱۹ آيت) بيا په (۲۱) ان الذين يكفرون وائي۔ بيا په (۲۸) لا يتخذ المؤمنون) بيا په (۳۲) کی (فان تولوا فان الله لا يحب الكافرين) بيا په واقعه د مريم عليها السلام کی دی۔ (فلما احس عيسى منهم الكفر) او بيا وائي (ومطهرك من الذين كفروا) (وجاعل الذين اتبعوك فوق الذين كفروا) (فاما الذين كفروا فاعذبهم عذابا شديدا فی الدنيا والآخرة) بيا روستو فرمائي : (ان لا نعبد الا الله ولا نشرك به شيئا) بيا روستو وائي (يا ايها الكتاب لم تكفرون ۷۰ آيت) (ايأمركم بالكفر بعد اذ انتم مسلمون) (كيف يهدى الله قوما كفروا بعد ايمانهم) بيا د سپارے په آخر کی وائي : (ان الذين كفروا وماتوا وهم كفار) بيا وائي (ومن كفر فان الله غنى عن العالمين) بيا فرمائي : (لم تكفرون بآيات الله) بيا وائي (يردوكم بعد ايمانكم كافرين) ﴿وكيف تكفرون﴾ نو ددے آيتونو نه سوچ کونکے شخص اوړده موضوع راويستلے شي چه د کفر قباحت، د کفر بد آثار، د کافرانو سره موالات نۀ کول، د کفر په دنيا او آخرت کی سزاگانے او د هغے نتائج او انسان کی د هغے په وجه بد صفات پيدا کيدل۔

د کفر قبيح آثار دا دی چه بنده د الله په عذاب اخته کيږی، د انسان نه اهل زيغ جوړيږی، په انسان کی مغلوبيت راځی، د جهنم اُور به ئے ځای وی، صدقے به ئے نۀ قبليږی۔ لکه روستو مثال کی به راشی (مثل ما ينفقون فی هذه الحيوة الدنيا) او د کفر په وجه به په بنده کی حيلے او قسماقسم بد صفات پيدا کړی او آخری نتيجه به دا شی چه الله به ترے هيڅ قسمه عمل نۀ قبلوی۔ (فلن يقبل من احدهم ملء الارض ذهبا) پدے وجه پدے سورت کی به د کفر نه منع زياته ذکر کيږی (وكيف تكفرون وانتم تتلى عليكم آيات الله)، بلکه دا به هم ووائی چه کفر دومره قبيح شے دے چه د ايمان والو دپاره د کافرانو دوستی او موالات هم جائز نه دے۔ (لا يتخذ المؤمنون الكافرين اولياء) دا موضوع به تر (۱۰۱) آيت پورے چليږی۔

(۲) دويمه خبره : تَرْبِيَةُ الْأُمَّةِ الْمُسْلِمَةِ بِالْقَوَانِيْنِ الشَّرْعِيَّةِ (په شرعی قوانينو سره د مسلمانانو تربيت کول)۔ چه دا به د (۱۰۱) آيت نه شروع کيږی تر آخر د سورت پورے۔ چه دا څه د خلافت سره متعلق دی او څه د دعوت سره او څه د جهاد او د مالونو د لګولو سره متعلق دی، بيا د کفر او د تربيت په مينځ کی مناسبت تضاد دے چه کفر مۀ کوه او د ځان تربيت وکړه۔

او په اول د سورت کې الله تعالیٰ د امت مسلمه د دشمنانو مقابله کړېده او دا ئې فرمايلي دي چه څوك د الله آيتونه نۀ مني د هغوی دپاره اُور دے او په دنيا کی ئې عذاب مغلوبيت دے، او دوی ته په توحيد نۀ منلو او د عيسیٰ ﷺ په باره کی په شرك کولو باندے زورنه ورکوی او د هغوی شبهات رد کوی په طريقه د سوال وجواب سره۔

د آيتونو حاصل :

اول کې د الله تعالیٰ د توحيد او د پيژندنے بيان، بيا د کتب الهيه ؤ ذکر دے چه قرآن، تورات انجيل، زبور او تول کتابونه منزله دی۔ بيا توبيخ دے هغه چا ته چه د الله آيتونه نۀ مني چه الله به سخت عذاب ورکوی۔ بيا ئے دليلونه راوړيدی ددے خبرے چه الله تعالیٰ په هر شي باندے پوهه دے، هيڅ شے په هغه نۀ پټيږی، پدے کی به تعريض وی په نصاراؤ چه عيسیٰ ﷺ کی خو دا صفتونه نشته نو هغه څنګه معبود کيدے شي؟۔ بيا په (۷) آيت کی د کتاب الله تقسيم ئے کړے دے چه دے کی محکمات او متشابهات دواړه دی، نو تاسو د الله د کتاب نه په متشابهاتو ولے غلط دليل نيسئ؟۔ او په همدے آيت کی توبيخ هم دے هغه کسانو ته چه د الله د کتاب نه انکار کوی او مدح او بشارت دے د الله د کتاب منونکو ته چه دوی راسخين فی العلم دی۔ او اهل زيغ خلق د الله د کتاب نه غلطه فائده اخلی هغوی ته زورنه ده۔ او ضمنًا پکی رد دے په نصاراؤ چه دوی د الله د کتاب نه شرك ثابتولو۔ او د ايمان والو صفت چه د هغوی دوه دعاګانے ئے ذکر کړيدی، بيا توبيخ دے کافرانو ته په دنيوی او اخروی عذاب سره، بيا ئے د دنيا زهد او بی رغبتی بيان کړيده چه د کافرانو د کفر سبب د دنيا محبت دے۔ او دا بی رغبتی ئے په ډيرو طريقو بيان کړيده چه (۱) ډيروالے د مالونو او اولادو په آخرت کی فائده نۀ ورکوی، کله چه انسان کی کفروی لکه فرعونيانو ته اُوګوری۔ (۲) قل للذين کفروا : بَيَانُ مَغْلُوبِيَّةِ الْكَافِرِيْنَ مَعَ كَثْرَةِ الْأَمْوَال ۔ که د کافرانو هرڅومره مالونه زيات شي بيا به هم د کفر په وجه مغلوبه کيږی۔ (۳) طريقه : مقابله د دنيا او د آخرت بيانوی چه دنيا کی شپږ څيزونه دی دا تول فناء والا دی او آخرت باقی دے۔ (٤) طريقه : بَيَانُ عَظَمَةِ الآخِرَةِ وَخَيْرِيَّتُهَا ۔ د آخرت لوی والے او غوره والے بيانوی۔ (قل اؤنبئکم) کی چه پدے کی زيرے ورکوی متقيانو مؤمنانو ته، بيا د (۱۵) آيت نه روستو سوال پيدا شو يهود او نصاریٰ وائی چه جنت او جهنم او آخرت خو مونږ هم منو نو مونږ ته به هم راکولے شي۔ نو الله د اهل جنت صفات بيانوی دپاره د رد پدے

نصاراؤ چه تاسو کی دغه صفات نشته، ځکه چه ایمان والا خو د الله نه یره کوی او د خپلو ګناهونو او د آخرت غم ورسره دے او تاسو بانديے ګناهونه پنډ دی او هیڅ پرواه مو نشته۔تر (١٧) آیت پورے۔ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الٓمٓ ﴿١﴾ اَللّٰهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ

ددے حروفو په معنیٰ الله خبر دے، الله هغه ذات دے چه نشته لائق د بندګئ سوا د هغه نه،

الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ﴿٢﴾ نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ

همیشه ژوندے دے، تدبیر کونکے د ټول عالَم دے، نازل کړے ئے دے په تا باندے کتاب دپاره د ښکاره کولو د حق

مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَأَنْزَلَ التَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيْلَ ﴿٣﴾ ١

تصدیق کونکے دے د هغه کتابونو چه ددے نه مخکی دی، او نازل کړے ئے دے تورات او انجیل،

مِنْ قَبْلُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَأَنْزَلَ الْفُرْقَانَ

مخکی (د قرآن نه)، هدایت دپاره د خلکو او نازل کړے ئے دے جدائی د حق او د باطل (یعنی نور کتابونه)

إِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِآيَاتِ اللهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ وَاللهُ عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ ﴿٤﴾

یقیناً هغه کسان چه کفرئے کړے په آیتونو د الله، دوی لره عذاب سخت دے، او الله غالبه، بدله اخستونکے دے۔

تفسیر: (الٓمٓ) ددے حروفو متعلق بحث په ابتداء د بقره کی اُوګوره۔ د قرآن کریم عظمت او رشتینوالي ته پکی اشاره ده۔

اَللّٰهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ : دا دعوه د توحید ده او د الله تعالیٰ تعارف دے۔ د الحی القیوم تشریح په آیة الکرسی کی کی ذکر شویده۔ او پدے کی اشاره ده چه عیسیٰ علیه السلام او نور مخلوق کی دا صفات نشته نو هغه معبود نشي کیدے، بندګی صرف د الله تعالیٰ پکار ده۔

حدیث کی دی : د الله اسم اعظم په آیة الکرسی او اول د آلعمران او سورة طه کی دے۔ (کما فی الصحیحة)

﴿نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ﴾

پدے کی د ابتداء نه د قرآن عظمت بیانوی چه دا کتاب خو ددے دپاره راغلے دے چه بندګانو ته حق ښکاره کړی چه هغه د الله یواځے بندګی کول او قانون د هغه منل دی۔او رشتینی او حق کتاب دے نو ددے نه انکار نۀ دے پکار بلکه سمدست پرے ایمان لرل پکار

دی۔ دلته د (کتاب) نه مراد قرآن کریم دے چه په هغے کی هیڅ شك او شبهه نشته۔ قرآن کریم د مخکنو کتابونو تصدیق کوی نو ددے نه انکار کول داسے دی لکه د تورات او انجیل ته انکار کول۔

﴿مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَأَنْزَلَ التَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ 3))﴾

په مصدقاً کی اشاره ده چه ددے کتاب نه د انکار هیڅ وجه نشته ځکه چه دا د مخکنو کتابونو مخالف نهٔ دے چه ځوك دا د انکار دلیل اُوګرځوی۔ او د قرآن تصدیق اجمالی او تفصیلی تشریح مخکی ذکر شویده۔ مختصر دا چه (۱) قرآن د پخوانو کتابونو په باره کی وائی چه دا آسمانی کتابونه دی۔ (۲) د هغوی په شان دے په مضمون کښې۔ (۳) هغه کتابونو ویلی وو چه روسته کتاب راځی نو قرآن راغے د هغه کتابونو د بشارت مصداق وګرزیدلو نو دا مصدق شو پدے معنیٰ باندے نو د قرآن نه انکار د ټولو کتابونو نه انکار دے۔

((تورات)) عبرانی لفظ دے چه ددے معنی د (شریعت) ده او ((انجیل)) یونانی لفظ دے چه ددے معنیٰ بشارت (خوشخبری او زیرے) دے۔ دا دواړه کتابونه د موسیٰ او عیسیٰ علیهما السلام د قومونو د هدایت دپاره نازل شوی وو۔ د قرآن کریم د نازلیدو نه روستو هغه منسوخ شو۔ (انظر القاسمی والمنار)

عیسیٰ ﷺ ته الله تعالیٰ دواړه کتابونه ورکړی وو، تورات کی احکام، مسائل او فضائل وو، قانونی کتاب وو، او انجیل کی فضائل وو، غالباً احکام پکی کم وو، د زړه نرمونکے خبرے پکی زیاتے وے۔

﴿مِنْ قَبْلُ﴾ یعنی مخکی د قرآن کریم نه۔

د ((فرقان)) نه مراد ۱- یا خو باقی آسمانی کتابونه دی، چه هغه زبور او صحف ابراهیم او صحف موسیٰ وصحیفے د باقی انبیاؤ علیهم السلام دی ځکه چه دا ټول د حق او د باطل ترمینځ جدائی راوستونکی وو، ۲- یا صرف قرآن مراد دے چه هغه د حق او د باطل ترمینځ په عمومی توګه سره جدائی راولی، یا په هغه حق او باطل کی جدائی کوی چه په هغے کی یهود او نصاریٰ اختلاف کوی۔ او دا ئے ددے دپاره ذکر کړل چه د قرآن کریم هیبت او قبولیت په زړونو د خلقو کی کینوی او چه ځوك ددے نه انکار کوی نو د هغوی د کفر زیات قباحت ښکاره کړی۔

که د فرقان نه مراد قرآن شی نو دوباره ئے ځکه ذکر کړو چه اشاره شی چه مخکنی

كتابونه منسوخ دي او اوس د حق او د باطل ترمينځ ميزان او فرق كونكے صرف قرآن دے. بعض وائي د فرقان نه مراد ميزان (تله) ده كوم چه په سورة الحديد (٢٥) كې ذكر ده.او د ميزان نه مراد په ټولو كارونو كې انصاف او عدل كول دي.(قاسمي) او دا ټله د الله كتابونه دي چه د قرآن او سنت په شكل كې نن موجود دي. نو بيرته رجع وشوه دويم تفسير ته.

٣- ابن جريرؒ دا غوره كړيدي چه د فرقان نه مراد (كُلُّ مَا يُفَرَّقُ بِهِ بَيْنَ الْحَقِّ وَالْبَاطِلِ فِي كُلِّ أَمْرٍ كَالدَّلَائِلِ وَالْبَرَاهِيْنِ) (المنار) هر هغه شے چه په هغے سره د حق او د باطل ترمينځ په كار كې جدا كيږي لكه دلائل او براهين شو.

راجح دا ده چه دلته د فرقان نه مراد ټول منزل كتابونه دي نو په هغے كې قرآن كريم په اوله درجه كې داخل دے ځكه لفظ عام دے او بله دا چه د الله تعالىٰ ټول كتابونه د حق او د باطل ترمينځ فرق راوستونكي دي.-.

فائده : فرقان ته فرقان ځكه وائي چه دا د حق او د باطل، د ګمراهۍ او د هدايت، د خالق او د مخلوق، د حق معبود او د باطل معبود او د اهل الايمان او د اهل الكفر د لارے ترمينځ جدائي راولي او دغه شان پلار د بچي نه او ملګرے د ملګري نه د هغه د كفر په وجه جدا كوي نودا يوه لويه تله شوه.

﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ : اوس د ايمان راوړو ترغيب او د كفر او انكار كولو په صورت كې د الله د عذاب نه يره وركوي. او اشاره ده چه دے كافرانو سره به الله تعالىٰ ګوري چه هغه دا سے مزيدار كتابونه ئے نازل كړيدي او دا مجرمان ئے نۀ مني، د الله د كتاب نه په انكار او اعتراض باندے الله تعالىٰ سخت ناراضه كيږي لكه انسانانو كې د يو ليكونكي په كتاب باندے اعتراض كولو سره هغه ډير خفه كيږي.

شديد : سخت عذاب ورته ځكه وركوي چه د الله په آيتونو كې رڼا وه او د كفر په وجه دوي هغه رڼا ختمه كړه او په خرافاتو او معاصي او مفاسدو كې اخته شو چه نفسونه ئے خيرن خچن شو نو د سخت عذاب لائق شو.

انتقام : د نَقْمَةٌ نه دے، دا په اصل كې سَطْوَة او سُلْطَة (حملے او غلبے او تسلط) ته وائي او ددے زمانے خلك انتقام ددے دپاره استعمالوي چه يو تن په سزا وركولو سره زړه يخ كړي ليكن دا معنىٰ د الله په باره كې محاله ده. (المنار)

إِنَّ اللّٰهَ لَا يَخْفٰى عَلَيْهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ ﴿٥﴾
يقيناً الله تعالىٰ نۀ پټيږي په هغه باندے هيڅ شے په زمکه کې او نۀ په آسمان کې،
هُوَ الَّذِي يُصَوِّرُكُمْ فِي الْأَرْحَامِ
الله هغه ذات دے چه شکلونه درکوي تاسو ته په رحِمونو د ميندو کې
كَيْفَ يَشَآءُ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٦﴾
څنګه چه غواړي، نشته لائق د بندګئ سوا د هغه نه، زورور دے، حکمتونو والا دے۔

تفسير : پدے دوه آيتونو کې د الله تعالىٰ د علم بيا د هغه د تعارف بيان دے۔او پدے کې رد دے په نصاراؤ چه عيسىٰ عليه السلام نه د زمکے او د آسمان ډير څيزونه پټ وو نو هغه څنګه معبود جوړ کړے شي ؟!۔

(لَايَخْفٰى) يعنى الله تعالىٰ د خلقو د ايمان او کفر نه خبر دے او هر يو ته به د هغه د ايمان يا د کفر بدله ضرور ورکوي۔نو۔پدے کې ضمناً تخويف او يره پرته ده۔ او ترغيب هم شته، د قرآن قاعده دا ده چه په ترغيب او ترهيب کې هميشه د الله تعالىٰ علم محيط ذکر کوي۔

﴿هُوَ الَّذِي يُصَوِّرُكُمْ فِي الْأَرْحَامِ كَيْفَ يَشَاءُ﴾۔

الله تعالىٰ ښځه او سړے، ښائسته او بد رنګ، نيك بخت او بد بخت څنګه چه غواړي په رَحِم کې پيدا کوي۔ اشاره ده چه عيسىٰ ابن مريم عليه السلام د نورو انسانانو په شان د الله يو مخلوق بنده وو، الله تعالىٰ هغه هم د مريم په رَحِم کې چه څنګه غوختلو جوړکړو، نو هغه به څنګه (الله) جوړ شي، لکه چه د نصاراؤ دا باطله عقيده ده۔

شرك چه پيدا کيږي پدے وجه چه يو تن يو بنده په هر شي پوهه اُوګڼړي او د اولياء الله په باره کې دا عقيده ساتل چه هغوى چينڅې او چيغې پيژني، ددے نه شرك پيدا کيږي ځکه دوى اولياؤ ته غائبانه آوازونه کوي ځان پرے مشرکان کړي۔ يا د انسان په باره کې دا عقيده جوړه شي چه دا واکدار متصرف دے، قوت ورسره دے نو د الله سره ئے شريکان کوي۔ نو الله تعالىٰ پدے آيتونو کې فرمائي چه انسانان ټول مُصوَّر دي، په رَحِمونو کې ئے شکل پيدا کيږي او الله د هغے شکل ورکونکے دے، نو هغوى محتاج دي او د اُلوهيت مستحق نۀ دي۔

هُوَ الَّذِیْ أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُّحْكَمَاتٌ
الله هغه ذات دے چه راوے لیږلو په تا باندے قرآن، بعض ددینه آیتونه دی مُحکم (مضبوط)
هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ ط فَأَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ
هغه آیتونه اصل د کتاب دی او نور آیتونه متشابهات دی پس هغه کسان چه په زړونو د هغوی کی
زَيْغٌ فَيَتَّبِعُوْنَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ
کوږوالے دے، نو روانیږی دوی د هغه (آیتونو) پسے چه پټے معنی والا دی ددے (کتاب) نه،
ابْتِغَآءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَآءَ تَأْوِيْلِهِ وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيْلَهُ
دپاره د طلب د فتنے او د طلب د حقیقت د هغے، او نهٔ پوهیږی په صحیح معنیٰ د هغے باندے
إِلَّا اللهُ وَالرَّاسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ يَقُوْلُوْنَ آمَنَّا بِهِ
مګر الله، او مضبوط خلك په علم کی، وائی دوی مونږ ایمان راوړے پدے باندے،
كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُوْلُوا الْأَلْبَابِ ﴿۷﴾
(دا) ټول د طرفه د رب زمونږ نه دی او نصیحت نهٔ اخلی مګر صفا عقلونو والا۔

تفسیر: (۱) پدے آیت کریمه کی توبیخ او زورنه ده د کتاب الله نهٔ منونکی ته او زیرے دے منونکو ددے کتاب ته او د هغوی ښائسته صفات ئے راوړیدی۔

(۲) او پدے آیتِ کریمه کی الله تعالیٰ د خپل عظمت او کمالِ قیومیت خبر ورکړیدے چه هغه ذات قرآن کریم نازل کړیدے چه د هغه نظیر او مثل د قیامته پورے نشی موندے کیدے۔ ددے کتاب یوه حصه په ښکاره او واضح احکامو باندے مشتمل ده، لکه حلال او حرام، حدود، عبادات او د عبرتونو او نصیحتونو والا آیتونه۔ او یوه حصه په داسے آیتونو مشتمل ده چه د هغے علم او د هغے حقیقت د الله نه سویٰ هیچا ته معلوم نهٔ دی، یا هغه چه په هغے کی د یو نه د زیاتو معانیو برداشت وی لکه د سورتونو په ابتداء کی حروفِ مقطعات، غیبی کارونه، او د عیسیٰ علیه السلام په باره کی د الله تعالیٰ دا قول: ﴿وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلٰى مَرْيَمَ وَرُوْحٌ مِّنْهُ﴾ چه هغه د الله کلمه ده چه هغه ئے مریم ته ګوزار کړیده او د هغه د طرف نه یو روح دے۔ (النساء: ۱۷۱)۔

لیکن د چا په زړونو کی چه کفر او نفاق وی نو هغوی د متشابه آیتونو پسے روان وی،

دې دپاره چه خلق په شبهاتو کې اخته کړي، او خپلو باطلو عقیدو او نظریاتو باندې د فاسدو تاویلاتو په ذریعه د هغې نه دلیل اُونیسي او په اسلام کې بدعتونو ته رواج ورکړي، او د چا چه ایمان او راسخ (مضبوط) علم وي نو هغوي د متشابهاتو په باره کې دا عقیده لري چه دا هم د الله تعالیٰ آیتونه دي، ددې چه کومه معنیٰ او مطلب د نورو قرآني آیتونو او د نبوي احادیثو او د عربي ژبې مطابق چه د دوي ذهن ته راځي نو هغه خلقو ته بیانوي، لیکن ددې د حقیقت او کنهیاتو په تلاش کې نۀ پریوزي، ځکه چه د عقلمندو او پوهه خلقو دپاره محکم آیتونه کافي او پوره وي، او بیمار عقل والا همیشه د متشابهاتو آیتونو په تلاش کې وي، دې دپاره چه د خپلو باطلو فکرونو په مضبوطیا کې کوم دلیل راوړي او په مسلمانانو کې شر او فتنه خوره کړي۔

(۳) او پدې آیت کریمه کې د نصاراؤ د یوې شبهې جواب ذکر دې، چه دوي وئیلي وو، عیسیٰ علیه السلام ته بنده وئیل د هغه بې ادبي ده ځکه چه په آسماني کتابونو کې هغه ته روح الله، کلمة الله، او ابن الله (د الله ځوی) وئیلې شویدې۔ معلومیږي چه هغه ته د بندګۍ نه زیاته مرتبه ورکول پکار دي۔ **جواب** دا دې چه د الله تعالیٰ په کتاب کې دوه قسمه آیتونه وي، محکمات او متشابهات۔ نو د نیکانو خلقو طریقه دا ده چه دوي متشابهات محکماتو ته راواپس کوي۔ او څوک چه فساد والا وي نو هغوي متشابه آیتونه راخلي او پدې سره د محکم آیتونو ترمینځ تعارض او ټکراؤ پیدا کوي او محکم آیتونه شاته ارتوي او متشابه باندې عمل کوي نو پدې وجه خطاء شي۔ او په فتنه کې پریوزي۔

(٤) عنوان: پدې آیت کې الله تعالیٰ د کتاب الله دوه قسمونه بیانوي، محکم او متشابه او ددې تقسیم فائده ذکر کوي چه راسخین في العلم د محکماتو پسې روانیږي او اهل زیغ د متشابهاتو پسې نو د راسخین في العلم صفت او د زائغینو بدي به بیان کړي۔

د محکم او متشابه تعریفونه او وضاحتونه

د تفسیر علماؤ د محکم او متشابه ډیر تعریفونه کړیدي۔ امام شوکانيؒ هغه ذکر کړیدي او وئیلي ئې دي چه دا تعریفونه جزوي او ناقص دي، او د هغې تفصیل ئې بیان کړیدې، بیا ئې وئیلي دي چه د ((محکم)) د ټولو نه غوره تعریف دا دې:

(۱) چه ((د هغې معنیٰ ښکاره او د هغې دلالت ظاهروي))۔ او متشابه دا دې ((چه د هغې معنیٰ ښکاره نۀ وي، یا چه د هغې دلالت ظاهر نۀ وي))۔

(۲) [اَلْمُحْكَمُ مَا لَايَحْتَمِلُ اِلَّا وَجْهًا وَاحِدًا مِنَ التَّاْوِيْلِ اَمَّا الْمُتَشَابِهُ فَهُوَ مَا احْتَمَلَ اَوْجُهًا فَتُرَدُّ اِلَى الْوَجْهِ الْوَاحِدِ]۔

(عبد الله بن عباسؓ ته منسوب دى چه مُحكم هغه ته وائى چه صرف يو احتمال لرى (يعنى ډيرے معانى پكى نشى راتلے لكه ان الله على كل شيء قدير او نزل عليك الكتاب، او دغسے نور) او متشابه هغه ته وائى چه په هغے كى ډير احتمالات او معانى راتلے شى) يوه معنىٰ پكى د الله مراده وى او بله معنىٰ ئے مراده نۀ وى خو خلق ترے هغه معنىٰ راوباسى نو دغه ډيرے معنے به يوے صحيح معنے او صحيح مطلب ته راواپس كړے شى۔ دا د ټولو نه غوره تعريف دے۔

نو د غلطے معنے او صحيح معنے فرق به څنګه كولے شى ؟

كه د يو آيت يوه معنىٰ واخستے شى او هغه د قرآن او د حديث او د دين د نورو اصولو سره برابره وه نو دا به صحيح وى او كه د هغے سره ئے ټكراؤ راتلو نو دا به غلطه وى۔

(۳) محكم مَا كَانَ قَائِمًا بِنَفْسِهٖ لَا يَحْتَاجُ اِلٰى اَنْ يُّرْجَعَ فِيْهِ اِلٰى غَيْرِهٖ]۔ محكم هغه دے چه خپله معنىٰ وركولو كى مستقل وى، محتاج نۀ وى چه په هغے كى غير ته رجوع اُوكړے شى (يعنى بيان ته ئے ضرورت نۀ وى خپله واضح وى)۔ او متشابه هغه دے چه محكماتو ته د واپس كيدو حاجت لرى، دا تفسير نحاسؒ كړيدے۔

(٤) تعريف : محكم : اَلْوَاضِحُ الْمُرَادِ۔ وَالْمُتَشَابِهُ غَيْرُ ظَاهِرِ الْمُرَادِ)۔

محكم هغه دے چه معنىٰ مراده ئے ښكاره او واضحه وى۔ او متشابه هغه دے چه معنىٰ مراده ئے ښكاره نۀ وى۔ (معنىٰ د دواړو شته ليكن په اول كى ئے مراد او مطلب ښكاره وى او په دويم كى ئے مطلب ښكاره نۀ وى)۔

(٥) بعض اهل علمؒ فرمائى :

[اَلْمُحْكَمُ : اَلْوَاضِحُ الدَّلَالَةِ الظَّاهِرُ الَّذِىْ لَا يَحْتَمِلُ النَّسْخَ وَالْمُتَشَابِهُ هُوَ الْخَفِيُّ الَّذِىْ لَايُدْرَكُ مَعْنَاهُ عَقْلًا وَلَانَقْلًا وَهُوَ مَا اسْتَأْثَرَ اللّٰهُ تَعَالٰى بِعِلْمِهٖ كَقِيَامِ السَّاعَةِ وَالْحُرُوْفِ الْمُقَطَّعَةِ فِىْ اَوَائِلِ السُّوَرِ]۔

(محكم هغه دے چه دلالت ئے په معنىٰ مراده د الله تعالىٰ باندے واضح او ظاهر وى، احتمال د منسوخ كيدو نۀ لرى، او متشابه هغه دے چه معنى مراده ئے داسے پټه وى چه عقلًا او نقلًا نۀ معلوميږى، او الله تعالىٰ ځان پورے د هغے علم خاص كړے وى لكه د

قیامت راتلل یا لکه حروف مقطعات شو په ابتداء د سورتونو کی)، علامه آلوسیؒ فرمائی : دارایه د احنافو علماؤ ده۔ لیکن دا هم جزوی تعریف دے او جامع تعریف دویم دے لکه مثالونه ئے روستو رازی ان شاء الله تعالیٰ۔

(٥) امام رازیؒ فرمائی : [اَلْمُحْكَمُ مَا كَانَتْ دَلَالَتُهٗ رَاجِحَةً وَهُوَ النَّصُّ وَالظَّاهِرُ، وَالْمُتَشَابِهُ مَا كَانَتْ دَلَالَتُهٗ غَيْرَ رَاجِحَةٍ وَهُوَ الْمُجْمَلُ وَالْمُؤَوَّلُ وَالْمُشْكِلُ]۔ (محکم هغه دے چه دلالت ئے په معنیٰ مراده باندے راجح وی نو دا شامل دے نص ته هم او ظاهر ته هم۔ او متشابه هغه دے چه دلالت ئے په معنیٰ مراده باندے راجح نهٔ وی او دا مجمل، مؤول او مشکل تولو ته شامل دے)۔ دا تعریف د متأخرینو په اصطلاحاتو بناء دے پدے وجه کمزورے دے۔

فائده : محکم کله په مقابله د متشابه کی راځی لکه دلته، کله محکم په مقابله د منسوخ کی راځی یعنی غیر منسوخ لکه دا په سورة الحج (٥٢) آیت کی استعمال دے﴿ ثُمَّ يُحْكِمُ اللّٰهُ آيٰتِهٖ﴾، کله په مقابله د وسوسه کی راځی، لکه دغه آیت د سورة الحج کی۔

سوال : کله ټول قرآن ته مُحکم وئیلے شی لکه سورة هود (١) آیت کی دی :﴿كِتٰبٌ اُحْكِمَتْ آيٰتُهٗ﴾ او په سورة الزمر (٢٣) آیت کی ئے ټول کتاب ته متشابه وئیلے دے لکه : ﴿كِتٰبًا مُتَشَابِهًا﴾ او دلته وائی بعض محکم دی او بعض متشابه دی؟

جواب دا دے چه هر ځای کی خپله خپله معنیٰ مراد ده، په سورة هود کی معنیٰ دا ده چه آیتونو کی ئے حکمتونه دی نو په محکم کی هم حکمتونه شته او په متشابه کی هم۔ دارنګه (احکمت) معنیٰ ده مضبوط دی آیتونه د هغے او محکمات او متشابهات دواړه مضبوط آیتونه دی، د فصاحت او بلاغت او کمال نه ډک دی، په لړو خبرو کی ډیرو اوږدو خبرو ته اشاره کوی دا د (احکمت) مطلب دے لکه د هغه سورت تدبر پرے ګواه دے، او کوم ځای چه متشابهاً وئیلے دے نو معنیٰ دا ده چه دا کتاب یو بل سره مشابه دے په فصاحت، بلاغت، په رشتینوالی او کامل بیان کی، او دلته تقسیم شویدے دا هم حقیقت او بلاغت دے۔

﴿هُنَّ اُمُّ الْكِتٰبِ﴾ یعنی د کتاب اصل او مرکزی حصه او د احکامو محور صرف دا محکمات دی او احکام هم ددے نه ثابتیږی نهٔ د متشابهاتو نه بلکه د متشابهاتو مفهوم به د محکماتو په رڼا کی متعین کولے شی۔ (روح المعانی ٢/ ٨٠) او محکمات په قرآن کی زیات هم دی پدے وجه ئے په کلمه د (مِنْه) سره ذکر کړل۔

فائده : د متشابهاتو مصداقات څه دي ؟

دريے څلور مصداقات دي، بعض هغه متشابهات دي چه الله رب العٰلمين او رسول الله ﷺ او نور بندګان پرے پو هيږي، بعض هغه دي چه صرف د الله پورے خاص دي او بندګان د هغے په معنیٰ او حقيقت نۀ پو هيږي۔ (۱) يو د متشابهاتو نه د الله سبحانه ذات او د هغه صفات دي۔ د الله د ذات حقيقت صرف الله تعالیٰ ته معلوم دے۔ او د هغه د صفاتو معنیٰ به کولے شي ليکن د هغے کيفيت او حقيقت صرف الله تعالیٰ ته معلوم دے لکه يد، استواء علی العرش، ساق، قدم وغيره۔

(۲) دويم قسم : [اَلْقَدَرُ فِي الشُّرُوْرِ] الله په تقدير کی بعض شرونه ليکلی دي چه په فلانی به دا تکليف راځي، ځکه کی به دا دا فسادونه پيدا کيږي۔ نو ددے په حقيقت او مکمل کيفيت هم الله تعالیٰ پو هيږي۔ لکه [يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَاءُ وَيَرْحَمُ مَنْ يَّشَاءُ﴾، ﴿يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ﴾ وغيره] ۔ ددے راز الله تعالیٰ ته معلوم دے کله نا کله جزئي طريقے سره بندګان هم پو هه شي۔

(۳) دريم : حروفِ مقطعات د قرآن دي چه ددے حقيقی معانی الله تعالیٰ ته معلوم دي اګرکه لږ لږ حکمتونه به بندګانو ته هم معلوميږي۔

(٤) بعض اعداد (شمارونه) او احوال د راتلونکے زمانے د قبر او د حشر۔ لکه الله تعالیٰ په جهنم باندے نولس ملائك مقرر کړيدي۔ (عليها تسعة عشر) او عرش څلور ملائك بار کوي۔ او قبر کی کولاؤ والے او تنګ والے راځي۔ او په جهنم کی اُور دے او بنده به پکی ختميږي نۀ، نو ددے په رازونو او حقيقتونو الله تعالیٰ پو هه دے۔

دلته پدے آيت کی دا ذکر شوی متشابهات نۀ دي مراد، ځکه چه دے باره کی خو علماؤ او مفسرينو هم خبرے کړيدي۔ د الله د اسماء او صفاتو متعلق او دغه شان د حروف مقطعاتو نکتے بيانول او د شمارونو حکمتونه ذکر کول، نو هغوی خو اهل زيغ نۀ دي۔

(۵) دلته ئے مصداق دا دے چه يو آيت دے چه د دوه يا دريے معنو احتمال پکی وی يوه معنیٰ ئے صحيح ده او يوه غلطه۔ صحيح معنیٰ د الله مراد ده او غلطه معنیٰ ئے مراده نۀ ده۔ نو اهل زيغ رالګی غلطه معنیٰ اخلی او صحيح معنیٰ پريدی۔ نو ددے معلومات به پدے طريقه کولے شی چه دغه غلطه معنیٰ به د نورو نصوصو سره ټکراؤ وی۔ او ددے ډير زيات مثالونه دي۔ نو بناء پدے باندے پداسے متشابهاتو راسخين فی العلم پو سيږی چه

هغوی غلطه معنیٰ صحیح معنیٰ ته واپس کوی، هر کله چه د متشابهاتو دا تقسیم تا وپیژندو نو په آیت کی به په دوه تفسیرونو ښه پوهه شے چه هغه روستو رازی ان شاء الله۔

د متشابهاتو مثالونه

شیخ الاسلام ابن القیمؒ په "اعلام الموقعین" کی (۸۰) مثالونه راوړیدی۔

(۱) نصاراؤ د قرآن نه دلیل نیولو چه عیسیٰ ﷺ د الله ځوی او جزء دے د ﴿ بِكَلِمَةٍ مِنْهُ﴾ او ﴿ وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَىٰ مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِنْهُ﴾ آیتونو نه ئے دلیل نیولو، ددے غلطه معنیٰ دا ده چه عیسیٰ د الله جزء دے۔ (العیاذ بالله) او صحیح معنیٰ ئے دا ده چه د الله د طرفنه په کلمه د کُن سره پیدا دے۔ که د جزئیت معنیٰ واخستے شی نو د نورو آیتونو سره ټکراؤ راځی۔ لکه ﴿ مَا اتَّخَذَ اللهُ مِنْ وَلَدٍ﴾ (المؤمنون: ۱۰۰) د الله اولاد نشته۔ او قرآن کریم کی ورته ابن مریم وئیلے شویدے نو د مریم نه جزء دے۔ او د هغے ځوی دے۔ ﴿وَقَالُوا اتَّخَذَ اللهُ وَلَدًا سُبْحَانَهُ﴾ (البقرة: ۱۱۶) دارنګه سورة الجاثیه (۱۳) آیت کی دی: ﴿ جَمِيعًا مِنْهُ﴾ آسمانونه او زمکے ټول د الله د طرفنه دی) نو دے سره به څه کوے آیا دا هم د الله نه اجزاء دی؟!۔

(۲) حلولیه وائی: الله هر ځای کی دے۔ دلیل نیسی د ﴿ وَهُوَ مَعَكُمْ﴾ نه یعنی الله تاسو سره دے۔ ددے غلطه معنیٰ دا ده چه الله د بندګانو سره په اعتبار د ذات حاضر دے۔ او صحیح معنیٰ دا ده چه الله په عرش باندے برابر دے لیکن په اعتبار د علم او قدرت سره د بندګانو سره دے۔ لکه دا د مخکی روستو الفاظو نه معلومیږی چه ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللهَ يَعْلَمُ﴾. ﴿وَاللهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ﴾

اُوس که مونږ د معیت نه مراد معیت ذاتی واخلو نو بیا ټکراؤ راځی د ډیرو نصوصو سره چه هغه د فوقیت او علو والا دلائل دی، تقریباً د زرونه زیات دی۔

(۳) مرزایان وائی عیسیٰ ﷺ مړ دے ځکه چه قرآن کی ﴿إِنِّي مُتَوَفِّيكَ﴾ راغلے دے، ددے غلطه معنیٰ د وفات ده او صحیح معنیٰ ئے دا ده چه زهٔ تا پوره اخلم او آسمان ته دِے پورته کوم۔ که اوله معنیٰ واخلو نو بیا د نورو آیتونو سره ئے ټکراؤ راځی۔ لکه فرمائی: ﴿ بَلْ رَفَعَهُ اللهُ إِلَيْهِ﴾ الله ځان ته پورته کړیدے۔ او پنځوس احادیث موجود دی چه عیسیٰ ﷺ به قیامت ته نزدے راکوزیږی۔

(٤) مشرکان او مبتدعین وائی: د غیر الله نه دعا غوختل جائز دی، ﴿ ثُمَّ ادْعُهُنَّ ﴾ راغلے دے، نو ددے غلطه معنیٰ دا ده چه دے مارغانو ته آواز کوه او مدد ترے غواړه۔ نو بس

اولیاؤ ته هم آواز جائز شو۔ او صحیح معنیٰ دا ده چه دوی ته آواز اُوکړه۔ او دغه معنیٰ د نورو آیتونو سره ټکراؤ ده ځکه چه ﴿وَلَا تَدْعُ مِنْ دُوْنِ اللهِ مَا لَا يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ﴾ (یونس: ۱۰۶) کی د غیر الله نه مدد غوختل حرام شویدی۔

(۵) دغه شان مشرکان وائی، د غیر الله نه مدد غوختل جائز دی۔ ﴿فَاسْتَغَاثَهُ الَّذِىْ﴾ راغلی دی۔ (القصص: ۱۵) جواب دا دی چه دا غلطه معنیٰ ده، صحیح دا ده چه دا ژوندی ته آواز دی نو ددی نه د مړو نه د مدد غوختلو دلیل نیول غلط دی، د نورو نصوصو خلاف دی۔

(۶) شیعه ګان وائی (العیاذ بالله) علی ﷺ په هر څه پوهه وو، ځکه چه قرآن کی دی: ﴿وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنٰهُ فِىْ إِمَامٍ مُّبِيْنٍ﴾۔ (یس: ۱۲) جواب: د امام نه مراد کتاب دی چه هغه لوح محفوظ دی۔ او علیؓ تری مراد کول غلط دی، ځکه بل آیت کی دی: ﴿ بَلْ هُوَ قُرْآنٌ مَّجِيْدٌ فِىْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ﴾۔ (البروج آخری آیت)

(۷) شیعه وائی (العیاذ بالله)۔ الله تعالیٰ او علی ﷺ یو شی دی، ځکه چه آیة الکرسی کی دی: ﴿ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ﴾ الله تعالیٰ بعینه علیؓ دی۔ نو جواب دا دی چه د (العلی العظیم) نه مراد الله تعالیٰ دی ځکه چه (الله لا اله الا هو) (اول سر د آیت) پری دلیل دی۔

(۸) بریلیان وائی: پیغمبر نور دی او بشر نهٔ وو۔ قرآن کی دی: ﴿ قَدْ جَاءَكُمْ مِّنَ اللهِ نُوْرٌ وَّكِتَابٌ مُّبِيْنٌ﴾ ۔(المائده: ۱۵) نو نور نه مراد پیغمبر دی۔ جواب: د نور نه مراد بعینه کتاب دی او روستو کتاب ئے عطف تفسیر دی، ځکه که رسول الله ﷺ مراد شی نو بیا د نورو آیتونو سره چه ﴿ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ﴾ (الکهف: ۱۱۰) راغلی دی، ټکراؤ راځی۔ یا رسول الله ﷺ نور دی په اعتبار د صفت سره او په اعتبار د ذات سره بشر وو۔ ﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا﴾. (یوسف: ۱۰۹) (النحل: ۴۳)

(۹) بریلیان او مشرکان وائی چه پیغمبر عالم الغیب دی۔ ﴿ إِلَّا مَنِ ارْتَضٰى مِنْ رَّسُوْلٍ﴾ (الجن: ۲۷) چه بعض بندګان غوره کوی چه هغه رسولان دی د غیبو دپاره۔ صحیح معنیٰ دا ده چه رسولانو ته بعض غیب خبرونه ورکوی او په هر غیب باندی نهٔ پوهیږی ځکه چه د آیتونو او حدیثونو خلاف راځی۔ ﴿ قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللهُ﴾ (النمل: ۶۵)۔

(۱۰) دغه شان بعض وائی د ښځی نکاح په غیر د ولی نه جائز ده ځکه چه په ﴿حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ﴾ (البقره: ۲۳۰) کی نسبت د نکاح زنانه ته کړیدی۔ جواب دا دی چه که دا معنیٰ واخلو نو د بل آیت ﴿ فَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ أَنْ يَّنْكِحْنَ﴾ (البقر: ۲۳۲) سره ئے تعارض راځی چه

هلته ئې نسبت سروته کړیدې. دارنګه پدې سره ډیر احادیث لکه [لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ] (ابوداود، ترمذی) رد کیږي. او ښځې ته ئې نسبت ځکه کړیدې چه د هغې رضا شرط ده مګر په خپله نکاح نشي کولې.

(۱۱) په فاتحه خلف الامام کې صریح (۱۱) احادیث راغلي دي او مقلدین دا رد کوي په ﴿وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا﴾ (اعراف: ۲۰٤) سره. نو د احادیثو او د قرآن ټکراؤ راولي. دغه شان د بل آیت ﴿فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ﴾ (المزمل: ۲۰) سره ټکراؤ راولي ځکه چه دلته ئې نسبت د قرائت هر چا ته کړیدې. نو صحیح معنیٰ دا ده چه انصات د قراءت منافي نهٔ دې لکه پدې باندې حدیث د بخاري (اسكاتك ما بين التكبير والقراءة ما تقول) الفاظ دلیل دې.

(۱۲) کله په ﴿ادْعُوا رَبَّكُمْ﴾ (اعراف: ۵۵) سره آمین بالجهر رد کوي، حال دا چه د هغې مطلب خو دا دې چه په عامو حالتونو کې دعا په پټه غواړئ. او آمین بالجهر خو د نبی کریم ﷺ نه متواتر نقل دې.

(۱۳) یو رکعت وتر په صحیح احادیثو کې ثابت دې او دوی ئې په یو ضعیف روایت باندې نفي کوي چه د بتیراء مانځه نه منع راغلې ده. دا روایت ضعیف جدًا دې، په سند کې ئې حنش ابوعلی الرحبي راوي ضعیف دې. حال دا چه عبد الله بن عمرؓ ددې تفسیر داسې کړیدې چه بتیراء هغه مونځ دې چه رکوع او سجده ئې برابره اُونکړې شي.

(۱٤) شیعه ګان وائي: العیاذ بالله صحابه کرامؓ مرتد شوي وو ځکه چه د بخاري په حدیث کې دي چه نبي ﷺ فرمائي: [إِنَّهُمْ مَا زَالُوا مُرْتَدِّينَ عَلَى أَعْقَابِهِمْ] چه قیامت کې به رسول الله ﷺ ته ملائك اُوفرمائي: دوی همیشه وو چه د دین نه به اوړیدل. نو پدې غلط مطلب اخستو سره د قرآن او حدیث اکثره حصه رد کیږي، چه الله فرمائي: ﴿رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ﴾ (سورة البینة). او بیا فضائل د صحابه کرامؓ څه شو؟. ﴿وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ﴾ (التوبة: ۱۰۰) حدیث د بخاري کې دي: [آيَةُ الْإِيمَانِ حُبُّ الْأَنْصَارِ وَآيَةُ النِّفَاقِ بُغْضُ الْأَنْصَارِ]. او د دغه حدیث مطلب دا دې چه نبي ﷺ د مخکې نه پیشن ګوئي ورکړه چه زما پسې امت کې به بعض خلق د تقلیدی ایمان په وجه د دین نه اوړي لکه د ابوبکر صدیق ﷺ په زمانه کې بعض خلق دغه شان شو.

(۱۵) رسول الله ﷺ په صحیح حدیث کې فرمائي: چه [وَقْتُ صَلَاةِ الظُّهْرِ إِلَى أَنْ يَصِيرَ ظِلُّ كُلِّ شَيْءٍ مِثْلَهُ]. (ترمذی، احمد) صحابيؓ تپوس اُوکړو چه د ماسپښین وخت کوم دې

نو جواب ورکړے شو چه د ماسپښین وخت دا دے چه د هر شی سورے یو چند ته اُورسیږی۔ ددے نه اخوا مازیګر شروع کیږی۔ او د امام ابوحنیفهؒ د څلورو اقوالو نه یو قول دا دے چه د ماسپښین وخت د مثلین پورے دے۔ حال دا چه دا په هیڅ صحیح صریح حدیث کی ثابت نهٔ دے لیکن بعض کارهٔ زړونو والا ددے دپاره بعید استدلال کوی چه رسول الله ﷺ په سفر کی وو، بلال اذان کولو نبی ﷺ ورته اُوفرمایل : اَبْرِدْ (لږ تاخیر اُوکړه) بیا ئے اذان کولو ورته ئے اُوفرمایل (تاخیر اُوکړه)۔ ابوذرؓ وائی [حَتّٰی رَأَیْنَا فَیْءَ التُّلُوْلِ] تردے چه مونږ د ډیرکو سورے اُولیدو۔ (بخاری) نو معلومه شوه چه د ډیرکو سورے خو ناوخته راځی نو دا مونځ به ئے تر مثلین پورے اُوږد کړے وی۔ جواب دا دے چه دا روایت مجمل دے د مانځه د اوقاتو د بیان دپاره نهٔ دے چلولے شوے او مخکی روایت صریح دے۔ پدے روایت کی دا خبره نشته چه دا مونځ په مثلین کی شویدے ځکه چه د ډیرکو سورے کله وختی راپیدا کیږی او کله ناوخته ځکه بعض ډیرکئ لوړے وی او بعض وړوکے۔ نو پداسے مجمل روایاتو باندے نص رد کول صحیح طریقه نهٔ ده۔

(۱٦) جمع بین الصلاتین په (۳٦) احادیثو کی ثابته ده، مګر بعض خلق دا آیت ﴿اِنَّ الصَّلَاةَ کَانَتْ عَلَی الْمُؤْمِنِیْنَ کِتَابًا مَوْقُوْتًا﴾ (البقره:۱۰۳) پیش کوی چه مونځ په خپل خپل وخت فرض شویدے۔ لهذا جمع بین الصلاتین نشته۔ دا په متشابه آیت سره صریح صحیح احادیث رد کول دی۔ بلکه د آیت مطلب دا دے چه خپل وخت کی مونځ کول پکار دی او جمع بین الصلاتین کی هم مونځ په خپل وخت کی دے، قضاء نهٔ دے۔

(۱۷) حدیث کی دی : چه په تکبیر تحریمه کی به صرف الله اکبر وائی۔ (وَتَحْرِیْمُهَا التَّکْبِیْرُ) (ابوداود والترمذی) ثُمَّ یَقُوْلُ اَللّٰهُ اَکْبَرُ (المعجم الکبیر)۔ رسول الله ﷺ هیڅ کله بغیر د الله اکبر نه بل لفظ سره شروع نهٔ ده کړے۔ او دوی دا رد کوی په متشابه آیت سره ﴿وَذَکَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰی﴾ چه په آیت کی صرف د الله نوم یادول ذکر شویدی۔ دا مجمل آیت دے او دوی پرے صریح احادیث رد کړیدی۔ بلکه د (ذکر اسم ربه) نه مراد لفظ د الله اکبر دے، ځکه حدیث بیان د قرآن دے۔

(۱۸) احادیثو کی د مانځه نه د وتلو دپاره صرف سلام لفظ وئیل خودلے شویدی۔ [وَتَحْلِیْلُهَا التَّسْلِیْمُ]. (المصدر المذکور) [اِنَّمَا یَکْفِیْ اَحَدَکُمْ اَنْ یَّضَعَ یَدَهٗ عَلٰی فَخِذِهٖ ثُمَّ یُسَلِّمُ عَلٰی اَخِیْهِ مَنْ عَلٰی یَمِیْنِهٖ وَشِمَالِهٖ] (مسلم:۹۹۸)۔ دا دوی رد کړیدے په قول د ابن مسعود ؓ چه هغه یو اعرابی ته اُووئیل : [فَاِذَا قُلْتَ هٰذَا فَقَدْ قَضَیْتَ صَلَاتَکَ اِنْ شِئْتَ اَنْ تَقُوْمَ فَقُمْ وَاِنْ

شِئۡتَ أَنۡ تَقۡعُدَ فَاقۡعُدۡ] ۔ (ابوداود:۹۷۲) نو دلته ئے ورته سلام اُونۀ خودلو۔ نو دا صریح حدیث په یو مجمل موقوف روایت باندے رد کول دی۔ د ابن مسعودؓ مطلب دادے چه د درود وئیلو او د سلام اړولو نه روستو د امام سره کیناستل لازم نۀ دی۔

(۱۹) بعض مقلدینو د رسول الله ﷺ د اتباع او اطاعت صریح نصوص رد کړیدی په بعض متشابه اقوالو سره۔ لکه [اِقۡتَدُوۡا بِالَّذَيۡنِ مِنۡ بَعۡدِيۡ أَبِيۡ بَكۡرٍ وَعُمَرَ] - یا [رَضِيۡتُ لَكُمۡ مَا رَضِيَ لَكُمۡ اِبۡنُ أُمِّ عَبۡدٍ (مستدرك)

(۲۰) مرجئه د هغه احادیثو نه چه په هغے کی صرف د کلمے په وئیلو نجات خودلے شویدے دلیل نیسی چه گناه په ایمان کی هیڅ ضرر نۀ رسوی او عمل ته هیڅ ضرورت نشته۔ نو دوی نور صریح آیات او احادیث رد کوی۔

(۲۱) اهل تقلید وائی : قرآن کریم کی راغلی دی چه تقلید واجب دے ځکه چه ﴿ فَاسۡئَلُوۡا أَهۡلَ الذِّكۡرِ﴾ (النحل:۴۳) کښی امر راغلے دے چه تاسو د اهل ذکر نه تپوس وکړئ او تپوس خو تقلید دے نو الله په تقلید امر وکړو؟ جواب دا دے چه تقلید د چا رایه اخستل وی او تپوس کی غرض د الله حکم په دلیل سره معلومول وی نو دواړه جدا جدا څیزونه دی۔ دویم دا چه سوال خو د ژوندو نه کیږی نو د امام صاحبؒ نه به څنگه تپوس وشی؟! نو د آیت مطلب دا شو چه د ژوندو علماؤ نه تپوس وکړئ که دلیل ورسره وو نو د دلیل پسے روان شئ او که دلیل ورسره نۀ وو نو تابعداری ئے نشته، ځکه چه قرآن کی ﴿ اِتَّبِعُوۡا مَا أُنۡزِلَ اِلَيۡكُمۡ مِنۡ رَبِّكُمۡ﴾ (اعراف:۲) باندے امر راغلے دے چه صرف د مَا أُنزِل (وحی) تابعداری به کولے شی۔

دا قسم نور مثالونه شته چه اهل بدع د متشابهاتو نه استدلال کوی لکه :

(۲۲) دعاء بعد السنة ثابتوی او د ﴿ فَاِذَا فَرَغۡتَ فَانۡصَبۡ﴾ نه (۲۳) یا غلط خیراتونه ثابتوی د ﴿هُوَ الَّذِيۡ خَلَقَ لَكُمۡ مَا فِي الۡأَرۡضِ جَمِيۡعًا﴾ (البقره:۲۹) نه، (۲۴) یا اباحیه دهریه هم ددے آیت نه استدلال کوی په اباحت د ټولو شیانو۔ (۲۵) دارنگه معتزله وائی : ﴿ لَا تُدۡرِكُهُ الۡأَبۡصَارُ﴾ (انعام:۱۰۳) دلیل دے چه الله تعالیٰ په آخرت کی نۀ لیدلے کیږی۔

(۲۶) دارنگه خوارج د (وَقِتَالُهُ كُفۡرٌ) یا د ﴿ وَمَنۡ عَادَ فَأُولٰئِكَ أَصۡحَابُ النَّارِ هُمۡ فِيۡهَا خَالِدُوۡنَ﴾ (البقره:۲۷۵) استدلال کوی په تکفیر د مرتکب د کبیره باندے۔

(۲۷) دارنگه بریلیان وائی : ﴿وَفِيۡكُمۡ رَسُوۡلُهُ ﴾ (آلعمران:۱۰۱) نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ حاضر ناظر دے، (۲۸) دارنگه تقارب ادیان والا وائی : ﴿ اِنَّ الَّذِيۡنَ آمَنُوۡا وَالَّذِيۡنَ هَادُوۡا

﴿وَالنَّصَارٰى﴾ كى د تهولو دينونو تائيد شويدے۔ دارنګه ټول باطل پرست د قرآن د متشابهاتو نه استدلال كوى او محكماتو سره ئے ټكراؤ راولى چه د هغے جواب راسخ فى العلم ته آسان دے، رزقنا الله تعالىٰ الرسوخ فى العلم۔ او په علم كى د رسوخ پيدا كولو اسباب به روستو ذكر كړو ان شاء الله تعالىٰ۔

﴿فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ﴾ د زيغ نه د زړهٔ كوږوالے، د حق نه مخ اړول او د نفس خواهشاتو طرف ته ميلان مراد دے۔ (ابوالسعود ۲/۱۰۶)

﴿فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ﴾ اتباع نه مراد هميشه روانيدل، او بحث او ګرځيدل دىَ په متشابه پسے۔ پدے كى اشاره ده چه اهل زيغ خلق په قرآن كى صرف خپل مطلب لټوى او متشابهاتو پسے ګرځى او محكم صريح آيتونه ئے د مخے نه تيرېږى او هيڅ سوچ ورته نهٔ كوى ځكه چه د هغے نه ئے مقصد نهٔ پوره كيږى، په سترګو باندے ئے د باطل پټئ لګيدلى وى۔ او دا طريقه د عامو باطل پرستو ده چه په يوه مسئله كى صريح دلائل موجود وى او دوى پكى بعيد عقلى وجوهات او د نص خلاف او ضعيف دلائل ګورى۔

﴿ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ﴾ يعنى دوى چه متشابهاتو پسے لګى نو دوه مقصده ئے وى (۱) يو دا چه فتنه لټوى، د فتنے نه مراد جګړے، فساد، قتل وقتال پيدا كول دى ځكه چه ددے په وجه دين كى اختلاف پيدا شى او هغه سبب د فساد وى۔ (قاله الاصمؒ)۔ بعض وائى : د فتنے نه مراد په زړونو كى د بدعت او ګمراهئ پخول او مضبوطول دى۔ (اللباب لابن عادل)

راجح دا ده چه د فتنے نه مراد بدعت او ګمراهى او هر هغه شے دے چه د صحيح عقيدے خلاف وى۔

او دويم مقصد ئے دا دے چه دوى د خپل خواهش موافق د متشابهاتو تحريف اُوكړى۔ (ابن كثيرؒ)

﴿وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ﴾ د تاويل دوه معنے دى (۱) اَلَّذِىْ لَا يَصِلُ اِلَيْهِ مَخْلُوْقٌ ـ چه مخلوق ته د هغے علم نهٔ وى لكه د قيامت احوال او اعداد او شمارونه او حروفِ مقطعات وغيره لكه چه مخكى تير شو۔

(۲) اَىْ عَلٰى مَا تَقْتَضِىْ مَذَاهِبُهُمْ۔ يعنى داسے معنىٰ كوى چه د هغوى د رائے او د مذهب برابره وى۔ تفسير تسهيل ليكى : [دَخَلَ فِيْهِ كُلُّ كَافِرٍ وَمُبْتَدِعٍ وَجَاهِلٍ] پدے كى هر كافر او بدعتى او جاهل داخليږى، چه دوى داسے كار كوى۔

ابو حيانؒ ليكى : اهل زيغو كى نصارىٰ، يهود، خوارج، منافقان، مشركان، زنادقه،

باطينيه او تول مبتدعين داخل دي څكه چه هره ډله د حق نه اوړيدلے ده او د نيغې لارے نه كږه شويده. او دا لفظ دے تولو ته شامل دے. (البحر المحيط).

د تاويل معاني

﴿ وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ ﴾ د تاويل ډيرے معنے وے (١) په معنىٰ د يو شي حقيقت او د هغے انجام او نتيجے سره. (٢) تاويل كله په معنىٰ د تفسير او وضاحت سره راځي. (٣) د تاويل كله دا معنىٰ وي چه يو لفظ د خپل ظاهر نه د يوے شبهے د وجے نه اړول او دا باطل تاويل دے. (٤) صَرْفُ اللَّفْظِ عَنْ ظَاهِرِهِ لِدَلِيْلٍ عَرَضَ لَهُ : يو لفظ د خپل ظاهر نه د دليل په وجه اړول، او دا صحيح تاويل دے.

كه اوله معنىٰ واخلو نو بيا به په ﴿ إِلَّا اللَّهُ ﴾ باندے وقف كوو. او معنىٰ به دا وي چه دا كږوږونو والا خلق د متشابهاتو د اصل معنىٰ او حقيقت معلومولو كوشش كوي حال دا چه دا ممكن نۀ ده څكه چه د متشابهاتو صحيح علم خو صرف الله ته دے، په هغے بل هيڅوك نۀ پوهيږي څكه چه د هغے علم الله پاك خپل ځان پورے خاص كړيدے. او روستو ﴿وَالرَّاسِخُونَ﴾ به مبتداء وي او روستو ﴿ يَقُولُونَ﴾ به ئے خبر وي نو دا به جدا جمله وي.

او كه د تاويل نه مراد تفسير او بيان واخستے شي، دارنگه څلورمه معنىٰ واخستے شي نو بيا به ((وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ)) په ((الله)) باندے معطوف وي، څكه چه علماؤ ته په هغه آيتونو ضرور پوهيدل پكار دي چه د هغے مسلمانان مخاطب دي. نو معنىٰ به دا وي چه نۀ پوهيږي په صحيح معنىٰ د متشابهاتو مگر الله تعالىٰ او هغه علماء چه مضبوط علم لري هغوي هم پوهيږي او بيا داسے وائي چه مونږ پدے باندے ايمان راوړيدے. الخ. او دا معنىٰ څكه صحيح ده چه عامو مفسرينو د قرآن د هر آيت تفسير كړيدے تردے چه د ((الم)) او د نورو حروفِ مقطعاتو احتمالي تفسيرئے هم كړيدے. نو دا به كوم آيتونه وي چه علماء پرے نۀ پوهيږي، دا قسم آيتونه قرآن كريم كي نشته، آؤ، د متشابهاتو چه كوم تفصيل وشو هغے سره آيت حل كيږي.

او علامه شوكانيؒ وئيلي دي چه داسے تشريح كول ډير اعتدال دے څكه چه اكثر علماء وائي چه په متشابهاتو د الله نه سوئ هيڅوك نۀ پوهيږي او امام مجاهدؒ وائي چه علماء پرے هم پوهيږي. (او قرطبيؒ وئيلي دي چه دا قول د ابن عباسؓ نه هم منقول دے چه راسخين د متشابهاتو علم محكماتو ته واپس كوي) نو كه د تاويل جدا جدا معنے واخلے

نو دواړه اقوال صحیح کیږی۔ [فتح القدیر ۱/٤٧٣]

د راسخین فی العلم تعریف

○راسخ فی العلم : (اَلْعَامِلُ بِعِلْمِهٖ) ۔ هغه شخص ته وائی چه په خپل علم باندے عمل کوی۔ ○بعض وائی : راسخ فی العلم هغه چا ته وائی چه په هغه کی څلور صفات وی (۱) تَقْوىً فِيْمَا بَيْنَهٗ وَبَيْنَ اللّٰهِ ۔ ددهٔ او د الله په مینځ کی تقویٰ وائی۔(۲) [تَوَاضُعٌ فِيْمَا بَيْنَهٗ وَبَيْنَ النَّاسِ] ۔ (ددهٔ او د خلقو ترمینځ عاجزی وی)۔ (۳) اَلزُّهْدُ فِيْمَا بَيْنَهٗ وَبَيْنَ الدُّنْيَا ۔ ددهٔ او د دنیا ترمینځ بے رغبتی وی۔(٤) [اَلْمُجَاهَدَةُ فِيْمَا بَيْنَهٗ وَبَيْنَ النَّفْسِ] (د خپل نفس سره مجاهده کوی)۔ (معالم التنزیل، السراج المنیر، خازن)

○راسخ فی العلم هغه خلق دی کوم چه د دین په علم کی پاخهٔ دی او د فهمِ سلیم او د طبع مستقیم مالکان دی، هغوی د متشابهاتو پسے نهٔ لګی بلکه هغوی وائی چه زمونږ په دے باندے ایمان دے چه دا متشابهات د الله د طرفنه دی او ددے نه د الله تعالیٰ مراد حق دے۔ راسخ فی العلم زیات نه زیات دا کوی چه متشابهات د محکماتو په ذریعه معلوموی چه که چرے د محکماتو په رڼا کی ددے څه مفهوم په پوهه کی راشی نو د محکماتو په شان به په هغے باندے هم عمل کوی لیکن که چرے څه مفهوم ئے په پوهه کی رانشی نو بیا خاموشی اختیاروی او صرف په ایمان بالمتشابهات باندے اکتفاء کوی او په ظن او تخمین سره د هغے د مفهوم متعین کولو کوشش نهٔ کوی۔

﴿يَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِهٖ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ رَبِّنَا﴾ (بِهٖ) ضمیر کتاب ته هم راجع دے او متشابهاتو ته هم۔ د راسخین فی العلم صفت دا دے چه دوی وائی مونږ پدے کتاب او پدے متشابهاتو ایمان راوړیدے دا ټول زمونږ د رب د طرف نه دی او (ربنا) لفظ ئے اُووئیلو پدے کی اشاره ده چه پدے متشابهاتو سره الله تعالیٰ زمونږ تربیت کوی او زمونږ امتحان اخلی چه څوك پدے پسے لګیا کیږی او څوك نهٔ۔ دوی دا وینا خپلو کشرانو او عامو مسلمانانو ته کوی چه متشابهات ددے دپاره نازل شویدی چه مونږ به پرے ایمان راوړو ځکه چه دا ټول زمونږ د رب د طرفنه دی۔ ﴿كُلٌّ﴾ یعنی هر یو د متشابهاتو او محکماتو نه دا ټول زمونږ د رب د طرف نه دی۔ دا ورسره ځکه وائی چه هرکله د بعض متشابهاتو پوره علم الله تعالیٰ سره وو نو ګمان کیدے شو چه دا به د الله تعالیٰ د طرف نه نهٔ وی نو جواب اُوشو چه دا ټول د الله د طرف نه دی۔

بل پدے کی اشاره ده چه کوم شے د الله د طرفنه وی په هغے کی خپل مینځ کی هیڅ تعارض نهٔ وی۔ یعنی راسخین فی العلم د متشابهاتو په معنیٰ او مطلب پوهه شی او هغه محکماتو ته راجع کړی او بیا وائی چه دا ټول حق دی چه هیڅ تعارض پکی نشته ځکه چه دا دواړه کلامونه د الله تعالیٰ دی۔ او جاهل همیشه په اضطراب کی وی۔(المنار)

﴿وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ 7)﴾

عقلمند ځکه نصیحت اخلی چه هغه سوچ کوی چه د متشابهاتو په رالیږلو کی ډیرے فائدے دی۔

فائده : والراسخون فی العلم ئے وویل : (والراسخون فی الدین) ئے ونهٔ ویل پدے کی اشاره ده چه د متشابهاتو په وجه د علماؤ علم ژوندے کیږی، ځکه که ټول قرآن محکم وے نو انتهائی آسان به وے، بیا به د انسان عقل په هغے کی ګرځیدل نهٔ کولے نو عقل به ئے مړ شوے وے نو علم به ئے نهٔ تازه کیدلے، نو دا د الله رحم دے چه دین ئے په داسے طریقه وګرځولو چه د عقل د تالاش او ګرځیدو دپاره پکی ګنجائش پیدا شو نو عقل چه متشابه د غیر نه راجدا کوی نو پدے سره به د ډیرو دلائل کونیه او براهین عقلیه و او د طرق الخطاب او د وجوه الدلالة تالاش کوی دے دپاره چه د هغے فهم او حقیقت ته ورسیږی او دا یوه فائده د متشابهاتو ده۔ (المنار)

د متشابهاتو فائدے

دلته سوال پیدا کیږی چه قرآن کی ولے متشابهات آیتونه نازل شویدی که ټول محکم او ښکاره مراد والا وے نو پدے کی به بنده خپل دینی غرض زر حاصلولے؟ او متشابه خو کله په عقائدو کی التباس او ګډوډوالے راولی او دا کله د هدایت دپاره مانع واقع کیږی او د تاویل والو دپاره د فتنے دروازه کولاویږی؟ (المنار)

نو ددے جواب دا دے چه الله تعالیٰ حکیم او علیم دے هغه چه متشابهات نازل کړیدی پدے کی بیشماره فوائد دی چه بعض د هغے نه لاندے ذکر کیږی :

(۱) لکه یوه فائده ئے ابتلاء او امتحان دے، چه باطل پرست د باطل د ثابتولو دپاره ددے نه دلیل نیسی او په حق پرستو امتحان دا دے چه د باطل پرستو په مقابله کی به جوابونه کوی او د حق د ثابتولو او ښکاره کولو دپاره به په قرآن کریم کی فکرونه کوی۔

(۲) تدبر او سوچ کول : چه حق پرست علماء به په متشابه آیتونو کی سوچ او فکر

اُوکړي او محکماتو ته به ئے راواپس کړي نو اجر به ئے اُوشي۔ او اهل بدعت او فساد والا به تريے غلط مطلب واخلي نو هلاك به شي۔ ځکه چه قرآن کريم ذو وجوه دے، هر باطل پرست ددے نه دليل نيولے شي ليکن هغه د محکم آيتونو خلاف وي۔ عامه دنيا کې چه خومره باطل پرست دي دوي ټول د قرآن نه دليل نيسي او قرآن په غلطه طريقه استعمالوي۔

(۳) که قرآن ټول محکم وے نو بيا به پکې ټول انسانان يو شان وے حال دا چه چا ته الله تعالىٰ د قرآن پوهه زياته ورکوي او چا ته کمه۔ ځکه چه د بعض کسانو تدبر او سوچ زيات وي او د بعضو کم۔ د هر چا د خوارئ او محنت مطابق جزا ورکولے شي۔ امام رازیؒ وائي په قرآن کريم کې هرکله چه محکم او متشابه دواړه شته نو انسان به محتاج وي تحقيق او استدلال ته او عقل نه به کار واخلي او د تقليد د تيارو نه به خلاص شي۔

(٤) فائده: هرکله چه قرآن کې محکم او متشابه دواړه شته نو عالم به د متشابه د صحيح تاويل دپاره محکماتو ته رجوع کوي او د لغت او د عربيت علومو او اصولي علمونو ته به ضرورت راپيښيږي نو ډير علمونه به حاصلوي۔

(٥) هرکله چه بعض متشابهاتو ته د انسان علم نهٔ رسيږي نو دے به پدے سره د تکبر د صفت نه خلاص شي او پوهه به شي چه واقعي ټول علم الله تعالىٰ سره دے۔ او يقين به وکړي چه ((وَفَوْقَ كُلِّ ذِىْ عِلْمٍ عَلِيْمٌ)) خبره حقه ده، او هيڅوك به د کلي علم دعوىٰ نهٔ کوي۔

(٦) که قرآن ټول محکم وے نو صرف د يو مذهب مطابق به وے او د قرآن تصريح به ددے نه ماسوىٰ ټول مذاهب باطل کړي وے نو پدے سره به د نورو مذاهبو د خاوندانو نفرت پيدا کيدلے او ددے د قبلولو او پدے کې د کتلو نه به ئے نفرت کولے نو هرکله چه متشابهات او محکمات دواړه پکې نازل شو نو هر مذهب والا به د خپل مذهب د تقويت دپاره پدے کې نظر کوي نو پدے طريقه به ټولو مذاهبو والا نظر کوي او په سوچ کولو کې به کوشش کوي نو هرکله چه دوي ژور سوچ وکړي نو محکماتو سره به دوي ته متشابهات ښکاره شي او پدے طريقے سره به باطل پرست د باطل نه خلاص شي او حق ته به ورسيږي، صاحب المنار وائي دا وجه امام رازیؒ ذکر کړيده او د ټولو نه ضعيفه وجه ده ځکه چه د قرآن د نزول په وخت کې دغه مذاهب چرته وو، او چا پدے طريقه هدايت قبول کړيدے؟ (المنار۳/ ۱٤٠)

او دا جمله د راسخین د مدح دپاره اُووئیلے شوه چه د دوی عقلونه د وهمونو او وسوسو نه صفا دی، پدے وجه هغوی دا وائی چه ډیر کرت مونږ به د یو آیت په مطلب نهٔ پو هیږو او د الله تعالیٰ مراد به د هغے نه حق وی، نو منل ئے پکار دی۔

رَبَّنَا لَاتُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا
اے ربه زمونږ! مهٔ کوه زړونه زمونږ پس د هغے نه چه تا نیغه لاروخوده مونږ ته او اُوبخه مونږ ته
مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ ﴿٨﴾ رَبَّنَا إِنَّكَ
د خپل طرف نه مهربانی، یقیناً ته ورکونکے ئے بغیر د غوختلو نه۔ اے ربه زمونږ! یقیناً ته
جَامِعُ النَّاسِ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيهِ إِنَّ اللَّهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ ﴿٩﴾
راجمع کونکے ئے خلقو لره هغه ورځے ته چه شك نشته په هغے کی، یقیناً الله خلاف نه کوی د وعدے خپلے نه۔

تفسیر : پدے دوه آیتونو کی د راسخین فی العلم دعا ذکر کوی چه دوی کله اهل زیغ اُووینی چه د متشابهاتو نه غلط دلیلونه نیسی او د هدایت نه اَوړیدلی وی نو د الله نه دعا کوی چه اے الله! زمونږ زړونه د هدایت نه روستو مهٔ کوه چه د متشابهاتو پسے روان شو، او د خپل طرف نه رحمت راکړه۔

د رحمت لفظ عام دے شامل دے اَلثَّبَاتُ عَلَى الدِّيْن ته (یعنی په دین باندے مضبوطوالی ته) او یقین او ایمان او هدایت او اتباع د قرآن او حدیث ته۔

ترمذیؒ د عائشے رضی الله عنها نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ به اکثر او زیاته دا دعا کوله: [يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِيْ عَلَى دِيْنِكَ] اے د زړونو اړونکیه! زما زړهٔ ته په خپل دین باندے مضبوط اُوساته۔ ما اُووئیل: اے د الله رسوله! ته دا دعا ډیره زیاته غواړے۔ نو نبی ﷺ اُوفرمایل چه د هر انسان زړهٔ د رحمان د دوه ګوتو په مینځ کی دے، که غواړی نو هغه په حق باندے قائم ساتی او که غواړی نو هغه ئے ګمراه کوی۔ (ترمذی: ٢١٤٠ وسنده صحیح)

وَهَبْ لَنَا : هبه هغه عطیی ته وائی چه بغیر د غوختلو او بغیر د عوض نه وی۔ نو اشاره ده چه مونږ مستحق د رحمت نهٔ یو صرف ستا نه هبه غواړو پدے کی مقصد الله ته تواضع کول دی۔

نکته : بعض مبتدعین دا دعا کوی حال دا چه دوی زیغ والا وی، هدایت ورته نهٔ وی

شوے او دا دعا کوی، هغوی له ﴿ اِهۡدِنَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِیۡمَ﴾ دعا پکار ده۔
ربنا انك جامع الناس : دا په ظاهره کی جمله خبریه ده لیکن په حقیقت کی دعا ده۔ چه اے الله ! تهٔ به خلق د قیامت ورځے ته راجمع کوے نو [فَلَا تُخۡزِنَا فِیۡهِ] مونږ په دغه ورځ کی د شرم نه اُوساته۔ او د اهل زیغو سره مو مهٔ ملګری کوه۔او پدے دعا کی اشاره ده چه کله اهل زیغ خلق دا سوچ اُوکړی چه مونږ به آخرت ته راجمع کیږو او الله به راسره حساب کتاب کوی نو بیا به د خپل کړلیچ او فساد نه واوړی لیکن دوی چه دا فسادونه کوی پدے وجه چه د آخرت د ورځے استحضار او ذهان ئے نشته۔ د چا چه ایمان خوښ وی او د آخرت یره ئے په زړه کی وی او دا یقین ئے وی چه الله پاك کومه وعده کړیده هغه به ضرور کیږی، هغوی هیڅ کله اهل زیغ نهٔ وی، روغ زړونو والا وی۔

اِنَّ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا لَنۡ تُغۡنِیَ عَنۡهُمۡ اَمۡوَالُهُمۡ وَلَا اَوۡلَادُهُمۡ
یقیناً هغه کسان چه کفرئے کړے دفعه به نه کړی د دوی نه مال د دوی او نهٔ اولاد د دوی
مِنَ اللّٰهِ شَیۡئًا وَاُولٰٓئِكَ هُمۡ وَقُوۡدُ النَّارِ﴿۱۰﴾
د الله (د عذاب) نه هیڅ شے او همدغه کسان خشاك د اُور دی۔

تفسیر : پدے کی ظاهراً کافرانو ته د دنیا او د آخرت تخویف ذکر دے۔ او ضمناً پکی تزهید فی الدنیا دے (د دنیا یے رغبتی ده) په دوه طریقو (۱) چه ډیر مالونه او اولاد د کفر سره فائده نهٔ ورکوی لکه څنګه ئے چه فرعونیانو ته فائده ورنکړه۔
(۲) دویم : په ښکاره الفاظو سره د د دنیا یے رغبتی ذکر کوی په (زین للناس) سره۔
د قیامت د ذکر کولو نه روستو۔ اُوس پدے آیت کی دا بیانیږی چه هغه تمام خلق چه د الله نه ئے انکار کړیدے او د رسولانو تکذیب ئے کړیدے، او د متشابهاتو پسے روان دی دوی به جهنم ته ضرور داخلیږی۔ او د دوی مالونه او د دوی اولاد به دوی د الله د عذاب نه نشی بچ کولے۔ او په دنیا کی به هم د دوی حشر د فرعون او د هغه خلقو په شان وی چا چه د الله د آیتونو تکذیب کړیدے، چه الله هغوی لره د ګناهونو په سبب راونیول او د آخرت د عذاب نه مخکی ئے په دنیاوی مصیبتونو او سزاګانو کی اخته کړل۔
مناسبت : د دنیا د یے رغبتئ ذکر کولو مناسبت دا دے چه کافران څُکه کفر کوی او د الله د توحید نه انکار کوی او حق نهٔ منی چه دوی ته دنیا لوئی شے ښکاره شویدے، او د مالونو

او اولاد ډیروالے د خپل حقانیت نښه ګڼري او دا وائي چه دا به مونږ ته په آخرت کې هم فائده راکړي۔ ﴿أَفَرَأَيْتَ الَّذِي كَفَرَ بِآيَاتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا﴾ (مریم : ۷۷) ﴿ وَلَئِنْ رُدِدتُّ إِلَىٰ رَبِّي لَأَجِدَنَّ خَيْرًا مِنْهَا مُنْقَلَبًا﴾ (الکهف :۳۶)

۲- دویم مناسبت دا دے چه په دے آیت کې دفع د وهم ده چه کفار بآیات الله د الله تعالیٰ څنګه دشمنان سره ددے نه چه د دوی خو مال او اولاد ډیر دے ؟ نو جواب وشو چه د کفر سره دا فائده نهٔ ورکوي۔

لَنْ تُغْنِيَ: اغناء په معنیٰ د فائده ورکولو او دفع کولو سره دے۔ لیکن صاحب المنارؔ وائي چه دلته د دفع کولو معنیٰ ښکاره نهٔ ده بلکه د فائدے ورکولو معنیٰ ئے ده لکه د ﴿إِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا﴾ (یونس: ۳٦) کې چه دغه معنیٰ مراد ده۔ او (مِنْ) دلته په معنیٰ د بدل سره دے او مطلب دا دے چه د دوی مالونه او اولاد به هیڅکله د دوی دپاره د الله نه بدل ونهٔ ګرځي چه د الله نه ئے مستغني کړي څکه که دوی په خپل باطل باندے همیشه پاتے شي نو دوی به په دنیا کې مغلوبه شي او په آخرت کې به عذاب ورکړے شي۔

مِنَ اللهِ : د الله په دربار کې په قیامت کې دوی ته هیڅ فائده نشي ورکولے۔ (ابوعبیدؒ)۔

یا د الله د عذاب نه۔ او پدے معنیٰ کې عموم دے، چه هرکله الله اراده اُوکړه نو دوی ترے ځان نشي بچ کولے۔

وَقُودُ النَّارِ : اَیْ حَطَبُهَا۔ یعني دوی به خشاك د اُور وی او اُور به په دوی باندے بلولے شي۔

۲- یا مطلب دا دے : (اِنَّهُمْ سَبَبُ وُجُودِ نَارِ الآخِرَةِ) د آخرت اُور د دوی په وجه موجود شویدے، چه دوی پکې وسوزولے شي۔ (المنار نقله عن الاستاذ)

كَدَأْبِ آلِ فِرْعَوْنَ وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ كَذَّبُوا
(حال د دوی) په شان د حال د فرعونیانو دے او هغه کسان چه دوی نه مخکې وو، دروغژن ئے ګڼرلی وو
بِآيَاتِنَا فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ وَاللَّهُ شَدِيدُ الْعِقَابِ﴿۱۱﴾
آیتونه زمونږ، نو راونیول دوی لره الله په سبب د ګناهونو د دوی او الله سخت عذاب والا دے۔

تفسیر : پدے آیت کې په مخکنو قومونو باندے د دنیا د عذاب یوه نمونه بیانوی دپاره د یره ورکولو دے امت ته، او خصوصاً دغه مذکوره کفارو ته۔

دأب : اَلْحَالَةُ الْمُسْتَمِرَّةُ (هغه حال ته وئیلے شي چه انسان پرے همیشه روان وی) لکه

﴿دَائِبَيْنِ﴾ (سورة ابراهيم:٣٣) او﴿ دَأَبًا﴾ (يوسف :٤٧) كى همدا معنىٰ ده۔
دأب : مثال او عادت ته هم وائي۔
﴿كَدَأْبِ ﴾ ددے نه مخكى مبتداء حذف ده اَىْ دَأْبُهُمْ كَدَأْبِ آلِ فِرْعَوْنَ. اَىْ حَالُ هٰؤُلَاءِ فِى الْكُفْرِ (وَتَكْذِيْبِ الْحَقِّ) وَاِسْتِحْقَاقِ الْعَذَابِ كَحَالِ آلِ فِرْعَوْنَ (روح المعانى٣/٩٣)۔
يعنى په تكذيب او انكار كى ددے موجوده كافرانو حال او رويّه بالكل همغه شان ده څنګه چه د فرعونيانو او د هغوى نه د مخكى كافرانو وه، دغه شان په عذاب كى به هم د دوى حال هغه وى كوم چه د هغوى وو۔
كَذَّبُوْا بِآيٰتِنَا﴾ دا د هغوى د دأب او حال تفسير دے چه هغوى د الله آيتونه دروغژن اُوګنړل نو الله هغوى لره د هغوى د ګناهونو په وجه سره په عذاب كى اخته كړل۔
﴿ بِآيٰتِنَا﴾ د آيتونو نه مراد د الله د كتابونو آيتونه دى۔ يا مراد د الله تعالىٰ د توحيد او د انبياء عليهم السلام د رشتينوالى دلائل دى۔ (قرطبى ٤/٢٣)
فائده: په دے سورت كى د (النار) لفظ ډير مكرر شويدے ځكه كفر بآيات الله، الله تعالىٰ سخت بد ګنړى نو د اُور تذكره بار بار كوى۔ اخير كى فرمائى چه مؤمنان د اُور نه ډير يريږى او دا كفار يهود نۀ يريږى۔

قُلْ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَتُغْلَبُوْنَ
اووايه هغه كسانو ته چه كفرئے كړيدے، زر دے چه تاسو به مغلوبه كړے شئ
وَتُحْشَرُوْنَ اِلٰى جَهَنَّمَ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿١٢﴾
او راجمع به كړے شئ جهنم ته او بس فرش دے (دا جهنم)۔

تفسير: پدے آيت كى د كفارو د مغلوبيت بيان دے په دنيا كى او بيا د آخرت يره ده چه دوى به اُور ته جمع كړے شى۔

دا خطاب چا ته دے ؟

(١) يو قول دا دے چه ددے نه مراد د مدينے يهوديان دى۔ ددے د شانِ نزول په باره كى د ابن عباس رضى الله عنهما نه روايت شويدے چه رسول الله ﷺ كله د بدر د غزا نه مدينے منورے ته واپس راغلو نو د بنو قَيْنُقَاعو په بازار كى ئے ټول يهوديان راجمع كړل او ورته وئيل چه اے د يهوديانو ډلے ! تاسو اسلام راوړئ مخكى ددے نه چه ستاسو هغه انجام شى كوم

چه د قريشو شو. نو هغوى اُووئيل چه اے محمده! ته پدے خبره دهوكه كى رانشے چه معمولى ښان د جنگ نه ناخبره قريش دِے قتل كړل او راغلے، كه ستا زمونږ سره جنگ شو نو ته به پوهه شے چه مونږ كوم خلق يو، زمونږ په شان خلقو سره لا تر اُوسه ستاسو مقابله نۀ ده راغلے، نو دا آيت نازل شو چه بدر ستاسو دپاره نخه او نمونه ده دغه شان به ذليله شئ نو لږے ورځے پس هغوى وعده ماته كړه، رسول الله ﷺ ورپسے ورغلو او محاصره ئے كړل او د عبد الله بن ابى ابن سلول منافق په سوال او زارئ سره ئے پريخودل او د مدينے نه ئے اُوشړل نو الله ورسره دا وعده پوره كړه او دغه شان بنو قريظه قتل كړے شو او بنو نضير جلا وطن كړے شو او خيبر فتح شو او باقى خلقو باندے جزيه كيخودے شوه.

(۲) يا دا خطاب د مكے مشركانو كافرانو ته دے، چه لكه څنگه چه تاسو په بدر كى مغلوبه او ذليله شوئ نو آينده كى به هم دغه شان مغلوبه كيږئ، د الله د عذاب نه نشئ خلاصيدے.

(۳) دريم قول دا دے چه په آيت كى عموم دے، هر قسم كفارو، يهوديانو، نصاراؤ او مشركانو ته خطاب دے چه دا ټول د الله تعالىٰ دشمنان دى او هميشه به مغلوبه وى ليكن كله چه د كافرانو غلبه راځى نو دا د مؤمنانو نقصان وى چه دوى دين او صحيح عقيده او نيك اعمال پريخوستى وى او فسادونه ئے شروع كړى وى. كه مؤمنان الله تعالىٰ ته صحيح توبه گار شى نو په اوله ورځ به فتح وى او هيڅ تاخير به پكى نۀ وى، لكه د صحابه كرامؓ تاريخ اُوگوره.نو دا آيت په هره زمانه كى استعمالولے شى.

فائده : قرآن كريم كى هميشه د كفارو سره د مغلوبيت وعده ده ﴿ ثُمَّ تَكُوْنُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُوْنَ﴾ (الانفال: ۳٦) ﴿ فَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا هُمُ الْمَكِيْدُوْنَ ﴾ (الطور:٤٢) خو پدے شرط چه ايمان والا به دعوت او جهاد جارى ساتى.

﴿ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴾ (۱) د مهاد يوه معنىٰ ده فرش او ځاى د آرام كولو.(۲)دويمه معنىٰ دا ده : بِئْسَ مَا مَهَّدُوْا لِأَنْفُسِهِمْ] ډير بد دى هغه عملونه چه دوى ځان له تيار كړيدى.

قَدْ كَانَ لَكُمْ آيَةٌ فِيْ فِئَتَيْنِ الْتَقَتَا فِئَةٌ تُقَاتِلُ
يقيناً شته ستاسو دپاره نخه په دوه ډلو كى چه مخامخ شوے، يوه ډله وه چه جنگ ئے كولو
فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَأُخْرٰى كَافِرَةٌ يَّرَوْنَهُمْ مِّثْلَيْهِمْ رَأْيَ الْعَيْنِ وَاللهُ
په لاره د الله كى، او بله ډله كافره وه، ليدل دوى هغوى لره دوچنده په ليدلو د سترگو سره، او الله

يُؤَيِّدُ بِنَصْرِهٖ مَنْ يَّشَآءُ إِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّأُولِي الْأَبْصَارِ ﴿١٣﴾

مضبوطوي په مدد خپل سره چا له چه وغواړي، یقیناً پدے کی عبرت دے دپاره د خاوندانو د عقلونو۔

تفسیر : پدے خطاب کی هم اختلاف دے (۱) دا خطاب یا ایمان والو ته دے چه اُوګورئ تاسو الله تعالیٰ په بدر کی سره د کموالی د وسلو او د شمار نه غالبه کړئ۔

(۲) یا خطاب دے د مدینے یهودیانو ته چه د بدر په غزا کی هر څه چه اُوشو ددے نه عبرت اخستل پکار وو او پدے پو هیدل پکار وو چه الله به خپل دین ضرور غالب کوی او د خپل رسول به ضرور مدد کوی۔ ظاهر دا ده چه دا خطاب کافرانو ته دے او د ایمان والو دپاره پدے کی عبرت پروت دے۔

قَدْ كَانَ : دا د مخکنی آیت تتمه ده او د (قُلْ) نه لاندے داخله ده۔ او جواب د سؤال دے چه دا کافران خو ډیر قوی دے او د وسلو او د شمار نه پوره دی؟ نو الله تعالیٰ ددے نمونه او مثال راوړی چه په جنګِ بدر کی د مسلمانانو تعداد د کافرانو په مقابله کی ډیر کم وو لیکن د مسلمانانو رُعب او هیبت د هغوی په زړونو کی الله تعالیٰ اچولے وو، چه کافرانو ته مسلمانان خپل دوچنده په نظر راتلل۔

د ((فِئَةٌ تُقَاتِلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ)) نه مراد د الله رسول ﷺ او صحابه کرامؓ دی، چه شمارئے درے سوه دیارلس وو۔ او ددے نه د صحابه کرامؓ ډیر لوئی فضیلت ثابتیږی۔ چه دا یو داسے جماعت وو چه خالص د الله د دین د خاطره ئے جنګ کولو، د الله د طرف نه دا د هغوی د اخلاص او د کامل ایمان مضبوط شهادت دے۔ او د ((فئة اخری)) نه مراد د قریشو مشرکان دی، چه د هغوی شمار یو زر و ته نزدے وو۔

د فی سبیل الله لفظ د رسول الله ﷺ د سنت عام کولو، او قتال تولو ته شامل دے۔

﴿يَرَوْنَهُمْ مِّثْلَيْهِمْ رَأْيَ الْعَيْنِ﴾ پدے دواړو ضمیرونو کی دوه مطلبونه صحیح کیږی (۱) (يَرَوْنَ) کی ضمیر د جمع کافرانو ته او (هُمْ) ضمیر د مفعول مسلمانانو ته راجع دے یعنی لیدل کافرانو مسلمانانو لره خپل دوچنده په ظاهری نظر کی او دا په ابتداء کی نهٔ وو بلکه په هغه وخت کی وو کله چه جنګ اُونختلو، مسلمانان ئے ډیر ښکاره کړل دے دپاره چه په کافرانو رعب راشی لکه داسے همیشه الله تعالیٰ کوی چه د کافرانو په زړونو کی الله تعالیٰ د مؤمنانو رعب اچوی۔دے نه سویٰ الله تعالیٰ د مسلمانانو مدد د ملائکو په ذریعه هم اُوکړو۔ او الله چه د کوم کار فیصله کړے وه همغه شان اُوشوه، یعنی د کافرانو ډیره خون

خرابه اُوشوه اويا كسان پكې قتل شول۔
او سورة الانفال (٤٤) آيت كې دي ﴿وَيُقَلِّلُكُمْ فِي أَعْيُنِهِمْ﴾ او تاسو ئے د هغوی په نظرونو كې كم ښكاره كړئ) نو دا په اوله كې الله تعالىٰ دواړه ډلے يو بل ته كم ښكاره كړيدی، دے دپاره چه جنګ اُو شي ځكه كه دواړه ئے يو بل ته ډير ښكاره كړی وے نو بيا به جنګ نهٔ وے شوے۔ ((رَأْيَ الْعَيْنِ)) ځكه وائي چه په حقيقت كې مسلمانان كم وو چه درے سوه ديارلس وو او كافران زرو ته نزدے وو خو په ظاهره كې كافرانو ته مسلمانان زيات ښكاره كيدل، دا د الله تعالىٰ مدد دے، لكه روستو وائي (والله يؤيد بنصره)۔
(٢) د (يَرَوْنَ) ضمير مسلمانانو او (هُمْ) ضمير كافرانو ته راجع دے۔ يعنی ليدل مسلمانانو كافرانو لره دوچنده خپل په ظاهري نظر كې او ظاهر نظر ځكه وائي چه كافران په رشتيا په ظاهر كې ډير وو ليكن د الله مدد ورسره نهٔ وو نو غلبه ئے نشوه كولے پدے وجه په ظاهره كې زيات وو په حقيقت كې كم وو او په حقيقت كې زيات هغه خلق وی چه غلبه اُوكړی۔ اوله معنىٰ ډيره ښكاره ده۔ ځكه په هغے كې ضمير اقرب مذكور ته راجع كيږی۔
﴿وَاللَّهُ يُؤَيِّدُ بِنَصْرِهِ مَنْ يَشَاءُ﴾ پدے كې الله فرمائي چه دا قانون د الله تعالىٰ په يو ځای او يوه موقعه پورے خاص نهٔ دے بلكه الله چه چا ته اُوغواړی د ظاهري اسبابو نه بغير مدد كولے شي، لكه څنګه ئے چه په بدر كې د مسلمانانو مدد اُوكړو، پدے واقعه كې د عقل او بصيرت والا خلقو دپاره پوره عبرت پروت دے پدے وجه اے كافرانو ! ددے واقعے نه عبرت واخلئ اُوس هم موقعه شته د تكذيب او د انكار نه منع شئ او اسلام قبول كړئ ورنه الله تعالىٰ به مسلمانان په تاسو همدغسے غالبه كوی۔
دا تائيد (مضبوطوالے) په يو څو طريقو سره وی (١) اول د ملائكو په راليږلو سره (٢) دويم : د كافرانو په زړونو كې رعب اچولو سره (٣) دريم : د مؤمنانو په زړونو كې په بهادرئ پيدا كولو سره۔ (٤) او تفسير مواهب كې دی چه عامه معنىٰ هم مراده ده چه الله تعالىٰ بعض خلقو لره مضبوطوی په اتباع د سنت او د بدعت نه په ډډهٔ كيدو سره۔ (٥) د دين په بيانولو كې الله تعالىٰ بعض خلقو سره مدد كوی چه استعدادونه ورله راښكاره كړی او د دين لوئی لوئی كارونه ترے واخلی۔ او حق د هغه په خوله او مجاهده باندے غالبه كړی۔ اشاره ده دے ته چه د الله په مدد يقين كول او د هغه نه مدد غوختل پكار دی۔
يؤيد : اى من غير توسيط الاسباب العادية۔ (ابوالسعود) يعنی الله مضبوطول كوی په

غیر د واسطې د عادي اسبابو نه۔ یعنې غیبي مددونه رالیږي۔

لَعِبۡرَةً : دا د فِعۡلَة وزن دے د عبور نه دے، تیریدو ته وائي او مراد پدے سره اتعاظ (نصیحت اخستل) دی ځکه چه دا هم یو قسم دے د عبور نه۔ (ابوالسعودؒ)

الۡأَبۡصَارِ : جمع د بَصَر هم ده۔ ظاهري سترګو ته وائي۔ او جمع د بصیرت هم ده، چه د زړه سترګو ته وئیلے شي یعنې عقلمندي۔ او دلته همدا مراد دے۔

لاولي الابصار : اَیۡ لِذَوِی الۡعُقُوۡلِ وَالۡبَصَائِرِ۔ (د عقلونو او بصیرت والو دپاره)۔

۲- وَقِیۡلَ لِمَنۡ اَبۡصَرَهُمۡ۔ (ابوالسعود) یعنې د هغه چا دپاره عبرت دے چه دغه مخکنو خلکو ته وګوري۔

زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ مِنَ النِّسَآءِ وَالۡبَنِيۡنَ وَالۡقَنَاطِيۡرِ
ښائسته کړے شوے دے خلقو ته محبت د خواهشاتو د زنانو نه او د ځامنو نه او د خزانو
الۡمُقَنۡطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالۡفِضَّةِ وَالۡخَيۡلِ الۡمُسَوَّمَةِ وَالۡأَنۡعَامِ وَالۡحَرۡثِ، ذٰلِكَ
جمع کړے شوو د سرو او د سپینو او د اسونو نشاندارو نه او د چارپیانو نه او د فصل نه، دا
مَتَاعُ الۡحَيَاةِ الدُّنۡيَا وَاللهُ عِنۡدَهٗ حُسۡنُ الۡمَآبِ ﴿۱۴﴾
فائدے د ژوند دنیوي دي او د الله تعالیٰ سره ښائسته ځای د واپسئ دے۔

تفسیر : مناسبت دا دے : مخکې بیان شو چه د کافرانو به تول دنیاوي قوت او اسباب په کار نهٔ راځي۔ اُوس ددے دنیا او ددے د خوندونو د سپك ښکاره کولو دپاره خلقوته د الله د جنت د حاصلولو ترغیب ورکولے شي، ځکه چه انسانان چه د الله په آیتونو کفر کوي پدے وجه چه دنیا لوئي څیز ګڼړي۔

زهد څه ته وائي؟

نو پدے آیت کې تزهید في الدنیا۔ (د دنیا بے رغبتي) ده۔ تزهید د زهد نه دے۔ دا لفظ به مونږ د آیتونو په عنوانانو کې زیات استعمالوو ددے بعض تشریح داسے ده چه زهد معنیٰ ده بے رغبتي، بے محبتي۔ ددے مقابل کې ورع لفظ استعمالیږي۔ ورع دیته وائي تَرۡكُ مَا يَضُرُّ فِي الۡآخِرَةِ۔ (هغه څیز پریخودل چه هغه په آخرت کې ضرر ورکوي) یعنې حرام او شبهات پریخودل۔ او زهد وائي : تَرۡكُ مَا لَايَنۡفَعُ فِي الۡآخِرَةِ۔ (هغه څیز پریخودل چه په آخرت کې فائده نهٔ ورکوي) یعنې مباح څیزونه پریخودل۔

○ بعض وائی : زهد کی زاء هاء، دال کی اشاره ده ددیے معنیے ته۔ زاء کی اشاره ده زینت ته، او هاء کی هویٰ (خواهش) ته او په دال کی دنیا ته۔ یعنی زهد دا دیے چه انسان بے ځایه ډولونه پریدی او خواهشات قربان کړی او دنیا پریدی، یعنی د آخرت په مقابله کی ئے دنیا پریخوستی وی، او دنیا په آخرت باندیے نهٔ غوره کوی، د دین کارونه د دنیا د سامان او فائدو د وجه نه نهٔ پریدی، د الله حکم نهٔ ماتوی۔ ورنه دنیا خو هرچا ته خوښه ده۔

زهد بیا ډیر قسمه دیے : بعض اوقاتو کی زهد د استحباب درجه کی وی او بعض اوقاتو کی لازم وی۔ پدیے وجه انسان کامل زاهد په هغه وخت جوړیږی چه د زهد شپږ مقامات دی او هغه ټول اختیار کړی، کله انسان په یو شی کی زاهد وی او په بل کی نهٔ وی چه هغه مقامات د زهد دا دی :

(١) زهد کله متعلق کیږی د مال سره۔ په مال کی بے رغبتی دا ده چه د حلال ځای نه ګټل او د حرام کسب نه ځان ساتل، دروغ نهٔ وئیل، دین پریے نهٔ خرابول۔ (٢) زهد فی الصور۔ د مخلوقاتو شکلونو کی بے رغبتی کول لکه د زنانه، د مشرانو، د دنیا د ځایونو، تصویرونو کی مینه نهٔ کول۔ یعنی د مخلوق شکل پریخودل د الله د محبت د وجه نه۔ ډیر خلق د ښځے او د دوستانو د شکلونو په محبت کی ننوځی نو د الله حکم پریے ماتوی۔

(٣) زهد فی الریاسة : د مشرئ سره مینه نهٔ کول۔ لکه بادشاهی، ناظمی، مدیریت، ګورنری، د علاقے کونسلری۔ ځان هر ځای کی نیغ نیغ نکول۔ علماء فرمائی : کله چه مشران علماء موجود وی نو د هغوی په مخکی ځان نیغ نیغ کول او منبرونو ته ختل دا هم پدیے کی داخلیږی، کله چه دهٔ ته دومره ضرورت نهٔ وی۔

(٤) زهد فی النفس : د خپل نفس سره مینه نهٔ کول۔ یعنی خپل راحت، عزت اوخدمت د الله دپاره قربانول۔ او بهادری کول د الله په لاره کښں۔

(٥) زهد فی الناس : خلقو کی بے رغبتی دا ده چه د هغوی سره دومره ګډون او ناسته پاسته نکوی چه د الله بندګی تریے پاتے شی، او یواځے تنګیږی همیشه ئے ژوند په ګپ شپ د خلقو کی تیریږی۔ (٦) زهد فی کل ما دون الله۔ هر شے چه د الله نه سویٰ دی په هغے کی بے رغبته کیدل۔

چا کی دا ټول زهدونه وی او چا کی بعض وی او بعض نهٔ وی۔

بیا د بهادرانو زهد په نفس کی وی چه د الله دپاره ځان قربان کړی۔ او د علماؤ او حکامو زهد په ثناء او صفت کولو کی دیے چه د دین کار کوی نو د خلقو نه صفتونه نهٔ غواړی۔

بیا دا زده کړه چه زهد دیته نهٔ وائی چه یو انسان مال او پیسے نهٔ گټی او حلال څیزونه نهٔ استعمالوی، حلالونه حرام جوړ کړی، غوښے، او ښو جامو او خوراکونو نه ځان ساتی۔ دا زهد نهٔ دے۔ بلکه ښه تعریف د زهد دا دے (چه دا د ترمذی (۲۳۴۰) په روایت کی ذکر دے او د ابو ادریس الخولانیؒ نه منقول دے او مرفوع حدیث نهٔ دے) : [أَنْ تَكُوْنَ بِمَا فِيْ يَدِ اللّٰهِ أَوْثَقَ مِنْكَ بِمَا فِيْ يَدِكَ وَأَنْ تَكُوْنَ فِيْ ثَوَابِ الْمُصِيْبَةِ إِذَا أُصِبْتَ بِهَا أَرْغَبُ مِنْكَ فِيْهَا لَوْ أَنَّهَا بَقِيَتْ لَكَ] (د الله په خزانو ډیر اعتماد کول په نسبت د هغے چه ستا په لاس کی دے، او د مصیبت په ثواب کی ډیره مینه لرے ددے نه چه دا مصیبت تا ته باقی پاتے شی) یعنی انسان ته مصیبت اُورسیږی او په هغے کی اجر دے نو دا خوښوی چه دا مصیبت دِے په ما باندے باقی وی خو چه زما گناهونه پرے اُورژیږی۔ (دا تعریف حافظ ابن القیمؒ په طریق الهجرتین ص (۳۸۲) او مدارج السالکین (۱٤/۲) کی ذکر کړیدے)۔

زُيِّنَ : صیغه د مجهول ده، فاعل ئے الله تعالیٰ دے ځکه چه الله تعالیٰ دا څیزونه پیدا کړیدی او ددے خواهشاتو په پیدائش کی همیشه امتحان دے چه څوك دا څیزونه غوره کوی او څوك روستنی آیت کی ذکر شوی صفات ؟۔

دا شپږ څیزونه حلال دی لیکن ددے په ذکر کولو کی حکمت دا دے چه زهد په هغه څیزونو کی کیږی چه حلال وی او هرچه حرام دی نو د هغے نه خو ځان ساتل فرض او لازم دی۔ نو دلته الله تعالیٰ دا بیانوی چه بندگان ددے څیزونو پسے روان شویدی او حقیقی شے د دوی نه پاتے شویدے او دا په دوی باندے امتحان دے او عام خلق پدے کی پیل شویدی۔ لکه بل آیت کی دی : ﴿إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْأَرْضِ زِيْنَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا﴾ [الکهف:۸] ما په زمکه باندے څیزونه د ډول دپاره پدے وجه پیدا کړیدی چه په بندگانو امتحان اُوکړم چه څوك د دوی نه ډیر ښائسته عمل کونکے دے)۔ نو آیت کی دعوت دے چه تاسو دا څیزونه د ضرورت مطابق استعمال کړئ او په آخرت باندے ئے مهٔ غوره کوئ۔ که یو انسان پدے څیزونو کی د اعتدال او د شریعت د دائرے نه بهر نشی نو ددے استعمال منع نهٔ دے، نبی ﷺ فرمائی : (حُبِّبَ إِلَيَّ مِنَ الدُّنْيَا النِّسَاءُ وَالطِّيْبُ) (مسند احمد :۱۲۳۱۵) والنسائی : ۳۹۳۹ وسنده صحیح– البانی)۔ ما ته په دنیا کی ښځے او خوشبوئی خوښه ده۔ دغه شان نبی ﷺ نیکه ښځه د دنیا د ټولو نه غوره متاع (د فائدے څیز) گرځولے دے۔ [اَلدُّنْيَا مَتَاعٌ وَخَيْرُ مَتَاعِ الدُّنْيَا الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ] (صحیح مسلم : ۳۷۱٦)

نو د ښځے محبت د شریعت په دائره کی دننه غوره ژوند هم دے او د آخرت توښه هم ده،

ورنه ښځه د انسان دپاره لویه فتنه هم ده۔
○ یا دا ښائست شیطان کړیدے چه هغه بنده ته وسوسه اچوی چه ښځے ورته مخے ته کوی او د ځامنو مینه او په هغے باندے فخر کول او په خزانو او سورلو او چارپیانو او فصلونو سره ځان لوئی ګڼل، او د هغے سره محبت کول او عبادات پریخودل۔
الشَّهَوَاتِ : جمع د شَهْوَةٌ ده، په معنیٰ د مشتهیاتو سره دا هر هغه شے دے چه طبیعت هغے ته مائله کیږی، او بنده ئے خوښوی او شوق ئے ورته کیږی۔ مشتهیاتو نه ئے تعبیر په شهواتو سره وکړو دپاره د مبالغے پدے کی اشاره ده چه نفس ددے څیزونو دومره سخته تقاضا کوی ګویا کی دا عین شهوات ګرځیدلی دی۔ (المنار)
شهوات ئے جمع راوړه ځکه چه پدے څیزونو کی ډیر شهوات دی۔ د زنانو سره په خبرو، کتلو، ملاویدو، په وادهٔ او ناسته پاسته کی شهوات دی۔ په ځامنو کی هم ډیر شهوات دی چه د ځامنو غوختل، د ځامنو مینه، هغه په غیرو کی اخستل راخستل، په هغے باندے د لویو مرتبو او الله نه غافله کیدل، او د بچو په وجه د الله حکمونه ماتول۔
((حب الشهوات)) کی دے ته اشاره ده چه انسان د خپلو شهوتونو سره ړوند محبت کوی، حال دا چه دا شهوتونه چه کله د اعتدال د حد نه زیاتیږی نو د حکمت او د پوهے والو په نیز د سپکوالی قابل کیږی او ددے غلام چارپیانو ته نزدے کیږی۔ امام بخاریؒ روایت نقل کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمایل (مَا تَرَكْتُ بَعْدِیْ فِتْنَةً أَضَرَّ عَلَى الرِّجَالِ مِنَ النِّسَاءِ) چه ما د خپل ځان نه روستو د سړو دپاره د ښځو نه زیات نقصان ورکونکے بله فتنه نۀ ده پریخودے۔ (بخاری : ۵۰۹۶)
او الله په قرآن کریم کی فرمایلی دی : ﴿ اِنَّ مِنْ اَزْوَاجِكُمْ وَاَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ فَاحْذَرُوْهُمْ ﴾ یعنی ستاسو بعض بیبیانے او اولاد ستاسو دشمنان دی، تاسو د دوی نه بچ شئ) ۔ (التغابن : ۱۴) او فرمایلی ئے دی : ﴿كَلَّا اِنَّ الْاِنْسَانَ لَيَطْغٰى اَنْ رَّاٰهُ اسْتَغْنٰى ﴾ یعنی انسان سرکشی کوی کله چه دا په خپلو دولتونو کی ځان راګیر وینی۔ (العلق :۷/۶)۔
الْقَنَاطِيْرِ : جمع د قنطار ده، چه د قَنْطَرَةٌ نه اخستے شویدے، قنطره پُل ته وائی چه سړے پرے د سیند د یوے غاړے نه بلے غاړے ته تیریږی نو قنطار ډیر مال او خزانے ته وائی چه په هغے باندے ښه فراخه ژوند تیریږی۔ (مفردات الراغب ص ۴۲۲) بعض ئے اندازه دولس زره درهمه، او ځینی اویا زره او څوك اتیا زره درهمه بیانوی۔ ټول اقوال پکی یوولسو ته رسیږی چه هغه تفسیر زاد المسیر (۱/۳۰۷) کی ابن الجوزیؒ ذکر کړیدی مګر صحیح

خبره دا ده چه قنطار ډیر مال ته وائی او څه تحدید له په کی اعتبار نشته۔

اَلْمُقَنْطَرَةِ : یعنی جمع کړے شوی۔ مال ګټل منع نهٔ دی لیکن د مال په وجه انسان د الله او د هغه د بندګئ نه اوړی، ټول اوقات د انسان د مال په ګټلو ضائع کیږی لکه نن صبا زمانه کی سوچ اُوکړه۔ ذهب او فضه ئے خاص کړل ځکه چه دے کی فائدے ډیرے دی او بل دا اصول الاموال دی، نور مالونه دے ته راجع کیږی۔ دا چه کوم نفس سره وی د هغه خلق اکرام کوی، کوم مجلس ته چه راشی اکرام ئے کیږی۔

د مال او دولت د ګټلو نه مقصد ژوند تیریدل، صله رحمی، صدقه او خیرات او د خیر په ځایونو کی خرچ کول او پدے سره د سوال نه بچ کیدل دی نو پدے سره به د الله رضا حاصلیږی که داسے مقصد پکی نهٔ وی نو بیا به بربادی وی۔ د انسانانو عام ژوند د مال په ګټلو او حسابونو کی تیر شو۔

وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ : هغه اسونه چه نشاندار وی، نخے پرے لګولے شوی وی۔ برګ بروګ، دا هم پکی داخلیږی چه نکریزے پرے لګولے شوی وی۔

او امام بخاریؒ ئے معنیٰ کوی : اَلْمُطَهَّمَةُ الْحِسَانُ۔ مزیدار ډکو اندامونو والا اُوږده بنائسته اسونه۔ یا مسومه د سَوُم نه دے، مراد څریدونکی۔ په دے زمانه کی مزیدار ګاړی پکی داخل دی۔ د اسونو نه اصلی مقصد د جهاد تیاری ده۔

وَالْأَنْعَامِ : د چارپیانو اخستل، د هغے څرول، د هغے نه فائدے اخستل انسان غافله کوی، ددے ډیروالے هم نقصان دے۔ که د حیواناتو نه د کروندے او بار وړلو فائده واخستل شی نو دا جائز کار دے، البته د غفلت سبب به ئے نهٔ جوړه وی۔

وَالْحَرْثِ : د زمکو تجارت، د زمکے کرل او سنبالول چه دا انسان ډیر غافله کوی۔ نبی ﷺ یو څل ایوه او جغ اُولیدل نو وے فرمایل چه دا څیزونه کوم کورته داخل شی نو هغے ته ذلت داخلیږی۔ (بخاری : ۲۳۲۱ کتاب المزارعة) یعنی غالباً پدے کار سره بنده د دین د کارونو نه مشغوله کیږی۔ د زمکے نه پیداوار حاصلول صحیح دی لیکن که ددے څیزونو نه مقصد صرف دنیا ګټل او بیا په هغے باندے فخر او غرور کول او د الله د یاد نه غفلت سره عیش او عشرت سره ژوند تیرول وی نو دا ټول د انسان دپاره وبال جوړیږی۔

فائده : دا ترتیب فطری دے ځکه چه انسان چه کله ځوانئ ته اُورسی نو د ښځو سره ئے مینه وی، ټول فکر ئے پدے کی مصروف وی بیا چه کله وادهٔ اُوکړی نو د بچو طلبګار وی بیا د بچو د پرورش دپاره د مال (سرهٔ او سپینو) په راجمع کولو کی لګیا شی، بیا وائی چه د

دوی دپاره د اسونو، گاړو موټرو ته هم ضرورت دے، بیا وائی چه چارپیان پیدا کول پکار دی دے دپاره چه پۍ وغیره خوراکونه کور کی ملاویږی او بیا ددے څیزونو دپاره د فصلونو او د زمکو په اخستو کی لگیا شی، آخر دا چه عمرئے پدے کی ختم شی۔

مَتَاعُ : دے ته متاع ځکه وائی چه ددے ټولو څیزونو نه لږه زمانه فائده اخستے کیږی او بیرته ختمیږی۔

حُسْنُ الْمَآبِ : مآب مرجع (ځای د رجوع) ته وائی مراد ترینه جنت دے۔ د الله جنت پدے وجه ښائسته مرجع دے چه د هغے په خواهشاتو کی نقصان او تکلیف نشته او د دنیا په خواهشاتو حاصلولو کی ټول مشقتونه دی۔ دارنگه هغه نۀ فنا کیږی او نۀ کمیږی۔

او بله دا چه په هغه خواهشاتو کی د الله تعالیٰ رضا ورسره ملگرے ده، په خلاف د دنیاوی شهواتو لکه روستو آیت کی راځی۔ نو مطلب د آیت دا شو چه د حسن المآب طلب وکړئ او په متاع باندے ځان مۀ مشغوله کوئ بلکه صرف دومره قدر فائده ترے واخلئ چه تاسو پرے آخرت ته ورسیږئ او د جنت د گټلو ذریعه مو شی۔

فائده : په دنیا کی زهد ددے دپاره وی چه انسان بندگئ ته وزگار شی، چه کله بندگی نۀ وی، بیا زهد ته هیڅ حاجت نشته، که یو شخص د مال او د زنانو سره محبت نۀ لری لیکن د الله د بندگئ نه غافل دے دا زاهد نۀ دے بلکه عاطل (بیکاره) دے۔

قُلْ أَؤُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرٍ مِّنْ ذٰلِكُمْ لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا
او وایه !آیا خبر درکړم تاسو ته په غوره ددے څیزونو نه دپاره د هغه کسانو چه تقویٰ ئے کړیده
عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنَّاتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِيْنَ فِيْهَا
په نیز د رب د دوی جنتونه دی چه بهیږی به لاندے د هغے نه نهرونه همیشه به وی په هغے کی
وَأَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَّرِضْوَانٌ مِّنَ اللهِ وَاللهُ بَصِيْرٌ بِالْعِبَادِ﴿۱۵﴾
او بیبیانی پاکی ساتلے شوے او رضامنتیا د طرفه د الله نه او الله لیدونکے دے بندگانو لره۔

تفسیر : **مناسبت** : ۱- د دنیا او د آخرت تقابل بیانوی۔

۲- مخکی ئے د دنیا حقارت (سپکاوے) بیان کړو نو اُوس د آخرت د نعمتونو عظمت بیانوی دے دپاره چه ترغیب او تزهید کامل شی۔

عنوان د آیت : پدے آیت کی مؤمنانو ته د جنت زیرے ورکوی چه د آخرت نعمتونه د دنیا

د نعمتونو نه په ډیرو چندونو غوره دی د هغې دپاره تیارې کول پکار دی په تقویٰ او روستو صفاتو سره۔

لِلَّذِيْنَ : دا متعلق دے په (خیر) پورې۔ او (جنات) استیناف دے، د (خیر) دپاره بیان واقع شویدے۔یعنی هغه خیر جنتونه دی۔ یا دا چه (للذین) خبر مقدم دے او (جنات) ئے مبتداء مؤخره ده۔ یعنی آیا تاسو ته ددے نه په غوره څیز خبر نهٔ درکوم هغه دا ده چه ''دپاره د متقیانو جنتونه دی'' الخ۔

اتَّقَوْا : یعنی ځان ئے د شرك او کفر او گناهونو نه ساتلے دے۔

عِنْدَ رَبِّهِمْ: دا حال مقدم دے د جنات نه۔ یعنی جنتونه به پداسے حال کی وی چه د دوی د رب سره به نزدے وی۔ یعنی د الله قرب به ورته نصیب وی۔ یا متعلق دے د (خیر) پورے یعنی دا جنتونه غوره دی په نیز د رب د دوی۔ چه عظیم ذات ورته غوره وائی نو ولے به غوره نهٔ وی ؟۔

بیا ددے زیرے تاکید په اوو (۷) طریقو سره شویدے۔ اول : خَيْرٌ، دویم عِنْدَ رَبِّهِمْ، دریم جَنَّاتٍ، څلورم تَجْرِیْ، پنځم خَالِدِيْنَ فِيْهَا ۔ شپږم وَأَزْوَاجٌ مُطَهَّرَه ۔ چه ددے تشریح په سورتِ بقره آیت (۲۵) کی تیره شویده)۔ اُووم : وَرِضْوَانٌ مِنَ اللهِ چه د الله رضا به دوی ته حاصله وی۔

وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللهِ : دا ئے جدا ذکر کړو دا مبتدا ده خبر ئے پټ دے یعنی (لهم رضوان)۔ رضوان ئے نکره ذکر کړه پدے کی عظمت ته اشاره ده۔ دا د مخکنو ټولو نعمتونو نه لوئی نعمت دے چه مالكِ حقیقی د بندګانو نه د خپلے رضا اعلان اُوکړی لکه په حدیث د بخاری او مسلم کی دی چه کله جنتیان جنت ته داخل شی نو الله تعالیٰ به ورته اُوفرمائی: (أَلَا أُعْطِيْكُمْ أَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ؟ فَيَقُوْلُوْنَ :يَا رَبِّ وَأَيُّ شَيْءٍ أَفْضَلُ مِنْ ذٰلِكَ) آیا تاسو ته د ټولو نعمتونو نه غوره نعمت نهٔ درکوم؟ نو دوی به اُووائی اے ربه ! ددے نه لا غوره نعمت کوم دے؟ نو الله تعالیٰ به اُوفرمائی : (أُحِلُّ عَلَيْكُمْ رِضْوَانِىْ فَلَا أَسْخَطُ عَلَيْكُمْ بَعْدَهٗ أَبَدًا) چه زهٔ به نن ورځ په تاسو خپله رضا نازله کړم او هیڅکله به په تاسو نهٔ غصه کیږم۔ (بخاری۷۵۱۸)

دغسے زیرے په سورة التوبه (۲۱) او (۷۲) او سورة حدید (۲۰) آیت کی راغلے دے۔

وَاللهُ بَصِيْرٌ بِالْعِبَادِ: یعنی بصیر د بندګانو عملونه وینی چه څوك لائق دے او څوك نهٔ دے۔

اَلَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا إِنَّنَا آمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا
(دا) هغه کسان دی چه وائی اے ربه زمونږه! یقیناً مونږ ایمان راوړیدے، نو اُوبخه مونږ ته گناهونه زمونږ

وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿١٦﴾ الصَّابِرِيْنَ وَالصَّادِقِيْنَ وَالْقَانِتِيْنَ
او وساته مونږ د عذاب د اُور نه. چه صبر کونکی دی، او رشتینی دی او تابعداری کونکی
وَالْمُنفِقِيْنَ وَالْمُسْتَغْفِرِيْنَ بِالْأَسْحَارِ ﴿١٧﴾
او خرچ کونکی دی او بخنه غوښتونکی دی په وخت د پیشمنی کی.

تفسیر : دا بدل دے د (الْعِبَادِ) نه او پدے کی د تقویٰ والو صفتونه ذکر کیږی. یا خبر دے د مبتداء (ای هُم الذین). (دوی هغه کسان دی) پدے کی ایمان وسیله جوړوی دپاره د بخنے د ګناهونو. او دا آیت دلیل دے چه ایمان غوره وسیله ده چه انسان ئے په خپله دعا کی پیش کوی او د ګناهونو بخنه د ټولو نه اهم شے دے پدے وجه ئے دا طلب کړه او د جهنم نه پناهی غوښتل هم ډیر ضروری دی.

فائده : دا ترتیب ډیر مفید دے، چه اول ئے ایمان، بیا غفران الذنوب او بیا د اُور نه ځان ساتل ذکر کړل او پدے کی تعریض دے په یهود او نصاراؤ چه په هغوی کی دا صفات نشته، صرف دعوے والا دی.

الصَّابِرِيْنَ : منصوب دے په فعل (اَیْ اَمْدَحُ الصَّابِرِيْنَ). زهٔ صفت کوم د هغه کسانو چه صبر کونکی دی. یا بدل دے (الذین) نه. یعنی دا هغه خلق دی چه صبر د دوی لازمی صفت دے، په هر څه کی صبر کوی، که عبادت وی، که تکلیف او مصیبت وی او که جنګ او قتال وی.

وَالصَّادِقِيْنَ : یعنی د دوی په وینا او عمل کی همیشه رشتیا وی. او په ظاهر او باطن کی رښتونی، په خبرو کی هم او د زړهٔ په ارادو کی هم. نو صدق د قول او عمل او نیت او عقیدے صفت دے نو دوی پدے ټولو شیانو کی رشتینی دی.

وَالْقَانِتِيْنَ : قنوت : دَوَامُ الطَّاعَةِ مَعَ مُصَاحَبَةِ الْخُشُوْعِ وَالْخُضُوْعِ ته وائی، (تیسیر الکریم الرحمن). یعنی چه انسان د الله په طاعت، عبادت او بندګئ باندے همیشه اُوسیدونکے وی او خضوع او خشوع ورسره ملګرے وی. په هر حالت کی دوی د الله بندګی او طاعت کوی په عاجزئ سره. او پدے کی د شپے عبادت هم داخل دے لکه په حدیث کی دی چه څوك د شپے سل آیتونه اُولولی نو هغه به د قانتینو نه حساب شی. (ابوداود : ۱۴۰۰)

وَالْمُنفِقِيْنَ : یعنی مالونه د الله په لاره کی او د هغه د دین د خاطره لګوی.

وَالْمُسْتَغْفِرِيْنَ بِالْأَسْحَارِ : اسحار جمع د سحر ده، د پیشمنی وخت ته وائی چه لا صبا نهٔ وی راختلے۔ ددے یو مطلب دا دے چه دوی د شپے په آخری حصه کی د الله بندگی کوی او بیا د الله نه د گناهونو بخنه غواړی۔

فائده : استغفار ولے غواړی؟ ځکه چه دوی د الله تعالیٰ قدر پیژنی، بلکه دا چه په خپلو عباداتو کی ورته کوتاهی ښکار ځکه چه د الله تعالیٰ د شان موافق عبادت کول گران وی، دا وجه ده چه شریعت کی غالباً د هر عبادت نه روسته استغفار خودل شوید ے۔

او سحر وخت ئے خاص کړو پدے کی اشاره ده چه دا مهم وخت دے او دوی پکی غفلت نهٔ کوی بلکه د الله نه دعاگانے غواړی ځکه چه د دعاگانو د قبلیدو وخت دے۔ علامه قاسمیؒ وائی : د مُسْتَغْفِرِيْنَ بِالْأَسْحَارِ نه مراد دا دے :(اَلْمُصَلِّيْنَ صَلَاةَ الصُّبْحِ) چه دوی د سحر مونځ کوی۔

شَهِدَ اللّٰهُ أَنَّهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ وَالْمَلَائِكَةُ وَأُولُوا الْعِلْمِ
گواهی کړیده الله چه نشته حقدار د بندگئ سوا د هغه نه او ملائکو هم، او خاوندانو د علم هم،
قَآئِمًا بِالْقِسْطِ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۱۸﴾
په داسے حال کی چه (الله) ولاړ دے په انصاف، نشته حقدار د بندگئ سوا د هغه نه غالبه، حکمتونو والا دے۔

تفسیر : – **مضمون** : په راتلونکو آیتونو کی بیان د توحید د الله تعالیٰ دے په دلائلو سره۔ بیا ترغیب دے اسلام ته چه په اسلام باندے تلل دا صحیح دین دے، نو دے له غاړهٔ ورکړئ۔ او د اهل کتابو بے اسلامی بیانوی چه دوی اسلام والا نهٔ دی۔ بیا دعوت دے اسلام طرف ته، بعض وائی پدے کی مناظره ده په باب د اسلام کی۔ بیا (ان الذين يكفرون) کی هغه کسانو ته تخویف او یره ورکوی چه د الله په آیتونو کفر کوی او ددے سره ئے نور مرضونه د دوی ذکر کړیدی چه هغه قتل د انبیاؤ او د حق داعیانو دے۔ بیا په (۲۳) آیت کی اهل کتابو ته توبیخ ورکوی چه دوی د الله کتاب حاکم نهٔ گرځوی، په هغے باندے فیصلے نهٔ کوی۔ (نودوی اعراض ځکه کوی چه ایمان پرے نهٔ لری کفرئے کړیدے۔) او ددے وجه بیانوی چه د الله کتاب له ځکه نهٔ راځی چه دوی عقیده غلطه جوړه کړیده چه د ځان دپاره د جنت دعویدار دی نو د الله کتاب ته خپل ضرورت نهٔ گنړی۔ بیا تخویف د آخرت ذکر کوی۔ بیا (قل اللهم) کی د الله تعالیٰ تعارف بیانوی چه دا خلق په الله کفر کوی نو

تاسو الله اُوپیژنئ. بیا منع ده دِ دوستانې د کافرانو نه په (۲۸ او ۲۹) آیت کې، بیا د آخرت تخویف بیانوي چه نیك او بد عمل تول به قیامت کې حاضریږي. بیا په (۳۱) کې د اتباع الرسول او د رسول د رشتینوالي بیان دے، چه الله رب العالمین ته انسان نشي رسیدلے ترڅو چه دده دے نبي اتباع ئے نهٔ وي کړې.

په (شَهِدَ الله) کې د الله د توحید بیان دے په دلیلونو سره چه په توحید باندے الله او ملائك او علماء ګواه دي نو دا مسئله ډیره لویه ده.

(شَهِدَ الله) دیته أَعْظَمُ شَهَادَةٍ فِيْ كِتَابِ اللهِ وئیلے شي. یعني د الله په کتاب کې ډیره لویه ګواهي دا ده، دده نه لویه ګواهي بله نشته. نو الله ته توحید ډیر قیمتي دے. څه یهودیانو د رسول الله ﷺ نه د لوئي ګواهئ تپوس اُوکړو نو رسول الله ﷺ دا جواب ورکړو نو هغوي ایمان راوړو. نو لویه ګواهي دا ده چه د الله نه سوی بل هیڅوك لائق د بندګئ اُونهٔ ګنړلے شي. (معالم التنزیل والبحر المحیط) (والحدیث من روایة الکلبي وهو متهم بالکذب)

د شهادت معنیٰ د فیصلے، د بیان، د پوهے او د ګواهئ ده. او ټولے معاني دلته صحیح دي.

یعني الله دا فیصله کړیده په آسمانونو او زمکه کښې. او الله دا بیان کړیدے او هغه ګواهي ورکړیده او هغه پدے خبره پوهه دے چه نشته حقدار د بندګئ سوی د الله نه.

یعني الله تعالیٰ چه څه پیدا کړي او څه ئے بیان کړي د هغے په ذریعه سره الله تعالیٰ خپل وحدانیت طرف ته رهنمائي کړیده. (فتح القدیر)

او پدے کې ضمناً رد دے په نصاراؤ باندے چه هغوي عیسیٰ علیه السلام او د هغه مور د الله سره شریکان کړي وو، چه دوي د الله او د ملائکو او د علماؤ د ګواهئ خلاف ګواهي ورکړیده. هر مشرك د الله تعالیٰ او د ملائکو او د حق پرستو علماؤ دشمن دے، د هغوي نه خلاف کوي. څوك چه وائي د فلاني ولي او بزرګ نه او پیغمبر نه کیږي نو دا د الله د توحید منکر دے.

مناسبت : ۱- د موضوع د سورت سره ئے تعلق دادے چه الله پاك پدے کې په کفر کولو تهدید (دهمکي) ورکوي نو د کفر انواع بیانوي نو یو نوع د کفر د الله د توحید نه انکار دے نو پدے آیت کې په دغه نوع د کفر باندے رد دے. ۲- دویم : د (اننا آمنا) سره ئے تعلق دے. یعني دغه ایمان دا دے چه ته د توحید ګواهي وکړے.

۳- دارنګه د (الصادقين) سره هم تعلق لري چه د توحيد شهادت كول بعينهٖ صدق (رشتيا) ده نو ځوك چه دا ګواهي نهٔ وركوي هغه دروغژن دے.

فوائد الآية : (۱) الله خپل ځان مخكي ذكر كړو (اِشَارَةٌ اِلٰى غِنَاهُ مِنْ تَوْحِيْدِ الْعِبَادِ) اشاره ده چه الله د بندګانو د توحيد نه بے حاجته دے كه ځوك ګواهي وركوي او كه نهٔ خو الله تعالىٰ ئے د خپل ځان دپاره وركوي. دويم نمبر ئے د ملائكو ګواهي ذكر كړه ځكه چه د دوي ايمان او توحيد په دليلونو سره نهٔ دے حاصل بلكه د هغوي توحيد فطري دے، تجلي الٰهي ورته شويده نو توحيد ئے قبول كړيدے. او دريم نمبر ئے بندګان ذكر كړل ځكه چه د دوي توحيد په دليلونو كي د كتلو په ذريعه سره حاصل دے. (۲) او بله وجه دا ده چه ملائك په دغه توحيد كي د الله تعالىٰ او د بندګانو ترمينځ واسطه ده.
(۳) او پدے كي فضيلت او عظمت د علم دے په بليغه طريقه سره چه الله تعالىٰ د خپل ځان سره په ګواهئ كي علماء شريك كړ. (٤) او الله تعالىٰ د علماؤ ګواهي د مشركانو په خلاف باندے حجت او دليل اُوګرځولو ځكه چه علماء په خلقو حجت وي.

دلته د علماؤ نه مراد هغه خلق دي چه په الله تعالىٰ باندے عالمان وي، د الله تعالىٰ نه او د هغه د بندګئ نه خبر وي، په كتاب او سنت باندے علم لري. (فتح القدير). لنډه دا چه د الله رب العالمين معرفت لري.

قَآئِمًا ۢ بِالْقِسْطِ : دا حال دے د لفظ د (الله) نه. او د قيام نه مراد مضبوط كيدل دي يعني پدے خبره كلك ولاړ دے. د قسط نه مراد د انصاف خبره ده چه هغه توحيد دے. بالقسط لفظ ئے ځكه ذكر كړو چه كله يو انسان په يوه خبره كلك ولاړ وي خو په ظلم باندے وي نو الله فرمائي چه زهٔ پدے اُودريدو كي په عدل او انصاف يم، ځكه چه دا ټول مخلوق د الله تعالىٰ محتاج بندګان دي نو هغه څنګه حقدار د بندګئ جوړ شي؟!.

لَآ اِلٰـهَ اِلَّا هُوَ : دا ئے دوباره ذكر كړو (۱) پدے كي اشاره ده عظمت ددے كلمے ته. (۲) ترغيب دے چه ددے كلمے ذكر ډير پكار دے. (۳) مخكي په طريقه د تنزيه (پاكئ) سره ذكر دے او روستو په صفاتو د تمجيد او شرافت سره ځكه ئے ورسره العزيز الحكيم ذكر كړل.
(٤) اول كي په طريقه د دعوے سره وو او روستو په طريقه د نتيجے سره ذكر دے.
(الْعَزِيْزُ) كي اشاره ده صفاتو د قدرت او تصرف ته او په (الحكيم) كي اشاره ده صفاتو د علم ته. (ابوحيان).

فائده : پدے آيت كي د توحيد د علماؤ ډير فضيلت دے، او علماء د الله تعالىٰ د طرفنه

حجت دے په بندګانو باندے په هره زمانه کې نو معلومه شوه چه هره زمانه کې مجتهد علماء او حق پرست موجود دي والحمد لله۔

إِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْإِسْلَامُ وَمَا اخْتَلَفَ
يقيناً هغه دين چه (قبول کړے شويدے) په نيز د الله هغه اسلام دے او اختلاف نهٔ دے کړے
الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَ هُمُ الْعِلْمُ
هغه کسانو چه ورکړے شويدے ورته کتاب مګر پس د هغے نه چه راغله هغوی ته پوهه،
بَغْيًا بَيْنَهُمْ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِآيَاتِ اللّٰهِ فَإِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿١٩﴾
د وجه د حسد نه په مينځ خپل کې او چا چه کفر وکړو په آيتونو د الله نو يقيناً الله زر حساب کونکے دے۔

تفسير : عنوان د آيت : پدے آيت کې دعوت دے ټولو خلقو ته صحيح اسلام طرف ته او وعيد دے مخالفت کونکو د اسلام ته۔

الدين نه مراد (اَلدِّيْنُ الْمَرْضِي)۔ يعنې الله ته خوښ دين صرف اسلام دے۔

اسلام وئيلے شي (اَلْإِنْقِيَادُ لِمَا جَاءَ بِهِ الرَّسُوْلُ ظَاهِرًا وَبَاطِنًا) ۔ رسول الله ﷺ چه څه راوړي وي په ظاهر او باطن کې هغے ته ځان تابع کول دي۔

اسلام هغه دين دے چه هر نبي په خپل خپل دور کې ددے دعوت او تعليم ورکړيدے تردے چه نبي کريم ﷺ تشريف راوړو او مخکني ټول دينونه منسوخ شو اُوس ددے کامل ترين شکل هغه دے چه نبي آخر زمان محمد صلى الله عليه وسلم دنيا ته پيش کړو چه په هغے کې توحيد او رسالت او په آخرت باندے داسے يقين او ايمان لرل دي لکه څنګه چه نبي کريم ﷺ خودلي دي۔ صرف دا عقيده ساتل چه الله يو دے يا بعض څه عملونه کول، دا اسلام نهٔ دے، پدے سره په آخرت کې نجات نهٔ ملاويږي۔ اسلام هغه دين دے چه الله يو اُومنلے شي او صرف د هغه عبادت اُوکړے شي، په محمد رسول الله ﷺ او په تمامو انبياؤ عليهم السلام باندے ايمان راوړے شي او دا اُومنلے شي چه نبي ﷺ آخري نبي او رسول دے او د ايمانياتو سره سره هغه عملونه اختيار کړے شي کوم چه په قرآن کريم يا د رسول الله ﷺ په احاديثو کې بيان شويدي۔ نو ددے دين اسلام نه سوئ هيڅ دين د الله تعالىٰ په نيز قبول نهٔ دے۔

که څوك د بل دين په اتباع کولو سره د دنيا نه رخصتيږي نو هغه به په کفر مري۔ رسول

الله ﷺ فرمایلي دي: قسم په هغه ذات چه د هغه په لاس کې زما روح دے، ددے امت هر سړے چه زما په باره کې واوري، برابره ده چه یهودي وي یا نصراني او په دین اسلام باندے ایمان رانهٔ وړي نو هغه به جهنمي وي. (مسلم: ۴۰۳). نبي کریم ﷺ دا هم فرمایلي دي : زهٔ سور او تور ټولو خلقو ته رالیږلے شوے یم. (مسند احمد:۲۷۴۲).

او هغه دا هم فرمایلي دي: هر نبي به یو خاص قوم ته لیږلے شو او زهٔ تمامو خلقو دپاره رالیږلے شوے یم. (بخاري : ۳۳۵).

وَمَا اخْتَلَفَ : اُوس پدے کې د یهودیانو او نصاراؤ عناد بیانوي چه دوي د اسلام نه او بیا د قرآن کریم نه انکار د ناخبرئ په وجه سره نهٔ وو کړے بلکه د حسد او دشمنئ او د دنیا پرستئ په وجه سره ئے کړے وو. او پدے کې اشاره ده چه څوك اسلام نهٔ مني هغه به لوئی ضدي او حسدي وي.

بَغْيًا : بغي اصل کې طلب العلو ته وئیلے شي یعنی خپل ځان ئے اُوچت ګنړلو نو ددے سره حسد او دشمني لازمه ده. دارنګه بغي ظلم ته هم وئیلے شي.

او ددے خپل مینځي اختلاف نه مراد هغه اختلاف دے چه د یو دین منونکو خپل مینځ کې راپیدا کړے وو لکه د یهودیانو خپل مینځي اختلافات او ډلے جوړول، دغه شان د عیسایانو خپل مینځي اختلافات او ډلے جوړول. بیا هغه اختلاف هم مراد دے چه د اهل کتابو خپل مینځ کې وو چه یهودو به نصارئ په هیڅ دین نهٔ ګنړل او نصاراؤ به یهودیان په هیڅ دین نهٔ ګنړل. دغه شان پدے کې د رسول الله ﷺ د نبوت او د عیسیٰ علیه السلام د نبوت په باره کې اختلاف هم داخلیږي. او دا ټول اختلافات د دوي ددلائلو په بنیاد نهٔ وو بلکه صرف حسد، ظلم او بغض وو. حق ورته ښهٔ معلوم وو لیکن د دنیاوي مفادو په چکر کې په خپله غلطه خبره باندے ولاړ وو او هغه ئے دین ګنړلو.

فائده وحکمة : اختلاف حق بیانولو ته نهٔ وائي بلکه د حق نه چه څوك واوړیدو هغه اختلاف والا دے لکه پدے قول د الله تعالیٰ کې راغلي دي: ﴿ وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ إِلَّا مَنْ رَحِمَ رَبُّكَ ﴾ (هود)

يَّكْفُرُ بِآيَاتِ اللهِ : دلته ددے آیتونو نه مراد هغه آیتونه دي چه د اسلام په دین الٰهي کیدو باندے دلالت کوي.

سَرِيْعُ الْحِسَابِ : پدے کې په سخت حساب باندے دوی ته دهمکي ورکړے شویده. د سرعة الحساب معنیٰ یو د حساب په جلتئ سره راتلل دي. دویم: دا چه الله تعالیٰ به د

بندګانو د حساب نه زر فارغه شی او په لږ وخت کی به ورسره حساب وکړی ځکه چه هغه ته د بندګانو هرڅه معلوم او هغه د ملائکو په ذریعه لیکلی دی۔

فَإِنْ حَآجُّوْكَ فَقُلْ أَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلّٰهِ وَمَنِ
نو که چرته جګړه کوی تا سره نو ووایه چه ما تابع کړیدے مخ خپل الله ته او هغه چا
اتَّبَعَنِ وَقُلْ لِّلَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتَابَ وَالْأُمِّيِّيْنَ
چه زما تابعداری ئے کړیده، او ووایه هغه کسانو ته چه ورکړے شویدے کتاب او امیانو ته
أَأَسْلَمْتُمْ فَإِنْ أَسْلَمُوْا فَقَدِ اهْتَدَوْا
آیا تاسو تابع کیږئ، نو که چرته دوی تابع شو نو یقیناً دوی هدایت اوموندو
وَّإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلَاغُ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌ بِالْعِبَادِ ﴿۲۰﴾
او که چرته واوړیدل نو یقیناً په تا باندے تبلیغ دے، او الله لیدونکے د بندګانو دے۔

تفسیر : ددے آیت عنوان دے : [اَلْمُنَاظَرَةُ مَعَ الْيَهُوْدِ وَالنَّصَارٰى وَالدَّعْوَةُ اِلَى الْاِسْلَامِ الصَّحِيْحِ] ۔ (د یهود او نصاراؤ سره مناظره، او د دوی صحیح اسلام ته دعوت کول دی)۔ اول مناظره وی بیا مباهله، نو روستو مباهله راروانه ده۔

مناسبت : د آیت واضح دے چه دوی صحیح اسلام پریخے وو نو دے آیت کی دوی ته د صحیح اسلام دعوت ورکړے کیږی۔

فَإِنْ حَآجُّوْكَ: د محاجه یوه معنیٰ جګړه او بله معنیٰ د مناظرے او دلیلونه پیش کولو ده۔

فَقُلْ : ددے دوه مطلبه دی (۱) یو اعراض عن المُحاجه۔ یعنی که دا اهل کتاب تا سره جګړے کوی پس د هغے نه چه دوی ته د اسلام حقانیت ښکاره شو نو تهٔ ورته اُووایه چه زما کار خو دا دے چه ما خو ځان د الله د حکم تابع کړیدے او زما ملګری هم د الله تعالیٰ د حکم تابعدار دی، نو که تاسو د الله تابع کیږئ راشئ او که نهٔ وی نو جګړے ته هیڅ حاجت نشته۔ (۲) دویم پدے کی اظهار د دلیل دے۔ یعنی زهٔ خو د الله تابع یم، الله چه کوم حکم رالیږی زهٔ د هغے پسے روان یم نو پدے کی څه نقصان دے چه یو انسان د الله د حکم تابع شی؟، جګړه او مناظره خو د هغه چا سره پکار ده چه د الله د حکم نه اَوړیدلے وی او په غلطه لار روان وی۔ نو پدے کی هغوی ته دعوت دے چه تاسو هم داسے د الله تابعدار شئ۔

اوله توجیه غوره ده۔

(وَجْهِيَ) ذکر د وجه دے مراد ترینه ذات دے۔ یا د وجه نه مراد عمل دے (فراء بغویؒ)۔

وَمَنِ اتَّبَعَنِ : دا عطف دے په تاء د متکلم چه په (اسلمت) کی راغلے ده۔ یعنی زما تابعدار هم د الله تعالیٰ تابع دی۔

والامیین: ددے امیانو نه مراد د عربو مشرکان دی چه دوی د اهل کتابو په مقابله کی اَن پړه (ناخوانده) وو۔ او د هغوی سره آسمانی کتاب نهٔ وو۔ پدے زمانه کی ددے نه مراد هغه کافران دی چه آسمانی کتاب ته ئے نسبت نهٔ وی لکه هندوان، سکهان، بدهـ مت، اکثر روسیان، او چینیان شو۔

أَأَسْلَمْتُمْ : پدے کی ترغیب او دعوت دے چه راشئ د الله د حکمونو تابعدار شئ۔ نو که دوی حق ته راغلل بس په هدایت به شی او که واوړیدل نو الله به سزا ورکړی، ستا په ذمه د هغوی هدایت ته راوستل نهٔ دی بلکه تهٔ صرف تبلیغ کوه، الله د هغوی هر حال وینی۔

وَّإِنْ تَوَلَّوْا : ددے جواب پټ دے یعنی فَيُعَذِّبُهُمُ اللهُ. (الله به سزا ورکړی) یا (فَلَا تَحْزَنْ) مهٔ خفه کیږه)۔

وَاللهُ بَصِيرٌۢ بِالْعِبَادِ : پدے کی ترغیب دے اهل الایمان ته او ترهیب دے هغه مخالفینو ته چه ددے مضبوط دین نه اوړی۔

إِنَّ الَّذِيْنَ يَكْفُرُوْنَ بِآيَاتِ اللهِ وَيَقْتُلُوْنَ النَّبِيِّيْنَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَيَقْتُلُوْنَ الَّذِيْنَ
یقیناً هغه کسان چه کفر کوی په آیتونو د الله او وژنی پیغمبران په ناحقه، او وژنی هغه کسان
يَأْمُرُوْنَ بِالْقِسْطِ مِنَ النَّاسِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيْمٍ ﴿٢١﴾ أُولَـٰئِكَ الَّذِيْنَ
چه امر کوی خلقو ته په انصاف سره، نو زیرے ورکړه دوی لره په عذاب دردناك۔ دا هغه کسان دی
حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمَا لَهُم مِّن نَّاصِرِيْنَ ﴿٢٢﴾
چه برباد دی عملونه د دوی په دنیا او په آخرت کی او نهٔ به وی دوی له مدد گاران۔

تفسیر : پدے آیتونو کی یره د آخرت ورکوی هغه کسانو ته چه د الله په آیتونو کفر کوی۔ او پدے کی بشارت دے په دردناك عذاب او د عملونو په بربادولو سره هغه چا ته چه درے قبیح صفات پکی راشی یو د الله په آیتونو کفر کول دویم د معجزاتو والا انبیاء علیهم السلام وژل او دریم د امر بالمعروف او نهی عن المنکر والا داعیان وژل۔

او ددے كسانو نه هم مراد يهودي قومونه دي، ځكه هغوي دا كار كړے وو او اراده ئے وه.
او پدے كې هر هغه ځوك داخل دے چه دغه صفات پكې راشي لكه خوارج او شيعه ګان وغيره.
يَكْفُرُوْنَ ئے مضارع راوړه اشاره ده چه دوي به مخكې هم كفر كولو او اُوس هم كفر كوي او آينده كې هم اراده لري، دغه شان (يَقْتُلُوْن) كې هم د دوي اراده د قتل د انبياؤ شته.
مناسبت : ١- پدے آيت كې د (وان تولوا) تفصيل دے، چه ځوك اسلام پريدي نو هغه به په كفر او قتل الانبياء والداعين وغيره كې واقع كيږي.
٢- دويم مناسبت دا دے چه د يهوديانو قبيح صفات شروع دي، نو دا هم د هغے نه دي.
بِاٰيَاتِ اللهِ : د آيتونو نه مراد تورات، انجيل او قرآن دے چه دوي د توحيد او د آخري رسول د رسالت نه انكار كړے وو كوم چه په دغه كتابونو كې موجود وو.
بِالْقِسْطِ : نه مراد توحيد دے ځكه چه هغه د عدل خبرے دي. د قرآن او حديث خبرے، د الله شريعت ته دعوت وركول او تول دين ته قسط وائي، هرے مسئلے ته شامليږي يعني دا هغه سركش قوم دے چه صرف نبيان ئے په ناحقه نهٔ دي وژلي بلكه هغه خلق ئے هم وژلي دي چه د عدل او انصاف خبره به ئے كوله يعني هغه مخلص مؤمنان او د حق داعيان چه امر بالمعروف او نهي عن المنكر به ئے كولو. لكه رواياتو كې دي چه دوي اويا پيغمبران قتل كړل نو څه نيكان خلق راپاځيدل چه دا خو تاسو ظلم اُوكړو، د الله عذاب به راشي نو دوي هغوي لره هم قتل كړل.
فَبَشِّرْهُم : دا ئے د استهزاء په طور وئيلے دے يعني ددوي دپاره بله د زيري خبره نشته مگر كه زيرے وي نو هغه به د الله عذاب وي.
بِعَذَابٍ أَلِيْمٍ : دا ضرري كافران وو پدے وجه ئے د دوي دپاره دردناك عذاب اُووئيلو لكه د منافقانو پشان.

حكمة : د اعمالو د بربادئ وضاحت

حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِيْ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ : په دنيا كې هم د نيك اعمالو جزاء شته، نو بربادي ئے دا ده چه ښائسته بدله به ورته نهٔ ملاويږي او دنيا كې به ورته قاتل، ظالم، ډاكو وئيلے شي او الله به ئے قتل كړي او جيلونو ته به ئے واچوي او پريشانيانے به پرے راولي، وينه او مالونه به ئے محفوظ نهٔ وي او مدح او صفت به ئے نشي كيدے او په آخرت كې به د نيك اعمالو جزاء نهٔ وركوي، عذاب به ترے دفع نكړي او نهٔ به پدے سره ثواب حاصل كړي (روح

المعانی ۳/۱۰۹) ۔

او د عمل بربادیدل لویہ تباهی ده پدے وجه ئے دا په سزا کی ذکر کړه۔

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِنَ الْكِتَابِ يُدْعَوْنَ إِلَى كِتَابِ
آیا تۀ نۀ ګورے هغه کسانو ته چه ورکړے شویده څه برخه د کتاب (تورات) نه، رابللے شی کتاب
اللهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ يَتَوَلَّى فَرِيقٌ مِنْهُمْ وَهُمْ مُعْرِضُونَ﴿۲۳﴾
د الله ته، دے دپاره چه فیصله اُوکړی په مینځ د دوی کی بیا اوړی یوه ډله د دوی نه او دوی مخ ګرځونکی دی۔

تفسیر : اُوس توبیخ ورکوی هغه چا ته چه د الله کتاب حاکم او فیصله کونکے نۀ ګرځوی او ددیے نه مخ اړوی او دعوه د الله د کتاب کوی چه مونږ خو د الله کتاب منو او ځان هدایت والا ګنړی لکه نن صبا زمانه کی هم ډیر حُکام ځان ته مسلمانان وائی لیکن صرف په نوم، خو کله چه د الله احکام مخے ته راشی بیا د هغے پرواه نۀ کوی او فیصله د الله حکم ته نۀ وړاندے کوی۔ او دا خوئی اصل کی د یهودیانو وو چه کله دوی ته اُووئیلے شی چه راځئ په تورات فیصله اُوکړو کـه پـه تورات کی د نبی ﷺ صفات وو نو وے منئ او که نۀ وی نو مه منئ مګر هغوی دے ته نۀ تیاریدل۔

نو اول ورلـه صفت د معرضینو ورکوی او بیا ددے دوه وجے ذکر کوی چه غلطه عقیده ئے جوړه شویده او دهوکه شویدی او بیا تخویف د آخرت بیانوی۔

نو پدے کی سبق مونږ ته راکوی چه کله تا ته دعوت درکړے شی قرآن او حدیث ته چه راځئ په دے فیصله کوو په اختلافی مسئلو کی نو په تا منل واجب دی، داسے به نه وائے چه زه نرخ، انګریزی قانون ، مذهب ته وړاندے کیږم۔ او د فقهاؤ په چوکاټ کی دا مسئله کوم۔ دا ټولو د کفارو خبرے دی۔

ربط : ۱- مخکی د دوی د لویو علماؤ حال ذکر شو چه هغوی د حسد د وجه نه اختلاف کړے وو او هغوی مشران وو، اُوس د دوی د نیمګړو علماؤ حال بیانوی چه د کتاب په بعض حصه علم لری او دا د مخکنو مقلدین دی۔ ۲- دارنګه مخکی آیت کی د دوی بغی او عناد ذکر شو نو اُوس د دوی د عناد غایه او دلیل ذکر کوی۔

نَصِيبًا مِنَ الْكِتَابِ : دا لفظ د نیمګړی ملیانو دپاره استعمالیږی۔

يُدْعَوْنَ إِلَى كِتَابِ : مفسرین وائی : مَنْ دُعِيَ اِلَى كِتَابِ اللهِ وَاِلَى مَا فِيهِ مِنْ شَرْعٍ وَجَبَ

عَلَيۡهِ الۡاِجَابَةُ)۔ (محاسن التاویل للقاسمیؒ)
څوك چه د الله کتاب طرف ته را اُوبللې شو چه راځه پدې فیصله کوو نو په دۀ لازم ده چه دې ته به تیاریږی که نۀ وی، ددې آیت په زورنه کې به داخلیږی۔
کتاب الله : (۱) ددې نه مراد تورات هم دې (۲) او قرآن کریم هم۔ ځکه دا کتاب د تورات نه په عقائدو کې خلاف نۀ دې، نو دوی دواړو ته نۀ تیاریږی۔
لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ : یعنی د دوی په جګړو، په عقیدو او کارونو او اخباراتو کې فیصله اُوکړی۔

شان نزول

۱- بعض مفسرینو د (کتاب الله) نه هم مراد تورات اخستې دې، او وئیلی ئې دی چه په آیت کې اشاره یوې خاص واقعې طرف ته ده، چه د هغې خلاصه دا ده چه د مدینې یهودیانو خپل دوه زنا کار (سړې او ښځه) رسول الله ﷺ ته راوستل نو نبی ﷺ د رَجم حکم اُوکړو لیکن دوی انکار اُوکړو او وې وئیل چه زمونږ کتاب (یعنی تورات) کې خو صرف مخ تورول دی۔ بیا تورات راوغوختې شو نو په هغې کې د رجم ذکر راغلې وو نو دواړه رجم کړې شول، پدې باندې یهودیان خفه شو، نو دا آیت نازل شو۔ (بغوی۲/۲۲، والقاسمی)
۲- ابن ابی حاتمؒ او ابن المنذرؒ د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړیدی چه نبی کریم ﷺ د یهودیانو بیت المدراس ته ننوتو نو هغوی ته ئې د دین اسلام دعوت ورکړو نو هغوی تپوس اُوکړو چه ستاسو دین کوم یو دې ؟ نو نبی ﷺ اُوفرمایل چه زۀ د ابراهیم ﷺ په دین باندې یم چه د شرك او باطل نه بیزار او د توحید داعی او مُحب وو، په دې باندې هغوی اُووئیل چه هغه خو یهودی وو نو نبی ﷺ اُوفرمایل چه تورات راوړئ او په هغې فیصله اُوکړئ لیکن هغوی دې ته تیار نۀ شول، په دې آیت کې هغې طرفته اشاره ده۔ (قرطبی۲/۵۰) والمنار۳/۲۱۸)۔
فائده : دا آیت دلیل دې چه د رجم دپاره احصان شرط دې نۀ اسلام پدې وجه خو رسول الله ﷺ یهودیان هم رجم کړل۔ (القاسمی)
ثُمَّ يَتَوَلّٰى فَرِيۡقٌ : ثم د استبعاد دپاره ده یعنی د دوی دا اوریدل د دوی د دعوې د ایمان نه ډیر بعید دی۔ ۲- دارنګه کله چه دوی د کتاب الله حکم ته راوبللې شی نو یوه ډله د دوی نه پس د ښه شکونو نه په قبلولو او نۀ قبلولو کې د هغې نه اوړی او د ایمان تقاضا خو دا وه چه مؤمن به د کتاب الله په حکم کې تردد او شك نۀ کوی۔ بیا دوی صرف په تولی

(اوړیدو) اکتفاء نهٔ ده کړے او نهٔ دا څه عارضي اوړیدل دي بلکه دا د دوی وصف لازم دے چه هغه اعراض دے د الله د کتاب نه، ځکه ئے (وهم معرضون) په جمله اسمیه سره ذکر کړو۔ (المنار)

ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوْا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّآ أَيَّامًا مَّعْدُوْدَاتٍ
دا پدے وجه چه دوی ویلي وو هیچرے به نهٔ رارسي مونږ ته اُور مګر یو څو ورځے شمار کړے شوے
وَّغَرَّهُمْ فِيْ دِيْنِهِمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٢٤﴾
او دهوکه کړیدی دوی لره په دین د دوی کی هغه خبرو چه دوی به د ځان نه جوړولے۔
فَكَيْفَ إِذَا جَمَعْنَاهُمْ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيْهِ
نو څرنګ به وی حال د دوی کله چه راجمع کړو مونږ دوی لره هغه ورځے ته چه نشته شك په هغے کی
وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٢٥﴾
او پوره به ورکړے شي هر نفس ته بدله د هغه عمل چه دهٔ کړیدے او دوی باندے به ظلم نشي کیدے۔

تفسیر : پدے آیت کی د اعراض او مخ اړولو دوه علتونه او وجے ذکر کوی۔

ذٰلِكَ : دا اشاره ده تولی (اوړیدو) او اعراض ته۔ اَیْ ذٰلِكَ التَّوَلِّيْ بِسَبَبِ التَّسْهِيْلِ عَلٰى أَنْفُسِهِمْ أَمْرَ الْعِقَابِ۔

دا اوړیدل د دوی پدے وجه دی چه دوی په ځان باندے د عذاب خبره آسانه کړیده۔ ځکه چه دوی دا غلطه عقیده جوړه کړیده چه مونږ ته به د جهنم اُور صرف یو څو ورځے رارسیږی۔ نو هرکله چه یو انسان ځان جنتی ګڼړی نو هغه بیا چرته د الله کتاب ته راځی، د الله کتاب ته هغه څوك رامنډه وهی چه هغه غواړی چه ځان د اُور نه بچ کړی۔ نو طریقه دا ده چه همیشه هدایت ته هغه څوك راځی چه هغه په ځان یریږی چه ما سره به هدایت نهٔ وی، زهٔ چرته ګمراه خو نهٔ یم، په غلطه لاره روان نشم۔ او که یو انسان ځان په حقه ګڼړی نو هغه بیا هدایت قبلولو ته تیار نهٔ وی، دا وجه ده چه په تنظیمونو او پارټیانو کی بعض خلق ځان پوره هدایت والا او الله تعالیٰ ته رسیدلی ګڼړی نو پدے وجه د هیڅا حق نهٔ قبلوی نو هغوی ته هر څومره دعوت کول په هغوی هیڅ اثر نهٔ کوی، عام تنظیمونه په دغه طرز دی۔

ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ : صاحب د تسهيل وائي : باء سببيه ده، معنىٰ دا ده چه د دوی کفر په سبب د اعتراض او دروغو د دوی سره دے۔ (التسهيل ١/١٦٧)
أَيَّامًا مَّعْدُوْدَاتٍ: بقره (٨٠) کی (اياماً معدودة) ذکر وو ځکه چه هغه د مليانو عقيده وه او دلته د اميانو عقيده ذکر ده او اميان ځان ډير گناهگار گنړی ځکه ئے دلته جمع راوړه۔ راجح دا دهٔ چه دا تنوع فی العبارة او تفنن فی العبارة دے دپاره د بلاغت۔ دارنگه د جمع مکسر صفت کله واحد مؤنث راځی او کله جمع هم راځی۔
او ددے عقيدے جوړولو يو څو اسباب وو چه په سورة بقره کی تير شويدی۔ او هغه دا دی چه (١) زمونږ مشرانو څلويښت ورځے د سخی عبادت کړے نو په دغه مقدار به زمونږ عذاب وی۔ (٢) يا دنيا اوه زره کاله ده او په هر زرو کالو کی به يوه ورځ عذاب وی۔ (٣) دريم دا چه زمونږ عقيدے صحيح دی خو صغائر رانه شويدی، د هغے لړه شان سزا به وی نور نشته۔
صاحب المنارؒ وائی : ددے آيت مقصد دا دے چه د يهودو دا عقيده وه چه اسرائيلی ته که عذاب ورکولے شی نو هغه به ډير کم وی لکه چه دا عقيده زمونږ د ډيرو مسلمانانو جوړه شويده، وائی چه مسلمان که لوی گناهونه يا فواحش کوی نو يا به په شفاعت سره خلاص شی يا به په کفاراتو سره يا به د الله په فضل او احسان سره په عفو او مغفرت سره خلاص شی او که ددے تهولو نه پاتے شو نو بيا به د گناه په اندازه په اُور کی عذاب ورکړے شی آخر به راوځی او جنت ته به داخليږی۔ حال دا چه قرآن کريم نجات په ايمان او نيک اعمالو او غوره اخلاقو وئيلے دے او هغه په يهودو کی نشته نو څوک چه دين يو جاگير گنړی او هغه ته تش په نسبت کولو سره ځان دپاره نجات گنړی يا د مشرانو په خبرو تکيه لگولو سره د نجات اميد لری نو دا په وهم او گمان کښ خطاء شويدے بلکه دروغژن دے۔ لکه روستو وائی وغرهم فی دينهم الخ۔ (المنار)
وَّغَرَّهُمْ : دا دويمه وجه او علت دے چه دوی د الله کتاب ته ځکه نهٔ راځی او ايمان نهٔ راوړی چه دوی د مخکنو لويو مليانو په دروغو خبرو دهوکه شويدی۔
وغرهم : غرور دهوکے ته وئيلے شی او ددے فاعل (ما) دے او مفعول ئے هم ضمير دے چه مراد ترے وارهٔ مليان دی او (کانوا يفترون) کی د فاعل ضمير لويو مليانو ته راجع دے۔ مطلب دا دے چه وړو مليانو او اميانو لره دهوکه کی اچولی وو هغه خبرو چه لويو مليانو کوم دروغ خبرے جوړے کړے وے چه د شرک او د بدعت او د باطلو طريقو جواز ئے ورته بيان

کړے وو او وړو ملیانو ته هغه پاتې شوی وے نو دوی د هغوی تقلید شروع کړے وو او دا به ئے وئیل چه پدے طریقه زمونږ مشران تلی وو، آیا دا گنې غلطے خبرے دی څه۔ او دا به ئے وئیل چه مونږ د الله محبوبان او د ځامنو پشان یو۔

یا د (مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ) ضمیر وړو ملیانو ته راجع دے چه هغوی (لن تمسنا النار) خبره کړے وه یعنی دے وړو ملیانو چه د جنت دعوه کوله نو دے خبرے په دهوکه کی اچولی وو او حقیقت داسے نهٔ وو۔ باطل پرست همیشه دپاره په بے حقیقته خبرو دهوکه شوے وی نو پدے کی مونږ ته دا سبق پروت دے چه پداسے خبرو عمل پکار دے چه هغه واقعی او حقیقی وی، هسے نه چه انسان به په یوه طریقه عمل کوی او دین به ئے گنړی او په مینځ کی به هغه بے دینی وی۔

فِيْ دِيْنِهِمْ : لفظ څکه وائی چه دوی د دنیا په باره کی ډیر وینښ دی، دنیاوی کاروبارونو او دوکانداریانو کی ئے څوك نشي دهوکه کولے لیکن د دین په باره کی دهوکه وی وائی چه مونږ دا مسئلے نهٔ پیژنو مونږ د چا اُومنو۔

فائده: مفسرین کرامؒ وائی پدے کی دا هم داخلیږی چه څوك د ځان نه حدیثونه جوړوی او وائی چه څوك دا فلانے عمل اُوکړی نو دومره اجر به ورته ورکړے شی او هغه الله تعالیٰ او رسول الله ﷺ نهٔ وی ویلی نو دے شخص هم ځان په دهوکه کی واچولو۔ دارنگه د ځان نه فتوے ورکوی او مسئلے بیانوی او د ځان نه ثوابونه بیانوی۔ دارنگه یو انسان یو عقیده جوړه کړی او وائی چه پدے عقیده انسان جنت ته داخلیږی او هغه عقیده الله تعالیٰ او رسول الله ﷺ نهٔ وی خودلی نو دا هم ځان دهوکه کوی، لکه بعض خلق وائی چه د پیر تابعداری کوه نو جنت ته به ځے، پیر ورله ذکر ورکړی چه دا ذکر کوه نور عذاب او گناه ئے زما په غاړه۔

فَكَيْفَ : پدے کی د آخرت یره بیانوی چه د قیامت په ورځ به د دوی دا دعوے او غلطے عقیدے هیڅ په کار نهٔ راځی او الله تعالیٰ به په خپل انصاف سره هر نفس ته د هغے د کړو پوره پوره بدله ورکوی، په هیچا به هیڅ قسم ظلم نشی کیدے۔

د کیف مدخول پټ دے (اَیُ فَكَيْفَ حَالُهُمْ)۔ نو د دوی حال به څه وی۔ او دا استفهام د تعجیب (تعجب کی غورزولو) دپاره دے او دا جواب نهٔ غواړی، مطلب دا دے چه دغه حال به څومره عجیبه او هیبتناك وی، سوچ وکړه۔

لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيْهِ : یعنی ددے ورځے په واقع کیدو کی په حقیقت کی هیڅ شك نشته

اګرکه ډیر خلق به پکې شك کوی.

وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ : د مَاکَسَبَتْ نه مخکې جزاء لفظ پټ دے. یعنې هر نفس ته به د هغه د کړو بدله ورکړے شي.

مَاكَسَبَتْ : ئې ذکر کړو اشاره ده چه د عمل نه به ئې بلا جوړه شي او بعینه عذاب به شي.

قُلِ اللّٰهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَآءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ
اُووایه ! اے الله ! ته مالك د بادشاهۍ ئې، ورکوے بادشاهي چا له چه اُوغواړے او راکاږے بادشاهي
مِمَّنْ تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَآءُ
د چا نه چه وغواړے او ته عزت ورکوے چا ته چه وغواړے او ذلت ورکوے چا ته چه وغواړے،
بِيَدِكَ الْخَيْرُ إِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٢٦﴾ تُوْلِجُ
خاص ستا په لاس کې ټول خیرونه دی، یقیناً ته په هر شي باندې قدرت والا ئې. ننباسے ته
اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَتُوْلِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَتُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ
شپه په ورځ کې او ننباسے ورځ په شپه کې او ته راوباسے ژوندے د مړی نه
وَتُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَتَرْزُقُ مَنْ تَشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٢٧﴾
او راوباسے مړے د ژوندی نه او ته رزق ورکوے چا ته چه وغواړے بغیر د حساب نه.

تفسیر : عنوان د آیت : تعلیم د دعاء او بیان د معرفت د الله تعالیٰ دے.

او مقصود د آیت دا دے چه : (اَلرَّدُّ عَلَى الْمُشْرِكِيْنَ وَالْيَهُوْدِ وَالنَّصَارىٰ وَالْمُنَافِقِيْنَ فِيْ اِنْكَارِهِمْ نُبُوَّةَ مُحَمَّدٍ ﷺ) په مشرکانو، یهودو، نصاراؤ او منافقانو رد دے چه دوی د محمد ﷺ نبوت نه انکار کوی.

مناسبت د آیت : دوی وئیلی وو چه زمونږ دین حق دے او دا سبب د جنت دے او نبوت د بنی اسرائیلو نه بل چا ته نهٔ نقل کیږی لکه دا په حدیث د ابوداود کې د صفوان بن عسال راوی نه نقل شویدی نو الله تعالیٰ په دوی باندې پدے آیت کې رد وکړو چه ملك (بادشاهي) او عزت د الله په لاس کې دی، د هغه خوښه ده چه چا ته ئې ورکوی، نو ستاسو نه ئې دے آخری امت ته نقل کړل.

بیا پدے دوه آیتونو کې د الله تعارف ذکر دے، د الله صفات او د هغه د عظمت صفتونه ئې

ذکر کړیدی په صیغه د جمله دعائیه سره. او په صیغه د (قل) سره ئے راوړه ځکه مقصد دا دے چه په رد د مشرکانو او نصاراؤ او یهودو کی داسے وایه. د مشرکانو په رد کی خبره داسے وه چه نبی کریم ﷺ خپلو ملګرو سره وعده اُوکړه چه تاسو ته به الله تعالیٰ د روم او فارس بادشاهی درکوی (چه هغه به فتح شی او خزانے به ئے د مسلمانانو لاس ته راشی) نو منافقانو او مشرکانو اُووئیل چه دا څومره کمزوری دے چه د خپل ځان حفاظت نشی کولے نو د روم او فارس بادشاهی دۀ ته ملاویدل ډیره بعیده خبره ده. (البغوی) نو الله پدے آیت کی خپل طاقت بیانوی چه دا ټولے بادشاهیانے خو د الله سره دی، ورکوی ئے چا ته چه وغواړی. او په نصاراؤ او یهودو رد پدے طریقه دے چه هغوی د دروغو دا خبره جوړه کړے وه چه داؤد علیه السلام سره الله تعالیٰ دا وعده کړے وه چه د هغه په اولادو کی به نبوت او بادشاهی راولی لهذا دا بادشاهی او نبوت به زمونږ نه نۀ نقل کیږی نو الله تعالیٰ دلته جواب کوی چه الله هغه ذات دے چه عزت او ذلت او بادشاهی او نبوت د هغه په اختیار کی دی چا له چه غواړی ورکوی ئے، نو مؤمنان همیشه دا عقیده لری.

نو (قُلْ) یعنی داسے وایه په عامو حالتونو کی د خپل یقین زیاتولو او د مشرکانو او د نصاراؤ او یهودو په رد کی داسے وایه. په احادیثو کی ددے سره اضافه هم راغلے ده او د قرض د خلاصیدو دپاره بهترینه دعاء ده.

په بعض روایاتو کی دی چه معاذ بن جبل رضی الله عنه نبی کریم ﷺ ته د خپل قرض شکایت اُوکړو نو هغه اُوفرمایل: چه تۀ آیت: قل اللهم مالك الملك او ددے سره روستو آیت تولج الليل فی النهار الخ اُووایه او بیا ورسره دا دعا اُوکړه:

[رَحْمٰنَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَرَحِيْمَهُمَا، تُعْطِيْ مَنْ تَشَاءُ مِنْهُمَا وَتَمْنَعُ مَنْ تَشَاءُ، اِرْحَمْنِيْ رَحْمَةً تُغْنِيْنِيْ بِهَا عَنْ رَحْمَةِ مَنْ سِوَاكَ، اَللّٰهُمَّ أَغْنِنِيْ مِنَ الْفَقْرِ وَاقْضِ عَنِّي الدَّيْنَ]

په یو بل روایت کی دی چه ((دا یوه داسے دعا ده چه که په تا باندے د اُحد غر هومره قرض هم وی نو الله تعالیٰ به هغه ستا نه ادا کوی. (صحيح الترغيب والترهيب رقم: ۱۸۲۱)
باسناد حسن والطبرانی فی الصغير ومجمع الزوائد ۱۰/۲۹۸ كتاب الادعية ورجاله ثقات]

پدے دعا سره د مؤمن سړی په الله باندے توکل پیدا کیږی.

ربط: ۱– هرکله چه په عقلی او نقلی دلائلو سره ثابته شوه چه د الله تعالیٰ نه سِویٰ څوك اِله (معبود) نشته نو اُوس ئے د هغے ثمره بیان کړه چه په غائبانه حاجتونو کی به صرف الله تعالیٰ ته آواز کوئ. ○ ۲–دویم: هرکله چه د بنی اسرائیلو نه نبوت او بادشاهی

نقل شوه او عربو اُميينو ته وركړے شوه ځكه چه دوى د قرآن نه اعراض كړے وو، دارنګه د تورات نه هم. نو پدے آيتونو كى دا بيانوى چه دا تصرف او اختيار د الله تعالىٰ دے نو په هغه باندے اعتراض نشى كيدے.

○ ۳- تير شوى ټولو آيتونو كى رد وو په نصاراؤ د نجران باندے په رد د بعضے شبهاتو د هغوى سره اُوس رد كوى د هغوى په باطله عقيده باندے په باره د عيسىٰ عليه السلام كى چه په هغه كى خو دا قسم صفات د اُلوهيت نشته نو څرنګه تاسو هغه لره اُلوهيت ثابتوئ؟!.

اَللّٰهُمَّ : په اصل كى يا الله دے، خليلؒ او سيبويهؒ وائى چه يا حذف شوه نو د هغے په بدل كى په آخر كى ميم مشدد راوړے شو. د بعض علماؤ په نيز دا اسم اعظم دے. نضر بن شُميل رحمه الله فرمائى : چا چه په (اللهم) سره دعا اُوكړه نو داسے شوه لكه په ټولو اسماءِ حسنىٰ ؤسره ئے دعا اُوغوختله. (القرطبى ٤/٥٤)

مَالِكَ الْمُلْكِ : دا منصوب دے صفت دے دپاره د (اللهم).

مُلك په ضمه د ميم سره مراد ترے كامل قدرت او اختيار او مكمل غلبه او اقتدار دے نو د مالك الملك مطلب دا شو چه الله پاك حقيقى متصرف او د هر قسم اختيار او اقتدار يواځے مالك دے ټول تصرفات او اختيارات د هغه په قبضه كى دى او په دے كى هغه سره هيڅوك شريك نشته.

تُؤْتِى الْمُلْكَ مَنْ تَشَآءُ : هركله چه الله تعالىٰ مطلقاً مالك الملك دے نو پدے سره ئے ځينى تصرفات ذكر كړل كوم چه د الله تعالىٰ سره مخصوص دى.

وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ : نَزْع راخكلو ته وئيلے شى او د نزع لفظ ئے ځكه ذكر كړو، اشاره ده چه صَاحِبُ الْجَاهِ لَايَتْرُكُهٗ) چه يو انسان يوے مرتبے ته اُورسيږى نو بيا هغه نۀ پريدى ترڅو چه ترے الله تعالىٰ په زوره نۀ وى راخكلى، لكه يهود او نصاراؤ او مشركانو بادشاهى او عزت نۀ پريخودو نو الله تعالىٰ ترے راخكله، نو دا د الله تعالىٰ په اختيار كى دى نو هغه ته التجاء پكار ده.

وَتُعِزُّ مَنْ تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَآءُ : عزت او ذلت دا دواړه صفات مُزدوجه دى، دواړه به شريك ذكر كولے شى لكه د اَلْخَافِضُ الرَّافِعُ پشان.

د عزت او ذلت مصداقات

۱- : تُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ بِالطَّاعَةِ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ بِالْمَعْصِيَةِ.

تـهٔ عـزت ورکـوے چا تـه چـه غـواړے په طاعت سره او ذلت ورکوے چا ته چه اُوغواړے په گناه سره۔ لکه دا خبره په سورة الفجر کې راغلې ده۔

(۲) تُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ بِالنَّصْرِ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ بِالْقَهْرِ۔

چا ته په مدد کولو عزت ورکوے او چا ته په قهر او غلبے سره ذلت ورکوے۔

(۳) تُـعِـزُّ مَـنْ تَشَاءُ بِالْقَنَاعَةِ وَالرِضَا وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ بِالْحِرْصِ وَالطَّمَعِ۔ تـهٔ په قناعت او رضا سره چا ته عزت ورکوے او ذلت ورکوے چا ته په حرص او طمعے سره۔

(٤) وَتُـعِزُّ مَنْ تَشَاءُ بِالْإِيْمَانِ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ بِالْكُفْرِ۔ تـهٔ چا ته عزت په ایمان ورکوے او ذلت په کفر سره ورکوے۔

(۵) تُـعِزُّ بِالْمَالِ وَتُذِلُّ بِالْفَقْرِ۔ تـهٔ بـعـض خلق په مال سره عزتمند کوے او څوك د خلقو په نظر کې سپکوے په فقر سره دا اگرکه د الله په نیز ذلت نهٔ دے مگر خلق ئے ذلت گنړی۔

(٦) دارنـگـه چا تـه په دنیا کې عزت په هیبت او رعب او دبدبه او په دشمنانو باندے غلبه ورکوے او د مسلمانانو دین عام کوے او ذلت ددے مقابل وی۔

دا د آخـرت سره هـم لـگـی چـه چا تـه لـوئـی لـوئـی درجے او مرتبے ورکوے او جنت ته ئے داخـلـوے او څـوك ذلیـلـه کـوے په جهنم کې، او په میدان محشر کې ئے شرمنده کوے او د هغه دپاره د سفارش اجازه نهٔ ورکوے۔ (معالم التنزیل للبغوی ۲/ ۲٤)

صـاحـب الـمـنـارؔ وائـی : عـزت او ذلـت مـعـلـوم دی مگر د اول د آثارو نه دا ده چه د حقیقت حـفـاظـت او حمایت او د کلمے نافذ والے او ملگری ډیریدل او د زړونو مالك کیدل په جاه او په هغه علم سره چه خلکو ته فائده ورکوی او په فراخئ د رزق او د نیك اعمالو په توفیق سره۔

بِيَدِكَ الْخَيْرُ : دلتـه ئے خبر مقدم کړو په مبتداء باندے پدے کې د تخصیص معنیٰ ده یعنی خاص ستـا پـه لاس کـې ټـول خیـرونـه دی (الـخیـر) کې الف لام استغراقی دی۔ چونکه عام تـصـرفات په لاس سره کیږی پدے وجه ئے لاس ذکر کړو او دا د الله تعالیٰ حقیقی صفت دے، د ید همدا ظاهری معنیٰ مراد ده، بغیرد تمثیل، تشبیه، تاویل او تحریف نه به منلے شی۔

شـر هم د الله تعالیٰ په لاس کې دے لیکن پداسے مقام کې الله تعالیٰ ته د شر نسبت کول بے ادبی ده، حدیث کې دی : وَالشَّرُّ لَيْسَ اِلَيْكَ۔ (د شر نسبت تا ته نهٔ کیږی) (مسلم : ۱۸٤۸)

الله تـعـالیٰ د شر پیدا کونکے هم دے لیکن د شر نسبت الله ته نهٔ اسماً، نهٔ فعلًا او نهٔ وصفاً کـیـږی۔ د الله په نوم کې شر نشته، د الله په صفاتو کې شر نشته، او نهٔ د هغه په کارونو کې شر شتـه، بلکه شر د هغه په قضاء او قدر او مفعولاتو کې راځی۔ ددے وجه نه د شر نسبت

الله ته په صیغه د مجهول ذکر کولے شی۔ لکه ﴿ أَشَرٌّ أُرِيدَ ﴾ ، ﴿ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ﴾ ۔ [مِنْ شَرِّ مَا قَضَيْتَ]۔ الله تعالیٰ د یوے خبرے فیصله اُوکړی نو د هغے نه شر راپیدا شی۔

حکمة : الله رب العالمین صرف خیر دے او شیطان صرف شر دے او عام انسان کی خیر او شر دواړه شته۔

حکمة : ددے قسم آیتونو تدبر او فکر په الله تعالیٰ باندے حُسن ظن (ښه گمان) پیدا کوی چه هغه اساس د ټولو عباداتو او نیکیانو دے۔

تولج : ددے نه مراد د یو بل پسے تعاقب دے یعنی شپه تیره شی ورځ راشی بیا ورځ تیره شی شپه راشی۔

پدے کی سیدنا ابن عباسؓ، مجاهدؒ، قتادهؒ او حسنؒ وغیرهم نه نقل دی چه شپه په ورځ کی او ورځ په شپه کی داخلولو نه مراد د ورځے او شپے وړوکوالے او لوئی والے دے مثلاً که چرے د شپے څه حصه په ورځ کی داخله شی څنګه چه د گرمئ په موسم کی کیږی نو ورځ لویه شی او که چرے د ورځے څه حصه په شپه کی شامله شی نو شپه لویه شی لکه د ژمی په موسم کی۔

پدے کی اشاره ده چه تهٔ به یهودیت او نصرانیت مغلوبه کړے او ورځ چه دین اسلام دے هغه به پرے دپاسه راشی او کله کله مسلمانان مغلوبه شی، پدے کی د الله تعالیٰ امتحان دے۔

وَتُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ : دے کی ظاهری او باطنی دواړه مصداقات کیدے شی۔ (۱) ژوندے د مړی نه راویاسی، خاوره مړه ده انسان ترے پیدا شویدے، چینجی ترے پیدا شی۔ دارنګه نطفه مړه ده ژوندے حیوان ترے پیدا شی۔ دغه شان نطفه د ژوندی حیوان نه پیدا شی۔ او اګئ مړه ده روغ حیوان ترے پیدا شی، دغه شان برعکس واخله۔ او اُوچ تخم او اډوکی د شنو بوټو او میوو نه او بوټی د اُوچے زمکے یا د اُوچ تخم نه پیدا کیږی۔

حسن بصریؒ فرمائی : د ژوندی نه مراد مؤمن او د مړ نه مراد کافر دے مطلب دا چه الله تعالیٰ د مؤمن کافر او د کافر نه مؤمن پیدا کوی لکه ابراهیم علیه السلام ئے د آزر نه او د نوح علیه السلام نه ئے کنعان پیدا کړو۔ (قرطبی ٥٦/٤) کبیر (٦٤٣/٢)۔

دارنګه د ژوندی نه مراد عالِم او نبی دے او د مړ نه مراد جاهل او غیر نبی دے۔ پداسے اضدادو باندے الله تعالیٰ قادر دے۔

حکمتونه

او په دے کی ناشنا حکمتونه دی۔ (۱) د الله تعالیٰ قدرت او علم بندګانو ته ښکاره کول۔

(۲) طبیعت تصرفات نهٔ کوی بلکه تصرف کونکے ذات صرف الله تعالیٰ دے۔
(۳) دے دپاره چه داعی نا امیده نشی ځکه چه الله تعالیٰ د کافر نه مؤمن راوباسی۔
(٤) او دے دپاره چه مؤمن الله تعالیٰ ته په خپله اصلاح او د بچو په اصلاح کی التجاء وکړی ځکه ددے قدرت صرف د الله تعالیٰ سره دے۔
بِغَيْرِ حِسَابٍ : یعنی فراخه رزق ورکوے چه بے حسابه وی۔

لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُوْنَ الْكَافِرِيْنَ أَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَلَيْسَ
نه دِے نیسی مؤمنان کافرانولره دوستان سویٰ د مؤمنانو نه، او چا چه وکړو دا کارنو نه دے
مِنَ اللّٰهِ فِيْ شَيْءٍ إِلَّآ أَنْ تَتَّقُوْا مِنْهُمْ تُقَاةً وَّيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ
د الله د دین نه په هیڅ کی مگر که تاسو یریږئ د هغوی نه په یره او یروی تاسو الله تعالیٰ
نَفْسَهٗ وَإِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿٢٨﴾
د خپل ځان نه او خاص الله ته ورگرځیدل دی۔

تفسیر : عنوان د آیت : پدے آیت کی د کافرانو د موالات (دوستانے) نه منع ذکر ده یعنی د کافرانو سره د تعلقاتو او دوستانو د ختمولو حکم ورکړے شویدے۔

مناسبت : ۱- مخکی ئے وویل چه عزت او ذلت د الله په لاس کی دے نو دلته وائی چه د کافرانو سره پدے وجه دوستی مهٔ کوئ چه تاسو په هغوی سره عزت حاصلوئ۔ بلکه توکل صرف په الله وکړئ او د کافرانو هیڅ پرواه مهٔ ساتئ۔ او دا د توحید د متمماتو نه دے چه د الله سره به دوستی کولے شی دغه شان اهل التوحید سره به ایمانی محبت ساتلے شی او د هغه د دشمنانو سره به دشمنی کولے شی اگرکه هغه پلار او هر څومره نزدے خپلوان دی۔

۲- یهود او نصاریٰ د ضد او عناد د وجے نه توحید نهٔ منی او اسلام نهٔ قبلوی لکه څنگه چه د نجران وفد سره ددے نه چه بے دلیله شو او په مناظره کی پرهٔ شول لیکن بیا هم په خپل شرك او كفر باندے قائم پاتے شو او یهودیان د الله تعالیٰ د کتاب (تورات) فیصلے ته را اُوبللے شو لیکن خالص د ضد په وجه ئے د تورات د فیصلے نه انکار اُوکړو پدے وجه مسلمانانو ته حکم کوی چه د دوی سره هر قسمه دوستانه او قلبی تعلقات پریږدئ۔

د آیت مطلب : الله تعالیٰ مؤمنان ددے خبرے نه منع کړیدی چه دوی د مؤمنانو په ځای کافران خپل دوستان جوړ کړی، ځکه چه د مؤمنانو ولی او دوست الله تعالیٰ دے۔ او مؤمنان خپل مینځ کی اولیاء او دوستان دی۔ په قرآن کریم کی ددے مضمون ډیر آیتونه راغلی دی۔ د الله تعالیٰ دپاره محبت او د الله تعالیٰ دپاره بغض او دشمنی د ایمان د اصولو نه یو اصل دے، پدے وجه الله تعالیٰ اُوفرمایل چه څوك کافران خپل دوستان جوړ کړی، الله تعالیٰ د هغوی نه بَری دے، او ددهٔ د الله تعالیٰ سره هیڅ تعلق نشته۔ آؤ، که د کافرانو نه چا ته خطره وی، نو د مسلمانانو دپاره دا جائز ده چه په وقتی توګه سره د دوستئ اظهار اُوکړی۔ امام بخاری د ابوالدرداء ﷺ قول نقل کړیدے چه (اِنَّـا لَـنَکْشِرُ فِیْ وُجُوْهِ اَقْوَامٍ وَاِنَّ قُلُوْبَنَا لَتَلْعَنُهُمْ) ((مونږ به د بعض قومونو په مخکی مصنوعی خندا ښکاره کوله، حال دا چه زمونږ زړونو به په هغوی باندے لعنت وئیلو)) او بیائے پدے باره کی مرفوع روایت د (بئس اخو العشیرة) راوړیدے۔ (بخاری : ٦١٧١) نو د خطرے په صورت کی په ظاهره کی د هغوی سره تعلق کولے شی خو پدے شرط چه زړهٔ به ئے د هغوی په دشمنئ باندے مطمئن وی، په زړهٔ کی به هغوی ته هیڅ قسم میلان نهٔ وی۔

دے نه روستو الله تعالیٰ اُوفرمایل چه الله تعالیٰ تاسو د خپل مقدس ذات نه یروی، ګورئ! د هغه د احکامو مخالفت او د هغه د دشمنانو سره د دوستی کولو په وجه هغه ناراضه نهٔ کړئ پدے کی انتهائی درجه دهمکی ده۔

فوائد الآیة :١- امام حاکم رحمه الله فرمائی : فِی الآیَةِ دَلَالَةٌ عَلٰی جَوَازِ اِظْهَارِ تَعْظِیْمِ الظَّلَمَةِ، اِتِّقَاءً لِشَرِّهِمْ قَالَ : وَاِنَّمَا یَحْسُنُ بِالْمَعَارِیْضِ الَّتِیْ لَیْسَتْ بِکَذِبٍ ۔ دا آیت دلیل دے چه د ظالمانو خلقو تعظیم ښکاره کول جائز دی کله چه د هغوی د شر نه یریږی۔ ...... البته که دا کار د دروغو وئیلو نه سویٰ د تعریضاتو په صورت کی وی نو دا به ښه وی، آه۔ (قاسمی ٥١/٢)

٢- **فائده** : د کافرانو سره دوستی او تعلقاتو کی دا خبره ضرور راځی چه بیا به د کافرانو طرز او طریقه ورته ښه ښکاره کیږی نو لازمی طور سره د مسلمانانو طرز او طریقه به ورته سپکه ښکاری او دا سبب د هلاکت دے۔٣- دارنګه کوم زړهٔ کی چه د الله تعالیٰ د دشمنانو سره دشمنی نهٔ وی نو د هغه په عبادتونو کی هیڅ مزهٔ نهٔ وی اګرکه دا ډیره بزرګی کوی، پدے وجه په اسلام کی د ولاء او براء ډیر لوئی اهمیت دے۔

٤- فائده : د موالات الکفار اقسام او طریقے :

کافران او د هغوی سره دوستی کول په یو څو طریقو دی :

(۱) یو کافر حربی دے چه د مسلمانانو سره جنګ کوی نو ددۀ سره هر قسم تعلق ساتل صحیح نۀ دی، د هغوی سره راشه درشه کول، هغوی لره تحفے تحائف ورکول، ګپ شپ او خبرے اترے کول تهول حرام دی۔ مګر د دعوت په نیت جائز دی لکه عمر فاروق ﷺ جُبَّةُ سُنُدُس (د وریښمو چوغه) خپل مشرك ورور ته هدیه کړے وه چه هغه په مکه کی وو۔ (بخاری:۲٦۱۵)

(۲) غیر حربی کافر ستا ګاونډی دے، د هغه سره اخلاق چلول او هدیه ورکول او احسان کول جائز دی۔ سورة الممتحنه آیت (۸) کی دی ﴿لَا يَنْهَاكُمُ اللهُ عَنِ الَّذِيْنَ لَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ﴾۔

(۳) هرچه مسلمان مبتدع او فاسق دے نو د هغه سره به سختی کولے شی دے دپاره چه سمے لارے ته راشی لیکن پدے کی به هم اخلاص ته ضرورت وی، د دنیاوی مفادو په وجه به تعلق نۀ پریدی۔

علامه قاسمیؒ فرمائی : موالات په یو څو قسمه دے :

(۱) یوه داسے دوستی کول چه کافرانو سره پټه دوستانه او مشورے کوی او هغوی ته د مسلمانانو رازونه ښکاره کوی او په زړۀ کی د کافرانو کفر ښه ګنړی او په زړۀ کی ایمان والا سپك ګنړی نو دا خو ښکاره کفر دے۔

(۲) دویم دا چه د کافرانو تعظیم کوی او د هغوی سره ښائسته دوستی او رشتینی محبت ساتی او هغوی ته د مسلمانانو رازونه ښکاره کوی نو دا کار هم حرام دے او هیڅ استثناء پکی نشته۔

(۳) دریم هغه موالات او دوستی ده چه د کافرانو تعظیم کوی او هغوی سره ښائسته دوستی کوی او په هغه کارونو کی ورسره مشورے کوی چه په هغے کی مسلمانانو ته ضرر نۀ وی نو دا کار هم جائز نۀ دے مګر که د تقیه په صورت کی وی نو جائز به وی۔ یعنی کافرانو نه خطره محسوس کوی او د خپل ځان د بچاؤ دپاره دا کار کوی۔

(٤) بل هغه موالات دے چه کافرانو سره ئے دا وعده کړی وی چه د یو بل مدد به کوو نو که دا په یو مباح یا واجب کار باندے وی نو ددے په کولو کی هیڅ حرج نشته بلکه واجب

دے لکه مؤمنان دا هل الذمه د طرف نه دفاع اُوکړی کله چه په هغوی باندے څوك ظلم کوی۔ او که په حرام کار کی د هغوی مدد کوی لکه هغوی د مسلمانانو مالونه اخلی او په هغے باندے غلبه کوی او دا مسلمان ورسره ملګرتیا او مدد اُوکړی نو دا بیشکه ګناه ده۔

(٥) دغه شان که موالات داسے وی چه هغوی ته د مسلمانانو رازونه ښکاره کړی او دا خوښوی چه کافران بچ پاتے شی نۀ پدے وجه چه د هغوی کفر ښه ګنړی بلکه د خپلولئ د وجے نه یا کافرانو ورسره یو احسان کړے وی د هغے د بدلے خلاصولو دپاره نو دا کار هم بیشکه چه حرام دے او ګناه ده لیکن انسان د کفر حد ته نۀ رسوی ځکه چه دا ندی نقل چه رسول الله ﷺ د حاطب بن ابی بلتعه ؓ په کفر باندے فیصله کړی وی۔ (محاسن التاویل للقاسمی (٥٢/٢)۔

او دا مسئله د موالات الله تعالیٰ په مختلفو آیتونو کی ذکر کړیده لکه په سورة الانفال (١٢٥) او سورة الممتحنه (١٢/١) کی او سورة المجادله (١٢) آیت کی۔

بیا د کافرانو سره موالات ډیر اقسام دی: (١) اِتِّبَاعُهُمْ فِیُ أَفْعَالِ الْكُفْرِ۔ (د کفر په کارونو کی د هغوی تابعداری کول لکه صلیب اچول، د هغوی سره عبادت کول)۔

(٢) تَعَاوُنُهُمْ۔ (د مسلمانانو او د دین په خلاف د کافرانو مدد کول)۔

(٣) اَلتَّجَسُّسُ لَهُمْ۔ (د کافرانو دپاره جاسوسی کول او د مسلمانانو رازونه هغوی ته ښکاره کول)۔ (٤) تَوْقِيُرُهُمْ وَإِعْزَازُهُمْ۔ (د کافرانو عزت کول او هغوی ته په مجلسونو کی پاځیدل او ځای ورکول)۔ (٥) حُرِّيَّةُ التَّنَقُّلِ فِي الْبِلَادِ الإِسْلَامِيَّةِ۔

(د مسلمانانو په ملك کی هغوی ته د چکروهلو آزادی ورکول)۔ او پدے کی تفصیل شته۔

(٦) حُرِّيَّةُ الدَّعْوَةِ۔ (د هغوی دعوت ته آزادی ورکول)۔ دا ټول د کافرانو سره موالات او دوستئ ده او دا ټول صورتونه حرام دی لیکن د هر یو صورت جدا جدا حکم دے۔ لکه ددے تفصیل په "الموالاة والمعاداة" للمحماس الجلعود۔ دارنګه الولاء والبراء لسعید بن وهف القحطانیؒ کی اُوګوره۔

(٧) او پدے کی دا هم داخلیږی چه خپل اولاد ته د کافرانو نومونه کیږدی یا د هغوی سره په لباس کی تشبه (مشابهت) وکړی۔ (فتاوی الدین الخالص (٦) تفصیلا)

مِنُ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ : أَیُ مُتَجَاوِزِيْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اِلَيْهِمُ اِسْتِقْلَالًا أَوِ اشْتِرَاكًا] یعنی د مؤمنانو د دوستانے نه ورتیریږی د کافرانو دوستانے ته یعنی صرف د کافرانو سره دوستی کوی یا

دوارو سره دوستانه کوی) او پدې کې اشاره ده چه هرکله چه ایمان والا موجود دی نو د کافرانو دوستانې ته هیڅ ضرورت نشته، بس ایمان والا مستحق د دوستانې دی۔(قاسمیؒ)
او هرکله چه د کافرانو سره په زړهٔ کې محبت پیدا شی نو بیا د مسلمانانو مینه نهٔ پاتې کیږی ځکه دا جمع د نقیضینو ده۔
مِنَ اللهِ فِیْ شَیْءٍ : یعنی څوك چه د کافرانو سره دوستانه کوی نو هغه د الله تعالیٰ د دوستانې نه په هیڅ شی کې نهٔ دے یعنی دا بالکلیه د الله تعالیٰ د دوستانې نه وتلے دے او دا خبره د عقل مطابق ده ځکه چه د یو ذات سره دوستی کول او بیا د هغه د دشمن سره دوستی کول دواړه منافات لری۔ (قاسمیؒ) ۔ (۲) لَیْسَ مِنْ دِیْنِ اللّٰهِ فِیْ شَیْءٍ۔ یعنی څوك چه په زړهٔ کې د کافرانو سره دوستی کوی نو هغه د الله د دین نه په هیڅ شی کې نهٔ دے۔
(۳) مِنْ حِزْبِ اللّٰهِ فِیْ شَیْءٍ ۔ یعنی دا د الله تعالیٰ په ډله کې نهٔ دے شمار یعنی د مسلمانانو سره به نهٔ وی شمار۔ (قرطبی ٥٧/٤)
إِلَّا أَنْ تَتَّقُوْا مِنْهُمْ تُقَاةً : یعنی که یریږئ د هغوی نه په یره نو بیا په ظاهره کې د هغوی سره په ژبه دوستی ښکاره کولے شئ لکه مخکې د ابو الدرداء ﷺ وینا ذکر شوه۔
تقاة : په اصل کې وُقَیَة ده واو په تاء سره بدل شو لکه د تخمة او تهمة پشان۔ او یاء په الف سره بدله شوه۔ (قرطبی وغیره)
د تقیه معنیٰ ده ځان بچ کول او یریدل۔ تقیه په دوه قسمه ده یو د مسلمانانو ده او بله د شیعه ګانو ده۔ د مسلمانانو تقیه دا ده چه تا کافران اُونیسی او حلالوی دِے چه شا به زمونږ صفت اُوکړه او د مسلمانانو بدی بیان کړه، یا زمونږ ملګرے شه نو په هغه وخت کې به د هغوی صفت اُوکړے په خوله نو پدے به تهٔ نهٔ ګناهګاریږے خو پدے شرط چه په زړهٔ کې به دِے نهٔ وی۔ لکه ددے تفصیل په سورة النحل آیت (١٠٦) ﴿وَقَلْبُهٗ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِیْمَانِ﴾ کې راغلے دے۔
د شیعه ګانو تقیه دا ده چه بغیر د ضرورت نه به د کفر کلمه وائی، د هغوی په نیز د معمولی شان خوف او ملامتیا په وخت کې هم د کفر اظهار واجب دے، او د هغوی په نیز انسان د تقیه نه بغیر جنت ته نشی داخلیدے۔او دا قسم تقیه کفر دے ځکه چه د کفر کلمه بلا اجبار ویل کفر دے۔
وَیُحَذِّرُکُمُ اللّٰهُ : أَیْ مِنْ غَضَبِهٖ وَعُقُوْبَتِهٖ: یعنی الله تعالیٰ تاسو د خپل غضب او عذاب نه یروی۔ د الله تعالیٰ نفس شته د هغه د شان مناسب۔ او په نفس لفظ ذکر کولو کې زیات

سختوالی دیرے ته اشاره ده چه د کافرانو تعلق پریدئ۔ او (من غضبه وعقوبته) تفسیر په بعض لوازماتو سره شویدے، دائے خپله معنیٰ نۀ ده۔

وَاِلَى اللهِ الْمَصِيْرُ : پدے کی د آخرت یره ذکر ده او مخکی د دنیا یره وه۔

قُلْ اِنْ تُخْفُوْا مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ اَوْ تُبْدُوْهُ
اووایه ! که تاسو پټوئ هغه شے چه ستاسو په سینوکی دی او یا ئے ښکاره کوئ
يَعْلَمْهُ اللهُ وَيَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ
پو هیږی په هغے باندے الله تعالیٰ، او پو هیږی په هغه څه چه په آسمانونو کی دی
وَمَا فِي الْاَرْضِ وَاللهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲۹﴾
او په هغه څه چه په زمکه کی دی او الله په هر شی باندے قادر دے۔

تفسیر : پدے کی دنیاوی یره بیانوی چه الله تعالیٰ ستاسو ظاهر او باطن پیژنی که چرے تاسو په پټه د کافرانو سره تعلقات ساتئ نو دا هم د الله په علم کی دی او کیدے شی چه په دنیا کی تاسو ته د هغے سزا درکړی۔

مطلب دا چه پدے کی د الله تعالیٰ د طرف نه بندګانو ته دا خبردارے ورکړے کیږی چه دوی دِے د الله تعالیٰ نه یریږی، او داسے اعمال دِے نۀ کوی چه د هغے نه الله تعالیٰ منع کړی وی، او د هغه د ناراضګئ سبب وی او بنده دِے پدے یقین سره په دنیا کی اُوسیږی چه د الله تعالیٰ نه هیڅ خبره هم پټه نۀ ده، هغه د زړونو راز پیژنی، برابره ده که بنده ئے ښکاره کوی یا ئے پټوی، هغه د آسمان او زمکے په ټولو څیزونو پو هیږی۔ د زمکو او غرونو او دریابونو یوه ذره یا ددے نه هم وړوکے شے د الله تعالیٰ نه پټ نۀ دے۔ او کله چه د هغه نه هیڅ شے پټ نۀ دے، نو که یو شخص په پټه سره د کافرانو سره دوستی اُوساتی یا د نبی کریم ﷺ تکذیب اُوکړی، یا کفر اُوکړی، نو الله تعالیٰ نه دا ټولے خبرے څنګه پټے پاتے کیدے شی ؟!۔

(ما) : بعض مفسرین وائی : (۱) د (مَا) نه مراد د کافرانو دوستی ده که په زړۀ کی ئے پټ ساتی یا ئے په خوله اظهار کوی۔ (۲) دویم مصداق : تکذیب د رسول الله ﷺ پټوئ یا ئے راښکاره کوئ په جنګ کولو د هغه سره۔ (۳) عموم پکی غوره دے چه الله تعالیٰ په هر حرکت د بندګانو پو هه دے، نو د کافرانو سره دوستی چرته اُونۀ کړئ۔

اخفاء ئے مخکې ذکر کړه ځکه چه موالات د کافرانو سره په پټه (یعنې په زړه کې) په هر حال کې حرام دے او ښکاره کول ئے په تقیه سره جائز دی۔

وَيَعْلَمُ: دا علت او دلیل د مخکنۍ خبرے دے چه هرکله الله تعالیٰ د آسمان او د زمکے په هر څه پوهه دے نو ستاسو د زړونو حالت هم ورته معلوم دے۔

او دا تعمیم بعد التخصیص دے لکه دا د قرآن کریم عادت دے چه د الله تعالیٰ عمومی علم بیانوی پس د هغے نه چه د یو شی پورے ئے تخصیص کړے وی۔

فائده : دے آیت کې تهدید بالعلم دے او قرآن کریم کې ډیر کرت تخویف بندګانو ته په علم د الله تعالیٰ سره ورکول کیږی چه الله تعالیٰ ګوره په تاسو عالِم دے ؟!۔

يَوۡمَ تَجِدُ كُلُّ نَفۡسٍ مَّا عَمِلَتۡ مِنۡ خَيۡرٍ مُّحۡضَرًا
په هغه ورځ چه مونده به کړی هر یو نفس هغه چه عمل ئے کړے دے د نیکۍ نه حاضر کړے شوے
وَمَا عَمِلَتۡ مِنۡ سُوٓءٍ تَوَدُّ لَوۡ أَنَّ بَيۡنَهَا وَبَيۡنَهُ
او هغه چه کړے ئے دے د بد عمل نه، خوښوی به آرمان دے چه وے په مابین ددے نفس کې او په مابین ددے عمل کې
أَمَدًۢا بَعِيدًا وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفۡسَهُۥ وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ بِٱلۡعِبَادِ ﴿٣٠﴾
موده لرے، او یروی الله تاسو د خپل نفس نه او الله تعالیٰ شفقت کونکے دے په بندګانو۔

تفسیر : عنوان د آیت : جَزَاءُ الْاِنْسَانِ بِكُلِّ أَعْمَالِهٖ سَوَاءٌ كَانَ خَيْرًا أَوْ شَرًّا وَتَحَسُّرُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَلٰى عَمَلِهِ السُّوْءِ ۔ (د انسان په ټولو اعمالو باندے جزاء ذکر کوی برابره ده خیر وی او که شر او د قیامت په ورځ دده په بد عمل باندے افسوس ذکر کوی)۔

ربط : اُوس د آخرت یره بیانوی هغه کسانو ته چه د کافرانو سره موالات کوی۔

یعنی که الله تعالیٰ په دنیا کې چا ته تاخیر او مهلت ورکړی نو ددے نه دِے څوك دا معلومه نهٔ کړی چه الله تعالیٰ نه د هغه اعمال پټ دی، بلکه دده عملونه د قیامت د ورځے دپاره راجمع کولے شی چه په هغه ورځ به هر بنده خپلے نیکیانے خپلے مخے ته اُومومی، او کله چه خپل ګناهونه خپلے مخے ته اُومومی نو دا آرمان به کوی چه کاش دده او دده د ګناهونو ترمینځ داسے وړاندے والے وے چه د هغے نه روستو هیڅ لرے والے نشی کیدے۔

يَوْمَ : منصوب دے په روستو (تَوَدُّ) سره۔ یا متعلق دے په (يُحَذِّرُكُمُ اللهُ) پورے۔

تَجِدُ : د وِجدان نه دے په معنیٰ د موندلو سره، متعدی دے یو مفعول ته چه (مَا عَمِلَتْ)

دے او (مُحضرا) ئے حال دے۔ یعنی هر نفس به اُومومی هغه عمل چه کړے ئے دے پداسے حال کی به ئے اُومومی چه حاضر کړے شوے به وی۔
مُّحْضَرًا : یعنی حاضر به وی په عملنامو د دوی کی لیکلے شوے۔ یا به په خپل مناسب شکلونو کی دغه اعمال حاضر وی۔ یا جزاء لفظ پټ دے یعنی جزاء د دغه عملونو به حاضره وی۔ لیکن اول مطلب ظاهر دے چه هر انسان به خپل عمل وینی که خیر وی او که شر۔ لکه اُوس په دنیا کی د ویډیو په شکل اعمال ښکاری، دغه شان به الله تعالیٰ په قیامت کی هم دوی ته د دوی عملونه ښکاره کړی۔
وَمَا عَمِلَتْ مِنْ سُوْءٍ : پدے کی دوه ترکیبه دی (١) دا عطف دے په مخکی (ما عملت من خیر) باندے او (محضراً) دلته پټ دے۔ یعنی مونده به کړی هر نفس هغه عمل چه کړے ئے دے بد عمل حاضر کړے شوے۔ او روستو (تود) نوے کلام دے چه ددے روستو نفس سره لګی۔ (٢) یا دا چه دا نوے کلام دے او دا مبتداء ده او روستو (تود) ئے خبر دے۔ یعنی کوم نفس چه بد عمل کړے وی او عمل ئے حاضر شی نو دا به ارمان کوی او خوښوی به چه زما او ددے ګناه ترمینځ لرے فاصله وے۔
دا خو د نفس او د ګناه ترمینځ دومره مصیبت دے او بیا چه کله د شیطان سره اُوترلے شی چه بد بوئی ترے روانه وی او بیا پرے دپاسه عذاب هم وی نو ددے تصور اُوکړه څه حال به وی ؟!!۔ لکه دا الله تعالیٰ په سورة الزخرف (٣٨) آیت کی ذکر کړیدی : ﴿ يَالَيْتَ بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ الْقَرِيْنُ ﴾۔
سوء : هغے ګناه ته وائی چه انسان د هغے په کولو خفه کیږی او دا ټولو ګناهونو ته شامل دے۔
أَمَدًا : هغه مودے ته وائی چه د هغے حد معلوم نهٔ وی۔ (راغبؒ)
وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ : دا ئے دوباره راوړو ځکه مخکی تحذیر وو د موالات د کافرانو نه اُوس تحذیر دے د سوء (بدعمل) نه۔ دارنګه مخکی تحذیر وو د موالات نه اُوس د قیامت د ورځے نه تحذیر دے۔
وَاللّٰهُ رَؤُوْفٌ بِالْعِبَادِ : **حکمة** : الله تعالیٰ رؤف نوم ذکر کړو د ډیرو وجو نه (١) الله تعالیٰ رؤف (شفقت) کونکے دے پدے وجه ئے بندګان د خپل ځان نه اُویرول هسے نه چه د هغه عذاب ورته اُورسی۔ (حسن بصریؒ)۔ (٢) دے دپاره چه ددے نوم نه رجاء (امید) پیدا شی ځکه چه په (ویحذرکم الله) لفظ کی سخته یره پرته وه او د انسان کمال دا دے چه په هغه

کی خوف او رجاء دراړه راشی۔ (۳) دے دپاره چه بندګان ترے متنفر نشی۔

قُلْ إِنْ كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ
اووایه !که چرے تاسو مینه کوئ د الله سره نو تابعداری وکړئ زما، مینه به وکړی تاسو سره
اللهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣١﴾
الله تعالیٰ او بخنه به وکړی تاسو ته د ګناهونو ستاسو او الله بخنه کونکے رحم کونکے دے۔

تفسیر : پدے آیت کریمه کی عنوان دے :اَلْأَمْرُ بِاتِّبَاعِ الرَّسُوْلِ ﷺ ۔ (الله تعالیٰ حکم کړیدے په تابعداریٔ د رسول الله ﷺ)۔ او د رسول الله ﷺ د رشتینوالی بیان هم پکی ذکر دے ځکه چه ددهٔ د تابعداریٔ نه بغیر کار نهٔ کیږی۔

ربط : (۱) نصاراؤ دعوه کړے وه چه مونږ د الله تعالیٰ دوستان یو نو الله تعالیٰ فرمائی چه تاسو به د الله تعالیٰ دوستان هله جوړیږئ چه ددے آخری رسول ﷺ تابعداری شروع کړئ۔ نو دا هغوی ته جواب شو۔(۲) مخکی د الله تعالیٰ د دشمنانو سره د دوستانے کولو نه یره بیان شوه اُوس د الله تعالیٰ محبت ته ترغیب ورکوی او د هغے ذریعه ذکر کوی۔

(۳) والله رؤف بالعباد سره هم لګیږی یعنی د الله د رأفت (شفقت) نه دا ده چه بندګانو ته ئے خپل رسول (ﷺ) راولیږلو او د هغه طاعت ئے پرے واجب کړو دے دپاره چه د هغه د عذاب نه خلاص شی۔

شان نزول

حسن بصریؒ فرمائی : اِدَّعٰی قَوْمٌ مَحَبَّةَ اللّٰهِ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ هٰذِهِ الآيَةَ مِحْنَةً لَهُمْ ۔ څه خلقو د الله تعالیٰ د محبت دعوه کړے وه چه مونږ د الله تعالیٰ سره مینه لرو نو الله تعالیٰ دا آیت د هغوی د امتحان دپاره نازل کړو او پکی وے فرمایل : که تاسو د الله تعالیٰ محبت غواړئ نو ځئ ددے رسول تابعداری اُوکړئ۔

(دا خلق مشرکان هم وو هغوی به وئیل مونږ د بتانو عبادت دے دپاره کوو چه الله ته مو نزدے کړی، دغه شان یهود او نصاراؤ به هم د الله تعالیٰ د محبت دعوے کولے)۔

د حسن بصریؒ نه دا هم نقل دی چه هغه فرمائی :

[لَيْسَ الشَّأنُ أَنْ تُحِبَّ بَلِ الشَّأنُ أَنْ تُحَبَّ]

کمال دا نهٔ دے چه تهٔ د الله تعالیٰ محبت وکړے فقط بلکه کمال دا دے چه تا سره د الله

تعالیٰ محبت پیدا شي او هغه حاصلیږي د پیغمبر په تابعداریٔ سره. ځکه چه هر یهودي او کافر او مشرك دا دعوه لري چه زمونږ د الله تعالیٰ او د رسول الله ﷺ سره مینه ده، لیکن پدے باندے انسان کمال ته نشي رسیدلے ترڅو چه تابعداري ئے نهٔ وي کړي.

بیا د الله تعالیٰ سره محبت دا دے چه انسان د الله تعالیٰ خبره په هر څه مخکی کړي او د هغه خبره د هر چا په خبره دپاسه او درنه وګنړي او د الله تعالیٰ نه یریږي او د هغه طاعت کوي او د هغه نه حیاء لري. او چه تهٔ د الله تعالیٰ محبوب شوے د هغے نښه دا ده چه الله تعالیٰ به دے په خپل طاعت او د خپلے رضا په کارونو کی استعمالوي او چه الله تعالیٰ درسره مینه وکړه نو د خلکو په زړونو کی به ستا محبت واچوي دا به ئے نښه وي. د ایمان والو په زړونو کی چه د چا سره مینه وي دا به د الله تعالیٰ د محبت نښه وي.

سهل بن عبد الله التُسْتريّ فرمائي : عَلَامَةُ حُبِّ اللّٰهِ حُبُّ الْقُرْآن وَعَلَامَةُ حُبِّ الْقُرْآن حُبُّ النَّبِيِّ ﷺ وَعَلَامَةُ حُبِّ النَّبِيِّ ﷺ حُبُّ السُّنَّةِ وَعَلَامَةُ حُبِّ اللّٰهِ وَحُبِّ الْقُرْآنِ وَحُبِّ النَّبِيِّ وَحُبِّ السُّنَّةِ حُبُّ الآخِرَةِ ......الخ . د الله تعالیٰ د محبت نښه دا ده چه قرآن سره به مینه کوي او د قرآن سره د محبت علامه د نبي ﷺ سره محبت کول دي او د نبي ﷺ سره د محبت نښه دا ده چه د هغه سنت سره به مینه کوي او ددے ټولو محبتونو نښه دا ده چه د آخرت سره به مینه کوي او د آخرت سره د مینی نښه دا ده چه د ځان سره به مینه کوي او د ځان سره د مینی نښه دا ده چه دنیا سره به بغض لري او د دنیا سره د بغض نښه دا ده : أَنْ لَّايَأْخُذَ مِنْهَا اِلَّا الزَّادَ وَالْبُلْغَةَ. چه د دنیا نه صرف د خپل ژوند د توښي په اندازه واخلي. (القرطبی ٤/ ٦١)

بیا د الله تعالیٰ محبت څه حقیقت لري نو په هغے باندے الله تعالیٰ پوهیږي خو ظاهري نښه ئے دغه مخکی ذکر شوه.

حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکي چه دا آیتِ کریمه د هغه تمامو خلقو په خلاف دلیل دے چه د الله تعالیٰ د محبت دعویٰ کوي او په طریقه د محمد ﷺ باندے روان نهٔ وي. ترڅو چه بنده په خپلو تمامو خبرو او کارونو کی د محمد ﷺ د شریعت تابعداري اُونکړي، نو هغه د الله تعالیٰ سره د محبت کولو په دعوه کی دروغجن دے. بخاريؒ او مسلمؒ د عائشه رضی الله عنها نه روایت کړیدے چه چا یو داسے عمل اُوکړو چه د هغے مونږ حکم نهٔ دے کړے نو هغه عمل به مردود وي. (ابن کثیرؒ)

نو په آیتِ کریمه کی دا مسئله ده چه د رسول الله ﷺ تابعداري فرض ده او الله تعالیٰ ته

د رسیدو دپاره صرف دا یوه لاره کولاوه ده، نورې ټولې لارې بندې دي او هغه لاره د رسول الله ﷺ د تابعدارئ ده. نو دا خبره کول چه "منزل د ټولو یو دے او سفر جدا جدا". نو دا غلطه خبره ده بلکه زمونږ منزل هم یو دے چه الله تعالیٰ ته رسیدل دي او سفر هم یو دے که چا نور سفرونه اختیار کړل منزل مقصود ته نشي رسیدلے. دا وجه ده یهود او نصاریٰ او مشرکان او نور دعویدار که هر څومره کوشش اُوکړي نو الله تعالیٰ ته نشي رسیدلے ترڅو چه ددے نبي ﷺ په لاره نهٔ وي روان شوي چه هغه د قرآن او سنت لاره ده. پدے وجه الله تعالیٰ ته په قرب او نزدیکت حاصلولو کي او په عبادتونو او په ذکرونو کي د پیغمبر طریقے ته انتهائي ډیر ضرورت دے ورنه عبادت به خراب شي او کوشش به ناکام شي.

په یو حدیث کي راغلي دي رسول الله ﷺ فرمائي : ((که تاسو غواړئ چه الله تعالیٰ او د هغه رسول تاسو سره محبت وکړي نو په درے کارونو حفاظت وکړئ : صِدْقُ الْحَدِيْثِ (رشتیا خبرے کول) وَاَدَاءُ الْاَمَانَةِ. (امانت ادا کول) وَحُسْنُ الْجِوَارِ (او ښائسته ګاونډي توب کول). (الخلعي في الفوائد- السلسلة الصحيحة : (٦/١٢٦٤) رقم (٢٩٩٨). (والقرطبي)

امام شافعي رحمه الله د اتباع په باره کي فرمائي : (اِذَا رَأَيْتُمُ الرَّجُلَ يَطِيْرُ فِي الْهَوَاءِ وَيَمْشِيْ فَوْقَ الْمَاءِ فَلَا تَعُدُّوْهُ شَيْئًا حَتّٰى تَعْرِضُوْا عَمَلَهٗ عَلٰى كِتَابِ اللّٰهِ وَسُنَّةِ رَسُوْلِهٖ)

(کله چه تاسو یو سړے اُووینئ چه په هوا الوزي او د اُوبو په سر روان وي نو هغه هیڅ شے مهٔ ګنړئ (ګنے چه دا به د الله تعالیٰ ولي وي) تردے چه تاسو د هغه عمل د الله تعالیٰ په کتاب او د هغه د رسول ﷺ په سنتو پیش کړئ)

ډیر خلق د رسول الله ﷺ سنت طریقے سپکے ګنړي او هغه ماتوي، او د رسول الله ﷺ د سنتو طریقو د سپکو ګنړلو او د هغے د ماتولو دوه لوئي اسباب دي یو خواهشات دي. خواهشاتو والا سنت اګرکه سپك نهٔ ګنړي لیکن عمل پرے نهٔ کوي. او دویم سبب ئے تقلید دے. د تقلید په وجه انسان صحیح روغ حدیث ضعیف کوي، د هغے نه ډیر جوابونه کوي او د هغے اهمیت ختموي لکه دا خبره په واقع کي موجوده ده، د احادیثو سره ډیر زیاتے شویدے او کیږي، او پدے باندے هر مسلمان له خفګان پکار دے، آیا حدیثونه ګنے د جوابونو دپاره راغلي دي؟!. لیکن افسوس چه شیطان او غلطے معاشرے زمونږ دماغ بند کړي او اهل حق ئے خلقو ته په نظر کي بد او سپك ښکاره کړیدي.

څوك چه د سنتو تعظیم او اکرام نهٔ کوي نو الله تعالیٰ هغه خلقو ته ډیرے سزاګانے ورکړیدي.

لـكـه بـعـض واقـعـات پـه كتاب تعظيم السنة كي ذكر كړيدي. دارنگه الفوائد دريم جلد تفصيلا وگوره.

(١) پـه حـديث د دارمي (٤٤٤/١) او مجمع الزوائد كي هم دي، د ابن عباسؓ نه روايت دے چـه رسول الله ﷺ فرمايلي دي: (لَاتَطْرُقُوا النِّسَاءَ لَيْلًا) (تـاسو د سفر نه د شپے خپلو ښځو تـه مـهٔ راځئ) نو پدے كي دوه كسانو خلاف اُوكړو نو دواړو ته دا سزا ملاؤ شوه چه دواړو د خپلو ښځو سره بل سړے اُوموندلو. (كه دوى چرته داسے نهٔ وے كړى نو الله تعالىٰ به پدے خفگان نهٔ اخته كولے).

(٢) حـديـث د مسلم كي دى: يو سړى د رسول الله ﷺ سره په گس لاس خوراك كولو نو رسول الله ﷺ ورته اُوفرمايل په ښى لاس خوراك كوه، هغه اُووئيل: لَا أَسْتَطِيعُ. زما طاقت نشتـه. نـو رسـول الله ﷺ ورته اُوفرمايل: لَا اسْتَطَعْتَ. تـهٔ دِے طاقت اُونهٔ لرے. صحابى وائى: (مَا مَنَعَهُ إِلَّا الْكِبْرُ). دا سړے د رسول الله ﷺ د خبرے منلو نه تكبر منع كړو) پدے وجه ورتـه رسول الله ﷺ ښيرے اُوكړے. نو دے سړى دا لاس بيا خولے ته پورته نكړو. الله تعالىٰ ورله لاس اُوچ كړو.

(٣) سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائى: يو سړے په دوه جامو كي په تكبر روان وو نو الله تعالىٰ په زمـكه كي داخل كړو (چه قارون مراد دے). يو سړى ددے پيښے اُوكړے: أَهٰكَذَا يَمْشِيْ ذٰلِكَ الْفَتٰى؟) آيا دغسے روان وو دغـه ځـوان؟ (ددے حـديث پـورے ئے توقے كولے) نو الله تعالىٰ زمـكے تـه راگـوزار كـړو نـزدے وه چـه ملا ئے ماته شوے وے نو ابو هريره ﷺ خپلے خولے او پـوزے تـه اشاره اُوكړه او وے فرمايل: ﴿ إِنَّا كَفَيْنَاكَ الْمُسْتَهْزِئِينَ ﴾. (يـعـنـى څوك چه د دين پورے توقے كوى نو الله تعالىٰ فرمائى چه زهٔ به ورله كافي شم).

(٤) عبد الرحمن بـن حـرملهٌ وائى يو سړے سعيد بن المسيبؒ ته راغلو چه ما له اجازه راكړه زهٔ حـج ته ځم. نو هغه ورته اُووئيل اذان اُوشو مونږ ته ايسار شه ځكه چه رسول الله ﷺ فـرمايلي دى: [لَايَخْرُجُ بَعْدَ النِّدَاءِ إِلَّا مُنَافِقٌ] . د اذان نـه روستـو د مـسـجد نه نهٔ اُوځى مـگـر مـنـافـق. (اگركه يو انسان بل ځاى كي جمع هم كوى خو نهٔ به اُوځى) نو هغه سړے اُووتـو چـه ملگرى رانه ځى. نو سعيدؒ اُوفرمايل: چه تاسو انتظار كوئ دے سړى ته به څه ضـرر رسيـږى. نو لږ وخت روستو خبر راغلو چه دغه سړے د سورلئ نه پريوتو او ورون ئے مات شو. (حج ته هم اُونهٔ رسيدو، الله تعالىٰ ورله سزا وركړه).

(٥) ابويحيىٰ الساجىؒ وائى مونږ د بصرے په كوڅو كي روان وو نو مونږ مزل تيز كړو چه

اُستـاذ تـه پـه جلتـیٔ اُورسو، مونږ سره یو ماجن (په دین کی بے باکه) وو، هغه توقے اُوکړے چه [اِرْفَعُوْا أَرْجُلَكُمْ عَنْ أَجْنِحَةِ الْمَلَائِكَةِ لَا تَكْسِرُوْهَا] خپلے خپے د ملائکو د وزرو نه پورته کړئ هسے نه چه هغه ماتے کړئ۔ نو د هغه ځای نه اُونهٔ خوزیدو تردے چه الله تعالیٰ ورله خپے اُوچے کړی او راپریوتو۔ (بستان العارفین للنووی ص : ۹۲)۔

(٦) رسول الله ﷺ فرمائی : ((کـلـه چه یوتن په تاسو کی د خوب نه رابیدار شی نو لاس دِے لـوبنـی تـه نهٔ داخلوی تردے چه درے کرته ئے اُووینځی ځکه چه دهٔ ته پته نشته چه ددهٔ لاس کـوم ځای شپه تیره کړیده))۔ نـو یـو مبتدع اُووئیل چه زهٔ پو هیږم چه زما لاس چرته شپـه تیـروی۔ نـو دهٔ شپـه تیـره کـړه سـحـر چـه راپاځیدو، خپل لاس ئے په خپل دُبر کی تر څنګلو پورے داخل کړے وو او پـه ځان نـهٔ وو پـو هه شوے۔ (دا هم سزا وه چه الله تعالیٰ ورکړه) (بستان العارفین : ٩٤)

(٧) شیخ الاسلام ابن تیمیـهؒ پـه "مجموعة الفتاویٰ" کی نقل کړیدی چه په مسئله د مُصراة کی د یو حنفی او شافعی مناظره وه (چه دا مشهوره مسئله ده یعنی د حیوان غـلانـزه د پیـوو نـه بـندول دے دپاره چه خرڅولو وخت کی ډیرے روپیٔ وکړی او خلك پرے دوکه کړی) نو حنفی ملا وویل ابو هریره ﷺ غیر فقیه دے نو پدے مینځ کی د چهت نه یو مـار راپریـوتو تول خلك ئے پریخودل او دهٔ پسے شو، خلکو ورته وویل چه الله تعالیٰ ته توبه وباسه نو دهٔ توبه ویستله مار سمدستٔ ورك شو۔ (سیر اعلام النبلاء ۲/۶۱۸)

(٨) حُـمیـدیؒ وویل : ما په مصر کی د امام شافعیؒ نه د رسول الله ﷺ یو حدیث واوریده، نـو هغـه تـه یـو سړی وویل : آیا تهٔ پدے باندے قول کوے؟ هغه غصه شو وے فرمایل: (إِنْ رَأَيْتَنِيْ خَرَجْتُ مِنَ الْكَنِيْسَةِ أَوْ تَرٰى عَلَيَّ زِنَارًا...... حَتّٰى لَا أَقُوْلَ بِهٖ) (حلیة الاولیاء ۹/۱۰۶)

(آیا تـا زهٔ لیدلے یم چه د ګیرجے نه راوتلے یم یا دے په ما باندے زنار لیدلے دے (یعنی آیا زهٔ درته یهودی او نصرانی او مجوسی ښکاره شوم) چه زهٔ به په حدیث باندے قول نهٔ کوم۔

دا قسم ډیر واقعات په الفوائد (۸۸/۳ نه تر ۱۰۰) پورے وګوره۔

د سنتو د اتباع فوائد

يُحْبِبْكُمُ اللهُ : څـوك چه د سنتو د رسول الله ﷺ تابعدار شی هغه ته ډیر فوائد ملاویږی : (١) بـنـده بـه د الله تـعـالیٰ محبوب جوړ شی۔ (٢) ګناهونه به ئے معاف شی۔ (٣) د کفر نه بـچـاؤ ورتـه حـاصلیږی، لکه روستو آیت نه معلومیږی (٤) هدایت ورته حاصل شو۔ (٥)

الفوز العظیم۔ لویه کامیابی ورته حاصله شوه۔ (٦) اجرا عظیما۔ لوی اجر ورته ملاویږی۔ (٧) واشد تثبیتا۔ (الله تعالیٰ ئے په دین باندے زړه مضبوطوی)۔ (٨) د پیغمبرانو او نیکانو ملګرتیا ورته نصیب کیږی۔

د اتباع السنة فوائد په "الفوائد" ٣/٧٤/١٠٠) کی وګوره۔

قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّوْا
اووایه ! تابعداری وکړئ د الله او د رسول (په تهولو افعالوکی) نو که چرته دوی واوړیدل
فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ ﴿٣٢﴾
نو یقیناً الله مینه نه کوی د کافرانو سره۔

تفسیر: اُوس پدے آیت کی طریق المحبة ذکر کوی یعنی الله تعالیٰ ته د رسیدلو لاره د رسول الله ﷺ لاره ده۔یعنی د الله تعالیٰاو د رسول د محبت علامه دا ده چه په هر څه کی به د هغوی اطاعت کولے شی، د هغوی حکمونه به عملی کولے شی او کومو کارونو نه چه هغوی منع کړیده هغے نه به ځان ساتی او د هغوی په خبرو به تصدیق کوی۔ (السعدیؒ) که دوی ددے نه واوړیدل نو بیا بل څه نشته مګر دا چه دوی به کفر اختیاروی او د هر سرکش شیطان تابعداری به کوی او دا کفر دے او الله تعالیٰ د کافرانو سره مینه نهٔ کوی بلکه سزا به ورکوی۔

فوائد الآیة : (١) د اطاعت امر په قرآن کریم کی (١٤) کرته او ماده ئے (٤٠) کرته راغلے ده۔

(٢) په آیت کی د نبی کریم ﷺ عظمتِ شان (لوی شان) ذکر دے چه الله تعالیٰ ځان سره په خپل اطاعت کی شریك ذکر کړیدے داسے نورو ډیرو مقاماتو کی د نبی ﷺ نوم د الله تعالیٰ سره شریك ذکر کیږی چه هڅه قاضی عیاضؒ په خپل کتاب ((الشفاء)) کی ذکر کړیدی۔

(٣) آیت نه معلومه شوه چه لکه څرنګ قرآن کریم حق کتاب دے دغسے سنت د نبی کریم ﷺ هم حق دی۔

(٤) دا آیت دلیل دے چه د محمد (ﷺ) طریقے نه مخالفت کفر دے۔ ځکه چه الله تعالیٰ اُوفرمایل : که دوی اعراض اُوکړی نو الله تعالیٰ کافرانو سره مینه نهٔ کوی۔ دے نه معلومه

شوه چه د محمدي (ﷺ) طريقے نه اعراض كونكے كافر كيږي. او اعراض كول د كافرانو خوئي دے.

(٥) بيا اعراض په يو خو قسمه دے يو دا چه استخفاف السنة وكړي. يعني سنت طريقه ورته سپكه ښكاره شي، د هغے پورے استهزاء وكړي يا انكار وكړي نو دا په اجماع د مسلمانانو سره كفر دے، دويم دا چه په ټولو سنت طريقو هيڅ كله عمل نۀ كوي نو بيا حقيقي كافر دے. دريم ترك السنة. د سستئ يا د خواهش د وجه نه سنت پريښودل چه كله پرے عمل كوي او كله نۀ نو دا كفر نۀ دے بلكه د كافرانو خوئي دے، پدے سره بنده په ګناه كبيره كي داخليږي، دے ته فاسق وئيلے كيږي چه الله تعالىٰ ته ددے نه زر توبه ويستل پكار دي.

نو اعراض (١) على سبيل الانكار كفر دے (٢) اعراض عَلٰى سَبِيْلِ الْاِسْتِهْزَاءِ وَالْاِسْتِخْفَاف كفر دے. (٣) اعراض د ټولو نبوي سنتونو نه كفر دے. (٤) اعراض د بعض سنتونو نه په طريقه د كسل (سستئ) او د خواهش سره ګناه ده. (٥) اعراض په طريقه د پورته كولو د غير رسول په رسول ﷺ باندے هم كفر دے ﴿ فلا وربك لا يؤمنو﴾ پرے دليل دے.

(٦) **فائده** : مخكي آيت كي اتباع ذكر ده او دلته اطاعت. اتباع په افعالو كي استعماليږي او اطاعت غالباً په اقوالو كي. دا وجه ده چه د الله تعالىٰ په باره كي دا نۀ ده استعمال چه (اِتَّبِعُوا اللّٰهَ) (د الله تعالىٰ اتباع وكړئ) ځكه چه د الله تعالىٰ د فعل تابعداري څوك نشي كولے. بيا دلته ئے د قول په تابعدارئ حكم وكړو او مخكي د فعل په تابعدارئ. دليل دے چه د نبي عليه السلام د فعل تابعداري به هم كولے شي او د قول هم. مګر د هغه فعل تابعداري به ئے نۀ كوي چه د هغه پورے خاص وي لكه رسول الله ﷺ د څلورو نه زيات نكاحونه كړيدي، د هغه په خوب باندے اودس نۀ ماتيدو او د نورو مؤمنانو په خوب باندے اودس ماتيږي نو پدے كي به تابعداري نشي كيدے. بيا د قول تابعداري ډيره مضبوطه وي ځكه چه قول د نبي عليه السلام د امت دپاره قانون وي او اتباع د فعل كله فرض وي او كله سنت درجه كي وي او كله مستحب وي او كله مباح درجه كي وي چه پدے كي بيا ډير تفصيلات وي. ليكن دا خبره ياد ساتل پكار دي چه مؤمن به دے ته نۀ ګوري چه دا مستحب دي او كه واجب او كه فرض، بلكه د نبي عليه السلام حكم او عمل چه ثابت شو نو د هغے تابعداري پكار ده، صحابه كرامؓ كي دا خبره نۀ وه چه آيا پدے قول او فعل د نبي عليه السلام باندے عمل مستحب دے او كه فرض ؟ بلكه هغوي به عمل كولو.

إِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰى آدَمَ وَنُوحًا وَآلَ إِبْرَاهِيمَ وَآلَ عِمْرَانَ عَلَى الْعَالَمِينَ﴿۳۳﴾

یقیناً الله غوره کړیدے آدم، نوح او آل ابراهیم او آل د عمران (علیهم السلام په مخلوقاتو

تفسیر: ددے ځای نه روسته د انبیاؤ علیهم السلام واقعات ذکر کیږی۔ ددے آیتونو حاصل او ربط دا دے چه ددے ځای نه نقلی دلیلونه په توحید باندے او د انبیاؤ علیهم السلام واقعات بیانیږی۔ په اول آیت کی الله تعالیٰ یوه مقدمه ایښودے ده چه الله تعالیٰ بعض پیغمبران غوره کړیدی۔ بیا الله تعالیٰ د عمران ؑ د ښځے حَنَّه بنت فاقوذا واقعه راوړیده چه هغے د الله تعالیٰ نه نر بچے غوښتلے وو لیکن ښځه (مریم) ورکړے شوه بیا د مریم د پیدائش واقعه بیا زکریا ؑ د الله تعالیٰ نه بچے غوښتے دے او هغه پیدا شویدے بیا د مریم علیها السلام فضیلت ذکر دے او بیا د عیسیٰ ؑ پیدائش او د هغه نبی کیدل او بنی اسرائیلو ته رالیږل او هغوی ته دین بیانول او قوم ته د توحید دعوت ورکول او د قوم مخالفت او بیا د عیسیٰ ؑ آسمان ته خیژول ذکر دی۔ چه دا ټول واقعات ئے د رد د شرك دپاره راوړیدی چه عیسیٰ ؑ بنده دے، الله تعالیٰ ته په هر څه کی محتاج وو نو رد دے په نصاراؤ باندے او پدے واقعاتو سره مسئله د توحید ثابتوی کومه چه په اول سر د سورت کی ذکر شوه (الله لا اله الا هو الحی القیوم)۔ د عیسیٰ ؑ د عبدیت (بنده کیدو) پنځه ویشت دلیلونه ئے راوړیدی۔ ﴿إِذْ قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ﴾ نه۔ بیا د (۵۸) آیت نه روسته ئے تشبیه الغریب بالاغرب ورکړیده چه که تاسو عیسیٰ ؑ ته اله وایئ نو بیا خو آدم ؑ ته لوی اله وئیل پکار دی ځکه چه هغه ډیر ناشنا پیدا شویدے چه نهٔ ئے پلار شته او نهٔ ئے مور۔ او د عیسیٰ ؑ خو مور وه۔ نو که بی پلاره پیدا کیدل چرته د الوهیت نښه وی بیا خو آدم ؑ ته غټ اله ویل پکار دی؟!، نهٔ بلکه دا د الله تعالیٰ د قدرت نښبی دی چه الله تعالیٰ په عیسیٰ ؑ کی ښکاره کړیدی۔ نو پدے دلیلونو هغوی پو هه نشو نو روسته ورته د مباهلے دعوت ورکوی۔ ځکه چه څوك په دلیلونو نهٔ پو هیږی او انکار کوی نو هغوی ته ښیرے پکار دی بیا ئے قرآن کریم ته ترغیب ورکړیدے چه دا قرآن چه کوم بیان کوی دا حق دے، ددے نه انکار نهٔ دے پکار او د توحید تفریع ئے کړیده (وما من اله الا الله) سره او څوك چه ددے نه اوړی هغوی ته ئے زورنه ورکړیده، څوك چه د الله تعالیٰ نه سویٰ بل معبود ګنړی هغه مفسدان دی۔ دا خبرے به تر (۶۳) آیت پورے بیانیږی۔

۱- **ربط** ددے آیت د مضمون د سورت سره دا دے چه الله تعالیٰ یو ذات دے بل څوك معبود نشته او دا بندګان انبیاء علیهم السلام دی او آلهه نهٔ دی. دوی الله تعالیٰ ته په غوره والی کی محتاج دی، دوی الله تعالیٰ د رسالت دپاره غوره کړیدی نهٔ د الوهیت دپاره.
۲- نزدے آیت سره مناسبت دا دے چه مخکی د رسول تذکره وشوه نو اوس الله تعالیٰ د نورو رسولانو فضیلت بیانوی چه دا الله تعالیٰ غوزه کړیدی، یعنی ددے رسول پشان نور رسولان هم په خپلو خپلو زمانو کی تیر شویدی.
۳- یا دا چه مخکی د الله تعالیٰ د محبت تذکره وشوه اُوس هغه خلك ذکر کوی چه الله تعالیٰ ورسره مینه کړیده او د هغوی نه ئے هغه رسولان رالیږلی دی چه خلکو ته د الله تعالیٰ د محبت طریقے بیانوی چه هغه په الله تعالیٰ باندے ایمان راوړل او د هغه اطاعت کول دی. (المنار)
٤- او د موضوع د سورت سره ئے مناسبت دا دے چه کفر بآیات الله تعالیٰ ډیر انواع دی یو قسم کفر د انبیاؤ (علیهم السلام) په باره کی غلو کول دی خاصکر د عیسیٰ علیه السلام او د هغه د مور (مریم علیها السلام) په باره کی.

د اصطفاء مصداقات

اصْطَفٰی : د اِصطفاء معنیٰ مخکی سورتِ بقره ذکر ده یعنی د اُوچتو او غټو کارونو دپاره غوره کول. (۱) د اصطفاء یو مصداق دا دے : جَعَلَهُمْ آبَاءَ الْأَنْبِيَاءِ ـ دوی ئے د انبیاؤ (علیهم السلام) پلاران جوړ کړیدی، د آدم علیه السلام نه تول پیغمبران پیدا دی او خپله هم نبی وو او الله تعالیٰ په خپل لاس پیدا کړے وو او تعلیم د هر شی ئے ورته ورکړے وو. او د نوح علیه السلام نه هم عام پیغمبران پیدا دی، زمکے والو ته الله تعالیٰ اول رسول همدا رالیږلے دے د رد د شرك دپاره او د آل ابراهیم نه د هغه قبیله او نسل مراد دے یعنی اسماعیل او اسحاق او یعقوب او یوسف علیهم السلام، چه د دوی نه ئے انبیاء جوړ کړل او په آل ابراهیم کی نبی علیه السلام هم داخل دے ځکه چه دا هم د ابراهیم علیه السلام په اولادو کی دے او امام الانبیاء دے، ددهٔ نوم ئے ځکه ذکر نکړو چه دا د الله تعالیٰ په محبوب جوړیدو کی مشهور دے.
او د آل عمران نه مراد د هغه اولاد دی چه د دوی په اولادو کی عیسیٰ علیه السلام نبی راغلے دے او مریم پکی ولیّه وه. په داسے مقام کی د آل نه مضاف او مضاف الیه دواړه مراد وی. عمرانان دوه تیر شویدی یو د هارون او موسیٰ علیهما السلام پلار وو. دویم د مریم پلار وو

د دواړو مينځ کې اتلس سوه کاله تير شوي وو، دلته دواړه مراد کيدے شي، ځکه چه د هارون او موسىٰ عليهما السلام په اولادو کې هم ډير پيغمبران راغلي دي داود او سليمان عليهما السلام د دوي په اولادو کې وو. او مفسرينو ليکلي دي چه دواړه عمرانان پيغمبران دي مګر ظاهر دا ده چه دلته د مريم پلار مراد دے ځکه چه روستو د دوي واقعه راوړي. (المنار)

(۲) دويم مصداق : اِصۡطَفَاهُمۡ عَلَى الۡاِسۡلَامِ ـ يعني الله تعالىٰ دا انبياء عليهم السلام داسے غوره کړي وو چه د دوي دين ئے اسلام ګرځولے وو، نۀ يهوديت او نصرانيت او مجوسيت وغيره.

(۳) اِصۡطَفَاهُمۡ لِلرِّسَالَةِ ـ ددے دپاره ئے غوره کړي وو چه د الله تعالىٰ پيغامات د الله تعالىٰ بندګانو ته ورسوي او دا ډير لوي منقبت او صفت دے.

(٤) دارنګه د عبادت دپاره ئے هم غوره کړي وو، د امت د تربيت دپاره ئے غوره کړي وو.

الله تعالىٰ آدم او نوح عليهما السلام د نبوت دپاره غوره کړي وو، او آل ابراهيم او آل عمران ئے د تمام عالَم په مقابله کې چانړ کړي وو، په آل ابراهيم کې نبي کريم ﷺ په درجه اولىٰ داخل دے، ځکه چه هغه د ابراهيم عليه السلام د اولادو نه وو.

حافظ سيوطيؒ په خپل کتاب ((الاکليل)) کې ليکلي دي چه دا آيت ددے خبرے دليل دے چه انبياء عليهم السلام د ملائکو نه غوره دي ځکه چه ((العالمين)) کې ملائك هم داخل دي، او الله تعالىٰ انبياؤ عليهم السلام لره په (العالمين) باندے فضيلت ورکړيدے.

دے نه روستو الله تعالىٰ فرمايلي دي : چه دا خير او برکت د هغه په اولادو او نسل کې هم مسلسل جاري پاتے شو، په سړوکي هم او په ښځو کې هم.

ذُرِّيَّةً بَعۡضُهَا مِنۡ بَعۡضٍ وَاللّٰهُ سَمِيۡعٌ عَلِيۡمٌ ﴿۳٤﴾
اولاد دي، بعض د دوي د بعضو نه دي او الله اوريدونکے پوهه دے.

تفسير : يعني دا انبياء عليهم السلام اولاد دي چه بعضي د بعضو نه پيدا دي. ذُرِّيَّةً يو اولادو ته وائي، دارنګه ذريت نسل ته وائي.

بَعۡضُهَا مِنۡ بَعۡضٍ : (۱) يعني بعض د بعضو نه وو په نسل کې. (۲) دويم په دين کې يعني دوي د يو بل سره په دين کې مشابه وو چه هغه دين اسلام دے او توحيد دے او د يو

الله تعالیٰ بندګی ده او د هغه سره شریکان نهٔ جوړول دی۔ (۳) یا بعضها من بعض یعنی فِی الْخِلْقَةِ وَالْإِنْسَانِيَّةِ ۔ یعنی دوی د یو بل مشابه دی په انسانیت او پیدائش کی نو ځنګه یو ته اله وایئ نهٔ نورو ته؟! (٤) یا فِی الْإِجْتِبَاءِ وَالْإِصْطِفَاءِ وَالنُّبُوَّةِ۔

یعنی تول په غوره والي او نبوت کی د یو بل مشابه وو۔ (قرطبی)

قتادة فرمائی: أَیْ فِی النِّيَّةِ وَالْعَمَلِ وَالْإِخْلَاصِ ۔ (تفسیر ابی زمنین وابن ابی حاتم) (یعنی دوی په نیت او عمل او اخلاص کی د یو بل مشابه وو)۔

حکمة : نو ددے تشبیه فوائد دا دی (۱) یو اله جوړول لکه عیسیٰ علیه السلام او نور انسانان ګنړل تناقض دے په قول د نصاراؤ کی۔ (۲) دویم د ټولو دین یو دے چه هغه اسلام دے نو ولے اسلام پریدئ؟ (۳) دارنګه هغوی یو شان مخلصین وو نو تاسو ولے شرك کوئ ؟۔

سَمِيعٌ عَلِيمٌ : ددے دوه نومونو حواله ئے ورکړه پدے کی تصحیح د نیتونو او اقوالو او عقائدو ته دعوت دے۔

إِذْ قَالَتِ امْرَأَةُ عِمْرَانَ رَبِّ إِنِّي نَذَرْتُ لَكَ مَا فِي بَطْنِي
کله چه اووئیل ښځے د عمران اے ربه ! ما نذر کړیدے ستا دپاره هغه بچے چه په خیټه زما کی دے،
مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّي إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٣٥﴾
آزاد کړے شوے (د دنیا د کار نه) نو قبول ئے کړه زما نه یقیناً ته آوریدونکے، پوهه ئے۔

تفسیر : د مقدمے نه روستو اُوس مقصد ته راځي او واقعه د امرأةِ عمران علیه السلام ذکر کوی د وجه د مناسبت نه، عمران علیه السلام د بنی اسرائیلو مشر پیغمبر وو، د مریم پلار او د عیسیٰ علیه السلام نیکه وو، بیت المقدس کی وسیدو، دهٔ ته هم تورات ورکړے شوے وو هغه به ئے لوستلو، د خلکو تربیت به ئے کولو، وخت تیریدو نو په بنی اسرائیلو کی د دین خادمان کم شو او دا خپله بوډا شو، ددهٔ د ښځے حنه بنت فاقوذا حمل وشو نو دے وویل چه که چرته دا حمل الله تعالیٰ نر وخیژولو او زهٔ د الله تعالیٰ نه دا غواړم چه نر بچے مے وشی نو دا به د بیت المقدس او د دین د خدمت دپاره نذر وی۔ او په هغه زمانه کی به د دین د خدمت دپاره د هلکانو نذر کیدو، نهٔ د جینکو۔ بیا به دغه هلك د دنیا کار نهٔ کولو، زمونږ په دین کی داسے نذر نشته بلکه داسے کیدے شی چه یو تن خپل بچے د دین د خدمت دپاره وقف کړی بیا د دنیا کار هم ورسره کولے شی۔ نو ددے مقصد دا وو چه دا بچے به صرف او صرف دین

او د بيت المقدس او د هغے د علماؤ خدمت ته وزګار او فارغه وی او خپل خدمت به پرے نهٔ كوم، ځكه چه بيت المقدس ددين مدرسه وه۔

بعض تاريخي واقعاتو كى راغلى دى : محمد بن اسحاقؒ ليكى چه امرأة عمران (عليه السلام) يو مارغهٔ وليده چه خپل بچى ته ئے طعام وركولو نو ددے خواهش شو چه زما حمل وشى نو الله تعالىٰ ورله دعاء قبوله كړه بيا دے دغه نذر وكړو)۔ (قرطبى)

مُحَرَّرًا : أَيْ مِنْ مَشَاغِلِ الدُّنْيَا ۔ د دنيا د كارونو نه به آزاد وى۔ صرف د دين او د دين د مدرسے خدمت به كوى۔ او (مُحرر) صيغه ئے د مذكر راوړه ځكه چه ددے خواهش دا وو چه هلك پيدا شى۔

فوائد : ١- پدے واقعه كى د نصاراؤ په شرك باندے رد دے د ډيرو وجوهاتو نه، يو دا چه د مريم مور شته د هغے نه پيدا ده، نو الٰه نشى كيدے،

٢- مورئے د الله تعالىٰ ولىّه وه د الله تعالىٰ نه ئے نر بچے غوښتو الله تعالىٰ ورله پدے طريقه دعا قبوله نكړه بلكه جينئ ئے ورله وركړه، دليل دے چه اولياؤ كى دا طاقت نشته چه په الله تعالىٰ باندے په زوره كار وكړى بلكه الله تعالىٰ د خپل حكمت مطابق كار كوى۔

٣- مريم (عليها السلام) عابده وه معبوده نهٔ وه ځكه مورئے د عبادت او د دين د خدمت دپاره منتخب كړے وه۔ او مور به ئے د رب نه ددے د قبوليت دعا كوله نو د هغے مور خومره عاجزه وه۔

٢- **فائده** : (١) الله تعالىٰ داسے لطيف او مهربان ذات دے چه د زنانو خبرے هم آورى۔ (٢) د نيكانو خلكو سره د دين غم وى او دنيا پرست د دين او د دينى مدارسو او مراكزو پرواه نهٔ لرى۔ (٣) د نيك كار د قبوليت دپاره دعا كول پكار دى۔ (٤) او د نيكانو طريقه ده چه په خپلو عملونو يريږى چه قبول به شى او كه نهٔ۔ (٥) د دينى مراكزو او مدرسو خدمت كول ډير لوى عبادت او فضيلت دے ليكن ډير خلك ددے نه محروم دى۔

فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ إِنِّيْ وَضَعْتُهَا أُنْثٰى وَاللّٰهُ أَعْلَمُ
نو هر كله ئے چه ويږوله هغے لره، وے ويل اے ربه زما، يقينا ما وزيږوله جينئ او الله ښه پوهه دے
بِمَا وَضَعَتْ وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْأُنْثٰى
په هغے چه هغے وزيږوله او نهٔ دے نارينه (چه دے غوښتے وو) په شان د هغه جينئ (چه دے له وركړے شوه)

وَإِنِّي سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ وَإِنِّي أُعِيذُهَا بِكَ
او يقيناً ما نوم كيخودو دے له مريم او يقيناً زۀ پناهي غواړم دے لره په تا سره
وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ﴿۳۶﴾
او ددے اولادو لره د شيطان رټلي شوي نه۔

تفسير : عمران علیہ السلام بوډا وو نو وفات شو او ښځه ئے حامله وه نو د هغه د وفات نه روستو دا بچے پيدا شو نو ښځے ئے الله تعالىٰ ته شكايت وكړو چه اے الله !ما خو تا نه نر بچے غوښتے وو او تا راته مؤنث بچے راكړو، نو يو قسم خفګان او غم او افسوس ئے وكړو۔ او دا په الله تعالىٰ باندے اعتراض نۀ دے۔ يا دا كلام عذر پيش كول دى الله تعالىٰ ته چه اے الله ! ما د هلك نذر كړے وو او دا خو جينۍ پيدا شوه، دا به د بيت المقدس خدمت څنګه وكړى؟ نو ما معذوره وګنړه، تا ته عذر پيش كوم۔ (المنار)

فَلَمَّا وَضَعَتْهَا : هاء ضمير دغه (نفس) ته راجع دے۔

وَاللهُ أَعْلَمُ : دا يا د الله تعالىٰ كلام دے د جملے معترضے په طور۔ يعنى الله تعالىٰ ورله جينۍ څكه وركړه چه الله تعالىٰ ته د خپل علم او حكمت مطابق معلومه ده چه دے جينۍ كى څومره خير او بركت دے، اګركه دا پرے خفه ده۔ پدے كى بل قراءت د متكلم په صيغه (وَضَعْتُ) هم راغلے دے نو دا بيا ددغه بى بى كلام دے چه الله تعالىٰ پوهيږى په هغه بچى چه ما وزيږولو۔ اول قول زيات راجح دے څكه هغه قراءت مشهور دے۔

وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْأُنْثَىٰ : دا د چا قول دے ؟ (۱) يا د امرأةِ عمران قول دے يعنى نۀ دے نارينه په خدمت د دين كى په شان د زنانه څكه چه زنانه دومره خدمت د دين نشى كولے څومره چه هلك كوى، زنانه باندے خو حيض وغيره بيمارى راتلے شى او كمزورى وى، نو څكه مے درنه هلك غوښتے وو۔ (۲) يا دا قول د الله تعالىٰ دے : أَيْ لَيْسَ الذَّكَرُ الَّذِيْ طَلَبَتْ كَالْأُنْثَى الَّتِيْ وُهِبَتْ) نۀ دے هغه نارينه چه دے غوښتے وو په شان د هغه زنانه چه دے ته وركړے شوه۔ يعنى الله تعالىٰ به دے جينۍ كى ډير كمال اچوى چه نبى به ترے پيدا كيږى او د امت دپاره به يو عبرت ګرځى ﴿ وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُ آيَةً﴾ (المؤمنون : ۵۰) پدے كى اشاره ده چه د الله تعالىٰ په تقدير راضى كيدل پكار دى، الله تعالىٰ د بندګانو په كارونو ښه پوهه دے۔

اول قول غوره دے چه دا د امرأة عمران قول دے سیاق د آیت پرے دلیل دے، دارنگه هغے داسے مذکر نیك بچے غوښتے وو چه په هره طريقه غوره وی نو د مريم نه هم د هغے په گمان غوره وی۔

وَإِنِّيْ سَمَّيْتُهَا : ماشوم ته نوم کیښودل سنت طريقه ده اگرکه مړ پيدا شی خو چه په خيته کی ئے څلور میاشتی تیرے شوی وی۔ بيا ښه نومونه کيښودل پکار دی، او داسے نوم به هم نهٔ ايږدی چه په هغے کی ډير صفت وی لکه نبی ﷺ د (بَرّه) نوم کیښودو نه منع کړیده ځکه چه د بَرّه معنی ده نیك عمله۔ نو پدے کی د ځان صفت راځی، الله تعالیٰ ناراضه کیږی۔

مسئله : نوم که په اوله ورځ اږدی هم صحيح ده او که په اومه ورځ اږدی لکه په بخاری او سننو کې دا خبره موجود ده۔

وَإِنِّيْ أُعِيْذُهَا بِكَ : شيطان د انسان دشمن دے نو د الله تعالیٰ نه پناه طلب کوم چه دا او ددے اولاد د شيطان نه محفوظ وساتی۔ په حديث کی دی : مَا مِنْ مَوْلُوْدٍ يُوْلَدُ اِلَّا وَالشَّيْطَانُ يَمَسُّهُ حِيْنَ يُوْلَدُ فَيَسْتَهِلُّ صَارِخًا مِنْ مَسِّ الشَّيْطَانِ اِيَّاهُ اِلَّا مَرْيَمَ وَابْنَهَا) (بخاری٤٥٤٨) ۔

هر بچے چه پيدا کيږی نو په وخت د ولادت کی پرے شيطان چونډاره لگوی نو د هغے په وجه چغه ووهی سویٰ د مريم او د هغے د ځوی (عيسیٰ عليه السلام) نه۔ چه دا الله تعالیٰ محفوظ ساتلی دی ځکه چه هغے دپاره د خپلے مور حنه بنت فاقوذا دعا قبوله شويده۔

مُعتزِله فِرقه ددے حدیث نه انکار کوی چه ماشوم خو د شیطان په وسوسه نهٔ دے خبر بلکه ددے مطلب دا بیانوی چه ماشوم چه بلوغ ته ورسیږی نو د شیطان په وسوسه گمراه کیږی، زمخشری په "کشاف" کی ددے حدیث نه انکار کړیدے او ویلی ئے دی چه که داسے وی بیا خو به ټوله دنیا د آوازونو نه ډکه شی۔ (مرعاة المفاتیح)

قاضی بیضاویؒ هم ددے حدیث غلط مطلب بیان کړیدے۔ د دوی دا خبره د حدیث د الفاظو سره سمون نهٔ خوری، صحیح دا ده چه دا په وخت د پیدائش کی چونډاره ده پدے کی دے ته اشاره وی چه انسان کله پیدا شو نو د دوه دعوتونو مینځ کی راگیر دے، دعوة الرّحمن او دعوة الشیطان، او ددے نه انکار د حدیث نه انکار دے۔

دارنگه ماشوم باندے چونډاره ځکه لگوی چه شیطان مفسد دے۔

سوال: مریم خو پیدا شوے وه او دعا ئے روسته کړیده نو څنگه مخکی قبوله شوه؟ شیطان خو به په دغه وخت کی چونډاره لگولی وی، البته د عیسیٰ ﷺ په باره کی خبره

صحیح ده څکه هغه ددے دعا نه روسته پیدا شویدے؟۔

جواب : دعا د شرعی اسبابو نه ده او شرعی اسباب مخکی هم اثر کوی لکه ستا نیك عملی الله تعالیٰ ته معلومه وی چه صبا به دا شخص نیك عمل کوی نو نن دریاندے رحم وکړی، الله تعالیٰ ته پته وه چه د مریم مور به روسته دعا کوی نو مخکی نه ئے قبوله کړه۔

بیا نبی علیه السلام ددے چونډارے نه مستثنیٰ دے او که نهٔ؟ نو کیدے شی چه په نبی علیه السلام هم نهٔ وی لګیدلی، لیکن ظاهر د حدیث دا دے چه دا د مریم او د عیسیٰ علیهما السلام جزئی فضیلت دے او باقی ټولو ماشومانو باندے دا چونډاره لګیږی۔ او د جزئی فضیلت مطلب دا دے چه رسول الله ﷺ غوره دے په ټولو انبیاؤ علیهم السلام باندے لیکن په یو شی کی بل نبی په رسول الله ﷺ باندے غوره کیدے شی۔

فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُوْلٍ حَسَنٍ وَّأَنْبَتَهَا نَبَاتًا
نو قبوله کړه هغے لره رب د هغے په قبلولو ښائسته، او زرغونه ئے کړه هغے لره په زرغونولو
حَسَنًا وَّكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا
ښائسته سره او یو ځای ئے کړه دا د زکریا علیه السلام سره، هرکله چه داخل شو په هغے باندے زکریا علیه السلام
الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنّٰى لَكِ هٰذَا
عبادتخانے ته، وے موندل د هغے سره رزق، وے ویل : اے مریم! د کوم ځای نه دے ستا دپاره دا رزق؟
قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللهِ إِنَّ اللهَ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۳۷﴾
هغے وویل: دا د طرفه د الله نه دے، یقیناً الله رزق ورکوی چا له چه وغواړی بغیر د حساب نه۔

تفسیر : الله تعالیٰ دا جینئ په ډیر ښائسته قبلیدو سره قبوله کړه چه مخکی به جینئ د خدمت دپاره نهٔ قبلیده نو الله تعالیٰ ددے په نذر کی دا جینئ قبوله کړه او اجرئے هم ورته زیات ورکړو څکه چه مورئے ډیر په اخلاص سره دعا کړے وه او دا پاکه کورنئ وه، د نبی د شا نه پیدا شوے وه۔

مهایمیؒ وائی: قبول حسن دا هم دے چه دا به د الله تعالیٰ په ډیرو اولیاؤ باندے پورته وی۔

بِقَبُوْلٍ حَسَنٍ : دے کی اشاره ده چه قبلیدل کله په اعلیٰ درجه وی او کله په ادنیٰ درجه۔

وَّأَنْبَتَهَا نَبَاتًا : یعنی الله تعالیٰ به ورځ کی د میاشتی په مقدار او په میاشت کی د کال په

اندازه غتهوله۔ یا د عقل پوره والے مراد دے، الله تعالیٰ پکی هوښیارتیا واچوله، زر به په خبره پو هیدله او صحت ئے هم ښه کیدو۔ دارنګه نبات حسن دا دے چه ددے اولاد به د لوی انبیاؤ علیهم السلام نه ګرځوی۔ زمخشري وائی : چه رازرغونیدل مجاز دے د ښائسته تربیت او اصلاح ددینه۔ یعنی دا ئے په صلاحیت او پاکدامنئ او طاعت باندے رالویه کړه۔ (قاسمیؒ)

وَكَفَّلَهَا : دے کی ضمیر الله تعالیٰ ته راجع دے یعنی الله تعالیٰ ددے ذمه واری ورکړه زکریا علیه السلام ته، یا ذمه وار جور کړو الله تعالیٰ ددے زکریا علیه السلام۔ قتادهؒ ئے معنی کوی: ضَمَّهَا اِلَيهِ۔ یعنی الله تعالیٰ یو ځای کړه مریم د زکریا علیه السلام سره۔ (طبری)

امام بخاریؒ هم وائی : (وَلَيسَ هٰذَا مِنْ كَفَالَةِ الدُّيُوْنِ بَلْ هُوَ بِمَعْنَى الضَّمِّ) دا د قرضونو د ذمه وارئ په شان نهٔ وه بلکه کفالت دلته په معنیٰ د یو ځای والی سره دے۔ (بخاری : ٣٤٣٢)

هرکله چه مریم پیدا شوه نو ددے مور بیت المقدس ته بوتلله او د هغه ځای علماؤ ته ئے ووئیل: دُوْنَكُمُ النَّذِيرَةَ ۔ دا نذر شوے جینئ واخلئ او ددے تربیت وکړئ دا به ستاسو خدمت کوی۔ نو زکریا علیه السلام وویل چه دا به زهٔ واخلم ځکه چه ددے ترور (خاله) زما په نکاح کی ده، هغه به ئے تربیت کوی۔ نورو خلکو ورسره ونهٔ منله چه که دا ئے تا له درکولے نو بیا ئے مسجد ته ولے راوستله، یا دا چه دا زمونږ د عالِم لور ده، هریو ددے په خدمت کی اجر ګټل و نو پدے باندے ئے قرعه وکړه الله تعالیٰ ورته طریقه وښودله چه تاسو قلمونه تیار کړئ او اُوبو کی ئے واچوئ د چا قلم چه بره لاړو هغه به ئے تربیت کوی۔نو د زکریا علیه السلام قلم نیغ ودریدو او بره راوختلو، داد هغه معجزه وه نو هغه ئے حقدار شواو پدے کی حکمت هم دا دے چه زکریا علیه السلام پیغمبر دے، دا جینئ چه د نبی کور ته لاړه شی نو تربیت به ئے ښه وشی، د نبی کور د دین مدرسه وی۔ (القرطبی ٨٦/٤)

دویمه دا چه ترور په منزله د مور وی لکه دا خبره په حدیث کی راغلے ده : (اَلْخَالَةُ بِمَنْزِلَةِ الْأُمِّ) (خاله په شان د مور وی) (بخاری : ٢٦٩٩) نو داسے شوه لکه چه د مور کور ته لاړه او نبی د پلار په شان وی۔ دارنګه امن هم پکی شته، نو ځکه ئے دا مستحق شو۔ نو زکریا علیه السلام ورله مسجد کی یو ځای عبادت خانه جوړه کړه هلته به ئے خوراك څكاك او د الله تعالیٰ بندګی کوله۔

کلما دخل: زکریا علیه السلام چه به کله مریم ته ډوډئ وروړله نو د هغے سره به ئے رزق وموندلو تپوس به ئے ترے وکړو چه دا د کوم ځای نه راځی؟ هغے به ویل دا د الله تعالیٰ د طرفه دے۔ د

(كلما) نه معلوميږي چه دا رزق به بار بار راتللو۔
الْمِحْرَابَ: مبرّدؒ وائي : اَلْمَكَانُ الْمُرْتَفِعُ الَّذِيْ يُصْعَدُ اِلَيْهِ بِدُرَجٍ) هغه اوچت ځاى چه خلك ورتـه په پوړئ خيژي. دے دپاره ئے هم داسے اُوچت ځاى جوړ كړے وو چه د عامو خلكو نظر پرے نهٔ لگي۔ محراب بيا مكانُ الْمُحَارَبَه (ځاى د جګړے) ته وئيلے شي، عبادت خانے ته هم محـراب پـدے وجـه وائي چه پدے كي د شيطان او خواهش سره جګړه وي۔ په مسجدونو كـي دننـه چه كوم محراب وي هغه هم د شيطان د جګړے ځاى دے، په هغه زمانه كي به د هر عابد ځانله عبادت خانه وه او مشترك عبادتخانه ئے هم وه لكه بيت المقدس۔
زمـونـږ پـه دين كي محرابونه جوړول په سنت كي نهٔ دي راغلي د نبي ﷺ په دَور كي به پـه مسـجد كي لرګے كيخودلے كيدو د محراب په ځاى بانديے په ديوال كي لكه ددے په باره كـي پـه مـجـمـع الـزوائد كي حديث دے۔ دا محاريب روسته د عمر بن عبد العزيزؒ په زمانه كـي جـوړ شـويـدي، كـه دا خـوك ديـن ګنړي نو بيا بدعت دے، ددے د وجـه نـه عبد الله بن مسعود ﷺ بـه ويـل چـه خـوك پـه مـحراب كي دننه ودريږي نو دا مكروه كار دے، د يهودو سره مشابهت دے۔ (مجمع الزوائد رقم الحديث :١٩٨٢ قال ورواه البزار ورجاله موثقون ٢/٢٥)
او كـه هسـے د نښـے دپـاره وي نـو بيـا بـه بـدعت نهٔ وي بلكه رواج دے او بيا پدے بانديے ډير مالونه لګول اسراف دے۔

د كرامت تشريح

عِنْدَهَا رِزْقًا : دا د مـريـم (عليها الرضوان) كرامت وو، چه هغے ته به د اُوړي ميوے په ژمي كـي او د ژمـي مـيـوے پـه اُوړي كـي مـلاويدے، او كرامت د اولياؤ حق دے او دا د اهل سنت والـجـمـاعـة مسـلـك دے او ددے نـه بـعـض جـاهـلان اومـعـتزله انكار كوي۔ بيا اهل السنة والـجـمـاعـة وائي چه كرامت د يو ولي د ايمان راښكاره كولو او د هغه د ايمان د مضبوطولو دپـاره الله تـعـالـىٰ د هـغه د اختيار نه په غير د هغه نه ښكاره كوي۔ په ژوند كي چه كرامت ښـكـاره شـي نـو مـقـصـد پـكـي د ولـي ايـمـان مضبوطول وي، دا وجه ده چه دچا ايمان ډير مضبوط وي نو د هغه نه ډير كرامتونه نهٔ ښكاره كيږي لكه د صحابه كرامو كرامتونه كم وو ځـكـه چـه ايـمـان ئے ډير مضبوط وو نو كرامت ته ئے حاجت نهٔ وو، او پس د مرګ نه چه ښـكـاره شـي نـو خلكو ته د هغه نيك عملي او عزت ښكاره كول مقصد وي دے دپاره چه خـلـك د هـغـه اقـتـداء وكـړي لـكـه د اَصحمه (نجاشي) بادشاه د قبر نه به رڼا ختله او د ډيرو

نیکانو د قبرونو نه خوشبوئی ختلے ده۔ کرامت د ولی په اختیار کی نۀ وی، مشرکانو د کرامتونو والو نه آلهه او معبودان جوړوی دا شرك دے۔

د صحابه کرامؓ نه هم کرامتونه د تابعینو په نسبت کم ښکاره شویدی لکه د امسا نه ئے رڼا ختلے ده، د طعام تسبیح ئے آوریدلے ده، د عمر ﷺ آواز (یَا سَارِیَةُ الْجَبَلَ) چه دا آواز غائبانه ساریه ته رسیدلے وو۔ د علاء حضرمی دعا قبوله شویده چه اے الله! په مونږ باران وکړه سمدست باران شویدے۔ ام هانئ رضی الله عنها په روژه کی تږے وه نو د آسمان نه ورله بوکه راغلے وه هغه ئے څکلے وه، ابوامامه ﷺ ته خلکو اُوبه نۀ ورکولے نو په گرم میدان کی وده شو چه راپاڅیدو نو په خوب کی ئے د جنت اُوبه څکلے وے او په هغے موړ شوے وو چه بیا ئے گرمی هم نۀ کیدله، سفینه ﷺ ته زمری لاره ښودلے وه او خپلو ملگرو ته ئے رسولے وو۔ (انظر الفرقان لابن تیمیهؒ ص:۲۸۸)

شیخ الاسلامؒ په دغه کتاب کی د صحابه کرامو ډیر کرامتونه ذکر کړیدی هغه وگورئ۔

او په تابعینو کی کرامتونه زیات وو ځکه چه د دوی اعمال زیات وو او نبی ﷺ ئے نۀ وو لیدلے او روستو زمانه کی به هم زیات وی کرامتونه اکثر د هغه خلکو نه زیات صادریږی چه د هغوی نیك عملونه او عبادتونه زیات وی، او ساده مزاج والا وی، د بے ځایه خبرو نه ځان ساتی او ذکر ډیر کوی۔

کرامت بیا ډیر صورتونه لری، دعا سمدستی قبوله شی، په لږ وخت کی ډیر کار وشی، په لږه ډوډئ باندے ډیر خلك ماړۀ شی۔

مشرکان چه د چا نه کرامت وینی نو د هغه نه معبود او اله جوړ کړی حال دا چه د کرامت مقصد دا دے چه الله تعالیٰ په یو بنده کی خپل قدرت راښکاره کوی دے دپاره چه خلکو ته دا دعوت شی چه اے بندگانو! تاسو وگورئ فلانے زما بندگی کوی زۀ ورله څنگه عزت ورکوم، نو تاسو هم زما عبادت وکړئ او پدے کی د دغه بنده عزت هم ښکاره شی او ایمان ئے هم مضبوط شی۔

د معجزے، کرامت او سحر فرق

بیا یوه معجزه ده او بل کرامت۔ په معجزه کی د نبوت دعوه شرط ده او په کرامت کی د ولایت دعوه نۀ ده پکار۔ بل د معجزے ښکاره کول لازم دی او د کرامت پټول پکار دی۔

بیا سحر په اسبابو استعمالولو سره وی څه ذکرونه او طریقے به وکړی نو اثر به وشی۔او

معجزه او کرامت د اسبابو د استعمال نه بغیر وی۔

د صوفیاؤ گمراهی

ابن عربی (چه دے ته صوفیاء خاتم الاولیاء وائی) ویلی دی چه ولی د نبی نه غوره وی ځکه چه ولی په غیر د واسطے نه د الله تعالیٰ نه اخذ (اخستل) کوی او نبی خو د جبریل علیه السلام واسطے ته ضرورت لری۔ دا سو چه دروغ دی۔ ځکه چه الله تعالیٰ ته په غیر د اتباع د رسول الله ﷺ نه رسیدل ممکن نهٔ دی مخکی آیت تیر شو ﴿إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ﴾ د رسول الله ﷺ د تابعدارئ واسطه ضروری ده۔ یو انسان د نبی په تابعدارئ سره ولی کیږی۔

بایزید بسطامی به دا دروغ وئیل: نَحْنُ دَخَلْنَا الْبَحْرَ الْخِضَمَّ وَقَفَ الْأَنْبِيَاءُ عَلٰى سَوَاحِلِهٖ) (الفکر الصوفی) (مونږ د دریاب مینځ ته داخل شوی یو چه انبیاء علیهم السلام د هغے په غاړه ولاړ دی)۔ اولیاء ئے په انبیاؤ (علیهم السلام) باندے پورته کړیدی، دا د صوفیت حقیقت دے۔

أَنّٰى لَكِ هٰذَا: یعنی دا د کوم ځای نه راغلل؟ ددے دا مطلب نهٔ دے چه گنے مریم د زکریا علیه السلام نه غوره وه، نهٔ بلکه زکریا علیه السلام ته چه الله تعالیٰ کوم معجزات او کرامتونه ورکړی دی هغه ډیر دی، او مریم ته چه دا رزق راتللو دا هم د زکریا علیه السلام په تابعدارئ او د الله تعالیٰ په بندگئ سره، نو پدے کی ضمناً د زکریا علیه السلام کمال دے۔

مِنْ عِنْدِ اللهِ: هر هغه شے چه ظاهری سبب ئے نهٔ وی مؤمنان د هغے نسبت الله تعالیٰ ته کوی۔

بِغَيْرِ حِسَابٍ: هر هغه رزق چه د کرامت او د تقویٰ په وجه حاصل شی هغه بی حسابه وی۔ د متقیانو رزق بی حسابه، بے گمانه وی، چه الله تعالیٰ ورسره صحت هم ښه کوی او د عبادت توفیق هم ورکوی۔

د فاطمے رضی الله عنها قصه

دا قسم جواب فاطمة الزهراء رضی الله عنها هم کړے وو لکه ابو یعلی او ابن کثیر روایت نقل کړیدے چه رسول الله ﷺ باندے لوږه وه نو فاطمے کره لاړو، هغے وویل: هیڅ نشته، لږ روسته دے ته گاونډئ دوه ټیکلی او یوه ټکړه غوښه راولیږله نو هغے حسن او حسین رسول الله ﷺ پسے ولیږل هغه چه راغلو، فاطمے د کاسے نه سر لرے کړو وے کتل چه

کاسه د غوښې او ډوډۍ نه ډکه ده نو حيرانه شوه او ورته معلومه شوه چه دا د الله تعالیٰ د طرفنه برکت دے نو هغې الحمد لله او درود ووېلو بيا ئے رسول الله ﷺ ته وړاندے کړه نو رسول الله ﷺ هم الحمد لله ووېله بيا ئے ترے تپوس وکړو؟ (مِنۡ أَيۡنَ لَكِ هٰذَا يَا بُنَيَّةُ؟) اے لورے! دا د کوم طرفنه راغلل؟ هغې ووېل: (يَا أَبَتِ هُوَ مِنۡ عِنۡدِ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ يَرۡزُقُ مَنۡ يَّشَاءُ بِغَيۡرِ حِسَابٍ) نو رسول الله ﷺ د الله تعالیٰ حمد ووېلو او وې فرمايل: (اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡ جَعَلَكِ -يَا بُنَيَّةُ شَبِيۡهَةً بِسَيِّدَةِ نِسَاءِ بَنِیۡ اِسۡرَائِيۡلَ) الله تعالیٰ لره حمد دے چه ته ئے د بنی اسرائيلو د زنانو د سردارے سره مشابه کړے چه هغې ته به الله تعالیٰ کوم رزق ورکړو او تپوس به ترے وشو نو دغه جواب به ئے کولو چه (هُوَ مِنۡ عِنۡدِ اللهِ) دا د الله تعالیٰ د طرفنه دے۔ (مسند ابی يعلی كما فی المطالب العالية لابن حجر (٤/٧٤) وفی اسناده عبد الله بن صالح متكلم فيه وابن لهيعة ضعفه الجمهور)۔

فائده: امام شعرانیؒ په "يواقيت" کی د ابو الحسن الشاذلی رحمه الله نه نقل کړيدی چه مريم ته به اول په غير د سبب نه رزق راتلو دے دپاره چه ايمان او يقين ئے مضبوط شی، ليکن کله ئے چه ايمان مضبوط شو نو بيرته سبب ته واپس شوه او هغې ته ووېل شو: ﴿وَهُزِّیۡۤ اِلَيۡكِ بِجِذۡعِ النَّخۡلَةِ﴾۔ خوزوه خان طرفته ستنه د کجورے) (قاسمی)

هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهٗ قَالَ رَبِّ هَبۡ لِیۡ
په دغه ځای کی دعا اوکړه زکريا علیه السلام د خپل رب نه، وې وئيل اے ربه زما! اوبخه ما ته
مِنۡ لَّدُنۡكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً اِنَّكَ سَمِيۡعُ الدُّعَآءِ ﴿۳۸﴾
ستا د طرف نه بچے پاك يقيناً ته قبلونکے د دعاء ئے۔

تفسير: دا قانون دے: اَلۡحَدِيۡثُ يُذۡكَرُ بِالۡحَدِيۡثِ۔ يوه خبره بله خبره رايادوی نو د زکريا علیه السلام اولاد نهٔ کيدل د بوډاوالی د وجه يا ظاهر دا ده چه د مخکی نه ئے نر بچے نهٔ وو پيدا شوے نو دهٔ ووېل چه الله تعالیٰ بے اسبابه، بے موسمه ميوے او رزق راوړے شی نو ماته د بچی (ميوه) په بوډاوالی کی هم راکولے شی نو د الله تعالیٰ نه ئے اولاد طلب کړل۔

۲- دے ته مسئله د (عَدَمُ التَّوَجُّهِ اِلٰی شَیۡءٍ مَشۡهُوۡرٍ) وائی۔ يعنی کله يو مشهور شی ته انسان توجه نهٔ وی او ددے مطلب دا نهٔ دے چه د زکريا علیه السلام مخکښ د اولاد په پيدا کيدو يقين نهٔ وو او اوس پيدا شو بلکه توجه ئے نهٔ وه، اوس ئے توجه پيدا شوه۔

هُنَالِكَ : ددې درې معاني دي : (۱) په دغه وخت کې چه خبره ورته رایاده شوه نو دا دعائے وکړه۔ (۲) یا په دغه ځای (محراب) کې۔ (۳) کله هنالك په معنیٰ د (مِنْ ثَمَّ) سره راځي یعني د دغه وجه نه چه ددۀ نر بچي نۀ وو نو دعاء ئے وکړه۔ لکه سورة مریم کې راځي چه ددۀ بچے طلب کړو چه زما د نبوت میراث او د یعقوب علیه السلام د اولادو میراث د نبوت پورته کړي۔ (اتقان للسیوطی)

فوائد او حکمتونه

۱ – دا واقعه ئے په مینځ کې راوړه پدے کې د الله تعالیٰ د قدرت اظهار دے چه الله تعالیٰ داسے قادر ذات دے چه په بوډاوالي کې هم بچي ورکولے شي۔

(۲) الله تعالیٰ د خپلو بندګانو او انبیاء علیهم السلام او صالحینو دعا آوري او هغه ورله قبلوي، کله د چا دعا براهِ راست قبوله کړي، کله دعا په بله طریقه قبوله کړي لکه د مریم د مور دعائے د نر بچي په باره کې قبوله نکړه بلکه جینۍ ئے ورکړه د خپل حکمت موافق۔ او پدے کې دے ته هم اشاره ده چه د ولي نه د نبي شان ډیر اُوچت وي نو ځکه ئے زکریا علیه السلام ته همغه نر بچے ورکړو۔ (۳) په بوډاوالي کې اولاد ورکول د الله تعالیٰ د قدرت نښه ده نو دغه شان عیسیٰ علیه السلام بې پلاره پیدا کول هم د الله تعالیٰ د قدرت نښه ده، دا د هغه معبود کیدو دلیل نۀ دے، که معبود کیدے نو بیا خو زکریا علیه السلام کې هم د الله تعالیٰ قدرت رابښکاره شویدے نو آیا هغه پدے کار اله شو!؟، نۀ نۀ دے اله نو دغه شان عیسی علیه السلام هم اله نۀ دے او نۀ کیدے شي نو په نصاراؤ هم رد شو۔

(٤) پیغمبران الله تعالیٰ ته محتاج وي، خپل ځان له اولاد نشي ورکولے نو مشرکانو ته به ئے څه ورکړي چه دوی اولیاؤ ته بې ځایه د رامدد شه آوازونه کوي۔

(٥) او پدے کې الله تعالیٰ مونږ ته د انبیاؤ (علیهم السلام) د دعاګانو چل او طریقه رابښودلے ده، چه د رب نه ئے دعا طلب کړیده او د الله تعالیٰ نومونه ئے هغه ته وسیله کړیدي او خپل عبادت او عاجزي ئے الله تعالیٰ ته پیش کړیده، (نداء خفیا) ئے کړیده۔

زَكَرِيَّا : دا عجمي لفظ دے په معنیٰ د (تَذْكَارُ الرَّبّ) د رب یادولو سره۔ (قاسمیؔ)

طَيِّبَةً : یعني داسے اولاد چه اخلاق او اعمال ئے پاك وي، ستا تابعدار وي، ځکه چه خاص خلك همداسے طلب کوي او ظاهري ښائست نۀ دے مراد۔ او هغه هم پکې داخلیدے شي لکه د سورة مریم (٦) آیت نه معلومیږي: ﴿ وَاجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا﴾۔ اے ربه ! دا پسند (غوره) وګرځوه، چه ستا په نیز غوره وي)۔

سَمِيْعُ الدُّعَآءِ : ای مُجِيْبُهٗ۔ يعنی تهٔ د دعا قبلونکے يې۔ دا ئے وسیله الله تعالیٰ ته پیش کړه، نو الله تعالیٰ ورله سمدست دعا قبوله کړه، ملائك ورله راغلل۔

فائده : نیکان بچی غوښتل د انبیاء علیهم السلام سنت دی او د اولادو پیدا کول په شرع کی یو مقصد دے نو ځکه د اولادو بندول گناه ده۔

فَنَادَتْهُ الْمَلآئِكَةُ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّيْ فِي الْمِحْرَابِ
نو آواز اوکړو دهٔ ته ملائکو او دے ولاړ وو مونځ ئے کولو په عبادت خانه کی،
أَنَّ اللّٰهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيٰى مُصَدِّقًا بِكَلِمَةٍ مِنَ اللّٰهِ
يقيناً الله زيرے درکوی تا ته په يحيیٰ سره چه تصديق کونکے دے په کلمه د الله د طرفه نه
وَسَيِّدًا وَحَصُوْرًا وَنَبِيًّا مِنَ الصَّالِحِيْنَ ﴿۳۹﴾
او سردار به وی او بند کړے شوے به وی او نبی به وی د نیکانونه۔

تفسير : الملائکة ئے جمع راوړه جنس مراد دے يعنی جنس ملائك ورته آواز وکړو چه هغه جبريل عليه السلام دے۔ يا جمع ئے راوړیده د عزت د وجه نه۔ او دا احتمال هم شته چه د جبريل عليه السلام سره نور ملائك هم وی ځکه چه دا بشارت ډیر عظیم وو کما قال ابن جرير ونقله صاحب المنار (المنار۳/۲۴۴)

يُصَلِّيْ : انبیاء علیهم السلام خپل حاجتونه په مانځه پوره کوی او ددے نه معلومیږی چه انبیاؤ (علیهم السلام) ته وحی په مانځه کی هم کیږی او دا منافی د مانځه سره نهٔ وی، نبی عليه السلام ځیلو سره مونځ کولو، جبريل عليه السلام ورته په مانځه کی ووئیل چه ځیلیٔ وباسه پدے کی گندگی ده نو هغه زر ویستلے۔ او اشاره ده چه دے انبیاؤ (علیهم السلام) ته چه دا کرامتونه ورکړے شویدی نو دا د الله تعالیٰ په بندگیٔ سره، خپله بندگی به ئے وسیله کوله۔

فائده : په خشوع والا مونځ کی په انسان ډیر علمونه او حکمتونه راکولاویږی لکه غزالیؒ وئیلی دی۔

يُبَشِّرُكَ : په دین کی بشارت شته چه چا ته یوه فائده ورسیږی او تهٔ هغه ته زیرے ورکړے لکه د علم او د حج او د بچی زیرے ورکړی۔ زیری ورکونکی ته تحفه ورکول پکار دی لکه کعب بن مالك رضی الله عنه زیری والا ته خپله جامه ورکړه۔ (بخاری وریاض الصالحین

او الادب المفرد للبخاري کې باب البشارة واعطاء البشير) راغلي دي۔

بِيَحْيٰى : دا په عبرانۍ ژبه کې (یوحنا) دے په معنیٰ د نِعْمَةُ الرَّب سره راځي۔ (د الله نعمت)۔ (قاسمي) او عربي کې ئې معنیٰ ده (يحيىٰ) هغه سړے چه ژوندے کيږي۔ يعنې الله تعالیٰ ورله زړه ژوندے کړیدے او دین به په دهٔ سره ژوندے کوي۔

۲- أَحْيَا قَلْبَهُ بِالْإِيْمَان وَالنُّبُوَّةِ ۔ (قتاده) يعنې زړه ئې ورله په ايمان او نبوت باندے ژوندے کړے وو۔ (۳) لِأَنَّ اللهَ أَحْيَا بِهِ النَّاسَ بِالْهُدٰى ۔ (الله تعالیٰ په دهٔ سره خلك د هدايت په وجه ژوندي کړيدي۔ (٤) لِأَنَّهُ أُحْيَا بِهٖ رَحِمَ أُمِّهٖ۔ (قرطبي)

الله تعالیٰ په دهٔ سره ددهٔ د مور رحم ژوندے کړے وو۔

بِكَلِمَةٍ مِنَ اللهِ : ددے يو مصداق تورات دے چه د تورات تصديق به کوي۔ دويم دکلمه نه مراد عيسىٰ عليه السلام دے چه د هغه تصديق به کوي چه دا حق نبي دے۔ دواړه په يوه زمانه کې وو دواړو به د يو بل صفتونه کول، او عيسىٰ عليه السلام د يحيىٰ عليه السلام د ترور د لور ځوی وو۔ لکه دا خبره ابن اسحاق او ابن جرير کړيده۔ او په حديث کې دي : (وهما ابنا الخالة) دواړه د ترېندو ځامن وو۔ (بخاري : ۳۸۸۷)

ليکن پدے کې به تاويل وکړے شي هغه داسے چه عرب په خپل کلام کې توسع (فراخي) کوي، د ترور د لور ځوی ته هم د ترور ځوی وائي۔ (ابن کثير)

او د عيسىٰ عليه السلام تصديق خو ټول مسلمانان کوي نو د يحيىٰ عليه السلام تخصيص ئې وکړو نو يا خو مطلب دا دے چه د ټولو خلکو نه مخکې به ئې يحيىٰ عليه السلام تصديق کوي (۲) يا دا چه په ماشومتوب کې به ئې تصديق کوي لکه الله فرمائي : ﴿ وَآتَيْنٰهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا﴾ (مريم : ۱۲) او مونږ يحيىٰ عليه السلام ته د ماشوم توب په حالت کې نبوت يا د فيصلو علم ورکړے وو۔

(۳) يا پدے کې تعريض دے په مخالفينو د توحيد باندے چه يحيىٰ عليه السلام د بي بي مريم او د عيسىٰ عليه السلام د برکاتو نه دنيا ته راغے خو په دواړو باندے ئې د بندګانو عقيده لرله، نهٔ د معبودانو نو که بالفرض کرامات او خوارق د اُلوهيت دليل وے نو بيا پکار وه چه يحيىٰ عليه السلام پرے اول دا عقيده ساتلے وے۔ (عزيز التفاسير باختصار)

د سيد معاني

وَسَيِّدًا : (سردار) ددے ډيرے معاني دي : (۱) اَلْكَرِيْمُ الشَّرِيْفُ ۔ هغه انسان چه عزتمند شرافت والا وي۔ (۲) اَلْمَرْجُوْعُ اِلَيْهِ فِي الدِّيْنِ ۔ هغه انسان چه خلك ورته په دين کې رجوع کوي، په دين باندے ورله الله تعالیٰ پوهه ورکړې وي پدے معنیٰ باندے علماء سيدان دي۔

(۳) اَلَّذِیْ لَایُشَارِكُ فِی اللَّهْوِ وَاللَّعِبِ۔ هغه انسان چه د خلکو سره په تماشو او لوبو کی شرکت نهٔ کوی۔ یحییٰ علیه السلام ته ماشومانو په وړوکوالی کی ووئیل : راشه مونږ سره لوبی وکړه۔ هغه وویل : مَا خُلِقْنَا لِهٰذَا۔ مونږ دے له نهٔ یو پیدا شوی۔
(٤) حَسَنُ الْخُلُقِ۔ ښائسته اخلاقو والا۔ (٥) اَلْفَقِیْهُ فِی الدِّیْنِ۔ په دین باندے پو هه۔
(٦) سعید بن جبیر رحمه الله فرمائی : اَلَّذِیْ یُطِیْعُ رَبَّهٗ۔ هغه انسان چه د خپل رب طاعت کوی۔ (٧) اَلْجَوَّادُ۔ سخی انسان۔ ظاهر دا ده چه د سرداریٔ او مشریٔ دپاره دا ټول صفتونه ضروری دی او دا ټول په یحیی علیه السلام کی وو۔
(٨) سَیِّدًا فِی الْعِلْمِ وَالْعِبَادَةِ وَالْوَرَعِ) په علم او عبادت او پرهیزګاریٔ کی سردار وو۔ (قتاده)
(٩) اَلَّذِیْ یَفُوْقُ فِیْ جَمِیْعِ خِصَالِ الْخَیْرِ۔ هغه شخص ته وائی چه د خیر په ټولو خصلتونو کی د خلکو نه پورته وی۔ (تفسیر الخازن ۲٤۲/۱) وابن کثیر)
(١٠) وَقِیْلَ : اَلتَّقِیُّ الَّذِیْ لَایَغْلِبُهُ الْغَضَبُ) دا هغه متقی ته وائی چه غصه پرے غلبه نهٔ کوی۔ (عکرمهؒ) (ابن کثیر)
(١١) جُنید وائی : اَلَّذِیْ جَادَ بِالْکَوْنَیْنِ عِوَضًا عَنِ الْمُکَوِّنِ۔ هغه شخص چه دنیا او آخرت ئے د الله تعالیٰ په بدله کی سخا کړی وی۔ یعنی دنیا او آخرت ئے د الله تعالیٰ په بدله کی پریښی وی او الله تعالیٰ ئے اخستے وی لیکن دا د صوفیاؤ اصطلاح ده، صحیح نهٔ ده ځکه چه مؤمن دپاره د جنت طلب هم ضروری دے، جنت یوائے ډوډیٔ او خواهشاتو ته نهٔ وائی بلکه هلته الله تعالیٰ هم ملاویږی۔

د حصور معانی

وَحَصُوْرًا : دا د حصر نه دے په معنیٰ د بندش سره نو یا په معنیٰ د محصور سره دے یعنی بند کړے شوے، یا په معنیٰ د حاصر سره دے یعنی ځان د شهواتو نه بندونکے۔ ددے مصداق یو دا دا دے :

(١) دا هغه شخص ته وائی چه د الله تعالیٰ د طرف نه د شهوت نه بند کړے شوے وی او د زنانو طاقت نهٔ لری، دا معنیٰ صحیح نهٔ ده ځکه چه چا ته شهوت نهٔ وی ورکړے شوے او د شهواتو نهِ ځان بندوی نو دا کمال نهٔ دے، د شهوت سره ځان بندول کمال دے۔ دویمه وجه دا ده چه انبیاء علیهم السلام ته د عیبونو نسبت کول نقصان دے، ځکه چه د انبیاؤ علیهم السلام شان او منصب ډیر اوچت دے ددینه چه هغوی ته د نقصان نسبت وشی۔ بیا د خلکو د نظر نه سپك راځی۔ (٢) غوره معنیٰ دا ده چه بند وو د شهواتو نه سره د طاقت د

هغه نه. یعنی ځان ئے منع کړے وو، او خپل انساني قوتونه ئے د خپل کنټرول لاندے روستي وو او عفت ئے دومره قوي وو تا به ویل چه د نزدیکت هیڅ قوت نهٔ لري. او په بني اسرائیلو کې واده نکول بهتر وو دا وجه ده عیسیٰ علیه السلام وادهٔ نهٔ وو کړے. او ددے معنیٰ ډیرے قرینے دي، یو دا چه مخکنۍ معنیٰ د نبوت سره مناسبه نهٔ ده، دویم دا چه زکریا علیه السلام د الله تعالیٰ داسے ماشوم غوښتے وو چه د نسل قابلیت لري ځکه چه ﴿ ذرية طيبة﴾ (مبارك نسل) سره ئے ترے تعبیر کړے وو نو معلومه شوه چه په یحیی علیه السلام کې د نارینتوب صفت کمزورے نهٔ وو. دریم دا چه په سورة مریم (۱۳) آیت کې الله تعالیٰ د هغه په صفت کې داسے تعبیر کړیدے ﴿ وَكَانَ تَقِيًّا﴾ یحیی علیه السلام تقویٰ دار وو.

لیکن شیخ البانیؒ یو حدیث راوړیدے په صحیحه (۲۹۸٤) (۱۲۰٦/٦) او ابن کثیر (۳۵/۲) کې هم راوړیدے د عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما نه چه په هغے کې دا دي چه رسول الله ﷺ د یحیی بن زکریا علیهما السلام تذکره وکړه بیا ئے وفرمایل: (ثُمَّ أَخَذَ شَيْئًا مِنَ الْأَرْضِ فَقَالَ: اَلْحَصُورُ مَا كَانَ ذَكَرُهُ مِثْلَ ذِي) . یعنی بیا ئے د زمکے نه یو ډکے راواخستو او وے فرمایل چه حصور هغه شخص ته وائي چه د هغه د سړی توب آله داسے وي او اشاره وکړه یحیی بن سعید القطان په طرف د مسواکۍ ګوتے سره. (ابن ابی حاتم)

او د طبری او ابن عساکر په روایت کې دي: (ثُمَّ دَلّٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَدَهُ إِلَى الْأَرْضِ وَأَخَذَ عُوْدًا صَغِيْرًا ثُمَّ قَالَ: وَذٰلِكَ أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَا لِلرَّجُلِ إِلَّا مِثْلُ هٰذَا الْعُوْدِ) بیا رسول الله ﷺ زمکے ته لاس ورښکته کړو او یو وړوکے ډکے ئے راواخستو او وے فرمایل: یحییٰ علیه السلام سره نهٔ وو هغه اندام چه د سړی دپاره وي مګر په شان ددے ډکی. او دا روایت ابن ابی حاتم په خپل تفسیر (۱/۲/۲) کې ذکر کړیدے.

ابن کثیرؒ خو دے روایتونو ته موقوف وئیلی دي او ضعف ته ئے اشاره کړیده او بیا ئے وئیلی دي چه دا د نبوت د منصب سره مناسب خبره نهٔ ده، مګر شیخ البانیؒ وائي چه دا ډیرو ګنړو طریقو سره نقل دي، بعض ضعیف دي او بعض اسانید بیخي صحیح دي لکه روایت د طبری او ابن عساکر او د بزار (۲۳٦۰) د ضعف نه خالي دي.

نو بیا به ددے تطبیق دا وي (۱) چه د خصاء (خصي کیدو) بیماري د هغه امراضو نه نهٔ ده چه بندګان د هغے نه نفرت کوي بلکه د دنیاوي نعمت نه محرومول دي نو دا لویه مرتبه د زهد ده. (۲) دویم دا چه که د دغه روایاتو په الفاظو کې فکر وکړو نو د هغے نه صراحةً دا نهٔ معلومیږي چه یحیی علیه السلام کې د سړی توب طاقت نهٔ وو بلکه په هغے کې ډیره مبالغه

شویده په پاکدامنئ د هغه باندې او هغه داسې چه هغه خپل شهوات داسې کنټرول کړی وو لکه چه ګویا که د هغه سره د سړی توب آله نهٔ وی ځکه چه په زړه کی ئې هیڅ شهوات نهٔ راوستل او عفت ئې دومره قوی وو تا به ویل چه د نزدیکت هیڅ قوت نهٔ لری، لکه همدا معنیٰ د ﴿تَقِيًّا﴾ هم ده. او دا په محاورو کی ویل کیږی :(زَیْدٌ عَدْلٌ) یعنی زید په عدل کی داسې مرتبې ته رسیدلے دے ګویا که ته به وائې چه ټول بدن ئې د عدل نه جوړ شویدے، لکه عیسیٰ ؑ په فوق العاده توګه بی پلاره د الله تعالیٰ په کلمه د کُنْ سره پیدا شویدے ته به وائې چه د عیسیٰ ؑ ټول بدن د الله تعالیٰ فرمان (یعنی کلمه) وی. والله اعلم.

الصَّالِحِيْنَ : دا لفظ ئې روستو راوړو ځکه چه دا جامع لفظ دے، هر چا ته شامل دے، نبی او غیر نبی ته.

قَالَ رَبِّ أَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلَامٌ وَقَدْ بَلَغَنِيَ الْكِبَرُ
دهٔ اوویٔیل : اے ربه زما! څرنګ به وی ما لره هلك حال دا دے چه رارسیدلے ما ته بوډاوالے
وَامْرَأَتِيْ عَاقِرٌ قَالَ كَذٰلِكَ اللّٰهُ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ﴿٤٠﴾
او ښځه زما شنډه ده، الله وفرمایل: ته به همدغه شان ئې، الله کوی چه څه اوغواړی.

تفسیر : اُوس زکریا ؑ د کیفیت تپوس کوی چه په کومه طریقه به دا اولاد پیدا کیږی دا تپوس د استبعاد (بعید ګنړلو) نهٔ دے ځکه چه بیا ئې دعا ولے کوله؟ بلکه دا ناشنا کار دے نو ځان پوهه کوی او طریقه معلومول غواړی او استعجال (جّلتی کول) ئې غرض دے (فتح البیان). دلته چه کومو بعضو تفاسیرو دا لیکلی دی چه شیطان وسوسه ورواچوله چه دا آواز کیدے شی ملائکو نهٔ وی کړے بلکهٔ شیطان کړے وی، دا خبره غلطه ده ځکه چه په انبیاء علیهم السلام باندې په صورت د وحی کی التباس او ګډوډ والے نهٔ راځی ځکه چه که التباس راشی نو بیا خو دین ګډوډ کیږی. بلکه دلته مقصد دا دے چه آیا زهٔ به بل واده کوم او که ما او ښځه به مے ځوانان کیږو او که په همدے حالت کی به یو؟.

الْكِبَرُ : پدے وخت کی زکریا ؑ د یو سل شلو کالو په عمر وو، بعض وائی د نهه نوی کالو وو، چه پدے وخت کی انسان کمزورے شی، د رګونو طاقت کم او جوش او جذبه کمه شی. (قرطبی).

عَاقِرٌ : أَيْ ذَاتُ عُقْرٍ۔ وَهِيَ مَعْقُوْرَةٌ۔ یعنی زما ښځه شنډه ده۔ ځکه دا هم بوډۍ وه د اولادو زمانه ئې ختمه شوې وه، رحم ئې یخ شوې وو۔ ځینې وائي : د (۹۸) کالو په عمر وه (قرطبي)

كَذٰلِكَ اللهُ : اَيْ اَنْتَ وَزَوْجَتُكَ كَذٰلِكَ۔ ته او ستا بي بي به په همدغه حالت د بوډاوالي کې یئ۔ او اولاد به پیدا کیږي ځکه چه الله تعالیٰ څه سبب ته محتاج نهٔ دې بلکه هغه چه څه غواړي هغه کوي، هغه ته څه مشکلات نشته۔ دلته ئې (يَفْعَلُ) فعل راوړو او روستو د مریم په واقعه کې (يَخْلُقُ) راوړي ځکه چه د ښځې او خاوند نه بچي پیدا کول عام عادت دې او بې پلاره بچې پیدا کول نوې کار دې نوې پیدائش دې۔ او خلق په نوی پیدائش کې استعمالیږي چه په غیر د اسبابو وي او فعل هغه دې چه د اسبابو عادیه ؤ مطابق وي۔ (المنار)

قَالَ رَبِّ اجْعَل لِّيٓ آيَةً قَالَ آيَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ
ده اووئیل: اې ربه زما ! اوګرځوه ما له یوه نخه، الله اوفرمایل : نخه ستا به دا وي چه ته به خبرې نه کوې
النَّاسَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ إِلَّا رَمْزًا وَاذْكُر رَّبَّكَ كَثِيرًا وَسَبِّحْ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ ﴿٤١﴾
خلقو سره درې ورځې مګر په اشاره سره او یادوه رب خپل ډیر او پاکي ئې وایه صبا او بیګاه۔

تفسیر : زکریا علیه السلام د بچي د پیدا کیدو دپاره نښه وغوښتله یو ئې جلتي وه۔ بل: تَكْثِيْرًا لِلْعِبَادَةِ۔ یعنې دې دپاره چه زهٔ د الله تعالیٰ بندګي زیاته کړم چه د حمل اخستو نه تر پیدا کیدو پورې د هغه شکر وکړم چه هغه ما سره دا احسان وکړو۔

الله تعالیٰ ورته دا نښه ورکړه چه ته به د درې ورځو پورې خبرې نهٔ کوې یا به ئې نشې کولې مګر په اشاره سره۔

أَلَّا تُكَلِّمَ : دې کې یوه معنیٰ د نهي ده یعنې چه ته به خبرې نهٔ کوې۔ دویمه معنیٰ : ظاهره دا ده چه ته به خبرې نشې کولې یعنې قدرت به د خبرو نهٔ لرې، الله تعالیٰ به درله خوله بنده کړي۔ ژبه ئې ورله پدې وجه بنده وله چه په عبادت کې خلوص پیدا شي ځکه چه یو انسان د دنیا خبرې هم کوي او عبادت هم نو دومره اخلاص پکې نهٔ وي او چه خوله بنده شي او صرف د عبادت خبرې وي نو بیا پکې اثر او توجه زیاته وي۔

او دا وجه نهٔ ده لکه چه بعض وائي چه دا زکریا علیه السلام ته د اولاد په غوښتو عقوبت (سزا) ورکول وو، نهٔ بلکه دا نعمت وو۔

إِلَّا رَمْزًا : یعنی که ضرورت راشي نو په اشاره خبرے کولے شے ځکه چه دا نبي دے، امت سره ئے تعلق راځي. او خلکو ته به ئے په اشاره وئیل چه صبا او بیګاه د الله تعالیٰ تسبیحات وایئ.

مسئله : اشاره عالمي لغت دے، په اشاره سره هم ډیر احکام ثابتیږي لکه ګواهي، ظهار او طلاق الخ لکه بخاري پدے باندے بابونه تړلي دي باب الطلاق في الاغلاق الخ والاشارة (وکذا في القرطبي)

د الله تعالیٰ عظیم قدرت ته وګوره چه روغ جوړ رګونه دي، وینه پکې ځي راځي لیکن الله تعالیٰ پکې د خبرو طاقت ختم کړي او په بے ساه شي کې د خبرو پیدا کولو صلاحیت باندے قادر دے. دارنګه په اضدادو باندے قدرت لري چه مړ اندام ئے ورله ژوندے کړو او ژوندئ ژبه ئے ورله بنده کړه.

وَاذْكُرْ رَّبَّكَ كَثِيْرًا : پدے کې د سهار او ماښام اذکار داخل دي او سبحان الله وبحمده سهار او ماښام وئیل.

وَسَبِّحْ : پدے کې د سهار او مازیګر مونځ داخلیږي، ځوك چه دا دوه مونځونه وکړي پدے آیت عمل راځي.

پدے کې بعض علماء د مرجئه ؤ په شان معنیٰ کوي چه کله داسے امرونه راشي نو دوي وائي چه سهار او ماښام دعوت کوه، هغوی ته د الله تعالیٰ ذِکر معمولي شے ښکاري، دعوت هر وخت نهٔ وي البته سهار او ماښام درس قرآن او درس حدیث پدے ذکر کې داخلیږي. او داسے امر په قرآن کریم کې ډیر راغلے دے.

بِالْعَشِيِّ : د ماسپښین نه تر ماښام پورے وخت ته وائي او ابکار د سهار مانځه نه تر نمرخاتهٔ پورے وخت ته وائي. پدے دوه وختونو باندے نبي ﷺ هم حکم کړیدے : وَاسْتَعِيْنُوْا بِالْغُدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ وَشَيْءٍ مِنَ الدُّلْجَةِ“ ـ (سهار او ماښام او د شپے په څه حصه کې د الله تعالیٰ بندګي کوئ مقصد ته به ورسیږئ). (بخاري : ۳۹)

فوائد : (۱) د صبا او بیګا اذکار د ماښام د مانځه نه روستو او د شپے د داخلیدو نه روستو ویل کیږي ځکه چه قید د (لَیل) او مساء پکې راغلے دے، آؤ اذکار عامه لکه تسبیحات شو هغه د مازیګر نه تر ماښام پورے دي لکه لفظ د عَشِي دا معنیٰ ورکوي.

بیا اذکار المساء تر نصف اللیل پورے صحیح دي کما في المرعاة باب اذکار الصباح والمساء.

(۲) فائده : د کثرتِ ذکر او د بچی د پیدا کیدو دوه مناسبته دی (۱) اول : کثرتِ ذکر شکر النعمة دے۔ (۲) دویم ذکر سره قوتِ جنسی مضبوطیږی ددے وجه نه ویل کیږی چه څوك د الله تعالیٰ نه یره کوی نو د هغه شهوت زیات وی۔ (حاشیة البخاری ۴۲/۱) او د قرآن د قاریانو شهوت زیات وی ځکه چه تلاوتونه زیات کوی۔

(۳) فائده : د العشی او الابکار نه هر وخت مراد دے، یا دا چه پدے اوقاتو کی ذکر ډیر افضل دے۔

(٤) بعض صوفیه وائی چه د اولادو غوښتل حمق (بی وقوفی) ده، لیکن دا خبره باطله ده ځکه چه ابراهیم او زکریا علیهما السلام د اولادو دپاره دعاګانے کړیدی او د متقیانو په دعاګانو کی دا نقل دی : ﴿ رَبَّنَا هَبُ لَنَا مِنُ أَزُوَاجِنَا﴾ (فرقان: ٧٤) او نبی کریم ﷺ د انسؓ دپاره د کثرة الاولاد دعا کړے وه۔ (القرطبی)

وَإِذُ قَالَتِ الُمَلاَئِكَةُ يَا مَرُيَمُ إِنَّ اللّٰهَ اصُطَفَاكِ وَطَهَّرَكِ
او کله چه اووئیل ملائکو اے مریم ! یقیناً الله ته غوره کړے ئے او پاکه کړے ئے
وَاصُطَفَاكِ عَلٰى نِسَآءِ الُعَالَمِيُنَ ﴿٤٢﴾
او غوره کړے ئے ته په زنانو د مخلوقاتو۔

تفسیر : مریم الله تعالیٰ رالویه کړه نو اوس د مریم فضیلت او بیا هغے ته حکمونه او د عیسیٰ علیه السلام ورکول بیانیږی د مریم او د عیسیٰ علیه السلام بندګی بیانوی ځکه چه نصاریٰ د دوی په باره کی ګمراه شویدی، د هغوی عقیده دا ده چه آلهه درے دی۔ دیته اقانیم (اصول) ثلاثه وائی۔ الله تعالیٰ، مریم او عیسیٰ۔ بعض ورسره جبریل یو ځای کړی او مریم تر ے بهر کړی ځکه په دوی کی هم ډیرے ډلے او ډیرے عقیدے دی۔ نو په ذکر د عبادت د مریم سره رد وشو په دغه ګمراه کن عقیده باندے۔

وَإِذُ قَالَتِ : د مریم سره ملائکو خبرے کړیدی پدے وجه ابن حزم رحمه الله فرمائی چه په زنانو کی آسیه او مریم نبیه وے۔ لیکن دا رایه غوره نهٔ ده بلکه د اکثر امت مذهب دا دے چه په زنانو کی انبیاء نشته او دا نیکان دی او د دوی سره کرامةً ملائکو خبری کړیدی۔ لکه د عمران بن حصین رضی الله عنهما سره او نورو صحابه کرامو سره شویدی۔

اصُطَفَاكِ : (۱) بِالُكَرَامَاتِ۔ تهٔ ئے په کرامتونو غوره کړے یی۔ (۲) بِالُمَقَامَاتِ السَّنِيَّةِ۔

اُوچتې مرتبې ئې درکړیدي.

وَطَهَّرَكِ : (۱) مِنَ الذُّنُوبِ (۲) وَالْاَخْلَاقِ الرَّدِيئَةِ ۔ ته ئې د ګناهونو او بدو اخلاقو نه پاکه کړې یې. عامو زنانو کې دغه بد اخلاق وي. (۳) بعض وائي : طَهَّرَكِ مِنَ الْحَيْضِ ۔ د حیض نه پاکه وه. لیکن حدیث نه معلومیږي چه حیض الله تعالیٰ په بناتِ آدم مقرر کړیدے اګرکه ټولې زنانه ئې نۀ دي ذکر کړي، کیدے شي چه دیته الله تعالیٰ دا کرامت هم ورکړے وي.

وَاصْطَفَاكِ : دوباره ئې د تاکید دپاره راوړو. یا مخکې اصطفاء د کرامتونو او نیکو اخلاقو دپاره وه او دلته اصطفاء په نورو زنانو باندې مراد ده چه نورې زنانه هم دې ته نشوې رسیدلې. لیکن صحیح دا ده چه اول غوره والے د عبادت دپاره دے او دویم د ولادت د عیسیٰ علیه السلام دپاره دے. (روح المعاني والقاسمي)

کومه زنانه زیاته غوره ده؟

دې کې اختلاف دے چه آسیه، مریم، خدیجه، عائشه او فاطمه رضی الله عنهن کې څوك ډیر غوره وو؟، نبی ﷺ فرمائي: ”په سړو کې ډیر کاملان شته لیکن د زنانو نه صرف آسیه بنت مزاحم او مریم بنت عمران کاملان شویدي“. او یو حدیث کې دي چه دا دواړه په جنت کې د رسول الله ﷺ دپاره دي، ځکه دا اُوچتې زنانه دي د اُوچت سړي سره لائقې دي. (کما في ابن کثیر في آخر سورة التحریم)

نو ظاهر دا دے چه دا پنځه واړه زنانه غوره دي او هر چا ته الله تعالیٰ خپل خپل غوره والے ورکړیدے. آسیه پدے وجه غوره ده چه په سخت ځای (د فرعون په کور کې ئې) د خپل ایمان حفاظت کړیدے، ډیرے سختے ئې تیرې کړیدي او د فرعون مقابله ئې کړیده. او مریم پدے وجه غوره ده چه خپله نیکه وه او عیسیٰ ﷺ ترې پیدا شویدے. او خدیجه پدے وجه غوره وه چه په ابتداء کې ئې د اسلام مدد کړیدے او عائشه پدے وجه غوره ده چه د اسلام د آخر مدد ئې کړیدے، ډیر دین ئې امت ته بیان کړیدے روایتونه ترې نقل دي لويه عالِمه وه. او فاطمه پدے وجه غوره ده چه تقویٰ او حیاء پکې ډیره وه او د رسول الله ﷺ نه پیدا وه.

يَا مَرْيَمُ اقْنُتِي لِرَبِّكِ وَاسْجُدِي وَارْكَعِي مَعَ الرَّاكِعِينَ ﴿٤٣﴾
اے مریم! عاجزي کوه رب خپل ته او سجدې کوه او رکوع کوه سره د رکوع کونکو نه.

تفسیر: هرکله چه یو انسان ته غوره والے ورکړې شي په علم او په صحیح عقیده نو

هغه له د الله تعالىٰ بندګی ډيرول پکار دی پدے وجه الله تعالىٰ مريم ته دا حکمونه وکړل۔

اقْنُتِيْ : يعنى هميشه الله تعالىٰ ته عاجزى کوه او هميشه د هغه په بندګئ کی وسيږه لکه دا معنىٰ د قنوت ده۔ لکه مخکی (والقانتين) کی ذکر شو چه قنوت دوام الطاعة مع مصاحبة الخشوع والخضوع ته وائی۔ (تيسير الكريم الرحمن) دلته ترے مراد (۱) طاعت دے (۲) يا طول القيام دے۔ يعنى اوږد مونځ۔ (۳) يا ترے عبادت مراد دے (قاله الحسن)۔ (٤) يا ترے اخلاص مراد دے لکه سعيد بن جبير وئيلی دی۔ (زاد المسير)

وَاسْجُدِيْ : دلته ئے سجده په رکوع باندے ولے مخکی ذکر کړه ؟ ددے درے جوابه دی :

(۱) د هغوی په دين کی سجده مخکی وه بيا رکوع۔ دا ضعيف جواب دے بی دليله دے۔

(۲) دويم جواب : واو د مطلق جمع دپاره دے ترتيب نۀ غواړی۔ يعنى سجده او رکوع جمع کوه، دواړه کوه په هغه ترتيب چه نبى درښودلی دی۔

(۳) دريم جواب (ظاهره دا ده) چه قرآن دلته ترتيب ورکړيدے اول ئے اعم بيا اخص بيا اخص الخاص ذکر کړيدے قنوت، ډير عام دے په مانځه او غير مانځه کی وی۔ او سجده خاص ده، سجده د مانځه هم وی، سجده د شکر هم وی، سجده د مصيبت په وخت هم وی۔ او رکوع بيخی خاص ده دا صرف په مانځه کی مقرر عبادت دے۔ هان د رکوع شکل مخلوق ته جوړول جائز نۀ دی او الله تعالىٰ ته کله کله بغير د مانځه نه هم سر خکته کول عبادت دے لکه رسول الله ﷺ چه کله مکے ته داخليدو نو سر ئے خکته کړے وو (تواضعا لرب العالمين) او الله تعالىٰ بنى اسرائيلو ته حکم کړے وو (ادخلوا الباب سجدا)۔ دروازے ته ننوزئ چه سر ټيټونکی يئ۔

دے کی ابو سليمان الدمشقیؒ وئيلی دی چه د هغوی په شريعت کی سجده په رکوع مقدمه وه۔ (زاد المسير، القرطبى) ليکن دا خبره دليل ته محتاج ده۔

مَعَ الرَّاكِعِيْنَ : د مَعَ يوه معنىٰ دا ده چه د سرو سره شريکه جمعه کوه په بيت المقدس کی۔ او دويمه معنىٰ ډيره ښکاره ده (ځکه چه هغه خو د خلکو نه مشرقى جانب ته يواځی شوے وه) نو مطلب دا دے چه کوم خلك چه په دنيا کی الله تعالىٰ ته رکوع کوی او عاجزی نو تۀ هم د هغوی سره پدے صفت کی شريکه شه، اګرکه مکان کی به شريکه نۀ يې۔

ذٰلِكَ مِنْ أَنۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ إِلَيْكَ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ
دا (چه بيان شو) د خبرو د غيبو نه دی، وحی ئے کوو مونږه تا ته، او نۀ وے ته د دوی سره

إِذْ يُلْقُونَ أَقْلَامَهُمْ أَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ وَمَا كُنْتَ
كله چه غورزول دوى قلمونه خپل چه كوم يو به تربيت كوى د مريم او نه وې ته
لَدَيْهِمْ إِذْ يَخْتَصِمُونَ ﴿٤٤﴾
د دوى سره كله چه دوى جګړې كولې. (په باره د ساتنه د مريم كې)

تفسير : په مينځ كې د رسول الله ﷺ تصديق (رشتين والې) ثابتوى چه زما دا رسول (ﷺ) رشتينى څكه دې چه اې امته! تاسو ته ئې هغه خبرې بيان كړې چه دا ورته حاضر نۀ وو دا دليل دې چه ددې خبرو ورته ما وحى كړيده او دا څكه بيانوى چه مشركانو به د رسول الله ﷺ په خبرو كې شك كولو.

ذٰلِكَ : يعنى دا مذكوره بيان او د زكريا او عيسىٰ او يحيى عليهم السلام قصه چه ده.

مِنْ أَنْبَآءِ الْغَيْبِ : اخبار ته وائى او د الغيب معنىٰ ده (ما غاب عنك) چه ستا نه غائب دى. د غيب څلور معانى په سورة بقره (٣) آيت كې تيرې شويدى.

إِذْ يُلْقُوْنَ : يعنى دوى خپل قلمونه ګوزارول، قُرعه ئې اچوله ددې دپاره چه كوم به د مريم كفالت كوى. يَكْفُلُ : امام بخارىؒ وائى كفالت دلته په معنىٰ د يو ځاى والې دې. او نور مفسرين د يكفل معنىٰ كوى : يَحْضُنُهَا، يُرَبِّيْهَا) يعنى څوك به ددې حَضَانت (سنبالښت) او تربيت كوى. د دواړو حاصل يو راوځى.

مسئلة : قرعه په احكام شرعيه ؤ كې شته كوم علماء چه دا قمار (جوارى) ګڼړى لكه احناف نو فقاهت ئې صحيح نۀ دې. (ورد عليه القرطبى)

يَخْتَصِمُوْنَ : خصومة كله جګړې ته، او كله مناظرې ته وائى نو كله نفس خبرو اترو ته وائى لكه په سورة ص (٦٩) آيت كې دى : ﴿ مَا كَانَ لِيَ مِنْ عِلْمٍ بِالْمَلَإِ الْأَعْلَىٰ إِذْ يَخْتَصِمُوْنَ ﴾ يا ﴿ وَهُمْ يَخِصِّمُوْنَ ﴾ (يس : ٤٩).

تنبيه : د قرعه طريقه مخكې ذكر شوه. ينظر ((القرطبى))

إِذْ قَالَتِ الْمَلَآئِكَةُ يَا مَرْيَمُ إِنَّ اللّٰهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِنْهُ
كله چه وويل ملائكو اې مريم! يقيناً الله زيرې دركوى تا ته په يوه كلمه سره د طرفه د الله نه
اسْمُهُ الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ وَجِيهًا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمِنَ
نوم د هغه به مسيح عيسىٰ ځوى د مريم وى، مخوريز به وى په دنيا او آخرت كې او د

الْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٥﴾ وَيُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا وَمِنَ الصَّالِحِينَ ﴿٤٦﴾

نژدے کړے شوو نه به وی۔او خبرے به کوی د خلکو سره په زانګوکی او په پوخ عمر کښ او د نیکانو نه به وی۔

تفسیر: مریم د عبادت دپاره د خلکو نه مشرقی جانب ته جدا شوے وه د الله تعالیٰ بندګی به ئے کوله نو هلته ملائك (جبریل علیه السلام) ورغے او هغے ته ئے د عیسیٰ علیه السلام زیرے ورکړو۔

بِكَلِمَةٍ : د کلمے نه مراد عیسیٰ علیه السلام دے ځکه چه دا په کلمه د کُنْ پیدا دے په غیر د اسبابو نه، پلار ئے نهٔ وو او نور بندګان هم په کلمه د کُنْ پیدا دی لیکن ظاهری اسباب لری۔ او کلمه د عیسیٰ علیه السلام لقب دے۔ (زاد المسیر)

مِنْهُ : اَیْ مِنْ جَانِبِ اللّٰهِ ۔ د الله تعالیٰ د طرف نه۔ دا هغه کلمه ده چه د متشابهاتو نه ده۔ صحیح معنیٰ ئے دا ده چه د الله تعالیٰ د طرف نه په کلمه د کُنْ پیدا دے او غلطه معنیٰ ئے دا ده چه د الله تعالیٰ جزء دے نو ځکه ورته نصاریٰ د الله تعالیٰ ځوی وائی۔ ددے جواب دا دے چه دا معنیٰ د نبی علیه السلام او صحابه کرامو نقل نهٔ ده او د قرآن د نورو آیتونو سره ئے ټکراؤ دے ځکه که دا معنیٰ شی نو بیا د سورة الجاثیه آیت (١٣) ﴿ جَمِيعًا مِنْهُ ﴾ کی به هم دا معنیٰ کوے چه آسمانونه او زمکه ټول د الله تعالیٰ جزء دے او دا خو ښکاره باطله خبره ده۔ نو دلته د جزء معنیٰ کول هم باطل شو۔

اسْمُهُ : دا ضمیر مدلول د کلمے ته راجع دے یعنی دا کلمه چه په څه دلالت کوی چه هغه عیسیٰ علیه السلام دے۔

د مسیح څه معنیٰ؟

الْمَسِيحُ : دا د عیسیٰ علیه السلام لقب دے مفسرینو ددے نوم ډیرے وجے ذکر کړیدی:

(١) په زمکه کی د دعوت دپاره ګرزیدونکے، (٢) یا هغه شخص چه په زمکه کی ګرځیدونکے وی او هیڅ کور ئے ځانله نهٔ وی جوړ کړے۔

(٣) هغه شخص چه مصیبت زده خلك ددهٔ په لاس جوړیږی۔ په کوم آفت والا باندے به ئے چه لاس راښکلو جوړ به شو ۔ابن عباس) نو مسیح په معنیٰ د ماسح سره دے۔

(٤) مَمْسُوحُ الْاَخْمَصَيْنِ۔ چه خیږه ئے نهٔ وی، (٥) مبارك۔

(٦) بمعنیٰ الصدیق (تصدیق کونکے)۔ (قرطبی والبغوی)

(٧) المطهر من الذنوب (د ګناهونو نه پاك کړے شوے) (قاله مجاهد والنخعي) ۔(٦) او

خَرَجَ مِنْ بَطْنِ أُمِّهِ مَمْسُوحًا بِالدُّهْنِ ۔ د مور د خیټې نه چه راووتو نو په تیلو باندې مسه شوې وو۔ (زاد المسیر)

دجال هم مسیح دې، هغه ته پدې وجه مسیح وائي : (لانه ممسوح احدی عینیه) د هغه یوه سترګه مسه شویده یعني نیغه راوتلې ده۔ یا هغه ماسح الارض دې یعني د مدینې او مکې نه سوئ به په ټوله زمکه ګرځي۔

او مسیح لفظ په عبرانی ژبه کې په اصل کې مشیحا وو او دا د هغوی په نیز د بادشاه لقب وو ځکه چه د هغوی دا رسم وو چه څوك به د بادشاهۍ مشر کیدو نو هغه باندې به به یو کاهن مقدس تیل راښکل نو هغه بادشاه ته به ئې مسیح وئیلو۔ (المنار)

عِيسَى : دا په عبرانۍ کې یشوع یا یسوع دې نو کله چه عربۍ ته رانقل شو نو شین بدل شو په سین لکهِ موشیٰ کې موسیٰ وویل شو۔ (المنار)

حکمة : مسیح ئې په عیسیٰ مقدم کړو ځکه چه مسیح غالباً صرف د عیسیٰ علیه السلام دپاره استعمال دې او هرچه عیسیٰ لفظ دې نو د هغه په ډیرو کسانو اطلاق کیږي۔ صاحب المنار وائي چه دلته مسیح د علم په ځای استعمال دې، وصفي معنیٰ به پکې نۀ اخستلې کیږي۔ او په پخوانو کې کتابونو کې د عیسیٰ علیه السلام بشارت د مسیح په لفظ سره ذکر وو۔

ابْنُ مَرْيَمَ : دا لقب ډیر ذکر کیږي رد دې په نصاراؤ چه دوی ئې د الله تعالیٰ ځوی ګنړي او رد دې په یهودو چه هغوی ورته ولدِ زنا وائي۔

وَجِيهًا : (۱) مخوریز، (۲) شریف ته وائي (۳) محبوب عند الله۔ د الله تعالیٰ په نیز خوښ۔ (٤) مستجاب الدعوة۔ چه دعاګانې ئې قبلیږي۔ (۵) ذُو الْجَاهِ وَالْمَنْزِلَةِ عِنْدَ اللّٰهِ ۔ د الله تعالیٰ په نیز د اُوچتې مرتبې او شان والا۔

د عیسیٰ علیه السلام په دنیا کې وجاهت دا وو چه د مؤمنانو په زړونو کې د هغه ډیر لوی احترام موجود وو۔

پدې صفتونو کې د عیسیٰ عليه السلام عبدیت ذکر دې چه د مریم نه پیدا دې، مخلوق دې، په مخوریز توب کې الله تعالیٰ ته محتاج دې او الله تعالیٰ ته په نزدې کیدو کې محتاج وو۔

الْمُقَرَّبِينَ : په دنیا او آخرت کې مراد دې۔

وَيُكَلِّمُ : دا نور وجوه د عبدیت دي او پدې کې فضیلت د عیسیٰ عليه السلام دې چه په وړوکوالي ترې الله تعالیٰ خبرې راویستلې دي۔

فِي الْمَهْدِ : زانګو او غیړې تهوائی دلته ترې د وړوکوالی زمانه مراد ده۔

وَكَهْلًا : د څلویښتو کال عمر ته چه انسان ورسیږی کهل ترې جوړ شی، اول کی شاب (ځوان) وی بیا چه شپیتو ته ورسی نو شیخ شی، بیا چه کله صحت کمزورې شی نو دغه د هَرم زمانه ده۔

کهل په اصل کی هغه عمر ته وائی چه د سړی ویښتان سپینیدو ته نزدې شی لکه چه عرب وائی : (اِكْتَهَلَ النَّبَاتُ) شنه ګیاه وچیدو ته نزدې شوه۔ (مفرداتِ راغب ص : ٤٦٠)

مفسرینو ددې نه دلیل نیولی دې چه عیسیٰ علیه السلام آسمان ته ختلی دې ځکه چه په هغه باندې د کهولة زمانه نۀ ده راغلې بلکه د دری دیرشو کالو په عمر آسمان ته پورته شویدې۔

او دا استدلال د ابن عباسؓ او حسین بن المفضلؒ دې (بغوی٢/٤٦) او ځکه صحیح دې چه ابن فارس وئیلی دی : (اَلْكَهْلُ مَنْ وَخَطَهُ الشَّيْبُ) کهل هغه چا ته وائی چه د ویښتو سپین والې پرې راښکاره شی او دا غالباً د څلویښتو کالو نه روستو وی او عیسیٰ علیه السلام هم څلویښتو ته نۀ وو رسیدلې، او بعض اهل علم وائی چه د کهولة زمانه د دیرشو کالو نه شروع کیږی (ابن الانباری – زاد المسیر١/٣٣٩)

فائده : کهولة کی خو هر څوك خبرې کولې شی نو دا ئې ولې خاص کړو ؟ ددې ډیر وجوه دی (١) اوله وجه دا ده چه پدې کی اشاره ده چه ددۀ خبرې په حالت د وړوکوالی او غټوالی دواړو کی یو شان د انبیاؤ خبری دی۔ (٢) پدې کی بشارت (زیرې) دې ددۀ د عمر په اُوږد والی باندې چه د کهولة (پوخ عمر) زمانې ته به رسیږی۔ (٣) امام طبریؒ وائی چه پدې کی اشاره ده چه زمانه به په دۀ کی اثر کوی او په زمانه کی به د یو حال نه بل حال ته منتقل کیږی نو که دې چرته اله وې نو داسې تغیر (بدلون) به پرې نۀ راتللې۔ (٤) مجاهدؒ وائی : کهل حلیم (صبرناك) ته وائی۔ (زاد المسیر)

الصَّالِحِيْنَ : د نیکانو نه به وی د هغوی مشر به وی، صلاحیت اُوچت صفت دې ځکه ئې په آخر کی راوړو، عیسیٰ علیه السلام کی ډیر صلاحیت وو په دنیا کی زاهد (بی رغبته) وو۔

صلاح : اِسْتِقَامَةُ الْاَعْمَالِ وَطَهَارَةُ النَّفْسِ ته وائی۔ یعنی چه اعمال برابر وی او نفس پاك وی۔ (التحریر٣/٩٨)

قَالَتْ رَبِّ اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ وَلَدٌ وَّلَمْ يَمْسَسْنِيْ بَشَرٌ
دې اووئیل څنګه کیدې شی زما دپاره بچې او نۀ دې رارسیدلې ما ته هیڅ سړې،

قَالَ كَذٰلِكِ اللّٰهُ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ
وویل جبریل علیه السلام ته به همدغه شان ئے، الله پیدا کوی هغه څه چه وغواړی،
إِذَا قَضٰۤى أَمۡرًا فَإِنَّمَا يَقُوۡلُ لَهٗ كُنۡ فَيَكُوۡنُ ﴿٤٧﴾
کله چه فیصله وکړی د یو کار نو یقیناً هغے ته وائی شه نو شی۔

تفسیر : مریم هم د بچی د پیدائش نه تعجب وکړو ځکه دا د عادت خلاف کار وو نو هغے هم د بچی د پیدائش علامه او کیفیت معلومول طلب کړل او دا عذرئے هم پیش کړو چه ما ته هیڅ انسان رسیدلی نهٔ دی کړی نهٔ خاوند او نهٔ بل چا او اولاد خو پدے اسبابو سره کیږی نو الله تعالیٰ ورته د جبریل علیه السلام په واسطه وویل چه تهٔ به په همدغه طریقه یی، الله تعالیٰ چه څه غواړی هغه پیدا کوی، ځکه چه هغه څه فیصله وکړی نو څه مشکلات ورته نشته د یو شی د موجودیدو اراده چه وکړی بس هغه موجود شی۔

رَبِّ : دا نداء د تحسر (افسوس) ده نهٔ د خطاب دپاره ځکه خبرے ورسره ملائك کولے او دے د الله تعالیٰ سره مناجات کوی۔ (التحریر) زمخشری وائی چا چه د رب نه جبریل علیه السلام مراد کړیدے او معنیٰ ئے په (یا سیدی) سره کړیده نو دا د تفسیر د بدعاتو نه ده۔

كَذٰلِكِ : دا اشاره ده مذکور خلق ته اَیُ مِثۡلَ ذٰلِكَ الۡخَلۡقِ الۡمَذۡكُوۡرِ يَخۡلُقُ اللّٰهُ ۔ یعنی د دغه مخکنی پیدائش په شان الله تعالیٰ پیدا کوی څه چه وغواړی۔ (التحریر)

۲– یا معنیٰ ده اَنۡتِ كَذٰلِكِ ۔ یعنی تهٔ په دغه حالت باندے یی۔

فوائد : (۱) ابن الانباریؒ وائی : دائے ځکه وویل (رب انی یکون لی ولد) چه گمان ئے دا وو چه دا جبریل نهٔ دے بل شوك سړے دے، غلطه اراده لری۔ (۲) جمهور وائی چه دا خبره ئے د تعجب او استفهام په طور کړیده او همدا خبره ظاهره ده۔ (زاد المسیر)

ابن عاشورؒ وائی : دا استفهام د انکار او تعجب دپاره دے پدے وجه دوه جوابونه ورکړے شو یو (کذلك یخلق الله ما یشاء) پدے کی ددے انکار ختم شو او بل جواب (اذا قضی امرا الخ) دے پدے سره ئے تعجب ورله ختم کړو۔ (التحریر والتنویر)

(۳) اِذَا قَضٰۤى أَمۡرًا : پدے کی اشاره ده چه دا فیصله شویده واپس کیږی نهٔ لکه بل آیت کی الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَكَانَ أَمۡرًا مَّقۡضِيًّا ﴾ (مریم) یعنی دا فیصله شوے کار دے نو تهٔ ددے د رد کولو دعا مهٔ کوه۔

وَيُعَلِّمُهُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ ﴿٤٨﴾ وَرَسُولًا إِلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ

او ورښائی به ده ته کتاب او سنت او تورات او انجیل او (ګرځوی به ئے) رسول بنی اسرائیلو ته

أَنِّي قَدْ جِئْتُكُمْ بِآيَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ أَنِّي

(وائی به) چه یقیناً زهٔ راغلے یم تاسو ته په معجزه د طرفه د رب ستاسو نه، یقیناً زهٔ

أَخْلُقُ لَكُمْ مِنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ فَأَنْفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيْرًا

جوړوم تاسو له د خټے نه په شان د شکل د مارغه نو پو کے کوم په هغے کی نو کیږی به مارغه

بِإِذْنِ اللَّهِ وَأُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ وَأُحْيِي الْمَوْتَىٰ بِإِذْنِ

په حکم د الله سره او روغوم به موږزادی ړوند او برګی مرض والا او راژوندی کوم به مړی په حکم

اللَّهِ وَأُنَبِّئُكُمْ بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ

د الله سره او خبر به درکوم تاسو ته په هغه څه چه تاسو ئے خورئ او په هغه څه چه تاسو ئے ساتئ

فِي بُيُوتِكُمْ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿٤٩﴾

په کورونو کی، یقیناً پدے کی نخه ده ستاسو دپاره (زما په نبوت) که تاسو ایمان لرونکی یئ۔

تفسیر : د عیسیٰ علیه السلام نور فضیلتونه او معجزے بیانیږی چه الله تعالیٰ به هغه ته د خپل دین پوهه ورکوی او خاصکر د تورات او انجیل علم به ورکوی او بیا به ئے بنی اسرائیلو ته رسول جوړوی او هغوی ته به خپله معجزه پیش کوی۔

وَيُعَلِّمُهُ : دے نه معلومه شوه چه عیسیٰ علیه السلام مُعَلَّم بنده دے، الله تعالیٰ ته په تعلیم کی محتاج دے نو اله نشی کیدے۔

الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ : (۱) د (کتاب) نه مراد لیکل دی یعنی دا به لیکل او لوستل کولے شی او د (حکمة) نه مراد د پوهے او د وعظ او نصیحت خبرے دی چه دیته د عیسیٰ علیه السلام سنت وائی، د عیسیٰ علیه السلام عامے خبرے د حکمة وے لکه هغه حافظ ابن کثیرؒ په ((البدایه والنهایه)) کی او ابونعیم په ((حلیة الاولیاء)) او امام احمد بن حنبلؒ په ((کتاب الزهد)) کی راجمع کړیدی۔ (۲) دویم الکتاب قرآن ته وائی او حکمة سنت نبوی ته وائی۔ یعنی په روستنه زمانه کی به د یو بل نبی محمد رسول الله ﷺ کتاب او حکمة هم ورزده کوی، د مخکی نه دا بشارت ورکړے شو۔

د عیسیٰ علیه السلام د وعظ اوْ نصیحت خبرے

(۱) قـال عیسیٰ علیه السلام : لَاتُكْثِرُوا الْكَلَامَ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللّٰهِ فَاِنَّ كَثْرَةَ الْكَلَامِ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللّٰهِ قَسْوَةٌ لِلْقَلْبِ وَاِنَّ اَبْعَدَ النَّاسِ مِنَ اللّٰهِ الْقَلْبُ الْقَاسِيُ۔

د الله تعالیٰ د ذکر نه بغیر خبرے زیاتے مهٔ کوئ ځکه چه زیاتے خبرے د الله د ذکر نه بغیر د زړه سختوالے دے او په خلکو کی د الله تعالیٰ نه وړاندے سخت زړه دے۔

(۲) وقال : مَثَلُ طَالِبِ الدُّنْيَا كَشَارِبِ مَاءِ الْبَحْرِ كُلَّمَا زَادَ شُرْبًا زَادَ عَطْشًا۔

د دنیا د طلبګار مثال د دریاب د اُوبو څکونکے دے، څومره چه زیات څکی هغومره زیات تږے کیږی۔

(۳) وقال : حُبُّ الدُّنْيَا رَأْسُ كُلِّ خَطِيْئَةٍ۔ د دنیا محبت د هرے ګناه سر دے۔

(٤) وقال : اِجْعَلُوْا كُنُوْزَكُمْ فِي السَّمَاءِ فَاِنَّ قَلْبَ الْمَرْءِ يَكُوْنُ حَيْثُ يَكُوْنُ كَنْزُهٗ۔

خپلے خزانے په آسمان کی کیږدئ ځکه چه د بنده زړه په هغه ځای کی وی کوم ځای ئے چه خزانه وی۔

(٥) وَقَالَ لِلْحَوَارِيِّيْنَ : يَا مِلْحَ الْاَرْضِ اِذَا فَسَدَ الطَّعَامُ صَلُحَ بِالْمِلْحِ فَاِذَا فَسَدَ الْمِلْحُ فَبِاَيِّ شَيْءٍ يَصْلُحُ۔

حوارینو ته ئے وفرمایل : اے د زمکے مالګے! کله چه طعام خراب شی نو په مالګه برابریږی نو کله چه مالګه خرابه شی په څه سره به برابر شی۔

(٦) وَقَالَ : جَالِسُوْا مَنْ زَادَكُمْ فِيْ عِلْمِكُمْ مَنْطِقُهٗ وَرَغَّبَكُمْ فِي الْآخِرَةِ عَمَلُهٗ۔

د هغه چا سره ناسته کوئ چه د هغه خبرے ستاسو په علم کی زیادت راولی او د هغه عمل تاسو لره د آخرت سره مینه پیدا کوی۔

(۷) وقال : اِنَّ فِيْكُمْ خَصْلَتَيْنِ مِنَ الْعَجَبِ، اَلضِّحْكُ مِنْ غَيْرِ عَجَبٍ وَالصُّبْحَةُ مِنْ غَيْرِ سَهَرٍ۔

په تاسو کی دوه د تعجب څیزونه دی، یو د تعجب نه بغیر خندا کول او بل د بی خوبیٔ نه بغیر د سهار خوب کول۔

(۸) وقال : لَايُصِيْبُ اَحَدٌ حَقِيْقَةَ الْاِيْمَانِ حَتّٰى لَايُبَالِيَ مَنْ اَكَلَ الدُّنْيَا۔

هیڅ یو تن د ایمان حقیقت ته نهٔ شی رسیدلے تردے چه باك ونکړی چه دنیا چا وخوړه۔

(۹) وَقَالَ : فَكَّرْتُ فِي الْخَلْقِ فَوَجَدْتُّ مَنْ لَمْ يُخْلَقْ اَغْبَطُ عِنْدِيْ مِمَّنْ خُلِقَ۔

ما په مخلوق کی فکر وکړو نو ما دا خبره وموندله چه څوك نهٔ دی پیدا هغوی زما په نیز

د پیدا خلکو نه د پسخیدو زیات لائق دی۔

(۱۰) وَقَالَ : كَمَا تَرَكَ لَكُمُ الْمُلُوكُ الْحِكْمَةَ فَاتْرُكُوا لَهُمُ الدُّنْيَا۔

لکه څنګه چه تاسو ته بادشاهانو حکمة (د دین پوهه) پریخے ده نو تاسو هغوی ته دنیا پریدئ۔

(۱۱) يَحِقُّ أَقُوْلُ لَكُمْ اِنَّ حَلَاوَةَ الدُّنْيَا مَرَارَةُ الآخِرَةِ وَاِنَّ مَرَارَةَ الدُّنْيَا حَلَاوَةُ الآخِرَةِ۔

انظر البداية والنهاية ۲/۴۹٦) مفصلا ۔ پکار ده چه زهٔ تاسو ته ووایم چه د دنیا خوند د آخرت تریخوالے دے او د دنیا تریخ والے د آخرت خوند دے۔

نو دا د هغه د حکمة بعض مثالونه شو۔

وَرَسُوْلًا : منصوب دے اَیْ وَیَجْعَلُهٗ رَسُوْلًا ۔ او ګرځوی به ئے رسول بنی اسرائیلو ته، دا دلیل دے چه زمونږ دے امت کی چه راځی نو په صفت د رسالت به نهٔ وی بلکه د یو مُبلغ او بادشاه او خلیفه په صورت کی به راځی۔

أَنِّیْ : یعنی وَیَقُوْلُ: او دا به وائی چه زهٔ تاسو دپاره د ختی نه د مارغه په شان شکل جوړوم او بیا په هغے کی پوکے کوم نو د هغے نه به د الله تعالیٰ په حکم سره مارغه جوړیږی او مورزادی ړوند او برګی مرض والا به د الله تعالیٰ په حکم جوړوم او مړی به راژوندی کوم۔ او کوم څیزونه چه تاسو په کورونو کی ذخیره کوئ (ساتئ) د هغے خبر به درکوم۔

د عیسیٰ علیه السلام په دَور کی د طب او ډاکټرئ چرچه وه نو هغه ته الله تعالیٰ داسے معجزات ورکړل چه طبیبان ئے عاجز کړل څکه طبیبان دا کارونه نشی کولے، هر نبی ته الله تعالیٰ د هغه د زمانی مطابق معجزه ورکړیده۔

عیسیٰ علیه السلام چه به کوم مارغه د ختے نه جوړ کړو ددئے او د عام مارغه فرق به دا وو چه کله به دا مارغه والوتلو او د خلکو د سترګو نه به غائب شو نو یو ځای کی به پریوتلو او ختم به شو او عام مارغان خو ډیر وخت پورے ژوندی وی۔ دا ددے دپاره چه د الله تعالیٰ او د مخلوق د پیدائش ترمینځ فرق راشی۔

وَاُبْرِءُ الْاَکْمَهَ : د مورزادی (پیدائشی) ړوند د علاج نه ټول ډاکټران عاجز دی، بعض وائی اکمه د شپی ړوند یعنی شب کور ته وائی۔ اوله معنیٰ غوره ده۔

وَالْاَبْرَصَ : برګی مرض دوه قسمه دے یو هغه دے چه ټوله څرمن ئے خرابه شوی وی او د څرمنے لاندے وینه ئے وچه شوی وی او صرف زیړے اُوبه پاتی وی نو ددے علاج ممکن نهٔ دے۔ او دویم هغه دے چه د څرمنے لاندے وینه وی لیکن ظاهری څرمن خرابه شوی وی نو

ددې علاج په طب کې شته، دلته اول قسم برګې مرض مراد دې.

وَأُحْيِ الْمَوْتٰى : عیسیٰ علیه السلام به مړی راژوندی کول یوه ورځ ورته چا وویل چه دا خو نزدې مړۀ دی مونږ له د نوح علیه السلام ځوی سام بن نوح راژوندې کړه مونږ به ستا هله ومنو. نو دوی ورته د سام قبر وخودلو عیسیٰ علیه السلام ورته وویل: قُمْ بِإِذْنِ اللّٰهِ) د الله تعالیٰ په حکم راپاځه. نو هغه راپاڅیدو او سرئې سپین وو، چا ترې تپوس وکړو سر دې ولې سپین دې؟ هغه وویل: ما وئیل که قیامت ذې بیا بیرته مړ شو. دا هم الله تعالیٰ راژوندې کړو لیکن ظاهري آواز به د عیسیٰ علیه السلام وو.

وَأُنَبِّئُكُم : یعنی زۀ به تاسو ته ستاسو د خوراك او د ذخیره شوو څیزونو خبر درکوم ما ته به الله تعالیٰ د جبریل علیه السلام په واسطه دا خبر راکوی، ظاهري څه سبب نشته.

فائده : دلته ئې (باذن الله) رانۀ وړو ځکه چه خبر ورکول آسان دې او دا نور کارونه مشکل دی.

ځینی مفسرینو لیکلی دی چه عیسیٰ علیه السلام ماشوم وو، نورو ماشومانو ته به ئې خبر ورکولو چه تا بیګاه دا شې خوړلې دې او تا دا خوړلې دې او تا ته مور دا شې ساتلې دې او تا ته دا...... ماشومان چه به خپلو کورونو ته واپس شو نو هر یو به د خپلې مور نه هغه شې غوښتلو چه ورته به ئې ساتلې وو چه هغوی به ترې تپوس وکړو چه تاسو ته چا خبر درکړې چه ما درته دا فلانې شې ساتلې دې؟ هغوی به جواب ورکړو چه عیسیٰ علیه السلام. (روح المعانی ۱۷۰/۳)

إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَآيَةً لَّكُمْ : (۱) دا د عیسیٰ علیه السلام وینا ده یعنی پدې معجزاتو کی ستاسو دپاره دلیل او نښه شته زما په رشتینوالی او په ما باندې د ایمان راوړلو.

(۲) یا دا قول د الله تعالیٰ دې یعنی پدې مخکنی بیاناتو کی نخه ده په عبدیت او بندګئ دِ عیسیٰ علیه السلام باندې، لیکن دا هغه چا ته فائده ورکوی چه د ایمان اراده لری او ایمان پکی وی، د الله تعالیٰ او د رسول په خبرو تصدیق لری.

وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ
او (راغلې یم) تصدیق کونکې د هغه کتاب چه مخکې زما نه دې چه تورات دې
وَلِأُحِلَّ لَكُم بَعْضَ الَّذِي حُرِّمَ عَلَيْكُمْ
او دې دپاره چه حلال کړم تاسو ته بعض هغه شیان چه حرام کړې شویدی په تاسو

وَجِئْتُكُم بِآيَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿٥٠﴾

او راغلے یم تاسو ته په معجزه د طرفه د رب ستاسو نه نو ویریږئ د الله نه او تابعداري وکړئ زما۔

إِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٥١﴾

بیشکه الله رب زما دے او رب ستاسو دے نو بندګي وکړئ د هغه، دا لاره نیغه ده۔

تفسیر : د معجزو نه روستو د عیسیٰ علیه السلام کارونه بیانیږي چه زهٔ راغلے یم چه تصدیق به کوم د هغه کتابونو چه زما نه مخکې راغلي دي چه هغه تورات دے۔

انبیاء علیهم السلام دا کارونه کوي (۱) چه امت ته معجزات پیش کوي ۔ (۲) امت ته آسانیانې پیش کوي۔ (۳) او د الله تعالیٰ د یو والي او د هغه د بندګئ او د خپل سنت د تابعدارئ دعوت ورکوي۔

وَمُصَدِّقًا : دا عطف دے په (بآية) باندے د (جئتكم) دپاره مفعول دے۔

وَلِأُحِلَّ : نبي د ځان نه یو شے حلالول او حرامول نشي کولے بلکه هغه بیانونکے وي نو د (لاحل) معنیٰ ده : لِأُبَيِّنَ لَكُمْ حِلَّهُ : تاسو ته بیانوم حلالولے د بعض څیزونو د الله تعالیٰ په حکم۔ مګر راجح دا ده چه نبي شارع دے د الله په اذن سره مګر کله چه داسے خبره وکړي چه هغه تعالیٰ ته خوښه نهٔ وي نو بیا ئے د هغے نه منع کوي۔

بَعْضَ الَّذِي : بعض لفظ ئے راوړو ځکه چه ټول محرمات ئے ورته نهٔ حلالول بلکه د بعضو حلالوالے ئے بیانولو لکه د خنزیر غوښه په یهودیانو باندے حرامه وه نو هغه ئے همغه شان حرامه پریښوده، زنا او ظلم حرام وو نو همغه شان حرام ئے پریښودل۔

حُرِّمَ عَلَيْكُمْ : یعنی تاسو باندے چه ستاسو د ظلم د وجه نه کوم شے حرام وو د هغے نه بعض به حلالوم لکه په یهودیانو باندے الله تعالیٰ وازدے او هر هغه حیوان چه نوك لري (بندو ګوتو والا وي) هغه حرام کړي وو نو الله تعالیٰ د عیسیٰ علیه السلام په دین کی حلال کړل ځکه چه د یهودیانو په دین کی سختي وه نو د عیسیٰ علیه السلام په دین کی ورسره دا آسانیانې راغلے۔

په یهودیانو باندے د اُوښ غوښه حرامه وه خو په انجیل کی حلاله وګرځوله شوه۔

(القرطبی ٤/٩٦ و ١٦/١٠٨) والمحرر الوجیز ٣/٩٨)

دلته بعض مفسرینو دا معنیٰ هم کړیده چه زهٔ حلالوم تاسو ته بعض هغه څیزونه چه

تاسو باندے احبارو او رهبانو حرام کړیدی. او (بعض) دلته په معنیٰ د (کل) سره دے، دا معنیٰ صحیح نهٔ ده ځکه چه بعض په معنیٰ د کل سره اخستل د عامے عربیٔ خلاف دی، بلـه دا چه د تحریم نسبت الله تعالیٰ ته کیږی، نهٔ احبارو او رهبانو ته، ځکه چه احبار او رهبان چه کوم شے حرام کړے وی هغه خو د مخکی نه حرام نهٔ دے نو بیا آسانی راوستل نشو، او حال دا چه دلته عیسیٰ علیه السلام د خپل شریعت آسانی بیانوی.

وَجِئْتُكُمْ بِآيَةٍ : دائے دوباره راوړو د تاکید دپاره، او بل ددے دپاره چه روستو (فاتقوا الله) پرے تفریع او بناء کړی. یعنی ما تاسو ته معجزے راوړیدی، آیة جنس دے یعنی دغه مخکنئ معجزے مے راوړیدی نو د الله تعالیٰ نه یره وکړئ، د هغه حکمونه ومنئ او زما تابعداری وکړئ، زما په نقش قدم راروان شئ. عام انبیاء علیهم السلام توحید او سنت ته دعوت ورکوی، یعنی د الله تعالیٰ یواځے بندگی کول په طریقه د رسول.

إِنَّ اللَّهَ : دا د (فَاتَّقُوا اللَّهَ) تشریح ده. یعنی د الله تعالیٰ نه یره دا ده چه د هغه بندگی وکړے شی لکه څنګه چه زهٔ د هغه بندگی کوم ځکه هغه زمونږ او ستاسو شریك رب دے او همدا لاره نیغه الله تعالیٰ ته رسیدلے ده.

معلومه شوه چه عیسیٰ علیه السلام خلك خپلے بندگئ ته نهٔ دی رابللی بلکه الله تعالیٰ ته ئے رابللی دی نو هغه الٰه نشی کیدے.

فائده : تقویٰ، اطاعت د رسول او عبادت ئے جمع کړل ځکه چه د انسان کمال په درے څیزونو کی دے (۱) عبادت (۲) په طریقه د رسول (۳) سره د پرهیز کولو د ګناهونو نه لکه ددے تفصیل په الفوائد (۳/۹ ۳۱) کی وګوره. بنده کی اول د الله تعالیٰ بندگی ضروری ده بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په طریقه ضروری ده او بیا ددے سره سره په آینده کی د ګناهونو نه یره کول او د الله نه حیاء کول او همیشه د هغه سره محبت ساتل ضروری دی چه دے ته تقویٰ وائی چه دا د عبادت نه حاصلیږی. نو داسے انسان چه کله لږ عبادت هم وکړی نو د ډیر په ځای قائمیږی لکه ستا یو شاګرد ستا خدمت وکړی لیکن روستو درباندے هیڅ پرواه نهٔ لری، بلکه غیبتونه دِے کوی نو ددهٔ خدمت کی هیڅ مزه نشته او دویم شاګرد عمل هم وکړی او د استاذ ادب هم وکړی لیکن کله چه غائب شی بیا هیڅ پرواه نهٔ لری، مینه ئے نهٔ وی. نو ددهٔ خدمت هم دومره کمال والا نهٔ دے او دریم شاګرد په احترام سره ستا خبره ومنی او چه کله جدا شی نو هم مینه او محبت لری او صفتونه کوی نو ددهٔ معمولی خدمت هم استاذ په ډیر څه باندے حسابوی، دغه مثال ددے درے واړو کلماتو دے فتدبر.

صراط مستقیم: څوك چه بندګی نهٔ کوی هغه په نیغه لاره روان نهٔ دے بلکه د هلاکت په ځای کی ناست دے، او څوك چه بندګی کوی لیکن د سنت په طریقه نهٔ بلکه د خواهش په طریقه وی یا د الله تعالیٰ دپاره نهٔ وی نو دا مقصد ته نهٔ رسیدو والا لاره باندے روان دے۔

فَلَمَّا أَحَسَّ عِيسٰى مِنْهُمُ الْكُفْرَ قَالَ مَنْ أَنصَارِیٓ
هرکله چه اولیدو عیسیٰ علیه السلام د هغوی نه کفر، وے وفرمایل: څوك دے مددګار زما
إِلَى اللهِ قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ نَحْنُ أَنصَارُ اللهِ آمَنَّا
الله ته تلونکے، اوونیل مخلصو ملګرو: مونږ مددګار یو د دین د الله، مونږ ایمان راوړے
بِاللهِ وَاشْهَدْ بِأَنَّا مُسْلِمُوْنَ ﴿٥٢﴾
په الله باندے او ته ګواه شه چه یقیناً مونږ مسلمانان یو۔

تفسیر: عیسیٰ علیه السلام به په بیت المقدس کی یو څو کاله دعوت کولو، څه کسان د هغه په دعوت مسلمانان شول مګر اکثر یهودیان د هغه مخالف شو پدے وجه چه دهٔ به په هغوی باندے ردونه کول چه اے یهودیانو! تاسو د خلکو مالونه په نارواوخوریٔ او په خوله باندے ښیے او نرمے خبرے کویٔ او زړونه مو د شرمخانو دی، دنیا په دین باندے ګټیٔ او د الله تعالیٰ نه نهٔ یریږیٔ، سم ایمان راوړیٔ نو یهودیان ورپسے راپاڅیدل چه دا سړے مونږ تنګوی او زمونږ بی عزتی کوی، ددهٔ وژل پکار دی، نو عیسیٰ علیه السلام او د هغه مور دواړو د فلسطین نه مصر ته هجرت وکړو لکه سورة المومنون (۵۰) کی الله تعالیٰ فرمایلی دی:

﴿ وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُ آيَةً وَآوَيْنَاهُمَا إِلَى رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَمَعِينٍ ﴾ ۔

هلته څه زمانه وسیدل بیا بیرته بیت المقدس ته راغلل او هلته به ئے دعوت کولو تردے چه د یهودیانو مُلیانو بادشاه یَردوس ته شیطانی وکړه (چه دا هم یهودی وو) چه دا سړے راغلے دے زمونږ دین ئے تباه کړو نو هغه د عیسیٰ علیه السلام د وژلو اراده وکړه، عیسیٰ علیه السلام خپل ملګری راجمع کړل چه زهٔ درنه روان یم۔

ځینی مفسرینو وئیلی دی چه عیسیٰ علیه السلام ته د ماشومتوب په وخت کی د پیغمبریٔ مرتبه ورکړے شوے وه چه عمرئے درے کاله وو لیکن مشهوره دا ده چه هغه د دیرش کالو په عمر نبی ګرځیدلے وو او د رسالت وخت ئے درے کاله وو او په درے دیرش کلنیٔ کی

آسمان ته وخیژول شو۔ (روح المعانی ۱٦۷/۳) تفسیر الطبری (۲۷۸/۳)
او بی بی مریم د هغه نه روستو چه عیسیٰ علیه السلام د رمضان په میاشت کی په لیلة القدر شپه کی آسمان ته وخیژول شو، شپږ کاله ژوندئ وه او بیا په دوه پنځوس کلنئ کی وفات شوه (تفسیر البغوی ۳۰۸/۱) تفسیر ابی السعود (۴۳/۲)

د عیسیٰ علیه السلام د وژلو ترتیب

نو بیا دا واقعه په درے طریقو راغلے ده۔ (۱) یو دا چه عیسیٰ علیه السلام هغوی ته وویل چه څوك دے ته تیار دے چه زما شکل په هغه واچول شی او شهید شی او الله تعالیٰ ئے جنت ته داخل کړی نو یو تن دے فدائی حملے ته تیار شو نو یهودیان راغلل عیسیٰ علیه السلام ئے په خپل کور کی محاصره کړو، الله تعالیٰ ترے عیسیٰ علیه السلام بره وخیژولو او دغه نیك بنده باندے ئے مشابهت ورواچولو خلکو دغه نیك بنده مړ کړو بیا یهودیان په شك کی شو چه آیا مونږ عیسیٰ علیه السلام مړ کړو او که نهٔ ؟۔
(۲) دویمه طریقه داسے ده چه عیسیٰ علیه السلام خپلو ملګرو ته وویل چه په تاسو کی به یو تن کافر کیږی نو کله چه صبا له شو یو کس په کی جاسوس جوړ شو بادشاه ته ئے وویل چه ما له دومره مال راکړه، زهٔ به درته د عیسیٰ (علیه السلام) ځای وښایم نو خلك راغلل نو الله تعالیٰ پدے جاسوس باندے د عیسیٰ علیه السلام مشابهت ورواچولو، خلکو هغه مړ کړو او عیسیٰ علیه السلام ئے ترے آسمان ته پورته کړو، دے ملګری ئے چغے وهلے چه زهٔ ستاسو ملګرے یم خو هغوی ورته نهٔ کتل قتل ئے کړو۔ نو د یهودیانو شك راغلو چه مونږ عیسیٰ علیه السلام مړ کړو او که دا خپل ملګرے۔ نو دوی غلط تدبیر جوړ کړو الله تعالیٰ په خپل تدبیر کی راونیول، عیسیٰ علیه السلام الله تعالیٰ روغ وخیژولو د هغه ملګرو ته ئے نجات ورکړو او ددهٔ مخالفینو ته ئے سزا ورکړه، بیا چه کله نصارا او هم خپل دین پریښودو نو الله تعالیٰ ددے امت مسلمانان راوستل۔
(۳) دریمه طریقه دا هم ویل شویده چه د یهودو په یو سړی (طیطایوس) باندے د عیسیٰ علیه السلام مشابهت واچول شو نو هغوی خپل ملګرے مړ کړو ځکه ئے شك ډیر شو۔ او زیات تفصیل دپاره د سورة النساء آیت (۱۵۷) لاندے تشریح وګورئ هلته ډیر وجوه ذکر دی۔
فَلَمَّا أَحَسَّ : احساس علم بالحواس ته وائی یعنی یو شے په حواسو باندے معلومول۔ په

سترګو ليدل. پدے کی اشاره ده چه دا کفر د دوی د خولے او د سترګو نه ښکاره کيده، عيسىٰ عليه السلام وليده، او په غوږونو ئے واوريده دوی به هغه ته (ابن الفاعله) ولدِ زنا يعنی د زنا کارے ځوی وئيلو (والعياذ بالله).

مَنْ أَنصَارِیْ : پدے کی اشاره ده چه عيسىٰ عليه السلام خپله مدد ته محتاج دے هغه به د بل چا سره څه مدد وکړی؟!.

أَنصَارِیْ إِلَى اللهِ : اَیْ ذَاهِبًا اِلَى اللهِ. څوك به زما مدد وکړی چه تلونکے وی الله طرفته.

الْحَوَارِيُّوْنَ : دا مخلصو ملګرو ته وائی. جمع د حواری ده، مددګار، وزير، دوست او خالص ته وائی. (قاسمیؒ) دا د حَوُر نه ماخوذ دے، سپينوالی ته وائی يعنی دا سپين او مخلص ملګری وو، زړونه ئے صفا وو او ظاهری لباس به ئے هم سپين ساتلو. بعض وائی دوی به دوبی توب کولو، د خلکو جامے به ئے وينځلے. ليکن دا لغوی معنیٰ د حواری نۀ ده، اګرکه کيدے شی چه دے خلکو کی بعض کسانو به دغه کار کړے وی.

مفسرينو د دوی په تشخيص کی مختلف قولونه ليکلی دی چه دوی ښکاريان، مجاهدين، شاهزادګان، دوبيان وو مګر غوره قول د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دے چه دوی د عيسیٰ عليه السلام مخلصين او قوی دوستان او مددګار وو هر څوك چه وو او که هر کسب ئے کاوه، امکان لری چه دوی کی مختلف طبقو او کارونو والا خلك وو.

(زاد المسير ۱/۳۳۳) روح المعانی (۳/۱۷٦) والبحر المحيط ۲/٤۷۱)

د بنی قريظو د خبر راوړو دپاره نبی عليه السلام زبير بن عوام رضی الله عنه وليږلو، بيا ئے وفرمايل: د هر نبی دپاره يو حواری (مخلص ملګرے) وی او زما حواری زبير (رضی الله عنه) دے. (بخاری : ۲۸٤٦)

مطلب د آيت دا دے چه هرکله چه عيسیٰ عليه السلام خپل قوم ته قسم قسم معجزے پيش کړے او په مختلفو طريقو سره ئے دين ته دعوت ورکړو ليکن خلکو کی انتهائی نا اهلی وه، د ايمان راوړل خو په ځای پريده، د هغه سره ئے حسد او دشمنی شروع کړه نو عيسیٰ عليه السلام دا حالت ښکاره وليدو نو هغه اراده وکړه چه د داعيانو يو ټولګے تيار کړی نو اعلان ئے وکړو چه د دين په دعوت کی به زما ملګری څوك وی چه اجرئے په الله تعالیٰ وی؟ نو د هغه مخلصو ملګرو مؤمنانو دے دعوت ته لبيك ووېلو او دا ئے ووېل چه اے عيسیٰ! مونږ پدے وجه ستا مدد نۀ کوو چه کوم شخصی غرض لرو بلکه پدے وجه مدد ته تيار يو چه تۀ د الله پيغمبر يی، نو زمونږ مدد او نصرت په حقيقت کی د الله تعالیٰ د دين سره دے، پدے وجه ئے داسے ونۀ ويل چه (نَحْنُ اَنْصَارُكَ) مونږ ستا مددګار يو، بلکه (اَنْصَارُ اللهِ) د الله

تعالیٰ د دین مددگار یو، او مونږ واقعي په الله تعالیٰ ایمان راوړے دے نو ولے به خپل ځانونه انصار الله نهٔ جوړوو، ته گواه شه چه مونږ مسلمانان یو او د اسلام احکامو ته غاړه ږدو۔

نَحۡنُ أَنصَارُ اللهِ : یعنی مونږ د الله تعالیٰ د دین او د هغه د رسول مددگار یو۔ الله تعالیٰ د چا مدد ته محتاج نهٔ دے لیکن الله تعالیٰ دا دین بندگانو ته سپارلے دے امتحاناً او دا حکم ئے ورته کړیدے چه ددے دین مدد به کویٔ، ﴿وَلِيَعۡلَمَ اللّٰهُ مَن يَنصُرُهُۥ وَرُسُلَهُۥ بِالۡغَيۡبِ﴾ (الحدید:۲۵) بیا د الله تعالیٰ د دین د مدد دپاره اول شرط دا دے چه بنده به اول خپله مؤمن کیږی، که عقیده ئے خرابه وی، نو د دین کار ورله فائده نهٔ ورکوی پدے وجه حوارینو ورپسے دا وویل: مونږ په الله تعالیٰ ایمان راوړیدے، د هغه سره شرك نهٔ کوو او اے عیسیٰ ! (علیه السلام) تهٔ گواه شه چه مونږ ستا د رسالت تابعدار یو، نو دے خلکو ته الله تعالیٰ غلبه ورکړه په دشمنانو لیکن روستو زمانه کی چه کله دوی دین پریښودو نو مغلوبه شو۔

رَبَّنَآ ءَامَنَّا بِمَآ أَنزَلۡتَ وَٱتَّبَعۡنَا ٱلرَّسُولَ
اے ربه زمونږ! مونږ ایمان راوړے په هغه چه نازل کړیدے تا او مونږ تابعداری کړے د رسول
فَٱكۡتُبۡنَا مَعَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿۵۳﴾ وَمَكَرُواْ وَمَكَرَ
نو ولیکه مونږ سره د گواهانونه۔ او دوی چل جوړ کړو (دپاره د وژلو د هغه) او چل جوړ کړو
ٱللَّهُۖ وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلۡمَٰكِرِينَ ﴿۵۴﴾
الله تعالیٰ (دپاره د خلاصولو د هغه) او الله غوره دے د تدبیر کونکو نه۔

تفسیر : هرکله چه دوی عیسیٰ (علیه السلام) گواه جوړ کړو نو اوس دوی الله تعالیٰ له گواه گرځوی چه هغه امر کونکے دے په ایمان او د رسول په رسالت باندے۔ کله چه یو انسان د یو حق دعوه وکړی نو بیا ورسره دعا ضروری ده۔

بِمَآ أَنزَلۡتَ : یعنی ستا په کتاب چه انجیل او تورات دے مونږ ایمان راوړیدے او د (الرسول) نه مراد عیسیٰ (علیه السلام) دے۔

ٱلشَّٰهِدِينَ :یعنی هغه خلك چه ستا د وحدانیت گواهی ورکوی چه هغه انبیاء علیهم السلام او د هغوی تابعدار دی۔(۲) یا دا امت د رسول الله ﷺ دے۔ نو ددے امت سره به په قیامت کی د عیسیٰ (علیه السلام) تابعدار هم گواهی ورکوی۔ (۳) یا د شاهدین نه مراد هغه خلك دی چه د پیغمبرانو د رشتینوالی گواهی ورکوی۔ (٤) او شاهد کله دین بیانونکی ته

وائی- یعنی مونږ په هغه خلکو کی داخل کړه چه ستا دین بیانوی- دلته ټول مقاصد اخستل صحیح دی ځکه چه الفاظ ئے احتمال لری-

وَمَكَرُوا : یعنی دوی د عیسیٰ علیه السلام د قتل دپاره تدبیر او چل جوړ کړو مشوره ئے وکړه او الله تدبیر جوړ کړو د خلاصولو د هغه دپاره-

د (مکر) نه مراد دلته مشوره کول او تدبیر جوړول دی-

دا آیت ښکاره دلیل دے چه عیسیٰ علیه السلام الله تعالیٰ بره آسمان ته خیژولے دے ځکه چه کله دوی عیسیٰ علیه السلام وژلے وی نو بیا د الله علیه السلام تدبیر څه فائده ورکړه حال دا چه الله تعالیٰ خیر الماکرین دے- معلومه شوه چه د الله تعالیٰ تدبیر کامیاب وو چه عیسیٰ علیه السلام ئے بچ کړو او د هغوی تدبیر ناکام شو، خواری ئے ضائع شوه-

فوائد :

(١) الله تعالیٰ خپل انبیاء علیهم السلام او نیکانو او داعینو ته نجات ورکوی او د هغوی مدد کوی- (٢) د عیسیٰ علیه السلام په عبدیت باندے دلیل دے چه هغه په خپل تدبیر او بچاؤ کی الله تعالیٰ ته محتاج وو- (٣) د الله تعالیٰ په لوی قدرت باندے دلیل شو چه ټول خلك که راجمع شی او د یو تن د وژلو اراده کوی نو الله تعالیٰ ئے خلاصولے شی- پدے وجه صرف په الله تعالیٰ باندے یقین پکار دے نۀ په امریکه او کافرانو باندے، د الله تعالیٰ طاقت د هر طاقت دپاسه دے- (٤) په نبی علیه السلام او په علماؤ باندے واجب ده چه کله مری یا چرته ځی چه په دین باندے وصیت وکړی لکه عیسیٰ علیه السلام چه وکړو-

(٥) هجرت واجب دے کله چه دعوت فائده نۀ ورکوی یا د داعی د قتل کوشش کیږی لکه عیسیٰ علیه السلام هجرت وکړو، رسول الله صلی الله علیه وسلم هم هجرت کړے وو کله چه قریشو د هغه د قتل اراده وکړه-

(٦) اسلام د عیسیٰ علیه السلام او د حوارینو دین دے نو رد دے په یهود او نصاراؤ چه د اسلام دشمنی کوی حال دا چه د دوی مشران په اسلام روان وو لکه شیعه ګان او مقلدین متعصبین د ائمه کرامو -

(٧) د دعاء د قبلیدو دپاره الله تعالیٰ ته په ایمان او اتباع د رسول سره وسیله نیول پکار دی-

(٨) په دین کی اوچته مرتبه طلب کول پکار دی لکه (فاکتبنا مع الشاهدین) نه معلومه شوه-

(٩) مکر د الله تعالیٰ صفتِ فعلی دے، (ومکروا ومکر الله) (ویمکرون ویمکر الله) (انفال

:۳۰) الله تعالیٰ مکر (او تدبیر) کوی لیکن هغه ته به (ماکر) مکر کونکے نشي وئیلے البته داسے وئیلے شي چه (خیر الماکرین) یعني بغیر د اضافت نه (ماکر) د الله تعالیٰ په اسماء او صفاتو کی نهٔ دے نقل، ځکه چه دا کمال نهٔ دے عند الاطلاق، دارنګه چه په یو شي سره مقید شي نو بیا هم استعمال جائز دے ځکه چه بیا ئے په معنیٰ کی کمال پیدا شي لکه (اِنَّ اللّٰہ مَاکِرٌ بِمَنْ یَّمْکُرُ بِهٖ وَبِرُسُلِهٖ) (الله تعالیٰ مکر کوی د هغه چا سره چه هغه د الله سره او د هغه د رسولانو سره مکر کوی) (تفسیر العثیمین ۲۸/۳)

اِذْ قَالَ اللّٰهُ یٰعِیْسٰۤی اِنِّیْ مُتَوَفِّیْكَ وَرَافِعُكَ اِلَیَّ
کله چه ووئیل الله : اے عیسیٰ! یقیناً زه پوره اخستونکے یم تا لره او اُوچتونکے یم تا لره ځان ته
وَمُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا وَجَاعِلُ الَّذِیْنَ
او پاکونکے یم تا لره د هغه کسانو نه چه کفرئے کړیدے او ګرځونکے یم هغه کسانو لره
اتَّبَعُوْكَ فَوْقَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْۤا اِلٰی یَوْمِ الْقِیٰمَةِ
چه تابعداری ئے کړیده ستا، دپاسه د هغه کسانو نه چه کفرئے کړیدے تر ورځ د قیامت پورے
ثُمَّ اِلَیَّ مَرْجِعُكُمْ فَاَحْكُمُ بَیْنَكُمْ
بیا خاص ما ته راګرځیدل دی ستاسو نو فیصله به وکړم په مینځ ستاسو کی
فِیْمَا كُنْتُمْ فِیْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿۵۵﴾
په هغه خبرو کی چه تاسو په هغے کی اختلاف کولو۔

تفسیر : دا آیتونه هم د عیسیٰ علیه السلام د عبدیت سره متعلق دی چه هغه بنده وو، د مرګ نه په خلاصیٔ کی الله تعالیٰ ته محتاج وو، کله چه خلکو هغه ته تدبیر جوړ کړو نو الله تعالیٰ عیسیٰ علیه السلام ته وحی وکړه چه زهٔ تا خپل ځان ته خیژوم، آسمانونو ته دے بوځم او د کافرانو نه دے پاکوم او ستا تابعدارو ته اُوچته درجه ورکوم، عزت ورکوم او کافرانو دشمنانو ته په دنیا او آخرت کی سخته سزا ورکوم۔ دا درے زیری هغه ته ورکړے شو۔ نو دلیل شو په عبدیت د عیسیٰ علیه السلام چه پدے درے وارو کارونو کی الله تعالیٰ ته حاجت لری، نو تاسو دا ولے الٰه ګرځوئ، او بله فائده پکی دا ده چه الله تعالیٰ د خپلو نیکانو بندګانو سره دغسے مدد کوی اګرکه کمزوری وی او بل طرفته لوی طاقت وی۔

يَا عِيُسٰى : الله رب العزت خپل يو نبي ته په خپل نوم آواز کولے شي هغه رب دے او دائے بندګان دي، زمونږ د نبي ﷺ ئے ډير ادب کړيدے چه خپل نوم ئے ورته نهٔ دے اخستے۔
إِنِّيُ مُتَوَفِّيُكَ : دا لفظ د متشابهاتو نه دے چه عيسيانو او پرويزيانو او مرزا غلام احمد قادياني ترے غلطه فائده اخستے ده چه قرآن کي دي چه عيسىٰ (عليه السلام) مړ دے ځکه چه (متوفيك) معنىٰ دا کوي چه زهٔ تا وفات کوم نو بس عيسىٰ عليه السلام وفات شويدے، ځکه چه متوفي د وفات نه دے، او (ورافعك) کي رفعت د درجے مراد دے۔
جواب دا دے چه د متوفي دا معنىٰ اخستل پدے مقام کي صحيح نهٔ دي ځکه چه د نورو نصوصو سره ټکراؤ راځي تقريباً د نوي (۹۰) نه زيات حديثونه راغلي دي چه عيسىٰ عليه السلام به روستـه زمانه کي راکوزيږي او خلافت به قائموي۔ او پدے باندے اجماع د امت مسلمه ده۔ او په قرآن کريم کي ډير آيتونو سره ددے خبرے ټکراؤ دے، لکه ﴿وَمَكَرُوْا وَمَكَرَ اللهُ﴾ کي بيان شو چه هرکله عيسىٰ عليه السلام وفات وي نو بيا د الله تعالىٰ د مکر فائده څه راوځي؟ دارنګه روستـه سورة النساء (۱۵۷) کي راځي : ﴿ وَمَا قَتَلُوْهُ وَمَا صَلَبُوْهُ وَلٰكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ﴾ ﴿ ...... وَمَا قَتَلُوْهُ يَقِيْنًا ﴾ يقيناً دوى نهٔ دے وژلے۔
نو دوى صريح نصوص پريدى او متشابه اخلي۔ حال دا چه توفي په لغت د عربئ کي په معنىٰ د (اَخُذُ الشَّيُءِ وَافِيًا) دے، يعني يو شے پوره اخستل۔ يعني روح سره د بدن نه او د رفعت په صله کي چه کله لفظ د (اِلىٰ) راشي نو حقيقي رفعت (پورته والے) مراد وي۔
او که دلته روح مراد شي چه زهٔ تا وفات کوم او روح دے بره خيژوم نو بيا خوئے د نورو انسانانو سره فرق نهٔ راځي ځکه چه د نورو مؤمنانو روحونه هم بره خيژي۔
مطر الوراقؒ وائي:(مُتَوَفِّيُكَ مِنَ الدُّنُيَا وَلَيُسَ بِوَفَاةِ مَوُتٍ) يعني د دنيا نه دِے پوره اخلم او دا د مرګ وفات نهٔ دے۔
(۲) بعض علماء پدے آيت کي داسے تاويل کوي چه پدے کي تقديم تاخير دے : ﴿ إِنِّيُ رَافِعُكَ اِلَيَّ وَمُتَوَفِّيُكَ﴾ : يعني زهٔ دِے اُوس اُوچتوم او بيا دِے وفات کوم يعني قيامت ته نزدے۔ او واو د مطلق جمع دپاره وي، د ترتيب دپاره نهٔ وي۔ (الضحاك والفراء– قرطبي)
دا هم يو تاويل دے ليکن دومره غوره نهٔ دے، قرآن فصيح بليغ کتاب دے، بې ضرورته تقديم تاخير ته ضرورت نشته۔
(۳) دريم : توفي کله په معنىٰ د خوب سره هم راځي لکه په سورة الانعام (۶۰) آيت کي دي : ﴿ وَهُوَ الَّذِيُ يَتَوَفَّاكُمُ بِاللَّيُلِ﴾ الله تعالىٰ هغه ذات دے چه تاسو د شپے اُوده کوي۔ نو

عیسیٰ علیه السلام هم الله تعالیٰ اودهٔ کړو او د خوب په حالت کی ئے پورته کړو دے دپاره چه رعب پرے رانشی۔ (قاله الربیع بن انسؒ – قرطبی وابن کثیر)

(٤) د بعض سلفو نه (لکه وهب بن منبهؒ نه) دا نقل دی چه عیسیٰ علیه السلام الله تعالیٰ د لږ وخت دپاره مړ کړو په مقدار د دوه درے گینتو یا د اُوه کینتو یا د درے ورځو او بیا ئے پورته کړو۔ (قرطبی، ابن کثیر والبغوی) لکه دا په اُوسنو انجیلونو کی هم شته، کیدے شی چه دے بعض سلفو دا انجیل کتلے وی۔ په هغے کی دا دی چه عیسیٰ علیه السلام دوی مړ کړو او په قبر کی ئے خخ کړو او په مقدار د درے ورځو مور ئے قبر له راغله، ورته ژړل ئے، عیسیٰ علیه السلام ورته راغلو وے فرمایل چه زهٔ مړ نهٔ یم۔ نو دا دائمی مرگ نهٔ وو بلکه د لږ ساعت دپاره وو۔

او په بخاریؒ کی د سیدنا ابن عباسؓ نه دا نقل دی چه د (متوفیك) معنیٰ په (مُمِيتُكَ) سره کړے ده یعنی زهٔ دے وژنم۔ نو د هغے زمونږ ددے خبرے سره منافات نشته نو دا یا د لږ ساعت دپاره مرگ مراد دے په حالت د خوب کی، (قاله الربیعؒ) یا دا چه په خپل وخت کی مرگ مراد دے او فی الحال اُوچت شویدے۔

مگر ظاهر د قرآن دا دے چه دوی عیسیٰ علیه السلام بیخی نهٔ دے وژلے بلکه الله تعالیٰ خپل ځان ته پورته کړیدے۔ او د مرگ معنیٰ اخستل د نصوصو د ظاهر خلاف دی۔

حسنؒ او ابن زیدؒ او ضحاكؒ وائی چه صحیح دا ده چه الله تعالیٰ عیسیٰ علیه السلام لره آسمان ته پورته کړیدے، نهٔ خوب وو او نهٔ وفات وو او دا خبره طبریؒ هم غوره کړیده۔ (قرطبی)

(٤) علامه قاسمیؒ وائی یوه بله وجه دا هم ده: سُمِّيَ سَلْبُ تَصَرُّفِهٖ عَلَيْهِ السَّلَامُ بِأَتْبَاعِهٖ وَانْتِهَاءُ مُدَّتِهِ الْمُقَدَّرَةِ بَيْنَهُمْ تَوَفِّيًا ۔ یعنی عیسیٰ علیه السلام په خپلو ملگرو کی تصرف نشو کولے او په هغوی کی ئے مقرره موده ختمه شوه او په هغوی کی ئے خپله موده پوره کړه نو دے ته ئے توفی وئیلے ده۔ یعنی دا داسے شو لکه مرگ او وفات نو ځکه ئے تعبیر په توفی سره وکړو۔ زهٔ تا وفات کوم یعنی تهٔ به په خپلو ملگرو کی تصرف نشے کولے لکه د مړی په شان۔ او دا مطلب نهٔ دے چه حقیقةً وفات شویدے۔

وَرَافِعُكَ إِلَيَّ : ماده د رفع په قرآن کریم کی (۲۹) کرته ذکر ده او په دولس (۱۲) مقاماتو کی رفع د درجے مراد ده او په اولس (۱۷) مقاماتو کی رفع حقیقی مراد ده۔ او دلته هم حقیقی پورته والے مراد دے، لکه سیاق پرے دلیل دے۔ او په قرآن باندے فهم دپاره د آیتونو سیاق پیژندل ضروری دی۔ بیا احادیث صحیحه او بیا اجماع د مسلمانانو پرے دلیل دے۔

فائده : د (رافعك) نه معلومه شوه چه الله تعالیٰ په اعتبار د ذات سره د آسمانونو نه

پورته په عرش باندې دې، او دا د اهل سنت والجماعة مذهب دې خلاف ثابت دې متکلمینو لره چه هغوی وائی جهت الله تعالیٰ لره ثابتول د صفاتو د اجسامو نه دی لیکن مونږ وایو دا خبره د مخلوق په باره کې کیدې شی، نۀ د خالق په باره کې۔ (القاسمی)

وَمُطَهِّرُكَ : ۱– یعنی د کافرانو د ضررونو او کنځلو او ګنده خبرو او ګنده کارونو نه دې پاکوم، د ګنده ماحول نه دې پاك ماحول د ملائکو ته بوځم۔ ۲– دارنګه د هغوی د قتل نه دې بچ کوم۔ (زاد المسیر)

وَجَاعِلُ الَّذِيْنَ : هرکله چه د اُوچتو همتونو والو ډیره توجه د روستو نائبانو احوالو طرفته وی چه دوی باندې به څه حالات راځی نو الله تعالیٰ هغه ته زیرې ورکړو چه هغوی ته به فوقیت ورکوم (قاسمی)۔ یعنی الله تعالیٰ ورته وفرمایل : ستا تابعدار به د کافرانو دپاسه ګرځوم تر قیامته پورې۔ ددې نه نصاراو دلیل نیولې دې چه ستاسو قرآن ویلی دی چه نصاریٰ به تر قیامته پورې غالبه وی؟ ددې جواب دا دې چه د قرآن د آیت نه به غلطه فائده نشی اخستې بلکه دلته الله تعالیٰ (فوق الذین کفروا) ویلی دی یعنی نصاریٰ به د نورو کافرانو دپاسه وی او فوق المسلمین ئې نۀ دی وئیلی چه ګنې په مسلمانانو به غالبه وی۔ نو نصاریٰ د یهودو نه غوره دی او الله تعالیٰ ورله قدرتونه هم زیات ورکړیدی، (اسرائیل اُوس د امریکی ماتحت دی) او یهود ذلیله او مغلوب دی۔ (قاله ابن زید – زاد)

دا هم په هغه وخت کې چه دوی د عیسیٰ علیه السلام صحیح تابعداری وکړی، (اتبعوك پرې دلیل دې) اُوس خو دوی کفار دی۔ یعنی دا بشارت د حوارینو او بیا د هغوی روستنو تابعدارو دپاره وو، تردې چه د هغه شریعت د محمد رسول الله ﷺ په راتللو سره منسوخ شو۔ اُوس به مسلمانان غوره وی۔ (التحریر)

او مسلمانان د نصاراؤ دپاسه دی لکه قتاده او ربیع او ابن سائب او شعبیؒ ویلی دی ځکه چه مسلمانانو د هغه د نبوت تصدیق کړیدې او د هغه د دین توحید پسې روان شویدی نو دوی به د کافرانو دپاسه وی په عزت، قوت او حجت (دلیل) کې۔ (زاد واللباب لابن عادل)

(۲) شیخ الاسلام ابن قیم په بدائع التفسیر کې لیکی : چه پدې آیت کې د مسلمانانو فوقیت ذکر دې ځکه : اَلنَّصَارىٰ اَتْبَعُ لَهٗ مِنَ الْيَهُوْدِ فَهُمْ فَوْقَهُمْ وَالْمُسْلِمُوْنَ اَتْبَعُ لَهٗ مِنَ النَّصَارىٰ فَهُمْ فَوْقَهُمْ﴾ نصاریٰ د یهودیانو په نسبت د عیسیٰ علیه السلام ډیر تابعدار وو نو دوی د یهودو دپاسه وو او مسلمانان د نصاراو نه د هغه ډیر تابعدار دی نو دوی به په نصاراؤ دپاسه او غالبه وی) آیا عیسیٰ علیه السلام به ګیره خریله چه دوی ئې خریوی؟، آیا هغه به خنزیران

خوړل؟ آیا هغه به العیاذ بالله زناګاني کولے چه دوی ئے کوی؟، بلکه مسلمانان چه کوم نیك کارونه کوی عیسیٰ علیه السلام په هغے خوشحالیږی۔
او ډیر آیتونه او احادیث پدیے باندیے دلیل دیے چه امت مسلمه ته به الله تعالیٰ په نورو دینونو والو باندیے غلبه ورکوی۔ د بخاري او مسلم روایت دیے چه عیسیٰ علیه السلام به راکوزیږی او صلیب به ماتوی او خنزیر به قتلوی او جزیه به نهٔ قبلوی او د هغه په نیز به یا اسلام وی یا به قتل وی او هغه به د شریعت مطابق د خلکو ترمینځ فیصلے کوی او مسلمانان به صرف د هغه مددګار او تابعدار وی او کیدیے شی چه پدیے آیت کی همدیے طرفته اشاره وی۔
ثُمَّ اِلَیَّ : یعنی د تمامو انسانانو ماته راګرځیدل دی او زهٔ به د دوی ترمینځ فیصله کوم۔
مَرْجِعُکُمْ : دا مصدر میمی دیے په معنی د رجوع سره۔
تَخْتَلِفُوْنَ : اَیْ مِنَ الدِّیْنِ ۔ چه تاسو په کی اختلاف کوئ د دین نه۔ او دیے کی د عیسیٰ علیه السلام او د هغه سره د اختلاف کونکو او دارنګه د هغه د اتباعو سره د نورو کافرانو اختلاف دواړه مراد کیدیے شی۔ (المنار)
فَأَحْکُمُ : یعنی قولی او عملی فیصله به ستاسو د اختلاف په مینځ کی کوم او عملی فیصله دا ده :

فَأَمَّا الَّذِیْنَ کَفَرُوْا فَأُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِیْدًا فِی الدُّنْیَا
پس هغه کسان چه کفرئے کړیدیے نو عذاب به ورکړم هغوی ته عذاب سخت په دنیا
وَالآخِرَةِ وَمَا لَهُمْ مِنْ نَّاصِرِیْنَ ﴿٥٦﴾ وَأَمَّا الَّذِیْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا
او آخرت کی او نهٔ به دوی لره څوك مددګاران۔او هغه کسان چه ایمان ئے راوړو او عملونه ئے اوکړل
الصَّالِحَاتِ فَیُوَفِّیْهِمْ أُجُوْرَهُمْ وَاللهُ لَا یُحِبُّ الظَّالِمِیْنَ ﴿٥٧﴾
نیك (په اتباع د پیغمبر) نو پوره به ورکړی دوی له اجرونه د دوی او الله مینه نکوی د ظالمانو سره۔

تفسیر : عملی فیصله دا ده چه کافرانو ته به په دنیا او آخرت کی سخته سزا ورکوم او د دوی به هیڅوك مددګاران نهٔ وی او ایمان والو ته به پوره اجرونه ورکوم۔
لَا یُحِبُّ الظَّالِمِیْنَ : یعنی ظالمان د الله سبحانه بدی شی، دوی سره بغض لری۔ ظالمان ئے دلته مشرکان او کافرانو او یهود او نصاراؤ ته ویلی دی ځکه چه دوی د الله تعالیٰ حق

غیر الله ته ورکړیدے او ظلم یو شے په غیر د خپل ځای کی کیخودلو ته وائی۔ دوی د الله تعالیٰ بندګی عیسیٰ علیه السلام ته ورکړه او عیسیٰ علیه السلام له د الله تعالیٰ رسالت ورکول پکار وو دوی راولګیدل هغه ته ئے ولدِ زنا ووئیلو نو ځکه ظالمان شو، نو الله تعالیٰ د دوی سره مینه نکوی که دوی هرڅو مره عملونه وکړی اجرئے نشته ځکه چه دوی ظالمان دی۔ دلته وقف دے چه یهود او نصاریٰ هم ډیر عملونه کوی نو الله تعالیٰ وفرمایل چه په ظلم سره د دوی عملونه برباد شو۔ الله د دوی سره محبت نکوی نو اجرونه نهٔ ورکوی۔

ذٰلِكَ نَتْلُوْهُ عَلَيْكَ مِنَ الْآيَاتِ وَالذِّكْرِ الْحَكِيْمِ﴿٥٨﴾
دا (چه بیان شو) مونږه ئے لولو په تا باندے د آیتونو او د نصیحت حکمت والا نه۔

تفسیر : مینځ کی قرآن کریم ته ترغیب او حقانیت د قرآن ذکر کوی چه دا د الله تعالیٰ آیتونه دی او د حکمتونو او نصیحتونو نه ډك دی او خلك پرے كفر كوی، او د رسول الله ﷺ رشتینوالی ذکر دے، او دا د قرآن تعقیبات دی چه د واقعاتو نه فائدے او نتیجه راوباسی۔

ذٰلِكَ : اشاره ده (نَبَأُ عِيْسٰى) ته یعنی دا واقعات د عیسیٰ علیه السلام۔

نَتْلُوْهُ : د الله تعالیٰ د آیتونو تلاوت په قرآن کریم کی پنځه کرته ذکر دی یو بقره کی تیر شو دویم ځای دا دے او نور روسته راځی۔

مِنَ الْآيَاتِ : دا دویم خبر دے د (ذلك) یا حال دے۔ یعنی دا آیتونه دی چه متضمن دی د الله توحید لره او نښیے دی د الله تعالیٰ د توحید او د عیسیٰ علیه السلام د عبدیت۔ دارنګه نښی دی د الله سبحانه وتعالیٰ د قدرت او د حکمت۔

وَالذِّكْرِ : قرآن کریم ته ذکر وائی ځکه چه دا د نصیحت کتاب دے او بنده ته هیرے شوے خبرے رایادوی یا د حکمتونو والا خبری دی۔ پدے وجه د عیسیٰ علیه السلام په پورته کولو او د یهودو په ذلیله کولو او پدے معجزاتو خودلو کی ډیر حکمتونه وو۔

الْحَكِيْمِ : ذُو الْحِكْمَةِ فِيْ تَالِيْفِهٖ وَنَظْمِهٖ وَاِبَانَةِ الْفَوَائِدِ مِنْهُ (زاد المسیر) یعنی د قرآن په تالیف (جوړولو) او په ترتیب او ددے نه د فوائدو په راښکاره کیدو کی حکمتونه دی۔

اِنَّ مَثَلَ عِيْسٰى عِنْدَ اللّٰهِ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهٗ
یقیناً مثال د عیسیٰ علیه السلام په نزد د الله په شان د مثال د آدم علیه السلام دے، پیدا کړے ئے وو هغه

مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ ﴿٥٩﴾

د خاورې نه بیا ووېل هغه ته شه (انسان) نو هغه شو.

تفسیر : عنوان د آیت : جواب د سوال او تشبیه د غریب ده د اغرب سره او رد د شرك دې. دا جواب دې د سوال د نصاراؤ (د نجران د وفد لکه شان نزول ئې د سورت په ابتداء کې ذکر شو) چه اې مسلمانانو ! تاسو دهٔ ته بنده وایئ نو ددهٔ پلار چرته دې؟، بنده خو دیته وائي چه د پلار نه پیدا وي نو دلیل دې چه ددهٔ پلار الله تعالیٰ دې (العیاذ بالله) الله تعالیٰ د دوی دا دعویٰ رد کړه چه که ستاسو دا خبره صحیح وې نو بیا خو آدم علیه السلام په درجه اولیٰ د الله تعالیٰ ځوی کیدل پکار وو ځکه چه هغه الله تعالیٰ په غیر د مور او پلار نه پیدا کړې وو. بلکه د خاورې نه ئې پیدا کړې وو. الله تعالیٰ عیسیٰ علیه السلام بغیر د پلار نه او آدم علیه السلام ئې بغیر د مور او پلار نه او حواء (رضی الله عنها) ئې صرف د سړي نه پیدا کړې وه او د خپل کامل قدرت اظهار ئې کړیدې. بلکه الله تعالیٰ ډیر څیزونه په غیر د مور او پلار نه پیدا کوي لکه بعض حیوانات د خاورو نه او بعض څیزونه د ګرمئ او یخنئ نه او د بوټو نه پیدا کوي دا د هغه د قدرت نښې دي، ددې څیزونو د اُلوهیت دلیل نهٔ وي.

د عیسیٰ علیه السلام په باره کې صحیح عقیده همدا ده. نهٔ مریم معبود زیږولې دې لکه څنګه چه نصاریٰ وائي او نهٔ هغې د یوسف النجار سره بدکاري کړیده ! لکه چه یهودیان په هغې باندې بدنامه لګوي.

كَمَثَلِ آدَمَ : دا تشبیه الغریب بالاغرب ده. یعني د ناشنا څیز (عیسیٰ علیه السلام) تشبیه د ډیر ناشنا (آدم علیه السلام) سره ورکړې شوه. دغسې د اولیاؤ په باره کې چه څوك غلطې عقیدې لري نو تهٔ د هغوی تشبیه ورکولې شې چه دا اولیاء خو د نبي علیه السلام نه غټ نهٔ وو په نبي علیه السلام به دا حالت راتللو نو دوی خو د هغه نه نښي مخکې کیدې.

خَلَقَهُ مِنْ تُرَابٍ: یعني اول ئې ورله شکل او جسد د خاورو نه جوړ کړو بیا ئې ورته ووېل چه اُوس شه کامل انسان سره د روح او بدن نه. نو هغه کې روح او عقل واچولې شو.

فَيَكُونُ : أَيْ فَكَانَ. نو هغه موجود شو. صیغه ئې د مضارع راوړه اشاره ده چه روستو به هم انسان وي او نسل به ئې انسانان پیدا کیږي. او اشاره ده چه د الله تعالیٰ امر یو شي ته وشي نو هغه نهٔ خلاف کیږي بلکه هغه به ضرور موجودیږي (قاسميؒ) او (یکون) مرفوع دې مبتداء ئې حذف ده (أَيْ فَهُوَ يَكُوْنُ).

اَلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُنْ مِّنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿٦٠﴾
حق ثابت دے د طرفه د رب ستا نه پس مه کیږه د شك کونکوونه۔

تفسیر : پدے کی الله تعالیٰ خپل نبی او مؤمنانو ته د قرآن کریم حقانیت بیانوی چه دا قرآن کومے مسئلے بیانوی دا حق دے ستا د رب د طرفنه دے، پدے کی شك مهٔ کوئ، د خلکو د خبرو پسے مهٔ روانیږئ، همیشه چه مناظره شروع وی نو د خلکو شکونه پیدا کیږی چه هغه بل طرفته هم څه نا څه دلیل شته نو ډیر خلك په خرافاتو روان وی نو د تاکید دپاره دا وئیل کیږی چه حقه خبره هغه وی چه د الله تعالیٰ د طرف نه وی۔ نو نصاراؤ به هم دا خبرے کولے چه د عیسیٰ علیه السلام والد نشته او مارغان ئے جوړ کړیدی او مړی ئے راژوندی کړیدی نو خلك شك کوی چه دا خو به اله وی؟!۔

اَلْحَقُّ : دلته دوه تفسیره دی : (۱) اَلَّذِیْ اُنْزِلَتْ عَلَیْكَ مِنْ نَبَأ عِیْسٰی هُوَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ۔ هغه چه مونږ په تا باندے د عیسیٰ علیه السلام کوم خبر راولیږلو همدا حق دے پدے کی شك مکوه۔

(۲) اَلْحَقُّ فِیْ بَیَانِ هٰذِهِ الْمَسْئَلَةِ مَا ذُکِرَ مِنَ الْمَثَلِ مِنْ رَّبِّكَ۔ ددے مسئلے په بیانولو کی (چه عیسیٰ علیه السلام د آدم علیه السلام پشان مخلوق دے او اله نهٔ دے) حق ستا د رب د طرف نه دے او ددے نه سوئ نور خلك چه څه بیانوی هغه حق نهٔ دی۔

فَمَنْ حَآجَّكَ فِيْهِ مِنْ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ
پس چا چه جګړه اوکړه تا سره پدے (حق) کی پس د هغے نه چه راغله تا ته پوهه نو ته ورته اووایه،
تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَآءَنَا وَأَبْنَآءَكُمْ وَنِسَآءَنَا وَنِسَآءَكُمْ
راشئ چه را اوبلو مونږ زامن خپل او زامن ستاسو، او ښځے زمونږ او ښځے ستاسو
وَأَنْفُسَنَا وَأَنْفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَلْ لَّعْنَتَ اللهِ عَلَى الْكَاذِبِيْنَ ﴿٦١﴾
او ځانونه خپل او ځانونه ستاسو بیا به عاجزی وکړو نو وبه ګرځوو لعنت د الله په دروغژنو۔

تفسیر : عنوان د آیت : مُبَاهَلَةُ الْمُجَادِلِیْنَ فِی الْحَقِّ۔ څوك چه په حق کی جګړے کوی د هغوی سره مباهله ذکر ده۔

دے ته د مباهلے (ښیرو) آیت وائی۔ څوك چه په دلیلونو نهٔ قانع کیږی او د حق نه انکار

کوی نو بیا هغوی سره مباهله کیږی، بنیرے ورته پکار دی چه د دوی په وجه خلك د گمراهئ نه بچ شی.

مباهله کی مقصد دا وی چه زهٔ په حقه یم پدے وجه ځان بنیرو ته وړاندے کوم.

ددے مباهلے حاصل دا دے چه د صلح حُدیبیه نه روستو د نجران د نصاراؤ یو فد د نبی کریم ﷺ خوا ته راغلو او د عیسیٰ علیه السلام په باره کی ئے د هغه سره مناظره اُوکړه. هغوی عیسیٰ علیه السلام د الله تعالیٰ ځوی گنړلو او نبی کریم ﷺ په دلائلو سره ثابته کړه چه هغه د الله تعالیٰ بنده او د هغه رسول وو. کله چه په باطل باندے د هغوی اصرار او کلك والے د حد نه واوړیدو نو الله تعالیٰ خپل رسول ته د هغوی سره د مباهلے کولو حکم اُوکړو.

امام بخاریؒ د حذیفه رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه د نجران د نصرانیانو دوه سرداران رسول الله ﷺ ته د مباهلے دپاره راغلل. د حالاتو د جائزے اخستو نه روستو یو خپل ملگری ته اُووئیل چه داسے مهٔ کوه، قسم په الله! که دا نبی وی او مونږ مباهله اُوکړه نو مونږ او زمونږ نه روستو نسل به هیڅ کله کامیابی مونده نکړی. نو هغوی رسول الله ﷺ ته په جزیه ورکولو راضی شو. امام احمدؒ د ابن عباس رضی الله عنهما قول نقل کړیدے چه که د رسول الله ﷺ سره د مباهلے په نیت دوی دغسے کار کړے وے نو د واپس کیدو نه روستو به نهٔ هغوی ته خپل مال ملاویدے اونهٔ اهل وعیال. (ټول به هلاك شوی وے).

د ابن عباس رضی الله عنهما دا قول په سنن ترمذی او نسائی کی هم موجود دے. په یو بل روایت کی دی چه د نجران د دواړو سردارانو (عاقب او سید) سره د کړے وعدے مطابق رسول الله ﷺ د صبا په وخت د علی، فاطمه او حسن او حسین (رضی الله عنهم) سره بهر را اُووتو او هغو دواړو ته ئے خبر اُولیږلو نو هغوی انکار اُوکړو او دا ئے وویل چه (اِنَّا نُعْطِيْكَ مَا سَأَلْتَنَا) تهٔ چه څه غواړے مونږ به درته هغه درکړو (یعنی جزیه ورکولو ته تیار شول) او مونږ سره یو امین (امانتدار) سړے ولیږه. رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: (لَأَبْعَثَنَّ مَعَكُمْ رَجُلًا أَمِيْنًا حَقَّ أَمِيْنٍ) زهٔ به تاسو سره یو رشتینی امین سړے ولیږم، نو دے کار ته د رسول الله ﷺ صحابه کرام راپورته شو (هریو دا غوښتل چه دغه شخص زهٔ وگرځم) نو رسول الله ﷺ وفرمایل: راپاڅیږه اے ابوعبیده بن الجراح! نو هغه چه کله راپاڅیدو رسول الله ﷺ وفرمایل: (هٰذَا أَمِيْنُ هٰذِهِ الْأُمَّةِ) دا ددے امت امین دے. (بیا ئے هغه ورسره ولیږلو).

(بخاری بترقیم فتح الباری: ۴۳۸۰)

نبی علیه السلام په دوی باندے جامے او مالونه مقرر کړل چه زر جوړے به په صفر میاشت کی

ورکوی او زر جوړیے به په رجب میاشت کی ورکوی، دا جزیه به هر کال راتلله۔
په جزیه کی مقصد دا وی چه مسلمانان به د دوی حفاظت کوی او د دوی وینه به نهٔ تویه کوی او دا د هغوی دپاره د دعوت یوه ذریعه ده چه اسلام ته مجبوره شی۔ دا به د هر چا د شان مطابق مقررولے شی ظلم به پکی نشی کولے۔
فَمَنْ حَآجَّكَ : یعنی څوك چه تا سره د عیسیٰ علیه السلام په باره کی جګړیے او مناظریے کوی پس د هغے نه چه تا ته یقینی علم په قرآن کی راغیے نو هغوی ته ووایه چه تاسو سره زمونږ مناظره پاتی نهٔ ده بلکه ستاسو عناد به مونږ په طریقه د مباهله سره ختموو۔
مِنَ الْعِلْمِ : صاحب المنار وائی پداسے مقام کی د علم نه مراد یقین ؤی۔
مفسر مهایمیؒ ددیے آیتونو داسے معنیٰ ذکر کړیده:
(الحق: یعنی هغه خبره چه ثابته ده او تاویل نهٔ قبلوی هغه ده چه راغلے ده ستا د رب د طرف نه کوم چه ستا تربیت کوی پدیے طریقه چه تا د خبرو په حقیقتونو پوهه کوی نو بس مهٔ کیږی د شك کونکو نه په هغه خبره چه په انجیل کی د اَب (پلار) لفظ د الله تعالیٰ دپاره استعمال شویدیے ځکه چه هغه مجازی او د محبت لفظ دیے او کله چه تا ته ستا د رب د طرفنه په پوره بیان سره حق ښکاره شو نو څوك چه درسره جګړه کوی په باره د عیسیٰ علیه السلام کی چه دلیل نیسی په ظاهر د انجیل باندیے پس د هغے نه چه تا ته یقینی پوهه راغله چه انجیل کی د اب اطلاق په الله تعالیٰ باندیے د محبت دپاره دیے نو ورته ووایه چه اُوس زمونږ او ستاسو مناظره پاتی نهٔ ده بلکه مباهلے ته تیار شئ چه الله تعالیٰ مو هلاك کړی۔ (تفسیر القاسمی ۲/۷۰)۔
تَعَالَوْا : یعنی راشئ یو داسے خبریے ته چه په هغے کی به د حق لوی والے او د باطل ښکته والے معلوم شی هغه دا چه مونږ به خپل ځامن او ښځے راوبلو الخ۔
نَدْعُ أَبْنَآءَ نَا : ځامن او ښځے ولے راوباسی؟ پدیے کی اشاره وی چه زهٔ په حقه یم ځکه چه څوك په حقه نهٔ وی هغه خپل ځان او بچی او ښځه نهٔ هلاکوی، ما ته یقینی معلومه ده چه دا ښیریے په مونږ باندیے الله تعالیٰ نهٔ لګوی۔
وَنِسَآءَ نَا وَنِسَآءَ كُمْ : دیے کی اشاره ده چه زنانو باندیے هم د سړو په شان د عیسیٰ علیه السلام په باره کی صحیح عقیده ساتل فرض دی ځکه ئے پدیے مقام کی د سړو سره شریکی کړیدی لیکن زمونږ د زمانے د اکثرو عقیدو نه ناخبره دی۔ (المنار)
ثُمَّ نَبْتَهِلْ : أَیْ نَتَضَرَّعُ اِلَی اللّٰهِ تَعَالٰی وَنَجْتَهِدُ فِیْ دُعَاءِ اللَّعْنَةِ (قاسمی)یعنی الله تعالیٰ ته به

عـاجزی وکړو او پـه ښیرو کی به کوشش وکړو۔ سیدنا عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فـرمائـی: دعـاء دا ده چـه سیـنـے تـه لاس اُوچت کړے او استغفار دا دے چه یوه گوته ورسره اُوچته کړے او ابتهال دا دے چه لاسونه د سر نه پورته کړی یعنی په دعا کی ډیره عاجزی او مبالغه کول۔ (ابوداود : ۱٤۹۱ وسنده صحیح) (۲) ابـوعبیـدؒ او کسـائیؒ وائی : ابـتـهال لعنت وئیلو ته وائی، عرب وائی : (عَلَيْهِ بَهْلَةُ اللّٰهِ اَیْ لَعْنَتُهٗ) (بغویؒ)۔

بیـا د مباهلے شرطونه دا دی (۱) په دینی کار کی به وی (۲) داسے کار به وی چه هیڅ شك شبهـه بـه پـکـی نۀ وی۔ (۳) د مخالف د شکونو د زائله کولو نه روستو به وی۔ (٤) اول به مـخـالف تـه نـصیحـت وکړے شی۔ (٥) تـضرع به پکی زیاته کولے شی ځکه چه څومره تـضـرع زیاته وی نو زر قبلیږی۔ (٦) مباهله په اصول او فروعو ټولو مسائلو کی شته لکه په سورة البقره کی ئے تفصیل ته رجوع وکړه۔

مباهله اُوس هم مشروع ده او منسوخ نۀ ده، په هره زمانه کی اهل حقو د اهل بدعو سره کړیده۔

إِنَّ هٰـذَا لَهُوَ الْقَصَصُ الْحَقُّ وَمَا مِنْ إِلٰهٍ إِلَّا اللّٰهُ وَإِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ الْعَزِيزُ
یقیناً دا خامخا بیان دے حق او نشته حقدار د بندگئ سوا د الله نه او یقیناً الله غالبه،
الْحَكِيمُ ﴿٦٢﴾ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللّٰهَ عَلِيمٌ بِالْمُفْسِدِينَ ﴿٦٣﴾
حکمتونو والا دے۔ نو که دوی واوړیدل نو یقیناً الله پو هه دے په فسادگرو۔

تفسیر : اوس بیا قرآن کریم ته ترغیب ورکوی چه دا قرآن کوم بیان کوی دا حق بیان دے او ددے بیـان مـقـصـد دا دے چـه د الله تـعـالیٰ نـه سویٰ هیـڅوك حقدار د بندگئ نشـتـه نۀ عیسیٰ او نۀ مریم او نۀ جبریل علیهم السلام۔

(۱) هٰـذَا : کی اشاره ده مخکنی بیان ته په باره د عیسیٰ علیه السلام کی۔ (۱) یا (هذا) کی قرآن تـه اشاره ده سره د هغه قصو نه چه په قرآن کی دی۔ چه دا پوره بیان دے او دا هغه حق دے چه ددے نه اوریدل نشی کیدے، د نور چا بیانونو ته ضرورت نشته او د نصاراؤ بیانونه حق نۀ دی۔ قَصَص په زور د قاف سره بیان ته وائی، په اصل کی د چا د نقش قدم پسے روانیدلو ته وائی۔ قرآن کریم ته ځکه قَصَص وائی چه ددے معانی د یو بل پسے روانی دی۔

(الْحَقُّ) حق صدق او رشتیا ته وائی، او کامل ته هم وائی۔

وَمَا مِنْ إِلٰـهٍ إِلَّا اللّٰهُ : په اول کی ئے هم وئیلی وو چه ﴿اَللّٰهُ لَا اِلٰـهَ اِلَّاهُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ﴾ آخر کی ئے هم ووبل چه ددے بیان حاصل دا دے چه د الله تعالیٰ سره په الوهیت کی هیڅوك شریك نشته۔ نو تفریع شوه په دے مذکوره قصو باندے۔

لَهُوَ الْعَزِيْزُ د عزیز او حکیم حواله ئے ځکه ورکړه چه اشاره ده چه د الله تعالیٰ سره څوك په عزت او حکمة کی شریك نهٔ دی نو په الوهیت کی به ورسره څنګه شریك شی۔

فَإِنْ تَوَلَّوْا : یعنی که ددے بیان نه روسته هم څوك مخ اړوی او دا کلمه نهٔ وائی او د الله تعالیٰ توحید نهٔ منی نو الله تعالیٰ به عذاب ورکړی او دا خلك مفسدان دی ځکه چه د دوی خپله عقیده هم خرابه وه او د خلکو ذهنونو کی ئے غلط شبهات اچول او غلط دعوت به ئے کولو، د خلکو ذهنونه به ئے خرابول نو ځکه ئے ورته مفسدان ووبل، الله تعالیٰ په دوی پوهه دے سزا به ورکوی۔

صاحب المنار (۲۶۷/۳) وائی : عقیده خرابول د عقل خرابول دی چه دا د هر فساد سر دے۔

قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلٰى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ
اووایه اے کتاب والو! راشئ یوے خبرے ته چه برابره ده په مینځ زمونږ او مینځ ستاسو کی
أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللّٰهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهٖ شَيْئًا
دا چه بندګی به نهٔ کوو سوا د الله نه او برخه داران به نهٔ جوړه وو د هغه سره هیڅ شے
وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَإِنْ
او نهٔ به نیسی بعض زمونږ بعضو لره معبودان (شارعان) سوا د الله نه نو که چرته
تَوَلَّوْا فَقُوْلُوا اشْهَدُوْا بِأَنَّا مُسْلِمُوْنَ ﴿٦٤﴾
دوی وګرزیدل نو تاسو ووایئ چه تاسو ګواه شئ چه یقیناً مونږ مسلمانان یو۔

تفسیر : – مضمون : ددے ځای نه روسته هم مخکنی دوه مضامین بیانیږی چه الله تعالیٰ په توحید سره پیژندل پکار دی او رد دے او توبیخ دے کافرانو بآیات الله ته۔ لیکن ددے آیتونو طرز جدا دے پدے وجه زمونږ بعض مشائخ وائی چه پدے آیتونو کی مقصد د رسول الله ﷺ د رسالت رشتینوالے دے چه دا آخری رسول رشتینی رسول دے، په دهٔ چه څوك اعتراضات کوی هغه خطاء دی۔ نو دا مقصد مخکنی مضمون ته ورته دے ځکه

چه څوك په رسول الله ﷺ باندې اعتراضات کوي نو هغه د الله تعالیٰ په آیتونو باندې کفر کوي او هغه نهٔ مني.
بل مناسبت: دا دې چه مخکې د عیسیٰ علیه السلام عبدیت بیان شو اُوس د الله تعالیٰ توحید ته دعوت دې په اقسام ثلاثهٔ سره. ۳- مناسبت: نصاریٰ د مناظرې او مباهلې نه عاجز شو نو دوي له پکار دي چه الله تعالیٰ ته انقیاد وکړي او غاړه کیږدي ورنه دوي به عنادیان او ضدیان وي.
عنوان د آیت: په قل یا اهل الکتاب کې اهل کتابو ته دعوت دې تولو اقسامو د توحید ته او ایمان طرفته چه راشئ د الله تعالیٰ پوره توحید ومنئ، د هغه سره شریکان مهٔ جوړوئ، فسادونه مهٔ کوئ، که تاسو ئې نهٔ منئ مونږ مسلمانان خو ئې منو.
بیا په (یا اهل الکتاب) کې د اهل کتابو یوه شبهه رد کیږي چه دوي وئیلې وو چه ابراهیم ؑ زمونږ په دین روان وو چه دا په سورة البقره کې هم رد شویده. دا د دوي دروغو عقیده وه نو الله تعالیٰ د دوي ذهن سازي کوي. دوي ابراهیم ؑ د خپل ځان تابع کولو مقصد ئې دا وو چه خلك د یهودیت نه وانهٔوړي.
بیا دوي وئیلې وو چه که ابراهیم ؑ زمونږ په دین نهٔ وي نو زمونږ پلار خو وو او زمونږ پلاران انبیاء تیر شویدي نو د هغې جواب کوي په (ان اولی الناس بابراهیم) سره، چه ابراهیم او نور انبیاء علیهم السلام ته نزدیکت هله فائده ورکوي چه د هغه په شان عقیده ولري او د هغه تابعداري وکړي، هسې په نسب کار نهٔ کیږي. بیا (ودت) کې حسد د اهل کتابو ذکر کوي چه دوي کوشش کوي چه تاسو د حق نه واوړي. بیا په کفر بآیات الله باندې توبیخ ورکوي چه تاسو کفر ولې کوئ؟ بعض علماء وائي چه پدې کې زجر دې په ترك العمل باندې. بیا توبیخ دې په تلبیس او کتمان (پټولو) د حق باندې چه دا مرضونه په دوي کې پدې وجه پیدا شوي وو چه دوي د الله تعالیٰ په آیتونو کفر کولو. بیا په (۷۲) (وقالت): کې د یهودیانو د عوامو مسلمانانو د گمراه کولو دپاره حیله بیانوي او د هغې رد ذکر کوي. بیا د اهل کتابو دوه قسمونو ته تقسیمول چه یو قسم په کې خائنان دي چه د خلکو مالونه خوري او بیا هغې ته جائز هم وائي، نو الله تعالیٰ فرمائي چه دا خلك د کفر د وجه نه په خیانت کې هم واقع شویدي. لکه دا مرض ددې امت په مبتدعینو کې هم شته. بیا د هغې په مقابله کې ئې زیرې ورکړیدې په (۷٦) کې، بیا په (ان الذین) کې توبیخ دې په کتمان د حق او دارنگه په اشتراء الدنیا بالآخرة چه دې خلکو دین په دنیا باندې خرڅ

كړيدے، الله تعالىٰ ورسره لوظ كړيدے ليكن دوى د دنيا دپاره مات كړيدے او د آخرت سخت تخويف ئے ذكر كړيدے، بيا بيان د تحريف د اهل كتابو دے چه دوى د الله تعالىٰ په كتاب كى تحريفونه كوى. بيا په (٧٩) كى د هغوى د سوال جواب دے چه مونږ ته پيغمبرانو وئيلى دى چه زمونږ عبادتونه وكړئ. نو الله تعالىٰ وفرمايل چه دا ستاسو دروغ خبره ده چه په پيغمبرانو موتړلے ده، پيغمبران چا ته په كفر امر نكوى تر (٨٠) پورے.

تفسير: قُلْ : دا هغه آيت دے چه رسول الله ﷺ به د سهار په سنتو كى په دويم ركعت كى لوستلو، او د اهل كتابو بادشاهانو ته په خطونو كى به ئے دا آيت ليكلو، ځكه چه په دے كى توحيد طرفته دعوت دے.

پدے آيت كى بيا درے قسمه توحيد ته دعوت دے (١) توحيد الوهيت، (٢) توحيد الربوبية (٣) توحيد الحاكمية. د اهل كتابو اول او دريم توحيد خراب وو، دوى به د عزير عليه السلام او د عيسىٰ عليه السلام عبادت كولو، د سخى عبادت ئے كولو. او ددے نه لوى مرض پكى دا وو چه يو بل نه به ئے ارباب جوړولو يعنى قانون سازان ئے خپل پيران او علماء جوړ كړى وو، حلال او حرام جوړول ئے هغوى ته سپارلى وو، الله تعالىٰ ته ئے دا نۀ سپارل، دوى به پدے كار كى خپلو مشرانو ته سجدے هم لګولے لكه اُوس هم دوى د خپلو مشرانو نه بخنه غواړى او دا عقيده لرى چه دوى درته بخنه وكړه نو كامياب او چه دوى بخنه ونكړى نو ناكام. او د هغوى په باره كى د غيبو عقيده هم لرى. نو داسے ارباب ئے ترے جوړ كړيدى چه دوى ورله كوم شے جائز كوى د هغے پسے ورځى، د حلال او حرامو واك ئے وركړيدے تردے چه د ښځے واك ئے هم دوى ته وركړيدے نو ځكه الله تعالىٰ دوى ته ددے مرضونو نه د خلاصيدو دعوت وركړيدے، او د هغوى د حال مطابق دعوت وركړے شويدے. او همدا اُصول د دعوت دى چه چا كى كوم مرض وى د هغے دعوت به وركولے شى.

پدے آيت كى يهود او نصارىٰ او عام خلق مخاطب دى. دلته الله تعالىٰ رسول الله ﷺ ته دا حكم كړيدے چه دے خلقو لره درے خبرو ته راوبلى : اول دا چه دوى صرف د الله تعالىٰ عبادت اُوكړى. دويم دا چه د الله تعالىٰ سره هيڅوك شريك جوړ نكړى. او دريم دا چه د الله تعالىٰ د شريعت په پريخوستو سره د انسانانو د ځان نه جوړ شوے قانون او د هغوى د تحليل او تحريم احكام ونۀ منى.

كَلِمَةٍ : د كلمے نه مراد غټه خبره، دين او كلمه د لا اله الا الله مراد ده. دلته د كلمے نه مراد لفظ مفرد نۀ دے لكه چه هغه اصطلاح د نحويانو ده بلكه ټول دين مراد دے.

سَوَاءً : یعنی مُسْتَوٍ وُجُوْبُهٗ ۔ یعنی چه د هغې وجوب په مونږ او تاسو باندې یو شان دے، یعنی یو شان فرض ده په مونږ هم او په تاسو هم۔
أَلَّا نَعْبُدَ : دا تفسیر د کلمے دے۔ یعنی هغه کلمه دا ده چه صرف یواځې به د الله تعالیٰ بندگی شروع کوو۔ دا ځکه وائی چه یهود او نصاراؤ به عبادتونه خاص طور سره نهٔ کول او کوم چه به ئے کول نو د غیر الله به ئے هم ورسره کول۔
وَلَانُشْرِكَ بِهٖ : دا ورسره ځکه زیاتوی چه مشرکانو او یهود او نصاراؤ به کله د الله تعالیٰ عبادت هم کولو۔ نو دلته ورته وائی چه همیشه دپاره به د یو الله تعالیٰ عبادت کوو، که یو انسان د الله تعالیٰ بندگی کوی او یوه ورځ ورسره شریکان جوړ کړی نو دغه عبادت ئے ضائع دے نو په (لَانُشْرِكَ) کی په توحید اُلوهیت باندے دوام ته اشاره شوه۔
شرك په لغت د عربو کی حصه داریٔ ته وائی او په اصطلاح کی عقیدةً د الله تعالیٰ سره بل چا له حصه داری ورکول، د الله تعالیٰ سره بل خالق، رازق منل، چه هغه په غیبو پو هیږی، حاضر ناظر دے، یا عملی شرك چه د الله تعالیٰ په نوم هم نذر او منختے کول او د غیر الله په نوم هم، الله تعالیٰ ته سجده لګول او غیر الله ته هم سجده لګول، الله تعالیٰ ته سر خکته کول او هغه ته هم سر خکته کول۔ د شرك بیا ډیر انواع او اقسام دی، لکه الله د تعالیٰ سره محبت کول او د غیر الله سره هم، د الله تعالیٰ تعظیم او د غیر الله تعظیم، د الله تعالیٰ نه یره او د غیر الله نه هم د الله تعالیٰ په شان یره کول، دا وجه ده چه (شیئاً) لفظ ئے زیات کړو چه هر قسم شرك ته شامل شی۔
فائده : د شرك د پیژندلو لنډه طریقه دا ده چه (۱) د الله تعالیٰ یو صفت خاصه غیر له ورکول (۲) یا د الله پاك حق غیر له ورکول۔ بس دغه شرك دے مثال لکه الله تعالیٰ عالم الغیب دے دا صفت که مخلوق ته چا ورکړو نو مشرك شو، دویم مثال: عبادت، محبت، تعظیم د الله پاك حق دے دا شیان بل مخلوق له ورکول شرك دے فتدبر او نور مثالونه پرے قیاس کړه۔
وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا: دا په بل قسم شرك رد دے چه د الله نه سویٰ ارباب او قانون سازان نیول۔
أَرْبَابًا : جمع د رب ده۔ یوه معنیٰ ئے مشهوره ده : پالونکے، لکه پیدا کول، رزق ورکول وغیره۔ دا معنیٰ دلته نهٔ ده مراده ځکه چه د یهودو او نصاراؤ په عقیده کی دا نهٔ ده ثابته چه هغوی به خپل ملیان او پیران داسے ګڼړل چه دوی مونږ ته رزق راکوی او مونږ پیدا کوی بلکه هغوی ته پته وه چه دوی ته خو مونږ تنخواه ورکوو، دوی مونږ ته محتاج دی۔

(۲) بلکه ارباب فی التشریع مراد دی۔ یعنی قانون سازاو شریعت جوړونکی او حلال او حرام جوړونکی۔ دا معنیٰ دلته مراد ده ځکه چه یو آیت د بل تشریح کوی او دغه شان حدیث کې راغلے ده۔ په سورة التوبه (۳۱) آیت کې دی: ﴿ اِتَّخَذُوْا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾ نو دوی د خپلو ملیانو او پیرانو نه شارعان جوړ کړیدی۔

امام ترمذیؒ د عدی بن حاتم ﷛ نه روایت نقل کړیدے چه رسول الله ﷺ د قرآن کریم دا آیت: ﴿ اِتَّخَذُوْا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِنْ دُوْنِ اللهِ ﴾ اُولوستلو او وے ویل چه دے خلقو به د هغه علماؤ عبادت نهٔ کولو لیکن هغه علماؤ به چه کله دوی دپاره یو شے حلال کړو نو دوی به حلال گنړلو او چه کله به ئے یو شے حرام کړو نو دوی به حرام گنړلو (بی دلیله) نو الله تعالیٰ د دوی دا کار د هغوی معبود جوړول اُوگرځول۔ معبود همدے ته وائی چه د هغه حلال حرام بی دلیله ومنی۔

(۳) عکرمهٔ وائی: [سُجُوْدُ بَعْضِهِمْ لِبَعْضٍ] دوی کې به بعض کشرانو خپلو مشرانو ته سجدے کولے۔ (٤) طَاعَتُهُمْ فِىْ مَعْصِيَّةِ اللّٰهِ ۔ (ابن جریجؒ) (زاد المسیر وابن کثیر والبغوی) د الله تعالیٰ په نافرمانیٔ کې به ئے د هغوی طاعت کولو نو دغه ارباب شو۔

په ﴿ وَلَايَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا اَرْبَابًا مِنْ دُوْنِ اللهِ ﴾ کې د مسیح او عزیر علیهما السلام د اُلوهیت نه انکار دے۔ او اشاره ده چه دا خلق زمونږ او ستاسو په شان انسانان وو، معبودان به څنگه جوړ شی ؟! او پدے کې په هغه خلقو هم رد دے چه هغوی د الله تعالیٰ د دین په حاصلولو کې د خلقو ړوند تقلید اُوکړو، او د هغوی حلال کړی څیزونه ئے حلال او د هغوی حرام کړی څیزونه ئے حرام اُوگنړل او پدے طریقه ئے هغوی خپل معبودان جوړ کړل۔

مفسر الکیا الهراسیؒ په خپل تفسیر کې لیکی چه پدے کې په هغه خلقو رد دے چه په غیر د کوم دلیلِ شرعی نه د ((استحسان)) قائل دی، او د هغه خلقو رد هم دے چه دا وائی چه په تحلیل او تحریم کې بغیر د دلیل شرعی بیانولو نه د امام قول قبلول واجب دی۔ (قاسمی والقرطبی) نو خپل شیخ او امام به داسے نهٔ گنړی چه دلیل ورسره نهٔ وی او د هغه د قول تابعداری لازم گنړی۔ نو ددے آیتونو نه یره پکار ده۔ او دے آیتونو کې چه د یهودو کوم مرضونه ذکر دی هغه بعینهٖ پدے امت کې هم موجود دی لکه حدیث کې دی: لَتَتَّبِعُنَّ سُنَنَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ ۔ (صحیحین) خامخا به تاسو د پخوانو خلکو په طریقو باندے روانیږئ۔ نو دے امت کې هم ډیرو خلکو د خپلو ملیانو خبرے د حق په خلاف هم منلی او

منې ئې پدې وجه الله تعالیٰ د اهل کتابو دا خبرې دې امت ته بار بار ذکر کوي چه ویرېږي.
پدې وخت کې ډیر خلك خپل بادشاهان او اسمبلیانې حاکمان او شارعان ګڼې څوك جمهوريت. لکه وائي : عوام طاقت کا سرچشمہ.
او په يو صحيح حديث د مستدرك كې راغلي دي : (سَتَفْتَرِقُ أُمَّتِيْ عَلٰى بِضْعٍ وَسَبْعِيْنَ فِرْقَةً أَعْظَمُهَا فِتْنَةً عَلٰى أُمَّتِيْ قَوْمٌ يَقِيْسُوْنَ الْأُمُوْرَ بِرَأْيِهِمْ يُحَرِّمُوْنَ الْحَلَالَ وَيُحِلُّوْنَ الْحَرَامَ) (البزار رقم: ٢٧٥٥، والمستدرك: ٦٣٢٥) وسكت عنه الحافظ وقال الهيثمي : رجاله رجال الصحيح)
زما امتې به په درې اویا فرقو تقسیم شي، پدې کې به زما په امت باندې لويه فتنې والا هغه خلك وي چه د خلکو کارونه به په خپله رايه باندې قياس کوي نو حلال به حراموي او حرام به حلالوي. دا به کوم خلك وي ؟
صاحب المنارؒ پدې آيت کې وئیلي دي چه مسلمانان مقلدين چه د بعض فقهاؤ آراء (بغير د دليل نه) په باب د عباداتو او حلال او حرام کې اخلي دا عين هغه شې دې چه د الله تعالیٰ کتاب پدې سره په اهل کتابو انکار کړيدې او دا ئې د اسلام منافي ګرځولې دې بلکه د هغوي مخالفت ئې پدې باره کې عين اسلام ګرځولې دې. (المنار ٣/ ٢٧٠)
فَاِنْ تَوَلَّوْا : يعنې كه دا اهل كتاب واوړېدل نو دوي ته ووايئ چه اې دشمنانو تاسو ګواه شئ چه مونږ خو د الله تعالیٰ او د رسول ﷺ خبره منونکي يو او دغه کلمه منونکي يو.
يعني خلکو ته زمونږ په خلاف دا پروپيګنډه کوئ چه دا مسلمانان خپل مشران نۀ مني او دوي نه ارباب نۀ جوړوي. خو دغه زمونږ عقيده ده، كه تاسو راته هرڅه وايئ.
يا مطلب دا چه اې مسلمانانو ! تاسو دا اهل كتاب ګواه كړئ چه اصلي مسلمانان خو مونږه يو په ټولو كتابونو، نۀ تاسو، تاسو هسې دعوه لرئ.
٣- علامه ناصر السعديؒ فرمائي : ١- چه پدې ګواهئ كې مقصد دا دې چه الله تعالیٰ مسلمانانو ته فرمائي چه تاسو د اسلام ګواهي وركړئ ځكه كله چه تاسو اسلام او ايمان راوړو نو الله تعالیٰ ستاسو نه د علاوه خلكو په اسلام نۀ راوړو هيڅ باك نۀ كوي ځكه چه د هغوي هيڅ پاكي نشته او د هغوي نيتونه او باطن خبيث دې لكه الله فرمايلي دي: ﴿قُلْ آمِنُوْا بِهٖ أَوْلَا تُؤْمِنُوْا اِنَّ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهٖ اِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ يَخِرُّوْنَ لِلْأَذْقَانِ سُجَّدًا﴾ يعني اې مشركانو كه تاسو ايمان راوړئ او كه نۀ، اهل علم خلك شته چه هغوي د الله تعالیٰ په آيتونو ايمان راوړي او الله تعالیٰ ته عاجزي كوي. ٢- او دارنګه كله چه په ايماني عقيده باندې شبهات وارديږي نو دا په مؤمن باندې واجبوي چه خپل ايمان تازه كړي او د خپل

اسلام اعلان وکړی دے دپاره چه د خپل یقین اخبار ورکړی او د خپل رب د نعمت شکر وکړی۔ ۳- دارنګه پدے ګواهئ کی په مخالفینو باندے زیات حجت قائمیږی لکه الله تعالیٰ په ګواهئ کی اهل علم پیش کوی دپاره د حجت په معاندینو۔

(تیسیر الکریم الرحمن ۱/۱۳٤)

فائده : صاحب د تفسیر مظهری دلته یوه ښه فائده لیکلے ده هغه فرمائی : [وَمِنُ هٰهُنَا يَظُهَرُ اَنَّهُ اِذَا صَحَّ عِنُدَ اَحَدٍ حَدِيُثٌ مَرُفُوُعٌ مِنَ النَّبِيِّ ﷺ سَالِمًا مِنَ الْمُعَارَضَةِ وَلَمُ يَظُهَرُ لَهُ نَاسِخٌ وَكَانَ فَتُوٰى اَبِيُ حَنِيُفَةَ رَحِمَهُ اللهُ مَثَلًا خِلَافَهُ وَقَدُ ذَهَبَ عَلٰى وِفُقِ الْحَدِيُثِ اَحَدٌ مِنَ الْاَئِمَّةِ الْاَرُبَعَةِ يَجِبُ عَلَيُهِ اِتِّبَاعُ الْحَدِيُثِ الثَّابِتِ وَلَايَمُنَعُهُ الْجُمُوُدُ عَلٰى مَذُهَبِهٖ مِنُ ذٰلِكَ كَيُلَا يَلُزَمَ اِتِّخَاذُ بَعُضِنَا بَعُضًا اَرُبَابًا مِنُ دُوُنِ اللّٰهِ) (التفسير المظهرى ٢/٦٤)

او ددے ځای نه ښکاره شوه چه کله د یو تن سره د رسول الله ﷺ حدیث صحیح ثابت شی چه هغه د معارضے نه بچ وی او د هغے څه ناسخ هم نهٔ وی او فتویٰ د امام ابوحنیفه رحمه الله مثلًا د هغے په خلاف وی او د دغه حدیث موافق د څلورو امامانو نه یو امام قول هم کړے وی نو په دغه وخت کی به د دغه ثابت حدیث تابعداری واجبه وی او پکار ده چه دهٔ لره د هغه په مذهب باندے کلك پاتے کیدل پدے حدیث باندے د عمل نه منع نکړی دے دپاره چه مونږ بعض بعضو لره ارباب من دون الله جوړ نکړو آه۔

بیا ئے بله فائده لیکلے ده چه "هیچا له دا جائز نهٔ دی چه په یو کار کی داسے ووائی چه د شرع علماؤ ددے په حرمت یا ددے په کراهت فتویٰ ورکړیده، یا د صوفیه مشائخو دا سنت ګرځولی دی او مونږ د هغوی د سنتو تابعداری کوو"۔ لکه دا کار په مقلدینو او د صوفیاؤ په تابعدارو کی موجود دے۔

بیا ئے دریمه فائده لیکلے ده چه په هغے کی ئے په عرسونو او میلو تیلو باندے رد کړیدے۔ فرمائی : ((جاهلان چه د اولیاؤ او شهداؤ په قبرونو کوم کارونه کوی دا بیخی نهٔ دی جائز لکه سجدے کول، د قبرونو نه طوافونه کول، په هغے باندے ډیوے او شمعے بلول او په هغے باندے مساجد جوړول او کال پس په هغے کی اجتماع کول لکه د اخترونو په شان چه دوی دے ته عرس وائی)) بیا ئے د عائشے رضی الله عنها روایت راوړیدے چه رسول الله ﷺ په مرض الوفات کی په یهودو او نصاراؤ د الله تعالیٰ لعنت وویلو ځکه چه دوی د خپلو انبیاؤ او نیکانو قبرونو نه مساجد جوړ کړی وو۔ چه پدے سره ئے امت ته یره ورکوله چه تاسو دغسے ونکړئ، آه۔

فائده : رسول الله ﷺ چه هرکله دا آیت په اهل کتابو او د نجران په وفد باندے تلاوت کړو او هغوی کی هیچا انکار ونکړو او دا ئے ونهٔ وئیل چه زمونږ په کتابونو کی دغه کلمه نشته نو دا یقینی دلیل شو په نبوت د رسول الله ﷺ باندے او پدے خبره چه دغه کلمه اتفاقی ده د ټولو کتابونو او رسولانو ترمینځ۔ نو یهود چه عزیر ابن الله، او نصارئ عیسیٰ ابن الله وائی نو دا د دوی په فاسدو آراؤ او تقلید باندے بناء وه، د هیڅ کتاب خبره نهٔ وه او دا هم معلومه شوه چه توحید د ټولو انبیاؤ (علیهم السلام) دین دے۔

(التفسیر المظهری ٢/٦٤)

يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لِمَ تُحَآجُّونَ فِيْ إِبْرَاهِيمَ وَمَا أُنْزِلَتِ
اے کتاب والو ! ولے جګړے کوئ تاسو په باره د ابراهیم ؑ کی او نهٔ دے نازل کړے شوے
التَّوْرَاةُ وَالْإِنْجِيلُ إِلَّا مِنْ بَعْدِهِ أَفَلَاتَعْقِلُونَ ﴿٦٥﴾ هَاأَنْتُمْ هٰؤُلَاءِ
تورات او انجیل مګر روستو د هغه نه آیا نو تاسو سوچ نکوئ۔ خبردار ! تاسو اے دغه کسانو !
حَاجَجْتُمْ فِيمَا لَكُم بِهٖ عِلْمٌ فَلِمَ تُحَآجُّوْنَ
تاسو جګړے وکړے په هغه څه کی چه ستاسو په هغے علم شته دے نو ولے جګړے کوئ
فِيمَا لَيْسَ لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَاتَعْلَمُوْنَ ﴿٦٦﴾
په هغه خبرو کی چه نشته ستاسو په هغے علم او الله پوهیږی او تاسو نهٔ پوهیږئ۔

تفسیر : اوس اهل کتابو ته توبیخ ورکوی په دے خبره چه دوی به مشران او غټ خلك (یعنی ابراهیم ؑ) د خپل ځان تابع کولو چه دا هم یهودی یا نصرانی وو۔ دغه شان مسلمانانو به دا دعوه کوله چه مونږ د ابراهیم ؑ په ملت یو۔ نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو۔ محمد بن اسحاقؒ او ابن جریرؒ او بیهقیؒ په ((کتاب الدلائل)) کی د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړیدے چه د نجران نصارئ او د یهودو علماء رسول الله ﷺ ته راجمع شو او جګړه ئے شروع کړه، د یهودو علماؤ اُووئیل چه ابراهیم (ؑ) یهودی وو، او نصاراؤ اُووئیل چه هغه خو نصرانی وو۔ نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو او هغوی ئے دروغجن کړل چه تورات د ابراهیم ؑ نه تقریباً یو زر کاله روستو نازل شویدے او انجیل تقریباً دوه زره کاله روستو۔ نو ابراهیم ؑ یهودی یا نصرانی څنګه شو ؟! لږ عقل خو وکړئ۔ روستو

آیت کی به ووائی چه ابراهیم علیه السلام خو حنیف او مسلمان وو۔
ابوصالح د ابن عباس نه روایت کړے چه د ابراهیم او موسیٰ علیهما السلام ترمینځ (۵۷۵) کاله وو او د موسیٰ او عیسیٰ علیهما السلام ترمینځ (۱۶۳۲) کاله وو۔ (زاد المسیر ۲/٦٦)
دا آیت دلیل دے چه د تاریخ علم زده کول هم ډیر مهم دی ځکه چه پدے سره ډیر باطل اقوال او ډیرے غلطے دعوے رد کیږی۔
دویم دلیل دے چه باطل پرست خپل باطل په دروغو باندے مخکی بوځی، داسے وائی چه دا ټول امت په دے عقیده تیر شویدے ؟!۔
هَاأَنْتُمْ هٰؤُلَاءِ: اُوس په هغوی باندے رد ذکر کوی چه اے سپکو خلکو ! تاسو په هغه خبرو کی جګړے وکړے او انکار مو وکړو چه ستاسو په هغے علم وو چه هغه د نبی علیه السلام صفات ستاسو په کتابونو کی موجود وو او تاسو ته ښه معلوم شو بیا هم د هغه نه انکار وکړو نو اُوس ولے په هغه خبرو کی بحثونه او جګړے کوئ چه ستاسو پرے علم نشته هغه دا چه ابراهیم علیه السلام هم د خپل ځان تابع کړو په غیر د څه دلیل نه، نو تاسو دوه ظلمونه وکړل: یوه خبره درته معلومه وه هغه مو ونۀ منله، او کومه چه درته نۀ ده معلومه د هغے دعوه کوئ۔
علامه سعدیؒ : فرمائی چه الله تعالیٰ پدے آیتونو کی په اهل کتابو باندے په دریے طریقو رد وکړو: (۱) یو دا چه د دوی جګړه په باره د ابراهیم علیه السلام کی په داسے شی کی جګړه ده چه دوی سره په هغے باندے علم نشته نو دوی له دا ممکن نۀ ده او نۀ ترے قبلیدے شی چه دوی په هغه خبره کی جګړه وکړی چه دوی د هغے نه جدا دی حال دا چه دوی په احکامو د تورات او انجیل کی هم جګړے کړیدی۔
(۲) دویم دا چه یهودیان د تورات احکامو ته خپل نسبت کوی او نصاریٰ د انجیل احکامو ته خپل نسبت کوی او تورات او انجیل خو د ابراهیم علیه السلام نه روسته نازل دی نو دوی څنګه د ابراهیم علیه السلام نسبت خپل ځان ته کوی دا خو د عقل خبره نۀ ده۔
(۳) دریم دا چه الله تعالیٰ خپل خلیل د یهود او نصاراؤ نه بری او بیزاره کړو او حنیف مسلمان ئے وګرځولو او د هغه تابعدار او دا نبی او ددے امت مسلمانان ئے هغه ته نزدے وګرځول نو یهودیان او نصاریٰ نۀ د ابراهیم علیه السلام نه دی او نۀ ابراهیم علیه السلام د هغوی نه دے۔ نو خالص نسب بغیر د تابعدارئ نه هیڅ فائده نۀ ورکوی، آه۔ (تفسیر السعدی)
فیما لکم به علم: ۱- ددے نه مراد هغه څیزونه دی چه دوی ولیدل او د هغے معاینه ئے

وکړه۔ (قتادهؒ) ۲- یا ددے نه مراد (مَا أُمِرُوْا بِهٖ وَنُهُوْا عَنْهُ) هغه څیزونه چه دوی ته پرے حکم شوے وو او دوی ترے منع شوی وو۔ (السدی) (زاد المسیر)

مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُوْدِيًّا وَّلَانَصْرَانِيًّا وَّلٰكِنْ كَانَ حَنِيْفًا مُّسْلِمًا
نهٔ وو ابراهیم علیه السلام یهودي او نهٔ نصراني، او لیکن هغه وو کلك موحد او مسلمان
وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿٦٧﴾
او نهٔ وو هغه د مشرکانو نه۔

تفسیر: دا د مخکی خبرے تفصیل دے چه الله تعالیٰ پو هیږی او تاسو نهٔ پو هیږئ نو هغه چه کومه خبره بیان کړیده هغه حقه ده او هغه دا ده چه ابراهیم علیه السلام نهٔ یهودی وو او نهٔ نصرانی بلکه هغه حنیف مسلمان وو، نو څوك چه حنفاء دی هغه د ابراهیم علیه السلام تابعدار دی۔ او هغه عرب او دا اُمت مسلمه دی چه د دوی توجه صرف الله تعالیٰ ته ده، غیر الله ته نهٔ ده، خو ډیرو خلکو ځان د حنفاؤ نه ویستو او بل چا ته ئے توجه وکړه۔

حَنِيْفًا : ددے معنیٰ سورتِ بقره کی ذکر شویده: "اَلْمُقْبِلُ عَلَى اللّٰهِ وَالْمُعْرِضُ عَمَّا سِوَاهُ" ته وائی۔ یعنی چه الله تعالیٰ ته متوجه وی او د نورو نه اعراض کونکے وی)

مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ : پدے کی تعریض دے چه تاسو حنفاء نهٔ یئ، ځکه چه تاسو مشرکان یئ، عزیر او مسیح (علیهما السلام) د الله تعالیٰ ځامن ګنړئ، او پدے کی رد دے په دعوه د مشرکانو هم چه هغوی به خپل نسبت ابراهیم علیه السلام ته کولو چه هغه خو شرك نهٔ وو کړے او تاسو مشرکان یئ او ستاسو نسبت ابراهیم علیه السلام ته صحیح نهٔ دے۔

إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرَاهِيمَ لَلَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ
یقیناً ډیر نزدے (او لائق) د خلکو نه ابراهیم ته خامخا هغه کسان دی چه تابعداری ئے کړیده د هغه
وَهٰذَا النَّبِيُّ وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا وَاللّٰهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٦٨﴾
او دا نبی دے او هغه کسان دی چه ایمان ئے راوړیدے او الله تعالیٰ دوست د مؤمنانو دے۔

تفسیر: اهل کتابو بیا دعوه وکړه چه که هغه زمونږ نه مخکی تیر شویدے خو مونږ هغه ته نزدے یو ځکه چه د هغه اولاد یو؟ نو الله تعالیٰ ددے جواب کوی چه دا نسب فائده نهٔ ورکوی بلکه د نزدیکت معیار تابعداری کول دی، او تاسو د هغه نه په عقیده او بندګئ

كې جدا يئ، بلكه د ابراهيم خليل الله عليه السلام طرف ته د نسبت زيات حقدار هغه خلق وو چه د هغه په دين كې ئې د هغه اتباع اُوكړه، د هغه په ژوند كې يا د هغه نه روسته، دارنګه محمد صلى الله عليه وسلم او د هغه مهاجرين او انصار صحابه كرامؓ او نور مسلمانان ابراهيم عليه السلام ته نزدې دي ځكه چه دوى په عقيده كې د ابراهيم عليه السلام پسې روان دي چه هغه شرك نۀ كولو، او دارنګه په نور دين كې هم د هغه تابع دي ځكه نبي عليه السلام فرمائي: "زۀ په حنيفيت دين باندې راليږلے شوے يم". (معجم الطبراني الكبير: ٧٦١٧)

أَوْلَى النَّاسِ : اولىٰ په معنىٰ د اقرب (نزدے) سره او په معنىٰ د محبوب سره دے.

وَاللهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِينَ : يعنى دا خلك د ابراهيم عليه السلام محبوبان خو دي خو ورسره د الله تعالىٰ دوستان هم دي او دا ډير لوى منقبت دے چه چا كې ايمان وى نو الله تعالىٰ ئې دوست دے او الله پاك ورسره دوستي كوى. پدے آيت كې د ايمان بله فائده بيان شوه چه اهل ايمان ته به د الله ولايت (دوستى) حاصليږى نو د ايمان په جوړولو توجه پكار ده.

وَدَّت طَّآئِفَةٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يُضِلُّوْنَكُمْ وَمَا يُضِلُّوْنَ
خوښوى يوه ډله د اهل كتابو نه ارمان دے چه تاسو ګمراه كړى او نۀ ګمراه كوى دوى
إِلَّا أَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٦٩﴾
مګر ځانونه خپل او دوى نۀ پو هيږى.

تفسير : پدے كې بيان د حسد د اهل كتابو دے د مسلمانانو سره چه دوى ولے نۀ ګمراه كيږى او د هغوى د ګمراه كولو كوشش كوى او دا طريقه ده چه څوك ګمراه وى هغه كوشش كوى چه نور خلك هم ددۀ په شان ګمراهان شى، فاسقان دا خوښوى چه عام خلك زمونږ په شان شى.

مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ : دلته د اهل كتابو نه مراد بنو نضير، بنو قريظه او بنو قينقاع يهوديان دى كومو چه بعض مسلمانانو ته د يهوديت دعوت وركړے وو او قسم قسم شبهات به ئې د هغوى په زړونو كې اچول، ليكن د الله تعالىٰ مهربانى ده چه بد مكر بيرته په خپل اهل باندے راواپس كوى، نو دوى پدے كار سره خپل ځانونه ګمراه كوى ليكن نۀ پو هيږى نو دوى چه څومره د مؤمنانو په ګمراه كولو كې كوشش كوى هغومره به خپله ګمراه كيږى او د حق نه به وړاندے كيږى، ځكه چه دا قانون دے چه د مؤمنانو سره حق دے او څوك چه

د حق په مقابله کې کوشش کوي نو هغه په ځان باندې د حق دروازه بندوي نو د حق نه به نور لرې کیږي. نو داعي د ګمراهئ ته اکثر هدایت نهٔ کیږي او خالي الذهن غلي ناست خلکو ته اکثر هدایت کیږي.

بیا دا آیت تر قیامته پورې ټولو یهودو او نصاراؤ ته شامل دې چه په دوی کې دا مرض دې، د انسانیت ګمراه کول لکه اُوس په قسما قسم طریقو سره د دوی خومره کوشش ددوی شروع دې.

لَوْ يُضِلُّوْنَكُمْ : ضلال په معنیٰ د حیرانتیا راځي دلته ترې مراد ۱ – د حق نه باطل طرفته اړول دي. (ابن عباسؓ ومقاتلؒ) ۲ – یا هلاکول دي. (ابن جریرؒ وابو سلیمان الدمشقیؒ) (زاد)

وَمَا يَشْعُرُوْنَ : ۱ –أَيْ أَنَّ اللّٰهَ يَدُلُّ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلٰى حَالِهِمْ . دوی نهٔ پوهیږي چه الله تعالیٰ به مؤمنانو ته د دوی حال راښکاره کوي. ۲ – یا دوی نهٔ پوهیږي چه مونږ ځانونه ګمراه کوو. (زاد)

يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لِمَ تَكْفُرُوْنَ بِآيَاتِ اللّٰهِ وَأَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ ﴿۷۰﴾
اې کتاب والو ! ولې کفر کوئ په آیتونو د الله تعالیٰ او حال دا چه تاسو پوهیږئ.

تفسیر : عنوان د آیت : اُوس د الله تعالیٰ په آیتونو باندې په کفر کولو زجر او توبیخ ورکوي چه دا خبرې (یعنې د ابراهیم ؑ په حنیفیت او د نبي کریم ﷺ په حقانیت باندې دلیلونه) په تورات، انجیل او قرآن کې شته او تاسو ئې بیا هم نهٔ منئ نو ستاسو څه عذر دې؟!.

(۲) بعض وائي : دلته د کفر نه مراد عمل پرېښودل دي ځکه چه د الله تعالیٰ په آیتونو باندې عمل پرېښودل هم یو قسم کفر وي. نو د (وانتم تشهدون) معنیٰ ده : تاسو ګواهي کوئ چه دا دلیلونه او آیتونه حق دي. یا تاسو ددې په حقانیت باندې پوهیږئ، او بیا هم پرې کفر کوئ نو دا قید د زیات قباحت ښکاره کولو دپاره ذکر شویدې.

(۳) د هغه دلائلو نه ولې انکار کوئ چه په قرآن کریم کې نازل شویدي او تاسو ئې هم د حقانیت دلائل وینئ او هم ئې په پټه د حقانیت اقرار کوئ.

(٤) په هغه معجزاتو باندې ولې کافر کوئ چه هغه د نبي کریم ﷺ نه تاسو په خپلو سترګو لیدلي دي او وخت په وخت ئې ګورئ. نو شهادت په معنیٰ د سترګو لیدلو سره دې. دلته دا ټولې معانې صحیح دي.

پدے کی اشاره ده چه یو کفر د عناد او جحود (انکار) وی او بل کفر د جهالت د وجه نه وی، نو ستاسو کفر د عناد، ضد او د علم نه دے، نهٔ د جهالت نه، الله تعالیٰ پو هه درکړیده او بیا هم حق نهٔ منئ نو ډیر لوی مجرمان یئ، الله تعالیٰ به درسره گوری، ستاسو سزا به ډیره سخته وی۔ (کما فی بدائع التفسیر)

يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لِمَ تَلْبِسُونَ الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُونَ الْحَقَّ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٧١﴾
اے کتاب والو! ولے گډوډ کوئ حق د باطل سره او ولے پټوئ حق لره او تاسو علم لرئ۔

تفسیر : عنوان د آیت : اُوس د حق په تلبیس او د حق په پټولو باندے توبیخ او زورنه ورکوی، لکه د دوی دا مرض په سورة البقره کی هم ذکر دے۔

بِالْبَاطِلِ : یعنی په باطلو شبهو او شکونو باندے په خلکو حق گډوډ کوئ، حق پرست ورته بدی بنکاره کوی، په هغه بدنامی لگوی۔ یا تلبیس دا وو چه کله به ئے د حق خبرے کولے او کله د باطل او دواړه به ئے یو ځای کړے او خلك به ئے پرے گمراه کول۔

وَتَكْتُمُونَ الْحَقَّ : د جاهلانو عوامو نه به ئے حق پټ ساتلو او په لړو پو هه خلکو باندے به ئے تلبیس کولو۔ د یهود او نصاراؤ په کتابونو کی د رسول الله ﷺ صفات او د هغه د نبوت زیرے موجود وو، لیکن دا حقائق به دوی د خلقو نه پټ ساتل۔ اُوس هم باطل پرست مُلیان هغه حدیثونه او مسئلے خلکو ته نهٔ بیانوی چه په هغے کی حق پروت وی۔ دا آیت دلیل دے چه حق پټول او پدے سلسله کی د تلبیس نه کار اخستل د الله تعالیٰ په نیز ډیره بده خبره ده۔ او پدے کی د دین اصولی او فروعی مسئلے او فتویٰ او شهادت داخل دی۔ او معلومه شوه چه د باطل والو شبهات زائل کول لازم دی چه عوام الناس دوکه نشی۔

وَقَالَت طَّائِفَةٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ آمِنُوا بِالَّذِيَ أُنزِلَ عَلَى
او وویل یوے ډلے د کتاب والو نه ایمان راوړئ تاسو په هغه کتاب چه نازل کړے شویدے په
الَّذِينَ آمَنُوا وَجْهَ النَّهَارِ وَاكْفُرُوا آخِرَهُ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٧٢﴾
مؤمنانو په اول د ورځ کی او کفر وکړئ په آخر ددے کی، دے دپاره چه دوی (مؤمنان) راوگرزی (کفر ته)۔

تفسیر : پدے او په راتلونکی آیت کی : اَلْحِيْلَةُ لِإِضْلَالِ الْعَوَام ۔ (د عوامو د گمراه کولو دپاره د دوی یوه حیله) ذکر ده، دوی خپله کافر دی نو د نورو خلکو د کافر کولو کوشش د

یهودو په هره زمانه کې راروان دي۔

مناسبت : ددې تولو آیتونو دا دې چه پدې کې بیان د قبائحو د اهل کتابو دې چه دوی کې دا قبائح دی ځان ترې وساتئ، متأثر ترې نشئ، شبهات ئې غلط دي هیڅ دلیل نۀ لري۔

د اهل کتابو ددې سازش مقصد دا وو چه د څه سیده ساده مسلمانانو په زړونو کې د اسلام او د قرآن د رشتینوالي په باره کې شك پیدا کړي۔ دوی خپل مینځ کې دا خبره فیصله کړه چه د دوی څه کسان به سهار وخت کې د ایمان راوړو اعلان وکړي او د خلقو سره به مونځ وکړي او کله چه ماښام شي نو خپل دین طرف ته به راواپس شي۔ ددې نتیجه به دا شي چه څه کمزوری مسلمانان به دا گمان وکړي چه دا خلق اهل علم (د علم خاوندان) او اهل کتاب دي، د دوی نیت د حق موندل وو، او اُوس چه کله د اسلام د قبلولو نه روستو ئې هغه پریخودو نو ددې مطلب دا دې چه د دوی په نیز دا ثابته شوه چه اسلام رشتینی دین نۀ دې۔ تفسیر القرطبی (۱۱۱/٤)

الله تعالیٰ د وحی په ذریعه د دوی دا دسیسه او سازش راښکاره کړو او د دوی سازش ناکام شو او په مسلمانانو باندې د هغې هیڅ بد اثر پرې نۀ وتو او مسلمانان د یو خطرناك امتحان نه وساتل شو۔

لطیفه : الله تعالیٰ چه مونږ ته د دوی ددې سازش خبر راکړو نو پدې کې ډیر فوائد دي (۱) یو پدیکې اعجاز القرآن دې چه قرآن مُعجِز کتاب دې، اخبار بالغیب ئې ورکړو، د دوی پټ رازونه ئې راښکاره کړل۔ (۲) دویم : د دوی حیلې په زړونو د مؤمنانو هیڅ اثر ونکړو ځکه چه الله تعالیٰ مخکې نه مؤمنان پدې خبر کړل چه دوی به داسې حیله کوی نو هغوی به په یره کې وسیږي، که دا خبر نۀ وې نو کیدې شي چه د بعض نوی ضعیفو مسلمانانو په زړونو ئې اثر کړې وې، وئیل به ئې چه دا کتاب به حق نۀ وی ځکه چه دا خلك اهل کتاب دي، دوی ښه پوهیږي، نو دوی ته به دا حق نۀ ښکاري۔

(۳) فِيهِ رَدْعٌ لِسَائِرِ حِيَلِهِمْ فَإِنَّ اللّٰهَ يُخْبِرُ نَبِيَّهٗ۔ پدې کې دوی لره د نورو حیلو نه منع کول دي ځکه چه که دوی نورې حیلې جوړوی نو الله تعالیٰ به خپل نبی ته خبر ورکوی نو دوی به شرموی۔ (قاسمیؒ) نو دا د یهودیانو دپاره یوه غټه معجزه هم ده چه الله تعالیٰ خپل نبی ﷺ د دوی د ډیرو پټو رازونو نه هم خبرولې شي۔

(٤) بیان د تعصب د یهودو چه ډیر متعصب دي، د خپل دین نه بغیر نور حق نۀ مني۔

ارتباط : په مخکنی آیتونو کې الله تعالیٰ د اهل کتابو په باره کې فرمایلي وو چه دوی

حق پټوی او حق او باطل د یو بل سره خلط کوی نو پدے آیتونو کی د هغے مصداق یوه نمونه وښودل شوه چه دوی د دغه مطلب دپاره په هره زمانه کی قسماقسم دسیسو نه کار اخلی چه یوه دسیسه ئے دغه وه چه راز ئے الله تعالیٰ مونږ ته راښکاره کړو۔

أُنْزِلَ عَلَى الَّذِيْنَ آمَنُوْا : کی اشاره ده چه اے مؤمنانو ! دا کتاب خو ستاسو خپل دے چرته ترے وانۀ وړئ۔ پدے کی اهل ایمان ذمه دار جوړ کړے شویدی د خپل کتاب فتدبر۔

لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ : دا ضمیر یا د دوی ملګرو مسلمانانو ته راجع دے چه هغوی ایمان راوړے وو لکه عبد الله بن سلام ﷺ وغیره۔ یا عامو مسلمانانو ته راجع دے، دا عموم غوره دے۔

وَلَا تُؤْمِنُوْا إِلَّا لِمَنْ تَبِعَ دِيْنَكُمْ قُلْ إِنَّ الْهُدٰى
او تاسو تصدیق مه کوئ مګر د هغه چا چه تابعدار دی دَ دین ستاسو، ووایه ! یقیناً (صحیح) هدایت
هُدَى اللهِ أَنْ يُّؤْتٰى أَحَدٌ مِّثْلَ مَا أُوْتِيْتُمْ
خو هدایت د الله دے، آیا ورپه کړے شی په مثل د هغه کتاب چه تاسو ته درکړے شویدے
أَوْ يُحَآجُّوْكُمْ عِنْدَ رَبِّكُمْ قُلْ إِنَّ الْفَضْلَ
یا به دوی جګړه وکړی تاسو سره په نیز د رب ستاسو، ته ووایه یقیناً فضیلت (غوره والے)
بِيَدِ اللهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ وَاللهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿٧٣﴾
په لاس د الله کی دے، ورکوی ئے چا له چه وغواړی او الله فراخه فضل والا دے، پوهه دے۔

تفسیر : دا د اهل کتابو د خبرے تتمه ده۔ پدے کی بیا یو خو تفسیره دی :

(۱) وَلَا تُؤْمِنُوْا : په معنیٰ د (لَا تُظْهِرُوا الْإِيْمَانَ) سره دے یعنی خپل ایمان مۀ ښکاره کوئ مګر هغه خلکو ته چه ستاسو د دین تابع وو او بیا ئے پریښے دے او مسلمانان شویدی، یعنی د یهودو نه چه کوم خلك مؤمنان شویدی نو دا حیله هغوی دپاره جوړه وو، خپل ملګری بیرته راواپس کوو۔ دا معنیٰ دومره غوره نۀ ده ځکه چه عموم پکی نشته او بله دا چه د یهودو نه خو دومره ډیرو کسانو ایمان نۀ وو راوړے۔ یا (لِمَنْ تَبِعَ) کی لام اجلیه دے۔ یعنی تاسو ایمان مۀ ښکاره کوئ مګر د وجه د هغه خپلو ملګرو نه چه ستاسو د دین تابع وو یعنی دا ذکر شوے ایمان د بل هیڅ شی دپاره مۀ راوړئ مګر صرف د خپلو دینی ورونو دپاره، چه کله تاسو خپلو مخالفینو ته عقیدوی شك ورواچوئ او بیرته

درسره راستانه شي نو خپلو ديني ورونو ته به اطمينان ورکړئ او هغوی ته به ډېر لوی خدمت وکړئ.

(۲) دويمه معنیٰ : لَا تُؤْمِنُوا په معنیٰ د (لَا تُصَدِّقُوا) سره دے يعنی مشرانو به کشرانو يهوديانو ته وئيل چه په مسلمانانو باندے تصديق او بهروسه او اعتماد مهٔ کوئ او د دوی خبره مهٔ منئ. روسته ورته وائي : د بل چا په خبره اعتماد ځکه مهٔ کوئ چه ستاسو دين غوره دے ستاسو په شان دين بل چا ته نهٔ ورکړے کيږی او نهٔ تاسو سره څوك جګړه کولے شي او نهٔ په مباحثه کی دربانديے غالبه کيدے شي. (يعنی زمونږ خپل دين کافی دے د بل چا خبرو منلو ته ضرورت نشته، لکه اُوس هم د يهودو دغه نظريه ده).

قُلْ إِنَّ الْهُدٰى : دا په مينځ کی د دوی ددے سازش او د دوی ددے خبرے جواب دے، الله تعالیٰ خپل رسول ﷺ ته اُوفرمايل چه تهٔ دوی ته اُووايه چه د هدايت چينه اسلام دے او ددے نه سوئ تهوله ګمراهی ده. نو که تاسو دا کمزورے شان سازش کوئ پدے سره د الله تعالیٰ هدايت نشئ دفع کولے او زمونږ نه هيڅوك نشئ ګمراه کولے پس د هغے نه چه الله تعالیٰ مونږ ته هدايت وکړو. (قاسمیؒ) او تاسو خو پدے خبره ډېر لوی ضديان شوئ چه تاسو وايئ چه صرف زمونږ د مذهب والا خبره منئ او د بل چا مهٔ منئ، هدايت خو د الله تعالیٰ په لاس کی دے هغهٔ ئے چه چا ته غواړی ورکوی او د هدايت په اهل باندے پوهه دے نو کيدے شي چه بل چا سره حق او هدايت وی نو آيا تاسو به هغه نهٔ منئ او صرف خپل مذهب باندے به کلك يئ دا څومره د ضد خبره ده؟!!.

أَنْ يُّؤْتٰى أَحَدٌ : دا د (لا تؤمنوا) سره لګی يعنی پدے خبره تصديق مهٔ کوئ چه وربه کړے شي يو تن ته په مثل د هغه کتاب او هغه دين چه تاسو ته درکړے شويدے يعنی پدے يقين وکړئ چه الله تعالیٰ مونږ يهوديانو ته کوم کتاب راکړيدے داسے بل چا ته نهٔ ورکوی ځکه درته مونږ وايو چه په خپل کتاب کلك شئ او د بل چا خبره مهٔ منئ، خو په ايمان ښکاره کولو سره هسے چل وکړئ او خپل ملګری او نور کمزوری مسلمانان بيرته خپل دين ته راوګرځوئ. دا د امام مجاهدؒ تفسير دے او غوره دے.

أَوْيُحَاجُّوْكُمْ : دا هم د (لاتؤمنوا) د لاندے دے يعنی دا تصديق هم مهٔ کوئ چه ګنے تاسو سره به ستاسو د رب په نيز څوك جګړے وکړی، هيڅوك درسره جګړه نشي کولے ځکه چه تاسو په خپل کتاب کلك روان يئ.

قُلْ إِنَّ الْفَضْلَ : دا جواب دے د دوی ددے خبرے "چه ستاسو پشان کتاب بل چا ته نهٔ

وركړے كيږي" نو اے نبي ! تۀ ورته ووايه چه فضل او غوره والے خو د الله تعالىٰ په لاس كي دے، د هغه خوښه ده چا ته ئے چه وركوي نو محمد رسول الله ﷺ ته ئے قرآن او غوره دين وركړو او دا امت ئے په آخري رسول راليږلو باندے غوره كړو نو كه تاسو ورته هرڅومره دسيسي جوړي كړئ نو د خپلو ځانونو د رسوائي او شرمولو نه په غير به بله نتيجه ورنكړي، دا ځكه چه د الله تعالىٰ فضل ډير فراخه دے، تاسو ئے چه په تنګه دائره كي راګيره وئ چه ستاسو نه په غير دے په بله ډله كي پيغمبر راونۀ ليږلے شي دا غټه سهوه او خطائي ده او الله تعالىٰ د پوهے خاوند دے هرڅوك چه د فضل او مهربانئ لائق وي هغه پيژني او هغه په خپل رحمت سره خاص كوي نو په تاسو كي د آخري رسول راليږلو هيڅ لياقت او استعداد نۀ وو ځكه ئے ستاسو نه نبوت نقل كړو او آخري امت ته ئے وركړو۔

(٢) دويم تفسير: (لا تؤمنوا) په معنىٰ د (لَا تُصَدِّقُوْا) دے او (أَنْ يُّؤْتٰى) كي همزه د استفهام پټه ده۔ (ءَ أَنْ يُّؤْتٰى)۔ او حاصل د دے او د مخكني به يو راوځي يعني تصديق او بهروسه مۀ كوئ او خبره مۀ منئ مګر د هغه چا چه ستاسو د دين تابع دي ځكه چه آيا ګنے وركولے شي يو تن ته په شان د هغه كتاب چه تاسو ته دركړے شويدے يا ګنے دوي به جګړه وكړي تاسو سره په نيز د رب ستاسو، هيڅكله داسے نشي كيدے۔

(٣) دريم تفسير : (لا تؤمنوا) : په معنىٰ د اظهار د ايمان دے يعني دے مسلمانانو ته خپل ايمان مۀ ښكاره كوئ او د خپلو زړونو خبرے او ستاسو په كتاب كي چه د محمد (ﷺ) كوم زيري او صفتونه دي هغه دوي ته مۀ ښكاره كوئ هسے نۀ چه وركړے شي دوي ته هغه پوهه كومه چه تاسو ته دركړے شويده، هغوي به درسره په علم كي برابر شي بلكه تاسو نه به زيات شي په دغه علم كي ځكه چه دوي خو پرے سخت ايمان لري او يا به درسره په نيز د رب يعني په قيامت كي جګړے كوي، الله تعالىٰ ته به وائي چه دا هغه خلك وو چه مونږ ته ئے ستا د نبي صفتونه بيانول او خپله ئے نۀ منلو۔ نو په دنيا او آخرت كي به د دوي دپاره دليل په تاسو جوړ شي۔ نو دا آيت به په شان د ﴿ أَتُحَدِّثُوْنَهُمْ بِمَا فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ﴾ وي او دا معنىٰ حافظ ابن كثير رحمه الله غوره كړيده۔ نو په مينځ كي الله تعالىٰ جواب كوي چه فضل خو د الله تعالىٰ په لاس كي دے، د هغه خوښه خوښه كه چا ته ايمان او علم وركوي او كه څوك ګمراه كوي۔ نو دلته به د (لا تؤمنوا) معنىٰ وي : أَيْ لَا تُظْهِرُوْا مَا عِنْدَكُمْ مِنَ الْعِلْمِ لِلْمُسْلِمِيْنَ) اِلَّا لِمَنْ تَبِعَ دِيْنَكُمْ لِئَلَّا يُؤْتٰى أَحَدٌ مِثْلَ مَا أُوْتِيْتُمْ وَلِئَلَّا يُحَاجُّوْكُمْ عِنْدَ رَبِّكُمْ) تاسو مسلمانانو ته هغه علم مۀ ښكاره كوئ كوم چه ستاسو سره دے په باره

ددے نبي کي صرف خپلو تابعدارو ته ئے ښکاره کوئ دے دپاره چه ستاسو په شان علم مسلمانانو ته ورنکړے شي يا دربانديے غالبه نکړے شي۔
(٤) تفسير: يا د دوى د سازش خبره په (اِلَّا لِمَنْ تَبِعَ دِيْنَكُمْ) ختمه شوه او (قُلْ اِنَّ الْهُدٰى) نه تر آخره پورے د الله تعالىٰ كلام دے او جواب دے دوى ته نو (اَنْ يُّؤْتٰى) هم جواب دے : يعنى ستاسو سازش او ستاسو دا حسد پدے وجه دے چه تاسو دا نشئ برداشت كولے چه ستاسو په شان نورو ته هم يو الٰهي شريعت او علم او د الله تعالىٰ كتاب وركړے شي۔ يا ستاسو دا رويّه پدے وجه ده چه دا مسلمانان د قيامت په ورځ ستاسو په خلاف گواهي ورنكړي چه دوى ايمان راوړو او تاسو د حق ښكاره كيدو باوجود كفر اختيار كړو۔ اے رسوله ! ته هم دا اُووايه چه قرآن او نور نعمتونه ټول د الله تعالىٰ په اختيار كي دى، الله تعالىٰ چه چا له غواړي وركوى ئے او هغه د خپل رحمت دپاره ځاى پيژني۔ دا ټول تفسيرونه صحيح دى، د قرآن داسے عام الفاظ دى چه دا ټول تفسيرونه برداشت كولے شى، ليكن دويم تفسير د مجاهدؒ بالكل واضح دے، عوام الناس ته همغه يو پيش كول پكار دى چه گډوډ نشي۔
نبي كريم ﷺ دے دسيسو ته داسے اشاره كړيده فرمايلي ئے دى : (تَكُوْنُ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ فِتَنٌ كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ يُصْبِحُ الرَّجُلُ فِيْهَا مُؤْمِنًا وَيُمْسِيْ كَافِرًا وَيُمْسِيْ مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا يَبِيْعُ اَقْوَامٌ دِيْنَهُمْ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيَا) (مسلم : ٣٢٨ جامع الترمذى٢/٤٣ رقم : ٢١٩٧) واللفظ له)۔
يعنى د قيامت نه مخكى به داسے فتنے موجودى شى چه د شپى په شان به تكى تورى وى، په دے فتنو كى به يو سړے صبا مؤمن وى او بيگا ته به كافر وى او صبا به كافر وى او بيگاه ته به مؤمن وى، ډير قومونه به خپل دين په دنياوى فائدو باندے خرڅ كړى۔
فوائد الآية : ١– په آيت كى د يهودو دسيسه ذكر شويده مگر په هر دور كى د حق نه د اړولو دپاره باطل پرست داسے دسيسے ډيرے كوى لكه ددے وسيلے راډيو، ټيلويزون، جرائد، مجلات، انټرنټ، فلمونه، سنيماگانے، اقتصادى پابنديانى او تخويفونه او لالچونه وركولو سره د اسلام په خلاف كار شروع دے مگر په آيت كى چه كومه دسيسه ذكر ده دا ډير بد اثر لرى ځكه چه د همجنسو او خپلو ماحول خلكو نه په ښه او بد كى تاثر زيات اخستلے كيږى لكه كله چه شوك خبر شى چه فلانى سړى ته فلانئ دوائى نقصان وركړو، يا په فلانئ معامله كى تاوانى شو نو د هغے نه د خلكو سمدست نفرت پيدا شى، خاصكر كله چه يو پوهه انسان ته دغه نقصان ورسيږى نو خلك د هغه نه ډير عبرت اخلى، لكه دلته

اهل کتاب د آسمانی کتاب خاوندان وو او په علم باندې مشهور وو نو چه دوی د دین نه گرزی دا په عوامو ډیر بد اثر لری. ځکه الله تعالیٰ دا دسیسه د دوی راښکاره کړله.
٢- د اهل کتابو دا خیال وو چه مونږ ډیر غوره قوم یو مونږ حق لرو چه په نورو قومونو باندې رنګ په لوبی وکړو ځکه چه زمونږ په شان کتاب بل څوک نهٔ لری، نو الله تعالیٰ جواب ورکړو چه (أَنْ يُؤْتَىٰ أَحَدٌ مِثْلَ مَا أُوتِيتُمْ) آیا ستاسو غوندې بل څوک نشی کیدې چه الله تعالیٰ ورته هدایت وکړی او داسې کتاب ورته ورکړی لکه چه تاسو ته درکړې شویدې.
٣- د اهل کتابو خیال وو چه زمونږ راز به په خلکو باندې پټ پاتې شی نو الله تعالیٰ د هغوی د هدف او مقصد ضد کار وکړو او د هغوی دغه ناولې دسیسه ئې خلکو ته راښکاره کړه. ٤- د اهل کتابو خیال وو چه نبی آخر زمان به زمونږ نه رالیږلے کیږی ځکه چه بل قوم ددې لائق نهٔ دې نو الله تعالیٰ جواب ورکړو چه ﴿قُلْ إِنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللَّهِ﴾ یعنی اے پیغمبره! ورته ووایه چه د فضیلت تقسیمول خو ستاسو په لاس کی نهٔ دی چه په خپله طبع ئې ځان دپاره وساتئ بلکه دا خو د الله تعالیٰ په اختیار کی دې، هرچا ته ئې چه خوښه شی هغه ته ئې ورکوی.
٥- اهل کتابو خپلو کشرانو ته ددې لنډ وخت دپاره د ایمان راوړلو او بیرته د پریښودو دعوت ورکړو چه سهار کی ایمان راوړئ او بیګاه ته ئې پریدئ ځکه چه دوی په خپلو کشرانو ویریدل چه هسې نهٔ دوی له دغه ایمان خوند ورنکړی او د مسلمانانو سره په حقیقی توګه یو ځای نهٔ شی.
٦- د الله تعال فضل او رحمت په یو قوم باندې وقف نهٔ دې بلکه اهل خلکو ته ئې الله تعالیٰ ورکوی اګرکه نورو انسانانو ته هغوی سپك ښکاری.

يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِ مَنْ يَشَآءُ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴿٧٤﴾
خاص کوی په خپله مهربانئ سره چا له چه وغواړی او الله خاوند د مهربانئ لوی دې.

تفسیر : (يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِ) ددې دوه معانی دی: یو دا چه پدې کی باء د مقصور ده یعنی الله تعالیٰ خپل نعمتونه او رحمتونه راخلی او بعض بندګانو ته ئې ورکوی، او هغوی پورې خاص کوی کوم چه ددې اهل وی لکه آخری پیغمبر رالیږل دې امت پورې خاص کړو. (٢) یا باء د مقصور علیه ده یعنی الله تعالیٰ د خپل رحمت پورې خاص کوی هغه

خوك چه الله تعالىٰ ور ته اراده وكړي. نو معنىٰ دا شوه : خاص كوي د خپل رحمت سره چا له چه وغواړي. دويمه معنىٰ : خاص كيږي د رحمت د الله تعالىٰ پورې هغه خوك چه د الله تعالىٰ اراده وشي د هغه دپاره.

فائده : ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ : هميشه د (يختص) نه روستو راځي پدې كې اشاره وي چه دا تخصيص د فضل د كموالى د وجه نه نهٔ دې بلكه د الله تعالىٰ د علم او حكمة په وجه دې.

وَمِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مَنْ إِنْ تَأْمَنْهُ بِقِنْطَارٍ
او بعض د كتاب والو نه هغه خوك دي چه كچرته ته امانتگر وگرزوې هغه لره په خزانه (ډير مال)
يُؤَدِّهِ إِلَيْكَ وَمِنْهُمْ مَّنْ إِنْ تَأْمَنْهُ بِدِيْنَارٍ
واپس كوي ئې تا ته او بعض د دوي نه هغه خوك دي چه كچرته ته امانت وركړې هغه ته يوه اشرفۍ،
لَّا يُؤَدِّهِ إِلَيْكَ إِلَّا مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَآئِماً ذٰلِكَ
نهٔ ئې دركوي تا ته مگر ترڅو پورې چه هميشه ئې تهٔ په هغه باندې ولاړ، دا په دې وجه
بِأَنَّهُمْ قَالُوْا لَيْسَ عَلَيْنَا فِي الْأُمِّيِّيْنَ سَبِيْلٌ
چه دوي ويلي وو چه نشته په مونږ باندې په مالونو د اميانو كې هيڅ لاره (يعني گناه)
وَيَقُوْلُوْنَ عَلَى اللهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۷۵﴾
او وائي دوي په الله تعالىٰ باندې دروغ او دوي پو هيږي.

تفسير: ربط : په تير شوي آيتونو كې د يهوديانو د ديني او عقيدوي خيانت او غدارئ يوه نمونه ذكر شوه، اُوس د دوي د مالي او اقتصادي خيانت مثال ذكر كيږي. يعني دوي د مسلمانانو په باره كې د هيڅ غدارئ نه ځان نهٔ ساتي. الله تعالىٰ خبر وركړيدې چه د دوي نه بعض داسې خلق دي چه په دوي باندې د ډير مال بهروسه او اعتماد كيدې شي نو داسې خلكو نه د ايمان راوړو طمع كيدې شي، او ځيني داسې دي چه په هغوي باندې د يو دينار (روپئ) باور هم نشي كيدې، په هغې باندې منكر كيږي اگركه د پيغمبر په شان سړي ورسره ايښي وي، آؤ هله به ئې ترې واخلې چه هميشه ورته په دروازه كې ولاړ وي چه هله شا به زما پيسې راكړه يا ورته په خنگ كې ولاړ وي چه هيڅكله ترې نهٔ غائب كيږي يا

پرې زور وکړې شي او د زور نه مجبوره شي او ددې وجه دا ده چه دوی په الله تعالیٰ باندې دروغ تړي چه مونږ ته ئې د امیانو (عربو) او غیر یهودو مالونه حلال کړي دي او په مونږ باندې په دې باره کې د ملامته کولو هیڅ کومه شرعي لاره نشته، مونږ ته په خپل کتاب کې داسې امتیازي حکم راکړې شویدې او حال دا چه دوی پو هیږي چه زمونږ دا بهانه په الله تعالیٰ باندې دروغ تړل دي، ځکه که د دوی په کتاب کې دا حکم موجود وې نو بیا به په دوی کې غټ حرام خور شخص غټ متقي وې حال دا چه په دوی کې تیکان خلك هم شته چه هغوی د چا په یوه پیسه هم نهٔ منکر کیږي معلومه شوه چه دوی په الله تعالیٰ باندې دروغ وائي۔

مفسرین لیکي چه د عبد الله بن سلام ﷺ سره یو زر دوه سوه اوقیه سرهٔ زر یو سړي کیخودل هغه ئې ورته په وخت ادا کړل او فنحاص بن عازُوراء یهودي سره یو سړي د قریشو یوه روپۍ کیخوده هغې کې ئې هم خیانت وکړو، او دا د خیانت صفت په کعب بن الاشرف یهودي کې هم وو۔

د سیدنا عدي بن حاتم ﷺ وینا ده چه ((په آیت کې د امانت دار اهل کتابو نه مراد نصاریٰ او د خیانت کونکو نه مراد یهودیان دي)) دې خائنانو یهودیانو به خلقو ته دا باور ورکولو چه د اُمیینو یعنی عربو مال په هره طریقه اخستل جائز دي ځکه چه دا مشرکان دي، حال دا چه دا سراسر دروغ او په الله تعالیٰ باندې بهتان وو۔ الله تعالیٰ هیڅ کله د چا مال په غیر د شرعي طریقې نه اخستل جائز نهٔ دي ګرځولي، د هغوی د زړونو د خوشحالئ نه په غیر د هغوی مال اخستل حرام دي۔ د الله تعالیٰ رسول ﷺ فرمایلي دي: چا چه د چا د مال حاصلولو دپاره په دروغه قسم اُوخوړلو نو دا به د الله تعالیٰ سره په داسې حال کې ملاؤ شي چه الله تعالیٰ به پرې غصه (ناراضه) وي۔ (مسند احمد وسنده صحیح)۔

بِقِنْطَارٍ : قنطار ډیر مال ته وائي او دینار لږ مال۔ بعض وائي د سپینو زرو اتیا زره درهمو ته قنطار وائي۔

مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَآئِمًا : یعنی همیشه ورته په سر ولاړ یې چه شابه زما مال راکړه او شابه۔ نو هرکله چه دوی د مخلوق سره دومره خیانت کوي نو د الله تعالیٰ سره به څامخا خیانت کوي چه د هغه حق به پټوي دې دپاره چه ریاست او مشري ورته پاتې شي او رشوتونه ورته ملاؤ شي۔

سَبِيْلٌ : نه مراد لاره د ملامتیا ده۔ او دا صفت بعینه ددې امت په باطل پرستو ملیانو کې

دے چه وائی عوام خلك زمونږ باړئ دی، د دوی نه په څه طریقه مال اخستل پکار دی، نو رواجونه او بدعات ئے د هغے د حاصلولو دپاره جوړ کړیدی۔

فائده : پدے تقسیم کی فائده دا ده چه مسلمانان دوست او دشمن وپیژنی، دویم د مدعوینو حال معلوم مول د دعوت دپاره ضروری دی چه د هغوی د حال مطابق خبره وشی۔

فوائد الآیة : (۱) ځینی مفسرینو په آیت کی د امانتګر مصداق عبد الله بن سلام ﷺ او د خیانتګر مصداق کعب بن اشرف یا فنحاص یهودی خودلے دے او ځینو امانتګر نصاریٰ او خیانتګر یهود ګنړلی لیکن صحیح دا ده چه دا د آیت معنیٰ نهٔ ده بلکه دا دوه مصداقونه دی او حصر پکی مطلب نهٔ دے، دارنګه ځینی مفسرین کرامؒ وائی چه کوم اهل کتاب ایمان راوړی هغه امانتګر دی او کوم چه په کفر باندے پاتی وی هغه خیانتګر دی۔ (تفسیر البغوی ۳۱۷/۳)

مګر غوره دا معلومیږی چه دغه دواړه ډلے په کافرو اهل کتابو کی جوړی دی چه په خپل دین باندے باقی پاتی دی او دلته د مسلمانانو خبره نهٔ ذکر کیږی لکه د آیت د سیاق نه معلومیږی۔

فائده : عدل ضروری دے، قرآن کریم د دوی نیکی هم ذکر کوی، د وچو د وجه نه لامده نهٔ سیزی نو په اقوال او اعمال او ردونو کی عدل ضروری دے، آؤ په رد د اهل بدع کی د هغوی محاسن ذکر کول نهٔ دی پکار لکه دا طریقه د اهل السنة ده بلکه په اخبار کی پکار دی لکه دا خبره به د آیت (۱۰۳) لاندے راشی ان شاء الله تعالیٰ۔

سوال وجواب :

که څوك ووائی چه دغه دوه ډلے یعنی امانتګر او خیانتګر خو په هر دین والو کی شته اګرکه مسلمانان وی نو پدے کی څه حکمت دے چه د اهل کتابو په باره کی ئے وضاحت وکړو؟ جواب دا دے (۱) چه په نورو دینونو کی هم حرام خواره شته خو حلال ئے نهٔ ګنړی او اهل کتاب هغه خلك دی چه دوی دغه پردی مالونه ځانله حلال ګنړی۔

(۲) دارنګه د دوی دا نظریه وه چه د امیانو د مالونو خوراك د تورات حکم دے نو پدے باندے عمل کولو کی اجر او ثواب دے بلکه د دنیا اصلی مالکان مونږ یو او د نورو خلکو مالونه زمونږ نه غصب شوی دی نو زمونږ فریضه ده چه خپله مغصوبه د ظالمانو نه واخلو نو الله تعالیٰ د دوی دا نظریه رد کوی۔ (بغوی ۳۱۷/۱) او د رد حاصل دا دے چه په تاسو کی خو نیکان هم شته هغوی خو پردی مالونه نهٔ خوری نو که پردی مال خوړلو

کی اجر ورے نو بیا خو به هغوی نه دا نیك عمل پاتے وے معلومه شوه چه تاسو په الله تعالیٰ باندے دروغ تړئ۔
(۳) امام طبریؒ فرمائی: پدے اخبار ورکولو کی الله تعالیٰ مؤمنانو بندګانو ته دا خبردارے ورکوی چه اهل کتابو باندے په خپلو مالونو سره اعتماد ونکړی او په دوی باندے دوکه نشی څکه چه دوی د مؤمنانو ډیر مالونه حلال ګڼړی۔ (تفسیر الطبری ۵/۵۰۸)
ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا: پدے کی د دوی دوه جرمونو ته اشاره کیږی یو دا چه دوی پردی مالونه خوری او بل دا چه دوی د هغے دپاره غلط دلیلونه وائی او په الله تعالیٰ باندے دروغ تپی وائی چه دا مونږ له الله تعالیٰ حلال کړیدی پدے وجه وئیلے شی۔ ((عذر گناہ بدتر از گناہ))۔ د ګناه دپاره عذرونه وئیل د ګناه نه لوی جرم دے۔
ذٰلِكَ: اشاره ده دغه خیانت او امانت نۀ ادا کولو ته۔
فِي الْأُمِّيِّينَ: اَیْ فِیْ اَکْلِ اَمْوَالِ الْاُمِّیِّیْنَ۔ یعنی په خوراك د مالونو د امیانو کی څه لاره د ملامتیا نشته۔

د عربو مال به یهودیانو ولے جائز ګڼړلو؟

(۱) یوه وجه دا ده چه دوی به وئیل چه دا انسانان زمونږ غلامان دی او د سیّد دپاره د غلام مال خوړل جائز دی، یهود ډیر متکبران دی۔ (۲) دویمه نظریه د هغوی د تعصب وه چه دا به ئے وئیل: (کُلُّ مَنْ خَالَفَ دِیْنَنَا یَجُوْزُ قَتْلُهٗ وَاَکْلُ مَالِهٖ) ۔ هر هغه څوك چه زمونږ د دین او مسلك خلاف وی نو د هغه قتل او مال خوړل جائز دی (خاصکر کله چه زمونږ خدمت نۀ کوی او مونږ ته ضرر راکوی)۔
(۳) کله به ئے وئیل چه مونږ اهل علم یو او عرب خلك جاهلان دی، دوی له پکار دی چه مونږ ته مالونه راکړی، هرکله چه دوی مونږ ته په خپله خوښه مالونه نۀ راکوی او په صحیح ځایونو کی مال نۀ لګوی نو مونږ له حق شته چه د دوی مالونه په پټه او په دوکه او هره طریقه سره وخورو، ددے مثال داسے دے چه یو انسان اسلامی حکومت ته زکاۃ نۀ ورکوی نو اسلامی حکومت ئے د هغوی نه په زوره واخلی۔ او دغه کارونه ددے امت په بدعتیانو کی هم شته چه د عوامو مسلمانانو مالونه په حیلو او په بدعاتو سره خوری او ډیر خلك د اهل توحید والسنة مالونه پټوی او کتابونه د هغوی د مدرسو نه پټوی او دا حلال ګڼړی۔ وائی چه د وهابیانو مال دے، خوړل ترے پکار دی۔ بعض خلك د عربو مؤسسو نه مالونه پټوی او وائی چه د عربو مال دے خوړل ترے پکار دی، دا بعینه د یهودو

صفت دے (لَتَتَّبِعُنَّ سُنَنَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ) (صحيحين)

بَلٰى مَنْ أَوْفٰى بِعَهْدِهٖ وَاتَّقٰى فَإِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ﴿٧٦﴾

بلكه چا چه پوره والے وكړو په خپل لوظ او يريدو د الله نه نو الله مينه كوى د متقيانو سره۔

تفسير : بَلٰى : اثبات د هغه نفى وى چه مخكى ذكر شوى وى يا نفى وى د هغه اثبات چه مخكى ذكر شوے وى۔ نو دلته معنىٰ دا ده : (بَلٰى عَلَيْهِمْ سَبِيْلٌ): آؤ په دوى باندے ملامتيا شته۔ ليكن كومو خلكو كى چه تقوىٰ وى او د الله تعالىٰ په وعدو باندے پابند وى نو الله تعالىٰ د هغوى سره مينه كوى كه هغه هر څوك وى۔

پدے كى اشاره ده چه په تورات او انجيل او ټولو اديانو كى الله تعالىٰ ظلم او د پردى مال بى اجازته خوراك حرام كړيدے او د پيغمبرانو په ذريعه ئے د خلكو نه ددے په باره كى عهد اخستے دے نو په څه دليل دوى ذكر شوے افتراء جوړوى؟!۔

بِعَهْدِهٖ : (١) دا ضمير يا الله تعالىٰ ته راجع دے يعنى چا چه د الله تعالىٰ په لوظ باندے پوره والے وكړو چه په هغه باندے ئے ايمان راوړو او د هغه رسول ئے ومنلو او د الله تعالىٰ نه ويريدو نيك عمل ئے وكړو۔ دا ددے دپاره وائى چه كه تاسو د الله تعالىٰ دوستان جوړيدل غواړئ او د الله تعالىٰ ملامتيا دربانديے رانشى نو وفاء بالعهد وكړئ او تقوىٰ ځان كى راولئ كه دا نهٔ وى نو د الله تعالىٰ دوستان نشئ جوړيدے۔ عهد ئے ذكر كړو ځكه چه د يهوديانو نه دا وعده اخستے شوے وه چه دوى به په الله تعالىٰ باندے حقه خبره كوى، او د الله تعالىٰ كتاب به خلكو ته بيانوى لكه دا خبره سورت اعراف (١٦٩) آيت كى ذكر ده۔ او يهوديانو كى د وعدے پابندى نهٔ وه نو پدے كى هغوى ته دعوت وركوى۔

(٢) يا ضمير (مَنْ) ته راجع دے يعنى چا چه پوره والے وكړو په هغه لوظ چه دهٔ كړے وى او د هغے د ماتولو نه ويريدو نو دا متقى دے او الله تعالىٰ د متقيانو سره مينه كوى۔

إِنَّ الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيْلًا أُولٰٓئِكَ

يقيناً هغه كسان چه اخلى په وعدو د الله باندے او په قسمونو خپلو قيمت لږ دا كسان

لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِى الْاٰخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ وَلَا

نشته هيڅ برخه دوى لره په آخرت كى او خبرے به نكوى ددوى سره الله تعالىٰ او نهٔ

يَنظُرُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴿٧٧﴾

به ګورې دوى ته په ورځ د قيامت او نۀ به پاكوى دوى لره او دوى لره عذاب دردناك دے۔

تفسير : عنوان د آيت : اَلتَّخْوِيفُ الشَّدِيدُ لِنَاقِضِي الْعَهْدِ وَالْمُشْتَرِيْنَ بِآيَاتِ اللّٰهِ تعالىٰ۔

پدے آيت کى د لوظ ماتونكو او د الله په آيتونو باندے دنيا غوره كونكو ته سخت تخويف (يره) بيانوى، يعنى څوك چه د الله تعالىٰ په آيتونو او په خپلو قسمونو او د الله تعالىٰ سره په كړى لوظ باندے دنيا غوره كوى او دغه لوظ او قسمونه ماتوى نو دوى له ډيره لويه سزا تياره ده۔

ربط : پدے آيت کى د يهوديانو د ذكر شوى افتراء رد كوى۔

ددے آيت مصداقات : (١) دا آيت اول د يهوديانو په باره کى نازل وو، بيا روستو دے امت ته هم شامل دے۔ لكه په حديث د بخاريؒ کى راغلى دى شقيق بن سلمۀ فرمائى: مونږ ته اشعث بن قيس ﷛ راووتو او وے فرمايل : تاسو ته ابو عبد الرحمن (عبد الله بن مسعود ﷛) كومه خبره بيانوى؟ مونږ ورته هغه بيان كړه نو وے فرمايل : خامخا دا آيت زما په باره کى نازل دے چه زما او د يهودى ترمينځ په زمكه جګړه راغله (چه دا زمكه په حضرموت کى وه) نو هغه پرے زما نه منكر شو نو مونږ رسول الله ﷺ ته فيصله راوړله نو نبى كريم ﷺ وفرمايل: تۀ به دوه ګواهان راولے يا به درته هغه قسم وكړى۔ اشعث (﷛) وائى : ما وويل : اِذًا يَحْلِفُ وَلَا يُبَالِيْ) دا خو به اوس قسم وكړى او (په ناحقه قسم باندے) پروا نۀ لرى، (نو زما مال به يوسى)۔ نو نبى كريم ﷺ وفرمايل: چا چه په يو شى باندے قسم وخوړ چه په هغے سره څان د پردى مال مستحق ګرزوى او دے پدے قسم کى دروغژن وى نو د الله تعالىٰ سره به په داسے حال کى ملاؤ شى چه هغه پرے غصه وى بيا الله تعالىٰ ددے په تصديق کى دا آيت نازل كړو۔ ان الذين يشترون الآية۔ (صحيح البخارى : ٢٤١٧) يعنى دا آيت په قرآن كريم کى نازل وو خو زما واقعه د هغے سره برابره شوه۔ د سلفو دا طريقه وه چه كله كله به ئے په يو مصداق باندے د شان نزول اطلاق كولو۔

دغه شان سزاګانى د نورو خلكو هم شته

پدے آيت کى چه كومى سزاګانى ذكر دى دغسى سزاګانى د نورو خلكو دپاره هم په احاديثو کى راغلى دى۔ نبى ﷺ فرمائى : درے قسمه خلك دى چه الله تعالىٰ به ورسره خبرے نۀ كوى او نۀ به ورته ګورى او نۀ به ئے پاكوى او د هغوى دپاره به دردناك عذاب وى،

ابو ذر ﷺ وفرمایل: دوی خو نامراده او تاوانیان شو دا څوك دی ؟ ای د الله رسوله ! وې فرمایل: (۱) اَلْمُسْبِلُ (خپل لنګ، پرتوګ) د ګیټونه خکته کونکې. (۲) اَلْمَنَّانُ. (زبادنه کونکې) (۳) وَالْمُنَفِّقُ سِلْعَتَهُ بِالْحَلِفِ الْكَاذِبِ . (په دروغژن قسم سره خپله مبیعه (سودا) مشهوره ونکې (صحیح مسلم:۳۰٦) . (٤) رَجُلٌ حَلَفَ عَلٰی سِلْعَةٍ لَقَدْ أُعْطِيَ بِهَا أَكْثَرَ مِمَّا أُعْطِيَ وَهُوَ كَاذِبٌ . بل هغه سړے چه په یوه سودا باندے قسم وکړی چه ما ته بل سړی ستا نه زیات مال راکولو او هغه ته مے نهٔ ده ورکړے او دے پدے خبره کی دروغژن وی.

(٥) وَرَجُلٌ حَلَفَ عَلٰی یَمِینٍ كَاذِبَةٍ بَعْدَ الْعَصْرِ لِيَقْتَطِعَ بِهَا مَالَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ) . بل هغه سړے چه د مازیګر نه روستو (غوره وخت کی) دروغژن قسم وکړی چه پدے سره د یو مسلمان سړی مال پریکوی). (٦) وَرَجُلٌ مَنَعَ فَضْلَ مَاءٍ . بل هغه سړے چه زیاتی اُوبه د مسلمان نه منع کړی. نو الله تعالیٰ به ورته د قیامت په ورځ فرمائی: چه نن ورځ به زهٔ تا نه خپل فضل منع کوم لکه څنګه چه تا په دنیا کی زیاتی اُوبه منع کړے وے چه ستا لاسونو نهٔ وے پیدا کړے. (صحیح البخاری : ۷٤٤٦) . (۷) شَيْخٌ زَانٍ (زناکار بوډا) (۸) وَمَلِكٌ كَذَّابٌ . (دروغژن بادشاه) ځکه چه د بادشاه دروغو ته هیڅ ضرورت نشته. (۹) وَعَائِلٌ مُسْتَكْبِرٌ . (غریب متکبر). ځکه چه د غریب سړی د تکبر سره څه کار دے؟!. (صحیح مسلم: ۳۰۹)

(۱۰) رَجُلٌ بَايَعَ إِمَامًا فَإِنْ أَعْطَاهُ وَفٰی لَهُ وَإِنْ لَّمْ يُعْطِهِ لَمْ يَفِ لَهُ)

بل هغه سړے چه د یو امام (خلیفه) سره بیعت وکړی که هغه ورته څه ورکوی نو دے ورسره وفاداری کوی او که څه نهٔ ورکوی نو وفاداری نهٔ کوی. (سنن ابی داود : ۳٤۷٦).

بِعَهْدِ اللّٰهِ وَأَيْمَانِهِم : لوظ او قسم کله په یو ځل باندے هم وی او کله بیل بیل هم وی نو د یهودو سره چه اول ولګی نو داسے به وی چه (۱) اول د دوی نه الله تعالیٰ لوظ اخستے وو په دوه خبرو: یو د تورات د بیانولو ﴿لَتُبَيِّنُنَّهٗ لِلنَّاسِ) دویم: په محمد رسول الله ﷺ باندے د ایمان راوړلو او د هغه د مدد کولو. ﴿ لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَلَتَنْصُرُنَّهٗ﴾ . او بیا په هغه لوظ کی د دوی نه قسم هم اخستے شوے وو. نو دلته د (اَیمانهم) نه مراد هغه قسمونه دی (الَّتِی عَقَدُوْهَا بِالْتِزَامِ مُتَابَعَةِ الْحَقِّ) یعنی دوی ددے لوظ سره دا قسمونه کړی وو چه مونږ به خامخا د حق تابعداری کوو او د روستنی پیغمبر تابعدار به جوړیږو. نو دوی وعده هم کړے وه او بیا په دغه وعده کی ئے قسم هم کړے وو لکه دا د عربو عادت وو چه کله به ئے وعده کوله نو د زیات تاکید دپاره به ئے د هغے سره قسم هم کولو. نو معنیٰ دا شوه : هغه کسان چه اخلی په لوظ د الله تعالیٰ چه د الله تعالیٰ سره ئے د تورات د بیانولو او د هغه په رسولانو باندے د

ایمان راوړلو او د هغوی د مدد کولو لوظ کړے وو او بیا ئے په هغے باندے خپل قسمونه هم کړی وو او د هغے په بدله کی دنیا غوره کوی نو د دوی دپاره دغه سزاګانی دی. نو یهودو دغه لوظ مات کړو او خپل قسمونه ئے هم مات کړل او د رسول الله ﷺ صفات ئے پټ کړل او په هغه باندے ئے ایمان رانه وړو، دا ټول د دنیا د لالچ او د معمولی فائدو دپاره.

(۲) یا د (ایمانهم) نه مراد خپل مینځ کی چه دوی کوم قسمونه د یو بل سره کوی او بیا هغه ماتوی نو د هغوی دپاره هم دا سزا ده. نو دوی دوه کاره کوی یو د الله تعالیٰ لوظ ماتوی او بل د انسانانو سره چه کوم قسمونه وکړی په هغے هم دنیا غوره کوی.

د عهد د ماتولو سزاګانی

د لوظ د ماتولو سزا دومره سخته ده چه دومره د بلے هیڅ ګناه نۀ ده خودلے شوے چه تفصیل ئے دا دے :

لَا خَلَاقَ لَهُمْ : په آخرت کی به ئے هیڅ برخه نۀ وی لکه الله تعالیٰ به داسے مجرمانو ته په قیامت کی وائی : ﴿أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَاتِكُمْ فِي حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا﴾ (احقاف: ۲۰) تاسو خپلے مزے په خپل خسیس ژوند کی تیری کړیدی.

وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ : یعنی د رحمت او د محبت خبرے به هم ورسره الله تعالیٰ نۀ کوی او وریاندے غصه به وی.

وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ : دوی ته به هیڅ توجه نۀ ورکوی او د رحمت په نظر به ورته نۀ ګوری، د الله تعالیٰ د نظر نه به غورزیدلی وی.

وَلَا يُزَكِّيهِمْ : دوی به د ګناه نه په عفو سره نۀ پاکوی او د نیکانو په صف کی به ئے نۀ ودروی. دارنګه په دنیا کی به ئے پاك نکړی په توبه او نیك عمل.

عَذَابٌ أَلِيمٌ : دردناك عذاب به ورکوی ځکه چه دوی په خپل لوظ ماتولو سره اسلام او مسلمانانو ته درد رسولے وو.

فوائد الآية : (۱) د لوظ د ماتولو سزا ډیره درنه مقرر شوه ځکه چه ددے مفاسد او ضررونه ډیر زیات او قوی دی، د انسانانو ټول ژوند په ورکړه راکړه په لوظونو باندے ولاړ دی کله چه په عقد او لوظ کی خیانت وکړے شی نو په یوه معامله باندے هم سړے نشی مطمئن کیدلے.

(۲) دا کلمات یو طرفته د الله تعالیٰ په غضب باندے دلالت کوی او بل طرفته د لوظ ماتونکو په توهین او بی عزتئ باندے او د الله تعالیٰ غضب او د دوی توهین په کنایاتو

سره وکړے شو ځکه چه کنایه د صریح نه ډیره بلیغه ده او ډیر تاثیر لری۔ (فی ظلال القرآن ۱/۴۱۸)

(۳) دا سزاګانی اګرکه د کافرانو لوظ ماتونکو په باره کی دی چه هغوی به په اُور کی همیشه دپاره وی او که یو مسلمان کی د لوظ ماتول راغلل نو د هغه دپاره هم ډیره لویه سزا ده، اګرکه په اُور کی به همیشه دپاره پاتی نهٔ وی لکه دا د اهل سنة والجماعة عقیده ده۔

(٤) په اسلام کی د لوظ ډیره سخته پابندی راغلے ده، ابراهیم نخعیؒ فرمائی: كَانُوْا يَضْرِبُوْنَنَا عَلَى الشَّهَادَةِ وَالْعَهْدِ (بخاری ۲۶۵۲)۔

مونږ به سلفو (مشرانو) په ګواهی او لوظ باندے وهلو۔ (چه تاسو چرته ګواهی او لوظ مات نکړئ، او لوظ مهٔ کوئ چه درنه مات نشی)۔

وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيْقًا يَّلْوُوْنَ أَلْسِنَتَهُمْ بِالْكِتَابِ لِتَحْسَبُوْهُ
او بعضے د اهل کتابو نه یوه ډله ده چه تاووی ژبے په کتاب (د الله) دے دپاره چه ته پرے ګمان وکړے
مِنَ الْكِتَابِ وَمَا هُوَ مِنَ الْكِتَابِ وَيَقُوْلُوْنَ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللهِ
د کتاب نه او نهٔ دے هغه د کتاب د الله نه او وائی دوی دا د طرفه د الله نه دے
وَمَا هُوَ مِنْ عِنْدِ اللهِ وَيَقُوْلُونَ عَلَى اللهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۷۸﴾
حال دا چه هغه نهٔ دے د طرفه د الله نه او وائی دوی په الله باندے دروغ او دوی پو هیږی۔

تفسیر: ربط: (۱) مخکی آیتونو کی د اهل کتابو دوه ډلے ذکر شوے، امانتګر او خیانتګر او پدے کی دریمه ډله ذکر ده چه هغه تحریف کونکے ډله ده۔

(۲) مخکی د مالونو خیانت کونکی اهل کتاب بیان شو اوس دلته د الله تعالیٰ د کتاب خیانتګر بیانوی۔ دا هغه خلك دی چه حرام خورے ډلے ته لاره همواره وی او د الله تعالیٰ په کتاب کی ورته تحریف کوی او په الله تعالیٰ دروغ جوړوی۔

(۳) یا مخکنی د خیانت، نقض العهد او اشتراء بالآیات قباحت بیان شو اُوس د تحریف فی آیات الله قباحت بیانوی چه دا هم د دنیا دپاره کوی یا دا د مخکی آیت تفصیل دے۔

اهل کتابو د الله تعالیٰ په کتاب (تورات) کی دوه قسمه تحریفونه کړی وو، الفاظ به ئے هم بدلول چه دیته تحریف لفظی وائی او معنیٰ ګانی به ئے هم بدلولی چه دیته تحریف

معنوی وائی، خلکو ته به ئے غلط مطلب بیانولو۔ نو دوی څو مره لوی مجرمان وو چه الله تعالیٰ یو کتاب د هدایت دپاره راولیږی او یو بنده هغه بدل کړی او پرے ګمراه شی او دنیا پرے غوره کړی دغه مرض د یهودیانو وو۔

لی اللسان څه ته وائی :

ژبه کږه ول، او اړول۔ لکه یو شے به ضروری وی او هغه ئے په خوله کی په ژبه باندے غیر ضروری او معمولی ښکاره کړی، یو شے به ضروری نهٔ وی هغه به ډیر ضروری کړی۔ یو شے به ښه وی او هغه به بد ښکاره کړی، یعنی خبره په خپل حقیقت باندے نهٔ کول۔ یعنی د اهل کتابو یوه ډله په داسے لهجه او داسے صوت (آواز) باندے خپل کلام ادا کوی چه تاسو ګمان وکړئ چه دا رشتیا د الله تعالیٰ کلام دے خو په حقیقت کی هغسے نهٔ وی۔

د تحریف صورتونه

اهل کتابو په مختلفو شکلونو سره د الله تعالیٰ په کتاب کی تحریف کړے وو :

(۱) د الله تعالیٰ په کتاب کی به ئے د ځان نه الفاظ زیاتول لکه مخکی تیر شول دوی به وئیل : مونږ باندے د امیانو په مالونو کی د ملامتیا هیڅ لاره نشته۔ (آلعمران: ۷۵)

(۲) په نقصان او کتمان سره تحریف کول لکه آل عمران : (۱۸۷) کی ورته اشاره شویده۔

(۳) په تبدیل سره تحریف۔ لکه د نبی کریم ﷺ (نبی آخر زمان) په صفت کی ئے د درمیانه قد او تورو سترګو په ځای لوړ قد او شنو سترګو باندے تبدیلی کړے وه۔

(٤) د زنا د رجم په مسئله کی ئے تحریف کړے وو۔ (٥) د خالی په ورځ د ماهیانو نیولو په باره کی ئے په تاویل سره تحریف کړے وو۔

(٦) حافظ ابن کثیرؒ د دوی دا تحریف هم لیکلے چه د اهل کتابو ځینو علماؤ به دوه کتابونه ځان سره ساتل یو اصلی کتاب چه په هغے کی به تحریف نهٔ وو شوے او بل تحریف شوے کتاب۔ کله به چه د حق خاوند رشوت ورکړو نو اصلی کتاب ته به ئے لاس کړو او د هغے نه به ئے حکم راویستو او که باطل پرست به رشوت ورکړو نو په ډیر احترام سره به ئے خود ساخته کتاب راواخستو تا به ویل چه د الله تعالیٰ اصلی کتاب همدا دے او د هغے نه به ئے ورته مسئله راویسته۔ (ابن کثیر ۱/ ۱۱۵)

(۷) کله د دوی تحریف په آواز او لهجه سره وو چه تحریف شوے کتاب به ئے په داسے آواز او لهجه سره ولوستو چه آوریدونکی به ګمان وکړو چه همدا د الله تعالیٰ کتاب دے لکه

په همدے آیت کې ورته په (یَلْوُوْنَ اَلْسِنَتَهُمْ بِالْكِتٰبِ) سره اشاره شویده۔ ددے نه دا هم معلومیږی چه اهل کتابو به د خپل کتاب د لوستو دپاره خاصه لهجه لرله لکه چه مسلمانان ئے د قرآن دپاره لری۔

ددے امت د مجرمانو د لی اللسان صورتونه

پدے امت کې هم ډیر مبتدعین د خپل یو بدعت د ثابتولو دپاره یو آیت یا یو حدیث پیش کړی چه دا هم په لی اللسان کې داخلیږی لکه د تقلید د ثابتولو دپاره به وائی: ﴿فَاسْئَلُوْا اَهْلَ الذِّكْرِ﴾ راغلے دے حال دا چه پدے کې رد دے په تقلید باندے او حکم دے په تحقیق باندے چه د پوهه خلکو نه د الله تعالیٰ او د رسول الله ﷺ حکم معلوم کړئ۔ او د دعا بعد السنن والفرائض بهیئة الاجتماع دپاره به درته آیت پیش کړی: ﴿وَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ وَاِلٰى رَبِّكَ فَارْغَبْ﴾ دا هم د تحریف شکل دے چه د آیت دغه مطلب نهٔ دے او دوی تړے دغه مطلب اخلی۔ او ﴿وَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا تَاْكُلُوْنَ وَمَا تَدَّخِرُوْنَ فِیْ بُیُوْتِكُمْ﴾ نه علم غیب ثابتوی چه د الله تعالیٰ نه علاوه نور مخلوق هم په غیبو پوهیږی ځکه چه عیسیٰ علیه السلام وئیلی وو چه زهٔ به تاسو ته ستاسو د خوراك او تاسو چه څه کورونو کې ساتئ خبر درکوم۔ حال دا چه دا د عیسیٰ علیه السلام معجزه وه نو عوام خلك پدے دوکه کړی هغوی وائی آیت ئے پیش کړو، مینځ کې ئے غلط مطلب اخستے وی۔ بعض مشرکان وائی: د غیر الله نه مدد غوښتل جائز دی ځکه ﴿فَاسْتَغَاثَهُ الَّذِیْ مِنْ شِیْعَتِهٖ﴾ او ﴿فَاَعِیْنُوْنِیْ بِقُوَّةٍ﴾ راغلی دے۔ دا هم تحریف معنوی دے۔ بعض خلك معلوم صحیح حدیثونه قصداً ضعیف کوی او د ضعیف حدیثونو په باره کې د ځان نه حوالے ورکوی چه دا بخاری او مسلم راوړیدی او حال دا چه په هغے کې نهٔ وی او دا کار به په قصد سره کوی نو دا هم تحریف او دروغ دی۔
دارنگه یوه کمزورے مسئله به بیانه کړی بیا به وائی پدے باندے د امت اجماع ده، دارنگه ټولے مزخرفے خبرے په لی اللسان کې داخل دی لکه په سورة الانعام کې به راشی ان شاء الله۔

مَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ یُّؤْتِیَهُ اللّٰهُ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ
نهٔ دی مناسب هیڅ انسان لره چه ورکړے وی هغه ته الله کتاب او پوهه د دین او پیغمبری
ثُمَّ یَقُوْلَ لِلنَّاسِ كُوْنُوْا عِبَادًا لِّیْ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ كُوْنُوْا رَبّٰنِیّٖنَ
بیا وائی خلکو ته شئ تاسو عبادت کونکی زما سوا د الله نه او لیکن شئ تاسو الله والا

بِمَا كُنتُمْ تُعَلِّمُونَ الْكِتَابَ وَبِمَا كُنتُمْ تَدْرُسُونَ ﴿٧٩﴾

پدے وجه چه تاسو خودنه کوئ (خلکو ته) د کتاب د الله او په سبب ددے چه تاسو په خپله ئے لولئ۔

تفسیر : مناسبت : پدے کی هم د اهل کتابو په بله خبره باندے رد ذکر کیږی چه دوی د انبیاؤ (علیهم السلام) په هدایتونو کی هم تحریف کړیدے۔

ددے تعلق د اول د سورت سره هم دے (هو الذی انزل علیك الکتاب منه آیات محکمات) چه دوی وائی په انجیل کی عیسیٰ علیه السلام ته خوی وئیل شویدے نو جواب دا دے چه هغه متشابه لفظ دے چه صحیح او غلط معنیٰ لری نو اهل حق ترے صحیح معنیٰ اخلی چه معنیٰ ئے محبوب ده، ځکه چه عیسیٰ علیه السلام هیڅکله خپل عبادت ته دعوت نهٔ ورکوی۔

د آیت عنوان دے : رسول چا ته په شرك حکم نهٔ کوی بلکه هغه په اخلاص باندے حکم کوی، ځکه چه څوك بل ته د الله تعالیٰ کتاب زده کوی او خپله هم د الله تعالیٰ کتاب لولی نو د هغه د شان سره دا لائق نهٔ ده چه هغه بل ته د شرك حکم وکړی۔

شان نزول

(۱) د امام ضحاك نه نقل دی چه د نجران نصاراؤ نبی کریم ﷺ ته ویلی وو : (أَمَرَنَا عِيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ بِأَنْ نَعْبُدَهُ) عیسیٰ علیه السلام مونږ ته دا حکم کړے وو چه مونږ د هغه بندگی وکړو، دا هغه ته د تقرب سبب دے نو الله تعالیٰ دا آیت د هغوی په رد کی راولیږلو چه یو بنده له چه الله تعالیٰ نبی وگرزوی او کتاب او پیغمبری ورکړی د هغه د شان سره دا هیڅکله مناسب نهٔ ده چه هغه خلکو ته دا حکم وکړی چه زما بندگی وکړئ بلکه هغه همیشه الله تعالیٰ ته دعوت ورکوی نهٔ غیر الله ته او نهٔ خپل ځان ته نو دا تاسو په عیسیٰ علیه السلام باندے دروغ وایئ۔ (۲) د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه نقل شویدی چه د نجران نه یهودیان او نصاریٰ نبی کریم ﷺ ته راجمع شو او د بحث مباحثے نه روستو نبی کریم ﷺ هغوی ته د اسلام دعوت ورکړو نو ابورافع القرظی یهودی پکی ووئیل : (أَتُرِيْدُ يَا مُحَمَّدُ أَنْ نَعْبُدَكَ كَمَا تَعْبُدُ النَّصَارٰى عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ؟) ۔اے محمده ! (علیه السلام) تهٔ غواړے چه مونږ ستا بندگی وکړو لکه څنگه چه نصاریٰ د عیسیٰ ابن مریم (علیه السلام) بندگی کوی۔ او د نصاراؤ نه یو تن چه الرئیس ئے نوم وو ووئیل : أَوَذَاكَ تُرِيْدُ مِنَّا يَا مُحَمَّدُ، وَإِلَيْهِ تَدْعُوْنَنَا؟) اے محمده ! آیا تهٔ مونږ نه دا غواړے او دے ته مونږ رابلے؟ نو نبی کریم ﷺ هغوی ته په

جواب کی وویل : مَعَاذَ اللّٰهِ ! أَنْ نَّعْبُدَ غَيْرَ اللّٰهِ أَوْ أَنْ نَّأْمُرَ بِعِبَادَةِ غَيْرِهٖ، مَا بِذٰلِكَ بَعَثَنِیْ وَلَا بِذٰلِكَ أَمَرَنِیْ) (زهٔ په الله تعالیٰ باندې ددې خبرې نه پناه غواړم چه یا پخپله د غیر الله عبادت وکړم او یا بل چا ته په همدې خبره باندې امر وکړم، زهٔ الله تعالیٰ نهٔ ددې خبرې دپاره رالیږلې یم او نهٔ ئې راته پرې امر کړیدې) نو الله تعالیٰ د نبی کریم ﷺ د خبرې تصدیق په دې آیت سره وکړو۔ (ابن کثیر، الدر المنثور والطبری)

(۳) علامه سیوطیؒ په الدر المنثور کی دا هم ذکر کړیدی چه بعض صحابه کرامو رسول الله ﷺ ته وفرمایل: مونږ تا باندې داسې سلام اچوو لکه څنګه چه مونږ په یو بل باندې سلام اچوو آیا نو تا ته سجده ونکړو ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل: نهٔ،

(وَلٰكِنْ أَكْرِمُوْا نَبِيَّكُمْ وَاعْرِفُوا الْحَقَّ لِأَهْلِهٖ فَإِنَّهٗ لَا يَنْبَغِیْ أَنْ يُّسْجَدَ لِأَحَدٍ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ)

لیکن د خپل نبی اکرام کوئ او د حقدارو حق وپیژنئ (د عبادت حقدار صرف الله تعالیٰ دې) ځکه چه دا جائز نهٔ دی چه د الله تعالیٰ نه سویٰ بل چا ته سجده وکړې شی۔ او په روایت د معاذ بن جبلؓ کی داسې راغلی دی چه هغه وفرمایل: ما یهود او نصاریٰ ولیدل چه خپلو مشرانو ته سجده کوی نو ما وویل چه رسول الله ﷺ ددې ډیر لائق دې چه مونږ ورته سجده وکړو، نو نبی کریم ﷺ وفرمایل: نهٔ، که چرته غیر الله ته سجده جائز وې نو ما به ښځې ته حکم کړې وې چه خپل خاوند ته سجده وکړی ځکه چه د هغه په ښځه ډیر حق دې۔ نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو۔ (الدر المنثور۲/۲۵۰)۔

دا ټول شان نزولونه کیدلې شی لیکن بحث د اهل کتابو شروع دې نو د ابن عباسؓ قول ډیر ظاهر دې او د آیت حکم عام دې۔

مَا كَانَ : دا لفظ په قرآن کی د ډیرو معنو دپاره استعمالیږی :

(۱) کله د نفیٔ د وجود دپاره وی یعنی دا شې موجود نهٔ دې۔ لکه ﴿ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ﴾: (البقره:۱۴۳)یعنی دا خبره د سره موجوده نهٔ ده۔

(۲) کله د نفی د امکان دپاره وی یعنی کیدې نشی۔ لکه سورة القصص آیت (۶۸) کی رازی : ﴿ مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ ﴾ یعنی د بندګانو اختیار ممکن نهٔ دې۔ یا سورة النمل آیت (۶۰) کی دی : ﴿ مَا كَانَ لَكُمْ أَنْ تُنْبِتُوْا شَجَرَهَا ﴾ یعنی تاسو له دا ممکن نهٔ ده چه تاسو ونې رازرغون کړئ۔

(۳) مَاكَانَ په معنیٰ د مَا يَنْبَغِیْ سره وی۔ یعنی مناسب نهٔ دی، لکه سورة توبه (۱۱۰) کی دی : ﴿ مَا كَانَ لِلنَّبِیِّ وَالَّذِينَ آمَنُوْا أَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِينَ﴾ ۔

(٤) کله په معنیٰ د (لَایَجُوْزُ) وی۔ یعنی جائز نهٔ دی دلته ئے دا معنیٰ مراد ده۔
لِبَشَرٍ : انبیاء علیهم السلام بشر دی یعنی نبی له دا جائز نهٔ دی نو غیر نبی له به په طریق اولیٰ دا خبره جائز نهٔ وی چه خپل عبادت ته خلك راوغواړی۔
أَنْ يُّؤْتِيَهُ اللهُ الْكِتَابَ : یعنی کوم بنده ته چه الله تعالیٰ خپل کتاب ورکړی او صحیح عقل او پوهه ورکړی او د خلکو ترمینځ د فیصلو کولو علم یا د شریعتونو د رازونو علم ورکړی هغوی دپاره دا جائز نهٔ دی چه خلکو ته د غیر الله د عبادت دعوت ورکړی پاتے لا دا چه نبوت هم ورکړی نو نبی به څنګه خلکو ته د غیر الله د عبادت دعوت ورکړی بلکه نبی خو ددے دپاره رالیږلے شوے وی چه خلك د غیر الله د بندګئ نه منع کړی او یواځی د الله بندګئ ته ئے تیار کړی نو اے اهل کتابو! تاسو په عیسیٰ علیه السلام هم دروغ تړئ او پدے نبی محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے هم تهمت تړئ چه دے تاسو د خپل ځان عبادت ته درغواړی۔
وَالْحُكْمَ : (١) د فیصلو علم (٢) یا د شریعت د رازونو علم ته وائی۔ (٣) حکمت ته هم وائی، دلته ټولے معانی صحیح دی۔
عِبَادًا لِّيْ : عباد جمع د عَبْدٌ ده د عبادت نه اخستے شویدے یعنی چه داسے ووائی چه زما بندګان شئ او بل عبد په معنیٰ د غلام سره راځی د هغے جمع عَبِید ده هغه دلته نهٔ دے مراد۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم به د توحید د جانب ډیر احترام ساتلو، که په کومه خبره یا کار کې به د توحید نقصان راتللو نو د هغے رد به ئے کولو لکه نبی کریم صلی الله علیه وسلم به داسے دعا کوله : اَللّٰهُمَّ لَاتَجْعَلْ قَبْرِیْ وَثَنًا يُّعْبَدُ۔ اے الله! زما د قبر نه بت مهٔ جوړوه چه خلك د هغے بندګی کوی۔
صحابه کرامو رضی الله عنهم یو ځل وفرمایل: اَنْتَ سَيِّدُنَا ۔ تهٔ زمونږ سید ئے۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: اَلسَّيِّدُ هُوَ اللّٰهُ)۔ سید خو الله تعالیٰ دے۔ بیا صحابه کرامو رضی الله عنهم وفرمایل: أَنْتَ أَفْضَلُنَا فَضْلًا وَأَعْظَمُنَا طَوْلًا ۔ تهٔ په مونږ کی غوره احسان والائے او لوی نعمت ورکونکے ئے۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: قُولُوا بِقَوْلِكُمْ اَوْ بِبَعْضِ قَوْلِكُمْ وَلَا يَسْتَجْرِيَنَّكُمُ الشَّيْطَانُ)۔ یعنی خپله خبره کوئ او د خپل دین والو په شان خبره کوئ او شیطان دے په تاسو غلبه ونکړی چه د هغه وکیلان جوړ شئ او د شیطان په ژبه خبرے کوئ۔
مقصد دا چه مشرکانو به خپلو مشرانو او قائدینو ته سادات وئیل نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل زهٔ د هغوی په شان نهٔ یم حقیقت کی سرداری خو د الله تعالیٰ ده بلکه ما ته هغه نوم وایئ کوم چه ستاسو په دین کی ما ته وئیل شویدے چه هغه نبی او رسول دے۔
او نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی : لَاتُطْرُوْنِیْ كَمَا أَطْرَتِ النَّصَارٰى عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ]۔ زما داسے

اوږده صفتونه مهٔ کوئ لکه څنګه چه نصاراؤ د عیسیٰ ابن مریم علیهما السلام په صفتونو کی مبالغې کړې وې۔ (بخاري: ٣٤٤٥)

او نبی کریم ﷺ صحابه کرام ددې نه منع کړل چه داسې به نهٔ وایئ چه [مَا شَاءَ اللّٰهُ وَشَاءَ مُحَمَّدٌ]۔ او داسې ئې هم وفرمایل:

عائشې رضی الله عنها ته خپلې مور وفرمایل: نبی کریم ﷺ ته ورپاځیږه او د هغه حمدونه ووایه! نو هغې ووېل: زهٔ نهٔ پاځیږم او زه حمدونه صرف د الله تعالیٰ وایم۔ نو رسول الله ﷺ ورته څه ونهٔ وېل۔

یو بانډچی قیدی شو نو هغه ووېل: اې الله! زهٔ صرف تا ته توبه وباسم نهٔ محمد (ﷺ) ته۔ نو نبی کریم ﷺ وفرمایل: [عَرَفَ الْحَقَّ لِاَهْلِهٖ] دهٔ د حقدار دپاره حق وپیژندو۔ (وسنده ضعيف مسند احمد :١٥٦٢٥ لانقطاع بين الحسن البصرى والاسود بن سريع رضى الله عنه)

یو صحابی رضی الله عنه ووېل: مونږ الله تعالیٰ تا ته سفارشی جوړه وو۔ نبی کریم ﷺ وفرمایل: الله تعالیٰ بندګانو ته سفارشی نشی جوړیدې، د الله تعالیٰ شان ددې نه ډیر اوچت دې......الخ۔ سنن ابی داود (٤٧٢٨)۔

مفسرین لیکی: چه دا آیت دلیل دې پدې خبره چه عبد الحسین، عبد النبی، عبد الرسول یا ددې په شان نور نومونه (لکه پیر بخش، ګنج بخش، داتا) کوم نه چه شرك پیدا کیږی جائز نهٔ دی لکه احسن الکلام او تفسیر قاسمی کی وګوره۔

وَلٰكِنْ كُوْنُوْا : اَیْ لٰكِنْ یَّقُوْلُ كُوْنُوْا : لیکن هغه خلکو ته دا حکم کوی چه د الله تعالیٰ والا جوړ شئ۔

رَبّٰنِیّٖنَ : ربانیین جمع د ربانی ده، (١) (ی) په کی د نسبت دپاره ده او د رب نه اخستې شویدې یعنی هغه شخص چه رب ته منسوب وی۔ او الف او نون په داسې الفاظو کی زیاتیږی لکه روحی کی روحانی وئیلې شی نو دلته اصل کی ربی دې لیکن الف او نون پکی زیات شو ربانی ترې جوړ شو۔ یعنی الله والا۔

(٢) یا ربانی منسوب دې ربان ته او ربان د رب یرب نه صفت مشبه ده په معنیٰ د تربیت کونکی سره دې۔ یعنی شئ تربیت کونکی د خلکو۔ لکه کشتیبان ته ربان السفینة وائی ځکه چه هغه هم د کشتئ تربیت کوی۔ نو د ربان معنیٰ ده مُعَلِّمُ الْخَيْرِ یعنی چه خلکو ته د خیر خودنه کوی۔

نو ربانیین هغه خلکو ته وائی چه په هغوی باندې د الله تعالیٰ بندګی او د هغه تعلق

غالبه وی، مطلق علماؤ ته نۀ وائی بلکه چه علم بالله پرے غالب وی او که چا باندے نور علمونه غالب وی او د الله تعالیٰ د تعلق علم ورسره نۀ وی نو هغه عالِم او ملا دے لیکن ربانی نۀ دے۔

نو د ربانی معنیٰ ده الله والا، او الله والا هغه څوك دے چه د الله تعالیٰ سره ئے تعلق وی، د الله تعالیٰ دپاره ئے خبره وی او د الله تعالیٰ دپاره ئے اخلاص وی او الله تعالیٰ ته خلك رابلی او الله تعالیٰ طرفته تسکورے وهی، د الله بندګی په خلکو کی عامه کوی دا د هغه کار وی۔

د ربانی مصداقات

(۱) یو ربانی هغه شخص ته وائی : اَلَّذِیْ یَعْمَلُ بِعِلْمِهٖ۔ چه په خپل علم باندے عمل کوی۔ دا سیدنا علی بن ابی طالب رضی الله عنه ته منسوب قول دے۔ (بغویؒ)

(۲) بخاری (۱/ ۵۰ طبعه هندیه) کی راځی : اَلَّذِیْ یُرَبِّی النَّاسَ بِصِغَارِ الْعِلْمِ قَبْلَ کِبَارِهٖ)۔ چه د خلکو تربیت اول په وړو وړو خبرو سره کوی بیا په غټو غټو سره۔ یعنی په تدریج سره د خلکو تربیت کوی۔ یعنی اول ساده ساده مسئلے بیانوی، د توحید، د مانځه، د زکاتونو وغیره وغیره بیا د دین رازونه بیانوی۔

(۳) ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : کُوْنُوْا فُقَهَاءَ، عُلَمَاءَ، حُکَمَاءَ۔ یعنی شئ تاسو په دین پو هه، علماء، د حکمت خاوندان۔

(٤) عُلَمَاءَ، حُکَمَاءَ، نُصَحَاءَ لِلّٰهِ فِیْ خَلْقِهٖ) (قاله عطاء) (بغوی) یعنی شئ علماء، د حکمت والا، د الله تعالیٰ دپاره د هغه د مخلوق خیرخواهان)

(۵) ځینی وائی : اَلَّذِیْ جَمَعَ مَعَ الْعِلْمِ اَلْبَصَرَ بِالسِّیَاسَةِ) (قرطبی)

ربانی هغه شخص دے چه د خپل علم سره سره د خلکو په تربیت او سیاست کی هم بصیرت لری دے دپاره چه د خلکو تربیت د دنیا او د آخرت دپاره وکړی۔ که یو انسان سره علم وی او د خلکو تربیت نشی کولے دا ربانی نۀ دے۔

(٦) کُوْنُوْا مُتَعَبِّدِیْنَ لِلّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ)۔ شئ خالص د الله تعالیٰ عبادت کونکی۔ (تفسیر مقاتل بن سلیمان)

(۷) تفسیر سراج المنیر لیکی : (هُوَ شَدِیْدُ التَّمَسُّكِ بِدِیْنِ اللّٰهِ وَطَاعَتِهٖ)۔ یعنی ربانی هغه شخص دے چه د الله تعالیٰ دین او د هغه طاعت او عبادت ئے مضبوط راټینګ کړے وی۔

کله چه عبد الله بن عباس رضی الله عنهما وفات شو نو محمد بن الحنفیه رحمه الله وویل چه نن ورځ ددے امت ربانی وفات شوید ے (تفسیر القرطبی ٤/ ۱۲۲)

بِمَا كُنتُمْ تُعَلِّمُونَ الْكِتَابَ وَبِمَا كُنتُمْ تَدْرُسُونَ : باء سببیه ده۔

د تعلیم او درس څه فرق دے ؟

تعلیم بل ته خودنے ته وائی او درس یو شے خپله لوستلو ته وائی نو حاصل دا چه د ربانی جوړیدو دپاره دوه مرکزی سببونه دي (۱) یو دا چه د نورو خلکو د عقائدو او اعمالو اصلاح وکړی او هغوی ته د الله تعالیٰ کتاب وښائی (۲) او دویم دا چه د الٰهی احکامو په بار بار لوستلو او عملی کولو سره خپل ځان ښائسته کړی نو د هغه عالِم په حال باندے افسوس دے چه د خپل علم په ذریعه خپل ځان ربانی جوړ نکړی او د یهودو د علماؤ په شان نورو ته په نیکیو امر کوی خو خپل ځان ئے هیر کړے وی۔

(۲) د تفسیر ځینی علماء وائی : چه (تعلمون الکتاب) کی بل ته تعلیم د معنیٰ مراد دے او (تدرسون) کی د الفاظو لوستل مراد دی۔ یعنی انبیاء علیهم السلام خو خلکو ته دا دعوت ورکوی چه د الله تعالیٰ د کتاب سره تعلق جوړ کړئ، ددے الفاظ هم زدهٔ کړئ او ددے په حقیقت او معنیٰ باندے هم ځانونه پو هه کړئ۔ (تیسیر العلی القدیر لاختصار تفسیر ابن کثیر لمحمد نسیب الرفاعی ۱/۳٦۷)

فائده : دلته دوه الفاظ استعمال شو ځکه چه الله تعالیٰ دوی ته فرمائی چه تاسو به د دوه حالو نه خالی نهٔ یئ یا به معلمین یئ (بل ته به خودنه کوئ) یا به متعلمین یئ د بل نه به خبره زده کوئ نو ستاسو دپاره په دواړو حالتونو کی اخلاص ضروری دے نو انبیاء علیهم السلام خو استاذ او شاګرد دواړو ته د اخلاص دعوت ورکوی نهٔ د شرك، نو تاسو د انبیاؤ پورے څنګه تهمتونه تړئ، نو عیسیٰ علیه السلام او محمد رسول الله ﷺ به څنګه د غیر الله عبادت ته دعوت ورکړی۔

فائده : ضحاكؒ وائی : څوك چه قرآن کریم لولی هغه دپاره دا لائق ده چه دے به په دین باندے پو هه وی۔

ضحاكؒ دا هم وائی : لَايَنبَغِيُ لِأَحَدٍ أَنْ يَّدَعَ حِفْظَ الْقُرْآنِ جُهْدَهٗ قرطبی (٤/١٢٣)۔

هیچا له دا پکار نهٔ دی چه د قرآن کریم زده کړه د خپل وس مطابق پریږدی) دے دپاره چه په ربانیین کی داخل شی ځکه چه ربانی هغه عالم ته وائی چه د الله تعالیٰ د کتاب تعلیم، تعلم، درس او تدریس کوی۔

وَلَا يَأْمُرَكُمْ أَنْ تَتَّخِذُوا الْمَلَائِكَةَ وَالنَّبِيِّينَ أَرْبَابًا
او حکم نکوی تاسو ته ددے چه تاسو ونیسئ ملائك او پیغمبران معبودانْ (شارعان)
أَيَأْمُرُكُمْ بِالْكُفْرِ بَعْدَ إِذْ أَنْتُمْ مُسْلِمُونَ ﴿۸۰﴾
آیا حکم کوی تاسو ته په کفر کولو پس د هغے نه چه تاسو مسلمانان یئ۔

تفسير : اوس تعميم بعد التخصيص كوی چه دے انبیاؤ علیهم السلام به د خپل ځان عبادت ته دعوت نۀ وی ورکړے لیکن د ملائکو او د نورو انبیاؤ لکه د ابراهیم ﷤ وغیره عبادت ته به ئے دعوتْ ورکړے وی چه د دوی عبادت وکړئ نو الله تعالیٰ فرمائی: دا ئے هم نۀ دی کړی، هغه تاسو ته دا حکم او اجازه نۀ کوی چه ملائك او پیغمبرانو نه ارباب (معبودان) جوړ کړئ ځکه چه د الله تعالیٰ نه ماسویٰ نور مخلوق نه معبودان جوړول او د غیر الله عبادت ته دعوت ورکول خو کفر او شرك دے، آیا یو نبی چا ته په کفر باندے حکم کوی او اجازه ورکوی پس د هغے نه چه هغه خواری کړی وی او خلك ئے دین اسلام او توحید ته رابللی وی او بیرته هغه خپله خواری په اُوبو لاهو کړی؟!، نبی هیڅکله داسے کار نۀ کوی۔ بلکه نبی خو ددے دپاره راځی چه د خلکو ایمان په الله تعالیٰ جوړ کړی او هغوی د شرك نه منع کړی او یوائی د الله تعالیٰ بندګئ ته خلك راوبلی۔

وَلَا يَأْمُرَكُمْ : امر دلته په معنیٰ د اذن (اجازه) ورکولو سره دے۔

الْمَلَائِكَةَ وَالنَّبِيِّينَ : مشرکینو کی دا مرض موجود وو چه هغوی به د ملائکو او انبیاؤ داسے تعظیم کولو چه د هغوی نه به ئے ارباب (معبودان) جوړول۔ لکه قریشو او صابئینو کی دا مرض وو چه هغوی به ملائکو ته د الله تعالیٰ لونړه وئیلی او یهود او نصاراؤ به عزیر او عیسیٰ علیهما السلام د الله تعالیٰ زامن ګنړل۔

بِالْكُفْرِ : دے نه معلومه شوه چه شرك ته کفر هم وئیلے شی نو هر شرك کفر دے او عکس نشته یعنی هر کفر شرك نۀ دے۔ او شرك ته کفر ځکه وویل شو چه دے مشرك انسان الله تعالیٰ لره په هغه طریقه ونۀ منلو په کومه طریقه چه هغه دے، بلکه په بله طریقه ئے ومنلو نو د الله تعالیٰ حقیقت ئے پټ کړو او کفر هم دے ته وائی چه یو بنده د معبود حقیقت پټ کړی۔

فائده : دا آیت صریح دلیل دے چه عبادت د بتانو لکه شرك دے دغه شان د ملائکو

عبادت او د انبیاء علیهم السلام عبادت هم شرك دے، د بت عبادت او د قبر عبادت یو شے دے۔

مُسْلِمُوْنَ : اسلام دلته په معنیٰ د اخلاص او توحید سره دے۔

وَإِذْ أَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ النَّبِيّٖنَ لَمَا آتَيْتُكُمْ
او کله چه واخسته الله تعالیٰ مضبوط وعده د پیغمبرانو نه چه خامخا هغه چه درکړم تاسو ته
مِنْ كِتَابٍ وَّحِكْمَةٍ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ
څه کتاب او سنت بیا راشي تاسو ته یو رسول تصدیق کونکے وی د هغے چه تاسو سره دی
لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَلَتَنْصُرُنَّهٗ قَالَ أَأَقْرَرْتُمْ
خامخا ایمان به راوړئ په هغه باندے او خامخا مدد به کوئ د هغه، الله وفرمایل آیا تاسو اقرار وکړو
وَأَخَذْتُمْ عَلٰى ذٰلِكُمْ إِصْرِيْ قَالُوْا أَقْرَرْنَا قَالَ
او واخسته (قبوله کړه) تاسو په دے باندے لوظ زما، وویل دوی مونږ اقرار وکړو، الله وفرمایل
فَاشْهَدُوْا وَأَنَا مَعَكُمْ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ ﴿٨١﴾ فَمَنْ تَوَلّٰى
نو ګواه شئ او زهٔ تاسو سره د ګواهی کونکو نه یم۔ نو څوك چه واوړیدو
بَعْدَ ذٰلِكَ فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَاسِقُوْنَ ﴿٨٢﴾
پس ددے وعدے نه نو دغه کسان نافرمان دی۔

تفسیر : مضمون : ددے نه روستو نور ردونه دی په اهل کتابو باندے او د هغوی شبهات رانقل کوی او په هغے باندے رد کوی پدے اولنی آیت کی بیان دے د صدق الرسول چه دا آخری رسول ﷺ رشتینی دے، الله تعالیٰ د پخوانو پیغمبرانو نه ددهٔ په باره کی لوظ اخستے وو دا چه څوك نهٔ مني هغه فاسق دے۔ په (۸۳) آیت کی ترغیب الی الاسلام دے چه راشئ په دین اسلام کی داخل شئ ځکه چه اسلام د ټولو انبیاؤ بلکه د ټولو کائناتو دین دے نو تاسو له ددے تابعداری پکار ده۔ بیا په (۸٤) کی بیان د اسلام او ایمان دے چه ایمان دے ته وائی چه الله تعالیٰ منل او ټول کتابونه او ټول رسولان منل او د الله تعالیٰ دپاره په بندګئ کی اخلاص کول او خپلے عقیدے برابرول۔ په (۸۵) کی زجر او رټنه ده په پریښودو د اسلام چه ددے په پریښودو سره انسان تاوانی کیږی۔ په (۸٦) آیت کی رد دے

په هغه یهودو باندے چه رسول الله ﷺ ئے د بعثت نه مخکې منلو لیکن کله چه مبعوث شو بیا ئے پرے کفر وکړو نو الله تعالیٰ توبیخ او زورنه ورکړے ده په کفر کولو باندے پدے آخری رسول. بیا (۸۹) آیت کې الله تعالیٰ توبې ته ترغیب ورکړیدے چه راشئ توبه وباسئ که بې توبې د دنیا نه لاړئ نو که بالفرض تول دنیا الله تعالیٰ ته ورکړئ د الله تعالیٰ د عذابونو نه پرے نشئ خلاصیدے. بیا په (۹۲) آیت کې انفاق ته ترغیب ورکړے شویدے د وجه د یو مناسبت نه چه تفصیل ئے روستو رازی.

بیا په (۹۳) (كُلُّ الطَّعَامِ) کې جواب د یوے شبهے د اهل کتابو دے په دوه طریقو سره. بیا په (۹۶) کې د یوے شبهے رد دے چه دوی وئیلی وو زمونږ قبله غوره ده. بیا په درے آیتونو کې اهل کتابو ته رټنې ورکړے شویدی او ترغیب دے ایمان راوړو ته. بیا په دوه آیتونو کې الله تعالیٰ مؤمنان منع کړیدی د اهل کتابو د خبرو منلو نه چه تاسو ته الله تعالیٰ یو مستقل دین رالیږلے دے نو د اهل کتابو خبره مه منئ، د دوی نه متأثره نشئ، دوی تاسو کافر کوی او کفر ستاسو دپاره جائز نهٔ دے ځکه چه قرآن او حدیث موجود دی او بیا د کفر نه د خلاصیدو دوه لارے الله تعالیٰ خودلی دی یو اعتصام بالله او دویم اعتصام بحبل الله.
نو دا عام آیتونه د اهل کتابو د شبهاتو ردونه کوی او د اسلام صحیح تصور او عظمت د هغوی په زړونو کې کینوی.

دارنګه د اهل اسلام په زړونو کې د اسلام عظمت داخلوی.

ربط : ۱- په مخکنو آیتونو کې ووئیل شو چه د شرك دعوت هیڅ بشر سره مناسب نهٔ دے پاتے لا پیغمبران علیهم السلام چه الله تعالیٰ پرے انعام کړیدے اُوس پدے آیت کې فرمائی چه الله تعالیٰ خو د پیغمبرانو نه په خپلو خپلو وختونو کې دا لوظ اخستے وو چه تاسو به خلکو ته توحید بیانوئ او پدے کار کې به د یو بل سره مدد کوئ او د یو بل تائید به کوئ نو هغوی به څنګه شرك ته دعوت ورکړی.

۲- د موضوع د سورت سره مناسبت دا دے چه دلته رد دے په کفر بالرسول چه دا هم کفر بآیات الله دے.

پدے آیت کې دوه تفسیرونه دی چه یو پکې راجح دے (۱) اول دا چه دا وعده الله تعالیٰ د پخوانو پیغمبرانو نه اخستے وه چه کله آخری پیغمبر محمد رسول الله ﷺ راشی نو تاسو به په هغه ایمان راوړئ او بیا به د هغه مدد هم کوئ. نو عامو پیغمبرانو د رسول الله ﷺ زمانه لاندے نکړه صرف عیسیٰ علیه السلام به روستو رازی او د محمد رسول الله ﷺ د

دين مدد به كوي۔ نو پدې كي به تنبيه وي پدې خبره چه اے انبياؤ! تاسو خپلو امتونو (يهود او نصاراؤ) ته د آخري نبي په باره كي بيان وكړئ چه تاسو به د رسول الله ﷺ دين منئ او پدې كي اشاره ده چه هركله يو نبي د محمد رسول الله ﷺ تابعداري كوي نو امتيان خو به ئے خامخا كوي لكه په يو حديث كي راغلي دي :

لَوْكَانَ مُوْسٰى حَيًّا مَا وَسِعَهُ اِلَّا اتِّبَاعِيْ)۔ (احمد : ۱۵۱۹۵ و فيه مجالد بن سعيد ضعيف)

(كه بالفرض موسىٰ عليه السلام ژوندے وے نو هغه دپاره به صرف زما تابعداري جائز وے)۔

نو معنىٰ دآيت به داسے وي چه كله الله تعالىٰ د پيغمبرانو نه وعده واخسته چه خامخا هغه شے چه زۀ ئے تاسو ته دركړم چه هغه كتاب او نبوت دے يعني زۀ مو پيغمبران وګرزوم او بيا تاسو ته يو رسول يعني محمد رسول الله ﷺ راشي نو تاسو به پرے ايمان راوړئ او دلته رسول اګركه نكره ده ليكن مراد ترے نبي كريم ﷺ دے او د عظمت دپاره ئے نكره كړيده بيا دلته وقف دے يعني كه تاسو د هغه زمانه لاندے كړه نو ايمان به پرے راوړئ او مدد به ئے كوئ۔

نو تمامو انبياؤ ددے اقرار اُوكړو او ددے اقرار ګواه جوړ شو او الله تعالىٰ هم ګواهي اُوكړه۔ ددے عمومي اقرار او عهدنامے تقاضا خو دا وه چه كله محمد ﷺ دنيا ته تشريف راوړو نو هغه ټول خلق چه د موسىٰ او عيسىٰ عليهما السلام تابعدار وو، په هغوي لازمه وه چه په محمد ﷺ ئے ايمان راوړے وے، پدے وجه اُوس كه څوك د محمد ﷺ اتباع نۀ كوي نو هغه به فاسق او د الله تعالىٰ نافرمان او د هغه نبي دروغجن كونكے وي د كوم د محبت دعوے چه كوي او په كوم باندے چه د ايمان راوړو دعوے كوي۔ او كه د نجران نصارىٰ هم په عيسىٰ عليه السلام باندے د ايمان دعوىٰ كوي او په محمد ﷺ باندے ايمان نۀ راوړي نو دوي به په خپله دعوىٰ كي دروغجن وي۔

(۲) تفسير : د رسول نه مراد هريو رسول دے نو هر مخكني رسول پدے مكلف وو چه روستني رسول به مني لكه مثلاً هارون عليه السلام راغے نو موسىٰ عليه السلام به ئے مني او په بني اسرائيلو كي ډير پيغمبران په يو يو كلي كي موجود وو نو هر نبي ته وئيل شوي وو چه په بل نبي به ايمان راوړئ او د يو بل تائيد به كوئ۔ لكه دا د حق پرستو طريقه ده۔ او بيا خصوصي طور سره د رسول الله ﷺ په باره كي د انبياؤ نه دا وعده اخستے شوے وه۔

د عهدونو تفصيل

بلكه په عالم الذر كي الله تعالىٰ درے قسمه لوظونه اخستي وو (۱) يو د عامو انسانانو نه

چه زما د ربوبیت اقرار به کوئ چه هغے ته د (الست بربکم) وعده وائی لکه دا په سورة اعراف (۲۷۲) کی ذکر ده۔ (۲) او دویم : د انبیاء کرامو علیهم السلام نه د تبلیغ په باره کی وعده اخستے شوے وه چه دین به بیانوئ۔ (۳) او دریم : د رسولانو نه د آخری رسول محمد رسول الله ﷺ په باره کی لوظ اخستے شوے وو لکه پدے آیت کریمه کی شو۔

نو پدے کی اشاره وه عظمتِ شان د رسول الله ﷺ ته۔ نو پدے آیت کریمه کی د رسول الله ﷺ لوی شان ذکر دے او پدے کی رد او تعریض دے په یهود او نصاراؤ چه ستاسو د پیغمبرانو نه الله تعالیٰ ددے رسول په باره کی لوظ اخستے وو او دا لوظ ستاسو نه هم اخستے شویدے بیا هم تاسو ددے رسول مخالفت کوئ خو مره بد بخته یئ۔

لَمَا آتَيْتُكُمْ : لام تاکید او (ما) موصوله ده یعنی هغه شے چه د هغے بیان په (من کتاب وحکمة) سره شویدے۔ د حکمة معنیٰ مخکی سورة بقره آیت (۱۲۹) و(۱۵۱) کی ذکر شویده چه د وحی د رازونو علم ته حکمت وائی۔

اِصْرِیْ : اصر : مضبوطے وعدے ته وائی۔

بیا رسولانو په آخری رسول محمد رسول الله ﷺ باندے خو ایمان راوړے وو لیکن مدد ئے ورله نۀ دے کړے ځکه چه هغوی ددۀ زمانه نۀ ده موندلے نو دا دلیل دے چه خضر عليه السلام هم وفات دے ځکه چه هغه د رسول الله ﷺ سره په جنگ بدر او اُحد او نورو غزواتو کی مدد نۀ دے کړے، که ژوندے وے نو ضرور به ئے ورسره مدد کړے وے، د خضر عليه السلام په وفات باندے قرآن او حدیث او اجماع د من یعتد به او صحیح عقل دلیل دے۔ بعض صوفیاء ددۀ د ژوند قائل دی لکه د مُهایمیؒ د تفسیر (تبصیر الرحمن) په ابتداء کی ذکر شویدی چه دا تفسیر د خضر عليه السلام نه زده کړے شویدے نو دا خبره بی دلیله ده او په وهمیاتو باندے بناء ده۔ زیات تفصیل به په سورة الکهف کی راځی ان شاء الله تعالیٰ۔

فَاشْهَدُوا : (۱) تاسو په خپله خبره گواه شئ او زه هم تاسو سره پدے خبره گواهی کوم نو پدے گواهئ کی به ډیر تاکید مقصود وی۔ (۲) یا شهادت په معنیٰ د بیان سره دے یعنی دا خبره خپلو امتونو ته بیانه کړئ او زۀ به ئے هم په خپلو کتابونو کی خلکو ته بیانه کړم۔

فَمَنْ تَوَلّٰی : یو نبی باندے چه د بل نبی مدد لازم وی نو په امتیانو به ئے خامخا لازم وی او یو نبی الله تعالیٰ یروی چه که بالفرض تاسو واوړیدئ نو نافرمان به شئ نو پدے کی تعریض دے په امت باندے چه نبی خو د خپل لوظ نه نۀ اوړی خو که تاسو واوړیدئ نو نافرمان او فاسقان به شئ او یهود او نصاریٰ همدغه شان فاسقان شو چه آخری نبی ئے ونۀ

منلو.

أَفَغَيْرَ دِيْنِ اللهِ يَبْغُوْنَ وَلَهٗٓ أَسْلَمَ مَنْ
آیا نو سوا د دین د الله نه دوی لټوی (بل دین) او خاص د الله دپاره تابعداری کوی هغه څوك
فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَّكَرْهًا وَّإِلَيْهِ يُرْجَعُوْنَ﴿۸۲﴾
چه په آسمانونو او په زمکه کې دی په خوشحالئ او په زوره او خاص هغه طرفته به دوی ورګرزولے شی.

تفسیر : ربط : مخکې ئے وویل چه د الله تعالیٰ دین دا دے چه آخری رسول به منئ، اُوس وائی څوك چه د آخری رسول ﷺ د دین نه اعراض کوی نو ګویا که دا بل دین طلب کوی. او څوك چه دین اسلام نۀ منی نو دا د ټولو کائناتو مخالفت کوی.

د آیت مطلب دا دے چه هرکله چه دا یهود او نصاریٰ او نور کافران د دین اسلام نه علاوه نور داسے دینونه طلب کوی چه الله تعالیٰ پرے رضا نۀ دے او هغه د انبیاؤ اتفاقی دین نۀ دے او ددے اتفاقی دین نه اوړی کوم باندے چه ټول انبیاء او کائنات متفق دی څوك ئے په خپله خوښه او څوك ئے په زوره منی، او دوی د ټولو کائناتو مخالفت کوی نو آیا د دوی نه به دغه دین څه قبول شی او دوی ته به فائده ورکړی؟ هیڅکله نۀ، او نۀ دا د انصاف خبره ده چه د داسے ښکلے دین نه علاوه څوك بل دین طلب کړی، حال دا چه الله تعالیٰ هغه ذات دے چه د هغه تابع دی آسمان والا او زمکے والا، څوك په خپله خوښه او څوك په زوره سره او دا ټول به الله تعالیٰ ته ورګرزولے شی چه پدے کې به یهود او نصاریٰ هم وی نو الله تعالیٰ به ورسره ګوری چه د الله تعالیٰ د دین نه سویٰ ئے بل دین طلب کړیدے نو پدے کې اهل کتابو او ټولو کافرانو ته دعوت شو چه راشئ دین اسلام قبول کړئ ورنه الله تعالیٰ ته به ورګرزولے شئ او حساب به درسره کوی.

او پدے کې اشاره شوه چه اسلام د ټولو کائناتو دین دے، د عامو کائناتو دین دے په طریقه د امر تکوینی سره چه الله تعالیٰ ورته امر کړیدے چه دا اسلام ومنئ نو هغوی ورته غاړه ایښی ده او مسلمانانو منلے دے په طریقه د شرع باندے او په خپله خوښه سره.

شان نزول

مفسرین لیکی : اهل کتابو خپل مینځ کی اختلاف وکړو هر یو دعوه وکړه چه مونږ د ابراهیم علیه السلام په دین روان یو او دا جګړه ئے رسول الله ﷺ ته راوړه نو رسول الله ﷺ

وفرمایل: ستاسو دواړه ډلے د ابراهیم ﷺ د دین نه جدا یئ نو هغوی غصه شو او دا ئے وویل: مونږ ستا په فیصله باندے راضی نهٔ یو او نهٔ ستا دین قبلوو نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو (أَفَغَيْرَ دِيْنِ اللّٰهِ يَبْغُوْنَ) یعنی آیا دوی د الله تعالیٰ د دین نه (چه دین اسلام دے) علاوه بل دین غواړی چه هغه د ځان نه جوړ شوی دینونه دی.

(البغوی ۲/۶۳،القرطبی ٤/۱۲۷، البحر المحیط لابی حیان ۲/۵۱٤، اسباب النزول للواحدی ص (۷٤).

د طَوْعًا وَكَرْهًا تفسیرونه

پدے مقام کی مفسرینو ددے دواړو الفاظو ډیر تفسیرونه کړیدی چه په لاندے ترتیب سره ئے وګوره! اصلی معنیٰ ئے دا ده طوع دیته وائی چه یو بنده په خپله خوښه او خوشحالیٔ سره یو کار وکړی او کَرْهَ دیته وائی چه زور پرے وشی او مجبوراً یو کار وکړی.

(۱) آسمانونو والا (ملائك) طوعاً یعنی بغیر د استدلال نه تابع دی او زمکے والا مسلمان او کافر دواړه کرهاً تابع دی، کافر د الله تعالیٰ د امر گونی (تکوینی) تابع دے ځکه چه الله تعالیٰ پرے څه فیصله کوی سر ترے نشی اړولے، او مسلمان هم کرهاً تابع دے ځکه چه د دلیل عقلی یا نقلی او معجزے نه مجبوره شویدے نو اسلام ئے قبول کړیدے.

(۲) دویم فرق: (طَوْعًا) د ملائك او مؤمنانو سره لګی چه دوی په خپله خوښه اسلام راوړیدے او فائده ئے ورته ورکړیده. او کرهاً د کافرانو سره لګی چه دوی په زوره تابع دی دا په دوه طریقو سره ❁ یو دا چه کله اسلامی خلافت راشی نو کافر د قتل نه یریږی، د اسلام احکام منی یا جزیه ورکوی یا په طریقه د منافقت اسلام کی داخلیږی.

❁ یا دا چه کافر د الله تعالیٰ د امر گونی تقدیری نه مجبوره دے چه الله تعالیٰ پرے څه فیصله کوی د هغے نه نشی اوړیدے، د هیڅ تغیر طاقت پکی نهٔ لری لکه الله تعالیٰ پرے مریضتیا، یا مرګ راولی، مال ترے اخلی، ذلیله کوی ئے، یا دا چه کافر په داسے وخت کی اسلام راوړی چه په هغه وخت کی به ورته فائده نهٔ ورکوی لکه د مرګ په وخت کی کافر ته هم پته لګی چه اسلام حق دین دے بیا د تابعداریٔ اقرار کوی لیکن ترے نهٔ قبلیږی. دا تفسیر د قتاده رحمه الله دے.

نو معنیٰ به داسے وی چه اے کافرانو! تاسو دومره کمزوری او مجبوره یئ چه د الله تعالیٰ د حکم نه نشئ اوړیدلے نو راشئ د الله تعالیٰ دین په خوشحالیٔ او رضامندیٔ سره قبول کړئ.

(۳) مجاهد رحمه الله وائی: چه مؤمن الله تعالیٰ ته طوعًا سجده کوی او د کافر سوری کرهًا سجده کوی.

(٤) الحسن رحمه الله وائی چه مؤمن طوعاً ایمان راوړی او کافر کَرهًا (د توری په زور) ایمان راوړی۔

(٥) الزجاجؒ وائی : ټول مخلوق الله تعالیٰ ته کَرهًا تابع دی چه هیڅوك د هغه د تکوینی اوامرو نه سر نشی اړولے او نهٔ پکی څوك د تغیر طاقت لری، البته په تشریعی اوامرو کی هغه څوك غاړه ایښودونکی کنټرل کیږی چه طوعًا په خپله خوښه ورته تسلیم شی او عقیده پرے وساتی۔

بعض مفسرینو ته دا آیت مشکل ښکاره شویدے نو هغوی وئیلی دی چه دا په عالم المیثاق کی مراد دے چه کله الله تعالیٰ د انسانانو روحونه پیدا کړل نو الله تعالیٰ ترے اقرار واخستو چه آیا زهٔ ستاسو رب نهٔ یم؟ ټولو بندګانو اقرار وکړو چه تهٔ زمونږ رب ئے که د چا په زړه کی وه او که نهٔ وه۔ اول او دویم مطلب راجح دے۔

أَفَغَيْرَ : أي أَيَتَوَلَّوْنَ عَنْ دِيْنِ اللّٰهِ وَغَيْرَ دِيْنِ اللّٰهِ يَبْغُوْنَ) ۔ آیا دوی د الله تعالیٰ د دین نه اوړی او بل دین طلب کوی۔ همزه د استفهام تعجبی دپاره ده یعنی دا څومره عجیبه خبره ده چه د الله تعالیٰ د دین نه سویٰ بل دین دوی طلب کوی او د ټولو کائناتو مخالفت کوی۔

وَلَهٗ أَسْلَمَ مَنْ : پدے کی اشاره ده چه کافران ولے د الله تعالیٰ د دین نه علاوه بل دین لټوی او تشریعی امرونه ئے نهٔ قبلوی؟ حال دا چه په تکوینی امورو کی د الله تعالیٰ نه خلاف نشی کولے نو دوی له پکار دی چه په تشریعی اوامرو کی هم ترے خلاف ونکړی دے دپاره چه د ټولو کائناتو د قانون سره موافق شی۔

قُلْ آمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَا أُنْزِلَ عَلَيْنَا وَمَا
ته اووایه ! مونږ ایمان راوړے په الله او په هغه کتاب چه نازل کړے شویدے مونږ ته او په هغے
أُنْزِلَ عَلٰى إِبْرَاهِيْمَ وَإِسْمَاعِيْلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْأَسْبَاطِ
چه نازل شوے په ابراهیم، اسماعیل، اسحاق، یعقوب (علیهم السلام) او په اولاد د یعقوب باندے
وَمَا أُوْتِيَ مُوْسٰى وَعِيْسٰى وَالنَّبِيُّوْنَ
او په هغه کتابونو چه ورکړے شویدی موسیٰ او عیسیٰ علیهما السلام او نورو پیغمبرانو ته
مِنْ رَّبِّهِمْ لَانُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ
د طرفه د رب د دوی نه، جدائی نهٔ کوو مونږ (په ایمان راوړو کی) په مینځ د یو تن کی

مِنۡهُمۡ وَنَحۡنُ لَهٗ مُسۡلِمُوۡنَ ﴿۸۴﴾
د دوی نه او مونږ یو خاص الله ته تابعدار۔

تفسیر: مخکی آیت کی اسلام اجمالی طریقے سره ذکر شو نو سوال پیدا شو چه د اسلام څه عقائد او نظریات او اعمال دی؟ په بل تعبیر: اسلام د څه شی نوم دے؟ داسے آیت په سورة البقره (۱۳۴) آیت کی هم تیر شویدے، تفسیرئے هلته وګوره مګر جزئی طریقے سره فرقونه شته، هلته ئے (قُولوا) جمع صیغه وئیلے وه او دلته (قُلْ) مفرد ځکه چه هلته خبره د مؤمنانو د دعوت شروع وه او دلته خبره د رسول الله ﷺ د عظمتِ شان بیانیږی نو ځکه ئے هغه ته حکم وکړو چه تهٔ دے خلکو ته ووایه! او د نصاراؤ سره مقابله او بحث نبی کریم ﷺ کولو۔ بیا د سورتِ بقرے آیت کی تاکیدات او کلمات زیات دی ځکه چه هغه مقام د دعوت دے او دا مقام د شان د رسول الله ﷺ دے۔

مُسۡلِمُوۡنَ: اَیۡ مُخۡلِصُوۡنَ وَمُنۡقَادُوۡنَ)۔ یعنی مونږ د الله تعالیٰ دپاره په بندګئ کی اخلاص کونکی یو او د هغه د حکمونو تابعدار یو۔ ایمان او اسلام دواړه ئے جمع کړل ځکه چه ایمان باطنی شے دے او اسلام ظاهری اعمال دی نو اشاره کوی چه مونږ ظاهراً او باطناً غاړه ایښودونکی یو او تاسو کی نهٔ ایمان شته او نهٔ اسلام۔

نو دے آیت کی د ایمان تعریف دا شو چه الله تعالیٰ لره په غیر د شریکانو نه منل او د هغه ټول کتابونه او د هغه ټول رسولان منل، او په هغوی کی تفرقے نهٔ راوستل او د الله تعالیٰ دپاره په اعمالو کی اخلاص کول دیته ایمان او اسلام وائی۔

وَمَنۡ یَّبۡتَغِ غَیۡرَ الۡاِسۡلَامِ دِیۡنًا فَلَنۡ یُّقۡبَلَ مِنۡهُ
او څوک چه لټوی په غیر د اسلام نه بل دین نو هیچرے به قبول نشی ددهٔ نه ۔
وَهُوَ فِی الۡاٰخِرَةِ مِنَ الۡخَاسِرِیۡنَ ﴿۸۵﴾
او دے به وی په آخرت کی د تاوانیانو نه

تفسیر: اُوس توبیخ او تخویف ورکوی هغه چا ته چه اسلام پریدی او د اسلام نه علاوه بل دین طلب کوی۔ او دا جواب د اهل کتابو د سوال هم دے چه هغوی وئیلی وو چه یهودیت او نصرانیت هم الله تعالیٰ ته رسیدلی لاری دی او د هغه دینونه دی، دا هم الله رالیږلی دی، نو جواب کوی چه الله تعالیٰ په یهودیت او نصرانیت وغیره دینونو باندے

راضي نهٔ دے بلکه د الله تعالیٰ قانون دا دے چه څوك د اسلام نه علاوه بل دین لټوی نو هغه الله تعالیٰ ته قبول نهٔ دے، صرف د اسلام لاره الله تعالیٰ ته کولاوه ده او د نورو دینونو په روانیدو سره انسان په دنیا او آخرت کی تاوانی گرزی او هغه لارے جهنم ته تلی دی۔

وَمَنْ يَّبْتَغِ : د اسلام نه علاوه نور دینونه طلب کول دوه قسمه دی (۱) کلًا۔ چه بیخی تول په توله اسلام پریدی او په بل دین د یهودیت یا نصرانیت، یا مجوسیت یا صابئیت او شرك باندے روان شی نو دا خو همیشه دپاره تاوانی شو۔ کافر شو۔

(۲) دویم بعضاً طریقے سره بل دین طلب کول دی چه اسلام منی، قرآن او حدیث او قیامت منی لیکن په دین کی نورے طریقے او خبرے راننباسی چه هغے ته بدعات وائی نو هغه هم الله تعالیٰ ته قبول نهٔ دی نو کله به هغه بدعتِ مُکَفِّره وی بنده به پرے کافر کیږی او کله به پرے فاسق گرزی خو الله تعالیٰ ته قبول نهٔ دے، نبی کریم ﷺ فرمائی :

[مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ]۔

چا چه یو عمل وکړو چه په هغے باندے زمونږ حکم او طریقه نهٔ وه نو هغه به مردود وی۔

(مَنْ أَحْدَثَ فِيْ أَمْرِنَا هٰذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ) (صحیح مسلم) ۔ چا چه زمونږ په دین کی هغه څه راپیدا کړل چه د دین نه نهٔ وی نو هغه به مردود وی۔

مِنَ الْخَاسِرِيْنَ : یعنی عمل به ئے هم برباد شی او ددے دپاسه به اُور ته هم روان وی دغه لوی تاوان دے۔

كَيْفَ يَهْدِي اللّٰهُ قَوْمًا كَفَرُوْا بَعْدَ إِيْمَانِهِمْ وَشَهِدُوْا
څنگه به هدایت وکړی الله هغه قوم ته چه کفرئے کړے پس د ایمان نه او گواهی ئے ورکړیده
أَنَّ الرَّسُوْلَ حَقٌّ وَّجَآءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ﴿۸۶﴾
چه دا رسول حق دے او راغلی وو دوی ته ښکاره دلیلونه او الله هدایت نکوی قوم ظالمانو ته۔
أُولٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمْ أَنَّ عَلَيْهِمْ لَعْنَةَ اللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْنَ﴿۸۷﴾
دغه کسان بدله د دوی دا ده چه په دوی باندے به لعنت د الله وی او د ملائکو او د خلکو تولو۔
خٰلِدِيْنَ فِيْهَا لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ﴿۸۸﴾
همیشه به وی پدے کی، سپك به نکړے شی د دوی نه عذاب او نهٔ به دوی ته مهلت ورکړے شی۔

إِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ وَأَصْلَحُوْا
مگر هغه کسان چه توبه ئے ویستله پس ددے (کفر) نه او خپل عمل ئے برابر کړو
فَإِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٨٩﴾
نو یقیناً الله بخونکے مهربان دے۔

تفسیر : پدے آیت کی یو رد دے په مرتدینو او بل رد دے په یهودیانو باندے۔ حاصل ئے دا دے چه آمَنُوْا بِهٖ اِجْمَالًا وَ كَفَرُوْا بِهٖ تَفْصِيْلًا) په رسول الله ﷺ باندے ئے اجمالًا ایمان راوړے لیکن تفصیل ئے نۀ منی نو لاړل گمراه او تاوانیان شو۔ لکه تفصیل ئے لاندے راروان دے۔

نو دا آیت دوه طریقو سره لگی (۱) یو د مرتدینو په باره کی دے چه د شان نزول نه معلومیږی۔ مفسرین لیکی چه دا آیت د بعض کسانو په باره کی وو چه په رسول الله ﷺ باندے ئے ایمان راوړو او بیا بیرته مرتد شو، دین ئے پریښودو او د مشرکانو سره پیوسته شو نو الله تعالیٰ د هغه مرتدینو په باره کی دا آیت راولیږلو، د دوی دپاره ئے وعید بیان کړو بیا ئے توبی ته ترغیب ورکړو چه راشئ د مرگ نه مخکی توبه وباسئ الله تعالیٰ به مو کامیاب کړی نو مخکی په اهل کتابو رد وو او دلته په مرتدینو باندے او په هره زمانه کی مرتدین خلك وی۔

شان نزول

د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه د انصارو نه یو سړی (حارث بن سوید) اسلام راوړو او د رسول الله ﷺ سره څه زمانه وو بیا د خپل قوم سره پیوست شو او کفر ئے اختیار کړو مگر څه موده روسته په ارتداد باندے پښیمانه شو او خپلوانو ته ئے جواب ولیږۀ چه زما دپاره د نبی کریم ﷺ نه پوښتنه وکړئ چه د ارتداد نه به مے توبه قبوله شی او کۀ نۀ ؟ نو الله تعالیٰ دا آیت (کیف یهدی الله نه تر – فان الله غفور رحیم) پورے نازل کړو نو د هغه د قوم یو سړی دا آیت راواخستو او په حارث بن سوید باندے ئے ولوستو نو حارث وویل : تۀ هم رشتینے ئے او رسول الله ﷺ ستا نه ډیر رشتینی دے او الله تعالیٰ د درے واړو نه زیات رشتینی دے نو بیرته راواپس شو او ښائسته اسلام ئے راوړو۔ (اسباب النزول للواحدی ص : ٧٤ وتفسیر ابن کثیر ١/٣٧٩، والسلسلة الصحیحة للالبانی رقم : ٣٠٦٦)

نو ددے تفسیر په بناء د آیت مطلب به داسے وی : الله تعالیٰ داسے شخص ته هدایت نۀ

کوی چه حق وپیژنی او بیا ئے قصداً پریدی او د دوی سزا به دا وی چه لعنت به پرے وی او په عذاب کی به همیشه وی، هاؤ! که په خپله خوښه سره په ژوند کی توبه وباسی نو لاره ورته کولاوه ده، الله تعالیٰ ئے توبه قبلوی خو غالباً داسے خلکو ته د هدایت توفیق نهٔ ملاویږی۔

(۲) دویمه طریقه : (چه دا د حسن بصری رحمه الله نه نقل ده) چه دا آیت هم د اهل کتابو په باره کی دے لکه د نورو آیتونو بحث هم د اهل کتابو په باره کی شروع دے یعنی آمَنُوا بِهٖ قَبْلَ بِعْثَتِهٖ وَكَفَرُوا بِهٖ بَعْدَ بِعْثَتِهٖ) ۔ چه دے اهل کتابو به د رسول الله ﷺ نه د راتللو نه مخکی په هغه ایمان راوړو او د الله تعالیٰ نه به ئے دعاگانے کولے چه اے الله ! مونږ سره ددے نبی آخر زمان په رالیږلو مدد وکړه، او ددے نبی صفتونه به ئے کول او دا به ئے د ځان نه شمارلو او خلکو ته به ئے وئیل چه مونږ به د هغه ملگری کیږو لیکن هرکله چه هغه الله تعالیٰ راولیږلو نو دوی پرے کفر وکړو او دا ئے وویل چه اُوس به مونږ ددهٔ تابعداری کوو ؟ نَصِيرُ أَذْنَابًا بَعْدَ مَا كُنَّا رُؤُوسًا) ۔مونږ به لکئ گرزو پس د هغے نه چه مونږ سرونه (یعنی مشران) وو۔ نو الله تعالیٰ پدے آیتونو کی دهمکی ورکوی دغه اهل کتابو ته چه داسے خلکو ته الله تعالیٰ هدایت نهٔ کوی اگرکه الله تعالیٰ هدایت بالکل بند کړے نهٔ دے چه بیخی امکان ئے ختم شی، ممکن وه چه دوی توبه وباسی او ایمان راوړی لیکن غالباً داسے خلکو ته هدایت نهٔ کیږی ددے وجه نه ډیرو لږو یهودیانو ایمان راوړے وو او اکثر په خپل کفر کی د دنیا نه لاړل، نو الله تعالیٰ دوی ته دعوت ورکوی او یره ورکوی چه د هدایت نه محرومه نشئ، زر زر توبه وباسئ او ایمان راوړئ۔ (تفسیر الطبری ۳۴۱/۳) وبدائع التفسیر للامام ابن القیم)

وَجَآءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ : یعنی دوی ته د نبی کریم ﷺ په حقانیت باندے ښکاره معجزات او دلیلونه راغلل لکه علماءَ فرمائی چه الله تعالیٰ د نبی کریم ﷺ په نبوت باندے درے زره معجزے او دلائل النبوة ودرولی وو چه هغه څه حصه امام بیهقیؒ په ((دلائل النبوة)) کتاب کی راجمع کړیدی ځکه چه عالمی پیغمبر وو د هغه د نبوت نه مخکی هم داسے نښے خودلے شوے وے چه چا به ولیدو نو په هغه کی به ئے شك نهٔ راتللو۔

وَاللهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ : الله تعالیٰ داسے ظالمانو ته د هدایت توفیق نهٔ ورکوی چه حق وپیژنی او بیا قصداً هغے لره لتی ورکوی د دوی سره به د حکمت نه کارنهٔ اخلے ځکه چه دوی سره د پوهے نه گمراهی اختیار کړیده۔

إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا : البته که چا پدے ظالمانو کی توبه ویستله نو د توبے دروازه کولاوه ده الله تعالیٰ ئے قبلوی چه د خپلے گناه نه رجوع وکړی او بیرته په اسلام کی داخلیږی او بیرته نیك اعمال برابر کړی نو الله تعالیٰ بخنه کونکے دے (په تیر شوی ارتداد باندے به ئے نۀ نیسی) او مهربان دے (د استحقاق نه زیات به په خپلے مهربانئ سره جنتونه ورکړی او په دنیا کی به د نیکو عملونو توفیق ورکړی).

وَأَصْلَحُوا : خپل عمل نیك کړی. یا کوم تابعدار چه ئے گمراه کړی وی د هغوی بیرته اصلاح وکړی.

فائده : د عجیبه خبرو نه دا ده چه دا قسم بندگان زمونږ په امت کی هم ډیر زیات دی، او الله تعالیٰ خپل بندگان پیژنی چه یو سړی باندے به هسے د اسلام نوم پروت وی او په مینځ کی به پکی اسلام نۀ وی، ددے ناشنا مثال دا دے چه اکثر انسانان داسی دی چه که تۀ ترے تپوس وکړے چه اسلام منے؟ هغه وائی، آؤ، بالکل نو اجمالاً اسلام منی لیکن که تا ورته د اسلام تفصیلات یو یو بیان کړل نو د ډیرو منلو ته به تیار نۀ وی نو پداسے خلکو باندے د اول نه ځوك د کفر فتویٰ نشی ورکولے ځکه چه د اسلام اقرار کوی لیکن کله چه پرے امتحان راشی نو خپله کافر شی، لکه یو داعی توحید بیانول شروع کړی نو ډیر خلك به وائی چه دوی باباگان او اولیاء نۀ منی، نو د اسلام غټه خبره ئے پریښوده. که چا د رسول الله ﷺ د اطاعت او اتباع خبره شروع کړه نو ډیر خلك به وائی چه دوی امامان نۀ منی نو ظاهره کی به ځان ته عاشقِ رسول وائی لیکن که سنت طریقے دے ورته تفصیلاً بیان کړے نو په هغے کی به ډیرو منلو ته تیار نۀ وی، عجیبه مسلمان دے!!. که په سود یا په رسمونو رواجونو او بدعاتو دے رد وکړو ډیر خلك به درسره دا نۀ منی، یو ے علاقے ته ورشه هغوی ته ووایه ! چه تاسو کی ځوك منکرِ حدیث شته ؟ تول به ووائی چه مونږ حدیثونه منو، بخاری منی؟ آؤ، بیا بخاری راواخله یو یو حدیث ترے شروع کړه نو ډیر احادیث به درله خلك رد کړی، د ایمان د زیادت او نقصان خبره به راشی نو ډیر خلك به ئے نۀ منی، د مانځه ډانچه او نورو ډیرو احادیثو کی به درسره اختلاف شروع کړی، بیا بخاری منلو ته تیار نۀ وی، نو ځان د یهودو سره مشابه کړی چه اجمالا ئے خو ایمان راوړے وی لیکن تفصیلاً ئے کفر کړے وی. کمال او کامیابی دا ده چه بنده اسلام ظاهرا او باطناً، اجمالا او تفصیلا دواړو طریقو سره ومنی.

فائده : ځوك چه د اسلام نه مرتد شی دا په دریے قسمه دی (۱) هغه ډله کافران چه په

اخلاص سره توبه وباسي نو الله تعالیٰ توبه قبلوي.
(۲) هغه ډله چه توبه ئې په اخلاص سره نهٔ وي بلکه ورځ په ورځ د هغه کفر زياتيږي نو د دوی توبه قبوله نهٔ ده. (دا د منافقت توبه ده)
(۳) هغه ډله چه د مرګ د ورځې پورې په کفر کلك وي او په همدې حالت کې مړه شي نو د دوی توبه هم نشته او نهٔ به ورته الله تعالیٰ بخښنه وکړي او نهٔ به ترې فديه قبوله کړي.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا
يقيناً هغه کسان چه کفرئې کړې پس د ايمان نه بيا زيات شو په کفر کې
لَّن تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ وَأُولَـٰئِكَ هُمُ الضَّالُّونَ ﴿۹۰﴾
هيڅرې به قبوله نکړې شي توبه د دوی او همدا کسان هم دوی ګمراهان دي.

تفسير : مخکې آيت سره متعلق دے چه الله تعالیٰ فرمائی توبه وباسئ ځکه چه د بعض خلکو توبه نهٔ قبليږي نو توبه وباسه مخکې د رد کيدو د توبې نه. نو پدے کې ترغيب دے توبې ته مخکې د رد کيدو د توبې نه او تخويف دے کافرانو دپاره.
كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ : هغه کسانو چه کفرئې وکړو روستو د ايمان راوړو نه لکه يهوديان شو چه اجمالاً ايمان راوړے وو ليکن د رسول الله ﷺ د راتلو نه روستو مرتد شو او د آخرى نبی (ﷺ) نه ئې انکار وکړو او پدے کې منافقان او مرتدين هم داخل دي.
ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا : د کفر د زيادت صورتونه
(۱) يو دا چه (بِأَنْ مَاتُوا عَلَيْهِ) يعنې د کفر په حالت کې مړه شي نو ددهٔ اُوس اصلاح نهٔ کيږي (۲) دويم : دوی مفسدان او معاندين وګرزيدل ځکه چه يو کفر کول دي او بل بيا د حق سره عناد کول او صد عن سبيل الله (خلك د الله د لارے نه اړول) دي دا په کفر کې زيادت دے.
(۳) د کفر سره بل کفر ملګرے کول لکه چه اهل کتابو په نبی کريم ﷺ د بعثت نه مخکې ايمان راوړے وو خو کله چه مبعوث شو، دوی د خپل ايمان نه ارتداد غوره کړو او انکارئې ترے وکړو او بيا ئې همدا کفر لاپسے قوی کړو چه د نبی کريم ﷺ پسے به ئې سپکے سپورے وئيلے چه دا هره خبره د کفر دپاره کافي وه.
(٤) بل دا چه د کفر سره منافقت هم يو ځاى کړي يعنې په خوله باندے توبه وباسي او په

زړه ئے ارتداد كلك كړے وى، دا اگركه د مؤمنانو نه پټ دى ليكن الله تعالىٰ ته ئے د زړونو علم دے نو ځكه ورله توبه نۀ قبلوى۔

سوال وجواب

پدے مقام كى دا اشكال كيږى چه اسلام كى دا قانون دے چه هر څومره لوى كافر وى د زرگونو كلونو كافر وى او توبه وباسى، د مرگ نه مخكى د هغه توبه قبليږى او دلته وائى چه د كافرانو مرتدينو او زيات كفر كونكو توبه نۀ قبليږى؟

ددے اشكال ډير جوابونه دى چه يو پكى ډير غوره او نور جائز دى (۱) يو جواب دا دے چه (لَنْ تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ) نه مراد بعد الموت دے يعنى كه دوى په حالت د كفر كى مړه شى نو توبه ئے نۀ قبليږى او دليل پدے باندے روستو آيت دے چه په هغے كى (وَمَاتُوا) لفظ ورسره ذكر دے او هلته فديه هم ذكر ده نو دواړه جمع كړه ددے كافرانو نۀ توبه قبليږى او نۀ فديه۔ نو سياق د آيت دليل شو۔ سره د اصولو د دين نه او همدا پكى غوره تفسير دے۔

(۲) دويم جواب : لَنْ تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ عِنْدَ الْغَرْغَرَةِ۔ يعنى د دوى توبه نۀ قبليږى په هغه وخت كى چه روح ئے مرئ ته راورسيږى او د خپل مرگ نښے وينى۔ لكه په روايت د ترمذىؒ كى د نبى كريم ﷺ ارشاد دے : (اِنَّ اللّٰهَ يَقْبَلُ تَوْبَةَ الْعَبْدِ مَا لَمْ يُغَرْغِرْ) ۔ (ترمذى : ۳۵۳۷) الله تعالىٰ د بنده توبه قبلوى تر هغه وخته پورے چه روح ئے مرئ ته نۀ وى رسيدلے۔ ځكه دا توبه د مشاهدے شوه نۀ د ايمان بالغيب۔ او دا جواب هم د آيت د سياق سباق نه معلوم شو۔

او مخكى او ددے تفسير حاصل يو دے۔

(۳) جواب : دلته الله تعالىٰ د توبى د قبوليت خبره كړيده او قبوليت د توبى فرع ده د توبى د ويستلو ځكه قبوليت هله راځى چه بنده توبه وباسى لكه منطقيان وائى : (سالبه تقاضا د وجود د موضوع نۀ كوى)۔ نو معنىٰ دا شوه : لَنْ تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ لِاَنَّهُمْ لَايَتُوْبُوْنَ۔

د دوى توبه به هيڅكله قبوله نشى ځكه چه دوى توبه نۀ وباسى نو څه به قبوله شى۔ يعنى الله تعالىٰ به دوى ته د توبى توفيق نۀ وركوى ځكه به نۀ قبليږى او توفيق ځكه نۀ وركوى چه دوى ته الله تعالىٰ پدے گناهونو باندے سزا گانے وركوى نو كله پرے د توبے لاره بنده كړى۔ لكه د ختم الله على قلوبهم په شان آيت شو۔ (قاسمىؒ) او چا ته چه د توبى توفيق ملاؤ شى نو بيا ئے الله تعالىٰ توبه قبلوى هم۔

(٤) جواب : لَنْ تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ لِاَنَّ تَوْبَتَهُمْ لَاتَكُوْنُ اِلَّا نِفَاقًا) يعنى د دوى توبه به هيڅكله

ځکه قبوله نشي چه د دوی توبه د منافقت توبه وي او الله تعالیٰ هغه توبه قبلوی چه د اخلاص والا وي ځکه چه څوك د اسلام نه روستو کافر شي او بيا په کفر کې پوخ شي نو پداسې خلکو باندې چه کله تکليف او مصيبت راشي نو زر ووائي چه ای الله! زما دې توبه وي، کله وائي په توبو مې دې توبه وي، يا دا چه کله د مسلمانانو غلبه راشي نو دوی ړيرې راوړدې کړي، تسپې لاس کې راواخلي او مونځونو ته هم حاضرېږي خو زړونو کې همغه شان د هريت او کفر وي. بعض خلکو د کفارو په ملکونو کې تعليم کړې وي نو هغوی چه کله د مسلمانانو ملکونو او معاشرې ته راشي نو مونځونه هم کوی، حجونه او عمرې هم کوی ليکن په زړه کې ئې په اسلام باندې اعتراضات وي، د ميراث او د تقدير او داسې نورو مسئلو باندې اعتراضونه لري او په زړه کې د اسلام نه متنفره وي. نو که داسې خلك مونځونه او حجونه او عمرې هم وکړي او استغفر الله هم په ژبه ووائي نو دا د منافقت دپاره وي چه په هيڅ شان سره ترې قبول نهٔ دی. او دا تفسير د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما دې. (زاد المسير ۱/۳۵۵)

يا په بل تعبير: بعض مفسرين ليکي پدې آيت او روستني آيت کې د مرتدانو دوه ډلې نورې بيانيږي چه د هغوی دپاره نهٔ توبه شته او نهٔ مغفرت (۱) يوه هغه ډله ده چه د ارتداد نه روسته توبه وباسي خو حقيقي توبه نهٔ بلکه صرف د دنياوي يو مقصد دپاره توبه وباسي او په حقيقت کې همدغه شان په کفر کې قوی وي نو د دوی حکم دا دې چه د دوی توبه د الله تعالیٰ په دربار کې نهٔ قبليږي ځکه چه د دوی توبه حقيقي توبه نهٔ ده، بلکه همدا کسان پاخه ګمراهان دي چه په زاړهٔ ګمراهئ باندې پاتې دي. او دويمه ډله روستو آيت کې ذکر ده.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ
يقيناً هغه کسان چه کفرئې وکړو او مړه شول پداسې حال کې چه دوی کافران وي
فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْ أَحَدِهِم مِّلْءُ الْأَرْضِ ذَهَبًا وَلَوِ افْتَدَىٰ
نو هيچرې به قبول نکړې شي د يو د دوی نه ډکه زمکه سره زر، اګرکه په بدله کې ئې ورکړي
بِهِ أُولَـٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ وَمَا لَهُم مِّن نَّاصِرِينَ ﴿٩١﴾
هغه، دا کسان دوی دپاره عذاب دردناك دې او نهٔ به وي دوی لره هيڅ مددګاران.

تفسیر: اوس پدے آیت کی د مرتدینو او دارنگه د نورو کافرو ډله بیانیږی چه هغوی د مرگ د ورځے پورے توبه ونۀ ویستله او په حالت د کفر کی پرے مرگ راغلو نو د نجات تهولے لارے په دوی باندے بندے شوے، د نجات یوه لاره د الله تعالیٰ رحم او مهربانی ده او هغه په دوی نشته ځکه چه الله تعالیٰ ترے ناراضه دے او بل توبه ویستل دی هغه ئے هم ونۀ ویستله او دریم د ځان د خلاصولو دپاره فدیه (عوض) ورکول دی نو الله تعالیٰ فرمائی: چه دا هم ترے نۀ قبلوم نو مجرم په جرم کی ونیولے شو، په عذاب کی به گرفتار وی نو الله تعالیٰ فرمائی : راشئ مخکی نه دنیا کی توبه وباسئ او خپل ځانونه جوړ کړئ۔

ذَهَبًا : سرۀ زر دا محبوب مال دے ځکه ئے دا ذکر کړل۔ بیا دلته دری مرتبی دی (۱) یو دا چه تهوله زمکه د سرو زرو کیدے نۀ شی عادةً، دا فرضِ محال دے۔ (۲) دویم که شی نو د مجرم په ملکیت کی راتلے نۀ شی (۳) او که دے ئے مالك هم شی او الله تعالیٰ ته ئے ورکوی نو هغه ئے ترے نۀ قبلوی ځکه چه د الله تعالیٰ ورته هیڅ حاجت نشته۔ او دے به ئے د ځان خلاصولو دپاره ځکه ورکوی چه د آخرت عذاب ډیر سخت دے لکه د سورة مائده (۳۶) آیت کی الله فرمائی : ﴿اِنَّ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا لَوۡ اَنَّ لَهُمۡ مَّا فِی الۡاَرۡضِ جَمِیۡعًا وَّمِثۡلَهٗ مَعَهٗ لِیَفۡتَدُوۡا بِهٖ مِنۡ عَذَابِ یَوۡمِ الۡقِیٰمَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنۡهُمۡ﴾ یقینا کافران که دوی دپاره تهوله زمکه او ددے په شان بله زمکه شی او دوی ئے په قربانئ کی ورکړی نو قبوله به ترے نشی)

او پدے کی اشاره ده چه یهودیانو او مرتدینو د مال دپاره حق او توحید او اسلام پریښے وو پدے وجه ورته وائی چه اگر که ستاسو ډیر مالونه شی نو په قیامت کی به هیڅ فائده درنکړی، د مال دپاره حق مۀ پریدئ۔

لَنۡ تَنَالُوا الۡبِرَّ حَتّٰی تُنۡفِقُوۡا مِمَّا تُحِبُّوۡنَ
هیچرے به تاسو ونۀ رسیږئ نیکئ ته تردے چه خرچ کړئ د هغه شی نه چه تاسو ئے خوښوئ
وَمَا تُنۡفِقُوۡا مِنۡ شَیۡءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِیۡمٌ ﴿۹۲﴾
او هغه چه تاسو خرچ کوئ هر شے چه وی نو یقیناً الله په هغے باندے پو هه دے۔

تفسیر : مناسبتونه :

(۱) مخکی الله تعالیٰ د فدیی بدی بیان کړه چه د کافر نه مال نۀ قبلیږی نو سوال ذهن ته راغے چه مال لگول به هیڅ کار نۀ ورکوی، دا به هیڅ نیك عمل نۀ وی نو الله تعالیٰ

وفرمایل: چه نهٔ، د مؤمن سړی مال لګولو سره الله تعالیٰ دهٔ لره جنت ته رسوی او دا لویه نیکی ده، د کافر فدیه ځکه نهٔ قبلیږی چه هغه بی ځایه ده او د مؤمن ځکه قبلیږی چه دا په ځای باندے ده۔ نو دا آیت جواب د سوال مقدر شو۔

(۲) دارنګه مخکی ئے د کافرانو حال بیان کړو چه د هغوی نهٔ توبه قبوله ده او نهٔ فدیه نو د هغوی برعکس الله تعالیٰ دلته د مؤمنانو حال بیانوی چه د دوی مال لګول فائده ورکوی او الله تعالیٰ ئے قبلوی۔ (۳) کافران د مال په وجه مرتد کیږی او خوږ ښائسته دین اسلام پریدی، یهودو مال نهٔ لګولو نو ځکه کفر کی پاتی شو نو اے ایمان والو! تاسو د هغوی په خلاف دغه محبوب مالونه د الله تعالیٰ دپاره ولګوئ۔

(٤) پدے کی کافرانو ته هم دعوت ورکول دی چه ترڅو پورے تاسو د محبوب شیانو نه تیر نشئ لکه پیسے، ریاست، قلنګونه او نور څیزونه نو تاسو به د کفر د تیارو نه راونهٔ وځئ، د محبوب څیزونو خرچ کول کامله نیکی ده۔

لَنْ تَنَالُوا : د نیل نه اخستے شویدے او د نَیل دوه معانی دی (۱) رسیدل (۲) او حاصلول۔ نو معنیٰ دا ده: هیچرے تاسو به ونهٔ رسیږئ نیکئ ته۔ یا حاصل به نهٔ کړئ تاسو پوره نیکئ۔

(البر) : بر، په سورة البقره کی تیر شوی وو چه فراخه نیکئ ته وائی، ددے ډیر مصداقات دی: (۱) یو موضع البر مراد دے چه هغه جنت دے ځکه چه د نیکئ ځای جنت دے۔ (ابن عباسؓ، ابن مسعودؓ، مجاهدؒ)

(۲) : بر: ښائسته اخلاقو ته هم وائی لکه رسول الله ﷺ فرمایلی دی: اَلْبِرُّ حُسْنُ الْخُلُقِ (رواه مسلم) نیکی ښائسته اخلاق دی یعنی تاسو به هیچرے ښائسته اخلاقو والا جوړ نشئ تردے چه مال ولګوئ۔ (۳) بر تقویٰ ته هم وائی۔ یعنی کامل متقیان به د مال په لګولو ګرځئ۔ (مقاتل بن حیان)

(٤) بر: صدق (رشتیا) ته هم وائی یعنی تاسو رشتینی مؤمنان کیدے نهٔ شئ تر دے چه تاسو محبوب مال ولګوئ۔ (القرطبی)

(۵) بر: هر قسم طاعات او د خیر کارونو او ثوابونو ته وائی چه د هغے په وجه بنده جنت ته رسیږی۔ نو معنیٰ دا شوه چه تاسو ته به د هر قسم طاعاتو او د خیر کارونو کامل توفیق هله ملاویږی چه د الله تعالیٰ دپاره محبوب څیزونه خرچ کړئ او کله چه تاسو د الله تعالیٰ محبت د مالونو په محبت باندے مخکی کړو او د هغه په رضا کی مو ولګول نو دا به

ستاسو په رشتینی ایمان، د زړونو په نیکئ او اخلاص، او په یقینی تقویٰ باندے دلیل وی۔

د مِمَّا تُحِبُّونَ مصداقات دا دی :

(۱) نو پدے کی دا هم داخلیږی چه غوره مالونه خرچ کړی،

(۲) یا کله چه خرچ کونکے ورته خپله محتاج وی او مال خرچ کړی،

(۳) یا په حالت د صحت کی خرچ وکړی دے ټولو ته شاملیږی۔ (تفسیر السعدی ۱۳۸/۱)

دا ټول مطلبونه یو بل ته نزدی نزدی دی ځکه چه تقویٰ کی حسن خلق، او صدق هم داخل دی او هغه سبب د جنت دے۔ نو چا نتیجه یاده کړیده او چا سببونه۔ او د بر خپله معنیٰ ده پوره نیکی نو معنیٰ ئے دا ده : (لَنْ تَكُونُوا أَبْرَارًا) (البغوی عن الحسن البصریؒ) تاسو کامل نیکان نشئ جوړیدے الخ او دا خبره چه کله مؤمن ته وکړی نو هغه ډیر متوجه کیږی چه ما ته وائی چه تهٔ نیک عمله نهٔ جوړیږے مګر پدے کار سره، نو دا خو ډیره ضروری خبره شوه۔ نو پدے کی ډیر کامل ترغیب وی۔

مما تحبون یعنی محبوب څیزونه۔

د محبوب څیزونو په انفاق باندے بنده ولے نیک عملئ ته رسیږی؟

نو ددے حکمتونه دی، اهل علم وائی : مَنْ أَحَبَّ شَيْئًا بَعُدَ مِنَ اللّٰهِ بِثَلَاثَةِ أَوْجُهٍ۔(چا چه د یو دنیاوی شی سره مینه وکړه نو د الله تعالیٰ نه به په درے طریقو سره وړاندے شی)

(۱) (مَحَبَّةُ غَيْرِ الْحَقِّ) ۔یعنی دهٔ مینه وکړه د هغه شی سره چه هغه الله نهٔ دے یعنی د غیر الله سره ئے مینه وکړه۔ (۲) اَلشِّرْكُ الْخَفِيُّ ۔ (د دنیاوی شی سره مینه کولو کی پټ شرك پروت دے) (۳) إِيْثَارُ الْخَلْقِ عَلَى الْحَقِّ، فَإِذَا تَصَدَّقَ بِهٖ زَالَ ذٰلِكَ الْبُعْدُ) ۔ پدے سره مخلوق او خپل ځان په الله باندے غوره کول راځی نو کله چه بنده دغه محبوب شے صدقه کړی نو دغه وړاندے والے د الله نه ختم شی، نو بنده الله ته نزدے شی۔ بنده الله تعالیٰ لره په خپل ځان باندے غوره کړی۔ (تفسیر القاسمی ۲)

د صحابه کرامو پدے آیت باندے د عمل کولو نمونه

دا آیت چه کله نازل شو نو د عمر بن خطاب ﷺ یو اس ډیر خوښ وو نو هغه ئے د الله تعالیٰ دپاره ورکړو۔ (بخاری) او دغه شان سیدنا زید بن حارثه سره یو اس وو نهٔ بل څه او دا ئے وویل اے الله ! تا ته معلومه ده چه ما سره ددے یو اس نه علاوه بل څه محبوب شے نشته

نو هغه ئې رسول الله ﷺ ته ورکړو چه دا د الله تعالیٰ په لاره کې خرچ کړې نو هغه د هغه ځوی سیدنا اسامه بن زیدؓ ته ورکړو او دا ئې ورته وویل چه ستا صدقه الله تعالیٰ قبوله کړه (الدر المنثور والقرطبی)

(۲) سیدنا عمر فاروق ؓ د خیبر د غنیمت خپله هغه برخه مسلمانانو ته وقف کړه کومه چه ددهٔ په نیز ډیر نفیس او محبوب مال وو۔

(النسائی ۲/۲۳۲، والدارقطنی ٤/۱۹۳ وتفسیر القاسمی ٤/۱٤٦ والبخاری)

(۳) د عبد الله بن عمر رضی الله عنهما یوه وینځه وه، هغه ئې ډیره خوښه وه او د الله دپاره ئې آزاده کړه او بیا ئې وویل که چرته ددې آیت په خلاف کې نهٔ واقع کیدې نو ما به دې خپلې وینځې ته رجوع کړې وې او په نکاح به مې اخستې وې لیکن د الله دپاره مې آزاده کړه۔ (تفسیر البغوی ۲/٦٦ تفسیر ابن المنذر ۱/۲۸۸)

(٤) د ابو طلحه ؓ یو باغ وو (بیرحاء ئې ورته وئیلو) چه اوس کوم ځای د مسجد نبوی باب مجیدی دې په دغه ځای باندې دا باغ وو، او د مسجد نبوی مخامخ وو۔ کله چه دا آیت نازل شو نو هغه وویل اې د الله رسوله! زما دا باغ دې او دا ما ته په ټولو مالونو کې زیات محبوب دې او دا دې د الله تعالیٰ دپاره صدقه وی نو تهٔ اې د الله رسوله! دا واخله او تقسیم ئې کړه نبی کریم ﷺ وفرمایل: بَخٍ! ذٰلِكَ مَالٌ رَابِحٌ۔ دا خو ډیر ګټور مال دې، بیا ئې وویل: تهٔ دا په خپلوانو کې تقسیم کړه نو ابو طلحه رضی الله عنه بیا دغه باغ په خپلو خپلوانو او ترونو ځامنو کې تقسیم کړو۔ (بخاری: ۵٦۱۱ ومسلم: ۲۳٦۲)

(۵) سیدنا عبد الله بن مسعودؓ، عمر بن عبد العزیزؒ، او رَبیع بن خیثمؒ به چینی صدقه کوله او دا به ئې وئیل چه دا مونږ ته محبوب شے دې۔ (قرطبی ٤/۱۳۲)

نو پدې باندې د عمل طریقه دا ده چه تا سره یو شے دې او ستا ډیر خوښ دې نو بل چا ته ئې ورکړه او پدې کې دا هم داخلیږی چه کله یو سړې ژوندې وی او مال لګوی ځکه چه په ژوند کې مال ته ضرورت راځی یعنی د مرګ نه مخکې مخکې مال لګول۔ لکه امام عطاءؒ ئې داسې معنیٰ کړیده: (لَنْ تَنَالُوا شَرَفَ الدِّيْنِ وَالتَّقْوٰى حَتّٰى تَتَصَدَّقُوْا وَأَنْتُمْ أَصِحَّاءُ أَشِحَّاءُ تَأْمُلُوْنَ الْعَيْشَ وَتَخْشَوْنَ الْفَقْرَ) (القرطبی ٤/۱۳۳)

تاسو د دین او د تقویٰ شرافت نشئ حاصلولې تردې چه تاسو صدقه وکړئ پداسې حال کې چه تاسو روغ بدن والا، بخل کونکی یئ او د ژوند امید لرئ او د فقر نه یریږئ۔

حَتّٰى تُنْفِقُوْا : ضحاكؒ د ابن عباسؓ نه دا هم نقل کړی چه ددې نه مراد زکاة اداکول دی۔

(بغویؒ) نو که څوك زکاة ادا کړی هم پدے آیت کی داخلیږی۔
نو دا آیت نفلی صدقه او فرضی صدقه دواړو باندے تیزی ورکوی۔ نو په آیت کی مطلق انفاق ذکر دے چه پدے کی په فقیرانو، بهائمو (حیواناتو)، خپل ځان، او خپل اهل وعیال باندے انفاق کولو ته شامل دے۔
مِمَّا : (۱) بیا ظاهر دا ده چه دلته (ما) نه مراد مال دے ځکه چه انفاق غالباً د مال لګولو دپاره استعمالیږی نو کله به د انسان د پیسو سره مینه وی، کله د ګاړی سره، کله د عطرو سره، کله د نورو څیزونو سره نو هغه محبوب څیز به لګوی۔
(۲) تفسیر فتح البیان لیکی : لفظ د ما (يَشْمُلُ الرُّوْحَ وَالنَّفْسَ وَالْمَالَ وَالْجَاهَ)۔ خپل روح او بدن او مال او مرتبه ټول د الله دپاره قربانولو ته شامل دے۔ مګر دغه څیزونه په نورو ځایونو کی ثابت دی چه د الله تعالیٰ دپاره به قربانولے شی خو دلته ظاهر تفسیر دا دے چه دا مال لګولو ته شامل دے۔
وَمَا تُنْفِقُوْا : سره اُوس خبره عامه کوی چه که تاسو هرڅه شے -لږ وی که ډیر- د الله تعالیٰ د رضا دپاره خرچ کوئ نو الله تعالیٰ په هغے پوهه دے ضرور به ئے بدله درکوی۔

كُلُّ الطَّعَامِ كَانَ حِـلًّا لِّبَنِىٓ إِسْرَائِيْلَ إِلَّا مَا حَرَّمَ إِسْرَائِيْلُ
ټول طعامونه حلال وو بنی اسرائیلو لره مګر هغه چه حرام کړے (بند کړے) وو یعقوب عليه السلام
عَلٰى نَفْسِهٖ مِنْ قَبْلِ أَنْ تُنَزَّلَ التَّوْرَاةُ قُلْ فَأْتُوْا بِالتَّوْرَاةِ فَاتْلُوْهَا
په خپل ځان باندے مخکی د نازلیدو د تورات نه، ته ووایه نو راوړئ تورات پس ولولئ هغه
إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِيْنَ ﴿۹۳﴾ فَمَنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ
که چرته یئ تاسو رشتینی۔ نو هغه چا چه جوړ کړل په الله باندے دروغ پس ددے نه
فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۹۴﴾ قُلْ صَدَقَ اللّٰهُ فَاتَّبِعُوْا مِلَّةَ
نو دغه کسان دوی ظالمان دی۔ ته ووایه ! رشتیا وئیلی دی الله نو روان شئ د دین
إِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۹۵﴾
د ابراهیم عليه السلام پسے چه متوجه وو الله ته او نهٔ وو د مشرکانو نه۔

تفسیر : اوس بیا د یهودیانو د شبهاتو جوابونه شروع کوی نو پدے آیت کی د یهودیانو

بله شبهه او د هغې جواب ذکر دے، مناسبت ئے دا دے (۱) چه مخکې وویل شو چه نیکانو کې به هله داخلیږئ چه د الله تعالیٰ دپاره محبوب څیزونه خرچ کړئ نو دلته وائي چه یعقوب عليه السلام هم پدے باندے عمل کړے وو چه هغه د الله تعالیٰ دپاره دا نذر کړے وو چه د اُوښانو غوښه به نهٔ خوري او نهٔ به د هغې پئ څکي۔ دا جزئی مناسبت دے۔

(۲) او د سیاق سره ئے مناسبت دا دے چه د یهود او نصاراؤ سره بحث شروع دے نو پدے کې د یهودیانو بله شبهه ده او هغه شبهه اکثرو مفسرینو پدے طریقه لیکلے ده چه یهودیانو په رسول الله ﷺ باندے دا اعتراض کړے وو چه د یعقوب عليه السلام په دین کې خو د اوښ غوښه حرامه وه او تهٔ هغه حلال گنړے نو ته څنگه خپل ځان د هغه په دین باندے گنړے؟ معلومه شوه چه ته د هغه په دین باندے روان نهٔ یې۔ نو الله تعالیٰ پدے آیت کې جواب ورکوی چه د ابراهیم او د یعقوب علیهما السلام په دین کې د اُوښانو غوښې حلالے وے او تاسو په هغوی دروغ وایئ صرف دا وه چه یعقوب عليه السلام په خپل ځان باندے د اُوښ غوښه حرامه کړے وه د څو عذرونو د وجه نه (۱) یو دا چه بیمار وو، عِرق النساء بیماری ئے وه او د اُوښ غوښه او پئ (شوده) دغه مرض دپاره ضرر وو نو دغه ئے په ځان باندے حرام کړل لکه دا قول د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دے۔ (تفسیر القرطبی ٤/١٣٤)

(۲) یا دا چه د الله تعالیٰ دپاره ئے نذر کړے وو چه که زهٔ الله تعالیٰ ددے مرض نه ښه کړم نو دغه غوښه او پئ به په ما د الله تعالیٰ دپاره حرام وی چه ما ته ډیر محبوب شے دے۔ (زاد المسیر۲/٤)۔

(۳) او څینی وائی چه دا کارئے د شکرانی دپاره کړے وو کله چه د ذکر شوی مرض نه الله تعالیٰ شفاء ورکړه (البحر المحیط۳/۳) ۔ بیا روستو د هغه اولادو د هغه د تابعداریٔ دپاره په ځان بندے کړے مگر په روستو بنی اسرائیلو باندے د هغوی د جرمونو د وجه نه الله تعالیٰ حرامے کړے۔

(٤) څینی وائی چه دا کارئے صرف ددے دپاره کړے وو چه الله تعالیٰ ترے راضی شي او دا ځکه چه د هغه په شریعت کې دا قسم کار عبادت گنړل کیدو۔

(تفسیر البغوی ۲/٦٧ طبع دار طیبة) وروح المعانی (٤/۲)۔

بیا الله تعالیٰ په تحریم قهری طریقے سره په بنی اسرائیلو باندے حرام کړل چه دوی جرمونه وکړل نو الله تعالیٰ پرے دغه غوښې د سزا په طریقه حرامے کړے نو حاصل دا شو چه دا د ابراهیم عليه السلام په دین کې جائز وے، د تورات د نازلیدو د زمانے نه مخکې پورے

لیکن په تاسو باندې حرام شویدی ستاسو د جرمونو د وجه نه، دې دپاره چه تاسو د خپلو جرمونو نه واورئ نو د رسول الله ﷺ دین د ابراهیم علیه السلام د دین سره برابر دې، دوی بیا په تورات حواله ورکوله چه په هغې کې ئې لیکلي دي چه دا په ابراهیم او یعقوب علیهما السلام حرامې شویدی او بیا د هغوی په اولادو باندې نو الله تعالیٰ خپل نبی ته وفرمایل چه دوی ته ووایه چه ورشئ تورات راوړئ چه په کې وګورو نو هغوی تورات رانهٔ وړې شو، ویریدل چه ونهٔ شرمیږو. نو الله تعالیٰ پدې آیتونو کې په هغوی باندې الزامی ردونه وکړل.

كُلُّ الطَّعَامِ : ددې نه مراد ټول د خوراك څکاك څیزونه دي د کوم په ذریعه چه یهودیانو اعتراض کړې وو یعنی دا تاسو چه کوم خوراکونه ذکر کوئ دا حرام نهٔ وو. استغراق کلی مراد نهٔ دې چه د ټولې دنیا خوراکونه حلال وو.

حِلًّا : مصدر دې په معنیٰ د حلال سره مذکر او مؤنث، جمع او مفرد یکې برابر دي.

مِنْ قَبْلِ أَنْ تُنَزَّلَ : یعنی د تورات د نزول نه مخکې دا ټول خوراکونه حلال وو بیا په تورات کې د دوی د جرمونو د وجه نه الله تعالیٰ په بنی اسرائیلو باندې د بعض څیزونو پابندیانې ولګولې لکه هر نوك والا حیوان پرې حرام شو لکه اوښان او بطی وغیره او د حیواناتو وازدې. لکه الله فرمائی: ﴿فَبِظُلْمٍ مِنَ الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبَاتٍ أُحِلَّتْ لَهُمْ﴾ (نساء: ۱٦٠). نو د یهودیانو د ظلم په وجه مونږ په دوی باندې پاك څیزونه چه دوی له حلال وو حرام وګرځول) نو د خپلو عذابونو نسبت بل چا ته مهٔ کوئ.

نو دا یو قسم شبهه وه چه یهودیانو راپورته کړې وه او قرآن ئې څکه تردید وکړو چه د چا دا ګمان رانشي چه رشتیا به نبی کریم ﷺ د ابراهیم علیه السلام نه پدې کار کې مخالف وی نو الله تعالیٰ وفرمایل چه زهٔ درته رشتیا خبره کوم، ما دغه غوښې په ابراهیم او یعقوب علیهما السلام باندې نهٔ وې حرام کړې نو بیا ئې وفریل : چه د ابراهیم علیه السلام د دین پسې روان شئ په کوم باندې چه دا آخری نبی (ﷺ) روان دې.

ددې آیت بل تفسیر

ددې آیتونو د لګولو دویمه طریقه دا ده چه پدې آیتونو کې دلیل د نسخ بیانیږی څکه چه یهودیانو به وئیل چه په دینونو کې نسخ (منسوخیت) نهٔ راځي الله تعالیٰ چه یو دین راولیږی بیا هغه نهٔ منسوخ کوی، مقصد ئې دا وو چه زمونږ دین د نبی کریم ﷺ په دین

سره نۀ منسوخ کیږی نو الله تعالیٰ دلته د نسخ دپاره دلیل بیانوی چه په دین کی نسخ شته دلیل دا دے چه یعقوب علیه السلام په ځان هغه شے حرام وګرزولو نذراً چه هغه د ابراهیم علیه السلام په دین کی حرام نۀ وو او بیا الله تعالیٰ په بنی اسرائیلو باندے د هغوی د جرمونو په وجه حرام وګرزولو قهراً نو دلیل دے چه نسخ واقع شویده. او دا آیت دواړو تفسیرونو ته شامل دے. نو که تاسو وایئ چه په هغوی باندے هم دا حرام وو نو ورته ووایئ چه تاسو په تورات دروغ جوړوئ او الله تعالیٰ رشتیا وئیلی دی.

وانظر تفسیر السعدی (١/١٣٨) والتحریر والتنویر (٣/١٥٥)

فوائد الآیة :١- د یعقوب علیه السلام بیماری د عِرق النساء وه، دا یوه بیماری ده چه د ملا نه تر پوندو پورے اوږد رګ باندے دردونه وی، پدے کی ګنده ماده راجمع شی چه د هغے په وجه دردونه ونیسی، ددے سبب کی مفسرینو مختلف اقوال ذکر کړیدی چه نقل کولو ته ئے ضرورت نشته، د زیات معلومات دپاره، تفسیر القرطبی (٤/١٣٤)، البغوی (٢/٦٧)، المنار (٤/٤) وغیره ته رجوع کولے شی.

٢- پدے آیت کی د یهودیانو تکذیب او رد دے چه دوی د خپل ځان پاکی بیانوله نو الله دروغژن ثابت کړل. (زمخشری- قاسمی).

٣- طعام : هر شی ته وائی چه خوړلے شی کله د اُوبو دپاره هم استعمالیږی.

٤- د دفع د اوهامو او تصحیح د تصوراتو یوه ضروری خبره ده ځکه ورته قرآن کریم ورته تعرض کوی.

٥- نذر منل او د الله تعالیٰ د خپل خواهش خلاف بعض حلال شیان پریخودل زمونږ دین کی هم شته لکه عمر فاروق او عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنهما د طعام او شربت په باره کی داسے نذر کړے وو.

فَاتْلُوْهَا : د تورات لوستل دوه قسمه دی (١) یو په طریقه د عبادت باندے نو دا ناروا ده لکه حدیث کی دی چه عمر فاروق رضی الله عنه تورات لوستلو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته غصه شو او ورته ئے وویل : لَوْ كَانَ مُوْسٰى حَيًّا مَا وَسِعَهٗ اِلَّا اتِّبَاعِيْ) که موسیٰ علیه السلام ژوندے وے نو هغه دپاره به هم جائز نۀ وے مګر زما تابعداری). او بل روایت کی دی :

[لَوْ بَدَا لَكُمْ مُوْسٰى فَاتَّبَعْتُمُوْهُ وَتَرَكْتُمُوْنِيْ لَضَلَلْتُمْ عَنْ سَوَاءِ السَّبِيْلِ] (الدارمی: ٤٣٥ اسناده ضعیف لضعف مجالد بن سعید والحدیث حسن) . که تاسو ته موسی علیه السلام راښکاره شی او تاسو د هغه پسے روان شوئ او زۀ مو پریښودم خامخا به ګمراه شئ د نیغے لارے نه). او یو

څل عبد الله بن سلام ﷺ وفرمایل: یا رسول الله !که مونږ تورات ولولو ؟ ویے فرمایل: نۀ، نو دا آیت نازل شو چه ﴿یَـا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِی السِّلْمِ کَافَّةً﴾ ـ په اسلام کی پوره پوره داخل شئ۔ (۲) د تاریخ د معلومولو او د تحقیق دپاره او په مخالف باندے د رد په نیت لوستل او مطالعه کول ئے جائز دی، دا تقسیم ځکه کوو چه د امت علماؤ، سلفو مشرانو تورات مطالعه کړیدے او د هغے نه ئے حوالے ورکړیدی چه زمونږ د آخری نبی او د قرآن رشتینوالے د دوی په کتابونو کی هم شته۔ بعض بی باکه ملیان وائی چه تورات منسوخ نۀ دے ځکه چه دلته دلته د هغے په تلاوت امر شویدے۔ جواب دا دے چه دلته صرف د هغوی رد په یوه مسئله کی غرض دے، د تورات لوستل د عبادت دپاره مراد نۀ دی۔

إِنَّ أَوَّلَ بَیْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِیْ بِبَکَّةَ
یقیناً اولنے کور چه کیخودے شوے دے د خلقو دپاره خامخا هغه دے چه په مکه کی دے،
مُبَارَکًا وَّهُدًی لِّلْعَالَمِیْنَ ﴿۹۶﴾ فِیْهِ آیَاتٌ بَیِّـنَاتٌ مَّقَامُ
برکت والا دے، او هدایت دے دپاره د مخلوقاتو۔ پدے کی نخے دی ښکاره (یو پکی) ځای د ودریدو
إِبْرَاهِیْمَ وَمَنْ دَخَلَهٗ کَانَ آمِنًا وَ لِلّٰهِ عَلَی النَّاسِ
د ابراهیم علیه السلام دے او څوك چه داخل شو دے ته وی به په امن او خاص د الله دپاره په خلقو باندے
حِجُّ الْبَیْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَیْهِ سَبِیْلًا وَمَنْ کَفَرَ
حج کول د بیت الله دی په هغه چا چه طاقت لری هغے ته د لارے او چا چه کفر وکړو
فَإِنَّ اللّٰهَ غَنِیٌّ عَنِ الْعَالَمِیْنَ﴿۹۷﴾
نو یقیناً الله بی حاجته دے د ټولو مخلوقاتو نه۔

تفسیر : اُوس الله تعالیٰ د کعبی او د حرم فضائل په ډیرو طریقو سره بیانوی، دا ولے بیانوی؟ دا هم جواب د شبهے دے چه یهود او نصاراؤ وئیلی وو زمونږ قبله غوره ده۔

شان نزول او ربط

۱ – یهودو مسلمانانو ته وویل : زمونږ قبله بیت المقدس ډیر غوره او افضل دے او مسلمانانو وویل چه کعبه ډیره افضله ده نو دا آیتونه نازل شو۔ (روح المعانی ٤/٤)

د یهودو دا تصور غلط وو نو ځکه الله تعالیٰ ددے جواب وکړو دے دپاره چه هسے نۀ چه د

یهودو ددے خبرے د وجه نه د چا تصور غلط جوړ شی او یهودیان ورته غوره ښکاره شی، ځوك به ووائی چه دا خلك اهل كتاب او د علم خاوندان دی رشتیا به وائی نو ځکه ئے وفرمایل چه په مخ د زمکه باندے د عبادت دپاره اوله جوړه شوے کوټه هغه دغه کعبه معظمه ده۔

(۲) : مخکی ئے وویل چه د ملتِ ابراهیمی پسے روان شئ او دروغ مهٔ وایئ نو اُوس وائی چه د دوی دا بله خبره هم دروغژنه ده چه د کعبی معظمے نه بیت المقدس غوره گنړی وائی چه بیت المقدس ته ابراهیم عليه السلام د عراق نه هجرت کړے او د اکثرو انبياء علیهم السلام مسکن او مدفن دے او مسلمانانو ته وائی چه تاسو څنګه خپل ځانونه ابراهیم عليه السلام ته نزدے گنړئ حال دا چه د هغه د اولادو قبله مو پریښوده او کعبه مو قبله وگنړله؟۔

د ابوذر رضي الله عنه په حدیث کی راغلی دی چه دهٔ پوښتنه وکړه چه اے د الله رسوله ! کوم یو کور اول جوړ شویدے؟ وے فرمایل: مسجد حرام۔ بیا کوم یو؟ وے فرمایل: بیت المقدس۔ مینځ کی ئے څومره وخت وو؟ (أَرْبَعُوْنَ عَامًا)۔ څلویښت کاله۔ مخکی مونږ ویلی وو چه د بعض علماؤ په نیز کعبه اول ملائکو بیا روستو آدم عليه السلام او د هغه اولادو جوړه کړیده بیا ابراهیم عليه السلام بیا بنو جُرهم، بیا قریشو بیا عبد الله بن زبیر رضي الله عنه او بیا حجاج بن یوسف جوړه کړیده او دویم قول دا وو چه اول جوړونکے ابراهیم عليه السلام دے او دا دواړه تاریخی خبرے دی نو ددے وجه نه به په آیت کی دوه تفسیرونه وی او رد به وی په یهود او نصاراؤ او د کعبی فضائل به پکی بیانیږی او بندگانو ته فائدے بیانیږی، د قرآن کمال دا دے چه یوه خبره کی ډیرے خبرے راجمع کوی۔

(۱) تفسیر : اَوَّلَ بَيْتٍ وُّضِعَ مُطْلَقًا) یعنی کائنات چه الله تعالیٰ پیدا کول نو اول ئے پکی دا کوټه ودروله د بندگانو د فائدو دپاره لکه په حدیث د بخاری کی راغلی دی۔ (إِنَّ هٰذَا الْبَلَدَ حَرَّمَهُ اللّٰهُ يَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضَ) ۔ کله چه الله تعالیٰ آسمانونه او زمکه پیدا کړل نو دے ښار ته ئے عزت ورکړو۔ (۲) دویم تفسیر : (أَوَّلَ بَيْتٍ وُّضِعَ مُتَعَبَّدًا وَقِبْلَةً) ۔ یعنی اوله کوټه چه د خلکو دپاره د عبادت ځای او قبله جوړه شویده نو هغه دا کعبه ده۔ ددے نه مخکی کورونه به وو لیکن اول عبادتخانه دا جوړه شویده، ددے نه معلومیږی چه پخوانو انبیاؤ علیهم السلام به هسے دے طرفته مونځ او عبادت کولو او د ابراهیم عليه السلام د زمانے نه روستو ټول انبیاء علیهم السلام پدے قبله راغونډ شویدی لکه (للناس او للعالمین) الفاظو نه معلومیږی نو بیت المقدس د هیڅ نبی قبله نهٔ وه صرف زمونږ رسول الله صلى الله عليه وسلم

تـه د اولسو یا اتلسو میاشتو دپاره بیت المقدس قبله جوړه شوه او بیرته بیا کعبې ته واړولې شـو دا زمـونږ د نبي ﷺ خصوصیت شو چه دوه قبلو ته ئې مونځ وکړو۔ موسیٰ علیه السلام به هم بیت الله ته راتلو۔ حدیث د صحیحینو کې دی: (أَمَّا مُوسٰى كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِ إِذَا انْحَدَرَ فِي الْوَادِي يُلَبِّي) (بخاری١٥٥٥ ومسلم٤٤٠)۔ هرچه موسیٰ علیه السلام دے ګویا که زهٔ هغه ته ګورم چه په دغه کنده کې ورښکته شو (کعبې ته روان دے) او تلبیه وائی)۔

کعبه په لسو وجوهو سره د بیت المقدس نه غوره ده

(١) کعبه معظمه د زمکې په مخ اوله کوټه ده چه د عبادت دپاره مقرر کړے شویده او بیت المقدس دویمه کوټه ده۔

(٢) د آدم علیه السلام د زمانې نه تر نن ورځې پورې کعبه د خلکو د عبادت ځای دے، بیا چا پکې شرعي عبادت کړے او چا پکې شرك کړیدے او چا د عبادت په صفت منلے او چا ترې انکار کړے لکه اهل کتاب ئې ترے کوي۔

(٣) کعبـه په یو ښار ځای کې واقع ده چه مکه ورته وائی لیکن د خلکو د زیاتې ګنړے په وجه هغې ته بکه هم وائی آیا دومره ګنړه په بیت المقدس کې شته؟ سره ددے نه چه په ډیر تروتازه وطن کې واقع دے۔

(٤) څـومـره چـه کـعبه برکت ناکه کوټه ده چه ډیر زیات حسي او معنوي برکات لري، په هـیـڅ وخـت کـې د تـازه مـیـوه جاتو نه نهٔ خالي کیږي او نهٔ د عبادت کونکو نه خالي کیږي چه دغسې بیت المقدس نهٔ دے۔

(٥) کعبه د ټولو عالمونو دپاره د هدایت یوه ذریعه ده او د اتفاق او اتحاد یو مرکز دے۔

(٦) پـه دے کـې د الله تـعـالـیٰ د قدرتونو ډیرے ښې ښنانې دی چه تفصیل ئې روستو راځي لـکـه د زمـزم کـوهے او د صـفـا او د مروه غونډئ چه د اسماعیل علیه السلام او د بي بي هاجرے رضی الله عنها حالات تاسو ته رایادوي۔

(٧) دلتـه د ابـراهـیـم عـلـیـه السـلام مـقـام (ځای د ودریدو) شته آیا په بیت المقدس کې د پیـغـمبرانو علیهم السلام او د ابراهیم علیه السلام کـوم یـو یـادګار شته چه د خلکو په زړونو کې ځای ونیسي او د نن ورځې پورې ئې زیارت کوي؟۔

(٨) د کـعـبې مـعـظمې ګیرچاپیره ځای د امن والا ګرځیدلے دے، چه کافران هلته حملے نهٔ کـوي او الله تـعالیٰ د امن ځای ګرځولے دے (حرم ئې ګرځولے دے) آیا بیت المقدس دغه شان

حرم او د امن ځای دے څه ؟!

(۹) الله تعالیٰ په ټولو خلکو باندے د کعبې زیارت (حج) کول فرض کړیدی تردے چه په اهل کتابو هم فرض دی چه ایمان راوړی او بیا حج وکړی آیا بیت المقدس ته د حج دپاره ورتلل فرض دی ؟۔

(۱۰) که څوك د دغه کوټې خاص زیارت فرض نهٔ ګڼړی لکه تاسو اے اهل کتابو ! نو الله تعالیٰ ستاسو نه سره د ټولو مخلوقاتو نه بې پروا دے آیا بیت المقدس دغه حیثیت لری ؟۔

بِبَكَّةَ : د مکے تقریباً شل نومونه دی چه حافظ ابن کثیر (۳۸۳/۱) کی ذکر کړیدی او د مدینے دوه سوه نومونه دی چه سمهودیّ په خلاصة الوفاء باخبار دار المصطفی (۵/۱) کی د هغے نه پنځه نوی (۹۵) ذکر کړیدی۔او ډیروالے د نومونو د یو شی په شرافت باندے دلالت کوی۔

مکه او بکه

مکة : معنیٰ ده، قِلَّةُ الْمَاء ۔ د اُوبو کموالے۔ یا مکه د تَمَكُّكُ نه اخستے شویده چه د مغزو ویستلو ته وائی (مفردات راغب ص :٤٩١) مکه معظمه هم د جبارو خلکو ماغزه راوباسی او هلاکوی ئے کله چه پرے حمله وکړی لکه اصحاب الفیل چه ئے هلاك کړل۔

او بکة : معنیٰ ده ټیل کول او جنګیدل۔ نو پدے کی هم په وخت د طواف کی خلك یو بل سره ټیل کوی او یو بل سره جنګیږی۔ نو بناء پدے به بکه خاص د طواف ځای ته وائی او مکه عامه ده۔

ځینی وائی : بلك، ټکولو او ماتولو ته وائی۔ لِأَنَّهَا تَبُكُّ أَعْنَاقَ الْجَبَابِرَةِ إِذَا أَلْحَدُوا فِيهَا بِظُلْمٍ) نو مکه کی چه څوك الحاد (او فساد) وکړی نو څټ ئے ماتوی۔ (القرطبی ٤/ ١٣٨)

او د بکه معنیٰ د عاجزی کولو هم ده، دلته ټول مخلوق عاجزی کوی بادشاه وی که ګدا۔

(۲) امام مجاهدؒ وائی : مکه او بکه دواړه یوشے دے او کله میم په باء سره بدلیږی لکه طین لازب او لازم) او راتب کی راتم او په دائب کی دائم وئیلے شی۔ (تفسیر کبیر ٨/ ١٥٦)

کعبه معظمه برکتناکه ده

مُبَارَكًا : دا حال دے د (وضع للناس) نه یعنی پداسے حال کی دا کور کیخودلے شویدے چه برکت پکی اچولے شویدے۔ (مبارکا) د برکت نه اخستے شویدے او د برکت معنیٰ ده زیادت

او ډيروالے او بل دوام (بقاء) او هميشوالے۔
د كعبې بركات دا دي: ۞ تنګ ځاى دے او په لكهونو مخلوق په كې الله تعالىٰ ځاى كوي او خلك پكې په ګڼړه طوافونه كوي او ځوك پكې غالباً نهٔ مري۔
(۲) اُويه پكې هر چا ته ملاوېږي (۳) رزق هرچا ته ملاوېږي، هر قسم خوراكونه او بې موسمه ميوه جات پكې ملاوېږي، د نورو ښارونو نه ورته راوړل كيږي، سره ددے نه چه خپله يو شاړ ځاى وو۔ (٤) دعاګانې پكې قبليږي (٥) يو مونځ پكې په يو لاكه باندے دے۔
(٦) كعبه هيڅكله د عبادت نه نهٔ خالي كيږي، يو پدے وجه چه د ټولے دنيا قبله ده او د اقاليمو په اعتبار سره په څليريشتو ګينټو كې داسے وخت نهٔ راځي چه هغه د يو اقليم د مانځه وخت نهٔ وي او خلك پكې كعبې معظمے ته د قبلے په شكل په سجده نهٔ وي پراته، او بل پدے وجه چه د خلكو زړونه ورته مائل ګرځول شويدي چه په ټول كال كې ورته مخلوق د عُمرو او عبادتونو دپاره راروان دے۔
(۷) په دائمي شكل باندے د حج كونكو او عمره كونكو ګناهونه الله تعالىٰ بخښي او داسے وخت نهٔ دے راغلے او نهٔ به د قيامته پورے راشي چه د كعبې معظمے دغه بركت منقطع شي او چا ته پكې بخنه ونشي۔
(۸) د كعبې يو بركت دا هم دے چه د دنيا بقاء په دے باندے ده، ترڅو پورے چه كعبه ودانه وي، الله تعالىٰ به دنيا نهٔ ورانه وي۔ لكه الله فرمائي: ﴿جَعَلَ اللّٰهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيَامًا لِلنَّاسِ﴾ (المائدة: ۹۷)۔ الله تعالىٰ كعبه چه عزتمند كور دے د خلكو د ژوند سبب ګرځولے ده۔
وَّهُدًى لِّلْعَالَمِيْنَ: (۱) يعني سبب د هدايت دے۔ (۲) يا ځاى د هدايت دے۔

كعبه معظمه څنګه هدايت دے؟

(۱) كعبه پدے وجه هدايت دے چه دا قبله ده او په مانځه كې دے طرفته توجه كيږي، او پدے باندے اجر ملاوېږي۔ (۲) سبب معرفة الله۔ د الله د وجود او معرفت ډير دلائل دي يو پكې كعبه ده چه پدے سره د الله تعالىٰ په وجود باندے ډير استدلالونه كيږي۔ نو كعبه د الله تعالىٰ د توحيد نښه ده۔ لكه الفوائد (۲) جلد وګوره۔
(۳) كعبه كې الله تعالىٰ يو هدايت دا هم اچولے دے چه ځوك هلته په ښه نيت لاړ شي نو اګر كه مشرك وي هم ورته الله تعالىٰ ضرور هدايت كوي، فاسق وي الله تعالىٰ ورته د توبې توفيق وركړي، مبتدع وي الله تعالىٰ ورته د سنتو توفيق وركړي، كه ډير ضدي نهٔ وي نو

ضرور په هغه کې تبدیلي او نرمي پیدا کیږي. پدې وجه هر حاجي او عمره کونکي دپاره پکار دي چه د ځان سره د هدایت نیت وکړي نو الله تعالیٰ به ورته ډیر زیات هدایت وکړي.
(٤) کعبه کې زیات نیك اعمال کیږي دا هم هدایت دے. (٥) توبه خلك اُویاسي دا هم هدایت دے. (٦) علماء بیانات کوي په هغې هم هدایت کیږي.
(٧) د کعبې په لیدلو سره زړه نرم شي خیر طرفته مائل شي، دا هم هدایت دے.
(٨) دعا قبلیږي، د الله تعالیٰ محبت ډیریږي. (٩) مرکز دے د مسلمانانو نو د هغوی د اجتماع او وحدت سبب دے، دا هم هدایت دے. (١٠) کعبه سبب د رغبت د بندګانو دے الله تعالیٰ ته او دا لوی هدایت دے چه د سړي رغبت الله تعالیٰ ته پیدا شي.
لِلۡعَٰلَمِينَ : کې اشاره ده چه قبله د ټولو انسانانو قبله ده اګرکه یهود او نصاریٰ دي، لیکن هغوی بدله کړیده.
فِيهِ آيَاتٌ : فیه ضمیر دغه بیت ته راجع دے مراد ترے ټول حرم دے. یعنی په دغه ځای کې چه حرم دے ښکاره نښې دي د الله تعالیٰ په قدرت او وجود او معرفت باندے او پدے خبره چه دا د الله تعالیٰ حرمِ محترم دے.

د حرم ناشنا نښې

امام ابن القیمؒ په بدائع التفسیر کې ذکر کړیدي چه ما په یوه رساله کې د حرم (٤٠) آیات بینات ذکر کړیدي لیکن هغه ئې بیا نۀ دي بیان کړي، ارمان چه بیان کړي ئې وے ځکه چه هغوی ته الله تعالیٰ د دین ډیر لوی بصیرت ورکړے وو. نو ددے (آیات بینات) د معلومولو ډیرے طریقے دي چه کله ډیر هوښیار ملګری په حرم کې کیني او یو یو د خپل ذهن او مشاهدے مطابق هغه بیانوي نو ډیر شے به راجمع کړي بعض مونږ ذکر کوو:
(١) یو خو خپله پدے آیت کې ذکر دے چه هغه (مقام ابراهیم) دے چه دا د الله تعالیٰ د قدرت لویه نمونه ده چه په اُوچه ګټه کې د هغه د قدم ننوتل دي، بیا یوازې د قدم ځای نرمیدل، بیا بیرته دغه ځای کلکیدل او بیا پدے کاڼي باندے زرګونه کلونه تیر شویدي او تر اُوسه پورے باقي پاتے دے.
(٢) اَلۡمَحَبَّةُ فِيۡ قُلُوۡبِ النَّاسِ. کعبه د خلکو په زړونو کې محبوبیت لري، سیده ساده کوټه ده لیکن ډیر رعب لري او د خلکو ورسره ډیره مینه پیدا کیږي. که یو فاسق ئې هم ویني نو زړه ئې نرمیږي. نو دا محبوبیت پکې چا واچولو ؟ دا د الله تعالیٰ د عظمت لوی دلیل دے.

كه څوك ئے يو كرت وينى بار بار ئے زړه كيږى.
(۳) تنګ ځاى دے او ډير خلك په كى راجمع كيږى.
(٤) زمزم اُوبه پكى دى چه د مرضونو شفاء ده او د خوراك نه خوراك دے. چه هغه د ډيرے مودے پورے نۀ خرابيږى. او د زمزم د يو څاڅكى سره د نورو اُوبو زر څاڅكى واچوه د زمزم طاقت او خوند به پرے غالبه وى. (٥) ضررى او ماتونكى حيوانات دے مقام ته نۀ راځى. لكه مار، لړم، زمرى، ګيدړان وغيره. (٦) د كعبى په كوم كو ډباندے چه باران وشى نو په هغه طرف باندے الله تعالىٰ په دغه كال كى فراخيانى راولى.
(٧) كعبه باندے زلزله نۀ راځى. (٨) هلته صفا او مروه دى.
(٩) يو ښكارى به ښكار طلب كوى خو كله چه ترے ښكار حرم ته داخل شى بيا ئے پريږدى. (القرطبى ٤/١٣٩)
(١٠) ځاى د امن دے، لكه روستو نه معلوميږى. مشركانو به هم چه كله خپل قاتل په حرم كى وموندو نو هغه ته به ئے څه ونۀ ويل. (١١) ددے نه الله تعالىٰ ټول كافران جبارين اړولى دى كله ئے چه ددے غلطه اراده كړيده تردے چه ابرهه سَره د لوى لښكر نه ئے مقابله ونكړے شوه. (التحرير والتنوير).
(١٢) هلته د انسان خوَله بد بوئى نكوى. (١٣) حجر اسود ښكلولو سره زړه خوشحاله شى. (١٤) په كعبه باندے رحمتونه نازليږى. (١٥) ددے نور تر آسمانه پورے رسيږى لكه بعض كسانو دغه نور ليدلے دے. (١٦) مؤمنان په ديدار نۀ مړيږى، بار بار شوق ورته كيږى. (١٧) په هغے كى د ډيرو عبادتونو كولو په وجه د رزق فراخى راځى. (١٨) ددے بيت الله نه حج او عمره كولو سره د بنده فقر او ګناهونه ختميږى.
(١٩) د امت د خيريت سبب دے چه كله د كعبى تعظيم كوى. لكه حديث كى دى: (لَا تَزَالُ هٰذِهِ الْأُمَّةُ بِخَيْرٍ مَا عَظَّمُوْا هٰذِهِ الْحُرْمَةَ) (ابن ماجه: ٣١١٠ وفى سنده يزيد بن ابى زياد ضعيف). دا امت به په خير روان وى ترڅو چه ددے كعبى د احترام تعظيم كوى.
(٢٠) د زمانے او د مودو په تيريدو سره دا باقى پاتے ده سره ددے نه چه دشمنان ئے هم زيات دى دا دليل دے چه الله تعالىٰ ددے حفاظت كړيدے.
(٢١) لس بركات (٢٢) او لس طريقے د هدايت نو ټول څلويښت شو.
مَقَامُ إِبْرَاهِيْمَ : دا خبر د مبتداء محذوفى دے يعنى مِنْهَا مَقَامُ إِبْرَاهِيْمَ). يعنى ځينى د دغه ښكاره نښو نه مقام ابراهيم دے. يا دا بدل دے د آيات بينات نه، او مقام ابراهيم اګركه مفرد

دے لیکن په ډیرو نښو باندے مشتمل دے لکه چه مخکی ورته اشاره وشوه نو بدلیت ئے صحیح دے۔

وَمَن دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا : (۱) یوه ظاهری معنیٰ ده چه څوك حرم ته داخل شو نو هغه ته به ضرر او تکلیف نشی ورکولے او نۀ به تنګولے شی، دۀ ته به د الله تعالیٰ د طرف نه او د مسلمانانو د طرفنه امن وی نو دا حکم شرعی دے چه څوك حرم ته داخل شی نو تاسو ورته امن ورکړئ۔ او الله تعالیٰ په جاهلیت زمانه کی هم د امن ځای ګرزولے وو چه عامو کافرانو به په کلو او علاقو باندے حملے کولے او مکه الله تعالیٰ د خلکو د حملو نه بچ ساتلے وه۔

(۲) او دے کی دا معنیٰ هم ده چه څوك حرم ته د عبادت او د تعظیم په نیت باندے داخل شو او مؤمن وو نو هغه ته به الله تعالیٰ په قیامت کی د عذابونو نه امن ورکړی، ځکه چه حج او عمرے سره د بنده ګناهونه معاف کیږی او د جنت د داخلیدو او د جهنم نه د بچاؤ ذریعه ده۔

د حج فرضیت

وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ : د جمهورو علماؤ په نیز پدے آیت باندے حج فرض شویدے۔ مګر څینی علماء کرام وائی چه په ﴿ وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ﴾ (البقره : ۱۹٦) آیت باندے فرض شویدے، په هر تقدیر په عمر کی حج کول یو ځل فرض دی۔ مګر صحیح قول اولنے دے ځکه چه حَج په (۹) سنه هجری کی فرض شویدے او (واتموا الحج) والا آیت په (٦) کال د هجرت نازل شویدے۔

لله : دا کلمه ئے مخکی راوړه اشاره ده اخلاص ته چه حج به صرف او صرف د الله تعالیٰ د رضا او د هغه د حکم د عملی کولو په نیت کولے شی۔

(علی الناس) حج اګرکه په مسلمانانو فرض دے لیکن ددے سره سره ئے (علی المؤمنین) ونۀ ویل بلکه (علی الناس) ئے وویل شاید چه ددے حکمت به دا وی چه حج د اسلام نه مخکنی قومونو باندے هم فرض وو لکه یهود او نصاریٰ بلکه د ابراهیم ﷺ د زمانے نه راپدے خوا هیڅ یو نبی نشته چه هغه حج نۀ وی کړے۔ (روح المعانی ١٤/٤)

نو پدے کی په اهل کتابو باندے هم رد دے چه که تاسو په رشتیا په ابراهیمی ملت باندے روان یئ نو د هغه سنت مو ولی پریښی دی؟، اهل کتابو ته به حج مشروع نۀ

بنكاره كيدو۔ (تفسير مظهرى ۲/۱۰۰)
حِجُّ الْبَيْتِ : حج لغت كى قصد كولو ته وئيلے شى خاصكر چه د لوى شى اراده وى۔
مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيْلًا : اول كى ئے وويل چه په هر چا حج لازم دے اُوس وائى چه هر څوك چه حج ته د لارے طاقت مومى په هغه فرض دے، كه دا قيد ئے نهٔ وے لګولے نو بيا به حج په هر چا لازم وے غريب وى كه مالداره۔

استطاعت څه شے دے؟

د نبى كريم ﷺ نه تپوس وشو چه (مَا السَّبِيْلُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ؟) د لارے طاقت څه شے دے ؟ نبى كريم ﷺ جواب وركړو : (اَلزَّادُ وَالرَّاحِلَةُ) توښه او د سورلئ طاقت۔ يعنى دومره توښه درسره وى چه ستا تللو راتللو پورے تهٔ د سوال نه بچ كيږے او كور ته نفقه پريدے او د سورلئ (جهاز وغيره) ټيكټ وس دے كيږى نو حج درباندے فرض دے، خو افسوس چه د ډيرو مسلمانانو دا دواړه طاقتونه شته ليكن هغوى حج د عمر آخر ته ساتلے وى چه ښه بوډا شى او د كار نه وځى بيا د حج اراده وكړى، افسوس په حال دا داسے خلكو!!۔
بيا كوم انسان سره چه توښه او د سورلئ طاقت وى نو هغه باندے حج فرض دے بيا برابره ده چه بدنى طاقت ئے وى او كه نهٔ، كه بدنى طاقت ئے وى خپله به ځى او كه بدنى طاقت ئے نهٔ وى نو نائب به وليږى لكه د رسول الله ﷺ نه يوے زنانه پوښتنه وكړه :
[إِنَّ فَرِيْضَةَ اللّٰهِ عَلٰى عِبَادِهٖ أَدْرَكَتْ أَبِىْ شَيْخًا كَبِيْرًا لَايَثْبُتُ عَلَى الرَّاحِلَةِ أَفَأَحُجُّ عَنْهُ؟ قَالَ نَعَمْ، وَذٰلِكَ فِىْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ] (بخارى: ۱۵۱۳ ومسلم: ۳۳۱۵)۔
د الله تعالىٰ فريضه (حج) زما پلار باندے راغلے ده چه هغه ډير بوډا دے په سورلئ نشى ټينګيدے نو آيا زهٔ د هغه د طرفنه حج وكړم؟ نبى كريم ﷺ وفرمايل: آؤ، او دا پوښتنه په حجة الوداع كى وه) معلومه شوه چه حج په مال فرض دے۔
وَمَنْ كَفَرَ : پدے كى عام كفرونو ته هم اشاره ده او خصوصاً د حج پريخودل مراد دى۔ دلته الله تعالىٰ د حج په نهٔ كولو باندے د كفر اطلاق كړيدے اګركه د عامو اهل علمو وينا دا ده چه د حج پريخودلو په ګناه سره بنده د اسلام نه نهٔ وځى خو دومره ده چه د كافرانو عمل دے او ديته كفر دون كفر وائى خو دلته په يهوديانو باندے رد ذكر كيږى او هغوى د نورو كفرونو سره سره حج هم نهٔ منى او بل د بيت الله بيعزتى كوى دا كعبه نهٔ منىٔ نو پدے معنىٰ باندے به دا حقيقى كفر وى چه پدے سره به د اسلام نه بهر كيږى۔او كه مسلمان

سړی حج ونکړونو په دهٔ باندې خطره ده چه اسلام نه وځی معنیٰ به داوی چا چه حج ونکړونو دا کفر ته نزدې شو او حقیقي کافر به نهٔ وی لکه دا وعید رسول الله ﷺ هم بیان کړیدې: (مَنْ مَلَكَ زَادًا وَرَاحِلَةً تَبْلُغُهُ إِلَى بَيْتِ اللّٰهِ وَلَمْ يَحُجَّ فَلَا عَلَيْهِ أَنْ يَمُوتَ يَهُودِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا) (الترمذی ١/١٦٧) وسنده ضعيف للحارث الاعور) څوك چه د توښې او د سورلئ مالك شو چه دائې بيت الله ته ورسوی او دهٔ حج ونکړونو دا دې يهودی مړ شی يا نصرانی) يعنی خاتمه به ئې الله تعالیٰ خرابه کړی او دا د وعيد په درجه کی وئيل شويدی.

دا روايت د سند په لحاظ ضعيف دې ليکن دغه شان قول د عمر فاروق ﷺ نه په حسن سند ثابت دې لکه شيخ البانیؒ په السلسلة الضعيفة رقم: (٤٦٤١) کی راوړيدې. (لِيَمُتْ يَهُودِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا رَجُلٌ مَاتَ وَلَمْ يَحُجَّ وَجَدَ لِذٰلِكَ سَعَةً). يعنی هغه سړې يهودو يا نصرانی مړ شو کوم چه د حج دپاره فراخی مومی او حج ونکړی). نو پدې سره ئې تائيد کيږی.

وَمَنْ كَفَرَ: يعنی څوك چه حج نهٔ کوی نو دهٔ د کافرانو عمل وکړو او څوك چه کفر وکړی نو الله تعالیٰ د ټولو مخلوقاتو نه بی حاجته دې نو دهٔ ته ئې هم هيڅ حاجت نشته، د حج فائده خو بنده ته راواپس کيږی، کعبه الله تعالیٰ د بندګانو دپاره ايښې ده کله چه بنده د هغې نه فائده نهٔ اخلی د الله تعالیٰ ورته څه ضرورت دې، دارنګه کعبه د الله تعالیٰ د محبت ځای دې کله چه دا بنده د الله تعالیٰ سره مينه نهٔ لری نو د الله تعالیٰ ورته څه ضرورت دې.

قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لِمَ تَكْفُرُوْنَ بِآيَاتِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ شَهِيْدٌ عَلٰى مَا
اې کتاب والو! ولې کفر کوئ په آيتونو د الله تعالیٰ او الله ګواه دې په هغه عملونو
تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٨﴾ قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لِمَ تَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ مَنْ
چه تاسو ئې کوئ. ووايه! اې کتاب والو! ولې منع کوئ د الله د لارې نه هغه چا لره
آمَنَ تَبْغُوْنَهَا عِوَجًا وَأَنْتُمْ شُهَدَآءُ
چه ايمان ئې راوړيدې، تاسو لټوئ دغه لارې لره کوږوالې او حال دا چه تاسو علم لرئ
وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٩﴾
او نهٔ دې الله ناخبره د هغه عملونو نه چه تاسو ئې کوئ.

تفسير: پدې دوه آيتونو کی الله تعالیٰ اهل کتابو ته رټنه ورکوی ځکه چه د دوی

موضوعات ختمیږي او مؤمنانو ته ترغیب ورکوي چه د دوی خبره مهٔ منئ نو دلته دوه دعوته دي، اهل کتابوته وائي چه ورانے مهٔ کوئ او مؤمنانو ته وائي چه د دوی د خبرو منلو نهٔ ځان وساتئ، اهل کتابو ته وائي چه تاسو ! د عناد او د ضد د غونډئ نه راخکته شئ او دلائلو ته غاړه کیږدئ او ایمان راوړئ او د الله تعالیٰ په آیتونو کفر مهٔ کوئ ځکه چه ستاسو په کفر اختیارولو باندے تاسو سره څه دلیل دے؟ الله تعالیٰ ستاسو په پټو اعمالو باندے خبردار دے نو الله تعالیٰ ته ور روان یئ هغه به درسره حساب کوي۔

لِمَ تَصُدُّوْنَ : هغوی به ووائي چه مونږ څه کفر کړیدے ؟ ورته ووایه چه تاسو ولے خلك د الله تعالیٰ د لارے نه اړوئ چه په دین کی ورته شبهات پیدا کوئ، کله د اوښانو په غوښو او پیو باندے اعتراض کوئ او کله د قبلے په بدلون باندے حال دا چه تاسو خو عاقلان یئ او هم په پټه کی په حقائقو باندے ګواه یئ نو د الله تعالیٰ په حضور کی به څه جواب ورکوئ الله تعالیٰ ستاسو د عملونو نه خبردار دے۔

عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ : دلته د سبیل الله نه مراد ټول اسلام دے، د سبیل الله اطلاق کله په یو سنت طریقه هم کیږي، یعني د رسول الله ﷺ نه خلك اړول، او د هغه د سنت نه خلك اړول۔

مَنْ آمَنَ : دا مفعول دے د (تصدون) دپاره۔

تَبْغُوْنَهَا عِوَجًا : د اړولو طریقه ئے دا وه چه د الله لاره به ئے خلکو ته بده او کږه ښکاره کوله، لکه د باطل پرستو طریقه دا ده چه کله د حق مقابله کوي نو کله زور استعمالوي چه په هغے کار ونشي نو بیا کله (تَشْوِيْهُ صُوْرَةِ الْحَقِّ) کوي یعني د حق شکل او صورت بد او نفرتي ښکاره کوي دے دپاره چه څوك ئے قبول نکړي۔ لکه کله وائي چه دا نوی پیدا شویدی، نابته ورته وائي او کله ورته (صُباة) صابیان وائي، کله ورته حشویه وائي، کله وائي دا د انګریز پیدا وار دے، کله وائي وهابیان دي، د پلار نیکه خلاف دین دے، کله وائي د دوی په لاره کی بی ادبی ده، د دوی مذهب ناقص دے، قرآن او حدیث کی لسمه حصه دین نشته، کله وائي میبنه پکی راته وښایئ، پدے ټولو خبرو سره د دوی غرض د حق شکل بد ښکاره کول دي چه څوك ورته نزدے رانشي، دا اعتراضونه په هره زمانه کی باطل پرست کوي۔ دا د یهودو طریقه هم وه، بعض باطل پرست د عوامو د متنفره کولو دپاره وائي چه ستاسو بخاري کی خو په ولاړه متیازے کول هم راغلی دی نو آیا تاسو به په ولاړه هم متیازے کوئ۔ته به وائي چه بخاري زمونږ کتاب دے او د دوی کتاب نهٔ دے، مونږ وایو چه په حدیث کی په ولاړه نهٔ چه په پرتو راغلی وی هم مونږ به ئے منو، نو دا

جائز دي پدې کې هیڅ اشکال نشته.

وَأَنْتُمْ شُهَدَآءُ : یعنې تاسو په پته ددې ګواهي هم ورکوئ چه دا رسول حق دې. او شهداء په معنیٰ د پوهه سره یعنې تاسو پدې پوهیږئ چه دا کار زمونږ غلط دې.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تُطِيعُوا فَرِيقًا مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ يَرُدُّوكُم
اې ایمان والو! که چرته تاسو تابعداری کوئ د یوې ډلې د اهل کتابو واپس به کړي تاسو
بَعْدَ إِيمَانِكُمْ كَافِرِينَ ﴿١٠٠﴾
پس د ایمان ستاسو نه کافران.

تفسیر: پدې آیت کې الله تعالیٰ ایمان والا منع کوي د طاعت د اهل کتابو نه.

ارتباط :

(١) مخکې آیتونو کې الله تعالیٰ د اهل کتابو د شبهاتو جوابونه وکړل او هغوی ته ئې دعوت ورکړو چه ځانونه خپله هم مهٔ ګمراه کوئ او نورو خلکو ته هم د ګمراهۍ دعوت مهٔ ورکوئ نو اُوس مسلمانانو ته وائي چه تاسو د هغوی خبره مهٔ منئ ځکه چه دوی تر قیامته پورې یوازې ستاسو په عملي اطاعت کولو باندې اکتفاء نهٔ کوي بلکه هغوی کوشش کوي چه تاسو د ایمان نه بیرته وګرځئ.

(٢) مخکې د اهل کتابو دسیسې بیان شوې نو دلته ئې د هغه دسیسو یوه بله نمونه بیانوي چه څنګه ئې ستاسو اتفاق خراب کړو او په جنګ ئې اخته کړئ لکه د شان نزول نه معلومیږي.

شان نزول

ددې آیتونو په شان نزول کې مفسرینو کرامو اوږده واقعه لیکلې ده چه په مدینه منوره کې د مشرکانو دوه قومونه اُوسیدل چه یو ته ئې اوس او بل ته ئې خزرج وئیل دا دواړه په اصل کې ورونه وو او د هر ورور نه بیا یو یو قوم جوړ شوې وو. دغه دواړه قومونه په خپل مینځ بې اتفاقه وو او یو سل شل (١٢٠) کاله پخوانۍ دشمنیانې ئې راروانې وې، په دغه اوږده دشمنۍ کې به کله یو قوم غالب شو او کله بل قوم. دغه اوږدې جګړې دوی ډیر کمزوری کړي او سترې کړي وو او د مدینې منورې نورو اُوسیدونکو (اهل کتابو) ته ئې

سخت محتاج کړي وو (اهل کتابو به دوی لره جنګونو او یو ته به ئې قرض پیسې ورکړې بیا به ئې ترې سود اخستو او د هغې په مقابله کې به ئې ترې زمکې قبضه کولې او خپله مشری به ئې پرې کوله) کله چه الله تعالیٰ فضل وکړو او رسول الله ﷺ مدینې ته هجرت وکړو او هغه باندې اوس او خزرج دواړو قومونو ایمان راوړو نو د دوی اختلافات او جګړې ختمې شوې نو په مجالسو کې به شریك کیناستل او د یو بل سره ډیر خواږه شول نو دې اتفاق یهودیانو ته ډیر زور ورکړو او ډیر پرې خفه شو چه یو طرفته هغوی د اهل کتابو د احتیاج نه خلاص شو او د دوی مشری ختمه شوه او بل طرفته اسلام مضبوط شو او مخ په ترقۍ روان شو- نو د دوی یو مشر (سپین ګیرے) شاس بن قیس وو چه غټ حسدګر او مکار وو، دے د صحابه کرامو په یو مجلس ورتیر شو چه هغوی یو بل سره په مینه محبت خبرے کولے او دۀ پکی د پخوانۍ دشمنۍ څه آثار ونۀ لیدل نو سخت خفه شو او یو ځوان ئې دے کار ته تیار کړو چه تۀ ورشه او د دوی دا اتفاق خراب کړه نو هغه راغلو، د دوی مجلس کی کیناستو او د جاهلیت زمانې د جنګونو خصوصاً د جنګ بُعاث په باره کی ئې شعرونه په اوچت آواز ولوستل چه په هغې کی اَوسیان په خزرجیانو باندې غالبه شوی وو، نو ددے اشعارو په آوریدو سره شیطان مینځ ته راغلو نو د دواړو یو بل ته غصه پیدا شوه او دا ئې وویل که ستاسو خوښه وی چه دا جنګ بیا تازه کړو، او دے ته خبره ورسیده چه تورو پسے روان شی او یو بل ته صفونه د جنګ تیار کړی نو په دے وخت کی رسول الله ﷺ خبر شو هغه راغے او دوی سره ئې خبره وکړه چه آیا تاسو ګمراه نۀ وئ چه زما په وجه الله تعالیٰ تاسو ته هدایت وکړو، آیا تاسو دشمنان نۀ وئ چه زما په وجه تاسو وررونه شوئ، زۀ ستاسو په مینځ کی موجود یم او تاسو د جاهلیت خبرے بیرته راتازه کوئ، نو پدے کی د شیطان وسوسه ختمه شوه او صحابه کرامو تورے په زمکه کیخودے او یو بل ته ورغاړے وتل او وے ژړل او په خپلو کړو باندے پښیمانه شو نو الله تعالیٰ دغه دسیسه د دوی شنډه کړه او دا آیتونه نازل شو، لیکن حکم د آیتونو عام دے۔ (القرطبی والبغوی والمنار)

إِنْ تُطِيعُوا فَرِيقًا : د اهل کتابو هغه خبره منل ناروا دی چه تا ته د اسلام مخالفه خبره وکړی او که په دنیاوی لین دین کی خبرے اترے وی نو د هغے په منلو انسان نۀ ګناهګاریږی لکه یو سودا ترے اخلے، یا پرے خرڅوے۔

دا آیت کریمه دلیل دے پدے خبره چه (اَلتَّشَبُّهُ بِأَهْلِ الْكِتَابِ وَطَاعَتُهُمْ فِي الْأَقْوَالِ وَالْأَعْمَالِ سَبَبٌ لِلْارْتِدَادِ) چه د اهل کتابو (کافرو) سره مشابهت کول او د خبرو او عملونو کی د

هغوی طاعت او تابعداری کول سبب د مرتد کیدو دے۔ ددے وجه نه زمونږ په اسلام کی دا قانون دے چه د اهل کتابو په مخالفت کی په اسلام باندے مضبوط والے راځی او د اهل کتابو په موافقت کی د اسلام بربادي ده۔ لکه نبی ﷺ فرمائی : (لَاتَزَالُ أُمَّتِیْ عَلَى الْفِطْرَةِ مَا لَمْ يُؤَخِّرُوا الْمَغْرِبَ إِلَى أَنْ تَشْتَبِكَ النُّجُوْمُ)۔ (ابوداود : ٤١٨ وابن ماجه : ٦٨٩)

یعنی زما امت به په فطرت (او صحیح دین) باندے روان وی ترڅو چه د ماښام مونځ نهٔ روستو کوی تردے چه ستوری ګنړ شی۔ یعنی که ناوخته کوی نو فطرت به ئے خرابیږی ځکه چه پدے کی د یهودو مشابهت دے۔ دغه شان د ماښام روژه ماتول وختی خودلے شویدی ځکه چه په ناوخته والی کی د یهودو سره مشابهت دے۔ افسوس چه زمونږ ډیر مسلمانان د یهودو چال چلن او لباس او طرز او طریقے سره څومره مینه لری!!۔

او ددے خبرے تفصیل په سورة بقره (لَا تَقُوْلُوْا رَاعِنَا) کی تیر شویدے۔ (فتاوی الدین الخالص (ج٦)۔

وَكَيْفَ تَكْفُرُوْنَ وَأَنْتُمْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ آيَاتُ اللهِ
او څرنګ کفر کوئ تاسو او حال دا چه لوستلے کیږی په تاسو باندے آیتونه د الله
وَفِيْكُمْ رَسُوْلُهٗ وَمَنْ يَّعْتَصِمْ بِاللهِ
او په تاسو کی رسول د هغه دے او چا چه منګولے ولګولے په الله تعالیٰ پورے
فَقَدْ هُدِيَ إِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۱۰۱﴾
نو یقیناً هغه ته هدایت وشو لارے نیغے ته۔

تفسیر : پدے آیت کی توبیخ دے په کفر کولو باندے یعنی دلیل د کفر نشته او دلیل د ایمان موجود دے۔ د ایمان دوه دلیلونه دی، (۱) د ایمان اول دلیل د الله تعالیٰ کتاب دے چه پدے سره د بنده ایمان جوړیږی لکه دا په سورة حدید کی هم راغلی دی (هُوَالَّذِیْ يُنَزِّلُ عَلٰى عَبْدِهٖ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ لِيُخْرِجَكُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ اِلَى النُّوْرِ) د الله تعالیٰ په آیتونو سره بنده د تیارو نه رڼا طرفته راوزی۔ په تاسو کی صبا او بیګاه لوستلے شی، او تاسو ئے په یو بل باندے لولئ او جبریل ﷺ ئے هم تازه په تازه د آسمان نه راوړی او په هغے کی تاسو ته د کافرانو دسیسے او د هغوی حسدونه بیانولے شی نو تاسو به څنګه د هغوی خبره منئ۔

دویم دلیل د ایمان (وفیکم رسوله) د رسول الله وجود یعنی (ذَاتُ الرَّسُوْلِ وَأَخْلَاقُهُ الْعَذْبَةُ

وَمُعْجِزَاتُهُ) ۔ د رسول الله ﷺ ذات او د هغه خواږه اخلاق او د هغه معجزات دی نو دا د ایمان ذریعه ده، مګر دا نعمت صحابه کرامؓ ته حاصل وو، چه هغوی مخامخ لیدل، او اوس خو نبی کریم ﷺ وفات دے نو پدے وجه دلته عامو مفسرینو وئیلی دی لکه میمون بن مهرانؒ، زجاجؒ، ابن عطیةؒ، او تفسیر قرطبی، روح المعانی او عامو تفاسیرو لیکلی دی چه د (فیکم رسوله) نه مراد د رسول الله ﷺ سنت او احادیث او آثار دی چه دا مونږ ته رارسیدلی دی۔ نو قرآن او حدیث د کفر نه منع کونکی څیزونه دی۔

قاضی عیاضؒ په ((شفاء)) کی د آیت (وَمَا أَرْسَلْنَاكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِيْنَ) په تشریح کی وئیلی دی: [وَهٰذِهِ الرَّحْمَةُ بَاقِيَةٌ مَا بَقِيَتْ سُنَّتُهُ] ۔ او د رسول الله ﷺ دا رحمت والے به باقی وی ترڅو پورے چه د هغه سنت باقی وی۔ او سنت خو د هغه باقی دی نو رسول الله ﷺ اوس هم د خلکو دپاره رحمت دے۔ ددے وجه نه د نبی کریم ﷺ په سنتو باندے عمل کول سبب دے د زیادت د ایمان لکه تدبر قرآن هم د ایمان د زیادت سبب دے۔

تنبیه : (وَفِيْكُمْ رَسُوْلُهُ) دا جمله د متشابهاتو نه ده، بریلیان ترے غلطه معنیٰ اخلی وائی چه رسول الله ﷺ په هر ځای کی حاضر ناظر دے ځکه چه الله تعالیٰ وئیلی دی چه په تاسو کی رسول الله ﷺ موجود دے۔ **جواب** دا دے چه دا معنیٰ په سلفو کی هیچا نهٔ ده کړے نو دا معنیٰ د سلفو د فهم خلاف ده نو د منلو هیڅ وړ نهٔ ده۔ دویم دا چه په قرآن کریم کی بعض خطابات خاص وی نو دا خطاب دے صحابه کرامو ته چه د هغوی ترمینځ رسول الله ﷺ موجود وو۔ او په مونږ کی رسول الله ﷺ نهٔ دے موجود دلیل دا دے چه الله تعالیٰ په سورة الانفال کی وئیلی دی: ﴿وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيْهِمْ﴾ ۔ رسول الله ﷺ چه یو ځای کی موجود وی نو هلته الله تعالیٰ عذابونه نهٔ نازلوی، نهٔ زلزله راځی، نهٔ د کاڼو باران کیږی او حال دا چه په دنیا کی څومره عذابونه، سیلابونه او زلزلے راځی۔نو باطل پرست د متشابهاتو نه غلطه فائده اخلی۔

۲– دویم دا چه دلته فکر وکړه، الله تعالیٰ داسے نهٔ دی وئیلی (وفیکم محمد) په تاسو کی محمد (ﷺ) موجود دے ځکه چه د هغه ذات ګرامی خو اُوس وفات شوید ے بلکه دلته ئے (وفیکم رسوله) وئیلے دے یعنی تاسو کی رسول الله ﷺ موجود دے په اعتبار د وصف د رسالت سره۔ یعنی د هغه رسالت موجود دے او د هغه د ذات د موجود والی نه چه کوم مقصود وو هغه د هغه رسالت نه مقصود دے۔ فتدبر۔

وَمَنْ يَّعْتَصِمْ بِاللّٰهِ : اُوس الله تعالیٰ د ایمان د باقی پاتی کیدو بله طریقه بنائی دوه مخکی

تیرې شوې چه د الله تعالیٰ د کتاب سره تعلق وساته او بل د رسول الله ﷺ د سنتو سره۔ نو دریمه طریقه دا چه (اعتصام بالله وکړه) یعنې د الله تعالیٰ سره رشته او تعلق جوړ کړه۔او بله طریقه روستو راځي (اعتصام بحبل الله) وکړه۔

اعتصام: دوه معاني دي (۱) یو ځان بچ کول۔ (۲) او بل منګولې لګول او لاس وراچول۔

د اعتصام بالله دوه مصداقه

په الله تعالیٰ باندې منګولې خو ظاهراً نشي کیدې نو ددې وجه نه مفسرینو ددې دوه مصداقه بیان کړيدي (۱) یو: (وَمَنۡ يَّعۡتَصِمۡ بِدِيۡنِ اللّٰهِ وَبِطَاعَتِهٖ) ۔ یعنې چا چه د الله تعالیٰ دین او د هغه طاعت مضبوط راونیولو او هغه ئې په هیڅ حالت کې د هیچا د وسوسو د وجه نه نهٔ پریخودو، یهودي وي که نصراني او که منافق وي نو دهٔ ته نیغې لارې طرفته هدایت وشو، دې بیا څوك نشي ګمراه کولې۔ یعنې دین باندې کلك شه د ګمراهۍ نه به بچ شې ځکه چه څوك ګمراه کیږي د هغې وجه دا وي چه کله یو حکم پریدي او کله بل او کله د یو چا په وسوسه کې رازي او کله د بل چا۔

(۲) دویم اعتصام بالله۔ توکل علی الله ته وائي۔یعنې چا چه په الله تعالیٰ باندې توکل وکړو او هغه ته ئې ځان وسپارلو۔ او توکل ئې په دې مقام کې ځکه ذکر کړو چه دوی د یهودیانو تابعداري ځکه کوي چه په الله تعالیٰ باندې ئې توکل نهٔ وي او یهود ورته ښه ښکاره کیږي چه دوی مونږ سره مدد کوي، مونږ ته خرچې راکوي او زمونږ ګاونډیان دي۔ (تفسیر السعدي)

یا دا جمله متعلق ده د (اِنۡ تُطِيۡعُوۡا فَرِيۡقًا) سره یعنې که تاسو د اهل کتابو تابعداري پدې وجه کوئ چه د هغوی د شرونو او چلونو نه یریږئ، نو مهٔ یریږئ بلکه ځان الله تعالیٰ ته وسپارئ ځکه چه څوك الله تعالیٰ ته ځان وسپاري نو الله تعالیٰ به ئې کافي شي۔ نو دا جمله تذییل دې د مخکې (اِنۡ تُطِيۡعُوۡا فَرِيۡقًا) دپاره۔

فائده: حافظ ابن قیمؒ په بدائع التفسیر کې لیکي: اعتصام دوه قسمهٔ دې: په اعتصام بالله سره بنده د هلاکت نه بچ کیږي او په اعتصام بحبل الله (د الله په رسۍ باندې منګولې لګولو) سره بنده د ضلالت (ګمراهۍ) نه بچ کیږي۔ نو اعتصام بالله الله تعالیٰ ته ځان سپارل دي او اعتصام بحبل الله په دین باندې عمل کول دي نو ګویا که اعتصام بالله په منزله د ایمان دې او اعتصام بحبل الله په منزله د عمل دې۔

نو پدے آیت کی د ارتداد نه د بچاؤ دوه لارے خودلے شویدی۔

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقَاتِهٖ وَلَا تَمُوْتُنَّ إِلَّا وَ
اے ایمان والو ! ویریږئ د الله نه په لائقه یره د هغه سره او مهٔ مرئ مگر په داسے حال کی
أَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۱۰۲﴾
چه تاسو مسلمانان يئ۔

تفسیر : **مضمون** : ددے نه ځای نه د سورت دویمه حصه شروع کیږی، مخکی الله تعالیٰ د یهود او نصاراؤ او نورو کافرانو ضمناً قبائح بیان کړل او د هغوی په کفر باندے ئے رد وکړو او د هغوی شبهات چه د رسول الله ﷺ او د قرآن په باره کی وو هغه ئے رد کړل او د مؤمنانو صفات ئے بیان کړل چه دوی الله تعالیٰ ته التجاء والا دی، حنفاء دی او یهود او نصاریٰ د الله تعالیٰ نه باغیان دی، او دا ئے ددے دپاره بیان کړل چه مسلمانان د هغوی نه ځان وساتی او د هغوی اصلاح وشی۔ اُوس الله تعالیٰ ددے امت تربیت ذکر کوی چه دا د سورت دویمه موضوع هم ده او دوی ته آداب او اخلاق بیانوی او قوانین ورته اړدی او دے ته د بعض مفسرینو په اصطلاح کی بناء الجماعة المسلمة وائی (د مسلمان جماعت او نظم جوړول) چه دوی به خپل مینځ کی ښنگه زندگی تیروی او اکثر آیاتونه د اُحُد او د بدر د غزا متعلق دی او د هغے نه مخکی او روستو قوانین بیانیږی او عام آیتونه د خلافت او د جهاد سره تعلق لری ځکه چه مدینے ته کله رسول الله ﷺ هجرت وکړو نو د یهودو او منافقانو ډلے هلته موجودے وے، د کفارو دسیسے وے نو پدے کی غزا د بدر او د احد راغله چه په هغے کی الله تعالیٰ په خپلو قوانینو سره د مسلمانانو تربیت وکړو چه دا تر قیامته پورے د مسلمانانو په کار رازی۔

مناسبت : (۱) الله تعالیٰ مسلمانان د اهل کتابو د طاعت نه منع کړل نو اُوس ورته د کتاب الله په طاعت باندے حکم کوی چه په قرآن عمل وکړئ۔ (واعتصموا بحبل الله)

(۲) په اسلام باندے د بقاء دپاره الله تعالیٰ دلته قوانین بیان کړیدی یو قانون د تقویٰ دے چه دا اختیار کړئ او بل قانون د اعتصام بحبل الله دے۔

(۳) او دا د اعتصام بحبل الله بیان هم دے۔

(٤) مخکی د اهل کتابو کفر بآیات الله بیان شو نو دلته اعتصام بآیات الله بیانیږی۔

(۵) مخکی کفر بآیات الله بیان شو چه د هغې په وجه د یهودو او نصاراؤ نه خلافت واخستل شو نو دلته تربیت د جماعتِ مسلمه بیانوی دے دپاره چه دا نعمت ترے وانخستل شي۔

حاصل الآیات : دلته الله تعالیٰ د مسلمانانو د تربیت دپاره څه احکام بیان کړیدی چه دا اجتماعی احکام هم دی او انفرادي هم، یعنی خلافت او اجتماع به ستاسو څنګه جوړیږی، د هغوی به څنګه اصلاح کیږی؟ نو اول نه ورله د مقدمے په شکل تهذیب النفوس او تهذیب الاخلاق کوی (یعنی د نفسونو او اخلاقو جوړول او صفا کول) دے دپاره چه د خلافت اهل وګرځی۔

نفسونه په څه سره جوړیږی؟

د نفسونو جوړیدل په یو څو کارونو باندے کیږی (۱) یو عقائد او تصورات برابرول، ذهن سازی کول لکه روستو به ووائی چه یو تن شهید شي نو د هغه په باره کی به دا تصور ساتے چه دا جنت ته لاړو، (۲) دویم بیان الاعمال الصالحات چه فلانئ فلانئ نیکیانی وکړئ لکه مال ولګوئ، د مانځه پابندي وکړئ، د الله تعالیٰ په لاره کی جهاد وکړئ۔

(۳) دریم : تَرْكُ الذُّنُوبِ وَالسَّيِّئَات۔ د ګناهونو او معصیتونو پریخودل لکه سودونه پریدئ، تفرقے او اختلافات پریدئ او په دین کی بدعات مهٔ پیدا کوئ او د کفارو طاعت مهٔ کوئ، د منافقانو په شان مهٔ جوړیږئ۔ کله چه په بنده کی دا درے قسمه کارونه راغلل نو دا انسان به صحیح بنده جوړ شي او د مسلمانانو معاشره به برابره شي نو داسے خلکو سره به الله تعالیٰ د کافرانو په مقابله کی مددونه کوی او شخصی مددونه به هم رازی نو اُوس هغه قوانین شروع کوی په هغے کی اول قانون :

اول قانون : تقویٰ اختیارول مَعَ الدَّوَامِ عَلَى الْإِسْلَام یعنی ترمرګه پورے په اسلام باندے همیشه وسیدل۔ (۲) قانون : اعتصام بحبل الله کول۔ (چه د ټولو خلکو عقیده دِیے یوه وی) او د تفرقو نه ځان ساتل۔ او په (ولتکن) کی د امر بالمعروف او نهی عن المنکر کمیټی تیارول دی چه په مسلمانانو کی به داسے خلك ضرور وی چه هغه خلکو ته د نیکو خبرو حکم وکړی او د بدو نه ئے منع کړی۔ بیا د تفرقو نه الله تعالیٰ منع کړیده او تخویف ئے بیان کړے چه څوك تفرقے کوی نو الله تعالیٰ به ئے په آخرت کی مخونه تور کړی۔

بیا په (وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ) کی د الله د قدرت او د هغه د غِنیٰ عن المخلوق او فراخوالے د

بادشاهئ بیانوی چه د هغے خاص مناسبت دے د دغه مقام سره چه په خپل ځای کی به راشي۔
بیا الله تعالیٰ د امر بالمعروف قانون عام کوی او وائی چه دا د هر تن ذمه واری ده چه هغه به ځان کی د دعوت صفت پیدا کوی۔
بیا اهل کتابو کی دوه ډلے بیانوی چه یو اهل الایمان او بل اهل الکفران، د اهل ایمان ئے لس صفات بیان کړیدی او د کافرانو ئے لس قبائح (بد صفات) بیان کړیدی دیته معرفة المدعوین وائی یعنی چا ته چه دعوت ورکولے شی د هغوی حال پیژندل چه تاسو به فاسقانو ته داسے دعوت ورکوئ او نیکانو ته به داسے دعوت ورکوئ، او دا وائی چه بعض اهل کتاب ناکاره خلك دی چه د دوی پرواه ونهٔ کړئ او خپل اسلامی خلافت نه مو منع نکړی ځکه چه دغه اهل کتابو به فسادونه کول او مسلمانانٔ ئے صحیح خلافت ته نهٔ پریخودل او دوی به ددے کار دپاره مالونه هم لګول نو ځکه په (۱۱٦) آیت کی الله تعالیٰ تخویف ورکړیدے چه کافران دے په دنیا او مال متاع باندے نهٔ خوشحالیږی، دوی جهنم ته روان دی۔ بیا ئے په (۱۱۷) کی انفاق ته ترغیب ورکړیدے چه د کافر انفاق تباه دے که دوی د اسلام په خلاف مال لګوی په نقصان به ورته تمام شی، او د مؤمن انفاق کی اجر دے او د مال د لګولو طریقه خودلے شویده، بیا په (یا ایها الذین آمنوا) کی ادب دے او قانون هم دے چه په ملك کی د ایمان والو نه په غیر یو کافر راز دار نیول منع دی او د هغے لس وجے بیانوی بیا هرکله چه دا دومره لوی دشمن دے نو ددے نه به د ځان خلاصولو طریقه څه وی نو الله تعالیٰ د هغے دوه علاجونو نه بیان کړیدی یو الصبر او دویم التقوی، چه دا بنده اختیار کړی نو دشمن به ضرر ونکړی بیا په یوه رکوع کی الله تعالیٰ دوه غزوات ذکر کړیدی غزوه د احد او غزوه د بدر۔ چه دا مثالونه دی ددے دپاره چه کله تاسو د الله تعالیٰ د حدودو او قوانینو پابند وئ نو فتح به نازلیږی د هغے مثال د بدر دے او که پابندی نهٔ وی نو شکست به رازی لکه د هغے مثال اُحد دے۔
د اُحد او د بدر واقعات صحابه کرامو ته معلوم وو نو بیا ورته الله تعالیٰ ولے دغه بیانوی؟ نو وجه دا ده چه پدے سره الله تعالیٰ د هغوی تربیت کوی۔ په آخره کی به د الله د تصرفاتو ذکر وشی چه عالَم کی د هغه واك چلیږی چه خوك لاندے کوی او خوك باندے کوی ځو قوانین ئے دغه دی په دغه قوانینو باندے عمل کول ستاسو کار دے، تر (۱۲۹) آیت پورے به دا شپږ قوانین بیانیږی بیا د هغه ځای نه (۳۱) قوانین ئے نور بیان کړیدی دا غټ حاصل شو۔

بعضی تنظیم پرست ملیان وائی چه دلته د تأسیس الجماعة یعنی د یو تنظیم جوړولو قوانین بیانیږی او مراد تری ورړوکے تنظیم دے، دا د قرآن تحریف دے، تنظیمونه جوړولو کی ځلویښت نقصانات دی لکه په الدین الخالص ۶ / ۱۰) کی ذکر دی او دلته د خلافت اسلامی او د ټولو مسلمانانو تربیت والا احکام او قوانین بیان شویدی۔

تفسیر : حَقَّ تُقَاتِهِ : حق تقویٰ څه ته وائی؟

(۱) امام مجاهدؒ وائی : اَلْجِهَادُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ حَقَّ جِهَادِهٖ وَأَنْ لَّایَخَافَ فِی اللّٰهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ، وَيَقُوْمَ بِالْقِسْطِ وَلَوْ عَلٰی أَنْفُسِهِمْ وَآبَائِهِمْ وَأَبْنَائِهِمْ) (حق تقویٰ دیته وائی چه د الله تعالیٰ دپاره لائقه مجاهده وکړے شی او د الله په باره کی د هیچا د ملامتیا نه یره ونکړے شی او په انصاف باندے ودریږی اګرکه (فیصله) ددهٔ په ځان او پلار او ځامنو باندے وی) او دا په سورة الحج کی هم راغلی دے ﴿ وَجَاهِدُوْا فِی اللّٰهِ حَقَّ جِهَادِهٖ﴾۔ د الله دپاره ځان پوره کړول۔

(۲) د سیدنا انس بن مالك ﷺ نقل دی : (هُوَ حِفْظُ اللِّسَانِ)۔

دا د ژبی حفاظت ته وائی ځکه چه په ټولو عملونوکی د ژبے حفاظت ګران عمل دے، تهجد، جهاد وغیره اعمال آسان دی، مجاهد به وی، په کافرانو به حمله کوی او همیشه به په یره کی وی لیکن ژبه به د مسلمانانو د عزتونو نه نشی بندولے، د مؤمنانو حق پرستو علماؤ پسے به خبرے کوی، هر څه به برباد کړی۔

(۳) د عبد الله بن مسعود ﷺ نه نقل دی : (هُوَ أَنْ يُّطَاعَ فَلَا يُعْصٰی وَأَنْ يُّذْكَرَ فَلَايُنْسٰی، وَأَنْ يُّشْكَرَ فَلَا يُكْفَرُ) ۔ حق تقویٰ دیته وائی چه د الله طاعت (تابعداری) وکړے شی او نافرمانی ئے ونکړے شی، او د الله یادول وی او هیرول ئے نهٔ وی او د هغه شکر کول وی او ناشکری ئے نهٔ وی۔ او که دے کی درنه فرق راتللو نو زر به الله تعالیٰ ته توبه وباسی۔

نبی کریم ﷺ نه هم تقریباً دا قسم تعریف نقل دے، نبی کریم ﷺ فرمائی: موسیٰ علیه السلام د الله نه تپوس وکړو چه زیاته تقویٰ چاکی ده؟ نو الله ورته وفرمایل: (اَلَّذِیْ يَذْكُرُ وَلَایَنْسٰی)۔ هغه شخص چه الله تعالیٰ ورته یاد وی او هیڅکله ئے نهٔ هیروی۔

د الله یادول په مختلفو طریقو سره دی، په ذکر اذکار او تسبیحاتو سره او په بدنی نورو اعمالو سره او په مالی اعمالو سره او همیشه د هغه د احکامو لحاظ وی۔او حق تقویٰ بنده کی څنګه پیدا کیږی؟ نو د هغے طریقه دا ده چه د آخرت د عذابونو استحضار بنده وکړی او خپلو سترګوته ئے مخامخ کړی لکه دا د یو حدیث نه هم معلومیږی چه نبی

کریم ﷺ دا آیت ولوستو او بیا ئے وفرمایل: (لَوْ أَنَّ قَطْرَةً مِنَ الزَّقُّومِ قَطَرَتْ فِيْ دَارِ الدُّنْيَا لَأَفْسَدَتْ عَلَى أَهْلِ الْأَرْضِ مَعَايِشَهُمْ فَكَيْفَ بِمَنْ يَّكُوْنُ طَعَامَهُ) که د زقوم یو څاڅکے دنیا کور راپریوځی نو د ټولو خلکو ژوند به خراب (او تریخ) کړی - نو ستا څه ګمان دے په هغه چا چه دا به ئے خوراك وی- (الترمذی : ٢٥٨٥، وسنده ضعيف فيه عنعنة سليمان الاعمش عن مجاهد- البانی، الضعيفة :٦٧٨٢) والراجح صحته لان الاعمش عنعنته مقبولة عن كبار التابعين وقال الحاكم : اسناده على شرط الشيخين ووافقه الذهبى : ٣١٥٨)-

نورے طریقے په الفوائد (٣٢٦/٣٢٥/٣) کی ذکر دی لکه : (٢) امیدونه لنډول- (٣) همیشه په غم کی وسیدل- (٤) او په خپلو کارونو کی فراخی نهٔ پیدا کول- (٥) په خپلو همجنسو انسانانو باندے رحم کول- (٦) او د خلکو نه مخ نهٔ راتاوول- (٧) دارنګه د خپل عبادات په ښائسته طریقه کول- (٨) د خپل رب زیات یادول- (٩) د خپل ژبے حفاظت کول- (١٠) د ګناهونو نه ځلان ساتل- (١١) او همیشه استغفار کول- (١٢) او لا یعنی (بی فائدے) څیزونه پریخودل- (١٢) په خپل عمل باندے د قبلیدو نه یره کول- (١٣) قرآن کریم په تدبر سره لوستل-

(٤) علامه قاسمیؒ وائی : حق التقویٰ څه ته وائی : (وَذٰلِكَ بِدَوَامِ خَشْيَتِهٖ ظَاهِرًا وَبَاطِنًا وَالْعَمَلُ بِمُوْجَبِهَا وَالْإِنَابَةُ لَهٗ) - حق التقویٰ همیشه د الله تعالیٰ نه یره کول په ښکاره او په پټه او هغه ته انابت کول او د تقویٰ په کارونو باندے عمل کول دی- دا ټول مطلبونه په آیت کی مراد کیدے شی- (محاسن التنزيل٢/١٠٣)-

ځینی علماء وائی : دا آیت منسوخ دے په آیت ﴿فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ﴾ (التغابن:١٦) سره ځکه چه حق التقویٰ د انسان د وس نه بهر ده ځکه چه لائقه یره د الله تعالیٰ نه دا ده چه بنده ټول هغه کارونو باندے راتلل وکړی چه الله تعالیٰ د هغے مستحق دے او حال دا چه بنده پوره طریقے سره ددے د ادا کولو نه عاجز دے چه د الله تعالیٰ د شان مطابق عمل وکړی- نو الله تعالیٰ په سورة التغابن کی دغه آیت راولیږلو هغے دا تفسیر وکړو چه (حق تُقَاتِه) دے ته وائی چه بنده د الله تعالیٰ نه د خپل وس مطابق ویریږی او د وس مطابق طاعت وکړی که په ولاړه مونځ نشی کولے په ناسته به ئے وکړی، که په ناسته نهٔ وی نو په ملاسته به ئے وکړی، که روژه دِے نشوه نیولے نو فدیه ورکړه، که د هغے نه هم عاجز وے نو هیڅ دربانده نشته- صرف عقیده پرے ولره- لیکن ظاهر دا ده چه پداسے قسم آیتونو کی نسخ نهٔ وی بلکه هغه آیت د سورة تغابن بیان دے ددے آیت او مطلب به دا وی چه

حق تقویٰ دیته وائی چه د بنده څومره وس کیږی په نیکئ به راتلل کوی او د گناه نه به ځان ساتی۔ او دارنګه پدے آیت کی مقصد دا دے چه الله تعالیٰ ته همیشه دپاره انابت کوئ او د هغه نه همیشه خشیت کوئ او د هغه لوی شان او عظمت په زړه او په عمل سره وپیژنئ۔ او د (فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ) مقصد دا دے چه د الله تعالیٰ نه د الله تعالیٰ په احکامو کی د خپل وس مطابق یره وکړئ۔ نو د دواړو ترمینځ هیڅ تعارض نشته۔ (القاسمی ۲/۱۰۳)

وَلَا تَمُوْتُنَّ: یعنی په اسلام باندے همیشه وسیږئ تردے چه په تاسو باندے پدے حالت کی مرګ هم راشی۔ نو دلته په اسلام باندے تر مرګه پورے باقی پاتے کیدل مقصود دی۔ یعنی په هیڅ حالت کی ځان نه اسلام مهٔ جدا کوه اګرکه په تهوقو کی وی او د یهودیت په هیڅ وسوسه کی مهٔ راځه هسے نه چه د اسلام نه دے واړوی۔نو دا اعتراض ختم شو چه د مرګ نه ئے څنګه منع کړیده حال دا چه مرګ خو د انسان په اختیار کی نهٔ دے؟ نو بعضو جواب کړیدے چه د مسلمون نه مراد (محسنون الظن بالله) دے، (یعنی په الله باندے ښه ګمان کونکی یئ) لکه په حدیث د جابر کی په صحیح مسلم کی راغلی دی: (لَا يَمُوْتَنَّ أَحَدُكُمْ إِلَّا وَهُوَ يُحْسِنُ الظَّنَّ بِرَبِّهٖ) ۔ (په تاسو کی دِے یو تن ته مرګ نهٔ راځی مګر په داسے حال کی چه په خپل رب باندے ښائسته ګمان لری)۔ (مسلم: ۷۴۱۲)

فائده: د قوانینو په اول کی ئے د تقویٰ د قانون نه شروع وکړه ځکه چه کله په اَفرادو کی تقویٰ نهٔ وی نو هیڅ قسم شرعی نظام نشی جوړیدے او خلافت نشی قائمیدے، د تقویٰ نه بغیر د دین په هیڅ کار باندے راتلل نشی کیدے۔ هر خیر چه الله تعالیٰ روستو بیان کړے نو د هغے دپاره اول کی تقویٰ ضروری ده هله به هغه خیر حاصلیږی۔

وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا وَّلَا تَفَرَّقُوْا وَاذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ
او منګولے ولګوئ په رسئ د الله ټول او مهٔ ډلے ډلے کیږئ او یاد کړئ نعمت د الله تعالیٰ په تاسو باندے
إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَآءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ
کله چه وئ تاسو دشمنان نو مینه ئے واچوله په مینځ د زړونو ستاسو کی نو شوئ تاسو
بِنِعْمَتِهٖ إِخْوَانًا وَكُنْتُمْ عَلٰى شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِّنْهَا
په احسان د هغه سره رونړه رونړه او وئ تاسو په غاړه د کنده د اُور نه نو بچ ئے کړئ د هغے نه،

كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللهُ لَكُمْ آيَاتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ﴿١٠٣﴾

دغه شان بیانوی الله تعالیٰ تاسو ته احکام خپل دے دپاره چه تاسو هدایت مونده کړئ۔

تفسیر: حبل الله څه شے دے؟

حبل : په اصل کی رسئ (پړی) ته وائی او دلته ترے مراد هغه شے دے چه د هغے په ذریعه سړے د الله تعالیٰ رضا ته رسیږی لکه قرآن کریم وغیره۔ نو مفسرینو ددے ډیر مصداقات بیان کړیدی : (١) د علی ﷺ نه نقل دی چه (حبل الله) قرآن کریم ته وائی۔ یعنی د قرآن کریم عقیدے او اعمال مضبوط راونیسئ۔ او دا په حدیث د مسلم (٤٤ کتاب فضائل الصحابة حدیث رقم ٣٦) کی راغلے دے زید بن ارقم ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: (أَلَا وَإِنِّى تَارِكٌ فِيكُمْ ثَقَلَيْنِ أَحَدُهُمَا كِتَابُ اللّٰهِ هُوَحَبْلُ اللّٰهِ، مَنِ اتَّبَعَهٗ كَانَ عَلَى الْهُدٰى، وَمَنْ تَرَكَهٗ كَانَ عَلٰى ضَلَالَةٍ......الحديث)) ۔ زۀ په تاسو کی دوه درانه څیزونه پریخودونکے یم یو د الله تعالیٰ کتاب دے چه دا د الله تعالیٰ رسئ ده، څوك چه ددے پسے روان شو دا به په هدایت وی او چا چه دا پریخودو نو په ګمراهئ باندے وی......)۔

(٢) عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی: د (حبل الله) نه مراد الجماعة (د مسلمانانو جماعت یعنی خلافتِ اسلامی) دے چه ددے نه مۀ بهر کیږئ۔ او جماعت عقیدے ته وائی لکه هغه فرمائی: (اَلْجَمَاعَةُ مَا وَافَقَ الْحَقَّ وَإِنْ كُنْتَ وَحْدَكَ) ۔ جماعت هغه دے چه د حق موافق وی اګرکه ته یواځی یې۔ یعنی اګرکه ته یواځی ځای کی یې خو ستا عقیده د حق موافق وی نو ته جماعت یې۔ (البیهقی والوجیز والاغاثة)

(٣) مجاهدؒ وائی : حبل الله، عهد الله او امر الله ته وائی۔ یعنی د الله تعالیٰ لوظ او د هغه حکمونه۔ لکه روستو نه هم معلومیږی ﴿إِلَّا بِحَبْلٍ مِنَ اللّٰهِ وَحَبْلٍ مِنَ النَّاسِ﴾ (آل عمران ١١٢)۔ چه هلته حبل په معنیٰ د ذمے او لوظ سره دے۔

ددے ټولو عبارتونو حاصل مطلب یو ته راجع کیږی ځکه چه قرآن کریم د الله تعالیٰ عهد (لوظ) او د هغه امر دے او حق هم دغه قرآن دے۔

قرآن ته ولے حبل الله وائی ؟

وجه دا ده چه د رسئ په وجه سره اُوبه د کوهی نه راوځی، که یو انسان لاندے پریوتے وی نو د هغه د راختلو او د نجات ذریعه ده نو قرآن کریم هم دغه شان دے چه انسان ته د

ښائسته عقائدو او اعمالو او اخلاقو سیراب والے ورکوی او انسان پدے سره پورته کیږی۔ او لکه څنګه چه سړے په رسئ نیولو سره د پریوتو نه بچ کیږی نو دغه شان په قرآن کریم رانیولو سره بنده د هلاکت او ګمراهئ نه بچ کیږی۔ (قاسمیؒ)

فائده : الله تعالیٰ په اعتصام بحبل الله باندے حکم وکړو او داسے ئے ونهٔ ویل چه متحد او متفق شئ ځکه چه اعتصام بحبل الله دیته وائی چه د ټولو خلکو عقیده او عمل یو شان شی نو خپله به اتفاق راشی لکه هر یو تن دا کوشش کوی چه زما عقیده او عمل د کتاب او سنت موافق شی نو دا کسان که د علاقے په اعتبار سره د یو بل نه ډیر لری وی خو متحد او متفق به وی، او که هسے وحدت راشی او عقیدے ئے بیلے وی نو په یو مجلس کی به ناست وی خو زړونه به ئے د یو بل نه نفرت کوی او دا وحدت هیڅکله همیشه نشی پاتے کیدے، د مفادو په ختمیدو به هغه وحدت ختم وی. ډیر خلك د اتفاق کوشش کوی او صرف خلك یو ځای ته راجمع کوی نو هغوی دے نکتے ته نهٔ دی متوجه شوی او د مختلف ادیانو او د مختلفو عقیدو والا خلك یو فلیټ فارم باندے د راجمع کولو کوشش اُوس پدے دَور کی ډیر زیات شروع دے لیکن دا کار هیڅکله نشی کیدے۔

وحدت د عقیدے د ورورولئ نه هم ډیر مضبوط وی، عرب وی که عجم خو د یو بل سره به ئے مینه وی کله چه بنده د اسلام په خوند پوهه شی۔

وَّلَا تَفَرَّقُوۡا : او تفرقے مهٔ جوړوئ او تفرقه دیته وائی چه د قرآن او د سنت خلاف عقیدے جوړی کړی او په هغے روان شی دا تفرقه ده، او که نظمونه د خلکو مختلف وی او عقیده د ټولو یوه وی نو دا تفرقه نهٔ ده لکه د یوے عقیدے خلکو کی څه کسان ووائی چه مونږ قرآن او حدیث د مدرسے په شکل چلوو او بل وائی مونږه ئے د جهاد په شکل چلوو او بل وائی چه مونږه ئے د دعوت په طریقه نو دا خاص اختلاف نهٔ دے ځکه چه عقیده د ټولو یوه ده، صرف ترتیب او نظم ئے د یو بل نه جدا وی اګرکه ددے نظم دپاره تعصب کول چه صرف هغه ورته حق ښکاره کیږی او نور ورته سپك ښکاری دا به ناروا وی۔

او تفرقه دا ده چه د قرآن او حدیث خلاف عقیدے جوړی کړی لکه خوارج، معتزله، مرجئه، قدریه او روافضو د قرآن او حدیث خلاف عقیدے او عملونه جوړ کړل نو دا تفرقے والا خلك دی، او همیشه اختلاف ددے نه پیدا کیږی چه یو تن آیت او حدیث پریدی او بل طرفته روان شی۔

فائده : جَمِيۡعًا وَّلَا تَفَرَّقُوۡا دا دوه تاکیدونه دی، اول تاکید کی غرض دا دے چه په

مسلمانانو کی دے هیڅوك په غیر د اعتصام نه پاتی نشی بلکه ټول دے په حبل الله بانـدے اعتـصـام وکـړی۔ او د ولا تـفـرقـوا معنیٰ دا ده چه داسے اعتصام وکړئ چه د هغے نه روستـو تـفـرقـے پیدا نکړئ چه هره ډله د قرآن کریم د آیتونو نه د خپلے عقیدے په حقانیت بانـدے د ځـان نـه دلیلونه نیسی چه هغه دلیل ددے امت سلفو (مشرانو) نهٔ وی نیولے۔ نو اعتصام بالکتاب والسنة په فهم د سلفو سره لازم ددے۔

وَاذْكُرُوا : اُوس پـدے کـی د مسـلـمـانانـو پـه یـوه عـقـیده باندے د راجمع کیدو فضیلت بیانوی او امر په شکر باندے کوی چه د الله تعالیٰ ددے نعمت شکر وکړئ چه تاسو ئے خپل مینـځ کـی پـه یو شان عقیده او عمل باندے راجمع کړئ او ستاسو د زړونو ترمینځ ئے د یو بل سره مینه واچوله او زاړه جنګونه او دشمنیانے ئے ستاسو ختمے کړے۔

نِعْمَتَ اللّٰهِ : د نعمت الله نه مراد دلته تالیف القلوب دے (یعنی د زړونو یو ځای کول)۔

بِنِعْمَتِهٖ : ١- نـعـمـت یو اسلام ته وائی ځکه چه یو مسلمان د بل مسلمان ورور دے۔ ٢- دویـم نـعـمـة مـعـنیٰ مصدری ده یعنی د الله تعالیٰ په نعمت کولو سره په تاسو باندے تاسو ورونـه ورونـه شـوئ۔ نـو صـحـابـه کرامؓ داسے ورونه ورونه شو چه د یو بل نه به قربانیدل، د ایثـار نـمـونـی ئے مشهوری دی، په غزا د یرموك کی اُویه راوړلے شوے، هر یو وویل چه دے بـل مـلـګری لهٔ ئے ورکړه دا به ورته زما نه ډیر محتاج وی نو اُویه پاتے شوے او ټول شهیدان شـول، خپـلـه بـه ئے طـعـام نـهٔ خوړو او بل ته به ئے ورکولو، انصارو د مهاجرینو سره خپلے زمـکـے شـریکے کړے او مالونه ئے ورکړل۔ او د اَوس او د خزرج د یو سل شلو کالو جګړے او دشـمـنـیـانـی پـه اسلام سـره ختـمے شـوے، نو دا دلیل دے چه پـه اسلام کی الله تعالیٰ د مسلمانانو ترمینځ په زړونو کی محبت اچولے دے او دا یو ضروری شے هم دے چه بنده به ئے کوشش کوی۔ لکه رسول الله ﷺ فرمایلی دی : (اِيَّاكُمْ وَسُوْءَ ذَاتِ الْبَيْنِ فَاِنَّهَا الْحَالِقَةُ) (الترمذی ٢٥٠٨ باسناد حسن) ۔ تـاسو د ذات البینی (خپل مینځی) اختلافاتو نه ځان وساتئ ځکه چه دا د انسان دین خریوی (ختموی ئے)۔

شَفَا : یو طرف او غاړے ته وائی۔

حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ : دوی د اُور د کـنـدے پـه غـاړه ځکه وو چه دوی مشرکان او کافران وو او د آخـرت مـنـکـر وو او بـد صـفـات پـکی موجود وو، او د الله تعالیٰ اصول دا دی چه د آخرت مـنـکـر او بـدو صـفـات والا اُور تـه بـوځی، دا خلك اګرکه اصحاب الْفَتْرَة وو یعنی په داسے زمـانه کی وو چه نبی ورته نهٔ وو راغلے لیکن بیا به هم جهنم ته تلل، دا دلیل دے چه د دغه

زمانے خلك اكثر اصحاب الفترة نهٔ وو (اصحاب الفترة دے ته وائی چه هیڅ نبی ورته نهٔ وی راغلے) او په دوی کی اکثر خلك پو هیدل ځکه چه د ابراهیم عليه السلام دین موجود وو او یهودیانو به تورات لوستلو او په دغه زمانه کی ډیر خلك په حق باندے پو هیدل لکه زید بن عمرو بن نفیل او قُس بن ساعده او ورقه بن نوفل وغیره خلك په حق باندے پو هیدل او د توحید عقیده ئے لرله نو څوك چه په دغه وخت کی د حق تابعدار نهٔ وو هغه به هم جهنم ته تلل اګرکه رسول الله ﷺ لا نهٔ وو راغلے۔ او د هغه د راتګ نه بعد که هغه څوك ونهٔ منی نو بیا به خامخا اُور ته روان وی۔

فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا : یعنی تاسو ئے ددے اُور نه خلاص کړئ په سبب ددے کتاب سره۔ یا په اسلام سره۔ددے ﴿فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا﴾ فائده یو اعرابی داسے وئیلے وه کله چه هغه د ابن عباس رضي الله عنهما نه واوریدل چه دا آیت ئے لوستو نو هغه وویل : (وَاللّٰهِ مَا أَنْقَذَهُمْ مِنْهَا وَهُوَ يُرِيْدُ أَنْ يُوْقِعَهُمْ فِيْهَا)۔ یعنی قسم په الله چه دوی ئے د اُور نه نهٔ دی ساتلی ددے دپاره چه دوی به پکی بیرته ګوزاری) یعنی هرکله چه الله تعالیٰ تاسو د اُور د کندے نه وساتلئ نو الله تعالیٰ ددے نه ډیر عزتمند دے چه تاسو دوباره هغے ته واپس کړی۔

نو عبد الله بن عباس رضی الله عنهما وفرمایل: (خُذُوْهَا مِنْ غَيْرِ فَقِيْهٍ)۔

دا خبره تاسو د داسے سړی نه زده کړئ چه په دین کی ئے دومره ډیره پو هه نشته۔

نو دے نه معلومه شوه چه ټول صحابه کرام اول د جهنم نه خلاص دی او بیا هر مؤمن چه په هغه کی صحیح تابعداری د کتاب او سنت راشی، والحمد لله، اللهم اجعلنا منهم۔

او هغه حدیث ددے ځای نه ماخوذ دے چه نبی عليه السلام فرمائی :

(أُمَّتِيْ هٰذِهٖ أُمَّةٌ مَرْحُوْمَةٌ لَيْسَ عَلَيْهَا عَذَابٌ فِي الآخِرَةِ، عَذَابُهَا فِي الدُّنْيَا الْفِتَنُ وَالزَّلَازِلُ وَالْقَتْلُ) (ابوداود، والصحیحة رقم : ۹۵۹)۔ زما امت باندے رحم شویدے په دوی باندے به په آخرت کی عذاب نهٔ وی (او څه ناڅه ګناهونه ترے کیږی) نو ددے امت عذابونه دنیا کی فتنے او زلزلے او قتلونه دی چه په دوی به راځی او د آخرت د عذاب نه به خلاص وی۔ او دا ډیر لوی بشارت دے ولله الحمد علی ذلك، خو دا د هغه چا دپاره دے چه د قرآن او د حدیث صحیح عقیده او صحیح عمل لری۔

په قرآن کریم کی ډیر آیتونه دی چه دلالت کوی د صحابه کرامؓ په جنتی کیدو باندے یو دا آیت دے او بل سورة التوبه (۱۰۰) آیت کی دی ﴿رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ﴾ ۔ او داسے نور هم شته۔

كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ : دا ترغیب ددے دپاره بیانوی چه بندګان متوجه شی ځکه چه قرآن کریم کی ذهن سازی زیاته ده۔ مطلب دا دے چه الله تعالیٰ تاسو ته دا آیتونه بیانوی چه متضمن دی احکامو لره پدے سره الله تعالیٰ ستاسو د هدایت اراده لری، د دنیا او د آخرت فائدے درکوئ نو دا په ځان بوج مهٔ ګنړئ۔

وَلْتَكُنْ مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ
او وی دِے ستاسو نه یوه ډله چه دعوت ورکوی نیکئ ته او امر کوی په نیکئ
وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُوْلَـٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿١٠٤﴾
او منع کوی د بدئ نه او دا کسان هم دوی کامیاب دی۔

تفسیر : پدے آیت کی بیان دے د قانون د امر بالمعروف والنهی عن المنکر او رئاسة الامر بالمعروف والنهی عن المنکر دے چه دا دِے د مسلمانانو په ملك کی موجود وی بلکه په خلافتِ اسلامی کی مقصودی کمیتئ هم دا ده ځکه چه د خلافت مقصد دا دے چه منکرات د علاقے او ملك نه ختمول او معروفات عام کول۔

مناسبت : د مسلمانانو اتفاق چه راځی او تفرقے ختمیږی نو هغه پدے طریقه چه یو بل ته د نیکئ دعوت ورکړے شی او د منکراتو نه منع کړے شی، کله چه دعوت الی الله په یوه علاقه کی نهٔ کیږی نو هلته سخت فسادونه پیدا کیږی ځکه چه د منکراتو مثال داسے دے لکه په فصلونو کی چه ګیاهګانے خپله راځیږی او غنم وغیره دانے کرل غواړی۔

وَلْتَكُنْ : خامخا دِے وی۔

آیا دعوت (امر بالمعروف او نهی عن المنکر) په هر چا فرض دے؟

مِّنكُمْ : (۱) دا مِن یا تبعیضیه دے، یعنی څه کسان دے په تاسو کی دا ذمه واری سنبال کړی۔ ځکه چه په امت کی هر تن امر بالمعروف او نهی عن المنکر نشی کولے ځکه چه په امت کی ډیر ناپوهه خلك هم شته چه ددے استعداد نهٔ لری۔ نو پدے معنیٰ به دا حکم فرض کفائی وی چه بعض کسانو کولو نو د نورو نه فریضه ساقطه ده۔ (۲) دویم قول دا دے چه دا مِن بیانیه دے، (وے دِے ستاسو نه) یعنی تاسو ټول یعنی په تاسو کی دے هر یو تن امر بالمعروف وکړی۔ او ددے تائید دا دے چه روستو آیت (۱۱۰) کی وائی چه تاسو ټول یو داسے امت یئ چه د خلکو د فائدے دپاره ویستلے شوی یئ الخ نو پدے صورت کی

به دعوت الی الله فرض عین شي۔
لیکن تحقیق دا دے چه دا دواړه آیتونه په مختلفو احوالو باندے حمل دی که چرته د مسلمانانو اسلامی حکومت موجود وو او په هغے کی څه کسان د امر بالمعروف او نهی عن المنکر دپاره مقرر شو نو نورو خلکو ته حاجت نشته چه هر یو تن د منکراتو د ختمولو دپاره ډنډه راواخلی بلکه هغوی دے راخبر کړے شي۔ او که داسے نهٔ وی او ستا مخامخ یو منکر کار کیدو او منع کولو والا څوك نهٔ وو، یا داسے ځای کی کیدو چه تهٔ هلته ورتللے شوے او نهی عن المنکر کمیتئ والا نشو راتلے نو په دغه وخت کی به په تا باندے نهی عن المنکر واجب وی، مثال ئے ستا کور دے چه ددے نه حکومت نهٔ خبریږی نو په تا باندے به هلته نهی عن المنکر لازم وی۔ یا دا چه امر بالمعروف او نهی عن المنکر به کله تهولے معاشرے ته وی نو دا د حکومت کار دے او کله به افرادو ته وی نو دا د هر مسلمان کار دے نو ددے وجه نه امر بالمعروف او نهی عن المنکر به کله فرض عین وی او کله به فرض کفائی وی، ددے وجه نه کله چه مشران موجود وی نو ما او تا ته به ضرورت نهٔ وی چه د هغوی مخے مخے ته راشو او خبرے وکړو او یو ځای کی مشران نشته او ستا مخے ته موقعه راغله نو هلته به امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوے، پدے وجه په ژوند کی ضرور داسے موقعے راځی چه په هغے کی په انسان باندے امر بالمعروف او نهی عن المنکر فرض گرځی لکه خپله ښځه، بچی، شاگردان، غلامان او خپل ماتحت خلك واخله۔ نو ددے وجه نه غوره دا ده چه دا من تبعیضیه دے او د (کنتم خیر امة) مطلب دا دے چه دا امت به مجموعی طور سره د دین دعوت کوی او په هر هر فرد باندے همیشه دپاره لازم نهٔ دے۔

إِلَى الْخَيْرِ : د خیر مصداق دے (۱) الاسلام۔ اسلام کامل خیر دے۔ (۲) ابن کثیرؒ وائی : الکتاب والسنة۔ (۳) تفسیر معالم او زاد المسیر لیکی چه خیر طاعة الله ته وائی۔ او ددے تولو حاصل یو دے، اسلام د الله طاعت دے او کتاب وسنت هم اسلام دے۔

وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ : معروف هر هغه شی ته وائی چه په شریعت کی د هغے حُسن (ښائست) معلوم وی، او شریعت ورته ښه وائی۔ او منکر هر هغه شے دے چه په شریعت کی د هغے قباحت معلوم وی۔ بیا معروف د ایمان نه تر مستحبی مسئلے پورے واخله او منکر د کفر نه واخله تر صغیره او خلافِ اولیٰ پورے باندے ئے اطلاق کیږی۔

د دعوت الی الخیر او امر بالمعروف فرق څه دے؟

فرق دا دے چه دعوت کافروته وی او امر بالمعروف مسلمانانو ته وی۔ یعنی کافرانو ته به دعوت ورکوی چه اسلام ته راشئ او کتاب او سنت ومنئ او د الله تعالیٰ طاعت کی داخل شئ او مسلمانانو ته به وئیلے شی چه دا نیکی وکړئ او ددے فلانی فلانی منکراتو نه ځان وساتئ۔

وَأُولَـٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ : الله تعالیٰ دے خلکو ته کامیاب وویل ځکه چه دا کامل مکملین دی، خپله کامل دی چه په دین عمل کوی او د نورو د تکمیل کوشش کوی چه هغوی هم په دین عمل وکړی۔

حافظ ابن القیمؒ وائی : أُولَـٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ : لَا الدَّاعُوْنَ اِلٰی رَأْيِ فُلَان وَفُلَان) الله تعالیٰ دلته حصر کړیدے چه همدا خلك کامیاب دی نۀ هغه خلك چه د فلانی فلانی رأی ته دعوت ورکوی)

پدے آیت کی فوائد او قواعد

پنځلس قواعد دی خو دلته به بعض ذکر کړو : (۱) یو وعظ دے او بل امر بالمعروف او نهی عن المنکر دے۔ نو امر بالمعروف او نهی عن المنکر د حکامو کار دے، نۀ د عوام الناس ځکه چه په امر او نهی کی اقتدار ضروری وی، چه داسے وکړه او داسے مۀ کوه او دا زور غواړی او د عوامو کار وعظ او نصیحت دے یعنی چا ته د خیر خبره کول په غیر د زور نه، که د چا خوښه وی منی به ئے او که نۀ وی نو زور پرے نشی کیدے۔ مونږ په درجه د وعظ کی یو او امر بالمعروف او نهی عن المنکر مرتبے ته لا نۀ یو رسیدلی۔ البته که په چا مو وسه کیدله نو دغه وخت کی به امر بالمعروف او نهی عن المنکر موجودیږی لکه خپل ماتحت خلك لکه چه مخکی بیان شو۔

(۲) په داعی باندے لازمه نۀ ده چه ټوله دنیا ته به دعوت کوی بلکه داعی چه د خولے نه خبره راوباسی نو د هغه فریضه ادا شوه لکه رسول الله ﷺ به په خپل کور کی بی بی ته خبره وکړه نو په هغے لازمه وه چه هغه به ئے نورو ته کوی نو بیا هر چا ته چه د دین یوه خبره ورسیدله، هغه به ئے بل ته کوی۔ پدے وجه دا خبره غلطه ده چه بعض کسان ئے کوی چه داعی باندے لازمه ده چه بهر به وځی او ټولو کافرانو ته به ورځی او دعوت به ورکوی او دا عادةً هم ممکن نۀ ده چه یو تن په ټوله دنیا کی وګرزی او نۀ د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو نه پدے باره کی څه نقشه او مثال شته، بلکه تۀ په یو مسجد او مدرسه او

محله کی د قرآن او حدیث درس وکړه ستا دعوت وشو. کما فی القرطبی سورة الاحزاب)
(۳) فـائده : د امر بالمعروف او نهی عن المنکر مختلفې طریقې او لاری دی (۱) اوله طریقه دا ده چه په اسلامی حکومت کی د امر بالمعروف کمیټئ مقرر شی. (۲) دویمه طریقه : په خطبه کی د دین خبرے کول (۳) تعلیم او تعلم او درس او تدریس چه دا د دعوت الی الله ښه لاره ده ځکه چه پدے سره سرۀ زر تیاریږی لکه د سورة الرعد په آیت (۱۷) ﴿وَمِمَّا يُوقِدُونَ عَلَيْهِ فِي النَّارِ ابْتِغَاءَ حِلْيَةٍ أَوْ مَتَاعٍ زَبَدٌ مِثْلُهُ﴾ کی به راشی ان شاء الله تعالیٰ.
(٤) التصنیف والتالیف : ښه او مفید تصنیفات (کتابونه) لیکل.
(٥) کله به دعوت په عمل سره وی، لکه په یو ځای کی په سنت طریقه عمل نۀ کیږی نو تۀ ورشه او په سنت طریقه عمل وکړه خلکو کی به دغه طریقه خوره شی.
(٦) وقف الکتب : یوے مدرسے ته دینی کتابونه وقف کول چه خلك هغه گوری او فائدے ترے اخلی دا هم د دعوت لاره ده، یوه لائبریری او مکتبه جوړول او دارنگه یوه مدرسه جوړول یا د مدرسے خرچه اخراجات برداشت کول، یو مدرس او استاذ له تنخواه مقررول.
(٧) الشریط : (کیسټ)، ایم پی تری، میموری کارډونو کی بیانونه واچوه او چا ته ئے تحفه کی ورکړه، ستا دعوت پدے سره هم کیږی.
(٨) علماؤ دپاره پروگرامونه مقرر ول او اصلاحی اجتماعات جوړول او هغوی بیان ته راغوختل ځکه چه تۀ امی ئے خپله بیان نشے کولے نو علماء راوغواړه پدے سره تۀ په دعوت کی برخه اخستے شے.
(٩) په علاقو کی گرزیدل او خلکو سره انفرادی خبره کول نو د دعوت مزاج هر مؤمن لره جوړول پکار دی، او صفا د کتاب او سنت دعوت پیش کول پکار دی، نۀ تاویلی ما ویلی.
(٤) **فائده** : د دعوت او امر بالمعروف او نهی عن المنکر د قواعدو نه دا هم ده چه داعی کی به یو څو صفات وی لکه په دۀ کی به ایمان وی، علم به وی، تقویٰ وی، عدل به وی (انصاف نه به کار اخلی، چه یو سړے د رد لائق نه وی او دا پرے رد کوی، داسے به نۀ کوی) خیر خواه به وی، په خلکو به شفقت کوی، او خلکو سره به نیك اخلاق کوی. او په دۀ کی به امانت وی (یعنی هغه دین به بیانوی چه کوم الله تعالیٰ رالیږلے دے، د ځان نه به خبرے نۀ جوړوی ﴿وَأَنَا لَكُمْ نَاصِحٌ أَمِينٌ﴾ (اعراف:٦٨)

(٥) امر بالمعروف او نهي عن المنكر هغه څوك كولے شي چه هغه كې ايمان وي او بل پكې د الله تعالىٰ دپاره غيرت وي۔ نور قواعد هم شته۔

د دعوت طريقه

ددے دپاره چه دعوت مؤثر ثابت شي د داعي دپاره لاندينۍ خبرو ته متوجه كيدل لازم دي

(١) په هره موضوع كې چه دعوت چلوي پكار ده چه په هغے كې مضبوط معلومات ولري او د ضعيفو او كمزورو معلوماتو نه ځان وساتي۔

(٢) پكار ده چه هر شرعي حكم د خپل چوكاټ نه ونۀ باسي، غلو په دين كې ډير ضرر رسوي۔ ځينې خلك يو مستحب حكم په خلكو د فرضو درجے ته رسوي او د ځينې فرضي احكامو په دعوت كې د مستحبو په اندازه كوشش هم نۀ كوي، او په بعض وختونو كې يو مكروه عمل به د قطعي حرامو درجے ته رسوي او په قطعي حرامو باندے د مكروه په اندازه هم نه خفه كيږي، بلكه د هر عمل مرتبه پيژندل او د هغے مطابق دعوت كول ضروري دي۔

(٣) پكار ده چه په دعوت كې داعي خپله د منكراتو كونكے جوړ نشي ځكه چه ډير داسے واعظان شته چه د يو منكر نه خو به خلك منع كوي ليكن په داسے انداز ئے كوي چه خپله په هغه كې ډير منكرات راجمع شي چه بيا دا داعي ددے خبرے محتاج وي چه ددۀ منكرات منع كړے شي۔

(٤) په دعوت كې به فاحش او ناكاره او مزاج خفه كونكي الفاظ نۀ استعمالوي بلكه د محبت او نرمۍ او خير خواهۍ الفاظ استعمال كړي۔

د دعوت مراحل

دعوت لاندے مرحلے لري۔

(١) كافران اسلام ته دعوت كړي او د هغوي شبهات دفعه او اعتراضونه ئے جواب كړي۔

(٢) د ګمراه ډلو (لكه معتزله او خوارج وغيره ؤ) د عقائدو اصلاح وكړي او د بدعتونو مخه ئے ونيسي۔ (٣) د مسلمانانو د معاصيو (ګناهونو) او جنايتونو مخنيوے وكړي او د شريعت په سمه لاره باندے ئے برابر كړي۔

(٤) ليونيان ورانكارئ ته پرينږدي او د دوائي غم ئے وكړي او هم ماشومان د بې ځايه ګرځيدو نه منع كړي او د تعليم او تربيت بندوبست ئے وكړي۔

(۵) د مستحباتو خودنه ورته وکړي او د مکروهاتو نه ئې منع کړي. (عزیز التفاسیر)

وَلَاتَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا

او مهٔ کیږئ تاسو په شان د هغه کسانو چه هغوی ډِله ډِله شول او اختلاف ئې وکړو

مِنْ بَعْدِ مَا جَآءَ هُمُ الْبَيِّنَاتُ وَأُولَـٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿۱۰۵﴾

پس د هغې نه چه راغلل دوی ته ښکاره دلیلونه او دغه کسان دوی دپاره عذاب لوی دے۔

تفسیر: اوس الله تعالیٰ بیا منع کوی د اختلافاتو نه۔

(۱) پدے آیت کریمه کی الله تعالیٰ مسلمانان د یهودو او نصاراؤ په شان په مختلفو ډلو کی د تقسیمیدلو نه منع کړیدی، چه هغوی د حق نه سرواړولو او د خپل نفس د خواهش تابعداری ئې اُوکړه او یو بل سره ئې حسد اُوکړو، تردے چه انبیاء کرام علیهم السلام ئې هم خپل مینځ کی تقسیم کړل، په دین کی ئې بدعت ته لاره ورکړه او دغه شان د حق خبرے د ښکاره دلائلو راتلو باوجود د هغوی په مینځ کی حسد او دشمنی او بغض او عناد پیدا شو، او د هغوی زړونه مختلف شو۔

امام فخر الدین رازیؒ ددے آیت په ضمن کی لیکی چه ((د دوی نه به هر یو دعویٰ کوله چه هغه په حق دے، او ددهٔ مخالف په باطل دے))۔ دے نه روستو لیکی چه ((که په انصاف سره سوچ اُوکړے شی نو وبه وینی چه ددے زمانے اکثر علماؤ کی هم دا صفت پیدا شویدے، الله تعالیٰ دِے مونږ معاف کړی او زمونږ په حال دِے رحم اُوکړی))۔

په سلفو علماؤ کی دا صفت نهٔ وو موجود۔ صحابه کرامؓ به د قرآن او سنت په رڼا کی فتوے ورکولے او که کله به د هغوی په مینځ کی په کومه مسئله کی اختلاف کیدونو د هغوی په زړونو کی به فرق نهٔ راتلو، د مسلمانانو په زړونو کی اختلاف د تقلید جامد او د فقهی مذاهبو د ړوند عصبیت نه روستو پیدا شو۔ د قرآن او سنت نه چه څومره وړاندے شو نو هغومره دے مرض جرړے اُونیولے او خبره د یو بل تکفیر او تضلیل ته اُورسیده۔ بعض غلط فهمو او په امت کی اختلاف ته لاره ورکونکو د ((اِخْتِلَافُ اُمَّتِیْ رَحْمَةٌ)) په شان ضعیف او موضوع حدیث نه مدد واخستو۔ ددے حدیث هیڅ صحیح سند نشته۔ دا طبرانیؒ او بیهقیؒ په (المدخل) کی د ابن عباس رضی الله عنهما نه په ضعیف سند سره مرفوعاً روایت کړیدے۔ ددے حدیث سند خو کمزورے دے، خو ددے نه علاوه د ډیرو قرآنی آیتونو او د صحیح احادیثو خلاف دے۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿وَلَا يَزَالُوْنَ مُخْتَلِفِيْنَ اِلَّا مَنْ

رَّحِمَ رَبُّكَ ﴾ (هود: ۱۱۸/ ۱۱۹) چه ((خلق به هميشه خپل مينځ كې اختلاف كوي سِوئ د هغه خلقو نه چه په چا باندې الله تعالیٰ رحم اُوكړو)). پدې آيت كې د اختلاف او د رحمت په مابين كې تباين اُوخودلې شو. او نبي كريم ﷺ فرمايلي دي : [وَلَا تَـخْتَلِفُوْا فَتَخْتَلِفَ قُلُوْبُكُمْ] يعني خپل مينځ كې اختلاف مۀ كوئ، كه نۀ وي نو ستاسو زړونه به مختلف شي. (مسلم: ۱۰۰۰ والبخاري).

او دارنګه مخكې حديث تير شو : (وَالْجَمَاعَةُ رَحْمَةٌ وَالْفُرْقَةُ عَذَابٌ) (صحيح الترغيب: ۹۷٦ باسناد حسن صحيح) جماعت (اتفاق) رحمت دې او فرقه واريت عذاب دې.

تَفَرَّقُوْا وَاخْتَلَفُوْا : دا كوم خلك مراد دي ؟ نو د احاديثو نه معلوميږي چه دوي يهود او نصارئ دي، په يهودو كې يو اويا ډلې او په نصاراؤ كې دوه اويا او زما په امت كې به درې اويا ډلې جوړيږي، چه دا ټول به په اُور كې وي سوئ د يوې ډلې نه چه روان دي په هغه دين او طريقه چه زۀ او زما صحابه (كرام) په كوم باندې روان دي. يعني اګركه زما امت د تفرقو او اختلافاتو نه منع شويدې ليكن بيا به هم دوي دا اختياروي او د (كُلُّهُمْ فِي النَّارِ إِلَّا وَاحِدَةً) مطلب دا دې چه ټول به اُور ته ځي بيا به د بعضو بدعت مُكَفِّرَه وي نو هميشه به په اُور كې وي او د بعضو به بدعت مُفَسِّقه وي نو بيا به د اُور نه څه وخت روستو راوځي.

او بيا عامو مفسرينو ليكلي دي چه (هُمُ الْمُبْتَدِعَةُ مِنْ هٰذِهِ الْأُمَّةِ) . دا ددې امت بدعتيان دي چه هغوي تفرقه او اختلافات پيدا كړيدي، ددې آيت خلاف اول هغوي كړيدې.

مِنْ بَعْدِ مَا جَآءَ هُمُ الْبَيِّنَاتُ : دا ورسره ځكه وائي چه يو تن د جهالت او ناپوهئ او خطائي په وجه د كتاب او سنت خلاف عقيده او نظريه ولري نو الله تعالیٰ ئې معاف كوي ځكه چه جاهل دې خو چه بينات راشي په حقانيت د اسلام او بيا هم بنده د هغې په خلاف عقيده او نظريه جوړوي نو دا تباه دې.

د تفرقوا واختلفوا فرق

ځيني علماء وائي چه دواړه يو شې دې او دويم تاكيد د اول دې. ظاهر دا ده چه دواړو كې فرق شته، تفرقه راځي په عبادت كې يعني د كتاب او سنت خلاف عبادتونه او عملونه جوړول، او اختلاف راځي په ديانت كې يعني عقيده د ځان نه جوړه كړي. (روح المعاني) يعني عملي او عقيدوي بدعاتو جوړولو نه منع وشوه.

(۲) فرق : تفرقه ديته وائي چه د كتاب او سنت خلاف عقيده او عمل جوړ كړې شي او اختلاف ديته وائي : (مُعَانَدَةُ الْحَقِّ) د حق سره ضد او عناد كول. صورت ئې دا دې چه يو تن

د کتاب او سنت خلاف عقیده او عمل جوړ کړي خو قرآن او سنت ته هم ښه ګوري او په هغې رد نۀ کوي نو دا هم مذموم دے۔ لیکن هغه شخص چه د قرآن او حدیث نه جوابونه کوي او خپلې ضعیفې خبرې ته ښه وائي نو دے شخص تفرقه هم وکړه او اختلاف ئې هم وکړو دا ډیر مذموم دے۔ او دا کار ډیرو متأخرینو کړیدے چه خپله یوه ضعیفه خبره راواخلي او د کتاب او د سنت نه جوابونه کوي، ددے نه مونږ او ټولو مسلمانانو له یره پکار ده بلکه کتاب او سنت ته تسلیمیدل پکار دي او خپله او د نورو علماؤ رایه چه کله د کتاب او سنت خلاف راشي هغه پریخودل لازم دي۔

د یوے غلط فهمئ ازاله

بیا تفرقه او اختلاف دین بیانولو ته نۀ وائي بلکه چه څوك د یو سنت طریقې خلاف کوي هغه تفرقې او اختلاف والا دے۔ او هغه څوك چه د قرآن او حدیث خلاف یوه عقیده او عمل راپیدا کړي او د کتاب او د سنت سره ضد کوي او د هغې په خلاف بغاوتونه او پروپیګنډے کوي دغه اختلاف والا دے۔

او پدے کې اجتهادي اختلاف نۀ دے داخل چه مثلًا یو مجتهد عالم ذهن په یوه مسئله کې یو طرفته لاړ شي او د بل عالم بل طرفته لاړ شي ځکه چه دا اختلاف د صحابه کرامؓ ترمینځ هم موجود وو ځکه چه الله تعالیٰ په ذهنونو کې تفاوت او فرق پیدا کړیدے مګر پدے کې به د هغه چا خبره منلې شي چه د کتاب او سنت سره ئې خبره برابره وي، آیت او حدیث پیش کړي او صحیح مطلب ترے واخلي۔ د زیاتي پوهے دپاره چه تفرقه او اختلاف ښه واضح شي یو مثال دوه واوره ✿ متاخرینو دا مسئله لیکلے ده چه د سړي او د ښځے دواړو د جنازے کولو په وخت به د هغوی سینے ته ودریږي نو دا خبره په هیڅ حدیث کې نشته بلکه یوه عقلي خبره ده، وائي چه په سینه کې ایمان پروت دے او دے ته مخامخ ودریدو کې د هغه د ایمان ګواهئ ورکول دي۔ بیا ورته حدیث رسیدلے دے چه نبی کریم ﷺ به په جنازه د سړي او ښځه کې فرق کولو چه د سړي سر ته او د ښځے شا ته حصے ته به برابر ودریدو لکه د انس بن مالك رضی الله عنه نه نقل دے نو د هغې نه جواب کوي چه نبی کریم ﷺ د ښځے شا طرفته ځکه ودریدو (لِأَنَّ الْجِنَازَةَ لَمْ تَكُنْ مَنْعُوْشَةً) چه جنازه باندے نعش نۀ وو نو نبی علیه السلام دغه ښځه د سړو نه پټه وله۔ لکه دا خبره صاحبِ هدایه لیکلے ده۔ نو وګوره د صحیح حدیث نه جواب کوي او خپله د ځانه جوړه شوے مسئله مضبوطوي،

دغه د اختلاف او تفرقے صورت دے۔ جواب خو هله کیږی چه هغه سره هم صحیح حدیث وی او د دواړو ترمینځ تعارض ورته ښکاره شی او دلته خو دے طرفته حدیث نشته صرف عقلی خبره ده۔ خو پدے باندے مشران علماء کرام گناهگار او ماخوذ نهٔ دی ځکه چه د هغوی ضد مطلب نهٔ وو بلکه کله به هغوی ته حدیث نهٔ وو رسیدلے نو اجتهادی مسئله کی به خطاء شو، البته هغه تن به ماخوذ وی چه حدیث ورته رسیدلے وی لیکن هغه د ځان نه اړوی او وائی چه زمونږ مذهب خراب نشی۔

دویم مثال: روستنی فقهاء وائی چه زنانه کله مړه شی نو د هغے به دوه کمځۍ جوړی شی او دواړه به د هغے په سینه واچولے شی پدے باره کی هیڅ صحیح حدیث نشته او ددے په مقابله کی په صحیحینو کی د ام عطیه رضی الله عنها صحیح حدیث راغلے دے هغه فرمائی: زینبه رضی الله عنها (د رسول الله ﷺ لور بی بی) چه کله وفات شوه نو مونږ د هغے درے کمځۍ جوړے کړے او شا ته مو گوزار کړے۔ نو دلته دا روستنی احناف وائی چه دا د اُم عطیه خپل عمل دے او هغه خو مجتهده نهٔ ده او نبی ﷺ ورته حکم نهٔ دے کړے۔ جواب دا دے چه ام عطیه ته نبی کریم ﷺ پدے موقعه حکمونه کړیدی او هغے هیڅ عمل د ځان نه نهٔ دے کړے بلکه نبی ﷺ ورته فرمایلی وو چه ما ته به وخت په وخت خبر راکوئ لکه دا خبره امام ابن حبانؒ په خپل ((صحیح)) کی ثابته کړیده (ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ أُمَّ عَطِيَّةَ إِنَّمَا مَشَطَتْ قُرُونَهَا بِأَمْرِ الْمُصْطَفٰى (ﷺ) لَامِنْ تِلْقَاءِ نَفْسِهَا) (۳۰۲/۷) حدیث رقم (۳۰۳۳)۔ یعنی اُمِ عطیه د هغے کمځی د رسول الله ﷺ په حکم گمنزل کړے وے نهٔ د خپل ځان نه۔

کله وائی چه په کلو (بانډو) کی د جُمعے مونځونه نهٔ کیږی او بعض پکی وائی چه په بانډو کی چه په کومو مساجدو کی د جُمعے مونځ شروع وی نو صحیح ده خو که نوے مسجد جوړ شو او په هغے کی ئے ځوك شروع كوی نو په هغے پابندی لگوی نو دا هم تفرقه او اختلاف پیدا کونکی دی ځکه چه دا مسئله د کتاب او د سنت خلاف ده چه تفصیل ئے زمونږ په کتاب (الحق الصریح شرح مشکاة المصابیح باب الجمعة) کی کتلے شئ۔

نو دا د تفرقے صورت دے چه خپل مذهب باندے ورسره حدیث نشته او د صحیح حدیث نه جوابونه کوی۔ او دا تفرقے معتزله، خوارج او جهمیه او ټولو باطل پرستو کړیدی، جهمیه ؤ د الله تعالیٰ د اسماء او صفاتو نه انکار وکړو، د ځان نه ئے مسئلے جوړے کړے نو

(تفرقوا) شو بیا به ئے د قرآن او حدیث نه جوابونه کول نو (واختلفوا) شو، عام اهل بدع دا کار کوی۔ د مؤمن سړی مذهب به صرف قرآن او حدیث وی نۀ بل څه۔ نو د تفرقے او اختلاف نه د خلاصیدو طریقه دا ده چه تنظیمونه او مذهبونه مۀ جوړوه او د کتاب او د صحیح سنت تابعداری شروع کړه، دغه به ستا مذهب وی او د ټولو علماؤ کرامو اکرام او احترام ساته او د هغوی نه فائده اخله او ځان پرے کتاب او سنت ته رسوه، دغه زمونږ دعوت دے، که څوك د کتاب او د سنت خلاف مسئله ولیکی که هر چا لیکلی وی دغه به زمونږ دین نۀ وی نو د هغے جواب کولو ته به ضرورت نۀ وی لکه ډیر مبتدعین اهل حدیثو ته وائی چه په عرف الجادی او نزل الابرار او دغسے نور کتابونه یادوی چه پدے کی فلانئ فلانئ غلطے مسئلے دی مونږ وایو چه په کتاب او سنت کی دے څوك غلطے مسئلے راویاسی مونږ د هغے ذمه واریو، نۀ د علماؤ د خبرو ځکه چه مونږ خو دغه کتابونو ته دعوت نۀ ورکوو، زما دعوت صفا کتاب او سنت طرفته دے۔

يَوۡمَ تَبۡيَضُّ وُجُوۡهٌ وَّتَسۡوَدُّ وُجُوۡهٌ فَأَمَّا الَّذِيۡنَ
په هغه ورځ چه سپین به شی بعض مخونه او تور به شی بعض مخونه پس هرچه هغه کسان دی
اسۡوَدَّتۡ وُجُوۡهُهُمۡ أَكَفَرۡتُمۡ بَعۡدَ إِيۡمَانِكُمۡ
چه تور شو مخونه د هغوی (ورته وئیلے به شی) آیا تاسو کفر کړے پس د ایمان ستاسو نه
فَذُوۡقُوا الۡعَذَابَ بِمَا كُنۡتُمۡ تَكۡفُرُوۡنَ﴿۱۰۶﴾ وَأَمَّا الَّذِيۡنَ ابۡيَضَّتۡ
نو وڅکئ عذاب په سبب د هغے چه تاسو کفر کولو۔ او هرچه هغه کسان دی چه سپین شو
وُجُوۡهُهُمۡ فَفِيۡ رَحۡمَةِ اللّٰهِ هُمۡ فِيۡهَا خَالِدُوۡنَ﴿۱۰۷﴾
مخونه د هغوی، نو په رحمت د الله کی به وی، دوی به په هغے کی همیشه وی۔

تفسیر : ربط : الله تعالیٰ د اختلاف او تفرقے نه منع وکړه نو اُوس وعید بیانوی چه اختلافات ځکه مه پیدا کوئ چه د قیامت ورځ راروانه ده، په هغے کی به مو مخونه تور شی۔ د الله تعالیٰ او د رسول الله ﷺ په خبره منلو کی د مخ سپین والے دے او ددے په مخالفت کی د مخ تور والے دے۔

يَوۡمَ : یعنی دا لوی عذاب به په هغه ورځ راښکاره شی چه بعض مخونه به تك سپین

شي او د بعض کسانو مخونه به د ډیر غم نه تك تور شي تهٔ به وائې چه توره تبئ ده.
تَبْيَضُّ وُجُوْهٌ : ددې ډیر مصداقات دی (۱) د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه نقل دی : (تَبْيَضُّ وُجُوْهُ أَهْلِ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ وَتَسْوَدُّ وُجُوْهُ أَهْلِ الْبِدْعَةِ وَالْفُرْقَةِ) (ابن کثیرؒ والقرطبی)
سپینیږی به مخونه د اهل سنتو (چه د کتاب او سنت تابعدار دی) او د جماعت (یعنی اتفاق) والو او توریږی به مخونه د بدعتیانو او اختلاف والو.
(۲) تَبْيَضُّ وُجُوْهُ أَهْلِ الْإِيْمَانِ وَتَسْوَدُّ وُجُوْهُ الْكُفَّارِ) . سپینیږی به مخونه د مؤمنانو او توریږی به مخونه د کافرانو (یهود او نصاراؤ او نورو کفارو) لکه روستو آیت نه خپله دا معنیٰ معلومیږی. (قاله ابی بن کعبؓ) - قرطبی والبغوی ۲/۸۷)
(۳) تَبْيَضُّ وُجُوْهُ أَهْلِ الطَّاعَةِ وَتَسْوَدُّ وُجُوْهُ الْعُصَاةِ.
د طاعت والا خلکو مخونه به سپینیږی او د نافرمانو مخونه به توریږی د هغوی د نافرمانئ مطابق، په قیامت کی به د چا سره د سپوږمئ په اندازه رڼا وی او د چا سره د بیتړی او د چا سره به د هغې نه هم کمه وی دا به د طاعت په اندازه وی.
د مخونو سپینیدل دا دی چه ویرقیږی او په خپل عملونو او د الله په ثواب او نعمتونو باندې خوشحاله شی، او توروالې ئې دا دې چه غمژن او مصیبت زده شی او د خپل عمل او د الله تعالیٰ د عذاب په وجه تور شی. پدې باندې دلیل بل آیت دې : ﴿لِلَّذِيْنَ أَحْسَنُوا الْحُسْنٰى وَزِيَادَةٌ وَلَا يَرْهَقُ وُجُوْهَهُمْ قَتَرٌ وَلَا ذِلَّةٌ﴾ (یونس :۲۶) (البغوی والقرطبی)
فَأَمَّا الَّذِيْنَ : دا لف نشر غیر مرتب دې اول ئې روستنی خلك ذکر کړل تور مخونو والا قریب وو نو ځکه د هغوی تذکره اول کوی. دارنګه دا قسم خلك زیات دی نو د دوی تذکره مخکې کوی.
أَكَفَرْتُمْ : د مخونو د توریدو سره سره به دوی ته توبیخ هم ورکولې شي او دا به د هغوی د شرمولو دپاره وئیلې شي چه تاسو هغه کسان یئ چه د ایمان نه روستو مو کفر وکړو؟.

د ایمان نه روستو کفر کولو څه مطلب ؟

دا کوم خلك دی چه د ایمان نه روستو ئې کفر کړیدې؟ (۱) نو ددې اول مصداق یهودیان دی چه دوی تورات او موسیٰ علیه السلام منلې وو، ایمان ئې راوړې وو لیکن کله چه آخری نبی صلی الله علیه وسلم راغلو نو دوی پرې کفر وکړو. او دغه شان نصاریٰ هم وو.(عکرمهؒ -قرطبی)
(۲) دویم په دوی کی منافقان هم داخل دی چه اول کی دوی ایمان راوړو او بیا ئې فسادونه

شروع کړل. (قاله الحسنؒ - ابن کثیر) (۳) مفسرین وائی پدے کی مشرکان هم داخلیږی چه دوی سره هم فطری ایمان وو لیکن هغه ئے ضائع کړو او د رسول الله ﷺ او د قرآن نه نه ئے انکار شروع کړو نو د فطری ایمان نه روستو ئے کفر اختیار کړو. یا دوی په ایمان باندے قادر وو چه هغه راوړی نو دا په منزله د ایمان شو لیکن دوی دغه قدرت په ایمان باندے ضائع کړو (والعیاذ بالله). (۳) مالك بن انسؒ فرمائی: دا آیت د اهل الاهواء. (خواهش پرستو) په باره کی دے. (٤) قتادةؒ وائی : دا د مرتدینو په باره کی دے. (قرطبی)

د آیت اشارات :

(۱) (اَلتَّفَرُّقُ وَالِاخْتِلَافُ سَبَبٌ لِلْكُفْرِ وَالِارْتِدَادِ). (تفرق او اختلاف پیدا کول سبب د کفر او مرتد کیدو دے) لکه دا روستو سورت انعام (۱۵۳) کی راځی : ﴿ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ ﴾. د الله تعالیٰ د لارے نه بغیر نورو لارو پسے مهٔ روانیږئ ګنے د صحیح لارے نه به واوړئ. او دا واقعی خبره ده چه د بدعت او خرافاتو په لاره څوك روان شویدے او نور مذهبونه او تعصبونه ئے پیدا کړیدی نو هغه په صحیح اسلام باندے نهٔ دے روان شوے او مونږ دا دعوے سره وایو او ددے مثالونه ښایو چه څوك په تقلیدِ جامد کی ننوتو نو د هغه نه به اویا فیصده دین پاتی کیږی، هغه پرے عمل نشی کولے، دا د ضد او د عناد خبره نهٔ ده بلکه پدے مونږ تجربه کړیده او په ډیر سوچ او سمجهـ سره ئے وایو، هر مسلمان دے ځانله پدے سوچ وکړی او د ځان خیر خواهی دِے وکړی.

ددے وجه نه علماء کرامؒ فرمائی : اکثر اهل بدع په وخت د مرګ کی بی ایمانه کیږی او خاتمه ئے خرابیږی، بدعت د خاتمے د خرابیدو لوی سبب دے.

(۲) او اشاره ده چه اتباع د سنت کی حسن الخاتمه ده. (۳) طاعت، سنت، وحدت نور پیدا کوی او معصیت، بدعت او اختلاف اسوداد (توروالے) پیدا کوی.

د الله تعالیٰ رحمت څه شے دے؟

فَفِيْ رَحْمَةِ اللهِ : د الله تعالیٰ د رحمت ډیر مصداقات دی (۱) اول مصداق ئے جنت دے او جنت ته ئے رحمت وویلو، ځکه چه دا د الله تعالیٰ په رحمت باندے حاصلیږی.

(۲) (فِيْ ظِلِّ الْعَرْشِ). د عرش د سوری د لاندے به وی، او بیا به جنت ته داخلیږی.

(۳) رحمة الله د الله تعالیٰ ضیافت (میلمستیا) ته هم وائی، یعنی دوی به د الله تعالیٰ میلمانه وی لکه بل آیت کی دی : ﴿ يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِيْنَ اِلَى الرَّحْمٰنِ وَفْدًا ﴾ (مریم: ۸۵).

په کومه ورځ چه مونږ به متقیان رحمٰن ذات ته راجمع کړو پداسې حال کې چه میلمانه به وی)

تِلْكَ آيَاتُ اللهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ
(دا چه تیر شو) آیتونه د الله تعالیٰ دی، لولو مونږ دے لره په تا باندې په حق سره
وَمَا اللهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِّلْعَالَمِينَ﴿١٠٨﴾
او نۀ دے الله چه وغواړی ظلم کول په مخلوقاتو۔

تفسير : پدے آیت کې د قرآن کریم حقانیت بیانوی او دا خبره بیانوی چه دا مخکنے وعید حق دے ځکه چه دا د الله تعالیٰ د طرفنه دے سره ددے نه چه الله تعالیٰ د ظلم نه بری دے او پدے آیت کې ضمناً د رسول الله ﷺ صدق (رشتینوالے) دے۔

یعنی اے پیغمبره ! دا څه چه مونږه په تا باندے په حق سره لولو دا د الله تعالیٰ آیتونه دی که مونږ دربانده ددے وحی نۀ وے کړے نو ته به څه خبر وے چه د قیامت په ورځ به د مخونو څه حال وی؟، نۀ به دے تور مخونه پیژندلے او نۀ سپین مخونه۔او دا څه چه په تا لوستلے کیږی نو دا د الله تعالیٰ خبرے دی، دا هسے وهمی او ګپ نۀ دے بلکه یقینی خبرے دی۔او د کافرانو او مرتدینو مخونه توریدل پدے وجه دی چه الله تعالیٰ په دوی باندے د دوی د بدو عملونو په وجه داسے حالت راوستے او دوی ددے مستحق دی ځکه چه الله تعالیٰ په هیڅ مخلوقاتو باندے د ظلم اراده هم نۀ لری۔

وَمَا اللهُ : دا جواب د سوال دے چه د بندګانو مخونه تورول خو ډیر زیات شرم دے او لویه تباهی ده نو الله تعالیٰ دا کار د بندګانو سره ولے کوی ؟ نو الله تعالیٰ جواب کوی چه الله تعالیٰ په بندګانو باندے اراده د ظلم هم نۀ کوی پاتے لا دا چه ظلم وکړی۔ نو پدے کې په نفی د ظلم باندے ډیره مبالغه پرته ده۔ نو دے خلکو په خپل ځانونو باندے ظلم وکړو ځکه چه د الله سبحانه په نافرمانئ کې دغه ظُلمتونه تړلے شویدی، بلکه الله تعالیٰ د بندګانو سره احسان وکړو چه بیان ئے ورته وکړو چه د ظلم کارونه مۀ کوئ ورنه سزا به در ورسیږی۔

د اهل السنة والجماعة عقیده دا ده چه الله تعالیٰ ظلم کولے شی (قادر دے پرے) لیکن کوی ئے نۀ، او د اشاعره او ماتریدیه ؤ عقیده دا ده چه الله تعالیٰ ظلم نشی کولے، په قدرت کې ئے نشته نو دا خبره د دوی ضعیفه ده ځکه چه کله د یو شی قدرت نۀ وی او د هغے

نفي وكړې شي نو دا كمال نۀ دے لكه ړوند پردو ښځو ته نۀ گوری نو دا كمال نۀ دے او چه په ليدو قادر وی او نۀ گوری نو دا كمال دے، پدے وجه الله تعالیٰ نفی د ظلم د خپل ځان نه كړيده او ظلم الله تعالیٰ نۀ كوی ځكه چه ظلم عيب دے او الله تعالیٰ د عيب كارونه نۀ كوی، دارنگه ظلم هغه څوك كوی چه قدرت ئے نۀ وی، عاجز وی، او چه كله قادر شی نو بيا د حد نه زياتے كوی نو د الله تعالیٰ ظلم ته حاجت نۀ راځی۔

وَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ
او خاص د الله دپاره هغه څه دی چه په آسمانونو كی دی او هغه څه چه په زمكه كی دی
وَإِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْأُمُوْرُ ﴿۱۰۹﴾
او خاص الله ته ورگرزولے شی ټول كارونه۔

تفسير : پدے كی د الله تعالیٰ ملوكيت او مالكيت بيانيږی چه ټول اختيارات د الله تعالیٰ دی۔ **مناسبت** ئے دا دے چه ټول كائنات د هغه دی نو پكار ده چه د هغه په دين عمل وكړے شی او د هغه په رسیٔ باندے منگولے ولگولے شی، مالك هغه دے نو قانون به د هغه منلے شی۔ (۲) دويم دا د نزدے (ظلم) سره لگی، فَفِيهِ بَيَانُ اتِّسَاعِ مُلْكِهٖ وَقُدْرَتِهٖ وَغِنَاهُ عَنِ الظُّلْمِ) يعنی د الله تعالیٰ بادشاهی فراخه ده او هغه قادر او د مخلوقاتو نه غنی (بی حاجته) دے نو د هغه ظلم ته حاجت نشته، ځكه ظلم خو عاجز انسان كوی۔

كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنْهَوْنَ
وئ تاسو غوره امت راويستلے شوی يئ دپاره د خلكو، امر به كوئ په نيكیٔ سره او منع به كوئ
عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ
د بدیٔ نه او ايمان به لرئ په الله باندے او كه چرته ايمان راوړے وے كتاب والو خامخا دا به
خَيْرًا لَّهُم مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُوْنَ ﴿۱۱۰﴾
غوره وه دوی لره، بعض د دوی نه مؤمنان دی او زيات د دوی نه نافرمان دی۔

تفسير : دا بيان دے د (وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ) دپاره مخكی ئے ووئيل چه په تاسو كی دے بعض كسان د نيكیٔ دعوت وكړی نو اُوس وائی چه هر امتی له د دين دعوت پكار دے۔ او دا اهل كتابو دوه ډلے بيانوی۔

یا مطلب دا دے چه اے مؤمنانو! تاسو به مخکنئ حکم (د تفرقه او اختلاف نهٔ کولو) ولے نهٔ عملی کوئ ځکه چه تاسو په ټولو امتونو کی د الله تعالیٰ په نیز غوره امت یئ، د انبیاؤ علیهم السلام کار تاسو ته سپارل شویدے چه هغه خلکو لره نیکیو ته رابلل او د بدیو نه منع کول دی نو تاسو د انبیاؤ علیهم السلام جانشین یئ نو ستاسو اختلافاتو پیدا کولو ته ضرورت نشته بلکه تاسو به اختلاف او تفرقه ختموئ۔

امام احمدؒ، ترمذیؒ او حاکمؒ د معاویه بن حیده ﷺ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل : (اِنَّكُمْ تُتِمُّوْنَ سَبْعِيْنَ أُمَّةً، أَنْتُمْ خَيْرُهَا وَأَكْرَمُهَا عَلَى اللّٰهِ) (ترمذی بسند حسن- البانی)

اے مسلمانانو! تاسو اویا امتونه پوره کوئ (یعنی تاسو نه نهه شپیته (٦٩) امتونه مخکی تیر شویدی) تاسو د هغوی نه غوره او د الله په نیز د هغوی نه زیات عزتمند یئ۔

كُنْتُمْ : أَيْ كُنْتُمْ فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ۔ یعنی تاسو مخکی نه د الله تعالیٰ په علم کی غوره امت وئ۔ یا كُنْتُمْ په معنیٰ د (أَنْتُمْ) سره دے۔ یعنی تاسو غوره امت یئ۔ اول قول ظاهر دے۔

أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ : اخراج راویستلو ته وائی او ددے معنیٰ د پیدائش ده یعنی تاسو دنیا ته راویستلے شوی یئ (پیدا کړے شوی یئ) او دا مطلب نهٔ دے چه بنده به خامخا د کور نه وځی هله به د دین دعوت کیږی۔

رسول الله ﷺ ددے تفسیر داسے کړیدے : [أَنْتُمْ خَيْرُ النَّاسِ لِلنَّاسِ تَأْتُوْنَ بِهِمْ فِي السَّلَاسِلِ فِيْ أَعْنَاقِهِمْ حَتّٰى يَدْخُلُوْا فِي الْإِسْلَامِ]۔ (بخاری : ٤٥٥٨ و ٣٠١٠)

یعنی تاسو د خلکو (کافرانو) دپاره غوره یئ چه هغوی په زنځیرونو کی راولئ او بیا ئے په اسلام کی داخل کړئ) ځکه چه ډیر کافران نیولے شویدی بیا ئے د مسلمانانو اعمالو لیدلو سره اسلام قبول کړیدے۔ نو دا مسلمانان ددے کافرانو دپاره غوره شو او سبب د رحمت شو چه د دوی په وجه په اسلام کی داخل شول۔ نو دا آیت د قتال فی سبیل الله سره ولګیدو۔

دویم مصداق ئے دا هم دے چه خلکو سره ښیګړه دا ده چه د نیکئ دعوت ورکړی او د بدئ نه ئے منع کړی، ددے وجه نه علماء کرامؒ فرمائی: غوره هدیه چه یو سړے ئے خپل مسلمان ورور ته ورکوی هغه د حق کلمه ده چه هغه ته ئے بیانه کړی۔

فوائد : (١) (كُنْتُمْ خَيْرُ أُمَّةٍ) نه معلومیږی چه په امت کی هر استعداد والا کسانو دپاره پکار دی چه د نیکئ حکم وکړی او د بدئ نه منع وکړی دے دپاره چه په خیریت کی داخل شی۔ لکه روستو د عمر فاروق ﷺ قول راځی۔ (٢) دلته ئے امر بالمعروف او نهی عن

المنکر د ایمان نه مخکې ذکر کړیدې ددې بعض خلك دا فائده وائي چه ایمان په ټولو امتونو فرض وو او امر بالمعروف الخ ددې امت خصوصیت دې مګر دا خبره خطاء ده ځکه چه امر بالمعروف او نهي عن المنکر په پخوانو هم لازم وو، قرآن کریم کې ئې ځاې په ځاې په هغوی باندې ردونه کړیدي چه هغوی نهي عن المنکر پریخوستې وو فرمائي: ﴿لَوُ لَايَنُهَاهُمُ الرَّبَّانِيُّوُنَ وَالۡاَحۡبَارُ عَنۡ قَوۡلِهِمُ الۡاِثۡمَ وَاَكۡلِهِمُ السُّحۡتَ﴾ المائده: ٦٣) ﴿فَلَوۡلَا كَانَ مِنَ الۡقُرُوۡنِ مِنۡ قَبۡلِكُمۡ اُولُوۡا بَقِيَّةٍ يَّنۡهَوۡنَ عَنِ الۡفَسَادِ فِي الۡاَرۡضِ﴾ (هود:١١٦).

(٢) نو ښه وجه دا ده چه امر بالمعروف او نهي عن المنکر د ایمان د زیاتوالي سبب دې نو سبب ئې مخکې ذکر کړیدې. (٣) دریمه وجه دا ده چه ایمان بنیاد دې یعنې دغه امر بالمعروف او نهي عن المنکر به د ایمان په بنیاد وي نو مطلب به دا وي چه زما په الله تعالیٰ ایمان دې ځکه تا ته په نیکئ دعوت درکوم او ګناه بده ګڼړم. ځکه که چرته ایمان نۀ وي نو امر بالمعروف ورته فائده نۀ ورکوي. (٤) څلورمه وجه: د امر بالمعروف او نهي عن المنکر صفت د ټولو انسانانو په عرف کې ښه صفت دې مؤمنان وي که کافران، چا کې چه دا صفت وي هغه ورته غوره ښکاري او هرکله چه دلته خبره ددې امت د خیریت (غوره والي) بیانیدله په ټولو امتونو باندې نو هغه صفت ئې مخکې ذکر کړو کوم چه اتفاقي غوره دې د مؤمنانو او کافرانو په نیز. (قاله استاذ صاحب المنار) (٥) صاحب المنار وائي: زما په نیز متبادر دا ده چه امر او نهي ئې مقدم کړل پدې کې تعریض دې په اهل کتابو چه هغوی د ایمان دعوه کوي لیکن دوی په دعوه د قیام د امر بالمعروف او نهي عن المنکر باندې قادر نۀ دي ځکه چه دوی به خپل مینځ کې یو بل د منکراتو نه نۀ منع کول نو ګویا که دوی په دعوه د امر بالمعروف او نهي عن المنکر کې د مؤمنانو سره نۀ دي شریك، نو ایمان ئې روستو ذکر کړو د کوم چه دوی دعوه لرله دې دپاره چه دا خبره پرې مرتبه کړي چه د دوی دا ایمان صحیح نۀ دې ځکه چه دې د ایمان صحیح ثمره نۀ ده راوړې. ددې وجه نه ئې روستو وفرمایل: ((که اهل کتابو صحیح ایمان راوړې وې نو دا به ورله بهتره وې))آه.

فائده: سیدنا عمر فاروق ﷺ به پدې آیت کې فرمایل:

(مَنۡ سَرَّهٗ اَنۡ يَّكُوۡنَ مِنۡ خَيۡرِ اُمَّةٍ لِلنَّاسِ فَلۡيُؤَدِّ شَرۡطَ اللّٰهِ مِنۡهَا) (رواه ابن جریر).

که څوك پدې خوشحالیږي چه دې د غوره امت نه حساب شي نو د الله تعالیٰ شرط دې د امت نه ادا کړي هغه دا چه په نیکئ دې حکم کوي او د بدئ نه دې منع کوي. نو کوم خلك چه په خپلو دکانونو او کاروبارونو بوخت دي او هغوی سره د نیکئ د حکم او د بدئ

نه د منع کولو۔ هیڅ پرواه نهٔ وی او شرك او قسما قسم گناهونه کیږی او د هغه په زړه کی هیڅ درد نهٔ وی نو دا د غوره امت نه نشی گرزیدلے۔

﴿وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ﴾ : پدے کی ترغیب دے چه دے غوره امت کی هر څوك داخلیدے شي، پدے دین کی تعصب نشته، او د مدعوینو (اهل کتابو) دوه ډلے بیانیږی، یعنی که اهل کتابو ایمان راوړے وے نو دا به دوی له ډیره غوره وے څکه چه په غوره امت کی به داخل شوی وے نو الله تعالیٰ ددوی خیر خواهی کوی چه راشئ او په صحیح معنو سره دا آخری نبی ومنئ او پدے کتاب باندے ایمان راوړئ او دا فرصت او موقعه د لاس نه ونهٔ باسئ، خو افسوس دا دے چه دوی کی مؤمنان ډیر کم دی چه په خپل کتاب ایمان راوړی او د هغے په سبب بیا په قرآن کریم هم ایمان راوړی او اکثرئے فاسقان دی ضد کوی، نو دلته وقف دے چه ټول کافر دی نو الله تعالیٰ فرمائی چه بعض پکی مؤمنان هم شته لیکن اکثر ئے نافرمان دی۔

لَنْ يَضُرُّوكُمْ إِلَّا أَذًى وَإِنْ يُّقَاتِلُوكُمْ
هیڅرے ضرر نشي درکولے تاسو ته مګر ضرر د ژبې او که چرته جنګ کوی دوی تاسو سره
يُوَلُّوكُمُ الْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿۱۱۱﴾
نو راوابه ړوی تاسو ته شاګانے بیا به د دوی سره هیڅ مدد نشی کیدے۔

تفسیر : اوس دا اهل کتابو فاسقانو حال بیانوی او ددے ځای نه د دوی لس بد صفات بیانیږی، او ددے په بیانولو کی فوائد دی (۱) یو دا چه (مَعْرِفَةُ الْمَدْعُوِيْن) چه تهٔ چا ته دعوت ورکوے نو د هغوی حال وپیژنه، ضدی او غیر ضدی وپیژنه چه د هغے مناسب دعوت ورکړے شي او د هغوی شبهات په ډیر ښائسته انداز سره او په الزامی ردونو سره وکړے شي۔ (۲) دویمه فائده دا ده چه پدے کی دے غوره امت ته تسلی ورکړے شویده چه ستاسو دشمنان شته خو الله تعالیٰ به تاسو ته په هغوی باندے فتح او نصرت درکوی۔

(۳) دریم : معرفة العدو۔ خپل دشمنان وپیژنئ چه د دین نه مو وانهٔ ړوی۔

(٤) څلورم : عَدَمُ الْخَوْفِ مِنَ الْأَعْدَاءِ۔ د دوی نه یره مهٔ کوئ څکه چه دا ملحد او کافر اهل کتاب (یهودیان) تاسو ته به هیڅ ضرر درنکړی مګر صرف د خولے ردے بدے به وائی او که د دوی ستاسو سره جنګ راشی نو شا به راړوی او تیخته به کوی او همدغسے اُوشوه، د

خیبر په ورځ الله تعالیٰ یهودیان رسوا کړل او په مدینه کی هم رسوا شول او د شام د نصرانیانو خو صحابه کرامؓ ملا ماته کړه۔ د هغوی ملك او حکومت همیشه دپاره د هغوی د لاس نه اُووتلو او د الله تعالیٰ په حکم سره اُوس په شام کی د مسلمانانو غلبه ده او آینده به هم وی، تردے چه قیامت ته نزدے به هلته عیسیٰ بن مریم علیه السلام راکوزیږی او شریعت محمدی به نافذ کوی۔

لَنۡ یَضُرُّوۡکُمۡ اِلَّاۤ اَذًی : اذی دلته د خولے ردو بدو ته وائی۔

یُوَلُّوۡکُمُ الۡاَدۡبَارَ : یعنی شاگانی به راړوی او شکست به خوری او تیښته به کوی۔

ثُمَّ لَا یُنۡصَرُوۡنَ : کلمه د (ثم) د تراخی فی المرتبه دپاره استعمال ده یعنی الله تعالیٰ چه د دوی د خذلان او د مدد نۀ کولو خبر ورکړو دا په دوی باندے ددے نه ډیر زیات سخت لگی چه د دوی په باره کی وویل شی چه دوی به تاسو ته شاگانی راړوی۔ ځکه چه د شاگانو راړولو خبره د جنگ پورے بنده ده او د نۀ مدد وعده همیشه دپاره ده۔ او دا ترقی د ادنی نه اعلیٰ ته ده ځکه چه اول کی ئے وویل چه ستاسو د مقابلے د ټینگے نۀ دی بیا وائی چه هیڅکله به دوی فتح ونۀ مومی همیشه به دوی په هر ځای کی ناکام وی۔ نو دا د مخکنی نه لوی احسان شو۔ (القاسمی)

نو د دوی لس بد صفات دا دی : (۱) فاسقان دی (۱) الا اذی– د خولے ردی بدی به وائی او غلطے پروپیگنڈے به کوی۔ (۳) وان یقاتلوکم۔ الجبن (بزدله دی)۔ (٤) لا ینصرون۔ د الله د طرفنه منصورین نۀ دی۔ یعنی دوی د الله تعالیٰ د نصرت او مدد نه محروم دی پدے وجه چه د الله تعالیٰ سخت دشمنان دی۔

(٥) په دوی ذلت وهل شویدے۔ ذلیلان دی۔ (٦) وضربت علیهم المسکنة۔ دوی د ډیر حرص په وجه ځانونه محتاج ښکاره کوی او د قناعت د مزو نه محروم دی۔ (٧) کفر بآیات الله کوی۔ (٨) قتل الانبیاء کوی۔ (٩) عصیان (هر قسم نافرمانی کوی) (١٠) د الله تعالیٰ د حدودو نه تیروتل د دوی لازمی صفت دے۔ او که (بغضب من الله) ورسره ملگرے کړی چه دوی مغضوب علیهم دی نو بیا به یولس بد صفات شی۔

ضُرِبَتۡ عَلَیۡهِمُ الذِّلَّةُ اَیۡنَ مَا ثُقِفُوۡۤا اِلَّا
وهلے شویدے په دوی باندے ذلت هرځای چه دوی وموندلے شی مگر (چه منگولے ولگوی)
بِحَبۡلٍ مِّنَ اللّٰهِ وَحَبۡلٍ مِّنَ النَّاسِ وَبَآءُوۡ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَضُرِبَتۡ

په رسۍ د الله باندې او په رسۍ د خلکو او اخته شویدي دوی په غضب د طرفه د الله نه او وهلې شویده
عَلَيۡهِمُ الۡمَسۡكَنَةُ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمۡ كَانُوۡا يَكۡفُرُوۡنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقۡتُلُوۡنَ الۡاَنۡۢبِيَآءَ
په دوی باندې خواري، دا په دې وجه چه یقیناً دوی به کفر کولو په آیتونو د الله او وژل به ئې پیغمبران
بِغَيۡرِ حَقٍّ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوۡا وَّكَانُوۡا يَعۡتَدُوۡنَ ﴿۱۱۲﴾
په ناحقه دا په دې وجه چه دوی نافرماني کوله او وو دوی چه د حد نه به ئې تیروتل کول۔

تفسیر : الله تعالیٰ ذلت او رسوائي د یهودیانو قسمت جوړ کړیدې، دوی چه چرته او په کومه زمانه کې هم وي ذلیل او رسوا به اُوسیږي او بې امنه به وي او، دوی به وهلې کیږي او مالونه به ئې تالا کیږي او دوی به قیدیان کیږي او تاریخ شاهد دې چه د دنیا په هره حصه او هره زمانه کې دوی ته احترام او عزت په نصیب شوې نۀ دې۔ دوی ته عارضي سکون او آرام صرف د دوو نه په یو صورت کې ملاویږي یا خو به جزیه ورکولو سره د ذمي کیدو په طریقه ژوند تیروي یا به د یو لوئي غیر اسلامي طاقتور حکومت پشت پناهي حاصلوي لکه چه نن صبا په فلسطین کې د یهودیانو حکومت د امریکا، برطانیه، روس او فرانس او نورو حکومتونو په شا باندې او د هغوي په مدد سره قائم دې۔

شیخ لقمان السلفیؒ په خپل تفسیر کې لیکي : اُوسني حال کې د مشهور نوي مسلمان مفکر رجا جارودي بیان شائع شویدې چه که امریکه خپل لاس راخکاږي نو د اسرائیلو حکومت د عربو مسلمانانو مخې ته خلیریشت گینټو نه زیات نشي ټینګیدې۔ د دوی ذلت او رسوائي ددې نه زیاته بله کومه کیدې شي چه فلسطیني مسلمان بچي په کاڼرو ویشتلو سره د هغوي ژوند تنګ کړیدې۔ (تیسیر الرحمن)

اِلَّا بِحَبۡلٍ مِّنَ اللّٰهِ وَحَبۡلٍ مِّنَ النَّاسِ : اَیۡ اِلَّا اَنۡ یَّعۡتَصِمُوۡا ۔ د ذلت نه به په دې طریقې سره بچ کیږي چه د الله تعالیٰ په رسۍ او د خلکو په عهد او لوظ منګولې ولګوي یا څه عارضي امن به دوی ته هله ملاویږي چه دا دوه کارونه وکړي یو دا چه د الله تعالیٰ په رسۍ (قرآن) منګولې ولګوي یعني ایمان راوړي نو بیا به ترې بالکلیه ذلت ختم شي۔

وَحَبۡلٍ مِّنَ النَّاسِ :

ددې دوه مصداقه دي (۱) یو اتباع الجماعة۔ یعني چه دوی د مسلمانانو د خلافت او اجتماعیت تابعدار شي او مسلمانانو کې داخل شي۔ نو بیا سوال دا دې چه کله یو تن د

الله پـه رسئ منګولے ولګوی (مسلمان شی) نو هغه په مسلمانانو کی داخل شو نو دوباره (حبـل مـن الـنـاس) ولے ذکـر کـوی؟ جـواب دا دے چه کله نا کله یو تن مسلمان شی لیکن بـاغـی وی د مسـلـمـانانو د خلافت نه بغاوت کوی نو بیا به هم ذلیله وی۔ پدے وجه ئے دوه قیـدونـه ولګول چه یو په قرآن منګولے ولګوی او بل د مسلمانانو په جماعت کی ورداخل شی او بغاوت نهٔ کوی۔

(۲) دویـم : حبـل مـن الـنـاس : نـه مـراد عـهـد او امان د نورو خلکو دے یعنی د مؤمنانو یا کـافـرانـو نـه امـان واخـلی۔ یا د هغوی اجتماعیت مراد دے یعنی یهودی که ایمان راوړی د ذلت نـه بـه بـچ وی یـا دا چه په عارضی توګه به د ذلت نه پدے طریقه بچ کیږی چه د نورو کـافـرانـو او د غـتـو مـلـکـونو په اجتماعیت کی ورننوزی او د هغوی پوړے ځان وتړی نو د هـغـوی په واسطه به د ظاهری ذلت نه بچ شی، ځوك به ئے نهٔ وژنی او نهٔ به ئے مال تالا کوی څـه د امـن شپے به تیری کړی لکه امریکایانو چه یهودیان په خپل څنګ کی نیولی دی او نظامی، سیاسی او اقتصادی مددونه ورسره کوی۔

الْـمَسْكَنَةُ : خـواری او مـحـتـاجـی او فـقـر او فـقـیـری۔ یـعـنی زړونه به ئے خوار وی اګرکه ظـاهـری مـال بـه هـم ورسره وی۔ یا دا چه دوی کی سرمایه دارانه نظام دے، یو څو کسان به پکی مالداره وی نور عوام به خوار غریبانان وی۔

ذٰلِكَ : یـعـنـی دا مسـکـنـة او ذلت او غضب درے واړه پدے وجه دی چه دوی د الله تعالیٰ په آیتونو همیشه دپاره کفر کولو د وجه د تکبر او سرکشئ نه۔

ذلك : یـعـنـی دا کفر بآیات الله او قتل الانبیاء پدے وجه دی چه دوی نافرمانی کوله۔ ځکه چـه یـو ګناه سرے بل ته راکاږی نو اول ئے ګناهونه او اعتداء شروع کړه بیا قاتلان شو بیا ئے د الله تعالیٰ په آیتونو کفر وکړو۔

بِمَا عَصَوْا : عـصـیـان پـه ګناهونو کی استعمالیږی او اعتداء په بدعاتو کی، او اعـتـداء د الله تـعـالـیٰ د حـدودو نـه تـیـروتـو تـه وائـی۔ یا عصیان هغه دے چه لږ او ډیر ټول حرام وی او اعتداء د یو شی اصل جائز وی لیکن زیاتے پکی حرام وی۔

لَيْسُوْا سَوَآءً مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ أُمَّةٌ قَآئِمَةٌ يَّتْلُوْنَ آيَاتِ
نهٔ دی دوی ټول برابر، بعض د اهل کتابونه یوه ډله ده چه ولاړه ده (په دین) لولی آیتونه
اللهِ آنَآءَ الَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُوْنَ ﴿۱۱۳﴾ يُؤْمِنُوْنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ

د الله تعالىٰ په وختونو د شپه کې او دوی سجدې کوی۔ ایمان لری په الله او په ورځ
الآخِرِ وَيَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُسَارِعُوْنَ فِي الْخَيْرَاتِ
روستنۍ، او حکم کوی په نیکۍ او منع کوی د بدۍ نه، او جلتی کوی په نیکیو کې
وَاُولٰٓئِكَ مِنَ الصَّالِحِيْنَ ﴿۱۱۴﴾ وَمَا يَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ
او دا کسان د نیکانو نه دی۔ او هغه چه دوی ئې کوی د نیك عمل نه
فَلَنْ يُّكْفَرُوْهُ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ بِالْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۱۵﴾
نو هیچرې به محرومه نشی د ثواب د هغې نه او الله پوهه دے په متقیانو باندے۔

تفسیر : اُوس د اهل کتابونو د نیکانو حال بیانوی چه دا ټول په گناهونو او کفر کې سره برابر نهٔ دی بلکه دوی کې نیکان او ایمان والا خلك هم موجود دی۔

شان نزول

د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه کله عبد الله بن سلام ﷺ او د هغه بعض ملگرو (اَسَد بن عُبَيْد، ثَعْلَبَه بن سَعْيَه او اُسَيْد بن سَعْيَه) ایمان راوړو او یهودیت ئې پریښودو نو د دوی مشرانو او ملیانو وربورې پروپیگنډې شروع کړې چه دوی ډیر بد خلك دی، د خپلو پلرونو دین ئې پریښودو او په قرآن کریم باندے ئې ایمان راوړو نو الله تعالیٰ دغه آیتونه نازل کړل۔ (الدر المنثور۲/۲۹۶ وابن کثیر۲/۱۰۵) یعنی دوی نیکان خلك دی او تاسو بد عمله یئ چه سره د علم نه په خپل جهل باندے کلك یئ او اسلام نهٔ قبلوئ۔

دا کسان بنی هدل وو او د بنو قریظه او بنو نضیرو د ترونو ځامن وو په کومه شپه چه بنو قریظه د رسول الله ﷺ په فیصله راکوزیدل نو دوی په دغه شپه اسلام راوړو۔ (الروض الانف۳/۴۴۲)

اُمَّةٌ قَآئِمَةٌ : (۱) اَیْ مُسْتَقِیْمَةٌ ۔ یعنی استقامت والا دی، په نیغه لاره روان دی، د نورو یهودیانو په شان کاږه نهٔ دی۔

(۲) مُسْتَقِیْمَةٌ عَلَى الْحَقِّ۔ په دین او حق باندے مضبوط ولاړ دی۔

(۳) قَائِمَةٌ فِي الصَّلَاةِ۔ په مانځه باندے ولاړ دی۔ ددے خلکو نه عبد الله بن سلام ﷺ او د هغه په شان بعض نورو کسانو ایمان راوړے وو۔

(۴) قَائِمَةٌ بِأَمْرِ اللّٰهِ، مُطِیْعَةٌ لِشَرْعِهٖ، مُتَّبِعَةٌ نَبِیَّ اللّٰهِ) ولاړ دی د الله تعالیٰ په دین، تابعدار دی د

هغه د شریعت، تابعدار دی د الله تعالیٰ د نبی ﷺ) (ابن کثیر) دا ټول اقوال صحیح دی۔
یَتْلُوْنَ آیَاتِ اللهِ : د تلاوت نه دے یا د تِلُو نه دے تابعدارئ ته وائی، اول قول ظاهر دے۔
د شپے په مانځه کی اُوږد قراءت کول او اُوږده سجده کول بهتر عمل دے پدے وجه ئے دا دواړه حالتونه جدا جدا ذکر کړل۔ لکه الله تعالیٰ د مؤمنانو په صفت کی فرمائی :
﴿ وَالَّذِیْنَ یَبِیْتُوْنَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَّقِیَامًا﴾ (الفرقان/٦٤) ۔ او دغه مؤمنان هغه کسان دی چه شپه تیره وی پداسے حال کی چه سجدے لګوی الله تعالیٰ ته او هغه ته ولاړ وی)۔
آنَآءَ اللَّیْلِ : جمع د اِنْیٌ ده لکه نِحْیٌ او اَنْحَاء یا جمع د اِناً ده لکه مِعًی او اَمْعَاء۔ اوقات او ساعاتو ته وائی۔ یعنی دا خلك مونځونه کوی او د شپے مونځونه اوږده کوی او د الله تعالیٰ کتاب لولی او هغه ته په رکوع او سجده سره عاجزی کوی، نو دوی چه څه عمل کوی د هغے اجر به ورته الله تعالیٰ ضرور ورکوی۔
یُؤْمِنُوْنَ : یعنی د مؤمنانو په شان دوی هم ایمان لری په الله تعالیٰ او په ورځ د آخرت۔ او په الله تعالیٰ چه ایمان راوړی نو ټول هغه څه هم منی چه الله تعالیٰ په هغے باندے ایمان لازم کړیدے او آخرت ئے ذکر کړو ځکه چه دا مؤمن تیزوی په کولو د هغه کارونو چه الله تعالیٰ ته ئے نزدے کوی۔ ایمان یو معنوی شے دے پدے وجه ئے ظاهری اعمال ترے مخکی ذکر کړل ځکه چه په اعمالو سره مؤمن معلومیږی۔
وَیَأْمُرُوْنَ : یعنی دے خلکو په ایمان سره خپل ځان کامل کړو نو بیا د نورو خلکو خیر خواه هم دی چه د هغوی د کامل کیدو کوشش هم کوی نو په نیکئ باندے حکم کوی الخ۔
وَیُسَارِعُوْنَ : پدے کی د دوی لوی همتونه ذکر کوی چه دا هغه اُوچت همت والا خلك دے چه هر قسم نیکئ ته د یو بل نه ځان مخکی کوی او هره نیکی په خپله موقعه باندے کوی او د خیر د کارونو سره ئے سخته مینه ده او د هغے فوائد ورته معلوم دی۔
مسارعه : جلتی کولو ته وائی، باب مفاعله ده، د یو بل نه مخکی کیدل، بیا مسارعه تَقْدِیْمُ الْاَهَمِّ فَالْاَهَمِّ ته وائی یعنی ضروری شے مخکی کول او غیر ضروری روستو کول۔ ددے وجه نه د مسارعے دپاره علم ته ضرورت دے چه د اعمالو مرتبے به پیژنی چه دا عمل ډیر مهم دے او دا کم او ددے وخت دے او ددے وخت نۀ دے نو مسارعه فی الخیرات ممکن نۀ ده مګر په علم سره، نیکئ پیژندل، بیا د هغے اوقات پیژندل بیا زړه ژوندے وی د هغه نیکو پسے منډے وهی نو علم او حیاتِ قلبی د مسارعه فی الخیرات دپاره ضروری دی۔

فِي الْخَيْرَاتِ : جمع د خَيْرَةٌ ده هـر نيك كـار ته وائي۔ او دا مسارعه صفت د انبياؤ عليهم السلام هم دے ﴿ اِنَّهُـمْ كَانُوْا يُسَارِعُوْنَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُوْنَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا﴾ (انبياء : ٩٠) او د هر مؤمن صفت به وي۔

مِنَ الصَّالِحِيْنَ : يعـنـي ددے ښائسته صفاتو په وجه به الله تعالىٰ دوی لره په نيکانو کې داخـل کـړي۔ او د الله تـعـالـىٰ پـه نيز بانديے ددے کسانو احوال صحيح دی او دوی د هغه د رضا مستحق دي۔

فَلَنْ يُّكْفَرُوْهُ : كـفـر نـاشكرئ او انكار ته وائي يعني دوی نه به انكار نشي كيدے او د دوی ناشكري به نشي كيدے، يعنی الله تعالىٰ ددۀ شكر كوی او د الله تعالىٰ شكر دا دے چه جزاء وركوی او پـه لږ عمل ډيره بدله وركوی۔ دلتـه ئے معنىٰ ده (اَیْ فَلَنْ يُّحْرَمُوْا ثَوَابَهٗ)۔ يعنی دوی به د هغه عمل د ثواب نه نشي محرومولے۔

فائده وحكمة : (فلن يكفروه) نه دا فائده معلوميږي چه د قرآن كريم په ډيرو آيتونو كې راغـي چـه الله تـعـالـىٰ د مـؤمـن عمل نۀ بربادوي، ضرور بدله وركوی نو دے سره د الله تـعالىٰ محبت پيدا شي او نيكئ كې رغبت پيدا شي لكه الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ فَاسْتَجَابَ لَهُـمْ رَبُّهُـمْ اَنِّـیْ لَا اُضِيْعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنْكُمْ﴾ (آلعمران: ١٩٥) وقوله : ﴿ وَاَنَّ اللّٰهَ لَايُضِيْعُ اَجْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ (آلعمران:١٧١) وقـوله ﴿ اِنَّا لَا نُضِيْعُ اَجْرَ مَنْ اَحْسَنَ عَمَلًا﴾ (الكهف:٣٠) وقوله ﴿ فَلَا كُـفْرَانَ لِسَعْيِهٖ﴾ (انبياء : ٩٤) وقوله ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَايُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ﴾ (التوبة : ١٢٠) ﴿ اِنَّا لَانُضِيْعُ اَجْرَ الْمُصْلِحِيْنَ ﴾ (اعراف : ١٧٠)

متـكـلـمـيـن وائـي چـه بـنـده بـه عـمـل وكړي او هيڅ اجر به ورنكړي، صرف د الله تعالىٰ مشيـئـت دے چه هغه څه غواړي هغه كوی، كه څوك د اجر نه محروموی او كه نۀ نو د الله تعالىٰ سره د خلكو بغض پيدا كوی۔ انظر الفوائد (١)

ددے مـؤمـنـانـو لـس صـفـتـونـه دا دی : (١) قائمة (٢) يتلون آيات الله (٣) يسجدون۔ (٤) ايمان بالله۔ (٥) ايمان باليوم الآخر۔ (٦) امر بالمعروف او نهی عن المنكر۔ (٧) مسارعه فی الخيرات۔ (٩) من الصالحين (١٠) المتقين۔ يا ايمان بالله واليوم الآخر يو صفت شمار كړه نو لسم به دا شي چه مسارعه كې يو علم ضروري وی او بل حياتِ قلبي۔

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ وَلَا اَوْلَادُهُمْ
يقيناً هغه كسان چه كفرئے كړيدے هيڅرے به دفع نكړي د دوی نه مالونه د دوی او نۀ اولاد د دوی

مِّنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا وَأُولٰٓئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُوْنَ ﴿۱۱۶﴾
د عذاب د الله نه هیڅ شے او دغه کسان خاوندان د اُور دی دوی به په هغے کی همیشه وی۔

تفسیر : پدے آیت کی الله تعالیٰ کافرو اهل کتابو او نورو کافرانو ته د آخرت تخویف بیانوی او دا دفع د وَهُم ده چه دے کافرانو سره خو ډیر مالونه او اولاد دی نو دوی باندے څنګه ذلت او مسکنت راځی؟ نو الله تعالیٰ فرمائی : دا مالونه او اولاد دوی لره د الله تعالیٰ د عذاب نه نشی بچ کولے بلکه سیده به اُور ته روان وی۔ نو که یو سړے اُور ته روان دے نو د هغه د مال او اولاد نه متأثر کیدل نهٔ دی پکار نو پدے آیت کی الله تعالیٰ ذهن سازی دوه قسمه کړیده۔ یو عَدَمُ التَّأَثُّرِ مِنَ الْكُفَّارِ وَأَمْوَالِهِمْ وَأَوْلَادِهِمْ) ۔ کفار که هرڅومره ټیکنالوجئ جوړه ولو کی مخکی شی خو صبا له اُور ته روان دی نو دا به ورته څه فائده ورکړی؟ او دا څه کمال دے؟ بلکه کمال خو دا وو چه عقل ئے استعمال کړے وے او ایمان ئے راوړے وے او آخرت ئے بنه شوے وے نو د دوی نه متاثر کیدل د بی وقوفو کار دے۔ او دویم پدے کی د دغه کافرانو دپاره تخویف دے چه اُور ته روان یئ په مال او اولاد باندے فخر مهٔ کوئ راشئ ایمان راوړئ۔

دغسے آیت ددے سورت په ابتداء کی هم تیر شویدے هغے ته رجوع وکړه۔

مَثَلُ مَا يُنفِقُوْنَ فِيْ هٰذِهِ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا كَمَثَلِ رِيحٍ فِيهَا
مثال د هغه مال چه خرچ کوی ئے دوی پدے ژوند دنیوی کی په شان د هوا دے چه په هغے کی
صِرٌّ أَصَابَتْ حَرْثَ قَوْمٍ ظَلَمُوْا أَنفُسَهُمْ فَأَهْلَكَتْهُ
اُور وی، ورسیږی فصل د یو قوم ته چه ظلم ئے کړے وی په ځانونو خپلو نو هلاك کړی هغے لره
وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ وَلٰكِنْ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۱۷﴾
او ظلم نهٔ دے کړے په دوی باندے الله تعالیٰ او لیکن دوی په ځانونو خپلو ظلم کوی۔

تفسیر : (مَثَلٌ لِمَنْ أَنْفَقَ فِيْ غَيْرِ طَاعَةِ اللّٰهِ وَمَرْضَاتِهِ) ۔ دا مثال دے د هغه چا چه مالونه د الله تعالیٰ د طاعت او د هغه د رضا نه په غیر په نورو ځیزونو کی خرچ کوی نو دا برباد دی۔

مناسبت : دا کافران مالونه لګوی د صد عن سبیل الله دپاره لکه یهودیانو به عربو

مشرکانو ته وسلے ورکولے چه تکړه شئ او د مسلمانانو معاشره خرابه کړئ۔ نو الله تعالیٰ د دوی د مال لګولو بدی بیانوی چه مال لوی نعمت وو خو دوی په غلط ځای کی استعمال کړو نو په قیامت کي به افسوسونه کوی۔لکه د سورة انفال (۳٦) آیت نه معلومیږی۔

فِیْ هٰذِهِ الْحَیَاةِ الدُّنْیَا : یعنی د دنیا په باره کی او دیے دپاره چه دنیا ئے ښه شی او د دنیا عهده او مشری ورته ملاؤ شی او خپل اِزم او قانون د بالادستیٔ دپاره مال لګوی، نهٔ د الله تعالیٰ او د هغه د دین اسلام د غلبے دپاره۔

صِرٌّ : دا د اضدادو نه دیے صر اُور ته هم وائی او اَلْبَرْدُ الشَّدِیْد (بخاری) سختے یخنیٔ ته هم وائی۔

ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ : یعنی په کفر او شرك او معاصیو (ګناهونو) سره۔

الله تعالیٰ د داسے بد نصیبه کافرانو د بد نصیبیٔ د زیات وضاحت دپاره دا مثال بیان کړو چه د یو قوم یو تازه باغ یا فصل وی چه هغے ته په کتلو سره هغه خوشحالیږی نو ناڅاپه یوه سخته یخه هوا (سیلیٔ) راشی چه په هغے کی د اُور په شان تیزی وی چه هغه ورله اُوسوزوی یعنی کافرانو ته د هغوی د خیر کارونو هیڅ فائده نهٔ رسیږی ځکه چه د ایمان نه بغیر هیڅ عمل هم د الله تعالیٰ په نیز قابل قبول نهٔ دیے۔

نو دغه شان کافرانو خپل مال ولګولو او فصل ئے ځان له وکرلو نو الله تعالیٰ به ورسره په هغے باندیے حساب وکړی او تهول انفاق به ورله برباد کړی ځکه چه د الله تعالیٰ د رضا مطابق نهٔ دیے او د هغه د دین موافق نهٔ دیے لکه ځنګه چه دغه خلکو په خپل فصل باندیے خواری کړیے وه او مالونه ئے لګولی وو او امید ئے دا وو چه مونږ له به فائده راکړی لیکن هیڅ فائده ئے ورنه کړه بلکه لا افسوسونه ئے زیات شو نو دغه شان دوی به په خپلو مالونو باندیے خواری هم وکړی خو په آخر کی به دغه انفاق په دوی باندیے افسوس وګرځی۔

او د هلاکت سبب ئے د دوی د نفسونو ظلمونه (شرکونه او عام ګناهونه) دی۔

وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ : الله تعالیٰ په دوی ظلم ځکه نهٔ دیے کړیے چه الله تعالیٰ دا قانون ایښیے دیے چه د ګناه سره به مصیبتونه تړلی وی لکه زهروکی ئے د وژلو او کولمو خرابولو طاقت ایښیے دیے نو انسان دیے هغه نهٔ استعمالوی، نو که څوك ئے استعمال کړی خپل ځان دیے ملامته کړی پدیے کی الله تعالیٰ طرفته د هیڅ ظلم نسبت نشی کیدیے۔

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِّنْ دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ
اے ایمان والو! مۀ نیسئ رازدار سوا ستاسو نه (بل څوك)، هغوی کوتاهي نکوی په تاسو کی
خَبَالًا وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ
د فساد، خوښوی دوی هغه شے چه په مشقت کی اچوی تاسو، یقیناً ښکاره شویده کینه
مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا
د خولو د دوی نه، او هغه چه پټوی سینے د دوی ډیر لوی دے، یقیناً بیان کړیدی مونږ
لَكُمُ الْآيَاتِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُونَ ﴿۱۱۸﴾
تاسو ته نخے (د دشمنئ د دوی) که تاسو عقل لرئ۔

تفسیر : تیر رکوع پورے یو قانون ذکر دے (اَلنَّهْیُ عَنْ اِتِّخَاذِ الْبِطَانَةِ عَنْ غَیْرِ أَهْلِ الْاِیْمَانِ) چه ایمان والو له دا جائز نۀ دی چه غیر مسلم خلك خپل رازدار جوړ کړی۔ او دا قانون د تربیت د مسلمانانو دے۔

ابن جریرؒ، ابن اسحاقؒ، ابن المنذرؒ او ابن ابی حاتمؒ وغیرهم د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړیدے چه څه مسلمانانو د مدینے د یهودیانو سره د ګاونډ توب په وجه یا د جاهلیت د دور د یوے معاملے په بنا یو قِسم تعلق وو، چه د هغے په وجه سره دا یره کیده چه دا مسلمانان به د خپلو زړونو خبرے او د مسلمانانو رازونه هغوی ته اُووائی او مسلمانانو ته به د دوی د ناخبرئ په وجه څه خطره پیوسته شی پدے وجه الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو او مسلمانان ئے ددے نه منع کړل چه دوی غیر مسلمو لره خپل رازدار جوړ کړی۔

ځینو وئیلی دی چه دا آیت د منافقینو په باره کی نازل شوے وو دے دپاره چه مسلمانان د خپلو زړونو خبره او د مسلمانانو راز وُنه وائی۔ ځکه چه ددے نه روستو آیت کی ددے خلقو صفت بیان شویدے چه ((کله دوی تاسو سره ملاویږی نو وائی چه مونږ ایمان راوړے او کله چه تاسو نه جدا کیږی نو ستاسو په خلاف د غصے په وجه په خپلو غاښونو سره په خپلو ګوتو چکونه لګوی)) او دا صفات د منافقانو وو۔ (قاسمیؒ) لیکن غوره دا ده چه ددے نه یهودیان مراد دی لکه پدے باندے سیاق د آیتونو دلالت کوی۔

ځینو وئیلی دی چه په آیت کی تمام کافران مراد دی۔ د لفظ د (مِنْ دُونِكُمْ) یعنی تاسو د خپل ځان (مسلمانانو) نه سوئ بل څوك خپل رازدار مۀ جوړوئ)) نه ددے رائے تائید

کیږی۔ او همدا حقه ده۔
ابن ابی حاتمؒ روایت کړیدے چه سیدنا عمر ﷺ ته اُووئیل شو چه د حِیره علاقے یو نصرانی غلام دے چه ډیر ذهین او هوښیار کاتب دے، تاسو دا خپل کاتب ولے نهٔ مقررویٔ؟ نو هغه اُووئیل چه ددے مطلب دا دے چه زهٔ یو غیر مسلم خپل بِطانه (او رازدار) جوړ کړم ؟ رازیؒ وائی چه عمر ﷺ ددے آیت نه دلیل نیولے وو۔ (قاسمی)
او ددے منع علت قرآن دا اُوخودلو چه غیر مسلم همیشه د مسلمانانو د تباهئ او بربادئ سوچ کوی او هر وخت تمنا کوی چه مسلمانانو ته نقصان اُورسی، پدے وجه الله تعالیٰ هغوی ته اُووئیل چه اے مسلمانانو ! آیا تاسو نهٔ گورئ چه د هغوی پټ کړے شوے بُغض او حسد کله نا کله د هغوی په ژبو سره ښکاره کیږی۔
حافظ ابن کثیرؒ وائی چه دا آیت دلیل دے ددے خبرے چه غیر مسلمو ته د مسلمان ملکونو په دفترونو کی داسے ذمه واریانے نهٔ دی ورکول پکار چه د هغے په ذریعه هغوی د مسلمانانو راز حاصل کړی او دشمنانو ته د هغے اطلاع ورکړی۔
مفسر الکیا الهراسیؒ لیکی چه ددے آیت د مخه د یو ذمی (غیر مسلم نه چه د مسلمانانو په ملك کی اُوسیږی) د مسلمانانو په یوه معامله کی مدد اخستل جائز نهٔ دی۔ (قاسمیؒ)
بِطَانَةً : رازدار۔ بطانه اصل کی : (اَلثَّوْبُ الْبَاطِنُ الَّذِیْ یَلِی الْجَسَدَ) ته وائی یعنی هغه باطنی جامه چه دننه د بدن سره لگیږی او د ټول بدن نه خبرداره وی۔ نو دا بیا په معنیٰ د رازدار سره استعمالیږی، دا یو ډیر مزیدار قانون دے چه که پدے باندے د ملك حاکمانو عمل وکړو نو د کفارو د ډیرو شرونو نه به محفوظ شی۔ لیکن پدے باندے عمل نشته، کافران راځی د مسلمانانو په مینځ کی گرځی او د هر څه نه ځان خبروی چه څوك څه کوی او څه وائی۔ نو کافر ته به د خپلو وسلو، مالونو او فوج او د خپل طاقت راز نشی ښکاره کولے۔

د بطانه (رازدار نیولو) څه معنیٰ؟

په بطانه کی دا داخلیږی : (۱) اِتِّخَاذُهُمْ وُزَرَاءَ) ۔په خپل ملك کی د کافرانو نه وزیران جوړول (۲) (اِتِّخَاذُهُمْ کَاتِبِیْنَ وَمُحَاسِبِیْنَ ۔ یعنی کافرانو نه کاتبان او محاسبین جوړول او هغوی ته د خپلو کهاتو حسابونه حواله کول لکه پدے باره کی دوه حدیثونه واوره۔
سیدنا ابوموسیٰ اشعری ﷺ په بصره کی والی وو نو سیدنا عمر فاروق ﷺ هغه سره محاسبه کوله، هغه کاغذونه مسجد ته رانویستل، سیدنا عمر فاروق ﷺ کاغذونه

وکتـل، دا چا لیکلی دی ؟ وے فرمایل : دا ډیر ښه کاتب لیکلی۔ سیدنا عمر ﷺ وفرمایل : مسـجـد تـه دے راشي۔ هغه وویل : نصراني دے مسجد ته نشي راننوتلے۔ نو عمر فاروق ﷺ ورتـه پـه غـصـه شـو او ورتـه ئـے وویـل چـه آیا تـا د الله تـعالیٰ نه نهٔ دی آوریدلی چه (لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِنْ دُونِكُمْ) چـه د کـافـرانـو نـه به راز دار نهٔ جوړوئ او ورته ئے وفرمایل : [هَلَّا اتَّخَذْتَ حَنِيفًا مُسْلِمًا]۔ تا موحد مسلمان ولے نهٔ نیولو؟۔ هغه وویل : د بصرے والو پروګرام پـه دهٔ آباد دے۔ امیر المؤمنین وفرمایل : (لَا أُكْرِمُهُمْ إِذَا أَهَانَهُمُ اللّٰه وَلَا أُعِزُّهُمْ إِذَا أَذَلَّهُمُ اللّٰه وَلَا أُدْنِيهِمْ إِذَا أَبْعَدَهُمُ اللّٰه) ۔ زهٔ د دوی اکـرام نـهٔ کـوم کله چه دوی الله تعالیٰ سپك کړیدی او زهٔ ورتـه عـزت نهٔ ورکوم کله چه دوی ته الله تعالیٰ ذلت ورکړیدے او زهٔ دوی خپل ځان ته نهٔ نـزدے کـوم کـلـه چـه دوی الله تـعالیٰ لـرې کـړیدی)۔ او بیا ئے ورته دا هم وفرمایل: چه کله دا نـصـرانـی مـړ شی بیا به تهٔ څه کوے نو هغه کار د هغه د مرګ نه مخکی مخکی وکړه او ددهٔ نه په بل مسلمان باندے ځان مستغنی کړه۔ (تفسیر کبیر والقرطبی)

او دغسے کار خالد بن ولید ﷺ پـه شام کی کړے وو چه یو نصرانی ئے کاتب جوړ کړے وو نو هغه هم سیدنا عمر فاروق ﷺ منع کړو چه دا خو بطانه ده۔

مِنْ دُونِكُمْ : اَیْ مِنْ غَيْرِ أَهْلِ الْإِيْمَانِ۔ د مسلمانانو نه سویٰ۔

لَا يَأْلُونَكُمْ : د اَلُوْ نه دے په معنیٰ د تقصیر او کوتاهی سره۔

خَبَالًا : قاموس لیکی : فَسَادٌ فِي الْعَقْلِ وَالْقَوَائِمِ وَالْأَرْجُلِ)۔ خبال د عقل خرابوالے او د خپو او لاسونو خرابوالے (کوړوالے) دے۔ ځینی اهل لغت وائی :

اَلْخَبَالُ : اَلنُّقْصَانُ وَالْهَلَاكُ (المعجم الوسیط) نقصان او هلاکت ته وائی۔

ځینی وائی : اَلْعَنَاءُ (تـاج الـعروس) (مشقت ته وائی)۔ ځینی وائی : اَلْـخَبَالُ : اَلْفَسَادُ فِي الْأَفْعَالِ وَالْأَبْدَانِ وَالْعُقُوْلِ) تاج العروس) خ ب ل) خبال هغه فساد (خرابوالے) چه په کارونو کی وی او بـدنـونـو کـی وی او په عقلونو کی۔ بعض ئے داسے تعبیر کوی : اَلْـخَبَالُ اَلْفَسَادُ الَّـذِیْ یَـعْتَرِی الْاِنْسَـانَ فَیُوْرِثُهٗ اِضْطِرَابًا کَالْجُنُوْنِ وَالْمُخْبَلُ الْفَاسِدُ الْعَقْلِ) خبـال : هغه فساد (خـرابـوالـی) تـه وائـی چـه انسـان تـه راپیښیږی او پـه هغه کی پریشانی راپیدا کوی لکه لیـونتـوب۔ مخبـل هغه انسان ته وائی چه عقل ئے خراب شوے وی نو حاصل دا شو چه کافران د مسلمانانو په فساد کی هر قسم کوشش کوی چه بی حیاء شی، عقلونه او بدنونه ئے کمزوری شی ددے وجـه نـه پـه کـافرانو باندے به ښه ګمان نهٔ لری او ځوك چه پرے ښه ګـمان کـوی هغه به لوی جاهل وی، د الله تعالیٰ په خبره به ئے یقین نهٔ وی۔ د لفظ خبال نه

معلومیږی چه کافران زمونږ د مسلمانانو خپے، لاسونه او عقل جوړیدل نۀ غواړی۔
مَا عَنِتُّمْ: عنت دیته وائی چه مات شوے هډوکی جوړ شی بیا مات شی نو دا ډیر درد کوی دلته ترے مراد شِدَّةُ الضَّرَرِ وَالْمَشَقَّة دے یعنی هر قسم ضرر او مشقت کی اچول غواړی۔
قَدْ بَدَتِ : یعنی کله نا کله د دوی د خولو نه غصه راښکاره کیږی او د مسلمانانو په خلاف د خپل ضد کلمات راوباسی ځکه چه ددے په پټولو باندے قادر نۀ وی، دومره زیاته کینه لری۔
أَكْبَرُ : اَیْ أَكْبَرُ عَدَاوَةً ۔ په سینو کی ئے ډیره لویه دشمنی ده په نسبت د ښکاره حال د دوی۔
قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الآيَاتِ : یعنی مونږ تاسو ته هغه آیتونه بیانوو چه دلالت کوی پدے خبره چه د کافرانو په رازدار نیولو کی ډیر لوی ضرر دے او دے دپاره چه تاسو دشمن وپیژنئ نو د دوی نه منع شئ او د ایمان والو سره مینه وکړئ۔
دلته د دوی بد صفتونه دا شو (۱) (لا یألونکم خبالا) ۔ (۲) ودوا ما عنتم۔ (ستاسو مشقت خوښوی) (۳) قد بدت البغضاء من افواههم۔ (٤) وما تخفی صدورهم اکبر۔
(٥) پنځم دا راتلونکے دے۔

هَاأَنتُمْ أُولَاءِ تُحِبُّونَهُمْ وَ
خبردار تاسو اے مؤمنانو! دا کسان یئ چه مینه کوئ تاسو د دوی سره او
لَا يُحِبُّونَكُمْ وَتُؤْمِنُونَ بِالْكِتَابِ كُلِّهِ وَإِذَا لَقُوكُمْ
دوی مینه نکوی تاسو سره او ایمان لرئ تاسو په کتابونو ټولو باندے، او هرکله چه مخامخ شی
قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَوْا عَضُّوا
دوی تاسو سره وائی دوی مونږ ایمان راوړیدے او هرکله چه جدا شی دوی چکونه لګوی
عَلَيْكُمُ الْأَنَامِلَ مِنَ الْغَيْظِ قُلْ مُوتُوا
ستاسو په خلاف په سرونو د ګوتو خپلو باندے د وجے د غصے نه، ته ووایه! مړۀ شئ
بِغَيْظِكُمْ إِنَّ اللهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿١١٩﴾
په غصے خپلے سره یقیناً الله تعالیٰ پوهه دے په هغه خبرو چه په سینو کی دی۔

تفسیر: اُوس مسلمانان منع کوی د هغوی د مینے کولو نه په ډیر بلیغ انداز سره او ددے منع علتونه بیانوی چه تاسو څنګه خلك یئ چه د هغوی سره مینه کوئ او د هغوی حال دا دے چه هغه تاسو بالکل نهٔ غواړی بلکه د سخت نفرت او سخت بغض او دشمنئ په وجه هغوی خپلو غابښونو سره په خپلو ګوتو چکونه لګوی چه کله به هغوی ته داسے موقعه ملاویږی چه ستاسو د وجود نه خلاصے حاصل کړی۔

تُحِبُّونَهُمْ : مسلمان پاك زړهٔ والا وی د یهود او نصاریٰ او بدعتیانو په باره کی دا مینه لری چه الله تعالیٰ دوی ته هدایت وکړی، دا ایمانی محبت نهٔ وی ځکه چه د یهود او نصاراؤ سره ایمانی محبت کولو باندے بنده کافر کیږی۔ بلکه د اِلف او د عادت مینه ده یعنی مسلمان د کافر او د هر بدعتی دپاره خیر خواه وی چه الله تعالیٰ ئے سمے لارے ته راولی نو پدے وجه په عامو حالاتو کی نرمی هم ورسره کوی۔

وَلَا يُحِبُّونَكُمْ : هغوی تاسو سره مینه نهٔ لری بلکه دا خوښوی چه تاسو د اُور خشاك شئ۔ نو آیا داسے خلك د رازدارئ لائق دی څهٔ؟!۔

وَتُؤْمِنُونَ بِالْكِتَابِ : دا بله وجه بیانوی چه تاسو ټول کتابونه منئ او هغوی په ټولو کتابونو ایمان نهٔ لری، وګوره تهٔ تورات او انجیل او د الله تعالیٰ ټول کتابونه منے او هغوی ستاسو قرآن نهٔ منی نو دا څومره لویه دشمنی ده نو ددے دپاسه هم آیا دوی د رازدار نیولو لائق دی؟!

الْكِتَابِ كُلِّهِ : یعنی ټول کتابونه منئ، یا کتاب د الله تعالیٰ ټول منئ او په ټول باندے عمل کوئ او هغوی په بعض کتاب ایمان راوړی او عمل پرے کوی او بعض نهٔ منی او عمل پرے نهٔ کوی۔

وَإِذَا لَقُوكُمْ : دا بله وجه ده چه دا هغه خلك دے چه کله تاسو سره ملاؤ شی نو د ایمان دعوه هم کوی، ځکه چه دا یهودیان به کله نا کله د ایمان والو سره ملاؤ شو نو اقرار به ئے کولو چه مونږه هم محمد رسول الله (ﷺ) منو او دا قرآن منو، لکه اُوس هم کافران کله دا اقرار کوی چه اسلام هم یو آسمانی او حق دین دے۔

عَضُّوا عَلَيْكُمُ الْأَنَامِلَ : دا کنایه ده د سختے غصے نه ځکه چه کله سړے غصه شی او په بل چا باندے ئے د چك لګولو قدرت نهٔ وی نو بیا خپله ګوته باندے چك لګوی او عض الانامل د پښیمانه، عاجز او غصه انسان کار وی چه کله ترے یو مقصد فوت شی او بیا په هغے باندے سخت غمژن وی۔

عَلَيْكُمْ : یعنی ستاسو په خلاف۔

قُلْ مُوْتُوْا : دے نه روستو الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته اُوفرمایل چه ته اُووایه چه تاسو د خپلے غصے او غضب په وجه ژوندی اُوسیدو سره بار بار مړۂ شئ، الله تعالیٰ خو به خپل نعمت په مسلمانانو باندے پوره کوی او خپل دین به په تمامو دینونو غالبه کوی۔

مُوْتُوْا بِغَيْظِكُمْ: یعنی ستاسو غصه دے دومره ډیره شی تردے چه تاسو د هغے په وجه مړه شئ۔ نو پدے کی مؤمنانو ته تسلی ده چه د دوی نه یره مۀ کوئ ځکه چه دوی به د همدے غصے په حالت کی مړه شی او تاسو ته به هیڅ ضرر درنکړی لکه یهودیانو دا کار کولو او بیا هم الله تعالیٰ اسلام ته غلبه ورکړه۔ (ابن عطیۃ) یا دا دوی ته ښیرے دی چه تاسو دے الله تعالیٰ ددے غصے په حالت کی مړه کړی۔

فائده : مفسر عبد الحق ابن عطیۃ فرمائی: (وَهٰذِهِ الصِّفَةُ قَدْ تَتَرَتَّبُ فِيْ كَثِيْرٍ مِنْ أَهْلِ بِدَعٍ مِنَ النَّاسِ إِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ) ۔ دا صفت په ډیرو بدعتیانو کی هم شته تر د قیامت د ورځے پورے۔ (المحرر الوجیز) او دا واقعی خبره ده مونږ اهل الحدیث والسنة ددے ټولو بدعتیانو دپاره خیر خواه یو، د دوی سره کینو هم، سلام هم پرے اچوو، ددے دپاره چه الله تعالیٰ ورته هدایت وکړی او د یو خیر کار چه کوی په هغے کی ورسره تائید او ملګرتیا هم کوو او د هغوی په مذهب کی چه کوم صحیح روایتونه دی هغه هم ورله منو لیکن هغوی مونږ سره محبت نۀ لری، مونږ دشمنان ګڼړی تردے چه زمونږ سره په مجلس کی هم نۀ یو ځای کیږی او نۀ سلام اچوی، او هغوی په هغه دین عمل کوی چه د هغوی مشرانو وئیلی وی او د هغوی د مذهب مطابق وی او باقی رد کوی او یا پکی تاویلات کوی او ظاهراً که ملګرتیا وکړی نو په باطن کی کوشش کوی چه دا خلك به څنګه ختمیږی۔

بِذَاتِ الصُّدُوْرِ: یعنی هغه وسوسے چه په سینو پورے متعلق وی چه د انسان خپل غوږ هم نۀ وی آوریدلی نو په هغے هم الله تعالیٰ پوهه دے نو د دوی کینی ورته معلومی دی۔

إِنْ تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ وَإِنْ تُصِبْكُمْ سَيِّئَةٌ
که چرته ورسی تاسو ته ښه حالت خفه کوی دوی لره او که چرته ورسی تاسو ته بد حالت
يَّفْرَحُوْا بِهَا وَإِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا لَا يَضُرُّكُمْ
خوشحالیږی په هغے سره او کچرته صبر وکړو تاسو او تقویٰ مو وکړه ضرر به درنکړی تاسو ته
كَيْدُهُمْ شَيْئًا إِنَّ اللهَ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ ﴿۱۲۰﴾
چلونه د دوی هیڅ شے یقیناً الله تعالیٰ په هغه عملونو چه دوی ئے کوی راګیرونکے دے (په علم او قدرت کی)۔

تفسیر: د کافرانو د مسلمانانو سره د سختې دشمنۍ زیات تفصیل بیانوی، الله تعالیٰ فرمائی چه تاسو ددې کافرانو سره دوستی لرئ حال دا چه تاسو سره د دوی د دشمنۍ حال دا دې چه که یوه نیکی یا ښه حالت تاسو ته اُورسی نو دوی ته تکلیف وی او که تاسو باندې کوم مصیبت راشی نو د خوشحالۍ د دائرې نه بهر شی نو د داسې کسانو دوستان جوړول کومه عقلمندی ده ؟!۔

د حَسَنې معانی

حَسَنَةٌ : ددې ډیرې معانی راځی : (۱) کله حسنه نیك عمل ته وائی ۔
(۲) کله ښائسته ژوند ته وائی۔ ﴿لِلَّذِيْنَ أَحْسَنُوا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ﴾ (النحل: ۳۰)
(۳) ښه حالت او خوش عیشی۔ او دلته ئې همدا معنیٰ ده۔ یعنی چه مسلمانانو ته فتح او نصرت راشی یا غنیمت راشی یا وحی نازله شی نو دوی سخت خفه کیږی۔

نو ددې نه دا فائده راوځی چه څوك د مسلمان په نیکۍ باندې خفه کیږی او د هغه په تکلیف او بدۍ باندې خوشحالیږی نو دهٔ کی د یهودیانو صفت راغلې دې ځکه چه دا بد خواه دې او (اَلدِّيْنُ النَّصِيْحَةُ) دین د خیرخواهۍ نوم دې۔ په چا کی چه بد خواهی وی هغه مؤمن نهٔ وی۔ لکه حدیث کی دی :[لَايَجْتَمِعُ الشُّحُّ وَالْإِيْمَانُ فِيْ قَلْبِ عَبْدٍ أَبَدًا] ۔شح (یعنی د بل دپاره د خیر اراده نهٔ ساتل) او ایمان دواړه د یو بنده په زړه کی هیڅکله نهٔ راجمع کیږی۔ (مسند الطیالسی رقم: ۲۵۸۳) واحمد : ۹۶۹۱ بسند صحیح لغیره)

حکمت : د حسنة سره ئې د (تمسسکم) لفظ راوړو او د سیئة سره ئې (تصبکم) راوړو، سیئه : تکلیف او شکست او مال ضائع کیدو ته وائی۔ او تمسس لفظ د معمولی رسیدو او لګیدو دپاره استعمالیږی او (تُصِبْ) کی زیاتوالې وی ځکه چه د راړولو معنیٰ پکی پرته ده۔ او په (حَسَنَة) کی تنوین د تقلیل دپاره دې او په (سَيِّئَة) کی د تعظیم او تکثیر دپاره دې۔ نو فائده دا ده چه مؤمن سړی ته چه کله معمولی ښه حالت او خوشحالی ورسی نو د هغې اظهار کوی او خلك ترې زر خبریږی نو دا مجرمان همیشه په خفګان کی وی او هر چه مصیبت دې نو مؤمن ئې پټ ساتی څوك ترې زر نهٔ خبریږی خو چه کله مصیبت سخت او زیات شی نو بیا ترې دا مجرمان خبر شی نو دوی خوشحاله شی۔ نو دا به د مؤمنانو خوئی وی چه واړه واړه نعمتونه به راښکاره کوی او مصیبتونه به زر نهٔ راښکاره کوی مګر هله چه د کنټرول نه بهر شی۔

وَإِنْ تَصْبِرُوْا : دے کی الله تعالیٰ مسلمانانو ته د کافرانو د شر او فساد نه د بچ کیدو دا طریقه اُوخودله چه مسلمانانو له د الله تعالیٰ د طرف نه په ازمینبتونو د صبر کولو عادت جوړول پکار دی، په هر حال کی د الله تعالیٰ نه یریدل، د تقویٰ او بندګئ لاره اختیارول پکار دی، او د غیر مسلمو نه مدد نهٔ دی اخستل پکار، که دوی داسے کوی نو د کافرانو مکر او چل به دوی ته نقصان نهٔ رسوی، ځکه چه څوك په الله تعالیٰ توکل کوی، په امتحاناتو صبر کوی او صرف د هغه نه مدد غواړی نو هغه به یقیناً په خپلو مقاصدو کی کامیابیږی، الله تعالیٰ به هغه هیڅ کله هم نهٔ ضائع کوی او د دشمن په مقابله کی به هغه ته فتح او نصرت ورکوی او څوك چه د غیرو نه مدد غواړی الله تعالیٰ به هغه لره د هغه نفس ته حواله کړی او د خپل نصرت او مدد نه به ئے محرومه کړی۔

آرمان چه مسلمان نن هم دا نسخه استعمال کړے وے او د الله تعالیٰ پریخودو سره ئے د بل چا په مخ کی عاجزی نهٔ کولے۔ لوی طاقتونه ئے خپل معبود نهٔ جوړولے، د الله تعالیٰ په ځای ئے د هغوی نه مدد نهٔ غوختلے، نو د الله تعالیٰ وعده همیشه دپاره یوه ده۔ فتح او نصرت به د هغوی قدمونه خکلولے او عزت او سرداری به د هغوی د سرونو تاج وے او نور قومونه به د هغوی مخے ته په ګونډو شوی وے، آیا څوك شته چه پدے آواز باندے غوږ اُوخوزوی ؟۔

نو د کافرانو د مصیبتونو او دشمنانو د تکلیفونو نه د ځان بچ کولو قانون دا شو چه بنده به ځان د الله تعالیٰ کړی، د هغه سره به تعلق جوړ کړی نو بیا به الله تعالیٰ د هغه دشمن وهی او د هغه د طرفنه به مدافعت کوی، او بنده چه د الله تعالیٰ سره تعلق جوړوی نو ددے طریقه مخکی سورة البقره (۱۰۹) آیت کی دا تیره شوے وه (فاعفوا واصفحوا) چه معافی به کوی او د بدو ردو نه به ځان ساتی او دلته وائی چه (تصبروا وتتقوا) د مخالفینو په تکلیفونو باندے صبر او د الله تعالیٰ نه یریدل، د هغه د حدودو لحاظ ساتل۔ او روستو وائی (لَتُبْلَوُنَّ فِيْ أَمْوَالِكُمْ ...... وَإِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا) آل عمران آیت: ۱۸۶) او په سورة ابراهیم کی ئے دوه خبرے ذکر کړیدی (۱) یو توکل علی الله ﴿وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ﴾ آیت: ۱۱) (۲) بل ﴿ذٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِيْ وَخَافَ وَعِيْدِ﴾ آیت: ۱۴) یعنی د الله تعالیٰ د پیشئ او د هغه د عذابونو نه یریدل۔ دا پنځه شپږ کارونه چه دے وکړل نو بس الله تعالیٰ به ستا په شا ودریږی او ستا مدد به کوی۔

پدے آیتونو کی شپږ نور بد صفتونه بیان کړیدی (۵) لا یحبونکم۔ (۷) وتؤمنون

بالكتاب كله۔ اَیْ وَلَایُوْمِنُوْنَ بِالْکِتَابِ کُلِّهٖ ۔ (۸) النفاق (واذا لقوكم) (۹) عضوا عليكم الانامل (تاسو ته غصه دی) ۔ (۱۰) يفرحوا بها : ستاسو په مصيبت خوشحاله دی۔
لا يضركم : ضرر به ځكه نۀ وركوی چه څوك الله تعالىٰ ته ځان وسپاری نو هغه د چا په تکليفونو دومره پرواه نۀ کوی او د مخلوق نه تاثر نۀ اخلی، په خپل مقابل باندے زړه ور وی۔ يا پدے وجه چه څوك په الله توكل وكړی او په مصيبت باندے صبر كوی، او صرف د الله نه مدد غواړی نۀ د بل چا نه نو دا په خپل طلب كی كامياب وی، په خپل دشمن باندے غالب وی، د رب په ښائسته حفاظت سره محفوظ وی او څوك چه د بل چا نه مدد طلب كوی هغه خپل ځان ته سپارلے شوے وی، د خپل رب د مدد نه محروم وی۔ (قاسمیؒ)
صحيح مطلب دا دے چه د صبر او تقوىٰ فائده دا ده چه د كفارو كيد او مكر به ښنۀ شی او ضرر به ايمان والو ته ورنكړی نو دا د صبر او تقوىٰ فائده ده او د دغه كارونو نتيجه ده۔

وَإِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ تُبَوِّءُ الْمُؤْمِنِيْنَ مَقَاعِدَ
او كله چه تۀ اووتلے د خپل كور نه تيارول تا مؤمنانو لره ځايونه د كيناستو (مورچے)
لِلْقِتَالِ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۲۱﴾
دپاره د جنګ كولو، او الله تعالىٰ آوريدونكے، پوهه دے۔

تفسير : پدے آيت او روستو آيت كی دوه واقعے د اُحد او د بدر راوړی او دا دوه مثالونه دی ددے دپاره چه تاسو په بدر كی د دغه مخكنو قوانينو پابندی كړے وه نو الله تعالىٰ درله فتح دركړه او په اُحد كی په تاسو كی د بعض كسانو نه په دغه قوانينو كی څه كوتاهی وشوه نو الله تعالىٰ شكست دركړو۔ نو د فتح او نصرت او مدد او شكست او ناكامئ په باره كی د الله تعالىٰ قانون دا دے چه د صبر او تقوىٰ نتيجه نصرت او كاميابی وی او د بی صبرئ او نۀ تقوىٰ لازمی نتيجه شكست او ناكامی وی۔

مناسبت : (۱) مخكی قواعد بيان شو نو اُوس الله تعالىٰ د مؤمنانو تربيت كوی په بله طريقه چه تاسو دا كار وكړو نو داسے مۀ كوئ او دا كار مو نۀ دے كړے نو دا داسے وكړئ نو پدے سره د دوی عملی تربيت كول مقصد دے۔(۲)- مخكی قوانين ذكر وو نو اُوس جهاد بيانوی چه دغه قوانين به كافرانو باندے په جهاد كی تطبيق كوئ۔ (۳) د صبر او تقوىٰ نتيجه كاميابی ده۔ لَايَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا كَمَا لَمْ يَضُرَّكُمْ فِیْ بَدْرٍ وَاِنَّمَا ضَرَّكُمْ قَلِيْلًا فِیْ اُحُدٍ لِعَدَمِ الصَّبْرِ كَامِلًا وَالْعِصْيَانِ فِیْ بَعْضِ الْاَوَانِ ۔ تاسو ته به د هغوی كيد (مكر) هيڅ

ضرر درنکړی لکه څنګه ئے چه په بدر کی درنکړو او لړ شان ئے په اُحد کی درکړو څکه چه پوره صبر نهٔ وو او په بعض اوقاتو کی مخالفت وو۔

ددے آیت نه د جنګ اُحد د واقعے ابتداء کیږی، او تقریباً په شپیتو آیتونو کی ددے تفصیل بیان شویدے، او په مختلفو اړخونو ئے رڼا اچولے شوے ده مګر د قرآن کریم د بیان طریقه دا ده چه یوه قیصه د قصه خوانانو په شان په ترتیب سره نهٔ ذکر کوی بلکه د هرے قصے نه ځینی نکات راخلی په کوم سره چه د امت تربیت کیږی۔

واقعه د احد

دا واقعه په شوال (۱۲) تاریخ سنه (۳ ھ) کی واقع شوے وه او رسول الله ﷺ د جُمعے د مانځه نه روستو د مدینے نه وتلے وو۔ او ددے سبب دا وو چه د بدر په جنګ کی کله چه د قریشو سرداران قتل شول او رسوا کن شکست سره مخامخ شول نو د مسلمانانو نه د انتقام او بدلے اخستو دپاره د قریشو کافران د ابوسفیان په قیادت کی درے زره کسان د اُحد غر خواته راغلل، راجمع شول۔ نبی کریم ﷺ د صحابه کرامو ؓ سره مشوره اُوکړه چه په مدینه کی پاتے کیدو سره دفاع اُوکړے شی یا بهر وتلو سره مقابله اُوکړے شی، د ځینو کسانو په مدینه کی د پاتے کیدو رایه وه۔ د عبد الله بن ابی ابن سلول رأس المنافقین هم دغه رائے وه۔ ځینی ځوانانو او د جذبے والا صحابه کرامو ؓ رائے دویمه وه او پدے باندے ئے اصرار اُوکړو۔ نبی کریم ﷺ ددے دویمے رائے مطابق کور ته تشریف یوړو او زغره ئے واغوستله او بهر راغلو۔ د دویمے رائے والا صحابه کرامو ګمان اُوکړو چه کیدے شی مونږ رسول الله ﷺ مجبوره کړو، پدے وجه هغوی نبی کریم ﷺ ته اُووئیل چه که ته غواړے نو په اوله رائے باندے عمل وکړه۔ نو نبی کریم ﷺ وفرمایل: (مَا كَانَ لِنَبِيٍّ إِذَا لَبِسَ لَأْمَتَهُ أَنْ يَّضَعَهَا حَتَّى يَحْكُمَ اللّٰهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ عَدُوِّهِ) یعنی د الله تعالیٰ نبی چه کله زغره واغوندی او د کور نه رابهر شی نو هغه زغره تر هغه وخته پورے نهٔ اُوباسی تر څو چه د هغه او دشمن په مابین کی الله تعالیٰ فیصله اُونکړی۔ (ددے نه علماؤ دا فائده راویستے ده چه کله جهاد او علم څوك شروع کړی نو د هغے پریښودل صحیح نهٔ دی بلکه د هغے سر ته رسول فرض کیږی)

نو رسول الله ﷺ د زرو کسانو د لښکر سره د جُمعے نه روستو د اُحد غر طرف ته روان شو، کله چه داسے ځای ته ورسیدل چه دشمن ښکاره شو نو عبد الله بن اُبیّ د ((شوط)) مقام نه د خپلو درے سوه کسانو سره پدے بهانه راواپس شو چه زمونږ خبره اُونهٔ منلے

شوه۔ او پدې کې ددۀ مقصد کافرانو ته اشاره ورکول وو چه دا صحابه کرام درنه خلاص نۀ شي او زۀ ترې واپس شوم۔ او بل په ملګرو کې پریشانی پیدا کول وو ځکه چه په داسې موقعه کې ملګري واپس کیدل زړه کمزورې کوي۔ نو پدې کې عبد الله بن حرام ﷺ دوی ته وویل : راشئ د الله تعالیٰ په لاره کې جنګ وکړئ او که د جهاد نیت مو نۀ وي نو د خپل ملك او د خپل قوم مدافعت خو وکړئ (یعني ملکي غیرت خو وکړئ) نو هغوی وویل چه جنګ نۀ کیږي او دا رسول الله ﷺ هسې چکر وهي، که جنګ کیدې مونږ به پکې حاضر شوي وې، روستو راځي د مسلمانانو د دوی په باره کې اختلاف شو چا وویل : مؤمنان دي خو ګناه ئې وکړه نو د هغوی د طرفنه ئې دفاع کوله چه دوی خو مونځونه کوي او چا وویل چه دا کافران شویدي، رسول الله ﷺ دشمن ته پریدي او دوی راواپس کیږي نو الله تعالیٰ د سورة النساء (۸۸) آیت نازل کړو : ﴿ فَمَالَكُمْ فِي الْمُنَافِقِينَ فِئَتَيْنِ وَاللَّهُ أَرْكَسَهُمْ بِمَا كَسَبُوا﴾۔ چه پدې کار دا خلك کافران شویدي او د دوی په باره کې اختلاف مۀ کوئ او دې سورت کې هم روستو راځي : ﴿ هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلْإِيمَانِ﴾۔

کله چه منافقان واپس شو نو پدې کې مسلمانان مخکې روان شو نو په لاره کې د مسلمانانو دوه ډلې (بني سلمه او بني حارثه) ؤ په زړه کې دا خبره تیره شوه چه واپس کیږو ځکه چه جنګ ډیر ګران کار دې، لیکن الله تعالیٰ بیرته د ایمان د فائدې د وجه نه را مضبوط کړل او عزم ئې مضبوط شو نو ایمان ورله فائده ورکړه۔

رسول الله ﷺ چه اُحد ته نزدې شو نو د ملګرو تفقد ئې وکړو او ماشومان ئې ترې جدا کړل او تکړه تکړه ملګري ئې روان کړل او ملګرو ته ئې وویل چه څوك دې چه مونږ اُحد ته په لنډه لار ورسوي او په کافرانو باندې ورتیر نشو، نو یو صحابي وویل : زۀ، نو روان شو تردې چه په لاره کې رسول الله ﷺ یهودو ته هم دعوت ورکړو چه راشئ مونږ سره ملګرتیا وکړئ یا مونږ ته وسله راکړئ (ځکه چه د دوی خپل مینځ کې صلح کې دا خبره شوې وه)۔ هغوی وویل : دا د خالي ورځ ده پدې کې مونږ باندې جنګ حرام دې، د مُخَيرِيق په نوم یو یهودي وویل : (لَا سَبْتَ لَكُمْ) د محمد رسول الله ﷺ مدد په تاسو واجب دې او ستاسو د خالي تعظیم ختم دې۔ او د رسول الله ﷺ په ملګرتیا کې ئې جنګ کې شریك شو او مړ هم شو، څوك وائي مسلمان مړ دې او څوك وائي چه کافر مړ دې او رسول الله ﷺ وفرمایل : (مُخَيرِيقُ خَيرُ يَهُودَ) ۔ مخیریق د یهودیانو نه غوره سړې دې۔ دې نه معلومیږي چه دا مسلمان مړ دې۔

تردې چه رسول الله ﷺ احد ته ورسیدو، نو رسول الله ﷺ لاړو احد طرفته ئې شا واړوله

او بل طرفته ئے مخ کړو او جنګ اُوشو تردے چه مسلمانانو ته فتح اُوشوه، لیکن کوم پنځوس غشي ویشتونکی صحابه کرام چه د عبد الله بن جُبَیر ﷜ په مشرئ کی رسول الله ﷺ په جبل اُحد باندے مقرر کړی وو او وئیلی ئے وو چه که مونږ مارغان اُوتختوی نو هم به خپل ځای نهٔ پریدئ، نو هغوی ملګری ولیدل چه غنیمتونه راټولوی نو د هغوی نه ځلویښت کسان راکوز شو د غنیمت راټولو دپاره او دغه ځای ئے پریخودو نو خالد بن ولید (لا دے وخت پورے په اسلام مشرف نهٔ وو) د هغه طرف نه ولیدل چه دا ځای خالي شویدے ځکه چه ده دوه درے کرته پدے طرف د حملے اراده کړے وه لیکن دغه پنځوسو مسلمانانو زغلولے وو لیکن اُوس ئے موقعه پیدا کړه او په دغه باقي لسو کسانو ئے حمله اُوکړه او د هغه طرفنه د اُحد میدان ته رانـوتل او مسلمانان ئے په مینځ کی راګیر کړل، نو د مسلمانانو فتح په شکست بدله شوه۔ څه مسلمانان مدینے طرفته روان شو او څه غرونو طرفته او اویا کسان په میدان کی شهیدان شو او رسول الله ﷺ هم سخت زخمي شو۔ خوا ته ورته اول ابوبکر صدیق﷛ بیا عمر﷛ بیا عبد الرحمن بن عوف﷛ وغیره نور صحابه کرام راغلل بیا رسول الله ﷺ د غره یو طرفته لاړو چه هلته جنګ نهٔ کیدو چه هغه د مِهراس په نوم یادیدو۔ او مسلمانان زخمیان هم شو او د شهیدانو مُثله هم وکړے شوه او ابوسفیان پکی چغے هم وکړے چه دا تاسو ته د بدر په مقابله کی وشو۔ او اُوچت ځای ته وختلو او وے ویل: چه آیا په تاسو کی محمد شته؟ آیا ابوبکر شته ؟ آیا عمر شته؟۔ رسول الله ﷺ وفرمایل: جواب مهٔ ورکوئ چه خوشحاله شي چه دا کسان مړهٔ دی بیا به خبر ورکړئ نوَ سخت به خفه شي۔ په آخر کی ورته عمر فاروق ﷛ جواب ورکړو: دا درے واړه ژوندی دی چه الله تعالیٰ ستا د شرمولو او ذلیله کولو دپاره ساتلی دی۔ بیا ئے د هُبل د زنده باد نعرے ووهلے (اُعلُ هُبَلُ، اُعلُ هُبَلُ)۔ زمونږ هبل اُوچت شو چه داسے مدد ئے مونږ سره وکړو، نبی کریم ﷺ وفرمایل: جواب ورکړئ۔ (اَللّٰهُ أَعْلٰی وَأَجَلُّ)۔ الله اُوچت او لوی ذات دے۔ هغوی وویل: (لَنَا الْعُزّٰی وَلَا عُزّٰی لَكُمْ)۔ زمونږ دپاره عزی شته او ستاسو نشته۔ نبی ﷤ وفرمایل: جواب ورکړئ: (لَنَا الْمَوْلٰی وَلَا مَوْلٰی لَكُمْ)۔ زمونږ مولیٰ (مددګار) شته او ستاسو نشته۔

دے نه روستو هغوی روان شو، چا وویل چه په مدینه حمله کوی نو رسول الله ﷺ وفرمایل: که دوی په مدینه حمله وکړه نو سخته مقابله به ورسره کوم۔ بیا ئے یو تن (علی ﷛) ولیږو چه وګوره چه که په اسونو سوارهٔ وی نو دوی به په مدینه حمله کول غواړی او که په اُوښانو سوارهٔ وی نو بیرته به واپس کیږی۔ خبر راغے چه په اُوښانو سوارهٔ دی۔

ابوسفیان چه حمراء الاسد ته ورسیدو نو فکرئے وکړو چه دا خو مونږ هیڅ ونکړل او دا خو څه فتح نۀ وه صرف دا وشو چه هغوی زمونږ نه کم کسان قتل کړل او مونږ ترے ډیر. پکار دا وه چه مونږ د هغوی نه مالونه نیولی وے او د هغوی ښځے مو راوستے وے، او د هغوی علاقه مو نیولے وے.نو ملګرو ته ئے وویل چه دوباره په مدینه باندے حمله کوو لیکن زړه کی ئے یره هم وه، نو بعض ملګرو ورته وویل چه څه نا څه غلبه مو حاصله کړه که دوباره لاړ شو هسے نۀ چه ختم مو نکړی نو ابوسفیان دا خبره ومنله لیکن جاسوس ئے راولیږو چه په صحابه کرامو باندے رعب واچوی چه ابوسفیان او د هغه فوج دربانده حمله کوی. نو هغه رعب اچولو نو الله تعالیٰ د صحابه کرامو ایمان مضبوط کړو لکه روستو ئے تفصیل راځی او (حسبنا الله ونعم الوکیل) ئے وویل. پدے کی په طریقه د امتحان باندے رسول الله ﷺ ملګری تیار کړل او دا ئے وویل چه څوك په احد کی حاضر وو هغوی به حمراء الاسد ته ځان رسوی او د ابوسفیان او د هغه فوج سره به جنګ کوو. نو پدے موقعه سیدنا جابرؓ اجازه طلب کړه چه زۀ اُحد کی د پلار په وجه نۀ وم حاضر شوے لیکن ما ته اجازه وکړه نو هغه ئے هم ځان سره واخستو نو دوی حمراء الاسد ته د زخمونو سره روان شو، هلته د رسیدو نه مخکی ابوسفیان او د هغه ملګری وتښتیدل نو نبی کریم ﷺ او ملګروئے هلته درے ورځے تیرے کړے تجارتونه ئے وکړل او دشمن ئے الله تعالیٰ ذلیله کړو او بیرته روغ رمټ راواپس شول او الله تعالیٰ ترے د خپلے رضا اعلان وکړو. دا واقعه د اُحد وه ددے ډیر تفصیلات او ایمانی او علمی فوائد په زاد المعاد د ابن القیم رحمه الله او زمونږ کتاب ((سیرتِ رسول)) ﷺ د (۱۵۷) نه تر (۲۳۳) پورے وګوره.

وَإِذْ غَدَوْتَ : یعنی دا خبره رایاده کړه او مطلب ئے دا دے چه ملګرو ته ئے رایاده کړه چه د هغوی تربیت پرے وشی. او مقصد پکی دا هم دے چه کافران تاسو رازدار مۀ نیسئ ځکه چه دوی تاسو په مشکلاتو اچولو کی هیڅ صرفه نۀ کوی، نۀ ګورئ چه په اُحد کی عبد الله بن ابی منافق خپل درے سوه کسان د نیمے لارے نه راستانه کړل او د مجاهدینو په صفونو کی ئے تزلزل او پریشانی واچوله، نزدے وه چه د مسلمانانو دوه ډلے (بنو سلمه او بنو حارثه) ئے ستانه کړی وے لیکن الله تعالیٰ فضل وکړو او هغوی ئے مضبوط کړل. نو دا بل ربط او مناسبت هم شو.

ځینو عالِمانو د ((غدوت)) معنیٰ په صبا وخت کی د وتلو کړیده او بیا ئے دا اشکال پیدا کړیدے چه دا څنګه صحیح ده چه رسول الله ﷺ د جُمعے د مانځه نه روستو اُووتلو.

صاحب د فتح البيان ليكلي دي چه ډير كرته ((غدق)) لفظ د مطلق خروج (وتلو) په معنیٰ استعماليږي۔ دلته هم ((غَدَوْتَ) د (خَرَجْتَ) په معنیٰ دے، پدے وجه اشكال باقي نۀ پاتے كيږي۔ او امام طبريؒ پكي دا ويلي دي چه د (مَقَاعِدَ لِلْقِتَال) نه مراد د اُحد په لمن كي د مجاهدينو صفونه برابرول مقصد نۀ دے بلكه مراد ترے د جنگ ميدان تاكل دي چه دننه په مدينه كي به قتال بنه وي او كه بهر وتل به بهتر وي چه نتيجه ئے دا شوه چه د اكثرو نظر دا وو چه بهر ووځو نو د اُحد د غر لمن ئے غوره كړه۔ او دا مشوره خو د جنگ د ورځ (خالي) نه دوه ورځے مخكي (د زيارت په ورځ) او يا يوه ورځ وړاندے (د جُمعے په ورځ) شوے وه۔ (تفسير الطبري ٧١/٤)۔

مِنْ أَهْلِكَ : د عائشے رضي الله عنها د كور نه وتلے وو نو دا دليل دے په فضيلت د هغے باندے او پدے خبره چه هغه د رسول الله ﷺ اهل دے۔

تُبَوِّءُ : أَيْ تَتَّخِذُ مُعَسْكَرًا ۔ يعني تا مؤمنانو لره معسكر تيارولو۔ رسول الله ﷺ كي الله تعالیٰ ټول صفات راجمع كړي وو، نبي، مُعلم، مُرَبي، مجاهد وو او دا ملګري ئے ځاى په ځاى كول ددے دپاره چه افراتفري نۀ وي او په يو بل باندے ئے غشي ونۀ لګي او ملګروته د دشمن تلفات هم نۀ رسيږي۔

إِذْ هَمَّتْ طَّآئِفَتَانِ مِنكُمْ أَنْ تَفْشَلَا وَاللَّهُ
كله چه اراده وكړه دواړه ډلو ستاسو نه چه كمزوري ښكاره كړي او الله تعالیٰ
وَلِيُّهُمَا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١٢٢﴾
مددګار د دوي وو او خاص په الله دِے ځان وسپاري مؤمنان۔

تفسير : دا هم د مسلمانانو يو قسم تربيت وو الله تعالیٰ فرمائي : چه دوه ډلو اراده وكړه چه بزدلي ښكاره كړي او د جنگ نه واپس شي ليكن الله تعالیٰ ورسره د هغوي د ايمان او د نيك عملئ د وجه نه مدد وكړو او بيرته جهاد ته واپس شو۔ چه دا د انصارو دوه ډلے بنو سَلِمه او بنو حارثه وو چه يو د اَوس قبيلے نه وو او بله د خزرجيانو نه وو۔ نو پدے كي تربيت داسے دے چه بيا دپاره تاسو په جهادونو كي بزدلي مۀ ښكاره كوئ او په الله تعالیٰ توكل كوئ الله تعالیٰ به ستاسو مدد كوي۔ نو پدے كي د دغه دوه ډلو فضيلت هم راغلو چه الله تعالیٰ ورته د خپلے دوستئ اعلان وكړو۔

سیدنا جابر بن عبد الله رضی الله عنهما فرمائی : مونږ دا نهٔ خوښوو چه دا آیت نهٔ وے راغلے بلکه مونږ پدے خوشحاله یو، پدے کی اگرکه زمونږ یو قسم عیب هم دے لیکن مونږ ته الله تعالیٰ د خپل ولایت (دوستئ، او مددگارئ) اعلان کړے۔

فَلْيَتَوَكَّلِ : یعنی اے ایمان والو تاسو په الله تعالیٰ باندے توکل وکړئ نو الله تعالیٰ به درسره مدد کوی او فتح به درکوی اگرکه تاسو د سامان او د شمار په اعتبار سره د کافرانو نه ډیر کم یئ او کافران زیات او مضبوط وی۔

توکل څه ته وائی؟

توکل اِظْهَارُ الْعِجْزِ وَالتَّوْكِيْلِ ۔ خپل ځان عاجز ښکاره کول او بل چا ته یو شے سپارلو ته وائی۔ او په اصطلاح کی : (تَفْوِيْضُ الْأُمُوْرِ اِلَى اللّٰهِ تَعَالٰى ثِقَةً بِحُسْنِ تَدْبِيْرِهٖ) ته وائی یعنی ټول کارونه الله تعالیٰ سپارل پدے وجه چه د هغه په ښائسته تدبیر (او تصرف) باندے اعتماد وی۔

د توکل د پیدا کیدو طریقه

د توکل د پیدا کیدو دپاره یو څو عقیدے جوړول پکار دی : (۱) (اَلْعِلْمُ بِعِلْمِ اللّٰهِ) بنده پدے پوهه شی چه الله تعالیٰ په هر څه پوهیږی۔ (۲) (اَلْعِلْمُ بِقُدْرَةِ اللّٰهِ) ۔ د الله تعالیٰ په قدرت علم راشی چه هغه په هر څه قادر دے۔ (۳) (اَلْعِلْمُ بِرَحْمَةِ اللّٰهِ) ۔ پدے پوهه شی چه الله تعالیٰ مهربانه دے۔ ورسره دا عقیده ولره چه الله تعالیٰ په توکل خوشحالیږی نو پدے سره به په تا کی د توکل ماده راشی چه هغه به ما نهٔ ضائع کوی۔ بیا صوفیه وائی چه توکل ترك الاسباب (اسباب پریښودو) ته وائی۔ او د دوی برعکس بعض خلکو (جَعَلُوا الْأَسْبَابَ أَرْبَابًا) د اسبابو نه ئے ارباب (معبودان) جوړ کړیدی چه ددے نه بغیر هیڅ کار نهٔ کیږی۔ نو دا افراط والا دی۔ او دریم د انبیاء علیهم السلام توکل دے چه هغه شرعی توکل دے (هُوَ اسْتِعْمَالُ الْأَسْبَابِ وَالْاِعْتِمَادُ عَلٰى رَبِّ الْأَرْبَابِ) ۔ اسباب استعمالول او په رب العالمین باندے اعتماد کول۔

سهل بن عبد الله وئیلی دی : (مَنْ قَالَ اِنَّ التَّوَكُّلَ فِيْ تَرْكِ الْأَسْبَابِ فَقَدْ طَعَنَ فِيْ سُنَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ) چا چه وویل چه توکل د اسبابو په پریښودو کی دے نو هغه د رسول الله ﷺ په سنتو کی طعن وائی ځکه چه رسول الله ﷺ په اُحد کی د وسپنے توپئ اچولے وه او دوه زغرے ئے اغوستے وے۔ او د انسان دپاره اسباب استعمالول امر فطری دے، ضرور بنده

اسبابو ته محتاج کیږی اګرکه ډیر خلك به دا دعوه کوی چه مونږ داسے درجے ته ځان رسوو چه اسباب نۀ استعمالوو۔ نو ددے نه ثابته شوه چه امام غزالیؒ چه دا خبره لیکلے ده چه لوی توکل دا دے چه ځان سره اسباب مه اخله او همداسے په صحراء کی سفر شروع کړه او په الله تعالیٰ باندے ځان وسپاره هغه به رزق درکوی نو دا خطاء خبره ده، الله تعالیٰ پداسے خبرو حکم نۀ دے کړے بلکه په توښه اخستو باندے ئے حکم کړیدے ﴿ وَتَزَوَّدُوْا فَاِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوٰى﴾ (البقره:۱۹۷)۔ نو توښه ځان سره واخله او په دے باندے اعتماد مۀ کوه بلکه الله تعالیٰ ته ځان وسپاره۔ په خپل علم او مال او وسله او طاقت باندے اعتماد مۀ کوه او دا څیزونه اختیار کړه او ځان پکی الله تعالیٰ ته وسپاره دا شرعی توکل شو۔

توکل د ایمان د مقاماتو نه اعلیٰ مقام دے، چا کی چه توکل راغے نو دا به اعلیٰ مؤمن جوړ شی او توکل په بنده کی نشی راتلے مګر هله چه د بنده د الله تعالیٰ سره تعلق وی۔ لکه ددے تفصیل به د سورتِ هود په آخر کی راشی ان شاء الله تعالیٰ۔

وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ وَّاَنْتُمْ اَذِلَّةٌ
او یقیناً مدد کړے تاسو سره الله تعالیٰ په بدر کی او حال دا چه تاسو لږ (یعنی کمزوری) وئ
فَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۲۳﴾
نو ویریږئ د الله نه دے دپاره چه تاسو شکر ګزار شئ۔

تفسیر: اُوس دویمه واقعه د بدر بیانوی چه تاسو سره الله تعالیٰ مدد کړے کله چه تاسو ددے قوانینو پابند وئ۔ سره ددے نه چه تاسو د سامان او د نفرئ (شمار) په اعتبار سره ډیر کم وئ او دشمن ستاسو نه تقریباً درے چنده زیات وو۔

وَاَنْتُمْ اَذِلَّةٌ : اَىْ بِالْعَدَدِ وَالْعُدَدِ) ۔ په شمار او سامان کی کم وئ ځکه چه صحابه کرامؓ درے سوه دیارلس کسان وو او یو اس ورسره وو، ځینی وائی اسونه پکی نۀ وو او اویا اُوښان وو او اته یا لسو پورے تورے ورسره وے۔

اذلة : دلته کمزورو ته وائی۔

تَشْكُرُوْنَ : دا دلیل دے چه ځوك د تقویٰ لاره اختیاروی هغه د الله تعالیٰ شکر ګزار دے او غلبه په دشمن باندے یو نعمت دے نو ددے په مقابله کی د الله شکر پکار دے۔ او شکر تقویٰ ته وائی او په تقویٰ یعنی د الله د حدودو په لحاظ سره په دشمن باندے غلبه راځی۔

إِذْ تَقُوْلُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ أَلَنْ يَّكْفِيَكُمْ أَنْ يُمِدَّكُمْ

كله چه وويل تا مؤمنانو ته آيا كافي نۀ ده تاسو لره دا چه زيات به كړي تاسو

رَبُّكُم بِثَلَاثَةِ آلَافٍ مِّنَ الْمَلَآئِكَةِ مُنْزَلِيْنَ ﴿۱۲۴﴾

رب ستاسو په درے زره د ملائكو نه چه راكوز كړے شوي به وي۔

تفسير : يعني دا وخت هم راياد كړه چه تا مؤمنانو ته دا خبره كوله۔ او ددے رايادولو مقصد دا دے چه الله تعالىٰ تاسو سره دغه شان هميشه مددونه كوي۔

صحابه كرامؓ رسول الله ﷺ ته د كم والي شكايت وكړو نو رسول الله ﷺ زيرے وركړو چه الله تعالىٰ ما ته وحي كړيده چه زر ملائك به د مدد دپاره راځي۔ او كه نور ضرورت راغے نو درے زره به راشي او د پنځو زرو پورے وعده ده۔ د صحابه كرامو د رسول الله ﷺ په خبره يقين وو نو پدے خبره ډير خوشحاله شو او زړۀ ور شو او دشمن طرف ته وړاندے شو۔

مُنْزَلِيْنَ : يعني د آسمان نه راكوز شوي دپاره د وژلو د دشمنانو د الله تعالىٰ۔

د سورة الانفال د (۹) آيت نه معلوميږي چه (بِأَلْفٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ) يعني زر ملائك به راځي او دلته درے زره وائي او روستو پنځه زره ذكر كوي نو ددے تطبيق دا دے چه في الحال د زرو ملائكو د راكوزيدو وعده وه او درے زره او پنځه په هغه وخت كي وعده وه چه كله ورته ضرورت راشي يعني كه كافران زيات شي نو الله به نور زيات ملائك راوليږي۔

جبريل عليه السلام نبي كريم ﷺ ته وفرمايل: په تاسو كي كوم خلك بهتر دي؟ هغه وفرمايل: كوم صحابه كرام چه بدر ته حاضر شوي دي نو جبريل عليه السلام وفرمايل: همدغه شان زمونږ په ملائكو كي هغه ملائك بهتر دي چه د بدر غزا ته كوز شوي وو۔

سوال وجواب

د كافرانو د ختمولو دپاره يو ملائك (جبريل عليه السلام) هم كافي دے چه ټول ئے پورته كړي وے او زمكے ته به ئے راګوزار كړي وے نو زرو راليږلو ته څه ضرورت دے ؟

جواب دا دے چه كله الله تعالىٰ ملائك جنګونو ته راليږي نو د انسان هومره طاقت وركوي بيا ئے د ملائك په مقدار طاقت نۀ وي۔ لكه پيريانو سره ډير طاقت وي ليكن كله چه د مار لړم يا بل حيوان په شكل راشي نو بيا په يو ګوزار سره هم مري۔ پدے كي د الله

تعالیٰ حکمت دا دے (والله اعلم) چه دا امتحان شي په مؤمنانو او په کافرانو دواړو باندے، ولے که ملائك راشي بيا به مؤمنان بې غمه شي چه ټول کار به ملائك کوی مونږ به ترے خلاص يو۔ نو بيا په مؤمنانو بيخي امتحان نۀ راځي او د کافرانو دپاره د جَبرِی ايمان سبب شي ځکه چه کافر به وائي چه زمونږ مقابلے ته داسے مخلوق ولاړ دے چه مونږ د هغے د مقابلے طاقت نۀ لرو نو مجبوراً به بيا ايمان راوړي او الله تعالیٰ بنده ګان نۀ مجبوره کوی بلکه خپلے خوښے ته ئے پريښي دی چه ايمان راوړي او که نۀ، او غالباً دغه ملائك کافرانو او مؤمنانو ته ښکاره کيږی هم نۀ ، بلکه کله نا کله راښکاره شي د مؤمنانو د کرامت دپاره او د کافرانو د متوجه کولو يا ذليله کولو دپاره۔ او طاقت ئے کم وی دے دپاره چه په مؤمنانو هم امتحان راشي چه هغوی هم يريږی چه مونږ مغلوبه نشو او په کافرانو هم امتحان وی چه د هغوی هم څه نا څه توره چليږی او که د هغه توره او ټوپك بند شي نو بيا خو په هغه امتحان نۀ جوړيږی۔ په غزا د بدر کی صحابه کرامو هم بعض ملائك ليدلی دی، ابو الْيَسَر ﷺ سيدنا عباس ﷺ لره تړلے وو، سره د هغے نه چه د بدن نه کمزورے وو، هغه وويل : دا ما تړلے دے۔عباس وويل : زۀ دۀ نۀ يم تړلے بلکه بل چا تړلے يم۔ رسول الله ﷺ وفرمايل: رشتيا وائی : (لَقَدْ أَيَّدَكَ اللّٰهُ بِمَلَكٍ كَرِيمٍ)۔ تاسره الله تعالیٰ د عزتمند ملائك په وجه مدد وکړو)۔ او مشرکانو هم ملائك ليدلی وو : (عَلٰی خَيْلٍ بُلْقٍ) په برګ بروګ اسونو باندے وو او پټکی ئے تړلی وو۔

بَلٰی إِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا وَيَأْتُوْكُمْ مِنْ فَوْرِهِمْ هٰذَا
آؤ، که چرته صبر وکړو تاسو او د الله نه ويريدلئ او راشي دوی تاسو ته د جوش خپل نه دغه دے
يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ آلَافٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِيْنَ ﴿١٢٥﴾
زيات به کړی تاسو رب ستاسو په پنځه زرو سره د ملائکو نه چه نخے به ئے لګولی وی (د جنګ

تفسير : بَلٰی : دا د الله تعالیٰ قول دے چه د مؤمنانو د طرفنه ئے کړيدے او زياته مهربانی د الله تعالیٰ ذکر ده دپاره د اکرام د مؤمنانو يعنی آؤ دغه مدد مو بس دے ليکن بيا چه کله دوی ته اطلاع ورکړے شوه چه د دشمن د مدد دپاره نور کافران (يعنی کرز بن جابر المحاربی) د جنګ دپاره د بدر په طرف راروان دی نو په مسلمانانو کی دويم ځل پريشانی پيدا شوه او د خپلے کمزورئ او کموالی احساس ورته پيدا شو نو الله تعالیٰ بيا دوی ته

وعده ورکړه چه ایے مؤمنانو ! که تاسو همداسے صابران او متقیان وئ او د دشمن د مدد
دپاره نور کافران همدغه شان دستے درشی نو ستاسو رب به تاسو سره په پنځه زره
ملائکو باندے مدد وکړی چه هغوی به نښے لری او تاسو به ئے پیژنئ چه دا انسانان نهٔ دی
بلکه ملائك دی۔ یا دا چه په هغوی باندے به د جنگ ادات (سامان) وِی۔
بیا کرز بن جابر ته خبر ورسیدو چه مشرکانو شکست خوړلے دے نو هغه مدد ته رانغلو۔
إِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا : یعنی دغه شان به مددونه تاسو ته الله تعالیٰ رالیږی که تاسو د صبر
نه کار اخلئ او دشمنانو ته مضبوط ودریږئ او تیښته ونکړئ او د خپل نبی د مخالفت نه
ځان وساتئ او مشرکان تاسو ته په جوش کی راشی نو دغه دے مدد د الله تعالیٰ به ډیر
نزدے راځی چه پنځه زره ملائك به راولیږی۔ نو آیت دا خبره کوی چه د صبر او د تقویٰ
سره د الله تعالیٰ مدد تړلے شویدے۔
مِنْ فَوْرِهِمْ : (۱) أَیْ مِنْ غَضَبِهِمْ ۔ یعنی په غصه او جوش کی راشی۔ یعنی چه کافران
غصه وی نو الله تعالیٰ به د ملائکو د رالیږلو په وجه د هغوی غصه سړهٔ وی۔ (مجاهدؒ،
عکرمهؒ، ابو صالحؒ مولی ام هانیٔ– المحرر الوجیز لابن عطیه ۱/۴۹۹)
(۲) فور کله جهت ته وائی۔ أَیْ مِنْ وِجْهَتِهِمْ هٰذِهٖ ۔ یعنی د طرفه د دشمن نه راشی۔ (ابن
عباسؓ، قتادهؒ، حسنؒ)
(۳) مِنْ فَوْرِهِمْ هٰذَا یَعْنِیْ مِنْ سَاعَتِهِمْ هٰذِهٖ ۔ یعنی راشی تاسو ته په دغه ساعت کی یعنی
په جلتئ سره راورسی نو د الله تعالیٰ مدد به هم تاسو ته په جلتئ راورسی۔ (تفسیر المنار،
والقاسمی)
هٰـذَا یُمْدِدْکُمْ : (۱) هذا اشاره ده قرب نصرت ته۔ یعنی دا نزدے دے مدد د الله تعالیٰ چه
مدد به وکړی تاسو سره۔ (۲) یا اشاره ده ساعت ته یعنی که کافران په غصه کی راشی نو
په دغه ساعت کی به تاسو سره ستاسو رب مدد وکړی۔
مُسَوِّمِیْنَ : اَیْ مُعْلِمِیْنَ بِعَلَامَةِ الْحَرْبِ ۔ یعنی نشاندار به وی، په ځان به ئے د جنگ نښے
لګولی وی چه پټکی به ئے وهلی وی، (مُعْلِمِیْنَ، مَجْزُوْزَةٌ أَذْنَابُ خَیْلِهِمْ وَنَوَاصِیْهَا، فِیْهَا
الصُّوْفُ اَوِ الْعِهْنُ) (مجاهد– نقله الطبری)۔ یعنی نښه دار به وی چه د اسونو لکئ او د
تندی ویښته به ئے پریکړے شوی وی او په هغوی باندے به وړئ وی)۔
(مُعْلِمِیْنَ عَلَامَةَ الشُّجْعَانِ) (تفسیر السعدی)۔ د بهادرانو نښے به ئے اچولی وی۔
د روایاتو نه معلومیږی چه په بدر کی ملائکو سپین پټکی وهلی وو، یا ئے د اسونو

غوړونو ته سپینے وړئ اغوستے وے، د عربو عادت به دا وو چه د ډیرے بهادرئ خودلو دپاره به ئے په جنګ کی خپلو اسونو ته یا په خپل سر کی څه نښه کیخودله دے دپاره چه خلك ئے وپیژنی پدے کی به اشاره وه چه زهٔ ځان دشمنانو ته ښکاره کوم او ځان د هغوی نه پټ نهٔ ساتم دے دپاره چه زما مقابلے ته راوړاندے شی په خپله بهادرئ به ئے ډیر اعتماد وو، یعنی دا ملائك به ډیر قوی او مضبوط او بهادر وی۔ (التحریر والتنویر)

وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ إِلَّا بُشْرٰى لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ
او نه دے گرزولے دا (مدد) الله تعالیٰ مگر زیرے تاسو لره او دے دپاره چه مضبوط شی
قُلُوْبُكُمْ بِهٖ وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ﴿۱۲۶﴾
زړونه ستاسو پدے سره او نهٔ دے مدد مگر د طرفه د الله نه دے چه غالبه، حکمتونو والا دے۔

تفسیر : یعنی د ملائکو رالیږل یا د ملائکو په ذریعه د امداد خبر د دوه مقصدونو دپاره وو (۱) یو دا چه تاسو ته د مدد نه مخکی بشارت او زیرے درکړی چه دغه دے نصرت او مدد درروان دے (۲) او بل دا چه ستاسو د زړونو اضطراب او وارخطائی ختمه شی او زړونه مو مطمئن (مضبوط) شی او په ډاډه زړونو وجنګیږئ ځکه چه څومره ملګری زیاتیږی د انسان زړه مضبوطیږی۔

ددے نه معلومیږی چه په اسبابو باندے اطمینان کول د توکل او د ایمان منافی نهٔ دی۔

او دا هم معلومه شوه چه : (بِالصَّبْرِ وَالتَّقْوٰى تُنَالُ الْبُشْرٰى) یعنی په صبر او تقویٰ اختیارولو سره زیری به ملاویږی۔

وَمَا النَّصْرُ : اُوس الله تعالیٰ ذهن سازی کوی چه دا مهٔ وایه چه مدد به ملائك کوی او ستا ذهن په ملائکو چرته جوړ نشی نو الله تعالیٰ فرمائی چه حقیقی مدد او فتح خو د الله تعالیٰ د طرفه وی، الله تعالیٰ د هیڅ سبب محتاج نهٔ دے۔ او مطلب دا دے چه د مؤمن سړی زړه دے غیر الله ته نهٔ متوجه کیږی۔

النصر : نه مراد حقیقی مدد دے او ملائك او انسانان چه مدد کوی نو هغه مجازی او عارضی طریقے سره وی او هغه ظاهری اسباب دی، هغوی ته هم الله تعالیٰ طاقت ورکړے وی پدے وجه ظاهری مدد کوی۔

یا د نصر نه مراد غلبه او فتح ده دا معنیٰ پدے وجه کیږی چه څوك دا سوال ونکړی چه

مدد خو غیر الله هم کولے شي؟ نو جواب دا دے چه یو تن به په ظاهره کې مدد وکړي او لاس به چا سره واړوي او اسباب به استعمال کړي لیکن فتح او غلبه ورکول او په مدد کې تاثیر اچول صرف د الله تعالیٰ کار دے۔ نو هغه ته توجه او التجاء پکار ده ځکه چه هغه غالبه دے او د هغه په هرکار کې حکمتونه وي نو کله خپل نصرت او مدد د ملائکو په نزول سره کوي او کله ئے په نورو دنیاوي اسبابو سره۔

الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ : غالبه په دشمنانو او حکمت والا په غلبه او شکست ورکولو کې۔

لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِّنَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَوْ يَكْبِتَهُمْ
دے دپاره چه پریکړي یوه برخه د هغه کسانو نه چه کفرئے کړیدے یا به ذلیله کړي دوی
فَيَنقَلِبُوا خَائِبِينَ ﴿١٢٧﴾
نو واپس به شي نا امیده۔

تفسیر : دا متعلق دے د (يُمْدِدْكُمْ) پورے۔ الله تعالیٰ تاسو سره په پنځه زره ملائکو مدد کوي دے دپاره چه د کافرنو یو طرف یعني یوه ډله هلاکه کړي یا ئے ذلیله کړي او وے شرموي په قید کولو سره چه نا امیده بیرته ستانه شي ورنه الله تعالیٰ ته هیڅ مشکله نهٔ ده چه ټول په یو ځل هلاك کړي او تندر پرے نازل کړي۔

طَرَفًا : ټول نهٔ هلاکوي بلکه یوه حصه ترے هلاکه کړي دے دپاره چه نورو دپاره عبرت شي، او ایمان ته تیار شي۔

أَوْ يَكْبِتَهُمْ ۔ کبت (ذلیله کول) دلته په قید او جیل ته اچولو سره دے ځکه په دوی کې اویا کسان ونیولے شو او جیل ته واچولے شو۔ یا د شکست نه روستو د ذلت او رسوائي مونډلو سره۔ نو دلته (او) د تنویع دپاره دے یعني څه کافران قتل کړي او څه شکست خوړلو سره ذلیله واپس شي یا قیدیان شي۔

یعني الله تعالیٰ غواړي چه کافران د قتل او قید سزا اُوخوري یا د شکست نه روستو ذلت او رسوائي ته ورسیږي۔

فَيَنقَلِبُوا : یعني دا ژوندي کافران به واپس شي۔

خَائِبِينَ : خائب هغه چا ته وائي چه مراد ته ونهٔ رسیږي، خیبة، نا امیده کیدل او مراد ته نهٔ رسیدل دي۔ ﴿ وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسَّاهَا ﴾ لکه ابوجهل وئیلي وو چه مونږ به مسلمانان وژنو

او څه به قیدیان کوو او د دوی شر به ختموو لکه ابوجهل ځان سره زنانه راوستے وے چه دا به ګډېږي وو او اوښان به ذبح کوو او په عربو کی به د خپلے پهلوانئ شهرت کوو۔ لیکن دے مراد ته ونۀ رسیدل۔

لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ
نشته تا لره د کار د دوی نه هیڅ اختیار تر دے پورے چه الله به مهربانی وکړی
عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ ﴿۱۲۸﴾
په دوی (په ایمان راوړو سره) یا به عذاب ورکړی دوی ته نو یقیناً دوی ظالمان دی۔

تفسیر : دا بله ذهن سازی ده چه اختیار د رسول الله ﷺ هم نشته بلکه ټول واك د الله تعالیٰ دے۔ او دا په طریقه د جمله معترضه سره وئیلے شویده او مقصد پدے کی نبی کریم ﷺ ته دا خبردارے ورکول دی چه چرته د رسول الله ﷺ په دماغو کی دا خبره رانشی چه په بعض کارونو کی به زما تاثیر هم وی نو ددے دپاره چه د هغه په توحید کی فرق رانشی نو وے فرمایل چه ددے بندګانو د کارونو نه ستا اختیار نشته هرڅنګه چه وی، تۀ خو یو بشر یے، ستا کار صرف د الله تعالیٰ د طرفنه خلك یرول دی او د هغوی د بخښلو یا عذاب ورکولو معامله د الله تعالیٰ په اختیار کی ده۔ او پدے جمله کی د نبی کریم ﷺ د هغوی په کفر باندے د خفګان آسانول دی چه د دوی په کفر دومره خفګان مۀ کوه، بلکه د دوی هدایت او عذاب الله تعالیٰ سپارلے شویدے که هغه غواړی هدایت به ورته وکړی او د توبی توفیق به ورکړی او که غواړی عذاب به ورکړی ځکه چه دوی مستحق د عذاب دی ظلم او شرك ئے کړیدے۔ (قاسمیؒ)

شان نزولونه

(۱) دا آیت د اُحد د غزا نه روستو نازل شویدے۔ د بنو لحیان نه څه مشرکان راغلل او وے ویل چه زمونږ قوم ایمان راوړیدے مونږ سره څه کسان ولیږه چه هغوی ته دین بیان کړی نو نبی کریم ﷺ ورته اویا کسه قاریان ورکړل، کله چه بنو لحیان د هذیل قبیلے علاقے ته ورسیدل نو هغوی پسے راووتل (ددوی په اشاره باندے) او ددے صحابه کرامو مقابله ئے شروع کړه او ټول صحابه کرام ئے شهیدان کړل صرف یو تن ترے بچ شو چه هغه اُوښان څرول۔ نبی کریم ﷺ ته چه د هغوی خبر راورسیدو نو ډیر زیات خفه شو او په پنځه واړه مونځونو کی

بـه ئـې د آخـري رکـعـت د رکوع نه بعد د هغوی پسې قنوت نازله ویل(یعنی هغوی ته به ئې ښیرې کولې) (اَللّٰهُمَّ الْعَنْ رِعْلًا وَذَكْوَانَ، وَعُصَيَّةَ عَصَتِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ) ۔ اې الله! پـه رِعل او ذکوان قبیلو لعنت وکړه او په عصیه قبیلې چه د الله او د رسول مخالفت ئې وکړو۔ یو میاشت پورې ئې دا ښیرې وکړې نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو چه نورې ښیرې مهٔ کوه، ستا اختیار نشته چه څوك هدایت ته راولې او یا د توبې توفیق ورکړې۔ نو الله تعالیٰ ذهن سازي کوی چه محمد رسول الله ﷺ صرف مُبلغ دې د هغه په کائناتو کې څه اختیار نشته چه چا ته هدایت وکړي یا څوك گمراه کړي، یا څوك ووژني یا څوك ژوندي کړي۔

امام بخاري رحمه الله د ابو هریره ﷺ نه روایت کړیدې چه نبي کریم ﷺ په بعض ورځو کې د سحر په مانځه کې وئیل چه اې الله! په فلانيْ او فلانيْ د عربو په قبیلې باندې لعنت راولیږه، نو دا آیت نازل شو چه ﴿لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ﴾۔

(۲) د ابن عمر رضی الله عنهما نه بخاریؒ او احمدؒ روایت کړیدې چه نبي کریم ﷺ د فجر په دویم رکعت کې په حارث بن هشام او سُهیل بن عمرو او صفوان بن امیه باندې لعنت لیږلو، نو دا آیت نازل شو۔ د بخاریؒ په روایت کې دي چه دې خلقو ددې نه روستو توبه اُوویستله او الله تعالیٰ د هغوی توبه قبوله کړه۔

(۳) د انس بن مالك ﷺ نه امام احمدؒ روایت کړیدې چه کله په جنگ اُحد کې نبي ﷺ زخمي شو نو وې وئیل چه هغه قوم به څنګه کامیاب شي چه هغوی خپل نبي سره داسې اُوکړل نو دا آیت نازل شو۔

د امام ابویوسفؒ نه نقل دي چه قنوت نازله منسوخ شویدې پدې آیت سره لیکن دا خبره کمزورې ده، وجه ئې دا ده چه دا منع صرف د دغه خاص قوم په باره کې وه چه الله تعالیٰ ورته د ایمان توفیق ورکولو۔ ځکه چه نبي کریم ﷺ قنوتِ نازله ددې آیت نه روستو هم وئیلې دې، او صحابه کرامو پرې عمل کړیدې ترنن ورځې پورې په مسلمانانو کې راروان دې۔

تبصره :

کیدې شي چه دا آیت بار بار په هره واقعه کې نازل شوې وي یا دا چه په یوه واقعه کې نازل شویدې لیکن په نورو واقعاتو صادقیدو نو صحابه کرامو په هره یوه باندې د شان نزول اطلاق کړیدې۔ (تفسیر القاسمی ۲/۱۳۶)۔

اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ : (او) په معنیٰ د (اِلٰى اَنْ) سره دې۔ یعنی ستا اختیار نشته چه تهٔ دوی ته ښیرې وکړې تردې چه الله تعالیٰ به پرې توبه وباسي۔ نو مطلب دا شو چه اې زما نبي!

دوی ته بنیرے مهٔ کوه دے دپاره چه ستا بنیرے ضائع لاړے نشي۔ ځکه چه دوی ته الله تعالیٰ د توبې توفیق ورکوی۔ او ددے نه دا فائده معلومه شوه چه کله یو مصیبت راشی نو هغه الله تعالیٰ ته سپارل پکار دی ځکه چه په هغے کی د الله تعالیٰ پټ رازونه وی۔

اَوۡ یَتُوۡبَ : دا منصوب دے په (اَنۡ) مقدر سره او دا عطف دے په (الامر) باندے یا په (شیء) باندے تقدیر د عبارت داسے دے : (لَیۡسَ لَکَ مِنۡ اَمۡرِهِمۡ شَیۡءٌ اَوۡ مِنَ التَّوۡبَةِ عَلَیۡهِمۡ اَوۡ مِنۡ تَعۡذِیۡبِهِمۡ)۔ یعنی نشته ستا دپاره ددوی د کار نه اختیار یا په دوی باندے د توبې ویستلو نه یا د دوی د عذاب ورکولو نه) یا تقدیر داسے دے : (لَیۡسَ لَکَ مِنۡ اَمۡرِهِمۡ شَیۡءٌ اَوِ التَّوۡبَةِ عَلَیۡهِمۡ اَوۡ تَعۡذِیۡبِهِمۡ)۔ نشته ستا د دوی کار نه هیڅ اختیار او نشته ستا دپاره اختیار د توبې ویستلو په دوی باندے یا د عذاب ورکول دوی ته)۔

وَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الۡأَرۡضِ
او خاص د الله په اختیار کی دی هغه څه چه په آسمانونو کی دی او هغه څه چه په زمکه کی دی،
يَغۡفِرُ لِمَنۡ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنۡ يَّشَآءُ وَاللّٰهُ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿١٢٩﴾
بخنه کوی چا له چه وغواړی او عذاب ورکوی چا له چه وغواړی او الله بخنه کونکے رحم کونکے دے

تفسیر : اُوس د مخکنی مضمون تائید کوی چه د آسمانونو او د زمکے د هر شي مالك الله تعالیٰ دے، هغه چه چا له غواړی معاف کوی او چا له چه غواړی عذاب ورکوی۔ هیڅ بنده ته که نبی مرسل وی او که عزتمند ولی وی دا اختیار حاصل نهٔ دے چه د چا د قسمت فیصله اُوکړی او چا لره جنت ته داخل کړی او چا لره جهنم ته۔

نو پدے آیت کی د الله تعالیٰ د کائناتو د مالکیت بیان دے او دا چه مغفرت او عذاب د الله په مشیت سره دی او پدے کی د بندګانو هیڅ اختیار نشته، نو دا یو بنکلے عقیدوی تربیت دے۔

يَا أَيُّهَا الَّذِيۡنَ آمَنُوۡا لَا تَأۡكُلُوا الرِّبَا أَضۡعَافًا مُّضَاعَفَةً وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمۡ
اے ایمان والو ! مهٔ خورئ سود لره دو چنده دو چنده او ویریږئ د الله نه دے دپاره چه تاسو
تُفۡلِحُوۡنَ ﴿١٣٠﴾ وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيۡ أُعِدَّتۡ لِلۡكَافِرِيۡنَ ﴿١٣١﴾
کامیاب شئ۔ او ویریږئ د اُور نه هغه چه تیار کړے شوید ے دپاره د کافرانو۔

تفسیر: مضمون

ددے آیت نه روستو الله تعالیٰ یو دیرش خبرے بیان کړیدی چه دے ته زمونږ مشائخ اسباب د دفع الهزیمة وائی۔ (یعنی د شکست د دفع کیدو اسباب)۔اے مؤمنانو ! دا اسباب اختیار کړئ نو د دشمن په مقابله کی به نهٔ ذلیله کیږئ، پدے اسبابو کی بعض اوامر دی او بعض نواهی دی او بعض صفات دی۔ لکه د مثال په طور (اتقوا الله) (اتقوا النار) (اطیعوا الله) (وسارعوا) دغه شان نور واخله او څه نواهی دی لکه (لا تأکلوا الربا) (ولا تهنوا ولا تحزنوا) او څه صفات دی لکه (ینفقون فی السراء) (الکاظمین الغیظ) (العافین عن الناس) وغیره، دا به تر (۱۸۰) پورے بیانیږی۔ ددے نه بل تعبیر داسے کولے شی : ددے ځای نه روستو الله تعالیٰ یو دیرش آداب التربیة لهذه الامة بیانوی یعنی ددے امت د تربیت دپاره آداب بیانوی او دا یواځے د جهاد سره نهٔ لګی بلکه دا هغه آداب دی چه بنده پرے جنت ته داخلیږی، د الله تعالیٰ ولی پرے جوړیږی، په دشمن باندے د غلبے اسباب هم دی او د اصلاح د معاشرے اسباب هم دی۔ او دا ډیر مزیدار اسباب دی او ښائسته ذهن سازیانی دی لکه ځای په ځای به هغه بیانیږی۔ دا اجمالی حاصل شو۔

د یوے رکوع حاصل دا دے چه اول الله تعالیٰ د سود د خوړلو نه منع کړیده بیائے حکم کړیدے د اُور نه په یره کولو باندے، او د الله تعالیٰ او د رسول په اطاعت باندے او په مسارعه الی المغفرة باندے او د مؤمنانو صفات ئے بیان کړیدی چه دا ځان کی پیدا کړئ، دنیا او آخرت به مو کامیاب شی۔ (قد خلت) کی مؤمنانو ته زیرے دے او تخویف هم پکی پروت دے۔ او (هذا بیان) کی ترغیب الی القرآن دے۔ او (ولا تهنوا) کی بل قانون دے چه وهن او حزن به ځان کی نهٔ پیدا کوئ ځکه پدے سره بنده د هر خیر نه محرومیږی بیا به جهاد او نور نیك عملونه نشئ کولے، (ان یمسسکم) کی په احد غزا کی چه مسلمانانو ته کوم تکلیف رسیدلے وو په هغے مسلمانان غمژن وو نو الله تعالیٰ د هغے علتونه او حکمتونه بیانوی او ددے حکمتونو نه فائدی راوځی اوله دا چه دشمن هم مغلوبه شویدے او هغه ته هم تکلیف رسیدلے۔ (ولیعلم) پدے سره مؤمنان راښکاره کول دی او شهداء جوړول دی او تمحیص الذنوب (ګناهونه صفا کول) او کافران هلاکول او امتحان کول۔ (ولقد کنتم) کی وائی تاسو د شهادت تمنی کړیده نو چه اُوس راغے خفګان به نهٔ کوئ۔ دا حکمتونه دی په هزیمت د اُحد کی او تسلیانی دی مسلمانانو ته او دننه پکی قواعد هم پراته دی او د امتحاناتو فوائد هم پکی ذکر کول دی۔

ربط او مناسبت :

١- الله تعالیٰ تربیت بیانوی نو یو د تربیتونو نه دا ده چه اے ایمان والو ! د سوډ نه به ځان ساتئ۔ ٢-ابو حیانؒ وائی : ددے (لَا تَتَّخِذُوْا بِطَانَةً) سره تعلق دے یعنی یهودیان رازدار مهٔ جوړوئ، د هغوی سره تعلقات مهٔ کوئ او یو د تعلقاتو نه سود کول دی ځکه چه سود هم د یهودیانو کار دے۔ نو دا یو قسم د یهودو سره رازداری ده او لکه څنګه چه په رازداریٔ د یهودو کی ضرر دے نو دغه شان په سود کی هم زیات ضرر دے نو د دواړو نه ځان وساتئ (وکذا فی المنار ٤/١٠١)

٣- مخکی د نصرت بیان وشو چه هغه په تقویٰ او صبر سره حاصلیږی نو اوس اهم خصلتونه د تقویٰ ذکر کوی چه پدے راتلونکو حکمونو عمل وکړئ او ددے نواهیو نه ځان وساتئ نو مدد به درته ملاویږی نو اوله نهی ئے د ربا نه وکړه۔ (تفسیر السعدی)۔

٤- په غزا دٔ اُحد کی شکست بیان شو نو اوس اسباب د دفع د شکست بیانوی یعنی سود مهٔ کوئ نو شکست به نهٔ راځی او مدد به راځی ځکه چه حرامو سره شکست لازم دے۔ (قرطبی)

٥- د احد د غزا په بیان کی مسلمانانو ته وویل شو چه بی صبری او د تقویٰ کمزوری سره شکست راځی نو د ټولو مسلمانانو ذهنونه صبر او تقویٰ دپاره بنه اماده شو نو اُوس د بحث په مینځ کی څه اوامر او نواهی ذکر کوی اشاره کوی چه صبر او تقویٰ یواځی په جنګونو کی ضروری نهٔ ده بلکه دا دواړه په هره غزا کی ضروری دی برابره ده که هغه غزا د انسی شیطانانو سره وی او که د جنی نو پکار ده چه په ټولو معاملاتو کی د حرامخوریٔ نه صبر او تقویٰ وکړئ۔

٦- اصل کی انفاق ته ترغیب ورکول دی نو د هغے په مقدمه کی د ربا (سود) نه منع وکړه چه سود مهٔ کوئ او انفاق وکړئ۔

شان نزول

ځینی مفسرین لیکی چه دا آیتونه د یو صحابی (عمرو بن اُقَیْش رضی الله عنه) په باره کی نازل شوی وو چه د هغه په جاهلیت زمانه کی په خلکو باندے سودونه وو، مسلمانانو ورته د اسلام دعوت ورکړو نو هغه به ویل چه اسلام نهٔ راوړم ځکه بیا مے سودونه ختمیږی کله چه د اُحد غزا شروع شوه نو دهٔ تپوس وکړو چه زما د ترونو ځامن چرته دی ؟

خلکو ورته ووېل: اُحد ته تلی دی، بيا ئے وېل فلانے څه شو؟ هغه هم په اُحد کی دے، بيا ئے ووېل فلانے څه شو؟ ووېل شو: اُحد کی دے نو دۀ زغره واغوسته او په اس باندے سور شو او هغوی طرفته روان شو کله چه مسلمانانو وليدو ورته ئے ووېل: اے عَمُره! زمونږ نه وړاندے شه (تۀ مشرك ئے زمونږ سره جنګ مۀ کوه) نو دۀ ووېل: (اِنِّيْ آمَنْتُ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ) ما په الله او د هغه په رسول ايمان راوړے نو دۀ جنګ وکړو تردے چه زخمی شو او کورته زخمی راوړے شو او بيا روستو شهيد شو نو جنتی شو. ابو هريره ﷺ به تپوس کولو چه دا کوم صحابیؓ دے چه د الله تعالىٰ دپاره ئے يو مونځ هم نۀ دے کړے او جنت ته داخل شويدے؟ بيا به ئے وېل چه دا عمرو بن اُقَيْش دے چه د بنی عبد الاشهل قبيلے ورور دے.
(ابوداود كتاب الجهاد ٣٧، باب فيمن يسلم ويقتل مكانه حديث رقم: ٢٥٣٧) محاسن التاويل للقاسمی ١٣٨/٢) ـ او دۀ په شان حالت د اُصَيْرِم رضی الله عنه هم وو.

کيدے شی چه د دغه شخص په باره کی هم نازل وی او حکم ئے عام دے چه الله تعالىٰ پدے کی د معاشرے د صفائی اسباب بيانوی چه سودونه مۀ کوئ ځکه چه څوك سودونه کوی هغه ظالمان دی او د هغوی سره د الله تعالىٰ مدد نۀ وی. او ددے شخص دا واقعه سبب د ربط هم شوه.

أَضْعَافًا مُّضَاعَفَةً : دوچنده دوچنده، يا زيات په چندونو ـ يا په چندونو چندونو. او دلته د سود په چندونو چندونو خوړلو نه منع وشوه او په اصل کی د نفس سود کولو نه منع ده که لږ وی او که ډير په چندونو سره وی ځکه چه دا د عربئ قاعده ده چه کله يو نهی راشی نو دا متوجه وی اصل حکم او صفت ته، او قيد ته متوجه نۀ وی لکه عرب وائی: لَا تَزْنِ بِحَلِيْلَةِ جَارِكَ. د خپل ګاونډی د ښځے سره زنا مۀ کوه، مطلب دا چه بيخی زنا مۀ کوه که د هرچا سره وی. او دا قيد د زيات قباحت دپاره لګيدلے دے او مطلب ئے دا دے چه نفس سود اخستل حرام دی او بيا په چندونو اخستل خو په طريق اولیٰ حرام دی ځکه چه پدے کی زيات ظلم دے.

د حافظ ابن کثير رحمه الله د وينا مطابق دا د جاهليت د عربو عادت او رواج مطابق وئيل شويدے چه هغوی به چا ته قرض ورکړو نو کله چه به نيټه پوره کيده نو قرض والا به قرض اخستونکی ته ووېل چه ما ته قرض راکوے او که په قرض کی زيادت کوے او زۀ به په نيټه کی زيادت وکړم نو که هغه پدے رضا شو نو څه ټاکلے وخت به ئے ورته زيات کړو چه د هغے په اندازه به ئے ترے د خپلے سرمايه نه زيات قرض اخستو او دغه سلسله به نۀ

ختمیده کله کله به دغه زیاتونو دومره همیشوالے وکړو چه سودونه به د اصلی سود (اولنی سود) نه څو چندونو ته ورسیدل او کله کله به د اصلی سرمایه نه هم څو چنده زیات شو۔ (تفسیر ابن کثیر)۔

صاحب د تفسیر المنار (محمد رشید بن علی رضاؒ) فرمائی : دا قسم سود ډیر لوی ضرر دے او دا د هر عاقل په نیز مذموم دے بلکه دا د هغه امتونو په قوانینو کی هم ممنوع دے چه هغه نور اقسام د سود روا ګنړی۔

حافظ ابن قیم رحمه الله په ((اعلام الموقعین)) کی لیکی : سود دوه قسمه دے یو جلی (ښکاره) دے او بل خفی (پټ) دے، ښکاره سود حرام شو ځکه چه پدے کی لوی ضرر دے او خفی پدے وجه حرام دے چه دا وسیله ده حرامو دپاره، اول سود هغه ربا النسیئه وه او دا هغه سود دے چه جاهلیت والو به کولو چه خپل دین (قرض) به ئے روستو کړو او د هغے په بدله کی به ئے مال زیات اخستو او څومره چه به ئے قرض روستو کولو نو په مال کی به ئے زیادت کولو تردے چه د سلو روپو نه به زرګونه روپئ جوړے شوے او دا کار به اکثر غریب سړی کولو چه محتاج به وو کله چه به دهٔ ولیدل چه که مالك ته څه سود ومنی نو ددهٔ نه به مطالبه روستو کړی نو دا کار به ئے کولو او د یو وخت نه به ئے بل وخت ته دیکه کړو نو پدے کی به په دهٔ باندے ضرر او مصیبت سخت شو او قرض به پرے دومره راغلو چه ددهٔ ټول موجود څیزونه به ئے غرق کړل، دهٔ به پکی څه نهٔ ګټل او مال به پرے زیات راتلو او سود خور به ددے ورور مال په باطل سره خوړلو نو پدے ورور باندے به ئے سخت ضرر راتلو نو الله ارحم الراحمین په خپل رحمت او حکمت او احسان سره سود حرام کړو او ددے په خوړونکی ئے لعنت وویلو، او دهٔ ته ئے د جنګ اعلان وکړو او داسے وعید په هیڅ یوه کبیره کی نهٔ دے راغلے پدے وجه دا د ټولو کبیره ګناهونو نه لویه ګناه ده۔ (المنار۳/۹۵)

أَضْعَافًا : دا حال دے د (الربا) نه یعنی په داسے حال کی چه دا سود چندونه چندونه وی۔

مُضَاعَفَةً : دا یا تاکید د ماقبل (اضعافا) دے، یا مطلب دا دے چه دغه چندونه به داسے وو چه تضعیف (زیادت) به ئے قبلولو یعنی اول کی به قرض څو چندونه شو بیا به دغه چندونو نه نور چندونه جوړ شو۔ (التحریر والتنویر) یعنی کله چه به د قرض وخت پوره شو او ور به ئے نهٔ کړو نو دوچنده به ئے کړو تر یوے نیټے پورے بیا چه به هغه وخت راغلو او قرض به ئے ورنهٔ کړو نو څلور چنده به ئے کړو او نوره نیټه به ئے ورکړه۔

وَاتَّقُوا اللَّهَ : یعنی د الله تعالیٰ نه یره وکړئ په هغه کارونو کی چه تاسو ترے منع کیدے

شئ۔
وَاتَّقُوا النَّارَ : د اُور نه یره یوه دا ده چه بنده اُور رایاد کړي او په زړه کي ئې یره پیدا شي او د سترګو نه ئې اُوښکې اُوبهیږي چه څه به کوو، دا هم بنه صفت دے خو دا یواځې مقصود نهٔ دے ځکه چه دلته د (خوف او خشیت) لفظ نهٔ دے ذکر بلکه تقوىٰ ذکر ده نو تقوىٰ ځان بچ کول دي د اُور نه په نیك اعمالو او په پرېښودو د ګناهونو سره۔ یعني دا راتلونکي اعمال وکړئ او ګناهونه او مخالفتونه پریدئ نو د اُور نه به بچ شئ۔ او دا دلیل دے چه سود کول سبب د اُور دے۔ او په حدیث کي دي : (وَمَنْ نَبَتَ لَحْمُهُ مِنَ السُّحْتِ فَالنَّارُ اَوْلٰى بِهٖ) (طبراني في الكبير: ۱۱۰۵۳) ۔ د چا غوښه چه د حرامو نه جوړه شي نو اُور په هغه باندے ډیر لائق دے۔

وَأَطِيعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿١٣٢﴾ وَسَارِعُوا
او تابعداري کوئ د الله تعالىٰ او د رسول دے دپاره چه په تاسو رحم وکړے شي۔ او جلتي کوئ
إِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوَاتُ وَالْأَرْضُ
بخښنے ته د طرفه د رب ستاسو نه او جنت ته چه پلنوالے د هغے آسمانونه دي او زمکه ده،
أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ ﴿١٣٣﴾ الَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي السَّرَّآءِ وَالضَّرَّاءِ
تیار کړے شویدے دپاره د متقیانو۔ هغه کسان چه خرچ کوي په خوشحالئ او په تکلیف کي
وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٣٤﴾
او خوړونکي د غصے دي او معافي کونکي دي خلکو ته او الله تعالىٰ مینه کوي د احسان کونکو سره۔

تفسیر : اُوس وائي چه د اُور نه د بچ کیدو یو سبب دا دے چه د الله تعالىٰ او د رسول الله ﷺ تابعداري وکړئ چه هغه درباندے رحم وکړي۔
وَسَارِعُوا : پدے آیت کریمه کي الله تعالىٰ د متقیانو لس صفتونه بیان کړیدي چه دا د کامیابئ صفات دي او پدے سره جنت او فتح او نصرت ملاویږي۔ او دا ټول د جماعتِ مسلمه تربیت دے۔
وَسَارِعُوا : د مسارعے معنىٰ مخکي ذکر شوه چه تقدیم الاهم فالاهم ته وائي۔ اهم شے په غیر اهم باندے مخکي کول۔ یعني نور کارونه پریدئ او دا راواخلئ او دا د الله تعالىٰ حکم

دے مونږ ته چه د مغفرت کارونو ته به منډه وهو، اُوس دے هر انسان ځان سره وګوری چه د هغه منډه څو مره ده؟

د الله تعالىٰ مغفرت ته څنګه منډه وهلے شی؟

دلته مراد سبب د مغفرت دے او اسباب د مغفرت ډیر څیزونه دی نو څه مفسرینو تخصیصات کړی او چا تعمیمات۔

(۱) سیدنا انس بن مالك رضي الله عنه فرمائی: تکبیر تحریمه مراد ده یعنی دا درنه فوت نهٔ شی ځکه چه دا سبب د مغفرت دے۔

(۲) اَدَاءُ الْفَرَائِض۔ فرضی حکمونه ادا کړئ۔ (عثمان بن عفان رضی الله عنه)۔

(۳) ځینی وائی، جهاد مراد دے (٤) یا انفاق مراد دے۔ (٥) علامه قاسمیؒ لیکی: اَلْاِسْتِغْفَارُ وَالتَّوْبَةُ وَالْاَعْمَالُ الصَّالِحَةُ۔ (استغفار او توبه او نیك عملونو ته منډه وهل مراد دی)۔ دا ټولے خبرے صحیح دی ځکه چه هر نیك عمل د مغفرت سبب دے۔

بیا سورة الحدید (۲۱) آیت کی ﴿عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَاءِ﴾ لفظ راغلے دے ځکه چه دلته د ډیرے اُوچتے درجے متقیان بیانیږی نو کاف ئے ترے لرے کړیدے او هلته د عامو مؤمنانو دپاره جنت ذکر دے نو ځکه ئے کاف پکی راوړیدے۔

سوال او جواب

که څوك ووائی چه کله جنت دومره پراخه دے نو دوزخ چرته دے سره ددے نه چه هغه هم په عالَم کی موجود دے؟ جواب دا دے چه دا سوال بعینهٖ هرقل بادشاه په کاغذ کی رسول الله ﷺ ته رالیږلے وو چه (اِنَّكَ تَدْعُوْ اِلٰی جَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوَاتُ وَالْاَرْضُ فَأَيْنَ النَّارُ؟)۔ ته داسے جنت ته دعوت ورکوے چه د هغے فراخی د آسمانونو او د زمکے د پلنوالی په شان ده نو بیا اُور چرته لاړو؟ معاویه رضی الله عنه دا خط رسول الله ﷺ ته ولوستلو نو نبی کریم ﷺ جواب ورکړو چه ((سُبْحَانَ اللّٰهِ ! فَأَيْنَ اللَّيْلُ اِذَا جَاءَ النَّهَارُ؟)) ۔ تعجب دے (په تا) شپه چرته ځی کله چه ورځ راشی؟! (مسند احمد ٥/٣١٧) رقم (١٦٧٣٩)۔

یعنی کله چه د شپے د موجودیدو نه انکار نهٔ کوے سره ددے نه چه کیفیت ئے درته معلوم نهٔ دے چه په کوم ځای کی وی نو د جنت او جهنم د موجود والی نه به څنګه انکار وشی، یعنی یو ځای کی ئے الله تعالیٰ ساتی او بندګانو ته د هغے حقیقت نهٔ دے معلوم خو منل ئے پکار دی۔ مثلاً شپه په یو طرف کی وی او ورځ په بل طرف کی نو دغه شان جنت بره طرفته دے او جهنم اسفل السافلین د زمکے نه لاندے دے۔ او دا د عمر فاروق رضی الله

عنه جواب هم وو چه یو یهودي ته ئې کړې وو نو هغه یهودي ورته وویل چه تا خو د تورات په شان خبره وکړه. ددې مثال په خارج کی داسې دې چه زمونږ وړه سترګه ده او لوی آسمانونه او غرونه تول پکی راځي نو الله تعالیٰ هم پدې قادر دې چه دا فراخه جنت د آسمانونو دپاسه راولي.

د جنت د عرض څه معنیٰ ده؟

دلته د جنت فراخي د آسمانونو او زمکو برابر خودلې شویده. ځینو مفسرینو وئیلی دی چه دا د جنت حقیقي فراخي ده او ددې ذکر دلته پدې وجه راغلې دې چه معلومه شي چه ددې طول (اُوږدوالې) به ددې د عرض (پلنوالی) نه یقیناً زیات وی چه د هغې علم الله تعالیٰ ته دې. دویم قول دا دې چه دلته مقصود صرف دا بیانول دی چه د الله تعالیٰ جنت به زمونږ د ګمان نه ډیر زیات فراخه وی.

د آسمانونو او د زمکې نه د جنت پلنوالې څنګه غټ دې؟ وجه دا ده چه ددې دپاسه د الله تعالیٰ عرش دې او اوه آسمانونه د کرسئ په مقابله کی داسې دی لکه بنګړې او کرسئ د عرش په مقابله کی داسې ده لکه د بنګړي په مقدار، ځکه عرش د جنت چهت دې نو فکر وکړه چه دغه عرش چه د جنت دپاسه پروت وی نو دا به څومره لوی وی؟ او آسمانونه او زمکه ئې په مثال کی ځکه راوړیدی چه ددې نه په مخلوقاتو کی لوی شې بل نهٔ ښکاره کیږي، نو جنت ډیر لوی دې، سل درجې پکی دی، د هرې دواړو درجو په مابین کی دومره مسافه ده لکه د آسمان او د زمکې ترمینځ نو جنت څومره فراخه شو. اللهم لا تحرمنا منها برحمتك.

السراء والضراء څه معنی؟

مفسرینو ددې ډیر تفسیرونه کړیدی (۱) ځینی وائی: السراء والضراء (د خوشحالئ او خفګان) دواړه حالتونه مراد دی. (۲) یا صحت او مرض مراد دې (۳) یا سراء هغه حالت دې چه انسان مال په خپلو ملګرو او اولادو باندې لګوی او ضراء دا چه د دشمنانو په مقابله کی ئې لګوی. (٤) یا سراء هغه دې چه چا ته مال هدیه کړي یا میلمه له میلمستیا ورکړي او ضراء هغه دې چه په اهل الضر (تکلیف زده خلکو) باندې ئې ولګوی.(٥) ځینی وائی: سراء د فراخئ او مالدارئ حالت او ضراء د تکلیف او غریبئ حالت ته وائی.

(٦) عبد الله بن عباس رضی الله عنهما جامع تفسیر دا کړیدې چه سراء او ضراء د آسانئ

او سختئ دوه حالتونه دی مطلب دا چه متقیان په هیڅ حال کی د الله تعالیٰ دپاره د مال لګولو نه لاس نهٔ اخلی که صدقه ئے لږه وی هم څه باك نشته مګر اخلاص به ئے ډیر وی۔ او آیت دے ټولو ته شامل دے۔ (تفسیر قرطبی ۲۰۶/٤)۔

پدے کی اشاره وه هغه مؤمنانو ته چه په اُحد کی زخمیان شوی وو او مالونه ئے لګیدلی وو، مسکینان شوی وو نو الله فرمائی چه سستی به نهٔ کوئ اُوس به هم مال لګوئ۔

وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ : کظم الغیظ۔ غصه تیرولو او خوړلو ته وائی۔ دا صفت ئے دلته راوړو پدے کی حکمت (والله اعلم) دا دے چه په اُحد کی د څینی ملګرو نه د رسول الله ﷺ د حکم مخالفت وشو نو ګمان ددے خبرے وو چه رسول الله ﷺ به هم هغوی ته غصه وو او نور مسلمانان به هم غصه وو چه د دوی دلاسه په مونږ شکست راغے نو الله فرمائی چه غصه به خورئ، کنټرول والا به یئ او بیا دا عام قانون دے، مؤمن به هر وخت غصه خوری۔

د غصی د زغملو فضیلت

رسول الله ﷺ فرمائی : [مَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ قَادِرٌ عَلَى أَنْ يُنَفِّذَهُ دَعَاهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رُؤُوسِ الْخَلَائِقِ حَتَّى يُخَيِّرَهُ مِنْ أَيِّ الْحُوْرِ شَاءَ] (سنن ابی داود ۳۰۳/۲)۔ چا چه غصه تیره کړه او دے قادر وو د هغے په نافذ کولو نو الله تعالیٰ به ئے د قیامت په ورځ د ټولو خلکو مخامخ راوغواړی تردے چه اختیار به ورکړی چه کومه حوره ئے خوښه ده (چه ورئے کړی)۔

او په یو بل روایت کی دی : [وَمَنْ كَظَمَ غَيْظَهُ وَلَوْ شَاءَ أَنْ يُمْضِيَهُ أَمْضَاهُ، مَلَأَ اللَّهُ قَلْبَهُ رَجَاءً يَوْمَ الْقِيَامَةِ] (الطبرانی الکبیر، الصحیحة: ۹۰٦) ۔ او چا چه خپله غصه وزغمله او که دا ئے وغواړی چه نافذه ئے کړی نافذه کولے ئے شی، الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ ددهٔ زړه د امید (او خیرونو او امن) نه ډك کړی۔

بیا ددے درے واړو (کظم، او عفو او احسان) صفاتو مصداق او معناګانی د یو اثر نه معلومیږی هغه دا چه میمُون بن مهرانؒ ته خپلے وینځے د ګرمے ښوروا نه ډکه کاسه راوړه او د هغه سره میلمانه ناست وو نو هغه وخویده او کاسه په هغه باندے توی شوه نو میمونؒ غصه شو او اراده ئے وکړه چه هغه ووهی نو هغے ورته دا آیت ولوستو او ورته ئے وویل :[يَا مَوْلَايَ، اِسْتَعْمِلْ قَوْلَ اللَّهِ: وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ] ۔ اے زما مولیٰ ! پدے قول د الله تعالیٰ عمل وکړه چه مؤمنان هغه خلك دی چه غصه خوری۔ نو هغه وویل : [قَدْ فَعَلْتُ]۔

پدے مے عمل وکړو، خپله غصه مے وخوړله۔ بیا هغے وویل : [اِسْتَعْمِلْ مَا بَعْدَهٗ : وَالْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ] په روستو جمله هم عمل کړه چه خلکو ته معافی کوی۔ هغه وویل : [قَدْ عَفَوْتُ عَنْكِ]۔ ما درته معافی هم وکړه۔ هغے وویل : ﴿ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ﴾ الله د احسان کونکو سره مینه کوی۔ نو میمون وویل : [قَدْ اَحْسَنْتُ اِلَيْكِ فَاَنْتِ حُرَّةٌ لِوَجْهِ اللّٰهِ تَعَالٰى)۔ ما تا سره احسان وکړو، ځه ته د الله دپاره آزاده شوے) او دغه شان قصه د احنف بن قیسؒ سره هم راغلے وه۔ (القرطبی ٤/٢٠٦)۔

نو فرق داشو چه اول به غصه وزغمی څه به ورته نهٔ وائی، سزا به نهٔ ورکوی۔ او عفو دیته وائی چه په زړه کی به ورسره کینه نهٔ ساتی، بلکه زړه به ورته سپین کړی او (وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ) دا چه روستو پسے احسان وکړه۔ او دا خبرے په خولے آسانی دی لیکن په عمل کی راوستل ئے ډیر زور غواړی، په سړی باندے چه کله دا حالت راشی نو بیا ډیر تاویلات کوی، او خپله دشمنی دین طرفته اړوی وائی چه فلانی مونځ نهٔ کوی، یا دوکه کوی یا دروغ وائی نو زما ورسره د دین د وجه نه دشمنی ده۔ اُوسه پورے ئے ورسره د دین د وجه نه دشمنی نهٔ کوله خو چه کله ئے دهٔ ته نقصان ورسولو نو بیا په مینځ کی دین رانباسی او حال دا چه مقصد ئے خپل زړه یخول وی۔ او دا کار د آخرت په ډیر استحضار سره کیږی۔

بیا انفاق ئے مخکی راوړو ځکه چه دا بل ته فائده ورکول دی او په کظم الغیظ او عفو عن الناس کی د بل نه ضرر دفع کول دی او (وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ) دواړو سره لګی۔

وَالَّذِيْنَ إِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوْا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا
او هغه کسان دی چه کله وکړی بی حیائی یا ظلم وکړی په ځانونو خپلو باندے یاد کړی
اللّٰهَ فَاسْتَغْفَرُوْا لِذُنُوْبِهِمْ وَمَنْ يَّغْفِرُ الذُّنُوْبَ إِلَّا اللّٰهُ
الله لره نو بخنه غواړی دپاره د ګناهونو خپلو او څوک دے چه وبخی ګناهونه سوا د الله نه
وَلَمْ يُصِرُّوْا عَلٰى مَا فَعَلُوْا وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿١٣٥﴾
او همیشوالے نکوی دوی په هغه ګناه چه وکړی دوی او دوی پو هیږی۔

تفسیر : بعض اهل علم وائی دا دویمے درجے والا متقیان دی ځکه چه د دوی په کارونو کی فاحشه او ظلم ذکر دے لیکن حقه دا ده چه دا صفات هم د مخکنو متقیانو دی او متقیان دیته نهٔ وائی چه هیڅکله به ترے ګناه نهٔ کیږی بلکه د متقیانو په صفاتو کی الله

تعالیٰ فرمائی: ﴿وَيَدۡرَءُونَ بِالۡحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ﴾۔ دوی دفعه کوی په نیکئ سره بدی لره۔ یعنی د گناه نه روستو نیکی کوی۔ لوی متقی به وی، د خولے نه به ئے بی ځایه خبره راوځی او داسے عمل به وکړی چه د هغه د شان سره به لائق نهٔ وی او کله به پرے خواهش غالبه شی، د عبادت نه به وران شی نو الله تعالیٰ دغه متقی ته طریقه او علاج ښائی چه الله تعالیٰ ته توبه اوباسه او استغفار وکړه نو بیرته به تقویٰ ته راواپس شے۔

فاحشه او ظلم علی النفس څه ته وائی ؟

په یو شی کی د حد نه تجاوز کولو ته فحش او فاحشه وئیلے شی نو فاحشه هغه گناه ده چه د حد نه په کی تجاوز کړے شوے وی، مفسرینو ددے ډیرے معانی کړیدی :

(۱) ځینی وائی چه فاحشه کبیره گناهونو ته وائی او ظلم علی النفس واړه گناهونو ته وائی (قاسمیؒ) (۲) ځینی وائی چه فاحشه هغه گناه ته وائی چه بل ته ئے ضرر وی او (ظلموا انفسهم) هغه گناه ده چه ذاتی وی بل ته ئے ضرر نهٔ وی۔

(۳) ظاهر د قرآن دا دے چه فاحشه بی حیائی ته وائی (او بد نظری کول، پردئ زنانه ته لاس ورکول، بد الفاظ وئیل، گانی بجانی آوریدل، غلط سو چونه کول، عورت ښکاره کول، زنا کول، عمل د قوم لوط کول دا ټول په فاحشه کی داخل دی نو د فحشاء لارے زیاتی دی ځکه ئے ددے تخصیص وکړو) او (ظلموا انفسهم) کی عام گناهونه مراد دی۔

د الله تعالیٰ یادول څنگه وی؟

ذَكَرُوا اللّٰهَ: (۱) د الله تعالیٰ د یادولو یو صورت دا دے [ذَكَرُوا عِقَابَ اللّٰهِ] د الله عذاب رایاد کړی چه جهنم ته به لاړ شم او ددے گناه سزا شته هغه به راته ورسیږی او په دنیا کی به الله سزا راکړی۔ (۲) د الله احسانات رایاد کړی نو مؤمن له حیاء ورشی او د گناه نه منع شی۔

(۳) د الله عظمت او لوی والے او محبت او د هغه تعلق رایاد کړی لکه دا د خواصو مؤمنانو طریقه ده چه همت ئے اُوچت وی چه زهٔ ددے کارونو دپاره پیدا نهٔ یم نو الله ته بیرته راواپس شی۔ او د هر مؤمن په زړه کی یو واعظ ناست وی چه هغه ئے ملامته کوی۔

فَاسۡتَغۡفَرُوا : استغفار اصل کی گناه پټولو ته وائی یعنی اے الله ! زمونږ گناهونه پټ کړه او پرده پرے واچوه، دلته ترے بخنه او توبه مراد ده۔ استغفار په ژبه وی او زړه ورسره ملگرے وی او توبه په زړه باندے وی۔ استغفار او توبه لوی نعمت دے، الله تعالیٰ ته د

بندګانو توبه او استغفار ډیر خوښ دی پدے وجه د بندګانو نه ګناهونه هم صادروی۔ په حدیث کی دی : (طُوبٰی لِمَنُ وَجَدَ فِیُ صَحِیُفَتِهٖ اسُتِغُفَارًا کَثِیُرًا) ۔ (خوشحالی ده هغه چا لره چه په خپله عملنامه کی ډیر استغفار وموهی) (ابن ماجه : ۳۸۱۸ بسند صحیح)

د ابلیس نه دا خبر نقل ده : (أَهُلَکُوۡنِیُ بِالۡاِسۡتِغُفَارِ وَأَهۡلَکۡتُهُمۡ بِالۡأَهۡوَاءِ) (ابن کثیر ۲/۱۲۲)۔ زهٔ بندګانو په استغفار سره هلاك کړم او ما هغوی په خواهشاتو او بدعاتو سره تباه کړل۔

یو ضعیف روایت کی دی چه دا آیت کله نازل شو نو ابلیس چغه کړه او وے ژړل بچی ورته راجمع شو چه ولے ؟ هغه وویل : الله تعالیٰ داسے آیت نازل کړو چه زمونږ خواری ضائع کوی، بچو تسلی ورکړه چه بدعت به پرے کوو او هغه به ورته ښائسته ښکاره کوو نو توبه به ترے نهٔ وباسی .

پدے وجه سفیان بن عیینة وئیلی دی چه ... نه د ګناه نه بدعت ډیر خوښ دے ځکه چه د بدعت نه توبه نهٔ ویستلے کیږی او د ګناه نه خلك توبه وباسی۔

وَمَنۡ يَّغۡفِرُ الذُّنُوۡبَ إِلَّا اللّٰهَ : دا د الله تعالیٰ قول دے او پدے کی په خپل بنده باندے امتنان (او احسان) بیانول مقصد دے چه ستا دومره مهربانه رب شته چه ټول ګناهونه معاف کولے شی چه داسے څوك نشته۔ لکه حدیث قدسی کی دی : [یَا ابۡنَ آدَمَ ! لَوۡ بَلَغَتۡ ذُنُوۡبُكَ عَنَانَ السَّمَاءِ ثُمَّ اسۡتَغۡفَرۡتَنِیۡ غَفَرۡتُ لَكَ وَلَا أُبَالِیۡ]۔ (ترمذی : ۳۵۴۰ باسناد صحیح)

اے بنیادمه ! که ستا ګناهونه (په ډیر والی کی) وریځے ته ورسیږی بیا تهٔ ما نه بخنه وغواړے زهٔ به تا ته بخنه وکړم او پدے به هیڅ باك نهٔ کوم۔ د بنده نه چه کله نافرمانی وشی نو یو یا دوه یا درے کرته بخنه کوی لیکن روستوئے په خپل ځان وس نهٔ وی نو معافی نهٔ کوی او الله تعالیٰ واسع المغفرة دے، په زرګونو ګناهونه معاف کوی فسبحان من وسعت مغفرته واحسانه، اللهم ادخلنا فی رحمتك ومغفرتك۔

بعض اهل علم وائی (ومن یغفر الذنوب) دا وینا ددے مؤمنانو ده یعنی دوی الله رایاد کړی او په ژبه وائی چه اے الله ! ټول ګناهونه تهٔ معاف کونکے ئے، ستا نه سویٰ څوك دے چه بخنه وکړی۔ او دا د خپل ذهن جوړولو دپاره وائی چه که مونږ هرڅومره ګناهونه کړی وی نو الله تعالیٰ به مو معاف کوی نو ځکه الله تعالیٰ ته رجوع کوی او د هغه نه نهٔ نا امیده کیږی۔ ظاهر دا ده چه دا قول د الله تعالیٰ دے لکه روستو قول هم د الله تعالیٰ دے لیکن مؤمن ئے هم استعمالوی۔

وَلَمۡ یُصِرُّوۡا : یعنی د مؤمنانو بل صفت دا دے چه دوی په ګناه باندے همیشوالے نهٔ

کوی۔
او د اصرار او عدم اصرار دوه صورتونه دی (۱) یو دا چه گناه پریدی او بیرته ورته نهٔ راواپس کیږی۔ (یعنی تَرْكُ الذَّنْبِ بِلَا مُعَاوَدَةٍ) دا د علماؤ تفسیر دے (۲) راجح هغه تفسیر دے چه په حدیث کی راغلے دے چه هغه روایت د ابوداود او ترمذی دے او حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری کی نقل کړیدے:

[مَا أَصَرَّ مَنِ اسْتَغْفَرَ وَلَوْ عَادَ فِي الْيَوْمِ سَبْعِيْنَ مَرَّةً] (واسناده حَسَن عند ابن کثیر، ضعیف عند الالبانی فی الضعیفة: ٤٤٧٤) وحسنه الحافظ فی الفتح (١/١١٢ الایمان، طبع دار المعرفة)۔

هغه انسان په گناه اصرار (همیشوالے) نهٔ دے کړے چه بخنه غواړی اگرکه په ورځ کی اویا کرته راواپس کیږی۔ گویا که اصرار دے ته وائی چه گناه کوی او توبه نهٔ وباسی او که یو بنده گناه وکړه او یوه گینته بعد توبه وباسی بنه په اخلاص سره او بیا ترے وشی بیا توبه وباسی بنه په اخلاص سره نو دا په گناه همیشوالے کونکے نهٔ دے۔ ددے وجه نه تر مرگه پورے به بنده د توبی نه مخ نهٔ اړوی اگرکه سل کرته او زر کرته ترے دغه گناه کیږی۔ او کلك عزم به کوی چه دا گناه به بیا نهٔ کوم لیکن انسانان کمزوری دی، که بیا ترے وشی نو هم الله تعالیٰ ته دے توبه وباسی او نا امیدی دے نهٔ کوی، الله تعالیٰ ئے توبه قبلوی۔ نو پدے حدیث کی ډیره سخته آسانی ده۔

علماء لیکی: (اَلْإِصْرَارُ عَلَى الصَّغِيْرَةِ كَبِيْرَةٌ) خوك چه په واړه گناهونو همیشوالے کوی نو دا کبیره گناه جوړیږی ځکه چه دا دلیل دے په بی باکئ باندے او خوك چه په بی باکئ او زړه ورتیا سره گناه کوی نو دا لویه گناه گرځی۔

وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ: دلته نفی متوجه ده مقید ته نهٔ قید ته، یعنی مؤمنان په گناه باندے اصرار (همیشوالے) نهٔ کوی برابره ده که د هغه گناه په قباحت باندے پوهیږی او که نهٔ، او بیا چه کله پوهیږی نو په طریق اولیٰ باندے همیشوالے پرے نهٔ کوی۔ نو دا قید د زیات تاکید دپاره وئیلے شویدے۔

یا د (وهم یعلمون) مطلب امام مجاهدؒ داسے بیانوی چه دا مؤمنان پدے پوهیږی چه الله تعالیٰ بخنه کوی هغه چاته چه بخنه غواړی او توبه قبلوی د هغه چا چه توبه وباسی۔ (تفسیر ابن ابی حاتم ٣/٧٦٧)

یا (وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ أَنَّ لَهُمْ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ) (حسن بن الفضلؒ) (یعنی په گناه باندے همیشوالے ځکه نهٔ کوی چه دوی پوهیږی چه د دوی رب شته چه گناهونه بخنبی نو

هغه ته توبه وباسی) (القرطبی)

أُولَـٰئِكَ جَزَآؤُهُم مَّغْفِرَةٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَجَنَّاتٌ تَجْرِي
دا کسان بدله د دوی بخنه ده د طرفه د رب د دوی نه او جنتو نه دی چه بهیږی به
مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَنِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ ﴿١٣٦﴾
لاندے د هغے نه ولے، همیشه به وی په هغے کی او ښه دے اجر د عمل کونکو۔

تفسیر: أُولَـٰئِكَ : یعنی د دغه صفتونو والا بدله بخنه ده ددے نیکو صفتونو د وجه نه۔

وَنِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ : ددے مخصوص بالمدح حذف دے اَیِ الْجَنَّةُ ۔ یعنی د عمل کونکو ښه اجر او بدله جنت دے۔ مغفرت ئے مخکی کړو ځکه چه د الله تعالیٰ بخنه کول د جنت نه هم لوی نعمت دے۔ دویمه وجه دا ده چه بنده ته بخنه ونشی نو جنت ته نشی داخلید ے۔ د ګناه سره جنت ته داخلیدل ممکن نۀ دی، جنت دار الطیبین دے۔

قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِكُمْ سُنَنٌ فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ
یقیناً تیر شویدی مخکی ستاسو نه طریقے (واقعات) نو وګرځئ په زمکه کی
فَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ ﴿١٣٧﴾
نو ګورئ چه څنګه شو انجام د دروغژن ګنړونکو۔

تفسیر: دا او راتلونکے آیت د اُحد د قصے دپاره مقدمه ده۔ مخکی الله تعالیٰ څه صفات بیان کړل چه دا ځان کی پیدا کړئ الله تعالیٰ به په دشمنانو غلبه درکړی او جنت به هم درکړی نو اُوس داسے آیت راوړی چه د مخکنو واقعو سره ئے هم مناسبت دے نو پدے آیت کی دوه مقصده بیانوی (۱) اَلتَّسَلِّیُ لِأَهْلِ الْإِیْمَانِ ۔ (۲) وَالتَّهْدِیْدُ لِأَهْلِ التَّكْذِیْبِ ۔ یعنی ایمان والو ته تسلی ورکوی چه تاسو ته به الله تعالیٰ غلبه درکوی او تکذیب والو ته وائی چه که تاسو نۀ سمیږئ او د مؤمنانو مقابلے کوئ نو الله تعالیٰ به سزا درکړی، انجام به مو خراب کړی۔ نو کافران دے نۀ خوشحالیږی چه دوی ته عارضی فتح ملاؤ شوه بلکه د دوی انجام خرابیدونکے دے۔

پدے آیت کی بیا دوه تفسیرونه دی یو راجح او بل مرجوح (۱) راجح دا دے چه الله تعالیٰ

کافرانو ته وائی چه الله تعالیٰ پخوانی کافران په مختلفو طریقو هلاك كړيدی كه تاسو نۀ سميږئ نو تاسو سره به هم دغه شان كار وكړی۔
سُنَنٌ : طریقو ته وائی دلته ترے مراد وَقَـائِع وَأَنْوَاعُ الْمُؤَاخَذَاتِ لِلْمُكَذِّبِيْن دی یعنی واقعے او د مکذبینو په مختلفو طریقو سره رانیول دی۔ (فَانْظُرُوْا اِلٰی عَاقِبَتِهِمُ السَّيِّئَةِ بِسَبَبِ التَّكْذِيْبِ) يعنی الله تعالیٰ په مخکنو کافرانو باندے مختلف واقعات راوستی دی او په قسم قسم طریقو سره ئے هغوی رانیولی دی نو تاسو د هغوی بد انجام ته وګورئ چه څه شو کله چه هغوی تکذیب کولو نو دغه شان کار به تاسو سره هم وشی۔ نو دا خطاب به کافرانو ته شی۔
(۲) د عطاءؒ نه نقل دی چه دلته سُنن شرائعو ته وائی یعنی ستاسو نه مخکی ډیر شریعتونه تیر شویدی چا چه نۀ دی منلی نو هلاك شويدی نو تاسو ته هم شريعت راغلے دے كه وه مو نۀ منلو نو د هغوی په شان به هلاك شئ۔ (معالم التنزيل)
لیکن دا تفسیر نورو علماؤ ضعیف ګڼړلے۔ اول تفسیر ظاهر دے۔
فَسِيْرُوْا : سير (ګرځيدل) په دوه قسمه دی (۱) سَيْر عَلَى الْأَقْدَام۔ په خپو باندے ګرځيدل۔
(۲) دویم سیر په مطالعه د کتابونو او تاریخ سره۔ یعنی د مخکنو خلکو تاریخ وګورئ چه د زمکے په مختلفو علاقو کی هلاك شويدی۔ او په سير او نظر باندے ئے حکم وکړو څکه چه د مخکنو خلکو آثارو ته کتلو سره په عبرت او يره پيدا کيدو کی ډير لوی اثر وی۔

هٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَّمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۳۸﴾
دا (قرآن) وضاحت دے دپاره د خلکو او لار ښودونکے دے او نصيحت دے دپاره د تقویٰ والو۔

تفسير : اُوس قرآن كريم ته ترغيب وركوی نو (هذا) كی به قرآن ته اشاره وی۔ او مناسبت ئے دا دے چه تاسو سير وكړئ يعنی تاريخ وګورئ او بعض د حقيقی تاريخ بيانونكو نه دا قرآن دے چه خلكو ته صفا او صحيح صحيح بيان كوی چه حق او باطل ئے ښكاره كړيدی او صحيح واقعات ئے بيان كړيدی۔
(۲) يا (هذا) كی د اقوام مكذبو هلاكت ته اشاره ده، (قاسمی، روح المعانی)
مګر اوله معنیٰ زياته غوره ده څكه چه قرآن كريم كی د اقوام مكذبو د هلاكت خبره هم صحيح بيان شويده نو دا په هغے كی داخله شوه۔
او قرآن كريم كی دا خبره زياته بيان شويده چه پخوانی قومونه سره د ډيرو طاقتونو او

هنرونو نه هلاك شو دا ولې؟ نو ددې نه عبرت ډير په آسانۍ سره اخستل کيږي، معلوميږي چه الله تعالیٰ حق دے، د هغه رسولان حق دي، د رسولانو تابعداري د هلاکت نه د بچاؤ سبب دے او د هغوی مخالفت سراسر هلاکت دے۔ پدے وجه ئے دا ذکر کړل۔

وَّمَوْعِظَةٌ : په معنیٰ د زجر (منع کونکے) دے متقيانو لره د هغوی د کار په شان کارونو کولو نه۔ [اَیْ تَخْوِيفٌ نَافِعٌ]۔ يعنی داسے يره ده چه متقيانو ته فائده ورکوی۔

فائده : پدے آيت کی د قرآن کريم درے لوی صفتونه بيان شو (۱) بيان کی اشاره ده چه قرآن وضاحت کوی يعنی حق او باطل دواړه بيانوی۔ (۲) او (هدی) کی بيا نيغه لاره ښائی چه پدے روان شه (۳) او موعظة کی اشاره ده چه دا کتاب د بدو او د هلاکت لارو نه منع کوی۔ او د دغه باطل نه منع کول کوی، ګويا که قرآن تا ته دوه لارے صحيح او غلطه بيان کړه بيا په صحيح لاره ئے حکم وکړو او طريقه ئے دروخودله او د بد او باطل نه ئے منع کړے نو څومره کمالی کتاب شو؟!۔

يا بيان هغے ته وائی چه د خلکو شبهات او اشتباهات پرے زائله کيږي۔ او هدايت هغه ته وائی چه د وضاحت نه روستو ئے څوك د خپل ځان دپاره د تګ لاره جوړه کړی او عمل پرے وکړی او موعظه هغه ده چه خلك د هغه کار نه منع کوی چه په دين کی مناسب نهٔ وی۔ نو د معنیٰ حاصل دا شو چه ذکر شوی مضامين (يا قرآن کريم) د ټولو خلکو اشتباهات او شبهات ختموی خو عمل پرے يوازی متقيان کوی او هم دوی پرے د هغه څه نه منع کيږی چه په دين کی غير مناسب وی۔

وَلَا تَهِنُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۳۹﴾
او سستی مهٔ کوئ (د جهاد نه) او مهٔ غمژن کيږئ او تاسو اُوچت يئ که يئ تاسو ايمان والا۔

تفسير : پدے آيت کی په ظاهره کی تسلی ده ايمان والو ته چه په غزا د اُحد کی هغوی ته تکليف رسيدلے وو، اويا کسان ترے شهيدان شول نو هغوی پريشانه وو چه دا په مونږ څه وشو نو الله تعالیٰ ورته تسلی ورکوی چه مه خفه کيږئ او ددے په وجه په ځان کی سستی مهٔ پيدا کوئ، آخری غلبه به ستاسو وی او د اسلام کلمه به اُوچته وی، د ايمان تقاضا دا ده چه تاسو خپل زړونه مضبوط کړئ او په الله تعالیٰ باندے بهروسه وکړئ او د دشمنان پرواه مه ساتئ۔

دويمه فائده : پدے آيت کی عامه قاعده ده ټول امت دپاره يعنی [اَلنَّهْیُ عَنِ الْوَهْنِ وَالْحُزْنِ

لِأَنَّهُمَا سَبَبَانِ لِلْهَزِيمَةِ] ـ الله تعالیٰ منع کوی د وهن او حزن نه چه ددے نه ځان وساتئ ځکه چه دا سبب د هزیمت (شکست) دے، هزیمت نفسی هم دے او هزیمت ظاهری هم۔ او پدے کی نور نقصانات هم شته چه سوء الظن بالله۔ په الله تعالیٰ باندے بدګمانی پیدا کیږی او په انسان کی کسل (سستوالے) د خیر نه پیدا کیږی او دا د جهاد سره هم لګی او د غیر جهاد سره هم۔

وَلَا تَهِنُوا : یعنی مهٔ سستیږئ۔ د وهن معنیٰ په حدیث کی راغلے ده :[حُبُّ الدُّنْيَا وَكَرَاهِيَةُ الْمَوْتِ] (ابوداود ۲/۲۳٤)۔ دنیا سره مینه او مرګ بد ګنړل۔ کله چه په بنده کی دا پیدا شی نو بیا دعوت، جهاد او نور اعمال نشی کولے، دا دواړه د سړی د کمزورئ او سستئ باعث ګرځی۔

وَلَا تَحْزَنُوا : یعنی کوم شے چه درنه فوت شویدے په هغے پسے غم مهٔ کوئ ځکه غم انسان ته فائده نهٔ ورکوی بلکه کار جاری ساته بیا به ئے الله تعالیٰ درکړی۔ په الله تعالیٰ باندے توکل کول او عمل جاری ساتل دا د کامیابئ لاره ده۔ نو پدے آیت کی الله تعالیٰ د بندګانو دغه ذهن سازی کوی۔

بیا نهی د حزن نه وشوه حال دا چه حزن غیر اختیاری امر دے؟ نو **جواب** دا دے چه حزن په دوه قسمه دے، اختیاری وَهُوَ تَرْكُ الْعَمَلِ النَّافِعِ ـ (یعنی فائده مند عمل پریخوستل) دویم غیر اختیاری (وَهُوَ مَا يَكُوْنُ فِي الْقَلْبِ) چه په زړه کی وی نو دلته د اول قسم نه منع شویده۔

وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ : یعنی په دنیا او په آخرت کی اُوچت او غالبه یئ۔ پدے آیت کی دا دی چه د ایمان د فوائدو نه یو [حُصُوْلُ الْغَلَبَةِ وَحُصُوْلُ الْعُلُوِّ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ] ـ (غلبه حاصلیدل او په دنیا او آخرت کی اُوچت والے حاصلیدل دی)۔ نو پدے کی وعده د مدد ده د الله تعالیٰ د طرفنه خو شرط دا دے چه بنده کی صحیح ایمان وی۔ نو څومره چه ایمان مضبوط وی غلبه به زر او همیشه راځی او که ایمان کی نقصان راتلو نو غلبه به هم روستو وی۔

الْأَعْلَوْنَ: یعنی ستاسو شان هم لوی دے او ستاسو شهیدان په جنت کی دی او د هغوی وژل شوی په دوزخ کی دی۔ او ستاسو عاقبت غلبه او د هغوی عاقبت هلاکت دے۔

إِنْ يَّمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ
که ورسیږی تاسو ته زخم (نو صبر کوئ) نو یقیناً رسیدلے دے قوم کافرانو ته زخم

مِّثْلُهُ وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ
په شان ددے، او دا ورځے دی چه مونږه ئے اړه وو راړه وو په مینځ د خلکو کی (دپاره د حکمتونو)
وَلِيَعْلَمَ اللهُ الَّذِينَ آمَنُوا
او دے دپاره چه راښکاره کړی الله تعالیٰ هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے
وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَآءَ وَاللهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ ﴿١٤٠﴾
او ونیسی ستاسو نه شهیدان او الله نهٔ خوښوی ظالمان۔

تفسیر : اُوس بیا د اُحد په باره کی تسلیانی بیانوی چه دیته د اُحد د غزا د شکست خوړولو حکمتونه هم وائی۔ یعنی که تاسو په اُحد کی زخمیان شوئ او ډیر مجاهدین مو شهیدان شول مګر پدے باندے د جهاد نه مهٔ سستیږئ او دومره غم پرے مهٔ کوئ ځکه چه تاسو په مخکی کال کی په بدر کی کافرانو ته دغه شان تکلیفونه رسولی وو۔

قَرْحٌ مِّثْلُهُ : یعنی کافر قوم ته هم دغه شان زخمونه رسیدلی وو په بدر کی لیکن هغوی ضعیفان او بزدله نشو نو تاسو ډیر لائق یئ چه بزدلی به نهٔ کوئ او کار به نهٔ پریدئ او حال دا چه صرف تاسو سره د مدد وعده شویده نهٔ د هغوی سره۔ یعنی تاسو په دردونو کی خو یوشان یئ لیکن امید او ثواب کی جدا یئ۔

اَلْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا : اَیْ نُدِیْلُ تَارَةً لِهٰؤُلَاءِ وَتَارَةً لِهٰؤُلَاءِ۔ (قاسمیؒ) کله ایمان والا په کافرانو غالبه شی او کله کافران په مؤمنانو غالبه شی۔ دا کار الله تعالیٰ د امتحان دپاره کوی ځکه که همیشه مؤمنان غالبه کیدے نو په کافرانو به امتحان نهٔ وے، کافران به په دین کی مجبوراً داخلیدلے۔ او که همیشه کافران غالبه وے نو بیا فائده نهٔ حاصلیدله، د اسلام غلبه به هیڅکله نهٔ راتللے، لیکن انجام الله تعالیٰ مؤمنانو ته ورکوی۔

وَلِيَعْلَمَ اللهُ : ددے متعلق پټ دے : (اَیْ فَعَلْنَا ذٰلِكَ)۔ مونږ دا کار وکړو دے دپاره چه راښکاره کړی الله تعالیٰ مؤمنانو لره او منافقان جدا کړی۔ داسے امتحانات الله تعالیٰ راولی چه پدے کی مخلص او غیر مخلص، منافق او مؤمن سره جدا جدا شی، منافقان به غلطے خبرے او عملونه شروع کړی، په رسول الله ﷺ به اعتراضونه شروع کړی نو خلکو ته به د هغوی منافقت معلوم شی۔

لیعلم : علم دلته په معنیٰ د اظهار سره دے ځکه چه الله تعالیٰ ته هر څه د مخکی نه

معلوم دی۔ ددے لفظ تشریح په سورة البقره دویمه پاره آیت (لنعلم من یتبع الرسول) کی تیره شویده۔

او بل حکمت دا دے : (ویتخذ منکم شهداء) چه الله تعالیٰ په تاسو کی شهیدان جوړ کړی ځکه چه شهادت ډیره اُوچته مرتبه ده نو که داسے مغلوبیت نهٔ راتللے نو بیا به شهادت څنګه حاصلیدلے۔ او په شهادت سره ستاسو دپاره فائده ده چه دا شهیدان به د قیامت په ورځ ستاسو دپاره سفارش کوی نو هلته به پرے ډیر خوشحاله شئ۔ دارنګه مؤمنان د الله تعالیٰ محبوب دی، ډیر ورته ګران دی نو محبوب شے ورله ورکوی هغه دا چه اُوچتے درجے ته ئے رسوی او ګناهونه ترے رژوی۔

وَاللّٰهُ لَايُحِبُّ الظَّالِمِيْنَ : دے جمله کی دوه فائدے دی۔ (۱) مفسرین وائی : [اَلْمُنَافِقُوْنَ لَا يَتَّخِذُ مِنْهُمُ الشُّهَدَاءَ]۔ الله تعالیٰ په منافقانو کی شهداء نهٔ راولی ځکه چه دوی ظالمان دی۔ شهادت باندے اکثر هغه خلك رسیږی چه هغه اُوچت مؤمنان وی، اُوچتو اخلاقو والا وی، ډیر خدمتګار او نرم خلك وی۔ او منافقان هسے مری لیکن شهادت مرتبه ورته نهٔ ورکوی۔ (۲) دویم دا دفع د وهم ده چه کافران راځی او مسلمانان په سر باندے ولی او اُوچت اُوچت مؤمنان ختموی دا ولے الله تعالیٰ دوی له دومره زور او طاقت ورکوی؟ نو الله فرمائی چه کافر د الله تعالیٰ خوښ نهٔ دی نو هغوی باندے خپل محبوبان وژنی دے دپاره چه د دوی ظلم نور هم زیات شی نو الله تعالیٰ به ورته عذاب ورکړی ځکه چه کوم انسان د الله تعالیٰ خوښ نهٔ وی نو د هغه د لاس نه بد عمل راوباسی چه عذاب ئے نور هم زیات شی۔

وَلِيُمَحِّصَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَيَمْحَقَ الْكَافِرِيْنَ﴿۱۴۱﴾
او دے دپاره چه صفا کړی الله تعالیٰ هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے او هلاك کړی کافرانو لره۔

تفسیر : وَلِيُمَحِّصَ : [اَیْ لِيُطَهِّرَ الْمُؤْمِنِيْنَ مِنَ الذُّنُوْبِ]۔ یعنی دے دپاره ئے دا کارونه وکړل چه مؤمنان د ګناهونو نه پاك کړی۔ په شهادت او جهاد سره صفائی راځی۔ لکه ماشوم ته چه مور غسل ورکوی اګر که هغه ژاړی هم۔

یا د تمحیص نه مراد دا دے چه د مؤمنانو صفونه د منافقانو نه راجدا کړی۔ لیکن اوله معنیٰ زیاته راجحه ده ځکه چه تمحیص د ګناهونو د مغفرت دپاره استعمالیږی۔

وَيَمْحَقَ : محق بې برکته کول او هلاکولو ته وائی۔ یعنی کافران الله تعالیٰ د مؤمنانو په شهادتونو سره هلاکوی (۱) یو په دے طریقه چه محق ابطال العمل ته وائی چه د هغوی

عـمـل بـرباد کړی۔ (۲) او دویم دا چه کله دوی مؤمنانو ته چه د الله تعالیٰ اولیاء دی تکلیف ورکـړونـو دوی د الله تـعـالیٰ د هـلاکت مستحق وګرزیدل، الله تعالیٰ ورسره دشمنی شروع کـړی او د دوی بـدلـه تـریـے اخلی لکه حدیث قدسی کی دی : [مَـنْ عَـادَی لِیْ وَلِیًّا فَقَدْ آذَنْتُهٗ بِالْحَرْبِ) ۔(صحیح بخاری: ٦٥٠٢) چا چـه زمـا دیـو ولی سره دشمنی وکړه نو هغه ته ما د جنګ اعلان وکړو۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿اِنَّمَا نُمْلِیْ لَهُمْ لِیَزْدَادُوْا اِثْمًا﴾ ۔ (آلعمران :۱۷۸) مونږ کافرانو ته مهلت ورکوو دیے دپاره چه ګنا هونه ئے نور هم زیات شی۔

دا قـانـون دیـے چـه څوك د الله تعالیٰ سخت دشمن وی نو د هغه لاسه به مؤمنانو ته سخت ضرر رسیږی لکه ابوجهل سمیه رضی الله عنها په برچه ووهله او فرعون آسیه رضی الله عـنـهـا ووهـلـه۔ پـه مـظـلـومـانـو ئے ظلم وکړو، په ظاهر کی به تا ته دا خبره ناشنا ښکاری چه څنګه یو کافر په مسلمان باندیے مسلط شی او هغه ته تکلیفونه ورکوی او الله ورته څه نهٔ وائی نو الله د کافرانو د هلاکولو اراده کړی وی اګرکه فی الحال ئے ورته صبر کړیے دیے۔

یـا پـدیے طریقه چه که بالفرض دا شکست نهٔ ویے راغلیے نو دوی به بیا د مؤمنانو جنګ ته زړه نـهٔ ویے ښه کړیے او مقابلے ته به نهٔ راتلے، کله چه دا کار واقع شو نو کافرانو ته د کامیابیٔ امیـدونـه ښـکـاره شـو چـه د نـورو جـنګـونـو اُورونـه ئے بل کړل او په نتیجه کی دوی ټول کمزوری او آخر کی ختم شول۔ همدغه شان اُوشوه چه په اُحد کی کومو کافرانو په جنګ کـی حـصـه اخستے وه او بیا ئے ایمان رانهٔ وړو نو دوی روستو ټول قتل شول یا ذلیل او خوار شول او در په در به ئے تندګونه خوړل، دا وعده ورسره الله تعالیٰ پوره کړله۔

أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ
آیا ګمان کویٔ تاسو چه داخل به شیٔ جنت ته او تر اُوسه پوریے نهٔ دی ښکاره کړی الله تعالیٰ
الَّذِيْنَ جَاهَدُوْا مِنْكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِيْنَ ﴿۱۴۲﴾
هغه کسان چه جهاد ئے کړیدیے ستاسو نه او نهٔ ئے دی ښکاره کړی صبرناکو لره۔

تفسیر : د اُحـد د شـکـسـت دپاره دا بل حکمت دیے۔ او تسلی ده چه الله تعالیٰ بنده جنت تـه بـغیـر د امتـحـان نـه نـهٔ پـریـدی نـو تـاسو پدیے خفګان مهٔ کویٔ، دغه شان ابتلاء ات به راځـی۔ اول بـه امتـحـان راشی نو د مجاهد او غیر مجاهد او دِ صابر او د غیر صابر تمییز به وشـی نـو مـجـاهـدین او صبرناك به جنت ته بوځی او نور به د خپلے سزا مستحق شی لکه

څنګه چه زرګر سرۀ زر اُور ته ګوزار کړی ګند بلا (رلے) ترے جدا شی او اصلی سرۀ باقی پاتی شی، که دغه ګندونه ددے اصلی سرو سره تلی وے نو ډیر نقصان وو نو کله چه د مؤمن دا عقیده جوړه شی چه جنت ته بغیر د تکلیف او مصیبتونو نه داخلیدل ممکن نهٔ دی نو بیا ورته تکلیف دومره زور نهٔ ورکوی او غاړه ئے ورته ایښی وی۔

وَيَعْلَمَ الصَّابِرِين : دے سره هم (لَمَا) مراد دے۔ اَیْ وَلَـمَّـا یَعْلَم الصَّابِرِیْنَ۔ لیکن د جزم نه نصب ته د تخفیف طلب کولو دپاره نقل شو۔ او خلیل بن احمد وائی چه دا منصوب دے په تقدیر د (اَنْ) سره۔ زجاج وائی : واو دلته په معنیٰ د (حتی) سره دے۔ اَیْ وَلَـمَّا یَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِیْنَ جَاهَدُوْا مِنْكُمْ حَتّٰی یَعْلَمَ صَبْرَهُمْ۔ (القرطبی ٤/ ٢٢٠)

یعنی لا تر اوسه الله تعالیٰ نهٔ دی ښکاره کړی مجاهدین ستاسو نه تردے چه د هغوی صبر را ښکاره کړی۔

ځینی وائی : واو د جمع دپاره دے لکه د لاتأكل السمك وتشرب اللبن) په شان۔ نو معنیٰ به دا وی : أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَالْحَالُ اَنَّهٗ لَمْ یَتَحَقَّقْ مِنْكُمُ الْجَمْعُ بَیْنَ الْجِهَادِ وَالصَّبْرِ)۔ (المنار) آیا ستاسو ګمان دے چه جنت ته به داخل شئ حال دا چه ستاسو نه د جهاد او د صبر جمع کیدل لا نهٔ دی موجود شوی۔

بل پدے آیت کی دا قانون دے ١- چه جنت ته داخلیدل د تکلیفونو نه تاؤ دی لکه په حدیث کی دی: (حُفَّتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ) (صحیح مسلم) د جنت نه تکلیفونه تاو کړے شویدی۔ ٢- دارنګه جهاد او صبر د جنت د داخلیدو ډیر لوی سببونه دی۔ ٣- الله تعالیٰ جهاد او صبر ډیر خوښوی۔

وَلَقَدْ كُنْتُمْ تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَلْقَوْهُ
او یقیناً تاسو آرمان کولو د مرګ (د شهادت) مخکی ددے نه چه مخامخ شئ تاسو د هغے سره
فَقَدْ رَأَيْتُمُوْهُ وَأَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ﴿١٤٣﴾
نو یقیناً ولیدو تاسو هغه او تاسو کتل۔

تفسیر : دا بل حکمت دے چه تاسو د شهادت ارمان کړے وو (لکه د هر مؤمن دا ارمان وی چه ما ته شهادت را کړے شی) خو کله چه را شی نو بیا بنده حیران وی نو الله تعالیٰ فرمائی حیرانیدل نهٔ دی پکار دا هغه مرتبه وه چه تاسو غوښتے وه نو ولے خفه کیږئ، تاسو

ته خو اُوچته مرتبه ملاؤ شوه۔

د روایاتـو نـه معلـومیږی چه څه صحابه کرام د بدر نه پاتی شوی وو نو هغوی دا ارمان کـولـو چـه الله تعالیٰ داسے جنگ راولی لکه د بدر په شان مونږ به پکی په ډیره میړانه سره جهاد وکړو او تر مرګه پورے به تیښته نهٔ کوو نو الله تعالیٰ ورته دغه وعده یادوی۔

اَلْمَوْتَ : ابـن عباس رضی الله عنهما فرمائی: دلته د موت نه مراد شهادت دے۔ ځکه چه هسے د مـرګ تـمـنیٰ کول صحیح نهٔ دی، په حدیث د صحیحینو کی ترے منع راغلے ده۔ لـکـه دا تفصیل په سورة البقره (۹٤) آیت تیر شویدے۔ او هرچه د شهادت غوښتل دی نو دا بهتر عمل دے حدیث کی دی: (مَنْ سَأَلَ اللّٰهَ الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ بَلَّغَهُ اللّٰهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ وَاِنْ مَاتَ عَلٰى فِرَاشِهٖ) ۔ (چا چـه د الله نـه پـه رشتیـا سـره شهـادت وغـوښتـو الله تـعالیٰ به ئے د شهیدانو مرتبو ته ورسوی اګرکه په خپله بستره وفات شی)۔ (مسلم : ٥٠٣٩)۔

فَقَدْ رَأَيْتُمُوْهُ : یـعنی تاسو مرګ ولیدو چه ستاسو ورونه پرے مړه کیدل او تاسو دغه حال ته کتل۔ یا دا چه تاسو اسباب د مرګ ولیدل چه دغه جنګ دے۔

یا رؤیة د زړه پـه سترګـو لیـدل او محسوس کول او علم په هغے راوستل دی او (تنظرون) معنیٰ دا ده چه تاسو په سترګو هم ولیدو۔

فائده: د رَأَيْتُمُوْهُ او وَاَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ فرق دا دے (۱) چـه رؤیة پـه زړه سره وی او نظر پـه سترګـو۔ (۲) او دواړه ئے جمع کړل ځکه چه انسان کله یو شی ته ګوری لیکن نهٔ ئے وینی ځـکـه چـه پـه بـل شـی بـانـدے مشغوله وی نو دواړه ئے جمع کړل پدے کی اشاره ده د هغے تحقق او یقینی کیدو ته۔

خبرداری

د اُحد د شکست ډیر حکمتونه او علتونه دی چه حافظ ابن قیم رحمه الله په زاد المعاد کـی بیان کـړیـدی او زمـونږ پـه کتاب ((سیرتِ رسول (ﷺ) ٢٣٠/٢)) کـی تـفصیلا بیان شویدی، هغه هم د کتلو لائق دی۔

وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ اَفَاْئِنْ مَّاتَ
او نهٔ دے محمد مګر رسول دے یقیناً تیر شویدی مخکی ددهٔ ته رسولان آیا نو که وفات شی دے
اَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلٰۤى اَعْقَابِكُمْ وَمَنْ يَّنْقَلِبْ عَلٰى عَقِبَيْهِ
یا ووژلے شی، اوړئ به تاسو په پوندو خپلو باندے او څوک چه واوړیدو په پوندو خپلو باندے

فَلَنْ يَّضُرَّ اللّٰهَ شَيْئًا وَسَيَجْزِى اللّٰهُ الشَّاكِرِيْنَ ﴿۱۴۴﴾

نو هیچرے ضرر نشی ورکولے الله ته هیخ شے او زر دے چه بدله به ورکړی الله تعالیٰ شکر گزاروته۔

تفسیر: پدے آیت کی بل قانون دے۔او په ظاهر کی یوه قصه بیانول دی چه نبی کریم ﷺ په غزا د اُحد کی حاضر وو نو عبد الله بن قمئه کافر په مصعب بن عمیر ﷜ باندے گوزار وکړو چه هغه د رسول الله ﷺ مدافعت کولو نو هغه شهید کړے شو نو مشرك وویل چه ما محمد (ﷺ) قتل کړو، پدے کی شیطان تیزه چغه کړه (اَلَا اِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ قُتِلَ)۔ خبر شئ محمد (ﷺ) قتل شو) دے دپاره چه مسلمانانو باندے هیبت زیات شی نو په رشتیا دغه شان وشوه چه ډیر مسلمانان په رعب کی شو او ضعف پیدا شو او جنگ څه وخت پورے بند شو، نبی کریم ﷺ خپله آوازونه وکړل چه (اِلَیَّ عِبَادَ اللّٰهِ)۔ ما طرفته راشئ اے د الله بندګانو!) بیا ملګری راجمع شو او جنگ شروع شو۔

نو د مسلمانانو د تربیت او ذهن سازئ دپاره الله تعالیٰ د اُحد د غزا نه روستو دا آیتونه نازل کړل چه محمد ﷺ د الله تعالیٰ یو رسول دے دۀ باندے وفات هم راځی او شهادت به هم پرے راځی نو آیا تاسو به دین پریدئ، حال دا چه دین خو د رسول الله ﷺ د وجود پورے تعلق نۀ لری چه هغه ژوندے وی نو دین به وی او که وفات شی نو دین به ختمیږی، بلکه دین خو د هر بنده صفت دے ترڅو چه انسانان وی دین به وی۔

او عام قانون پکی دا دے چه (اَلثَّبَاتُ عَلَى الدِّيْنِ وَاِنْ مَاتَ الْاَمِيْرُ اَوِ الْكَبِيْرُ)۔ په دین باندے به مضبوط پاتی کیږئ اګرکه امیر یا مشر مړ شی۔ (علماء او مشران به ځی لیکن دین به نۀ پریدئ) او دا هغه آیت دے چه ابوبکر صدیق ﷜ د رسول الله ﷺ د وفات په وخت کی لوستلے وو چه رسول الله ﷺ په ربیع الاول په یولسم هجری کی د (۶۳) کالو په عمر وفات شو، د عمر فاروق ﷜ او د بعض ملګرو رایه دا وه چه رسول الله ﷺ لا نۀ دے وفات ځکه چه منافقان خو لا موجود دی چه هغه ئے نۀ وی ختم کړی هغه به نۀ مری او دا ئے وویل چه چا دا خبره وکړه چه نبی کریم ﷺ وفات دے نو زۀ ئے په توره وهم۔ نو ابوبکر صدیق ﷜ سُنح علاقے ته د خپلے بی بی ملاقات ته تلے وو، خبر شو راغے نو سیده د رسول الله ﷺ کوتے ته ئے تشریف راوړو او تحقیق ئے وکړو او رسول الله ﷺ ئے د دواړو سترګو ترمینځ په تندی ښکل کړو او دا ئے وفرمایل: (يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ (ﷺ) اَمَّا الْمَوْتَةُ الَّتِىْ كُتِبَتْ عَلَيْكَ فَقَدْ مُتَّهَا، وَاللّٰهِ لَا يَجْمَعُ اللّٰهُ عَلَيْكَ مَوْتَتَيْنِ)۔ اے د الله رسوله! هر چه هغه مرګ وو چه

په تا لیکلے شوی وو نو هغه تا ته ورسیدو او قسم په الله چه په تا باندے الله تعالیٰ دوه مرګونه نۀ راجمع کوی (څکه چه دا خو تکلیف دے) بیا مسجد ته لاړو هلته عمر فاروق رضی الله عنه ولاړ وو هغه ئے کینولو، هغه نۀ کیناستو بیا د مسجد بل طرفته لاړو نو ملګری ورجمع شو، د ابوبکر صدیق رضی الله عنه د تهولونه زړه ډیر نرم وو لیکن په داسے وخت کی ډیر مضبوط وو او دا کمال دے نو هغه د خطبی نه بعد دا آیتونه ولوستل سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه فرمائی: ما چه دا آیتونه واوریدل نو زما د خپو نه ساه وختله چه نبی خو په رشتیا وفات شو۔ نو صدیق اکبر رضی الله عنه ورسره دا هم وفرمایل: (مَنْ كَانَ يَعْبُدُ مُحَمَّدًا فَإِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ مَاتَ وَمَنْ كَانَ يَعْبُدُ اللَّهَ فَإِنَّ اللَّهَ حَيٌّ لَايَمُوتُ) ۔ څوك چه د محمد (صلی الله علیه وسلم) بندګی کوی نو هغه خو وفات شو (معبود ئے ختم شو) او څوك چه د الله بندګی کوی نو هغه همیشه ژوندے دے چه مرګ پرے نۀ راځی۔ دائے ډیره مزیداره خبره وکړه چه د موقعے او د محل بیخی مناسب ده۔ مطلب دا چه رسول الله صلی الله علیه وسلم خو خپله فریضه ادا کړه چه مونږ ته ئے د بندګئ چلونه وخودل نور مونږ د الله تعالیٰ بندګئ له پیدا یو۔

نو هر انسان چه به دا آیت آوریدو نو دا به ئے ځان سره لوستلو۔ ګویا که دا آیت اُوس نازل شو، دے ته عدم توجه وائی او دا هم یوه فائده منه خبره ده، په دے سره په علماؤ باندے بدګمانی ختمیږی هغه دا چه کله به یو لوی عالم او شیخ وی په حدیث به پوهه وی لیکن د حدیث خلاف فتویٰ به ورکوی یا به پرے عمل نۀ کوی څکه چه توجه او سوچ به ئے نۀ وی، خلك به پرے بد ګمان کوی حال دا چه هغه به قصداً د حدیث خلاف نۀ کوی لیکن متوجه به ورته نۀ وی۔ دا آیت صحابه کرامو ته یاد وو لیکن ددے مسئلے راویستلو ته ئے توجه نۀ وه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات دے۔ د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په لوستلو سره د تهولو توجه پیدا شوه۔

دا آیت دلیل دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شویدے او څوك چه هغه په دنیاوی ژوند سره ژوندے ګنړی دا غلط وائی۔ او ددے نه د ابوبکر صدیق رضی الله عنه فضیلت ثابت شو۔

وَمَا مُحَمَّدٌ: محمد نوم قرآن کریم کی څلور کرته راغلے دے او دوه معانی ئے دی: (۱) كَثِيرُ الْمَحَامِدِ لِرَبِّهِ (هغه شخص د خپل رب ډیر صفتونه ئے کړیدی) (۲) هغه شخص چه د هغه ډیر صفتونه شویدی او نور نو مونه ئے هم شته۔

فائده: الله تعالیٰ محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په نوم باندے په قرآن کریم کی خطاب نۀ دے کړے ډیاره د تعظیم د شان د هغه۔

إِلَّا رَسُوْلٌ : ددے حصر مطلب دا دے چه محمد (ﷺ) صرف د الله رسول دے (اَیْ غَیْرُ مَأْمُوْنٍ مِنَ الْمَوْتِ) ـ یعنی د مرگ نه مامون او محفوظ نهٔ دے ـ یعنی اله نهٔ دے چه د مرگ نه خلاص وی بلکه مرگ به پرے راځی ـ

قَدْ خَلَتْ : یعنی ددهٔ نه مخکی ډیر رسولان تیر شویدی (وَقَدْ مَاتُوْا) او هغوی مړه شویدی سِویٰ د عیسیٰ علیه السلام نه نو دغه شان په دهٔ باندے به هم مرگ راځی ـ دارنګه د هغوی دین نهٔ دے ختم شوے نو ددے نبی په مرگ به هم ددهٔ دین نهٔ ختمیږی نو منافقان دے نهٔ خوشحالیږی چه محمد (ﷺ) وفات شو بس دین به ئے ختم شی ـ دارنګه د هغوی د مرگ نه روستو نیکان خلك په دین باندے قائم پاتی شویدی نو تاسو به هم په دین باندے قائم پاتے کیږئ ـ

أَفَإِنْ مَّاتَ : یعنی که په دهٔ باندے مرگ راشی یا د چا د لاسه ووژل شی نو تاسو به په خپلو پوندو اوړئ، (د پوندو اوړیدل کنایه ده د مرتد کیدو نه) ـ

أَوْ قُتِلَ : نبی کریم ﷺ نهٔ قتل کیدو الله تعالیٰ ورسره وعده کړے وه ﴿وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ﴾ ـ (المائده : ٦٧) الله به تا د خلکو د وژلو نه محفوظ ساتی ـ

خو دلته ئے قتل په طریقه د فرض باندے ذکر کړیدے او اشاره ده چه انبیاؤ علیهم السلام باندے قتل راتلے شی که نهٔ وے دے فرض محال ذکر کولو کی بیا فائده نهٔ ښکاره کیده او بل پدے وجه په واقعه د اُحد کی د هغه د قتل کیدو پروپیګنډه کړے شوے وه ـ

انْقَلَبْتُمْ عَلٰى أَعْقَابِكُمْ : **سوال** : صحابه کرامؓ خو د ارتداد نه بچ دی نو دا لفظ ئے ولے ذکر کړو؟ جواب (۱) همزه د انکار او (اِنْ) دلالت کوی چه ارتداد واقع شوے نهٔ دے بلکه دا په طریقه د زورنے سره وئیلے شویدے ـ او پدے کی پټے اشارے دی منافقانو ته ـ

فائده : حافظ ابن القیمؒ لیکی : د اُحد واقعه د رسول الله ﷺ د مرگ دپاره مقدمه وه نو الله تعالیٰ د مخکی نه امت ته زورنه ورکړه چه که رسول الله ﷺ وفات شی یا قتل شی نو آیا دوی به د دین نه اوړی بلکه په دوی باندے واجب ده چه د هغه په دین او په توحید به مضبوط پاتی کیږی او پدے باندے به مړه کیږی ځکه چه دوی خو د محمد (ﷺ) د رب بندګی کوی او هغه ژوندے دے ـ بیا وائی ددے عتاب (ملامتیا او زورنے) اثر په هغه وخت راښکاره شو چه رسول الله ﷺ وفات شو او بعض نوی دنیا پرست کسان چه حق ئے زړه ته نهٔ وو ننوتے مرتد شو او شاکرین (موحدین) خلك چه هغوی د نعمت قدر پیژندلو هغوی په دین باندے مضبوط پاتی شو نو الله تعالیٰ د دوی سره مدد وکړو او عزت ئے ورکړو او په

خپلو دشمنانو ئے کامیاب کړل او انجام ئے د دوی دپاره وګرزولو۔ انتهیٰ۔ (قاسمیؒ)
فَلَنْ يَضُرُّوا اللّٰهَ شَيْئًا : یعنی هیڅ قسم ضرر به الله تعالیٰ ته ورنکړی نۀ لږ او نۀ ډیر بلکه خپل ځان ته به ضرر ورکړی چه دنیا او آخرت به برباد کړی۔ ورنه الله تعالیٰ خو به خپل دین ته غلبه ورکوی۔
وَسَيَجْزِي اللّٰهُ : دلته مفعول پټ دے۔ اَیْ جَزَاءً حَسَنًا۔ الله به بدله ورکړی نیکه او ښائسته بدله شاکرینو ته چه دنیا کی به ورسره مدد وکړی او غلبه به ورکړی او په آخرت کی به ثواب او د الله رضا ورته ورکړی۔ نو (ومن ینقلب) کی ترهیب او زرونه ده او په (سیجزی الله) کی ترغیب دے۔ (قرطبی ٢٢٦/٤)
الشَّاكِرِيْنَ : د سیدنا علی رضی الله عنه نه نقل دیاَیِ الثَّابِتِیْنَ عَلَی الدِّیْنِ وَأَبُوْبَکْرٍ سَیِّدُ الشَّاکِرِیْنَ) -یعنی هغه کسان چه په دین باندے کلك پاتی وی چه ددے شاکرینو سردار ابوبکر صدیق رضی الله عنه دے۔ (رواه ابن جریر)
دوی ته ئے ځکه شاکرین وویل چه د شکر معنیٰ ده د نعمت قدردانی کول نو دا هغه خلك دی چه دوی ددے نعمت د اسلام قدر وپیژندو نو ځکه پرے کلك پاتے شو او پدے کی اشاره ده چه دا دین یو نعمت دے نو پدے باندے شکر پکار دے او بیا ددے ډیره ښائسته بدله ده۔ نو ترغیب ورکوی چه دین یو نعمت وګنړه نو بیا به ئے نۀ پریدے او شکر به ئے کوے او دین خلك په هغه وخت کی پریدی (والعیاذ بالله) چه مصیبت ئے وګنړی۔

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَنْ تَمُوْتَ إِلَّا بِإِذْنِ اللّٰهِ كِتَابًا مُّؤَجَّلًا
او نۀ شی کیدے دپاره د یو نفس چه مړ شی مګر په اجازت د الله سره، دا لیکل دی مقرر،
وَمَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا وَمَنْ
او څوك چه غواړی (په عمل خپل سره) بدله د دنیا مونږ به ورکړو هغه ته د هغے نه او څوك
يُّرِدْ ثَوَابَ الْآخِرَةِ نُؤْتِهٖ مِنْهَا وَسَنَجْزِي الشَّاكِرِيْنَ ﴿١٤٥﴾
چه غواړی بدله د آخرت وربه کړو هغه ته د هغے نه او خامخا بدله به ورکړو شکر ګزاروته۔

تفسیر : دا بل قانون او ذهن سازی او نظریه او عقیده ده چه الله تعالیٰ ایمان والو ته دا عقیده ورکوی چه (اَلْمَوْتُ بِقَدَرِ اللّٰهِ لَا بِالْأَسْبَابِ)۔ هر چا دپاره الله تعالیٰ مرګ په تقدیر کی لیکلے دے دا په اسبابو باندے نۀ دے بلکه دا به خامخا راځی، کله انسان بغیر د څه

سبب نه وفات شي او کله يو سبب ورته برابر شي۔ نو يواځې جهادونه سبب د مرګ نهٔ دي، د عامو خلکو دا عقيده ده چه جهاد مرادف د مرګ ګڼړي يعني جهاد ته وتل او سمدست مړ کيدل نو الله فرمائي چه داسې نهٔ ده۔ او پدې ذهن سازئ کې فائدې دا دي :

(۱) ترغيب دې جهاد ته چه د جهاد سره مينه ولرئ (۲) او ترهيب دې د جبن (بزدلئ) نه چه بزدلي مهٔ اختياروئ، مرګ په نيته دې۔ (۳) او د دين نورو کارونو ته ترغيب دې امر بالمعروف او نهي عن المنکر ته چه دا کوئ ځکه چه پدې سره د چا نيته نهٔ رانزدې کيږي او نه رزق دفع کوی ځکه چه د هر چا خپل وخت مقرر دې۔

بِإِذْنِ اللهِ : يعني د الله په امر او د هغه په اراده باندې۔

كِتَابًا مُّؤَجَّلًا : فعل ئې پټ دې (اَىْ كَتَبَ كِتَابًا مُؤَجَّلًا) ۔ الله ليکلی دی د هر نفس دپاره د هغه عمر ليکل د نيتې والا۔ يا ليکل دی مقرر په يو وخت معين باندې چه نهٔ مخکې کيږي او نهٔ روستو کيږي۔

وَمَنْ يُّرِدْ : ددې دوه معانی دی (۱) (وَمَنْ يُّرِدْ بِعَمَلِهٖ) ۔يعني څوك چه د دين عمل کوی او غرض ئې دنيا، مال، رياء او مدح او شهرت وی نو هغه به ورته ورکړو خو سورت بنی اسرائيل (۱۸) آيت کې ورله شرط وئيلې دې : ﴿مَا نَشَاءُ لِمَنْ نُرِيْدُ﴾ څه چه مونږ غواړو او چا له ئې چه غواړو)۔ يعني دنيا کې به ورته دغه څيزونه خو ملاؤ شي غالباً ليکن په آخرت کې به ورله هيڅ برخه نهٔ وی۔ او څوك چه په خپلو عملونو سره د آخرت اراده لری چه الله تعالیٰ به هلته اجرونه راکوی نو مونږ به ئې ورته ورکړو۔

پدې کې اشاره ده دې ته چه کوم انسانان په دين باندې باقي پاتې نهٔ دی هغه دنيا پرست دی او کوم چه د الله تعالیٰ په دين کلك ودريږی نو دا آخرت والا دی او دا ترغيب دې چه اې بنده ! تهٔ د آخرت اراده وکړه نو خپله به په دين باندې کلك پاتې شې۔ او اشاره ده چه څوك د دنيا دپاره نيك عمل کوی نو هغه به غالباً مرتد کيږي۔

(۲) دويم تفسير : يا پدې کې عموم دې يعني څوك چه د دنيا اراده لری ټول نصب العين ئې د دنيا ښه کول وی نو د الله تعالیٰ عادت دا دې چه هغه ته هم دنيا ورکوی، کافران د دنيا د ښه کولو دپاره لګيا دی، نو ډير حده پورې ئې ښه کړيده او د چا نصبُ العين چه آخرت وی نو هغه ته به آخرت ورکړی او په آخرت کې د الله تعالیٰ ښائسته بدلې صرف د هغه خلکو دپاره دی چه په دين کلك ولاړ وی۔ او صرف د آخرت په نيت سره عملونه کوی چه دوی ته شاکرين وائی۔

ربط او تعلق

ددے تعلق د (ماکان لنفس) سره داسے شو چه اے انسانه ! ستا مرگ په نیته دے نو عملونه د آخرت کوه او ددے نه مهٔ یریږه چه ددے عمل په وجه به په تا مرگ راشی لکه جهاد کول د الله په لاره کی او دعوت کول د الله دپاره او مال لگول نو دا مهٔ وایه چه که دا کارونه وکړم هسے نهٔ چه مړ شم بلکه مرگ په خپله نیته دے۔ کله چه د بنده دا یقین شی چه مرگ په خپله نیته دے نو هغه به د جهاد او دعوت کار نهٔ پریدی او د حرام خوریٔ نه به ځان ساتی۔

حکمة : مخکی ئے (سیجز الله الشاکرین) وویل او دلته (سنجزی الشاکرین) (۱) مخکی په بندگیٔ باقی پاتے کیدل وو نو لفظ د الله ورسره مناسب دے او دلته بدله او جزاء د عامل مقصود ده نو صیغه د متکلم ئے راوړه کثرتِ جزاء ته اشاره ده۔

وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ
او ډیر د پیغمبرانو نه جنگونه کړیدی د هغوی په ملگرتیا کی الله والا خلکو ډیرو
فَمَا وَهَنُوا لِمَا أَصَابَهُمْ
نو سستی نهٔ وه کړے هغوی (د جهادکولونه) دوجے د هغه تکلیفونو نه چه رسیدلی وو هغوی ته
فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَمَا ضَعُفُوا
په لاره د الله کی او نه وو کمزوری شوی (په مقابله دشمن کی)
وَمَا اسْتَكَانُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ﴿۱۴۶﴾
او عاجزی ئے نهٔ وه کړے (دشمن ته) او الله مینه کوی د صبرناکو سره۔

تفسیر : ددے ځای نه تر (۱۴۸) پورے الله تعالیٰ د پخوانو پیغمبرانو او د هغوی د تابعدارو اجمالی قصه بیان کړیده، مقصود پدے کی (۱) [اِقْتِدَاءُ الْمُؤْمِنِيْنَ بِهٰؤُلَاءِ الصَّالِحِيْنَ الْقُدَامٰى] ۔ چه مؤمنان د دغه نیکانو تابعداری وکړی۔ (۲) او دا هغه نور صفات دی چه پدے سره شکست دفع کیږی او د امت تربیت پرے کیږی هغه دا دی :

(۱) اول دا چه الله والا ځان جوړ کړه، (رِبِّيُّوْنَ) یعنی اخلاص ځان کی پیدا کړه

(۲) فَمَا وَهَنُوْا : او د وهن او ضعف او استکانت نه ځان وساتیٔ۔ (۳) د صبر ماده ځان کی پیدا کړیٔ۔ (٤) وَمَا كَانَ قَوْلَهُم : د الله نه دعاگانی طلب کړیٔ۔ (۵) او د احسان صفت ځان

کی راولئ۔ یعنی د پخوانو نیکانو په شان صفات ځان کی پیدا کړئ۔

او دا آیتونه د غزا د اُحد سره هم لګیږی چه کله مسلمانانو ته تکلیف ورسیدو نو هغوی پریشانه شو چه مونږ مسلمانان یو او مونږ سره نبی موجود دے او مونږ ته تکلیف رارسیږی او دغسے که هر ځل مونږ وهلے کیږو نو دا خو به مونږ ختم شو او دین به ختم شی؟، مؤمنانو ته داسے قسم وسوسے راځی نو الله تعالیٰ پدے آیتونو سره د مؤمنانو دغه وسوسے ختمے کړیدی چه ددے خبرو نه مهٔ یریږئ، پخوانو نیکانو ته دا قسم مصیبتونه رسیدلی وو لیکن هغوی کلك ولاړ وو نو آیا تاسو به کلك نهٔ ودریږئ بلکه د هغوی اقتداء وکړئ۔ یا په بل تعبیر سره : الله تعالیٰ مؤمنانو ته وائی چه تاسو خو د ټولو امتونو نه غوره امت یئ نو تاسو د نبی کریم ﷺ د مرګ په دروغژنه آوازه باندے په تاسو کی ولے کمزوری او سستی موجوده شوه تردے چه ستاسو ځینی کسانو وغوښتل چه د کافرانو اطاعت ته سرونه ټیټ کړی نو پکار ده چه ستاسو مقاومت او مقابله د نورو امتونو په نسبت ډیره قوی او کلکه وی حال دا چه په پخوانو امتونو کی داسے ډیر خلك تیر شویدی چه د خپلو پیغمبرانو په ملګرتیا کی ستاسو په شان ډیرو مشکلاتو سره مخامخ شویدی خو هغوی دغه درے کارونه نهٔ دی کړی۔

وَكَأَيِّن : دا په معنیٰ د کم خبری (تکثیر) سره دے۔ یعنی ډیرو۔

رِبِّيُّونَ : منسوب دے رب ته، ربانیون او ربیون دواړه په یوه معنیٰ دی یعنی الله والا خلك چه د رب بندګی کوی۔ او دا قول د اخفشؒ دے، په عربئ ژبه کی چه یاء نسبتی د پیوسته کیدو په وجه کله نا کله په کلماتو کی تغیر واقع کیږی، کله په راء باندے زیر راځی او کله په کی الف او نون زیاتیږی ربانی وئیلے کیږی۔ (۲) یادا جمع د رُبَّةٌ ده په معنیٰ د جَمَاعَة سره۔ یعنی ډیر پیغمبران وو چه د هغوی په ملګرتیا کی ډیرو جماعتونو (ډلو) د کفارو په مقابله کی جنګونه کړی وو نو تاسو به ئے هم کوئ۔ (ابن عباسؓ، مجاهدؒ، عکرمهؒ وغیره)

(۳) د ابن مسعود رضی الله عنه قول دے چه د ربیون نه زرګونه خلك مراد دی۔ (ابن کثیر، بغوی)

(٤) ابن زیدؒ وائی : ربیون اتباع (یعنی تابعدارو) او رعیت ته او ربابیون والیانو (مشرانو) ته وائی۔ (ابن کثیر)

فَمَا وَهَنُوا : وهن ئے ونکړو یعنی چه دنیا سره ئے محبت پیدا شی او د مرګ نه ویریږی یعنی سست شی۔ او ضعف وائی : (نُقْصَانُ الْقُوَّةِ فِيُ مُقَابَلَةِ الْعَدُوِّ) ۔ یعنی د دشمن په مقابله کی خپل قوت کم ښکاره کول چه مونږ کمزوری یو، د دشمن د مقابلے نهٔ یو۔ او

کله ضعف د رائی او عقل کی هم استعمالیږی، دلته مراد دا دے چه همت ئے نهٔ وو کمزورے شوے چه قتال پریدی او (وَمَا اسْتَكَانُوا) استکانت دے ته وائی چه دشمن ته عاجزی وکړی او هر څه ورته تسلیم کړی، یا مرتد شی یا ورته د صلح دعوت ورکړی، نهٔ بلکه هغوی په میدان کی کلكِ ولاړ وو. استکانة ډیرے عاجزئ ته وائی د گیُن نه دے او دا د زنانه د رَحِم په خوا کی غوښه ده او هغه ذلیله ده نو استکانة کی معنیٰ د ذلت پرته ده.

نو مجاهدین به ددے درے واړو کارونو نه ځان ساتی او ددے علاج صبر دے نو ځکه وریسے وائی (والله یحب الصابرین). یعنی ځان کی د صبر ماده پیدا کړئ الله تعالیٰ به درسره محبت شروع کړی.

وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ إِلَّا أَنْ قَالُوا رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا
او نهٔ وه وینا (دعا) د هغوی مگر دا چه وئیل به ئے : اے ربه زمونږ! وبخه مونږ ته
ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِي أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا
گناهونه زمونږ او زیاتے زمونږ په کار (د دین) زمونږ کی او مضبوط کړه قدمونه زمونږ
وانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ﴿١٤٧﴾
او مدد راکړه مونږ ته په قوم کافرانو.

تفسیر : پدے آیت کی الله تعالیٰ مونږ ته دا تعلیم راکوی چه د هغه نه به څنگه دعا غواړو دا په جهاد کی هم په کار راځی او په عامو حالاتو کی هم. (القرطبی)

قَوْلَهُمْ : د قول نه مراد دلته دعاگانی دی یعنی جهاد کی به ئے صرف دعاگانی کولے نورے د وسلے د کمئ او د الله تعالیٰ نه د نا امیدئ خبرے نهٔ وے. او خپلو گناهونو ته متوجه وو د هغے د مغفرت سوال ئے کولو. پدے وجه د کان اسم او خبر دواړه ئے د قول لفظ ذکر کړیدے.

د ذنوب او اسراف فرق

۱ - ذنوب هغه دی چه د هغے جنس حرام وی لکه شراب، او اسراف هغه دے چه زیادت پکی حرام وی. ۲ - ذنوب گناهونو او معاصیو ته وائی او اسراف د نبی د اطاعت نه تجاوز کول او بدعت پیدا کولو ته وائی.

۳- ذنوب واړه گناهونه دی او اسراف غټ گناهونه دی. (قرطبی)

او پدے کی اشاره وه چه اے مسلمانانو! په تاسو باندے په اُحد کی څه معمولی شان شکست راغلو نو دا د امیر د معمولی شان مخالفت د وجه نه نو آینده کی متوجه وسیږئ۔
وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا : د ګناهونو د مغفرت سوال ئے مخکی کړو ځکه چه ګناهونه هغه څیزونه دی چه انسان باندے په سخت وخت کی حمله کوی او ددے په وجه بنده نه د الله تعالیٰ مدد اوړی او په انسان باندے د جهاد نه سستی راولی او نا امیدی پیدا کوی۔ نو په هرحالت کی دا دعا کول ضروری دی حتی چه په دعوت او درس کی هم ضروری ده چه د ګناه د وجه نه په بیان او درس او تدریس کی بند نشی۔

فَآتَاهُمُ اللّٰهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ الْآخِرَةِ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٤٨﴾
نو ورکړه الله دوی ته بدله د دنیا او ښائسته بدله د آخرت او الله مینه کوی د احسان کونکو سره۔

تفسیر : پدے آیت کی دا بیان دے چه الله تعالیٰ دغه نیکانو بندګانو ته د هغوی د توحید او په الله تعالیٰ باندے د کامل توکل او د ګناهونو نه د معافی غوختلو په وجه په دنیا کی هم کامیابی ورکړه، فتح او نصرتونه او غنیمتونه ورته ملاؤ شو او ښائسته نوم ئے وګټلو او د ایمان رڼا د هغوی په زړونو کی زیاته شوه۔ او په آخرت کی به ئے په خپل فضل او کرم سره جنت ته داخلوی۔ د آیت په آخر کی الله د دوی ښائسته نوم ذکر کړو نو پدے سره ئے د دوی سره د محبت اظهار اُوکړو۔
د آخرت د بدلو سره ئے (حُسْن) ذکر کړو ځکه چه د دنیا د عوض سره تکلیف هم وی او امتحان پکی وی او د آخرت نعمتونو کی تکلیف هم نشته او امتحان هم نشته۔ بیا ئے د آخرت د بدلو سره هم (آتی) ماضی صیغه ذکر کړه دپاره د تحقق الوقوع یعنی چه دا نعمتونه ورکول دوی ته یقینی دی۔ او دوی دپاره ئے د دنیا او د آخرت بدلے جمع کړے ځکه چه دوی په خپلو عملونو سره د دنیا او د آخرت سعادت اراده کړے وو او جزاء د نیت مطابق وی او پدے کی رد دے په هغه خلکو چه هغوی په زهد کی غلو کوی۔ (المنار)

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تُطِيعُوا الَّذِينَ كَفَرُوا يَرُدُّوكُمْ
اے مؤمنانو ! که تاسو خبره منئ د هغه کسانو چه کفرئے کړیدے واپس به کړی تاسو لره
عَلٰى أَعْقَابِكُمْ فَتَنْقَلِبُوا خَاسِرِينَ ﴿١٤٩﴾
په پوندو ستاسو باندے نو اُوبه ګرځئ تاوانیان۔

بَلِ اللّٰهُ مَوْلَاكُمْ وَهُوَ خَيْرُ النّٰصِرِيْنَ ﴿١٥٠﴾

بلکه الله تعالیٰ مددګار ستاسو دے، او هغه غوره دے د مددګارانو نه۔

تفسیر: ربط: مخکې ذکر شو چه د نیکانو تابعداری وکړئ نو اُوس وائي چه د کافرانو د تابعدارئ نه ځان وساتئ۔

مضمون: او ددے ځای نه نور قوانین بیانیږي، پدے آیت کی دا قانون بیانوی: (اَلنَّهْیُ عَنْ اِطَاعَةِ الْکُفَّارِ)۔ الله تعالیٰ مؤمنان منع کوی د کافرانو د تابعدارئ نه او د هغے وجه بیانوی چه دوی تاسو مرتد کوی۔ دغه شان خبره روستو آیت (١٥٦) کی بیا بیان شویده فرق دا دے چه دا آیت د یهودو او نورو کافرو په باره کی دے او هغه آیت د منافقانو په باره کی وو چه منافقانو هم دا کوشش کولو چه مؤمنان د جهادونو نه بند کړی او د یهودو هم دغه کوشش وو۔ نو الله تعالیٰ فرمائي چه معاشره د مسلمانانو به هله جوړیږی او جهادونه به هله کامیابیږی او اسلام به هله ترقی کوی چه مؤمنان د کافرانو خبره ونهٔ منی۔

شان نزول

ددے آیت د نزول وجه هم دا وه چه بعض کسانو به د یهودو طاعت کولو او هغوی چه به ورته څه وئیل هغه به ئے منل او دا به ئے ویل چه یهود مونږ سره مدد کوی، مونږ له مال راکوی نو الله فرمائي: چه زهٔ به درسره مدد کوم او کافران به درته راځملوم او د هغوی په زړونو کی به رعب واچوم نو د هغوی تابعدارئ ته ضرورت نشته۔

ځینو مفسرینو وئیلی دی چه پدے جنګ کی چه د کومو مسلمانانو زړونه مات شول او شیطان مشهوره کړه چه محمد (ﷺ) قتل شو نو منافقانو بعض مسلمانانو ته اُووئیل چه که محمد (ﷺ) نبی وے نو نهٔ به قتل کیدے، پدے وجه تاسو د خپلو پلارانو او نیکونو دین طرف ته راواپس شئ۔ چونکه دا خبره د اسلام او د مسلمانانو په خلاف یو لوئی سازش وو، پدے وجه الله تعالیٰ هغوی ته خبردارے ورکړو چه که تاسو ددے کافرانو اطاعت کوئ او د دوی په دوکه کی راشئ نو دوی به تاسو د اسلام نه واړوی او هر قسمه تاوان به ستاسو په نصیب کیږی۔

بیا روستو الله تعالیٰ د بعض مسلمانانو په زړونو کی د یو سوال پیدا کیدو جواب کوی چه الله تعالیٰ وئیلی وو زهٔ درسره مدد کوم نو په اُحد کی خو مونږ سره مدد ونشو؟ نو الله فرمائي چه ولے ئے درسره نهٔ دے کړے خو دا ستاسو د بعض ملګرو نقصان وو چه هغوی

حکم مات کړو نو شکست سره مخامخ شوئ او بیا به د اُحد د غزا تصویر بیان کړی ددے دپاره چه تربیت وکړے شی چه دا کار مو صحیح وو او دا کار خطاء وو۔ تر راتلونکی رکوع پورے، بیا الله تعالیٰ د منافقانو د طاعت نه منع کړیده، او د هغے تفصیلات ئے تر (۱۵۷ او ۱۵۸) آیت پورے بیان کړیدی بیا ئے د رسول الله ﷺ صفات بیان کړیدی چه زمونږ د مشائخو په اصطلاح کی ورته (بیان شرائط الامیر) وائی۔ یعنی د امیر د شرطونو بیان چه امیر به دا صفات ځان کی پیدا کوی۔ بیا الله تعالیٰ د خپل توحید او توکل په باره کی خبره کړیده چه صرف اعتماد په الله وکړئ، بیا بل قانون د غلول دے چه په غنیمتونو کی به خیانت نۀ کوئ بیا تقسیم د انسانانو دوه ډلو ته یو د الله د رضا والا او بل د الله د غصی والا، بیا ترغیب دے رسول الله ﷺ ته او د هغه تذکره ئے د یو خاص حکمت دپاره کړیده۔ بیا به په منافقانو ردونه کیږی۔

إِنْ تُطِيْعُوا : مطلب دا دے چه که تاسو د کافرانو خبره ومنله نو د تاوان نه علاوه به بل هیڅ درته ملاؤ نشی ځکه چه یو طرفته به مو ایمان په کفر بدل شی او بل طرفته هغوی تاسو ته نۀ په دنیا کی خیر رسولے شی او نۀ په آخرت کی، د هغوی دا وَس نشته چه تاسو ته د الله تعالیٰ د غضب نه نجات درکړی او یا مو څه مشکل حل کړی بلکه هغوی خپله د الله د دشمنئ او هلاکت سره اخته شویدی۔ بلکه د ټولو کارونو کونکے او مشکلات حل کونکے خو صرف الله تعالیٰ دے او دا تاسو ته چه ښن کوم مصیبتونه در ورسیدل ددے مطلب دا نۀ دے چه ګنے الله تعالیٰ ستاسو کارساز نۀ دے بلکه دا د څه حکمتونو په وجه راغلل، الله تعالیٰ ستاسو غوره مددګار دے ستاسو هیچا ته ضرورت نشته چه مدد ترے وغواړئ، دا کار خو به هغه څوك کوی چه الله تعالیٰ خپل مددګار نۀ ګنړی او د الله نه غافله شوی وی۔

إِنْ تُطِيْعُوا : ابوحیانؒ وئیلی دی چه د هیڅ کافر خبره منل جائز نۀ دی البته ددے نه په اجماع سره مسلمانانو ته لاره خودونکے او د داسے رای والا چه مصلحت پکی ښکاره وی او کتابیه ښځه (چه منکوحه وی) چه د خیر مشوره ورکوی– هغه مستثنیٰ دی۔

خَاسِرِيْنَ : ددے نه د دنیا او د آخرت دواړو تاوان مراد دے، د دنیا تاوان خو دا دے چه دشمن ته غاړه کیخودل او هغه ته محتاج کیدل دی او دا سراسر ذلت دے او د آخرت تاوان دا چه د همیشه ثواب نه محروم کیدل او د عذابونو سره مخامخ کیدل دی۔ او (فتنقلبوا) (انقلاب) نه معلومه شوه چه دین اسلام کی عزت د دنیا او د آخرت دے او په کفر سره هغه

بیخی بدلیږی۔

بَلِ اللّٰهُ : یعنی کافران په هیڅ حالت کی د طاعت لائق نهٔ دی ځکه چه هغوی کی د ولایت (مددګارئ) صفت نشته۔

خَیْرُ النَّاصِرِیْنَ : الله تعالیٰ ولے غوره دے د مددګارانو نه؟

ددے ډیرے وجے دی (۱) د الله تعالیٰ نصرت سره د بل چا نصرت ته حاجت نشته نو هغه کافی او کامل مدد کوی۔ (۲) د هغه نصرت په دنیا او آخرت کی دے۔ (۳) الله تعالیٰ د مدد غوښتلو نه مخکی هم مدد کوی او د هغه علم او قدرت عام دے نو د نصرت وخت او د انسان حاجت باندے پوره خبردار دے نو د هغے مطابق نصرت کوی، چه په هغے کی څه ظلم په چا نهٔ وی۔ (اللباب لابن عادل الدمشقی ۱/ ۵۹۲)

سَنُلْقِیْ فِیْ قُلُوْبِ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا الرُّعْبَ بِمَا
زر دے چه مونږ به واچوو په زړونو د هغه کسانو کی چه کفرئے کړیدے یره پدے وجه
أَشْرَکُوْا بِاللّٰهِ مَا لَمْ یُنَزِّلْ بِهٖ
چه دوی برخه داران جوړ کړیدی د الله سره هغه څوك چه نهٔ دے رالیږلے الله د هغے په شرکت
سُلْطَانًا وَمَأْوَاهُمُ النَّارُ وَبِئْسَ مَثْوَی الظَّالِمِیْنَ ﴿۱۵۱﴾
هیڅ دلیل او ځای د ورتللو ددوی اُور دے او بد دے ځای د وسیدو د ظالمانو۔

تفسیر : پدے کی د مدد د یوے طریقے بیان دے چه اُوګورئ نقد مدد خو دا واخلئ چه د کافرانو په زړونو کی به رعب واچوم۔ او دا وعده د اُحد په ورځ باندے رشتینی شوه چه کافران سره د غلبے نه په غیر د څه سبب نه واپس شول او بیا ئے په نیمه لاره کی د دوباره حملے اراده وکړه خو بیا هم ویریدل چه ختم نشو۔

اوَ دا وعده په هر وخت کی د مسلمانانو سره ده چه الله تعالیٰ په هر جنګ کی کافرانو باندے رعب راوستے دے او اسلام ئے غالبه کړیدے او بعض علماؤ وئیلی دی چه د هر کافر په زړه کی د دین اسلام یو قسم رعب پروت دے پدے وجه د اسلام د مغلوبیت دپاره هر وخت کوششونه کوی او د اسلام د غلبے نه یریږی۔

او ددے رعب اچولو دپاره دوه سببونه بیان شویدی۔ (۱) بما اشرکوا: یعنی یو خو دوی د

الله تعالىٰ سره شريكان جوړ كړيدي هغه باطل معبودان چه الله تعالىٰ د هغے په بندګئ او شركت باندے هيڅ يقيني او قطعي دليل نۀ دے راليږلے، نو شرك سبب د رعب دے ځكه چه مشرك د مخلوق نه يره كوي چه هغه عاجز دي او د هغوي نه د مدد اميد لري نو مشرك هسے خيالات اسباب ګڼړي او پدے باندے عادت دے چه د هغه شي نه يره كوي چه د هغے د ضرر نه يره نشي كيدے او د هغه شي اميد لري چه د هغه نه د خير اميد نشي كيدے۔ نو زړه ئے هميشه پريشانه وي او كمزورے او يره كي وي۔ (المنار)

(۲) دويم سبب د رعب په سورة الحشر كي راغلے دے ﴿وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ الرُّعْبَ﴾ – الى قوله – ﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ شَاقُّوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ﴾ يعني د الله او د رسول مخالفت، نو معلومه شوه چه معاصي او ګناهونه سبب د رعب دے۔

سوال وجواب

دلته الله تعالىٰ وفرمايل چه كافرانو باندے به رعب اچوم او ډير كرته په جنګ كي كافران زړه ور وي او مؤمنان كمزوري وي لكه په غزوه د حنين كي واخله چه مسلمانان تس نس شو او كافران په خپلو ځايونو ولاړ وو؟۔

جواب (۱) ځينى وائي چه دلته د كافرانو نه مراد مشركان دي ځكه چه مشرك د بعض مخلوقاتو دپاره بغير د اسبابو نه غيبي تاثير ګڼړي او هرچه كفر دے نو هغه په خپل طبيعت سره سبب د رعب نۀ دے۔ (المنار) مګر دا جواب ضعيف دے۔

(۲) جواب : ځينو علماؤ دا وعده صرف د واقعے د اُحد پورے خاص كړے وه (دا په هغه وخت كي چه دا آيت د واقعے د اُحد نه مخكي نازل شوے وي) چه په اُحد كي الله تعالىٰ د مشركانو په زړونو كي رعب واچولو او كافران بغير د څه سبب نه وتختيدل او مؤمنان ئے په ځاى پريخودل۔ مګر دا قول هم ضعيف دے ځكه چه دا آيت د اُحد نه روستو نازل دے۔ او ځينى وائي چه دا وعده په حمراء الاسد كي پوره شوه چه ابو سفيان بيرته راستون نشو چه د صحابه كرامؓ بيخكندي وكړي۔

(۳) صاحب المنار د خپل شيخ نه نقل كړيدي چه آيت عام دے او مقصد دا دے چه كله د صحابه كرامؓ په شان مسلمانان وي او د قريشو او د هغه زمانے د كافرانو په شان ضديان او عناديان وي چه حق ښه ويني ليكن نۀ ئے مني خو كله چه د دوي جنګ راشي او مؤمنان كلك ودريږي او تيښته ونكړي نو د دغه باطل پرستو شك زيات شي او زړه ئے د رعب نه

ډك شي چه دا خو په حقه دي او مونږ چرته شکست ونۀ خورو ځکه چه د چا زړه ته حق ورسيږي نو د هغه په زړه کې باطل خامخا ګډوډ کيږي. نو حاصل دا شو چه څومره ايمان مضبوط وي هغومره به په کافرانو باندے رعب زيات وي نو کومو مسلمانانو نه چه کافران نۀ يريږي نو هغه پدے وجه چه دوی پوره تول په تول په اسلام باندے راجمع نۀ وي، بعض مخالفتونه پکې وي، دغه شان حالت باندے نۀ وي کوم باندے چه سلف صالحين وو. او ددے تائيد هغه حديث کوي : (يُوْشِكُ اَنْ تَدَاعٰى عَلَيْكُمُ الْاُمَمُ- په هغے کې دا دي : (وَلَيَنْزِعَنَّ اللّٰهُ مِنْ قُلُوْبِ عَدُوِّكُمُ الْمَهَابَةَ مِنْكُمْ) . الحديث. (ابوداود) يعنی ستاسو د دشمنانو د زړونو نه به ستاسو رعب وباسي. (ځکه چه تاسو به په خپل دين کلك نۀ يئ).

يعني پدے کې هيڅ شك نشته چه دے امت محمديه ته رعب ورکړے شويدے ليکن په ځينو ځايونو کې چه د هغے آثار نۀ ليدل کيږي نو هلته به څه مانع موجود وي لکه چه د اُحد په غزا کې د کنډو د مجاهدينو اختلاف سبب شو چه د دوی په زړونو کې په موقت ډول رعب واقع شو. (عزيز التفاسير)

مګر ډيره راجح دا ده چه الله تعالىٰ د هر کافر په زړه کې د مسلمانانو او اسلام نه يره اچولے ده لکه چه مخکې بيان شو او که په يو وخت کې مسلمان د امتحان په طور شکست وخوري خو عاقبت د اسلام او د مسلمانانو دپاره دے. او کافران سره د غالبه کيدو نه بيا هم په رعب کې وي، پريشانه وي چه مسلمانان راباندے بيرته غالبه نشي.

مَا لَمْ يُنَزِّلْ : دا قيد د مزيد قباحت دپاره دے، شرك هسے هم حرام دے او بيا پرے الله تعالىٰ دليل هم نۀ دے رالیږلے. بلکه شرك ټول وهميات او غلط خيالات دي.

قرطبيؒ ليکلي : معنىٰ دا ده چه د بتانو عبادت (يعنی شرك) په هيڅ ملت کې د شرعي ملتونو نه ثابت نۀ دے او د عقل هم خلاف دے.

فائده : ابو السعودؒ او د هغه نه مخکې امام رازيؒ ليکلي دي د شرك د ابطال (باطلوالی) دپاره علت دليل منزله نۀ موجوديدل دي نو ددے علت د وجه نه تقليد هم باطل دے ځکه چه په تقليد کې هم دليل منزله نۀ وي.

علامه آلوسيؒ او ابو السعودؒ وائي : دا آيت دلالت کوي په دے خبره چه د توحيد په باب کې د اتباع قابل شے آسماني برهان (دليل) دے، آراء او خواهشاتِ باطله ته هيڅ اعتبار نشته. او ابوحيانؒ وئيلي دي چه پدے کې د تقليد ابطال (باطل والی) ته اشاره ده ځکه چه مقلد سره دليل نۀ وي. او صاحب اللبابؒ ويلي دي چه دا آيت دليل دے چه تقليد يو فاسد

شے دے ځکه هرکله چه په شرك باندے دلیل نشته نو ضرور باطل دے نو دغه شان هر قول چه په هغے باندے دلیل منزل نهٔ وی نو باطل دے۔ (قاسمیؒ)

وَمَاْوَاهُمُ النَّارُ : ماوی ځای د پناهئ ته وائی او هغه ځای چه هغے ته رجوع کیږی۔قرطبیؒ نو د کافرانو سره دا د الله تعالیٰ وعده ده چه دنیا کی به مرعوبه شی او په آخرت کی به اُور ته داخل شی۔

مَثْوَی : ځای د وسیدو ته وائی (ثَوٰی بِالْمَكَانِ اَیْ اَقَامَ بِهٖ) په یو ځای کی وسیدل۔

الظّٰلِمِیْنَ : ظالمان ئے دلته مشرکانو ته وئیلی دی ځکه چه دوی غټ ظالمان دی۔

وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ وَعْدَهٗٓ اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ بِاِذْنِهٖ
او یقیناً رشتینی کړی الله تاسو سره وعده خپله کله چه وژل تاسو هغوی لره په مدد د الله سره
حَتّٰٓی اِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِی الْاَمْرِ وَعَصَیْتُمْ
تردے چه کله کمزوری شوئ او جګړه وکړه تاسو په حکم د رسول کی او خلاف وکړو تاسو
مِّنْۢ بَعْدِ مَآ اَرٰىكُمْ مَّا تُحِبُّوْنَ مِنْكُمْ
(د حکم د نبی نه) پس د هغے نه چه وخودل الله تاسو ته هغه څه چه خوښوو تاسو بعضے ستاسو نه
مَّنْ یُّرِیْدُ الدُّنْیَا وَمِنْكُمْ مَّنْ یُّرِیْدُ الْاٰخِرَةَ ثُمَّ
هغه وو چه اراده ئے لرله د دنیا او بعضے ستاسو نه هغه وو چه اراده ئے لرله د آخرت بیا
صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِیَبْتَلِیَكُمْ وَلَقَدْ عَفَا
الله واړولئ تاسو د دوی نه دے دپاره چه امتحان وکړی په تاسو او یقیناً الله معافی کړیده
عَنْكُمْ وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَلَی الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۱۵۲﴾
تاسو ته او الله خاوند د مهربانئ دے په ایمان والو باندے۔

تفسیر : پدے رکوع کی د غزوۂ احد تصویر بیانوی دپاره د تربیت۔

ربط او شان نزول : دا متعلق دے د (خَیْرُ النّٰصِرِیْنَ) او (سَنُلْقِیْ) پورے۔ کله چه صحابه کرام د اُحد غزا نه مدینے ته ورسیدل نو هلته دا خبره خوره شوه چه مونږ سره خو الله تعالیٰ د نصرت وعده کړے وه نو دا ماتی مو ولے وخوړله ؟ او کیدے شی چه دا خبره منافقانو خوره کړی وی نو ګویا که دا سوال پیدا شو (کَیْفَ یُلْقِی الرُّعْبَ فِیْ قُلُوْبِ الْكُفَّارِ وَقَدْ قَتَلُوْنَا فِیْ

اُحُدٍ)۔ الله تعالیٰ څنګه د کافرانو په زړونو کی رعب اچوی حال دا چه هغوی مونږ په اُحد کی قتل کړو، نو مدد به کله راځی ؟ نو جوب وشو چه الله تعالیٰ تاسو سره وعده د مدد رشتینی کړیده چه په اوله حمله کی تاسو دوه ویشت کافران ووژل او باقی وتختیدل او غنیمتونه ترے پاتی شول او بیا تاسو هغه راغونډول۔ (تفسیر مدارك ۱/۱٤٦)

وَعْدَهٗ : د وعدے نه مراد وعد النصرة (د مدد وعده) ده۔

اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ : حس په معنیٰ د قتل سره او بیخکندی کولو سره دے۔

بِاِذْنِهٖ : اذن په معنیٰ د قضاء او قدر یا په معنیٰ د توفیق سره دے۔یا په معنیٰ د حکم سره۔

حَتّٰٓى اِذَا فَشِلْتُمْ : ددے ځای نه اُوس د شکست اصل وجه بیانوی چه نبی علیه السلام د عبد الله بن جُبیر رضی الله عنه په مشریٔ کی د پنځوسو غشو ویشتونکو یوه ډله په یو کنډو کی مقرر کړے وه چه کله مسلمانانو فتح ومونډله نو ددے غشو ویشتونکو اختلاف رائے پیدا شوه، اکثرو ویل چه اُوس دلته زمونږ پاتے کیدل ضروری نهٔ دی ځکه چه مونږ فتح حاصله کړیده، د جماعت امیر او تقریباً لسو نورو کسانو ویل چه مونږ ته په هر حال کی دلته د پاتی کیدو حکم دے پدے وجه خپله مورچه مه پریږدئ لیکن هغوی اُونهٔ منله او د نبی علیه السلام حکم او دغه شان د خپل امیر د حکم نه ئے خلاف اوکړو او کنډو (مورچه) ئے پریښودله او په مالِ غنیمت جمع کولو کی مصروف شو۔

فَشِلْتُمْ : اَیْ ضَعُفْتُمْ وَتَرَاخَیْتُمْ بِالْمَیْلِ اِلَی الْغَنِیْمَةِ) یعنی تاسو کمزوری شوئ او روستو شوئ په سبب د مائله کیدو غنیمتو ته)۔ (قاسمیؒ)

جواب د اذا فشلتم : پټ دے اَیْ اُمْتُحِنْتُمْ ۔ کله چه تاسو دغه کارونه وکړل نو په تاسو امتحان وکړے شو۔ (قرطبیؒ)

وَتَنَازَعْتُمْ : دا د فشل بیان دے۔

فِي الْاَمْرِ : یعنی په امر د امیر او په امر د نبی کریم صلی الله علیه وسلم کی مو اختلاف وکړو۔

مَّا تُحِبُّوْنَ : ددے نه مراد د الله تعالیٰ نصرت، د مسلمانانو فتح او غنیمت او د کافرانو شکست دے۔ مطلب دا دے چه الله تعالیٰ خپله وعده پوره کړه تردے چه تاسو خپل محبوب مقصد یعنی فتح او کامیابی ومونډله لیکن د هغے نه روستو تاسو د همت د کمزوریٔ ثبوت ورکړو او اختلافات مو وکړل نو شکست سره مخامخ شوئ نو دا ستاسو د خپل عمل په وجه شو او د الله تعالیٰ د نصرت په وعده کی هیڅ تاخیر ونشو۔

مَّنْ يُّرِيْدُ الدُّنْيَا : ددے کسانو نه مراد هغه صحابه کرامؓ دی چه مُورچه ئے پریښے وه لیکن

د دنیا اراده دوه قسمه ده (۱) یوه اراده عارضه ده او دویم دا چه په خپل عمل سره د ابتداء نه د دنیا اراده لری، او دواړو کی فرق دے، دویمه ناجائز ده او د دنیا اراده په مینځ کی عارض کیدل جائز دی۔ مثلاً چه بنده اول نه د الله تعالیٰ دپاره عمل شروع کړے وی مینځ کی پکی دنیا هم ورته ملاویږی او هغه هم خوښوی نو دا جائز ده لکه یو تن د الله تعالیٰ دپاره جهاد کوی مینځ کی ورته غنیمت هم ملاؤ شی او کوشش کوی چه غنیمت هم حاصل کړی، دغه شان رسول الله ﷺ په جنګ کی وفرمایل: (مَنْ قَتَلَ قَتِيلًا فَلَهُ سَلَبُهُ)۔ چا چه څوك قتل کړو نو د هغه غنیمت به د وژونکی وی) نو دلته ئے د مال دپاره وژل د کافرو اعلان کړیدی دا جائز دی ځکه چه مجاهد د الله تعالیٰ کافر دپاره وژنی لیکن عارضی طریقے سره پکی مال هم راغلو او مؤمن له مال هم څه بد نهٔ دے۔نو دلته هم دا اراده عارضه وه چه دوی وویل چه هسے هم فتح وشوه او غنیمتونه راجمع کیږی داسے ونهٔ شی چه مونږ بره ناست یو او غنیمتونه تقسیم شی او مونږ ته به پکی برخه ملاؤ نشی ځکه چه مخکی د غنیمت متعلق څه حکم نازل نهٔ وو۔ نو د هغوی ګمان دا شو چه دغه ملګری به ئے ځان له راجمع کړی او مونږ به ترے محروم شو او هر بنده اګرکه ډیر اُوچت مسلمان وی دا غواړی چه مال ورته ملاؤ شی او پیسے ئے ډیری شی نو دا څه د قباحت خبره نهٔ ده خو دلته عتاب (ملامتیا) او زرونه پدے وجه ده چه په دوی کی د بعضو ملګرو نه د رسول الله ﷺ او د امیر د امر مخالفت وشو، که صرف ئے د غنیمت اراده کړے وے او امر ماتیدو خبره په کی نهٔ وے نو دا کار بیخی جائز وو۔ لیکن ددے ملګرو ددے ارادے په وجه نورو ته تکلیف ورسیدو نو د داسے دنیا او مال اراده لرل چه نورو ته د هغے په وجه مصیبت ورسیږی، صحیح نهٔ وی۔

صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ : اَىْ بِطَرِيْقَةِ الْاِنْهِزَامِ ۔ ۱- یعنی تاسو ئے واړولئ د هغوی نه پدے طریقه چه تاسو ترے تیښته وکړه ځکه چه په بعض موقعو کی تیښته هم کمال وی، که نهٔ وی تول به په یو ځای شهیدان شوی وے۔ ۲- یا مطلب دا چه بیا تاسو الله تعالیٰ د هغوی نه واړولئ یعنی ستاسو مخونه هغوی ته متوجه نهٔ شو او په غنیمتونو باندے مشغول شوئ نو الله تعالیٰ دریاندے امتحان راوستو۔

وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ : مخکی نه معلومه شوه چه بعض ملګرو نه دا سهوه وشوه چه د هغے په وجه شکست راغلو نو منافقان به د صحابه کرامؓ پسے خبرے کوی چه د ابوبکر او د عمر وغیره رضی الله عنهم دلاسه مونږ ته دا مصیبت راورسیدو نو د دوی د خولونه به ئے

ځوك خلاصوی نو الله تعالیٰ د صحابه کرامو د طرفنه مدافعت کوی چه خامخا الله تعالیٰ تاسو ته معافی کړیده اے مؤمنانو ! خو آینده کی احتیاط کوئ۔
بله دا چه دوی خو مسلمانان دی او مسلمان ته چه کله د الله تعالیٰ د طرفنه وویل شی چه تا کمزوری وکړه او تا د حکم مخالفت وکړو نو دا خو د هغه دپاره تباهی ده، په هغه به ځومره خفګان راجمع شی او زړونه به ئے مړئ ته ورسیږی نو الله تعالیٰ وفرمایل: چه مهٔ خفه کیږئ د انسان نه غلطی کیږی، اُوس تاسو معاف شوئ، آینده کی احتیاط کوئ او د صحابه کرامؓ د مخالفینو خوله ئے بنده کړه چه دا زما بندګان وو او غلطی ترے وشوه ما معاف کړیدی، ستاسو په دوی باندے د اعتراض هیڅ حق نشته۔ نو هغه کسان ډیرلوی مجرمان دی چه ددے نه روستو هم صحابه کرامؓ مجرم ګنړی او هغوی پسے سپکے سپورے وائی، همدغه خلك د دین دشمنان دی۔ فالی الله المشتکیٰ۔
د صحابه کرامؓ واقعات او تاریخ به هم پداسے طریقه پیش کولے شی چه د خلکو د زړونو نه د هغوی عظمت او کرامت ونهٔ وځی ځکه چه د هغوی توله زندګی د طاعت وه، په ټول عمر کی به د بعضو نه چرته یوه سهوه نیمه شوی وی هغه هم الله تعالیٰ معاف کړیده او د (رضی الله عنهم ورضوا عنهم) تاپه ورته لګیدلے ده۔
او صحابه کرامؓ ددے واقعے نه روستو ډیرے دعاګانی کړی او الله تعالیٰ ته ئے ډیرے توبی ویستلی دی او په خپل دے کار باندے سخت پښیمانه شویدی نو د الله خپل فضل او رحم په وجه د هغوی دعاګانے قبولے کړیدی۔
وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ : یعنی الله تعالیٰ په هر حال کی په مسلمانانو باندے فضل کونکے او مهربان دے که دوی ته شکست ورکوی نو دے دپاره چه په امتحان کی د ثابت قدم پاتے کیدو جذبه ئے پیدا شی او په امتحان کی د ثابت قدم پاتے کیدو سره د دوی په ایمان کی پوخوالے راځی او د دوی زړونه د شکوك او شبهاتو د خیری نه پاك صفا شی۔ نودا هم د دوی دپاره رحمت دے لکه څنګه چه نصرت او فتح ورکول رحمت دے۔
یا ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ عَفَا عَنْهُمْ ۔ الله په مؤمنانو مهربانه دے ځکه ئے دوی ته معافی وکړه۔ یا ئے ترے دشمنان واړول او ټول ئے ختم نهٔ کړل۔

اِذْ تُصْعِدُوْنَ وَلَا تَلْوٗنَ عَلٰۤى اَحَدٍ وَّالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ
کله چه تاسو روان وئ او شا ته مو نهٔ کتل هیڅ یو تن ته او رسول آواز کولو تاسو ته

فِىٓ اُخۡرٰىكُمۡ فَاَثَابَكُمۡ غَمًّاۢ بِغَمٍّ لِّكَيۡلَا تَحۡزَنُوۡا
د روستو ستاسو نه نو الله ورسولو تاسو ته غم دپاسه د غم نه، دے دپاره چه غمژن نشئ
عَلٰى مَا فَاتَكُمۡ وَلَا مَاۤ اَصَابَكُمۡ ‌ؕ وَاللّٰهُ
په هغه څه پسے چه فوت شو ستاسو نه او نهٔ په هغه څه چه ورسیدو تاسو ته او الله
خَبِيۡرٌۢ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۵۳﴾
خبردار دے په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ۔

تفسیر: دا متعلق دے د (صَرَفَكُمۡ) پورے او دا هم تصویر دے د جنګ اُحد۔

تُصۡعِدُوۡنَ : د اِصۡعَاد نه په مخ د زمکه او په کندو او درو کی تللو ته وائی (قرطبیؒ) او اصعاد د صعید نه دے هوار میدان ته وائی۔ اَیۡ تَذۡهَبُوۡنَ هَارِبِیۡنَ اِلَی الۡمَدِیۡنَةِ ۔ تاسو روان وئ چه مدینے طرفته په تیښته وئ۔ او په بل قراءت کی (تَصۡعَدُوۡنَ) دے هغه د صعود نه دے، غره ته ختلو دپاره استعمالیږی او دواړه حالتونه په صحابه کرامؓ راغلی وو، څه کسانو مدینے ته منډے کړے او څه کسان درُو او غرونو ته وختل او داسے وارخطاء وو چه هیچا ته ئے یو خوا بل خوا نهٔ کتل چه د هغوی حال معلوم کړی ځکه خپله پریشانه او هیبت والا وو او په عین دغه وخت کی رسول الله ﷺ تاسو ته ناری وهلے چه (اِلَیَّ عِبَادَ اللّٰهِ ! اِلَیَّ عِبَادَ اللّٰهِ!)۔ اے د الله بندګانو! ما طرفته راشئ او منډے مهٔ وهئ مګر تاسو په دومره اندازه وارخطا وئ چه دده (ﷺ) آواز ته مو فکر هم نهٔ وو۔

وَلَاتَلۡوُوۡنَ : د لَیّٗ نه اخستے شویدے چه ددے معنیٰ ده د څټ اړولو سره اخوا دیخوا کتل۔

فِىٓ اُخۡرٰىكُمۡ : ۱- یعنی په بل طرف کی۔ ۲- یا د روستو نه۔ (روح المعانی ۹۱/۴)

۳- یا په هغه ډله کی چه روستو پاتی وه او میدان نه نهٔ وو تښتیدلی او پدے کی د رسول الله ﷺ سخته بهادری ته اشاره ده ځکه آواز سره دشمن ته ښکاره شو۔

فَاَثَابَكُمۡ : یعنی تاسو ته ئے ورسولو غم۔ اثاب اکثر په خیر کی استعمالیږی او کله کله په شر کی هم۔ ځکه چه دا د ثواب نه دے او ثواب رجوع ته وائی نو ثواب هغه بدلے ته وائی چه کونکی ته راواپس کیږی که هغه د خیر بدله وی او که د شر۔ (رازیؒ، قاسمیؒ)

غَمًّا بِغَمٍّ : (۱) د اول غم نه مراد قتل او د شکست غم دے۔ او د دویم غم نه مراد د رسول الله ﷺ د وفات آوریدو غم وو۔ او باء په معنیٰ د (عَلٰی) یا په معنیٰ د (مَعَ) سره ده۔ یعنی الله

تعالیٰ تاسو ته د قتل او شکست غم در ورسولو لیکن دے پسے ئے بل غم یو ځای کړو دے دپاره چه اول غم درنه هیر شي ځکه چه د رسول الله ﷺ د وفات آوریدو غم ډیر سخت وو او دا قانون دے چه کله یو غم راشي او روستو پسے لوی غم راشي نو اول غم د انسان نه هیر شي لکه صحابه کرامؓ چه کله د رسول الله ﷺ د وفات خبر واوریدو نو سخت پریشانه شو بیا ئے چه د هغه د ژوند خبر واوریدو نو د شکست غم ترے هیر شو لکه یوے زنانه چه رسول الله ﷺ ولیدو نو وے ویل : (كُلُّ مُصِيبَةٍ بَعْدَكَ جَلَلٌ)۔

ستا د ژوند نه روستو هر مصیبت وړوکے دے۔

(۲) یا (اَثَابَكُمْ غَمًّا بِسَبَبِ غَمٍ أَذَقْتُمُوهُ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ بِعِصْيَانِكُمْ لَهُ وَمُخَالَفَتِكُمْ أَمْرَهُ) (روح المعاني ٤/٩٢)۔ یعنی وے رسولو تاسو ته غم په سبب د غمژن کولو ستاسو رسول الله ﷺ لره چه د هغه مخالفت مو وکړو او د هغه نه وتښتیدلئ او هغه مو دشمن ته پریښودو (ابن القیمؒ) (قاسميؒ) اول تفسیر ډیر واضح دے۔

(۳) حافظ ابن قیمؒ په ((زاد المعاد)) کي لیکي چه دلته ډیر غمونه مراد دي نۀ دوه غمه او د هغے اسباب هم زیات وو لکه یو غم د غنیمت فوت کیدل، بیا ورپسے د شکست غم، بیا د هغه زخمونو غم چه دوی ته ورسیدل بیا د قتل غم، بیا د رسول الله ﷺ د قتل آواز آوریدو غم، بیا د دشمنانو د دوی دپاسه غر ته ختلو غم او دا غمونه ئے پرے پدے وجه راوستل چه ابتلاء او امتحان ئے ښه سخت شي چه بدله ورته ښه ملاؤ شي۔

او ددے غمونو اسباب دا دي چه تاسو د رسول الله ﷺ نه وتښتیدئ او د الله نبی او د هغه ملګری مو دشمن ته پریښودل، او د هغه خبره مو نۀ آوریدله چه هغه تاسو ته آوازونه کول د ډیرے وراخطائی ستاسو نه او د هغه د حکم د مخالفت د وجه نه چه تاسو ته ئے وئیلي وو چه مرکز (مورچه) به نۀ پریدئ او ستاسو د اختلاف او د فشل (کمزورتیا) په وجه او دا ټول داسے څیزونه دي چه هر یو د خاص خاص غم لائق دے نو بس په دوی باندے غمونه راپنډ شو لکه چه اسباب ئے راپنډ شو او که ددے سره د الله تعالیٰ عفوه ملګرے نۀ وے نو دا به بیا غټ مصیبت وے، خو د الله لطف او مهرباني او رحمت په هغوی باندے دا وو چه دا کارونه چه د دوی نه صادر شو دا طبعي کارونه دي چه په نفسونو کي باقي پاتي وي او پدے سره همیشه مدد بندیږي خو لیکن الله تعالیٰ په خپلے مهربانئ سره دوی دپاره داسے اسباب تیار کړل چه بیرته دوی ته دغه نصرت راواپس کوی او ددے بد آثار ختموی هغه دا چه دوی پوهه شو چه ددے کارونو نه توبه ویستل او په آینده کي ددے په شان

کارونو نه ځان ساتل او هغه په خپلو اضدادو سره دفع کول یو متعین کار دے چه دوی ته کامیابی او همیشه نصرت نهٔ حاصلیږی مگر صرف په همدے سره نو ددے نه روستو به دوی ډیره سخته یره او احتیاط کولو او هغه دروازے به ئے ډیرے ښے پیژندلے چه د هغے په وجه شکست ملاویږی او ډیر کرته جسمونه په بیماریانو سره ښه کیږی۔ (قاسمی ۱۵۵/۲)

لِّكَيْلَا تَحْزَنُوْا : علامه جمال الدین القاسمیؒ وائی : دا د (اَثَابَكُمْ) پورے متعلق دے او د نه غمژن کیدو نه مراد دا دے چه تاسو په غمونو باندے عادت او اموخته شئ او په آینده زمانه کی تاسو په تکلیفونو دومره خفه نهٔ شئ۔

عَلٰى مَا فَاتَكُمْ : (اَىْ مِنَ الْغَنِيْمَةِ وَلَا مَا اَصَابَكُمْ مِنَ الْهَزِيْمَةِ مِنَ الْجِرَاحِ) ۔ یعنی دا غمونه ئے درکړل دے دپاره چه تاسو خفه نهٔ شی په هغه غنیمتونو پسے چه تاسو نه فوت شو او نهٔ په هغه زخمونو چه تاسو ته ورسیدل۔

ثُمَّ أَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنْ بَعْدِ الْغَمِّ أَمَنَةً نُّعَاسًا يَّغْشٰى طَآئِفَةً مِّنْكُمْ
بیا راولیږلو الله په تاسو روستو دغم نه امن، چه خوب وو، پټولو هغے یوه ډله ستاسو نه
وَطَآئِفَةٌ قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنْفُسُهُمْ يَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ
او بله ډله فکر کی اچولی وو هغوی لره نفسونو د هغوی، گمان ئے کولو په الله باندے
غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ يَقُوْلُوْنَ هَلْ لَّنَا مِنَ الْأَمْرِ مِنْ شَيْءٍ
ناحقه گمان په شان د گمان د جاهلیت والو، وئیل دوی آیا شته مونږ لره د اختیار نه څه شے،
قُلْ إِنَّ الْأَمْرَ كُلَّهٗ لِلّٰهِ يُخْفُوْنَ فِيْ أَنْفُسِهِمْ مَّا
ورته ووایه یقیناً کارونه ټول د الله په اختیار کی دی، پټوی دوی په زړونو خپلو کی هغه څه
لَا يُبْدُوْنَ لَكَ يَقُوْلُوْنَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ مَّا
چه نهٔ ئے ښکاره کوی تاته، وائی دوی که چرته وے مونږ لره د اختیار نه څه شے نهٔ به وے
قُتِلْنَا هٰهُنَا قُلْ لَّوْ كُنْتُمْ فِيْ بُيُوْتِكُمْ
وژلے شوی مونږ (یعنی ملگری زمونږ) دلته، ته ووایه که وے تاسو په کورونو خپلو کی
لَبَرَزَ الَّذِيْنَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ إِلٰى مَضَاجِعِهِمْ
خامخا راوتلی به وو هغه کسان چه لیکلے شویدے په هغوی باندے قتل (مرگ) ځایونو د پریوتلو خپلو ته

وَلِيَبْتَلِيَ اللّٰهُ مَا فِي صُدُوْرِكُمْ
او (دا کارئے وکړو) دیے دپاره چه امتحان وکړی الله د هغه (ایمان) چه په سینو ستاسو کی دیے
وَلِيُمَحِّصَ مَا فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ
او دیے دپاره چه صفا کړی هغه (ایمان) چه په زړونو ستاسو کی دیے او الله پو هه دیے
بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿١٥٤﴾
په هغه خبرو چه په سینو کی دی۔

تفسیر: پدیے آیت کی د اُحد د غزا نور احوال بیانوی او پدیے کی مؤمنانو ته تسلی او په هغوی باندیے سره د بعض خطاگانو نه د الله تعالیٰ رحمت ذکر کیږی او منافقانو ته زورنه ورکوی۔

ثُمَّ: یعنی سره ددیے مخکنو کارونو نه بیا هم الله تعالیٰ تاسو سره دا احسان وکړو چه د جنګ په میدان کی ئے په تاسو باندیے خوب راوستو۔ امام بخاریؒ د ابو طلحه ﷺ نه نقل کړیدی چه په مونږ باندیے خوب راغیے او مونږ د قتال په صف کی ولاړ وو نو توره به زما د لاس نه غورزیدله او ما به بیا راخستله (دریے کرته پریوته) او په روایت د ترمذیؒ کی دی: ابو طلحهؓ وائی چه ما سر اُوچت کړو نو ما نۂ لیدل هیڅوك مګر د خپلے د سر توپیٔ لاندیے ئے سر خکته کوو د وجه د خوب نه۔ او ددیے خوب فائده دا شوه چه د ستړی ستومانه او د زخمونو نه ذریے ذریے او یروه ولے شوی مجاهدینو د زړونو نه د ویریے او انا امیدیٔ اثر ختم شو او هغوی تر وتازه او خوشحاله شو او د دشمن سره د بیا مقابلے دپاره تیار شو۔

دویم پدیے خوب راوستو سره د نبی کریم ﷺ معجزه ښکاره شوه چه ددیے په لیدو سره د دوی ایمان کی نور هم زیاتوالے راغیے۔

فخر الدین رازیؒ لیکلی دی چه د خوب ډیر فوائد وو۔ یو اَهمه فائده دا شوه چه د اسلام دشمنانو مسلمانان په یو ځل ختمولو پسے لګیدلی وو پدیے وجه د خوب په حالت کی محفوظ او په امن کی پاتے کیدل ددیے خبریے لوئی دلیل وو چه الله تعالیٰ په هغه حال کی هم د دوی حامی او ناصر وو۔ او ددیے لازمی نتیجه دا شوه چه د الله په وعدو باندیے د دوی یقین زیات شو او د دشمن خوف او یره د هغوی د زړونو نه اُووتله۔ (تفسیر کبیر)

أَمَنَةً : **امن او امنة کې فرق**

امنه هغه ځای کې استعمالیږي چه یره زائل شي او سبب ئے باقي وي او امن دے ته وائي چه یره او د هغے سبب دواړه زائل شي۔ دلته د یرے سبب موجود وو چه میدان د جنگ دے لیکن بیا هم الله تعالیٰ اطمینان ورکړو دا د صحابه کرامو کرامت وو او د الله تعالیٰ مدد وو۔ او د جنگ په میدان کې خوب راتلل سره ددے نه چه مخامخ کافران دي او دوی نه الله تعالیٰ محفوظ ساتلي دي دا دلیل دے چه الله تعالیٰ مددګار دے او هغه اسبابو ته محتاج نهٔ دے او د صحابه کرامو کرامت دے او د نبي کریم ﷺ برکت دے۔

نُعَاسًا : دا د (اَمَنَةً) نه بدل اشتمال دے یا عطف بیان دے۔ نعاس پرکالي (لږ خوب) ته وائي چه سر کې ئے اثر راشي۔

يَّغْشٰى طَآئِفَةً : ددے ډلے نه مراد عام مؤمنان دي او (يَغْشٰى) پټولو معنیٰ دا چه په دماغو ئے راتللو۔

وَطَآئِفَةٌ قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنْفُسُهُمْ : پدے کې اختلاف دے چه ددے طائفے نه څوك مراد دي (۱) یو قول دا دے چه ددے نه منافقان مراد دي او د خبرونه ئے معلومیږي ځکه چه د خپل ځان فکر ورسره وي او د رسول الله ﷺ غم نهٔ کوي او (يَقُوْلُوْنَ هَلْ لَّنَا مِنَ الْاَمْرِ مِنْ شَيْءٍ) او (مَا قُتِلْنَا هٰهُنَا) نه معلومیږي چه دا منافقان دي۔ د سیدنا زبیر بن العوام ﷺ نه روایت دے چه زهٔ د جنګ په میدان کې نعاس (پرکالئ) نیولے وم چه نیم اُوده وم او نیم ویښ وم او د معتب بن قُشَیر نه مے دغه ذکر شوے خبرے واوریدے (هَلْ لَّنَا مِنَ الْاَمْرِ مِنْ شَيْءٍ) او هغه خو د منافقانو نه وو۔ (تفسير القرطبي ٤/٢٤٢) نو منافقانو کې اکثر ددے جنګ نه د نیمائي لارے نه واپس شوي وو لیکن یو نیم پکې بیا هم شریك شوے وو او کیدے شي چه د غنیمت په غرض روستو راغلي وي۔

(۲) دویم قول دا دے چه ددے طائفے نه مراد کمزوري مؤمنان هم کیدے شي ځکه چه ضعیف مؤمنانو باندے هم د امتحان په وخت کې دغه شان حالت راځي چه د ځان فکر ورسره وي او سینه ئے تنګه شي او په زړه کې ئے په الله تعالیٰ او په دین باندے شکونه او شبهات پیدا شي که مونږ خپل ځان ته وګورو نو دغه شان حالت په مونږ هم راځي چه کله په بنده باندے لږ شان تکلیف زیات شي او مدد روستو شي نو په الله باندے بدګمانه شي اګرکه ښه مؤمن به وي لیکن غیر اختیاري دا حالت راپیښیدے شي چه د خولے نه ئے ورانے خبرے وځي۔ او دا هم کیدے شي چه دا خبرے اصل کې منافقانو کړي وي خو ځیني په

اسلام باندے مشرف نوی ساده لوح خلك به هم ورسره ددے خبرو نه متأثره شوی وی او د هغوی په خبرو کی به راغلی وی څکه چه وسوسه خو تاثیر لری لکه د عائشے رضی الله عنها په بهتان کی اصل برخه منافقانو اخستے وه لیکن بعض مسلمانان د خپلے سادگئ په بناء د هغوی د تاثیر لاندے راغلی وو۔ اول قول غوره دے۔

أَهَمَّتْهُمْ أَنْفُسُهُمْ : ددے نه دا معلومیږی چه (مَنْ لَمْ يَهْتَمَّ بِالدِّيْنِ وَاهْتَمَّ بِنَفْسِهِ فَهُوَ مُنَافِقٌ أَوْ فِيْهِ خَصْلَةٌ مِنَ النِّفَاقِ)۔ چا سره چه صرف د خپل ځان غم وی او د دین او د رسول الله ﷺ د سنتو او د دین والو غم ورسره نهٔ وی په تهولو کارونو کی نو په دهٔ کی د منافقت خوئی راغلے دے۔ او په یو ضعیف روایت کی دی : (مَنْ لَمْ يَهْتَمَّ بِأَمْرِ الْمُسْلِمِيْنَ فَلَيْسَ مِنْهُمْ) څوك چه د مسلمانانو په کارونو غمژن نشو (او د هغے اهتمام ئے ونکړو) هغه د مسلمانانو نه نهٔ دے۔ (رواه الحاكم والطبراني في الاوسط وسنده ضعيف- المقاصد الحسنة للسخاوي رقم : ۱۱۸۲)

ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ : یعنی په الله باندے داسے بد گمانونه کوی لکه چه د جاهلیت په زمانه کی به جاهلیت والو کولو او دا تجربه ده چه ټول نقصانات د بدگمانئ نه پیدا کیږی۔

امام ابن القيم رحمه الله په ((بدائع التفسير)) کی د بد گمانئ ډیر اقسام بیان کړیدی چه عامے ډلے د بدگمانئ نه گمراه شویدی (۱) مشرکان په الله بدگمانه دی نو وائی چه بابا له به ورځو او هغه به ئے الله تعالیٰ ته وائی ځکه زمونږ خبره سمه نهٔ آوری، نو وگوره دے بدگمانئ ته۔ (۲) او جُهمیه په الله بدگمانه دی د هغه صفات نهٔ منی او وائی چه تعدد د قدماؤ به راشی نو د الله د صفاتو نه ئے شرك جوړ کړو۔ (۳) قدریه په الله باندے بدگمانه دی وائی که الله تعالیٰ د مخکی نه تقدیر ولیکی بیا خو ظلم راځی۔

(٤) جبریه په الله بدگمانه دی وائی چه انسان نه چه گناه کیږی نو الله ئے پرے کوی پدے کی د انسان څه واك نشته او بیا انسان ته په گناه باندے سزا ورکوی نو دا ظلم دے۔ (والعیاذ بالله) (٥) عام فاسقان په الله بدگمانه دی د الله تعالیٰ امرونه ځکه ماتوی چه وائی الله تعالیٰ په مونږ باندے سختے پابندیانی لگولی دی پکار دا وه چه دا ئے نهٔ وے لگولی نو ځکه نافرمانی کوی۔ هر کفر او شرك د بدگمانئ نه پیدا کیږی۔

ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ : د منافقانو ددے بد گمانئ ډیر صورتونه دی (۱) یو دا چه (أَفَلَا يَنْصُرُ رَسُوْلَهٗ) ۔ الله د خپل رسول سره ولے مدد نهٔ کوی؟ نو معلومیږی چه دا به د الله رسول نهٔ وی۔ (۲) کله به ئے دا وئیل : (لَاحِكْمَةَ لِلّٰهِ فِيْ هٰذَا) ۔ پدے کی د الله هیڅ حکمت نشته چه مؤمن وژنی او رسول باندے حملے کیږی نو د تقدیر او د حکمت نه ئے انکار کولو۔

(۳) کله به ئے دا گمان کولو چه الله د چا سره د نصرت او کامیابئ وعده وکړی او بیا هغه نهٔ پوره کوی. (روح المعانی ٤/٩٤) چونکه د منافقانو بزدلی او خوف (یره) په خپل حال باقی پاتے وه پدے وجه ئے داسے غلط گمانونه شروع کړل. (٤) منافقانو دا گمان هم کولو چه مشرکان غالبه شو او اسلام او مسلمانان به ختم شی. (قاسمی)

او دے ته ئے ناحقه او د جاهلیت گمانونه وویل وجه دا وه چه دا د الله تعالیٰ د ذات او د هغه ښکلے صفاتو خلاف گمانونه وو او د داسے گمانونو نه د الله په توفیق او د هغه په رحمت سره ډیر کم خلق بچ کیږی کله چه پرے داسے حالات راشی، او هغه خلك بچ کیږی چه الله تعالیٰ او د هغه اسماء او صفات ئے په صحیح طریقه پیژندلی وی او د هغه په هر کار کی د حکمت یقین لرونکے وی، نو څوك چه د الله د رحمت نه نا امیده شو نو دهٔ په الله باندے بد گمانی وکړه، او چا چه دا خبره زړه ته راوسته چه الله تعالیٰ به خپلو اولیاؤ (نیکانو بندگانو) ته سره د نیکئ او اخلاص د هغوی نه عذاب ورکوی او هغوی او د هغوی دشمنان به یو شان کوی نو دهٔ هم په الله باندے بدگمانی وکړه او که دا گمان وکړی چه الله تعالیٰ به بندگان مهمل پریدی او هیڅ امر او نهی به ورته نهٔ کوی او رسولان به ورته نهٔ رالیږی او کتابونه به ورته نهٔ رالیږی بلکه د چارپیانو په شان به ئے پریدی نو دهٔ هم په الله باندے بدگمانی وکړه چه ددے تفصیل علامه قاسمیؒ د حافظ ابن قیمؒ نه نقل کړیدے (محاسن التاویل للقاسمی ۲/۱۵۸).

هَلْ لَّنَا مِنَ الْأَمْرِ مِنْ شَيْءٍ : (۱) امر یا په معنیٰ د فتح او نصرت سره دے یعنی آیا زمونږ دپاره د نصرت او فتح نه څه شته یعنی نشته، یعنی دا رسول وائی چه نصرت او فتح به رازی کومه ده چه فتح او نصرت راغلل؟ دا په نورو الفاظو کی د نبی علیه السلام تکذیب وو. (بغوی) (۲) یا امر اختیار ته وائی یعنی مونږ ئے بی اختیاره جهاد ته راویستلی یو، که زمونږ اختیار وے مونږ به نهٔ وے راوتلی.

(۳) یا (هَلْ لَنَا مِنْ أَمْرِ التَّدْبِيرِ وَالرَّأْيِ مِنْ شَيْءٍ). آیا زمونږ دپاره د تدبیر او رائے نه څه شے شته یعنی زمونږ څه رایه نشته چه هغه ومنلے شی لکه ددے نظیر روستو (لَوْ أَطَاعُونَا مَا قُتِلُوا) دے. یعنی عبد الله بن ابی ابن سلول منافق وئیلی وو چه زمونږ مشوره ونهٔ منلے شوه چه مونږ وئیلی وو چه مدینے نه بهر نهٔ ووځو او دا نبی ووتلو څکه مونږ ووژلے شو. (قاسمی ۲/۱٦٠)

إِنَّ الْأَمْرَ كُلَّهُ لِلَّهِ : (اَیِ التَّدْبِيرُ كُلُّهُ لِلَّهِ) یعنی تدبیر ټول د الله تعالیٰ دے نو هغه دغه شان

تدبیر جوړ کړے لکه څنګه چه د هغه په تقدیر کی لیکلے شوے وو۔ او د هغه د حکمت مطابق کار وشو۔ مقصد دا چه دوی د الله تعالیٰ د تقدیر نه انکار کولو پس د هغے نه چه هغه واقع شو نو پدے وجه الله تعالیٰ پرے رد وکړو چه دا ټول کارونه د الله په اختیار کی دی او د هغه په تقدیر سره د هغه د حکمت مطابق کیږی نو د تقدیر نه انکار نهٔ دے پکار بلکه دے ته تسلیمیدل پکار دی۔ (قاسمیؒ عن ابن القیمؒ)

یا د (الامر کله) نه مراد د مدد او کامیابئ معامله ده چه دا په مکمل طور باندے د الله په اختیار کی ده، کله چه هغه د خپل رسول سره وعده وکړه نو هغه به ضرور ددهٔ مدد کوی او هغه په خپل مناسب وخت کی مدد کوی۔

يُخْفُوْنَ فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ: یعنی دوی په زړونو کی هغه خبرے پټوی چه تا ته ئے نهٔ راښکاره کوی۔ یا خپل مابین کی هغه پټے خبرے کوی چه هغه تا ته نهٔ راښکاره کوی۔

يَقُوْلُوْنَ لَوْ كَانَ : دا د (يُخْفُوْنَ) نه بدل دے یعنی دوی په زړونو کی دا خبره پټوی چه وائی الخ۔

لَنَا مِنَ الْاَمْرِ شَیْءٌ مَّا قُتِلْنَا هٰهُنَا : یعنی که زمونږ خپل اختیار وے نو مونږ به د مدینے نه بهر نهٔ وے راوتلی او دلته به نهٔ وے وژلے شوی یعنی زمونږ ملګری۔ دا معنیٰ ظاهره ده ځکه چه روستو جمله پرے دلیل دے۔

قُلْ : یعنی که الله تعالیٰ د چا قتل په کوم ځای کی لیکلے وی نو هم هلته به مړ کیدلے، د بل یو کار پسے به ئے راویستلی وے او په همدغه ځای کی به ئے وژلی وے، یا دا چه خپل مینځ کی به دغه ځای ته راوتی وے او یو بل به ئے وژلی وے، یا به پرے زلزله راغلے وے یا سیلاب وغیره۔ ځکه چه الله تعالیٰ د چا دپاره مرګ ولیکی نو یو سبب ورله جوړ کړی نو که هغه نهٔ وی نو بل سبب به پیدا کړی۔ نو دا د الله د معرفت لویه نښه ده چه الله تعالیٰ د مرګ دپاره کوم ځای مقرر کړی نو هلته ورله اسباب پیدا کړی۔

لَبَرَزَ : بروز میدان ته راوتلو ته وائی۔

الَّذِيْنَ : دا فاعل د (بَرَزَ) دے۔ کتب : یعنی چه د الله په علم کی لیکلے شوے وی۔

كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ : دا نائب فاعل د (كُتِبَ) دے۔

اِلٰى مَضَاجِعِهِمْ : جمع د مَضْجَعٌ ده، ځای د ډډے لګولو، مراد ترے نه د مقتولینو ځایونه د پریوتلو دی۔

وَلِيَبْتَلِيَ : دا د محذوف پورے متعلق دے اَیْ فَعَلَ ذٰلِكَ لِمَصَالِحَ جُمَّةٍ وَلِلْاِبْتِلَاءِ وَالتَّمْحِيْصِ)

(مدارك ١/١٤٧)۔ الله تعالیٰ دا کارونه وکړل د ډیرو مصلحتونو او فائدو دپاره او د امتحان او د صفائی زاوستو دپاره۔

(لِيَبْتَلِيَ) د منافقانو سره لګی او (لِيُمَحِّصَ) د مؤمنانو سره۔ په منافقانو امتحان کوی چه د دوی په سینو کی ایمان شته او که نهٔ او د مؤمنانو زړونه او ګناهونه صفا کوی یعنی دے دپاره چه د مخلصینو اخلاص او د منافقانو نفاق ظاهر کړے شی۔ (روح المعانی)

زړونو باندے کله غفلت، او شهواتو ته میلان او د شیطان وسوسے راځی کوم چه د ایمان، اسلام، بر او تقویٰ ضد دی نو د امتحان په ذریعهٔ د هغے صفائی وشی او صرف الله تعالیٰ طرفته بنده متوجه شی نو صفا شی۔ نو ابتلاء د دوائی په شان ده۔ که ابتلاء نهٔ وی او زړونه همیشه په یوه طریقه پاتی شی نو دا خیزونه ورسره ګډوډ کیږی او ددے نه نهٔ صفا کیږی نو د الله د حکمت تقاضا دا شوه چه زړونو دپاره ئے امتحان مقرر کړو لکه د ترخه دوائی په شان چه مریض ئے بد ګنړی لیکن د هغه دپاره پکی فائده وی۔نو دا هزیمت او شکست هم په دوی باندے د الله تعالیٰ نعمت شو لکه څنګه چه دوی ته نصرت او کامیابی ورکول او په دشمن باندے غالبه کول نعمت وو۔ (افاده ابن القیمؒ – قاسمیؒ)

إِنَّ الَّذِينَ تَوَلَّوْا مِنكُمْ يَوْمَ الْتَقَى
یقیناً هغه کسان چه واوړیدل ستاسو نه (د میدان جنګ نه) په هغه ورځ چه مخامخ شوے
الْجَمْعَانِ إِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطَانُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوا
دوه ډلے، یقیناً وخویول دوی لره شیطان په سبب د بعض هغه ګناهونو چه دوی کړی وو
وَلَقَدْ عَفَا اللَّهُ عَنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿١٥٥﴾
او یقیناً معافی کړیده الله تعالیٰ دوی ته، یقیناً الله بخنه کونکے صبرناك دے۔

تفسیر : پدے آیت کی په اُحد کی د شکست دپاره سبب بیانوی۔ او د جنګ یو بل تصویر ذکر کوی چه د اُحد په ورځ کله چه دواړه ډلے یو بل سره ملاؤ شوے او حالات بدل شو نو څه مسلمانان وتښتیدل، څه غرونو ته وختل او څه مدینے ته لاړل نو دا د شیطان د وسوسے په وجه وشو سره ددے نه چه الله تعالیٰ دوی سره د مدد وعده کړے وه۔ او مفسرین لیکی چه د رسول الله ﷺ سره صرف دیارلس کسان پاتی شو۔ او په روایت د مسلم کی دی چه (٩) کسان پاتی شول۔

إِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ : د زَلَلْ نه دے د خپے خویدو ته وائی مراد ترے نه شکست خوړل دی۔
بِبَعْضِ مَا كَسَبُوْا : په سبب د سپیرۀ والی د بعض عملونو چه دوی کړی وو۔ یعنی د دوی نه بعض گناهونه او خطاگانے شوے وے چه هغه مرکز پریخودل وو (قاسمیؒ) ځکه چه یوه گناه بلے گناه ته راخکل کوی او دا د گناهونو نحوست دے چه په وخت د مصیبت کی سرے راگیروی، په بوډاوالی او زنکدن وخت کی راگیروی بیا به ئے دعا هم نهٔ قبلیږی پدے وجه گناه ډیر لوی ضرر لری، کله سړی باندے زاړه گناهونه اثر وکړی پدے وجه الله تعالیٰ ته هر وخت توبه ویستل لازم دی۔
دویم دا چه دوی ته شیطان دا وسوسه واچوله چه تاسو خو گناهګار یئ او ستاسو په اوګو باندے زاړه گناهونه پراته دی لا توبه مو نهٔ ده ویستلے که پدے حالت کی مړۀ شوئ نو د گناه سره به د دنیا نه لاړ شئ او دا وسوسه مؤمنانو ته شیطان په جهادونو کی اچوی چه اُوس وتښته او نیك عمل به وکړے او په آخره کی به شهادت نصیب شی۔ مګر پدے وخت کی بهادری کول او په دشمن باندے ورتلل دا کمال دے اګرکه انسان گناهګار وی پدے سره د هغه گناهونه معاف کیږی۔
حافظ ابن القیم رحمه الله لیکلی دی چه د انسان اعمال د لښکر په شان دی، که ښه وی نو په هغے سره د دشمن په خلاف تقویت او قوت ملاویږی او که بد وی نو دشمن ته قوت ملاویږی۔
وَلَقَدْ عَفَا اللّٰهُ عَنْهُمْ : اُوس به څوك ووائی چه صحابه کرامؓ گناهګاران دی او د هغوی گناه به نیغه نیغه کوی نو الله فرمائی چه ما دوی ته معافی وکړه د هیچا دا حق نشته چه صحابه کرامو باندے طعن او ملامتیا ووائی۔ دا د الله تعالیٰ او د دوی ترمینځ معامله وه۔ ځکه چه د دوی دا تیخته د منافقت نتیجه نهٔ وه بلکه دا یو عارضی غلطی وه۔
عبد الله بن عمر رضی الله عنهما یو خارجی ته وویل چه زهٔ دا ګواهی ورکوم چه الله تعالیٰ عثمان ﷺ ته معافی کړیده (وَلَقَدْ عَفَا اللّٰهُ عَنْهُمْ) نو تهٔ ورپسے ولے خبرے کوے، الله ئے معاف کوی او دغه مجرم بنده ئے نهٔ معاف کوی نو دے د الله تعالیٰ نه ځان مخکی کوی۔
وَلَقَدْ : کی ډیر تاکید دے چه لام د قسم دپاره دے او (قَدْ) د تاکید دپاره دے او فعل ماضی ئے راوړه چه دوی د مخکی نه معاف دی۔
فائده : دلته بعض کسان غلو کوی او وائی چه معافی گناه لره مستلزم نهٔ ده او صحابه کرامو هیڅ گناه نهٔ ده کړے او دا خبره د کتاب المسامره د ابن الهمامؒ نه نقل کوی نو دا خبره

غلو ده۔ صحیح دا ده چه اصحاب د رسول الله ﷺ نه کله کله گناهونه شویدی لیکن الله تعالیٰ معاف کړیدی، د هغوی د نیك عمل او د مجاهده او د الله تعالیٰ رحمت د وجه نه لکه دا خبره حافظ ابن تیمیۃ په ((العقیدة الواسطیه)) کی ذکر کړیده۔

یَا أَیُّهَا الَّذِیْنَ آمَنُوْا لَا تَکُوْنُوْا کَالَّذِیْنَ کَفَرُوْا وَقَالُوْا لِإِخْوَانِهِمْ
اے ایمان والو! مۀ کیږئ د هغه کسانو په شان چه کفرئے کړیدے او وائی په باره د ورونو خپلو کی
إِذَا ضَرَبُوْا فِی الْأَرْضِ أَوْ کَانُوْا غُزًّی لَّوْ کَانُوْا عِنْدَنَا مَا
کله چه هغوی سفر کوی په زمکه کی یا وی غزا کونکی، کچرته وے دوی زمونږ سره نۀ به
مَاتُوْا وَمَا قُتِلُوْا لِیَجْعَلَ اللّٰهُ ذٰلِكَ حَسْرَةً فِیْ قُلُوْبِهِمْ
مړه کیدے او نۀ به وژلے کیدے، دے دپاره چه وګرځوی الله دا خبره افسوس په زړونو د دوی کی
وَاللّٰهُ یُحْیِیْ وَیُمِیْتُ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِیْرٌ ﴿۱۵۶﴾
او الله ژوندی کول کوی او مړه کول کوی او الله په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ لیدونکے دے۔

تفسیر : پدے آیت کی الله تعالیٰ د تشبه بالمنافقین او د هغوی د تابعداریٔ نه منع کړیده۔ او پدے کی یو قانون او ادب هم دے چه الله تعالیٰ ئے ایمان والو ته ورکوی (لَا تَکُوْنُوْا مِثْلَ الْمُنَافِقِیْنَ فِیْ أَقْوَالِهِمْ وَآرَائِهِمْ) چه د منافقانو په شان مۀ کیږئ د هغو په خبرو کی او د هغوی په رایه کی۔

د منافقانو طریقه دا ده چه د تقدیر په مقابله کی کلمه د (لَوْ) استعمالوی، دارنګه د الله تعالیٰ امر ماتوی، او نورو خلکو ته وسوسے اچوی او ګمان ئے دا دے چه دا زمونږ هوښیارتیا ده او په مینځ کی د دوی کم عقلتوب دے۔

وَقَالُوْا لِإِخْوَانِهِمْ : ددے نه نسبی ورونه مراد دی ځکه چه صحابه کرامؓ او منافقان دواړه قسمه انصار وو اګرکه اسلام کی ورسره شریك نۀ وو۔

أَوْ کَانُوْا غُزًّی : ددے سره دا مراد دے (فَمَاتُوْا أَوْ قُتِلُوْا)۔ یعنی مړه شی یا قتل شی۔

غُزًّی : جمع د غازی ده۔

لَّوْ کَانُوْا عِنْدَنَا : یعنی که دوی مونږ سره په مدینه کی د جهاد نه پاتی شوی وے نو مړه به نۀ وے۔ (لَوْ) کلمه د شیطان عمل راکولاووی کما فی الحدیث۔ دا د منافقانو کلمه ده چه د

تقدیر په مقابله کې ئے استعمالوي وائي ارمان دے که فلانی ځای ته تلے نهٔ وے مړ به نهٔ وے وغیره وغیره۔ ځکه چه منافقانو ته الله تعالیٰ دا سزا ورکوي نو تهٔ داسے کلمه مهٔ استعمالوه چه تا ته دا سزا ونهٔ رسي او هغه سزا داده :

لِيَجْعَلَ اللّٰهُ : لام د عاقبت دپاره دے یعنی ددے خبرے انجام دا شو چه الله تعالیٰ دا کلمه او عمل د منافقانو په زړونو افسوس ګرزوي پدے سره د دوی مړی خو راژوندی کیدے نهٔ شي بلکه خپل زړونه ئے ځان له خراب کړل، دا قانون دے چه په تقدیر یقین وي نو پریشانی به ختمه شي او چه په تقدیر ایمان کمزورے شي نو سخت پریشانه وي لکه کافرو خلکو ته چه مصیبت ورسیږي ډیر سخت پریشانه وي، او مؤمن وائي چه الله تعالیٰ داسے لیکلی دی نو خفګان پرے نهٔ کوي۔

لِيَجْعَلَ : یا دا متعلق دے د محذوف پورے (اَیْ اَلْقَی اللّٰهُ ذٰلِكَ فِیْ قُلُوْبِهِمْ لِيَجْعَلَ)۔ یعنی الله تعالیٰ د دوی په زړونو کې دغه د (لَوْ) کلمه واچوله دے دپاره چه د دوی افسوسونه زیات شي۔ او دا عقوبت دے د دوی دپاره، په دنیا کې الله تعالیٰ دغه شان خلکو ته سزا ورکوي۔

یا د حَسْرَةً نه مراد په آخرت کې شرمندګي او افسوس دے په سبب ددے وینا د دوی سره۔ دواړه کیدے شي لیکن اول ډیر ظاهر دے۔

وَاللّٰهُ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ : نو الله تعالیٰ ذهن سازي کوي چه مرګ او ژوند د الله تعالیٰ په لاس کې دے، دا د سفر او کور کې کیناستو سره تعلق نهٔ لري بلکه دا د الله تعالیٰ د ارادے او مقرر وخت سره تعلق لري۔

وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ
او که چرته ووژل شوئ تاسو په لاره د الله کې یا مړه شوئ خامخا بخنه د طرفه د الله نه
وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿۱۵۷﴾ وَلَئِنْ مُّتُّمْ
او مهربانی غوره ده د هغه (مالونو) نه چه دوی ئے راجمع کوي۔ او کچرته مړه شوئ تاسو
اَوْ قُتِلْتُمْ لَاِلَى اللّٰهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۱۵۸﴾
یا ووژلے شوئ خامخا الله ته به ورجمع کړے شئ۔

تفسیر : اُوس دوه خبرے بیانوي (۱) اول د دنیا او د آخرت فرق بیانوي چه آخرت غوره دے د دنیا نه نو که څوك د دنیا نه د ایمان سره لاړ شي نو څه پرواه ده !۔ (۲) دویمه خبره

انسان علی کل حال الله تعالیٰ ته ورتللو والا دے۔ که انسان په هر حالت کې وي خو الله تعالیٰ ته ددۀ ورګرزیدل دي که انسان په کور کې وي هم مرګ به پرې راځي او که په سفر کې وي هم مرګ به پرې راځي او الله له به ورځي نو دا ګنے غوره نۀ ده چه سرے د الله په لاره کې ووژلے شي په نسبت ددے چه په کور کې مړ شي، مرګ خو حق دے او لیکلے شویدے نو آیا د شهادت مرګ غوره نۀ دے ؟! نو ولے خفه کیږئ!۔

ځینې مفسرین وائي چه پدے دوه آیتونو کې غرض دا دے چه نکول عن القتال (د جهاد نه روستو پاتې کیدل) مۀ کوئ ځکه چه مرګ او قتل د الله په اختیار کې دے۔

لیکن ظاهره دا ده چه پدے کې الله تعالیٰ یو ناشنا طریقے سره د مؤمنانو ذهن سازي کوي هغه دا چه منافقان وائي چه جنګ ته تلي نۀ وے نو مړه به نۀ وے نو الله فرمائي چه مرګ خو څه هلاکت او تباهي نۀ ده چه خلك ووائي لاړو غرق او تباه شو او د هلاکت کندے ته پریوتو بلکه راشئ د مرګ حقیقت وپیژنئ بنده مؤمن چه مړ شي نو خپل یو عظیم رب ته ورځي، د الله سره مغفرت او رحمت دے چه هغه د ټولے دنیا نه غوره دے نو بنده به لاړ شي په راحت کې به ځملي (مستریح به شي) خوبونه او مزے به وکړي او ګناهونه به ئے معاف شي او نور ګناهونه به ترے نۀ کیږي او بله دا چه د خپل الله دیدار به ورته نصیب شي هغه الله چه تا د هغه د رضا دپاره ټوله زندګي تیروله او ټول کوششونه دے د هغه دپاره کول نو اُوس هغه الله ته ورسیدے نو د مرګ حقیقت دا دے:

(اَلْمَوْتُ نَقْلَةٌ مِنَ الدَّارِ الْفَانِيَةِ اِلٰى دَارِ الْمَغْفِرَةِ، اِلٰى دَارِ الرَّحْمَةِ، اِلٰى دَارِ الرُّؤْيَةِ)۔

د فاني کور نه نقل کیدل دي داسے کور ته چه هلته د الله بخنه ده، د هغه رحمتونه دي او د هغه لیدنه (ملاقات) دے۔ مؤمن دِے مړ شي هیڅ پرواه نشته بلکه نعمت ته لاړو۔ نو کله چه بنده پدے پوهه شي چه مؤمن مړ شو نو نعمتونو ته لاړو نو بیا ورپسے خفګان نۀ کوي او خپله هم د مرګ نه نۀ یریږي۔ ددے کمزوري او فاني محلے نه به لاړ شي ډیرے ښائسته محلے ته چه هغه د پیغمبرانو او نیکانو صالحینو محله ده۔

سیده عائشه رضی الله عنها د وفات په وخت خفه وه (جزع ئے کوله) عبد الله بن عباس رضی الله عنهما ورته وفرمایل : (تَقْدَمِيْنَ عَلٰى فَرَطِ صِدْقٍ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَعَلٰى أَبِي بَكْرٍ) (بخاری: ۳۷۷۱)۔ (ته خو په محمد ﷺ او په ابوبکر صدیق (رضی الله عنه) باندے ور روانه ئے څه له خفه کیږے۔ بلال رضی الله عنه چه وفات کیدو ښځے ورپسے ژړل هغه ورته وویل : ژړا ولے کوے ؟ (غَدًا نَلْقَى الْأَحِبَّةَ مُحَمَّدًا وَصَحْبَهٗ) صبا له به د ملګرو سره ملاویږو چه محمد ﷺ

او د هغه ملګری دی۔ نو پدے آیتونو کی د مؤمن دپاره د زیری لوی خبر پروت دے۔
خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ : ددے نه تهوله دنیا مراد ده ځکه چه د انسانانو عادت دا دے چه مالونه، جائیدادونه راجمع کوی۔
او حدیث کی راغلی چه الله تعالیٰ په بنده باندے په هغه وخت کی ډیر مهربانه وی چه کله دا مړ شی وجه دا ده چه دنیا کی انسان چه ژوندے وی نو لړ مست وی نو د الله رحمت ترے لږ جدا وی، لوی لوی خبرے کوی او چه کله مړ شی نو پوره محتاج شی،نۀ ئے خپه کار کوی او نۀ لاسونه او نۀ ژبه او نۀ غوږونه او نۀ لوی لوی خبرے کولے شی نو داسے وخت کی ورته د الله تعالیٰ رحمت ډیر متوجه وی۔
وَرَحْمَةٌ: د الله رحمتونه په ډیرو قسمونو سره دی لکه د قبر فراخیانی، په هغے کی خوشبویانی او په هغے کی رناګانے دا ټول مؤمن ته ملاویږی نو مرګ د مؤمن دپاره ښه تحفه ده۔
لَإِلَى اللهِ تُحْشَرُونَ : (الی الله) ئے مقدم راوړو پدے کی حصر دے او په حصر کی اشاره ده چه اے بنده ! دا فکر وکړه چه تۀ چرته روان ئے ؟ ته الله ته ورغلے نۀ بل چا ته، هغه الله ته ورغلے چه ستا دوست دے، دشمن له نۀ ئے ورغلے، مسافر کیږے نۀ بلکه خپل مولیٰ او حقیقی مالك خوا ته ورغلے نو تۀ نعمت ته ورسیدے نۀ ضائع کیدو ته۔ دا خو د کفارو عقیده ده چه بنده مړ شی نو بس لاړو غرق شو او ختم شو او اخوا هیڅ شے نشته، مؤمن خو په الله عقیده لری او په قبر کی راحت او مزے منی او بیا جنتونه دی نو بیا ولے خفګان کوی۔

په دواړو آیتونو کی د قتل د مخکی ذکر کولو او روستو کولو فرق

مخکی آیت کی ئے قتل مقدم کړو ځکه چه هغه د جهاد سره لګی او په جهاد کی د بل دلاسه قتل زیات وی او موت (طبعی مرګ) کم وی او دویم آیت کی د عام حالت بیان دے او په عام حالت کی طبعی مرګ زیات وی او دا نعمتونه د دواړو حالتونو سره متعلق دی۔ نو مؤمن په هر حال کی د مزو سره مخامخ دے۔
ځینو علماؤ ددے آیتونو په فائده کی وئیلی دی چه بعض مؤمنانو باندے د ګناهونو یره غالبه وی او په ځینو باندے د الله نه امید او په ځینو باندے د الله محبت او د هغه دیدار نو (لمغفرة) کی د اولے ډلے او په (ورحمة) کی د دویمے ډلے او په (لالی الله تحشرون) کی د دریمے

ډلے اجر خودلے شویدے۔ مګر ظاهر دا ده چه دا دریے واړه بدلے د یو مؤمن دپاره وی۔

فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيْظَ الْقَلْبِ
نو په سبب د احسان د الله سره نرم شویے ئے تهٔ دوی ته او که وے ته بد ژبے او سخت زړیے
لَانْفَضُّوْا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ
خامخا خواره شوی به وے دوی د ګیر چاپیره ستا نه نو معافی کوه دوی ته او بخنه غواړه
لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ
د دوی دپاره او مشوره کوه د دوی سره په کار کی نو کله چه ته قصد وکړے د یو کار
فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِيْنَ ﴿١٥٩﴾
نو ځان سپاره په الله باندے یقیناً الله مینه کوی د توکل کونکو سره۔

تفسیر : پدے آیت کی الله تعالیٰ په صحابه کرامؓ باندے احسان ذکرکړیدے چه تاسو ته ئے دومره ښائسته صفاتو والا پیغمبر درکړیدے نو ددے تقاضا دا ده چه تاسو ددهٔ تابعداری وکړئ چه هغه جهاد ته ځی نو تاسو هم ورسره ملګرتیا وکړئ۔ دا خو د صحابه کرامو دپاره فائده شوه۔ نو پدے کی د رسول الله ﷺ شان او مرتبه هم ذکر شویده چه د ډیرو کاملو صفاتو خاوند وو او پدے کی امتنان (او احسان) کول دی په نبی ﷺ باندے هم او په مؤمنانو باندے هم۔

او استنباطی مسئله پکی دا ده چه پدے کی بیان د شرائطو د امیر دے چه امیر کی دغه صفتونه راتلل پکار دی۔ چه د ملګرو سره نرمی وکړی او بد ژبانه او بد اخلاقه نهٔ وی او ملګروته په غلطئ باندے معافی کونکے وی او د هغوی سره مشورے کوی او د هغوی د جرمونو دپاره د الله نه معافی غوښتونکے وی او مضبوط عزم والا وی۔

ربط :

١ - مخکی الله تعالیٰ مؤمنان د منافقانو په شان خبرو کولو نه منع کړل نو اُوس وائی چه د منافقانو په غلطو غرضونو کی تاسو واقع نهٔ شئ ځکه چه د هغوی د دغه ویناګانو نه یو مقصد دا دے چه د مؤمنانو په الله تعالیٰ باندے توکل او اعتماد کمزورے شی او په اسبابو ئے تکیه او اعتماد قوی شی، او دویم دا چه نبی کریم ﷺ د مؤمنانو نه زړه بدی شی

او په آینده کې ورسره مشوره ونکړې. نو الله تعالیٰ دغه دواړه مطلبونه دلته رد کړل.
۲- دویم دا چه مخکې الله تعالیٰ د مؤمنانو دپاره مغفرت او رحمت ذکر کړو نو اُوس وائي چه د الله تعالیٰ د رحمت نه په دنیا کې یو رحم دا دے چه خپل نبي ئے د هغوی دپاره رؤف او رحیم ګرځولے دے او نبي کریم ﷺ ته ئے حکم کړیدے چه د مؤمنانو دپاره زما نه بخنه غواړه دے دپاره چه زهٔ ورته معافي وکړم.
مطلب د آیت : اے پیغمبره ! په مؤمنانو په باندے د الله تعالیٰ یو عظیم الشان رحمت دا دے چه تهٔ د دوی دپاره نرم طبیعته او پوست جوړ شوے ئے چه یو طرف ته دے په دوی باندے زړه سوزی او بل طرفته دِے دوی ته د دوی په غلطئ باندے سخته او سخته خبره په خوله نهٔ راځي، ورنه په میدان د اُحد کې چه دوی کومه معامله تا سره اُوکړه نو هغه ډیره غصه راوستونکے وه. نو که منافقان هر څومره کوشش وکړي تا ددے خوی نه نهٔ شي اړولے او چه مؤمنان هر څومره خطائي وکړي ستا په خوله ورته سپوره او بیهوده خبره نهٔ راځي. که بالفرض تهٔ سخت زړے او بد زبانه وے نو دا ملګري به په تا باندے نهٔ وے راغونډ شوی بلکه د منافقانو حیلو او وسوسو کې به اخته شوی وے، نو تهٔ دا خوئي همدغه شان همیشه وساته، مؤمنانو ته د هغوی په خطاء باندے معافي کوه لکه څنګه چه ورته الله تعالیٰ معافي کړیده او د الله نه ورله بخنه غواړه چه تزکیه ئے وشي او په آینده کې د دوی سره په جنګي او غیر جنګي تمامو معاملاتو کې مشوره کوه دے دپاره چه زړه ئے مطمئن شي او هیڅ خفګان محسوس نهٔ کړي او دے دپاره چه آینده کې اسلامي حاکمانو او مشرانو ته ددے نه سبق ملاؤ شي چه هغوی په هر کار کې مشوره وکړي. او کله چه تهٔ د یوے خبرے فیصله وکړے نو بیا په هغے باندے مضبوط ودریږه او په الله باندے ځان وسپاره.
فَبِمَا رَحْمَةٍ : ما زائده ده دپاره د تاکید، یا (ما) نکره ده په معنیٰ د (شيء) سره او (رحمة) د هغے نه بدل او بیان دے ځکه چه د ابهام نه روستو بیان په عظمت دلالت کوي. یعني په سبب د یو شي سره چه هغه د الله رحمت دے. یا ما استفهامیه ده په معنیٰ د (أَيِّ رَحْمَةٍ) سره او دا استفهام د تعجیب دپاره دے.
او (رَحْمَةٌ) کې تنوین دپاره د تعظیم دے. یعني دا په تا باندے د الله تعالیٰ لوی احسان دے چه تهٔ ئے خپلو ملګرو ته نرم کړے ئے او په تا باندے ئے راجمع کړیدي.
لِنتَ لَهُمْ : نرمي هم د الله تعالیٰ خصوصي مهرباني ده چه په چا کې راشي.

وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا : فظ کلمه د سَيِّءُ الْخُلُق (بد اخلاقه) معنیٰ ورکوی چه په مقابل کی ئے حَسَنُ الخلق (نیك خویه) استعمالیږی۔ رسول الله ﷺ کی الله تعالیٰ داسے اخلاق اچولی وو چه کافرانو ته ئے هم د ادب نه مخالفه خبره نهٔ ده کړے۔

فظ : اَلْغَلِيْظُ الْجَانِبِ السَّيِّءُ الْخُلُق) یعنی هغه شخص چه د هغه طرف ډیر سخت وی څوك خواله نشی ورتلے او بد اخلاقه وی) دارنګه کنځلمار، بد زبانه ته وائی۔

غَلِيْظَ الْقَلْبِ : یعنی سخت زړے چه په چا باندے ئے زړه نهٔ سوزی، بد اخلاقی د هر چا سره عیب دے او سخت زړی د مؤمنانو سره کول عیب دے او د الله د دشمنانو کافرانو په مقابله کی عیب نهٔ دے، نو د دین داعی دپاره پکار دی چه د خپلو مخالفینو سره هم د اخلاقو د چوکاټ نه بهر ونهٔ وځی۔

امام بخاریؒ او نورو محدثینو د عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما نه روایت کړیدے چه د رسول الله ﷺ په تورات کی همدا صفات بیان شویدی کوم چه په قرآن کی موجود دی، چه هغه به سخت ژبی، سخت زړے او په بازارونو کی شور کونکے نهٔ وی او د بدئ جواب به په بدئ سره نهٔ ورکوی بلکه د معافئ او درګذر نه به کار اخلی۔ (رقم الحدیث : ۲۱۲۵)

لَانْفَضُّوْا : (اَیْ تَفَرَّقُوْا) یعنی دوی به تس نس (خوارۀ واره) شوی وے ځکه چه د بد اخلاقه او سخت زړی مشر سره د خپلو کشرانو وخت نهٔ تیریږی او خلك پرے نهٔ راغونډیږی او په نتیجه کی د دعوت کار بندیږی۔ ځکه چه دا قانون دے چه بد اخلاقه انسان هرڅومره نیك عمله او عالِم او کمالاتو والا او ښائسته شکل والا وی خو انسانان ورله خواته نهٔ ورځی۔

فَاعْفُ عَنْهُمْ : یعنی که ستا په کوم حق کی ئے کوتاهی وکړه نو معاف ئے کړه لکه څنګه چه الله تعالیٰ معاف کړیدی۔

وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ : یعنی د دوی دپاره د الله نه بخنه وغواړه د هغه تقصیر چه د الله په حق کی ترے شوے وی دے دپاره چه ستا شفقت په دوی باندے ښه پوره شی۔ او دے دپاره چه تهٔ عفو او احسان دواړه راجمعه کړے۔ (تفسیر السعدی)

وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ : یعنی دوی سره مشوره کوه، یعنی په یوه موضوع کی د دوی نظریات هم راښکاره کړه او د هغوی رایه هم معلومه وه، پدے مشوره کی به فائده دا وی چه د ملګرو زړه به خوشحالیږی او تا سره به ئے محبت زیاتیږی۔

نو نبی کریم ﷺ به په خپل ژوند کی د صحابه کرامؓ سره ډیرے مشورے کولے، د غزوۀ

بدر په موقعه د دشمن د فوج سره د مقابلې په باره کې ئې مشوره اُوکړه، د غزوهٔ اُحد په موقعه ئې مشوره اُوکړه چه په کلي کې پاتې کيدو سره دفاع اُوکړو او که بهر وتلو سره د دشمن مقابله اُوکړو۔ د غزوهٔ خندق په موقعه ئې مشوره طلب کړه او يې وئيل چه اې مسلمانانو ! ما ته مشوره راکړئ۔ او په واقعه د افك کې ئې مسلمانانو ته ووئيل : (اَشِيْرُوْا عَلَيَّ) ما ته مشوره راکړئ۔ (ابن کثيرؒ)

امام شوکانيؒ ليکلي دي چه مقصود په هغه کارونو کې مشوره کول دي چه د هغې په باره کې په شرع کې ښکاره حکم موجود نهٔ وي آه۔ يا داسې حکم شرعي کې مشوره مراد ده چه د هغې وخت نهٔ وي معلوم لکه عُمره کول چه مور او پلار او مشرانو سره مشوره وکړي چه اُوس لاړ شو که روستو ؟ کوم کې به خير زيات وي؟

د اُمت د ځينو علماؤ دا وينا ئې هم نقل کړېده چه مسلمانانو حُکامو لره د علماؤ سره په هغه کارونو کې مشوره کول پکار دي چه د هغې په باره کې هغوی ته علم نهٔ وي۔

قرطبيؒ د ابن عطيهؒ قول نقل کړيدې چه د علماؤ ترمينځ پدې باره کې هيڅ اختلاف نشته چه کوم حاکم د علماؤ او ديندارو سره مشوره نهٔ کوی نو د هغه معزول کول واجب دي۔

فائده : مشوره په اسلام کې لوی اهميت لري الله تعالیٰ په سورة الشوری (۳۸) آيت کې د مسلمانانو صفت بيانوی : ﴿ وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ ﴾ د مسلمانانو مهم کارونه به په مشوره سره وي۔ په يو روايت کې دي : (مَا خَابَ مَنِ اسْتَخَارَ وَلَانَدِمَ مَنِ اسْتَشَارَ) (الطبرانی فی الاوسط ٦/٣٦٥) هغه څوك چه استخاره کوی هيڅکله به نا مراده (تاوانی) نشي او هغه څوك چه مشوره کوی هيڅکله به پښيمانه نشي)

ابو هريره رضي الله عنه فرمائي : [مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَكْثَرَ مَشُوَرَةً لِأَصْحَابِهٖ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ] (الترمذی ۱/۳۰۱) ما هيڅوك داسې نهٔ دې ليدلې چه هغه د خپلو ملګرو سره د رسول الله ﷺ نه زياته مشوره کړې وي۔

فائده : آيا په رسول الله ﷺ باندې مشوره کول واجب وو ؟

فقهاءِ کرامؒ پدې باره کې اختلاف کړيدې مګر اتفاقي خبره دا ده چه په غير منصوصي قضاياؤ (فيصلو، معاملاتو) کې به نبي کريم ﷺ د هر چا نه زيات مشوره کونکې وو برابره ده که هغه به ديني معامله وه لکه د بدر د قيديانو په باره کې شو او که هغه به شخصي معامله وه لکه د عائشې رضی الله عنها د بهتان په باره کې۔

بيا آيا په رسول الله ﷺ باندې د امت مشوره قبلول ضروري وو او که نهٔ ؟ نو ظاهر دا ده

چه مشوره کی غرض د ملګرو رایه معلومول وی او ټول جوانبو باندے نظر اچول وی نو که نبی یا یو امیر ته یو نظر ښائسته ښکاره شی او فوائد پکی وګنړی نو هغے باندے عمل کول جائز دی اګر که د بعضو یا د ټولو ملګرو د رائے سره مخالفه وی پدے وجه الله تعالیٰ خپل نبی ته خطاب وکړو (فَإِذَا عَزَمْتَ) یعنی کله چه ته عزم وکړے نو په الله ځان سپاره۔

سوال وجواب

هرکله چه په نبی کریم ﷺ باندے د مشورے قبلول ضروری نهٔ شو نو بیا پدے کی څه حکمت دے چه په مشوره کولو باندے مامور شو؟

جواب : پدے کی ډیر حکمتونه دی (۱) یو دا چه پدے کی نور امت ته دا سبق ورکول دی چه د خپلو کشرانو او رعیت سره مشوره وکړی او د کشرانو زړه خوشحاله شی چه زمونږ مشر په خپله رایه باندے مستقل نهٔ دے او د استکبار د تهمت نه بچ شی۔

(۲) دویم : پدے کی دا سبق دے چه صحابه کرامؓ ډیر زیات قدر او عزت لری او درجے ئے ډیرے زیاتی وچتی دی پدے وجه الله خپل نبی ته حکم وکړو چه د دوی سره په غیر منصوصی مسائلو کی او خاصکر په جهادی امورو کی مشوره وکړی۔

(۳) دارنګه ټول امت پدے خبره پوهه شی چه په غیر منصوصی مسائلو کی د اجتهاد نه کار اخستل پکار دی او دا ځکه چه په یوه مسئله کی نظر ورکول هم یو قسم اجتهاد دے دا وجه ده چه امت مسلمه کی د متبحر علماؤ اجتهاد جاری دے۔ (عزیز التفاسیر بتغیر)

(٤) امام رازیؒ وائی چه دا آیت دلیل دے چه رسول الله ﷺ باندے به کله وحی نازله نهٔ وه او یوه مسئله به راپیښه شوے وه نو هغه په اجتهاد باندے مامور وو او اجتهاد په مناظره او بحث مباحثے سره قوی کیږی پدے وجه رسول الله ﷺ په مشوره باندے مامور شو۔ (قاسمیؒ)

فائده : هرکله چه الله تعالیٰ خپل نبی ته په مشوره اخستو باندے حکم وکړو نو غیر نبی حاکم به د خپلو کشرانو سره ضرور مشوره کوی او خپل انفرادی نظر په نورو باندے تحمیل نهٔ کړی دے دپاره چه مینه او محبت ئے سره زیات شی او د تفرق او اختلاف مخه ونیولے شی۔ او په مشوره سره مشوره اخستونکے ډیر کم کرته خطا کیږی او که خطاء شی او مقصد حاصل نهٔ شی نو هغه به پدے کار سره نهٔ ملامته کیږی۔ په مشوره سره خبره داسے ښکاره شی لکه په دوه شیشو سره بنده خپل څټ هم وینی۔

فَإِذَا عَزَمْتَ : دے نه روستو الله تعالىٰ اُوفرمايل چه د مسلمانانو سره د مشورے نه روستو چه کومه رائے مقرر شي نو د هغه کار د کولو دپاره په الله باندے اعتماد او بهروسه کوه، د خلقو په مشوره باندے نۀ۔

فائده : فخر الدين رازیؒ ليکلي دي : دا آيت دلالت کوی چه د توکل معنیٰ هيچرے دا نۀ ده چه بنده خپل ځان مُهمل او بيکاره اُوګنړی لکه چه د بعض جاهلانو دا خيال دے، ورنه مشوره کول به د توکل خلاف وے۔ توکل دا دے چه بنده ظاهری اسباب اختيار کړی ليکن په زړۀ سره په هغے باندے بهروسه اُونکړی، که بهروسه وی نو صرف په الله۔

فائده : مشوره به د چا سره کولے شي؟ نو ددے ډير صورتونه کيدے شي (۱) کله ضرورت داسے وی چه عامو خلکو ته خبره وړاندے کړے شي لکه رسول الله ﷺ د اُحد د غزا په وخت د جنګ ميدان د ټاکلو مشوره د عامو صحابه کرامؓ نه واخسته ترډے چه رئيس المنافقين عبد الله بن ابی ئے هم پکی راووبللو۔ (۲) کله به د هغه شخص سره مشوره وکړی چه په مجلس کی حاضر وی يا په مشوره ورکولو کی ماهر او عقلمند وی لکه د صلح حُديبيه په موقعه رسول الله ﷺ يواځے د ام سلمه (رضی الله عنها) سره مشوره وکړه او هغے مشوره ورکړه چه که تاسو خپله هديه ذبحه کړئ نو صحابه کرامؓ به ستاسو اقتداء کوی او ذبحے ته به تيار شي او بيا همدغسے وشوه۔

(۳) کله به مشوره اخستونکے په خپله خوښه څه کسان د خپلے مشورے دپاره وټاکی لکه عمر فاروق ﷺ د خپل مرګ نه روستو د مشر ټاکلو دپاره شپږ کسان (عثمان، علی، طلحه، زبير بن عوام، سعد بن ابی وقاص او عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنهم) مقرر کړل چه هغوی بيا په مشوره سره سيدنا عثمان بن عفان ﷺ خليفه مقرر کړو۔

إِنْ يَّنْصُرْكُمُ اللّٰهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ وَإِنْ يَّخْذُلْكُمْ فَمَنْ ذَا
که مدد وکړی تاسو سره الله نو نشته زورور په تاسو او که مدد پريږدی ستاسو نو څوك دے
الَّذِىْ يَنْصُرُكُمْ مِّنْ بَعْدِهٖ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ﴿۱۶۰﴾
هغه کس چه مدد به وکړی تاسو سره روستو د هغه نه او خاص په الله دِے ځان وسپاری مؤمنان۔

تفسير : په الله باندے توکل ولے پکار دے ؟ نو دلته د الله تعالیٰ د قدرت بيان کوی چه نصرت او خذلان (مدد پريخودل) دواړه د الله په واك کی دی نو ځکه په هغه توکل پکار

دی۔ نو پدې کې الله تعالیٰ ذهن سازي کوي چه مدد صرف د الله په واك کې دې د هغه سره تعلق جوړول پکار دي۔

ربط: هرکله چه الله تعالیٰ خپل نبي ته په توکل باندې حکم وکړو نو اُوس ایمان والو ته وائي چه تاسو هم په الله توکل وکړئ ځکه چه ټول کارونه د الله تعالیٰ د ارادې پورې تړلي شویدي او د هغې په مقابله کې اسباب هیڅ تاثیر نهٔ لري نو که الله تعالیٰ تاسو سره مدد کول غواړي نو په تاسو به هیڅوك غالبه نهٔ شي (او د الله تعالیٰ مدد فرمانبردارو تابعدارو ته حاصلیږي او که ستاسو مدد پریدي (ځکه ګناه د نعمت د زائله کیدو او د مغلوبیت او شکست سبب ګرځي) نو بیا څوك دې چه تاسو سره مدد وکړي او ستاسو د مغلوبیت مخه ونیسي؟ او ستاسو د ایمان تقاضا دا ده چه تاسو به په الله توکل کوئ او خپل زړه به د الله پورې تړئ، نهٔ د اسبابو پورې اګرکه منافقان غواړي چه ستاسو تعلقات د الله تعالیٰ سره کمزوري کړي او په اسبابو مو یقین جوړ کړي۔

وَإِنْ يَّخْذُلْكُمْ: خذلان مدد پریخودو ته وائي۔

مِّنْ بَعْدِهٖ: اَيْ مِنْ بَعْدِ خِذْلَانِهٖ۔ روستو د مدد پریخودو د الله تعالیٰ نه۔

وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَّغُلَّ وَمَنْ يَّغْلُلْ يَأْتِ بِمَا
او نهٔ دی جائز یو پیغمبر لره چه خیانت اوکړي او چا چه خیانت وکړو رابه شي د هغه څه سره
غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ تُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ
چه خیانت ئې کړې وي په ورځ د قیامت، بیا به پوره ورکړې شي هر نفس ته
مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿١٦١﴾
بدله د هغه عمل چه دهٔ کړې وي او په دوی به ظلم نشي کیدې۔

تفسیر: پدې آیت کریمه کې یو قانون دې یو شان نزول او بل ظاهري تفسیر دې۔

ظاهري مطلب د آیت دا دې چه الله تعالیٰ خپل نبي منع کوي د غلول (خیانت) کولو نه یعني نبي له خیانت کول جائز نهٔ دي او نبي خو خیانت نهٔ کوي نو ذکر د مشر دې او مراد ترې امت دې پدې وجه روستو (وَمَنْ يَّغْلُلْ) سره خبره عامه کوي۔ نو پدې آیت کې (اَلنَّهْيُ عَنِ الْخِيَانَةِ وَالْغُلُوْلِ) دې یعني الله تعالیٰ امت منع کوي د هر قسم خیانت نه په غنیمتونو کې وي او که غیر غنیمتونو کې وي ځکه چه پدې خیانتونو سره معاشره خرابیږي،

اخلاق خرابیږي، پدے سره د الله تعالیٰ مدد کټ کیږي، په هغه معاشره به الله تعالیٰ څه رحم وکړي چه په هغے کې خیانت وي، پردي مالونه پکې خوړلے کیږي نو ددے نه ځان وساتئ مشر وي او که کشر. نو دا د هزیمت (شکست) دپاره قانون هم دے چه که شکست راځي نو سبب به ئے دا وي او که د خیانت نه ځان ساتئ نو شکست به دفع کیږي.

مضمون : بیا الله تعالیٰ د کافرانو او مؤمنانو ترمینځ فرق بیانوي په قتال کې، اهل ایمان او کفار دواړه جنګ کوي لیکن د دواړو ترمینځ ډیر فرق دے، یو د الله په رضا روان دے او بل د الله په غضب اخته دے او جهنم ئے ځای دے او بل جنت ته روان دے. او دا فرق دے د خائنانو او غیر خائنانو ترمینځ لکه ربط او مناسبت به ئے روستو راشي بیا په (۱۶۳) کې الله تعالیٰ ایمان والو باندے د خپل نبي په رالیږلو سره امتنان (احسان) بیانوي چه د نبي راتلل لوی نعمت دے.

بیا په (أَوَلَمَّا أَصَابَتْكُمْ) کې زجر دے منافقانو ته چه هغوی ویلی وو په اُحد کې شکست ولے راغے؟ نو الله تعالیٰ په هغوی باندے د رد کولو دپاره د دغه شکست علتونه بیانوي چه دا ستاسو د جرمونو په وجه وشو. بل دا چه الله تعالیٰ دغسے په تقدیر کې لیکلی وو بل پدے سره تمیز د مؤمن او د منافقت راځي سره د رد نه په منافقانو، بیا په (ولا تحسبن) کې د شهداؤ دپاره بشارت دے او د ژوندو خلکو ذهن سازي کوي څکه چه منافقانو ویلی وو چه اُحد کې څوك شهیدان شو نو هغوی د مزو نه لاړل، ښځے او بچي او مالونه ترے فوت شو نو الله جواب کوي چه هغوی خو اُوس مزو ته ورسیدل. هغوی تاسو پسے خفه دي چه کله به جنت ته راځي، هغوی دا نهٔ غواړي چه دنیا ته راشي. بیا په درے آیتونو کې غزا د حمراء الاسد بیانوي چه دا قانون هم دے هغه دا چه مؤمن به د الله او د رسول تابعداري کوي په خوشحالئ او خفګان کې، بیمار دے او که روغ، خوشحاله دے او که خفه، په تکلیف کې دے او که په راحت کې، په هر صورت کې به د الله او د رسول خبرے ته تیاریږي. (او دا د تربیت خبره ده) بل قانون ئے هم دغه کې بیان کړیدے چه په الله باندے توکل کول او حسبنا الله وئیل او (انما ذلکم الشیطان) کې فرمائي چه د شیطان د چلبازئ نه ځان خبر کړئ شیطان ستاسو دشمن دے هغه درسره یو کار کوي نو هغے ته متوجه شئ، بیا الله تعالیٰ کافرانو او منافقانو دواړو ته توبیخ (رټنه) ورکړیده چه دا کافران جلتي کوي لګیا دي د اسلام د خرابوالي او د هغے په مقابلو کې کوششونه کوي او منافقان ورسره پټ مددونه کوي د دواړو اُور ځای دے، جهنم ته روان دي ځانونه ئے تباه کړل، بیا یو

آيت دے چه هغے تـه (كنز من كنوز القرآن) وائي۔ يعني د قرآن كريم خزانه ده (ماكان الله ليـذر الـمـؤمـنيـن) چه پدے كي بيان د ابتلاء اتو او د هغے حكمتونه بيانوي چه كله غزا د بـدر راغى، كله د اُحد او د حمراء الاسد دا ولے راغى؟ نو الله ددے حكمتونه بيانوي چه پدے كي فـائـده دا ده چه الله تـعالىٰ خبيثان د طيبينو نه جدا كوي، بيا سوالونه پيدا كيږي نو د هغے جوابونه بيانيږي، بيا په آخره كي الله تعالىٰ بخلاؤ ته زجر وركړيدے چه دا يهوديان او مـنافقـان سخت بـخيلان دي چه مؤمنانو ته تكليف دے او دوى په مالونو باندے خيته اچـولے ده او پـه اهـل ايـمـان ئے نهٔ لګوى نو د قيامت په ورځ به ددے مال نه مار جوړ شي او غـاړے ته به ئے ورله واچوي او دنيا كي به هم د دوى مالونه الله ته پاتي شي۔ بيا د هغه ځاى نـه د يهـوديـانـو تفصيلي رد دے چه هغے كي بيان دے د يهوديانو د قبائحو په يو ركوع كي ددے وجـه روستـو راځـي چه دوى معاشره خرابوله دلته اسلامي معاشره جوړيدله اصلاح كيـدلـه او دوى پـه كـي تـخـريـب كـارى كـولـه نـو الله فرمائي چه دا شيطانان وپيژنئ بيا په آخرنئ ركوع كي (بَيَانُ حَالِ الْمُؤْمِنِيْنَ مَعَ رَبِّهِمْ) دے يـعنـي د مؤمنانو د خپل رب سره كوم حـالـت دے هـغـه بيانوي، ترغيبا وترهيباً، ايمان والو ته ترغيب وركوي چه ستاسو حال دِے داسے وي او يهود او نصارىٰ او منافقان يروي چه تاسو د ايمان نه خالي يئ، كوم صفات چه پـكـار دى هـغـهِ په تاسو كي نشتـه۔ او په آخره كي داسے آيت دے چه ټول سورت لره جامع دے چه پـه ځـلـورو خبروئے امر كړيدے او چا كي چه دا ځلور كارونه پيدا شو نو دنيا څه چه آخرت كي به هم كامياب شي جنت ته به ورسيږي۔

شان نزول

مـفـسـريـنـو د ذكر شـوى آيت دپاره ګڼړ روايات ذكر كړيدى چه تقريباً اوو (۷) ته رسيږي كيدۓ شي چه دا ټول ئے اسباب د نزول وي ليـكـن مونږ بعض ذكر كوو :

(۱) د عبـد الله بـن عباس رضي الله عنهما نه روايت دے چه د بدر د غزا د غنيمت د مال نه يـو سـور رنګ والا څـادر (شړئ) وركـه شـوه نـو ځينې خلكو وويـل : (لَعَلَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ اَخَذَهَا) (جامع الترمذى ۲/ ۱۳۰) شايد چه دا به نبي كريم ﷺ اخستي وي۔

نـو الله تـعـالـىٰ دا آيت نازل كړو چه نبي ته دا غلط نسبتونه مهٔ كوئ نبي هيڅ كله غلول (خيانت) نهٔ كوي۔

(۲) د مـقـاتـلؒ او كـلبيؒ نه روايت دے چه ذكر شوى آيتونه د هغه غازيانو په باره كي نازل

شوي وو چه هغوی د اُحد په غزا کی کنډو (مورچه) پرینبے وه او پخپله د غنیمت په مالونو راغونډولو کی مصروف شوي وو چه په نتیجه کی د هغوی پاتی ملگری شهیدان شو او مسلمانان د شکست سره مخامخ شو او دا ځکه چه د هغوی دا خیال وو چه احتمال شته چه نبی کریم ﷺ د غنیمت مالونه هغه چا ته ورکړی چا چه نیولی وی نو که مونږ څه شے ونهٔ نیسو د غنیمت نه به محروم شو۔ (تفسیر البغوی ١/٣٦٦)

نو الله تعالیٰ وفرمایل: چه نبی غلول نهٔ کوی په هغه دا حرامه ده چه په غنیمت کی غلول وکړی نو امتی دپاره خو په طریق اولیٰ حرام دے لکه امام عبد الله بن احمد رحمهما الله د عباده بن صامت ﷺ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ د غنیمت د اُوښ نه یو ویښته راواخستو او وے فرمایل: (مَالِیْ فِیْهِ اِلَّا مِثْلُ مَا لِأَحَدِکُمْ مِنْهُ، (اِلَّا الْخُمُسَ وَهُوَ مَرْدُوْدٌ عَلَیْکُمْ) اِیَّاکُمْ وَالْغُلُوْلَ فَاِنَّ الْغُلُوْلَ خِزْیٌ عَلٰی صَاحِبِهٖ یَوْمَ الْقِیَامَةِ، اَدُّوا الْخَیْطَ وَالْمِخْیَطَ وَمَا فَوْقَ ذٰلِکَ) (وسنده صحیح) وله شاهد، الصحیحة (٦٦٩)۔

زما پدے کی صرف هغه حصه ده کومه چه ستاسو د یو تن ده، سویٰ د خمس نه او هغه هم بیرته تاسو ته واپس کیږی، ځان د خیانت نه وساتئ ځکه چه خیانت به د قیامت په ورځ په خیانتگر باندے شرمندگی وی، (لهذا د غنیمت) یو تار او ستنه او ددے نه پورته شے ادا کړئ)۔

نو پدے کی یوه بله ذهن سازی هم ده هغه دا چه د نبی په باره کی د امت بدگمانی پیدا نشی ځکه چه په مشر باندے بدگمانی پیدا شی نو بیا به د هغه خبره درباندے اثر نهٔ کوی، ددے وجه نه د بعض عوامو په نیکانو علماؤ باندے بدگمانی وی نو هیڅ اثر پرے نهٔ کیږی۔

تفسیر : وَمَا کَانَ : دا په معنیٰ د (لَا یَجُوْزُ او لَا یَنْبَغِیْ) سره دے یعنی نبی له دا جائز هم نهٔ دی او مناسب هم نهٔ دی۔

أَنْ يَّغُلَّ : غلول په لغت کی د اُوښانو په غلا کولو کی استعمالیږی بیا په کی توسع شویده هر قسمه غلا ته وائی چه په غنیمت کی وشی، بیا پکی نوره توسع شویده نو هر خیانت او هر حرام مال ته غلول وائی۔

وَمَنْ يَّغْلُلْ : اُوس خبره عامه کوی او مقصد پکی دا دے چه اے امتیانو! تاسو پخپله د خپلو ځانونو اصلاح ته متوجه شئ او په هیڅ شی کی خیانت مهٔ کوئ او د غنیمت د مالونو نه څه شے مهٔ غلا کوئ ګنے د قیامت په ورځ به د لوی شرم سره مخامخ شئ چه

دغه خیانت شوے شے به مو په شا وي او د محشر میدان ته به راشئ او بیا به هر انسان ته د هغه د عمل په اندازه پوره جزا ورکړے شي او هیڅ ظلم به پرے نهٔ کیږي۔ یعني د قیامت د شرمندګئ نه روستو به د هغه اُور ته تلل وي۔

يَأْتِ بِمَا غَلَّ : دا په خپل حقیقت باندے بناء دے او هیڅ تاویل ته پکې ضرورت نشته لکه چه معتزله ؤ پکې کړیدی او ددے تشریح رسول الله ﷺ داسے کړیده صحیحینو کې د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت شویدے چه رسول الله ﷺ مونږ کې یوه ورځ راپاڅیدو نو خیانت ئے ذکر کړو او د هغے لوئی والے او د هغے د سزا غټ والے ئے بیان کړو بیا ئے وفرمایل :

(لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ بَعِيرٌ لَهُ رُغَاءٌ يَقُولُ : يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَغِثْنِي، فَأَقُولُ لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ، لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ فَرَسٌ لَهُ حَمْحَمَةٌ فَيَقُولُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَغِثْنِي فَأَقُولُ : لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ، لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ شَاةٌ لَهَا ثُغَاءٌ يَقُولُ : يَارَسُولَ اللّٰهِ أَغِثْنِي فَأَقُولُ : لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ الحديث) (مسلم كتاب الامارة حديث رقم (٢٤)

زهٔ دِے په تاسو کې یو تن مونده نکړم چه د قیامت په ورځ به راشي په څټ باندے به ئے اُوښ وي چه د هغه دپاره به رمباړے وي، وائي به چه اے د الله رسوله ! ما سره مدد وکړه، نو زهٔ به وایم : زهٔ ستا دپاره د هیڅ شي اختیار نهٔ لرم، ما تا ته خبره رسولے ده۔ زهٔ دے په تاسو کې یو تن مونده نکړم چه د قیامت په ورځ به راشي د هغه په څټ باندے به اس وي چه د هغه دپاره هنړیدل وي نو وائي به چه اے د الله رسوله ! زما مدد وکړه نو زهٔ به وایم : زهٔ ستا دپاره هیڅ اختیار نهٔ لرم ما تا ته خبره رسولے ده، زهٔ دے یو تن په تاسو کې مونده نکړم چه د قیامت په ورځ راشي د هغه په څټ باندے ګډان وي چه د هغے رمباړے وي وائي اے د الله رسوله ! زما مدد وکړه نو زهٔ به وایم چه زهٔ ستا دپاره د هیڅ شي اختیار نهٔ لرم ما تا ته خبره رسولے ده۔ دغه شان رقاع او صامت الفاظ ئے ذکر کړیدي یعني په څټ باندے به ئے ټوټے وي چه خوزیږي به او د چا په څټ باندے به نور چارپیان وي یا مالونه به وي۔

دغه شان چا به کتابونه پټ کړي وي او چا به غلط کتابونه لیکلي وي هغه به ئے په څټ باندے مصیبت پروت وي۔ (چا به ګاړي پټ کړي وي هغه به پرے سواره وي، ارنډونه به وهي)۔

رسول الله ﷺ دا خبره د زکاة د راټولونکو په باره کې هم کړیده چه هغه د زکاة نه څه پټ کړي یا د خلکو نه هدایا (تحفے) واخلي نو دا هم غلول او خیانت دے ځکه چه دا د

حکومت د طرفنه تلے دے، دا هدايا به حکومت ته ورسپاری۔ (تفسير القرطبی ٤/٢٦١)

(٢) تفسير : امام بغویؒ د محمد بن اسحاقؒ نه نقل کړيدی چه دا د وحی په باره کی دے :
(اَیْ مَا کَانَ لِنَبِیٍّ اَنْ يَّكْتُمَ شَيْئًا مِنَ الْوَحْیِ رَغْبَةً اَوْ رَهْبَةً اَوْ مُدَاهَنَةً) (معالم التنزيل:٢/١٢٦)
د يو نبی دپاره دا جائز نهٔ دی چه د وحی نه څه شے پټ کړی د وجه د مينے (د دنيا) نه يا د چا د يرے د وجه نه يا د چا دپاره د حق پټولو د وجه نه)

(٣) پدے کی يو بل قراءت (اَنْ يُّغَلَّ) دے اَیْ يُنْسَبَ اِلَی الْغُلُوْلِ ۔ يعنی دا مناسب نهٔ ده چه يو تن نبی غلول ته منسوب کړی لکه بعض کسانو وئيلی وو چه شايد دا شړئ نبی ﷺ اخستی وی۔ ليکن دلته دا قراءت نشته بلکه د معلوم صيغه ده (اَنْ يَّغُلَّ) بيا به ذکر د نبی وی او مراد به ترے امت وی لکه چه مخکی ذکر شو۔

ثُمَّ تُوَفّٰی كُلُّ نَفْسٍ : د قيامت په ورځ بدله به په نيکيو او بديو باندے وی، که چا خيانت کړے وی، پردے مال ئے خوړلے وی نو د هغه نه د هغے په مقدار نيکيانی اخستے کيږی، که نيکئ ئے ختمے شی نو بيا به د هغه ګناهونه پرے وربار کړے شی او بيا به اُور ته راښکلے شی لکه دا خبره په احاديثو کی راغلے ده۔

فائده : ابن مسعود ؓ چه فرمايلی وو چه کتابونه پټ کړئ ځکه چه څوک څه پټ کړی د قيامت په ورځ به دغه پټ کړے شوے شے راوړی۔ د هغه مقصد دا وو چه خپل مصاحف (قرآنونه) د عثمان ؓ نه پټ کړئ، ځکه چه هغه د مصحف الامام نه علاوه مصحفو باندے حکم کړے وو چه هغه دِے وسوزولے شی، نو دلته پردی کتابونه پټول مقصد نه وو۔ (ابن کثيرؒ)

اَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللّٰهِ كَمَنْۢ بَآءَ
آيا پس هغه څوک چه روان شو د رضا د الله پسے په شان د هغه چا دے چه اخته شوے وی
بِسَخَطٍ مِّنَ اللّٰهِ وَمَاْوٰىهُ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ﴿١٦٢﴾ هُمْ
په غضب د الله او ځای د وسيدو د هغه جهنم دے او بد ځای د ورتللو دے (دا جهنم)۔ دوی
دَرَجٰتٌ عِنْدَ اللّٰهِ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ﴿١٦٣﴾
مختلفو درجو والا دی په نيز د الله او الله ليدونکے دے د هغه عملونو چه دوی ئے کوی۔

تفسير : پدے دوه آيتونو کی الله تعالیٰ فرقونه بيانوی د دوه ډلو چه يو کافر دی او بل

مؤمنان دي، جنګ د دوو ډلو ترمینځ کیږي نو الله فرمائي چه ددې دواړو ډلو ترمینځ ځو مره فرق دې، یو د الله تعالیٰ د رضا پسې روان دې او بل د الله په غضب اخته دې، یو جنت ته ځي او بل جهنم ته، دا فرق دلته ولې بیانیږي ؟ ددې راز دا دې چه منافقانو دا خبره کړې وه چه د نبي کریم ﷺ د راتللو نه مخکې مونږ په اختلافاتو کې وو نو زمونږ امید وو چه دا نبي به راشي او په دهٔ سره به زمونږ جګړې او اختلافات ختم شي او امن وامان به راشي، او ددهٔ په وجه جنګونه نور هم زیات شو نو امن پکار دې. نو الله تعالیٰ پدې درې آیتونو کې د منافقانو ددې غلط ذهن رد کوي چه جنګونو کې فرق دې، مخکې خو جنګونه د جاهلیت او کفر وو او اُوس چه کوم جنګ کیږي دې ته جهاد وائي، دا د الله د رضا سبب دې او د الله تعالیٰ بندګي ده، کافر جنګ کوي خو جهنم ته روان دې او مؤمن جنګ کوي نو جنت ته روان دې او الله ترې رضا دې نو داسې مهٔ وایئ چه مخکې هم بې امني او اختلافات وو او اُوس هم دي، نهٔ بلکه دواړو کې ډیر فرق دې.

په (لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ) کې هم الله تعالیٰ دا مضمون بیان کړیدې چه دوي ویلي وو چه نبي ﷺ راغلو ددهٔ په وجه اختلافات زیات شو نو دا خو زمونږ دپاره مصیبت شو، کله پلار مړ کیږه او کله ورور او کله نور خپلوان او کله مالونه لګیږه نو الله جواب وکړو چه محمد رسول الله ﷺ په تاسو باندې د الله تعالیٰ یو عظیم احسان دې وجه دا ده چه دا په تاسو باندې تلاوة الآیات کوي او تزکیه د نفسونو کوي او د قرآن او د سنت تعلیم درکوي او د ګمراهئ نه مو راویاسي ځکه چه تاسو خو په کفر او شرك او د ګمراهئ په سیلاب کې پراته وئ الله تعالیٰ ددهٔ په وجه راویستلئ نو دا ځومره لوی احسان شو نو که بدې کې جنګونه وغیره راشي نو دا د لوازماتو د رسول نه دي، رسول سره به دا تکلیفونه وي لیکن دا د الله تعالیٰ لوی احسان دې، مثال ئې باران دې چه لږ تکلیف پکې وي چقړې جوړې شي مګر خیرئې ډیر زیات دې.

ربط : یو مناسبت مخکې ذکر شو چه یو تن د الله د رضا پسې روان دې او بل د الله په غضب اخته دې دواړه یو شان نهٔ دي نو کفار چه جنګ کوي د الله په غضب اخته کیږي او مؤمن چه جنګ کوي نو الله ترې راضي کیږي نو دواړه یو شان مهٔ ګنړئ. نو ددې مطلب به دا وي (أَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللّٰهِ بِالْإِيْمَانِ وَالْعَمَلِ الصَّالِحِ كَمَنْ بَاءَ بِسَخَطٍ مِنَ اللّٰهِ بِالْكُفْرِ)

آیا هغه څوك چه د الله د رضا پسې روان شو چه ایمان ئې راوړو او نیك عمل کوي دا په شان د هغه چا هیچرې نشي کیدې چه د الله په غضب اخته شو چه کفرئې وکړو دواړو کې

د زمکے او د آسمان فرق دے۔

(۲) مناسبت : (أَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللَّهِ فَتَرَكَ الْغُلُوْلَ كَمَنْ بَاءَ بِسَخَطٍ مِنَ اللَّهِ بِالْغُلُوْلِ)

آیا پس هغه څوك چه د الله د رضا پسے روان شو او غلول ئے پریخودو په شان د هغه چا دے چه د الله په غضب اخته شو په سبب د غلول سره)

(۳) مناسبت : (اَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللّٰهِ بِاتِّبَاعِ النَّبِيِّ ﷺ كَمَنْ بَاءَ بِسَخَطٍ مِنَ اللّٰهِ بِمُخَالَفَةِ الرَّسُوْلِ ﷺ) (السراج المنير)

آیا هغه څوك چه د الله د رضا پسے روان شی په سبب د تابعدارئ د رسول الله ﷺ په شان د هغه چا دے چه اخته شو په غضب د الله په سبب د مخالفت د رسول الله ﷺ)

(٤) (اَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللّٰهِ بِالطَّاعَةِ كَمَنْ بَاءَ بِسَخَطٍ مِنَ اللّٰهِ بِسَبَبِ الْمَعَاصِيْ كَالْغَالِ) القاسمی ۲/ ۱۷۰)

آیا پس هغه څوك چه د الله د رضا پسے روان شو چه د الله تعالیٰ طاعت کوی په شان د هغه چا دے چه د الله په غضب اخته شو په سبب د ګناهونو لکه غلول والا شو)

۵- امام قرطبیؒ دا آیت د صبر علی الجهاد او د نبی کریم ﷺ نه په جنګ کی اورېدو سره لګولے دے یعنی څوك چه د الله د رضا پسے روان شی چه په جهاد کی صبر کوی دا د هغه چا سره نهٔ شی یو شان کیدے چه د رسول الله ﷺ نه په جنګونو کی اوړی

(القرطبی : ٤/ ٢٦٢)

علامه سعدیؒ فرمائی: پدے آیت کی الله تعالیٰ خبر ورکوی چه هغه څوك چه د هغه قصد او اراده د الله رضا کول وی او په هغه کارونو باندے عمل کول وی چه په هغے الله تعالیٰ راضی کیږی دا په شان د هغه چا کیدئے شی چه داسے نهٔ وی بلکه په ګناهونو باندے همیشوالے کونکے وی، خپل رب خفه کونکے وی دا دواړه هیڅکله برابر نهٔ دی نهٔ په حکم د الله کی او نهٔ په حکمت د هغه کی او نهٔ د هغه د بندګانو په فطرتونو کی۔ ﴿ اَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا﴾ ددے وجه نه ئے وفرمایل: (هُمْ دَرَجَاتٌ) یعنی دا ټول په درجاتو او مرتبو کی مختلف دی څکه چه اعمال ئے مختلف دی نو څوك چه د الله رضا لټوی نو هغوی کوشش کوی په حاصلولو د اُوچتو درجو او کورونو او بالاخانو کی نو هغوی ته به الله تعالیٰ د خپل طرف نه ورکوی د هغوی د اعمالو مطابق او څوك چه د الله غضب په کارونو پسے روان دی هغوی کوشش کوی چه خپل ځانونه درکاتو (ښکته درجو) ته ورکوز کړی هر څوك د خپل عمل په اندازه، چه ټولو باندے الله تعالیٰ لیدونکے دے هغوی

ته به د هغوی د اعمالو جزا او سزا ورکوی۔ (تفسیر السعدی تیسیر الکریم الرحمن ۱/۱۵۵)

وَبِئْسَ الْمَصِيرُ : د مصیر او مرجع ترمینځ فرق

مصیر د صیرورة نه دے او صیرورت د حالت بدلیدو ته وائی لکه د خاورے نه چه خټه جوړه شی او د مَرجع کلمه د رجوع نه ده او رجوع خپل اصلی حالت ته د ورتاویدلو نه عبارت دے لکه انسان چه بیرته خاورے شی۔ (عزیز التفاسیر)

هُمْ دَرَجَاتٌ : د درجات حمل په (هُم) باندے حمل د وصف دے په ذات باندے او دا په ظاهر کی نهٔ صحیح کیږی نو زجاجؒ معنیٰ کوی : (اَیْ هُمْ ذَوُوْ دَرَجَاتٍ، یا- لَهُمْ دَرَجَاتٌ) یعنی دوی مختلفو درجاتو والا دی یا د دوی دپاره مختلف درجات دی، څوك پورته او څوك خکته۔ مگر پدے حمل کښ هم ډیر فصاحت دے، یعنی دوی درجے درجے دی۔ او پدے کی مبالغه ده یعنی د دوی د یو بل نه داسے مختلف دی لکه چه د درجاتو اختلاف وی۔

ظاهر دا ده چه دا د مؤمنانو سره لګیږی چه په دوی کی الله تعالیٰ مختلفے درجی گرزولی دی څوك ډیر اُوچتے مرتبے والا وی لکه د انبیاؤ (علیهم السلام) په شان، او څوك د هغوی پسے نزدے وی لکه علماء او شهداء، او څوك د هغوی نه ښکته درجو والا وی لکه عام مؤمنان شو۔

یا د دواړو سره لګی یعنی مؤمنان اُوچتو درجو والا دی او اهل کفر خکته درجو والا دی چه د دوی دپاره درکات لفظ استعمالیږی یعنی هرکله چه په عملونو کی فرق دے نو په نتیجه کی ئے هم فرق وشو۔

والله بَصِيرٌ : یعنی دا درجے الله تعالیٰ په عملونو سره ورکوی او الله تعالیٰ د دوی عملونه وینی نو د هغے مطابق به درجات ورکوی۔

لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ إِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا
یقیناً احسان کړیدے الله تعالیٰ په مؤمنانو کله ئے چه راولیږلو په دوی کی یو رسول
مِّنْ أَنْفُسِهِمْ يَتْلُوْعَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ
د دوی د جنس نه چه لولی په دوی باندے آیتونه د هغه او پاکوی دوی لره او ښائی دوی ته
الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلَالٍ مُّبِيْنٍ ﴿١٦٤﴾
کتاب او پوهه د دین (سنت) او اګرکه وو دوی مخکی ددهٔ نه خامخا په ګمراهئ ښکاره کی۔

تفسیر : عنوان د آیت : بَیَانُ امْتِنَانِ اللّٰهِ عَلٰی أَهْلِ الْاِیْمَانِ بِبَعْثَةِ هٰذَا الرَّسُوْلِ الْمُرَبِّیْ الْمُزَکِّیْ الْمُعَلِّمِ) ۔ پدے آیت کی الله تعالیٰ په مسلمانانو باندے خپل احسان ذکر کړیدے چه هغه د دوی د لارخودنے دپاره دوی ته د دوی په شان عربی انسان خپل رسول راولیږلو دے دپاره چه د هغه د تعلیماتو نه فائده واخلی، نو د منافقانو د خبرے تردید وشو چه هغوی وویل چه ددے رسول په وجه په اُحد کی اویا کسان زمونږ نه لاړل۔ نو الله فرمائی چه دا رسول مصیبت نهٔ دے بلکه دا نعمت وګنړئ ځکه چه ددے رسول په وجه ایمان والا علماء جوړ شول او د نفس تزکیه ئے وشوه او د ګمراهئ نه راووتل او دا شهادتونه ددهٔ په تابعدارئ کی هم سبب د جنت دے، نو دوی خو مزے وکړے که دا رسول نهٔ وے هم پدے کسانو مرګ راتللو اُورته به تلی وے په حالت د شرك کی نو رسول الله ﷺ د دوی دپاره احسان شو۔

ځوك چه نبی، یا د دین احکام مصیبت ګنړی دا مسلمان نشی کیدے۔

ربط : مخکی د رسول الله ﷺ صفات ذکر شو، د هغه اخلاق او خیانت نهٔ کول نو اُوس ترغیب ورکوی چه د دغه نبی اتباع وکړئ او په جهاد کی د داسے نبی د ملګرتیا نه ځان مهٔ روستو کوئ۔

عَلَی الْمُؤْمِنِیْنَ : چونکه د رسول په بعثت سره مسلمانان په حقیقی معنو کی فائده مند شول، پدے وجه ئے په دوی باندے احسان ذکر کړو، ورنه رسول الله ﷺ خو د ټولے دنیا دپاره رحمت رالیږلے شوے وو لکه چه الله د سورة الانبیاء په آیت (۱۰۷) کی فرمائی : ﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِیْنَ﴾ چه مونږ تا لره د ټول عالَم دپاره رحمت رالیږلے دے۔

د هغه رسول صفت دا دے چه هغه به دوی ته قرآن لولی، ځکه چه ددهٔ نه مخکی عربو ته هیڅ وحی نهٔ وه راغلے، که په دوی کی نهٔ وے رالیږلے شوے نو د غیبو سره به ئے هیڅ تعلق نهٔ وے او د غیبو نه به هیڅ نهٔ وے خبر شوی۔

هغوی به د توحید د دعوت او د اسلام د دعوت په ذریعه د شرك او ګناهونو نه پاك کوی او هغوی ته به د قرآن او سنت تعلیم ورکوی۔ عرب خلق د نبی کریم ﷺ د بعثت نه او د هغه د تزکیه او تعلیم نه مخکی په ښکاره ګمراهئ کی وو، د بتانو عبادت به ئے کولو، حرام اوګنده ځیزونه به ئے خوړل، او په یو بل به ئے ظلم کولو، قتل وقتال او فسادونه پکی وو۔ الله تعالیٰ خپل نبی راولیږلو او هغوی ئے د تیارو نه راوُویستل او رڼا ته ئے راوستل او په علم او زهد او عبادت کی ئے د دنیا بهترین انسانان جوړ کړل۔ د الله تعالیٰ په مسلمانانو باندے دا عظیم احسان وو۔

فخر الدین رازیؒ لیکلی دی چه الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ لره په عربو کی پیدا کړو، دا د

عـربـو دپاره د غټ فخر او شرافت خبره وه، ځکه چه په ابراهيم عليه السلام باندے فخر کول خو په يهود او نصاراؤ او عربو ټولو کی شريك وو۔

او يهود او نصاراؤ به په موسیٰ او عيسیٰ (عليهما السلام) او تورات او انجيل باندے فخر کولو۔ د عربو سره د هغوی په مقابله کی د فخر هيڅ خبره موجود نهٔ وه۔ کله چه الله تعالیٰ نبی کريم ﷺ راوليږلو او په هغه باندے ئے قرآن نازل کړو نو دا د عربو دپاره د لوئی شرافت خبره وه چه پدے کی نور قومونه شريك نهٔ وو۔

إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ : يعنی په عربو کی نو دا د عربو خصوصی شرافت شو او (مِنْ أَنْفُسِهِمْ) د دوی د جنس ئے نه راوليږلو يعنی بشر ځکه چه د بشر نه هدايت او علم زده کول آسان وی ځکه چه انسان د انسان سره نفرت او طبعی وحشت نهٔ لری که ملائك یا ئے پيرے راليږلے وے نو بيا به د بعض بندګانو بهانه جوړه وے چه مونږ ددهٔ نه يريدو څنګه پرے مونږ ايمان راوړے وے۔ نو رسول الله ﷺ انسان وو لکه د عامو انسانانو په شان، صرف فرق دا دے چه هغه ته الله تعالیٰ وحی وکړه او داسے معجزات ئے راښکاره کړل چه هغه د انسان په طاقت کی نهٔ وو چه دا دليل وو د هغه په حق او رشتينی رسول کيدو باندے او د هغه د تابعداریٔ په لازميدو باندے۔

او (انفس) کی بعض مفسرينو دا هم وئيلی دی چه د رسول الله ﷺ د عامو عربو سره نسبی شرکت وو سویٰ د بنو تغلب نه چه دا نصاریٰ وو۔

يَتْلُوا عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ : يعنی آيتونه د قرآن او دليلونه۔

مِنْ قَبْلُ : يعنی مخکی ددے کتاب او سنت نه۔ يا مخکی ددے نبی راليږلو نه۔

او ددے آيت باقی تشريح په بقره (۱۲۹) آيت کی وګوره۔

نو ددے آيتونو مناسبت هم د واقعاتو د اُحد سره دے پدے وجه اُوس بيرته د اُحد واقعے ته رجوع کوی۔

أَوَلَمَّا أَصَابَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَدْ أَصَبْتُم
آيا او هرکله چه ورسيدو تاسو ته مصيبت (په اُحد کی) چه يقيناً رسولے وو تاسو
مِّثْلَيْهَا قُلْتُمْ أَنَّىٰ هَـٰذَا قُلْ هُوَ مِنْ عِندِ
دو چنده د هغے نه (په بدر کی) ووئيل تاسو د کومه راغلو دا غم، ته ووايه دا د طرفه

أَنْفُسِكُمْ إِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٦٥﴾

د نفسونو ستاسو نه دے، یقیناً الله تعالیٰ په هر شی باندے قدرت لرونکے دۓ۔

تفسیر : پدے آیتونو کی منافقانو ته زجر دے چه دوی یو اعتراض راپورته کړو او په ساده لوحو مسلمانانو کی ئے دا خبره خوره کړه چه نبی کریم ﷺ خو د فتح وعده کړے وه، هغه پوره نشوه، بل طرفته دا نبی په مونږ باندے څنګه احسان دے چه ددۀ په ملګرتیا کی په مونږ باندے په اُحد کی سخت مصیبت راغلو، اویا کسان قتل شو نو دا وعده مونږ سره ولے رشتینی نشوه؟۔ نو الله پدے آیتونو کی منافقانو ته رټنه ورکوی او د مؤمنانو ذهن سازی کوی فرمائی : آیا تاسو د نبی کریم ﷺ نافرمانی هم کوئ او کله چه درته داسے مصیبت ورسیږی چه د هغه مصیبت دوچنده مصیبت تاسو دشمنانو ته رسولے دے بیا هم تاسو وایئ چه (أَنّٰى هٰذَا ؟) دا مصیبت مونږ ته ولے راورسیدو ؟ حال دا چه مونږ مسلمانان یو او دشمنان مو کافران دی ؟ دا تعجب مو وکړو، نو الله فرمائی : دا مصیبت راتلل خو دومره لویه خبره نۀ ده چه تاسو پرے ډیر پریشانه شوئ ځکه چه ستاسو مصیبت په نسبت د کافرانو سپك وو ځکه که په اُحد کی ستاسو اویا کسان شهیدان شو خو ځوك مو قیدیان شوی نۀ دی او په بدر کی تاسو د دشمنانو نه اویا کسان قتل کړل او اویا کسان مو ونیول نو تاسو کولے شوه چه هغه مو وژلی وے خو تاسو په خپله خوښه فدیه اخستو سره پریخودل۔ مطلب دا چه هرکله ستاسو دشمن د دوچنده مصیبت په وجه وارخطا نشو او بیرته جنګ ته تیار شو، اُحد ته راغلل نو تاسو په یو چند مصیبت څنګه وارخطا شوئ۔

بل طرفنه د الله نبی تاسو ته وئیلی وو چه مورچه به نۀ پریدئ او تاسو هغه پریخوده نو د نبی د امر نه د غفلت په وجه تاسو ته دا مصیبت ورسیدو نو پدے وجه خپل ځانونه ملامته کړئ او اے منافقانو ! تاسو خو هیڅ مۀ وایئ ځکه چه تاسو خو د لارے نه وتښتیدئ ستاسو ددے اعتراض هیڅ حق نشته۔ د الله د مدد وعده بیخی رشتینی ده ځکه چه هغه خو شرط لګولے وو ﴿ وَإِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا ﴾ (آلعمران : ۱۲۰) که تاسو صبر او تقویٰ وکړه، د کافرانو هیڅ چل به تاسو ته تکلیف درنکړی۔

البته دا د دنیا چلن دے چه کله الله تعالیٰ په مؤمن باندے هم امتحان راولی نو دا د ناکامئ نښه نۀ ده۔

هُوَ مِنْ عِنْدِ أَنْفُسِكُمْ : دے کی درے احتمالات دی (۱) یو دا چه تاسو مرکز پریخودو لکه

چه مخکی بیان شو۔ نو شکست ستاسو د ځانونو د طرفنه شو۔
(۲) تاسو په خپله خوښه د جهاد دپاره د مدینې نه اُحد طرفته راوتل خوښ کړی وو۔
(۳) په حدیث د ترمذی کی راغلی دی چه د بدر په ورځ کله صحابه کرامو فدیه اخستله نو دوی ته ووئیل شو چه فدیه واخلئ لیکن ستاسو نه به اویا کسان قتل کولے شی نو دوی هغه خبره غوره کړه۔
اِنَّ اللّٰہَ عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ قَدِیۡرٌ : یعنی الله تعالیٰ خو په هر شی قدرت لری که دغه اسباب نهٔ وے نو الله تعالیٰ تاسو ته غلبه درکوله لیکن پدے لږ شان مغلوبه کولو کی هم ډیر حکمتونه او رازونه دی چه څه مخکی بیان شویدی۔ یعنی د الله په قدرت کی هیڅ قسم کمے نهٔ دے راغلے لیکن دا د الله قانون دے چه مؤمن بنده ته د هغه د گناه په وجه د هغه د متوجه کولو دپاره سزا ورکوی، او که همیشه غلبه راشی نو دے دپاره چه مست نشی۔ او په قدرت ذکر کولو کی اشاره ده چه د الله تعالیٰ قدرت دائمی دے هغه کولے شی چه تاسو ته بیرته غلبه درکړی۔
او پدے کی اشاره ده چه ستاسو څه خیال دے چه تاسو هره گناه وکړئ الله به جزاء نهٔ درکوی؟ داسے نهٔ ده، یقیناً الله تعالیٰ په هر څه قدرت لری چه ددے نه یوه ستاسو مصیبت (د گناه سزا) هم ده، آؤ الله په تاسو باندے داسے مصیبت درنازل نکړو چه ستاسو بیخ وباسی، الله تعالیٰ دا کولے شو او تاسو ئے مستحق وئ خو دا کارئے ونهٔ کړو آیا تاسو اُوس هم شکایت کوئ؟۔
فائده : نو ددے نه معلومه شوه چه د معاصیو سره الله تعالیٰ مصیبتونه تړلی دی کله چه په بنده باندے هغه راشی نو خپل ځان دے ملامته کړی، په اسلام او په نبی به پړه نهٔ اچوی او بنده دِے ددے نه لوی عبرت تر قیامته پورے حاصل کړی۔
حکمت : مِنۡ عِنۡدِ اَنۡفُسِکُمۡ : کی اشاره ده سبب ته نو پدے کی په جبریهٔ باندے رد دے چه هغوی اسباب نهٔ منی۔ او په خپل قدرت ذکر کولو کی په قدریهٔ باندے رد دے۔

وَمَاۤ اَصَابَکُمۡ یَوۡمَ الۡتَقَی الۡجَمۡعٰنِ فَبِاِذۡنِ
او هغه مصیبت چه ورسیدو تاسو ته په هغه ورځ چه مخامخ شوے دواړه ډلے نو دا په حکم
اللّٰہِ وَلِیَعۡلَمَ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ ﴿۱۶۶﴾ وَلِیَعۡلَمَ الَّذِیۡنَ
د الله دے او دے دپاره چه ښکاره کړی مؤمنان۔ او دے دپاره چه ښکاره کړی هغه کسان

نَافَقُوا وَقِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا قَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ أَوِ ادْفَعُوا
چه منافقت ئې کړیدے او وویلے شو دوی ته راشئ جنګ وکړئ په لاره د الله کې یا دفاع وکړئ،
قَالُوا لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَّاتَّبَعْنَاكُمْ هُمْ لِلْكُفْرِ
وویل دوی که پوهیدلے مونږ په جنګ خامخا مونږ به تابعداری کړے وے ستاسو، دوی کفر ته
يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلْإِيمَانِ يَقُولُونَ بِأَفْوَاهِهِمْ مَّا
په دغه ورځ ډیر نزدے شو په نسبت د دوی ایمان ته، وائی دوی په خولو خپلو سره هغه څه
لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ وَاللهُ أَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُونَ ﴿١٦٧﴾
چه نشته په زړونو د دوی کې او الله ښه پوهه دے په هغه څه چه دوی ئې پټوی۔

تفسیر : دا نور دوه علتونه بیانوی او ذهن سازی کوی چه تاسو ته کوم مصیبت در ورسیدو دا الله تعالیٰ په تقدیر کی لیکلے وو، د هغه تکوینی امر داسے وو چه تاسو ته به دا مصیبت رسیږی او د کافرانو په لاس کی هیڅ نشته او الله تعالیٰ چه په تقدیر کی یو شے ولیکی نو په هغے کی حکمتونه وی لهذا هغے ته تسلیمیدل پکار دی لکه د تقدیر فائده الله تعالیٰ داسے ذکر کړیده : ﴿ لِكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا بِمَا آتَاكُمْ ﴾ (الحدید: ۲۳) دے دپاره چه غمژن نشئ په هغه څیز پسے چه تاسو نه فوت شو او خفه نشئ په هغه مصیبت چه تاسو ته ورسیدو) (السعدی ۱۵۶/۱)

او تقدیر باندے ایمان ساتلو سره د بنده زړه یخیږی او دا ضروری شے دے۔

وَلِيَعْلَمَ : دا دویم سبب او علت بیانوی چه الله تعالیٰ پدے امتحان سره مؤمنان راښکاره کوی چه په غم او خوشحالئ کی د دوی څه حال جوړیږی؟ آیا د دوی په عقیده باندے څه اثر پریوزی؟، نو دلته علم په معنیٰ د اظهار (راښکاره کولو) سره دے۔ یا (یعلم) په معنی د (یَرَی) سره دے یعنی دے دپاره چه الله تعالیٰ وروښائی مؤمنانو ته چه د معصیتونو نتیجی همدغسے وی لکه چه تاسو په سترګو ولیده نو په کار ده چه تر قیامته پورے ددے نه مؤمنان درس واخلی که تاسو ته دا مصیبت نۀ وے رسیدلے نو تاسو به په هر حال کی فتحے ته په طمعه ناست وئ اګرکه د الله احکام د خپلو لاندے کیدلے۔

﴿ وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ ﴾ : دا په (اذن الله) باندے عطف دے، پدے کی بل سبب دا خودلے شویدے چه الله تعالیٰ پداسے امتحاناتو سره د ایمان والو او د منافقانو ترمینځ تمیز راولی او

منافقان د ایمان والو د صفونو نه بهر کوی، او خلکو ته د هغوی انجام رابنکاره کوی او پدے تمییز کی فائده دا وی چه ایمان والو ته خپل دشمن معلوم شی چه صبا له په هغه باندے اعتماد نهٔ کیږی او په یو ځای کی به نشی مشر کولے، لکه عمر فاروق ﷺ به په خپل دَور خلافت کی هغه شخص نهٔ مشر کولو چه حذیفه بن الیمان ﷺ به نهٔ منلو ځکه چه دا به منافق وی ځکه چه حذیفه ﷺ ته رسول الله ﷺ منافقان خودلی وو۔

دا آیت دلیل دے چه الله تعالیٰ منافقان د ایمان والو (صحابه کرامؓ) نه جدا کړی وو نو ثابته شوه چه هیڅ روایت د یو منافق نه نقل نهٔ دے، نو دا خبره د هغه بعض ناپوهه خلکو خطاء شوه چه وائی پته نهٔ لګی چه دا احادیث کیدے شی د منافقانو نه نقل وی، نو انکار حدیث ئے شروع کړو لکه پدے باره کی صاحب د اصول الشاشی ص (۷۵) کی یو منکرت روایت د علی ﷺ نه په باب السنة کی راوړیدے چه هغه د شیعه ګانو خبره ده او د هغوی په کتابونو (منهاج البلاغة) کی راغلے دے۔

وَلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ نَافَقُوْا : یعنی الله تعالیٰ منافقان رابنکاره کړی چه په خوشحالیٔ کی خو ځانونه مؤمنان بنکاره کوی مګر د غم په وخت کی په الله باندے اعتراض کوی او خپلو جرمونو ته نهٔ ګوری، نو الله تعالیٰ دغه منافقان ایمان والو ته رابنکاره کړل۔

وَقِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا : دا د اُحد د غزا شروع کیدو نه لږ مخکی حالت بیانوی چه د رسول الله ﷺ سره منافقان هم ووتل کله چه دشمن ته بنکاره شو نو عبد الله بن ابی ابن سلول (رئیس المنافقین) درے سوه کسان د لارے نه راستانه کړل چه جنګ له نهٔ ځو ځکه چه دوی زما مشوره نهٔ ده منلے، ما ویلی وو چه په مدینه کی دننه جنګ کوو او بهر نهٔ ووځو، پدے کی ددۀ فساد او ورانے غرض وو چه دشمن ته د دوی حال معلوم شی او په صحابه کرامو رازړهٔ ور شی او دوی دشمن ته کم بنکاره شی، او مسلمانانو کی پریشانی پیدا شی نو په عین موقعه کی شا ته شو نو پدے کی عبد الله بن عمرو بن حرام انصاری ﷺ (چه د جابر ﷺ پلار دے) وریسے ورروان شو او دا آواز ئے ورته وکړو :

(اِتَّقُوا اللّٰهَ وَلَا تَتْرُكُوْا نَبِيَّكُمْ وَقَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ أَوِ ادْفَعُوْا)

د الله نه ویریږئ او (که ځان ته مسلمانان وایئ نو) خپل نبی دشمن ته مهٔ پریدئ او د الله په لاره کی جهاد وکړئ (دا د جنت لاره ده) نو هغوی وویل : جنګ نهٔ کیدو والا دے، دا هسے خبرے اترے دی او مونږ به واپس شو خپل کارونه به وکړو۔ نو پدے کی عبد الله ﷺ ورته غیرت ورواچولو چه که د الله تعالیٰ د رضا دپاره جنګ نهٔ کوئ نو د خپل کلی والیٔ غیرت

خو وکړئ ستاسو په کلی او په خپلوانو حمله کیږی او تاسو دغه شان واپس کیږئ۔
(**فائده** : مؤمن به د الله نه ویرولے شی او منافق د خلکو نه او کافر به په توره او توپك ویرولے شی هر چا ته به خپله خپله یره ورکولے شی، که منافق ته الله او آخرت یادوے نو هغه ته دا هیڅ نۀ ښکاری په هغه باندے دا اثر نۀ کوی نو ستا خبرے ضائع کیږی)
نو دوی روان شو او مسلمانان ئے په ځای پریخودل بیا روسته زمانه کی د مسلمانانو اختلاف شو چه دا کسان مسلمانان دی او که پدے کار سره کافران شویدی نو الله تعالیٰ په سورة النساء کی آیتونه راولیږل (فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِينَ فِئَتَيْنِ) چه دا منافقان شویدی الله تعالیٰ ذلیله کړیدی دوی ته مؤمنان مۀ وایئ)۔ دلته هم وائی چه دوی کفر ته د ایمان په نسبت زیات نزدے شو۔ او څوك چه کفر ته نزدے وی او ایمان نه وړاندے وی نو هغے ته کافر وائی۔

د قتال او دفاع فرق

قَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ أَوِ ادْفَعُوا : د قتال او دفاع دواړو مطلب دا دے چه که ستاسو په زړه کی د الله رضا وی او د اسلام سره مو محبت وی نو د هغے دپاره قتال وکړئ او که د دین اسلام سره مو محبت نۀ وی نو بیا کم از کم د خپل نفسونو او د اهل او مال او کلی نه خو دفاع وکړئ۔ یا قتال دا چه بل څوك ووژنی، او دفاع دا ده چه د مسلمانانو جماعت او ډله زیاته کړی، دے دپاره چه د کافرانو په زړونو کی د مؤمنانو د ډیر والی د وجه نه هیبت پیدا شی۔
قَالُوا لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَّاتَّبَعْنَاكُمْ : ددے یو څو مطلبه دی (۱) یو دا چه که مونږ ته معلومه وے چه قتال واقع کیدونکے دے نو مونږ به تاسو سره روان شوی وے لیکن مونږ ته معلومه ده چه جنګ نۀ کیږی ځکه که جنګ کیدے نو دے نبی لاره ولے بدلوله پکار ده چه مخامخ ورغلی وے او جنګ ئے شروع کړے وے بلکه دوی هسے یو بل ته مخامخ کیږی او دا خبره د دوی په طریقه د مکابرے او معاندے سره وه او هسے بهانه وه۔
(۲) دویم دا چه که مونږ ته معلومه وے چه دا قتال فی سبیل الله دے نو مونږ به درسره تلی وے لیکن دا د دوی خپله خانه جنګی ده، قریش د یو بل سره انختی دی، زمونږ پکی څه کار دے۔ لکه ډیر کفار خلك صحیح جهادونه او مجاهدین بدناموی چه دا ملکی او وطنی جنګونه دی او د دوی په شا باندے نور خلك ولاړ دی هغوی ئے تاوی راتاووی۔ نو دوی د نبی جهاد ته جهاد فی سبیل الله ونۀ وئیلو نو دا کلمه د کفر شوه پدے وجه روستو

دوی ته د کفر نسبت وشو۔

(۳) ځینو مفسرینو دا معنیٰ هم ذکر کړیده چه که مونږ د جنګ په ترتیب پو هیدلے او وس او طاقت مو لرلے نو مونږ به درسره تلي وے۔

(٤) بعضو دا مطلب بیان کړیدے چه: که مونږ پو هیدلے چه دا جنګ دے مونږ به هم یکې برخه اخستے وے لیکن دا خالص ځان وژنه ده ځکه چه د دغه مقابله کونکو سره مونږ په هیڅ کې برابر نهٔ یو، هغوی په هر اعتبار سره په تاسو قوی دی نو مونږ ستاسو په شان خپل ځانونه هلاکت ته نشو ګوزارلے۔ (قاسمیؒ)

(۵) بعضِ دا په طریقه د مسخرو باندے حملوی او وائی چه منافقانو د مؤمنانو پورے مسخرے شروع کړے چه مونږ په جنګ نهٔ پو هیږو او د جنګ طریقه نهٔ راځی ځکه که مونږ ته د جنګ طریقے راتلے نو زمونږ خبره به مو منلے وے او د جنګ دپاره به د مدینے نه بهر نهٔ راوتلے نو بیا تاسو مونږ ته ولے وایئ چه مونږ سره جنګ ته لاړ شئ؟، روستو (یقولون بافواههم) ددے مطلب سره ښه لګی۔

هُمْ لِلْكُفْرِ : الله فرمائی: چه دوی اُوسه پورے مسلمانان حسابیدل د دوی د ظاهری حال د وجه نه، لیکن اُوس پدے کار سره دوی کفر ته د ایمان په نسبت زیات نزدے شو، خپله پرده ئے ماته کړه او نفاق ئے راښکاره کړو۔ شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ ددے آیت نه دا فائده راویستلے ده چه ډیر کرته د امتحان راتللو نه مخکې به یو تن مسلمان حسابیږی او د اسلام احکام به پرے جاری کیږی لیکن کله چه امتحان راشی نو په هغے کې د بنده حالت معلوم شی، د امتحان نه روستو العیاذ بالله د کفر لاره اختیاره کړی۔ دا وجه ده چه امتحان د مؤمن او د کافر ترمینځ فرق راولی۔ او په همدے وجه د ابتلاء اتو نه د ځان خلاصولو دپاره دوه څیزونه ضروری دی یو د مخکې نه مضبوط ایمان ساتل ځکه چه کله انسان د مخکې نه ضعیف الایمان وی نو بیا ابتلاء سره نور خرابیږی لکه د دجال په وخت کې به بیباکه خلك د دجال ملګری شی۔ او دویم د الله تعالیٰ نه مدد او دعا غوښتل۔

فائده ۱ : حافظ ابن کثیرؒ وائی: بنده باندے احوال مختلف راځی، په یو حال کې به کفر ته نزدے وی نو په بل حال کې به ایمان ته نزدے وی۔

فائده ۲ : واحدیؒ وائی: دا آیت دلیل دے چه چا کلمه د توحید ووئیله نو هغه ته به د کفر نسبت نشی کولے لکه دلته الله تعالیٰ دوی ته صراحةً کافران ونهٔ وئیل سره ددے نه چه دوی کافران وو ځکه چه دوی په ظاهره کې لا اله الا الله وئیله آه۔ (قاسمیؒ)

ددې نـه ددې جملې دا کمال هم راووتو چه الله تعالیٰ دوی ته صراحةً کافران ونهٔ وئيل ځکه چه دوی په ظاهره کې ځان ته مؤمنان وائي او کلمې وائي۔

فائده : ددې (نَافَقُوا) نه روستو د منافقانو ناکاره صفتونه بيانوی چه پدې آيت کې ئې څلور ذکر کړيدی۔

يَقُوْلُوْنَ بِأَفْوَاهِهِمْ : يعنى د دوی زړونـه د دوی د ژبـو سره برابر نهٔ دی په ايمان کې۔ او دا جـواب د سـوال دې چـه دوی خـو کـلـمـه د تـوحيـد وائـي نو څنګه دوی کفر ته نزدې شو ؟ جـواب دا دې چـه دغـه ويـنـا د دوی سرسری په ژبه ده او زړه کې ئې توحيد نشته۔ او دا فرق دې د مؤمنانو او منافقانو ترمينځ۔

چه هغوی اسباب نهٔ مني۔ او په خپل قدرت ذکر کولو کې په قدريه ؤ باندې رد دې۔

الَّذِيْنَ قَالُوْا لِإِخْوَانِهِمْ وَقَعَدُوْا لَوْ
(دا) هغه کسان دی چه وائي په باره د ورونړو خپلو کې او (خپله) ناست دی که
أَطَاعُوْنَا مَا قُتِلُوْا قُلْ فَادْرَؤُوْا
دوی زمونږ خبره منلې وې، نهٔ به وې وژلې شوی، ته ووايه ! پس دفع کړئ
عَنْ أَنْفُسِكُمُ الْمَوْتَ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِيْنَ ﴿۱۶۸﴾
د ځانونو خپلو نه مرګ لره که يئ تاسو رشتينی۔

تفسير : پدې آيت کې بيا په منافقانو رد دې او د هغوی بد صفت ذکر دې چه نور خلك د قتال نـه مـنـع کوی، په اُحد کې اويا صحابه کرام شهيدان شو او دغه غزا يوه ورځ وه کله چه هـغـه خـتـمـه شوه صبا له منافقانو د خپل کار کمال بيان کړو چه مونږ څومره هوښيار وو، ښـه دې چه جـنـګ تـه لاړ نـشـو ورنـه مـونږ به هم دغه شان قتل شوی وې، او زخميان شـوی وې او د شهيـدانـو په باره کې ئې خپلو خپلوانو ته دا وسوسه اچوله چه هرکله مونږ راواپس شـو نـو تاسو به هم راواپس شوی وې، که د اُحد شهيدان زمونږ په شان په کورونو کې ناست وې او کله چه مونږ د لښکر نه رابيل شو دوی زمونږ تابعداری کړې وې نو دوی به اُوس زمونږ په شان ژوندی وې او وژل شوی به نهٔ وې، لکه پدې وسوسو سره په انسانانو باندې اثر کيږی نو الله تعالیٰ د هغوی په رد کې دا آيت راوليږلو۔

لِإِخْوَانِهِمْ : ددې نـه د دوی نسبي ورونـه مراد دی چه هغوی صحيح مؤمنان وو او په اُحد

كې شهيدان شو.

وَقَعَدُوْا : يعنې دوى خپله د جهاد نه ناست وو (دا جرم پكې وو) او نورو خلكو ته ئې دا دعوت وركړو چه تاسو هم دغه شان كينئ.

قُلْ : يعنې د دوى د غلې كولو او د دوى د دروغو رابنكاره كولو دپاره ووايه.

قُلْ فَادْرَؤُوْا : الله تعالىٰ جواب كوى چه اے نبى تهٔ ورته ووايه ! مرګ يواځې په جهاد پورې خاص نهٔ دے بلكه تاسو نهٔ ګورئ چه ستاسو ترمينځ څومره مرګونه كيږى كه تاسو دومره هوښيار يئ او په خپله خبره كې رشتينى يئ نو بيا خو مرګ د خپلو ځانونو نه دفعه كړئ، كه انسان په كوټه كې ناست وى هم مرګ به پرې راځى.

دلته ځينو مفسرينو دا خبره هم ليكلې ده چه ددے غزا نه روستو الله تعالىٰ په مدينه كې طاعون راوستو چه دا منافقان په كې زيات مړهٔ كيدل، په يوه ورځ پكې اويا منافقان مړهٔ شول نو الله دا آيت راوليږلو چه د خپلو ځانونو نه مرګ دفعه كړئ.

(القرطبى ٤/٣٦٧) وابى السعود (١/٤٨٨)

عَنْ أَنْفُسِكُمْ : يعنې تاسو خو د ورونو غم كوئ مګر تاسو ته خپل ځانونه ډير خواږه دى نو د هغے نه مرګ دفعه كړئ ليكن دا كار خو نشئ كولے، معلوميږى چه يره د تقدير په مقابله كې هيڅ فائده نهٔ وركوى، الله چه مرګ وليكى بنده به ضرور مرى نو عاقل لره پكار دى چه د الله په لاره كې مرګ خوښ كړى.

وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أَمْوَاتًا بَلْ
اوګمان مهٔ كوه په هغه كسانو چه ووژل شو په لاره د الله كې د مړو (د عامو مړو پشان) بلكه
أَحْيَآءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ ﴿١٦٩﴾ فَرِحِيْنَ
دوى ژوندى دى په نيز د رب د دوى، خوراكونه وركيدے شى دوى ته. خوشحاليږى
بِمَا آتَاهُمُ اللهُ مِنْ فَضْلِهٖ وَيَسْتَبْشِرُوْنَ
په هغه څه چه وركړيدى دوى ته الله تعالىٰ د مهربانۍ خپلې نه او خوشحالى حاصلوى
بِالَّذِيْنَ لَمْ يَلْحَقُوْا بِهِمْ مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا
په هغه كسانو چه نهٔ دى يو ځاى شوى د دوى سره روستو د دوى نه چه نهٔ به وى

خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿۱۷۰﴾

هیڅ یره په دوی باندے او نهٔ به دوی غمژن کیږی۔

تفسیر: پدے کی آیت کی د شهداؤ دپاره خاصکر د شهداءِ اُحد دپاره ډیر زیری دی، دویم پدے کی رد دے په قول د منافقانو چه هغوی به د شهداؤ په باره کی دا خبرے کولے چه دا خلك تباه شو د مزو نه لاړل، د فلانی نه ښځه او د فلانی نه مال او د فلانی نه باغ پاتے شو، دنیا کی به ئے مزے کولے ځکه چه د دوی په آخرت او قبر او برزخ او د هغے په نعمتونو ایمان نهٔ وو۔

نو الله جواب ورکړو چه دوی خو مزو ته لاړل، د فانی ژوند نه همیشه ژوند ته ورسیدل، او د الله په نیز هغوی په نعمتونو کی دی اګرکه انسانان پرے نهٔ پو هیږی۔

دریم پدے کې الله تعالیٰ د مؤمنانو ذهن سازی کړیده، د بعض شهیدانو خپلوان وارثان ډیر زیات خفه وو نو الله تعالیٰ چه دا زیری بیان کړل د هغوی تسلی وشوه ځکه چه د هغوی په آخرت یقین وو۔ لکه مفسرینو پدے مقام کی ډیر واقعات نقل کړیدی:

(۱) ام حارثه رضی الله عنها د هغے ځوی حارثه بن النعمان ﷺ په بدر کی شهید شوے وو نو هغے وویل اے د الله رسوله! که زما ځوی جنت کی وی زهٔ به نهٔ ژاړم او که بل ځای کی وی نو زهٔ به وژاړم نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ﴿يَا أُمَّ حَارِثَةَ! إِنَّهَا جِنَانٌ وَإِنَّ ابْنَكِ أَصَابَ الْفِرْدَوْسَ الْأَعْلَى) اے ام حارثه! په جنت کی دننه ډیر جنتونه دی او ستا ځوی اعلیٰ فردوس ته تلے دے) نو هغے بیخی ونهٔ ژړل۔ (صحیح بخاری عن انس)

(۲) جابر رضی الله عنه فرمائی: زما پلار (عبد الله بن عمرو بن حرام رضی الله عنه) په اُحد کی شهید شو نو ما ژړل او د هغه د مخ نه مے کپړه لرے کوله، صحابه کرامو زهٔ منع کولم او نبی ﷺ نهٔ منع کولم صرف دائے وویل چه مهٔ ژاړه۔ پدے کی زما ترور (فاطمه) راغله او ژړل ئے نبی کریم ﷺ وفرمایل: مهٔ ژاړه:

(مَا زَالَتِ الْمَلَائِكَةُ تُظِلُّهُ بِأَجْنِحَتِهَا حَتّٰى رُفِعَ) (بخاری ۴۰۸۰)

ملائك همیشه په هغه باندے په خپلو وزرو سره سورے کړے تردے چه پورته کړے شو۔

ځینو وئیلی دی چه دا آیت د بدر د شهیدانو په باره کی نازل شوے وو۔ او ځینو وئیلی دی چه د بئر مَعُونَه د شهیدانو په باره کی نازل شوے وو چه د هغوی شمار (۴۰) څلویښت یا اویا (۷۰) کسان وو او کوم چه عامر بن الطفیل الجعفری په غار کی ګیر کړی

وو او قتل کړی ئے وو۔ (زاد المسیر ۲/۵۵)

او ځینو د اُحد د شهیدانو سره لګولے دے لکه په سنن ابی داود (۲۵۲۲) کی د ابن عباس رضی الله عنهما روایت نقل شوید ے چه رسول الله ﷺ وفرمایل: هرکله چه ستاسو ورونه په اُحد کی شهیدان شو نو الله تعالیٰ د هغوی روحونه د شنو مارغانو په ججورو کی واچول چه د جنت نهرونو ته راځی او د جنت میوے خوری او د سرو زرو قنادیلو ته پناهی وړی، کوم چه د عرش د سوری د لاندے زوړند دی، نو هرکله چه دوی د خپل خوراك او څکاك او د خوب د ځای مزیدار والے ومونډو نو وے ویل: څوك به زمونږ ورونو ته زمونږ د طرفنه دا خبر ورسوی چه مونږ په جنت کی ژوندی یو، خوراکونه راکړے کیږی دے دپاره چه دغه ورونه په جهاد کی بی رغبته نشی او د جنګ نه روستو نشی نو الله سبحانه وتعالیٰ وفرمایل: زۀ به دا خبر ستاسو د طرفنه ورسوم نو دا آیت ئے نازل کړو: (ولا تحسبن الذین) الی آخر الآیة۔ (وصحیح مسلم ۲/۱۳۵ واحمد ۲۳۸۸ باسناد حسن)

او امام ترمذیؒ او ابن ماجهؒ د جابر ؓ نه نقل کړیدی چه رسول الله ﷺ ما ته وویل: څه وجه ده چه زۀ تاسو بی سُوره غمجن وینم؟ ما وویل: اے د الله رسوله! زما پلار شهید شو او بچی او قرض ئے پریخودو۔ رسول الله ﷺ وفرمایل: آیا زۀ تا ته زیرے نۀ درکوم په هغه خبره چه الله تعالیٰ په هغے سره ستا د پلار سره ملاؤ شو۔ ما وویل: ولے نۀ اے د الله رسوله! وے فرمایل: الله تعالیٰ د هیچا سره هیڅکله خبرے نۀ دی کړی مګر د پردے نه وَكَلَّمَ اَبَاكَ كِفَاحًا) او ستا د پلار سره ئے مخامخ خبرے وکړے او دا ئے ورته وویل: (یَا عَبْدِیْ تَمَنَّ عَلَیَّ اُعْطِكَ) اے زما بنده ارمان وکړه (ما نه څه وغواړه) چه زۀ ئے درکړم۔ هغه وویل: اے زما ربه! ما دنیا ته بیرته بوځه چه ستا دپاره دوباره شهید شم نو الله تعالیٰ ورته وفرمایل: (اِنَّهٗ سَبَقَ مِنِّیْ اَنَّهُمْ اِلَیْهَا لَا یَرْجِعُوْنَ) زما دا فیصله مخکی نه شویده چه بندګان به بیرته دنیا ته نۀ واپس کیږی) نو هغه وویل: اے زما ربه! نو زمونږ نه اخوا (دنیا والو) خلکو ته دا خبره ورسوه نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو۔ (ابن ماجه وسنده حسن - البانی)

او په روایت د ابن ماجه کی د اُحد د ټولو شهیدانو په باره کی راغلی دی:

(اِطَّلَعَ عَلَیْهِمْ رَبُّكَ اِطِّلَاعَةً فَیَقُوْلُ: سَلُوْنِیْ مَا شِئْتُمْ) ستا رب دوی ته رابنکاره شو او دا ئے ورته وویل چه ما نه څه وغواړئ؟ دوی وویل: اے زمونږ ربه! مونږ در نه څه وغواړو حال دا چه مونږ په جنت کی ګرځو کوم ځای چه غواړو، هرکله چه دوی پوهه شو چه دوی نشی پریخودلے کیدے ددے نه چه خامخا به څه غواړی نو دوی وویل:

(نَسْأَلُكَ اَنْ تَرُدَّ اَرْوَاحَنَا فِيْ اَجْسَادِنَا اِلَى الدُّنْيَا حَتّٰى نُقْتَلَ فِيْ سَبِيْلِكَ)
مونږ ستا نه دا غواړو چه ته زمونږ روحونه زمونږ بدنونو ته واپس کړه او دنیا ته مو ولیږه دے دپاره چه ستا په لاره کی ووژلے شو. هرکله چه الله ولیدل چه دوی بل څه نۀ غواړی نو پرے خودل. (ابن ماجه (۲۸۰۱) عن ابن مسعود)

لیکن ظاهر دا ده چه اعتبار د الفاظو عموم لره وی او خصوص د سبب له نۀ وی، یعنی د شهیدانو چه کوم فضیلت دلته بیان شویدے نو دا د اسلام تولو شهیدانو ته عام او شامل دے.

وَلَا تَحْسَبَنَّ : یعنی په شهیدانو هیڅکله دا گمان مۀ کوه (پاتے خو لا یقین شو) چه دوی د خپل رب په نیز باندے هم مړه دی لکه څنگه چه د دنیاوی حالاتو په اعتبار سره مړه دی چه مال ئے وارثانو واخستو او ښځه ئے بل خاوند کولے شی بلکه دوی د خپل رب په نیز ژوندی دی په خاص ژوند سره چه هغه د مزو ژوند دے.

فائده : د (قُتِلُوْا) نه معلومه شوه چه مړۀ دی او د (بَلْ اَحْيَاءٌ) نه معلومه شوه چه ژوندی دی او حقیقی مرگ ورله نشته نو معلومه شوه چه دوی په اعتبار د اجسامو سره مړۀ دی چه د بدن نه ئے روحونه وتلی دی، او په اعتبار د روحونو سره ژوندی دی او دا ژوند زیاتی دے د ژوند د نورو خلکو د روحونو نه، بلکه ددے ژوند معنیٰ دا ده چه د دوی روحونو ته د ژوند آثار ثابت دی چه هغه مزے حاصلیدل او د جنت نه خوراکونه کول دی او په خپلو خپلوانو باندے خوشحالیدل دی. او ددے نه دنیاوی ژوند نۀ دے مراد چه هغه بدنونو کی وینه چلیږی او رگونه خوزیږی او زړه ئے حرکت کوی او داسے ژوند هم ورله نشته کوم چه د عامو خلکو روحونو ته ثابت دے (چه هغه مزو کی نۀ وی) (ابن عاشورؒ)

لیکن صحیح دا ده چه د شهیدانو روحونه د مارغانو په ججورو کی وی د هغوی په روحونو او بدنونو سره خوندونه حاصلوی او د عامو مؤمنانو د روحونو نه خپله مارغان جوړیږی نو د هغوی روحونه صرف مزے اخلی، لکه حافظ ابن القیمؒ دا معنیٰ ذکر کړیده :

لٰكِنَّ أَرْوَاحَ الَّذِيْنَ اسْتُشْهِدُوْا	O	فِيْ جَوْفِ طَيْرٍ أُخْضَرٍ رَيَّانٍ

لیکن روحونه د شهداؤ په خیټو (ججورو) د شنو مړو مارغانو کی وی.

او د عامو مؤمنانو د روحونو په باره کی وائی :

وَتَصِيْرُ طَيْرًا سَارِحًا مَعَ شَكْلِهَا	O	تَجْنِيْ الثِّمَارَ بِجَنَّةِ الْحَيَوَانِ

او گرځی د دوی روحونه مارغان څریدونکی په خپل شکل سره، چه د جنت نه میوے راشوکوی.

او ابن عطیہؒ وئیلی دی چه دوی خو ضرور مړهٔ شویدی او بدنونه د دوی په خاورو کی دی او ارواح د دوی ژندی دی په شان د ارواحو د عامو مؤمنانو لیکن دوی له فضیلت ورکړے شویدے په رزق د جنت سره د وخت د قتل د دوی نه ګویا که د دوی دنیوی ژوند همیشه دے (عین دنیاوی ژوند نهٔ دے)۔

نو د بَلْ أَحْيَاءٌ عِندَ رَبِّهِمْ معنیٰ به دا وی چه په دنیا کی مړهٔ دی او د الله په نیز ژوندی دی چه هغه ورله د جنت خوراکونه ورکوی لکه څنګه چه دنیا کی بندګان خوراکونه کوی۔ نو د منافقانو رد وشو چه هغوی ورته هلاك او تباه وئیلی وو نو الله وفرمایل چه دوی ته زهٔ مزے ورکوم، دوی داسے مړی مهٔ ګنړئ چه ګنے دوی معدوم (نشت) او ختم شو چه هیڅ مزے به ئے نهٔ وی۔

بَلْ أَحْيَآءٌ : ددے حیاة په باره کی علماؤ مختلف اقوال ذکر کړیدی مګر صاحب المنار وئیلی دی چه غوره دا ده چه دا یو غیبی ژوند دے چه مونږه ددے په حقیقت باندے نهٔ پوهیږو او د وحی نه علاوه پدے کی خبرے کول صحیح نهٔ وی (۱) نو پدے کی د بعض معتزله متکلمینو دا قول هم صحیح نهٔ دے چه وائی د (بل احیاء) نه مراد دا دے چه زر دے چه دوی به په آخرت کی راژوندی شی، دا تاویل صحیح نهٔ دے، بلکه دوی د وخت د قتل نه د الله تعالیٰ په نیز ژوندی دی او مزے حاصلوی۔ (۲) او دا قول هم صحیح نهٔ دے چه وائی دوی په اعتبار د بدنونو سره ژوندی دی لکه زمونږ د دنیاوی ژوند په شان چه خوراك څکاك کوی او په قبرونو کی نکاحونه کوی لکه د نورو دنیا والو په شان۔ (۳) او دا قول هم صحیح نهٔ دے چه د دوی بدنونه آسمان ته پورته کیږی او هلته ژوندی وی۔

(٤) او دا قول هم صحیح نهٔ دے چه وائی دوی ژوندی دی په اعتبار د ښائسته ذکر او مزیدارو صفتونو سره چه د دوی صفتونه کیږی۔ (٥) او دا قول هم صحیح نهٔ دے چه وائی د دوی بدنونه نهٔ خاورے کیږی۔ ځکه پدے قول هم دلیل نشته۔ (المنار)

د زیاتو عالمانو په نیز شهیدان په حقیقی معنو کی ژوندی دی او دا برزخی ژوند دے، او ځینو وئیلی دی چه دلته مجازی ژوند مراد دے یعنی د هغوی غوره ذکر او صفت کیږی نو ګویا که دوی ژوندی شو لیکن راجح اوله رائے ده، د صحیح احادیثو مطابق د هغوی روحونه د شنو مرغو په ججورو کی وی، هغوی د جنت میوے خوری، او د عرش د سوری لاندے زوړند چراغونو ته پناه حاصلوی۔ او الله چه د دوی سره د اکرام کومه معامله اُوکړه په هغے سره انتهائی خوشحاله دی، او په دنیا کی چه د هغوی نه کوم مؤمنان وروسته پاتے

شویدی نو د هغوی په باره کې سوچ کولو سره خوشحالیږي چه په هغوی به هم د دنیا نه د راتلو نه روستو هیڅ یره نهٔ وي او نهٔ به د غم څه خبره ورته رسیږي او د جنت د نعمتونو او راحتونونه به فائدے اخلي۔

عِنۡدَ رَبِّهِمۡ : دا د (اَحۡیَاء) سره متعلق دے یعنی دوی د الله په نیز ژوندی دی معلومه شوه چه روحونه ئے ژوندی دی او بدنونه ئے مړهٔ دي۔

یُرۡزَقُوۡنَ : یعنی دوی ته الله تعالیٰ د جنت نه خوراکونه ورکوي۔ کما مر في الحدیث۔ مخکې تیر شوي وو چه د عام مؤمن د روح نه مارغه جوړیږي او د شهید روح د شنو مارغانو په ججورو کې ننوزي نو دوه قسمه خوندونه حاصلوي۔

فائده : یُرۡزَقُوۡنَ یا صفت د اَحۡیَاء دے نو ددے نه معلومیږي چه د عام مؤمن او د شهید د روحونو ترمینځ فرق صرف په رزق کې دے چه شهیدانو ته الله تعالیٰ د جنت نه خوراکونه ورکوي لکه د حسن بصريؒ نه نقل دي چه شهیدان د الله په نیز ژوندي دي، د دوی په روحونو باندے رزقونه پیش کیږي نو دوی ته راحت او خوشحالي رسیږي لکه کافرانو باندے صبا او بیگاه اُور پیش کیږي نو هغوی ته درد رسیږي۔

(تفسیر البحر المحیط و البغوی ١/١٦٨)

حافظ ابن القیم رحمه الله لیکلي دي چه پدے آیت کې الله تعالیٰ نبي کریم ﷺ او صحابه کرامؓ ته ډیره لویه تسلي ورکړیده چه کوم مسلمانان د اُحد په میدان کې په کار راغلل نو دے خلقو ته تاسو مړي مهٔ وایئ بلکه دا خو د الله سره په حقیقي ژوند باندے ژوند تیروي او د هر قسمه نعمتونو نه فائدے اخلي او په دوی هیڅ غم نشته۔

فَرِحِیۡنَ : دا حال دے د ضمیر د (یُرۡزَقُوۡنَ) نه، یعنی رزقونه ورکولے شي په داسے حال کې چه دوی خوشحالي کوي په هغه نعمتونو چه الله تعالیٰ دوی ته ورکړیدي یعنی خوراك څکاك وغیره۔ الله تعالیٰ شهیدانو ته ډیر کرامت ورکوي۔

اَلَّاخَوۡفٌ : دا بدل دے د (اَلَّذِیۡنَ لَمۡ یَلۡحَقُوۡا بِهِمۡ) نه یعنی دوی خوشحالیږي په هغه کسانو چه دوی پسے لا پیوسته شوي نهٔ دي پدے خوشحالیږي چه په هغوی باندے به هیڅ یره او غم نهٔ وي۔ یعنی کله چه دوی ته خبر ورکړے شي چه فلانے دوست به شهید کیږي او تاسو پسے به درځي نو دوی خوشحاله شي ځکه چه دوی پوهیږي چه په دوی باندے هم زمونږ په شان یره او غم نهٔ وي نو هرکله چه هغوی ستاسو په باره کې د شهادت په خبر باندے خوشحالیږي نو تاسو ولے د دوی په شهادت باندے غمژن کیږئ ؟!۔

یا (اَلَّا خَوْفٌ) کی لام اجلیه پټ دے یعنی زیرے به ورکیدے شی په ډیرو زیرو سره ځکه چه په دوی باندے څه خوف او حزن نشته۔

حکمت : پدے آیت کی په یولسو طریقو سره د شهداؤ دپاره زیرے ورکړے شویدے۔

بیا فرقونه دا دی چه د اول (من فضله) نه مراد (اَلشَّهَادَةُ وَمَا يَحْصِلُ بِهَا مِنَ النَّعِيْمِ) یعنی شهادت او هغه نعمتونه چه د شهادت په وجه حاصلیږی۔ او (یستبشرون) کی روحانی خوشحالی ده یعنی چه د روستنو خلکو په راتللو هم خوشحالہ دی۔ (یستبشرون) یعنی یو بل ته زیری ورکوی چه فلانے هم جنت ته راروان دے۔

اَلَّاخَوْفٌ عَلَيْهِمْ : ځینی وائی چه د خوف نه مراد دا دے چه په دنیا کی به پرے یره نهٔ وی چه مشرکان ئے بیخ کندی وکړی او بیخی ئے ختم کړی او دوباره پرے کامیاب شی۔ اول مطلب اظهر دے۔ ولا هم یحزنون یعنی په آینده کی چه کله په آخرت کی الله تعالیٰ ته ورشی نو دوی باندے به غمونه نهٔ وی۔

يَسْتَبْشِرُوْنَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ اللهَ لَايُضِيْعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٧١﴾
خوشحالیږی په نعمت د الله تعالیٰ او په فضل سره او یقیناً الله نهٔ بربادوی اجر د ایمان والو۔

تفسیر : **يَسْتَبْشِرُوْنَ** : دا ضمیر یا راجع دے شهیدانو ته یا راجع دے (الذین لم یلحقوا) ته۔ که شهیدانو ته راجع شی نو معنیٰ به دا وی چه دوی خوشحالیږی په نوی نوی نعمتونو او احساناتو د الله سره۔ یا د نعمت نه مراد هغه نعمتونه دی چه مخکی آیت کی ذکر شو (احیاء عند ربهم یرزقون) او یا پدے آیت کی ذکر شو (فرحین بما آتاهم الله من فضله) او که ضمیر (الذین لم یلحقوا) ته راجع شی نو بیا به معنیٰ دا وی چه دوی خوشحالیږی په هغه نعمتونو په کوم باندے چه شهیدان خوشحالیږی۔ (المنار)

بیا (۱) د نعمت نه مراد (النعمة بقدر الکفایة) دے یعنی الله ورته دومره نعمتونه ورکړل چه د دوی کافی کیږی او فضل کی د زیادت معنیٰ وی یعنی زیات ئے ورکړل۔

(۲) دویم نعمت کی د خوف زائله کیدو ته اشاره ده او په فضل کی د حزن زائل کیدو ته۔

(۳) یا (نعمة من الله) کی ټولو معنوی نعمتونو ته اشاره ده او په (فضل) کی د الله دیدار ته اشاره ده۔

(٤) علامه محمد رشید رضاؔ د خپل استاذ نه نقل کړیدی چه (ما اتاهم الله من فضله) مجمل دے او ددے تفصیل ئے روستو کړیدے او هغه دوه قسمه دے، یو په شهیدانو فضل

دے پہ بارہ د ورونو د دوی کی چہ دوی پسے لا نۂ دی پیوستہ شوی او دویم فضل دے پہ دوی باندے چہ ھغہ د الله تعالیٰ نعمت دے چہ دوی تہ ئے ورکړو او بل خاص فضل (او احسان) د الله دے چہ دوی تہ بہ ئے پہ دار الکرامة کی ورکوی۔ (المنار)

دغہ شان دوہ ځل (یستبشرون) وویل شو ځکہ چہ د اول استبشار نہ مراد دفع د مضرت دہ یعنی الله ترے تکلیفونہ ختم کړل او دویم استبشار کی حصول المسار دہ یعنی خوشحالیانی ورتہ حاصلے شوے۔ (۲) یا اول استبشار د ورونو پہ بارہ کی وو او دا استبشار د خپلو ځانونو پہ بارہ کی دے۔ (۳) یا اول استبشار د شھیدانو وو او دویم د ھغہ کسانو دے چہ د دغہ شھیدانو پسے روستو پیوستہ کیږی چہ ھغوی باندے بہ ھم الله تعالیٰ نعمتونہ او فضل کوی، یرہ او حزن بہ ترے ختموی۔ یعنی دویم یستبشرون نہ مراد ھغہ روستنی کسان دی چہ ھغوی بہ ھم د الله پہ نعمت او فضل باندے خوشالہ وی او د ھغوی خواری بہ ھم الله تعالیٰ نۂ ضائع کوی۔

(٤) یا پہ (الذین لم یلحقوا) کی اشارہ دہ ټولو مؤمنانو تہ اګرکہ نۂ وی شھیدان شوی لیکن ھرکلہ چہ شھیدانو د الله تعالیٰ ثوابونہ ولیدل نو پدے خبرہ ئے نور یقین زیات شو چہ اسلام ھغہ حق دین دے چہ الله تعالیٰ پہ ھغے باندے ثوابونہ ورکوی نو دوی د خپلو ځانونو دپارہ پہ ھغہ څہ خوشحالہ دی چہ الله تعالیٰ دوی تہ د خپل فضل نہ څہ ورکړیدی او د ایمان والو دپارہ پدے خوشحالہ دی چہ پہ دوی بہ ھم یرہ او خفګان نۂ وی لکہ دا معنیٰ زجاجؒ او ابن فورکؒ کړیدہ (القرطبی ٤/٢٧٥) او علامہ شوکانیؒ وائی چہ دا قوی تفسیر دے او فائدہ ئے زیاتہ دہ۔(فتح القدیر للشوکانی ٢/٥٠)

بیا اګرکہ پہ (فَرِحِيْنَ) کی ھم د دوی پہ خپلو ځانونو باندے خوشحالی مراد وہ (لکہ مخکی ذکر شوہ) خو ھلتہ د شھیدانو پہ مادی نعمتونو خوشحالیو تہ اشارہ دہ لکہ خوراک، څکاک وغیرہ او دلتہ معنوی نعمتونو تہ اشارہ دہ لکہ پہ شھادت باندے کامیابیدل، او د ګناھونو مغفرت وغیرہ۔

وَأَنَّ اللهَ لَا يُضِيعُ : (١) ظاھر دا دہ چہ دا (پہ نعمة من الله) باندے عطف دے او دلتہ ھم باء مقدرہ دہ (اَیْ يَسْتَبْشِرُوْنَ بِاَنَّ اللهِ) یعنی پدے باندے ھم خوشالہ وی چہ الله تعالیٰ د مؤمنانو اجرونہ نۂ بربادہ وی لکہ څنګہ ئے چہ زمونږ پہ وارو وارو عملونو بدلے راکړے۔ او دا ھم مستقل زیرے دے ځکہ چہ پہ دنیا کی د دوی سرہ د بد انجام یرہ وہ او پہ خپل ایمان باندے یریدل لکہ دا د کامل مؤمن صفت دے نو قیامت کی ورلہ زیرے ورکوی چہ ستاسو

هیڅ عمل برباد شوے نۀ دے۔
(۲) دویم دلته (وَاعْلَمُوْا) لفظ مقدر دے یعنی اے مؤمنانو ! پدے خبره پوهه شئ چه الله تعالیٰ د ایمان والو اجر نۀ بربادوی نو شهیدانو ته به خامخا ښے بدلے ورکوی نو پدے کی ټولو مؤمنانو ته تسلی شوه۔
او (المؤمنین) کی اشاره ده چه کوم اعمال د ایمان په بناء شوی وی هغه به نۀ بربادیږی او پدے سره د بنده مؤمن ډیره تسلی کیږی چه الله تعالیٰ په مؤمنانو ډیر رحیم دے چه د هغوی عملونه به ضائع نۀ بوځی او د دوی خواری به رنګ راوړی۔

الَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ مِنْ بَعْدِ مَا أَصَابَهُمُ
هغه کسان چه قبول ئے کړو حکم د الله او د رسول روستو د هغے نه چه ورسیدو دوی ته
الْقَرْحُ لِلَّذِيْنَ أَحْسَنُوْا مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا أَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۷۲﴾
زخم، دپاره د هغه کسانو چه ښائسته عمل ئے کړیدے د دوی نه او تقویٰ ئے کړیده اجر لوی دے۔
الَّذِيْنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا
هغه کسان دی چه وویل دوی ته خلکو (جاسوسانو) یقیناً خلکو (کافرانو) راجمع کړیدی
لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيْمَانًا وَقَالُوْا
ستاسو دپاره (لښکرے) نو ویریږئ د دوی نه نو زیات کړو دے خبرے دوی لره ایمان او وے ویل
حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ ﴿۱۷۳﴾ فَانْقَلَبُوْا بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ
کافی دے مونږ لره الله تعالیٰ او ښه کار ساز دے۔ نو واپس شو دوی په نعمت د الله
وَفَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوْءٌ وَاتَّبَعُوْا رِضْوَانَ اللّٰهِ
او په مهربانئ سره، نۀ وو رسیدلے دوی ته هیڅ تکلیف او روان شو د رضا د الله پسے
وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۷٤﴾ إِنَّمَا ذٰلِكُمُ الشَّيْطَانُ يُخَوِّفُ
او الله خاوند د مهربانئ لوی دے۔ یقیناً دغه (جاسوس) شیطان دے چه یره وی تاسو
أَوْلِيَاءَهُ فَلَا تَخَافُوْهُمْ وَخَافُوْنِ إِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۷۵﴾
په دوستانو خپلو سره نو مۀ یریږئ د دوی نه او ویریږی زما نه که یئ تاسو مؤمنان۔

تفسير: پدې دوه درې آيتونو کې د حَمرآءُ الاسد غزا ذکر ده او دا هم د متمماتو د غزائې اُحد نه وه او بناء په قول راجح سره د اُحد په صبا باندې شوې وه په شوال مياشت کې۔
کله چه قريشي لښکر د مدينې نه واپس شو او حمراء الاسد علاقې ته ورسيدل نو د نبي عليه السلام سره دا شك پيدا شو چه داسې نۀ چه دا مشرکان بيا په مدينه حمله ونکړي نو سهار ئې وويل چه څوك په اُحد کې شريك شوي وو هغوي دې ځان تيار کړي ورځو او په کفارو بيا حمله کوو۔
د دوي سره اويا صحابه کرام د مدينې د عَوَالي نه نور هم تيار شو نو ټول (۳۶۰) کسان شو سيدنا جابر بن عبد الله رضي الله عنهما وويل: اې د الله رسوله! زۀ درسره ځم ځکه چه زۀ په اُحد کې د خپل پلار د وجه نه شريك نشوم چه هغه ما ته زما د خويندو د حفاظت وصيت کړې وو۔ نبي عليه السلام ورته وويل تۀ صادق يې۔
عبد الله بن ابي ابن سلول وويل زۀ هم درسره ځم؟ هغه ته ئې وويل چه تۀ به نۀ ځې۔
نبي ﷺ او صحابه کرامؓ د زخمونو او ستړي والي په حالت کې روان شو، نبي ﷺ په اُوښ باندې سور شو او روان شو تردې چه حمراء الاسد علاقې ته ورسيدل چه دا د مدينې نه (۸) ميله (يعني قريباً ۱۳) کيلو ميټره) وړاندې علاقه ده چه د مدينې د عقيق په لاره د ذو الحليفې کس طرفته ده۔
ليکن هلته چه ورسيدل (هلته ميله لګيدلې وه) تجارتونه ئې وکړل، مالونه ئې راوړل درې ورځو پورې ووسيدل او جنګ ونشو ځکه چه مشرکان روحاء علاقې ته رسيدلي وو چه دا د مدينې نه شپږ ديرش (۳۶) ميله وړاندې علاقه ده، هلته ئې دمه وکړه او سوچ ئې وکړو چه مونږ خو هيڅ ونکړل، نۀ مو زنانه راوستلې، نۀ مالونه او نۀ مو مشران مړۀ کړل،
ابو سفيان او د هغه غشي ويشتونکو ملګرو وغوښتل چه بيا حمله وکړي ليکن بعضو کسانو (صفوان بن اميه) مشوره ورکړه چه دوباره حمله مۀ کوئ ځکه چه د محمد (ﷺ) ملګري غصه دي، داسې نۀ چه ختم مو کړي۔
پدې دوران کې يو سړې معبد بن ابي معبد الخزاعي راغې چه دۀ اسلام راوړو۔
بعض وائي مشرك وو ليکن د رسول الله ﷺ خير خواه وو ځکه چه خزاعه قبيلې او بنو هاشمو د يو بل سره د مدد حِلف او قسم کړې وو۔
معبد نبي ﷺ ته وويل چه تا او ستا ملګرو ته ډير تکليف در ورسيدو، پدې مونږ ډير خفه شو او مونږ غوښتل چه الله تعالىٰ تا ته هيڅ تکليف نۀ وې رسولې۔ رسول الله ﷺ

ورته حکم وکړو چه ته لاړ شه او ابوسفیان او د هغه په ملګرو باندے رعب واچوه، هغه په جلتئ لاړو روحاء ته ورسیدو، د ابوسفیان او د هغه د فوج سره ملاؤ شو۔ ابوسفیان ته ددهٔ د اسلام علم نهٔ وو نو ابوسفیان ترے تپوس وکړو چه اے معبده! تا سره څه خبر دے؟ هغه ورته خبره سخته کړه چه محمد (ﷺ) د خپلو ملګرو سره تاسو پسے راوتلے دے او داسے فوج ورسره دے چه ما هیڅ کله دومره نهٔ دے لیدلے، سخت درته غصه دی او کوم خلك چه جنګ ته نهٔ وو حاضر شوی هغه هم ورسره راوتلی دی او تاسو باندے چکونه لګوی چه دوی رانه ولے خلاص شول۔

ابوسفیان ورته وویل خوار شے دا څه وائے؟ معبد ورته وویل چه زما ګمان دے چه ته به لا ددے ځای نه پاخیدلے نهٔ ئے چه اُوس به درباندے ددے ډیرکو نه اخوا د فوج اول سر راورسیږی او د اسونو تندی به وینے۔

ابوسفیان ووئیل چه مونږ کلکه اراده کړیده چه په دوی به حمله کوو او بیخکندی به ئے کوو۔ معبد ووئیل: دا کار مهٔ کوه زهٔ ستا خیر خواه یم۔

نو د ابوسفیان او د هغه د ملګرو عزم مات شو او په زړونو کی ئے شکست او رعب پریوتلو او د دوباره حملے اراده ئے پریښوده او مکے ته ځان رسول ئے بهتر وګنړل۔ ددے نه معلومه شوه چه د نبی ﷺ پالیسی او هوښیارتیا زیاته او صحیح وه۔

لیکن ابوسفیان همداسے روان نشو بلکه هغه هم یوه هوښیارتیا وکړه او اعصابی جنګ ئے ولوبولو چه هسے نهٔ د محمد (ﷺ) فوج راپسے متواتر مزل ونکړی، رالاندے به مو کړی نو د ځان نه د اړولو دپاره ئے یوه طریقه اختیار کړه هغه دا چه په لاره کی د عبد القیس قبیلے څه کسان مدینے طرفته روان وو، ابوسفیان ورته ووئیل تاسو په محمد (ﷺ) باندے رعب واچوئ، د یو اُوښ په مقدار وچکے (کشمش) به تاسو ته د عُکاظ په بازار کی درکړم کله چه تاسو مکے ته راغلئ۔

هغوی لاړل او حمراء الاسد کی ئے نبی ﷺ ته وویل لکه الله تعالیٰ د هغے نه داسے تعبیر کړیدے:

﴿اِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ اِيْمَانًا وَقَالُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ﴾ (آلعمران:۱۷۵)۔

یقیناً خلکو (د ابوسفیان ډلے) ستاسو د جنګ دپاره خلك راجمع کړیدی نو دوی نه یره وکړئ نو دے خبرے دوی لره ایمان زیات کړو او دوی ووئیل چه الله زمونږ کافی دے او ښه

کار ساز دے۔

سیدنا عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فرمائی: حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ کلمه ابراهیم علیه السلام په اُور کی وئیلے وه نو الله تعالیٰ ورته نجات ورکړو۔ او محمد رسول الله ﷺ او د هغه ملګرو د ابوسفیان د جنګ په مقابله کی وویله نو نجات ورته ملاؤ شو، نو دا کلمه د هر مؤمن او مجاهد ده۔

نو پدے آیتونو کی الله تعالیٰ د ایمان والو صفت کوی چه دوی ته سخت زخمونه او تکلیفونه رسیدلی وو او بیا هم د الله تعالیٰ د حکم تابعدار دی او حسبنا الله کلمه وائی نو ددے مؤمنانو نه الله تعالیٰ رضا دے او دوی ته به اجر عظیم ورکوی۔

عنوان د آیت : نو زمونږ د پاره پدے کی دا قانون شو چه (اِتِّبَاعُ الرَّسُوْلِ فِی الْمَنْشَطِ وَالْمَكْرَهِ لَازِمٌ) د رسول الله ﷺ تابعداری په خوشالئ او تکلیف کی لازم ده۔ که غم شوے وی او که واده او خوشحالی وی په ټولو حالاتو کی به د رسول الله ﷺ تابعدار وی۔

د بدر الصغریٰ غزا

ځینی مفسرین وائی دا آیتونه د بدر الصغریٰ د غزا په باره کی نازل شویدی چه لنډ مضمون ئے دا دے : کله چه د اُحد د غزا نه قریشی لښکر ستنیدو نو د دوی مشر (ابوسفیان) نبی کریم ﷺ ته آواز وکړو چه راتلونکی کال به د بدر په ځای کی مقابله کوو نو نبی کریم ﷺ وفرمایل: (ذٰلِكَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ)

یعنی که د الله خوښه وی نو زمونږ او ستاسو په مینځ کی همدا وعده شوه۔

نو کله چه کال له د وعدے وخت راورسیدو نو رسول الله ﷺ ور ووتو پدے کی ابوسفیان هم د وعدے مطابق قریشی لښکر راویستو او د بدر په طرف راروان شو خو کله چه مَرُّ الظَّهْرَان ته ورسیدل نو په خپله لښکر کشئ باندے پښیمانه شو مګر دا خبره ورته ډیره سخته ښکاره شوه چه خپل عهد مات کړی او بیرته ستون شی حال دا چه مقابل طرف ئے په عهد کلك ولاړ وی او د دوی د ورتللو انتظار کوی او بل طرفته د دوی په زړونو کی رعب ننوتے وو او جرأت ئے نشو کولے چه د بدر په طرف سفر روان وساتی، د بدر د نوم نه یریدل ځکه چه دلته ئے دوه کاله مخکی غټ غټ مشران اویا کسان قتل شوی او اویا کسان قیدیان شوی وو نو د خپل واپس کیدو د پاره ئے یو چل جوړ کړو دے د پاره چه پړه په مسلمانانو ور واچوی چه دوی د بدر مقام ته حاضر نشو۔

نو ابوسفیان یو سړے چه نُعیم بن مسعود الاشجعي نو میده ښه غټ رشوت ومنو چه مدینے ته لاړ شه او مسلمانانو ته زمونږ قوت او سازوسامان بیان کړه دے دپاره چه جرأت ونکړي چه موعد ته راشي او پره په هغوی باندے وغورزیږي او مونږ د جنګ نه خلاص شو۔ نو هغه رشوت خور مدینے ته راروان شو، د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو سره ملاؤ شو او دا ئے ورته وویل چه پام کوئ چه بدر ته لاړ نشئ، مکے والو تاسو ته فوجونه راجمع کړیدي او سخت جنګ به درسره وکړي او بدله به درنه واخلي، صحابه کرامؓ چه دا خبره واوریده نو (حسبنا الله ونعم الوکیل) کلمه ئے وویله او جنګ ته تیار شو او د رسول الله ﷺ سره یونیم زر کسان د بدر مقام ته لاړل او هلته ئے اته شپے وکړے او دا داسے وخت وو چه هرکال به د بدر په مقام کي د تجارت میله لګیده او تاجران به ورته راتلل نو صحابه کرامؓ تجارتونه وکړل نو دنیاوی ګټي هم ورته ملاؤ شوے او الله هم ترے راضي شو۔

نو دا آیتونه ددے ذکر شوے غزا په باره کي نازل شویدي۔ مګر دا آیتونه داسے دي چه دواړو غزواتو ته پکي اشارات شته لیکن اول قول ډیر ښکاره دے ځکه چه د اُحد سره نزدے غزا د حمراء الاسد شویده او (مِنۡۢ بَعۡدِ مَاۤ أَصَابَهُمُ الۡقَرۡحُ) نه هم معلومیږي۔ او کیدے شي چه د حمراءُ الاسد په باره کي نازل وي او غزوه د بدر الصغریٰ هم ددے یو مصداق ګڼلے شوے وي۔ او قرطبیؒ او آلوسیؒ ویلي دي چه اول قول د اکثرو مفسرینو دے او دویم قول شاذ دے۔ او ابن کثیرؒ وائي : صحیح دا ده چه دا آیت د حمراء الاسد د غزا په باره کي نازل دے۔

ربط : ۱- مخکي آیت کي ئے وویل چه الله تعالیٰ به د ایمان والو اجر نهٔ ضائع کوي نو دلته وائي چه د دوی اجر به ځکه نهٔ ضائع کیږي چه دوی د الله او د رسول د حکم تابعداري کونکي دي چه مثال ئے په حمراء الاسد او بدر الصغریٰ کي ښکاره شول او د طاعت عمل الله تعالیٰ نهٔ ضائع کوي۔

۲- مخکي آیت کي د اُحد شهیدانو ته زیرے وو او اُوس د اُحد زخمیانو ته زیرے ورکوي په سبب د دویم استجابت سره۔

اِسۡتَجَابُوۡا : استجابت په نَعَمۡ (آؤ) سره جواب ورکولو ته وائي دلته مطلق خبره منلو ته وائي۔ او د الله تعالیٰ د احکامو استجابت د رسول الله ﷺ د احکامو په استجابت موقوف دے پدے وجه ئے دواړه ذکر کړل او د دواړو مقصد یو دے یعني د الله او د هغه د رسول خبره منل او دلته ترے مراد خصوصاً د جهاد دپاره د رسول الله ﷺ دعوت قبلول دي۔

الۡقَرۡحُ : قرح په اصل کي زخم ته وائي دلته ترے مراد مصیبتونه د بدن او د مال دي چه

صحابه کرامؓ ته په اُحد کی رسیدلی وو۔ یعنی خپل خپلوان ئے هم ووژل شو او خپله هم زخمیان شو نو بدن ئے هم زخمي او زړونه ئے هم زخمي دي پداسے سخت حالت کی د الله او د رسول خبره مني۔

بیا د الذین خبر پټ دے (لَهُمۡ اَجۡرٌ عَظِیۡمٌ) یعنی د دوی دپاره لوی اجر دے۔ یا (هُمُ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ حَقًّا) یعني هم دوی رشتیني مؤمنان دي۔ یا (لِلَّذِیۡنَ اَحۡسَنُوۡا مِنۡهُمۡ) ئے خبر دے۔

لِلَّذِیۡنَ اَحۡسَنُوۡا مِنۡهُمۡ : (مِنۡ) بیانیه دے یعنی دا استجابت کونکی ټول محسنین او متقیان دي صحابه کرامؓ چه احسان کونکی او متقیان نهٔ شي نو بل به څوك وي لیکن (مِنۡ) ئے پکی د یره ولو دپاره راوړو چه هر شخص ویرېږي چه زهٔ به پدے محسنینو کی داخل یم او که نهٔ۔ او دواړه صفتونه ئے راجمعه کړل دپاره د مدح او تعلیل یعنی استجابت سبب د اجر دے لیکن د احسان او تقوىٰ په سبب سره په دغه اجر کی عظمت حاصلیږي۔

ځینی وائی دا مِنۡ تبعیضیه دے او ددے وجه دا ده چه کله رسول الله ﷺ دوی ته دعوت ورکړو نو دوی ظاهراً او باطناً تیار شو لیکن بعض کسانو ته د هغوی په نفسونو او اهل کی څه موانع راپیښ شو نو هغوی ونهٔ وتل نو د (الذین احسنوا او اتقوا) نه مراد هغه کسان دي چه بالفعل ووتل او احسان دے ته وائی چه انسان یو عمل په کامله طریقه سره وکړي څومره چه ممکن وي او تقوىٰ دے ته وائی چه په هغے کی د بدئ او تقصیر نه ځان وساتي۔ نو (مِنۡهُمۡ) کی به ضمیر مخکنی مؤمنانو ته راجع وي نهٔ (الذین استجابوا) ته صاحب المنارؒ وائي دا ډیره ظاهره او ښائسته وجه ده۔ (المنار ٤/١٩٥) البغوی (٢/١٣٧)

اَلَّذِیۡنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ: ددے نه مراد د عبد القیس قبیلے څه کسان دي۔ او د دویم (الناس) نه مراد مکے والا دي۔

قَدۡ جَمَعُوۡا لَکُمۡ : ددے مفعول پټ دے اَیِ الۡجُنُوۡدَ وَالۡاَسۡلِحَةَ۔

یعنی قریشو تاسو ته (لښکرے او وسلے) راجمعه کړیدی۔

فَاخۡشَوۡهُمۡ : د هغوی نه ویرېږئ او جنګ له مهٔ ورځئ۔

فَزَادَهُمۡ اِیۡمَانًا : یعنی دغه وینا د دوی ایمان زیات کړو، ددے نه معلومه شوه چه د امتحان په وخت د مؤمن په ایمان کی زیادت پیدا کیږي او دے ته ترغیب ورکوی چه په داسے وخت کی مؤمن له پکار دي چه ایمان کی زیادت پیدا کړي او هرکله چه د دغه جاسوس د صحابه کرامؓ په زړونو کی یره پیدا کول مقصد وو نو د هغے په خلاف وویل شو چه دے وینا برعکس فائده وکړه چه د صحابه کرامؓ ایمان پرے زیات شو، او د باطل پرست چل او

مکر هیڅ فائده ونکړه۔
او دا دلیل دے چه ایمان کی زیادت او کمے راځی لکه د قرآن او احادیثونه دا خبره معلومه ده۔ او دلته په یقین او د زړه په تصدیق کی زیادت پیدا کیدل مقصود دے نو دا اصطلاح د مناطقهؤ او متکلمینو او احنافو چه ایمان بسیط دے او بسیط کی زیادت نهٔ راځی دا غیر شرعي اصطلاح ده۔
حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ : په حدیث د بخاری کی دی چه دا کلمه ابراهیم علیه السلام په هغه وخت کی وئیلے وه چه نمرود په اُور کی واچولو نو الله ورباندے اُور ګل ګلزار کړو او نبی کریم ﷺ د حمراء الاسد په غزا کی وویله چه الله تعالیٰ ورته د دنیا او د آخرت دواړه نعمتونه ورکړل او د دشمن په زړه کی ئے رعب واچولو چه د جنګ اراده ئے ختمه کړه۔
علامه سیوطیؒ په ((اکلیل)) کی لیکلی دی چه ددے کلمے په غم او لوی کارونو راپیښیدو کی لوستل مستحب دی۔ آه۔ او ډیره عجیبه فائده لری، د عمل نه روستو پته لګیږی۔
حسب : اسم جامد دے په معنیٰ د کافی سره دے، او ددهٔ فعل مستعمل نهٔ دے، او صاحب د قاموس وئیلی دی چه دا اسم فعل دے په معنیٰ د کفیٰ سره او سیبویهؒ وئیلی دی چه دا مصدر دے ددے وجه نه تثنیه او جمع ئے نهٔ راځی۔
(نِعْمَ الْوَكِيْلُ) : وکیل په معنیٰ د مَوْكُوْلٌ اِلَيْهِ سره دے یعنی هغه ذات ته وائی چه هغه ته کارونه سپارلے شی۔

څلور اجرونه

پدے آیت کی الله تعالیٰ څلور اجرونه ذکر کړیدی پدے وجه چه دوی په دے غزا کی زیات اخلاص ښکاره کړو او د شیطانانو خبرو ورباندے څه تاثیر ونکړو :
(۱) نعمت : یعنی ثابت قدمی او د ایمان قوت۔
(۲) فضل : یعنی حلاله ګټه او حلال مال۔
(۳) عافیت (لَمْ يَمْسَسْهُمْ سُوْءٌ) چه د کافرانو زړونه رعب ونیول او د جنګ جرأت ئے ونکړو۔ (٤) واتبعوا رضوان الله : الله تعالیٰ ترے راضی شو اګرکه جنګ هم ونکړے شو لیکن د دوی اخلاص د الله تعالیٰ د رضا سبب جوړ شو۔
فَانْقَلَبُوْا بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ : ددے ډیر مصداقات دی (۱) العافیة، روغ راواپس شو۔ (۲) اَلثَّبَاتُ

عَلَى الْإِيْمَانِ ـ یعنی په ایمان باندې ثابت قدمئ سره راواپس شو۔ (۳) اَلطَّاعَة۔ د الله او د رسول په تابعدارئ سره راواپس شو۔ (٤) إِذْلَالِ الْأَعْدَاءِ۔ دشمنان ئې ذلیله کړل۔

وَفَضْلٍ : ددې نه مراد (۱) تجارتونه دی (۳) او اجرونه دی۔

وَاللهُ ذُوْفَضْلٍ عَظِيْمٍ : پدې تذییل کې اشاره ده چه تر قیامته پورې څوك په اخلاص سره یو نیك عمل وکړی نو الله تعالیٰ به دغسې اجرونه ورکوی۔

إِنَّمَا ذٰلِكُمُ الشَّيْطَانُ : یعنی دغه جاسوس شیطان دې ځکه چه د شیطان کار هم خلك د نیکو نه منع کول دی او دهٔ هم خلك د جهاد نه منع کول نو دا انسی شیطان وو۔ یا دلته مضاف پټ دې۔ یعنی دغه کارونه کول چه هغه جاسوس رالیږل او په منافقانو باندې د هغې اثر کیدل کار د شیطان دې چه شیطان پرې خوشالیږی۔ اول قول ظاهر دې۔

يُخَوِّفُ أَوْلِيَاءَهُ : دې کې دوه تفسیره دی (۱) يُخَوِّفُ الْمُؤْمِنِيْنَ بِأَوْلِيَائِهٖ) ۔ یره وی مؤمنان په خپلو دوستانو سره چه هغه کافران، منافقان او غلط خلك دی نو دلته به باء او مفعول به پټ وی۔ او دا یره ولې اچوی؟ : لِئَلَّا يُجَاهِدُوْا (دې دپاره چه جهاد ته لاړ نشی) وَلَا يَأْمُرُوْهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ وَلَا يَنْهَوْهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ۔ او دې دپاره چه په نیکئ ورته حکم ونکړی او د بدئ نه ئې منع نکړی۔ (وَيُعَظِّمُوْهُمْ فِيْ قُلُوْبِهِمْ) او د هغوی په زړونو کې د کافرانو عظمت او لوی والې اچوی چه دوی سره وسله ده او زیات دی، جنګ ورسره نشی کیدې، او خلك جیل ته اچوی۔ نو د دوی مقصد دا وی چه تا د جهاد نه منع کړی او کور کې کینې،

نو ددې علاج دا دې چه د بنده ایمان کله مضبوط شی او د الله عظمت پکې راشی نو ددهٔ د زړه نه به د شیطان د دوستانو خوف ختم شی۔ دا وجه ده چه میډیا کې کفار د خپلو وسلو او د خپل هتیار اشتهار کوی پدې سره ئې د خلکو یره ول مقصد دې۔ نو پدې آیت کې ډیره ښه ذهن سازی ده چه د کافرانو او د شیطانانو کار دا دې چه هغوی تا په خپلو مشرانو او وسلو او نفرئ باندې یره وی نو اې مؤمنه ! د خپل ځان علاج وکړه او د الله یره زړه کې راوله نو د الله د دشمنانو یره به ختمه شی لکه دلته د نبی کریم ﷺ او د صحابه کرامؓ په زړونو کې د الله یره وه نو د کافرانو یرې پرې هیڅ اثر ونکړو او کامیابئ ته ورسیدل۔

(۲) یا اَوْلِيَاءَهُ مفعول دې۔ نو معنیٰ داده چه دغه جاسوس شیطان دې چه خپل دوستان یره وی او د هغه یره د هغه په دوستانو باندې اثر کوی او تاسو خو د الله دوستان یئ، مؤمنان یئ نو تاسو ترې مهٔ یریږئ ځکه چه تاسو د شیطان دوستان نهٔ یئ نو تاسو ما نه یره وکړئ۔

ددے مثال داسے دے لکه په سورة النحل (۹۹/ ۱۰۰) کې راغلی دی:
﴿ إِنَّهُ لَيْسَ لَهُ سُلْطَانٌ عَلَى الَّذِيْنَ آمَنُوا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ، إِنَّمَا سُلْطَانُهُ عَلَى الَّذِيْنَ يَتَوَلَّوْنَهُ﴾
د شیطان تسلط په ایمان والو او په هغه خلکو چه په خپل رب توکل کوی نشته، (بلکه) د هغه تسلط او غلبه په هغه کسانو ده چه د شیطان سره دوستی کوی۔
وَخَافُوْنِ) : د الله نه یره دا ده چه هغه خیزونه پریخودلے شی چه په هغے کی د الله تعالیٰ د عذاب خطره وی او الله پرے ناراضه کیږی نو کوم کسان چه د الله د یرے نه ژاړی او گناهونه نهٔ پریدی نو دا د الله نه یریدونکی نهٔ دی۔ (القرطبي ٤/ ٢٨٣)
إِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ : ددے نه معلومه شوه چه (اَلْخَوْفُ مِنْ لَوَازِمِ الْإِيْمَانِ) چا کی چه ایمان وی هغه کی به د الله نه خامخا یره وی نو یره د ایمان سره لازمه ده۔

وَلَا يَحْزُنْكَ الَّذِيْنَ يُسَارِعُوْنَ فِي الْكُفْرِ إِنَّهُمْ
او غمژن دِے نکړی تا لره هغه کسان چه کوشش کوی په (کارونود) کفر کی یقیناً دوی
لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْئًا يُرِيْدُ اللّٰهُ أَلَّا يَجْعَلَ لَهُمْ حَظًّا
هیچرے ضرر نشی ورکولے الله ته هیڅ شے، غواړی الله چه ونهٔ گرځوی دوی لره برخه
فِي الْآخِرَةِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿١٧٦﴾
په آخرت کی او دوی لره عذاب لوی دے۔

تفسیر : پدے او راتلونکی آیت کی الله تعالیٰ کافرانو او منافقانو دواړو ته د آخرت یره ورکړیده او نبی علیه السلام او مؤمنانو ته د دین د ترقی په باره کی تسلی ورکړیده۔ وجه دا وه چه دے کافرانو دا کوشش کولو چه مدینه خنګه ختمه کړی او اسلامی نظام ته صدمه ورسوی نو الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ او صحابه کرامو ته تسلی ورکوی چه دا خلك به کوشش کوی لیکن دوی هلاکیدو والا دی په لوی عذاب به واوړی۔
دارنګه ددے آیت او ددے راتلونکی دواړو آیتونو تعلق هم د غزوهٔ اُحد سره دے۔ ددے غزا نه روستو د منافقانو نفاق، د قریش کافرانو او د مدینے د یهودیانو کفر او د هغوی سازشونه مخے ته صفا راښکاره شو نو رسول الله ﷺ او صحابه کرامو ته پدے سره ډیر تکلیف اُورسیدو چه د ډیر کوشش او محنت سره دا خلق ولے اسلام نهٔ راوړی، نو الله تعالیٰ هغوی ته تسلی ورکړه چه که دا خلق په کفر کی زیاتیږی نو ته پدے غم ولے کوے؟ دا خلق الله ته

هیڅ نقصان نشي ورکولے، الله سبحانه وتعالیٰ خو غواړي چه په آخرت کې دوی ته هیڅ کامیابي ورنکړي۔

ربط : مخکې الله تعالیٰ مؤمنانو ته وصیت وکړو چه د کافرانو نه مهٔ یریږی خپل کار به کوی نو اُوس الله نبی کریم ﷺ ته خطاب کوی چه تهٔ هم مهٔ غمجن کیږه چه کافران به اسلام د مینځ نه ویسی لکه چه د دوی زړه دے او مسلمانان به ختم کړي!!۔

ولا یحزنك : حزن دوه قسمه دے (۱) غیر اختیاری چه هسے زړه ته راځي د هغے نه منع نهٔ کیږی، دویم حزن اختیاری دے چه بنده دومره خفګان وکړی چه کار پریدی نو دلته دا معنیٰ ده چه ددے کافرانو د کارونو د وجه نه دومره خفګان مهٔ کوه چه تهٔ ورته خپل دین او د دین کار پریدے۔ رسول الله ﷺ د منافقانو په منافقت باندے ډیر زیات خفه شوے وو چه دوی هیڅ دلیل ته غوږ نهٔ نیولو او د اسلام په تخریب کارئ کې به د مشرکانو ملګری کیدل او دغه شان نبی کریم ﷺ د ځینی مرتدینو په وجه هم خفه شوے وو، او دغه شان د یهودیانو د مشرانو د کوششونو نه هم ډیر خفه شوے وو چه اسلام ته به ئې خنډونه پیدا کول او دغه شان د قریشو کافرانو غمجن کړے وو چه د اسلام د خرابوالی پسے ئې پینځے بډے کړے وے نو الله تعالیٰ دلته منع کړو چه پرواه پرے مهٔ ساته۔

يُسَارِعُونَ فِي الْكُفْرِ : یعنی کوشش کوی، منډے ترړے وهی چه کفر به څنګه عام شی، جاسوسی، کفر، شرك او فساد عام کول او ددے دپاره مالونه لګول او جلسے او پروګرامونه جوړول دا د دوی مقصدونه وو۔

إِنَّهُمْ لَنْ يَضُرُّوا اللَّهَ شَيْئًا : دا علت د نهی دے یعنی خفګان ځکه مهٔ کوه چه دوی پدے منډو ترړو سره الله تعالیٰ او د هغه دین ته هیڅ ضرر نشی رسولے چه هغه مغلوبه کړی او کافر غالب کړی بلکه ددے وبال به په هم دوی باندے په دنیا او آخرت کې راځي۔

يُرِيدُ اللَّهُ : نو سوال راځي چه الله تعالیٰ د کافرانو مخ نیوے ولے نهٔ کوی چه د دوی دا پروګرامونه ختم کړی ؟ نو الله فرمائي : چه جنت د الله د خیر ځای دے نو الله غواړي چه دا ګنده خلك دغه پاك ځای ته لاړ نشي او دغه خلك اُور ته بوځي پدے وجه الله تعالیٰ د دوی نه د کفر کارونه اخلي نو که الله د دوی مخ نیوے وکړی نو بیا به دا خلك د جنت نه محرومه نهٔ شي او الله غواړي چه دا خلك خبیثان دي د جنت نه ئې محرومه کوم۔

فائده : پدے آیت کافرانو ته دوه قسمه دهمکی شوه (۱) یو دا چه اے کافرو! مغلوبه کیږئ به۔ (۲) دویم دا چه جهنم ته روان یئ نو خپل ځان سم کړئ۔

إِنَّ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الْكُفْرَ بِالْإِيمَانِ لَنْ يَّضُرُّوا
یقیناً هغه کسان چه اخستې ئې دې کفر په بدله د ایمان کې هیڅرې ضرر نشي ورکولې
اللهَ شَيْئًا وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٧٧﴾
الله تعالیٰ ته هیڅ شے او دوی لره عذاب دردناك دے۔

تفسیر : ددے او د مخکنی آیت فرق دا دے چه مخکی آیت د ظاهری کافرانو په باره کی دے او دا آیت د منافقانو (پټ کافرانو) په باره کی دے چه دوی ایمان پریخودو او کفرئے واخستو نو دوی هم د الله دین ته هیڅ قسمه ضرر نشی ورکولے چه هغه ختم کړی او کفر غالبه کړی۔ او پدے کی هر قسمه کافران داخلیدے شی چه هغه مرتد وی، که منافقان او که یهود او نصاریٰ وی۔

او هرکله چه د ښکاره کافرانو مکرونه او چلونه او د منافقانو چلونه د اسلام په خلاف جدا جدا دی نو ځکه ئے (لَنْ يَضُرُّوا اللهَ) جمله دوباره ذکر کړه۔

وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّمَا
او گمان دِے نکوی هغه کسان چه کفرئے کړیدے چه یقیناً هغه شے
نُمْلِي لَهُمْ خَيْرٌ لِأَنفُسِهِمْ إِنَّمَا نُمْلِي
چه مهلت ورکوو مونږ دوی ته غوره دے دپاره د ځانونو د دوی، یقیناً مهلت ورکوو مونږ
لَهُمْ لِيَزْدَادُوا إِثْمًا وَّلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿١٧٨﴾
دوی ته دپاره ددے چه زیات شی دوی په گناه کی او دوی لره عذاب دے سپکونکے۔

تفسیر : پدے آیت کی الله تعالیٰ بله ذهن سازی کوی او دا جواب د سوال دے چه کافران د الله تعالیٰ څنګه دشمنان دی، دوی ته الله تعالیٰ راحتونه او د دنیا مزے ورکړی نو الله پرے زر عذاب ولے نهٔ رالیږی؟ مهلت ولے ورکوی؟ حاصل د جواب دا دے چه کافران دِے دا گمان نکوی چه مونږ دوی ته کومے مزے ورکړی دا به د دوی دپاره غوره وی او گنے الله ته گران دی بلکه دا مهلت ورکول ددے دپاره دی چه دوی دنیا کی گناهونه وکړی ځکه چه دوی دپاره الله تعالیٰ جهنم تیار کړیدے د دوی د بدبختئ او د گناهونو د وجه نه، د هغې دپاره ئے تیاروی نو پدے مهلت ورکولو کی دوی ته ضرر دے ځکه روستو ورله عذابونه تیار دی۔

أَنَّمَا نُمۡلِیۡ لَهُمۡ خَیۡرٌ لِّاَنۡفُسِهِمۡ : (ما) موصوله ده، اَیۡ اَنَّ الَّذِیۡ نُمۡلِیۡ لَهُمۡ ذٰلِكَ خَیۡرٌ لِّاَنۡفُسِهِمۡ) یعنی هغه شے چه مونږ دوی ته مهلت ورکوو ګنے دغه شے د دوی دپاره غوره دے۔ یعنی د دوی دا ګمان غلط دے بلکه دا مهلت ورکول د دوی د هلاکت دپاره دی۔

یا (ما) مصدریه ده او (نُمۡلِیۡ) په تاویل د املاء سره دے اَیۡ اَنَّ اِمۡلَائَنَا لَهُمۡ خَیۡرٌ لِّاَنۡفُسِهِمۡ) یعنی زمونږ مهلت ورکول دوی ته د دوی دپاره غوره دی؟ هیڅکله نهٔ،

املاء : د عمر اوږدوالے او مهلت ورکول دی۔

اِنَّمَا نُمۡلِیۡ لَهُمۡ لِیَزۡدَادُوۡۤا اِثۡمًا : یعنی زمونږ دا مهلت ورکول خو ددے دپاره دی چه دوی په ګناهونو کی زیات شی او د اُور اعلیٰ درجو ته ورسیږی۔ نو په (لیزدادوا) کی لام د عاقبت دے یا لام د تعلیل دپاره دے۔

وَّلَهُمۡ عَذَابٌ مُّهِیۡنٌ : دا عذاب ئے ځکه راوړو چه دے منافقانو او کافرانو کی تکبر وو نو الله تعالیٰ ورته داسے سزا ورکوی چه دوی به سپک کړی۔

مَا كَانَ اللّٰهُ لِیَذَرَ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ عَلٰی مَاۤ اَنۡتُمۡ عَلَیۡهِ حَتّٰی یَمِیۡزَ
نهٔ دے الله چه پریدی مؤمنانو لره په هغه حالت چه یئ تاسو په هغے باندے تردے چه جدا کړی
الۡخَبِیۡثَ مِنَ الطَّیِّبِ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِیُطۡلِعَكُمۡ عَلَی الۡغَیۡبِ وَلٰكِنَّ
پلیت (منافق) د پاك (مخلص) نه او نهٔ دے الله چه خبر کړی تاسو په غیبو باندے لیکن
اللّٰهَ یَجۡتَبِیۡ مِنۡ رُّسُلِهٖ مَنۡ یَّشَآءُ فَاٰمِنُوۡا بِاللّٰهِ وَ
الله غوره کوی د رسولانو خپلو نه چا له چه وغواړی نو ایمان راوړئ په الله او
رُسُلِهٖ وَاِنۡ تُؤۡمِنُوۡا وَتَتَّقُوۡا فَلَكُمۡ اَجۡرٌ عَظِیۡمٌ ﴿۱۷۹﴾
په رسولانو د هغه او که تاسو ایمان راوړو او تقویٰ مو وکړه نو ستاسو دپاره اجر دے لوی۔

تفسیر : پدے آیت کی الله تعالیٰ د رسولانو په رالیږلو کی حکمت بیان کړیدے، دارنګه د الله تعالیٰ حکمت په ابتلاء اتو راتللو کی بیان شویدے چه هغه حکمت تمیز د خبیث او د طیب دے۔ دا آیت د غزائے اُحد او د حمراء الاسد وغیره غزواتو سره متعلق دے چه هغه زمانه کی به راتلل نو دلته سوال پیدا کیږی چه الله تعالیٰ کله یو قسم امتحان راولی چه کافران په مسلمانانو حملے کوی او د جهادونو نوبتونه راځی نو پدے امتحاناتو راتللو کی

څه فائده او څه حکمت دے؟ نو الله تعالیٰ د هغې جواب ورکوی چه الله تعالیٰ تاسو په حالت د اختلاط باندے نۀ پریدی بلکه الله به تمییز راولی ځکه چه په ظاهره کې منافقانو او مسلمانانو کلمه وئیلے ده نو ټول مسلمانان حسابیږی نو الله تعالیٰ دوی پدے یو حالت باندے نۀ پریدی ځکه چه پدے کې منافقان او مجرمان شته اګرکه په ظاهره کې ټولو یوه سپینه جامه اغوستے ده او په مینځ کې ځوك سپین او ځوك تور دی، ددے نه نقصانات پیدا کیږی ځکه چه دوست او دشمن نۀ پیژندلے کیږی، مؤمنان به په ناپوهۍ سره هغوی ته خور لور ورکوی او په هغوی باندے به د مؤمنانو ګمان کوی، او دارنګه هغوی ته به حالونه وائی او حال دا چه هغوی به د کفارو جاسوسان وی نو ډیر فساد به پیدا شی،

او بله دا چه پدے کې به څه کسان الله تعالیٰ اُور ته بوځی نو دوی به عذر کوی چه اے الله! مونږ ټولو کلمه وئیلے وه، ته پکې مونږ ولے اُور ته بوځے او دوی جنت ته؟ نو الله د مخکې نه امتحان راولی چه د دوی عذر او بهانه ختمه کړی او دے دپاره چه مؤمنان خپل دوست او دشمن وپیژنی دے دپاره چه آینده کې احتیاط کوی ځکه چه اُوسه پورے د اُحد د غزا پورے ډیر مسلمانان ددے نه خبر نۀ وو چه زمونږ په مینځ کې د لوستونی ماران موجود دی نو ددے نه روستو هغوی احتیاط شروع کړو او د منافقانو حالات جدا ښکاره شول او مسلمانان د هغوی د مقابلے دپاره په ذهنی طور سره تیار شول، عامو خلکو وپیژندل چه دا رئیس المنافقین عبد الله بن ابی ابن سلول دے او دا ئے ملګری دی۔ او دا وجه ده چه منافقانو نه یو حدیث هم امت نقل نکړو بلکه دین صفا پاتے شو، که الله تعالیٰ دا تمییز نۀ وے راوستے نو دین به ګډوډ شوے وے۔

عَلٰى مَا أَنتُمْ عَلَيْهِ : أَیْ حَالَةَ الْإِخْتِلَاطِ۔ چه هغه حالت د ګډون او اختلاط دے۔

حَتّٰى يَمِيزَ الْخَبِيثَ : یعنی کافر، منافق، مشرك، حرام خور، هسے صفتونو والا۔ او الطیب : مؤمن، مخلص، حلال خور او حقیقی جهاد کونکے او خبره منونکے چه په هغه کې اخلاص، توحید او اطاعت موجود دے۔ او دا تمییز ځکه ضروری دے چه د دواړه قسمه خلکو په نتیجه کې فرق راشی ځکه چه هر یو مختلف کار کوی نو نتیجه ئے هم مختلف کیدل پکار دی۔

صاحب اللبابؒ د الخبیث من الطیب درے توجیهات ذکر کړیدی :

(۱) د خبیث نه مراد منافق او د طیب نه مخلص مؤمن دے ۔ (۲) یا د خبیث نه مراد ګناه ده او د طیب نه مراد مؤمن دے او (يَمِيزَ) په معنیٰ په د (يَحُطُّ) سره دے یعنی ورژوی الله

تعالیٰ ګناه د مؤمنانو نه په مصیبتونو راتللو سره۔
(۳) یا د خبیث نه کفر او شرك او د طیب نه اسلام مراد دے یعنی الله کفر او شرك د اسلام نه جدا کړی پدے طریقه چه اسلام ته غلبه ورکړی او کفر ذلیله کړی۔ (اللباب)
وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ : جواب د سوال دے چه د منافق او د کافر او د مؤمن د جدا کولو بله لار خو دا هم کیدے شی چه الله تعالیٰ مونږ ته حال ووائی چه فلانے موحد او مخلص دے او فلانے مشرك او منافق او بی اخلاصه دے نو امتحان څه له راولی ؟ یعنی مونږ ته دے وحی وکړی۔ نو الله جواب کوی چه دا کار خو علم غیب دے او الله تعالیٰ تاسو ته د غیبو علم نۀ درکوی ځکه چه بیا به د عالم ټول نظام خراب شی، یو تن به جهاد ته نۀ ځی وائی به چه ما ته معلومه ده چه زۀ پدے کی مرم، او بل تن به جهاد ته ځی ځکه چه هغه ته به معلومه وی چه زۀ هسے هم نۀ مرم نو بیا به د منافق د زړه نه بنده خبرېږی نو امتحان به نۀ راځی۔ او الله چه تاسو ته منافقان او مؤمنان جدا راښکاره کوی نو پدے طریقه چه امتحان او محنتونه راولی مؤمن او منافق پکی معلوم شی۔ (اللباب ۱/۱۳۲۲)
بله په هغے کی د الله تعالیٰ بندګیانی وشی، تضرع او صبر او تحقیق د حق وشی چه دا د الله تعالیٰ محبوب اعمال دی۔
وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَجْتَبِي : بیا سوال پیدا شو چه هرکله الله تعالیٰ هیچا ته د غیبو خبر نۀ ورکوی نو بیا پیغمبران د غیبو خبرونه ولے بیانوی؟ نو الله فرمائی چه هغه جدا شے دے، الله تعالیٰ د بندګانو نه بعض خلك (رسولان) ددے دپاره غوره کړی (او دا هم د هغه د ارادے او د خوښے سره تعلق لری د بندګانو پدے کی خپل اختیار نشته) نو پیغمبرانو ته د غیبو خبر ورکړی ځکه چه که ټولے غیبی خبرے د بندګانو نه بندے کړے شی نو بیا هم نقصان راځی نو الله تعالیٰ رسولان راولیږی چه هغوی ته د جنت او د جهنم او د بعض راتلونکی حالاتو خبر ورکړی، دے دپاره چه بندګان د شرونو نه ځان بچ کړی او راتلونکو خیرونو دپاره ځان تیار کړی۔ بل د پیغمبر حقانیت هم معلوم شی چه بل څوك داسے خبر نشی ورکولے او دۀ ورکړو معلومه شوه چه دا د الله تعالیٰ نبی دے۔
دلته دا مطلب نۀ دے چه الله تعالیٰ د ټولو غیبی څیزونو علم پیغمبرانو ته ورکوی چه دوی د الله سره پدے کی برابر شی بلکه الله چه کومه خبره غواړی هغه ورته وښائی کوم کی چه د بندګانو فائده وی۔ او ټول مغیبات مراد کول د تمامو مفسرینو نه مخالفت کول دی چه هغوی دلته دا وئیلی دی : (وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَجْتَبِي مِنْ رُّسُلِهٖ فَيُخْبِرُهٗ بِبَعْضِ الْمُغَيَّبَاتِ)۔

لیکن الله غوره کوی د رسولانو خپلو نه نو هغه ته د بعض مغیباتو خبر ورکوی لکه مثلًا فلانے به مؤمن وی او فلانے به کافر پاتے کیږی (ابن عطیهؒ، ابو حیانؒ)

یا د خلکو د کفر او د نفاق معلومات ورکړی (آلوسیؒ)

یا د تمییز د مؤمن د منافق نه خبر ورکړی۔ (ابن کثیرؒ، خازنؒ، ابن جریرؒ)

(په بل تعبیر سره داسے هم وئیلے شی چه الله تعالیٰ د وحی په ذریعه سره هم دا کار کولے شو چه خپلو پیغمبرانو ته وحی وکړی چه فلانے مؤمن او فلانے منافق دے لیکن الله تعالیٰ دا طریقه غوره نهٔ کړه ځکه چه پدے طریقه باندے یواځی د نبی کریم ﷺ په زمانه کی خلك جدا کولے شو چه وحی جاری وه او نبی کریم ﷺ ژوندے وو نو که الله دا طریقه غوره کړے وے نو پکار وه چه تاسو ټولو ته ئے په هره زمانه کی وحی نازله کړے وے او په غیبو ئے خبر کړی وے یعنی نبوت نهٔ وے ختم شوے او په هر مؤمن وحی نازله شوے وے خو الله داسے نهٔ کوی بلکه څوك ئے چه د همدے کار دپاره غوره کړیدی صرف په هغوی باندے وحی نازلوی چه هغه پیغمبران دی لهذا تاسو د غیبو طمع مهٔ کوئ بلکه خپله ذمه واری وپیژنئ) (عزیز التفاسیر)

فَآمِنُوْا بِاللهِ : پدے کی بندګانو ته د هغوی کار او ذمه واری سپاری چه ستاسو کار به څه وی؟ هغه وکړئ او هغه دوه کاره دی۔ (۱) یو په الله او په رسولانو ایمان لرل چه یو په هغوی کی آخری رسول محمد رسول الله ﷺ دے چه ددے په ذریعه باندے تاسو ته دغه غیب معلومیدے شی او د کامیابئ لارے به درته ښائی۔

(۲) دویم تقویٰ اختیارول۔ دا دواړه ئے جمع کړل ځکه چه دا دواړه د کمال صفات دی۔ یعنی په الله او په رسولانو یقین کول او بیا د الله د حکمونو لحاظ ساتل د انسان دپاره د لوی اجرونو سبب دے، او کامیابئ ته په همدے سره رسیږی۔ نو الله پدے وجه امتحانات راولی چه په تاسو کی منافق او مؤمن او متقی معلومول غواړی۔ او دے آیت ته کَنْزٌ مِنْ كُنُوْزِ الْقُرْآن (د قرآن د خزانو نه یوه خزانه) وائی۔ کما فی بدائع التفسیر۔

وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ بِمَا آتَاهُمُ اللهُ مِنْ فَضْلِهِ
او ګمان دِے نکوی هغه کسان چه بخل کوی په هغه څه چه ورکړے دوی ته الله تعالیٰ د مهربانئ خپلے نه
هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ سَيُطَوَّقُوْنَ
چه دا غوره دے دوی لره بلکه دا بد دے دوی لره زردے چه په غاړه کی به وا چولے شی دوی ته

مَا بَخِلُوْا بِهٖ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ
هغه شے چه بخل کړے دوی په هغے سره په ورځ د قیامت، او خاص د الله دپاره میراث
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ﴿١٨٠﴾
(آخری پاتے کیدل) د آسمانونو او د زمکے دے او الله په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ خبردار دے۔

تفسیر : پدے آیت کی الله تعالیٰ بخلاؤ ته زجر ورکړیدے چه د الله په لاره کی مال نهٔ لګوی او پدے کی رد دے په منافقانو او یهودیانو باندے او د روستو آیتونو دپاره مقدمه ده۔

مناسبت : په غزا د بدر او اُحد کی مال لګولو ته سخت ضرورت وو او په هره غزا کی ورته ضرورت وی ځکه مسلمانان مالی لحاظ سره کمزوری وی نو یهودیان او منافقان دواړو باندے لازم وه چه مال به لګوی (ځکه چه کفار هم په فروعو باندے مخاطب دی، کافر چه کفر کوی او مال هم نهٔ لګوی نو الله دوه سزاګانے ورکوی یو د کفر او بل د مال نهٔ لګولو) نو هغوی دواړو به بخل کولو او مال به ئے نهٔ لګولو نو پدے آیت کی دواړو ته زجر ورکوی چه چا بخل وکړو نو د قیامت په ورځ به ئے دغه مال په اُوګو باندے راروان کړے وی او د مار په شان د غاړے نه به ئے تاؤ شوے وی۔

او پدے آیت کی د مخکنی (اَلْخَبِيْثَ مِنَ الطَّيِّبِ) بیان هم دے چه د الله د امتحان یوه طریقه دا هم ده چه الله تعالیٰ خبیث د طیب نه پدے طریقه هم راجدا کوی چه الله د انفاق امر وکړی نو پدے سره معلومه شی چه څوك مؤمن دے او څوك منافق، او څوك د مال سره مینه لری او څوك د الله سره او د روستو صفاتو د یهودیانو دپاره مقدمه هم ده۔

نو مخکی تیزی ورکول وو په جهاد باندے اُوس تیزی ورکوی په انفاق فی سبیل الله باندے۔ (قاسمیؒ)

يَبْخَلُوْنَ : د بخل تشریح په سورة البقره آیت (۲) کی ذکر شویده چه کوم کارونو سره انسان د بخل نه خلاصیږی هغے ته مراجعه پکار ده۔ لنډه دا چه بخل دے ته وائی چه سړے د واجب شی د ورکړے نه ځان وساتی لکه :

(۱) په خپل ځان باندے د مال نهٔ مصرفول۔

(۲) خپلو اقاربو (خپلوانو) ته – چه نفقه ئے په سړی باندے واجبه وی – خرچه نهٔ ورکول۔

(۳) زکاة نهٔ ورکول.
(٤) یو مضطر انسان ته طعام نهٔ ورکول چه د اضطرار (پریشانئ، مجبورئ) نه پرے خلاص شی او دغسے نور څیزونه واخله.
(۵) میلمه له ضیافت نهٔ ورکول. (٦) سائل ته څه شے نهٔ ورکول.
دلته کوم بخیلان مراد دی؟
(۱) ځینی مفسرین وائی چه دلته یهودیان مراد دی. لکه عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه ددے نه مراد یهودیان دی چه هغوی ته الله تعالیٰ د خپل فضل نه د نبی کریم ﷺ په نبوت او صفاتو باندے علم ورکړے وو خو هغوی پرے بخل وکړو او په پټولو باندے ئے تحریف هم وکړو.
(۲) د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه دلته هغه کسان مراد دی چه هغوی په زکاة باندے بخل کوی او دا رایه امام بخاریؒ غوره کړیده. لیکن د آیت مفهوم دے تولو ته عام دے اول مصداق ئے یهودیان وو او بیا د زکاة منع کونکو ته هم شامل دے.
هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ : یعنی دا ورله عذاب دے.
سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِ : د طوق نه دے (غاړکئ) (د غاړے هار) ته وائی او هر هغه شے چه په غاړه کی اچولے شی لکه د سرو زرو یا د سپینو زرو هار چه زنانه ئے په غاړه کی اچوی.
معنیٰ دا ده : زر دے چه په غاړه کی به ورته واچول شی او د غاړے هار به ئے جوړ شی هغه مال چه کوم باندے ئے بخل کړے وو.
بیا دا غاړکئ یا کنایه ده د ګناه نه یعنی بخیلان به د بخل د ګناه نه هیڅ کله خلاصے ونهٔ مومی ګویا که دغه ګناه د دوی د غاړے غور جوړ شوے دے، لیکن د ډیرو احادیثو مطابق ظاهر دا ده چه بعینهٖ د دغه مال نه به ورته مار جوړ کړے شی او د غاړے نه به ئے تاؤ شی.
او حدیث کی دی : داسے مار به ترے جوړ شی چه (د زهرو د وجے نه به) ګنجے وی او د هغه به د اُوخکو په شان دوه سترګے وی او ددهٔ د خولے وښکی به راکاږی او دا به ورته وائی چه زهٔ ستا مال یم او زهٔ ستا خزانه یم. (بخاری عن ابی هریرهؓ)
او که ددے بخل نه د علم بخل واخستے شی نو بیا هم د الله د قدرت نه بعیده نهٔ ده چه الله تعالیٰ د دغه پټ کړے شی علم نه هم مار جوړ کړی او د قیامت په ورځ د مار په شکل کی راشی لکه د یو حدیث نه معلومیږی چه د قیامت په ورځ به د خائن د خیانت نه جنډه جوړه شی نو هلته خیانت معنوی شے دے او د مادی شی په شکل راښکاره کیږی.

وَلِلّٰهِ مِيرَاثُ : اُوس دا خبره بیانوی چه مالونه هسې هم الله تعالیٰ ته پاتې کیږی او بندګان به ترې خالي لاسونه روان وی نو بیا ولې پدې باندې بنده بخل وکړی؟

بیا ددې دوه معانی دی (۱) یو دا چه مخلوق کوم مالونه د یو بل نه په میراث سره وړی نو د هغې ټولو مالونو آخری مالك الله تعالیٰ دے۔ مطلب دا چه دا مِلك د الله تعالیٰ دے او تاسو ته د څه ورځو دپاره درکړې شویدې نو ولې پدې سره بخل کوئ لکه په سورة الحدید (۷) آیت کی دی: ﴿وَأَنفِقُوا مِمَّا جَعَلَكُم مُّسْتَخْلَفِينَ فِيهِ﴾

او خرچ کړئ د هغه مال نه چه تاسو الله تعالیٰ خلیفه ګان کړی یئ په هغې کی۔

(۲) دویمه معنیٰ دا چه روستو زمانه کی به آسمانونو او زمکې والا ټول مخلوقات فنا شی نو د هیچا ملکیت به پاتې نشی نو په شان د هغه مال به شی چه د یو شخص د فناء نه روستو بل ته میراث پاتې شی نو پدې معنیٰ سره به تشبیهی میراث مراد وی او په اوله معنیٰ سره حقیقی میراث مراد دے۔ (قاسمیؒ، واحسن الکلام والسراج المنیر ۱/۳۰۶)

فائده : (الله) ئې مخکې کړو دپاره د تخصیص نو ددې نه دا فائده حاصله شوه چه د هر شي میراث به صرف الله ته پاتې وی نهٔ بل چا ته نو صرف الله وارث دے او ((الله، نبی وارث)) وئیل غلط دی، شرکی کلمه ده۔

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ : یعنی الله ستاسو په عملونو خبردار دے نو د مال په منع کولو به سزا درکوی۔

لَقَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللّٰهَ فَقِيرٌ وَّنَحْنُ
یقیناً واوریدهٔ الله تعالیٰ وینا د هغه کسانو چه وئیل ئې یقیناً الله محتاج دے او مونږ
أَغْنِيَآءُ سَنَكْتُبُ مَا قَالُوا وَقَتْلَهُمُ الْأَنبِيَاءَ
مالدار یو، زردې چه وبه لیکو هغه خبره چه دوی ئې وائي او وژل د دوی انبیاؤ لره
بِغَيْرِ حَقٍّ وَنَقُولُ ذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ ﴿۱۸۱﴾
په ناحقه او وایو به دوی ته چه اُوڅکئ عذاب د اُور سوزونکی۔

تفسیر : مضمون : پدې رکوع کی د یهودیانو د خبائثو بیان دے او دا د قرآن کریم د عامو سورتونو طریقه ده لکه سورة بقره او روستو سورة النساء کی چه د توحید مسئله او نور احکام او مسائل به شروع وی نو ناڅاپه به مینځ کی د یهودیانو د بدو صفاتو بیان

وکړی چه دا هغه خلك دي چه په تاسو باندي كار خرابول غواړي او پدي مسئلو کي هم دوی رکاوټونه اچوی، شریان دی نو دوی وپیژنئ نو پدي وجه ددي واقعي مناسبت د اول د سورت سره دي چه اول کي هم د نصاریٰ او بیا د یهودو سره خبري وی او د هغوی بد صفات ئے بیانول نو په آخره کي بیا وائی چه دا خلك وپیژنئ دي دپاره چه اول او آخر د سورت يو شان شي۔

۲۔ په مدینه کی نظام شرعی جوړ شو، معاشره صفا کیده، خیرونه عام کیدل نو دا معاشره یو یهودیانو گنده کوله او بل منافقانو نو الله تعالیٰ ځای په ځای په دوی باندي ردونه کوی چه مسلمانان ئے وپیژنی نو ورته وائی چه دا هغه خلك دي چه دوی الله ته فقیر وئیلي دي (العیاذ بالله) (یعنی اول بد صفت ئے دا دي چه د فی سبیل الله انفاق نه ئے انکار کړیدي په باطل عذر سره) او رسولان ئے وژلی دی او د رسول الله ﷺ په نۀ منلو کی د دروغو بهانے کوی (اَلَّا نُؤْمِنَ لِرَسُوْلٍ حَتّٰى يَأْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ) آیت (۱۸۳) کی راځی، او دوی د حق مکذبین دی (۱۸٤) بیا په (۱۸۵) آیت کی رسول الله ﷺ ته تسلی ورکوی او بل مرض ئے دا دي چه د دنیا دپاره حق پټونکی دی (واذ اخذ الله میثاق) کی راځی۔ (لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَفْرَحُوْنَ) کی د دوی بل مرض دا ذکر کوی چه د هدایت کار کوی نۀ او خلکو ته وائی چه مونږ ته هدایت والا ووایئ، کارئے د سړی توب کړے نۀ دے او خلکو نه غواړی چه مونږ ته سړی توب والا ووایئ۔ نو الله فرمائی: دا قسم خلك زما د عذابونو نه نشی خلاصیدے بیا الله تعالیٰ خپل تصرف بیان کړیدے چه کائنات ټول د هغه دی، د هیچا پکی واك نشته نو دغسے دشمنانو ته به عذابونه ورکوی۔

ربط : مخکی الله تعالیٰ د یهودیانو بخل بیان کړو دلته ئے نور ناکاره صفتونه بیانوی چه د الله بی ادبی هم کوی چه هغه ته د بخل نسبت کوی۔

شان نزول

(۱) ابن کثیرؒ او بغویؒ وغیره د محمد بن اسحاقؒ نه او هغه په خپل سند سره د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړیدی چه ابوبکر صدیق رضی الله عنه یوه ورځ د یهودیانو بیت المِدْرَاس (مدرسے) ته ننوتو، هلته ئے ډیر یهودیان وموندل چه د هغوی یو سړی ته راغونډ شوی وو چه د هغه فَنْحَاص بن عَازُوْرَاء نوم وو او دا د هغوی عالِم او حِبر وو او یو بل حِبْر د (اَشْيَعُ) په نوم هم ورسره وو نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه هغه ته دعوت ورکړو: (وَيْحَكَ يَا

فَنَحَاصُ ! اِتَّقِ اللّٰهَ وَأَسْلِمْ) خوار شے اے فنحاصه ! د الله نه ویریږه، اسلام قبول کړه، یقیناً تا ته معلومه ده چه محمد (ﷺ) د الله رسول دے او تاسو ته ئے د الله د طرفنه حق راوړیدے تاسو دا په تورات او انجیل کی لیکلے شوے مونده کوئ (فَآمِنْ وَصَدِّقْ وَأَقْرِضِ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا يُدْخِلْكَ الْجَنَّةَ وَيُضَاعِفُ لَكَ الثَّوَابَ) نو ته ایمان راوړه او ددے نبی تصدیق وکړه او الله ته ښائسته قرض ورکړه (د الله په لاره کی مال ولګوه) الله به دے جنت ته داخل کړی او دوچنده ثواب به درکړی۔ (کافر ته به هم د مال د لګولو دعوت ورکولے شی ځکه چه هغوی هم د الله په لاره کی د مال په لګولو مکلف دی)۔

فنحاص وویل : اے ابوبکره ! ته دا ګمان کوے چه الله زمونږ نه قرض غواړی نو که ستا وینا حقه وی نو الله خو فقیر دے چه زمونږ نه قرض غواړی ځکه چه قرض خو محتاج غواړی او مونږ اغنیاء یو، زمونږ الله ته هیڅ حاجت نشته۔ (د کفر خبره ئے وکړه، د الله سخته بی ادبی ئے وکړه) نو ابوبکر صدیق ﷛ هغه ته په غصه شو او د فنحاص مخ ئے ووهلو او بیا ئے وویل : قسم په الله که زمونږ او ستاسو ترمینځ لوظ نه وے ما به ستا څټ وهلے وے نو الله دا آیت د ابوبکر صدیق ﷛ د تصدیق دپاره نازل کړو۔

(محاسن التاویل، والبغوی وابن کثیر، والدر المنثور ۲/۳۹۶، تفسیر الطبری ۳/۱۹۴، زاد المسیر ۲/۶۵، فی ظلال القرآن ۱/۵۳۷)

(۲) حافظ ابن مردویهٔ او ابن ابی حاتم رحمهما الله د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړیدے چه کله د سورة بقرے دا آیت نازل شو : ﴿ مَنْ ذَا الَّذِیْ یُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا فَیُضٰعِفَهٗ لَهٗۤ اَضْعَافًا كَثِیْرَةً ﴾ یعنی خوك دے چه الله ته ښائسته قرض ورکړی، پس الله به ئے ورله ښه زیات کړی) نو یهودیانو (حُیَیُّ بن اَخْطَب او فَنْحَاص بن عَازُوْرَاء) اُووئیل چه اے محمده ! ستا رب غریب شویدے، پدے وجه د خپلو بندګانو نه قرض غواړی نو دا آیت نازل شو۔

لَّقَدْ سَمِعَ اللّٰهُ: دا کلمات کله د زجر ورکولو او غضب دپاره استعمالیږی لکه دلته شو۔ او کله د شفقت دپاره لکه په سورة المجادله اول آیت کی۔

دوی د الله ډیره بی ادبی وکړه پدے وجه الله تعالیٰ په لام او قد سره تاکید وکړو۔ چه خامخا یقیناً ما ددے ظالمانو خبره واوریده او زهٔ به سزا ورکوم، دوی ګنړے وائی چه الله به زمونږ دا خبرے نهٔ آوری، ولے که د دوی دا عقیده وے چه الله هر څه آوری نو دوی به دومره لویه بی ادبی نهٔ کولے۔ نو الله تعالیٰ هم په کلام کی تاکید وکړو۔

اِنَّ اللّٰهَ فَقِیْرٌ : ځینی مفسرینو لکه قرطبیؒ وغیره دلته سوال وجواب لیکلے دے چه

یهودیان خو اهل کتاب وو، الله ئے منلو او دا ئے هم منل چه الله غنی دے او مونږ فقیران یو نو دوی څنګه دا خبره وکړی چه الله فقیر دے او مونږ مالدار یو؟۔ نو بیا ئے جواب کړیدے چه د دوی دا عقیده نهٔ وه لیکن په ضعفاؤ ئے تلبیس کولو او په طریقه د جدل او الزام سره ئے دا وئیل او دلته استفهام پټ دے یعنی الله ګنے څه فقیر دے چه مونږ نه قرض غواړی؟ یعنی مطلب ئے دا دے چه الله غنی دے او مونږ فقراء یو او غنی ذات د فقراؤ نه څه نهٔ غواړی نو پدے کی د نبی ﷺ په دعوت باندے رد کول وو چه ستا دا دعوت صحیح نهٔ دے چه تهٔ وائے چه تاسو مالونه ولګوئ نو پدے کی د دوی غرض دا وو چه د عوامو خلکو ذهن د نبی علیه السلام نه واړوی چه دا نبی قرض د الله دپاره غواړی او الله خو څه فقیر نهٔ دے۔ (زبدة التفاسیرص: ٧٤) تفسیر تبصیر الرحمن ١/١٣٥)

لیکن دا خبره ددے مفسرینو ضعیفه ده او دا د یهودیانو نه د دفاع صورت اختیاروی او حال دا چه یهودیان په کائناتو کی انتهائی غلیظ بی ادبه او بد ترین کافر دی، دوی د الله او د هغه د رسولانو لویه بی ادبی کړیده او د الله لوی دشمنان دی، د دوی د حال نه دا هیڅ بعیده نهٔ وه چه دوی داسے خبره وکړی او د دوی همدا عقیده وه د خپلے مالدارئ په غرور کی راغلی وو او د الله د قدر او احترام نه جاهلان وو لکه د دوی یو ملا دا هم وئیلی وو چه ﴿مَا أَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى بَشَرٍ مِنْ شَيْءٍ﴾ (انعام: ٩١)

الله تعالیٰ په بندګانو باندے هیڅ کتاب نهٔ دے نازل کړے۔ د الله د وحی او کتابونو نه منکر وو۔ رسول الله ﷺ حق پیغمبر وو په هغه پورے به ئے توقے کولے نو دا د دوی بی باکی ده چه په الله باندے هیڅ پرواه نهٔ لری او الله ته د فقر نسبت کوی او دغه شان دے ظالمانو دا هم وئیلی وو چه ﴿يَدُ اللّٰهِ مَغْلُوْلَةٌ﴾ د الله لاس بند کړے شویدے، خرچه نهٔ کوی لکه سورة المائده (٦٤) آیت کی راغلی دی۔ او دلته ئے (ان الله فقیر) په تاکید سره هم وویلو دا دلیل دے چه دوی دا خبره د زړه نه کوله۔ (البحر المحیط٣/٤٥٥)

ځینی علماؤ دا وئیلی دی چه د دوی علماؤ دا خبره په طریقه د جدل او الزام سره کوله او جاهلانو عوامو ئے په طریقه د عقیدے سره کوله، مګر ظاهر دا ده چه بعض کسانو دا خبره کړے وه او نور خلك پرے غلی پاتی شوی وو نو ځکه الله تعالیٰ ټولو ته نسبت وکړو، پدے وجه ټول مجرمان شو چه په دغه مُلا ئے رد ونکړو او دوی پدے خبره راضی پاتی شو۔

فقیر: ډیر خلك په خوله باندے دا خبره نهٔ کوی چه الله محتاج دے لیکن د هغه عمل او طرز داسے وی لکه چه الله تعالیٰ محتاج ګڼړی او دے د هغه نه بی حاجته دے مونځ یا زکاة

یا بل عمل په داسے طریقه سره کوی ګویا که الله ورته ددے محتاج ښکاری حال دا چه دے تهولو کارونو ته د بنده حاجت دے۔ ﴿وَتَوَلَّوْا وَاسْتَغْنَى اللّٰهُ﴾ (تغابن : ٦) ﴿وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنٰى﴾ (اللیل: ٨)۔

سَنَكْتُبُ : سین د استقبال قریب دپاره دے یعنی زر دے چه ویه لیکو، ځکه چه ملائك ددهٔ د خولے سره سمدست ناست وی لیکل کوی۔ یا سین د تاکید دپاره دے۔

چونکه د دوی دا قول په ضد او عناد باندے بناء وو ځکه الله تعالیٰ تحقیقی جواب ورنکړو بلکه په طریقه د زجر او تخویف سره ئے جواب ورکړو۔

ځینی مفسرینو وئیلی دی چه (سَنَكْتُبُ) ئے مضارع راوړه ځکه چه پدے کی د کرامًا کاتبین لیکنه نهٔ ده مراد بلکه ددے نه مراد دا دے چه الله تعالیٰ به دوی ته د عذاب اندازه مقرر کړی او ملائکو ته به ووائی چه دوی ته فلانی فلانی قسم عذاب ورکړئ او وخت په وخت به ورته دا عذاب مقرروی۔ دوی وائی ځکه چه (سَنَكْتُبُ) مضارع صیغه ده چه د کتابت نه اخستے شویده، اندازے ته وئیلے شی (مفردات) او دارنګه روستو (وَقَتْلَهُمُ الْأَنْبِيَاء) پرے عطف شوے هم دے چه دا هم د دوی د جنایتونو نه یو جنایت دے یعنی د پیغمبرانو وژنه به هم د دوی په عذاب کی په نظر ونیولے شی او ددے په وجه به هم ورته عذاب مقرر کړی او روستو (وَنَقُوْلُ ذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْق) هم په آخرت کی مراد دے۔ (عزیز التفاسیر ٨/٢)

په ګناه باندے راضی کیدل ګناه ده

وَقَتْلَهُمُ الْأَنْبِيَاءَ : دے موجوده یهودیانو خو پیغمبران نهٔ وو وژلی؟ مګر مونږ د سورة البقره آیت (٩١) لاندے لیکلی وو چه دوی د مشرانو په عمل باندے راضی وو او په ګناه باندے راضی کیدل هم ګناه ده۔ پدے وجه دوی ته هم د قتل نسبت وشو۔

د امام شعبیؒ په مجلس کی یو سړی د عثمان ﷺ د قتل صفت وکړو چه ښه کار شویدے نو هغه ورته وفرمایل: (شَرِكْتَ فِيْ دَمِهٖ) تهٔ هم د هغه په قتل کی شریك شوے۔

(تفسیر القرطبی ٢٩٤/٣) واللباب)

یا دا چه دوی هم په وخت د رسول الله ﷺ د قتل ارادے کولے۔

او قتل د انبیاؤ ئے د دوی ددے وینا سره شریك ذکر کړو پدے کی تنبیه ده چه دا ډیر عظیم او قبیح جرم وو۔

وَنَقُوْلُ : دا وینا به دوی ته د دوی د مرګ په وخت کی کیږی، یا به ورته د حشر په ورځ، یا

په دوارو اوقاتو کې۔

ذُوْقُوْا : ذوق (څکل) په محسوساتو کې استعماليږي نو اشاره ده چه د دغه عذاب درد به په دوی باندې د محسوس په شان وي۔ او ذوق لفظ ئې ورله استعمال کړو پدې کې اشاره ده چه دوی انبياؤ ته د تکليفونو ګوټونه څکولي وو نو الله تعالىٰ دوی ته د عذاب ګوټونه څکوي۔ او زجاجؒ وئيلي دي چه ذوق په هغه ځای کې استعماليږي چه د معافئ نه بيخي نا اميدي وي او دا مستلزم وي سخت غيظ او غضب لره۔

الْحَرِيْقِ : په معنىٰ د مُحْرِق سره يعنې سوزونکے۔ (چه هډوکے او غوښه او پوستکے ټول به ورله وسوزوي) حريق هغه اُور ته وائي چه لمبے وهي۔

ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيْكُمْ
دا (عذاب) په وجه د هغه عمل دے چه مخکې ليږلې دي لاسونو ستاسو
وَأَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۱۸۲﴾
او يقيناً نهٔ دے الله هيڅ قسمه ظلم کونکے په بندګانو۔

تفسير : دا تتمه د مخکې ده يعنې دا ستاسو د عملونو ميوه ده چه تاسو ته ملاويږي او دا ظلم نهٔ دے۔

أَيْدِيْكُمْ : غالباً کارونه په لاس کيږي پدے وجه په محاوراتو کې نسبت د کار لاس ته کيږي مراد ترے نفسونه دي۔

وَأَنَّ اللّٰهَ : ددے نه مخکې فعل پټ دے (وَاعْلَمْ أَنَّ اللّٰهَ) پدے خبره پوهه شه چه الله هيڅ قسمه ظلم کونکے نهٔ دے۔

يا دا عطف دے په (مَا قَدَّمَتْ) باندے او د باء سببيه د لاندے دے يعنې د عذاب دوه سببه دي (۱) يو دا چه دوی جرمونه کړيدي (۲) دويم دا چه الله تعالىٰ به ددوی سره عدل کوی، د الله د عدل تقاضا دا ده چه دوی ته د دوی د ظلمونو سزا سخته ورکړے شي۔

سوال وجواب

سوال : ظلام صيغه د مبالغه ده يعنې الله ډير ظلم کونکے نهٔ دے حال دا چه الله ډير او لږ هيڅ قسمه ظلم نهٔ کوی ؟ (۱) جواب دا دے چه دے ته فاعل ذو کذا وائي يعنې فاعل د نسبت لکه د تَامِرٌ او لَابِنٌ او دَافِقٌ او عَطَّارٌ او بَزَّازٌ په شان يعنې ذُوْ تَمْرٍ وَذُوْ لَبَنٍ وَذُوْ دَفْقٍ او ذُوْ

عَطْرٍ او ذُوْ بَزٍّ نو دلته هم ذُوْ ظُلْمٍ مراد دے۔ یعنی الله تعالیٰ د ظلم خاوند نۀ دے او ظلم ته منسوب نۀ دے۔

(۲) دویم: ظلام ئے مبالغه راوړیده اشاره ده هرے نوعے د ظلم ته او عَبِیْد ئے جمع راوړه پدے کی تهول بندگان مراد دی یعنی الله تعالیٰ هیڅ قسم ظلم نۀ کوی په تهولو بندگانو باندے۔

(۳) جواب: دلته نفی مقید او قید دواړو ته متوجه ده یعنی الله هیڅ ظلم کونکے نۀ دے نۀ وړوکے ظلم کوی او نۀ غټ ظلم۔ (نشر المرجان من مشکلات القرآن ۲۳۶)

(٤) ځینی علماء وائی چه ظلام په خپله معنیٰ پریخودلے شی نو دلته به نفی د زیات ظلم مراد شی او په بل آیت (اِنَّ اللّٰهَ لَا یَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ)(نساء: ٤٠) سره به نفی د وړوکی ظلم وشی نو هر قسم ظلم به د الله نه په دواړو آیتونو کی نفی شی۔

(٥) جمال الدین القاسمیؒ لیکلی دی چه په نفی د ډیر ظلم سره نفی د لږ ظلم په طریق اولیٰ سره راځی ځکه چه کوم شخص ظلم کوی نو هغه پدے وجه چه په ظلم سره ځان ته فائده راکاړی نو هرکله چه زیات ظلم پریدی سره ددے نه چه فائده ئے زیاته وی نو لږ ظلم چه فائده ئے هم کمه ده هغه به په طریق اولیٰ سره پریدی۔ (محاسن التاویل للقاسمی ۲/ ۱۸۶)

فائده: امام راغبؒ لیکلی دی چه عَبِیْد لفظ عام دے هغه بندگانو ته وائی، د الله بندگی کوی او که د غیر الله، او عِبَاد هغه بندگانو ته وائی چه د الله بندگی کوی، آه۔ په بل تعبیر سره عبید د بندگانو غلامانو او د الله بندگانو دواړو ته شاملیږی او عباد صرف د الله بندگانو ته شامل دے۔ مگر دا فرق اکثری دے ځکه چه په سورة النور کی (مِنْ عِبَادِکُمْ) لفظ راغلے دے۔

اَلَّذِیْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ عَهِدَ اِلَیْنَآ اَلَّا نُؤْمِنَ
(دا) هغه کسان دی چه وائی دوی یقیناً الله حکم کړیدے مونږ ته چه ایمان به نۀ راوړو
لِرَسُوْلٍ حَتّٰی یَاْتِیَنَا بِقُرْبَانٍ تَاْکُلُهُ النَّارُ قُلْ
په هیڅ رسول تردے چه راوړی مونږ ته قربانی چه وخوری هغے لره اُور، ووایه !
قَدْ جَآءَکُمْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِیْ بِالْبَیِّنٰتِ وَبِالَّذِیْ
یقیناً راغلی دی تاسو ته ډیر رسولان مخکی زما نه په ښکاره دلیلونو سره او په هغه شی سره

قُلْتُمْ فَلِمَ قَتَلْتُمُوهُمْ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ﴿۱۸۳﴾

چه تاسو وئيلي وو (يعني غوښتلي وو) نو ولے وژلي دي تاسو هغوي لره كه يئ تاسو رشتيني۔

تفسير : پدے آيتِ كريمه كي هم د يهوديانو د يوے بلے دروغجنے دعوے او د الله د طرف نه د هغې د تكذيب بيان دے۔ رسول الله ﷺ ته د يهوديانو يوه جرگه راغله چه په هغې كي د دوى مشران (فنحاص بن عازوراء، مالك بن الصيف او كعب بن اشرف او وهب بن يهوذا) وو، يهوديانو اُووئيل چه ستا دا خيال دے چه تۀ الله مونږ ته رسول راليږلے يې او په تا باندے ئے كتاب نازل كړيدے او الله خو مونږ ته په تورات كي دا حكم كړيدے چه مونږ به هغه رسول منو او د هغه تصديق به كوو چه د هغه په وخت كي قرباني (صدقات) په اُور باندے سوزيږي نو كه تۀ مونږ ته قرباني راوړے چه اُور ئے وسوزوي نو مونږ به ستا تصديق وكړو۔ (مقصد ئے دا وو چه اے محمده! (ﷺ) ستا په ذريعه دا معجزه نۀ ده ښكاره شوے پدے وجه مونږ په تا باندے ايمان نۀ راوړو) نو الله تعالىٰ د هغوي په رد كي دا آيت نازل كړو

(تفسير القرآن العظيم لابى القاسم الطبرانى ص ۱۸۳) القرطبى (۴/۲۹۵)

او خپل نبي ته ئے دا جواب وښودلو چه اے زما نبي! ته دوى ته اُووايه! چه تاسو ته خو زما نه مخكي ډيرو انبياؤ ښكاره نخے راوړيدي او هغه معجزے ئے هم راوړيدي چه د هغې مطالبه تاسو ما نه كوئ بيا كه تاسو رشتيني وئ نو هغه مو ولے قتل كړل؟۔

الَّذِيْنَ قَالُوْا : دا خبر د مبتداء دے (هُمُ الَّذِيْنَ) دا هغه خلك دي۔ يا دا صفت يا بدل دے د مخكي (قَوْلَ الَّذِيْنَ) كي د الذين نه۔

بِقُرْبَانٍ : په اصل كي مصدر دے لكه د غُفْران او عُدْوان او خُسْرَان په شان ليكن قربان هغه شي ته وئيل كيږي چه الله ته د ثواب په نيت وړاندے كيږي او بنده په هغې سره الله ته ځان نزدے كوي، برابره ده چه هغه بدني يا مالي عبادت او يا بل نيك عمل وي او د قربان جمع قَرَابِيْن راځي۔ (فتح البيان۲/ ۳۹۰)

فائده : ۱- بني اسرائيلو چه به كله د گناهونو نه توبه ويستله او د هغې كفاره به ئے وركوله نو د كفارے په طريقه به چه كله هغوي يو څاروے مثلاً گډه، بزه يا بل حيوان ذبح كړو دے دپاره چه گناهونه ئے معاف شي نو داسے ځاى كي به ئے واچولو چه آسمان ته به كولاؤ وو نو د آسمان نه به اُور راښكته شو او دغه صدقه به پرے وسوزيدله او ايره به شوه نو دا به نښه وه چه گناه ئے معاف شوه او كه اُور به رانغلو نو د الله تعالىٰ په دربار كي به دغه

قرباني قبوله نهٔ وه.
(۲) دغه شان کله به ئې د شکرانې او صدقې په طور دغه قرباني وړاندې کړه. (۳) او دغه شان د بني اسرائیلو دپاره الله تعالیٰ غنیمت نهٔ وو حلال کړے او ددے امت دپاره ئې خاص حلال ورګرځولو نو کله چه به هغوی د کفارو نه غنیمت ونیولو نو هغه به ئې یو ځای ته راجمع کړو، د اُور د راتللو په انتظار کې به ورته کیناستل، که اُور به راغلو نو دا به دلیل وو چه ددے مجاهدینو جهاد او اخلاص قبول شویدے او که نهٔ وه نو دے به په خیانت دلالت کولو. (٤) دغه شان عوامو خلکو به د معجزے په طور باندے د انبیاؤ نبوت د قرابینو (قرباني سیزلو) په سبب پیژندلو او په بني اسرائیلو کې ځینې پیغمبرانو ته همدا قسم معجزے ورکړے شوے هم وے لیکن بني اسرائیلو دا خبره په الله باندے افتراء او دروغ تړلے وه چه مونږ ته په تورات کې دا وصیت شویدے چه هیڅ پیغمبر به نهٔ منئ ترڅو چه د هغه قرباني اُور ونهٔ سوزوی.
قُلْ قَدْ جَآءَ كُمْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِيْ : دا الزامي رد او جواب دے یعني زما نه مخکې تاسو ته ډیر رسولان راغلي دي او ښکاره معجزات ئې راوړیدي او هغه قرباني ئې هم پیش کړیده چه تاسو ئې مطالبه کوئ نو بیا تاسو ولې هغه وژلي دي، معلومیږي چه دا اعتراض ستاسو بې ځایه او تعنتي او ضدي دے، دا الزامي رد دے. او تفصیلي جواب ئې دا دے چه دا خبره صحیح ده چه په تورات کې ئې دا خبره لیکلے وه لیکن دوی نیمګړے راخستے وه، په تورات کې ورسره دا خبره وه (حَتّٰى يَأْتِيَكُمُ الْمَسِيْحُ وَمُحَمَّدٌ فَإِذَا أَتَيَاكُمْ فَآمِنُوْا بِهِمَا مِنْ غَيْرِ قُرْبَانٍ) تردے چه تاسو ته عیسیٰ او محمد (علیهما السلام) راشي نو کله چه دا دواړه راغلل نو په دوی باندے په غیر د قرباني پیش کولو نه ایمان راوړئ. (القرطبی٤/٢٩٦٥)
بِالْبَيِّنَاتِ : یعني دغه انبیاؤ خو نورے ډیرے ښکاره معجزے پیش کړے وے علاوه د قربانئ پیش کولو نه خو سره ددے نه ئې وژلي دي.
وَبِالَّذِيْ قُلْتُمْ : یعني په هغه خبره چه تاسو وویله چه هغه د قربانئ خبره ده یعني انبیاؤ خو تاسو ته دا هم وئیلي وو چه آخري نبي او مسیح ددے نه مستثنیٰ دي. یا ددے نه مراد دا چه دغه انبیاؤ ستاسو دا مطالبه پوره کړے وه چه قرباني به ئې پیش کوله لیکن تاسو هغه هم په خپل حال نهٔ دي پریښي، په هغوی باندے ایمان راوړل خو په ځای پریده چه ستاسو پلارانو هغه وژلي دي او تاسو په هغې باندے راضي یئ. پدے وجه روستو وائي چه دا خلك د انبیاؤ تکذیب کونکي دي نو که ستا تکذیب وکړي نو خفګان مهٔ کوه.

فَلِمَ قَتَلْتُمُوْهُمْ : لکه دوی زکریا او یحییٰ او اشعیاء علیهم السلام وژلی وو۔ نو ددے نه د دوی د دعویٰ دروغجن والے او عناد او تناقض معلومیږی چه کوم شے ددے آخری نبی نه غواړی هغه خو پخوانو انبیاؤ راوړے وو او بیا هم دوی وژلی دی۔ نو پکار ده چه د هغوی حق ئے خو منلے وے۔

إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِيْنَ : پخوانی انبیاء خو تاسو نهٔ دی منلی نو که تاسو رشتینی یئ ددے نبی په باره کی دغه خبره د تورات نه ثابته کړئ، تورات راوړئ۔

فَإِنْ كَذَّبُوْكَ فَقَدْ كُذِّبَ رُسُلٌ
نو که دوی دروغژن کړی تا لره (نو صبر کوه) نو یقیناً دروغژن کړے شویدی ډیر رسولان
مِّنْ قَبْلِكَ جَآؤُوْا بِالْبَيِّنَاتِ وَالزُّبُرِ وَالْكِتَابِ الْمُنِيْرِ ﴿١٨٤﴾
مخکی ستا نه، راغلی وو هغوی په ښکاره دلیلونو او په واړه کتابونو او په لوی کتاب رڼا کونکی

تفسیر : دا رسول الله ﷺ ته تسلی ده چه ته د دوی په تکذیب باندے خفګان مهٔ کوه که تا دوی ته دغه معجزه پیش نکړه ځکه چه دوی ستا نه مخکی د ډیرو پیغمبرانو تکذیب کړے چه هغه لا د دوی خپل قومیان وو او ښکاره معجزات او شریعتونه ئے هم راوړی وو۔

فَإِنْ كَذَّبُوْكَ : ددے جزاء پټه ده۔ فَاصْبِرْ وَلَا تَحْزَنْ۔ صبر کوه او خفګان مهٔ کوه۔

فَقَدْ كُذِّبَ : دا دلیل د جزاء دے۔

جَآؤُوْا بِالْبَيِّنَاتِ : دفع د وهم ده چه د پخوانو پیغمبرانو تکذیب به پدے وجه شوے وو چه هغوی به معجزے نهٔ وی ښکاره کړی او ما ته خو الله تعالیٰ ډیر معجزات راکړیدی نو الله فرمائی چه هغوی هم ډیر معجزات پیش کړی وو لیکن دے خلکو کی اهلیت نشته چه حق ومنی۔

بِالْبَيِّنَاتِ وَالزُّبُرِ وَالْكِتَابِ الْمُنِيْرِ : دا جمله په قرآن کریم کی تقریباً څلور ځای استعمال ده۔

(۱) بینات : دلائل عقلیه او زُبُر دلائل نقلیه د پخوانو پیغمبرانو نه او کتاب منیر دلیل وحی ته وائی۔ (۲) بینات معجزاتو ته وائی او زبر او کتاب منیر دواړه کتابونو ته وائی لیکن زبر هغه کتابونو ته وائی چه په هغے کی زواجر (زورنے او وعظونه) وی او کتاب منیر هغه کتابونه دی چه په هغے کی ټول احکام شرعیه وی لکه تورات او انجیل۔

(۳) فرق : دلائل درے قسمه وی ، ضروری، (بدیهی) (۲) نظری، (۳) سمعی نو په بینات

کـې دلائل ضروریه (بدیهیه) ته اشاره ده او په الزبر کې نظري دلائلو ته او په الکتاب المنیر کـې دلیـل سـمـعـي تـه اشـاره ده او دا درې قسمـه ئې پدې وجه راوړیدي چه مخاطبین درې قسمه دي (۱) غبیان چه په هیڅ نۀ پوهیږي نو هغوی ته به ښکاره خبره کولے شي او الزبر متـوسـط خـلـکـو دپاره او الکتاب المنیر د عقلاؤ دپاره وي چه ددې کتاب نه استنباطات کولے شي او رازونه ویستلے شي۔ (فتح البیان سورة الحج)

(٤) ځینې وائي الزبر کې صحیفو د انبیاء علیهم السلام ته اشاره ده او الکتاب المنیر کې تورات او انجیل ته۔

الزُّبر : جمعه د زَبور ده، د زَبْرٌ نه جوړ دے، زجر ته وائي یا ښائسته کولو ته وائي دلته الزبر په معنیٰ د مفعول سره دے یعنې اَلْکُتُبُ الْمَزْبُوْرَةُ (لیکلے شوي کتابونه) او خاصکر په هغه کتابونو کې استعمالیږي چه په هغے کې زجرونه او وعظونه او فضائل وي او غالباً احکام پکې نۀ وي لکه صحیفې د ابراهیم او موسیٰ علیهما السلام او زبور کتاب د داود علیه السلام شو۔

كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُوْرَكُمْ
هریو ساه والا څکونکے د مرګ دے او یقیناً پوره به درکړے شي تاسو ته اجرونه ستاسو
يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ
په ورځ د قیامت، نو څوك چه بچ کړے شو د اُور نه او داخل کړے شو جنت ته
فَقَدْ فَازَ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ﴿١٨٥﴾
نو یقیناً کامیاب شو او نۀ دے ژوند دنیوي مګر سامان د دهوکې دے۔

تفسیر : پدې آیت کې الله تعالیٰ (۱) تخویف (یره) په مرګ سره ورکړیده (۲) او ورسره ایمان والو ته ئې زیرے ورکړیدے (۳) او د جنت فضیلت او د جهنم عظمت ئې بیان کړیدے (٤) او زهد د دنیا ئې بیان کړیدے۔

مناسبت : یهود خو فسادونه کوي او ستا تکذیب کوي او ایمان نۀ راوړي خو دا تکلیفونه په مرګ سره ختمیږي، په دنیا کې هیڅ تکلیف همیشه نۀ وي نو مرګ ډیر رانـزدې دے، په دنیا کې تهولے بدلے مۀ غواړئ، ستاسو د نیك عملونو او د صبر بدلے به آخرت کې درکولے شي، هغه ډیرے لوی دي او د جنت او د جهنم غم وکړئ نو پدې کې

کافرانو ته یره ده چه مرگ درپسے دے، د خپل ځان غم وکړئ، د دنیا په مزو مۀ نازیږئ، ډیر معمولي ژوند دے، او ایمان والو ته تسلي او زیرے دے چه د دنیا مصیبتونه په مرگ سره ختمیږي او ستاسو دپاره مزے تیاری دی نو پدے کي دواړو طرفونو ته دعوت دے۔

كُلُّ نَفْسٍ : یعني هر ساه والا انسان که نبي وي او غیر نبي تول به مرگ څکي، د نفس اطلاق په الله بانديے هم کیږي لیکن ددے نه صرف د الله ذات مستثنیٰ دے په استثناء عقلي او شرعي سره۔

نفس کله روح ته وائي او کله بدن ته او کله دواړو ته، دلته ترے دواړه مراد دي، فلاسفه وائي روح نۀ مري ځکه چه ذائقه څکونکے په وخت د څکنه کي موجود وي نو که هغه مړ شي نو څکنه به د کوم ځای نه راشي لیکن صحیح دا ده چه دواړه مري د بدن مرگ دا دے چه د هغه نه روح جدا شي نو هیڅ حاسه (د معلومات ذریعه) پکي پاتے نشي او د روح مرگ دا دے چه هغه د بدن په واسطه سره کوم لذتونه حاصلول نو کله چه د بدن نه ووتو نو د هغه لذتونو نه محروم شو۔ آؤ، د روح جدا ژوند شته۔

ذَآئِقَةُ : دائقه ئے ځکه وویلو چه دا مرگ همیشه نۀ وي بلکه په قبر او برزخ کي بیا په آخرت کي به ژوندے کیږي، او د انبیاء علیهم السلام او شهداؤ او د عامو مؤمنانو د روحونو په ژوندون کي فرق وي لکه مخکي (بل احیاء) ذکر شویدی۔

حکمت: د مرگ په مقررولو کي د الله تعالیٰ ډیر حکمتونه او رازونه دي که مرگ نۀ وے لیکلے شوے نو زړونه به ډیر سختیدلے ځکه چه قیامت خو وړاندے راروان دے نو ډیر خلك به نۀ یریدلے نو اصلاح به ډیره نۀ کیدلے۔ که مرگ نۀ وے نو زمکه به د فسادونو نه ډکیدلے، پدے وجه عمر فاروق ﷺ په خپله گوتمه کي لیکلي وو: (كَفٰى بِالْمَوْتِ وَاعِظًا) مرگ د انسان دپاره پوره نصیحت کونکے او د فسادونو نه منع کونکے دے۔

وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ : یعني که په دنیا کي اگرکه په ښو او بدو باندے ښه او بد اثر مرتب کیږي مگر پوره جزا یا سزا به د قیامت په ورځ هر چا ته ورکړے شي۔ دغه شان قبر کي بعض اجرونه ورکولے شي نۀ پوره۔ (زمخشري)

اجورکم: یعني اجرونه د نیك عملونو ستاسو۔

أُجُوْرَكُمْ : الله تعالیٰ زمونږ ذهن جوړوي چه د اُور نه بچ کیدل لویه کامیابي ده، پدے وجه رسول الله ﷺ د اُور نه د بچ کیدو طریقے خوَدلي وي، په یو حدیث کي ئے فرمایلي دي : چا چه د ورځے درے سوه شپیته نیکئ وکړے (وَقَدْ زَحْزَحَ نَفْسَهٗ عَنِ النَّارِ) یقیناً هغه خپل ځان

د اُور نه بچ وساتو۔ (صحيح مسلم : ۲۳۷۷)
او امام احمد د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روايت راوړيدے چه رسول الله ﷺ وفرمايل: (مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُزَحْزَحَ عَنِ النَّارِ وَيَدْخُلَ الْجَنَّةَ فَلْتُدْرِكْهُ مَنِيَّتُهُ وَهُوَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَلْيَأْتِ إِلَى النَّاسِ مَا يُحِبُّ أَنْ يُؤْتَى إِلَيْهِ) (مسند احمد رقم (۶۸۰۷) واخرجه مسلم ايضا)
كه څوك غواړى چه د اُور نه بچ شى او جنت ته داخل شى نو هغه ته دے په داسے حال كى مرګ راشى چه هغه په الله او په ورځ د آخرت ايمان لرى او خلكو ته دے په هغه څه راتلل كوى په كوم چه دے غواړى چه دهٔ ته پرے راتلل وكړے شى۔ (يعنى نرمى او احسان او خير خواهى)
زُحْزِحَ : د زَحْزَحَةٌ نه دے، وړاندے والے او يو طرف كولو ته وائى د زَحٌّ نه دے په جلتئ سره يو شے رابنكلو ته وائى (كشاف، فتح البيان ۲/ ۳۹۳)
فَقَدْ فَازَ : فوز : ګټے حاصلولو او خساره لرے كيدو ته وائى۔ (ابن كثير)
وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ : متاع هغه شى ته وائى چه د هغے نه لږ فائده اخستے شى بيا زرختميږى۔ عكرمهؒ وئيلى دى لكه تبر، كاسه، كټوئ وغيره (قرطبىؒ)
(۲) زمخشرى وئيلى دى چه متاع هغه سامان دے چه يو مشترى ئے په دهوكے سره سودا وكړى روستو ورته د هغے فساد (ردى والے) معلوم شى۔
الْغُرُورِ : دا يا مصدر دے (يعنى دهوكه كيدل) يا جمع د غارٌّ ده (دهوكه وركونكے) ځينى وائى : غرور هر هغه زر ختميدونكے شے دے چه انسان دوكه كوى۔
دنيا تـه ئے د دهوكے سامان وويلو وجه دا ده چه ددنيا لذات او عارضى خوندونه انسان د هميشه كاميابئ نه منع كوى۔ نو د دنيا حقيقت وپيژنه چه دهوكه پرے نشے۔
دلتـه د (الحيوة الدنيا) نه مراد هغه ژوند دے چه د انسان نه د دنيا په حاصلولو كى تير شى او آخرت ته پكى هيڅ توجه ونكړى نو دا د بنده دپاره د دهوكے سامان جوړ شو۔ يعنى كه څوك د جنت نه ابدى طور سره محروم شى او دوزخ ته داخل شى نو هغه سرے ناكام شو اګركه په دنيا كى به ورتـه ځان كامياب ښكارى خو ددهٔ دپاره دنيا په حقيقى توګه سامان د دهوكے دے۔
او كله چه نيكان خلك ئے په طاعاتو او عباداتو كى او د آخرت په طلب كى تير كړى نو د هغوى دپاره دنياوى ژوند متاع البلوغ (مقصد ته د رسيدو) وسيله ګرځى۔ (سعيد بن جبير، فتح البيان ۲/ ۳۹۳)

د دنیا داسے مثال دے لکه یو تن په یوه لاره کی کنده ویستلی وی او دپاسه ئے پرے څه اچولی وی خلکو ته هغه هواره لاره ښکاری، گمان کوی چه پدے به اخوا واوړم او یو کامیابئ او مقصد ته به ورسیږم خو چه دلته راورسی سمدست پکی گوزار شی او هلاك شی، انسان ته هم د دنیا مزے، څوانی، مال ومتاع وغیره ورته همیشه ښکاری خو سمدست پرے مرگ راشی او سیده الله ته ورشی۔ نو د کامیابئ لاره دا ده چه بنده په دنیا باندے دهوکه نشی بلکه پدے کی د آخرت او د جنت دپاره کار وکړی بیا الله تعالیٰ انسان ته د دنیا نه فائدے ورکوی۔

لَتُبْلَوُنَّ فِيْ أَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ
خامخا امتحان به راوستلے شی په تاسو په مالونو ستاسو کی او په نفسونو ستاسو کی
وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ
او خامخا اورئ به تاسو د هغه کسانو نه چه ورکړے شویدے کتاب مخکی ستاسو نه او د
الَّذِيْنَ أَشْرَكُوْا أَذًى كَثِيْرًا وَإِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا
هغه کسانو نه چه شرك ئے کړیدے ضرر ډیر او که تاسو صبر کوئ او تقویٰ کوئ
فَإِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُوْرِ﴿۱۸۶﴾
نو یقیناً دا د پخو کارونو نه دی۔

تفسیر : پدے آیت کی الله تعالیٰ ایمان والوته حکم کوی په صبر په مصیبتونو باندے چه په تاسو به قسماقسم امتحانات راځی، د اهل کتابو او مشرکانو نه به سپکے سپورے خبرے آورئ او ترغیب دے دوه خبرو ته چه پدے امتحاناتو کی صبر او تقویٰ اختیار کړئ دا داسے آیت دے لکه سورة البقره آیت (۱۵۵) کی (وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِنَ الْخَوْفِ) تیر شوے وو۔

شان نزول

هرکله چه یهودیانو او مشرکانو رسول الله ﷺ لره ډیر زیات خفه کړو نو الله تعالیٰ د هغه د تسلئ دپاره دا آیتونه نازل کړل،

مشرکانو به نبی کریم ﷺ ته جادوگر او شاعر او نور غلط نومونه ورکول۔

د کعب بن الاشرف یهودی په باره کی رسول الله ﷺ وفرمایل:

(مَنْ لِكَعْبِ بْنِ الْأَشْرَفِ فَإِنَّهُ قَدْ آذَى اللَّهَ وَرَسُولَهُ)

یعنی څوك دے چه کعب بن الاشرف یهودی ووژنی ځکه چه هغه الله او د هغه رسول ته ضرر ورکړیدے۔ ځکه چه دغه کعب شاعر وو چه په رسول الله ﷺ پسے به ئے ناکاره اشعار وئیل او د مسلمانانو د ښځو ښائست او جمال به ئے په اشعارو کی یادولو۔ دارنګه د ابورافع په باره کی رسول الله ﷺ حکم کړے وو چه هغه هم قتل کړی۔ او رئیس المنافقین عبد الله بن ابی ابن سلول به د رسول الله ﷺ پسے خبرے کولے او د عائشه رضی الله عنها پورے ئے بهتان تړلے وو۔

په صحیح بخاری رقم الحدیث (٦٢٥٤) و (٢٦٩١) کی ئے یو مصداق داسے هم راغلے دے چه رسول الله ﷺ یوه ورځ د یو صحابی (سعد بن عباده ﷺ) بیمار پرسئ ته روان وو نو په یو مجلس ورتیر شو چه په هغے کی مسلمانان هم وو او مشرکان هم (او پدے وخت کی ابن سلول لا ایمان نهٔ وو ښکاره کړے) نو کله چه دغه مجلس ته ورسیدو نو خر متیازے وکړے نو رئیس المنافقین ابن سلول وویل چه دا خر دے زما خوا نه لرے کړه (فَإِنَّهُ قَدْ آذَانِيْ نَتْنُ حِمَارِكَ) ستا د خر نه بدبوئی ځی چه زهٔ ئے په تکلیف کی کړم۔ نو پدے کی عبد الله بن رواحه ﷺ وفرمایل: (وَاللَّهِ لَحِمَارُ رَسُوْلِ اللَّهِ ﷺ أَطْيَبُ رِيْحًا مِنْكَ) قسم په الله د رسول الله ﷺ خر ستا نه ډیر خوشبویه دے۔ نو پدے کی یو تن ابن سلول دپاره غصه شو نو پدے کی جګړه جوړه شوه نو رسول الله ﷺ دواړه طرفونه په آرام کړل بیا ترے روان شو او د سعد بن عبادهٔ خوا ته ورغلو، هغه ته ئے ګیله وکړه، هغه وفرمایل : اے د الله رسوله ! تاسو مهٔ خفه کیږئ ستاسو د راتللو نه مخکی دا شے مونږ مشر کاوه، تاج مو ورله جوړ کړے وو ورته په سر کولو مو لیکن هرکله چه تهٔ راغلے نو ددهٔ مشری ختمه شوه نو ددهٔ دا ګمان دے چه تا ترے مشری اخستے ده نو ځکه دا ورانے کوی۔ او په یو بل روایت د بخاری کی دی چه سعدؓ رسول الله ﷺ ته وفرمایل چه اے د الله رسوله ! ابن سلول معاف کړه نو رسول الله ﷺ هغه معاف کړو۔ او په دغه زمانه کی د رسول الله ﷺ همدغه رویّه د نورو یهودیانو او منافقانو سره هم پاتے شوے وه، او دا هغه زمانه وه چه د بدر جنګ لا نهٔ وو شوے نو الله وفرمایل چه اُوس د صبر نه کار واخلئ اُوس لا د یهودیانو او منافقانو د چیړلو موقعه نهٔ ده راغلے۔ خو کله چه د بدر په میدان کی د قریشو سرداران اُووژل شول، نو عبد الله بن اُبی خپلو ملګرو ته اُووئیل چه دا دین خو غالبه کیږی پدے وجه راځئ چه د محمد (ﷺ) په لاس د اسلام اعلان اُوکړو۔ معلومه شوه چه څوك اسلام ته دعوت ورکوی او خیر طرف

تـه خلق رابلي او د شر نه خلق منع كوي نو هغه به مصيبتونه او تكليفونه ضرور برداشت كوي۔ (تيسير الرحمن)

دارنګه امام زهريؒ فرمائي: د اُوتوا الكتاب نه مراد كعب بن الاشرف دے او ابن جريجؒ وائي چه يهود او نصارىٰ دي چه مسلمانانو به د يهوديانو نه آوريدل چه وئيل به ئے عزير ابن الله (عزير د الله ځوی دے) او نصاراؤ به وئيل چه مسيح ابن الله دے۔

لَتُبۡلَوُنَّ فِيۡ أَمۡوَالِكُمۡ: د مال امتحان دا دے چه كله به كاروكسب نهٔ لګيږي، پيسے به درنه وركے شي، كاروبار كي به تاوان وكړے، خرچه به دے په كور كي نهٔ وي، كله به داسے ابتلاء وي چه الله به حكم وكړي چه مال ولګوئ۔ مال ئے مخكي كړو ځكه چه پدے كي امتحانات زيات وي۔

وَأَنۡفُسِكُمۡ : د نفس امتحان دا دے چه بيماري، تكليفونه، قيد او بند، زخمونه او مصيبتونه او قتلونه به راشي، او ملګري به وفات شي۔ (قرطبي)

حسن بصريؒ پدے كي دا هم داخل كړيدي چه په مال امتحان دا دے چه زكاة به وركوے او حج به پرے كوے او د نفس امتحان دا دے چه مونځونه به كوے۔ مګر دا متحانات آسان دي دلته قدري امتحانات مراد دي۔

وَمِنَ الَّذِيۡنَ أَشۡرَكُوۡا : يعني په تاسو پسے به اهلِ كتاب او عام مشركان دواړه خبرے كوي، يعني مليان او جاهلان دواړه به درپسے لګيا وي، كنځلے به كوي، كله به وائي، د انګريزانو پيداوار دے او شيعه ګان دي او وهابيان او بي ادبه دي، كله به وائي بي مذهبه دي، لكه نبي كريم ﷺ او صحابه كرامؓ ددے دواړو ډلو نه په تكليف كي اخته وو۔

أَذًى كَثِيۡرًا : د أذىٰ اطلاق په هغه تكليفونو باندے كيږي چه د ژبي نه راوځي نو دا لفظ د دوي شركي اقوالو او په نبي كريم ﷺ او قرآن باندے طعن او تنقيد كولو او كنځلو او ردو بدو او مؤمنان په شعرونو او نثرونو كي بد يادولو او نورو بهتانونو ترلو ته شامل دے۔

وَإِنۡ تَصۡبِرُوۡا : يعني كله به ددے خلكو سره د جهاد كولو موقعه نهٔ وي نو بيا به د دوي په خلاف د صبر او تقوىٰ نه كار اخلئ۔

صبر دا دے چه انسان تكليف او مصيبت برداشت كړي او تقوىٰ دا ده چه د نا مناسبه خبرو نه ځان وساتي۔

ذٰلِكَ مِنۡ عَزۡمِ الۡأُمُوۡرِ : عطاء بن ابي رباحؒ معنىٰ كوي : مِنۡ حَقَائِقِ الۡإِيۡمَانِ۔ يعني چا كي چه صبر او تقوىٰ راغله نو د ايمان حقيقت ته ورسيدو ليكن دا ئے حاصل تفسير كړيدے۔

لفظي معنىٰ ئې دا ده چه عزم مصدر په معنىٰ د مفعول (مَعْزُوْم) سره دے۔ اَيِ الْاُمُوْرِ الْمَعْزُوْمَةِ عَلَيْهَا اَوْ مِمَّا يَجِبُ عَلَيْكُمْ اَنْ تَعْزِمُوْا عَلَيْهِ) ۔ يعني په تكليفونو كي صبر او تقوىٰ نه كار اخستل د هغه كارونو نه دي چه پدے باندے پكار ده چه هر څوك كلكوالے وكړي او ددے كلكه اراده وكړي او ځان پرے مضبوط كړي او تاسو ته هم دا حكم دے چه پدے باندے كلك والے وكړئ څكه چه پدے كي پوره عزت او شرافت دے۔ يا (مِنَ الْاُمُوْرِ الَّتِيْ عَزَمَهَا اللّٰهُ) دا د هغه كارونو نه دي چه الله تعالىٰ په بندګانو لازم كړيدي او واجب ئې ګرځولي دي چه دا به كوي۔ (روح المعاني ١٤٨/٤، فتح البيان ٣٩٥/٢)

او په بل تعبير سره داسے وئيلے شي چه دا هغه كارونه دي چه د هغے د ګټور توب فيصله شويده۔

او په ساده پښتو كي ئې معنىٰ ده چه دا د پخو كارونو نه دي چه چا دا كارونه وكړل نو دۀ پوخ كار وكړو، دشمن ئې ووهلو څكه چه پدے كارونو اختيارولو سره دشمن وهلے كيږي۔

او عزم په اصل كي (ثَبَاتُ الرَّأْيِ عَلَى الشَّيْءِ اِلٰى اِمْضَائِهٖ) ته وائي يعني په يو شي باندے د هغے د پوره كيدو پورے رايه مضبوط ساتلو ته وائي۔ (فتح البيان) يعني پوخ قصد كول۔

علامه ابن عاشورؒ ليكي چه د (اِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا) جزاء پټه ده۔ اَيْ تَنَالُوْا ثَوَابَ اَهْلِ الْعَزْمِ۔ كه تاسو صبر او تقوىٰ وكړه نو د عزم والو ثواب به حاصل كړئ څكه چه دا د عزم كارونه دي۔ (التحرير و التنوير ٢/٣ · ٣)

فائده : كومو علماؤ چه دا وئيلي دي چه دا آيتونه د قتال په آيت باندے منسوخ دي نو دا صحيح خبره نۀ ده څكه چه دا د دعوت د باب متعلق ښائسته اخلاق دي او په اخلاقو كي نسخ نۀ وي۔

فائده ٢ : الله تعالىٰ ايمان والو ته دا خبر وركړو چه تاسو ته به د اهل كتابو او مشركانو نه تكليفونه رسيږي پدے خبر وركولو كي ډير فوائد دي :

(١) يو دا چه دا د الله تعالىٰ د حكمت تقاضا ده چه دغسے به كوي دے دپاره چه رشتيني مؤمن د نورو نه جدا شي۔ (٢) الله تعالىٰ په مؤمنانو باندے دا كارونه مقرروي دے دپاره چه پدے سره د دوي درجات پوره كړي او د دوي ګناهونه ورژوي، او د دوي ايمان او يقين مضبوط شي۔ (٣) دے دپاره چه د مؤمنانو نفسونه د مخكي نه دے خبرے ته تيار شي او كله چه واقع شي نو په هغے صبر وكړي څكه چه بنده كله مخكي نه تيار وي نو بيا پرے مصيبت آسانيږي او صبر او تقوىٰ اختيارولو ته محتاج كيږي او هغے ته پناهي وروړي۔

(تفسیر السعدی ۱/ ۱٦۰) والمنار (۲۲۱/٤)

وَإِذْ أَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتَابَ
او كله چه اخستے وه الله تعالىٰ وعده د هغه كسانو نه چه وركړے شويدے كتاب
لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُوْنَهُ فَنَبَذُوْهُ وَرَآءَ
خامخا تاسو به بيانوئ دا خلكو ته او نۀ به پټوئ دے لره نو گوزار كړو دوى هغه روستو
ظُهُوْرِهِمْ وَاشْتَرَوْا بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُوْنَ ﴿١٨٧﴾
د شاگانو خپلو نه او واخستو په هغے سره قيمت لږ (دنيا) نو بد دے هغه شے چه دوى ئے اخلى۔

تفسیر : پدے کی الله تعالیٰ د اهل کتابو بل عیب بیانوی چه دوی حق پټ کړیدے او عهد ئے مات کړیدے او په هغے باندے زجر ورکوی۔

ربط : ۱- پدے کی د اهل کتابو د تکلیفونو ورکولو مثال ذکر دے چه هغه دا چه د دوی په کتاب کی د رسول الله ﷺ د نبوت دلیلونه موجود وو مگر دوی هغه پټ کړی وو۔ نو دوی به مسلمانانو ته یو تکلیف دا ورکولو چه خلکو ته به ئے رشتیا نۀ وئیل او حقائق به ئے تـرے پټ ساتل حال دا چه د دوی نه الله تعالیٰ دا لوظ اخستے وو چه ستاسو دے قسم وی چه دا کار به نۀ کوئ خو دوی همدغه عهد شاته گوزار کړو او پیسے ئے پرے واخستے نو ډیر بد کارئے وکړو چه د الله د لوظ په مقابله کی ئے دنیا متاع الغرور واخسته۔

۲- یا مخکی ایذاء ذکر شوه نو دلته د دوی عدم نفع الناس (خلکو ته فائده نۀ رسول) ذکر کیږی۔

أُوْتُوا الْكِتَابَ : د دوی نه مراد یهود او نصاریٰ دی یا صرف یهودیان دی بنا بر اختلاف۔ او د دوی نه دا لوظ د دوی د انبیاؤ او رسولانو په ژبه اخستے شوے وو۔ او دا لوظ په دوه خبرو وو (۱) لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ - یعنی ددے کتاب ټول احکام او خبرونه به بیانوئ چه یو په هغے کی د رسول الله ﷺ د نبوت خبر هم دے۔

(۲) دویم : وَلَا تَكْتُمُوْنَهُ۔ یعنی پدے کتاب کی به غلط تاویلات او تحریفات نۀ کوئ او پدے کی به باطل شبهات نۀ پیدا کوئ چه د هغے په وجه خلك د حق نه منع شی۔ (فتح البیان ۲/ ۳۹٦ و التحریر والتنویر ۳/ ۳۰۲) وروح المعانی (۱٤۸/٤)

۱- پدے وجه ئے د بیان نه روستو عدم کتمان ذکر کړو۔

۲- بعض وائی : د بیان نه مراد دا دے چه په ژبه ئے بیان کړئ او د (وَلَا تَكْتُمُونَهُ) معنیٰ دا ده چه عملًا ئے واضحه کړئ۔ (روح المعانی)

۳- یا دا چه خلکو ته ئے بیان کړئ او غلط تاویلات پکی مهٔ کوئ او د دویمے جملے معنیٰ دا ده چه کله ستاسو نه ددے مطالبه وشی او بیانولو ته ئے ضرورت راپیښ شی نو په هغے باندے به سترګے نهٔ پټوئ۔ (عزیز التفاسیر)

لَتُبَيِّنُنَّهُ : کی لام موطئه للقسم دے یعنی الله دوی سره دا لوظ په قسم ورکولو سره کړے وو۔

فَنَبَذُوهُ : فاء ئے راوړه چه دلالت کوی په تعقیب مع الوصل باندے پدے کی اشاره ده چه دوی دے لوظ ماتولو ته ډیره جلتی وکړه، ددے لوظ د اخستو دومره وخت لا نهٔ وو شوے چه دوی سمدست مات کړو۔ او ابن عاشورؒ وائی چه پدے کی اشاره ده چه دا لوظ د یهودیانو علماؤ ګوزار کړے وو په هغه زمانو کی چه د رسول الله ﷺ نبوت ته نزدے وو یعنی کله چه دغه علماء ددے کتاب په ښکاره کولو قادر شو او په ځان کی ئے دا قدرت ولیدو چه دوی په کتاب پوهه شو او ددے په معانیو کی تصرف کولے شی نو دغه علم او قدرت ئے ددے دپاره وسیله جوړه کړه چه هډ بد تحریفات ئے پکی وکړل او هغه ئے د خلکو نه پټ وساتلو۔ یا دا تعقیب پدے اعتبار سره دے چه د دوی دنیا سره او د هغے د مال سره ډیره مینه وه نو سمدست ئے دغه کتاب ذریعه د دنیا وګرځوله او هغه ئے ګوزار کړو (التنویر والتحریر۳/۳۰۳)

وَاشْتَرَوْا بِهِ : (۵) ضمیر راجع دے ایمان ته، ۲- یا د الله کتاب ته چه دوی پکی تحریف وکړو۔ ۳- یا میثاق ته۔ ٤- یا کتمان ته، لکه بعض بادشاهانو ځینو یهودیانو له مال ورکړو او بیا ئے ورته ووئیل چه دا آخری نبی هغه رسول دے کوم چه ستاسو کتابونو کی وو؟ نو دوی ووئیل چه دا هغه نهٔ دے، حق ئے پټ کړو۔

فائده : دلته دا قاعده ده چه په قرآن او حدیث کی د اهل کتابو کوم عیب ذکر شی نو هغه به دے امت ته هم شامل وی اګرکه عام احکام د اهل کتابو جدا دی ددے امت نه۔ لیکن په عیبونو او نیکیو کی دا امت د هغوی سره شریك دے۔ دا وجه ده عامو مفسرینو د سلفوؒ نه نقل کړیدی چه دا میثاق دے امت ته هم شامل دے۔

قتاده رحمه الله فرمائی : هٰذَا مِيثَاقٌ أَخَذَهُ اللّٰهُ عَلَى أَهْلِ الْعِلْمِ فَمَنْ عَلِمَ شَيْئًا فَلْيُعَلِّمْهُ النَّاسَ وَإِيَّاكُمْ وَكِتْمَانَ الْعِلْمِ، فَإِنَّ كِتْمَانَ الْعِلْمِ هَلَكَةٌ) (دا وعده الله تعالیٰ د ټولو اهل علمو نه

اخستے دہ نو چا تہ چہ یوہ خبرہ د علم معلومہ وی نو ھغہ دے خلکو تہ بیان کړی او د علم د پټولو نہ ځان وساتئ ځکہ چہ د علم پټول ھلاکت دے۔
د قتادةؒ نہ دا هم نقل دی : [طُوبٰى لِعَالِمٍ نَاطِقٍ وَمُسْتَمِعٍ وَاعٍ، هٰذَا عَلِمَ عِلْمًا فَبَذَلَهُ، وَهٰذَا سَمِعَ خَيْرًا فَقَبِلَهُ وَوَعَاهُ) (خوشحالی دی وی ھغہ ھغہ عالم لرہ چہ حق بیانونکے وی او ھغہ آوریدونکی لرہ چہ خبرہ یادونکے وی، دے یو علم زدہ کړو نو خلکو تہ ئے ھغہ خرچ کړو او دے بل خیر واوریدو نو ھغہ ئے قبول کړو او یاد ئے کړو)۔
او ترمذیؒ او ابوداودؒ د ابو ھریرہ ﷺ نہ روایت راوړیدے چہ رسول اللہ ﷺ وفرمایل: (مَنْ سُئِلَ عَنْ عِلْمٍ يَعْلَمُهُ فَكَتَمَهُ أُلْجِمَ بِلِجَامٍ مِنْ نَارٍ) (الترمذی، احمد، ابوداود، وابن ماجه وهو حدیث صحیح)۔ چا نہ چہ د یو علم پہ بارہ کی پوښتنہ وشوہ چہ ھغہ پرے پوھیدو او ھغہ پټ کړو نو د اُور واړے بہ ورتہ واچولے شی)۔
او سیدنا ابو ھریرہ ﷺ وفرمایل: (لَوْلَا مَا أَخَذَ اللّٰهُ الْمِيثَاقَ عَلٰى أَهْلِ الْكِتَابِ مَا حَدَّثْتُكُمْ بِشَيْءٍ ثُمَّ تَلَا هٰذِهِ الْآيَةَ) ۔ کہ اللہ تعالیٰ د کتاب والو (یعنی ټولو علماؤ) نہ دا وعدہ نۀ وے اخستے نو ما بہ تاسو تہ ھیڅ حدیث نۀ وے بیان کړے بیا ئے دا آیت ولوستو۔
(فتح البیان ۲/۳۹۶، و۳۹۷) والدر المنثور (۱۶۹/٤) فتح القدیر للشوکانی (۲/ ٦٤) اللباب (۱۳۳٦/۱) البغوی (۱٤۹/۲) السراج المنیر (۲۲۰/۱) ابن کثیر (۱۸۱/۲)
حسن بن عمارةؒ وائی: زهریؒ تہ ورغلم پس د ھغے نہ چہ ھغہ حدیثونہ بیانول پریخی وو نو ما پہ دروازہ کی وموندو ورتہ مے وویل چہ زما ارادہ دہ چہ ما تہ حدیثونہ بیان کړہ۔ ھغہ وویل : آیا تا تہ پتہ نشتہ چہ ما حدیثونہ بیانول پریښی دی؟، ما وویل : یا بہ راتہ حدیثونہ بیانوے یا بہ درتہ زۀ حدیث بیان کړم۔ ما تہ ئے وویل تۀ ئے بیان کړہ : ما ورتہ وویل چہ ما د حَکم بن عُيَيْنَةَ نہ ھغہ د یحیی بن الخرازؒ نہ ھغہ د علی بن ابی طالب ﷺ نہ آوریدلی دی چہ فرمایل ئے : [مَا أَخَذَ اللّٰهُ عَلٰى أَهْلِ الْجَهْلِ أَنْ يَتَعَلَّمُوا حَتّٰى أَخَذَ عَلٰى أَهْلِ الْعِلْمِ أَنْ يُعَلِّمُوا قَالَ : فَحَدَّثَنِي أَرْبَعِينَ حَدِيثًا] ۔ اللہ تعالیٰ پہ جاھلانو باندے د علم پہ زدہ کړہ کی دومرہ نیوکہ نۀ دہ کړے څومرہ ئے چہ پہ اھل علمو باندے د ھغوی پہ علم بیانولو کی نیوکہ کړے دہ (چہ دوی بہ خامخا علم بیانوی) ھغہ وائی : نو امام زهریؒ ما تہ (ددے پہ آوریدو سرہ) څلویښت حدیثونہ بیان کړل۔ (تفسیر الخازن ۱/ ۳۳۰)
دغہ شان اقوال د حسن بصریؒ او محمد بن کعب القُرظیؒ نہ هم نقل دی چہ دا آیت ھر عالم تہ شامل دے۔ (فتح البیان)

حافظ ابن کثیرؒ لیکي : (فَعَلَى الْعُلَمَاءِ أَنْ يَبْذُلُوا مَا بِأَيْدِيهِمْ مِنَ الْعِلْمِ النَّافِعِ الدَّالِّ عَلَى الْعَمَلِ الصَّالِحِ وَلَا يَكْتُمُوا مِنْهُ شَيْئًا) ـ نو(ددې نه روستو) په علماؤ باندې لازم دي چه د دوی په لاسونو کی کوم فائده منډ علم وی کوم چه د عمل صالح ښودنه کوی هغه خلکو ته وښائي او د هغې نه دې هیڅ نۀ پټوی) (ابن کثیر۲/۱۸۱)

نو معلومه شو چه عالِم به توحید، او دین اسلام او د هغې احکام نۀ پټوی د خلکو د ویرې نه یا د دنیا د لالچ د وجه نه، یا د چا د ملامتیا یا د عهدې د زائله کیدو نه یریږی۔

لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَفْرَحُونَ بِمَا أَتَوْا
ګمان مۀ کوه په هغه کسانو چه خوشحالیږی په هغه کارچه دوی ورته راتګ وکړی
وَّيُحِبُّونَ أَنْ يُحْمَدُوْا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوْا
او خوښوی دوی چه صفت وکړې شی د دوی په هغه کار چه دوی نۀ دې کړې
فَلَا تَحْسَبَنَّهُمْ بِمَفَازَةٍ مِّنَ الْعَذَابِ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ ﴿۱۸۸﴾
نو ګمان مۀ کوه په دوی باندې په بچ کیدو د عذاب نه او دوی دپاره عذاب دردناك دې۔

تفسیر : پدې آیت کی د یهودیانو بل عیب ذکر دې چه د حق کار نکوی او ښه کار نۀ کوی او د خلکو نه دا مطالبه کوی چه مونږ ته حق پرست ووایئ او زمونږ صفت وکړئ نو دا ډیر قبیح عمل دې یو تن جهاد ته نۀ دې تلې او د دین دعوت ئې نۀ دې کړې او دا غواړی چه ما ته دې مجاهد او داعی ووېل شی۔ په بل تعبیر سره داسې وئیلې شی چه پدې آیت کریمه کی د هغه ټولو خلکو بدی بیان شویده چه د ریاکارئ او نوم او شهرت دپاره کار کوی او خومره ئې چه نۀ وی کړی د هغې نه زیات ښکاره کوی، یا یو صفت په هغوی کی نۀ وی او خپل ځان طرف ته ئې منسوب کوی۔

امام احمدؒ او امام مسلمؒ روایت راوړیدې چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل : [مَنِ ادَّعَى دَعْوَى كَاذِبَةً لِيَتَكَثَّرَ بِهَا لَمْ يَزِدْهُ اللَّهُ إِلَّا قِلَّةً] (بخاری : ٦١٠٥،٦٦٥٢ومسلم : ١١٠)

((چا چه د خپل ځان دپاره د دروغو دعوه اُوکړه دې دپاره چه د خلقو مخې ته لوئی ښکاره شی نو الله به د هغه وقار (عزت) کم کړی))۔ یو بل حدیث دې چه په صحیحینو کی روایت شویدې چه [اَلْمُتَشَبِّعُ بِمَا لَمْ يُعْطَ كَلَابِسِ ثَوْبَيْ زُوْرٍ] ((څوك د یو داسې صفت دعویٰ اُوکړی چه الله هغه له نۀ دې ورکړې نو دا داسې دې لکه د دروغو او د دهوکې دوه جامې ئې چه

اغوستي وي))۔ (مسلم : ۲۱۲۹)

شان نزول

(۱) مفسرینو ددے آیت د شان نزول بیانولو دپاره د بخاري او مسلم دا روایت نقل کړیدے چه مروان بن الحکم (کله چه په مدینه باندے امیر وو) خپل دربانچي (رافع) ته اُووئیل چه ابن عباسؓ خوا ته لاړ شه او پوښتنه ترے اُوکړه چه ددے آیت په تقاضا که هر بنده ته چه په خپل موجود شي باندے خوشحالیږي (یعني چه یو نیك عمل وکړي په هغے خوشحالیږي) او خوښوي چه دهٔ څه نهٔ وي کړي په هغے باندے ددهٔ صفت اُوشي، عذاب ورکړے شي نو آیا مونږ ټولو ته به عذاب ملاویږي؟ نو ابن عباس رضي الله عنهما اُووئیل چه دا آیت د اهل کتابو په باره کي نازل شوے وو۔

بیا ابن عباسؓ ﴿ وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِیْثَاقَ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْكِتَابَ ﴾ والا آیت اُولوستلو او وے وئیل چه رسول الله ﷺ د مدینے د یهودیانو نه د تورات یوه خبره اُوتپوسله نو هغوی هغه پټه کړه او بدله ئے کړه، بله خبره ئے بیان کړه او کله چه د هغه ځای نه لاړل نو خوشحاله وو چه رسول الله ﷺ ته ئے دا خودل چه مونږ دهٔ ته صحیح جواب ورکړیدے او د هغه نه ئے دا غوښتل چه زمونږ صفت وکړي او دوي چه دا کوم کتمان د خبرے وکړو نو پدے باندے خوشحاله هم وو (چه مونږ رسول الله ﷺ ته جواب هم ورکړو او صحیح خبره مو ترے پټه هم کړه)۔ نو دا آیت نازل شو۔ (یعني جواب ئے هم غلط ورکړو او بیا ئے پرے دپاسه شاباسے او ستاینه هم غوښتله)

ددے مثال داسے هم دے یو مشرك او بدعتي شاګردانو ته شرك او بدعت وښائي او بیا شاګردانو ته وائي چه زما کمال ته وګورئ څنګه علم مے درته وخودو او د حق د مخالفت طریقے مے درته وخودلے نو زما صفت خو وکړئ او په مینځ کي هغه فساد کړے وي۔

(۲) بل شان نزول : بخاريؒ او مسلمؒ د ابوسعید خدري ؓ نه روایت کړیدے چه کله به رسول الله ﷺ غزوے ته تللو نو منافقان به روستو پاتے کیدل (وَفَرِحُوْا بِمَقْعَدِهِمْ خِلَافَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ) او په خپله دے چالاکي باندے به خوشحالیدل او کله چه به رسول الله ﷺ د غزا نه د واپس کیدو نه روستو د هغوي خوا ته ورغلو نو هغوي به د قسمونو سره عذر پیش کولو او غوختل به ئے چه دوي د خیر کوم کار نهٔ دے کړے په هغے باندے د دوي صفت اُوکړے شي (لکه مجاهد به نهٔ وو او ځان به ئے مجاهد ښکاره کولو) نو دا آیت نازل

شو.

(۳) بعضو (لکه عکرمهؒ) وئیلی دی چه دا آیت د فنحاص او اَشْیَع یهودیانو علماؤ په باره کی نازل شویدے چه دوی به خلك گمراه کول او پدے به خوشحالیدل چه خلك دوی لره علم ته منسوب کړی او حال دا چه د علم خاوندان نهٔ وو.

(تفسير الطبري٧/٤٦٦) والبغوي (٢/١٥٠)

(٤) مجاهدؒ وائی : ددے نه مراد یهودیان دی چه خلکو ته به ئے د الله په کتاب کی تحریف وکړو او پدے به خوشحاله وو چه خلك د دوی صِفت وکړی چه څومره کمال مو وکړو. (الطبري)

ډیره ممکن ده چه ددے ټولو واقعاتو په باره کی دا آیت نازل شوے وی، ځکه د آیت مضمون په ټولو باندے تطبیق کیږی.

د لاتحسبن الذين دپاره مفعول پټ دے.

بِمَا أَتَوْا : (۱) اَیْ مِنْ اِضْلَالِ النَّاسِ. یعنی هغه کار چه دوی ورته راتلل وکړل چه هغه د خلکو گمراه کول وو. بما لم يفعلوا : مِنَ التَّمَسُّكِ بِالْحَقِّ. یعنی په حق باندے ئے منګولے نهٔ دی لګولی او خلکو نه غواړی چه پدے کار دے د دوی صفت وکړے شی.

(۲) یا بِمَا أَتَوْا مِنَ الشِّرْكِ وَالْبِدْعَةِ. (بدائع التفسير) یعنی په هغه کار چه دوی ورته راتګ وکړو چه هغه شرك او بدعت دے. او بما لم يفعلوا : اَیْ بِالسُّنَّةِ وَالْاِخْلَاصِ. (یعنی په سنت او اخلاص نهٔ دی روان او خلکو ته وائی چه مونږ ته متبعین د سنت او مخلصین ووایئ).

او که د منافقانو سره ولګی نو معنیٰ به دا وی : (بِمَا أَتَوْا اَیْ وَهُوَ تَرْكُ الْغَزْوِ وَالْقُعُوْدُ فِي الْبُيُتِ). یعنی هغه کار چه دوی ورته راتګ وکړو چه هغه غزا پریخودل او کور کی کیناستل دی او (وَيُحِبُّوْنَ أَنْ يُّحْمَدُوْا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوْا اَیْ بِالْجِهَادِ الَّذِیْ لَمْ يَفْعَلُوْا).

یعنی په هغه جهاد چه کړے ئے نهٔ دے. یعنی خلکو له به خو دهوکه ورکړی لیکن الله ته دهوکه نشي ورکولے نو د هغه د عذاب نه به خلاص نشی.

فَلَا تَحْسَبَنَّهُمْ : دا تاکید دے د مخکی (لَا تَحْسَبَنَّ) دپاره.

(بِمَفَازَةٍ) مفازه کامیابئ ته هم وائی او دشتے او بیابان ته هم وائی ځکه چه کله بنده هغه قطع کړی نو کامیاب شی. یا معنیٰ دا ده چه (لَا تَحْسَبَنَّهُمْ بِمَكَانٍ بَعِيْدٍ عَنِ الْعَذَابِ) دوی باندے ګمان مهٔ کوه چه دوی به د عذاب نه وړاندے ځای ته لاړ شی. (فتح البيان٢/٣٩٨)

فائده : الله دپاره اخلاص ډیر اوچت شے دے کله چه بنده کی اخلاص پیدا شی نو الله

تعالیٰ د تولو بندګانو زړونه هغه ته راړوی، هَرِم بن حیانؒ فرمائی: : (مَا أَقْبَلَ عَبْدٌ بِقَلْبِهِ إِلَى اللّٰهِ إِلَّا أَقْبَلَ اللّٰهُ قُلُوْبَ الْخَلَائِقِ إِلَيْهِ حَتّٰى يَرْزُقَهُ مَوَدَّتَهُمْ وَرَحْمَتَهُمْ) ۔یو بنده خپل زړه الله ته نهٔ متوجه کوی مګر الله تعالیٰ به د مخلوق زړونه هغه طرفته متوجه کړی، او کله چه بنده د الله سره چل ول کوی نو الله به ترے د مخلوق زړونه اړوی، تردے چه هغه به د خلکو مینه او رحمت ورك کوی۔ (اغاثة اللهفان ۲/ص:۱۵٤) والقرطبی ۱۱/۱٦۱ سورة مریم)

وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۸۹﴾
اوخاص الله دپاره بادشاهی د آسمانونو او د زمکے ده او الله په هرڅه باندے قدرت والا دے۔

تفسیر : پدے آیت کی بیان دے د غِنیٰ د الله تعالیٰ د یهودو او د منافقانو د اعمالو نه چه کـه دوی د الله دیـن تـه نـهٔ راځی نو د الله ورته هیڅ ضرورت نشته، الله په هر شی قادر دے او بادشاهی د هغه ده۔

بعض وائی : دا د مخکی (عذاب الیم) سره لګی نو پدے کی بیان د قدرت د الله تعالیٰ دے په عـذاب ددے مجرمانو (یهود او منافقانو) او رد دے په یهودیانو باندے چه الله تعالیٰ ته ئے فـقیـر وئیلے وو۔ او په داسے آیت کی فکر کولو سره ایمان جوړیږی، چه بندګان محتاج دی اوټول واك او بادشاهی د الله ده نو هغه ته توجه پکار ده۔

إِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ
یقیناً په پیدائش د آسمانونو او د زمکه کی او په اختلاف د شپے او د ورځ کی
لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ ﴿۱۹۰﴾
خامخا ډیرے نخی دی دپاره د صفا عقلونو والو۔

تفسیر : پدے آخری رکوع کی بَیَانُ حَالِ الْمُؤْمِنِيْنَ مَعَ رَبِّهِمْ دے۔ یعنی د مؤمنانو حال د خپل رب سره بیـانـوی پـدے کی دوه فائدے دی (۱) یو دا چه ترغیب دے ایمان والو ته چه ستاسو حال دِے دغه شان جوړ شی څنګه چه د خواصو بندګانو دغه صفات دی۔

(۲) دویـم پدے کی تعریض دے په یهود او منافقانو باندے چه تاسو ځان دپاره ښه صفتونه غواړئ او دعوے کوئ چه مونږ اُوچت خلك یو، دا راتلونکی صفات ځان کی پیدا کړئ نو د الله صحیح او غوره بندګان به جوړ شئ او هغه صفات دا دی :

چه ایمان والو کی عقل او فکر پروت دے، الله په هر وخت کی یادوی، د الله نه دعاګانے غواړی، د جهنم د اُور نه یریږی، د هغې غم ورسره دے ستاسو په شان نهٔ دی چه ځان دپاره د جنت دعوے کوی او دا وائی چه جهنم به مونږ ته نهٔ رارسیږی مګر یو څو ورځے۔ ایمان والا به د اُور نه یریږی ځوك چه د اُور نه نهٔ یریږی هغه د الله ډیر بدی شی۔ لکه یو حدیث کی هم دا راغلی دی چه کله بندګان یو ځای کی کینی او د جهنم او د جنت تذکره ونکړی نو ملائك وائی: (قَدْ نَسُوا الْعَظِيْمَتَيْنِ) دے خلکو دوه لوی څیزونه هیر کړل چه هغه جنت او جهنم دی۔ ددے وجه نه ایمان والا وائی چه اے الله! ځوك چه اُور ته داخل شو دا خو په ډیر لوی شرم واوړیدو۔ او د هغوی صفت دا دے چه الله ته ایمان وسیله کوی او بیا درے دعاګانے کوی، د ګناهونو د بخنے، او د توفی مع الابرار، او د جنت دعاګانے کوی او د آخرت د شرمونو نه یریږی نو د داسے خلکو ښائسته بدله بیانوی او ورسره دا هم وائی چه نور قسمه مؤمنان دی هغوی له به ئے هم ورکوم په (۱۹۵) آیت کی۔

بیا ئے د دنیا زهد بیان کړیدے او دفع د وهم ده چه مؤمنان تکلیفونه تیروی او کافران په دنیا کی مزے کوی نو الله جواب کوی چه دا دنیا لږے مزے دی خو اُور ته روان دی او متقیانو دپاره زیرے بیانوی، بیا په اهل کتابو کی د نیکانو خلکو درے صفتونه، ایمان، خشوع او عدم اشتراء بآیات الله بیانوی۔او ددے تخصیص ئے ځکه کړیدے چه په هغوی کی دا درے صفتونه ډیر کم ملاویږی۔ او په آخر کی یو آیت دے چه شامل دے ټول سورت ته چه دا څلور صفتونه ځان کی راولئ نو دنیا او آخرت دواړه به مو ښه شی۔

ددے آیت فضائل

سیدنا عثمان رضی الله عنه فرمائی: چا چه دا آیتونه په شپه کی ولوستل نو ددهٔ دپاره به د ټولے شپے د قیام اللیل (تهجدو) ثواب ولیکلے شی۔ (سنن الدارمی: رقم: ۳۳۹٦) و تفسیر القرطبی ٤/۳۰۹)

(۲) رسول الله ﷺ به چه کله تهجدو ته راپاځیدو نو دا آیتونه به ئے د مانځه او د اوداسه نه مخکی ولوستل او آسمان ته به ئے کتل، پدے کی درے خبرے ملګری کیږی، قول، (ذکر)، فکر کول، او نظر کول۔ په سترګو به ئے آسمان ته کتل او په دماغو به ئے فکر کولو او په ژبه به ئے ذکر کولو پدے سره د الله تعالیٰ عظمت په زړه کی حاضریږی او په تهجدو کی ډیر خوند پیدا کوی۔ نو دا د تهجدو د آدابو نه دی۔

(۳) په صحیح ابن حبان کې حدیث دے عائشه رضي الله عنها فرمائي: یوه شپه رسول الله ﷺ ماسخوتن کې راغلو ما ته ئے ووېل: (یَا عَائِشَةُ ! ذَرِیْنِیْ أَتَعَبَّدُ اللَّیْلَةَ لِرَبِّیْ) ما پرېده، زۀ د خپل رب نن شپه عبادت کوم. (یعنی عامو اوقاتو کې به ئے د تهجدو په وخت کې عبادت کولو او پدے شپه د ماسخوتن نه شروع شو، زړه ئے د الله د محبت او خوف نه ډک وو) عائشه فرمائي: اَودس ئے وکړو او په مانځه باندے ودرېدو او وو ژړل تردے چه خپله غیږه ئے لمده کړه بیا ئے وژړل نو همداسے ئے ژړل تردے چه خپله ګیره ئے لمده کړه بیا ئے همداسے ژړل ژړل تردے چه زمکه ئے لمده کړه تردے چه سهار کې بلال رضي الله عنه راغے د مانځه خبر ئے ورکولو وے لیدل چه رسول الله ﷺ ژاړي نو وے فرمایل: اے د الله رسوله ! ولے دومره ژاړے (خفګان کوے) حال دا چه تا ته الله تعالیٰ مخکنی او روستنی ګناهونه بخلی دی نو وے فرمایل: (أَفَلَا أَکُوْنُ عَبْدًا شَکُوْرًا) آیا زۀ به شکر ګزار بنده نۀ جوړېږم،
بیا ئے وفرمایل: (لَقَدْ أُنْزِلَ عَلَیَّ اللَّیْلَةَ آیَةٌ وَیْلٌ لِمَنْ قَرَأَهَا وَلَمْ یَتَفَکَّرْ فِیْهَا "اِنَّ فِیْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ) الآیة کُلَّهَا) . یقیناً په ما باندے بیګاه شپه یو آیت نازل شویدے، هلاکت دے هغه چا لره چه دائے ولوستلو او پدے کې ئے فکر ونکړو. هغه دا آیت دے (ان فی خلق السموات) تر آخره پورے.

صحیح ابن حبان بتحقیق الارناووط رقم: ٦٢٠) (٢/٣٨٦) اسناده علی شرط مسلم)

که دا بنیرے په یو بنده باندے ولګی نو هغه خو هلاکیږی. رسول الله ﷺ باندے ئے ډیر اثر کړے وو دا وجه ده چه کله کله به رسول الله ﷺ د شپے درے ځله تهجدو ته رابیداریدو او په هر ځل به ئے دا آیتونه لوستل.
او په روایت د بخاري او مسلم کې د ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل دی چه رسول الله ﷺ د شپے د خوب نه بیدار شو او آسمان طرفته ئے وکتل او دا آیتونه ئے ولوستل او بیا ئے یولس رکعاته مونځ وکړو. نو پدے روایت کې د سورة آل عمران د آخري لسو آیتونو لوستلو ذکر راغلے دے او په یو بل روایت کې تر آخر د سورة آل عمران پورے ذکر راغلے دے نو ددے آیت نه تر آخره پورے یولس آیتونه دی نو په کوم روایت کې چه د لسو ذکر راغلے دے د هغے نه مراد ددے آیت نه روستنی آیتونه دی.
نو پدے آیتونو کې د الله تعالیٰ د عظمت او د هغه د تعلق خبرے دی او د مؤمنانو د زړونو جوش په کې ذکر دے چه د خپل رب سره عجیب تعلق قائموی، د جهنم نه یریږي او د خاتمے یره ورسره ده، نو مؤمنان په یوه وادی کې دی او یهودیان په بله وادی کې. نو ایمان

والو ته ترغيب ورکوی چه ځانونه دغه شان جوړ کړئ۔
خَلْقِ السَّمَاوَاتِ : آسمان او زمکه ډیر ښکاره دی پدے وجه دائے په دلیل کی ذکر کړل چه ددے عظمت او ددے خِلقت او صُنعت او ترتیب ته وګوره خپل رب به وپیژنے۔
وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ : د شپے او د ورځے د بدلیدو فائدو ته وګوره۔
لَآيَاتٍ : یعنی پدے کی ډیرے نښے او دلیلونه دی په وجود الله تعالیٰ، د هغه په عظمت او قدرت او د هغه په کمال او رحمت او حکمت او د هغه په توحید باندے۔
لِأُولِي الْأَلْبَابِ : الباب جمع د لُبٌ ده خلاصه د عقل ته وائی، یعنی هغه خالص عقل چه د نقصان د شائبی نه خلاص وی او د خبرے مغز ته رسیږی، دا عقل صرف د مؤمنانو وی او د دنیا په باره کی د کافرانو عقل هم شته ځکه چه د آسمان او د زمکے او د ورځے او شپے نه خو کافران هم فائده اخلی لیکن د خپلے خیټے او د دنیا د جوړولو فقط او ایمان والا ترے دینی او اُخروی فائدے اخلی۔ یعنی صحیح عقل والا که پدے کائناتو کی سوچ وکړی نو داسے ایمان ته به ورسیږی چه هغه به شبهات نه خوزوی او په تشکیك (د چا په شکونو اچولو) سره به نۀ ختمیږی۔ (فتح البیان)
فائده : مفسرین لیکی : د توحید دلائل په دوه قسمه دی (۱) آفاقی۔ (۲) انفسی۔ او دلائل آفاقی لوی او اُوچت دی لکه الله فرمائی : ﴿لَخَلْقُ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ أَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ﴾ (المؤمن:۵۷)د آسمانونو او د زمکے پیدائش د خلکو د پیدائش نه ډیر لوی دے) بدے وجه الله تعالیٰ دلته په آفاقو کی په فکر کولو باندے حکم وکړو ځکه چه ددے دلائل او شواهد ډیر ناشنا او لوی دی مثلًا که مونږ یوے پاڼے ته وګورو چه دا یو تیغ وو د هغے نه یوه زیله پیدا شوه بیا د هغے نه دواړو طرفونو ته نورے زیلے خورے شوے بیا د هغے نه نورے وړے زیلے خورے شی او همدغه شان روان وی چه د هرے زیلے نه زیله پیدا کیږی تردے چه دومره وړے وړے پیدا شی چه په سترګو هم نۀ ښکاری نو ددے نه معلومیږی چه ددے پاڼے په تدبیر کی پدے طریقه سره ډیر رازونه او حکمتونه دی او بله دا چه پدے کی الله تعالیٰ قوتِ جاذبه ایخودے دے چه د زمکے د بیخ نه ځانله غذا راکاږی او بیا دغه غذا په دغه رګونو کی روانه وی او هر جزء ته تقسیمیږی چه د انسان د هغے په پیژندنه کی عقل حیرانیږی او دا فیصله کوی چه واقعی الله تعالیٰ موجود ذات دے او د هغه کارونه د حکمتونو نه خالی نۀ دی او بیا ددے نسبت آسمانونو او زمکے ته واخله او په هغے کی نور مخلوقات، نمر، سپوږمۍ، ستوری وغیره۔(قاسمی ۱۹۳/۲)

الَّذِيْنَ يَذْكُرُوْنَ اللهَ قِيَامًا وَقُعُوْدًا وَعَلٰى جُنُوْبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُوْنَ
(دا) هغه كسان دي چه يادوي الله لره په ولاړه او په ناسته او په اړخونو خپلو او فكر كوي
فِيْ خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذا
په پيدائش د آسمانونو او د زمكه كي (وائي دوي) اے ربه زمونږ! نهٔ دي پيدا كړي تا دا
بَاطِلاً سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴿١٩١﴾
عبث (بي فائدے)، پاكي ده تا لره نو وساته مونږ د عذاب د اُور نه۔

تفسير : پدے آیت كي څلور صفتونه ددے ایمان والو بیانیږی (۱) د ژبي ذكر، (۲) په دماغو فكر كول۔ (۳) او بیا دعا كول (٤) او د اندامونو عبادت۔ چه دلته ئے درے حالتونه ذكر كړيدی۔

قِيَامًا وَقُعُوْدًا وَعَلٰى جُنُوْبِهِمْ : دے كي يو تفسير دا دے چه دا خاص دے د مانځه پورے۔ لكه د ابن عباس او علي بن ابي طالب رضي الله عنهم نه نقل دي چه دا په مانځه كي مراد دے آه۔ او په مانځه كي درے حالته دي، یا به ولاړ وي، یا به ناست وي یا په اړخ یعني په سجده كي وي۔ یا دا چه دا د مونځ كونكي درے حالاتو ته اشاره ده، كه روغ وي نو په ولاړه او كه لږ ناجوړه وي نو په ناسته او كه ډير ناجوړه وي نو په پرتو باندے به وي۔

لكه په حديث د بخاري كي دي چه عمران بن حصين رضي الله عنهما ته رسول الله ﷺ وفرمایل: (صَلِّ قَائِمًا فَإِنْ لَّمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا، فَإِنْ لَّمْ تَسْتَطِعْ فَعَلٰى جَنْبٍ) ۔ په ولاړه مونځ كوه كه طاقت نهٔ لرے نو په ناسته او كه طاقت نهٔ لرے نو په اړخ باندے ئے كوه۔ او مطلب دا دے چه مؤمنان هيڅكله مونځ نهٔ ضائع كوي۔

مگر عام مفسرين ليكي او قتادهؒ ته منسوب دي چه ددے درے حالاتو د ذكر كولو نه مراد د الله په ذكر هميشوالے كول دي ځكه چه د انسان همدا درے حالات وي۔ يعني ايمان والو نه به په هيڅ حالت كي الله تعالىٰ نهٔ هيريږي۔ (فتح البيان)

حكمت : په سورة يونس (۱۲) آيت كي ﴿ دَعَانَا لِجَنْبِهٖ أَوْ قَاعِدًا أَوْ قَائِمًا ﴾ راغلے دے چه هلته ئے اړخ مخكي كړيدے بيا ناسته بيا ولاړه، ددے حكمت دا دے چه دلته د مؤمن حال دے او هلته د ناشكره يا د مشرك دعا ذكر ده، يا داسے ووايه ! چه هلته د مصيبت حال ذكر دے او دلته د ذكر حالت دے۔ او په مصيبت كي اول د اړخ نه دعا شروع كوي ځكه چه

پروت وي، بیا چه مصیبت کم وي نو په ناسته او چه ښه کم وي نو بیا په ولاړه دعا کوي.
او دلته د الله د بندګئ حالت دے نو د سختے نه ئے شروع کړیده ترقي د اعلیٰ نه ادنیٰ ته.
وَيَتَفَكَّرُونَ : ذکر او فکر دواړه مُزْدَوَجَيْن (غبرګوني) دي او قرآن کریم کې دا ډیر راغلي دي، آسمان او زمکه، شپه او ورځ. صبر او تقویٰ. توکل او عبادت، حج او عمره، جهاد او هجرت. ددے دواړو د یو بل سره مناسبت وي ځکه ئے جمع کوي. نو ذکر اصل کې د زړه شے دے لیکن په ژبه باندے ترے تعبیر کیږي.
نو د بنده کمال پدے کې دے چه د فکر سره ذکر هم ملګرے کړي چه دنیا او آخرت دواړه ئے کامیاب شي. ځکه چه فکر یواځے اګرکه مفید دے لیکن فائده ئے په آخرت کې په ذکر سره حاصلیږي او ذکر اګرکه دنیا او آخرت کې فائده ورکوي لیکن دا فائده په فکر سره کامله ګرځي. په بل تعبیر: که څوك صرف فکر کوي او ذکر نۀ نو دا نیمګړے دے، صرف لذت د علم ئے واخستو نۀ د روح، او که صرف ذکر کوي او فکر ورسره نۀ وي نو لذت د روح ئے واخستو نۀ د علم. (تفسیر المنار)

د فکر فائدے

فکر ډیر اهم عبادت دے چه د اکثرو انسانانو نه ورك شویدے او زړه چه کله سخت شي نو دا عبادت ورك شي او چه زړه نرم وي نو دا عبادت زیاتیږي.
بعض سلفؒ وائي: یو ساعت په کائناتو کې فکر کول دا د یو کال د عبادت نه بهتر دے.
قرطبیؒ دا بې سنده رسول الله ﷺ ته منسوب کړیدے.
او حسن بصريؒ، ابو الدرداء او ابن عباس رضی الله عنهما فرمائي: یو ساعت فکر کول د یوے شپے د عبادت نه غوره دي. (قرطبي)
عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فرمائي: (رَكْعَتَانِ مُقْتَصِدَتَانِ فِيْ تَفَكُّرٍ خَيْرٌ مِنْ قِيَامِ لَيْلَةٍ) دوه رکعاته چه درمیانه وکړے شي په فکر سره نو دا د ټولے شپے د تهجدونه غوره دي.
(شرح السنة للبغوی۳/۲٦۱)
د ام درداء رضی الله عنها نه تپوس وشو چه د ابو الدرداء ﷺ لوی او زیات عمل څه وو؟، نو هغے وویل: كَانَ جُلُّ عَمَلِهِ الْفِكْرَةَ) د هغه زیات عمل د الله په کائناتو کې سوچ کول وو.
امام مالكؒ ته وویل شو چه آیا فکر کول د (نیك) عملونو نه یو عمل دے؟ هغه وفرمایل: (نَعَمْ، هُوَ الْيَقِيْنُ) آؤ، په فکر سره د بنده یقین پیدا کیږي. (او په دین باندے مضبوطیږي)

بعض سلف (حسن بصریؒ) وائی : اَلْفِکْرَۃُ مِرْآۃٌ تُرِیْكَ حَسَنَاتِكَ وَسَیِّئَاتِكَ) فکر داسے شیشه ده چه تا ته ستا نیکیانے او بدیانی راښکاره کوی۔ (قرطبیؒ)

ابن عون رحمه الله فرمائی: (اَلْفِکْرَۃُ تُذْهِبُ الْغَفْلَةَ وَتُحْدِثُ لِلْقَلْبِ الْخَشْیَةَ کَمَا یُحْدِثُ الْمَاءُ لِلزَّرْعِ النَّبَاتَ وَمَا جُلِیَتِ الْقُلُوْبُ بِمِثْلِ الْأَحْزَانِ وَلَا اسْتَنَارَتْ بِمِثْلِ الْفِکْرَۃِ) (فکر د انسان غفلت ختموی او زړه ته خشیت (یره) ورکوی لکه اُوبه چه ګیاه راټوکوی او زړونه د غمونو په وجه صفا کیږی او د فکر په وجه روښانه کیږی۔ (معالم التنزیل للبغوی ۲/۱۵۲)

فائده ۲ : امام قرطبیؒ د ابن عربیؒ نه نقل کړیدی چه پدیے کی اختلاف دیے چه کوم عمل زیات بهتر دیے، فکر او که نفلی مونځ؟۔ نو صوفیاء وائی چه فکر افضل دیے د مانځه نه ځکه چه پدیے سره د الله معرفت حاصلیږی او دا په شرعی مقاماتو کی افضل کار دیے۔ او فقهاء وائی چه مونځ افضل دیے ځکه چه په احادیثو کی دیے باندیے تیزی او ترغیب راغلے دیے۔

بیا قرطبیؒ فیصله کړیده چه رسول الله ﷺ دواړه راجمع کړیدی هغه به د شپے تهجدو ته راپاڅیدو نو دا آیتونه به ئے لوستل اوفکر به ئے کولو او بیا به ئے مونځ کولو۔

نو د صوفیاؤ دا خبره کول چه فکر د مانځه نه هم غوره دیے او کله بی اودسه مونځونه کوی نو دا طریقه د احادیثو نه وړاندیے ده او په دین کی الحاد او غلو کول دی۔

فکر به په څه کی کولے شی؟

۱ - نو دلته د فکر یو محل ذکر شو چه هغه په کائناتو کی فکر کول دی او د قرآن د نورو مواضعونه معلومیږی چه نور فکرونه هم شته۔

۲ - اَلْفِکْرُ فِی الْقُرْآنِ۔ په قرآن کریم کی او ددیے په حقانیت کی فکر کول۔

۳ - اَلْفِکْرُ فِیْ یَوْمِ الْقِیٰمَةِ۔ چه قیامت راروان دیے د هغے دپاره مونږ څومره تیاریے کړیدیے

٤ - اَلْفِکْرُ فِی الْاَوَامِرِ۔ د الله په حکمونو کی فکر کول چه آیا دا مونږ څومره عملی کړیدی۔ ۵ - اَلْفِکْرُ فِی النَّوَاهِیْ۔ په ګناهونو کی فکر کول۔

(٦) اَلْفِکْرُ فِی الْأَوْقَاتِ۔ په وختونو کی فکر کول چه عبث تیر شو او که نهٔ۔

(٧) د اسلام د غلبے دپاره فکر کول وغیره وغیره۔

علماء کرامؒ فرمائی : فکر اولنئ پوړئ د تقویٰ ده چه انسان ددیے په وجه تقویٰ ته رسیږی۔ (مَنْ جَعَلَ الْهُمُوْمَ هَمًّا وَاحِدًا) که د چا فکر صحیح شی نو ګناهونو باندیے به نهٔ اوړی او که

ښه فکر کوي نو تقویٰ ته به رسیږي۔
زړه چه جوړ وي نو ښه فکرونه ورته راځي۔ د ډیرو انسانانو فکرونه په شهواتو او د دنیا په حاصلولو کې وي۔ شیطان کله بنده په دومره فکرونو کې بوخې چه هسې به غصه کې راشي هیڅ سبب به نهٔ وي۔
که یو انسان ځان تلې نو پدې طریقه چه حسن بصریؒ وئیلي دي : که ستا زړه په درې وختونو کې الله تعالیٰ طرفته متوجه کیدو نو زړه دې جوړ دې او که نهٔ وي د خپل زړه علاج وکړه او د الله نه بل زړه وغواړه : (۱) عِنْدَ تِلَاوَةِ الْقُرْآنِ ۔ کله چه قرآن لولې۔ (۲) فِي الصَّلَاةِ۔ په مانځه کې۔ (۳) فِي الْخَلْوَةِ۔ چه یواځې ځای کې کینې)۔

په آسمانونو او زمکه کې د فکر طریقے

(۱) هیڅ شے خپل ځان ته وجود نشي ورکولے بلکه هر شے په خپل وجود کې بل ته محتاج دے نو ددے نه معلومه شوه چه د ټول عالَم پیدا کونکے ضرور د ټول عالَم (ټولو ممکناتو) نه بهر دے چه ازلي او ابدي موجود دے او هر شي ته ئے وجود ورکړیدے او ورکوي ئے۔
(۲) په آسمانونو او زمکه کې د علم خاوندان شته نو معلومه شوه چه پیدا کونکے ئے علم لري، د ارادے خاوندان شته نو اراده لري که بالفرض پخپله ئے علم او اراده نهٔ لرلے نو په مخلوقاتو کې به ئے آثار نهٔ وے ښکاره شوي۔
(۳) هرکله چه الله تعالیٰ د عالَم خالق دے او هغه علم او اراده لري نو ضرور د عالَم پیدا کول بې حکمته نهٔ دي نو یوه ورځ به راشي چه د دنیا پروګرام به ختم شي او د هر چا سره به حساب وکړے شي۔
رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ : اَیْ یَتَفَكَّرُوْنَ قَائِلِیْنَ رَبَّنَا ۔ فکر کوي په داسې حال کې چه داسې نتیجه راوباسي او وائي چه اے ربه زمونږ الخ۔ (قاسميؒ)
هٰذَا : دا اشاره ده خَلق ته چه په معنیٰ د مخلوق سره دے۔ یا آسمانونو او زمکے ته۔ یا مذکور څیزونو ته۔
بَاطِلًا : دا فاعل په معنیٰ د مصدر دے لکه د عاقبة او عافیة په شان یعنی عبث۔ یا حال دے یعنی (مَا خَلَقْتَ هٰذَا خَالِیًا عَنْ حِكْمَةٍ) دا تا نهٔ دي پیدا کړي چه د حکمت نه خالي وي۔
د باطل دوه معنے دي (۱) اَلَّذِیْ لَایَدُلُّ عَلٰی وُجُوْدِ الْخَالِقِ وَعَظْمَتِهٖ وَكَمَالِهٖ) هغه شے چه د

خالق په جود او د هغه په عظمت او کمال باندے دلالت نۀ کوی چه دا د عبث معنیٰ ده۔
(۲) دویم باطل : اَلَّذِیْ لَایُؤْمَرُ وَلَایُنْهٰی) هغه شے چه هغه ته امر او نهی نۀ وی۔ یعنی چه په آسمان او زمکه کی امر او نهی هیچا ته نۀ وی داسے نۀ دی۔ او دا معنیٰ دلته د روستو سره ډیره مناسبه ده یعنی دا یو مقصد له پیدا دی چه هغه ستا بندګی ده که څوك دغه بندګی ونکړی نو ته ورته غصه کیږے او تا د غضب او غصے یو ځای پیدا کړیدے چه هغه اُور دے او څوك چه ستا طاعت وکړی نو تا د نعمتونو ځای پیدا کړیدے چه هغه جنت دے نو اے ربه ! مونږ ستا د اُور نه بچ وساته۔
سُبْحَانَكَ : یعنی کوم خلك چه دا عقیده ساتی او تا ته د عبث نسبت کوی نو د هغے نه ستا جناب پاك دے۔ او تۀ به داسے خلکو ته سزا ورکوے نو مونږ د خپل اُور نه وساته۔
فائده ۲ : فی خلق السموات آه کی اشاره ده چه د الله په ذات کی فکر کول منع دی او ددے په باره کی قاسمیؒ د ابن ابی حاتمؒ په حواله د عبد الله بن سلام ﷺ نه روایت نقل کړیدے : (لَاتَفَكَّرُوْا فِی اللّٰهِ وَلٰكِنْ تَفَكَّرُوْا فِیْمَا خَلَقَ) تاسو د الله په ذات کی فکر مۀ کوئ لیکن د هغه په مخلوق کی فکر وکړئ۔ قاسمیؒ وائی چه ددے روایت دپاره ډیر شواهد دی۔ او دارنګه د الله په ذات کی فکر کولو سره کله کله وسوسے پیدا کیږی۔
مګر په کتاب العظمة ص (٤) کی دا حدیث په صحیح سند سره ذکر دے انظر الفوائد (٢٠٤/٢)

رَبَّنَا إِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُ
اے ربه زمونږ! یقیناً ته چه چا له داخل کړے اُور ته نو یقیناً وشرمولو تا هغه لره
وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ أَنْصَارٍ ﴿۱۹۲﴾
او نشته ظالمانو لره هیڅوك مددګاران۔

تفسیر : یعنی دوزخ ته داخلیدل لکه څنګه چه عذاب دے نو ددے سره سره لویه شرمندګی هم ده نو لکه څنګه چه مونږ د عذاب نه پناه غواړو نو د شرمندګئ او رسوایی نه هم په تا باندے پناه غواړو دا دواړه خو د ظالمانو دپاره مقرر شویدی نو مونږ ته توفیق راکړه چه د ظالمانو په ډله کی رانشو چه په دغه ورځ باندے دوی سره به هیڅوك مددګار نۀ وی۔

فَقَدْ أَخْزَيْتَهُ :اَیْ فَلَا تُخْزِنَا فِیْهِ۔ نو مونږ په دغه ورځ د شرم او رسوایی نه بچ وساته۔
أَخْزَيْتَهُ : اخزاء : د خِزْیٌ یا خِزَایَةٌ نه دے ددے نه مراد هلاکول، یا سخت شرمنده کول او سخت ذلیله کول دی۔

بیا ځینی مفسرینو وئیلی دی چه دلته د اُور ته د داخلیدونکو خلکو نه مراد هغه دی چه په اُور کی همیشه دپاره پاتی وی یعنی کافران او دلیل دا دے چه روستو ظالمان ذکر دی او دا ځکه چه گنهګار مؤمنان په عارضی طور سره جهنم ته د ادب ورکولو دپاره داخلیږی نهٔ د شرمولو دپاره۔ مگر ظاهر دا ده چه ټول جهنمیان شرمنده او خجالته دی البته د کافرانو شرمندګی همیشه ده او د گنهګارو مؤمنانو شرمندګی موقته او لږ وخت دپاره ده۔

وَمَا لِلظَّالِمِيْنَ مِنْ أَنْصَارٍ : ذهن ته سوال راغلو چه جهنم ته داخلول او شرمول به ظلم وی نو الله فرمائی چه دا جهنمیان چه اُور ته داخل شو او شرم ورته ورسیدو نو ددے وجه د دوی ظلم او شرك وو، الله تعالیٰ په دوی ظلم کونکے نهٔ دے او الله جهنم ته ظالمان بوځی۔ او پدے کی دے ته هم اشاره ده چه الله تعالیٰ کله په جهنمیانو د اُور فیصله وکړی نو بیا به ددے ظالمانو دپاره د دوی بتان، باطل معبودان، باباګان پیر او مرشد هیڅ مدد نشی کولے۔

رَبَّنَا إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُنَادِيْ لِلْإِيْمَانِ
اے ربه زمونږ! یقیناً مونږ واوریدو د یو آواز کونکے نه چه آواز ئے کولو ایمان طرف ته
أَنْ آمِنُوْا بِرَبِّكُمْ فَآمَنَّا رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا
چه ایمان راوړئ په رب خپل باندے نو مونږ ایمان راوړو اے ربه زمونږ! نو وبخه مونږ ته
ذُنُوْبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّئَاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الْأَبْرَارِ﴿۱۹۳﴾
گناهونه زمونږ او اُورژوه مونږ نه گناهونه زمونږ او وفات کړه مونږ سره د نیکانونه۔

تفسیر : دا دریمه دعا ده، مخکی د توحید او د شرك نه د بچ کیدو بیان وو اُوس په رسول الله ﷺ او په قرآن کریم باندے ایمان ذکر کوی او دا وسیله ګرځوی دپاره د بخنے د گناهونو۔

ربط: مخکی تفکر (فکر کول) وو په عقلی دلیلونو کی اُوس تفکر دے په نقلی (سمعی) دلیلونو کی۔

سَمِعْنَا مُنَادِيًا : دلته د سماع څیز نهٔ دے ذکر نو هغه د روستو (يُنَادِيْ لِلْإِيْمَانِ) نه

معلومیږي یعنی مونږ واوریدو (آواز) د آواز کونکی۔
(۱) د مُنادي (آواز کونکی) نه مراد محمد رسول الله ﷺ دے چه هغه د ایمان داعي دے،
(ابن مسعود، ابن عباس رضی الله عنهم)
د رسول الله ﷺ په هره خبره کې د ایمان دعوت دے که هغه انما الاعمال بالنیات حدیث وئیلے دے پدے کې هم د ایمان دعوت دے، که د مانځه او د اوداسه خبرے وي هغه هم ایمان ته دعوت دے لکه یا به د الله د ذات یا د هغه د حقوقو خبره وي نو الله ته به دے راکاږي۔
د رسول الله ﷺ آواز اګرکه مونږ نهٔ دے آوریدلے لیکن د هغه د سنتو آواز مو آوریدلے دے۔
(۲) قتادهؒ او محمد بن کعبؒ وائي : منادي : قرآن کریم ته وائي چه قرآن کریم سراسر ایمان طرفته دعوت ورکړیدے۔
فَآمَنَّا : یعنی مونږ دغه شرعي ایمان راوړے نو دغه درته وسیله کوو چه مونږ ته بخنه وکړه الخ۔
فائده ۱ : کله چه انسان کې صحیح ایمان راشي نو بیا د ګناه بدي ورته ښه معلومه شي، ګناه ورته د زهرو نه زیاته سخته ښکاري۔ عبد الله بن مسعود ؓ فرمائي: مؤمن ته ګناه داسے ښکاري لکه غرئے چه په سر باندے پروت وي او منافق ته داسے ښکاري لکه مچ ئے په پوزه ناست وي او وائے لوزوي۔
فائده ۲ : پدے آیتونو کې پنځه ځل (ربنا) لفظ استعمال دے، جعفر صادق رحمه الله وئیلي دي چه چا ته یو مصیبت ورسیدو او پنځه ځله ئے (ربنا) ووئیل نو ضرور به ئے الله دغه حاجت پوره کړي او دا آیتونه ئے ولوستل چه دلته الله تعالیٰ ددے مؤمنانو حاجت پوره کړیدے (فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ) نو ستا به هم پوره شي دا د الله په نومونو باندے توسل دے۔

د فاغفر لنا او وکفر عنا مصداقونه

فَاغْفِرْ لَنَا : دے ته دفع المفاسد وائي یعنی د ګناه ضررونه راته مهٔ رارسوه او (توفنا مع الابرار) دے ته جلب المنافع وائي یعنی فائدے راکړه۔
دویم : (فاغفر لنا ذنوبنا) کې لوی ګناهونه مراد دي او تکفیر السیئات کې واړه ګناهونه دي۔

د غفران او تکفیر ترمینځ فرق

فاغفر : د مغفرة نه دے په اصل کې پټولو ته وئیلے شي او کفر د تکفیر نه دے او تکفیر د

کفر نه دے چه دا هم په معنیٰ د پټولو سره دے، دهقان ته کافر وائی ځکه چه د تخم دانے په زمکه کی پټوی (مفردات راغب ۴۵۱)
نو پدے معنیٰ باندے د دواړو یو مطلب دے او دا دواړه ئے جمع کړل ځکه چه دا مقام د سوال او دعا دے او په داسے مقام کی ډیره عاجزی پکار ده پدے وجه ئے تکرار وکړو۔
۲- ځینی وائی چه غفران او مغفرت هغه بخښنی ته وائی چه الله ئے په خپل فضل او کرم سره وکړی او بنده ئے څه بدله نهٔ وی اداکړی او تکفیر هغه بخښنی ته وائی چه بنده د خپلے گناه څه بدله ادا کړی لکه د قتل کفاره، د قسم او د ظهار کفاره وغیره۔ (زاد المسیر ۲/۷۳)
او دا قول ددے الفاظو د اصل معنیٰ سره زیات مناسب دے۔
وَتَوَفَّنَا مَعَ الْأَبْرَارِ : دے ته حسن الخاتمه وائی یعنی ددے مؤمنانو سره د خاتمے د ښه کیدو غم دے۔ یعنی کله چه مونږ باندے وفات راځی نو د نیکانو په صفت مو وفات کړه چه نیکان تا ته په کوم صفت د تقویٰ او نیکئ او ایمان باندے درځی مونږ باندے هم دغه حالت راولہ۔ او دا مطلب نهٔ دے چه کله نیکان وفات کیږی نو مونږ ورسره په دغه وخت کی یو ځای کړه، د مرگ سوال نهٔ کوی۔
دویم د معیت معنیٰ ده: په برزخ او جنت کی د ابرارو سره ملگرے کیدل یعنی چه د نیکانو سره مو روحونه یو ځای شی۔ یعنی مونږ وفات کړه په داسے حال کی چه زمونږ روحونه د نیکانو سره ملگری شی۔ یا مَعْدُوْدِيْنَ وَمَحْشُوْرِيْنَ مَعَ الْأَبْرَارِ ۔یعنی مونږ شمار کړه او راپورته مو کړه د نیکانو سره۔ (فتح)
الابرار: جمع د بَارٌ یا د بَرٌّ ده په معنیٰ کی ئے وسعت او فراخی پرته ده یعنی هغه څوك چه نیك كارونه ئے په فراخئ سره (زیات) وی۔ یعنی ډیر نیك۔ یا معنیٰ دا چه الله تعالیٰ دهٔ ته خپل رحمت فراخه کوی۔ (فتح البیان) روستو نورے معانی راځی ان شاء الله۔

رَبَّنَا وَآتِنَا مَا وَعَدْتَّنَا عَلٰى
اے ربه زمونږ! او راکړه مونږ ته هغه څه چه وعده کړیده تا مونږ سره په (ژبه د)
رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ﴿۱۹۴﴾
رسولانو ستا او مهٔ شرموه مونږ لره په ورځ د قیامت، یقیناً ته خلاف نکوے د وعدے نه۔

تفسیر: دا څلورمه دعا ده چه پدے کی د جنت سوال کوی، اے الله! د رسولانو په ژبه چه

تا کومه وعده کړې وه چه په تا او ستا په رسولانو څوك ايمان راوړي او ستا طاعت كوي نو هغوي ته به ښائسته بدله ورکوې او ستا دا وعده هم وه ﴿يَوْمَ لَا يُخْزِى اللهُ النَّبِيَّ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ﴾ چه الله به د قيامت په ورځ خپل نبي او مؤمنان نۀ رسوا کوي)) نو نن زمونږ دعا قبوله کړه او د قيامت په ورځ مونږ مۀ رسوا کوه۔

عَلٰى رُسُلِكَ : دلته د (اَلْسُنِ) لفظ پټ دے یعنی چه تا مونږ سره د رسولانو په ژبو وعده کړیده۔

سوال دا دے چه الله تعالیٰ چه د رسولانو په ژبه کومه وعده د جنت کړیده هغه به خامخا پوره کیږی نو د سوال کولو څه فائده ده ؟

(۱) **جواب** دا دے چه دلته مقصد دا دے چه (وَاجْعَلْنَا مُسْتَحِقِّيْنَ لِمَا وَعَدْتَنَا) مونږ د هغه وعدے مستحق وګرځوه کومه چه تا د خپلو رسولانو په ژبه کړیده۔ یعنی مونږ ته د ايمان او د نيك اعمالو توفيق راکړه چه د هغے په وجه ستا د نيکو بدلو مستحق وګرځو۔

(۲) **جواب** : الله تعالیٰ دغه وعده په اسبابو سره کړیده چه دا وعده به زۀ پوره کوم خو تاسو به اسباب تياروئ، او د دغه اسبابو نه يو سبب دعا دے چه دا دعا بنده وغواړي نو الله تعالیٰ جنت ورکوی۔ لکه نبی کريم ﷺ یقيني جنتی دے ليکن مونږ ورله دعا کوو (وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُوْدًا نِ الَّذِیْ وَعَدْتَهٗ) ۔ اے الله ! مقام محمود ورکړه)۔ وجه دا ده چه الله تعالیٰ د جنت دپاره مختلف اسباب ليکلی دی يو په هغے کی دا ده چه امت به ورته دعا کوی۔ نو دا خبره خطاء شوه چه څوك وائی يا به دا شے ما له الله تعالیٰ ليکلے وی نو هسے به ئے هم راکوی يا به ئے نۀ وی ليکلے نو دعا څه له کوم؟ دا بی ځايه خبره ده او د هغه چا خبره ده چه د تقدير په حقيقت نۀ دی پوهه شوی۔

(۳) يا دا دعا په طريقه د عبادت او خضوع سره شويده ځکه چه دعا د عبادت مغز دے او انتهائی عاجزی ده الله تعالیٰ ته لکه د (قَالَ رَبِّ احْكُمْ بِالْحَقِّ) اے الله ! فيصله وکړه په حق سره۔ او الله تعالیٰ خو په حق سره خامخا فيصله کوی۔

(٤) يا ددے مصداق خاص دے چه هغه په دشمنانو باندے په جلتئ سره مدد او غلبه حاصلول دی ځکه چه دا د صحابه کرامؓ د حال نه حکایت دے چه دوی د الله نه دا غلبه وغوښتله دے دپاره چه دين عزتمند او غالبه شی۔ (حاشية فتح البيان ۲/۴۰۳)

مَا وَعَدْتَنَا : ددے نه مراد جنت هم دے او ټولے هغه وعدے دی چه الله تعالیٰ په ايمان باندے کړيدی چه هغه په قرآن او حديث کی تقريباً سل وعدے دی۔

وَلَا تُخْزِنَا: یعنی داسے مهٔ کوه چه مونږ کافرانو سره یو ځای اُور ته روان یو ځکه چه هغوی به وائی چه تاسو خو ځان ته مسلمانان وئیل او مونږ سره اُور ته روان یئ نو اے الله ! د هغوی د شرم او پیغور نه مو وساته. پدے کی منافقانو ته اشاره ده چه دوی په ظاهره کی مسلمانان وو، جهاد ته هم ځی، مونځونه هم کوی لیکن په زړه کی کافران وو اُور ته به روان وی.

دا جمله ئے ورسره ذکر کړه ځکه چه جنت ته داخلیدل دوه قسمه دی یو دا چه د اول نه جنت ته لاړ شی بغیر د عذاب څکلو نه، او دویم دا چه د گناهونو په وجه جهنم ته لاړ شی بیا به راوځی نو مؤمنان سوال کوی چه اے الله ! مونږ د اول نه جنت ته داخل کړه او د شرمندگئ نه مو وساته.

دا دعا د الله تعالیٰ ډیره خوښه شویده نو یو ئے قرآن کریم کی رانقل کړیده او بل ئے د استجابت اعلان کړیدے.

فائده : پدے آیتونو کی د مؤمن انسان څلور غمونه ذکر کړل (۱) د جهنم غم، (۲) د گناهونو غم (۳) د حسن الخاتمے غم. (٤) د قبول الاعمال غم. لکه په ﴿وَآتِنَا مَا وَعَدْتَنَا﴾ کی ورته اشاره وشوه، نو دا څلور څیزونه دی چه د مؤمن دپاره خوشحالی نهٔ پریدی، د اُور غم، د گناهونو غم، او د خاتمے غم، او د اعمالو د قبلیدو غم، هر مؤمن پکار ده چه داسے وی.

یحیی بن معاذ وئیلی دی: (أَرْبَعٌ لَمْ يَدَعْنَ لِلْمُؤْمِنِ فَرَحًا : هَمُّ الْمَعَادِ، وَهَمُّ الْمَعَاشِ، وَهَمُّ الذُّنُوبِ وَإِلْمَامُ الْمَصَائِبِ) . څلورو څیزونو د مؤمن خوشحالی نهٔ ده پریښے، د آخرت غم، د ژوند غم، د گناهونو غم، او د مصیبتونو د راتللو غم.

فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ
نو (دعا) قبوله کړه دوی لره رب د دوی چه بیشکه زهٔ نهٔ ضائع کوم عمل د یو عمل کوونکی
مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ بَعْضُكُم مِّن بَعْضٍ فَالَّذِينَ
ستاسو نه که نارینه وی یا زنانه، بعضے ستاسو د بعضو نه دی، نو هغه کسان
هَاجَرُوا وَأُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ وَأُوذُوا
چه هجرت ئے کړیدے او ویستلے شویدی د کورونو خپلو نه او ضرر ورکړے شویدے دوی ته
فِي سَبِيلِي وَقَاتَلُوا وَقُتِلُوا لَأُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ
په لاره زما کی او جنگونه ئے کړیدی او وژلے شویدی خامخا ویه رژوم د دوی نه گناهونه د دوی

وَلَأُدْخِلَنَّهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ثَوَابًا

او خامخا داخل به کړم دوی لره جنتونو ته چه بهیږی به لاندے د هغے نه ولے، بدله ده

مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ عِنْدَهُ حُسْنُ الثَّوَابِ ﴿۱۹۵﴾

د طرفه د الله نه او الله چه دے د هغه سره ښائسته بدله ده۔

تفسیر : پدے آیتِ کریمه کی الله تعالیٰ خبر ورکړیدے چه ددے مؤمنانو دعا الله قبوله کړه او هغوی ته ئے زیرے ورکړو چه زۀ د خپل هیڅ بنده عمل نۀ ضائع کوم، برابره ده چه سړے وی او که ښځه۔ او پدے کی د الله مهربانی او احسان ذکر دے چه د بنده د عمل قدر کوی چه نیك عمل وی نو په هغے باندے ډیرے عجیبے بدلے ورکوی، د آخرت خصوصًا او د دنیا بدلے هم ورکوی لیکن د هغے تذکره ځکه نۀ کوی چه دنیا معمولی ده۔

ترمذیؒ، حاکمؒ (۲/۳۰۰) او سعید بن منصورؒ د ام سلمه رضی الله عنها نه روایت کړیدے چه هغوی رسول الله ﷺ ته اُووئیل چه اے د الله رسوله ! د هجرت ذکر کولو سره الله تعالیٰ د ښځو نوم نۀ دے اخستے ؟ نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو : ﴿ اَنِّیْ لَا اُضِیْعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنْكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى بَعْضُكُمْ مِّنْ بَعْضٍ ﴾ چه سړے وی او که ښځه زۀ د هیچا اجر نۀ ضائع کوم۔ ﴿فَالَّذِیْنَ هَاجَرُوْا ﴾ نه آخر پورے د عامل د عمل تفصیل دے۔

ربط : مخکی د مؤمنانو حال وو د خپل رب سره اُوس د رب حال دے د مؤمنانو سره چه هغوی ته به مهربانیانی ورکوی۔ او پدے کی د مؤمنانو نور پنځه صفات بیانوی۔

د اجابة او استجابة فرق

فَاسْتَجَابَ : استجابت هغه قبلولو ته وئیلے شی چه په هغے سره مقصد حاصل شی۔ او اجابت مطلق جواب ورکولو ته وائی برابره خبره ده چه د منلو جواب وی او که د نۀ منلو جواب۔ (فتح القدیر للشوکانی)

سوال وجواب

سوال : که څوك ووائی چه د سوال د قبلولو خبره په ﴿ فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ ﴾ سره پوره شوه نو پدے کی څه حکمت دے چه الله تعالیٰ همدغه مضمون د آیت د آخره پورے اُوږد بیان کړو؟۔ (۱) جواب دا دے چه یو پدے کی اشاره ده چه د سوال د قبلولو ښه ذریعه د هغے سره نیك عمل کول دی نو پدے کی دعوت دے چه پکار ده چه بنده یوائے په قول باندے

اکتفاء ونکړي بلکه عمل هم ورسره ملګرے کړي نو سوال به ئے ښه قبول شي۔
(۲) دارنګه دے ته هم اشاره ده چه د الله په نیز باندے انسان ته عزت او اکرام په نیکو صفاتو ملاویږي، دا د چا ذاتي صفت نهٔ دے بلکه هر چا کي چه تقویٰ او نیك اعمال راغلل نو هغه ته به عزت ملاویږي که هغه نر وي او که ښځه ځکه چه ټول انسانان د الله په نیز باندے په انسانیت او نسب کي برابر دي، د آدم علیه السلام اولاد دي۔
(۳) دارنګه اشاره ده چه هر ځوك اګرکه زنانه وي هم نیغ په نیغه په غیر د واسطے نه د الله نه حاجتونه غوښتے شي۔ (٤) پدے کي د دغه پنځو (هجرت، د کور نه ویستل، د الله په لار کي تکلیفونه برداشت کول، جهاد کول، او شهید کیدل) عملونو تذکره ددے دپاره شویده چه بنده پو هه شي چه دغه عملونه په نیك اعمالو کي ډیر بهتر دي او د سوال په قبلیدو کي ډیر لوی اثر لري۔ (عزيز التفاسير)
او اصل وجه دا ده چه مؤمنانو د عملونو د قبلیدو دعا کړے ده او الله تعالیٰ هم د عملونو د قبولیت جواب ورکړو۔ لکه (آمنا، وتوفنا، وآتنا ما وعدتنا على الاعمال)۔

الله تعالیٰ ولے نیك عمل نهٔ بربادوی؟

أَنِّي لَا أُضِيعُ : یعنی ستاسو هیڅ یو نیك عمل نهٔ بربادوم، نهٔ ایمان، نهٔ ذکر او نهٔ فکر او نهٔ دغه دعا او نهٔ نور نیك اعمال، الله تعالیٰ ولے نیك عمل د چا نهٔ بربادوی؟ (۱) وجه دا ده لِكَمَالِهٖ۔ ځکه چه په الله کي کمال دے، (۲) لِرَحْمَتِهٖ: بله دا چه د الله رحمت او مهرباني زیاته ده او (۳) لِشُكْرِهٖ، بله دا چه په الله کي د شکر صفت دے چه هغه د عمل قدر پیژني، ډیر انسانانو دپاره عمل وکړے شي خو هغه د عمل قدر نهٔ پیژني او نهٔ پکي رحم وي۔
(٤) وَلِأَنَّهٗ يُحِبُّ الْخَيْرَ۔ بله وجه دا ده چه الله تعالیٰ کي د محبة او کراهة صفت دے چه ځیني ځیزونه ښه ګڼري او بعض ځیزونه بد ګڼري نو د بندګانو نیك عمل الله تعالیٰ ته زیات محبوب دے نو د هغے ډیرے بدلے ورکوی لکه دا وجه به په ﴿أَمْ نَجْعَلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَالْمُفْسِدِينَ فِي الْأَرْضِ أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ كَالْفُجَّارِ﴾ (ص: ۲۸) آیت کي راشي ان شاء الله تعالیٰ۔
حکمت : الله تعالیٰ دلته جواب ورکړو د عمل په قبلولو، وجه دا ده چه د ټولو انعاماتو نه لوی نعمت دا دے چه د بنده عمل د الله په دربار کي قبول شي چه پدے سره د دنیا او د آخرت فائدے حاصلیږي، دا ښائسته جزاء ده پدے وجه ئے دا ذکر کړه۔

مِّنۡ ذَكَرٍ أَوۡ أُنۡثٰى : د الله په قانون کی سړے او ښځه یو شے دے، د هغه په بندګیانو او بدلو او په ایمان کی او د آخرت په لحاظ یو شان دی، ځکه چه دواړه انسانان دی البته د دنیا په بعض احکامو کی الله تعالیٰ فرق کړیدے هغه د نظام د چلولو دپاره لکه روستو سورة النساء کی به راشی چه د زنانو میراث ئے کم کړیدے او د سړو زیات، او د سړو دپاره ئے څلور ښځے جائز کړیدی او د ښځے دپاره نهٔ. ښځے دپاره ئے مهر وئیلے دے، نهٔ د سړی دپاره، چه د هغے حکمتونه به روستو سورت کی راځی ان شاء الله تعالیٰ.

او ددے آیت نه معلومیږی چه زنانه ته الله تعالیٰ په اسلام کی ډیر لوی قدر ورکړیدے په داسے حال کی چه د اسلام نه مخکی تولو امتونو د ښځو حقوق هضم کړی وو او دا به ئے د چارپیانو په شان ګڼړله.

او پدے کی ښځو ته دعوت دے چه تاسو په دعوت او د دین په کارونو کی د سړو سره شرکت وکړئ. (فتح البیان)

بَعۡضُكُم مِّنۢ بَعۡضٍ : (۱) بعض ستاسو د بعضو نه دی په جنس کی، یعنی یو شان انسانان دی چه د یوے خاورے نه پیدا دی. (۲) دویم بعض ستاسو د بعضو نه دی په ایمان کی، دواړو کی ایمان شته او دا د الله تعالیٰ قانون دے چه فرق بین المتماثلین نهٔ کوی (یعنی چه دوه څیزونه یو شان وی د هغے ترمینځ فرق نکوی) نو که د ښځے زړه د الله د محبت نه ډک وی او د سړی هم یو شان نو الله تعالیٰ ئے په بدلو کی فرق نکوی. نو دا د الله تعالیٰ مهربانی شوه چه سړو او ښځو دواړو ته شامل ده چه الله تعالیٰ ئے نهٔ بربادوی.

فائده : دا آیت هم ډیر د زیری آیت دے چه د هیچا نیك عمل الله تعالیٰ نهٔ بربادوی لکه یو حدیث هم د ډیر زیری نه ډك دے. ابو الدرداء رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ دا ارشاد نقل کوی چه هغه فرمایلی دی : (مَنۡ زَحۡزَحَ عَنۡ طَرِيقِ الۡمُسۡلِمِينَ شَيۡئًا يُؤۡذِيهِمۡ كَتَبَ اللّٰهُ لَهٗ بِهٖ حَسَنَةً وَمَنۡ كَتَبَ اللّٰهُ لَهٗ عِنۡدَهٗ حَسَنَةً أَدۡخَلَهُ اللّٰهُ بِهَا الۡجَنَّةَ)

(احمد ۲۷۵۱۹) وسنده حسن لغیره - البانی، الصحیحة ۵/۳۸۶)

چا چه د مسلمانانو د لارے نه داسے څیز جدا کړو چه هغوی ته تکلیف ورکوی نو الله به هغه لره یوه نیکی ولیکی او د چا چه یوه نیکی د الله په دربار کی ولیکلے شی نو الله به ئے د هغے په سبب جنت ته داخل کړی). نو په یوه قبوله شوے نیکئ باندے هم انسان ته جنت ملاویږی.

فَالَّذِينَ هَاجَرُوا : دے ته تخصیص بعد التعمیم وائی یعنی الله د هیڅ یو مؤمن عمل هم

نـهٔ بربادوی خصوصاً د مهاجرینو، مجاهدینو اعمال به نهٔ بربادیږي ځکه چه دا ډیر قیمتی اعمال دي، او دا د دعا په قبلیدو کی ډیر مؤثر دي۔ (فتح البیان)

او ددے تخصیص ئے پدے وجه هم وکړو چه پدے سورت کی د جهاد موضوع وه، (بدر او اُحد) پکی ذکر دي نو ددے سره مناسب ئے دا اعمال ذکر کړل۔

وَأُخْرِجُوا : **سوال** : آیا هجرت او د کور نه ویستل یوه معنیٰ نهٔ ده ؟۔

جواب : هجرت دے تـه وائی چه سړے د خپـل اصلی وطن نه لاړ شی او په بل فرعی وطن کی ځای ونیسی او د کور نه ویستل عام دي چه بل فرعی وطن کی ئے ځای نیولے وی لکه عام صحابه کرام رضی الله عنهم چه په مدینه منوره کی دیره شول او یا ئے نهٔ وی نیولے لکه ابوجندل او ابو بصیر رضی الله عنهما چه د مکے نه ویستلے شو خو بل چرته وطن ئے نهٔ وو نیولے بلکه در په در ګرځیدل۔ (عزیز)

یا بعض صحابه کرامو د رسول الله ﷺ د خدمت دپاره په خپله خوښه هجرت کړے وو او ځینی پکی کافرانو مجبوره کړی وو۔ (المنار والرازی)

(۲) یا (وَأُخْرِجُوا) عطف تفسیر دے او مطلب دا دے چه د دوی دا هجرت د مجبورتیا په وجه شویدے چه کافرانو په ویستلو مجبوره کړیدی۔

بعض مفسرین وائی چه دا د صحابه کرامو مختلفو احوالو ته اشاره ده چه څوك په هجرت مجبوره شوی وو او څوك په زوره ویستلے شوی وو او څوك په مکه کی پاتی وو لیکن د سختو تکلیفونو سره مخامخ وو او څوك غازیان او څوك شهیدان وو۔ (المنار)

وَأُوذُوا : ایذاء (تکلیف ورکول) اخراج (ویستلو) ته هم شامل ده او نورو ظلمونو ته هم، او د (فِیْ سَبِیْلِیْ) نه مراد عبادت او د الله دین دے۔ او دا تکلیفونه ئے سبب د ویستلو دے۔

فِیْ سَبِیْلِیْ : اَیْ مِنْ اَجْلِهٖ وَسَبَبِهٖ) یعنی زما د رضا په وجه او سبب سره ورته تکلیف ورکړے شوے وو۔

وَقَاتَلُوا: دا بله طریقه د ایذاء ده چه ایمان والو سره جنګونه شویدی نو دوی د کفارو جنګ ته مجبوره شویدی۔

لَاُكَفِّرَنَّ : ځکه چه هجرت مخکنی ګناهونه ختموی، او جهاد سره ټول ګناهونه بخلے کیږي سِوئ د قرض نه۔ لکه په حدیث کی راغلی دي۔

سَیِّئَاتِهِمْ : ددے نه مراد واړه ګناهونه دي یا ټول ګناهونه دي واړه وی او که غټ۔ او همدا ظاهر ده ځکه لفظ کی عموم دے۔

ثَوَابًا : دا منصوب دے بنا بر مفعول مطلق۔ اَیْ اُثِیْبُ ثَوَابًا ۔ زهٔ به بدله ورکوم دوی ته په بدله ورکولو سره۔ چه د هغے قدر او اندازه صرف الله تعالیٰ ته معلومه ده۔ پدے کی نورو اجرونو او ثوابونو ته اشاره ده چه هغه د الله سره دی نو مؤمنان دے د هغے طمع هم وکړی۔ (المنار)

حُسْنُ الثَّوَابِ : چه د هغے نه یو جنت دے، د عرش د سوری لاندے ودریدل، په جنت کی د الله تعالیٰ ملاقات۔

لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِي الْبِلَادِ ﴿١٩٦﴾ مَتَاعٌ
دهوکه دِے نکړی تا لره اوړیدل راوړیدل د کافرانو په ښارونو کی۔ (دوی لره) فائدے دی
قَلِيْلٌ ثُمَّ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿١٩٧﴾
لږے بیا ځای د وسیدو د دوی جهنم دے او بد ځای تیار شویدے (دا جهنم)۔

تفسیر : پدے آیت کی الله تعالیٰ د دنیا بی رغبتی بیانوی۔

شان نزول

بعض مسلمانانو وئیلی وو چه کافران په ښائسته او مزیدار ژوند او مزو کی دی او حال دا چه مونږ د تکلیفونو او د لوږو او تندونه هلاك شو ځکه چه د هجرت په اولنو وختونو کی مسلمانان په تنگسیا کی وو او د مکی مشرکان په خوشالئ کی ژوند تیرولو او بی غمه به په دنیا کی تلل راتلل او تجارتونه به ئے کول۔ (اسباب النزول للواحدی ص : ۹۳)

نو الله تعالیٰ دا آیتونه نازل کړل چه نبی کریم ﷺ ئے مخاطب کړو او مسلمانانو ته ئے خبردارے ورکړو چه د کافرانو دا دبدبه یو څو ورځې ده هسے نهٔ چه تاسو پرے دوکه شئ، د دوارو ډلو په انجام باندے سوچ وکړئ ستاسو دپاره څه تیار دی او د دوی دپاره څه؟ او دا سوال په هر وخت کی د بنده په زړه کی راځی مگر که انجام ته سوچ وشی نو دا سوال ختمیږی مؤمن کی صبر پیدا شی۔

په یو متکلم فیه روایت کی دی : (لَا تَغْبِطَنَّ فَاجِرًا بِنِعْمَةٍ اِنَّ لَهٗ عِنْدَ اللّٰهِ قَاتِلًا لَا يَمُوْتُ) (ای النار) (ضعيف الجامع الصغير: ٦٢٤٨)

بد کاره ته د هغه په نعمتونو مهٔ پسخیږه ځکه چه د هغه دپاره د الله په نیز داسے وژونکے

(اُور) شته چه هغه به پرے نۀ مری. ددے روایت تائید ددے آیت نه کیږی.

لَا يَغُرَّنَّكَ : غرور دے ته وائی (اَلْاِطْمَاعُ فِیْ اَمْرٍ مَحْبُوْبٍ عَلٰی نِیَّةِ عَدَمِ وُقُوْعِهٖ اَوْ اِظْهَارُ الْاَمْرِ الْمُضِرِّ فِیْ صُوْرَةِ النَّافِعِ) (التحریر والتنویر۳/۱۵ ۳) چه د یو محبوب کار طمع ورکړی او په نیت کی ئے دا وی چه دا به نۀ کیږی. یا ضرری شے د فائده مند په صورت کی وربنکاره کړی. او دلته مقصد دا دے چه انسان داسے دهوکه شی چه کافرانو ته ورمائل شی او د هغوی لاره اختیاره کړی او دین پریدی. او دهوکه دا هم ده چه بنده ووائی چه کافران به د الله دوستان وی او هغه ته به نزدے وی ځکه ورته مزے او مالونه ورکوی، نۀ بلکه دا د ختمیدونکے دنیا یو ه فتنه او د دوی دپاره استدراج دے.

تَقَلُّبُ : ډیر ګرځیدل او اوړیدل راوړیدل، او ددے بیا دوه مطلبه دی یو دا چه (غَیْرُ مَاخُوْذِیْنَ بِذُنُوْبِهِمْ فِی الدُّنْیَا) النکت للماوردی۱/ ٤٤٤) یعنی پدے مۀ دهوکه کیږه چه دا خلك الله تعالیٰ په ګناهونو سره په دنیا کی زر نۀ رانیسی بلکه دوی به ضرور رانیسی خو په قلاره او دنیا کی دوی ته مهلت ورکړے شویدے. یعنی دوی بنه په امن کی اوړی راوړی او ژوند تیروی نو دا معمولی فائدی دی چه زر ختمیدونکے دی ځوك دے پدے سره دهوکه نۀ خوری. لکه حدیث کی دی : [لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَعْدِلُ عِنْدَ اللّٰهِ جَنَاحَ بَعُوْضَةٍ مَا سَقٰى كَافِرًا مِنْهَا شَرْبَةً) (الترمذی ۲۳۲۰، بسند صحیح) که دنیا د الله په نیز د ماشی د وزر برابره وے نو کافر ته به ئے ددے نه یو ګوټ اُوبه نۀ وے ورکړے) ځکه چه هغه ئے دشمن دے لیکن دنیا الله تعالیٰ ته معمولی بنکاری ځکه ئے دشمنانو ته هم ورکړیده.

(۲) دویم : تفسیر زاد المسیر (۱/ ٤٨٠) لیکی چه دلته د تقلب نه مراد (تَصَرُّفُهُمْ فِی التِّجَارَاتِ) (قاله ابن عباس، و الفراء و ابن قتیبة و الزجاج)دے،

یعنی چه کافران په تجارتونو پسے ګرځی او په مالونو کی تصرفات کوی، بینکونه او ملکونه او جائیدادونه لری، پدے دهوکه نۀ شے. ماوردیؒ لیکی : تَقَلُّبُهُمْ فِیْ نَعِیْمِ الْبِلَادِ. چه دوی د دنیا په نعمتونو کی ګرځی راګرځی.

فائده : د کافرانو مزو ته ئے تقلب لفظ استعمال کړو، تقلب کی معنیٰ د تکلف ده ځکه چه د دوی دا مزے په تکلف سره حاصلیږی او پدے مزو کی ئے هم پریشانی ده ځکه چه خوب ورله نۀ ورځی، د نشئ ګولے خوری او په یو ځای کی ئے ساعت نۀ تیریږی کله یو چمن او علاقے ته او سیاحتونه او چکری وهی او کله بل ته، تو له زندګی ئے د پریشانئ نه ډکه وی ځکه چه الله تعالیٰ د خواهشاتو اخستو سره پریشانی او تکلیف تړلے دے او

مؤمنانو له په خخښته هم خوب ورځي اګرکه پيسے او مالونه به ورسره نۀ وي ليکن نفس ئے غني وي نو سکون ورته حاصل وي او د زړه سکون په ايمان او دين کي دے، د دنيا نه خوند صرف مؤمنانو واخستو۔

الْبِلَادِ : مختلف ښارونه او زمکے او علاقے۔

مَتَاعٌ قَلِيلٌ : اَىْ ذٰلِكَ الْكَسْبُ وَالرِّبْحُ مَتَاعٌ قَلِيلٌ۔ (زجاج) (زاد المسير)

دا کسب او ګټه معمولي فائدے دي۔

يا هٰذَا التَّقَلُّبُ مَتَاعٌ۔ دا ګرځيدل د دوی معمولي فائدے دي۔

نو که د يو سړي په دنيا کي هر څو مره ښه ژوند شي خو چه عاقبت او هميشه زندګي ئے خرابه شي نو دغه مزے به ورته څه فائده ورکړي؟!، عقلمند دے پدے باندے سوچ وکړي. پدے امت کي ابوجهل څه شو؟، فرعون څه شو؟ قارون څه شو؟ چه لوی لوی فخرونه به ئے کول او په دنيا او مالونو به نازليدل، هلاکتونو ته ورسيدل نو دنيا ورله څه فائده ورکړه؟!۔

لٰكِنِ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي
ليکن هغه کسان چه ويريدل د رب خپل نه، دوی لره جنتونه دي چه بهيږي به
مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا نُزُلًا مِّنْ عِنْدِ اللهِ
لاندے د هغے نه نهرونه، هميشه به وي په هغے کي، ميلمستيا ده د طرفه د الله نه
وَمَا عِنْدَ اللهِ خَيْرٌ لِّلْأَبْرَارِ ﴿١٩٨﴾
او هغه څه چه د الله سره دي غوره دي دپاره د کاملو نيکانو۔

تفسير : لکن د دفع د وهم دپاره راغي نو سوال دا پيدا شو چه دنيا به د مؤمنانو دپاره هم ښه نۀ وي او ټول مالداره به جهنم ته روان وي ؟ نو الله وفرمايل : چه مالدارو او مزو والو کي فرق دے، دوه قسمه دي (۱) يو هغه دي چه کافر دي (۲) دويم هغه دي چه متقيان دي او الله تعالیٰ ورته د دنيا مالونه هم ورکړيدي نو دوی ته به الله تعالیٰ په آخرت کي بدلے ورکوی نو دنيا ئے هم ښه ده ځکه چه دوی پدے مالونو کي پرهيز کړيدے او د الله نه پکي يريدلي دي او مالونو په دوکه کي نۀ دي اچولي نو د دوی دپاره دنياوي ژوند متاع البلاغ (مقصد ته د رسيدو توښه) ګرځيدلے ده، نۀ متاع الغرور۔ شاعر هم دا مضمون ادا کړيدے۔

مَا أَحْسَنَ الدِّينَ وَالدُّنْيَا إِذَا اجْتَمَعَا	وَأَقْبَحَ الْكُفْرَ وَالْإِفْلَاسَ بِالرَّجُلِ

څه ښه دے دین او دنیا چه د یو تن دپاره راجمع شي او څه بد دے کفر او غریبي چه په سرې باندے راتاؤ شي۔

ښه ده ښه ده دا دنیا | چه تو ښه ده د عقبیٰ
پہ دنیا کی بدی نشته | چه بدی نهٔ وی له تا
د دنیا په بازار کیږی | د هغه جهان سودا

(د عبد الرحمن مومند دیوان)

دویم تفسیر قرطبي لیکي: دا د متاع قلیل سره لګي:
لَیۡسَ لَهُمۡ فِیۡ تَقَلُّبِهِمۡ فِی الۡبِلَادِ کَبِیۡرُ الۡاِنۡتِفَاعِ، لٰکِنِ الۡمُتَّقُوۡنَ لَهُمُ الۡاِنۡتِفَاعُ الۡکَبِیۡرُ وَالۡخُلۡدُ الدَّائِمُ)
یعنی د کافرانو دپاره په ښارونو ګرځیدو کی زیاتے فائدے نشته نو سوال پیدا شو چه زیاتے فائدے به چاته حاصلیږی؟ نو الله وفرمایل چه متقیانو دپاره به زیاتی او همیشه فائدے وی۔ (الجامع لاحکام القرآن للقرطبي ٤/٣٢١)۔
نو پدے کی ترغیب دے تقویٰ او برّ ته چه دا ځان کی پیدا کړئ الله به ناشنا فائدے درکړی۔
نُزُلًا: اَیۡ یُعۡطَوۡنَ نُزُلًا۔ دوی ته به میلمستیا ورکولے شي۔
نزل: مَا یُهَیَّأُ لِلضَّیۡفِ یعنی هغه طعام او میلمستیا ته وئیلے شي چه میلمه دپاره تیار وی او هغه ته ورکولے شي۔ او میلمه له چه طعام تیار شي نو میلمه پرے هیڅ سختته نهٔ وی تیره کړی، نهٔ ئے اغړلی وی او نهٔ پخ کړی وی خو صرف ورته دسترخوان مخے ته شي او ورته ووئیل شي چه خوره او دپاسه پرے د هغه اکرام هم کیږی او د هغه نه څه عوض او بدله نهٔ غوښتلے کیږی۔
خَیۡرٌ لِّلۡاَبۡرَارِ: اَیۡ مِنۡ تَقَلُّبِ الۡکُفَّارِ فِی الدُّنۡیَا] یعنی د الله سره چه څه دی هغه غوره دی د تقلب د کافرانو نه په دنیا کی ځکه چه هغه دائمی دی او په هغے کی هیڅ تکلیف نشته۔
ابرار: کامل نیکانو ته وئیلے شي۔
فائده: الله تعالیٰ پدے آیت کی مونږ ته دوه ځل دعوت راکړو یو د تقویٰ او بل د برّ (نیك عملیٔ) یعنی د کافرانو په مقابله کی ځان کی بر او تقویٰ پیدا کړه کامیابیٔ او همیشه نعمتونو ته به ورسیږے۔

ابرار چا ته وائی؟

الابرار: ددے ډیر مصداقات دی۔ (۱) یو مرفوع روایت کی دی: [هُمُ الَّذِیۡنَ بَرُّوا الۡآبَاءَ وَالۡاَبۡنَاءَ]۔ (الادب المفرد للبخاری وعبد بن حمید وابن ابی حاتم وفتح القدیر للشوکانی)

دا هغه خلك دي چه د پلار او بچو دواړو سره ئې احسان کړيدے۔ د دواړو حقوق ئې ادا کړي وي۔ او اکثر انسانان د يو سره احسان کوي او بل ضائع کوي۔

(۲) حسن بصريؒ وائي : اَلْاَبْرَارُ : الَّذِيْنَ لَايُؤْذُوْنَ الذَّرَّ ابرار هغه خلك دي چه هغوى ميګانو ته هم ضرر نۀ رسوي، انسانان خو لا په ځاى پريده۔ (تفسير ابن ابى حاتم۳/۸٤٦)

(۳) قتادةؒ وائي : اَلْاَبْرَارَ الَّذِيْنَ يُؤَدُّوْنَ حَقَّ اللّٰهِ وَيُوْفُوْنَ بِالنَّذْرِ) ابرار هغه خلك دي چه د الله حقوق ادا کوي او نذرونه (منښتے) پوره کوي۔ (القرطبى۱۲۵/۱۹ سورة الدهر)

(٤) ابن زيدؒ وائي: هُمُ الْمُطِيْعُوْنَ لِرَبِّهِمْ۔ (الدر المنثور، تفسير مقاتل بن سليمان)

دا هغه خلك دي چه د خپل رب تابعدار وي۔ دا ټول تفسيرونه صحيح دي ليکن :

(۵) ظاهر تفسير دا دے چه ابرار هغه خلك دي (اَلَّذِيْ يَخْرُجُوْنَ مِنْ طَاعَةٍ وَيَشْتَغِلُوْنَ فِيْ طَاعَةٍ) چه د يو طاعت او عبادت نه وځي او په بل کي مشغوله کيږي، ټوله زندګي ئې د الله په هر قسم بندګئ کي تيريږي نو دے ته کامل نيکان وائي۔ او داسے به نۀ وي چه صرف د جُمعے په ورځ يا شپه عبادت وکړي يا ټول کال مونځونه نۀ کوي صرف رمضان کي ئې شروع کړي۔

وَإِنَّ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَمَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَمَا
او بعض ددے اهل کتابو نه خامخا هغه څوك دي چه ايمان لري په الله او په هغه څه
أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِمْ خَاشِعِيْنَ
چه نازل کړے شويدي تاسو ته او په هغه څه چه نازل کړے شويدي دوى ته، عاجزي کوي
لِلّٰهِ لَا يَشْتَرُوْنَ بِآيَاتِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا أُوْلٰئِكَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ
الله ته، نۀ اخلي په آيتونو د الله قيمت لږ، دغه کسان دوى لره اجرونه د دوى دي په نيز
رَبِّهِمْ إِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۱۹۹﴾
د رب د دوى، يقيناً الله تعالىٰ جلت حساب کونکے دے۔

تفسير : اُوس په آخر کي الله تعالىٰ د نيکانو اهل کتابو صفت بيانوي او هغوى ته زيرے ورکوي ځکه چه پدے سورت کي د اهل کتابو بدي بيان شوه نو اُوس د نيکانو پکي پنځه صفات بيانوي او ترغيب ورکوي چه اے کتاب والو ! راشئ تاسو هم دا صفات ځان

کی پیدا کړئ نو الله به مو ددے امت په مؤمنانو کی شمار کړی او کامیاب به شئ ځکه چه د الله تعالیٰ د یهودو او نصاراؤ سره د هغوی د بدو صفاتو په وجه ورانه ده که دائے پرینبودل د الله صحیح بندګان به شی۔

لَمَنْ يُّؤْمِنُ بِاللهِ : د اهل کتابو مرض دا دے چه په الله باندے صحیح ایمان نۀ راوړی بلکه د هغه سره شریکان جوړوی۔

وَمَا اُنْزِلَ : دویم مرض ئے دا دے چه د قرآن کریم منکر دی او د هغے سره سخته دشمنی لری۔ پدے وجه ئے دا مخکی ذکر کړو۔

خَاشِعِيْنَ لِلّٰهِ : بل په اهل کتابو کی مرض د تکبر دے چه ځان لوی ګنړی، نو دا مؤمنان پکی الله تعالیٰ ته عاجزی کوی، او دا د مؤمن صفت دے چه الله ته به خشوع کوی دا په مانځه کی هم مراد ده او بهر د مانځه نه هم۔ په بنده کی چه خشوع راشی نو په هغه کی د انقیاد (تابعداریٔ، خبره منلو) صفت پیدا شی، د خشوع په وجه په بنده کی د شفقت او رحمت ماده پیدا کیږی، او د دنیا نه زهد پیدا شی چه بیا ئے هر خیر ته راکاږی۔

لَا يَشْتَرُوْنَ بِآيَاتِ : دا ئے بل صفت دے چه د الله په کتاب باندے دنیا نۀ غوره کوی بلکه حق رابنکاره کوی او په هغے باندے عمل هم کوی۔

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا اصْبِرُوْا وَصَابِرُوْا وَرَابِطُوْا
اے ایمان والو! صبر وکړئ او غالب شئ په دشمنانو په صبر سره او ځان وتړئ دشمنانو ته
وَاتَّقُوا اللهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۲۰۰﴾
او ویریږئ د الله نه دے دپاره چه کامیاب شئ۔

تفسیر: آخر کی الله تعالیٰ یو جامع آیت راوړیدے لکه دا د بلغاؤ طریقه ده چه په آخر د کلام کی داسے خبره راوړی چه ټول مضمون ته شامل وی نو دا آیت د سورت ټولو مضامینو ته شامل دے ځکه چه په کوم بنده کی صبر او مصابره او مرابطه او تقویٰ پیدا شی نو ټول صفات به پکی راشی، د کفر نه به بچ شی، د جهاد ماده او اسلام او ایمان او نیک اعمال ټول به پکی پیدا شی۔

د آیت فوائد اوتوضیحات

۱- پدے آیت کی ترقی د ادنیٰ نه اعلیٰ درجاتو ته شویده، په بنده کی اول ایمان راشی بیا صبر بیا مُصَابره بیا مرابطه بیا تقویٰ. گویا که دا د تربیت طریقه ده.
۲- اصْبِرُوْا : دلته ټول قسم صبرونه مراد دی، چه په طاعاتو باندے وی، د ګناهونو نه صبر، او په مصیبتونو باندے صبر، او صبر د ایمان حقیقت دے.
۳- وَصَابِرُوْا : دا د صبر نه اعلیٰ درجه ده ځکه چه مصابره په صبر کی په بل باندے غلبے ته وائی دلته معنیٰ ده : صَابِرُوْا عَلَى الْأَعْدَاءِ فِي الصَّبْرِ. په صبر کی په دشمنانو باندے غالبه شئ ځکه چه دشمنان صبر کوی د کفر دپاره نو تاسو به د حق دپاره صبر کوئ آیا دشمنان مال او جان د باطل پاره نۀ لګوی؟ دنیا والا د دنیا دپاره ډیر صبر کوی نو مؤمن به د هغے نه ډیر زیات صبرناك وی ځکه چه ددۀ دپاره جنت شته. یعنی دومره کلك او قوی صبر وکړئ چه د کافرانو صبر مات کړئ او په هغوی باندے ستاسو صبر دپاسه شی. یا د صَابِرُوْا معنیٰ ده یو بل ته په صبر باندے وصیت کول. لکه د ﴿وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ﴾ په شان.
٤- مرابطه : اصل کی ځان تړلو او بندولو ته وائی، ددے بیا دوه شکلونه دی
(۱) یو د دشمن په مقابله کی په سرحداتو او مورچو کی کیناستل چه کفار د مسلمانانو ملك ته راوانۀ وړی او اسلام ته تکلیف ورنکړی. پدے وجه په احادیثو کی د رباط ډیر فضیلت راغلے دے. په حدیث د سلمان فارسی ﷺ کې ذی : (رِبَاطُ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ خَيْرٌ مِنْ صِيَامِ شَهْرٍ وَقِيَامِهِ، اِنْ مَاتَ جَرٰى عَلَيْهِ عَمَلُهُ الَّذِیْ كَانَ يَعْمَلُهٗ وَاُجْرِیَ عَلَيْهِ رِزْقُهٗ وَاَمِنَ الْفُتَّانَ)
یوه ورځ او یوه شپه د الله په لاره کی رباط (مرابطه) کول د یو میاشتے د روژو او قیام اللیل نه بهتر دی. او مرابط چه مړ شی الله تعالیٰ ورله تر قیامته پورے اجر لیکی او (په قبر کی) رزقونه ورته جاری کوی او د فتنے (امتحان (سوال وجواب د قبر نه) به بچ کیږی.
(صحیح مسلم کتاب الامارة حدیث رقم (۱۶۳) و کشف المشکل من حدیث الصحیحین ۱/۱۰۵۹) لابن الجوزی.
ځینی مفسرینو پدے باندے دا اشکال کړیدے چه د رسول الله ﷺ په زمانه کی خو رباط نۀ وو چه صحابه کرامؓ د دشمن په مقابله کی په سرحداتو ناست وی او مورچے ئے وهلی وی ؟ جواب دا دے چه قرآن عالمی کتاب دے، الله تعالیٰ ته معلومه وه چه روستو نزدے زمانه کی به رباط شروع شی لکه د ابوبکر، عمر او عثمان او علی رضی الله عنهم په زمانه کی شروع شو نو دا اشکال نۀ کیږی چه د رسول الله ﷺ په زمانه کی دِے یو شے نۀ وی او قرآن کی دِے پرے امر کیږی.

(۲) دویم رباط د نفس دے په درے کارونو (اِسْبَاغُ الْوُضُوْءِ عَلَى الْمَكَارِهِ) د تکلیفونو سره اودس کامل کول۔ (وَكَثْرَةُ الْخُطَا اِلَى الْمَسَاجِدِ) او مساجدو ته ډیر قدمونه اخستل۔ (وَانْتِظَارُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصَّلَاةِ)۔ د یو مانځه نه روستو د بل مانځه په انتظار کی کیدل۔ فَذٰلِكُمُ الرِّبَاطُ، فَذٰلِكُمُ الرِّبَاطُ فَذٰلِكُمُ الرِّبَاطُ) (صحیح مسلم :۲۵۱) والترمذی (۱/۱۸)

نو دا (هغه) رباط دے (چه الله پرے قرآن کریم کی امر کړیدے)۔ دے ته ئے ځکه رباط وئیلے دے چه په مورچه کی وخت تیرول ډیر سخت وی، او دا رباط د هغے نه ډیر سخت دے ځکه چه پدے کی د نفس د خواهش خلاف زیات دے، او دا کار همیشه هر وخت دے او هغه رباط کله کله وی۔ که چا دا دواړه کارونه وکړل نو پدے امر باندے ئے عمل وکړو۔ او دا دواړه مصداقونه ددے آیت کرخی او د بعض اهل لغتو په نیز د رباط دوه معنی دی (مُلَازَمَةُ الثُّغُوْر او مُوَاظَبَةُ الصَّلَاة) ۔ د سرحداتو د حفاظت دپاره همیشه وسیدل، او په مانځه باندے همیشوالے کول۔ (فتح البیان۲/۴۱۰)

بیا رباط په دوه قسمه دے۔ (۱) اَلرِّبَاطُ عَلَى ثَغْرِ الْعَدُوِّ ۔ د دشمن په سرحد باندے مورچه وهل او کیناستل لکه مخکی ذکر شو۔ (۲) دویم اَلرِّبَاطُ عَلَى ثَغْرِ الْقَلْبِ ۔ د زړه په غاړه کیناستل چه شیطان دننه لاړ نشی ځکه چه زړه هم یوه بادشاهی ده، او دا د الله تعالیٰ د عظمت عرش دے او شیطان ددے د خرابولو کوشش زیات کوی او زړه ته مختلفے لارے راغلی دی پدے وجه شیطان په هغے لارو راتلل کوی نو که بنده ددے لارو حفاظت ونکړی نو زړه (یعنی دار الخلافه) ئے شیطان قبضه کوی۔ او د زړه حفاظت ډیر کم انسانان کوی او عام خلك ددے په باره کی آزادی کوی۔

فائده : رباط د رَبْطُ الْفَرَس نه دے په یو ځای کی د اس تړلو ته وائی چه د هغه ځای حفاظت او ساتنه پکی مطلب وی (مفرداتِ راغب)

خو دلته ترے یواځے د اس تړل مراد نهٔ دی بلکه د هغه ټولو وسائلو برابرولو ته شاملیږی چه په مسلح جهاد کی ورته ضرورت راپیښیږی۔ (تفسیر الطبری۳/۲۲۲)

ددے نه دا معلومه شوه چه مسلمانانو باندے لازمه ده چه د کافرانو په مقابله کی به هر قسم وسائل په کار اچوی لکه چه الله تعالیٰ پدے باندے په سورة الانفال (۶۰) آیت کی امر کړیدے : ﴿وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ﴾ ۔ تاسو کافرانو دپاره څومره چه ستاسو وس وی قوت تیار کړئ او د سرحداتو د حفاظت دپاره د اسونو تړل۔

وَاتَّقُوا اللّٰهَ : د الله نه تقویٰ دا ده چه د هغه د حدودو پابندی وکړے شی۔

لَعَلَّكُمْ : دا امید په نسبت د بندګانو دے چه تاسو امید وساتئ چه الله به خامخا کامیابی درکوی۔ او دا درے واړه داسے اسباب دی چه پدے سره کامیابی حاصلیږی۔

ځینی مفسرینو ددے درے څیزونو خاص مصداقات ذکر کړیدی :

(۱) اِصْبِرُوْا عَلَى النَّعْمَاءِ وَصَابِرُوْا عَلَى الْبَأْسَاءِ وَرَابِطُوْا فِيْ دَارِ الْاَعْدَاءِ وَاتَّقُوا اِلٰهَ السَّمَاءِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ فِيْ دَارِ الْبَقَاءِ) بدائع التفسير (په نعمتونو صبر وکړئ او په تکلیفونو ځان کللک کړئ او د دشمنانو په کورونو کی مورچے ووهئ، او د آسمان د اله نه ویریږئ دے دپاره چه په همیشه کور کی کامیاب شئ) مګر دے قافیه جوړولو ته ضرورت نشته، صبر عام دے او مصابره خاص ده لکه مخکی ذکر شو۔

امتیازات وخصوصیات

۱- یو پدے سورت کی الله تعالیٰ د نصاراؤ زیاته مقابله وکړه او د هغوی د سوالاتو جوابات ئے ورکړل۔

۲- پدے کی ئے د کتاب الله تقسیم محکمات او متشابهاتو ته کړیدے۔

۳- د زهد شپږ څیزونه ئے ذکر کړیدی (زين للناس حب الشهوات)

٤- پدے کی د عیسیٰ علیه السلام او د هغه د مور او د هغه د نیا تاریخ ذکر کړیدے۔

٥- او د عیسیٰ علیه السلام په عبدیت باندے (۲٥) دلیلونه ذکر شویدی چه داسے په بل سورت کی نهٔ دی ذکر۔

٦- د اهل کتابو زیات قبائح (بد صفات) ئے ذکر کړیدی۔

٧- رد د شبهاتو د اهل کتابو دے په رسالت باندے۔

٨- قصة د احد او بدر او په هغے کی حکمتونه ذکر دی دپاره د تربیت۔

٩- او اسباب د دفع الهزیمة بیان شو۔ ۱۰- او پدے کی قوانین او د بندګانو ذهن سازیانی په ډیر عجیب انداز ذکر دی۔ په عقائدو او جهادونو او د تقدیر په باره کی۔

۱۱- او په آخر کی د مؤمنانو نادر صفات۔

۱۲- د الله تعالیٰ حکمتونه په خیر او شرك کی۔ ۱۳- غزوه د حمراء الاسد۔

۱٤- تربیت د جماعتِ مُسلمه۔ ۱٥- د مبتدعینو او اهل الفرقة د مخونو توریدل او د اهل السنة والجماعة مخونه سپینیدل۔

۱٦- د اهل کتابو دوه قسمونو ته تقسیمول صالحین او بد عمله۔

۱۷- د لفظ (النار) ډیر تکرار پکی شوید ے۔
۱۸- اسلام صرف مقبول دین دے او باقی دینونه مردود دی۔
۱۹- د کعبی مشرفی فضیلت او د حج پریخودل د کفارو کار دے۔
۲۰- د اعتصام بالله او د اعتصام بامر الله وحبل الله دوه اقسام۔
۲۱- د شهداءِ احد فضائل۔

ختم شو تفسیر د سورة ال عمران په حمد د الله او په توفیق د هغه سره په جمادی الاولی ۱٤۳۵/۵/۱٤ هـ الموافق ۲۰۱٤/۳/۱٤ء بجی ۳۰: ۱۰) یوم السبت

ولله الحمد فی الاولی والآخرة۔

وکتبه ابوزهیر سیف الله الباریزی البشاوری غفرله الباری

بسم الله الرحمن الرحيم

آیاتها (۱۷٦)	(٤) سورة النساء مدنية (۹۲)	رکوعها (۲٤)

سورة النساء مدني دے، پدے کی یو سل شپږ اویا آیتونه او څلیریشت رکوع دی۔

سورة النساء :

النساء : زنانو ته وائی۔زنانو ته الله تعالیٰ ډیره ورځ ورکړیده چه د دوی په نوم باندے دا سورت یاد کړے شو، او د سړو په نوم سورت نشته۔ پدے کی حکمة دا دے چه زنانه یو مظلوم مخلوق دے چه په عامو معاشرو او خصوصاً د جاهلیت په معاشره کې په دوی ظلم کیدو او د دوی حقوق غصب کیدل نو الله تعالیٰ دا سورت د هغوی د حقوقو د ادا کولو دپاره راولیږلو۔

فائده : پدے سورت کی (۱۷٦) آیتونه دی۔ او (۳۰٤٥) کلمات دی۔ او د حروفو شمار ئے شپاړس زره دیرش (۱٦۰۳۰) دے۔

ددے سورت فضائل

۱ – رسول الله ﷺ فرمائی : [مَنْ أَخَذَ السَّبْعَ الْأُوَلَ مِنَ الْقُرْآنِ فَهُوَ حِبْرٌ] (مسند احمد ٦/۸۲ باسناد حسن– شعیب)۔ چا چه د قرآن اولنی اوه سورتونه واخستل (یاد ئے کړل او ددے په مطلب ئے ځان پوهه کړو) نو دا لوی عالِم دے۔

۲ –د واثله بن الاسقع رضی الله عنه نه مرفوعاً نقل دی :

[أُعْطِيتُ السَّبْعَ الطُّوَلَ مَكَانَ التَّوْرَاتِ وَأُعْطِيتُ الْمَثَانِيَ مَكَانَ الْإِنْجِيلِ وَأُعْطِيتُ الْمِئِينَ مَكَانَ الزَّبُورِ وَفُضِّلْتُ بِالْمُفَصَّلِ] (المعجم الكبير) و صحيح الجامع الصغير (۱۰٤۹)۔

ما ته اوه اوږده سورتونه د تورات په ځای راکړے شویدی او مثانی د انجیل په مقابله کی او مئین د زبور په مقابله کی راکړے شویدی او زۂ په مفصلاتو سورتونو غوره کړے شوے یم۔

۳ – د سیدنا عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه نقل دی :

[ثَمَانُ آيَاتٍ فِي سُورَةِ النِّسَاءِ، هُنَّ خَيْرٌ لِهَذِهِ الْأُمَّةِ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ وَغَرَبَتْ]

په سورة النساء کی اته آیتونه دی چه ددے امت دپاره د دنیا او مافیها نه غوره دی چه

هغه دا دي : ﴿ يُرِيدُ اللّٰهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ: ٢٦﴾ ﴿ وَاللّٰهُ يُرِيدُ أَنْ يَتُوبَ عَلَيْكُمْ﴾ ﴿ يُرِيدُ اللّٰهُ أَنْ يُخَفِّفَ عَنْكُمْ﴾ ﴿ إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ: ٣١﴾ ﴿ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ: ٤٨﴾ ﴿إِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ: ٤٠﴾ ﴿ وَمَنْ يَعْمَلْ سُوءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُ: ١١٠﴾ ﴿ مَا يَفْعَلُ اللّٰهُ بِعَذَابِكُمْ﴾ (الدر المنثور ٤/٣٤٥ والقرطبی (٥/١٦١) وفی شعب الایمان (٦٧٤٤) آیت : وَالَّذِينَ آمَنُوا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهِ وَلَمْ يُفَرِّقُوا: ١٥٢) وفی سنده صالح المری ضعيف) - او ابن مسعود رضی الله عنه ورسره دوه نور زیات کړيدي : (لا خير فی كثير من نجواهم) او (والذين امنوا بالله).

دا آيتونه د الله د طرفنه ددے امت دپاره اعلانات او زيری دی۔

د نزول زمانه

د سيدنا ابن عباس، عبد الله بن زبير او زيد بن ثابت رضی الله عنهم نه نقل شويدی چه دا سورت مدنی دے۔ قرطبیؒ ليکلی دی چه صرف يو آيت د فتح د مکے په کال په مکه کی د عثمان بن طلحه الحجبیؓ په باره کی نازل شويدے، هغه آيت : ﴿ إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلٰى أَهْلِهَا ﴾ دے۔ (٥٨ ايت)

ليکن بيا هم مدنی شو ځکه چه د هجرت نه روستو نازل دے۔

بخاریؒ د عائشه رضی الله عنها نه روايت کړيدے چه کله سورة النساء نازله شوه نو زۀ د رسول الله ﷺ سره اوم، يعنی د ام المؤمنين په حيثيت سره۔ او پدے خبره باندے د ټولو علماؤ اتفاق دے چه عائشه رضی الله عنها د وادۀ نه روستو د رسول الله ﷺ سره مدينے ته راغلے وه۔ دے نه سویٰ پدے سورت کی بيان شوی مسائلو باندے د سوچ کولو نه روستو بالکل يقين کيږی چه دا مدنی سورت دے۔

مناسبت او ارتباط

١- په سورة البقره کی اکثر په يهوديانو ردونه وو او په آل عمران کی اکثر په نصاراؤ او پدے سورت کی ددے امت تربيت بيانوی۔

٢- مخکی سورتونو کی عقائد او نظريات (يعنی توحيد) برابرول وو نو پدے سورت کی د دنيا انتظام برابرول ذکر دی نو اسلام لکه څنګه چه د معاد (آخرت) برابرولو دپاره راغلے دے نو دغه شان معاش به هم جوړوی۔

٣- د هغه سورت په آخر کی ئے په تقویٰ باندے حکم وکړو نو دلته د تقویٰ دوه قسمونه

بیانوی چه یو تقویٰ په حقوق الله کی او بل په حقوق العباد کی۔
٤- مخکی د اُحد د غزا بیان وو چه ډیرے ښځے په کی کونډے او ډیر ماشومان پکی یتیمانان شو نو دلته د همدغه کونډو او یتیمانانو په باره کی هدایات نازل شویدی چه د دوی سره داسے کوئ او داسے نهٔ۔
٥- په مخکی سورت کی هم د منافقانو بدیانی او د جهاد خبرے وے نو پدے سورت کی به هم ددے دواړو متعلق بحث کیږی۔
٦- مخکی په هغه چا رد وو چه نیکان بندګان (لکه عیسیٰ او مریم علیهما السلام) ئے د الله سره شریکان ګنړل نو اُوس په عمومی طریقه د شرك رد او په هغے سخت عذاب بیانوی۔

موضوع، دعویٰ او مقصد د سورت

ددے سورت غټ درے مقاصد دی (١) بَيَانُ الْأُمُوْرِ الْاِنْتِظَامِيَّةِ (وَبِعِبَارَةٍ : اِصْلَاحُ الْمَعَاشَرَةِ، وَبِعِبَارَةٍ : بَيَانُ حُقُوْقِ الْعِبَادِ خُصُوْصًا حُقُوْقُ الْمَظْلُوْمِيْنَ مَعَ بَيَانِ حُقُوْقِ اللّٰهِ)
یعنی هغه امور (کارونه) چه په هغے سره د بندګانو دنیا او آخرت جوړیږی چه هغه د مظلومانو سره او د بادشاهانو او د هغوی د رعیت سره تعلق لری۔ یا هغه کارونه چه په هغے سره معاشره جوړیږی، یا داسے تعبیر وکړه : د بندګانو د حقوقو بیان دے خاصکر د مظلومانو د حقوقو بیان دے۔ لکه زنانه، ماشومان او یتیمانان او خپل خپلوان وغیره په اوله حصه د سورت کی دا مسئله زیاته بیانیږی۔ د سورت زیاته حصه ئے رانیولے ده۔
سره د بیان د حقوق الله او حقوق العباد نه، حقوق الله پکی دا دی چه د الله سره شرك نهٔ کول او توحید اختیارول۔ او د بندګانو حقوق دا دی چه د مظلومانو، یتیمانانو، کونډو زنانو او کمزورو او میراث خورو سره ظلم مهٔ کوئ او د مشرانو حقوق دا دی چه د هغوی په معروف کی طاعت کول لکه اولی الامر منکم کی دی او رعیت دپاره ئے وئیلی دی چه (ان تؤدوا الامانات الی اهلها) امانتونه به خپل اهل ته سپاری۔
په بل تعبیر : پدے سورت کی داسے امور ذکر کوی چه په هغے سره ظلمونه دفع کیږی لکه په زنانو، ماشومانو او ناپوهه خلکو ظلم کول، او د الله په حق کی ظلم د هغه سره شرك کول دی نو هغه ئے هم دفع کړیدے پدے طریقه چه د شرك دوه کرته قباحت (بدی) ئے بیان کړیده په آیت (٤٨) او (١١٦) کی۔ (احسن الکلام)۔

(۲) بَيَانُ الْأَحْكَامِ الْمَلَكِيَّةِ ـ يعنى د قانون سازئ او د ملك د جوړولو او د خلافت اسلامی د قائمولو ترتیبونه بیانیږی دا د (۵۸) ان الله یأمرکم) نه روستو شروع کیږی۔ او ددے نه بل تعبیر کیږی: (بَيَانُ حُقُوقِ الرُّعَاةِ وَالرَّعَايَا ، یا بَيَانُ اَحْكَامِ الرَّاعِیِ وَالرَّعِيَّةِ) سره یعنی د بادشاهانو او د رعیت احکام او حقوق بیانیږی۔ او دا به یواځے د بادشاهانو سره متعلق نهٔ وی بلکه دا انفرادی احکام هم دی، د هر یو تن پکی هم فائده شته۔

۳- موضوع: اِزَالَةُ رُسُوْبِ الْجَاهِلِيَّةِ ـ د جاهلیت د زمانے خیری زائله کول۔ د اسلام نه روستو د جاهلیت د زمانے بعض خیری پاتی وو نو د هغے اصلاح ئے وکړه او هغه ئے صفا کړل او بندګانو ته ئے صحیح تصور ورکړو او د دشمنانو ګنده خیالات او تصورات ئے دفع کړل، لکه جاهلیت والو به د یتیمانانو مال خوړلو او زنانه به ئے په میراث کی ورلے او بی حیائی به ئے کوله، او په باب د نکاح کی به ئے د خپلے خور او مور سره نکاحونه کول۔

او د یهودو او منافقانو سخت رد هم پکی ذکر ذئے ځکه چه د دوی د یو بل سره تعلق وو، معاشره ئے ګنده کوله۔

او ددے سره سره دا سورت د مسلمانانو په اجتماعیت کی د تعاطف (یو بل باندے د مهربانئ او ظلم نکولو) احساس ورکوی دارنګه څوك چه دے مقصد ته ضرر رسوی (لکه مشرکان، اهل کتاب او خصوصًا یهود) نو د هغوی مکرونه او چلونه او وسائل ئے دفع کړیدی او د هغوی فاسد منهج او طریقه ئے ختمه کړیده او داسے قوانین او تشریعات ئے وضع کړیدی چه دوی لارے ته راولی۔ (فی ظلال القرآن ۱/ ۵۵٤)

٤- **موضوع**: چه جامعه ده مخکنو موضوعاتو لره او هغه مقصدی موضوع ده (اَلتَّرْغِيْبُ اِلٰی اِتِّبَاعِ الرَّسُوْلِ بِالْكَثْرَةِ) د نبی کریم ﷺ تابعداریٔ ته ئے زیات ترغیب ورکړیدے لکه ﴿ وَمَنْ يُطِعِ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ﴾ ﴿ مَنْ يُطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ﴾ او د رسول الله ﷺ د تابعدارئ فوائد به ذکر کوی۔

لکه د (۵۹) آیت نه روستو په یو رکوع کی ډیر فوائد او په منافقانو باندے ردونه کړیدی او د (اطیعوا الله واطیعوا الرسول) او ﴿ وما ارسلنا من رسول الا لیطاع﴾ او ﴿ فلا وربك لا یؤمنون﴾ ﴿ ولو انا کتبنا علیهم ان اقتلوا﴾ ای فی اتباع الرسول) ﴿ مع الذین انعم الله علیهم﴾ او په آخر د سورت کی به هم دغه خبره کوی۔

او دا ځکه مرکزی مسئله ده چه رسول الله ﷺ دغه مخکنی حقوق بیانونکے وو او د جاهلیت رسمونه هغه ختمول او ددے په مقابله کی منافقان او یهود پیش پیش وو چه د

خلکو مخے تـه به ودریدل او شکونه به ئے اچول نو الله به په دوی باندے هم سخته حمله کوی چه ډیر بد صفات ئے راجمع کړیدی او منافقان ئے په مینځ مینځ کی تکولی دی۔ ورسره ورسره د قرآن د عادت مطابق چه توحید خامخا بیانوی نو د نصاراؤ په شرك ئے رد کړیدے او اهل کتاب ئے د غلو فی الدین نه منع کړیدی او حق دین ته ئے دعوت ورکړیدے۔ او په مینځ کی ئے هم وئیلی دی : ﴿ وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا﴾ او ﴿ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ﴾ خو د رسالت خبره په سورت کی زیاته ذکر ده۔ او دا یوه جامعه موضوع ده چه زمونږ تعبیر ددے د ښه بیان نه قاصر دے۔

د یوے رکوع **حاصل** : اول کی الله تعالیٰ په تقویٰ سره امر کړیدے ځکه چه دا بنیادی څیز دے چه په چا کی تقویٰ پیدا شی نو هر خیر ورپورے انخلی او تقویٰ ته ئے په ډیر ښائسته انداز دعوت ورکړیدے، براعة الاستهلال ئے کړیدے۔ یعنی دا اولنی آیت ټولو ذکر شوی مقاصدو ته اشاره کوی چه هغه د الله په احکامو عمل کول او یو بل باندے رحم کول لکه (مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ) کی ورته اشاره ده او حقوق العباد ادا کړئ د صله رحمئ لحاظ وساتئ۔

بیا ئے سمدست د یتیمانانو د مالونو متعلق حکم کړیدے چه دوی ته مالونه ورکړئ او د دوی مالونه مهٔ بدلوئ، بیا ئے د یتیمانانو زنانو د نکاح مسئله بیان کړے بیا ئے د مهرونو مسئله، بیا د سفهاؤ د مالونو د حفاظت حکم دے او د هغے متعلقات، بیا ئے مسئلة المیراث ذکر کړیده په (لِلرِّجَالِ نَصِيْبٌ) کی، بیا په (وَاِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ) کی بل حکم دے چه میراث نه څه نا څه برخه خپلوانو ته هم ورکول پکار دی۔ بیا د یتیمانو په مال خوړلو سره تخویف ذکر دے، بیا په (يُوْصِيْكُمُ اللّٰهُ) دوه آیتونو کی د میراث تفصیلی احکام بیانوی د هغے نه روستو د وصیت مسئله هم بیانوی او بیا بشارت او تخویف ذکر دے چه د احکامو پابندئ سره جنت ملاویږی ورنه جهنم دے۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

يَا اَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِىْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ
اے خلقو ! ویریږئ د رب خپل نه هغه ذات چه پیدا کړی یئ تاسو د نفس یو نه
وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيْرًا
او پیدا کړے ئے دے د هغے نه بی بی د هغه او خوارهٔ کړی ئے دی د دواړو نه سړی ډیر

وَنِسَآءً وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِیْ تَسَآءَ لُوْنَ بِهٖ وَ
او ښځې او ویرېږئ د الله نه هغه چه تاسو سوال کوئ د هغه په نوم او د (پرېکولو) د
الْاَرْحَامَ اِنَّ اللّٰهَ کَانَ عَلَیْکُمْ رَقِیْبًا ﴿۱﴾
خپلولئ نه، یقیناً الله تعالیٰ دے په تاسو باندے نګهبان۔ (ساتونکے)۔

تفسیر : یَا اَیُّهَا النَّاسُ : دا عام خطاب دے هر چا ته، مؤمن وی که کافر، یهود وی که نصاریٰ او که منافقان، او د قیامته پورے خو مره انسانان چه راځی هغوی ټولو ته متوجه دے۔

اتَّقُوْا : تقویٰ سره په بنده کی ټولے نیکیانی راجمع کیږی پدے وجه ئے پدے باندے امر وکړو۔

رَبَّکُمْ : رب لفظ ئے راوړو پدے کی اشاره ده چه د الله نه پدے وجه یره کول پکار دی چه هغه د انسان رب دے، هغه انسان لره پیدا کړیدے، هغه ورته روزی ورکوی، او په هغه باندے د هغه بیشماره احسانات دی، نو پدے احکامو سره هم د بنده پالنه کوی۔

مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ : ددے نه مراد آدم علیه السلام دے او د (زَوْجَهَا) نه مراد حواء رضی الله عنها ده۔ حدیث کی دی چه آدم علیه السلام اُوده وو نو الله تعالیٰ د هغه د ګسے پوختئ نه د هغه دپاره بی بی حواء راپیدا کړه چه خوا کی ورسره ناسته وه، آدم علیه السلام ترے تپوس وکړو ته څوك یی؟ هغے وویل : زهٔ ستا بی بی یم، څه دپاره پیدا شوے ؟ هغے وویل : (لِتَسْکُنَ اِلَیَّ) دے دپاره چه تهٔ ما ته سکون حاصل کړے۔ (ابن جریر والبیهقی فی الاسماء والصفات وابن عساکر وابن ابی حاتم الدر المنثور ۱/۲۷۸)

حکمة : الله تعالیٰ حواء د آدم علیه السلام نه ولے پیدا کړه ؟ د ختیے نه ئے ولے نهٔ جوړوله؟ پدے کی ډیر حکمتونه دی یو په هغے کی دا دے چه د دواړو یو بل سره میل جول (تعلق) او محبت پیدا شی او په یو بل ئے ترس او ترحم پیدا شی، که دا نهٔ وے د یو بل نه به جدا جدا ګرزیدلے او په یو بل به نهٔ خفه کیدلے، پدے وجه علماء کرام دا نکته وائی چه سړے د خاورے نه پیدا دے او ښځه د سړی نه پیدا ده نو د سړی توجه ټوله د دنیا او د هغے د مالونو او جائیدادونو سره وی او زنانه سره صرف د خپل خاوند غم وی، خاوند ورته د هر څه نه غوره ښکاری۔

بیا الله تعالیٰ حواء رضی الله عنها د آدم علیه السلام د ګسے (چپے) پوختئ نه راویستله پدے کی

د ښځې کـوروالي ته اشاره ده چه ښځه کوړ لرګې دې پدې کې الله تعالیٰ د سړي په شان ډير کـمـال پيـدا نـكـړو ځکه چه بيا د دواړو شريك ژوند نۀ تيريږي، يو بل ته تن نۀ ايږدي نو الله تـعـالـیٰ په ښځه کې کوږوالے پیدا کړو چه سړی ته محتاجه وی او سړی نه بغير د هغې کار نـۀ كيږي او بـل طـرفـتـه په سړی باندے امتحان دے چه دا د جنت حوره نۀ ده چه تۀ به ترے تـولـے فـائـدے اخلے او هيڅ تكليف به ئے نۀ وی، نۀ بلكه دا كوږ لرګې دے سره به ګوزاره کوے۔

فائدة : دا آیت صریح دلیل دے چه حواء د آدم علیه السلام نـه پیدا ده او بیا ټول انسانان د دوی دواړو نـه پـيـدا شـويـدی نـو كـوم ګمراهان چه دا تاویل کوی چه د (نفس واحدة) نه مراد يو جنس دے او حواء د آدم علیه السلام نـه پیدا نۀ ګنړی نو دا خطاء دی، ځکه چه د صحیح حدیث نه مـنـكـر دی۔ او بعض باطل پرست پکی لا دا هم وائی چه آدم علیه السلام د خـاورے نه نۀ دے پیدا ځکه چه دا ممکن نۀ ده۔

فائده : (مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا) کی د سورت موضوع ته اشاره ده چه ټول انسـانـان د يـو نفس نه پيدا دی نو ښځې د سړو سره په جنس کی يو دی، دواړه خور او ورور دی نـو خـويـنـدو سره احسان پكار دے نۀ ظلمونه كول او نۀ د هغوی حقونه غصب کول۔دا براعة الاستهلال شو۔

وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا : دوه کسان وو الله تـعـالـیٰ تـرے پـه کـريـونو، فدمونو انسانان راخـوارۀ کـړل او لـګـيـا دی خوريږی، او د يو بل نۀ ئے پیدا کوی دے دپاره چه د يو بل سره ئے مینه او محبت او په یو بل باندے ترحم پیدا شی۔

وَنِسَآءً : د ښځو سره ئے (كَثِيرًا) ونـۀ ویـلـو حال دا دے چه د ابو هريره رضی الله عنه نـه نقل دی چه زنانه د سړو نه په دنيا کی هم زياتی دی ځکه چه د يو سړی دپاره څلور ښځې جائز دی او په جـنـت کـی به هم زياتی وی، یو جنتی ته به دوه بیبیانی ورکوی او شهید دپاره اویا او چا ته زياتی او چا ته کمے۔او اُوس زمانه کی مردم شماری والا ليکی چه دنيا کی سړی څلويښت فیصده او زنانه شپیته فیصده پیدا کیږی نو ددے نه معلومه شوه چه دويم واده کول پکار دی دے دپاره چه زنانه معلقے پاتی نۀ شی۔ نو زنانه اګرکه زياتی دی ليکن اصل په هغوی کـی پټ والے دے، هغوی بازارونو ته نۀ راوځی، كارونه نكوی، دكانونو ته نۀ راوځی نو نۀ ښـکـاره کـيـږی او سـړی پـه هر ځای کی ښکاری نو ځکه ډير معلوميږی او پدے وخت کی زنانه پدے وجه ډيرے ښکاری چه کورونو کی ئے وخت نۀ تیریږی بهر راوتی دی۔

وَاتَّقُوا اللهَ : دوباره ئې په تقویٰ باندې حکم وکړو دپاره د تاکید او اهتمام۔ یا پدې کې تقویٰ ده په حقوق الله کې چه د هغه سره شرك نهٔ کول دی۔

تَسَآءَلُوْنَ بِهٖ : پدې کې دوه قولـه دی (۱) اول دا چـه تَسَاءَلُوْنَ باب تفاعل دې د تشارك خاصیت پکې دې یعنې د یو بل نه سوال کوئ په نوم د هغه سره۔

(۲) دویم دا چه دا په معنیٰ د مجردو سره دې یعنې تاسو سوال کوئ د هغه په نوم سره۔ یا باء زیاتی ده أَیْ تَسْئَلُوْنَهٗ) یعنې تاسو سوال کوئ د هغه نه او پدې کې د تقویٰ علت ذکر دې چـه هرکله چه تاسو د هغه نوم بل چا ته وسیله کوئ یا د هغه نه سوال کوئ نو لازم ده چه د هغه تعظیم وکړئ، د هغه توحید ومنئ او د هغه احکام قبول کړئ۔

پـه بل تعبیر : د الله نه پدې وجه هم یریدل پکار دی چه بنده د الله په نوم اخستو سره خپل یو حاجت د بل چا مخې ته اږدی، دا پو هیږی چه د مسئول (سؤال کړې شوی انسان) په زړهٔ کی د الله د کبریاء او د هغه د عظمت تصور شته چه د هغې په وجه به ددهٔ حاجت ضرور پوره کـوی۔ د الله ددې عـظـمـت او کبـریـاء تقاضا دا ده چه بنده د هغه عبادت اُوکړی او د هغه نه اُویریږی۔ لکه عربو به یو بل ته وئیل : أَسْئَلُكَ بِاللّٰهِ وَبِالرَّحِمِ۔ تا نه د الله په نوم او د خپلولئ پـه وجـه سـوال کـوم۔ (مـجـاهدؒ) او حسـن بـصریؒ فرمائی : یو تن به وئیل : (أَنْشُدُكَ بِاللّٰهِ وَبِالرَّحِمِ) تا ته په الله او په خپلولئ قسم درکوم۔ (الدر المنثور)

وَالْأَرْحَامَ : پـدې کـې درې اقـوال دی (۱) دا عطف دې په لفظ د (الله) باندې او مضاف پټ دې یعنې (وَاتَّقُوْا قَطْعَ الْاَرْحَامِ) یـعـنـې اویـریـږئ د پـریـکولو د خپلولئ نه۔ نو دا عطف د خاص دې په عام باندې او دا قول د مجاهدؒ، ضحاكؒ او قتادهؒ دې۔

(۲) قـول : دا مـنـصـوب دې پـه اغراءِ (تیزئ) سره یعنی وَالْاَرْحَامَ اِحْفَظُوْهَا۔ د خـپـلـولئ حفاظت او ساتنه وکړئ۔ دا قول د واحدیؒ دې۔

(۳) قـول : دا عـطـف دې پـه مـحـل د ضمیر د (بِهٖ) باندې او د هغې محل نصب دې۔ یعنی تَسَاءَلُوْنَ بِهٖ وَبِالْاَرْحَامِ ۔ او په قرائت د ابن مسعودؓ کی (وَبِالْاَرْحَامِ) راغلې دې یعنی هرکله چـه تـاسو یو بل ته خپلولی وسیله کوئ نو لازم ده چه په خپلوانو کمزورو باندې ظلمونه ونکړئ لکه عربو به یو بل ته دا وئیل چه د الله او د خپلولئ لحاظ وکړه دا شے راکړه۔

والارحام جـمـع د رَحِم ده، دلتـه تـرې خپلولی مراد ده که د مور د طرفنه وی او که د پلار د طرفنه۔ (التفسیر المنیر)

د صله رحمئ اهمیت د بنده په زړهٔ کی دکینولو دپاره الله تعالیٰ د خپل حق سره د ((رحِم))

حق یو ځای کړو، دې دپاره چه معلومه شي چه لکه څنګه چه د الله د حقوقو ادائیګي واجب ده، نو دغه شان د رشته دارو (خپلوانو) حقوق هم ادا کول واجب دي. او څوك چه په خپلولئ او رشته کې څومره نزدې وي هغومره به د هغه د حق اهمیت زیات وي.

قرآن کریم کې الله تعالیٰ د والدینو د حقوقو د اهمیت خودلو دپاره بندګانو ته د خپل عبادت د حکم ورکولو نه روستو بغیر د څه تاخیر نه د والدینو سره د ښه سلوك حکم کړیدے. الله فرمائي : ﴿ وَقَضٰی رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِیَّاهُ وَبِالْوَالِدَیْنِ اِحْسَانًا﴾ (الاسراء :٢٣) بل ځای فرمائي :﴿ وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَیْئًا وَّبِالْوَالِدَیْنِ اِحْسَانًا وَّبِذِی الْقُرْبٰی ﴾ . (النساء :٣٦) په صحیحینو کې د عائشې رضی الله عنها روایت دے چه نبی کریم ﷺ اُوفرمایل : چه ((رِحِم (خپلولي)) د عرش سره پیوسته ده وائي چه څوك ما یوځای کړي نو الله دِے هغه یو ځای کړي، او څوك چه ما پریکړي الله دِے هغه د خپل رحمت نه پریکړي)). په صحیحینو کې د جُبیر بن مطعم ﷺ روایت دے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل :

((خپلولي پریکونکے به جنت ته نۀ داخلیږي)).

د آیت په آخر کې الله اُوفرمایل : چه الله تعالیٰ ستاسو د احوالو او اعمالو نه خبردار دے، د هغه نه یوه ذره هم پټه نۀ ده، پدے وجه بنده لره پکار دي چه خپل ژوند داسے تیر کړي چه د هغه په زړۀ او دماغو کې دا خبره کینی چه الله ما ته ګوری، او زما ټول اعمال د هغه په سترګو کې دي.

رَقِیْبًا : د رقابت نه اخستے شویدے د یو کار د تحقیق دپاره نظر تیزول او کله رقیب په معنیٰ د مُراقب (څوکئ کونکی) سره هم راځي. او رقیب د الله په صفاتو کې (حفیظ) ساتونکی ته وائي. او پدے جمله کې الله تعالیٰ بندګان یره وی چه خبر شئ الله تعالیٰ ستاسو هر عمل وینی، حساب به درسره کوی نو دا مقدمه ده دپاره د عمل کولو په روستو احکامو باندے.

وَآتُوا الْیَتَامٰی اَمْوَالَهُمْ وَلَاتَتَبَدَّلُوا الْخَبِیْثَ بِالطَّیِّبِ وَلَا تَاْكُلُوْا
او ورکړئ یتیمانانو ته مالونه د هغوی او مۀ بدلوئ خبیث د پاك سره او مۀ خورئ
اَمْوَالَهُمْ اِلٰی اَمْوَالِكُمْ اِنَّهٗ كَانَ حُوْبًا كَبِیْرًا ﴿٢﴾
مالونه د هغوی سره د مالونو ستاسو نه یقیناً دا ګناه ده لویه.

تفسیر : دا اولنے حکم دے ددے سورت د احکامو نه چه پدے کې منع ده د یتیمانانو د

مالونو خوړلو نه ځکه چه دا هغه ډله ده چه دوی د خپلو حقوقو نه دفاع نشی کولے، هرڅوك ئے په ډیره آسانئ سره حقوق ضائع کولے شی، نو اسلام د هغے د حفاظت حکم وکړو۔

الْيَتَامٰى : جمع د یتیم او يَتِيمَةٌ (مذکر او مؤنث) ده او ایتام یواځې د یتیم (مذکر) جمعه راځی، د يُتْمٌ نه دے په لغت کی یواځې والی ته وائی او په عرف کی په حیواناتو او مارغانو کی یُتم دا دے چه مورئے مړه وی او په انسانانو کی دا دے چه پلارئے وفات شوے وی او دے یواځې پاتې شوے وی چه د کفالت ئے څوك نهٔ وی۔ (مفرداتِ راغب ۵۷۵)

او شرعاً یتیم والے د بلوغ نه مخکې وی لکه په صحیح حدیث د ابوداود کی دی : (لَايُتْمَ بَعْدَ احْتِلَامٍ) د بلوغ نه روستو یتیم والے نشته) (السلسلة الصحيحة رقم : ۳۱۸۰)

أَمْوَالَهُمْ : دوی ته ئے د مالونو نسبت وکړو پدے کی اشاره ده چه ماشوم د بلوغ نه مخکی د مال مالك گرزیدلے شی، او پدے نسبت کی دے ته هم اشاره ده چه دا مال پردے دے، صرف تاسو ئے متولیان او محافظین یئ نو هغوی ته په خپله موقعه کی خپل مالونه وسپارئ۔ او یتیم ته د مال ورکولو دوه مطلبه دی (۱) یو دا چه ددے نه مراد یتیمانانو ته طعام او جامه وغیره ورکول دی چه دا ترے مهٔ منع کوئ ځکه چه د هغوی مال دے خو تهٔ ئے صرف نگران او متولی یی۔ (۲) دویم دا چه کله بلوغ ته ورسیږی او تاسو د هغوی نه هوښیارتیا معلومه کړه نو بیا ورته پوره مال وسپارئ لکه روستو (۶) آیت کی دا حکم راروان دے۔ یا دا چه بعض ماشومان نابالغ وی خو هوښیار وی او د هغوی مال ته ضرورت راپیښ شی نو تاسو ئے ترے مهٔ ایساروئ او پکار ده چه ستاسو د طرفنه دِے دوی ته څه مانع نهٔ وی، تاسو ئے پکار ده چه په پوره اخلاص سره ورکړے ته تیار شئ۔

وَلَاتَتَبَدَّلُوا الْخَبِيثَ : ۱- خبیث خپل ردی مال د یتیم په مزیدار او قیمتی مال باندے مهٔ بدلوئ مثلًا خپل ردی (کم قیمته) مال د یتیمانانو په مال کی ورواچوئ او په بدل کی ئے د هغوی د مالونو نه غوره او ښه مال واخلئ لکه د یتیم غوا او اُوښ غوره دے، تهٔ هغه راواخلے او خپل مال کی ئے واچوے او خپل کم قیمته غوا او اُوښ د هغه په مال کی واچوے۔ ۲- خبیث حرام مال ته وائی او طیب پاك مال یعنی پلیت (حرام) مال (د یتیمانانو مال) په پاکیزه مال (خپل حلال مال) باندے مهٔ بدلوئ۔

۲- تبدل کله په معنیٰ د استبدال سره وی معنیٰ به دا وی : مهٔ اخلئ مال د یتیم چه حرام دے ستاسو دپاره په بدل د خپل حلال مال کی۔ (فراء بغویؒ، زجاجؒ)

وَلَا تَأْكُلُوٓا أَمْوَالَهُمْ إِلَىٰٓ أَمْوَالِكُمْ :

(اِلٰی) په معنیٰ د (مَعَ) سره دے یا متعلق دے په مَضْمُوْمَةً پورے۔ (یعنی چه یو ځای شی) او مخکنی جمله کی په هره طریقه سره چه غلطه وی د یتیم مال د اخستو نه منع وکړه او پدے کی په طریقه د تاکید سره د جاهلیت والو په یو عمل باندے رد کوی چه هغوی به د یتیم مال په طریقه د ګډون سره خوړلو او په چل سره به ئے خوړلو۔ چه خپل لږ مال سره به ئے د یتیم زیات مال یو ځای کړو او بیا به ئے خوړلو، البته ددے نه دا صورت مستثنیٰ دے چه د یتیم ولی (نګران) فقیر وی نو په جائزه او د عرف مطابق طریقه سره د هغه مال که د ساتنے په مقابله کی وخوری نو ګناهګار به نهٔ وی۔ دلته په طریقه د اِفْسَاد سره د یتیم د مال د خوړلو نه منع راغله۔ او پدے کی ښه آس او اُوښ او ګاړے داخل دے چه د یتیم سره ئے مارچه کوی۔

او دلته ذکر د اکل (خوراك) دے او مراد تربے نه هر قسم فائده اخستل دی۔

إِنَّهٗ : (ه) ضمیر مخکی (اکل) یا تبدل یا دواړو ته راجع دے

حُوْبًا : حُوْب په اصل کی زورنے ته وئیلے شی او قرطبیؒ وائی : وحشت ته وائی او قفالؒ وئیلی دی چه تحوب کسب د هغه څیز دے چه درد پیدا کوی او دلته تربے لویه ګناه یا ظلم مراد دے۔ (ابن عباسؓ، الدر المنثور وابو السعود)

او کبیراً ئے د تاکید دپاره ووئیل چه دا کبیره ګناه ده۔

لطیفة : زمخشری وائی چه د یتیمانانو مال خوړل که یواځے وی او که د خپلو مالونو سره یو ځای کول وی په دواړو طریقو خوړل په دوی باندے حرام وو مګر دلته ئے دویم صورت ذکر کړو پدے کی اشاره ده چه هرکله ستاسو خپل حلال مال موجود دے او ددے سره ستاسو سترګے پردی مال ته وچتیږی نو دا ډیر قبیح او د بدئ لائق دے، نو پدے کی د دوی منع کول زیات دی۔ (قاسمی ۲/۲۱٤)

وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِى الْيَتَامَىٰ فَانكِحُوا مَا
او که یریږئ تاسو چه انصاف به ونکړئ په باره د یتیمانانو کی نو نکاح اُوکړئ د هغے سره
طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَآءِ مَثْنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ
چه خوښے وی تاسو ته د نورو زنانو نه دوه دوه او درے درے، او څلور څلور نو که چرته

خِفۡتُمۡ أَلَّا تَعۡدِلُوا۟ فَوَٰحِدَةً أَوۡ مَا مَلَكَتۡ
یریږئ تاسو چه انصاف به ونکړئ نو یوه ښځه وکړئ یا هغه چه مالکان دی
أَیۡمَـٰنُكُمۡۚ ذَ ٰلِكَ أَدۡنَىٰۤ أَلَّا تَعُولُوا۟ ﴿٣﴾
ښی لاسونه ستاسو، دا ډیره نزدے ده چه تاسو به نهٔ اوړئ۔ (د حق نه)۔

تفسیر : پدے آیت کی غوره تفسیر هغه دے چه امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح کی د عائشه رضی الله عنها نه نقل کړیدے چه هغه فرمائی : (د عربو عادت دا وو) چه د یو سړی په ولایت کی به یوه یتیمه جینئ پاتے شوه (مثلًا ترهٔ ته به پاتے شوه) نو که د هغے سره به مال کم وو یا به بدرنګه وه نو هغه به ئے په نکاح خپل بچی دپاره نهٔ اخستله O او که چرته مالداره او بدرنګه به وه نو بل ته به ئے هم نهٔ ورکوله ځکه چه یریدل به چه مال ئے بل چا ته نقل نشی او دے ئے په آرام آرام سره مال وخوری۔ او خپله به ئے هم په نکاح نهٔ اخستله ځکه چه بدرنګه به وه نو پدے طریقه به ئے زوړنده ساتله او زندګی به ئے ورله برباده کړله۔ O او که جینئ به ښائسته وه لیکن غریبه به وه نو بیا به ئے د هغے سره نکاح کوله لیکن نقصان به ئے ورسره دا کولو چه هغے ته به ئے د نورو ښځو په شان مهر نهٔ ورکولو بلکه معمولی شان څه به ئے ورله مقرر کړل نو الله تعالیٰ مسلمانان پدے آیت کی ددے عادتونو نه منع کړل۔ (بخاری کتاب التفسیر)۔

او دا طریقے بعینهٖ زمونږ د عجمو په ظلمونو باندے رد کوی چه هغوی هم د خپلو نزدے یتیمانانو سره داسے کار کوی۔

فِی الۡیَتَـٰمَىٰ : دلته د یتامیٰ نه مراد یتیمانانے جینکئ دی۔

(۱) نو د آیت معنیٰ دا ده چه اے د یتیمانو جینکو اولیاؤ ! که تاسو یریږئ چه که ددے یتیمانو جینکو سره نکاح اُوکړئ نو د هغوی سره به انصاف معامله اُونکړے شئ، یا خو به مهر کم ورکړئ، یا به د هغوی سره ښه سلوك اُونکړئ (ځکه چه ښائسته نهٔ ده)، نو د دوی نه سِویٰ نورو غیر رشته دارو (پردو) جینکو سره وادهٔ اُوکړئ، په دنیا کی خو جینکئ څه کمی نهٔ دی، او بیا یو نهٔ بلکه څلور ښځے په یو وخت کی ساتلے شئ۔ او دا یتیمه پریدئ چه بل چا سره واده وکړی۔ بیا ئے د مال او د جمال غم مهٔ کوه۔ او هرکله چه تهٔ د مال او د جمال غم کوے نو بیا په یتیمه ظلم مهٔ کوه۔

(۲) دویم تفسیر دا هم جائز دے چه دا هم د عربو په عادت بناء دے چه کله به یوه یتیمه جینئ د یو سړی په نکاح کی راغله نو د هغے سره به ئے احسان کولو څکه خپله ښځه به ئے شوه لیکن نورو زنانو باندے به ئے ظلم کولو، یو سړی به لس لس ښځے کولے لیکن بیا به ئے حق نشو ادا کولے، مهر به ئے سم نهٔ ورکولو نو الله تعالیٰ د یو حکم نه په بل باندے حواله ورکوی چه په یتیم باندے ظلم نهٔ کوے نو پکار دا ده چه په نورو زنانو هم ظلم ونکړے او تر څلورو پورے نورے ښځے کولے شئ او ددے نه اخوا تاسو نه انصاف نهٔ کیږی۔
نو دلته به معنیٰ دا وی : وَاِنْ خِفْتُمْ اَنْ لَّا تُقْسِطُوْا فِي الْيَتَامٰى فَلَا تَظْلِمُوْا فِي الْمَنْكُوْحَاتِ)
که تاسو یریږئ چه د یتیمانانو سره به انصاف ونکړئ یعنی د یتیمانو د بی انصافئ نه یریږئ نو د نورو غیر یتیمانانو ښځو سره هم ظلم مهٔ کوئ۔
(۳) د عائشے رضی الله عنها نه امام بخاریؒ یو بل روایت هم نقل کړیدے چه مطلب د آیت دا دے چه یوه یتیمه جینئ به د خپل ولی سره پالله شوه او د هغه په مال کی به شریکه وه او ښائسته به هم وه۔ د هغه ولی به د هغے سره وادهٔ کول نهٔ غوښتل او نهٔ به ئے دا خوښول چه ددے واده د بل چا سره وکړی پدے یره چه ددے خاوند به ددهٔ سره په مال کی شریك شی۔ نو الله تعالیٰ مسلمانان د داسے کار نه منع کړل۔
(٤) د ابن عباسؓ، سعیدؒ بن جبیر او قتادهؒ او ضحاكؒ نه ابن جریر طبریؒ او سیوطیؒ او صاحب د البحر المحیط (٥٠٣/٣) نقل کړیدی چه هرکله د یتیمانانو په باره کی ډیر کلك وعیدات نازل شو نو خلکو د یتیمانانو د مالونو نه ځان ډیر بچ ساتلو دے دپاره چه په دوی ظلم ونشی لیکن بل طرفته به ئے په نکاح کی ډیرے ښځے پرتی وے او د هغوی د زوجیت حقوق به ئے پوره نهٔ ورکول او بی انصافی او ظلم به ئے پکی کولو او هیڅ پرواه به ئے نهٔ لرله نو پدے آیت سره ئے دوی ددے ظلم نه منع کړل نو معنیٰ د آیت به دا وی :
که چرے تاسو د یتیمانانو (هلکانو او جینکو) د مالونو نه ځان ساتئ او د ظلم نه یره کوئ نو دارنگه ځان وساتئ د ظلم کولو نه په خپلو منکوحاتو باندے او د هغے طریقه دا ده چه د څلورو نه زیاتے مهٔ کوئ څکه چه تاسو د څلورو نه زیاتو سره هیڅ عدل نشئ کولے یعنی چه یو انسان د یوے گناه نه ځان بچ کوی نو لازم دا ده چه د هغے په شان د بلے گناه نه دے هم ځان بچ وساتی۔
پدے کی اول تفسیر راجح دے۔
مَا طَابَ لَكُمْ : یعنی هغه زنانه چه ښے لگی په تاسو۔ یا حلالے وی تاسو لره۔ د (مَنْ) په

خای (مَا) لفظ استعمال کړو ځکه چه دلته مقصد نکاح د ښځو ده په وصف د طِیْبَة سره او (مَا) د وصفیت دپاره استعمالیږی۔ (المنار) او ښه والے د ښځے کله په لیدلو سره معلومیږی نو د نکاح په وخت ښځے ته کتل هم جائز دی لکه چه ددے په باره کی ډیر صحیح نبوی احادیث راغلی دی (فَانْظُرْ اِلَیْهَا فَاِنَّهٗ اَحْرٰی اَنْ یُّؤْدَمَ بَیْنَکُمَا)۔(ترمذی، ابن ماجه)

فَانْكِحُوْا: پدے کی الله تعالیٰ مسلمانانو ته اجازت ورکړیدے چه دوی ډِیے په خپله خوښه سره د نورو ښځو سره وادهٔ اُوکړی او هغوی ته ئے د څلورو ښځو پورے د نکاح کولو اختیار ورکړیدے، او د څلورو نه د زیاتو ښځو ساتلو نه ئے منع کړیده۔

امام شافعیؒ وائی چه د رسول الله ﷺ سنت پدے باندے دلالت کوی چه د نبی کریم ﷺ نه سِویٰ د هیڅا دپاره د څلورو ښځو نه زیاتے ساتل جائز نهٔ دی، پدے باندے د امت اجماع ده۔ صرف بعض شیعه ګانو د څلورو نه زیاتو ته جائز وئیلی دی۔ هغوی مثنیٰ نه دوه او د ثلاث نه درے او د رباع نه څلور مراد کوی یعنی نهه ښځے۔ مگر پدے باندے هیڅ قسم صحیح نقلی دلیل نشته او د عربو د لغت خلاف دے۔

د امت علماؤ د څلور نه د زیاتو په حرمت باندے د غیلان ثقفی د واقعے نه دلیل نیولے دے چه د هغه سره لس ښځے وے، کله ئے چه اسلام راوړو نو د الله رسول ﷺ هغه ته اُووئیل چه د څلورو نه سوئ باقیو ته طلاق ورکړه۔ دا حدیث د ابن عمر رضی الله عنهما نه احمد، ترمذی، ابن ماجه، دارقطنی او ابن ابی شیبه روایت کړیدے او علامه البانیؒ ددے تصحیح کړیده۔

دویمه واقعه د نوفل بن معاویهؓ ده چه د هغه سره د اسلام راوړو په وخت پنځه ښځے وے۔ رسول الله ﷺ هغه ته وویل چه څلور اُوساته او یوه پریده۔ دا امام شافعیؒ په خپل مُسند کی روایت کړیدے۔

دریمه واقعه د قیس بن حارث اَسَدِی ده چه د هغه سره اته ښځے وے۔ رسول الله ﷺ هغه ته وویل چه څلور اُوساته او باقی پریده، دا ابن ماجهؒ روایت کړیدے او علامه البانیؒ ددے تصحیح کړیده۔

څلورمه واقعه د عُمَیر اَسَدی ده چه د هغه سره هم اته ښځے وے۔ رسول الله ﷺ هغه ته اُووئیل چه ددے نه څلور غوره کړه۔ دا ابوداود او ابن ماجه روایت کړیدے او علامه البانیؒ په صحیح ابن ماجه کی ددے تصحیح کړیده۔ (القاسمی ۲۲۳/۲) وتیسیر الرحمن) او ډیر دلائل په حرمت د مافوق الاربع په الدین الخالص (۱۲) جلد (سیطبع قریبا) کی وګوره۔

مخکې بیان شو چه د امت پدې اجماع ده چه د څلورو نه زیاتې ښځې ساتل د امت د هیڅ فرد دپاره جائز نهٔ دي، دا کار د رسول الله ﷺ پورې خاص وو. لیکن پدې کې هیڅ شك نشته چه د یوې نه زیاتې ښځې ساتل حلال دي. نبي کریم ﷺ او صحابه کرامو پدې باندې عمل کړیدې، او نن پورې په هر دَور کې مسلمانان ددې قائل دي، او ددې مطابق عمل کوي.

فائده : اسلام د سړي دپاره د څلورو ښځو پورې اجازه ورکړه نهٔ ښځې دپاره د ګنړو خاوندانو، ځکه چه سړي کې طاقت زیات دې او حرارتِ غریزي ئې زیات دې، دارنګه زنانه په ځوانئ کې ګوزاره کوي لیکن کله ئې چه بچي وشي نو بیا ئې توجه بچي ته شي، د هغې تربیت کوي نو خاوند ئې معلق شي او د هغه ورته ضرورت وي او دارنګه په زنانه باندې ګنړ عوارض راتلې شي. او د زنانه خوئي دا دې چه کله په یو کار مصروفه شي نو بیا ئې شهوات مړه وي، اکثر د خاوند حقوق د هغې نه نهٔ ادا کیږي، او زنانه دپاره د ډیرو خاوندانو اجازه ئې ځکه ورنکړه چه د زنانه طاقتونه کمزوري دي، دا سبب د قتال د خاوندانو ګرځي، دارنګه د انساني غیرت خلاف ده، نسب پدې سره خرابیږي، نو دا کار شرعاً او عقلًا دواړه غلط دې.

مَثْنٰی : بیا قرآن کریم د دوو نه شروع وکړه پدې کې ځینې علماء دا فائده بیانوي چه ډیرې ښځې په نکاح کول بهتر دي ځکه چه رسول الله ﷺ دعوت ورکړیدې چه (تَزَوَّجُوا الْوَدُوْدَ الْوَلُوْدَ) (ابوداود، ترمذی، نسائی) تاسو د ډیرو بچو راوړونکو ښځو سره نکاح وکړئ. او د بې انصافئ نه د یرې په صورت کې یوه ښځه باندې اکتفاء ده.

مګر ځینې علماء (لکه دکتور لقمان السلفیؒ) وائي چه قرآن کریم چه دا وئیلي دي چه که تاسو یریږئ چه د دوي ترمینځ به عدل او انصاف نه کار وانخلئ نو یوه ښځه اُوساتئ نو دا داسې شرط دې چه ددې تعلق د هر سړي د زړهٔ سره دې. که واده کونکې پو هیږي چه دا انصاف نشي کولې نو غوره همدا ده چه یوه ښځه اُوساتي.

خاصکر په داسې حالاتو کې چه بنده د هغې د اخراجاتو د پوره کولو دپاره حرام طرفته مائل کیږي یا د هغې په وجه ډیر کورونه ورانیږي مثلًا د ښځو اولاد خپل مینځ کې د دشمنئ انداز اختیاروي، بنې په یو کور کې وخت تیرولو سره د خاوند زندګي تنګوي، وهل ټکولو ته نوبت رسیږي او د هغه دین ته نقصان رسوي، او بیا خاوند د هغې په نفقه کې هم عدل نشي کولې په کومه طریقه چه ورته الله تعالیٰ حکم ورکړیدې، ضرور د

کشرے ښځے لحاظ په خرچه او جامو او خوراکونو کې زيات کيږي او دا بې انصافي ده، کشرے ښځے ځان سره سفرونو او حضرونو کې ګرځوي او مشران ئے د کور حفاظت ته پريښي وي، او ډير مالداره خلك ليدلے شويدي چه هغوي خپلے ښځے د هغوي د اولادو سره شړلي وي او د داسے خلکو سره تربيت حاصلوي چه هغوي د دوي د قبيلے نه نهٔ وي او دوي ته هيڅ التفات هم نهٔ کوي، او ډير داسے پلاران شته چه هغوي د نوو ښځو د رضا کولو دپاره خپل غټ ځامن هم شړلي وي او د خپلو ښځو سره بد اخلاقي کوي او ډير کرته خاوند د اولے ښځے د تنګولو په اراده باندے دويمه ښځه کوي يا هسے د شهواتو څکے کوي او بيا د ښځو حقوق نشي پوره کولے، د بچو تربيت ئے ضائع شي، بلکه بچي ئے خپل مينځ کې په دشمنۍ باندے تربيت ومومي او د بنو بد اخلاقياني د هيچا نه پټې نهٔ دي لکه دا کارونه په ډيرو علاقو کې ليدلے شويدي نو ددے نه انکار مکابره ده، يا دا چه په خاوند کې حاکميت نهٔ وي، د دوو ښځو په مينځ کې د هغوي د اختلافاتو په صورت کې فيصله نشي کولے، د شريعت په ډيرو نکاحونو کې چه کوم حکمتونه وو هغه ضائع شي، او دويم واده ذريعه د شهواتو پوره کولو وګرځي او خپل حقيقي مقصد نه غافل شي نو په خلکو لازم دي چه په يوه ښځه اکتفاء وکړي کله چه د هغوي نه عدل نهٔ کيږي او دغه مفاسد ورته متوجه کيږي دے دپاره چه عمل راشي پدے قول د الله تعالیٰ (فَاِنۡ خِفۡتُمۡ اَلَّا تَعۡدِلُوۡا فَوَاحِدَةً) البته په سخته مجبورتيا کې دويمه ښځه په نکاح کول سره د ادا کولو د حقوقو نه جائز دي۔ (المنار ٤/٢/٣٠٢ بتصرف)

د بعض خلکو حرص زيات وي او بيا د زنانو حقوق نشي پوره کولے، هسے ئے کورته راجمع کړي وي او هغه بيا په يو ځاى کې پرتې وي چه خاوند ورته هيڅ توجه نهٔ ورکوي، زنانه څه حيوانات نهٔ دي چه سړے به ئے کورته راجمع کوي، نهٔ بلکه د هغوی حقوق به ادا کوے، کوټه به ورکوے او خرچه به ورکوے او بدني حقوق به ئے ادا کوے نو پدے باره کې دے هر انسان خپل ځان ته سوچ وکړي، عام خلك دويم واده د خپلو شهواتو د ترقۍ دپاره کوي، آؤ که څوك په ډير احتياط سره ژوند تيروي نو د هغه دپاره ډير ودونه کول بهتر دي۔

او د دويم واده عيب بيانول کفر دے ځکه چه دا د الله تعالیٰ حکم دے، ابن باز په فتاوى المرأة المسلمه کې ليکي: چه دا کار په ﴿ذٰلِكَ بِاَنَّهُمۡ كَرِهُوۡا مَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ فَاَحۡبَطَ اَعۡمَالَهُمۡ﴾ کې داخليږي۔ بيا دلته دا خبره ياد ساتل پکار دي چه کله نا کله د اولے ښځے د بد اخلاقۍ د وجه نه عدل نهٔ کيږي، هغه د هغے دپاره عقوبت وي، که هغه نيك اخلاق شروع کړي نو بې

انصافي به ختمه شي لکه تفصيل ئے په الدين الخالص (١٢) کې وګوره۔
أَوۡمَا مَلَكَتۡ أَيۡمَانُكُمۡ: سوال دا دے چه ما ملکت ایمانکم (یعنی وینځه) هم يوه ده نو ددے مقابله د (فَوَاحِدَةً) سره څنګه صحیح کیږی؟ جواب دا دے چه دلته عبارت پټ دے: (أَوِ اكۡتَفُوۡا بِمَا مَلَكَتۡ أَيۡمَانُكُمۡ) يا اکتفاء وکړئ په وینځه خپله۔ او دا ځکه چه د وینځے حقوق د آزادو ښځو په نسبت بیخی کم دی، د هغے د جماع حق نشته، او په هغوی کې د شمار اندازه هم نۀ ده مقرره نو د هغے ساتل ډیر آسان دی نو که د آزادے ښځے د حقوقو د ادا کولو نه یریږی نو په وینځه دِے ګوزاره وکړی، او وینځه په غیر د نکاح نه اخستے شي، او د یوے ښځے حقوق هم زیات دی پاتے لا دا چه دوه او درے او څلور شي۔
ذٰلِكَ أَدۡنٰى أَلَّا تَعُوۡلُوۡا: دے نه روستو الله تعالىٰ اُووېل چه په يوه باندے اکتفاء کول یا د وینځو نه کار اخستل پدے اعتبار سره زیات مناسب دی چه ستاسو نه بی انصافی ونشی۔ أَیۡ أَنۡ لَّا تَعُوۡلُوۡا عَنِ الۡعَدۡلِ۔ تاسو به د عدل نه نۀ اوړئ۔ عَالَ په معنىٰ د (مَالَ او جَارَ) سره دے یعنی چه تاسو مائله نشئ د عدل نه یا ظلم ونکړئ۔ (المحرر الوجيز)
بعض مفسرينو د (الا تعولوا) معنىٰ کړیده: دے دپاره چه ستاسو اولاد زیات نۀ شي، او بيا د هغوی د اخراجاتو تیارولو دپاره د یتیمانو په مال باندے ظلم کوئ)۔ د زید بن اسلمؒ، جابر بن زیدؒ، سفیان بن عُیَیۡنَہؒ او امام شافعیؒ نه همدا تفسیر منقول دے۔ (قرطبی)
مګر هغه تفسیر د (أَنۡ لَّا تُعِيۡلُوۡا) قرائت سره زیات مناسب دے۔ ځکه چه په عام لغت د عربو کې عَالَ يَعُوۡلُ په معنىٰ د ظلم سره استعمالیږی او أَعَالَ يُعِيۡلُ په معنىٰ د اولاد زیاتیدو سره، اګرکه ځینی علماؤ وئیلی دی چه امام شافعیؒ د عربو په لغت زیات پوهه وو او کیدے شي چه (تَعُوۡلُوۡا) هم د بعض عربو په لغت کې په معنىٰ د اولاد زیاتیدو سره وی لکه ابوحاتمؒ دا خبره کړیده او ابو عمرو الدُّوۡرَی (د قرائت امام) نقل کړیدی چه دا لغت د حِمۡیَر دے۔ (فتح القدير للشوكاني ٧٨/٢ والتحرير والتنوير)
لیکن هغه بعید تفسیر دے او د مشهور لغت خلاف دے۔ نو د حدیث (تزوجوا الودود الولود) په مقابله کې ورله هیڅ اعتبار نشته۔
دعائشےؓ، ابن عباسؓ، مجاهدؒ، عکرمهؒ او حسنؒ وغیرهم نه اولنے تفسیر منقول دے۔ او حافظ ابن کثیر رحمه الله همغے ته ترجیح ورکړیده۔
ځینی علماؤ د امام شافعیؒ د تفسیر تائید کړیدے او وئیلی ئے دی چه عَالَ يَعُوۡلُ په عربئ ژبه کې په معنىٰ د زیادت سره استعمالیږی لکه عرب وائی: (عَالَتِ الۡمَسۡئَلَةُ إِذَا زَادَتۡ

سِهَامُهَا) مسئلے عول وکړو یعنی کله چه د مسئلے حصے زیاتی شی، نو پدے اعتبار سره د آیت معنیٰ به دا شی (ذٰلِكَ أَدْنٰى أَلَّا تَكْثُرُوْا، وَإِذَا لَمْ تَكْثُرُوْا لَمْ يَقَعِ الْإِنْسَانُ فِي الْجَوْرِ وَالظُّلْمِ، لِأَنَّ مَطِيَّةَ الْجَوْرِ وَالظُّلْمِ هِيَ الْكَثْرَةُ وَالْمُخَالَطَةُ) - دا په یوه ښځه اکتفاء کول ډیر نزدے دی دے ته چه تاسو به نهٔ زیاتیږئ او کله چه تاسو زیات نشوئ نو انسان به په ظلم او جور کی نهٔ واقع کیږی ځکه چه د کثرت او ګډون نه ظلم پیدا کیږی) نو بناء پدے باندے دا تفسیر نزدے کیږی د جمهورو تفسیر ته۔ نو دلته امام شافعیؒ کثرت د عیال کنایه ګرزولے ده د ظلم او مائل کیدو نه ځکه چه د عیال په ګنړ کیدو کی کله نا کله یو طرفته مائل کیدل او ظلم راځی نو دا په طریقه د کنایه سره تفسیر شو۔

او الله تعالیٰ پدے مقام کی د ظلم نه منع کوی پدے وجه چه په ګنړو ښځو او د هغوی په ګنړ اولاد کی د انسان نه ظلم واقع کیږی، آؤ که یو انسان قوی العزم وی او د هغه نه ظلم نهٔ کیږی نو بیشکه چه د هغه دپاره څلور جائز بلکه بهتر دی۔ خو دلته خبره د هغه انسان شروع ده چه هغه په ځان یریږی د ظلم نه نو هغه ته وائی چه اولاد مهٔ ګنړه وه په ظلم کی به واقع شے۔ اوبیا وائی : د امام شافعیؒ تفسیر راجح دے ځکه چه بیا تکرار په آیت کی راځی ځکه چه مخکی (اِنْ خِفْتُمْ اَنْ لَّا تُقْسِطُوْا) ذکر شو چه که یریږئ د ظلم نه نو که (ان لا تَعُوْلُوْا) هم په معنیٰ د ظلم واخستے شی نو تکرار به راشی۔ (جامع لطائف التفسير للشيخ عبد الرحمن بن محمد القماش)

که څوك سوال وکړی چه د امام شافعیؒ دا تفسیر خو د (مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ) خلاف معلومیږی ځکه چه کله د سړی وینځے زیاتی وی نو ضرور به ئے اولاد زیاتیږی؟

جواب دا دے چه په خاوند باندے د وینځو حقوق نشته، دویم دا چه وینځه مال دے کله چه مالك د هغے د نفقے نه تنګ شی نو خرڅه به ئے کړی نو په هغے باندے هیڅ قسم ظلم نشی راتللے۔ او د امام شافعیؒ ددے تفسیر نه د منصوبه بندئ والو دپاره دلیل نهٔ صحیح کیږی ځکه چه کثرت د اولادو (کله چه د تربیت سره وی) شریعت هغے ته دعوت ورکړیدے لکه چه مخکی حدیث تیر شو او دے آیت کی د څلورو ښځو اجازه ورکړے شوه او ښکاره خبره ده چه د څلورو ښځو نه به ډیر اولاد پیدا کیږی۔ دارنګه آیت (وَابْتَغُوْا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ) (البقره:۱۸۷) او (وَقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ) (البقره:۲۲۳) کی د اولادو طلب کولو باندے امر راغلے دے۔

فائدہ ۲: دلته الله تعالیٰ تر (رُبَاع) پورے اجازه ورکړه دے نه معلومه شوه چه زیادت د

امت دپاره ناروا دے، کـه جائز وے نو الله تعالیٰ به پدے عدد ذکر کولو اکتفاء نۀ کولے بلکه شمار به ئے مطلق پریښے وے۔ دارنګه الله تعالیٰ د عدل او انصاف حکم وکړو او بیا ئے د څلورو ښځو د نکاح اجازه ورکړه دے نه معلومیږی چه د څلورو نه زیادت کولو کی انسان بی انصافئ ته ضرور مائل کیږی۔ او پدے باندے د امت اجماع ده چه تائید ئے په مرفوع احادیثو کیږی چه هغه په مجموع الطرق سره حسن درجے ته رسیږی چه هغه تفصیلاً حافظ ابن کثیرؒ او علامه شوکانیؒ په السیل الجرار (۱/۳۵۵) طبع دار ابن حزم کی ذکر کړیدی۔

فائده۳: د څلورو ښځو د نکاح د اجازے نه معلومه شوه چه د ښځے حق په خاوند باندے دا دے چه په څلورمه شپه به هغے له خامخا حق ادا کوی او باقی شپے په خپل عبادت کی تیرول ورله جائز دی۔

وَآتُوا النِّسَآءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً فَإِنْ طِبْنَ
او ورکوئ زنانو ته مهرونه د هغوی د ډالئ په طریقه نو که په خوشحالئ سره پریږدی زنانه
لَكُمْ عَنْ شَيْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوْهُ هَنِيْئًا مَّرِيْئًا ﴿٤﴾
تاسو ته د څه شی د مهر نه پخپله خوښه نو خورئ هغه مزیدار (مبارك)، بی نقصانه۔

تفسیر: پدے آیت کی دریم حکم دے یعنی زنانو ته د هغوی مهر ورکول دے دپاره چه د هغوی سره ئے ښه ژوند تیر شی او هغوی خوشحاله شی۔

ربط

مخکی آیت کی حکم وشو چه په تاسو لازم دی چه لکه څنګه چه د یتیمانانو په باره کی د بی انصافئ نه ځانونه ساتئ نو دغه شان د زنانو په باره کی هم د بی انصافئ نه ځانونه بچ کړی۔ او لکه څنګه چه په تاسو باندے یتیمانانو ته خپل مالونه ورکول لازم دی نو دغه شان درباندے واجب ده چه زنانو ته هم د هغوی مالونه (مهرونه) ورکړئ او په یوه او بله بهانه ئے ترے مۀ خورئ۔

د مهر ورکولو حکمت

د نکاح نه خو سړے او ښځه دواړه فائدے اخلی نو بیا ولے شریعت په سړی لازمه کړه چه ښځے ته به مهر ورکوی؟ (۱) ددے راز دا دے چه واده ته د سړی شوق او ضرورت زیات وی او

د ښځې کم نو څکه به سړے مهر ورکوی۔ (۲) دویم دا چه زنانه د خپل مور او پلار نه راجدا کیږی نو هغې ته یو قسم وحشت ملاویږی نو د مال په ذریعه به د هغې د زړه وحشت ختم شی او دا به ورله پتهٔ شی۔ (۳) کله چه ښځه واده کیږی نو هغې ته خپل ځان حقیر ښکاره شی چه زهٔ لاړم خرڅه شوم، د حیواناتو په شان او زما یو مالك پیدا شو چه زهٔ به د هغه د تصرف لاندے یم نو ځان وزته ډیر معمولی ښکاره شی نو سړے مهر ورکوی (اِظْهَارًا لِاِکْرَامِهَا وَشَرَفِهَا) چه ستا ډیر عزت او شرافت دے، دا مال واخله، تهٔ د وینځے په شان نهٔ یې، بلکه زما او ستا دوستی ده او دوست دوست ته تحفه ورکوی پدے وجه الله تعالیٰ دلته د مهر نه په نِحْلَه (عَطِیَه) سره تعبیر کړیدے چه دا د سړی د طرفنه یوه تحفه ده او د محبت یوه نښه ده او خپلولی قائم ساتل دی او د مینے محبت او شفقت رسئ مضبوطول دی، او بیع شراء نهٔ ده۔ (المنار۴/۳۰۸)

وَآتُوا النِّسَآءَ : دا خطاب خاوندانو ته هم دے او د ښځے اولیاؤ ته هم۔ د جاهلیت په زمانه کی به خلکو ځانله د ښځو مهرونه اخستل چه زمونږ بعض پښتنو به هم دا کار کولو دے ته به ئے وَلْوَر وئیلو۔نو الله منع وکړه چه دا کار به نهٔ کوئ بلکه زنانو ته به ئے ورکوئ۔

وآتوا : ورکول د مهر عام دی که فی الحال ئے ورکړی او که په وخت د نکاح کی ئے مقرر کړی او په ځان ئے لازم وګرځوی، او بیا ئے روستو د واده نه ورکوی۔

صَدُقَاتِهِنَّ : جمع د صَدُقَة ده، مهر ته وائی صَدَاق هم ورته وائی۔ او دے ته صَدُقه پدے وجه ووئیلے شوه : (لِاَنَّهٗ یَدُلُّ عَلٰی صِدْقِ رَغْبَةِ الرَّجُلِ فِی الْمَرْأَةِ) دا دلیل دے چه سړے په ښځه کی رشتینی رغبت لری څکه ډیر مال ورکوی او د زنا کارو په شان نهٔ دے چه د ښځے نه د یوے ورځے دوه ورځو فائده واخلی او بیا ئے وشړی۔

نِحْلَةً : کلبیؒ وائی : عَطِیَّةً وَهِبَةً۔ یعنی د عطیه او تحفے په شکل۔ یا حال دے یعنی په داسے حال کی چه دا تحفه ده د خاوندانو د طرفنه (روح المعانی) او همدا معنیٰ ئے په لغت کی هم ده او همدا غوره ده۔ عائشہؓ او قتادهؒ په (فَرِیْضَةً) سره معنیٰ کړیده او ابن دُرید په (واجب) سره کړیده۔ ابوعبیدؒ وائی : (عَنْ طِیْبِ نَفْسٍ) په خوشحالئ د نفس سره۔

زجاجؒ وائی : تَدَیُّنًا یا دِیَانَةً وَشِرْعَةً۔ د وجه د دینداری نه یا د وجه د دین جوړیدو نه۔ (بغویؒ) نو دا منصوب بنا بر مفعول له دے۔ او کوم شے چه دین وی هغه فرض وی لهذا مهر فرض دے۔ (البحر المحیط، زهرة التفاسیر والتنویروغیرهم)

یعنی د واده په وخت کی د ښځے دپاره مهر مقررول واجب دی۔ د نبی کریم ﷺ نه سِویٰ

دامت د هيڅ فرد دپاره بغير د مهر نه واده کول جائز نۀ دی۔ او د مهر د تعيين په وخت کی نيت هم صحيح کيدل پکار دی چه دا د ښځې حق دے چه هغے ته ئے ورکول پکار دی۔

د عطية او هبة معنیٰ ډيره صحيح ده لغةً او شرعاً او د مهر وجوب د (وَآتُوا) او د (قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِي أَزْوَاجِهِمْ) (الاحزاب) نه معلوم دے۔

د جاهليت په زمانه کی به خلقو ځان له د ښځو مهرونه اخستل، الله تعالیٰ هغوی ددے ناکاره کار نه منع کړل او مسلمانانو ته ئے حکم اُوکړو چه د واده په وخت کی د ښځو مهر ضرور متعين کړی او د هغوی حق هغوی ته ضرور ورکړی۔

فَإِنْ طِبْنَ لَكُمْ : دا بل حکم دے چه که يوه ښځه خپل خاوند ته د مهر څه برخه معاف کوی يا ئے بيخی نۀ اخلی نو هغه به د خاوند دپاره بيخی حلال او مزيدار وی۔ ابن جريرؒ او قرطبیؒ ويلی دی چه ددے سبب دا وو چه بعض خاوندانو دا بده ګڼرله چه د ښځې نه مهر واپس واخلی نو د هغے جواز ئے دلته بيان کړو۔

د عربيت بحث

فَإِنْ طِبْنَ : طبن : په خوشحالئ سره يو شے ورکول او بخښل۔ او روستو (نفساً) ددے دپاره تمييز دے يعنی (طِبْنَ نَفْسًا) او دا تمييز محول عن الفاعل دے اَیْ طَيِّبَاتِ أَنْفُسُهُنَّ۔ يعنی چه نفسونه ئے خوشحاله وی او (عَنْ شَيْءٍ)، يعنی څه برخه او حصه۔ د طبن په صله کی باء راځی ليکن دلته (عَنْ) استعمال شو ځکه چه دا متضمن دے معنیٰ د عفوے لره۔ او (مِنْهُ) ضمير صَدُقَات ته راجع دے په تاويل د مذکور يا د مال يا د صَدَاق سره۔ نو معنیٰ ئے دا شوه : ((کچرته په خوشحالئ د نفسونو سره ويخښی دا زنانه يو شے د مهر نه نو تاسو له حلال دی))۔ نو پدے کی اشاره ده چه دا مهر به هله جائز کيږی چه زنانو د زړونو نه بخښلی وی او هسے ظاهری بخښل چه د چا د مجبورتيا يا د خاوند د ډيرو سوالونو يا د شرم او حياء يا د خاوند د بد اخلاقئ او بد سلوك د ويرے د وجه نه وی او خاوند هغه قبول کړی نو پدے سره به مهر د خاوند دپاره نۀ جائز کيږی او دا به د قرآنی تعليم خلاف ورزی وی۔

مسئله : کله چه ښځه بخښلے شوے مهر واپس غواړی هغے ته به ورکولے شی۔ لکه پدے باندے د قاضی شُرَيْح فيصله او د عمر بن خطاب ﷺ رايه دليل دے چه هغوی ته يوه ښځه راغله او د خاوند نه ئے بخښلے مهر واپس غوښتو، خاوند وويل : دا ئے ما ته بخښلے دے او الله فرمائی: ﴿فَإِنْ طِبْنَ لَكُمْ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ نَفْسًا﴾ نو قاضی شريح ورته وويل : که

ددې زړه خوشحاله وي نو تا نه به ئې واپس نۀ غوښتې۔ (قاسمیؒ وغیره)
لیکن رجوع په هبه کې حرامه ده کله چه په هبه باندې گواهان موجود وي، بیا واپس اخستل حرام دي او زنانه خو ساعت په ساعت بدلیږي، او د عُمَر او د شُریحؒ قصه د یوې خاص زنانه په باره کې ده۔
هَنِيۡٓـًٔا مَّرِيۡٓـًٔا : ۱-هنیئا : مبارك، فائده مند او (مریئا) ښه تیریدونکې۔
۲-ابوحمزہؒ وائي : هَنِيئًا لَا اِثۡمَ فِيۡهِ، مَرِيئًا لَا دَاءَ فِيۡهِ) هنیء هغه دې چه گناه پکې نۀ وي او مریء هغه دې چه بیماري پکې نۀ وي۔(په آخرت کې) ۳- یا هنیئا معنیٰ لَذِيۡذًا۔ خوندور۔ مریئا : مَحۡمُوۡدُ الۡعَاقِبَة۔ چه انجام ئې ښه وي۔(البحر المحیط)
۳- یا هنیئا هغه دې چه بغیر د مشقت نه حاصل شي او مريء هغه دې چه زر هضمیږي۔ (قاسمیؒ)
٤- څیني وائي : هنيء هغې ته وائي چه ښه تیریږي او په مرئ کې نۀ انښلي او مريء هم دغې ته وائي نو دا ئې د تاکید دپاره ذکر کړو۔ (التنویر)
دا دواړه مبالغه ده په حلال والي او د گناه په زائله کیدو کې۔

د بیماریٔ علاج او مجربه نسخه

ابن کثیرؒ، ماورديؒ، ثعلبيؒ، آلوسيؒ او قرطبيؒ وغیره مفسرینو د علي بن ابي طالب ﷺ نه نقل کړي چه یو سړې د خیټې په سخت درد اخته شو نو عليؓ ورته وویل چه د ښځې د مال نه څه پیسې راواخله او په هغې باندې شهد واخله او د باران اُوبه ورسره یو ځای کړه او وې څکه نو شفاء به درته ملاؤ شي ځکه چه د ښځې مال ته دلته الله تعالیٰ هنيء مريء وویلو او شاتو ته ئې (فِيۡهِ شِفَاءٌ لِلنَّاسِ) وئیلي دي او د باران اُوبو ته ئې (مَاءً مُّبٰرَكًا) وئیلي دي نو څلور واړه خیرونه به ورته راجمع شي۔

وَلَاتُؤۡتُوا السُّفَهَآءَ اَمۡوَالَكُمُ الَّتِیۡ جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمۡ قِیٰمًا
او مۀ ورکوئ بې وقوفو ته مالونه د هغوی هغه چه گرځولي دي الله تعالیٰ تاسو له سبب د ژوند
وَّارۡزُقُوۡهُمۡ فِیۡهَا وَاكۡسُوۡهُمۡ وَقُوۡلُوۡا لَهُمۡ قَوۡلًا مَّعۡرُوۡفًا ﴿۵﴾
او خوراك ورکوئ هغوی ته په دې کې او جامې ورکوئ هغوی ته او وایئ هغوی ته وینا نیکه

تفسیر : څلورم حکم دې د بیوقوفانو د مالونو د حفاظت۔

په آيت کې د (سُفَهاء) نه مراد کوم خلق دی؟ پدے باره کې د علماؤ درے رائے دی:
اولـه رايه دا ده چه ددے نه مراد کم عقل او نابالغ يتيمانان دی، د هغوی اولياء منع شويدی چه د هغوی مالونه هغوی ته ورکړی، ځکه چه هغوی به د خپلے ناپوهئ او کم عقلئ په وجه سره هغه ضائع کړی۔
او د مال نسبت ئے اولياؤ طرف ته پدے وجه اُوکړو چه هغوی ته دا احساس ورکړے شی چه د دوی د رشته دارو يتيمانانو مال د دوی مال دے او د هغے حفاظت په دوی باندے د خپل مال د حفاظت په شان واجب دے۔
دويمه رائے دا ده چه ددے نه مراد ((ښځے او بچی)) دی۔ الله تعالیٰ د سړو مالونه د هغوی خپلو ښځو او بچو ته ورکول منع کړيدی چه بنده خپل مال هغوی ته ورکړی او خپله محتاج شی او د هغوی پسے ګرځی۔ او د دوی دپاره د (سفهاء) لفظ الله تعالیٰ استعمال کړيدے، دا دے ته اشاره ده چه هغوی به د خپلے کم عقلئ په وجه د مال حفاظت نشی کولے بلکه ضائع به ئے کړی۔
دريمه رائے دا ده چه ددے نه مراد هر هغه بنده دے چه د هغه سره د مال د حفاظت دپاره پوره عقل نۀ وی۔ ددے رائے مطابق د آيت حکم ښځو، ماشومانو او يتيمانانو او ټولو خلقو ته شامليږی چه هغه کم عقل او ناپوهه وی۔
حافظ ابن کثير رحمة الله عليه ليکلی دی چه په ناپوهو باندے د مالی معاملاتو پابندی لګول ددے آيت نه اخستے شويدی۔ دا پابندی په ډيرو اسبابو سره لګی، کله د کم عمرئ په وجه سره، کله د ليونتوب په وجه سره، کله د کم عقلئ او بے دينئ په وجه سره، چه د هغے د اثر لاندے راغلے سړے مال ضائع کوی او کله په مُفلس سړی باندے پابندی لګيږی دے دپاره چه د هغه مال بچ شی او د هغه د قرضدارو قرض ادا شی، نو په سفهاؤ کې مُفلس هم داخل شو، آه۔
په يو صحيح حديث کې راغلی دی چه الله تعالیٰ د درے کسانو دعاګانے نۀ قبلوی (۱) رَجُلٌ كَانَتْ تَحْتَهُ امْرَأَةٌ سَيِّئَةُ الْخُلُقِ فَلَمْ يُطَلِّقْهَا (۲) وَرَجُلٌ كَانَ لَهُ عَلَى رَجُلٍ مَالٌ فَلَمْ يُشْهِدْ عَلَيْهِ (۳) وَرَجُلٌ آتَى سَفِيهًا مَالَهُ وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالَى: وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ أَمْوَالَكُمْ) (شعب الايمان- صحيح الجامع: ۳۰۷۵) يو هغه سړے چه د هغه په نکاح کې بد اخلاقه ښځه وی (چه بد فعلی کوی چه د هغے برداشت نا ممکن وی) او هغه ورله طلاق ورنکړی۔ دويم هغه سړے چه د هغه په بل سړی مال وی او ګواه پرے نۀ نيسی او دريم هغه سړے چه بيوقوف ته

خپل مال ورکوی او الله فرمایلی دی چه بیوقوفانو ته مالونه مهٔ ورکوئ)۔
جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ قِيَامًا : پدے کی د مال د حفاظت ترغیب ورکړے شویدے، او د مال فائده ئے بیان کړیده ځکه چه د بنده بغیر د مال نه دنیاوی حالات برابر نهٔ پاتے کیږی، دا د دنیاوی ژوند سبب دے۔ زمخشری د سلفوؒ قول نقل کړیدے چه ((مال د مؤمن اسلحه ده))۔ د سفیان ثوریؒ سره یو سامان وو، هغه به ئے اړولو راړولو او وئیل به ئے چه که دا نهٔ وے نو بنی عباس به ما لره د خپل لاس رومال جوړ کړے وے۔ (یعنی تولیه به ئے جوړه کړے وے)

فائده : قرآن کریم کی د زندگئ د تیرولو دوه اسباب خودلے شویدی یو انفرادی او بل اجتماعی، انفرادی سبب ئے مال دے ځکه دنیا دار الاسباب دے، د مال نه بغیر گوزاره نهٔ تیریږی پدے وجه شریعت کی د مال ډیر اهمیت راغلے دے۔ او دویم اجتماعی او عمومی سبب دے چه هغه کعبه ده ﴿ جَعَلَ اللّٰهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيَامًا لِلنَّاسِ ﴾ (المائده : ۹۷) الله تعالیٰ کعبه سبب د زندگئ د انسانانو جوړه کړیده۔ که کعبه ورانه شوه دنیا به ختمه شی۔

وَارْزُقُوْهُمْ فِيْهَا : دے نه روستو الله تعالیٰ نصیحت اُوکړو چه دے یتیمانو یا خپلو ښځو او خپلو بچو ته د خوراك او کپړو خرچه ورکوئ، په هغوی باندے تنگئ مه راولئ۔ یوه معنیٰ دا هم وئیلے شویده چه په هغه مال سره تجارت کوئ او د هغه ناپوهو خرچ د مال د نفعے نه ورکوئ، دے دپاره چه اصل مال ختم نهٔ شی، او د هغوی سره په نرمئ سره خبره کوئ، او هغوی ته وایئ چه کله ته هوښیار شوے نو ستا مال به تا ته حواله کوم۔ پلار دِے ځوی ته وائی چه زما مال ستا مال دے، کله چه ته لوئی شوے او د ژوند تجربه دِے اُوشی نو تا ته به مال درکوم۔

وَقُوْلُوْا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا : یعنی نیکه خبره ورته کوئ چه ستا مال دے زهٔ ئے درله حفاظت کوم۔ معروف هغه قول او عمل ته وئیلے شی چه په هغے باندے د نفس سکون حاصلیږی پدے وجه هغه عقلًا یا شرعاً ښائسته وی۔ علامه آلوسیؒ وائی چه پدے کی د هغوی دینی اصلاح او تربیت هم داخل دے چه هغوی ته به د دین ضروری علم ورښائی آه۔ او دنیاوی لین کی به هم استعمالولے شی چه سفاهت او سادگی ئے ختمه شی۔ او قرطبیؒ وئیلی دی چه هغوی ته به دعا هم کوی۔ (بَارَكَ اللّٰهُ فِيْكُمْ)۔

وَابْتَلُوا الْيَتَامٰى حَتّٰى إِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ فَإِنْ آنَسْتُمْ مِّنْهُمْ
او امتحان کوئ په یتیمانانو تردے چه ورسیږی نکاح ته نو که معلوم کړو تاسو د هغوی نه

رُشْدًا فَادْفَعُوْا إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ وَلَاتَأْكُلُوْهَا
هوښيارتيا نو وركوئ هغوى ته مالونه دهغوى او مهٔ خورئ دا مالونه
إِسْرَافًا وَبِدَارًا أَنْ يَّكْبَرُوْا
پداسے حال كې چه تاسو اسراف كونكي يئ او جلتي كونكي يئ، (يريږئ) ددے نه چه دوى به لوئى شي،
وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ وَمَنْ كَانَ فَقِيْرًا
او څوك چه مالداره وى نوځان دِے پوره ساتى (د مال د يتيم نه) او څوك چه محتاجه وى
فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوْفِ فَإِذَا دَفَعْتُمْ إِلَيْهِمْ
نو خورى دِے (د هغے نه) په ښائسته طريقے سره نو كله چه وركوئ تاسو دوى ته
أَمْوَالَهُمْ فَأَشْهِدُوْا عَلَيْهِمْ وَكَفٰى بِاللهِ حَسِيْبًا ﴿٦﴾
مالونه د دوى نو گواهان پيش كړئ په هغوى باندے او كافى دے الله حساب كونكے۔

تفسير : اُوس د ماشومانو يتيمانانو (كم عقلو) په باره كې حكم دے چه دوى ته به مال نشي وركولے مگر په دوه شرطونو سره يو دا چه بلوغ ته ورسيږى او بل دا چه رُشْد (هوښيارتيا) ئے معلومه شى، ځكه چه كم عقلتوب پټ صفت دے دا به پدے علامو سره معلومولے شى۔

مطلب د آيت دا دے : الله تعالىٰ د يتيمانانو اولياؤ ته حكم كړيدے چه كله نا كله څه مال وركولو سره په عقلي او مالي معاملاتو كې د هغوى د ذهني صلاحيت امتحان اخلئ او كله چه بالغ شى يعنى احتلام ئے اُوشى يا د هغوى عمر پنځلس كالو ته اُورسى او ستاسو په مشاهده كې دا خبره راشى چه په دوى كې نيكى شته او په مالي اُمورو كې سمجهدار او هوښيار دى نو د هغوى مالونه بغير د تاخير نه هغوى ته وركړئ۔

دآيت كريمه ظاهرى معنىٰ دا ده چه كوم يتيم په دينى يا مالي اعتبار سره نا اهله ثابت شى، د مثال په توگه فضول خرچ وى، يا په ذهنى او عقلي توگه باندے كمزورے وى يا په دينى اعتبار سره قابل د اعتماد نهٔ وى، نو د هغه مال به هغه ته نشى وركولے۔

دے نه روستو الله تعالىٰ اولياؤ ته نصيحت كړيدے چه د يتيمانانو په مال كې فضول خرچي مهٔ كوئ او د ساده گانو د سادگئ نه بده استفاده مهٔ كوئ او ستاسو دِے دا نيت نهٔ وى چه د دوى غټيدونه مخكې د دوى مال بې ځايه خرچ كړئ، پدے يره چه د غټيدو نه

روستـو بـه هغـوی خپـل مال تا نـه اخلي او ستا د لاس نـه بـه ووځي، نو د دوی د مالونو په باره کـې دا قـانـون واورئ چـه کـه د یتـیـم ولي مالدار وي نو هغه له د هغه د مال نه پرهیز کول پکار دي، ځکه چه هغه مال د هغه دپاره د مرداري او وینې په شان حرام دے۔ او که غریب وي او د یتیم د مال حفاظت کوي او په هغې کې د کاروبار په وجه د خپل بچو دپاره بل کار نشي کولے او د حفاظت په نهٔ کولو سره د یتیم مال ضائع کیږي نو د خپل ضرورت او د خپل محنت مناسب مزدوري ډېر ترے واخلي۔

حافظ ابن کثیرؒ د فقهاؤ قول نقل کړیدے چه هغه به د خپلے مزدوري او خپل ضرورت نه چه کوم کمه اندازه وي هغه به اخلي۔

او قرطبي (۴۴/۳) کې دي چه د عرف مطابق اجرت ترے اخستے شي او ډیر اقوال په احکام القرآن د جصاصؒ (۶۵/۲) کې وګوره۔

دے نه روستو الله اُوفرمایل چه د بلوغ عمر ته د رسیدو او د عقل او پوهے د یقین نه روستو چه کله د یتیم مال هغه ته حواله کوئ نو هغه باندے ګواه ونیسئ دے دپاره چه روستو تاسو څوك متهم (بدنام) نکړي او څه جګړه راپورته نشي او کوم شیطانان او حسد ګرئے ونهٔ لمسوي چه ستا نه فلانی مال خوړلے دے۔ او الله خو د ټولو نه لوئی ګواه او ستاسو ظاهر او باطن پیژندونکے دے پدے وجه د یتیم مال په پوره امانت سره هغه ته نقل کړه۔

مسئله : (۱) د جمهورو علماؤ مذهب دا دے چه کله یو تن سفیه (کم عقل) وي نو چه هر څومره ژوند پرے تیر شي او سفاهت ئے ختم شوے نهٔ وي مال به ورته نشي ورکولے او همدا د آیت د ظاهر نه معلومیږي (روح المعاني ۲۰۶/۴)

(۲) امام ابوحنیفهؒ وائي چه پنځه ویشتو کالو ته ورسیږي یا د زمانے د بلوغ نه ئے لس کاله تیر شي نو مال به ورکوي ځکه چه پدے عمر کې بنده نیکهٔ جوړیږي چه اُوس هم د خپل مال نه فائده وانخلي نو کله به ئے ترے اخلي او الله تعالیٰ ساده ګانو ته د هغوی مال ورکول پدے وجه ممنوع ګرزولي دي چه دوی هوښیار شي او ددے دپاره ئے ممنوع نهٔ دي ګرزولي چه بل څوك ډېر پرے ټول عمر قبضه وکړي ۔ جواب دا دے چه د اولیاؤ په لاس هغه ته فائده رسیږي هغه ورته خوراك څکاك او جامه ورکوي او په حدیث کې د مال د ضائع کولو نه منع راغلے ده او سفیه خو مال ضائع کوي او د بل چا قبضه ددے دپاره نهٔ ده چه هغه ترے مال خوري بلکه ددهٔ د فائدے دپاره ولي پرے قابض دے۔ نو قول د ابوحنیفهؒ کمزورے دے، د صحیح حدیث خلاف دے۔

وَابْتَلُوا : ابتلاء از مبینبت او امتحان ته وائی او ددے یوه طریقه دا ده چه دۀ ته به لږ مال د تجارت دپاره ورکړے شي یا په ځان او خپل اهل باندے د خرچ کولو دپاره۔

إِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ : یعنی ورسیږی زمانے د نکاح ته چه هغه بلوغ دے ځکه چه انسان کله بالغ شي نو نکاح ته ئے شوق کیږی که نۀ وی د بلوغ نه مخکی هم نکاح کیږی، جائز ده۔

بیا نکاح ته د رسیدو نه مراد بلوغ دے او بلوغ په دوه څیزونو سره راځی یو په احتلام سره او بل پنځلس کلنئ ته په رسیدو سره، بنا په اختلاف د علماؤ۔

فَإِنْ آنَسْتُمْ : آنَسَ په معنیٰ د (اَحَسَّ) محسوس کول او معلومول، وَجَدَ (موندل) او اَبْصَرَ سره دے۔(لیدل)

مِّنْهُمْ رُشْدًا : رُشد صلاحیت، قابلیت، اهلیت او هوښیارتیا ته وائی۔ او دا هر قسم هوښیارتیا ته شامل دے، دا ضروری نۀ ده چه پوره هوښیار شي بلکه چه د مال په حفاظت پو هیږی پدے وجه ئے رشداً نکره راوړه۔ (عزیز)

ابن عباس رضی الله عنهما وائی : رشد : د عقل صلاحیت (عقلمندی) او د مال حفاظت دے۔ (قاسمیؒ) او حسن بصریؒ وائی صلاحیت د عقل او دین دے۔

إِسْرَافًا وَبِدَارًا : دا حالونه دی په معنیٰ د اسم فاعل سره یعنی مُسْرِفِيْنَ وَمُبَادِرِيْنَ كِبَرَهُمْ۔ مۀ خورئ مالونه د هغوی پداسے حال کی چه تاسو اسراف کونکی او جلتی کونکی یئ چه د دوی د غټیدو نه مخکی مخکی ورله مالونه ختم کړئ چه بیا راته لانجے جوړی نکړی۔ (قاسمیؒ) د بِدَار (جلتیء) صورت دا دے چه د یتیم د ورځے یوے روټئ پخولو ته ضرورت دے او تۀ ورله دوه او درے پخوے چه مال ئے زر ختم شي۔ او د هغه زر روپو ته ضرورت دے او دے ورله پنځه او لس زره روپئ لګوی۔نو پردے مال به بی ځایه نۀ لګوی۔

أَنْ يَّكْبَرُوا : دا په تاویل د مصدر سره مفعول دے دپاره د بداراً۔ یعنی مُبَادِرِيْنَ كِبَرهم۔ تاسو جلتئ کوئ (د مال په ختمولو) د دوی د غټ والی نه۔ یا مضاف پټ دے، مَخَافَةَ أَنْ يَّكْبَرُوا : یعنی یره کوئ ددے نه چه دوی به راغټ شي او جګړے او د مال حسابونه به راسره کوی او اُوس ئے مونږ د خپل خواهش مطابق استعمالوو۔

وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا : یعنی که څوك غني وی او د یتیم د مال حفاظت کوی نو هغه له پکار دی چه ځان په عفت کی وساتی او د یتیم مال ته زړه بنه نۀ کړی او د یتیم مال دے د خپل مال سره نۀ یو ځای کوی چه د یتیم حق ضائع نکړی۔

وَمَنْ كَانَ فَقِيْرًا : څوك چه محتاج وی او د یتیم په مال کاروبار کوی نو د عرف مطابق

ترے خپله نفقه اخستے شي۔ او امام بخاريؒ او عائشه رضی الله عنها وائی ځکه چه دا تربیت د یتیم کوی او د هغه د مال اصلاح کوی نو د هغے په بدله کی ترے د عرف مطابق نفقه اخستے شي۔ (بخاری حسب ترقیم فتح الباری ۲۲۱۲)

فَأَشۡهِدُوا عَلَيۡهِمۡ : یعنی کله چه ورته خپل مال سپاری نو ګواه به پرے پیش کړی چه تهمت پرے رانشی او دا ګواه پیش کول په نیز د بعضو مستحب دی مګر ظاهر د قرآن دا دے چه دا حکم د فرضیت دے۔

وَكَفَىٰ بِاللهِ حَسِيبًا : پدے کی یره بیانوی چه الله به درسره حساب کوی که چرته تا د یتیم مال کی خیانت کړے وی۔

لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الۡوَالِدَانِ وَالۡأَقۡرَبُونَ وَلِلنِّسَآءِ
دپاره د سړو حصه ده د هغه مال نه چه پریخودے وی مور او پلار او خپلوانو، او د زنانو دپاره
نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الۡوَالِدَانِ وَالۡأَقۡرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنۡهُ
حصه ده د هغه مال نه چه پریخودے وی مور او پلار او خپلوانو، د هغه مال نه چه لږ وی
أَوۡ كَثُرَ نَصِيبًا مَّفۡرُوضًا ﴿٧﴾
د هغے نه یا ډیر وی، حصه ده مقرر کړے شوے۔

تفسیر : پدے آیت کی مستحقینو ته د خپلو حقوقو په ادا کولو حکم دے او دا شپږم حکم دے د میراث په باره کی او پدے کی د جاهلیت والو په رسم باندے رد مقصود دے پدے وجه ئے د ښځو نوم هم په مستقله توګه اخستے دے، جاهلیت والو به ښځو او ماشومانو ته د میراث نه حصه نهٔ ورکوله او دا به ئے ویل چه (مَنۡ اَخَذَ بِيَدِهِ السَّيۡفَ) میراث د هغه چا حق دے چه په لاس کی ئے توره اخستی وی۔ او چونکه پدے کار کی ظلم وو پدے وجه شریعت د ظلمونو د فع کولو دپاره د مسلمانانو تصور برابر کړو، چه د مشر او کشر او د زنانو او د سړو فرق به په میراث کی نهٔ وی بلکه تولو ته به خپلے خپلے مقررے حصے ورکولے شي، کومے چه الله تعالیٰ روستو تفصیلاً بیان کړیدی۔

پدے وخت کی هم ډیر مسلمانان ښځو او جینکو او خویندو او ترینداو ته میراث نهٔ ورکوی او ډیر خلک پرے ځان کافر کړی وائی چه جینکو له چا میراث ورکړیدے؟! د الله په مقابله کی ودریږی۔ مال ته تینګیدل او چته تقویٰ ده، نفلونه او بدنی عبادتونه آسان دی

پردی مال نه ځان ساتل ګران کار دے، اوُس پدے وخت کی د اکثرو انسانانو مالونه حرام دی ځکه چه یا خو خپله خویندو او لونړو ته میراث نهٔ ورکوی یا ددهٔ پلار خپلو خویندو ته میراث نهٔ وی ورکړے نو هغه ئے بچو ته پاتی وی نو د هغوی دپاره هم دغه مال حرام دے۔
وَالْأَقْرَبُونَ : لفظ د (قرابت) ذکر کولو کی د وراثت علت طرف ته اشاره مقصود ده۔
مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ : یعنی دغه میراث مال لږ وی او که ډیر خو خپلو مستحقینو ته به ورکولے شی، پدے کی مسلمانان پو هه کول دی چه د ناجائزو رواجونو نه ځانونه بچ وساتیٔ لکه ځینی خلك د مشرانی په نامه څه مال اخلی او نورو وارثانو ته پکی برخه نهٔ ورکوی۔ Oیا ځینی خلك په اوُسنیٔ زمانه کی هم زنانه د میراث نه محروموی او یا ورته په غیر منقولی مالونو کی برخه نهٔ ورکوی۔ O یا ځینی خلك د میراث د مال نه رواجی خیراتونه کوی او د ټولو وارثانو رضا ته پکی نهٔ ګوری او نهٔ د یتیمانانو خیال ساتی نو الله تاکید وکړو که مال لږ وی او که ډیر خو د میراث خورو لحاظ به ساتلے شی۔
او د (نصيباً مفروضاً) مطلب دا دے چه الله دا احکام واجب کړیدی۔
مَّفْرُوضًا : یعنی مقرر کړے شوے د الله د طرفنه چه د هغے تشریحات په احادیثو کی راغلی دی۔ یا فرض په معنیٰ د واجب او لازم سره۔

وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ أُولُوا الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينُ
او کله چه حاضر شی تقسیم (د میراث ته) خپلوان او یتیمانان او مسکینان
فَارْزُقُوهُم مِّنْهُ وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ﴿٨﴾
نو خوراك ورکړیٔ دوی ته د هغے (مال) نه او وایئ دوی ته وینا نیکه۔

تفسیر : پدے آیت کریمه کی ترغیب دے چه د میراث نه انفاق وکړیٔ ځکه چه دا طریقه ده چه کله بنده ته ډیر مال ملاؤ شی نو دهٔ له د هغے نه صدقه پکار ده۔
پدے آیتِ کریمه کی الله تعالیٰ د میراث متعلق یو ضمنی حکم بیان کړیدے چه کله د میراث مال تقسیمیږی او هلته داسے خپلوان چه د میراث حقدار نهٔ وی او یتیمانانٔ او غریبان خلق راشی نو د مال د تقسیمولو نه مخکی د صدقے په توګه او د هغوی د زړهٔ ساتلو دپاره هغوی ته څه مال ورکول پکار دی، هغوی به دعا کوی چه د فلانی په مرګ کی مونږ ته فائده وشوه، الله دِے ورته بخښنه وکړی۔

ددې آیت په باره کې دوه رائې دي: ۱- یوه رائې دا ده چه دا آیت مُحکم دې، منسوخ نهٔ دې۔ امام بخاريؒ د ابن عباس رضی الله عنهما نه دغه روایت نقل کړېدې او د صحابه کرامؓ او د تابعینوؒ د یو جماعت هم دغه رائې ده چه وارثانو له پکار دي چه داسې وکړي لیکن ددې هیڅ حد مقرر نهٔ دې چه څومره به ورکوي او ډیر کم خلك پدې باندې عمل کوي چه د میراث د تقسیم په وخت کې غیر وارث خپلوانو او یتیمانانو او مسکینانو ته د میراث نه څه برخه ورکړي کله چه هغوي په دغه ځای د تقسیم کې حاضر وي۔ نو د (فَارْزُقُوهُمْ) حکم به استحبابی وي۔ نو د (وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَعْرُوفًا) مطلب به دا وي چه دوی ته پداسې سخت وخت کې چه انسان په غصه وي او خفګان کې وي نرمه وینا وکړئ چه پدې مال کې ستاسو برخه نشته لیکن مونږ تاسو ته څه شې د صدقې په طور درکوو۔ نو پدې سره به دغه مسکینان مړي ته ښه دعا وکړي۔

۲- دویمه رائې دا ده چه ددې آیت حکم د احکامو د میراث په ذریعه منسوخ شویدې۔ د منسوخې معنیٰ مطلب به دا وو چه په ابتداء د اسلام کې د مړي په مال کې د ټولو خپلوانو حق وو کله چه به ورته حاضر شو نو هغوی ته به هم څه نا څه ورکول کیدل لیکن روستو په (یوصیکم الله) آیت سره الله تعالیٰ دا حکم منسوخ کړو او په میراث کې صرف د وارثانو حق وښودلې شو، نهٔ د نورو خپلوانو او یتیمانانو او مسکینانو۔

د عکرمهؒ، ابو الشعثاءؒ او قاسم بن محمدؒ همدا رائې ده۔ او د ائمه اربعوؒ او جمهورو فقهاؤ همدا مذهب دې۔ البته د مړي دا حق شته چه په وخت د مرګ کې د غیر وارثانو دپاره د څه مال وصیت وکړي نو پس د مرګ نه به هغه ورته ورکولې شي۔ د مال مالك په خپل ژوند کې په دریمه حصه مال کې د وصیت تصرف کولې شي لکه چه د سعد بن ابی وقاص ؓ د حدیث نه ثابت دې چه هغه بخاريؒ او مسلمؒ روایت کړېدې چه رسول الله ﷺ هغه ته په دریمه حصه مال کې د وصیت تصرف کولو حق ورکړې وو۔

ځینو علماؤ اولنۍ رائې ته ترجیح ورکړېده او وئیلي ئې دي چه د آیت د منسوخ منلو څه معقوله وجه نشته۔ پدې وجه که د مال د تقسیم په وخت څه رشته دار موجود وي او هغه محتاج هم وي نو د صله رحمۍ د جذبې ساتونکي وارثان همدا مناسبه ګڼړي چه هغوی ته هم څه مال ورکړې شي، دې دپاره چه چرته د دوی د یو رشته دار د مال تقسیم کیږي هلته نه دوی محروم واپس نشي۔ او په خاص توګه هغه یتیم بچیان چه د هغوی پلار نیکه وفات شوې هم وي، او د میراث نه محروم شوې وي او بیا د هغوی د نیکه د وفات کیدو نه

روستو میراث تقسیمیږي او د هغوی تره او ترینده میراث اُوموومي او خوشحالي کوي او دا بچیان د هغوی خُلو ته ګوري او دوی ته هیڅ نهٔ وي ملاؤ شوي. صرف پدے وجه چه د دوی پلار د دوی د نیکه نه مخکې وفات شویدے نو د دوی د محرومتیا به څه عالَم وي ؟ د داسے بچو په حق کې خو دا آیت د آبِ حیات په شان دے. او په خاص توګه که د نیکه جائیداد زیات وي او وارثان د هغه یتیمانانو په حال رحم کوي نو د دوی په حصه کې هم څه نا څه جائیداد راتلے شي او د دوی غربت لرے کیدے شي. (تیسیر الرحمن)

(۳) څینې علماؤ ددے آیت تفسیر داسے کړیدے چه دلته د (اولو القربی) او یتامٰی او مساکین نه مراد پخپله وارثان دي او د آیت مطلب دا دے چه کله مړے وفات شي او میراث ئے پاتې شي او دغه وارثان راشي د میراث د تقسیم مطالبه کوي او فی الحال تقسیم د څه حالاتو د وجه نه مشکل وي نو دوی له به د دوی د ضرورت مطابق لږه څه برخه ورکړے شي چه هغه به د دوی په روستو حصه کې حساب شي او د دوی ضرورت دے پرے پوره کړے شي او دوی ته دے نیکه، ښائسته وینا وکړے شي چه دا ستاسو مال دے لیکن اُوس ئے د تقسیم موقعه نهٔ ده، ټول وارثان حاضر نهٔ دي، یا مال تس نس دے وغیره). مطلب دا چه یتیمانان او مسکینان خفه کول جائز نهٔ دي بلکه د هغوی ضرورت پوره کول پکار دي. لیکن اول تفسیر (د ابن عباسؓ رئیس المفسرین) ډیر غوره دے. او دا دریم تفسیر د حسین علی رحمه الله دے لیکن ضعیف جدًا دے، د آیت د سیاق نه خلاف دے.

فائده : ددے نه دا استنباط کیږي چه کله ستا مخے ته یو حاضر شي ته د یو تن زړه کیږي نو هغه له هم د هغے نه څه ورکول پکار دي پدے وجه رسول الله ﷺ فرمایلي دي : کله چه یو تن ستاسو ته د هغه خادم څه طعام راوړي نو هغه دے څان سره کینوي، که د څان سره ئے نهٔ کینوي نو هغه ته دے یوه یا دوه لقمے (نوړئ) ورکړي. او رسول الله ﷺ به نوے میوه ماشومانو ته اول ورکوله. (تفسیر السعدی ۱/۱٦٥).

نو کله چه یو دهقان د خپل پټي فصل او کرونده راوشوکوي نو هلته حاضرو مسکینانو ته څه نا څه ورکولو سره ددے آیت په اشاراتو باندے عمل راځي. او په ﴿وَآتُوا حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ﴾ کې دغه حکم ته اشاره شویده لکه روستو سورة الانعام (۱٤۱) آیت کې راځي.

وَلْيَخْشَ الَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعَافًا
او وډے یریږي هغه کسان که چرته پریدي روستو د خپل څان نه بچي کمزوري

خَافُوْا عَلَيْهِمْ فَلْيَتَّقُوا اللّٰهَ وَلْيَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ﴿۹﴾

چه یریږي په هغوی باندې (د خلکو د ظلم نه) نو ودې یریږي د الله نه او وائي دې وینا د حق سره برابره

تفسیر : پدې آیت کې بل حکم دے (اَلنَّهْيُ عَنِ الظُّلْمِ عَلَى الْيَتَامٰى) په یتیمانانو باندے د ظلم کولو نه منع کوی لکه په خپلو بچو چه ظلم نهٔ خوښوی۔ نو په آیت کې د (الذين) نه مراد د یتیمانانو اولیاء دی او دا فاعل دے د (ولیخش) او مفعول ئے پټ دے اَيِ الظُّلْمَ عَلَى الْيَتَامٰى) مطلب به دا وی چه هغه کسان دِے ویریږی د ظلم کولو نه په یتیمانانو بالفرض که دوی د خپل ځانونو نه روستو کمزوری بچی پریدی او دوی مړه شی او په هغوی باندے د ظلم نه یریږی چه څوك به پرے ظلم وکړی نو دغه شان دا کسان دے په یتیمانانو باندے ظلم نهٔ کوی یعنی لکه ستا بچو باندے چه څوك ظلم کوی تهٔ خفه کیږے نو دغه شان تهٔ په پردو بچو باندے ظلم مهٔ کوه۔ او داسے بنیاد کیږده چه ستا د مرګ نه روستو هم ستا د اولادو سره څوك ظلم ونکړی او ددے نیك عمل په برکت ستا د یتیمانانو هم ښه تربیت شی او خلك ورته په درنه سترګه وګوری چه د فلانی نیك عمله اولاد دی۔

یعنی په ټولو مسلمانانو لازمه ده چه د یتیمانانو په کمزوری حالت باندے رحم وکړی که په چا باندے ئے حقوق وی هغه دے ورته ادا کړی او که نهٔ وی نو (وَلْيَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا) د سمو خبرو حق خو په هرچا باندے لری، یتیمانان لکه چه د مالونو حفاظت ته محتاج دی همدارنګه د خیر او د نصیحت خبرو او د آدابو ښودلو ته هم ضرورت لری۔

د تفسیر علماؤ ددے آیت نور توجیهات هم بیان کړیدی :

یوه توجیه مخکې تیره شوه۔

دویمه توجیه دا ده چه دا حکم د مریض د عیادت کونکو دپاره دے چه که مریض په خپل مال کې د بې ځایه تصرف په وجه خپل اولاد ته نقصان رسوی نو هغه دِے منع کړی۔

دریمه توجیه دا ده چه دا حکم د وارثانو دپاره دے چه د میراث د تقسیمیدو په وخت چه کوم کمزوری رشته داران، یتیمانان او مسکینان موجود وی نو د هغوی خیال دِے اُوساتی، دا سوچ دِے اُوکړی چه که د دوی د وفات نه روستو د دوی واړه بچی وی نو آیا دوی به دا غوختلے چه څوك دا د صدقے او احسان نه محروم کړی۔

څلورمه توجیه دا ده چه (نَزَلَتْ فِيْمَنْ يَأْمُرُ الْمُحْتَضَرَ بِأَكْثَرَ مِنَ الثُّلُثِ) دا آیت د هغه چا په باره کې نازل دے چه مړ کیدونکی شخص ته حکم کوی چه د ثلث مال نه په زیات وصیت

وکړي یعنې وصیت کونکے ډیے د وارثانو خیال اُوساتي او په وصیت کې ډیے د حد نه تیروتل نهٔ کوي او د بعض حاضرینو په وسوسو کې دیے نهٔ راځي چه هغوی ورته د ټول مال په وصیت حکم کوي او دا ورته وائي چه ځان دپاره د آخرت غم وکړه او د بچو پرواه مهٔ کوه، هغوی ته به الله رزق ورکوي لکه د سعد بن ابی وقاص ﷺ په حدیث کې راغلی دی چه رسول الله ﷺ هغه ته د یو ثُلث نه د زیات مال وصیت اجازت ورنکړو. یعنې د خپلو بچو په باره کې دا خوښوے چه هغوی ته ډیر میراث پاتې شي نو د پردو بچو په باره کې هم دغه خوښ کړه چه هغوی ته زیات میراث پاتې شي.

پنځمه توجیه دا ده چه دا حکم هغه مړ کیدونکو کسانو ته دیے چه د هغوی ګنړ اولاد پاتې کیږي او یریږي چه مشران به په کشرانو ظلم وکړي (لکه د دوه میندو اولادو کې اکثر دا کار کیږي) نو هغوی دیے د الله نه ویریږي او خپل بچو ته دیے دا وصیت وکړي چه ظلم به نهٔ کوئ او ټولو میراث خورو ته به صحیح صحیح میراث ورکوئ او جینکئ به هم نهٔ محروموئ. نو (فلیتقوا الله) به بیان د (وَلْیَخْشَ) دپاره وي. او (وَلْیَقُوْلُوا قَوْلًا سَدِیْدًا) یعنې د حق او شرعي حکم مطابق دیے وینا وکړي چه په شرعي طریقه میراث تقسیم کړئ او بې ځایه خیراتونه مهٔ کوئ هسے نهٔ چه د یتیمانانو په مال کې درنه خیانت وشي.

ابن جریرؒ، ابن کثیرؒ او رازیؒ وغیرهم اولنئ توجیه ته ترجیح ورکړیده او وئیلي ئے دي چه د سیاق سباق آیتونه ددیے تائید کوي. مګر الله تعالیٰ داسے عجیب آیت وئیلے دیے چه ددیے ټولو معانیو سره لګي او پدیے ټولو باندیے مونږ مکلف یو دیے دپاره چه مونږ د ظلم نه ځان بچ کړو. ینظر (محاسن التاویل للقاسمی ۲/۲۳۳ وتیسیر الرحمن بتصرف)

إِنَّ الَّذِیْنَ یَأْكُلُوْنَ أَمْوَالَ الْیَتَامٰى ظُلْمًا إِنَّمَا یَأْكُلُوْنَ
یقیناً هغه کسان چه خوري مالونه د یتیمانانو په ظلم سره یقیناً دوی اچوي
فِیْ بُطُوْنِهِمْ نَارًا وَّسَیَصْلَوْنَ سَعِیْرًا ﴿۱۰﴾
په خیټو خپلو کې اُور او زر دیے چه دا خل به کړیے شي اُورګرم ته.

تفسیر : اُوس وائي که د یو انسان زړه سخت وي او په یتیمانانو ئے زړهٔ نهٔ سوزي او یا دومره هم نهٔ شي کولے چه خپل ځان مړ او خپل ماشومان یتیمان فرض کړي، دیے دپاره چه په هغوی ئے رحم راشي او داسے هم نهٔ کوي بلکه د یتیم مال ته ئے پرلتئ وهلې وي نو د

دغه کسانو خیتې د اُور تنورونه دي او په اُور باندې سوزیدل د دوی سره مناسب دي۔
دا آیت چه کله نازل شو صحابه کرامؓ د یتیمانانو مالونه د خپلو ځانونو نه جدا کړل چه مونږ نه خیانت ونشي لکه مخکې په سورة البقره ﴿وَاِنْ تُخَالِطُوْهُمْ﴾ (۲۲۰) آیت کې ذکر شویدی۔

يُوْصِيْكُمُ اللّٰهُ فِيْٓ اَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ
وصیت کوی الله تعالیٰ تاسو ته په باره د اولاد ستاسو کې، دپاره د سړي په اندازه د برخې
الْاُنْثَيَيْنِ فَاِنْ كُنَّ نِسَآءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا
د دوه جینکو ده، نو که چرته وي زنانه (دوه یا) دپاسه ددوو نه نو هغوی دپاره دوه حصې دي
مَا تَرَكَ وَاِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ وَلِاَبَوَيْهِ
د هغه مال چه مړي پریخې وي او که یوه وه نو د هغې دپاره نیمائي مال دې او د مور او پلار د مړي
لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ اِنْ كَانَ
دپاره د هر ددې دواړو نه شپږمه حصه ده د هغه مال نه چه پریخې وي مړي که چرته وي
لَهٗ وَلَدٌ فَاِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهٗ وَلَدٌ وَّوَرِثَهٗٓ اَبَوٰهُ
هغه لره اولاد نو که نۀ وي هغه لره اولاد او میراث وړي د هغه نه مور او پلار د هغه
فَلِاُمِّهِ الثُّلُثُ فَاِنْ كَانَ لَهٗٓ اِخْوَةٌ فَلِاُمِّهِ السُّدُسُ
نو د مور دهغه دپاره دریمه حصه ده، پس که وي هغه لره وروڼه نو د مور دپاره ئې شپږمه حصه ده
مِنْۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُّوْصِيْ بِهَآ اَوْ دَيْنٍ
پس د پوره کولو د وصیت نه چه وصیت ئې کړې وي په هغې سره یا پس د ادا کولو د قرض نه،
اٰبَآؤُكُمْ وَاَبْنَآؤُكُمْ لَا تَدْرُوْنَ اَيُّهُمْ اَقْرَبُ لَكُمْ
پلاران ستاسو او زامن ستاسو نۀ پوهیږئ تاسو چه کوم یو د دوی نه زیات نزدې دې تاسو ته
نَفْعًا فَرِيْضَةً مِّنَ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا﴿۱۱﴾
په فائده کې، حصې مقرر کړې شویدی د طرفه د الله نه، یقیناً الله پوهه دې، حکمتونو والا دې۔

تفسیر : د قرآن کریم په څلورو آیتونو کی د میراث مسائل دی چه دوه دلته او یو په آخر د سورة النساء کی او یو په آخر د سورة الانفال او سورة الاحزاب کی دے چه هغه دواړه یو شان دی۔ او ددے آیتونو نه ټول مسائل د میراث حل کیږی که څوك پرے په صحیح معنو پوهه شی۔

اول میراث د توالد دے یعنی د بچو او د مور او پلار په باره کی۔ او په روستو نیمائی آیت کی میراث الازدواج دے یعنی د ښځے او د خاوند میراث۔ او په (وَاِنْ كَانَ رَجُلٌ) کی میراث د اخوه اخیافی دے۔ (چه د مور نه وی او د پلار نه نهٔ وی)۔ او په آخر د سورة نساء کی په هغے کی میراث د اخوه او اخوات اعیانی او علاتی دی چه د مور او پلار دواړو وی یا صرف د پلار نه وی نهٔ د مور نه۔ او (وَاُولُوا الْاَرْحَامِ) آیت کی د ذوی الارحامو میراث دے۔ او دلته ئے د اولادو میراث مقدم کړو ځکه چه د انسان تعلق د هر چا نه د اولادو سره مخکی او ډیر وی۔

فائده عجیبه : سړے چه مړ شی د هغه په مال کی څلور حقه دی (۱) اَلتَّجْهِيْزُ وَالتَّكْفِيْنُ وَالتَّدْفِيْنُ۔ کفن دفن ورکول او سنبالول۔ (۲) اَدَاءُ الدُّيُوْن۔ د مړی قرضونه ادا کول، نبی علیه السلام دا مخکی کړیدی په وصیت باندے او قرآن کی د وصیت نه روستو ذکر دے حکمت ئے روستو راځی۔ (۳) تَنْفِيْذُ الْوَصِيَّة ۔ کوم وصیت ئے چه کړے وی هغه نافذ کول۔ (٤) تَقْسِيْمُ الْمِيْرَاث۔ ددے نه روستو چه کوم مال پاتے شو هغه به تقسیم کړے شی۔

فائده : د میراث اسباب څومره دی؟ ابن عاشورؒ لیکلی دی چه په جاهلیت زمانه کی د میراث (۱) یو سبب تبنی وه چه یو تن به یو شخص په خپل زوی ولئ ونیولو (متبنیٰ) نو د یو بل نه به ئے میراث هم وړو، اسلام چه کله راغلو نو دا سبب ئے ختم کړو۔

(۲) عقد حِلْف : د جاهلیت په زمانه کی به یو تن د بل سره قسم وکړو چه زمونږ د دواړو وینه به شریکه وی او دواړه به د یو بل نه میراث وړو۔ په اسلام کی دا سبب هم زائل شو۔

(۳) رسول الله ﷺ په مکه کی د میراثو احکام نشو بدلولے ځکه چه طاقت ئے نهٔ وو، نهٔ شو نافذ کولے نو پدے وجه کله ئے چه مدینے ته هجرت وکړو نو د مهاجرینو اکثر خپلوان چه مشرکان وو په مکه کی پاتی شول نو رسول الله ﷺ د صحابه کرامو ترمینځ عقدِ حلف او عقد موالات جوړ کړو یعنی دا ئے وویل چه یو مهاجر د بل مهاجر ورور شو او ددهٔ نه به میراث وړی لکه روستو په ﴿وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ﴾ النساء (۳۳) آیت کی راځی۔ بیا چه کله د مسلمانانو بچی پیدا شو او اکثر خپلوان ئے مسلمانان شول نو الله تعالیٰ د میراث سبب بیرته خپلولئ ته واپس کړو۔ (التنویر والتحریر ٤/ ۳۷)

(٤) چه دا خپلولي کله په نسب سره ده۔ (٥) او کله په زوجيت (نکاحي تعلق) سره۔
(٦) او کله په وَلَاءُ الْعَتَاقَة سره۔ چه يو تن يو غلام آزاد کړي او د هغه خپلوان نهٔ وي نو آزادونکے به ترے ميراث وړي۔ نو درے سببونه (تبني، هجرت او عقد مواخات) منسوخ شو او باقي نسب، زوجيت ولاء العتاقة پاتې شول۔
يُوصِيكُمُ اللّٰهُ : د ايصاء نه دے، ابن عاشورؒ وئيلي دي چه ايصاء په هغه شي باندے امر کولو ته وائي چه په هغے کي د مامور نفع وي او د امر کونکي د طرفنه اهتمام وي۔ او ابن کثيرؒ فرمائي : معنىٰ دا ده چه الله تعالىٰ تاسو ته په عدل سره حکم کوي۔ او وصيت تاکيدي حکم ته وائي چه نهٔ منسوخ کيږي۔
لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ :
حکمة : دلته الله تعالىٰ سړے مشابه کړيدے د ښځو سره په ميراث کي يعني سړو له دومره مال ورکوئ لکه ښځو له ئے چه ورکوئ خو د هغے دوچنده۔ نو ګويا که اصل ميراث خوره جينئ ده، پدے کي ترغيب دے چه جينکئ د ميراث نه محرومي نکړے شي۔ او په تشبيه کي حکمت دا هم دے چه هلك زور کولے شي او جينئ زور نشي کولے۔
صورت : پلار مړ شو يو هلك او دوه جينکئ پاتے شوے نو ټول مال د دوی دے کله ئے چه مور نهٔ وي نو که مثلاً مال دوه لاکه روپئ دے نو يو لاکه به هلك واخلي او يو لاکه به دوه جينکئ واخلي۔ او نور صورتونه ورسره تهٔ ملګرے کوه۔ يا به ورسره مور او پلار وي او ښځه به ورسره وي يا نهٔ نو ډير صورتونه پکي جوړيږي خو د اولادو ميراث دغه شو کوم چه بيان شو۔
فَوْقَ اثْنَتَيْنِ : د دوه او د دوه نه زياتو جينکو يو شان ميراث دے چه دوه دريمے حصے به ورکولے شي۔ **صورت** : پلار مړ شو او دوه يا درے يا لس لونړه ترے پاتے شوے نو مال به درے حصے شي، دوه حصے به جينکو ته ورکړے شي دوی به ئے خپل مينځ کي برابر تقسيم کړي او دريمه حصه مال به ئے نور ميراث خواره واخلي چه مثلاً ترهٔ يا د تره ځوی يا ماما او داسے ورپسے ورځه، او جينکئ ټول مال د مړی نشي اخستے۔
وَإِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ : **صورت**: پلار مړ شو يوه لور ترے پاتے شوه نو نيمائي مال به د لور شي او باقي به نور ميراث خواره واخلي، جينئ ټول مال د پلار نشي اخستے۔
وَلِأَبَوَيْهِ : اُوس د مور او پلار ميراث بيانوي۔
لِكُلِّ وَاحِدٍ : دا بدل دے د (أَبَوَيْهِ) نه او د بدل په ذکر کولو کي فائده دا ده چه دا معلومه

شی چه یو سُدس (شپږمه برخه) د دوی شریك نهٔ دے بلکه د هر یو دپاره جدا جدا شپږمه برخه ده۔

د (إِنْ كَانَ لَهُ وَلَدٌ) پورے **صورت** د مسئلے دا دے چه سړے مړ شو مور او پلار ئے پاتی شو او خپل بچی ئے پاتی دی نو مور او پلار ته به شپږمه برخه ورکولے شی او باقی به د بچو ترمینځ تقسیم شی۔ لکه شپږ لاکه روپئ پاتے شوے یو لاکه د مور او یو لاکه د پلار او څلور لاکه به د بچو دپاره شی۔

وَلَدٌ: په ولد کی خپل بچے او نمسے دواړه داخل دی۔ او هلك او جینئ دواړو ته شامل دے۔

فَإِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهُ وَلَدٌ: په ولد کی نارینه او زنانه او نمسی ټول داخل دی۔

د مور او پلار د برخو بعض تفصیل

(۱) که مړی یواځے نارینه اولاد لری برابره ده چه یو تن وی او که زیات نو مور او پلار هر یو به د ټول مال (میراث) نه شپږمه شپږمه (۱/٦) برخه اخلی او نور به نارینه اولاد ته پاتی کیږی۔

(۲) او که یواځے زنانه اولاد ئے وی نو د مور او پلار په شپږمو برخو کی څه تغیر نهٔ راځی خو چه لونړه خپلے برخے واخلی او څه پاتی شی نو هغه به هم د پلار شپږمے برخے سره یو ځای کیږی۔

(۳) که چرته یو تن مړ شی او صرف پلار ترے پاتی شی، چه هیڅ اولاد ئے نهٔ وی نو پلار ته به ټول مال ورکولے شی ځکه چه دا عصبه دے۔ (تفسیر السعدی ۱٦٦/۱ وغیره)

د مړی چه اولاد نهٔ وی د هغے درے صورتونه

فَإِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهُ وَلَدٌ : (۱) **صورت** : سړے مړ شو چه اولاد ئے نشته واده ئے نهٔ دے کړے یا ئے بچی نهٔ دی پیدا شوی او مور او پلار ئے ژوندی دی نو مور به ئے دریمه واخلی (وَلِأَبَوَيْهِ الْبَاقِيْ) او د پلار دپاره ئے باقی مال دے دا پدے وخت کی عصبه دے۔ مثلاً درے لاکه روپئ پاتے شوے نو یو لاکه به مور واخلی او باقی دوه لاکه به پلار ته پاتی شی۔

(۲) **صورت** چه د مور او پلار سره د مړی ښځه یا د مړی خاوند هم په وارثانو کی شامل وی نو پدے صورت کی قانون دا دے چه ښځه یا خاوند به اول خپله برخه واخلی (چه هغه روستو په بل آیت کی راځی) او په باقی مال کی به د مور دریمه برخه رسیږی او نور چه څه

پاتې شو هغه به پلار ته ورکړے شي۔
(۳) **صورت** چه د مور او پلار سره د مړي دوه تنه یا زیاتي خویندې یا ورونه ژوندي وي، برابره خبره ده چه سکه وي یا ناسکه نو پدے صورت کي د مور یواځې د ټول مال شپږمه برخه رسیږي او باقیمانده ټول مال د مړي پلار ته پاتي کیږي۔ البته که د خویندو او ورونو نه یو تن ژوندے وو نو بیا د مور په برخه باندے څه اثر نهٔ غورزوي بلکه د اول صورت په شان حکم لري چه د مور به دریمه برخه رسیږي لکه ددے صورت تفصیل لاندے راروان دے۔ او آیا رونړه او خویندو میراث به وي او که نهٔ نو پدے کي اختلاف دے، راجح دا ده چه د دوي میراث نهٔ رسیږي ځکه چه پلار نزدے عصبه دے او دوي وړاندے دي۔
وَوَرِثَهٗۤ اَبَوٰهُ : یعني میراث وړي د مړي نه مور او پلار ددهٔ۔ دا قید ورسره ځکه وائي چه کله مور او پلار موجود وي لیکن کافران وي یا غلامان وي یا قاتلان وي نو هغوی ته د اولادو په میراث کي څه برخه نهٔ ملاویږي۔ (احسن الکلام)
فَاِنۡ کَانَ لَہٗۤ اِخۡوَۃٌ : صورت: سړے مړ شو مور او پلار ئے هم شته او ورسره ورونه ئے هم شته نو دلته به د مړي ورونه د مور حصه کموي، د دریمے نه به ئے شپږمے ته نقل کوي مثلًا: شپږ لاکه روپۍ پاتے شوے نو مور به ئے یو لاکھ واخلي او په قول راجح کي به د ورونو هیڅ برخه نهٔ وي او باقي پنځه لاکه به پلار ته پاتي شي۔
دلته مور ولے شپږمے ته نقل شوه او پلار ته زیاته پاتي شوه ؟ ددے حکمت دا معلومیږي (والله اعلم) چه د مور خرچه د مړي په نورو ورونو باندے لازم ده نو که مور ته برخه کمه ورسي نو د ورونو په وجه به ئے گوزاره روانه وي۔ او بل طرفته که د مړي ورونه زیات وي او ماشومان وي نو د هغوی خرچه په پلار راځي نو پلار له زیاته ورکول پکار دي چه د دغه ماشومانو نفقه پرے هم وکړي۔
حکمة : په احادیثو کي قرض د وصیت نه مخکي ښودلے شویدے او دلته وصیت مخکي ذکر شو ؟ ددے حکمة دا دے چه د دَین (قرض) مُطالب (طلبگار) موجود دے هغه درته په سر ودریږي او د وصیت طلبگار نهٔ وي ځکه چه د مړ کیدونکي په خوا کي حاضر نهٔ وي یا د شرم او حیاء د وجه نه مطالبه نشيَ کولے۔ نو الله فرمائي قرض خو به هسے هم ورکوے خو چه دغه وصیت درنه هیر نشي۔ (۲) دویم حکمة دا دے (خطیبؒ شربیني وائي:) چه وصیت پوره کول په وارثانو باندے گران تمامیږي ځکه چه دا په غیر د عوض نه اخستلے شي او بله دا چه وصیت د هر مکلف دپاره مستحب دے په خلاف د دَین (قرض)

نه چه هغه په هر چا باندے نهٔ وی. او په وصیت مخکی ذکر کولو کی ترغیب دے وصیت کولو ته. (السراج المنیر ۱/۲۳۱)

آبَآؤُكُمْ : پدے کی په مخکنئ طریقه سره د میراث د تقسیم حکمة بیانوی چه الله تعالیٰ د بندګانو صوابدید ته ونهٔ سپارلو بلکه خپله ئے بیان کړو ځکه چه تاسو نهٔ پوهیږئ چه تاسو ته د چا فائده زیاته رسی. او الله تعالیٰ ته ستاسو ګټه او تاوان ځرګند دے. تهٔ به راولګے پلار ته به زیات وصیت وکړے او حال دا چه د بچی فائده به زیاته وی یا برعکس تهٔ به بچی ته زیات مال ورکړے او په واقع کی به تا ته د پلار فائده زیاته رسیږی. دا په دنیا او آخرت دواړو کی مراد کیدے شی مثلاً په دنیا کی تا ته پته نشته چه د پلار دعا بچی ته فائده ورکړی او دارنګه کله د بچی دعا او صدقه پلار ته فائده ورکړی، لکه امام قرطبیؒ وئیلی دی چه کله والدین د اولاد په دعا سره اُوچته درجه حاصله کړی او دغه شان اولاد د والدینو په دعا سره اُوچت مقام ته رسیدلے شی. دارنګه په آخرت کی به هر یو د پلار او بچو نه د یو بل دپاره سفارش کوی، که پلاران ئے اُوچتے مرتبے ته رسیدلی وی نو الله تعالیٰ به ورته بچی ورپورته کړی لکه دا په سورة الطور (۲۱) آیت کی راغلی دی: ﴿وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ﴾.

او که بچی ئے اُوچتے درجے ته رسیدلی وی نو پلاران به ورته الله تعالیٰ د هغوی په سفارش سره ورپورته کړی. (ابن عباسؓ)

د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه داسے مطلب نقل دے چه په پلارانو او ځامنو کی څوک د الله تعالیٰ ډیر تابعدار وی هغه به د قیامت په ورځ اُوچتے درجے والا وی او الله تعالیٰ د بعض مؤمنانو سفارش د بعضو په باره کی قبلوی، که د پلار درجه په جنت کی پورته وه د بچی دپاره به سفارش کوی او که د بچی پورته وه نو د پلار دپاره به سفارش کوی. (السراج المنیر ۱/۲۳۱)

ابوحیانؒ وئیلی دی چه پدے کی اشاره ده چه د مُورث د مرګ تمنا مهٔ کوه. (احسن الکلام)

وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ إِنْ لَّمْ يَكُنْ
او ستاسو دپاره نیمائی مال دے د هغے نه چه پریخودے وی ښځو ستاسو که چرته نهٔ وی
لَّهُنَّ وَلَدٌ فَإِنْ كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا
هغوی لره هیڅ اولاد او که وی هغوی لره اولاد نو تاسو لره څلورمه حصه ده د هغه مال نه

تَرَكْنَ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوْصِيْنَ بِهَا
چه پریخودے وی دوی پس د پوره کولو د وصیت نه چه وصیت ئے کړے وی په هغے سره
أَوْ دَيْنٍ وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ
یا پس د ادا کولو د قرض نه او ښځو لره څلورمه برخه ده د هغه مال نه چه پریخودے وی تاسو
إِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّكُمْ وَلَدٌ فَإِنْ كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ
که چرته نۀ وی تاسو لره څه اولاد نو که وی تاسو لره اولاد نو ښځو له اتمه برخه ده
مِمَّا تَرَكْتُمْ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوْصُوْنَ
د هغه مال نه چه پریخودے وی تاسو پس د پوره کولو د وصیت نه چه وصیت کوئ تاسو
بِهَا أَوْ دَيْنٍ وَإِنْ كَانَ رَجُلٌ يُوْرَثُ
په هغے سره یا پس د ادا کولو د قرض نه او که چرته وی یو سړے چه میراث وړے شی د هغه نه
كَلَالَةً أَوِ امْرَأَةٌ وَلَهُ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ
میرات یا ښځه (دغسے) وی او د هغه دپاره ورور یا خور وی (صرف د مور نه) نو د هر یو دپاره
مِنْهُمَا السُّدُسُ فَإِنْ كَانُوْا أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَاءُ
ددے دواړو نه شپږمه برخه ده نو که چرته وی دوی زیات ددے نه نو دوی به شریك وی
فِي الثُّلُثِ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوْصٰى بِهَا أَوْ دَيْنٍ
په دریمه برخه کی پس د وصیت نه چه وصیت کولے شی پدے سره یا پس د ادا کولو د قرض نه،
غَيْرَ مُضَآرٍّ وَصِيَّةً
شئ تاسو نۀ ضرر ورکونکی (په وصیت سره هیچا ته) دا مضبوط حکم دے
مِنَ اللّٰهِ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَلِيْمٌ ﴿۱۲﴾
د طرفه د الله نه او الله پوهه دے، صبرناك دے۔

تفسیر: ښځه د خپل خاوند په میراث کی صرف څلورمه برخه اخلی کله ئے چه اولاد نۀ وی یا اتمه برخه اخلی کله ئے چه د خاوند نه اولاد وی او که ښځے د یوے نه زیاتی وی نو

هغوی تولے په څلورمه یا اتمه برخه کې شریکیږي۔

وَلَكُمْ نِصْفُ : **صورت** : ښځه مړه شوه او د هغې بچې ددې یا د بل خاوند نه نشته نو نیم مال به خاوند واخلي او باقي نیمائي به د هغې مور او پلار واخلي نو ددې میراث د سړي سخرانې ته نقل شو۔ تول مال خاوند نشي اخستے۔

فَإِنْ كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ : **صورت** : ښځه مړه شوه او بچي هم ترې پاتې شو که ددې خاوند نه وي او که د بل خاوند نه نو خاوند به ئې څلورمه برخه واخلي او باقي به بچو کې تقسیم شي۔

وَلَهُنَّ الرُّبُعُ : ښځه که یوه وي او که ډیرې خو چه بچي ئې نۀ وي نو څلورمه به ورته ملاویږي او که بچي ئې وي نو اتمه برخه به اخلي۔

لَكُمْ وَلَدٌ : یعني د سړي ددې ښځې نه یا د بلې ښځې نه بچي نۀ وي۔

وَإِنْ كَانَ رَجُلٌ : اُوس د اخیافي وررونو او خویندو میراث ذکر کوي چه پدې کې وررونه او خویندې په میراث کې برابر دي۔ اخیافي یا خیفي هغه وررونو او خویندو ته وائي چه مور کې شریك وي نۀ په پلار کې۔

قانون

د مور شریکو خویندو او وررونو په برخو کې شرط دا دے چه مړے به کلاله وي چه نۀ ئې پلار او نۀ ئې اولاد ژوندي وي، نۀ ځوی او نۀ لور۔ او که پدې کې یو تن موجود وي نو دا وررونه او خویندې د میراث نه بې برخه کیږي۔

كَلَالَةً : میرات ته وائي او امام بخاريؒ د ابوبکر صدیق ﷺ نه نقل کړیدي چه کلاله مَنْ لَا يَرِثُهُ اِبْنٌ وَلَا أَبٌ) چه نۀ ترے ځوی میراث وړي او نۀ پلار یعني اصول او فروع ئې نشته او خویندې او وررونه ئې شته۔

أَوِ امْرَأَةٌ وَلَهُ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ : دلته الله تعالیٰ ډیر صورتونه جمع کړیدي مثلاً سړے مړ شو د هغه نه ورور پاتے شو یا ترے خور پاتے شوه یا ښځه مړه شوه د هغې نه ورور یا خور پاتے شوه څلور صورتونه شو پدے تولو کې د هر یو دپاره شپږمه برخه د مال ده۔

د صورتونو تفصیل

(۱) اخیافي ورور یا خور چه یوه وي د میراث شپږمه برخه (۱/۶) اخلي۔

(۲) دوه یا ددې نه زیات اخیافي خویندې او وررونه تول د ترکې په دریمه (۱/۳) برخه کې سره یو برابر شریك دي، نارینه په ښځه باندې په برخه کې غوره والے نۀ لري۔

فَإِنْ كَانُوْا أَكْثَرَ : یعنی د یو نه زیات وروڼه او خویندې وي نو دوی به دریمه برخه کې شریك وي یعنې د مړ وروړ یا مړې خور مال به درې حصې تقسیم شي دریمه برخه به دوی کې یو شان شریکه تقسیمه شي او دوه برخې به ئې نورو وارثانو ته ورکړي.

غَيْرَ مُضَآرٍّ : دا منصوب دے : یعنی كُوْنُوْا غَيْرَ مُضَارٍّ : یعنی تاسو شئ نۀ ضرر ورکونکي په خپل وصیت سره.

یعنی پکار ده چه تاسو د خپلو وارثانو خیال وساتئ، نۀ په قرض کې په هغوی تیری وکړئ چه په دروغو باندے چا ته د قرض اقرار وکړئ او نۀ په وصیت کې د هغوی حقوق د خپو لاندے کړئ چه د خپل مال د دریمے برخے نه زیاتی په وصیت کې شامل کړئ. په دغه دواړو صورتونو کې ستاسو د وارثانو برخې کمیږي او مال ئې دلاسه وځي نو ستاسو ددے کار په وجه به وارثانو ته ضرر ورسیږي.

وَصِيَّةً مِّنَ اللهِ : دا مفعول مطلق دے دپاره د (يُوْصِيْكُمُ اللهُ). او د تاکید دپاره ئې راوړو.

یا مفعول بہٖ دے دپاره د (غَيْرَ مُضَآرٍّ). یعنی د الله د طرفنه چه کوم وصیت تاسو ته د میراث په باره کې کیږي نو دے ته ضرر مۀ ورکوئ چه مخالفت ئې وکړئ. (قاسمیؒ)

وَاللهُ عَلِيْمٌ حَلِيْمٌ : الله تعالیٰ دا دوه صفتونه په ډیر مناسب مقام کې راوړل پدے کې جواب دے د هغه چا چه د میراث په باره کې ئې سوالونه ذهن کې راځي چه ستاسو علم ناقص دے د الله تعالیٰ په حکمتونو باندے خبر نۀ لرئ نو ښه دا ده چه د خپل قصور اعتراف وکړئ، او پدے کې اشاره ده چه که چا ضرر ورکړو نو د الله تعالیٰ د علم نه پټ نۀ دی، الله تعالیٰ حلم والا دے بیا روسته سزا ورکوی، د الله تعالیٰ په حلم باندے دوکه کیدل نۀ دی پکار.

تِلْكَ حُدُوْدُ اللهِ وَمَنْ يُّطِعِ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ
دا (حکمونه) پولې د الله دی، او څوك چه تابعداری کوی د الله او د رسول د هغه، داخل به ئې کړي
جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَذٰلِكَ الْفَوْزُ
جنتونو ته چه بهیږي به لاندے د هغې نه ولے، همیشه به وی په هغې کې او دا کامیابی ده
الْعَظِيْمُ ﴿۱۳﴾ وَمَنْ يَّعْصِ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَتَعَدَّ حُدُوْدَهٗ
لویه. او څوك چه نافرمانی کوی د الله او د رسول د هغه او ورتیریږي د پولو د هغه نه

يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيهَا وَلَهُ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿١٤﴾

داخل به کړی هغه لره اُور ته، همیشه به وی په هغے کی او ده لره عذاب دے شرمونکے۔

تفسیر : دا اشاره ده ټولو ذکر شوو احکامو ته، او زیرے ورکوی هغه چا ته چه ددے احکامو تابعداری کوی او د نافرمانی کونکو دپاره سزا بیانوی۔

وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ : لفظ د عصیان کی اشاره ده خبره (قول) نۀ منلو ته او (ویتعد حدوده) نه مراد عملاً خبره نۀ منل دی۔

د حدودو نه د تجاوز صورتونه

١- یو دا چه بیخی ترے انکار وکړی۔

٢- چه عقیده پرے لری خو یا پکی زیادت وکړی یا پکی نقصان لکه د فرض مانځه رکعتونه چه زیادت او نقصان پکی دواړه ناروا دے۔

٣- چه یواځی زیادت پکی جائز نۀ وی لکه د څلورو ښځو نه زیاتی په نکاح کول۔

٤- چه یواځی نقصان پکی جائز نۀ وی لکه د زکاة مقدارونه، که زیادت پکی وکړے شی خیر دے بلکه ثواب دے خو چه د فرضیت عقیده پرے ونۀ لری۔ نو دلته ټول صورتونه مراد کولے شی۔

خوارجو ددے نه دلیل نیولے دے چه په گناه باندے انسان کافر کیږی ځکه چه دلته ورله سزا کی خلود فی النار ذکر شویدے او دا د کافرو عذاب دے۔

د اهل السنة والجماعة د طرفنه (١) جواب شویدے چه دا په صورت دا نکار باندے حمل دے او په انکار سره کافر کیږی۔ (٢) جواب دا دے چه دلته د الله او د رسول د نافرمانئ سزا بیان شویده چه انسان همیشه جهنم ته بوځی لیکن که مانع نۀ وی او که چرته د همیشوالی نه مانع موجود شو لکه په دۀ کی ایمان او توحید شته نو که د گناه په وجه اُور ته لاړو نو ایمان او توحید به ئے د همیشوالی نه بچ کړی، د اُور په وجه به گناه کمزوری شی نو ایمان به خپل اثر وکړی نو د اُور نه به راوځی، او دا د الله تعالیٰ عدل دے چه د بندگانو عملونه نۀ بربادوی۔ نو قید د (اِذَا لَمْ يَمْنَعْ مَانِعٌ) په ټولو نصوصو د وعید کی مراد وی لکه دے ته حافظ ابن کثیرؒ په سورة البقره کی اشاره کړیده۔

وَاللَّاتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِسَآئِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوْا عَلَيْهِنَّ
او هغه ښځې چه راتګ اُوکړي بدکارئ ته د ښځو ستاسو نه نو ګواهان پیش کړئ په هغوی باندے
أَرْبَعَةً مِنْكُمْ فَإِنْ شَهِدُوْا فَأَمْسِكُوْهُنَّ
څلور ګواهان د سړو ستاسو نه نو که ګواهي وکړه هغوی نو بندے کړئ دوی لره
فِي الْبُيُوْتِ حَتّٰى يَتَوَفَّاهُنَّ الْمَوْتُ أَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيْلًا ﴿١٥﴾
په کورونو کې تردے چه وفات کړي دوی لره مرګ یا به وګرزوی الله تعالیٰ دوی لره څه لاره.

تفسیر : مضمون : پدے او روستو (وَالَّذَانِ) دوه آیتونو کې مقصد اِزَالَةُ الْفَحْشَاء عَنْ مُعَاشَرَةِ الْمُسْلِمِيْنَ ده، یعنې د مسلمانانو د معاشرے نه د بې حیایئ ازاله ده. د عربو په معاشره کې د اسلام نه مخکې بې حیائي زیاته وه خاصکر هغوی به بربنډ ګرزیدل بد نۀ ګنړل لکه دا د قرآن او د احادیثو نه معلومیږي، د وینځو سره به ښکاره زناګانے کیدلے، جنډے به ئے په کورونو لګولے وے چه فلانې کور کې زنا کیږي، دارنګه د زنانو خپل مابین کې او د سړو خپل مینځ کې بې حیائي کول به کم کوز ملاویدل اګرکه ښکاره به نۀ وو. نو الله تعالیٰ په اول کې دا قانون راولیږلو چه په دوی باندے دوه حده قائم کړئ یو اَلْحَبْسُ دویم اَلْإِيْذَاء. یعنې جیل ته ئے واچوئ او ضرر (ردے بدے، وهل ټکول) ورله ورکړئ. دا دواړه خبرے کله جمع کیږي هم چه کورونو کې به بند کړے شي او په خوله به ورته بد رد هم ویل شي چه تاسو د الله نه نۀ یریدلئ او شرم او حیاء درکې نۀ وه. که توبه ئے ویستله نو بیا ورته رد بد مۀ وایئ. نو روستو زمانه کې الله تعالیٰ دواړه خبرے منسوخ کړے د سورة النور په آیت. اګرکه غیر منسوخ معنیٰ هم پکې روستو رازي.

روستو آیت کې توبې ته ترغیب ورکړیدے چه انسان کمزورے دے ګناه ترے کیږي خو ښه لاره دا ده چه پدے همیشوالے مۀ کوئ بلکه الله ته توبه ویاسئ ځکه چه معاشره په توبه سره صفا کیږي چه هر بنده د الله نه یره وکړي، نۀ د حکومت په زور او ډنډے سره. او فرمایلي ئے دي چه د دوه کسانو توبه نۀ قبلیږي یو هغه کس دے چه په وخت د غرغره (ساه ختلو) کې توبه ویاسي او بل هغه کس چه پس د مرګ نه په قبر او حشر کې توبه ویاسي دا نۀ قبلیږي، بنده که هرڅنګه فاسق فاجر او ګناهګار او مشرك وي لیکن په دنیا کې ورله توبه قبلوی، دا د الله تعالیٰ ډیر عجیب او ښکلے نعمت دے چه بندګانو ته ئے تحفه کړیدے

چه د انسان پوره صفائي کوي. بیا (یا ایها الذین آمنوا) کي مسئله د ایراث النساء ده چه ښځے په میراث کي ورل صحیح نهٔ دي سره د بیان د مسئلے د خلع نه، او په دغه یو آیت کي ښځو سره په ښائسته معاشره (زندگي) تیرولو باندے حکم دے. بیا (وان اردتم) کي بله مسئله ده اَلنَّهْيُ عَنْ أَكْلِ الْمُهُوْرِ مِنَ النِّسَاءِ ـ د زنانو د مهرونو خوړلو نه منع شویده کله زنانه ته مهر ورکړے شي نو دوباره په زوره او نارضا سره اخستل ترے حرام دي او ددے وجه بیانوي چه دا ظلم او بهتان دے. بیا بیان د محرماتو دے، چه پدے کي مؤمنانو ته ادب ورکوي چه د مجوسو په شان به نهٔ جوړیږئ چه خپله خور مور نهٔ پیژني، او په درے قسمه زنانو باندے ئے پابندي لګولے ده چه د نسب، رضاعت او مصاهرت (سخرګنئ) په وجه ښځے حرامي دي. او پدے کي بیا ډیر افراد دي چه په قرآن او احادیثو کي هغه تفصیلًا بیان شویدي. بیا ئے فرمایلي دي چه دے ښیزونو باندے ما ځکه پابندي ولګوله چه دا د فطرت تقاضا ده، بیا ئے دوباره د مهر مسئله بیان کړیده ځکه چه په ښځو باندے اکثر په مهرونو کي ظلم کیږي. بیا ئے مسئله د نکاح الاماء (وینځو سره د نکاح) مسئله بیان کړیده او د هغوي حدود ئے بیان کړیدي تر بلے رکوع پورے. حاصل ئے داشو چه پدے احکامو سره معاشره پدے طریقه پاکیږي کله چه د معاشرے د خلکو نه زنا ختمه شوه او الله ته ئے توبه ویستله نو معاشره به خومره صفا شي او په زنانو ظلم نهٔ کیږي، د هغوي نه مهر نهٔ اخستلے کیږي او د حرام او حلالو تمیز وشي او د وینځو سره حتى الوسع نکاح ونهٔ شي ځکه چه د هغے د وجه نه بد اخلاقیاني پیدا کیږي او په مینځ مینځ کي ئے بل حکم بیان کړیدے چه نکاح به کوئ لیکن د زناکارو ښځونه به ځان ساتئ ځکه چه دا په سړي کي بد اخلاقي پیدا کوي او پدے سره معاشره خرابیږي.

د میراث د احکامود بیانولو نه روستو دلته الله تعالیٰ د ښځو متعلق بعض نور احکام بیان کړیدي. سُدِّيّ، قتادهؒ او ابن جریرؒ وغیره مفسرینو وئیلي دي چه په ابتداء د اسلام کي د داسے وادهٔ شوے ښځے په باره کي چه د هغے نه زنا اُوشي او د څلورو سړو په ګواهئ سره ثابته شي نو حکم دا وو چه دا به په کور کي بنده کړے شي او نهٔ به شي وتلے تردے چه د هغے مرګ راشي.

دے نه روستو بے وادهٔ ته د دُرو وهلو او وادهٔ شوي ته د رجم ورکولو په حکم سره دا حکم منسوخ شو. لکه چه امام مسلم (٤٥٠٩) و (٤٥١١) او امام احمدؒ او اصحاب سنن د عباده بن صامت ﷺ نه روایت کړیدے چه نبي کریم ﷺ باندے به چه کله وحي راتله نو په

هغه باندې به د هغې اثر کيدو، نو هغه به د زور په وجه سترې کيدو او د هغه په مخ باندې به آثار ښکاره کيدل. يوه ورځ په نبي ﷺ باندې وحي نازله شوه او کله چه هغه په آرام شو نو وې فرمايل : (خُذُوا عَنِّي قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لَهُنَّ سَبِيلًا، اَلْبِكْرُ بِالْبِكْرِ جَلْدُ مِائَةٍ وَنَفْيُ سَنَةٍ وَالثَّيِّبُ بِالثَّيِّبِ جَلْدُ مِائَةٍ وَالرَّجْمُ) ما نه دا حکم واخلئ، د زناکارو ښځو دپاره الله لاره ويستلې ده، که زنا کونکے سړے يا ښځه واده شوې نۀ وي نو سل دُرې او يو کال د کلي نه شړل دي او که وادۀ شوي وي نو سل دُرې او رجم کول دي. د امام احمدؒ قول ددې حديث مطابق دې. ليکن د جمهورو علماؤ په نيز وادۀ شوې زنا کار به صرف رجم کيږي ځکه چه نبي کريم ﷺ ماعز اسلميؓ، غامديه زنانه، او دوه يهوديان صرف رجم کړي وو او هغوی ته ئې دُرې نۀ وې ورکړې. لهذا دوه طريقې جائز دي، د رجم نه مخکې دُرې ورکول او صرف رجم دواړه د احاديثو نه ثابت دي.

يو کال شړل هم ضروري حکم دې، ځينې نا اهله خلك وائي چه شړل غلط دي ځکه چه په شړلو سره بيا د زنا لاره کولاويږي، هغوی به هلته بيا زنا کوي، دا خبره خطاء ده وجه دا ده چه دا به اسلامي خلافت وي چه د دواړو د شړلو ترتيب به معلوم وي، سړے به د ښځې نه جدا جدا کولے شي او د هغوی تفقد به کيدے شي، داسے آزاد به ئې نۀ پريدي. او پدې شړلو کې حکمة دا دې چه سړي او ښځې ته به سزا هم ملاؤ شي چه آينده کې داسے کار ونکړي او ددې په ذريعه نور خلك هم منع شي او بله دا چه د مسلمانانو د دماغو نه به د زنا دا صورت او واقعه ووځي. امام ترمذي د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه نقل کړيدي : (اَنَّ اَبَا بَكْرٍ ضَرَبَ وَغَرَّبَ وَاَنَّ عُمَرَ ضَرَبَ وَغَرَّبَ) ابوبکر صديق ﷺ او عمر فاروق ﷺ دواړو زنا کار وهلي هم دي او شړلي ئې هم دي. (سنن الترمذي: ۱۴۳۸ نسخة شاکر)

د رجم حکمة

بيا په رجم (کاڼړو ويشتلو) کې حکمة دا دې چه دا ډير بد قتل دې ځکه چه دې سړي او ښځې ډيره بيباکي کړيده چه حاجتونه ئې پوره کيږي او بيا هم زنا کوي. دارنګه په خاوند باندې فساد راولي او نسبونه خرابوي او سړے د ښځې اخلاق خرابوي، پدې کار سره به د خاوند سره ورانه شي، او بل طرفته ددۀ ټول بدن خوند اخستے دے نو پدې وجه ئې ټول بدن خوږوي او دا د دنيا په لحاظ سخته سزا ده ليکن دا سړے مؤمن دے نو الله تعالیٰ ئې ددې حد په وجه معاف کوي او جنت ورله ورکوي خو پدې کار سره د نورو خلکو اصلاح کيږي نو دا حکم بعينهٖ د حکمة او د فائدو نه ډك دے، او دے ته وحشيت وئيل سراسر ظلم او زياتے

دي- د هر عقلمند او غيرتمند په نيز د داسے لوی مفسد سزا ډيره سخته وی، دغه سړے چه د هغه د ښځے سره زنا شوی وی هغه به څو مره پريشانه او غصه وی او ژوند به ئے تنګ وی- نو که اسلام دا حکم نۀ وے راليږلے نو دا سړے به لګيدے د ډيرے غصے په وجه به ئے دغه سړے او ددۀ ټوله کورنۍ ويشتلے چه ددے نه به ډير لوی فساد پيدا کيدلے نو شريعت وويل چه دغه يو سړے دے د خلکو په مخامخ په کاڼو ويشتلے شی نو د خاوند زړه به يخ شی او فائدے به هم پکی حاصلی شی نور خلك به منع شی-

وَالّٰتِيْ : دا د جمعے صيغه ده-

يَأْتِيْنَ الْفَاحِشَةَ : دلته د فاحشے نه مراد حقيقی زنا ده ځکه چه په بد نظرۍ او ګوتے وروړلو باندے صرف تعزير دے-

مِنْ نِسَآئِكُمْ : يعنی ستاسو د زنانو نه چه مسلمانه وی دا ځکه وائی چه پردو (کافرو) زنانو باندے زمونږ وسعه نۀ کيږی او که اهل ذمه کافرو زنا وکړه او د مسلمانانو په معاشره کی وسيدل نو هغوی هم پدے باره کی د مسلمانانو په حکم کی دی، حدود به پرے جاری کيږی-

فَاسْتَشْهِدُوْا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِنْكُمْ : الله تعالیٰ په عامو اوقاتو کی يو يا دوه ګواهان ښودلی دی او په زنا کی څلور، ددے څه حکمة دے ؟ نو يو حکمة پکی اِرَادَةُ التَّسَتُّرِ عَلَى الْمُسْلِمِيْنَ دے يعنی دے دپاره چه په مسلمانانو باندے پرده واچولے شی ځکه که يو ګواه له اعتبار ورکړے شی نو هره ورځ به يو تن راځی او قاضی ته به وائی چه ما فلانی ځای کی ښځه وليدله چه زنا ئے کوله نو هره ورځ به حدود قائميږی او څلور کسان په يو وخت کی په يو سړی او ښځه ورپيښيدل ډير کم وی نو که څوك دا ګناه کوی نو پټه به وی، ډيره به نۀ راښکاره کيږی (دا هم د الله تعالیٰ لوی احسان دے) ځکه چه کله ګناه پټه وی نو د هغے اثر ډير نۀ وی- او پدے سره د مسلمانانو په معاشره کی به د زنا خبرے د خلکو د دماغو نه ووځی، ځکه چه پدے خبرو سره د مسلمانانو اخلاق خرابيږی، هره ورځ به ورته د زنا خبر ملاويږی نو پدے سره به ئے په دماغو کی د زنا تصورات راتازه کيږی او دا لوی فساد دے-

مِنْكُمْ : يعنی مسلمانان ګواهان به وی او په احاديثو کی راغلی دی چه دا څلور کسان به ښکاره تعيين کوی چه مونږ كَالْمِيْلِ فِي الْمُكْحَلَةِ طريقے سره وليدل چه زنا ئے کوله-

فَأَمْسِكُوْهُنَّ : پدے کی دے ته اشاره ده چه د زنا او د فساد ختمولو يوه لاره دا ده چه زنانه په کور کی بنده وساتلے شی او ډير بهر پرے نۀ ښودے شی چه بی ضرورته بازارونو کی

چکړے وهي، پدے سره ډیر فساد پیدا کیږي۔
أَوْ يَجْعَلَ اللَّهُ : یعنی الله به ورله یوه لاره مقرر کړي لکه لږه زمانه روستو حکم نازل شو۔

وَالَّلذَان يَأْتِيَانِهَا مِنكُمْ فَآذُوهُمَا
او هغه دوه کسان چه راتګ وکړي بے حیایۍ ته ستاسو نه نو ضرر ورکړئ دوی ته
فَإِنْ تَابَا وَأَصْلَحَا فَأَعْرِضُوا عَنْهُمَا
نو که توبه ئے ویستله او عمل ئے نیك کړو نو مخ واړوئ د دوی نه (د زورنے او د پیغور)
إِنَّ اللَّهَ كَانَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ﴿١٦﴾
یقیناً الله تعالیٰ توبه قبلونکے، رحم کونکے دے۔

تفسیر : ددے او د مخکنی آیت حکمونه دواړه په یو ځای جمع کیدلے هم شی منافات ئے نشته، هغه د ښځو په باره کی وو او دا حکم د سړو په باره کی دے چه سړی زنا وکړه نو هغه سره به څه کوو؟ نو الله تعالیٰ پدے آیت کی د سړو سزا بیانوی سره د ښځو نه، نو په ښځه دوه سزا ګانے، یو په مخکی آیت کی چه په کور کی بنده ساتل او بله دلته چه هغه ضرر ورکول دی۔ او د سړی یوه سزا چه ضرر ورکول او د هغه شرمول دی۔ او د سړو په کور کی بند ساتل نشته، ځکه چه په هغے کی فائده نشته۔ او دا هم په ابتداء د اسلام کی حکم وو چه که زنا کونکے (سړے او ښځه) غیر وادۀ شوی وو نو هغوی ته به بد رد وئیلے شو او شرم به ورکولے شو او څه زجر او وهل به ورکولے شو، دے دپاره چه په خپلو کړو پښیمانه شی او کله چه به ئے توبه اُوویستله او خپله اصلاح به ئے اُوکړله نو بیا به د هغه نه خلق غلی پاتے شو او زورنه به ترے بنده شوه ځکه چه د ګناه نه توبه ویستونکے د هغه سړی په شان وی چه هغه ګناه نۀ وی کړی، کله چه د سورة نور آیت (۲) : ﴿الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ﴾ نازل شو (چه زنا کار سړے او زناکاره ښځه سل سل درے اُووهئ) نو دا حکم هم د تیر شوی حکم په شان منسوخ شو او د جمهورو په نیز د دوی په حق کی هم صرف د دُرو وهلو حکم باقی پاتے شو۔ (قاسمیؒ وتیسیر الرحمن)

(۲) ځینی علماؤ وئیلی دی چه دواړه آیتونه د زنا په باره کی دی لیکن د تکرار نه د بچ کیدو دپاره داسے وئیلے شی چه اول آیت د وادۀ شوو سړو او ښځو په باره کی دے او دویم آیت د غیر وادۀ شوو سړو او ښځو په باره کی دے، او تثنیه د مذکر ئے په طریقه د تغلیب سره راوړیده۔ او دا تفسیر د سُدیؒ نه نقل دے، ددے وجه نه په اول کی سختی زیاته ذکر ده

په نسبت د دویم. او فرق د آیت داسې هم کیدې شي چه وویل شي چه بندول خاص دی د ښځو پورې او ایذاء (ضرر ورکول) خاص دی د سړو پورې، یا بندول د زنانو پورې خاص دی او ایذاء سړو او ښځو دواړو ته عامه ده. (المنار، واحسن الکلام)

(۳) ځینی وائی چه اول آیت د زنانو په باره کی دې چه شادی شده وی یا نۀ وی او دویم د سړو په باره کی خاص دې او (وَالَّذَانِ) ئې تثنیه راوړه دپاره د بیان د دوه قسمونو د سړو چه واده شوی او غیر واده شوی دی. نو د ښځو سزا بندول دی او د سړو سزا اذی (ضرر ورکول) دی. او دا قول نحاسؒ غوره کړیدې او د ابن عباسؓ نه ئې نقل کړیدې. او قرطبیؒ د مجاهدؒ وغیره نه او دا ئې ښه ګڼړلې دې. (فتح القدیر للشوکانی ۲/۱۰۲)

(٤) تفسیر: امام مجاهدؒ وئیلی دی چه دویم آیت د داسې دوه سړو په باره کی نازل شوې وو چه خپل مینځ کی لواطت اُوکړی. اصحاب السنن د ابن عباس رضی الله عنهما نه مرفوعاً روایت کړیدې چه د قوم لوط د عمل کونکی فاعل (کونکې) او مفعول (کړې شوې) دواړه به قتلولې شي. دا د دوی دپاره اذی (ضرر رسول) دی. (وسنده صحیح)

لیکن دې سره روستو (فَاِنْ تَابَا وَاَصْلَحَا) نۀ لګیږی، آؤ که ګواهان پرې نۀ وی او مشهور شی په لواطت نو بیا ایذاء ورله شته لیکن قتل ئې نشته.

(٥) تفسیر: اَللَّذَانِ صیغه د مذکر ده لیکن مراد ترې دوه مؤنثې دی چه یو بل سره سحاق وکړی یعنی په برېنډه باندې یو بل سره ملاؤ شي دوی دپاره ئې د مذکر صیغه استعمال کړه ځکه چه کارئې د مذکرو کړیدې. نو پدې صورت کی به دوی ته ایذاء (ضرر) ورکولې شي او دا په درجه د تعزیر کی ده چه وبه وهلې شي یا به ورته بد رد وویل شي او د دوی دپاره شریعت حد نۀ دې مقرر کړې چه سل درې یا رجم وغیره. نو دوی په توبه او اصلاح د عمل باندې معاف کیږی.

فَآذُوْهُمَا : ایذاء (ضرر ورکول) یو دا دی چه ستغې او سپکې سپورې خبرې ورته وکړی او پیغور ورکړی. (سُدیّؒ) او ابن عباس رضی الله عنهما وائی: په څپلو باندې ویشتل هم پکی داخل دی. او ځینی علماء (او صحابه کرامؓ) نه نقل دی چه د وخت د بادشاه رائې ته سپارل شویدی چه هغه کومه سزا تجویز کوی هغه به پرې نافذ کیږی، د غر نه رارغړول، همداسې ویشتل شو.

پدې کی ځینی علماؤ وئیلی دی چه ایذاء او حبس دواړه نۀ دی منسوخ، اول به ایذاء په خبرو وغیره سره ورکړې شي او زنانه به کور کی وساتل شي او بیا به پرې حد جاری کړې

شی، د هغوی د حالت مطابق۔ (فتح القدیر)
فَإِنْ تَابَا : یعنی د فاحشے نه ئے توبه ویستله۔
وَأَصْلَحَا : او روستو ئے خپل عمل برابر کړو۔ بیا ئے دا قبیح عمل نۀ کولو۔
فَأَعْرِضُوا عَنْهُمَا : یعنی مخ ترے واړئ، توبیخ او زورنه مۀ ورکوئ، ردے بدے ورته مۀ وایئ، او پرده پرے واچوئ ځکه چه توبه او اصلاح ګناه پټوی او ختموی ئے۔
او دا اعراض به هله وی چه کله په دۀ باندے ګواهان نۀ وی ځکه چه د ګواهانو په صورت کی که بنده توبه وباسی او اصلاح وکړی هم په دۀ به حد قائمیږی۔
تَوَّابًا رَّحِيمًا : الله تعالیٰ دواړه صفتونه راجمع کړل په ډیر ښه مناسب ځای کی، تواب د (فَأَعْرِضُوا عَنْهُمَا) سره لګی چه الله تعالیٰ ئے توبه قبلوی نو اے بندګانو! تاسو ئے هم قبوله کړئ ځکه چه انسان کمزورے دے۔ دویم د تواب حواله ئے ځکه ورکړه چه ترغیب ورکوی چه اے بنده ! الله تواب دے توبه ډیره قبلوی، جلتی وکړه توبه وباسه، او معاشره پاکه کړه۔
او رحیم ئے راوړو چه توبه د الله د رحمت د وجه نه ده، ورنه د الله تعالیٰ د بنده توبی ته هیڅ حاجت نشته۔

إِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللهِ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السُّوْءَ
یقیناً (قبلیدل) د توبے په الله باندے د هغه کسانو دپاره دی چه عمل کوی بد
بِجَهَالَةٍ ثُمَّ يَتُوْبُوْنَ مِنْ قَرِيْبٍ فَأُولٰٓئِكَ
په ناپوهئ سره بیا توبه وباسی د نزدے نه (مخکی د مرګ) نه نو دغه کسان
يَتُوْبُ اللهُ عَلَيْهِمْ وَكَانَ اللهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿١٧﴾
مهربانی کوی الله تعالیٰ په دوی باندے او دے الله پوهه حکمتونو والا۔

تفسیر : هرکله چه توبه مهم شے وو نو اُوس د توبی بیان کوی چه توبه د چا قبلیږی او د چا نۀ ؟ او توبی ته ترغیب ورکوی او د هغے د قبلیدو دپاره شرطونه بیانوی۔
التَّوْبَةُ نه مراد (قَبُوْلُ التَّوْبَةِ) دے یعنی د توبی قبلول۔
السُّوْءَ : دا دلته هرے ګناه ته وائی د شرك نه واخله تر وړے ګناه پورے۔
بِجَهَالَةٍ : دا قید احترازی نۀ دے چه څوك په پوهه سره ګناه وکړی نو د هغه توبه به نۀ قبلیږی او که په ناپوهئ سره وکړی نو توبه ئے قبلیږی، ددے وجه نه امام ابن جریر الطبریؒ

او قرطبیؒ او بیهقیؒ په ((شعب الایمان)) کی د مجاهدؒ (تابعی) رحمه الله نه او بغویؒ د قتادهؒ (تابعی) نه نقل کړیدی:

[أَجْمَعَ أَصْحَابُ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ عَلٰى أَنَّ كُلَّ مَنْ عَصَى اللّٰهَ فَهُوَ جَاهِلٌ]

د رسول الله ﷺ صحابه کرامو پدے اتفاق دے چه هر هغه څوك چه د الله نافرمانی کوی نو هغه جاهل دے۔ اګرکه عالم هم وی۔ ګناه ته ئے جهالت ځکه وئیلے دے چه عاصی د الله شان نۀ پیژنی، لوی الله ئے مخامخ دے او دے ګناه کوی، دویم دا چه د ګناه د بد عاقبت او حقیقت نه خبر نۀ دے ورنه ګناه به ئے نۀ کولے۔ (قاله ابن فُوْرَك ونقله القرطبیؒ ۵/۹۲)

اوکه د ګناه د حقیقت او عاقبت نه خبر وی او بیا هم ګناه کوی نو دا هم جاهل دے ځکه چه دا قاعده ده چه څوك د خپل علم مطابق عمل نۀ کوی هغه داسے ګنړل کیږی لکه چه بیخی جاهل وی۔

ځینی علماؤ وئیلی دی چه جهالة په دوه قسمه دے، یو په مقابل د علم کی استعمالیږی او بل په مقابل د عقل (هوښیارتیا) کی نو دلته د جهالة نه مراد بی عقلی او کم عقلتوب دے یعنی څوك چه ګناه کوی هغه بی عقله او کم عقل دے۔ (عزیز التفاسیر)

ثُمَّ يَتُوْبُوْنَ مِنْ قَرِيْبٍ : ددے نزدے والی مصداق یو دا دے چه مخکی د مرګ نه توبه وباسی دلیل پرے قرآن او حدیث دے، روستنی آیت کی دی چه د مرګ په وخت کی توبه نۀ قبلیږی نو دا د (مِنْ قَرِيْبٍ) بیان شو۔ او حدیث کی دی:

[إِنَّ اللّٰهَ يَقْبَلُ تَوْبَةَ الْعَبْدِ مَا لَمْ يُغَرْغِرْ] [مسند احمد ۶۱۶۰ ناشر: مؤسسة قرطبة القاهرة وسنن ابن ماجه وصحیح الجامع الصغیر ۱۹۰۳، باسناد حسن، ارناووط – البانی)

الله تعالیٰ د بنده توبه قبلوی ترڅو چه روح ئے مرئ ته رسیدلے نۀ وی۔

بیا الله تعالیٰ د (مِنْ قَرِيْبٍ) په ځای (قَبْلَ الْمَوْتِ) لفظ ونۀ وئیلو پدے کی ترغیب دے چه توبه کی جلتی وکړه، زر توبه وباسه ځکه چه ستا پته نۀ لګی چه په خوب کی به درنه روح وتلے وی نو بغیر د توبی نه به الله تعالیٰ ته ورشے۔ لکه اهل علم وائی چه بنده ګناه وکړی او بیا په توبه کی تاخیر وکړی نو دا ډبله ګناه شوه، یوه نافرمانی، بل تاخیر په توبه کی۔ د توبی تشریح په سورة البقره (۳۷) آیت کی ذکر شویده، هغے ته رجوع کول پکار دی، دوباره لیکلو ته ئے ضرورت نۀ وینو۔

يَتُوْبُ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ : الله تعالیٰ به ئے په خپل طاعت کی استعمال کړی او رحم به پرے وکړی۔

وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السَّيِّئَاتِ حَتّٰى إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ
او نۀ ده توبه د هغه کسانو چه کوی بدیانی تردے چه کله حاضر شی یو تن د دوی ته
الْمَوْتُ قَالَ إِنِّيْ تُبْتُ الْآنَ وَلَا الَّذِيْنَ يَمُوْتُوْنَ وَهُمْ
مرگ وائی یقیناً ما توبه وویستله اُوس او نۀ د هغه کسانو چه مری په داسے حال کی چه دوی
كُفَّارٌ أُوْلٰٓئِكَ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيْمًا ﴿١٨﴾
کافران دی، دغه کسان تیار کړیدے مونږ دوی لره دردناك عذاب۔

تفسیر : دلتـه دویم کس بیانیږی چه توبه ئے قبوله نۀ وی دا هغه شخص دے چه په داسے وخت کی تـوبـه وبـاسی چـه د مـرگ عـلامات وینی، دا توبـه ځکـه نـۀ قبلیږی چـه دا د مشاهـدے توبه ده، او الله تعالیٰ په ایمان بالغیب سره توبه قبلوی، ځکه دا د یرے د مرگ نه د یرے توبه ده، او هغه توبه بندگی ده چه د الله د یرے د وجه نه ویستلے شی، پدے وجه هغه هم څه توبه نۀ ده چه انسان باندے مصیبت راشی بیا وائی چه اے الله ! په توبو مے دے توبه وی، دا د عـوامـو خـلکو تکیه کلام دے، اصل توبه هغه ده چه بنده د الله مخے ته خپل ځان ذلیله او ملامته کړی او د الله د عظمت او د هغه د شان د وجه نه او د هغه د رضا دپاره وی۔

وَلَا الَّذِيْنَ يَمُوْتُوْنَ وَهُمْ كُفَّارٌ : بل هغه کافر انسان دے چه پس د مرگ نه توبه وباسی ددۀ توبه نۀ قبلیږی نو دلته ډیر صورتونه جوړیږی۔

(۱) د گـنـاهـگار توبه په وخت د مرگ کی نۀ قبلیږی۔ (۲) د گناهگار توبه پس د مرگ نه نۀ قبلیږی۔ (۳) د کافر توبه په وخت د مرگ کی نۀ قبلیږی۔ (٤) د کافر توبه پس د مرگ نه نـۀ قبلیـږی۔ دلتـه ئے یو یو طرف ذکر کړیدے۔ځکه چه مسلمان کله چه علامات د مرگ ویـنـی نو زر توبه وباسی نو پدے وخت کی نۀ قبلیږی او کافر په ژوند کی هیڅکله توبه نۀ وباسی بلکه پس د مرگ نه ئے وباسی نو ځکه وائی چه پدے وخت کی نۀ قبلیږی۔

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ كَرْهًا
اے ایمان والو ! نۀ دی حلال تاسو له چه په میراث کی واخلئ تاسو زنانو لره په زوره
وَلَاتَعْضُلُوْهُنَّ لِتَذْهَبُوْا بِبَعْضِ مَا
او تاسو مۀ تنگوئ دوی لره دپاره چه تاسو بوځئ (واخلئ) بعض هغه مال (مهر)

آتَيْتُمُوْهُنَّ إِلَّا أَنْ يَأْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ
چه تاسو ورکړيدي هغوی ته مګر که راتګ وکړی دوی په بدکارئ ښکاره سره
وَعَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ فَإِنْ كَرِهْتُمُوْهُنَّ
او ژوند تيروئ د دوی سره په نيکه طريقه، نو کچرته تاسو بد ګڼړئ دوی (په يو خوئی کی)
فَعَسٰى أَنْ تَكْرَهُوْا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللّٰهُ فِيْهِ خَيْرًا كَثِيْرًا ﴿١٩﴾
نو کيدے شي چه بد ګڼړئ تاسو يو شے او وبه ګرځوی الله تعالیٰ په هغے کی خير ډير۔

تفسیر: پدے آیت کی درے خبری دی (۱) یو نهی ده د اِیْرَاثُ النساء نه چه زنانه به په میراث کی نهٔ وړئ۔ (۲) دویم: اَلنَّهْیُ عَنْ عَضْلِ النِّسَاءِ وَالتَّشْدِيْدِ عَلَيْهِنَّ لِلْخُلْعِ۔ د زنانو تنګولو نه او په هغوی باندے د خلع دپاره تشدد کولو نه منع ده۔ (۳) دریم: اَلْاَمْرُ بِالْمُعَاشَرَةِ بِالْمَعْرُوْفِ۔ د عرف او شریعت مطابق د زنانو سره د ژوند تیرولو حکم دے۔

شان نزول

۱- د جاهلیت په وخت کی به داسے کیدل چه یو سړی به خپله ښځه طلاقه کړه خو په هغے به ئے دا شرط ولګولو چه زما د اجازے نه په غیر به بل خوك په نکاح نهٔ اخلی او په دے شرط باندے به ئے شاهدان ونیول نو که طلاق ورکونکی ته به څه ورکړیشو نو د نکاح اجازه به ئے ورته ورکوله او که نهٔ نو ښځے به همداسے بانده ژوند تیرولو۔ (المنار ٤/٤٥٤)

۲- دارنګه د مدینے منورے په خلکو کی د جاهلیت د زمانے نه تر د اسلام د ابتداء پورے دا رواج وو چه کله به څوك مړ شو نو که د هغه ښځے (کونډے) به جلتی وکړه او خپلو خپلوانو ته به ئے ځان ورسولو نو د خپل اختیار خاونده به شوه او که د مړی کوم وارث به وربانذے څادر واچولو (یعنی قبضه به ئے کړه) نو د هغے غریبی نه به خپل واك دلاسه ووتلو او د مړی وارثانو به ورسره په لاندے طریقه چال چلند کولو:

- یا به د مړی کوم وارث په نکاح واخسته خو د مهر نه به محرومه وه۔

- یا به د مړی وارثانو بل چا ته په نکاح ورکړه خو مهر به ئے وارثانو اخستو او کونډے ته به ئے نهٔ ورکولو۔

- یا به ئے د یواخی والی په حالت کی ساتله او غیر انسانی سلوك به ئے ورسره کولو دے

دپاره چه يا خو مجبوره شي او هغه مهر چه خاوند ورته ورکړے وو هغه ترے بيرته واخلي او يا مړه شي او دوی ئے ميراث واخلي۔ (البغوی ١/٤٠٨) والقاسمی (٢/٢٤٨)

– او ځيني خلکو به کونډه د مړي يو ماشوم وارث ته کينوله نو هغه چه به غټيدو نو کونډه به يا بوډئ شوے وه او يا به مړه شوے وه او دوی به ئے په ميراث باندے خيتے اچولے (تفسير ابن کثير ١/٤٦٥)

نو پس د عدت نه به د ښځے خپل واك نۀ وو او دا عادت زمونږ په اکثرو پښتنوکی هم دے چه سړے مړ شي نو کونډه خپله کونډه حسابوی او وړوکی ماشوم ته ئے کينوی خو بهرئے نۀ وياسی او ډير کرته هغه ماشوم چه راغټيږی ددے عمر آخر ته رسيدلے وی بيا ئے کور هم جوړ نۀ راځي نو الله پدے آيت کی دا حکم کوی چه دا کار جائز نۀ دے، بلکه څلور مياشتے او لس ورځے چه د ښځے تيرے شوے نو بس ښځه آزاده شوه، ددے خپله خوښه ده که پدے کور کی بل چا سره نکاح کوی يا بهر چا سره، يا نکاح نۀ کوی يا خپل پلار کره کيني نو دا پردئ زنانه شوه پدے باندے د هيچا واك نشته۔

علامه سيوطیؒ وائي : دے نه معلومه شوه چه (حُر) آزاد انسان باندے ملکيت نۀ شي راتلے او نۀ د چا د لاس د لاندے راتلے شي او نۀ هغه په کومه طريقه مال ګرځي۔ (قاسمیؒ)

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا : دے کی وارثانو ته خطاب دے۔ نو ښځه به د ترکے (ميراث) جزء نۀ ګنړئ او نۀ دا چه تاسو ښځه د خپلی خوښے ميړه کولو نه منع کړئ۔

كَرْهًا : يعني چه د ښځے خوښه نۀ وی او تاسو ترے ميراث جوړ کړئ او که د ښځے خوښه راغله نو که د هر چا سره نکاح کوی۔

وَلَاتَعْضُلُوهُنَّ : پدے جمله کی د ښځے خاوند ته خطاب دے او (تَعْضُلُوهُنَّ) د عَضْل نه دے ژوند تنګولو ته وائی، مقصد دا دے چه د خپلے ښځے ژوند مۀ تنګوئ چه تاسو ورسره بد اخلاقی کوئ دے دپاره چه هغه خلعی ته مجبوره کړئ او کوم مال چه تا ورته په مهر کی ورکړيدے هغے ته دے سترګی دی چه هغه ترے بيرته اخلے او بيا ئے پريدے ځکه چه کله نقصان او بد اخلاقی د خاوند د طرفنه وی نو پدے وخت کی د ښځے نه مهر اخستل او هغے سره خلع کول ناروا دی، دا مال سړی له حراميږی بلکه طلاق به ورکړی او همداسے به ئے پريدی۔ آؤ، که ستاسو ښځے په ښکاره فاحشه باندے راتلل وکړی مثلاً نشوز (بد اخلاقی) کوی يا زنا کوی، بی حياء ګرځي او د خاوند اطاعت نۀ کوی او د شريعت د حدودو نه تجاوز کوی چه هر چا ته معلوميده چه تجاوز د ښځے د طرفنه دے نو پدے وخت کی عضل (د

ښځې ژوند تنګول) جائز دي چه هغه خلعې ته مجبوره کړي او مطالبه د مال ترې وکړي مثلاً داسې ورته ووائي چه اې ښځې ! تهٔ بې حياء ګرزې او زما سره بد اخلاقي کوې نو دومره مال راوړه چه طلاق درکړم نو دا کار به سړي دپاره جائز وي.

بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ : فاحشه هغه شي ته ويل کيږي چه ډير لوی قباحت لري، برابره خبره ده چه وينا وي لکه بدې او ناکاره خبرې او يا فعل وي لکه زنا وغيره (مفرداتِ راغب۳۸۷)

مبينه : (ښکاره) قيد ځکه لګوی چه سړې به په خپله ښځه باندې په معمولی خبرو تهمت نهٔ لګوی چه هسې دروازه کې ښکاره شي او سړې ووائي چه تا خو زنا وکړه راشه ما سره خلع وکړه.

سوال : کله چه ښځه زنا وکړي نو په هغې باندې حد (رجم) قائمول پکار دي نهٔ دا چه خلع ورسره وکړي ؟ **جواب** : کله داسې کيږي چه په ښځه باندې ګواهان نهٔ وي او سړي ته معلومات وي چه زما ښځه ورانه ګرزي نو پدې وخت کې حدود پرې نهٔ قائميږي مګر خاوند دپاره خلع جائز کوی مثلاً خاوند ورته ووائي چه تا باندې ما دومره دومره مال ولګولو او ته ما سره صحيح ژوند نهٔ تيروې نو ما ته دومره مال راکړه زه به طلاق درکړم. پدې وخت کې د هغې ژوند تنګول جائز دي ځکه چه دا کار هغې په خپل ځان باندې خپله پيدا کړيدې.

وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ : اُوس الله تعالیٰ دريم حکم بيانوی، خاوندانو ته وائي چه د خپلو ښځو سره ښائسته ژوند تيروئ او پکار ده چه تاسو خپلو ښځو سره په وړو وړو شيانو باندې بد اخلاقي ونکړئ ترڅو چه د فاحشې اندازې ته نهٔ وي رسيدلې چه سړې د هغې د برداشت نه مجبوره شي لکه همدا مضمون نبي کريم ﷺ په ډيرو احاديثو کې بيان کړيدې فرمائي :

[لَايَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً اِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ] (صحيح مسلم کتاب الرضاع ۱/٤٧٥). مؤمن سړې دې د مؤمنې ښځې سره بغض نهٔ کوی (ځکه چه) که د هغې يو خوئي (خصلت) ئې خوښ نهٔ شي بل به ئې خوښ شي. نو پکار ده چه د هغې په نيکيو باندې نظر واچولې شي او د هغوی د بديو نه سترګې پټې کړې شي، ځکه چه ډير کرته بد سلوك په تعلقاتو کې سختي، د غيرو سره تعلقات، د نافرمانئ او بد اخلاقئ سبب کيږي.

حافظ سيوطيؒ په ((الاکليل)) کې ليکلي دي چه دا آيت کريمه دلالت کوی چه د ښځې سره ښائسته سلوك کول واجب دي. په خاوند باندې لازم دي چه د هغې پوره مهر ادا کړي،

په اخراجاتو او د نمبر په تقسیم کې انصاف اُوکړي، د هغې سره نرمې خبرې اترې اُوکړي او بغیر د سبب نه هغه ونهٔ وهي، او نهٔ د سختئ سلوك اُوکړي. (قاسمی ۲/۲٤۹) والمنار)

فَإِنْ كَرِهْتُمُوْهُنَّ : دې نه روستو الله اُوفرمایل چه که بالفرض ستا د ښځې نه نفرت پیدا شوې وي نو د صبر او برداشت نه کار اخستل پکار دي، ځکه چه بنده ډیر کرته یو شے نهٔ خوښوي حال دا چه په هغې کې د هغه دپاره خیر پټ وي. مثلًا الله به د هغې د خیټې نه دهٔ ته نیك اولاد ورکړي، او د صبر کولو او په هغې باندې د خرچ کولو په بدله کې به په آخرت کې ښائسته بدله ورکړي. دارنګه کیدې شي چه دغه ښځه ددهٔ د نیکو اخلاقو د تاثیر لاندې راشي او نیك اخلاقه ترې جوړه شي ځکه چه تاسو په خپل خیر باندې نهٔ پو هیږئ ممکن ده چه تاسو ته به یو شے شر ښکاري خو هغه به درله خیر وي، لنډه دا چه د خپلو ښځو پرېښودو ته په جلتئ سره مهٔ ورځانګئ. د هغې اولادو او د هغوی تربیت او د ښځې پنځه وخته مونځ ګوزارئ او تهجد ګوزارئ ته او د هغې ایمان او توحید ته وګورئ. او ډیر کرته د نفس سره د مجاهدې کولو په وجه دغه کراهت په محبت بدل شي. (السعدي)

وَعَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ : عبد الله بن عباسؓ معنىٰ کوي :

(اَیْ طَیِّبُوْا أَقْوَالَکُمْ لَهُنَّ وَحَسِّنُوْا أَفْعَالَکُمْ وَهَیْئَاتِکُمْ بِحَسْبِ قُدْرَتِکُمْ کَمَا تُحِبُّ ذٰلِكَ مِنْهَا فَافْعَلْ أَنْتَ بِهَا مِثْلَهٗ). (قاسمی وابن کثیر)

یعنی هغوی ته مزیدارې (او نرمې) خبرې کوئ او خپل افعال او هیئات هغوی ته ښائسته کړئ څومره چه ستاسو وسه وي لکه څنګه چه تهٔ د هغې نه دا کارونه خوښوې نو ته هم د هغوی سره دغه شان کوه. دارنګه تندې ورته مهٔ ترش کوه، او پدې کې دا هم داخلیږي چه که خاوند وس لري نو د ښځې دپاره خادمه ونیسي کله چه زنانه ته د خدمت تکلیف وي. (المنار تفصیلا)

د (فَإِنْ كَرِهْتُمُوْهُنَّ) : جزاء پټه ده یعنی (فَاصْبِرُوْا) د هغې په بد اخلاقو صبر وکړئ.

د ښځو سره د نیك ژوند تیرولو ترغیبات

په اسلام کې د ښځې سره د ښائسته سلوك کولو ډیر تاکید راغلے دے، یو خو دا آیت دے چه ته ئے تشریح کورے. دارنګه نبی کریم ﷺ فرمایلي دي (خَیْرُکُمْ خَیْرُکُمْ لِأَهْلِهٖ وَأَنَا خَیْرُکُمْ لِأَهْلِیْ) چه تاسو کې د ټولو نه غوره هغه دے چه د خپلې ښځې دپاره غوره وي او زهٔ د خپلو بیبیانو دپاره ستاسو نه ښه یم. دا حدیث د الفاظو په معمولي فرق سره د عائشې،

ابـن عبـاس او معاويه رضی الله عنهم نه ترمذیؒ، ابن ماجهؒ، طبرانیؒ او حاکمؒ وغیرهم روایت کړیدے۔وصححه الالبانی واحمد شاکر)

حـافـظ ابـن کثیـرؒ او قـاسـمیؒ وائی : د رسول الله ﷺ سلوك د خپلو بيبيانو سره انتهائی درجه ښائسته وو، هميشه به ئے د هغوی سره په خندين مخ باندے خبرے کولے، د هغوی سره به ئے توقے کولے، او ام المؤمنين عائشےؓ سره به ئے منډه وهله، هره شپه به ئے د هغوی ټولو سره په شريکه خوراك کولو، او د اُوده کيدو نه مخکی به ئے د خپلے بی بی سره ډير وخت پورے خبرے کولے، او د نبی کريم ﷺ مبارك ذات د هغه د امت د افرادو دپاره نمونه ده، پدے وجه مسلمانانو لره هم د خپلو ښځو سره داسے سلوك کول پکار دی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ ﴾ چه د رسول الله ﷺ ذات ستاسو دپاره ښائسته نمونه ده۔ (قاسمی ۲/۲۵۰)

(۲) **تفسير** : (وَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ) کی د مخکی په شان د مړ خاوند اولياؤ ته خطاب دے نو مطلب به دا وی چه تاسو ددے کونډو ښځو ژوند مهٔ تنګوئ دے دپاره چه تاسو ترے هغه مال اخلئ چه کوم تاسو (يعنی ستاسو مړی) ورکړے وی بلکه خپل واك ته ئے پريدئ چه هر چرته واده کوی، البته که ښکاره بی حيائی کوی نو بيا پرے پابندی لګولے شئ او ژوند ورله تنګولے شئ چه کور کی ئے بنده وساتئ، او د بی حيائی نه ئے منع کړئ او پدے صورت کی به هم د مړی اولياؤ لره د ښځے نه مهر اخستل حرام وی۔ صرف په کور کی بند ساتل به ورله جائز وی لکه په سورة البقره آيت (۲۳۴) کی هم داسے مضمون تير شوے وو ﴿ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا فَعَلْنَ فِيْ أَنْفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ﴾ ۔ او وَعَاشِرُوْهُنَّ به خطاب خاوندانو ته وی۔

وَإِنْ أَرَدْتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ
او که تاسو اراده وکړه د بدلولو د يوے ښځے په ځای د بلے ښځے او ورکړی وی تاسو
إِحْدَاهُنَّ قِنْطَارًا فَلَا تَأْخُذُوْا مِنْهُ شَيْئًا أَتَأْخُذُوْنَهُ
يو ددوی ته ډير مال نو مهٔ اخلئ د هغے نه هيڅ شے آيا تاسو اخلئ هغے لره
بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُّبِيْنًا﴿٢٠﴾
پداسے حال کی چه بهتان تړئ او په ګناه ښکاره سره۔

تفسير : دا بل حکم دے چه که تاسو کلکه اراده کړی وی چه د خپلے ښځے په بدله کی بله نوے نکاح کول غواړئ اګرکه دغه ښځه کی به بد اخلاقی هم نهٔ وی موجوده او طلاق ورکوئ نو حکم دا دے چه دغه مخکنئ ښځے ته مو چه کوم مهر ورکړے وی اګرکه ډیر وی نو هغه ټول ورته پریدئ او هیڅ شے ترے بیرته مهٔ اخلئ، که تاسو ترے بیرته دغه مهر اخلئ نو یو خو به په خپله ښځه باندے څه بهتان تړئ دے دپاره چه د مهر د اخستو دپاره بهانه جوړه کړئ چه څکه مے ورسره خلعه وکړه چه دا ښځه ښکاره بد اخلاقه زناکاره ده او بل به تاسو ښکاره ګناه پورته کړئ چه پاکدامنی ښځے پورے مو تهمت وتړلو۔ (التحرير)

فَلَا تَأْخُذُوا : یعنی داسے مهٔ وایه چه دا ښځه بو ډئ شویده او دا پریدم او ددے نه به مهر واخلم او بله به پرے وکړم، دا ته ظلم کوے څکه چه ښځه دے کونډه هم کړه، د باکره توب نه دے ویستله یا ستا سره بو ډئ شوه نو اُوس به ئے بل څوك نهٔ کوی او دپاسه دے ترے مال هم واخستو نو دوه نقصانه دے ورکړل۔

قنطار : ډیر مال (خزانے) ته وائی، څینو ددے اندازه دولس سوه (۱۲۰۰) اوقیه خودلے ده ابن عطیهؒ وائی دا په ټولو اقوالو کی اصح قول دے۔ څینی وائی : دولس زره اوقیه ئے اندازه ده۔(قرطبیؒ) او تفصیل ئے په سورة آل عمران آیت (۱٤) کی وګوره۔

دے نه معلومیږی چه په مهر کی ډیر مال ورکول هم جائز دی لیکن د رسول الله ﷺ طریقه دا وه چه هغه به په مهر کی څلور سوه درهمه ورکول چه پدے وخت کی ترے تقریباً (۱٤۸۰۰) زره روپئ جوړیږی۔ اګرکه دا په طریقه د تحدید او تعیین سره نهٔ وو لکه چه شاه ولی الله الدهلوی رحمه الله په (حُجَّةُ اللهِ الْبَالِغَة) کی وئیلی دی۔

مسروقؒ فرمائی : عمر فاروق رضی الله عنه یوه ورځ په تقریر کی وویل : تاسو د زنانو د مهرونو په باره کی څنګه ډیر والے کړیدے او حال دا چه رسول الله ﷺ او د هغه ملګرو به څلور سوه یا ددے نه کم مهرونه مقررول او که دا ډیر والے د الله په نیز تقویٰ او کرامة وے تاسو به د هغوی نه دے ته مخکوالے نهٔ وے کړے، بیا د منبر نه راکوز شو نو د قریشو یوے زنانه پرے اعتراض وکړو چه تهٔ څنګه منع کوے او حال دا چه قرآن کی راغلی دی (وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنْطَارًا) تاسو یوے زنانه ته خزانه (ډیر مال) ورکړے وی۔ نو عمر فاروق د الله د کتاب سره ودریدونکے وو پدے وجه هیڅ جواب ئے ورنکړو۔ او دا ئے وویل : اَللّٰهُمَّ غَفْرًا، كُلُّ النَّاسِ أَفْقَهُ مِنْ عُمَرَ) اے الله ! بخنه وکړه ! ټول خلك د عمر نه ډیر پوهه دی۔

(صحابه کرامو کی دا ادب وو چه د الله د کتاب نه به ئے جوابونه نهٔ کول)

اګرکه د عمر فاروق مقصد جدا وو چه ډیر مهر ورکول حرام نهٔ دی مګر که د فخر او تکبر په طریقه وی یا په ډیر مهر ورکولو کی ډیر اجر ګڼل وی دا به صحیح نهٔ وی، د رسول الله ﷺ اتباع پکار ده۔ البته مالدار دے زیات ورکړی لیکن د فخر دپاره به نهٔ وی۔ لکه دغه واقعه کی راځی چه عمر فاروق بیرته منبر ته راواپس شو او وے فرمایل: ما تاسو د زیات مهرونو نه منع کړئ اُوس د چا چه څومره خوښه وی مهر دے ورکوی۔

(مسند ابی یعلی والسنن الکبری للبیهقی واسناده جید قاله ابن کثیر)۔

بُهْتَانًا : دا مصدر دے په ځای د حال کی دے اَیْ مُبَاهِتِيْنَ۔ تاسو دا اخلئ په داسے حال کی چه بهتان تړونکی یئ۔ (التحریر والتنویر)

عبد الله بن عباسؓ د بهتان معنیٰ په ظلم سره کړیده۔ دا ئے حاصل معنیٰ ده۔

او زجاجؒ وائی: بهتان باطل ته وائی۔ او لفظ د بهتان ئے ځکه استعمال کړو چه سړے مهر ځکه اخلی چه په ښځه بهتان تړی چه دے ښځے زما په کور کی بد اخلاقی کړیده او په ما ئے ظلم کړیدے، بی حیائی پسے ګرزی او حال دا چه هغے دا ګناه نهٔ ده کړے۔ نو نقصان په تا کی دے چه طلاق ورکوے او پړه په هغے اچوے۔

وَكَيْفَ تَأْخُذُوْنَهٗ وَقَدْ اَفْضٰى بَعْضُكُمْ
او څنګه اخلئ تاسو دا (مال) او حال دا چه په تحقیق سره رسیدل کړیدی بعضے ستاسو
اِلٰى بَعْضٍ وَّاَخَذْنَ مِنْكُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ﴿۲۱﴾
بعضو ته او اخستے ده زنانو ستاسو نه وعده مضبوطه۔

تفسیر : دا بل عقلی دلیل بیانوی چه اے مؤمنانو! چه پدے صورت کی چه په ښځه کی څه بد اخلاقی موجوده نهٔ ده آیا د مهر بیرته اخستل ستاسو د نارینتوب سره سمون خوری؟ آیا هغه شے چه ستاسو ښځو د هغے مسئولی وی تاسو ته نهٔ دے سپارلے؟ نو هرکله چه تاسو د یو بل نه پوره فائده اخستے ده نو د دغه فائدے په بدله کی ستا دغه مال لاړو، ځکه چه پدے ښځه کی به د طلاقو نه روستو څوك ډیر رغبت نهٔ لری، نو تا په هغے کی یو قسم عیب راپیدا کړو، تا ترے فائدے هم واخستے او بیرته خپل مال هم اخلے دا څومره د غیرت او نارینتوب خلاف خبره ده۔ بله دا چه دے ښځو تاسو نه د نکاح په وخت کی کلکه وعده هم اخستے وه چه ګواهان هم موجود وو چه تاسو به دا ښځه ځان سره

ساتئ او د هغے د حقوقو د ورکړے پابندي به کوئ او تا وويل چه دا فلانئ زنانه ما په مقابله د دومره مهر کي قبوله کړه نو آيا بيرته مال اخستل به بي لوظي نۀ وي۔ تا چه د کومے خبرے په مقابله کي قبوله کړے وه هغه وعده دے ماته کړه۔
أَفْضٰى : افضاء رسيدلو ته وائي او دلته ترے مراد نزديکت دے۔ (ابن عباسؓ، مجاهدؒ) او افضاء په اصل لغت کي مُخَالَطَة (ګډون) ته هم وائي۔ (قرطبيؒ)
بيا پدے کي اختلاف دے چه په خلوتِ صحيحه سره مهر په سرې لازميږي او که نۀ؟ صحيح خلوت دے ته وائي چه ښځه او خاوند په يو داسے ځاي کي د يو بل سره ملاقات وکړي چه هلته څه شرعي مانع نۀ وي موجود لکه حيض، نفاس، فرضي روژه وغيره او نۀ حسي مانع وي لکه سخته بيماري وغيره او نۀ طبعي مانع موجود وي لکه د لارے سر او بيابان چه پرده او حجاب نۀ وي۔ نو احناف وائي چه خلوتِ صحيحه سره مهر واجبيږي (احکام القرآن للجصاص ۱۱۱/۲) مګر عامو علماؤ د افضیٰ د معنیٰ نه استدلال کړيدے چه په خلوتِ صحيحه سره مهر نۀ لازميږي ترڅو چه جماع نۀ وي شوي۔ دليل دا دے چه لعان کونکي شخص ته رسول الله ﷺ وفرمايل : که تا پدے ښځه باندے رشتيا وئيلي وي [فَهُوَ بِمَا اسْتَحْلَلْتَ مِنْ فَرْجِهَا] نو مهر د هغے د عورت په مقابله کي لاړو۔ (صحيح البخاري، ۵۳۵۰ حسب ترقيم فتح الباري)

وَلَا تَنْكِحُوْا مَا نَكَحَ آبَاؤُكُمْ مِنَ النِّسَآءِ إِلَّا
او نکاح مۀ کوئ د هغه چا سره چه نکاح کړي وي پلارانو ستاسو د زنانو نه مګر
مَا قَدْ سَلَفَ إِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً وَمَقْتاً وَسَآءَ سَبِيْلًا﴿۲۲﴾
هغه چه مخکي تير شويدي، يقيناً دا بي حيائي ده او سبب د غصے (د الله) دے او بده لاره ده۔

تفسير : ددے آيت نه تر (۲٤) آيت پورے د مُحرماتو بيان دے۔ يعني هغه زنانه چه د هغوي سره نکاح حرامه وي۔ دا زنانه په شريعت کي هم حرام دي چه الله تعالیٰ منع کړيدي او عقلًا هم حرامي دي ځکه چه مور او نور نزدے خپلوان ددے لائق نۀ دي چه د هغوي نه خدمت واخلي بلکه د هغوي خدمت به کولے شي۔ او فطرةً هم حرامي دي چه هر سليم الفطرة انسان دا کار عيب ګڼي، که خپله مور يا خور بربنډه هم ويني هغه ته حياء ورځي۔ مجوسو به د خپلو محارمو سره نکاح کوله، د هغوي فطرت خراب شوے وو او په عربو

کی هم دا کار لږ لږ راغلے وو۔

په زنانه کی حرمت د درے وجو نه راځی (۱) نسب، (۲) رضاعت۔ (۳) مصاهرة (خینبنی)۔ **نسب** لکه خور، مور، نیا، وریره، خورزه وغیره۔ **رضاعت** دا چه یو ماشوم د یوے زنانه نه تئ وروی نو ددے ماشوم دغه زنانه مور شوه، اجزاء د مور بچی ته نقل شو، او ددے اولاد ئے ورونه او خویندے شو۔ **مصاهرة** دا چه یو تن د یو قوم نه ښځه وکړی نو د هغے مور، د هغے بله لور، د هغے خور سره نکاح نشی کولے۔ البته که دا ښځه مړه شوه یا طلاقه شوه نو ددے خور په نکاح اخستے شی۔

محرمات بیا په دوه قسمه دی (۱) مُؤَقَّتَه (چه څه وخته پورے حرام وی) لکه ښینه د ښځے د طلاق او وفات نه روستو په نکاح اخستل، یا پردئ زنانه چه د بل په نکاح کی وی چه هغه ئے طلاقه کړی یا ترے مړ شی نو نکاح ورسره کیږی۔ البته یو صورت کی د ژوندی خاوند د ښځے سره هم نکاح کیږی هغه دا چه خاوند ئے کافر دے او مسلمانان په جهاد کی د هغه ښځه ونیسی نو دا ورله حلاله ده۔

(۲) مُؤَبَّدَه: چه همیشه دپاره حرام وی۔

ربط : مخکی ئے وویل چه تاسو له بله ښځه کول جائز دی نو اُوس دا بیانوی چه دا به د کومو زنانو نه وی؟ نو یاد ساتئ چه دا راتلونکی زنانه به نهٔ په نکاح کوئ۔

شان نزول

ابو قیس رضی الله عنه وفات شو نو ددهٔ زوی (قیس) وغوښتل چه د پلار د ښځے سره نکاح وکړی (چه ددهٔ ناسکه مور وه) نو هغے ورته وویل چه ما خو ته د زوی په شان ګڼلی او ته په قوم کی صالح سړے ئے خو زه به د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره مشوره وکړم چه هغه راته څه امر کوی نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : [اِرْجِعِیْ اِلٰی بَیْتِكِ] تهٔ خپل کور ته لاړه شه۔ یعنی تردے چه الله تعالیٰ ستا په باره کی فیصله وکړی نو دا آیت نازل شو۔ اسباب النزول للواحدی ص۹۸) وسنن سعید بن منصور ۳/۱۲۰۸) دار العصیمی الریاض، وسنن البیهقی باسناد صحیح)

مَا نَكَحَ آبَاؤُكُمْ : که یوه ښځه د پلار په نوم شوه (نکاح ئے وشوه) نو د زوی دپاره د هغے سره نکاح کول همیشه دپاره حرام دی، که هغه ورسره نزدیکت کړے وی او که مخکی د واده نه ترے وفات شوے وی، یا طلاقه شوی وی یا نهٔ وی، په هر حال کی حرامه ده او پدے باندے اجماع د مسلمانانو ده۔ او دا آیت پرے دلیل دے۔

إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ : الا په معنیٰ د بَعْدَ سره یعنی بَعْدَ مَا سَلَفَ۔ یعنی پس د هغې نه چه تاسو به دا کارونه پخوا کول نو اُوس پام کوئ چه آینده کې ئې ونکړئ۔
یا الا (استثناء منقطع ده) یعنی (لٰکِنْ مَا سَلَفَ فَلَا تُؤَاخَذُوْنَ بِهٖ) لیکن هغه چه تاسو مخکې کړیدي نو په هغې به تاسو نۀ رانیولے کیږئ۔
إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً : یعنی دا کار عقلًا بې حیائی ده ځکه چه هر هوښیار بنده پو هیږي چه پدے کار کې د پلار سپکوالے او د هغه په عزت لوبې کول دي۔
وَمَقْتًا : او سبب د غصے د الله دے په اعتبار د شرع سره۔ او ساء سبیلًا: بد دے په اعتبار د فطرت او عادة سره۔ نو دا کار عقلًا او شرعاً او فطرةً قبیح کار دے۔ هرکله چه دومره ډیر قباحتونه پکې راجمع دي نو دا کار ډیر لوی قبیح شو۔
حافظ ابن کثیرؒ فرمائی : پس چا چه ددے نه روستو د پلار د ښځې سره نکاح وکړه نو دا به د دین نه مرتد وي، او دے به وژلے شي او مال به ئې بیت المال ته د فئ په شکل ورکولے شي لکه رسول الله ﷺ د براء بن عازبؓ ترۀ د یو سړي پسے لیږلے وو چه هغه د خپل پلار ښځه د هغه نه روستو اخستے وه چه هغه قتل کړي او مال ترے واخلي۔ (مسند احمد ۲۹۲/٤، قاسمي وابن کثیر)

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ
حرام کړے شویدي په تاسو باندے میندے ستاسو او لونړۀ ستاسو او خویندے ستاسو
وَعَمَّاتُكُمْ وَخَالَاتُكُمْ وَبَنَاتُ الْأَخِ وَبَنَاتُ الْأُخْتِ
او ترینده ستاسو او ماسي ګانے ستاسو او لونړه د ورور (وریرے) او لونړۀ د خور (خورزے)
وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ مِنَ الرَّضَاعَةِ
او میندے ستاسو هغه چه تاسو له ئې تے درکړیدے او خویندے ستاسو د تي ورکولو د وجه نه
وَأُمَّهَاتُ نِسَائِكُمْ وَرَبَائِبُكُمُ اللَّاتِي فِي حُجُورِكُمْ
او میندے د ښځو ستاسو (یعنی خواخے) او پرکتمئ ستاسو هغه چه په تربیت ستاسو کې دي
مِنْ نِسَائِكُمُ اللَّاتِي دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَإِنْ لَمْ تَكُونُوا دَخَلْتُمْ
د ښځو ستاسو نه هغه چه نزدیکت کړے وي تاسو د هغوی سره نو که تاسو نزدیکت نۀ وي کړے

بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ وَحَلَائِلُ أَبْنَائِكُمُ
د هغوی سره نو نشته گناه په تاسو باندے او (حرامي دي په تاسو) ښځے د زامنو ستاسو
الَّذِينَ مِنْ أَصْلَابِكُمْ وَأَنْ تَجْمَعُوا
(اینگوریانی) هغه زامن چه د شاگانو ستاسو نه (پیدا) دي او دا چه جمع والے وکړئ تاسو
بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ إِنَّ اللهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٢٣﴾
په مینځ د دوه خویندو کي مگر هغه چه مخکي تیر شویدي، یقیناً الله بخونکے، رحم کونکے دے

تفسیر: اُوس تفصیل د محرماتو بیانوی۔ نسبي حرامي ښځي اوه قسمه دي:

(۱) میندے حرامي دي چه پدے کي ټولے نیاگانے هم داخلیږي د پلار د طرفنه وي او که د مور د طرفنه، ځکه چه د امهاتو اطلاق په شریعت او لغت کي په نیاگانو باندے هم کیږي۔

(۲) لونړه حرامي دي چه دا ټولو نمسیانو ته هم شاملیږي که د لور د طرفنه وي او که د زوی۔

(۳) ټولے خویندے حرامي دي سکه وي او که ناسکه۔ (د پلار نه وي یا د مور نه وي یا د دواړو نه)۔

(٤) د پلار هر قسمه خویندے سکه وي او که ناسکه حرامي دي۔ دارنگه د نیکه خویندي، د غور نیکه خویندے او بره وړپسے ورځه۔

(٥) د مور هر قسمه خویندے سکه وي که ناسکه حرامي دي، دغه شان د نیا، غوري نیا او بره وړپسے ورځه۔

(٦) د ټولو قسمه ورونو (سکه وي که ناسکه یا رضاعي) لونړه حرامي دي، دغه شان د ورونو نمسيئ او کړوسيئ او خکته وړپسے ورځه۔ رسول الله ﷺ د حمزه ﷺ لور په نکاح نۀ اخستله ځکه چه دا ئے رضاعي ورور وو۔

(٧) د هر قسمه خویندو (سکه وي که ناسکه) لونړه حرامي دي، د دوی نمسيئ او کړوسيئ او خکته وړپسے ورځه دا ټولي حرامي دي۔

رضاعي حرامي ښځے

ذکر شوی اوه قسمه زنانه لکه څنگه چه د نسب په وجه په سړي باندے حرامي دي دغه

شان دغه تولے د رضاعت (تی رودلو) په وجه هم حرامی دی۔
او دلته په آیت کی اگرکه رضاعی میندے او رضاعی خویندے ذکر شویدی لیکن دا په طریقه د حصر سره نهٔ دی بلکه د مثال په طور ذکر شویدی او په صحیح حدیث کی دی: (يُحَرَمُ مِنَ الرَّضَاعِ مَا يُحَرَمُ مِنَ النَّسَبِ) د رضاعت په وجه هغه زنانه حرامیږی کومے چه د نسب په وجه حرامیږی۔ (صحيح البخاری ۱/ ۳٦۰)۔
مِنَ الرَّضَاعَةِ : په آیت کی رضاعة مطلق ذکر دے لږ وی که ډیر، او په یو حدیث کی دی: (لَا تُحَرِّمُ الرَّضْعَةُ أَوِالرَّضْعَتَانِ أَوِ الْمَصَّةُ اَوِ الْمَصَّتَانِ) (مسلم:۳٦٦٦) یو یا دوه ځل تی ورکول او رودل تحریم نهٔ راولی۔ نو مفهوم ئے دا دے چه د دوو نه زیات وی نو بیا حرمت راولی۔ او په مسلم (۳٦۷۰) کی د عائشه رضی الله عنها روایت دے : [خَمْسُ رَضَعَاتٍ يُحَرِّمْنَ] پنځه ځل تی رودل حرمت راولی۔ نو ددے تطبیق داسے دے چه ددے ترمینځ هیڅ منافات نشته، دا به په بیلا بیل موقعو باندے حمل وی، که زنانه ته معلومه نهٔ وه (موده ډیره تیره شوے وه) چه ما ماشوم ته څو ځل تی ورکړیدے نو بیا به په مطلق رضاعت سره حرمت راځی۔ كَيُفَ وَقَدُ قِيُلَ روایت پرے دلیل دے کوم چه بخاری راوړیدے رقم الحديث (۸۸)۔
او که د دغه ماشوم جینئ نکاح نهٔ وی شوی نو بیا احتیاط پدے کی دے چه په درے ځل تی رودلو باندے عمل وکړے شی او که نکاح شوے وه نو بیا به معلومات وکړے شی چه یو ځل یا دوه درے تر پنځو پورے ورکړے نو حرمت به نهٔ راولی او که پنځه وو یا زیات وو بیا به رضاعت حرمت راولی۔ او تفصیل په فتاوی الدين الخالص (۱۲) کی وګوره۔
ځینی خلکو ته پدے آیت او احادیثو کی تعارض ښکاره شی نو احادیث ګوزار کړی حال دا چه دا د اسلام د حقانیت دلیل دے چه په انسانانو مختلف احوال راځی نو د هر حال دپاره ئے خپل خپل حکم جاری کیږی۔
فائده : که یو ماشوم د یوے زنانه تے ورودو نو دا ماشوم د دغه زنانه ځوی شو او ددے زنانه لونړه او ځامن ددے ماشوم خویندے او ورونه شو، که دا ماشوم جینئ وی نو ددے هلکانو ورسره نکاح نهٔ کیږی او که هلك وی نو ددے جینکو سره ئے نکاح نهٔ کیږی البته ددے ماشومے جینئ د خویندو سره ددے جینئ رضاعی ورونه نکاح کولے شی دغه شان ددے ماشوم هلك ورور ددهٔ د رضاعی خویندو سره نکاح کولے شی۔
وَاُمَّهَاتُ نِسَآئِكُمُ :

د مصاهرت (خپښئ) په وجه حرامی ښځے

۱- خپله خوابنيے، دا ابدي حرامه ده برابره ده چه خپله بنځه ئے واده کړي وي او که نهٔ۔ دارنګه دا حکم د بنځے د نيا او غوري نيا او نورو نياګانو هم دے۔

(۲) په هر سړي باندے پرکتهٔ يعني د خپلے بنځے لور چه د بل خاوند نه ورسره راغلي وي هم ابدي حرامه ده خو پدے شرط چه د خپلے بنځے سره ئے نکاح کړي وي او هغه ئے واده کړي وي او دخول (جنسي تعلقات) ئے ورسره کړي وي۔ او که هسے ئے په نکاح کړي وي او لا وادهٔ کړي ئے نهٔ وي او بيرته هغه پريدي يا هغه وفات شي او د هغے دغه لور کوي نو کولے ئے شي۔

او دا حکم د خپلو بنځو نمسيو او کړوسيو ته هم شامليږي۔

وَرَبَائِبُكُمُ : ربائب : جمع د رَبِيبَةٌ ده پرکتهٔ ته وائي۔

اللَّاتِي فِي حُجُورِكُم : دا قيد احترازي نهٔ دے بلکه واقعي او اتفاقي دے يعني که پرکتهٔ د سړي په تربيت کې وي او که نهٔ وي خو د هغے سره نکاح په دغه صورت کې حرامه ده په نيز د عام اهل علمو او بعض علماؤ شذوذ کړيدے نو هغوی هغه پرکتهٔ جائز ګرځولے ده چه د خاوند په تربيت کې نهٔ وي۔ (القرطبي)

(۳) وَحَلَائِلُ أَبْنَائِكُمُ : حلائل جمع د حَلِيلَةٌ ده بنځے ته وائي۔ يعني انګورياني په سړي باندے ابدي حرامي دي نو د زوي په وفات يا طلاق سره ورته نهٔ حلاليږي، برابره خبره ده چه که زوي ئے نسبي وي او که رضاعي۔ د جمهورو په رأی کې او شيخ الاسلام ابن تيميهٓ او حافظ ابن القيمٓ وائي : د رضاعي ځوي بنځه حلاله ده، د هغے په حرمت باندے هيڅ دليل نشته بلکه دلته ﴿مِنْ أَصْلَابِكُمْ﴾ قيد ښکاره دليل دے چه هغه جائز ده۔ او تفصيل دپاره الدين الخالص باب الرضاع (۱۲) ته رجوع وکړه۔

مِنْ أَصْلَابِكُمْ : پدے سره متبنیٰ (د ځُلے وئيلے شوے زوي) بهر شو چه د هغه بنځه په نکاح اخستل جائز دي۔ او پدے سره رضاعي ځوي نهٔ ووځي لکه مخکې تير شو بناء په مرجوح قول سره او راجح دا ده چه هغه جائز ده۔

وَأَنْ تَجْمَعُوا : د دوه خويندو په يوه نکاح کې جمع کول يو پدے وجه حرام دي چه پدے کې بې حيائي ده۔ دويم : يوه بنځه د بلے بنځے ضرّه (بنه) وي نو هغه به ورسره دشمني کوي نو پدے سره به ئے صله رحمي ختمه شي۔

إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ : يعني که پخوا ستاسو نه دا کار شوے وي نو تاسو معاف يئ۔

حکمة : د پلار د بنځے او د خويندو د جمع کولو په باره کې ئے (إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ) ووئيلو پدے

کی حکمة دا دے چه د آیت د نزول په وخت کی دغه دواړه نکاح ګانی په عربو کی رواج وو اګرکه هوښیارو خلکو دے ته هم په ښه نظر نهٔ کتل، لکه دا خبره عبد الله بن عباس رضی الله عنهما کړیده۔ (قاسمیؒ)

وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَآءِ إِلَّا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ
او (حرامے دی) خاوندانو والا د زنانو نه، مګر هغه چه مالکان دی ښی لاسونه ستاسو،
كِتَابَ اللهِ عَلَيْكُمْ وَأُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ
حکم د الله دے په تاسو باندے او حلال کړے شویدی تاسو لره هغه چه ما سویٰ دی ددے نه،
أَنْ تَبْتَغُوْا بِأَمْوَالِكُمْ مُّحْصِنِيْنَ غَيْرَ
پدے شرط چه تاسو ئے طلب کوئ په مالونو خپلو سره چه نکاح کونکی یئ نهٔ یئ
مُسَافِحِيْنَ فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ مِنْهُنَّ فَآتُوْهُنَّ
زنا کونکی، پس هغه مال چه تاسو فائده واخسته په هغے سره د ښځونه نو ورکړئ دوی ته
أُجُوْرَهُنَّ فَرِيْضَةً وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا
مهرونه د دوی فرض کړے شوی، او نشته ګناه په تاسو په هغه مهرکی
تَرَاضَيْتُمْ بِهٖ مِنْ بَعْدِ الْفَرِيْضَةِ إِنَّ اللهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿٢٤﴾
چه راضی شئ تاسو په هغے سره پس د مقرر والی نه، بیشکه الله پو هه دے حکمتونو والا دے

تفسیر: اُوس موقتی حرامی بیانوی پدے وجه ئے دا په جدا آیت کی ذکر کړو۔

وَالْمُحْصَنَاتُ : دا د (حُرِّمَتْ) د لاندے دی یعنی حُرِّمَتِ الْمُحْصَنَاتُ ۔ حرامی کړے شویدی په تاسو واده والا زنانه۔

المحصنات : د احصان نه اخستے شویدے، او احصان د حِصْن نه دے په لغت کی منع کولو او بچ کولو ته وئیلے شی لکه سورة انبیاء آیت (۸۰) کی دی : ﴿لِتُحْصِنَكُمْ مِنْ بَأْسِكُمْ﴾ ۔ (یعنی دے دپاره چه تاسو وساتی ستاسو د جنګونو نه) دارنګه حِصْن هغه مضبوطے قلعه ته وئیلے شی چه دشمن پرے د وریورته کیدو طاقت نهٔ لری۔

احصان لفظ په قرآن کریم کی (۱۸) کرته راغلے دے او په څلورو معانو استعمالیږی (۱)

تزوج یعنی واده کول، لکه پدې آیت کې مُحْصِنِيْنَ او روستو آیت کې مُحْصَنَاتِ لفظ راغلې دې۔ نو کومه ښځه چه واده شوه نو دا مُحْصَنَه شوه۔ (۲) عِفّت (پاکدامنی)۔ په آیت کې دی ﴿وَالَّتِيْ أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا﴾انبياء : ۹۱) یعنی هغه زنانه چه حفاظت ئې وکړو د خپل عورت، او روستو راځی ﴿وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ﴾۔ نو د مُحْصَنَاتو په مقابله کې مُسَافِحَات راځی یعنی زناکارې۔ (۳) کله محصنات (اَلْحَرَائِر) آزادو ښځو ته وائی۔ لکه روستو راځی ﴿فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ مِنَ الْعَذَابِ﴾۔ ددې په مقابل کې اِمَاء (وینځې) استعمالیږی۔

(٤) احصان کله په معنیٰ د اسلام سره راځی، قرطبیؒ وئیلی دی چه پدې معنیٰ په قرآن کریم کې نۀ دې راغلې البته په سنت کې راغلې دې۔ او ابن عادل الدمشقیؒ صاحب اللباب لیکی چه په روستو آیت (فَإِذَا أُحْصِنَّ) کې د بعض مفسرینو په نیز د اسلام راوړلو معنیٰ ده۔ او دلته د (الْمُحْصَنَات) نه اوله معنیٰ مراد ده۔

فائده : کوم سړې چه واده والا ښځه وتښتوی دې ته خاطف او مخطوفه وائی دوی واجب القتل دی، وژلې به شی، ډیر لوی مفسدان دی دا هله چه ښځه ورسره رضا وی او که چرته ښځه ئې مجبوره کړی وی مثلًا جادو ئې پرې کړې وی یا ئې نشه ورکړی وی نو بیا به ښځه نشی وژلې۔

شان نزول

د سیدنا ابوسعید خدری ﷺ نه روایت دې چه مونږ د اَوطَاس په غزا کې څه زنانه ونیولې چه زمونږ وینځې وګرزیدلې نو څه کسانو اراده وکړه چه ددې سره نزدیکت وکړی، بیا ئې دا بده وګڼله چه د هغې سره نزدیکت وکړی ځکه چه د دوی خاوندان ژوندی وو او د ژوندو سړو ښځې اخستل به حرام وی نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو چه وینځې ستاسو دپاره جائز دی اګرکه خاوندان ئې ژوندی وی او نبی ﷺ ددې په باره کې وفرمایل : چه د دوی سره نزدیکت جائز دې (اِذَا انْقَضَتْ عِدَّتُهُنَّ) کله چه د دوی عدت تیر شی۔ (صحیح مسلم ۱/ ٤٧٠) او د دوی عدت صرف یو حیض دې۔ او دا زنانه بل کوم یو مسلمان په نکاح باندې هم اخستې شی۔

مِنَ النِّسَآءِ : دا لفظ ورسره ځکه زیاتوی چه مَړونو والا کافرو ښځو ته هم شامل شی یعنی اګرکه خاوندان ئې کافر کتابی وی نو د هغوی سره نکاح حرامه ده مګر که د وینځو په شکل راشی نو بیا درله حلالې دی اګرکه خاوندان ئې ژوندی وی۔

كِتَابَ اللهِ عَلَيْكُمْ : يعنی [كَتَبَ كِتٰبَ اللّٰهِ]، ((الله تعالىٰ ددے حکم ليکل کړيدی ليکل په تاسو باندے)) نو ددے تابعداری په کلکه وکړئ. يا منصوب دے په اغراء سره په اصل کی (عَلَيْكُمْ كِتَابَ اللهِ) دے يعني تاسو باندے لازم دے د الله حکم). يا (اِلْزَمُوْا كِتَابَ اللهِ) پټ دے، يعنی لازم ونيسئ حکم د الله.

وَاُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ : يعنی ددے تير شوی زنانو نه سوئ ستاسو دپاره جائز دی خو پدے شرط چه هغوی ته مهرونه ورکړئ. ځينی مفسرينو ته پدے جمله کی اشکال ښکاره شويدے چه په احاديثو کی خو نورو زنانو ته هم حرامی وئيلے شويدی لکه :

ښځه او د هغے ترور، يا د هغے خاله په يوه نکاح کی راجمع کول، عدت تيرونکے زنانه، د آزادے ښځے په موجودگئ کی د وينځے سره نکاح کول، آزادے ښځے سره د قدرت باوجود د وينځے سره وادهٔ کول، د شلورو ښځو سره پنځمه ښځه، دارنگه لعان کونکے ښځه هميشه دپاره په لعان کونکی سړی باندے حراميږی، دارنگه د متعے نکاح، دارنگه د شغار (بدل) نکاح.

نو ددے وجه نه عام مفسرين لکه قاسمیؒ او ابن الجوزیؒ په ((زاد المسير)) کی وائی : دا عام مخصوص البعض دے. يعنی دا حکم عام دے خو بعض افراد ترے په احاديثو سره خاص شويدی. او ځينی مفسرين وائی چه (مَاوَرَاءَ ذٰلِكُمْ) کی اشاره وحی ته ده او هغه قرآن او حديث دواړو ته شامله ده. يعنی د وحی نه په غير نورے حلالی دی يعنی د ځان نه ئے مهٔ حراموئ او الله او رسول چه کومے حرامی کړيدی هغه به حرامے گڼئ. يا په احاديثو کی چه کومے دغه زنانه حرامے خودلے شويدی نو دا په دغه محرماتو کی په طريقه د التزام سره داخليږی.

اَنْ تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ : د کومو ښځو سره چه وادهٔ کول الله تعالىٰ حرام گرزولی دی د هغے نه سِوئ د هرے ښځے سره يو مسلمان په شرعی نکاح چه د شرطونو لحاظ پکی وی په يو وخت کی د يو نه تر شلورو پورے ودونه کولے شی. او وينځے چه څومره غواړی ساتلے شی. ليکن شرط دا دے چه د هغه ښځے مهر به مقرر وی او د ايجاب او قبول په ذريعه به وادهٔ سر ته رسيدلے وی او په ښکاره يا پټه سره به زنا کول مقصود نهٔ وی. د آيت دا حصه دليل دے چه په وادهٔ کی مهر ورکول الله تعالىٰ واجب گرځولی دی، په غير د مهر نه وادهٔ په شريعت کی جائز نهٔ دے.

مسئله : دا آيت د هغه علماؤ دليل دے چه وائی مهر کی به مال ورکولے شی نهٔ بل شے

لکه دا مذهب د عامو علماؤ دے او امام شافعیؒ او بعض محققینو علماؤ وئیلی دی چه مهر هر هغه شے گرزیدے شی چه د مبیعی د ثمن (قیمت) یا د اجرت صلاحیت لری لږ وی که ډیر نو پدے اعتبار سره تعلیم د قرآن کریم هم د نکاح دپاره مهر کیدے شی ځکه چه د قرآن کریم په تعلیم باندے اجرت اخستل جائز دی، او دوی دلیل نیسی په هغه مشهور حدیث چه امام بخاری وغیره نقل کړیدے چه نبی علیه السلام یو سړی ته یوه ښځه د قرآن د تعلیم په بدله کی ورکړه (زَوَّجْتُكَهَا بِمَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ) ۔ (صحيح بخاری: ٥٠٢٩ ومسلم: ٣٥٥٤) او دا قول په اعتبار د دلیل سره راجح دے بلکه په احادیثو کی عتق (آزادول د وینځے) او اسلام هم مهر جوړ شویدے۔

مسئله : د مهر کمه او زیاته اندازه مقرر نۀ ده، امام مالك رحمه الله وائی چه د مهر کمه اندازه درے درهمه یا د دینار څلورمه برخه ده او امام ابو حنیفه رحمه الله وائی چه د لسو درهمو نه کم مهر نشته، د هغه دپاره دلیل نیولے شویدے په هغه حدیث چه دارقطنیؒ نقل کړیدے (لَامَهْرَ لِأَقَلَّ مِنْ عَشْرَةٍ) لیکن هغه روایت ضعیف جدًا دے د هغے په سند کی مبشر بن عُبید راوی متروك دے۔ او د رسول الله ﷺ به عام عادتِ مبارکه دا وو چه د څلورو سوو درهمو په اندازه مهر به ئے مقررولو۔ او کمه اندازه (وَزْنُ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ) د کجوری د هډوکی په اندازه سرۀ زر هم صحابه کرامو مقرر کړیدی یا یوه لپه وره یا ستوان لکه دارقطنیؒ وغیره دغه روایتونه نقل کړیدی۔ او دلته په آیت کی (تَرَاضَيْتُمْ بِهِ) نه معلومیږی چه جانبین په څه راضی شو بس دغه به مهر وی لږ وی که ډیر۔ او دا قول د سفیان ثوریؒ، شافعیؒ، احمدؒ او اسحاق دۓ (سنن الترمذی) او همدا حق دے۔

مُحْصِنِيْنَ : یعنی ستاسو به د پاکدامنئ اراده وی۔ دا حال دے یعنی په داسے حال کی چه تاسو محصنین یئ یا د (كُوْنُوْا) دپاره خبر دے۔ یعنی شئ پاکدامن۔ یعنی واده به پدے نیت کوئ چه تاسو ته عفت او پاکدامنی حاصله شی او د زنا اراده به نۀ وی، ددے نه معلومه شوه چه د زنا کار سړی یا زناکاره ښځے سره نکاح جائز نۀ ده لکه روستو به راشی ان شاء الله تعالی۔

مُسَافِحِيْنَ : د سَفْحٌ نه اخستے شویدے تویه کولو ته وائی او زناکار هم خپله ماده بی ځایه تویه کوی او دیو مقصد (اولاد او نسل) پیدا کولو دپاره نۀ وی۔

فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهِ مِنْهُنَّ : (١) (مَا) لفظ د مهر نه عبارت دے یا د زنانو نه۔ نو معنیٰ به دا وی ! پس هغه مهر چه تاسو فائده واخلئ د هغے په سبب د زنانو نه نو هغوی ته دغه مهرونه ورکړئ۔ یعنی تاسو چه ورله کوم مهر مقرر کړے وی او د هغے په سبب تاسو ته

دغه ښځې حلالیږي نو هغه به ورته ضرور ورکوئ. (۲) یا د (مَا) نه مراد زنانه دي معنیٰ به دا وي د دغه ذکر شوي ښځو نه چه تاسو د کومې ښځې نه فائده واخلئ نو هغوي ته مهرونه ورکړئ.
مخکې جمله کې په نکاح کې د مهر شرط کیدل ذکر شو نو اُوس پدې جمله کې ئے سبب ذکر کوي چه هغه استمتاع (فائده) اخستل دي. (احسن الکلام)
فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ : که یو سړي د یوې زنانه سره وادهٔ اُوکړو او هغې سره ئے نزدیکت هم اُوکړو نو هغې ته پوره مهر ورکول به ضروري وي. او که نزدیکت ئے نهٔ وي کړے نو نیمائی مهر ورکول به وي، او که د مخکې نه ئے مهر مقرر کړے نهٔ وي او نزدیکت ئے هم نهٔ وي کړے او طلاقه شوه نو هغې ته به لږ څه مال ورکړے شي لکه ددے تفصیل په سورة البقره کې تیر شویدے.
مسئله : د اکثرو اهل علمو په نیز ددے مهر مالك به د وینځې مالك وي او دلته وینځو ته څکه نسبت شویدے چه د مهر سبب دغه وینځه ده. او د امام مالك رحمه الله په نیز د مهر ملکیت د وینځې دپاره دے. او همدا ظاهر د قرآن دے مګر ان شاء الله چه د مالك دپاره دا جائز دي چه د وینځې نه مهر واخلي څکه وینځه د مالك ملکیت دے نو د هغې مال به هم د مالك دپاره روا وي.
فَرِيضَةً : دا حال دے په معنیٰ د مَفْرُوضَةً سره یعنې پداسې حال کې چه دا مقرر کړے شویدي د طرفه د الله نه. یا فعل پټ دے او دا **مفعول مطلق** دے یعنې فَرَضَ اللَّهُ فَرِيضَةً. الله مقرر کړیدے په مقررولو سره.
فائده : حافظ ابن کثیرؒ لیکلي دي چه بعض خلقو د آیت د عموم نه د متعې نکاح په جواز باندې دلیل نیولے دے. د مُتعې نکاح دا ده چه یو سړے د یوې ښځې سره د یوې معینې مودے پورے نکاح اُوکړي. د مثال په توګه یوه شپه یا دوه شپې یا یوې هفتې دپاره واده اُوکړي، او د خپل ضرورت پوره کولو نه روستو هغه پریدي. ابن عباسؓ او د صحابه کرامؓ یو جماعت د ضرورت په وخت کې دیته مباح وئیلي وه، لیکن د ابن عباس رضی الله عنهما نه روستو رجوع ثابت ده. (قاسمیؒ) امام احمدؒ نه هم دا منقول دي. ابن عباسؓ، ابی بن کعبؓ، سعید بن جبیرؒ او سُدیؒ دا آیت داسې لوستلے دے : ﴿فَمَا اسْتَمْتَعْتُم بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ إِلَىٰ أَجَلٍ مُسَمًّى﴾ چه ((د کومو ښځو نه چه تاسو د یوې معینې مودے پورے فائده واخلئ نو هغوي ته مقرر شوے مهر ورکړئ)). د مجاهدؒ وینا ده چه دا آیت د مُتعې نکاح په باره

كې نازل شوي وو۔ آه۔
ليكن د جمهورو رائے ددے خلاف ده، هغوی وائی چه پدے كې شك نشته چه متعه په ابتداء د اسلام كې جائز وه ليكن د هغے نه روستو تر قيامته پورے حرامه كړے شوه۔ د هغوی دليل د بخاري او مسلم د علي بن ابی طالب رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د خيبر په ورځ نكاح متعه او د كورنو خرو د غوښے نه منع كړے وه))۔ او مسلم د سَبُرَه بن مَعْبَد الجُهَنِي رضي الله عنه نه روايت كړيدے چه د مكے د فتح په وخت هغه د رسول الله ﷺ سره وو، نبی ﷺ اُوفرمايل : ((خلقو ! ما تاسو ته د ښځو سره د متعے كولو اجازت دركړے وو (اُوس واورئ چه) الله دا تر قيامته پورے حرامه كړيده، چا سره چه داسے ښځه وی نو هغه دِے پريدی، او تاسو چه هغوی ته كوم رقم وركړيدے د هغے نه هيڅ هم واپس مۀ اخلئ))۔
دارنګه كه دلته نكاح د متعے مراد شی نو قاسم بن محمدؒ ويلي دی چه دا په بل آيت سره هم منسوخ شويدے ﴿ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حَافِظُوْنَ اِلَّا عَلٰى اَزْوَاجِهِمْ اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ فَاِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ فَمَنِ ابْتَغٰى وَرَاءَ ذٰلِكَ فَاُولٰئِكَ هُمُ الْعَادُوْنَ﴾ (سورة مومنون :٤) ځكه چه متعه نۀ نكاح ده او نۀ ملك دے، نو په (وَرَآءَ ذٰلِكَ) كې داخل شوه او پدے قول سره به دغه آيت په مكي سورت كې مدني وی۔
او امام ترمذيؒ د ابن عباسؓ نه نقل كړيدی چه متعه نكاح په ابتداء د اسلام كې رواج وو ليكن كله چه دا آيت ﴿ اِلَّا عَلٰى اَزْوَاجِهِمْ اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ ﴾ (المؤمنون: ٦) نازل شو نو د دغه دواړو ښځو نه په غير نوری ټولے ښځے حرمے شوے۔ (وسنده ضعيف – البانی)
او د عائشه رضى الله عنها نه ددے سند صحيح ثابت دے۔ (الحاكم ٢/٣٩٣) وصححه على شرط الشيخين ووافقه الذهبی)۔
او ابن عباسؓ به د متعے جواز د مضطر دپاره وئيلو لكه قرطبيؒ وغيره ذكر كړيدی۔
او د ابن مسعود رضى الله عنه نه روايت دے چه متعه د طلاق، عدت او ميراث په حكم سره منسوخ ده ځكه چه په متعه كې په ښځه باندے دا درے واړه نۀ وی بلكه د مقرر شوے نيټے نه روستو هغه آزده وی۔ (القرطبی ٥/١٣١ واحسن الكلام)
وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ : اُوس دا خبره بيانوی چه كله خاوند د مهر پوره پيسے ښځے ته ادا كړی، دے نه روستو ښځه كه كومے پيسے خاوند ته واپس كړی يا روستوئے كړی يا ئے هغه ته هديه كړی يا بعض ورته معاف كړی نو پدے كې هيڅ ګناه نشته او د سړی دپاره ئے اخستل جائز دی ځكه د مهر پيسے چه د هغے ملكيت ته راغلے نو د هغے خپله خوښه ده

چه هر چا ته ئې ورکوي ورکولې ئې شي. دا داسې آيت دې لکه مخکې (٤) آيت کې تير شو ﴿فَإِنْ طِبْنَ لَكُمْ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ نَفْسًا﴾ او په سورتِ بقره آيت (٢٣٧) کې تير شوی وو ﴿إِلَّا أَنْ يَعْفُونَ أَوْ يَعْفُوَ الَّذِي بِيَدِهِ عُقْدَةُ النِّكَاحِ﴾.

دارنګه که سړې د مهر نه زيات ورکوي نو هم جائز ده.

فِيمَا تَرَاضَيْتُمْ بِهِ مِنْ بَعْدِ الْفَرِيضَةِ : يعنې ګناه نشته په تاسو باندې په هغه مال کې چه تاسو يو بل سره راضي شئ په هغې باندې روستو د مقررولو نه چه په هغې باندې څه نور هم زيات کړئ او يا ترې څه کم کړئ.

عَلِيمًا حَكِيمًا : الله تعالىٰ پوهه دې ځکه داسې ښکلې احکام نازلوي او حکيم دې چه که حدود ئې نۀ وي ټاکلي نو ستاسو ژوند به تريخ شوې وې.

وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا أَنْ يَنْكِحَ الْمُحْصَنَاتِ
او هغه څوک چه طاقت نۀ لري ستاسو نه د مالدارئ چه نکاح اُوکړي د آزادو ښځو سره
الْمُؤْمِنَاتِ فَمِنْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ
چه مؤمنې وي نو نکاح دِې اُوکړي د هغه زنانو سره چه مالکان وي ښي لاسونه ستاسو
مِنْ فَتَيَاتِكُمُ الْمُؤْمِنَاتِ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَانِكُمْ بَعْضُكُمْ
د هغه وينځو ستاسو نه چه مؤمنې وي، او الله ښۀ پوهه دې په ايمانونو ستاسو، بعض ستاسو
مِنْ بَعْضٍ فَانْكِحُوهُنَّ بِإِذْنِ أَهْلِهِنَّ وَآتُوهُنَّ
د بعضو نه دي، نو نکاح اُوکړئ د دوي سره په اجازه د مالکانو د دوي او ورکوئ دوي ته
أُجُورَهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ مُحْصَنَاتٍ غَيْرَ مُسَافِحَاتٍ
مهرونه د دوي په ښه طريقه پداسې حال کې چه وي دا زنانه پاکدامنې، نۀ وي زنا کونکې
وَلَا مُتَّخِذَاتِ أَخْدَانٍ فَإِذَا أُحْصِنَّ فَإِنْ أَتَيْنَ
او نۀ وي نيونکې پټو يارانو لره، نو کله چه دوي په نکاح کې راوستې شي نو که راتلل اُوکړل دوي
بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ مِنَ الْعَذَابِ
په زنا نو وي به په دوي باندې نيمائي هغه سزا چه ده په آزادو ښځو د سزا (دنيوي) نه،

ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ الْعَنَتَ مِنْكُمْ وَأَنْ

دا (د وینځو سره نکاح) دپاره د هغه چا ده چه ویریږی د مشقت (د زنا) نه ستاسو نه او که

تَصْبِرُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ وَاللهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۵﴾

تاسو صبر کوئ (د وینځو د نکاح نه) ډیره غوره ده ستاسو دپاره او الله بخښه کونکے مهربان دے۔

تفسیر : پدے آیت کی (بَيَانُ نِكَاحِ الْإِمَاء) دے یعنی د وینځو د نکاح بیان۔ وینځے په دوه قسمه دی (۱) خپله وینځه چه په غنیمت کی ورته ملاؤ شی۔ دا په غیر د نکاح نه جائز ده او نکاح ته ئے ضرورت نشته ددے نه چه کوم بچی پیدا کیږی هغه به آزاد حسابیږی او دا به وینځه وی۔ (۲) پردئ وینځه، لکه مثلاً تا سره وینځه ده یو تن تا ته وائی چه دا وینځه دے ما ته په نکاح راکړه نو تهٔ هغه ته دا په نکاح ورکولے شے او مهر به تا ته درکړی نهٔ وینځے ته او تهٔ د هغه وینځے نه خدمت اخستے شے، ستا خدمت به کوی لیکن هغے سره نزدیکت نشے کولے ځکه چه د بل چا په نکاح کی واقع شوه۔ نو پدے نکاح کی نقصان دا دے چه ددے وینځے کوم بچی پیدا کیږی دا به تول غلامان وی د سید (مالك) دپاره۔ نو ځکه الله تعالیٰ پدے آیت کی منع کړیده چه حتی الوسع د وینځو سره نکاح مهٔ کوئ ځکه چه پدے طریقه غلامان زیاتیږی، او ستا بچے به وی او غلامی به د بل چا کوی۔او بل د وینځو په نکاح کی پوره عفت هم نهٔ راځی ځکه چه وینځے اکثرے ورانکارے وی مگر د انسان کله نا کله دوی ته هم ضرورت راځی نو الله تعالیٰ جائز کړلے۔

مسئله : وینځه چه د بل په نکاح کی وی نو نفقه ئے په خاوند باندے نشته بلکه په مالك باندے ده ځکه چه دا وینځه د مالك دپاره بچی راوړی نهٔ د خاوند دپاره۔ دغه شان د بچو نفقه ئے هم په مالك باندے ده نهٔ په خاوند باندے (الفقه علی المذاهب الاربعة ٤/٤٨٤)

د آیت مطلب : اے ایمان والو ! که ستاسو د اصیلو مسلمانو ښځو د نکاح کولو وسه نهٔ کیږی چه مالی طاقت مو لږ وی او د هغوی د مهر او د نفقے برداشت نشئ کولے او بل طرفته یریږئ چه چرته زنا کی واقع نشئ، نو د مؤمنو وینځو نه دغه ضرورت پوره کړئ ځکه چه د وینځو مهر په نسبت د اصیلو ښځو کم وی۔ او دارنګه نفقه ئے هم په خاوند نهٔ وی۔ مګر تاسو پدے مکلف نهٔ یئ چه تاسو د هغوی په زړونو باندے ځان پوهه کړئ چه زړه کی ئے ایمان شته او که نهٔ بلکه ظاهری اقرار د هغوی د مؤمن کیدو دپاره کافی دے،

ستاسو تهول ایمانونه الله ته ښه معلوم دي، تاسو ټول یو شان انسانان یئ نو د وینځو د نکاح نه نفرت مهٔ کوئ. ځکه ایمان یو داسې شې دې چه نور تمام امتیازات ختموي خو شرط دا دې چه وینځې د خپلو مالکانو په اجازه واخلئ ځکه چه د وینځې ولی د هغې مالك وي او په شرعي معروفه طریقه باندې ورته مهرونه ورکړئ یا ئې مالکانو ته ورکړئ. او په ښکاره یا په پټه سره به د هغې سره زنا کول مقصود نهٔ وي.

که د وادهٔ نه روستو وینځې زنا اُوکړي نو هغوی به د آزاد غیر وادهٔ شوې ښځې په نیمائی سزا خوري یعنې پنځوس دُرې به وهلې شي. او چونکه رجم نهٔ نیمېږي پدې وجه د وینځو نه رجم ساقطیږي. د وینځې سره د وادهٔ کولو جواز د هغه چا دپاره دې چه هغه یریږي چه ددهٔ نه چرته زنا اُونشي، لیکن بهر حال صبر کول او د وینځې سره نکاح نهٔ کول ډیر غوره دي دې دپاره چه غلامان زیات نشي.

طَوُلًا : مفسرینو ددې ډیر مصداقونه بیان کړیدي مگر اکثرو د مال په فراخوالي سره تفسیر کړیدې. (قرطبي ۱۳۶/۵)

وَلَا مُتَّخِذَاتِ أَخْدَانٍ : اَخْدَان جمع د خِدْنٌ او خَدِيْنٌ ده، پټ یار ته وائي چه د هغې په یاري بنده شرمیږي.

د زنا قسمونه

په جاهلیت والا عربو کې به ښځو دوه قسمه زنا کوله یوه ښکاره چه په کور باندې به ئې سرې جنډې لګولې وې او خلك به هغې ته ورتلل او دا کار به خلکو ته شرم ښکاره کیدو.

(۲) او دویم خصوصي زنا وه چه یوې زنانه به ځان دپاره په پټه یو یار ونیولو او د هغې سره به ئې بې حیائي کوله او دا به ورته بده نهٔ ښکاره کیده او څوك پرې نهٔ شرمیده نو دلته په (مُسَافِحَات) کې اول قسم زناکاري ښځې مراد دي او په (مُتَّخِذَاتِ أَخْدَانٍ) کې دویم قسم.

یا مسافحات هغه وې چه هر چا سره به ئې زنا کوله او اخدان والا هغه وې چه یو تن سره به ئې زنا کوله. (قرطبي)

نو الله فرمائي : دا دواړه قسمه وینځې په نکاح اخستل حرام دي اګرکه مسلمانه وي. دا آیت او دغه شان د سورة النور (۳) آیت ﴿اَلزَّانِيُ لَايَنْكِحُ اِلَّا زَانِيَةٍ﴾ دلیل دې چه نکاح د زناکارې ښځې سره حرامه ده اګرکه مسلمانه وي خو پاکدامنه نهٔ ده او ددې په حکم کې کتابیه زنانه هم ده چه که زناکاره وه نکاح ورسره جائز نهٔ ده ترڅو چه توبه ئې ویستلې نهٔ

وی۔
فَإِذَا أُحْصِنَّ : یعنی کله چه دغه وینځې د چا په نکاح کې راشي او بیا ترې زنا وشي نو نیمائی سزا به ورکولے شي۔ احصان دلته په نکاح کې راتللو ته وائي۔
او ځینې علماء وائي چه احصان دلته اسلام ته وائي معنیٰ دا ده چه کله (دغه نکاح والا وینځې) مسلمانې شوی (په هغه صورت کې چه دوی د نکاح په وخت کې کتابیې وی) نو بیا به ئې هم په وخت د زنا کې نیمه سزا وی۔ (اللباب وعزیز التفاسیر)
الْعَنَتَ : عنت څه ته وائي؟
د عنت اصل معنیٰ ده : هډوکے ماتول روستو د روغیدو نه او کله په معنیٰ د مشقت سره وی، او دلته ترې شَبَق یعنې سخت شوق مراد دے چه د هغې په سبب په زنا کې واقع کیږی۔ (البحر المحیط۳/۴۹۹) ۔
حافظ ابن کثیرؒ وئیلې دی چه مراد دا دے چه نکاح د وینځو سره په مخکنو شرطونو سره هغه چا له جائز ده چه د زنا کولو نه په ځان باندې یریږی او د جماع نه صبر کول ورته ګران وی۔
وَأَنْ تَصْبِرُوْا : اَیْ عَنْ نِکَاحِ الْاِمَاءِ ۔ یعنې که تاسو د دغه مشقت برداشت وکړئ او د وینځو د نکاح نه صبر وکړئ نو دا ستاسو دپاره ډیره غوره ده، پدے کې ډیرے فائدے دی، یو خو به ستا بچې چه پیدا کیږی هغه به دے خپل وی او د وینځې سره په نکاح باندے بچې پردی کیږی لکه سیدنا عمر فاروق ﷺ فرمائی : کوم یو آزاد شخص چه وینځه په نکاح کړه نو یقیناً چه هغه خپله نیمه برخه مملوکه کړه۔ (قاسمیؒ)
بله وجه دا ده چه وینځه کې عفت کم وی نو د خاوند پاکې پرے کمه راځي لکه په یو ضعیف روایت کې راغلې دی : (مَنْ أَرَادَ أَنْ یَلْقَی اللّٰهَ طَاهِرًا مُطَهَّرًا فَلْیَتَزَوَّجِ الْحَرَائِرَ)
(سنن ابن ماجه ۱۸۶۲) وفیه سلام بن سوار متروك الحدیث، البانی)
ځوك چه غواړی چه د الله سره پاك صفا ملاؤ شي نو آزادے ښځے دے په نکاح کړی۔

يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ الَّذِيْنَ
اراده لری الله چه بیان کړی تاسو ته (احکام خپل) او وښائی تاسو ته لارے د هغه کسانو
مِنْ قَبْلِكُمْ وَيَتُوْبَ عَلَيْكُمْ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۶﴾ وَاللّٰهُ
چه مخکې دی ستاسو نه او مهربانی کوی په تاسو او الله پوهه حکمتونو والا دے۔ او الله

يُرِيدُ أَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْكُمْ وَيُرِيْدُ الَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ
اراده لري چه مهرباني اُوکړي په تاسو او اراده لري هغه کسان چه تابعداري کوي
الشَّهَوَاتِ أَنْ تَمِيْلُوْا مَيْلًا عَظِيْمًا ﴿۲۷﴾ يُرِيْدُ اللهُ
د خواهشاتو چه واوړئ تاسو (د حق نه) په اوړيدو لوی سره۔ اراده لري الله
أَنْ يُّخَفِّفَ عَنْكُمْ وَخُلِقَ الْإِنْسَانُ ضَعِيْفًا ﴿۲۷﴾
چه آساني راولي په تاسو او پيدا کړے شويدے انسان کمزورے۔

تفسير : مضمون : په ذکر شوی درے آيتونو کی الله تعالیٰ ترغيبات بيانوی چه پدے احکامو عمل وکړئ او احسان ذکر کوی چه آسان احکام مے درليږلی دی نو عمل پرے وکړئ۔ بيا الله بل قانون بيان کړيدے چه پردی مالونه په حرام او باطلو طريقو سره مۀ خورئ او د قتل نه ئے منع کړيده، چه دواړو کی د مال او د نفس حفاظت دے، بيا په (۳۰) آيت کی ئے د ايمان حفاظت ذکر کړيدے چه هغه د کبيره گناهونو نه ځان ساتل دی۔ بيا په (وَلَا تَتَمَنَّوْا) کی د حسد او آرزوگانو نه منع شويده بيا په (وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا) کی مسئله د عقدِ موالات او د اصحاب الموالاة د ميراث ده، بيا بل قانون دے چه د کور حاکم او مشر به سړے وی نۀ ښځه۔ بيا د زنانو تقسيم دے دوه قسمونو ته نيکانی او بد اخلاقه۔ د بد اخلاقو ښځو پنځه علاجونه ئے بيان کړيدی چه پدے سره کور جوړيږی۔ بيا روستو الله تعالیٰ خپل حقوق او د عامو بندگانو حقوق بيان کړيدی چه تفصيل به ئے هلته راشی بيا ئے په نيمه رکوع کی رد په منافقانو کړيدے ځکه چه دوی دا احکام نۀ منل او دا حقوق ئے نۀ ادا کول د هغوی د دنيا او د آخرت سزا بيانوی۔

يُرِيْدُ اللهُ : اُوس ددے ځای نه الله تعالیٰ د څه شبهاتو جوابونه کوی چه د کافرانو زړونو ته راځی، شبهات دا دی :

(۱) : پدے کی څه فائده ده چه الله تعالیٰ په مونږ باندے ځينی زنانه حرامے کړے ؟

(۲) آيا دا احکام صرف په مونږ لازم شويدی او که په پخوانو هم وو ؟ (۳) آيا دا کار په مونږ باندے حرج نۀ دے؟ (٤) آيا دا کار د نعمتونو نه محروMول نۀ دی؟۔ (۵) الله مونږ دغسے آزاد ولے نۀ پريښودو چه د کفارو په شان په آزادئ سره خپل شهوات پوره کړو؟ نو دلته ددے ټولو سوالاتو جواب دے۔

یرید الله : اَیْ بِذِکْرِ هٰذِهِ الْاَحْکَامِ ۔ یعنی الله تعالیٰ په ذکر کولو ددے احکامو سره اراده لری۔

لِیُبَیِّنَ لَکُمْ : ددے مفعول پټ دے [اَیْ لِیُبَیِّنَ لَکُمْ شَرَائِعَ دِیْنِکُمْ]۔

دے دپاره چه تاسو ته ستاسو د دین احکام بیان کړی۔ دا تفسیر هم جائز دے مګر ددے نه غوره تفسیر د عطاءؒ دے چه هغه وائی : [لِیُبَیِّنَ لَکُمْ مَا یُقَرِّبُکُمْ مِنْهُ]۔ هغه څه درته بیانوی چه تاسو الله تعالیٰ ته نزدے کوی۔ یعنی دا د الله تعالیٰ د قرب سبب دے ځکه چه څوك پدے ګندګیانو کی واقع شی نو د الله نه به لری شی او دا د بنده لوی تاوان دے۔

وَیَهْدِیَکُمْ سُنَنَ الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِکُمْ : یعنی الله تاسو پدے احکامو سره په طریقو د هغه انبیاؤ (ابراهیم علیه السلام وغیره) باندے روانوی چه هغوی باندے الله تعالیٰ رحمتونه کړی وو نو تاسو ته دغه احکام رالیږی دے دپاره چه تاسو دا احکام د هغوی په شان عملی کړئ او د هغوی په شان رحم دربانده وشی او د جاهلیت د رواجونو نه محفوظ شئ۔ نو دا ډیر کامل ترغیب شو چه یو خو الله تعالیٰ تاسو ته د خپل قرب او نزدیکت احکام رالیږی او بل مو د انبیاؤ علیهم السلام په لاره روانوی۔

یَهْدِیَکُمْ : هدایت یوه معنیٰ ده روانول او بله معنیٰ خودل دی۔

سُنَنَ : جمع د سنت ده، دلته ترے طریقه مراد ده۔ او بیا ددیے (۱) یو مطلب دا دے چه دغه احکام بعینهٖ په مخکنو شریعتونو کی هم وو (اللباب)

او علامه قاسمیؒ وائی چه داسے احکام په پخوانو هم وو او ما د تورات سفر الاحبار اللاویین اتلسم فصل کی لوستلی دی چه ددیے تائید کوی۔(محاسن التاویل ۲/۲۷٤)

(۲) یا دا چه په پخوانو باندے ددیے په شان احکام وو په مصلحتونو کی۔ نو دلته به جنس یا مثل لفظ پټ وی (آلوسیؒ) اول قول اصح دے۔

وَیَتُوْبَ عَلَیْکُمْ : کومو علماؤ چه د توبی په صحیح معنیٰ کی فکر نهٔ دے کړے نو هغوی ددیے داسے تاویلات کوی : (۱) یتوب علیکم : اَیْ یَتَجَاوَزُ عَنْکُمْ مَا اَصَبْتُمْ قَبْلَ هٰذَا۔ یعنی تاسو نه که مخکی کوم ګناهونه ددے احکامو په باره کی شوی وی هغه درته معاف کوی، او د ګناه نه مو راواپس کوی۔ (قاسمیؒ)

(۲) ځینی وائی : یُوَفِّقُکُمْ لِلتَّوْبَةِ ۔ (معالم التنزیل للبغویؒ) تاسو ته د توبی توفیق درکوی۔ لیکن دا دواړه معانی دلته پوره طریقے سره نهٔ لګی۔

(۳) غوره معنیٰ دا ده چه توبه دیته وائیؒ چه بنده د الله تعالیٰ په طاعت کی استعمال

شي۔ نو پدے کې معنیٰ د رجوع شته څکه چه غلطه لاره ترے پاتے شوه او صحیح لارے ته راواپس شو۔ یعنی الله اراده لري چه تاسو په خپل طاعت کې استعمال کړي او د هغه د طاعت نه بهر نشئ۔

وَاللّٰهُ عَلِیۡمٌ حَکِیۡمٌ : په ذکر شوي احکامو کې الله ستاسو د غرائزو پوره لحاظ ساتلے دے نو که تاسو اُوس په خپل مراعات باندے نهٔ پو هیږئ نو دومره ځان پو هه کړئ چه الله علیم دے ستاسو ټول ضروریات ورته معلوم دي او هم حکمتونو والا دے چه هیڅ حکم ئے بغیر د حکمت نه نهٔ دے نو هرکله چه تاسو پدے دوه عقیدو باندے کلك ودریږئ نو د دشمنانو د اعتراضاتو او شبهاتو نه به خلاص شئ۔

وَاللّٰهُ یُرِیۡدُ اَنۡ یَّتُوۡبَ : دا ئے دوباره د تاکید دپاره راوړو چه مؤمن پدے خوشحالیږي چه د الله په بندګئ کې استعمال شي۔ O او دا ئے دوباره پدے وجه هم راوړو چه روستو د (وَیُرِیۡدُ الَّذِیۡنَ) سره ئے مقابله بیانوي۔ او د هغے دپاره مقدمه ده یعنی د الله اراده دا ده چه تاسو په خپل طاعت کې استعمال کړي او د شهواتو والا اراده دا ده چه تاسو د الله د طاعت نه بیخي واوړئ۔ نو اُوس ستاسو خوښه ده چه کومه لاره اختیاروئ۔ (تفسیر السعدی)

O یا دا چه دلته د توبې نه مراد مهرباني ده۔ یعني الله پدے احکامو سره په تاسو مهرباني کوي هغه دا چه یو طرفته د شهواتو د پوره کولو موقعے درکوي او بل طرفته په هغے باندے اجرونه او ثوابونه هم درکوي نو ((هم ثواب او هم خرما))۔

وَیُرِیۡدُ الَّذِیۡنَ : الله تعالیٰ په تاسو رحم کول غواړي او ستاسو دشمنان کوم چه شهوت پرست دي هغوي غواړي چه تاسو د رحمت نه ډیر لرے شئ او د سلفو صالحینو لاره پریدئ او د جاهلیت په رواجونو او ګندونو اخته شئ، هغوي خپله څاروي او چارپیان دي نو غواړي چه تاسو هم د هغوي په شان شئ۔ یعني یا به د الله منئ که نهٔ وي نو د خواهشاتو او شهوت پرستو خلکو په جال کې به راګیر شئ۔

یَتَّبِعُوۡنَ الشَّهَوَاتِ : ددے نه څوك مراد دي ؟ ځیني وائي چه ددے نه مجوس مراد دي چه د محارمو سره نکاح جائز ګڼړي۔

(٢) او ځیني وائي چه ددے نه مراد یهود او نصاریٰ دي چه په ټول عالَم کې د دوی دلاسه بې حیائي خوره ده۔ (السُدیؒ) (٣) ځیني وائي زناکار خلك مرادي۔ (مجاهدؒ)

(٤) لیکن ظاهر دا ده چه آیت ټولو ته شامل دے (ابن زیدؒ) او دا ټول خلك څوك په زنا سره خلك د الله نه اړوي، څوك په عملِ قوم لوط سره لکه ددے دپاره قوانین پاس کوي چه

د هلکانو سره واده کول جائز دی لکه د یورپ ممالکو کی دا قصے موجودی دی۔ او ځینی کفار په تصاویرو او د موسیقی په آلاتو او په انټرنیټ او کیبلو سره خلك د الله نه اړوی، ماشومانو ته داسے دوائی ورکول چه زر زر بالغ شی او شهوات ئے په لاس کی نیولی وی او تباهئ طرفته روان وی، او هیڅ پابندی پرے نهٔ وی، دا (مَيْلًا عَظِيمًا) دے۔ نو په دین باندے عمل کولو کی د بنده اخلاق، عزت، عفت او صحت ټول باقی پاتی کیږی او په خواهشاتو سره ختمیږی۔ دارنګه یهودیان غواړی چه د پلار او د مور د خویندو (ترورپانو) سره دے نکاح جائز شی، او مشرکان اراده لری چه د میرے مور سره دے نکاح جائز وی او مجوسیان وائی چه هرکله چه د وریرے او خورزے سره نکاح حرامه ده نو پکار ده چه د ترهٔ او د ماما لور سره هم حرامه شی۔

مَيْلًا عَظِيمًا : میل (میلان) دے ته وائی چه انسان د نیغے لارے نه واوړی او د مغضوب علیهم لارے ته واپس شی۔ (سعدیؒ) او پدے کی اشاره ده چه مؤمن نه هم کله کله ګناه کیږی خو نا څه میلان پکی پیدا کیږی لیکن د باطل پرستو سره پوره موافقت کول او ګناهونه خائسته او حلال ګنړل دا پوره میلان دے۔ O دارنګه (مَيْلًا عَظِيمًا) دا هم دے چه انسان د الله او د هغه د شریعت او د عقل او فطرت ټولو نه واوړی)

يُرِيدُ اللهُ أَنْ يُخَفِّفَ عَنْكُمْ : یعنی الله تعالیٰ پدے احکامو سره په تاسو باندے آسانی راوستل غواړی ځکه چه الله تعالیٰ ته ستاسو کمزورتیا معلومه ده پدے وجه ئے خاص یو څو محدود ګروپونه حرام وګرځول او باقی ټولے زنانه ئے درته حلالے کړے تر څلورو پورے او ددے نه علاوه د وینځو نکاح ئے هم درته جائز کړه او ستاسو د عفت او پاکدامنئ ساتلو لحاظ ئے وکړو۔

فائده : الله تعالیٰ (يَتُوبَ عَلَيْكُمْ) جمله دوه کرته ذکر کړه دے دپاره چه مؤمنانو ته اطمینان ورکړی چه که دوی پدے مخکنو احکامو او حدودو کی خطا شی نو الله توبه قبلونکے دے نو امید دے چه ددے احکامو په عملی کولو کی به کامیاب شی۔ او دارنګه دا اطمینان ئے پدے جمله (أَنْ يُخَفِّفَ عَنْكُمْ) سره نور هم مضبوط کړو چه الله په تاسو باندے داسے تکلیف نهٔ ردی چه د هغے بوج تاسو نهٔ شئ برداشت کولے او یا پکی ډیر زحمت وی بلکه دغه آسان احکام دی۔

فائده ۲: د تخفیفونو څو مثالونه

زمونږ امت مسلمه د پخوانو امتونو په شان د درنو احکامو نه خالی دے لیکن کفارئے د

خلکو په دماغو کې درانهٔ ښکاره کوي او ساده ګان مسلمانان تیرباسي چه د اسلام احکام ډیر درانه دي دے دپاره چه د آزادئ په نوم سره ئے د اسلام نه بیزاره کړي. نو مونږ د نکاح متعلق قوانینو کې د اسلام د آسانئ څو مثالونه ذکر کوو:

(۱) اسلام د یوے ښځے نه تر څلورو پورے اجازه ورکړیده. د مسلمان د خواهشاتو لحاظ ئے ساتلے دے. که داسے ئے وئیلي وے چه نکاح به نهٔ کوئ نو څومره به ګرانه وه.

(۲) د څوارلس قسمه زنانو نه علاوه تولي ئے حلالے کړے.

(۳) د وینځو د نکاح اجازه ئے ورکړیده.

(٤) د یتیمو جینکو سره ئے د نکاح اجازه ورکړه.

(۵) که دائے وئیلي وے چه مهر بالکل نهٔ معاف کیږي نو هم ګرانه به وه.

(٦) د احادیثو نه ثابته ده چه د نکاح په نیت پردئ ښځے ته کتل جائز دي.

(۷) د احکامو حکمتونه ئے وخودل دے دپاره چه مسلمانانو ته ددے احکامو آسان والے معلوم شي.

(۸) د تقصیراتو نه د توبې قبلول هم ډیره لویه آساني ده، مګر د اسلام دشمنان همیشه پدے تخفیفاتو باندے سترګے پټوي.(راجع عزیز التفاسیر بتصرف)

وَخُلِقَ الْإِنسَانُ ضَعِيفًا: انسان ځکه ضعیف دے چه اسباب د شهوت او د لذت ئے زیات دي نو د هغے د دفع کولو نه عاجز دے ځکه چه عزم او همت ئے کمزورے دے او نفس ئے هم ضعیف دے. (قاسمي)

ددهٔ خواهش دهٔ لره مائله کوي او غضب ئے سپکوي او دا ډیره کمزورتیا ده پدے وجه تخفیف ته محتاج دے.

(۲) طاووسؒ وائي: ضَعِيفًا اَیْ فِیْ اَمْرِ النِّسَاءِ لَایَصْبِرُ عَنْهُنَّ: (ابن ابی حاتم- قاسمي)

د ښځو په باره کې عاجز دے د هغوی نه صبر نشي کولے. او طاووسؒ دا هم وائي: انسان په هیڅ شي کې دومره ضعیف نهٔ دے څومره چه د ښځو په باره کې دے. (قرطبي)

او ددے نه معلومه شوه چه دین اسلام د ټولو دینونو نه غوره دے ځکه چه د انسانانو د حالت سره پوره مناسب دے. (احسن)

د انسان د ضعف

انسان اګرکه په زمکه باندے خلیفه دے او د زمکے په څیزونو باندے حکومت کوي

لیکن د شهوت په مقابله کې ډیر کمزوري دي، پدې وجه یهودیان او نصاریٰ (کفار) وائي چه یوه ښځه د اسلام د تخریب او د عیسویت د ترویج دپاره دومره کار کولې شي چه سل تنه نارینه هغومره کار نشي کولې۔

سعید بن المسیب رحمه الله وائي چه زما عمر اتیا کالو ته رسیدلې دې او یوه سترګه مې ړنده ده خو په همدغه حالت کې هم زهٔ په خپل ځان باندې د بل شي نه نهٔ یریږم چه په ګناه کې به مې اخته کړي لکه څومره چه د ښځو نه یریږم۔ (تفسیر الکشاف ۱/۰۱ ۵ والقرطبی)

د عباده بن صامت ﷺ نه قرطبیؒ وغیره نقل کړیدي: ما خو تاسو ګورئ چه انتهائي درجه بوډا یم او ملګرې (تناسلي آله) مې ړنده کنه ده خو په دغه حالت کې هم یریږم چه که د غیر محرمې زنانه سره یوائې شم نو شیطان به راشي او مړ ملګرې به مې راژوندې کړي او په ګناه به مې ککړ کړي۔ (القرطبی ۱٤۹/۵)

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَاتَأْكُلُوْا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُوْنَ
اې ایمان والو! مهٔ خورئ مالونه خپل په مینځ خپل کې په نارواؤ لیکن چه وي دغه طریقه
تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ وَلَا تَقْتُلُوْا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللهَ كَانَ بِكُمْ
د تجارت په رضا سره ستاسو نه او مهٔ وژنئ ځانونه خپل بیشکه الله دې په تاسو
رَحِيْمًا ﴿۲۹﴾ وَمَنْ يَفْعَلْ ذٰلِكَ عُدْوَانًا وَظُلْمًا فَسَوْفَ
مهربان۔ او چا چه اُوکړو دا کار په تجاوز سره او په ظلم سره نو زر دې
نُصْلِيْهِ نَارًا وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللهِ يَسِيْرًا ﴿۳۰﴾
چه مونږ به داخل کړو هغه لره اُور ته او دې دا کار په الله باندې آسان۔

تفسیر : ربط : مخکې د عزت د حفاظت احکام وو او د یتیمانانو او د زنانو حقوق ذکر وو اُوس د خلکو د مالونو د حفاظت احکام راوړي۔

بِالْبَاطِلِ : باطل د حق په مقابله کې استعمالیږي نو هر شے چه ثبات او قرارې ونهٔ لري هغه د باطل په نوم یادیږي (مفرداتِ راغب ص۴۸) نو پدې مقام کې د باطل نه ټولې هغه ناحقه طریقې مراد دي چه په هغې سره مالونه حاصلیږي لکه غلا، بیع الغرر (د دوهوکے سودا) غصب، جواري، خیانت، رواجي خوارکونه چه د بنده خپل مال وي لیکن په غلطه

طریقه ئے استعمال کړی، غلط بدعی خیرات پرے وکړی نو باطل شو، خاص وخت ورله مقرر کړی او هغه عبادت وګنی۔ دارنګه ټول پردی مالونه خوړل په خیانتونو او انکار وغیره سره۔ دارنګه د جاهلیت بیوع لکه بیع الحَصَاة، بیع مُلَامَسَه، بیع مُنَابَذَه او بیع حَبْلِ الْحَبَلَه وغیره دا ټول بیوع باطل دی۔

إِلَّآ أَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً : (تکون) کی ضمیر مخکی معاملے ته یا مالونو ته راجع دے۔

سوال : د حلال مال د حاصلولو خو ډیرے طریقی دی لکه میراث، هبه، تجارت، مهر وغیره نو څه وجه ده چه دلته صرف تجارت ذکر شو؟۔

جواب : پدے کی اشاره ده چه د مالونو د حاصلولو دپاره ډیره ښه لاره تجارت دے۔

الا ان تکون : دا استثناء منقطع ده په معنیٰ د لٰکِنْ سره۔

عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ : دا متعلق دے په (صَادِرَةً) مقدر پورے یعنی چه دا تجارت صادر وی د رضا مندی ستاسو نه۔ او تراضی قید ئے پدے وجه ولګولو چه په جاهلیت والو باندے رد وشی هغوی به بیع الْحَصَاة او مُلَامَسه او مُنَابَذَه کوله چه په هغے کی به رضا نۀ وه، مالك به یو شے ګاهك ته راواخستو نو هغه به لازم شو، یا به اخستونکی په یو شی باندے کانړے ویشتو یا به ئے ګوتے وروړے نو د هغے اخستل به پرے لازم شو اګرکه هغه به خراب شے وو، نو اسلام کی دا قانون راغلو چه دواړه اخستونکی خرڅونکی به په رضا سره معامله کوی او خیار مجلس به هم باقی وی که په دے مجلس کی هر یو پښیمانه شو نو بیع به سرته نۀ رسیږی۔

د ځان وژل حرام دی

وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ : د ځان وژل ولے حرام دی؟ ځکه چه پدے کی د الله تعالیٰ د فراخه رحمت نه نا امیدی ده چه پدے سره ئے الله تعالیٰ جهنم ته داخلوی۔

(اَنْفُسَكُمْ) نه مراد همجنس دی یعنی نور مسلمانان مۀ وژنئ او داسے ئے وګنړئ لکه خپل ځانونه۔

یا د اَنفس نه مراد خپل ځانونه وژل دی نو ددے بیا ډیر صورتونه دی :

(۱) بِالسَّیْفِ وَالسِّنَان : یو دا چه د دنیا د څه مشکلاتو د وجه نه خپل ځان په توره، نیزه وغیره قتل کړی، لکه نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چه په پخوانو امتونو کی یو سړے وو چه په لاس ئے څه زخم وو کله چه زخم ډیر وار خطا کړو نو خپل لاس ئے پریکړو او وینه ئے

ونهٔ دریده تردے چه مړ شو نو الله وفرمایل : (بَادَرَنِیْ عَبْدِیْ بِنَفْسِهٖ حَرَّمْتُ عَلَیْهِ الْجَنَّةَ)۔ (صحیح البخاری ۱/۴۹۲) یعنی ما ته خپل بنده خپل ځان په جلتیٔ سره راوستو خو ما پرے جنت حرام کړیدے۔

(۲) بالإلْقَاءِ إِلَی التَّهْلُکَةِ۔ د هلاکت ځای ته ځان غورزول لکه په حدیث کی دا معنیٰ راغلے ده، سیدنا عمرو بن العاص ﷺ په غزا د ذات السلاسل کی امیر وو نو احتلام ئے وشو، اُوبه ډیرے یخے وے نو هغه اودس او تیمم وکړو او ملګرو ته ئے مونځ وکړو، ملګرو ورته وویل په جنابت کی دے مونځ وکړو، هغه وویل : همدغسے مے وکړو، ملګری بیا رسول الله ﷺ ته راغلل شکایت ئے وکړو نو هغه عمرو بن العاص ﷺ راوغوښتو، هغه ورته وویل : اے د الله رسوله ! اُوبه ډیرے یخے وے او ما د الله نه آوریدلی وو چه (وَلَا تَقْتُلُوْا أَنْفُسَکُمْ) تاسو خپل ځانونه مهٔ وژنیٔ۔ نو ما تیمم ووهلو او مونځ مے وکړو :(فَضَحِكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَلَمْ یَقُلْ شَیْئًا) نو رسول الله ﷺ وخندل او هیڅ ئے ونهٔ ویل۔ (سنن ابی داود ۱/۴۸)

(۳) لَا تَقْتُلُوْا أَنْفُسَکُمْ بِتَرْكِ التِّجَارَةِ ۔ ځانونه مهٔ وژنیٔ پدے طریقه چه تجارت پریدیٔ بلکه همت وکړیٔ او تجارت وکړیٔ خپل ځان او بچو له نفقه پیدا کړیٔ۔

(٤) لَاتَقْتُلُوْا أَنْفُسَکُمْ بِأَکْلِ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ ۔ پردے مال چه دے وخوړو داسے شو لکه چه ځان دے مړ کړو۔ نو د مال په حاصلولو کی روا او ناروا ته وګوریٔ او خپل ځانونه پرے مهٔ ګناهګاروئ ځکه د دوزخ مستحق به شیٔ۔

(۵) د مالونو په حاصلولو کی دومره مشقتونه مهٔ برداشت کویٔ چه د خپلے وسی نه مو اُوچت وی او ځانونه وریاندے مړهٔ کړیٔ او داسے کارونه وکړیٔ چه مرګ ته پرے ورسیږیٔ۔ دا ټول مطلبونه په آیت کی مراد کیدے شی مګر ظاهر اول او دویم مطلب دے۔

ذٰلك : پدے کی اشاره دغه قتل ته، یا ټولو ذکر شوو کارونو ته اشاره ده (یعنی د یتیمانانو مالونه خوړل، نکاح د یتیمانانو جینکو سره، پردی مالونه په باطله خوړل او قتل ته)

عُدْوَانًا وَظُلْمًا : عدوان د حد نه تیروتلو ته وائی او ظلم زیاتی ته وائی نو عدوان متعدی ګناه ده او ظلم لازمه ګناه ده۔ نو معنیٰ دا چه هر څوك چه ذکر شوی احکامو کی په بل چا باندے تجاوز وکړی چه یا ئے مالونه هلاك یا ئے قتل کړی او یا په خپل ځان باندے زیاتے وکړی چه خپل مالونه په جنایتونو کی ولګوی یا پرے خپل ځان قتل کړی یا ئے په معنوی طریقه هلاك کړی چه د الله د غضب مستحق ئے جوړ کړی نو د داسے خلکو اُور ته داخلیدل یقینی دی، دا بیا بیله خبره ده چه حلال ګنړونکے به پکی همیشه وی او ګنهګار

به ترے یو وخت کی راویستلے شی۔
بل فرق دا دے چه عدواناً دے ته وائی چه یو شے ابتداءً جائز وی لیکن زیات په کی حرام وی لکه مثلًا په وړوکی نهر کی لامبل جائز دی یو سړے ځان د سمندر مینځ ته بوځی او مړ شی نو عدوان ئے وکړو۔ او ظلم دا دے چه په چاړه باندے ځان ووهی یا په توپك چه په هغے کی ابتداءً حرمت دے۔
او دا دوه قیدونه ئے پدے وجه ولګول چه کله یو تن دا کارونه په سهوه او خطائی سره وکړی نو هغه ماخوذ نهٔ دے لکه ځان په خطاء سره قتل کړی۔
وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللهِ يَسِيْرًا : دا ئے ولے ویل چه دا کار په الله آسان دے؟۔
پدے کی مسلمانانو ته یره ورکوی چه هسے نهٔ دوی دا ګمان وکړی چه مسلمانان خو الله ته ګران دی نو دوی به اُور ته نهٔ داخلوی ځکه چه دا کار به الله ته ګران وی نو الله فرمائی : چه دا کار په الله آسان دے ځکه چه تاسو په چا ظلم او تجاوز کړے وی نو د هغوی انتقام به درنه ضرور اخلی۔

إِنْ تَجْتَنِبُوْا كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ
که ځان وساتئ تاسو د لوئی ګناهونو هغونه چه منع شوی یئ تاسو د هغے نه نو مونږ به ورژوو
عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَنُدْخِلْكُمْ مُّدْخَلًا كَرِيْمًا ﴿٣١﴾
ستاسو نه واړهٔ ګناهونه ستاسو او داخل به کړو تاسو لره ځای د داخلیدو عزتمند ته۔

تفسیر : پدے آیت کی الله تعالیٰ د کبائرو ګناهونو نه منع کړیده او زیرے ئے ورکړیدے په معاف کولو د وړو ګناهونو۔ په هغه اتو آیتونو کی یو آیت دا هم دے چه د امت دپاره پکی زیرے پروت دے۔ الله پدے کی وعده کړیده چه د کبیره ګناه نه ځان وساته نو صغیره به درته همداسے معاف کوم بغیر د توبی نه او جنت ته دے هم داخلوی۔
ربط : مخکی د نفس حفاظت وو نو اُوس دلته د ایمان حفاظت ذکر کوی۔

د ګناهونو اقسام

ددے آیت نه معلومه شوه چه ګناهونه دوه قسمه دی : یو قسم صغائر دی او بل کبائر۔ چه د دوی ترمینځ په قرآن او احادیثو کی څه حد فاصل نهٔ دے ذکر شوے چه فلانی ګناهونه صغائر او فلانی کبائر دی اګرکه په احادیثو کی ځینو ګناهونو ته کبائر وئیل

شویدی په بعضو کی درے او په بعضو کی اوه او په بعضو کی اویا خودلے شویدی او ځینو تر اوه سوو پورے ذکر کړیدی چه هغه په مشکاة المصابیح، تفسیر الدر المنثور (۲/۵۰۰) او تفسیر ابن کثیر (۱/۴۸۱) او الکبائر د الذهبیؒ او الزواجر عن اقتراف الکبائر د هیثمیؒ کی کتلے شیٔ. البته علماء کرامو ددے د فرق دپاره مختلف قسم تعریفونه کړیدی چه تقریباً پنځلسو ته رسیږی. (۱) ځینی علماء وائی چه دلته توقف بهتر دے دے دپاره چه څوك یوے گناه ته هم په سرسری نظر ونهٔ گوری چه دا صغیره ده پدے وجه الله تعالیٰ پټ کړیدی. او همدا اظهر قول دے.

(۲) ځینی وائی چه په کوم د اُوریا د حد یا د غضب یا د لعنت وعید بیان شوے وی نو هغه به کبائر وی باقی صغائر دی.

(۳) عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فرمائی :

(لَا كَبِيْرَةَ مَعَ الْإِسْتِغْفَارِ وَلَاصَغِيْرَةَ مَعَ اِصْرَارٍ) لویه گناه د استغفار سره لویه نهٔ پاتی کیږی او وړه گناه چه همیشوالے پرے کیږی وړه نهٔ پاتی کیږی (بلکه غټیږی). یعنی لویه گناه په استغفار سره کمیږی او چه وړه شی نو بیا ختمیږی او وړه گناه چه همیشه کیږی نو غټیږی تردے چه لویه گناه ترے جوړه شی.

(٤) ځینی وائی چه یوه گناه به د خپل ذات په اعتبار سره وړه وی لیکن په نظر سره بلے ته به لویه وی، دغه شان بل طرفنه واخله. دارنگه د گناهونو وړوکوالے او غټ والے د اوقاتو او اشخاصو په اعتبار سره بدلیږی رابدلیږی لکه چه وئیلے شی : حَسَنَاتُ الْأَبْرَارِ سَيِّئَاتُ الْمُقَرَّبِيْنَ. د نیکانو حسنات د مقربو خلکو دپاره گناه گڼل کیږی.

(٥) دمالك بن مِغْوَل نه نقل دی چه د اهل سنتو گناهونه صغائر دی او د اهل بدعت گناهونه کبیره دی.

(٦) ځینی وائی چه په جرأت سره وشی کبیره ده او چه په یره یره وشی نو صغیره ده.

لیکن حقه خبره دا ده چه د کبیره او صغیره تعیین او تعریف قرآن او حدیث نهٔ دے کړے دے دپاره چه بندگان وریږی لکه د ترغیب دپاره الله تعالیٰ د لیلة القدر شپه پټه ساتلے ده، د جُمعے په ورځ د اجابت وخت پټ دے، اسم اعظم پټ دے. لیکن رسول الله ﷺ چه کومو گناهونو ته کبائر وئیلی دی نو هغه او هغے ته ورته (مشابه) گناهونه کبائر دی او باقی صغائر دی.

او باقی تفصیل دپاره زمونږ کتاب «الحق الصریح شرح مشکاة المصابیح ۱/ باب الکبائر

وعلامات النفاق)) ته رجوع بهتره ده۔
فائده : معتزله ددې آيت نه دليل نيسي چه آيت کې راغلل چه که تاسو د لويو گناهونو نه ځان ساتئ نو واړه به درته معاف کوم نو مفهوم ئې دا دې چه که د لويو گناهونو نه ځان نۀ ساتئ نو واړه به درته نۀ معاف کوم۔ نو ددې نه معلوميږي چه دا شخص په کبيره گناه کافر دې ځکه ئې واړه گناهونه نۀ معاف کيږي۔ ليکن د عام اهل سنت والجماعة عقيده دا ده چه په کبيره گناه باندې (سِوئ د شرك او کفر نه) بنده نۀ کافر کيږي او هرچه دا آيت دې نو پدې کې الله تعالیٰ يو طرف ذکر کړيدې چه د لويو گناهونو نه ځان ساتلو سره واړه گناهونه معاف کيږي، او بل طرف نه الله تعالیٰ سکوت کړيدې او هغه دا چه چا لوی گناهونه وکړل نو آيا صغيره به ئې معاف کيږي او که نۀ ؟ نو د نورو شرعي دلائلو نه معلوميږي چه که بنده کبائر کوی هم صغائرئې معاف کيږي لکه فرضي مونځونه او نور عبادتونه د گناهونو د مغفرت اسباب جوړيږي۔
خودلته ئې دا قيد پدې وجه لګولې دې چه بندګان د لوی ګناهونو نه ځان وساتي پدې طمع چه صغائر به مو معاف شي۔ يعني د کبائرو نه د ځان ساتنې دپاره دا امتياز وخودل شو چه صغائر ورسره معاف کيږي خو دا نۀ دی ويل شوی چه د صغائرو او د کبائرو د بخښلو بله لاره نشته، بلکه کله چه د الله اراده وشي نو ټول ګناهونه بې قيد او شرطه هم بښي لکه الله فرمائي : ﴿اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ﴾ (الزمر: ۵۳) يقيناً الله تعالیٰ ټول ګناهونه بښي ځکه چه هغه بخښنه کونکې رحم کونکې دې۔
مسئله : کـه يو تن د کبيره گناهونو نه ځان ونۀ ساتي نو آيا کبيره گناهونه به ئې د توبې نه بغير معاف شي او که نۀ ؟ نو اکثرو علماؤ وئيلي دي چه د توبې نه بغير کبيره گناهونه نۀ معاف کيږي۔ او د شيخ الاسلام ابن تيميةؒ او محققينو علماؤؒ رايه دا ده چه کبائر هم ډير کرته بغير د توبې نه معاف کيږي لکه دا په يولسو اسبابو سره معاف کيږي په مصيبتونو، د قبر په عذاب، په جنازه او فرض مونځونو او روژو او نور نيك اعمالو او په شفاعت سره او د الله په رحمت سره چه تفصيل ئې په ((الحق الصريح)) کې وکورئ۔
فائده : دلته هغه گناهونه مراد دي چه د الله تعالیٰ د حقوقو سره متعلق وي چه که د الله خوښه شي معاف به ئې کړي او که نۀ وي نو سزا به ورکړي او هرچه پردي حقوق دي يا شرك دې نو هغه نۀ معاف کيږي ترڅو چه بندګانو نۀ وي معاف کړې، يا ئې د شرك نه توبه نۀ وي ويستلې۔

مُدْخَلًا : ځای د داخلیدو ته۔
كَرِيْمًا : ځوك چه د ګناهونو نه ځان ساتی هغه کريم (عزتمند) دے نو لائق دی چه عزتمند ځای ته داخل شی چه هغه جنت دے۔

وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللّٰهُ بِهٖ بَعْضَكُمْ
او ارمان مهٔ کوئ د هغه شی چه غوره کړيدی الله تعالیٰ په هغے سره بعض ستاسو نه
عَلٰی بَعْضٍ لِلرِّجَالِ نَصِيْبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوْا وَلِلنِّسَآءِ نَصِيْبٌ
په بعضو باندے، د سړو دپاره برخه ده د هغه څه نه چه دوی کړی وی او د زنانو دپاره برخه ده
مِّمَّا اكْتَسَبْنَ وَاسْئَلُوا اللّٰهَ مِنْ فَضْلِهٖ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ
د هغه څه نه چه دوی کړی وی او غواړئ د الله نه د مهربانئ د هغه نه یقیناً الله دے
بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِيْمًا ﴿۳۲﴾
په هر شی باندے پوهه۔

تفسیر : پدے آیت کی د حسد او د تمنی (آرزو) کولو نه منع شویده۔ یعنی الله تعالیٰ مسلمانان ددے خبرے نه منع کړیدی چه دوی تمنا اُوکړی چه الله نورو ته څه ورکړیدی هغه دوی ته ورکړے شی ځکه چه داسے قسم خواهش د الله په تقدیر باندے د نهٔ راضی کیدو دلیل دے، او که ددے خواهش سره دا تمنا هم ملګری شی چه د نورو نه دا نعمت الله واخلی نو دا به حسد وی چه د هغے نه الله په سختئ سره منع فرمائیلے ده۔

ربط

(۱) مخکی د ناجائز عمل نه منع وشوه چه پردی مالونه خوړل یا قتل وقتال دے نو دلته د ناجائز نیت نه منع شویده۔
(۲) مخکی ئے وویل چه د حرام خورئ او د مسلمان وژلو نه ځان وساتئ چه دا ډیر لوی ګناهونه دی نو پدے آیت کی وائی چه د ذکر شوو ګناهونو د اسبابو نه هم ځانونه وساتئ چه هغه حسد کول دی د چا په مال یا منصب باندے، یا د هغے آرزو کول دی چه سبب د قتل دے۔

شان نزول

ددے آیت په شان نزول کی ډیر واقعات روایت شویدی :

(۱) ام سلمه رضی الله عنها نبی کریم ﷺ ته عرض وکړو اے د الله رسوله ! : نارینه غزا کوی او مونږ غزا نۀ کوو (د غزا د اجر نه محروم یو) او مونږ لره په میراث کې هم د نارینه ؤ نیمائی برخه مقرر شویده نو که مونږ نارینه وے مونږ به هم غزا کولے او د هغوی په شان په میراث کې به مو پوره برخه اخستے ؟ (الترمذی ۱۳۱/۲) واحمد) نو دا آیت نازل شو۔

(۲) کله چه د میراث آیتونه نازل شو نو نارینه ؤ وویل چه پکار ده چه مونږ په زنانو باندے په آخرت کې هم دوه چنده اجر واخلو لکه په میراث کې چه دوچنده برخه اخلو او ښځو وویل چه ارمان دے چه مونږ د نارینه ؤ په نسبت د ګناهونو په پیتی کې هم په مونږ نیمائی بار کړے شی لکه څنګه چه راته په میراث کې نیمائی برخه راکول کیږی۔ (اسباب النزول للواحدی ص ۹۹)

(۳) د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه یوے ښځے نبی کریم ﷺ ته وویل : اے د الله رسوله ! آیا زنانه د نیك اعمالو په اجرونو کې هم د نارینه ؤ په نسبت نیمائی دی لکه څنګه چه په میراث او شهادت (ګواهی) کې نیم په نیمه دی ؟ نو دا آیت نازل شو۔ (تفسیر ابن کثیر ۴۴۸/۱)

امام طبریؒ او ابن المنذرؒ وغیره د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړیدے چه هغوی اُوئیل چه بنده ډِے داسے تمنا نۀ کوی چه ارمان ! چه ما ته د فلانی مال او د هغه اهل وعیال راکړے شوی وے !، ځکه الله ددے نه منع فرمائیلے ده، بلکه بنده له پکار دی چه د الله فضل اُوغواړی، الله تعالیٰ په سړو او ښځو دواړو کې جدا جدا صلاحیت ایخودے دے، او هر یو ته د هغوی د صلاحیت او محنت مطابق د دنیاوی نعمتونو نه حصه ملاویږی، پدے وجه د الله په تقدیر باندے راضی اُوسیدل پکار دی، او ددے ایمان سره ژوندے اُوسیدل پکار دی چه الله په حکمتونو ښه عالِم دے او هر یو لره د الله نه د هغه فضل او کرم غوختل پکار دی، دارنګه په دعا کې ښه مبالغه کول پکار دی دے دپاره چه الله دعا قبوله کړی او خپل فضل او کرم ورکړی۔ نو تا باندے چه الله کومے ذمه واریانی ایښودی دی که په هغے عمل وکړے نو الله دے جنت ته داخلوی نو تمنا او آرزو ته څه ضرورت دے۔

نو ښځے به د سړو فضائل او خصوصیات نۀ غواړی په کوم باندے چه هغوی ته الله غوره والے ورکړیدے او نۀ به فقیر او نقصان والا انسان د مالدار او کمال والا د حالت ارمان کوی ځکه چه دا بیا حسد جوړیږی، او د الله په تقدیر باندے د ناراضګی او سستوالی ته د میلان سبب جوړیږی۔ بلکه بنده له دوه کاره پکار دی چه یو دا چه بنده د خپل قدرت موافق په

دینی او دنیوی فائدو حاصلولو کی کوشش وکړی او سستی ونکړی چه د بل چا ارمانونه کوی، او بل ډیے د الله نه د هغه د مهربانئ سوال وکړی نو په ځان او د خپل رب نه علاوه په بل چا باندیے ډیے اعتماد او بهروسه نکوی او دا د بنده کمال دیے۔

(تفسیر السعدی ۱/۱۷٦) وتیسیر الرحمن)

بیا ددیے آیت حکم هر چا ته عام دیے، یو سړی ته الله تعالیٰ صحت ورکړیے، مال ئے ورکړیے، په جهاد کی وخت ډیر تیروی، عالِم دیے، ښه واعظ دیے، ښه آواز والا دیے، ښه کور او جائیداد والا دیے، نو بل به دا آرزو نهٔ کوی چه الله ددهٔ نه دا نعمت واخلی او ما ته ئے راکړی دا تمنا په درجه د حسد کی ده۔

او بندګانو ته شیطانان داسے وسوسے اچوی چه د فلانی ځومره ډیر مال دیے او ته څومره غریب یی، څومره به ښه وی چه د هغه نه اخستل شوے وے او تا ته درکړے شوے وے،

O یا هغه هم ستا په شان غریب وے چه دواړه برابر وے۔ O کاشکی چه زهٔ هم نارینه وے چه جهاد مے کړے وے یا به شهید شوے وے او یا به ډیر غنیمتونه لاس ته راغلی وے۔

O مونږ زنانه ډیر کمزوری مخلوق یو خو افسوس چه په میراث کی مونږ ته د سړو په شان برخه راکړے شوے وے، یا زمونږ برخه زیاته وے۔

O او پدیے کی دا هم داخلیږی چه بنده د حرامو څیزونو د حلال والی ارمان وکړی چه مثلًا شراب حلال وے نو ښه به وه، دا ټولے ناروا ارزوګانی دی۔

البته کـه یو تن داسے ارمان وکړی چه د فلانی په شان نعمت ما ته هم راکړے شی نو بیا دا کار بهتر نهٔ دیے مګر په دوه څیزونو کی، یو دا چه یو تن ته الله مال ورکړے وی او په دین کی ئے لګوی، یا ئے علم ورکړے وی او هغه خلکو ته خوروی او دیے ته غبطه (رشك/ پسخیدل) وائی۔ کما فی الحدیث۔

لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ : یعنی سړی چه کوم کسب کوی د هغے برخه به ورته ملاویږی نو د سړو کسب زیات وی، نفقه ورپه غاړه وی نو ځکه ورته میراث زیات ملاویږی او د زنانو ذمه واری په نفقه کی کمه ده نو ځکه ئے میراث هم کم دیے۔

یا دا چه هر بنده خپل همت کوی ځکه ورته د هغے مطابق برخه ملاویږی۔

دویم : دا د آخرت سره لګی یعنی د دنیا ارمان څه له کوے بلکه نیك عمل وکړه، په آخرت کی د سړی او د ښځے فرق نشته، ټولو ته به د خپلو عملونو اجرونه ملاویږی، که ښځه په عمل کی زیاته وه اجر به ئے زیات وی او دغه شان سړیے۔ نو دا به د (أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ

عَامِلٍ مِنكُمْ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى) په شان وي۔
وَاسْئَلُوا اللهَ : یعني تمنی ته ضرورت نشته بلکه د خزانو مالك الله دے، د هغه نه ئے وغواړه چه درئے کړي۔
مِنْ فَضْلِهِ : مِنْ تبعیضیه دے یعني بعض مهرباني د الله نه وغواړئ ځکه چه ټول فضلونه بنده ته په دنیا کی نشي ورکړے کیدے۔ یا مِنْ اَجلیه دے یعني د الله نه خپل حاجتونه وغواړي پدے وجه چه الله مهرباني کوي۔ لکه حدیث کی دي :
مَنْ لَّمْ يَسْئَلِ اللّٰهَ يَغْضَبْ عَلَيْهِ۔ (احمد، والترمذی۳۳۷۳ واسنادہ حسن، البانی)
څوك چه د الله نه سوال نکوي الله ترے ناراضه کیږي۔
یو شاعر هم دا معنیٰ ادا کړیده :

وَابْنُ آدَمَ حِيْنَ يُسْأَلُ يَغْضَبُ		اَللّٰهُ يَغْضَبُ اِنْ تَرَكْتَ سُؤَالَهُ

د الله نه که ډیرے سوال پریښودو ناراضه کیږي او بنیادم نه چه کله سوال کیږي نو هغه غصه کیږي۔ نو ولے د داسے ذات نه سوال نشي کیدے چه هغه په سوال خوشحالیږي، مهربانیانی ورسره بی شماره دي۔ یا (مِنْ) زیاتی دے یعني د الله نه د هغه مهرباني غواړئ۔

وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ
او د هریو کس دپاره ګرځولي دي مونږ وارثان د هغه مال نه چه پریښے وي مور او پلار
وَالْأَقْرَبُوْنَ وَالَّذِيْنَ عَقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ فَآتُوْهُمْ
او خپلوانو او هغه کسان چه تړلي دي قسمونه ستاسو (د هغوی سره) نو ورکړئ دوی ته
نَصِيْبَهُمْ إِنَّ اللهَ كَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدًا ﴿۳۳﴾
برخه د دوی یقیناً الله دے په هر شي باندے ګواه۔

تفسیر : پدے آیت کی دوه حصے دي، اوله حصه کی الله تعالیٰ دا خبر ورکړیدے چه مونږ د هر چا دپاره سرے وي او که ښځه وارثان مقرر کړیدي او د هرے ترکے (پاتی شوی مال) دپاره مو مستحقین متعین کړیدي، نو هغوی ته خپل خپل میراث وسپارئ او پدے کی د خپلو آرزوګانو په وجه تبدیلی مۀ راولئ۔ لکه چه په صحیحینو کی د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل شویدي چه رسول الله ﷺ اوفرمایل : ((د میراث حصے د هغوی

حقدارانو ته ورکړئ، دے نه روستو چه څه پاتے شي نو هغه عصبه يعني د تولو نه نزدے سړي خپلوان ته ورکړئ))۔

بيا پدے کې (۱) يوه توجيه دا ده چه (لِكُلٍّ) کې تنوين عوضي دے اَیْ لِكُلِّ اَحَدٍ، مَوَالِي جمع د مولىٰ ده خپلوان ته وائي، دلته ترے ميراث خور مراد دے۔ په اصل کې مَنْ لَهُ وِلَايَةٌ عَلَى التَّرِكَة) ته وائي يعني هغه څوك چه د هغه تصرف او واك وي په ترکه باندے۔ (المنار) او (مِمَّا) کې د (مَا) موصوله نه مراد مال دے او (تَرَكَ) کې ضمير راجع دے دغه اَحَد ته او (الوالدان والاقربون) بدل يا بيان دے د مَوَالي دپاره په اعتبار د مبتداء محذوفے سره۔ (اَیْ هٰؤُلَاءِ الْمَوَالِيْ هُمُ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُوْنَ) (المنار) نو معنىٰ دا جوړيږي : د هر يو تن دپاره مونږ وارثان جوړ کړيدي د هغه مال نه چه دغه شخص پريخي وي چه هغه وارثان به يا مور پلار د دغه مړي وي يا به ئے نور نزدے خپلوان وي۔ (البيضاوي والمنار)

(۲) مضاف اليه د لِكُلٍّ دپاره (شَيْءٍ مِنَ الْاَمْوَالِ) لفظ دے او (الوالدان والاقربون) به فاعل د (تَرَكَ) وي نو معنىٰ دا جوړيږي : د هر يو مال دپاره مونږ وارثان جوړ کړيدي د هغه مال نه چه مور او پلار ئے پريدي يا ئے خپلوان پريدي نو د هغے ميراث خواره شته چه هغوی ته به ورکولے شي۔ نو معلومه شوه چه که مال لږ وي يا ډير وي نو هغه به د ميراث په طريقه تقسيمولے شي او د هلك او د جينئ فرق به پکې د ځان نه نشي کولے۔ او دغه شان هرکله چه الله د هر مال دپاره خپل خپل وارثان مقرر کړل نو د پردی مال تمنا به نشي کولے ځکه چه الله تعالىٰ د هر چا په حال ښه خبردار دے۔

(۳) صاحب المنارؒ د خپل استاذ نه ددے دواړو جملو داسے تفسير نقل کړيدے :
(اَیْ لِكُلٍّ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ مَوَالِيَ لَهُمْ حَقُّ الْوِلَايَةِ عَلٰی مَا يَتْرُكُوْنَ مِنْ كَسْبِهِمْ وَهٰؤُلَاءِ الْمَوَالِيْ هُمُ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُوْنَ - وَالَّذِيْنَ عَقَدَتْ اَيْمَانُكُمْ اَیِ الْاَزْوَاجُ فَاِنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنَ الزَّوْجَيْنِ يَصِيْرُ زَوْجًا لَهٗ حَقُّ الْاِرْثِ بِالْعَقْدِ)۔ يعنى د هر يو د سړو او د ښځو دپاره -کومو دپاره چه د هغوی د کسب نه خپله خپله حصه وه- مونږ مقرر کړيدي وارثان چه هغوی د سړو او د زنانو نه په پاتې شوی مال کې د تصرف حق لري چه دغه وارثان مور او پلار دي او بل هغه کسان دي چه هغوی سره ستاسو قسمونه او لوظونه مضبوط شوي وي يعنى ښځه او خاوند ځکه چه هر يو د ښځے او د خاوند نه د ميراث حقدار دي په سبب د لوظ سره۔ فَاٰتُوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ : نو دوی ته د دوی مقرر کړے شوے برخے ورکړئ او هيڅ شے ترے مه کموئ او هرکله چه ميراث کې بعض وارثانو طمع لرله خاصکر هغه کسان چه د

هغوی په لاس کی مال وی پدې وجه چه دغه مړې د دوی سره وَسیدو نو الله وفرمایل : چه تولو میراث خورو ته خپلې برخې ورکړئ، او الله تعالیٰ ستاسو حال وینی چه تاسو په ترکه کی غلط تصرف ونکړئ او د بعض وارثانو سره حسد ونکړئ.
(ددې لنډ مطلب دا شو چه سړی او ښځې چه کوم مال پریدی نو الله ددې دپاره مور او پلار او نور نزدې خپلوان او ښځه او خاوند وارثان جوړ کړیدی نو دوی ته دوی دغه مقرر برخې ورکړئ)
صاحب المنار وائی چه زما د استاذ دا تفسیر د سیاق د آیتونو سره ډیر مناسب دې او هیڅ نسخ هم په آیت کی نشته، او باقی تفسیرونه تکلفات دی.
او د عقد نکاح دپاره عقد یمین استعمالیدل څه بعید نهٔ دی، ځکه چه په هغې کی هم وضع الیمین فی الیمین شته. (المنار ۵/۵۳/۵۵)

د عقد موالات میراث

د آیت د دویمې حصې ﴿وَالَّذِيْنَ عَقَدَتْ اَيْمَانُكُمْ﴾ مطلب دا دې چه تاسو چه کوم قَسم یا معاهده د چا سره کړیده، نو د هغې حصه هغه ته ورکړئ،
ددې آیت په تفسیر کی د علماؤ ډیر اقوال دی. چه تقریباً نهو ته رسیږی. (البحر المحیط۳/۶۲۱) تفسیر کبیر (۸۵/۱)
د هغه تمامو اقوالو د جمع کولو او په هغې باندې د سوچ کولو نه روستو غوره دا ښکاری چه دا آیت چه کله نازل شو نو د یو مخکنی حکم دپاره ناسخ وو، او څه ورځې پس د یو بل آیت په ذریعه پدې کی موجود حکم هم منسوخ شو. ددې اجمال تفصیل دا دې :
د اسلام نه مخکی او د اسلام په ابتداء کی درې قسمه عقدونه وو :
(۱) د اسلام نه مخکی به یو سړی بل ته د دوستیٔ لاس ورکړو او معاهده او قسم به ئے وکړو چه زما او ستا ښه او بده به شریکه وی او یو بل نه به میراث وړو نو کله چه به یو مړ شو نو بل به ئے وارث گڼل کیدو، دې ته عقدِ موالات او عقدِ حلف وائی.
کله چه اسلام راغلو نو دغه شان خلق موجود وو، او هغوی هم اسلام راوړې وو، نو رسول الله ﷺ هغه معاهدې باقی اُوساتلې او وې فرمایل چه اسلام د جاهلیت په هر حِلف او معاهده کی تاکید او شدت پیدا کړیدې، البته د آینده د یو نوی حلف نفی ئے اُوکړه او وې فرمایل : [لَا حِلْفَ فِي الْاِسْلَامِ] یعنی په اسلام کی هیڅ حِلف نشته. پدې طریقه به

مسلمانانو ته د هغوی د حلیف مسلمانانو د مرګ نه روستو د میراث شپږمه حصه ملاویده۔ نو دلته به معنیٰ دا وی:

وَالَّذِيْنَ عَقَدَتْ اَيْمَانُكُمْ فَآتُوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ مِنَ الْمِيْرَاثِ وَهُوَ السُّدُسُ)

هغه کسان چه ستاسو قسمونه ورسره مضبوط شویدی نو هغوی ته هم د میراث نه شپږمه برخه ورکړئ۔ دا تفسیر د سعیذ بن جبیرؒ، حسن بصریؒ او قتادهؒ دے۔ (قاسمی)

(۲) عَقْدُ التَّبَنِّی : یو سړی به یو بل تن په تبنی (زوی ولئ) سره ونیولو نو هغه به د سړی د مرګ نه روستو په میراث کی حقدار ګنړل کیدو۔ او د خپل زوی احکام به پرے جاری کیدل۔

نو کله چه د سورۃ انفال آیت ﴿وَ اُولُوا الْاَرْحَامِ بَعْضُهُمْ اَوْلٰی بِبَعْضٍ﴾ نازل شو نو دا دواړه عقدونه منسوخ شو یعنی د حلفاؤ وغیره د وارث جوړیدو حکم منسوخ شو۔ او صرف د مړی نزدے خپلوان د مړی د مال وارثان جوړ شو۔

(۳) عقدِ مُوَاخَات : د اسلام په ابتداء کی مهاجرین چه کله مدینے منورے ته راغلل، نو رسول الله ﷺ د هر مهاجر د یو انصاری سره اُخوّت (ورور ولی) قائم کړو، نو هغه مهاجر به د خپل انصاری ورور وارث کیدو، د هغه خپلوان به د هغه وارثان نهٔ کیدل، نو پدے آیت (فَآتُوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ) کی دا حکم وشو چه دوی ته میراث کی برخه ورکړئ۔

امام بخاری رحمه الله ددے آیت په تفسیر کی د ابن عباس رضی الله عنهما نه دا روایت نقل کړیدے۔ بیا دا آیت هم د سورۃ الانفال په دغه مذکوره آیت (واولوا الارحام) سره منسوخ شو چه صرف خپلوان د مړی به د هغه وارثان وی۔ نو دا درے واړه عقدونه د سورت انفال په آیت سره منسوخ شو۔

لیکن پدے باندے صاحب المنار دا اعتراضؒ کړیدے چه ددے واقعے د آیت سره هیڅ تعلق نشته ځکه چه سورۃ النساء د سورۃ الانفال نه روستو نازله شویده ځکه چه سورۃ الانفال د غزوه بدر په کال نازل شویدے او میراثونه د هغے نه روستو مشروع شویدی او دا آیت چه مونږه ئے تفسیر کوو دا د آیة المواریث نه روستو نازل شویدے۔ځکه چه دے کی حواله ده په میراثونو او برخو باندے۔ (فَآتُوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ) نو بیا څنګه وئیلے کیږی چه پدے آیت د سورۃ النساء سره د عقدِ حلف او تحالف په طریقه میراث ثابت شویدے۔ او بیا روستو د سورۃ الانفال په ذریعه دا حکم هم منسوخ شویدے۔ ځکه چه قرآن کریم خو خلکو دپاره په تحالف سره میراث مشروع کړے نهٔ دے بلکه قرآن خو باطل کړیدے او منسوخ کړیدے

هغه شے چه خپلك په هغې باندے روان وو مخکې د نازلیدو د آیتونو د میراث نه لکه دا خبره ظاهر ده۔ (المنار)

(۲) **تفسير** : البته ابن عباس رضی الله عنهما او مجاهد وغیره مفسرینو ددے آیت غیر منسوخ معنیٰ هم کړیده چه پدے آیت کې مقصد دا دے چه د میراث نه علاوه نورو څیزونو باندے چا کوم عقدونه او حلفونه کړی وی نو هغوی ته برخه ورکړئ اَیْ مِنَ الْعَقْلِ وَالنَّصْرِ وَالرِفَادَةِ وَالنَّصِیْحَةِ۔ یعنی که په هغوی دیت اوړیدلے وی هغه ورله ورکړه، مدد او تعاون ورسره وکړئ او یو بل ته تحفې ورکړئ او خیر خواهي ئے وکړئ۔ یا بِالْاِحْسَانِ وَالْبِرِّ وَالنَّصْرِ وَالرِّفَادَةِ۔ یا ورسره احسان وکړه، نیکی ورسره وکړه او مدد ورسره وکړه او هسے تحفه ورکړه۔ یعنی ستا مخکې نه یار دوست دے، میراث ئے اُوس ختم دے مگر احسان ورسره وکړه نو دا حکم اُوس هم باقي پاتے دے۔

نو پدے صورت کې به (وَالَّذِیْنَ عَقَدَتْ اَیْمَانُکُمْ) تر آخره پورے مستقل کلام وی۔ او (وَلِکُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِیَ) سره به عقدِ مواخات منسوخ وی۔ کما قال ابن عباس ونقله البخاری) (المنار)

نو په مهاجرین او انصارو کې چه کوم کسان خپلوان نهٔ دی نو د هغوی ترمینځ د تعاون او مدد او خپل مینځ کې د یو بل سره د خیر خواهئ تعلق پاتے شو او په دریمه حصه مال کې د وصیت گنجائش پاتے شو او د میراث حکم منسوخ شو۔

(ابن جریر، قاسمی، ابن عاشور، ابن عادل الدمشقی)

د ابن عباس رضی الله عنهما وینا ده چه ددے آیت نه روستو د حلفاؤ دپاره صرف د وصیت دروازه کولاه پاتے شوه، چه هغه مړے د مرگ نه مخکې د هر غیر وارث دپاره کولے شی۔

وَالَّذِیْنَ عَقَدَتْ : دا مبتدا ده متضمن ده معنیٰ د شرط لره پدے وجه ئے په خبر کې فاء راغلے ده۔

(۳) ځینی مفسرینو وئیلی دی چه مخکنی درے واړه عقدونه د اسلام په ابتداء کې د میراث د اسبابو نه گنړل کیدل خو ثبوت ئے په تقریری یا قولی احادیثو سره شوے وو نو د سورت انفال په آیت سره روستنی دواړه منسوخ شو او یوازی اولنے عقد (عقد موالات) ئے پدے آیت کې سره د یو ترمیم نه تائید کړو چه دوی په هغه وخت کې وارثان گنړل کیږی چه نور وارثان (ذوی الفروض، عصبه، ذوی الارحام) نهٔ وی موجود نو معنیٰ به دا جوړیږی: (مونږ د هر چا دپاره وارثان مقرر کړیدی چه هیڅ تغییر پکې نشی راتلے مگر که دوی موجود نهٔ وی نو بیا د عقد موالات خاوندانو ته هم خپلے برخے ورکړئ ځکه چه دوئ هم د

وارثانو په شان دی۔ (احکام القرآن للجصاص ۲/۱۸۳ والمدارك ۱/۳۰۹ وعزیز التفاسیر ۳/۱۴۰)

(٤) ځینو وئیلی دی چه عقد موالات والا ته په میراث کی حصه نشته البته په طریقه د استحباب بانده هغوی ته ورکړه پکار ده نو دا به داسے وی لکه چه (وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ أُولُوا الْقُرْبٰى) (قاله الاصمؒ، اللباب)

قول د ابن عباسؓ غوره دے۔

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا ﴿۳۳﴾ : شهید: عالم، لیدونکے، خبر لرونکے۔

ددے نوم حواله ئے ځکه ورکړه چه اکثر نفسونه په مالونو کی حرص کوی نو هسے نه چه پردے مال واخلی نو الله وائی چه زۀ دربانده حاضر یم تا ته ګورم، زما د شهادت استحضار وکړه۔ لکه د صاحب المنار په قول کی ئے بعض تفصیل وشو۔

اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ
نارینه حاکمان (مشران) دیٰ په ښځو بانده په سبب د هغے چه غوره والے ورکړے الله
بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ وَّبِمَا أَنْفَقُوْا مِنْ أَمْوَالِهِمْ
بعضے د دوی ته په بعضو نورو، او په سبب د هغے چه خرچ کوی دوی د مالونو خپلو نه،
فَالصّٰلِحٰتُ قٰنِتٰتٌ حٰفِظٰتٌ لِّلْغَيْبِ
پس نیکے ښځے تابعدارے وی، حفاظت کونکی وی (د مال او د ځان) په غائب والی د خاوند کی
بِمَا حَفِظَ اللّٰهُ وَالّٰتِيْ تَخَافُوْنَ
په سبب د هغے چه ساتنه کړے ده الله تعالیٰ (د دوی) او هغه زنانه چه یریږئ تاسو
نُشُوْزَهُنَّ فَعِظُوْهُنَّ وَاهْجُرُوْهُنَّ فِي
د بد اخلاقئ د هغوی نه پس نصیحت اُوکړئ دوی ته او پریدئ دوی لره په
الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوْهُنَّ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوْا
ځای د څملاستو کی او اُووهئ دوی لره نو که خبره ئے اُومنلئ ستاسو نو مۀ لټوئ
عَلَيْهِنَّ سَبِيْلًا إِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيْرًا ﴿۳۴﴾
په دوی بانده لاره (د ملامتیا او د طلاقو) بیشکه الله دے ډیر اُوچت، ډیر لوی۔

تفسیر :

ربط :

(۱) مخکی ئے وویل چه د یو بل په فضائلو باندے قناعت وکړئ نو دلته وائی چه که قناعت ونکړئ نو د خاوند او د ښځے گوزاره به خرابه شی او خبره به جګړے ته لاړه شی۔

(۲) دارنګه مخکی په ښځو باندے د نارینه د میراث زیاتوالے بیان شو نو اُوس د هغے وجه بیانوی چه سړی په ښځو باندے قوامیت لری۔

(۳) مخکی عقدِ موالات ذکر وو اُوس عقدِ نکاحی ذکر کوی چه دا هم سبب د نصرت او مدد دے چه ښځه او خاوند به د یو بل سره مدد کوی۔

(٤) مخکی مسئلة د نکاح وه اُوس په ښځه باندے د سړی د قوامیة، او دغه شان د ښځو اقسام بیانیږی۔

او پدے آیت کی د مسلمانانو د کورنئ د انتظام او پروګرام طریقے بیانوی دے دپاره چه د کورنئ فساد پیدا نشی هغه دا چه د کور مشر به سړے وی او ښځے او بچی به ئے خبره منی نو پروګرام به صحیح روان وی او که ښځے ته مشری حواله شوه نو فساد به پیدا شی۔ سړے به خرچه هم کوی او خبره به ئے هم څوك نۀ منی نو طلاق ته به نوبت رسیږی۔

شان نزول

ددے آیت شان نزول دا بیانیږی چه یو انصاری صحابی (سعد بن الربیع ﷺ) یوه ښځه (چه حبیبه رضی الله عنها ئے نوم وو) د څه نافرمانئ د وجه نه په څپیړه ووهله نو هغے د ځان سره خپل پلار ملګرے کړو او رسول الله ﷺ ته راغله او عرض ئے وکړو چه یارسول الله ! زۀ خپل خاوند په څپیړه ووهلم نو نبی کریم ﷺ امر وکړو چه د هغه نه د هغے مطابق قصاص واخستے شی نو پلار او لور روان شو چه انتقام واخلی خو نبی کریم ﷺ بیرته راواپس کړل او ورته ئے وویل چه دا دے جبریل علیه السلام راغے چه څه فیصله به ئے راوړی وی، نو دا آیتونه نازل شو نو نبی کریم ﷺ وفرمایل : [أَرَدْنَا أَمْرًا وَأَرَادَ اللّٰهُ أَمْرًا وَالَّذِی أَرَادَ اللّٰهُ خَیْرٌ] مونږ د یو څه اراده کړے وه او الله د بل څه او هغه چه الله ئے اراده کړے وه هغه بهتره ده۔ یعنی انتقام مۀ اخلئ۔

دا ابن جریرؒ روایت کړیدے۔ او ابن ابی حاتم په ډیرو سندونو سره مرسل روایت کړیدے۔ او سیوطیؒ لیکلی دی چه ددے روایت ډیر شواهد دی چه دا قوی جوړوی۔

د آیت **خلاصه** دا ده چه الله تعالیٰ سړی لره د ښځے حاکم او نګران او امیر جوړ کړیدے، ځکه چه سړے د ښځے نه په عقل او فهم کی زیات وی، د هغه نظر ډیر لرے لګی، د ملك او قوم قیادت، جهاد، اذان، خطبه، ګواهی، نکاح کی ولی جوړیدل، طلاق، رجعت، ډیرے ښځے کول، په میراث کی دوچنده حصه اخستل او عصبه کیدل دا او ددے په شان نور صفات هم دی چه د سړو پورے خاص دی، ددے نه سویٰ هغوی د نکاح په وخت مهر ادا کوی، او د واده نه روستو ازدواجی ژوند ټول اخراجات برداشت کوی، د هغوی حفاظت کوی، او ښځه د هغه د سوری د لاندے د سکون او اطمینان ژوند تیروی۔ نو دلته اګرکه سړی ته لږ شان فضیلت ورکړے شویدے لیکن ډیر بوج هم پرے اچولے شویدے۔

په سړی کی ددے تمامو صلاحیتونو او خوبیانو موجودیدل ددے خبرے تقاضا کوی چه په ازدواجی ژوند کی به قیادت د خاوند په لاس کی وی، د خپلے ښځے د تربیت او اصلاح کوشش به کوی او کله چه ضرورت راشی نو د اصلاح په نیت به معمولی شان وهل هم کوی، لیکن که ښځه ښه وی نیکه او صالحه وی، نو اسلام د خاوند نه تقاضا کوی چه د هغے خیال اُوساتی، د هغے سره ښائسته سلوك اُوکړی، دے ته اشاره کولو سره الله د نیکانو ښځو دلته صفت کړیدے او وئیلی ئے دی چه نیکانے ښځے د الله او د خپلو خاوندانو فرمانبردارے وی، او د خاوند په نهٔ موجودګئ کی د الله په مدد سره د خاوند د عزت او د مال حفاظت کوی (پدے وجه د داسے ښځو سره ښه سلوك کول پکار دی)۔

دے نه روستو الله دا اُوفرمایل چه که یوه ښځه نافرمانی کوی او د خاوند سره بد سلوکی کوی نو خاوند به هغے ته خپل حقوق رایاد کړی، د الله د ناراضګئ او د هغه د عذاب نه به یره ورکړی او هغے ته به اُووائی چه د الله رسول ﷺ فرمایلی دی چه ((که ما چا ته د یو انسان د سجدے حکم کولے نو ښځے ته به مے وئیلی وے چه خپل خاوند ته سجده اُوکړی))۔ او وهلو او طلاقو ته به هم اشاره اُوکړی، که ښه وی نو همدا نصیحت به کافی وی، او که نهٔ وی نو په یوه بستره به د اُودهٔ کیدو باوجود د هغے سره خبرے کول او نزدیکت بند کړی، اوصبر دِے اُوکړی، تردے پورے چه هغه د نافرمانئ نه منع شی۔ او دا تعلق ختمول به د یو میاشت نه زیات نهٔ وی، لکه ځنګه چه رسول الله ﷺ د حفصے رضی الله عنها سره کړے وو۔ کله چه هغے د نبی ﷺ یو پټ راز عائشے رضی الله عنها ته خودلے وو، دا سلوك به د ((ایلاء)) په شان څلور میاشتو دپاره نهٔ وی۔ البته د رسول الله ﷺ نه درے میاشتو پورے پریخوستل هم نقل دی لکه زینب رضی الله عنها سره زیاتی سورلئ وه او د

صفیه رضی الله عنها سره سورلئ بیماره شوه نو رسول الله ﷺ زینب ته وفرمایل : چه تهٔ دے ته سورلئ ورکړه هغے وویل : (أَنَا أُعْطِيْ تِلْكَ الْيَهُوْدِيَّةِ فَهَجَرَهَا ذَا الْحِجَّةِ وَالْمُحَرَّمِ وَبَعْضَ صَفَرَ) آیا زهٔ دے یهودئ ته ورکړم۔ نو رسول الله ﷺ هغه تر درے میاشتو پورے پریخوسته۔ (ابو داود، مسند احمد و الصحیحة : ۳۲۰۵)

که دا تدبیر هم کار ورنکړی نو هغه دِے اُووهی لیکن دا وهل به داسے نهٔ وی چه د هغے د جسم څه حصه ماته شی یا ئے کوم اندام بد شکل شی۔

په صحیح مُسلم کی دی چه نبی کریم ﷺ په حجة الوداع کی د ښځو په باره کی وئیلی دی چه ((د دوی په باره کی د الله نه یره اُوکړئ، څکه چه دا ستاسو سره د قیدیانو په شان دی، او په دوی باندے ستاسو دا حق دے چه ستاسو عزت به بل ته نهٔ ورکوی، او د هغه په بستره به بل څوك نهٔ پریدی، او که داسے ئے اُوکړل نو دوی اُووهئ لیکن وهل به داسے نهٔ وی چه په هغے سره زخمی شی))۔

ددے طریقو نه هره یوه طریقه په تدریج سره خپلولو نه روستو که ښځه په نیغه لاره سمه شوه نو خاوند به هغے ته د ضرر ورکولو دپاره بهانے نهٔ لټوی او د خپل طاقت په گمان دِے خامخا د هغے وهل نهٔ کوی، یا دِے د هغے سره تعلق نهٔ پریکوی، او د هغه په ذهن کی دِے دا خبره پرته وی چه الله ددهٔ نه لوئی دے او زیات طاقت والا دے۔

فائده : دے نه معلومه شوه چه د زنانه تربیت کله نا کله په وهلو سره کیږی څکه چه زنانه ته الله تعالیٰ داسے مزاج ورکړیدے چه هغوی په معمولی خبره خفه کیږی او مزاج کی تنگی پیدا کوی چه د هغے په وجه د خاوند د حقوقو په مخالفت کی واقع کیږی نو په وهلو او تعلق ختمولو سره د هغے اصلاح کیږی۔

قَوَّامُوْنَ : جمع د قَوَّام ده او دا مبالغه ده په قائم کی، د قیام نه اخستے شویدے، ودریدو ته وئیلے شی، په یو څیز باندے مضبوطیدل او د هغے دا هتمام دپاره استعمالیږی، دلته د قوام معنیٰ دا ده چه سړی به په ښځو باندے مشری کوی په تربیت او ادب د زنانو کی، او د هغوی په مصلحتونو او تدبیر او ساتنه باندے به اهتمام کوی (صاحب اللباب)۔

آلوسیؒ وئیلی دی چه سړی به په زنانو باندے داسے قیام کوی لکه حاکمان چه په خپل رعیت باندے قیام کوی په امر او نهی سره۔

قاسمیؒ وائی : اَیْ مُسَلَّطُوْنَ عَلٰی اَدَبِ النِّسَاءِ یَقُوْمُوْنَ عَلَیْهِنَّ، آمِرِیْنَ نَاهِیْنَ قِیَامَ الْوُلَاةِ عَلَی الرَّعِیَّةِ وَذٰلِكَ لِاَمْرَیْنِ وَهْبِيٍّ وَکَسْبِيٍّ) یعنی سړی به د زنانو په ادب ورکولو مسلط (مقرر)

وی او پـه هغوی باندے به اهتمام کوی، امر او نهی به ورته کوی لکه څنګه چه حاکمان په خپل رعیت باندے ولاړ وی او ددے دوه سببه دی یو ئے په (بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ) سره ذکر کړیدے چه دا وهبی سبب دے او بل په (بِمَا اَنْفَقُوْا) سره ذکر کړیدے چه دا کسبی سبب دے۔

دارنګه د سړی په زنانه باندے مشر کیدل دا دی چه د هغے د کارونو تدبیر به کوی، ادب به ورکـوی، پـه کـور کـی بـه ئے ساتی، او د (بی ضرورته) بهر وتلو نه به ئے منع کوی او په زنانو بـانـدے بـه د هـغـوی اطـاعـت او هـر حـکـم منل (چـه د شرع خلاف نهٔ وی) لازم وی (قرطبی ۱٦۹/٥)

بِـمَـا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ : دلتـه د (بَـعْـضَـهُـمْ) نه مراد سړی دی چه دوی په زنانو باندے په عقل او تدبیر سره غوره دی پدے وجه الله تعالیٰ دوی د زنانو مشران جوړ کړل او د سړی ددے فـضـیـلـت فـائـده هم ښځو ته راجع کیږی۔ بعض وائی : د سړی په نفس او طبع کـی الله تـعـالـیٰ داسے زیات قوت ایښودے دے چه هغه په زنانو کی نشته څکه چه د سړی طبیـعـت کـی حـرارت او یبـوسـت دے او داسے مـزاج کـی قـوت او شدت وی او د زنـانو په طبیـعـت بـانـدے رطوبت او برودت غالب وی نو په هغے کی لِیْن (نرموالے) او ضُعف وی نو پدے وجه الله تعالیٰ سړی مشران کړل۔ (قرطبیؒ)

عـلامـه قـاسـمـیؒ وائـی چـه د سړو د غـوره والی وجه، عقل، هوښیارتیا (چالاکی)، عزم، قوت، فُروسیّة (شاهسواری) او رمی (غشی ویشتلو قوت) دے، او په سړو کی انبیاء علیهم السـلام دی، او امـامتِ صغریٰ او کبریٰ، جهاد، اذان، د جُمعے او د اخترونو خطبه، په حدودو کـی شهـادت، پـه نـکـاح کـی ولـی جـوړیدل، د طلاق او د رجوع حق د سړی دے، ډیر ودونه سنبالول، دوچنده میراث اخستل، عصبه جوړیدل او دارنګه دوی د ګیرو او پټکو خاوندان دی نـو کـامـل لره په ناقص باندے د ولایت او مشریٔ حق ثابت دے۔ (محاسن التاویل ۲۸٥/۲)

لـکـه مـونږ بـه د رسـول الله ﷺ تـابع کیږو څکه چه زمونږ عقل ناقص دے او د رسول الله ﷺ عقل کامل دے۔

عـلامـه قاسمیؒ لیکی چه دا آیت دلیل دے چه ښځے لره نهٔ دی جائز چه قاضیه (جج) دے جوړ شي په سړو باندے څکه چه الله تعالیٰ نارینه قوام ګرځولے دے په ښځو باندے۔

وَبِـمَا اَنْفَقُوْا : دا کسبی فـضـیـلـت دے چـه سړے په ښځو خرچه کوی څکه چه سړی په مشـقـتـونو سره مالونه پیدا کوی او په ښځو باندے ئے لګوی نو پکار دا ده چه د سړی خبره ومنلے شی څکه چه دا د شکر تقاضا ده۔

فَالصَّالِحَاتُ : ددے نه روستو د ښځو دوه قسمونه بیانوی او پدے کی د نیکانو ښځو صفت ذکر کوی او بعض مفسرینؒ وائی چه پدے کی بیان د اکرام د ښځو دے ځکه چه دوی مخکی ښکته ذکر شوے نو اُوس پکی د نیکانو اکرام بیانوی چه د دوی اکرام وکړئ.

فَالصَّالِحَاتُ دا جمله خبریه ده په معنیٰ د انشاء سره یعنی نیکانو زنانو له دا راتلونکی کارونه کول پکار دی.

قَانِتَاتٌ : یعنی نیکانی ښځے تابعداری وی د الله او د رسول او د خاوندانو.

حَافِظَاتٌ : اَیْ لِنُفُوْسِهِنَّ وَلِمَالِ الزَّوْجِ وَعِرْضِهٖ . حفاظت کونکی وی د خپلو ځانونو او د خاوندانو د مالونو او د هغه د عزت. نو کور نهٔ ضائع کوی او خپل ځان هم بی ځایه نهٔ استعمالوی، او د خاوند د اجازے نه بغیر بهر نهٔ وځی. او دروازو کی به نهٔ ښکاره کیږی.

ځینی ښځے په بازار کی ځانله ډیرے ډیرے قیمتی جوړے اخلی او د خاوندانو مالونه ضائع کوی، دا ظلم دے.

لِلْغَیْبِ : وَقْتَ غَیْبُوْبَةِ اَزْوَاجِهِنَّ. په وخت د غائبوالی د خاوندانو کی.

(۲) ځینو علماؤ د غیب معنیٰ په راز سره هم کړیده یعنی د خاوندانو رازونه ساتی. (بغویؒ) اوله معنیٰ زیاته ظاهره ده.

بِمَا حَفِظَ اللهُ : پدے کی ترغیب پروت دے چه تاسو به د خاوندانو د مال او د عزت حفاظت پدے وجه کوئ چه الله تعالیٰ ستاسو حفاظت د خاوندانو په وجه کړیدے. چه د عذابونو او پریشانئ نه ئے بچ کړے یی، یعنی الله ستا حفاظت کړیدے نو ته د خاوند حفاظت وکړه.

وَاللَّاتِیْ : اُوس د بد اخلاقو ښځو بیان دے، دا مقابل د صالحات دے خو داسے ئے ونهٔ ویل (وَالنَّاشِزَاتُ) ځکه چه د مؤمنو ښځو اکثر حال صلاحیت او نیك عملی وی او نشوز (بد اخلاقی) پکی کله کله پیدا کیږی.

تَخَافُوْنَ : خوف ئے ذکر کړو ځکه چه عام خاوندان د ښځو نه زیات یریږی، همیشه ورسره خطره وی چه ښځه څه فساد ونکړی، مال ضائع نهٔ کړی، جنګ جګړے پیدا نکړی او سړے همیشه د ښځے لحاظ ساتی چه داسے خبره مینځ ته رانشی چه زما او د ښځے کور وران شی نو سړے د ښځے د شر د دفعه کولو دپاره همیشه په یره کی وی.

نُشُوْزَهُنَّ : نشوز په لغت کی پورته کیدو ته وائی چه د پریوتلو نه روستو واقع شی، پدے وجه د قبرونو نه د مړو راپورته کیدو نه په ((نشز)) او ((انشاز)) سره تعبیر کیږی، نو ناشزه به هغه ښځے ته وائی چه د خاوند اطاعت نهٔ کوی او خپل ځان پرے اُوچت ګڼړی او ښځه

کی چه کله تکبر راغلو نو بیا کوروران دے، بیا د خاوند هیڅ خبره نۀ منی، د هغه خبره پرے بده لګی، هره بد اخلاقی د تکبر نه پیدا کیږی نو ښځو له عاجزی پکار ده۔

فَعِظُوْهُنَّ : ددے ځای نه روستو د ناشزاتو ښځو د بد اخلاقیٔ پنځه علاجونه بیانوی یو وعظ او نصیحت کول، دویم هجران، دریم وهل او څلورم روستو آیت کی ذکر کیږی چه هغه فیصله کونکی مقررول، او پنځم طلاق ورکول لکه روستو آیت (۱۳۰) کی راځی ﴿وَاِنْ يَّتَفَرَّقَا يُغْنِ اللّٰهُ كُلًّا مِّنْ سَعَتِهٖ﴾ ۔ او مخکی هم تیر شویدی چه خلع ورسره کولے شیٔ او بیائے پریدیٔ لکه ﴿ لِتَذْهَبُوْا بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوْهُنَّ اِلَّا اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ﴾

فِي الْمَضَاجِعِ : یعنی بستره به ترے جدا کړے شی نۀ کوټه ځکه چه د کوټی په جدائی سره د ښځے کینه او عداوت لا زیاتیږی او نور خلك پرے خبریږی چه مینځ ته فساد راپیدا کوی۔ پدے وجه الله تعالیٰ (عَنِ الْمَضَاجِعِ) لفظ استعمال نکړو کوم چه د کوټی په جدا والی باندے دلالت کوی۔ لیکن کوټه جدا کول ترے جائز دی خاصکر کله ئے چه ترے ایلاء کړی وی۔ لکه امام بخاریؒ او مسلمؒ روایت راوړیدے چه رسول الله ﷺ د خپلو بیبیانو نه د یوے میاشتے پورے په خپله بالخانه کی جدا شو او د هغه سره په دغه بالخانه کی صرف ماریه قبطیه (رضی الله عنها) وه۔

او د ښځے د تربیت دپاره د ښځو سره د درے ورځو نه زیاتے خبرے بندول هم جائز کړے شویدی، دا د هغوی د نشوز سزا تاکلے شویده۔

وَاضْرِبُوْهُنَّ : حدیث کی دی : ضَرْبًا غَيْرَ مُبَرِّحٍ۔

داسے وهل به وی چه هډوکے ورله مات او بدرنګ نکړی۔ (صحیح مسلم کتاب الحج)

ددے نه معلومه شوه چه د ادب وهل به هغه وی چه زخم جوړ نکړی نو کوم قاریان استاذان چه خپل شاګردان بیحده تر زخم انداز پورے وهی، دا ظلم دے۔

فَاِنْ اَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوْا عَلَيْهِنَّ سَبِيْلًا : یعنی که زنانو نشوز پریخودو او ستاسو طاعت ئے شروع کړو، ستاسو حقوق ئے صحیح صحیح ادا کول، نو بیا په هغوی باندے بله لاره مۀ لټویٔ یعنی ملامتیا مۀ وایئ چه تا به مخکی دا دا کول۔ (۲) دویم سبیل دے ته هم وائی چه تۀ ورسره د بد اخلاقیٔ لاره مۀ لټوه بلکه ته هم ورسره ښه شه۔

(۳) دریم : سبیل طلاقو ته هم وائی۔ یعنی طلاق الله تعالیٰ ته مبغوض شے دے اګرکه جائز دے پدے وجه پدے کی ډیر جلتی نۀ کوی۔

(٤) څلورم : د لارے نه مراد د زړه محبت دے چه دا د الله په اختیار کی دے (سفیانؒ) یعنی

که ستا ظاهري تابعداري شروع کړي نو دا کافي ده اګرکه د زړه محبت ئې نۀ وي.
عَلِيًّا كَبِيرًا : دا ئې په آخر کې راوړو اشاره کوي چه اکثر فسادونه د تکبر او علو نه پيدا کيږي پدې وجه کله چه د بنده په دماغو کې دا خبره کيني چه الله ډير لوی او غټ دے او زۀ خو يو کمزورے محتاج بنده يم نو دده نه بد اخلاقي وځي او حقوق ادا کوي.

سوال او جواب

که څوك ووائي چه په هجران او وهلو سره خو د ښځے بد اخلاقي او زړه بد والے نور هم زياتيږي نو دا به څنګه د تاديب سبب جوړ شي؟

جواب : د زنانو نشوز کله نا کله په ناز او نخرو او تکبر باندے بناء وي او هيڅ بنياد نۀ لري نو پدے صورت کې په هجران او تاديبي وهلو سره اصلاح کيږي او که اصلاح ئې ونشوه نو معلومه خو به شي چه د ښځے نشوز پوخ بنياد لري نو ضرورت دے چه د دواړو ترمينځ فيصله وکړے شي.

وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا
او که يريږئ تاسو د مخالفت نه په مينځ ددے دواړو کې نو مقرر کړئ يو فيصله کونکے
مِنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِنْ أَهْلِهَا إِنْ يُرِيدَا
د طرفه د خپلوانو د سړي نه او يو فيصله کونکے د خپلوانو د ښځے نه که چرے اراده لري دا دواړه
إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا ﴿٣٥﴾
د جوړجاړي نو يو ځاي والے به راولي الله تعالیٰ په مينځ ددے دواړو کې يقيناً الله ډير پوهه خبردار دے.

تفسير : پدے کې اُوس بل حکم بيانوي چه کله د ښځے او د خاوند جګړه په پټه حل نشوه او د کور نه بهر خلك هم پرے خبر شو او يره وه چه د دوي دا معمولي اختلاف به په لوی اختلافاتو بدل شي نو د ښځے او خاوند اولياؤ او نورو حاکمانو او امراؤ ته دا حکم کوي چه تاسو ددے دواړو د اصلاح کوشش وکړئ. چه د ښځے د طرفنه او د خاوند د طرفنه يو يو فيصله کونکے مقرر کړئ، دواړه به د خاوند او ښځے سره ملاؤ شي او واقعه به واوري، د اختلاف د اسبابو معلومولو کوشش دے اُوکړي، او د هغوي ترمينځ د مصالحت کوشش دے اُوکړي. که (الله دے اُونکړي) ددے لارے تمام کوششونه ناکام شي نو خاوند او ښځے نه د

منظوری اخستو نه روستو دواړو کی ډیے جدائی پیدا کړی۔

حافظ ابن کثیرؒ وائی : د اکثرو علماؤ دا رایه ده چه دواړه فیصله کونکو ته د خاوند او د ښځے یو ځای کولو او جدا کولو حق شته، آه، ځکه چه دواړو ته الله تعالیٰ حَکَمَین (قاضیان) وئیلی دی او قاضی ته حق د جدا والی شته، دا دواړه وکیلان نهٔ دی۔ او دا قول د امام مالك، شافعی، اوزاعی او اسحاق رحمهم الله دے۔ او دا قول د عثمان، علی، ابن عباس رضی الله عنهم او د شعبیؒ او نخعیؒ نه نقل دے۔

(قرطبی٥/١٧٤) وابن کثیر (٢/٢٩٦) وهو الحق واختاره ابن القیمؒ فی الزاد)

او امام ابوحنیفهؒ وائی چه دوی صرف د اصلاح اختیار لری، دوی گواهان یا وکیلان دی دوی، د دواړو د جدا کولو اختیار نهٔ لری بغیر د رضا د خاوند نه۔

اول قول د دلیل په اعتبار سره ډیر غوره دے۔ او قرطبیؒ وئیلے دے۔ تفصیل دپاره قرطبی، روح المعانی وغیره ته رجوع پکار ده۔

دلته الله تعالیٰ یو طرف ذکر کړو چه که د فیصله کونکو اراده د اصلاح وی نو الله به د ښځے او خاوند ترمینځ جوړخ راولی او بل طرف ئے ذکر نکړو پدے کی اشاره ده چه غالباً موافقت راځی لیکن که موافقه رانغله نو بیا به څه کوی ؟ نو حَکَمَینو ته اختیار شته چه د دواړو ترمینځ جداوالے راولی، یا به خبره د سړی او ښځے اختیار ته پریږدی نو سړے به په خپله خوښه طلاق ورکړی۔

وَإِنْ خِفْتُمْ : دا خطاب د ښځے او خاوند اولیاؤ ته دے، دا قول د سُدیؒ دے۔ یا نورو حاکمانو او امراؤ ته دے۔ دا قول د ابن عباسؓ، سعید بن جبیرؒ، ضحاكؒ، او مجاهدؒ دے۔

فَابْعَثُوا : بعث نه مراد لیږل او مقررول دی۔

حَكَمًا : فیصله کونکے چه په هغه کی د فیصلے کولو صلاحیت وی یعنی عادل او هوښیار وی۔

إِنْ يُرِيدَا إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللهُ بَيْنَهُمَا : (١) دے کی د (يُرِيدَا) تثنیه ضمیر حکمینو ته راجع دے او (بینهما) ضمیر ښځے او خاوند ته یعنی که د حکمینو اراده د اصلاح وی نو د ښځے او د خاوند ترمینځ به الله موافقت راولی۔

(٢) یا په دواړو ځایونو کی ضمیرونه ښځے او خاوند ته راجع دی یعنی که د ښځے او خاوند د اصلاح اراده وی نو الله تعالیٰ به د دواړو جوړخ راولی ددے حکمینو په ذریعه۔

(٣) یا په دواړو ځایونو کی ضمیرونه حکمینو ته راجع دی : که فیصله کونکی د اصلاح

اراده لري نو د دواړو موافقه به الله راولي او د دواړو خبره به یوه شي او فیصله به سرته ورسیږي. دا تفسیر د ابن عباس رضي الله عنهما، مجاهدؒ او ضحاكؒ وغیره دے. اول تفسیر غوره دے.

فوائد او معارف

۱- (إِنْ يُرِيدَا) کې اشاره ده چه که د صلح کونکو د خیر اراده وي نو الله تعالیٰ د ښځے او خاوند جوړخ راولي او د هغوی نیك نیت اثر کوي.

۲- په آیت کې د اصلاح کونکو شمار دوه وخودل شو نو دا په طریقه د حصر سره نهٔ دے بلکه دا غالباً ادنیٰ درجه ده، که په کومو ځایونو کې ځلورو یا زیاتو ته ضرورت راپیښ شو نو بیا به زیات مقرر شي. او که ښځه او خاوند په یو تن راضي شو هم صحیح ده.

۳- په آیت کې دا هم نهٔ دي ذکر چه دا فیصله کونکي به نارینه وي یا زنانه، معلومیږي چه زنانه هم ددے صلح افراد جوړیدے شي، که د یو طرفنه سړے او بل طرفنه ښځه وي یا دواړو طرفونو نه ښځے صلح کونکي شي هم صحیح ده، حالاتو ته به کتلے شي.

٤- په آیت کې د دواړو طرفونو نه فیصله کونکي وخودل شو ځکه چه دوی ته د خپلو خپلو رشته دارانو د حالاتو او خویونو ښه معلومات وي نو د هغے مطابق به فیصله ښه اثر وکړي نو ددے نه دا نهٔ لازمیږي چه غیر رشته دار مؤمنان به حاکمان نشي مقررولے، نهٔ بلکه که په خپلوانو کې څوك نهٔ وي یا وي خو د فیصلے اهلیت پکې نهٔ وي نو عام مؤمنان به مقرر شي.

٥- په آیت کې دعوت دے چه مؤمنانو لره پکار دي چه د ښځے او د خاوند د اختلافاتو تماش بین جوړ نشي بلکه پکار ده چه د دوی ترمینځ اصلاح کونکي جوړ شي.

٦- دلته اګرکه د حکمینو ذکر د ښځے او د خاوند د اختلافاتو ترمینځ وخودل شو لیکن ددے نه مسلمانانو ته دا سبق هم ملاویږي چه که د مؤمنانو خپل مابین کې جګړه او اختلاف راشي نو پکار دا ده چه دوی تماش بین نشي بلکه اصلاح کونکي جوړ شي لکه نور آیاتونه پرے دلیل دي.

وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ

او بندګي کوئ د الله تعالیٰ او شریکان مهٔ جوړوئ د هغه سره هیڅ شے او د مور او پلار سره

إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَىٰ

احسان کوئ او د خپلوانو، یتیمانانو، مسکینانو او د گاونډی سره چه خپلوان وی

وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ

او هغه گاونډی سره چه ورانده دے او ملگری د اړخ سره او د مسافر سره او هغه چه مالکان دی

أَيْمَانُكُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا ﴿٣٦﴾

ښی لاسونه ستاسو یقیناً الله تعالیٰ نهٔ خوښوی هغه څوك چه وی تکبر کونکے فخر کونکے۔

تفسیر : مضمون : ددے ځای نه روستو د الله تعالیٰ او د عامو انسانانو حقوق بیانیږی، بیا په منافقانو باندے ردونه ذکر کوی ځکه چه دوی به دا حقوق نهٔ ادا کول او ددے دپاره به رکاوټ واقع کیدل او ددے دپاره به ئے مالونه بی ځایه لگول او پدے سره مؤمنان یروی، که داسے ردونه ونشی نو بیا د مؤمنانو په غلطو خلکو ښه گمان جوړیږی او دا فساد دے۔

بیا الله تعالیٰ بل قانون بیان کړیدے چه په حالت د بندگیٔ کی به نشه نهٔ استعمالوئ او دا د (وَاعْبُدُوا اللَّهَ) سره لگی۔ بیا مسئلـه د تیمم، اودس او غسل ده۔ دے پسے الله تعالیٰ د یهودیانو قبائح راجمع کړیدی تر (۵۷) آیت پورے ځکه چه روستو نور قوانین بیانیږی نو دوی رکاوټ واقع کیږی او دا هم د قرآن د موضوعاتو نه یوه موضوع ده چه د اهل کتابو په کلکه مقابله کوی۔ بیا به بیرته قوانین بیانوی چه هغه د بادشاه او د رعیت سره متعلق دی او دا چه څوك نهٔ منی په هغه باندے به بیا رد وکړی او غټ مشر محمد رسول الله ﷺ دے نو د هغه تابعداریٔ ته به دعوت ورکړے شی تر (۷۰) آیت پورے بیا به د جهاد متعلق مسائل بیانوی او په جهادونو کی اکثر منافقان راښکاره کیږی پدے وجه د منافقانو بد خصلتونه به ورسره په مینځ مینځ کی بیانوی تقریباً (۸۷) آیت پورے،

بیا د هغے نه روستو یوه رکوع کی انواع المنافقین بیانیږی بیا نور قوانین د قتل خطاء او قتل عمد او د تبین او د هجرت او د صلاة خوف او صلاة السفر، بیا دعوت ورکوی چه قرآن او حدیث باندے فیصله وکړئ که پدے څوك فیصله نکوی نو هغه منافق دے نو بیا په منافقانو ردونه بیا د مشرکانو په شرك باندے تفصیلاً رد۔ پدے طریقه دا سورت روان دے چه قانون او په مینځ مینځ کی په مخالفینو ردونه۔

ربط : مخکی د ښځے او د خاوند ترمینځ حقوق وو اُوس عام حقوق بیانیږی چه بنده به دا

هم عملي کوي هله به کامیابئ ته رسيږي۔

وَاعْبُدُوا اللهَ: يعني د الله يوائې خالصه بندگي وکړئ او د هغه سره هيڅ قسمه شرك مهٔ کوئ، نهٔ شرك حقيقي او نهٔ شرك اصغر (رياء، سمعت وغيره) او دا د الله تعالیٰ په بندگانو باندې حق دې۔ نبي کريم ﷺ د معاذ بن جبل ﷺ نه تپوس اُوکړو چه ته پوهيږې چه په بندگانو باندې د الله حق څه دې؟ نو هغه اُووئيل چه الله او د هغه رسول ښه پوهيږي۔ نو نبي ﷺ اُوفرمايل چه صرف د هغه عبادت اُوکړي او هيڅوك د هغه سره شريك جوړ نهٔ کړي۔ بيا نبي ﷺ اُوفرمايل: آيا ته پوهيږې چه که بنده داسې اُوکړي نو د دوی به په الله باندې څه حق وي؟ (هغه به دا وي) چه الله به دوئ ته عذاب نهٔ ورکوي۔ (بخاري ومسلم)

د عبادت تشريح په سورة الفاتحه کي ذکر شويده۔

وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا : اَىْ أَحْسِنُوْا بِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا ۔ د مور او پلار سره ښيګړه وکړئ ځکه چه دوی د الله نه روستو ستاسو په تربيت کي بدني او روحي تکليفونه پورته کړيدي۔

او دنيا ته د هر چا راتلل د والدينو په ذريعه کيږي، د والدينو د اطاعت د اهميت د وجه نه الله تعالیٰ د قرآن په ډيرو آيتونو کي خپل عبادت او د والدينو سره ښائسته سلوك يو ځای ذکر کړيدې۔ الله فرمائي: ﴿ اَنِ اشْكُرْ لِيْ وَلِوَالِدَيْكَ ﴾(لقمان: ١٤) چه زما شکر کوه او د والدينو۔ او فرمائي: ﴿ وَقَضٰى رَبُّكَ اَنْ لَّا تَعْبُدُوْا اِلَّا اِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا﴾ (اسراء:٢٣)

يعني الله دا فيصله کړې ده چه تاسو د هغه نه سوئ د هيچا عبادت مهٔ کوئ او د مور او پلار سره احسان کوئ۔

وَبِذِي الْقُرْبٰى: دا په (بالوالدين) باندې عطف دې يعني د خپلوانو سره هم احسان وکړئ۔

نبي کريم ﷺ فرمائي: چه مسکين ته صدقه ورکول صدقه ده او خپلوان ته صدقه ورکول صدقه او صله رحمي ده۔ (مسند احمد، ترمذی، ابن ماجه، نسائی بسند صحيح)۔

وَالْيَتَامٰى: او د يتيمانانو سره د ښائسته سلوك حکم ئې کړيدې ځکه چه د دوی پلار چه د دوی د کارونو پروګرام او پرورش به ئې کولو په دنيا کي موجود نهٔ دې۔

وَالْمَسَاكِيْنِ : او مسکينانو سره چه د خپل ضرورتونو پوره کولو مالي استعداد نهٔ لري،

وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبٰى : يعني هغه ګاونډی چه رشته دار دې يا ورانده دې د دوی سره به احسان کولې شي۔

وَالْجَارِ الْجُنُبِ : جنب ورانده ته وائي، يعني هغه ګاونډی چه ستا نه ئې کور ورانده دې يا دا چه خپلوان نهٔ وي۔ يا دا چه کافر وي نو د هغه سره هم اسلام د احسان حکم کوي

ځکه چه مسلمان به د تهولو دینونو والو نه په اخلاقو کی اُوچت وی۔

امام بخاریؒ وغیره د عبد الله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل : ((مَا زَالَ جِبْرِيْلُ يُوْصِيْنِيْ بِالْجَارِ حَتّٰى ظَنَنْتُ أَنَّهٗ سَيُوَرِّثُهٗ)) (البخاری ٦٠١٥) ومسلم ٣٧/٨ باب الوصية بالجار ٤٢) والترمذی ١٦/٢) جبرئیل د ګاونډی په باره کی ما ته همیشه نصیحت کولو تردے چه ما ګمان اُوکړو چه دا به وارث جوړ کړی)۔

فائده : ګاونډیان په درے قسمه دی یو هغه دے چه کافر وی او د خپلوانو نه نۀ وی دا صرف یو حق لری چه هغه د ګاونډتوب دے، دویم مسلمان ګاونډی چه د خپلوانو نۀ نه وی، دا دوه حقه لری، یو د ګاونډ حق او بل د اسلام حق لری۔ دریم مسلمان خپلوان ګاونډی دے، دا درے حقه لری یو د اسلام حق، د خپلولئ حق او هم د ګاونډ حق لری۔ او دا په یو مرفوع روایت کیٚ د جابر رضی الله عنه نه ابو نعیم په حلیة الاولیاء کی نقل کړیدی۔

وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ : او د اړخ سره جوخت ملګری سره لکه ښځه، د سفر ملګرے، په یوه کمره کی شریك وسیدونکی ملګری، یا هغه څوك چه د لږ وخت دپاره ستاسو په خوا کی ناستـه ولاړه کـوی لکه په ګاډی کی درسره کینی یا په کوم هسپتال کی درسره ملاؤ شی، یا په درس کی درسره خوا کی کینی یا په کاروبار یا په مسجد کی ملګرے شی۔ دوی سره به احسان کولے شی، ایثار به کولے شی، خپل ښه ځای به هغوی ته ورکوی، د دوی نه به مصیبت اړوی، د حق دعوت به ورکوی، په کارونو کی به ورسره مدد کوی۔

وَابْنِ السَّبِيْلِ : او د مسافر سره او دارنګه د میلمه سره ۔ او اکثر اهل علم وائی چه ددے نه مراد میلمه دے۔ (زاد المسیر)

وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ : او د غلامانو او وینځو سره، ځکه چه دغلامئ نه زیاته د انسان بله کمزوری نشی کیدے۔ پدے وجه د الله رسول ﷺ په مرض الموت کی اُوفرمایل چه ((اے مسلمانانو! د مانځه خیال اُوساتئ، او د خپلو غلامانو او وینځو))۔

او پدے کی ضمناً خادمان او مزدوران هم داخلیږی۔ بلکه رسول الله ﷺ ډیر زیات تعمیم کړیدے فرمایلی دی : (إِنَّ اللّٰهَ كَتَبَ الْإِحْسَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ) الله تعالیٰ په بندګانو لازم کړیدی چه احسان به د هر شی سره کوئ۔ تردے چه خیواناتو سره به هم احسان کولے شی چه کله ئے ذبح کوی نو چاړه به ورته ډیره تیره کوی۔ (صحیح مسلم : ١٥٦٧ وغیره)

مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُوْرًا : یعنی الله هغه متکبر نۀ خوښوی چه خپل ځان د نورو نه غوره ګنړی، حال دا چه دا د الله په نیز سپك او د خلقو په سترګو کی مبغوض او قابل د نفرت

وی۔
مختال: اَلَّذِیْ لَایُقِرُّ بِحُقُوْقِ النَّاسِ ۔ دا هغه متکبر ته وائی چه د خلکو د حقوقو اقرار نهٔ کوی۔ او دا د خُیَلَاء نه جوړ دے، ځان ورته په خیال کې لوی ښکاره شویدے او په حقیقت کې لوی نهٔ دے پدے وجه په الله باندے د مختال اطلاق نهٔ کیږی۔
یا مختال: مُعْجِبٌ بِنَفْسِهٖ مُتَکَبِّرًا عَلَی الْخَلْقِ ۔ دا هغه شخص دے چه خود پسنده وی (یعنی ځان ورته ښه ښکاری) او په مخلوق باندے تکبر کوی۔ (السعدیؒ)
فخور: اَلَّذِیْ یَعُدُّ مَنَاقِبَهٗ کِبْرًا ۔ هغه دے چه خپل صفتونه او کمالات د تکبر په وجه شماری۔ رسول الله ﷺ به چه کله امت ته خپل کمال خودلو نو ورسره به ئے ویل چه زهٔ پدے باندے فخر نکوم چه خلك پرے سپك وګنړل لکه وے فرمایل:
(أَنَا سَیِّدُ وُلْدِ آدَمَ وَلَا فَخْرَ)۔ (ترمذی، احمد)
یا مختال: هُوَ الْمُتَکَبِّرُ الَّذِیْ یَظْهَرُ عَلٰی بَدَنِهٖ أَثَرٌ مِنْ کِبْرِهٖ فِی الْحَرَکَاتِ وَالْأَعْمَالِ) دا هغه متکبر دے چه ددهٔ په بدن باندے د تکبر اثرات په حرکاتو او اعمالو کې ښکاره کیږی نو ددهٔ نفس به د نورو د نفسونو په اعتبار سره اُوچت لیدلے شی او دے به په خلکو باندے خپل تکبر وربار کوی دومره اندازه چه نور خلك به ئے په دهٔ نشی بار کولے نو مختال هغه شخص شو چه د هغه په نفس کې تکبر ملکه وی او د هغے اثر ددهٔ په عمل او اخلاقو کې ښکاره شوے وی نو دا د هغه متکبر نه زیات بد تر دے چه مختال نهٔ وی۔ او فخور: هُوَ الْمُتَکَبِّرُ الَّذِیْ یَظْهَرُ أَثَرُ الْکِبْرِ فِیْ قَوْلِهٖ) دا هغه متکبر دے چه ددهٔ د کبر اثر ددهٔ په خبرو کې ښکاره کیږی نو دے داسے خبری کوی چه دے په هغے کې خپل ځان په نورو خلکو اُوچت ګنړی او د خلکو سپکاوے کوی۔ نو مختال فخور انسان د الله په نیز ځکه مبغوض دے چه دهٔ ټول هغه حقوق سپك وګنړل کوم چه الله تعالیٰ مقرر کړیدی او د الله تعالیٰ د نعمتونو نه ړوند شویدے کوم چه الله تعالیٰ په نورو خلکو کړیدی نو ددهٔ په زړه کې د الله تعالیٰ د عظمت او کبریاء هیڅ معنیٰ نشته، پدے وجه دے د الله تعالیٰ بندګی هم نشی کولے ځکه چه د الله بندګی دیته وائی چه په هغے کې د معبود عظمت وی او په زړه کې ئے خشوع او عاجزی وی۔ (تفسیر المنار ۵/۷۸)۔ نو دا دواړه صفتونه په انسان کې د حقوق الله او حقوق العباد د ادا کولو نه نفرت پیدا کوی پدے وجه ئے دا خاص ذکر کړل۔ (قرطبیؒ)
د (مُخْتَالًا فَخُوْرًا) نه روستو الله تعالیٰ د منافقانو بد صفتونه شروع کوی چه دوی د الله دغه حقوق نهٔ ادا کوی او د دغه احکامو مخالفت کوی او هم دوی مختال او فخور دی۔

الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ وَيَأْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ وَيَكْتُمُوْنَ مَا آتَاهُمُ
هغه کسان چه بخل کوی او امر کوی خلقو ته په بخل سره او پټوی هغه څه چه ورکړی دی دوی ته
اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِيْنَ عَذَابًا مُّهِيْنًا ﴿۳۷﴾
الله تعالیٰ د مهربانئ خپلے نه او تیار کړیدے مونږ د کافرانو دپاره عذاب سپکونکے۔

تفسیر : پدے کی د منافقانو څلور بد صفتونه بیانیږی او دا د مختال فخور تشریح ده اول دا چه دوی خپله بخل کوی، د الله دپاره مسکینانو او دینی تقاضو کی مال نهٔ لګوی۔

د بخل اقسام

بخل دیته وائی چه دیو چا نه هغه څیز منع کړی چه هغهٔ ئے مستحق وی نو لاندینی کسان ټول په بخیلانو کی شمارل کیږی :

(۱) څوك چه فقیرانو او نورو مستحقینو ته زکاة نهٔ ورکوی۔

(۲) څوك چه علم پټ کړی لکه یهودیانو به د نبی کریم ﷺ صفات پټول او دا د یهودو نه علاوه نورو ته هم شامل دے۔

(۳) څوك چه په چا باندے سلام نهٔ اچوی۔

(٤) څوك چه په رسول الله ﷺ درود نهٔ وائی کله چه د هغه نوم ذکر شی۔

(٥) سائل ته څه نهٔ ورکوی۔

(٦) معذورو خپلوانو ته نفقه نهٔ ورکول۔

او باقی تشریح د بخل په سورة البقره ﴿ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُوْنَ﴾ کی ذکر شویده۔

وَيَأْمُرُوْنَ النَّاسَ : بل ته په بخل باندے امر کولو ته شُح وائی چه بل ته د خیر اراده نهٔ کول، یعنی یو چا ته څوك خیر رسوی او تهٔ پرے خفه کیږے نو تا کی شح راغلے دے چه ډیره لویه هلاکونکے بیماری ده او دا په امتِ مسلمه کی څو مره زیاته ده او دا د نفس لوی شر دے۔ فیا اسفیٰ ! ، والله المستعان فلا حول ولا قوة الا بالله۔

فائده : شیخ محترم حفظه الله فرمائی : زمونږ څینی استاذانو به ویل : یو بخیل وی چه بل ته څه نهٔ ورکوی۔ بل کنجوس وی چه بل څوك ورکړه کوی دے پرے خفه وی۔ او دریم کړوس وی چه خپل طعام خوړلو باندے هم خفه وی چه دا زهٔ ولے خورم، مال به مے کم شی۔

مَا آتَاهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ : فضل مال، علم او دین ته شامل دے او دا د بخل نه زیات دے۔

ځینو خلکو ته الله تعالیٰ ډیر څه ورکړی وی هغه ئے پټ ساتی او شکایتونه کوی چه هیڅ نشته او سړکال هیڅ ونشو۔ ددے نه منع راغلے ده بلکه د الله نعمتونه به بیانوے چه الله ډیر څه راکړیدی اګرکه تعیین ته ضرورت نشته۔

په عربو کی به ځینی بخیلانو اُوښان په کور کی دننه لوشل دے دپاره چه کوم فقیر ترے څه ونهٔ غواړی نو پدے وجه رسول الله ﷺ وفرمایل چه تاسو به په چینه کی اُوښان لوشئ دے دپاره چه مسکینانو ته هم پئ ورکړئ۔

جابرؓ د ابوبکر صدیق ﷺ نه د بیت المال نه درے کرته څه وغوښتل نو هغه ورنکړل بیا ئے وفرمایل : یائے راکړه یا را نه بخل وکړه۔ نو ابوبکر صدیق ﷺ ورته وفرمایل: دا تا څنګه خبره وکړه (وَأَیُّ دَاءٍ أَدْوَأُ مِنَ الْبُخْلِ) د بخل نه بله کومه بیماری سخته ده؟!۔ یعنی تا خو ډیر بد نسبت ما ته وکړو۔ (صحیح البخاری۴۳۸۳)

لِلْكَافِرِیْنَ : دا دلیل دے چه منافقان کافران دی او چونکه دوی خلك سپك ګنړی نو الله تعالیٰ دوی ته د دوی د عمل سزا کی سپکونکے، رسوا کونکے عذاب ورکوی۔

وَالَّذِیْنَ یُنْفِقُوْنَ أَمْوَالَهُمْ رِئَـاءَ النَّاسِ وَلَایُؤْمِنُوْنَ بِاللهِ وَلَا
او هغه کسان چه خرچ کوی مالونه خپل دپاره د خودنے د خلقو او ایمان نهٔ لری په الله او نهٔ
بِالْیَوْمِ الْآخِرِ وَمَنْ یَّكُنِ الشَّیْطَانُ لَهٗ قَرِیْنًا فَسَآءَ قَرِیْنًا ﴿۳۸﴾
په ورځ روستنئ او هغه څوك چه شیطان د هغه ملګرے شی نو ډیر بد دے دا ملګرے۔

تفسیر : د منافقانو بل بد صفت دا دے چه په صحیح ځای کی او د الله د رضا دپاره مال نهٔ لګوی مګر چه کله د ریاء او د شهرت او د نوم ځای راشی یا د اسراف مقام وی نو هلته بنه ډیر مال لګوی۔

رِئَـاءَ النَّاسِ: دپاره د خودنے د خلکو۔ او بنده ریا کاری پدے وجه کوی چه په زړه کی ئے تکبر وی چه خلك زما صفت وکړی او زهٔ لوی سړے ښکاره شم۔

رئاء الناس : دا یا مفعول دے د (یُنْفِقُوْنَ) یا حال دے په معنیٰ د مُرَائِیْنَ سره۔

وَلَایُؤْمِنُوْنَ بِاللهِ : دا دلیل دے چه ریاء اکثر د هغه چا نه واقع کیږی چه بی ایمانه وی، کله چه په بنده کی صحیح ایمان په الله او په آخرت راشی د هغه نه ریاء نهٔ واقع کیږی ځکه چه هغه ته د الله تعالیٰ نه سویٰ بل مخلوق لوی نهٔ ښکاره کیږی۔

وَمَنْ يَّكُنِ الشَّيْطَانُ : دلته وقف دے امام قرطبیؒ او قاسمیؒ وائی : دلته دا عبارت پټ دے (فَقَرِيْنُهُمُ الشَّيْطَانُ) يعنی چا کی چه دغه بد صفتونه راغلل نو شیطان د هغوی ملګرے شو او د چا ملګرے چه انسی یا جنی شیطان شو او د هغه تابعداری کوی نو دا ډیر بد ملګرے دے، هیڅکله به ترے ښه ورځ ونۀ ګوری ځکه چه شیطان انسان ته حکم کوی په بخل باندے او د فقر نه ئے یروی۔

قَرِيْن : هغه انښتی ملګری ته وائی چه ترے نۀ جدا کیږی نو پدے کی اشاره ده چه دوی پسے شیطان انښتے دے او هرچه مؤمن دے نو هغه نه تښتی راتښتی۔

وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ آمَنُوْا بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ
او څه ضرر به وو په دوی باندے که ایمان ئے راوړے وے په الله او په ورځ روستنۍ او خرچ کړی ئے وے
وَأَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ وَكَانَ اللّٰهُ بِهِمْ عَلِيْمًا ﴿٣٩﴾
د هغه مالونو نه چه ورکړی دی دوی ته الله تعالیٰ او دے الله په دوی باندے ډیر پو هه۔

تفسیر : پدے کی منافقانو له یو قسم زورنه ورکړے شویده چه که دے خلقو په الله او په رسول ایمان راوړے وے او د الله د رضا دپاره ئے خپل مال خرچ کولے نو د دوی به څه نقصان شوے وے؟ او کومه ملامتیا به دوی ته متوجه شوے وے؟ سره ددے نه چه په ایمان او انفاق کی خو په دنیا او آخرت کی چندونه چندونه اجرونه شته۔

په بل عبارت : په صحیح ایمان او د اخلاص په انفاق کی که بالفرض اجر نۀ وی نو ضرر هم پکی نشته او بی ایمانی او د ریاکارئ انفاق خو سراسر ضرر او تاوان دے نو پکار ده چه صحیح ایمان راوړے او په هر انفاق کی اخلاص وکړے شی۔ تا چه ایمان راوړو او په اخلاص سره دِے انفاق وکړو نو آیا ستا نوم به ونۀ شی؟ آیا ستا اجر به ضائع شی؟ آیا تۀ به د الله محبوب بنده جوړ نشے؟۔ (عقلمندو ته ډیر ښه دعوت دے)

دا یو قسم ربانی دعوت دے چه دے منافقانو له پکار دی چه د خپل ایمان تصحیح اُوکړی او د نفاق نه توبه اُوباسی او په اسلام کی په خالص زړۀ سره داخل شی او صحیح انفاق وکړی۔

په بل عبارت : د صحیح ایمان او انفاق باعث موجود دے چه هغه د الله حکم او اجرونه او عوضونه دی او بل طرفته مانع موجود نۀ دے او هرکله چه مانع نۀ وی او باعث موجود

وی نو دغه حکم قبلول واجب وی۔
وَمَاذَا عَلَيۡهِمۡ : اَیُ أَیُّ ضَرَرٍ وَتَبِعَةٍ۔ کوم ضرر او نقصان او ملامتیا به وے په دوی باندے په صحیح ایمان او انفاق کی۔
علامه ابو السعودؒ فرمائی : نو پدے کی منافقانو ته توبیخ او رټنه ورکړے شوه چه دوی د منفعت اود فائدے ځای نه خبر نهٔ دی او په یو شی داسے عقیده لری چه د حقیقت خلاف وی، O او پدے کی تیزی ورکول دی دوی ته په فکر کولو په طلب د جواب کی، شاید چه دوی هغه څیزونه وپیژنی چه په هغے کی به دوی ته لوی او بنائسته فائدے حاصلیږی۔ O او پدے کی تنبیه ده چه کله یو تن یو داسے کار ته دعوت کړے شی چه په هغے کی ضرر نهٔ وی نو مناسب ده چه هغه احتیاطاً خبره قبوله کړی، پاتے لا دا چه په هغے کی بیشماره فائدے وی، د هغے قبلول خو به خامخا لازم وی، O او دلته ئے ایمان مخکی ذکر کړو پدے کی اشاره ده چه د ایمان نه بغیر انفاق له هیڅ اعتبار نشته۔ آه۔
محاسن التاویل للقاسمی (۱/۲۹۷)
وَكَانَ اللّٰهُ بِهِمۡ عَلِيمًا : پدے کی جواب د سوال هم دے او تهدید (دهمکی) هم۔
سوال دا دے چه منافقان وائی چه مونږ د الله دپاره انفاق وکړو نو څوك به زمونږ صفت وکړی؟ نو الله فرمائی : چه الله په تاسو پوهه دے، ستا انفاق ئے ولیدو نو هغه به دِے مدحه وکړی او د خلکو په زړونو کی به تا سره محبت واچوی نو د الله علم کافی دے، مخلوق ته څه ضرورت دے ؟!۔
دویم پدے کی تهدید (یو قسم دهمکی) ده چه که دوی خپل حالت بدل نکړو نو د الله د رانیولو انتظار دِے کوی۔

إِنَّ اللّٰهَ لَا يَظۡلِمُ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ وَإِن تَكُ حَسَنَةً يُضَٰعِفۡهَا
یقیناً الله ظلم نهٔ کوی په اندازه د ذرے او که وی دا (ذره) نیکی نو دوچنده به کړی هغه
وَيُؤۡتِ مِن لَّدُنۡهُ أَجۡرًا عَظِيمًا ﴿٤٠﴾
او وربه کړی د خپل طرف نه اجر لوی۔

تفسیر : پدے آیت کی بل لوی زیرے دے او ترغیب دے انفاق ته په صحیح طریقه۔ دا هغه دریم آیت دے چه سیدنا ابن عباسؓ وئیلی وو چه ددے امت دپاره د دنیا او ما فیها نه

غوره دے۔
مناسبت : د منافقانو مالونه ضائع شو ځکه چه دوی ئے په غلطه طريقه لګوی نو راشئ په صحيح طريقه مالونه ولګوئ، الله به ستاسو معمولی عمل هم اګرکه د ذرے په اندازه وی نۀ ضائع کوی۔
مِثْقَالَ : اصل کی يو دينار ته وائی چه شل ديناره شل مثقاله وی او دا د سرو زرو نصاب دے، او يو مثقال څلويښت قيراطونه دے۔ بيا مثقال د ثقل نه دے بوج ته وائی او د بوج په معنیٰ سره استعماليږی بيا چه کله ورسره ذرّه وغيره لفظ ذکر شی نو په معنیٰ د مطلق مقدار او وزن سره استعماليږی۔
ذَرَّةٍ : ذرّه کی د ابن عباس رضی الله عنهما يو روايت دا دے چه دا سور ميږی ته وائی او دا روايت د ابن مسعودؓ نه هم نقل دے (آلوسیؒ)۔ O او دويم روايت دا دے چه دا د سور ميږی سر ته وائی، او دريم روايت دا دے چه دا د خاورے ډير ميده ګرد او دوړے ته وائی۔
O او ځينی وائی چه د نمر د پلوشو مخے ته چه کوم ذرات ښکاری او په لاس نۀ رانيول کيږی هغے ته ذرات وائی۔ O او ځينی وائی چه ذره د اُوری (غوبنت، رائی) دانے ته وائی۔
او دا بيا کنايه وی د ډير معمولی شی نه او هرکله چه الله تعالیٰ دغه شانِ معمولی ظلم نکوی نو زيات خو به په طريق اولیٰ نکوی لکه بل آيت کی دی : ﴿ إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ النَّاسَ شَيْئًا ﴾ (يونس:٦١) الله تعالیٰ په انسانانو باندے هيڅ قسمه ظلم نکوی۔
نو الله تعالیٰ داسے نکوی چه څوك د لږ عذاب مستحق وی هغه ته زيات عذاب ورکړی، يا د ډير ثواب مستحق وی هغه ورله کمه کړی۔ البته په اجرونو کی د خپل رحمت په وجه فراخی او زياتوالے راولی۔ الله تعالیٰ ولے ظلم نکوی ځکه چه کامل قدرت والا دے ظلم ته ئے ضرورت نشته۔
وَإِنْ تَكُ : ضمير (ذرة) ته راجع دے۔
يُضَاعِفْهَا : يعنی الله تعالیٰ ئے زياتی کوی په ډيرو چندونو سره لکه روستو وائی ﴿ وَيُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ أَجْرًا عَظِيمًا ﴾ الله تعالیٰ د خپل فضل او مهربانئ د وجه نه لوی اجرونه ورکوی۔
کله د يوے ذرے نه غرونه هم جوړ شی، دا ولے؟ دا د الله تعالیٰ د شکوريت او د فراخه رحمت تقاضا ده۔
قتاده رحمه الله وائی : که زما يوه ذره نيکی زياته شی ما ته دا د ټولے دنيا نه محبوبه ده۔
(تفسير الطبری ٤/ ٨٨)

ابو هريره ﷺ فرمائي: [إِذَا قَالَ اللّٰهُ أَجْرًا عَظِيمًا فَمَنْ يُقَدِّرُ قَدْرَهُ] كله چه الله تعالىٰ وائي چه لوى اجر دے نو ددے اندازه به څوك وكړي- چه عظيم ذات يو اجر ته لوى ووائي نو دا به څومره لوى وي!!-

په صحيحينو كې ابوسعيد خدرى ﷺ د رسول الله ﷺ نه د شفاعت په حديث كې روايت كړيدے چه الله به اُووائي، لاړ شه د چا په زړهٔ كې چه د اُورى د دانے برابر هم ايمان وى هغه د اُور نه راوباسه- په يو بل روايت كې دى چه د چا په زړهٔ كې د ايمان ادنىٰ ذره هم وى نو هغه د جهنم نه راوباسه- نو ډير خلق به د جهنم نه راويستلے شي-

ابوسعيد اُووئيل چه كه غواړئ نو د قرآن دا آيت: ﴿إِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ﴾ اُولولئ، ليكن كافرانو ته د نيكيانو بدله په دنيا كې ملاويږي- په آخرت كې به د دوى هيڅ نيكى د دوى په كار نهٔ راځي- (مسلم، ابوداود طيالسى)-

امام احمدؒ او ابوداود الطيالسيؒ د انس ﷺ نه روايت كړيدے چه رسول الله ﷺ وفرمايل:

[إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ لَا يَظْلِمُ الْمُؤْمِنَ حَسَنَةً، يُثَابُ عَلَيْهَا الرِّزْقَ فِي الدُّنْيَا وَيُجْزٰى بِهَا فِي الْآخِرَةِ، وَأَمَّا الْكَافِرُ فَيُطْعَمُ بِهَا فِي الدُّنْيَا فَإِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ لَمْ يَكُنْ لَهُ حَسَنَةٌ] (مسند احمد: ١٢٢٨٦ وابوداود الطيالسى رقم: ٢٠١١ ومسند ابى يعلى: ٢٨٤٤) واسناده صحيح، ارناووط/ حسين سليم اسيد) الله تعالىٰ په مؤمن بانده د هغه په نيكيو كې هيڅ ظلم نكوى، هغه ته د هغے په وجه په دنيا كې رزق وركوى، او په آخرت كې به ئے بدله وركوى او هرچه كافر دے نو هغه ته د نيكئ په وجه په دنيا كې (زياتى) خوراك وركوى نو كله چه د قيامت ورځ شى د هغه به هيڅ نيكى پاتى نشى-

فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ
پس څرنګ به وى حال د دوى په هغه وخت چه رابه ولو مونږ د هر امت نه ګواه لره
وَجِئْنَا بِكَ عَلٰى هٰؤُلَاءِ شَهِيدًا ﴿٤١﴾ يَوْمَئِذٍ يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا
او رابه ولو تا لره پدے كسانو ګواه- په دغه ورځ به خوښوى هغه كسان چه كفر ئے كړيدے
وَعَصَوُا الرَّسُولَ لَوْ تُسَوّٰى بِهِمُ الْأَرْضُ
او نافرمانى ئے كړے د رسول ارمان چه هواره كړے شوے وے په دوى بانده زمكه

وَلَا يَكْتُمُونَ اللّٰهَ حَدِيثًا ﴿٤٢﴾

او نۀ به شي پټولې د الله نه هيڅ خبره.

تفسير : پدې کې د منافقانو او کافرانو دپاره د آخرت سخت تخويف دے۔ او د قيامت هيبتونه او د هغه ورځې پريشانئ ذکر شويدی چه د کافرانو او شر او فساد والو به په هغه ورځ څه حال وی چه کله به مونږ د هر امت نه د ګواه په شکل د هغوی رسول راوبلو چه هغه به ګواهی ورکوی چه دوی څنګه نيك اعمال کړی او څنګه څنګه ئے کفر او سرکشي کړے ده، دے دپاره چه ددے ګواهئ مطابق د هغوی سره حساب اُوشی، او رسول الله ﷺ به د هغوی د امت د ګواه په حيثيت سره رابللے کيږی دے دپاره چه د مؤمن او کافر او د موحد او مشرك پته اُولګی، او دے دپاره چه رسول الله ﷺ ګواهی اُوکړی چه هغوی د الله پيغام رسولے وو او کوم امانت چه هغوی ته سپارلے شوے وو هغه ئے بغير د کمی او زياتی نه ادا کړے وو۔

بخاریؒ او مسلمؒ د عبد الله بن مسعود ؓ نه روايت کړيدے چه ما ته رسول الله ﷺ اُووئيل چه ما ته قرآن اُووايه ؟ نو ما ورته اُووئيل چه اے د الله رسوله ! زۀ به ئے تا ته څنګه واورم او حال دا چه په تا باندے نازل شوے دے ؟ نبی ﷺ اُوفرمايل چه آؤ، زۀ د بل نه قرآن آوريدل خوښوم، نو ما د سورة نساء لوستل شروع کړل تردے چه دے آيت ته راورسيدم : ﴿فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلٰى هٰؤُلَاءِ شَهِيدًا﴾ نو نبی ﷺ اُوفرمايل : اُوس بس کړه۔ فَالْتَفَتُّ إِلَيْهِ فَإِذَا عَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ) نو ما اُوکتل چه د هغه د سترګو نه اُوښکے روانے وے))۔ (بخاری ۷۵۵/۲) د امام مسلمؒ په روايت کی دا الفاظ زيات دی :

چه ((زۀ ګواه وم ترڅو پورے چه زۀ د هغوی په مابين کی وم))۔ (ځکه پس د مرګ نه رسول الله ﷺ د امت په عملونو نۀ پوهيدو)

او مطلب د آيت دا دے چه اے مجرمانو ! تاسو ته په دنيا کی بيان وشو اُوس به عملونه برابروئ، که نۀ وی د قيامت په ورځ به په تاسو باندے ګواهی کيږی بيا به د الله نه ځان نشئ خلاصولے، او ارمانونه به کوئ چه ارمان چه زمکه په مونږ هموار شوے وے او قيامت ته نۀ وے راپورته شوی او په شرمونو او عذابونو باندے نۀ وے اخته شوی۔

وَعَصَوُا الرَّسُولَ : کافرو خو هسے هم د رسول الله ﷺ خلاف کړيدے نو دا ورسره د څه حکمت دپاره وويل شو ؟ نو ددے وجه دا ده (والله اعلم) چه پدے سورت کی د رسول الله

ﷺ شان ذکر کيږي ځکه چه هغه به د معاشرے اصلاح کوله او منافقانو به ورانے کولو نو الله فرمائي چه که ددے رسول خلاف مو وکړو نو بيا به ارمانونه کوئ۔
لَوْ تُسَوَّى بِهِمُ الْأَرْضُ : د کافر دا ارمان الله تعالىٰ په بل آيت کې داسے بيان کړيدے :
﴿ وَيَقُولُ الْكَافِرُ يَالَيْتَنِي كُنتُ تُرَابًا﴾ (النبأ : ٤٠)
او کافر به وائي چه اے کاش ! چه زۀ خاورے وے (يا خاورے شوے وے لکه نور حيوانات چه خاوري شو چه نۀ ورله جنت شته او نۀ جهنم)
او ددے دوه مطلبه دي (١) يو دا چه دوی به وائي چه ارمان مونږ د اول نه د خاورو په شان وے چه د سر نه انسانان پيدا نۀ وے۔ (٢) دويم ابو هريره ﷺ فرمائي : کله چه د قيامت په ورځ حيوانات راپورته کړے شي او بيرته خاورے کړے شي ځکه چه د هغوی دپاره جنت او جهنم نشته نو کافران به په دغه وخت کې د هغوی د حالت ارمان وکړي۔
لَوْ : کلمه تمنايه دے۔

سوال او د هغے جواب

که څوك سوال وکړي چه په سورت انعام (٢٣:) آيت کې راغلي دي چه مشرکان به وائي ﴿ وَاللهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ﴾ قسم په الله چه مونږ (په دنيا کې) مشرکان نۀ وو۔ او دلته وائي چه د الله نه به هيڅ خبره نشي پټولے؟
جواب : دلته مطلب دا دے : (لَايَقْدِرُونَ عَلَى الْكِتْمَانِ) دوی به په خبره پټولو قادر نۀ وي ځکه چه الله خو د دوی په هر حال باندے عالم دے اګرکه دوی به کوشش کوي چه خبره پټه کړه۔ ليکن الله تعالىٰ به په دوی باندے د دوی اندامونه ګواه کړي۔ (الکشاف)
٢- جواب : د ابن عباس ﷺ نه چا تپوس وکړو چه د قرآن په څلورو آيتونو کې زۀ په اصلي مطلب باندے نۀ پوهيږم (ما ته پکې تعارض ښکاري) يو د هغے نه دا آيت دے (تفسير البغوی ١/ ٤٣٠)
نو هغه ورته جواب ورکړو چه د قيامت په ورځ مختلف مواقع او مواقف دي چه په بعض موقعو کې به اقرار کوي او په ځينو کې به انکار کوي چه کيدے شي په کومه خبره به خلاص شي، لکه دا د هر مجرم کار دے چه اول انکار وکړي بيا چه ورسره مخالف نرم شي نو وائي چه کيدے شي په اقرار خلاص شم۔ نو کله چه مجرمان انکار وکړي نو الله به په دوی باندے د دوی اندامونه ګواه کړي نو په دغه وخت کې به دوی دغه ارمان وکړي او د

الله نه به هیڅ خبره نشی پټولے۔

او دویم اشکال راته په (وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَحِيْمًا) او (وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا) کی دے چه ددے ظاهری معنیٰ دا ده چه الله پخوا زمانه کی غفور رحیم او عزیز حکیم وو۔ (آیا اُوس نۀ دے)

دریم اشکال دا دے چه یو ځای کی الله فرمائی : ﴿ فَلَا أَنْسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَلَا يَتَسَاءَلُوْنَ ﴾ (المؤمنون:۱۰۱) (د قیامت په ورځ به د یو بل نه تپوسونه څوك نشی كولے۔ او بل ځای فرمائی: ﴿ وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَتَسَاءَلُوْنَ﴾ (الطور:۲۵) یو بل ته به رامخامخ شی چه د یو بل نه به تپوسونه کوی۔ او څلورم اشکال دا دے چه په سورة النازعات کی ئے د آسمان پیدائش د زمکے د پیدائش نه مخکی ذکر کړیدے ﴿ وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ دَحَاهَا﴾ او په سورتِ فصلت :۹-۱۱) آیت کی ئے د زمکے پیدائش د آسمان د پیدائش نه مخکی ذکر کړیدے نو کوم یو مخکی پیدا دے ؟۔

نو هغه جواب ورکړو چه (غفورا رحیما) دا د الله تعالیٰ ازلی صفتونه دی، یعنی د پخوانه الله تعالیٰ خپل ځان دپاره دا نومونه ایخودی دی او اُوس هم بخنه کونکے دے۔

او د دریم نه جواب دا دے چه کوم آیت کی چه دا دی چه د قیامت په ورځ به یو بل نه تپوسونه نشی کولے نو دا په اوله نفخه کی مراد ده نو دغه وخت به نۀ په نسبونو فخروی او نۀ به تپوسونه وی۔ او بیا چه آخرت ته راپورته شی نو یو بل نه به تپوسونه کوی۔ او څلورم اشکال نه جواب دا دے چه اول ئے زمکه په دوه ورځو کی پیدا کړه او بیا ئے آسمان پیدا کړو بیا ئے آسمان ته قصد وکړو نو هغه ئے په دوه ورځو کی برابر کړو د هغے نه روستو ئے بیا زمکه راخوره کړه پدے طریقه چه په هغے کی ئے اُوبه او ګیا هګانے راویستلے او غرونه او ګټهان ئے پکی پیدا کړل په دوه ورځو کی۔ نو آسمانونه په دوه ورځو کی پیدا شو او زمکه سره د خورولو نه په څلورو ورځو کی۔ (البخاری فی التفسیر فی حم السجدة، تعلیقاً وموصولا - تفسیر البغوی ۲/۲۱۸)

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارٰى حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا
اے ایمان والو! مۀ نزدے کیږئ مانځه ته چه تاسو نشه یئ تردے چه پوهه شئ په هغه خبره
تَقُوْلُوْنَ وَلَا جُنُبًا إِلَّا عَابِرِيْ سَبِيْلٍ حَتّٰى تَغْتَسِلُوْا وَإِنْ
چه وایئ تاسو او نۀ چه پلیت یئ مګر تیریدونکی د لارے تردے چه غسل اُوکړئ او که

كُنتُم مَّرۡضَىٰٓ أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوۡ جَآءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ ٱلۡغَآئِطِ أَوۡ لَٰمَسۡتُمُ
يئ تاسو بيماران او يا په سفر باندے يا راشي يو تن ستاسو د كندے نه يا مسه كړئ وئ تاسو
ٱلنِّسَآءَ فَلَمۡ تَجِدُواْ مَآءً فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدًا طَيِّبًا فَٱمۡسَحُواْ
زنانو لره نو نۀ موندۀ كوئ اُوبه نو قصد اُوكړئ د پاكے خاورے پس مسه اُوكړئ
بِوُجُوهِكُمۡ وَأَيۡدِيكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُورًا ﴿٤٣﴾
په مخونه خپلو او لاسونو خپلو بيشكه الله معافي كونكے مهربانه دے۔

تفسیر : **ربط :**

(۱) د مخكى نه احكام انتظاميه شروع دى او په مينځ كى ئے په منافقانو رد وكړو نو اُوس نور احكام انتظاميه بيانوى او ددے تعلق د ﴿وَاعۡبُدُوا اللّٰهَ﴾ سره دے يعنى وَاعۡبُدُوا اللّٰهَ فِىۡ حَالَةِ الصَّحۡوِ لَا فِىۡ حَالَةِ السُّكۡرِ ـ د الله بندگى په داسے حالت كى وكړه چه ستا دماغ برابر وى او د نشے حالت نۀ وى، دارنګه د الله بندگى (مونځ) په حالت د طهارت كى وكړه نۀ په حالت د جنابت كى۔ (۲) مخكى طهارت د اموالو وو د رياء نه چه هغه طهارت باطنى دے نو اُوس طهارتِ ظاهرى بيانيږى۔ (۳) مخكى ښائسته اخلاقو ته ترغيب وو چه هغه حقوق د بندګانو وو اُوس د الله په حقوقو كى اخلاص ذكر كوى۔ (آلوسیؒ)

شان نزول

دا آيت په هغه وخت كى نازل شوے وو چه شراب لا حرام نۀ وو نو بعض صحابه كرام (عبد الرحمن بن عوف ﷺ) خپلو ملګروته مخكى شو چه په حالت د نشه كى ئے مونځ كولو نو ﴿قُلۡ يَا أَيُّهَا الۡكَافِرُوۡنَ﴾ كى ئے د (لَا أَعۡبُدُ مَا تَعۡبُدُوۡنَ) په ځاى (أَعۡبُدُ مَا تَعۡبُدُوۡنَ) ئے ولوستل چه ترجمه ئے بيخى برعكس شوه نو دا آيت نازل شو۔ چه د مونځونو په وختونو كى به شراب نۀ څكئ نو دا د شرابو د حراميدو دويمے مرحلے سره تعلق لرى۔ لكه تفصيل د سورة البقره آيت (۱۲۹) لاندے ذكر شويدے۔ نو پدے طريقه به ډير خلك شراب نۀ څكى څكه چه پنځه وختونو كى به ډير كم شراب څكل كيږى، پدے وجه علماء فرمائى څوك چه د پنځو مونځونو پابند شو نو ډير جائز خواهشات به ترے پاتى كيږى پاتے لا حرام۔

وَأَنْتُمْ سُكَارىٰ : سكاري جمع د سَكْرَانٌ ده، سُكر په معنىٰ د نشې سره دې۔ او ددې نشې اندازه دا ده چه ددې سره عقل دومره نقصاني شي چه د هغې په وجه په قرائت كې ګډوډ كيږي او په خپلو خبرو نۀ پو هيږي۔

علماء فرمائي : كه يو تن د نشې په حالت كې مونځ كوي نو دا مونځ شرعًا مونځ نۀ دې بلكه دوباره به ئې كوي۔ او پدې كې دا هم داخليږي چه څوك په جهالت سره مونځ كوي او د مانځه د ترجمې نه هم خبر نۀ دې چه زۀ څه وايم پدې كې هم د(حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ) علت موجود نۀ دې۔ ددې وجه نه عبد الله بن عباس رضى الله عنهما فرمائي : [لَيْسَ لَكَ مِنْ صَلَاتِكَ اِلَّا مَا عَقَلْتَ مِنْهَا] (مدارج السالكين: ۱/۱۱۲ واتحاف السادة المتقين۳/۱۱۲و ۱۲۳/۴)

ستا هغه مونځ قبليږي چه ته په كې په توجه سره ئې او د هغې په ترجمه پو هيږې۔

ددې وجه نه مسلمانانو له د مانځه ترجمه زده كول ضروري دي۔ او د حديث د وجه نه پدې كې خوب هم داخليږي چه يو تن د شپې مانځه (تهجدو) ته راپاڅيږي او هغه د پيرشانئ حالت كې دې، دماغ ئې پوره كار نۀ وركوي او مونځ كوي نو رسول الله ﷺ فرمائي: دا دې اُوده شي تردې چه ددۀ نه خوب لاړ شي، ځكه چه دې نۀ پو هيږي چه شايد دې به بخنه غواړي نو ځان ته به ښيرې وكړي۔ (بخارى :۲۱۲)

د (اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ) (اې الله ما ته بخنه وكړه) په ځاى به ئې (اَللّٰهُمَّ اعْفِرْ لِيْ)

اې الله !ما په خاورو ككړ كړه) به ووائي۔

د عبد الله بن مسعود ﷺ نه يو بل تفسير داسې نقل دې چه دلته د (الصلاة) نه مراد (مَوَاضِعُ الصَّلَاة) دې يعنى د مانځه ځايونو ته مۀ نزدې كيږئ چه هغه مساجد دي په حالت د نشه كې، او نۀ په حالت د جنابت كې۔

وَلَاجُنُبًا : ددې دوه تفسيرونه دي (۱) د ابن مسعودؓ د تفسير مطابق ددې مطلب دا دې چه د مانځه ځاى ته چه مساجد دي په حالت د جنابت كې مۀ نزدې كيږئ نو جنب به مسجد ته نۀ ننوزي مګر كه په لاره كې مسجد وي نو په هغې كې تيريدل جائز دي نو د (اِلَّا عَابِرِيْ سَبِيْلٍ) معنىٰ به دا وي (اِلَّا مُجْتَازِيْنَ فِي الْمَسْجِدِ) مګر كه مسجد كې تيريدونكي وي دپاره د داخليدو يا دپاره د وتلو نو جائز ده۔ يا (عَابِرِيْ سَبِيْلٍ) مسافر ته وائي نو د هغه دپاره په حالت د جنابت كې هم مسجد ته راتلل جائز دي، تيمم به ووهي او مسجد ته به راننوزي، خاصكر كله چه غسلخانه هم په مسجد كې وي اګركه بلا ضرورته د جنب دپاره مسجد كې كيناستل نۀ دي پكار نو ددې نه معلومه شوه چه جنب مطلقاً نجس نۀ دې چه بيخي

به مسجد ته نهٔ راځی۔

ابن جریرؒ وغیره روایت کړیدے چه د بعض صحابه کرامو د کورونو دروازے مسجد نبوی ته کولاوے وے او هغوی به په مسجد کی تیریدل نو د دوی په باره کی د آیت دا حصه نازله شوه چه په حالت د جنابت کی په مسجد کی تیریدل د هغه چا دپاره جائز دی چه د هغوی دکورونو دروازے مسجد ته کولاوے وی۔

(۲) تفسیر: ولا جنباً دویم حال دے د (الصلاة) نه أیْ لَاتَقْرَبُوا الصَّلَاةَ جُنُبًا۔

تاسو مهٔ نزدے کیږئ مانځه ته پداسے حال کی چه تاسو جنب یئ، مگر که مسافر وی نو د هغه په حالت د جنابت کی هم مونځ کیږی خو پدے شرط چه تیمم ووهی لکه روستو هغه بیانوی ځکه چه مسافرین اکثر په صحراوونو کی روان وی اُوبه ورته نهٔ ملاویږی۔

او که په تیمم قادر نهٔ وی نو همداسے به مونځ کوی دے شخص ته فَاقِدُ الطُّهُوْرَيْن وائی (یعنی د پاکئ دواړه اسباب ئے ورك کړیدی) او تفصیل دپاره الحق الصریح شرح مشكاة المصابیح جلد (۲) ته رجوع وکړه۔ او دا تفسیر د علی بن ابی طالب، ابن عباس رضی الله عنهم او سعید بن جبیر او مجاهد رحمهما الله دے۔

وَإِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰى: اُوس نور احکام ذکر کوی چه مثلًا یو تن په غسل باندے قادر نهٔ دے د مرض د وجه نه لکه د ابن عباسؓ نه نقل دی چه زخمی شویدے یا وریاندے د جُدری مرض (شِیری/شَری) راغلے دے او دے جنب شویدے نو دے به څه کوی؟

نو ددے سره د اَودس حکم هم بیانوی، نو ډیر صورتونه ئے یو ځای کړیدی، او دا د روستو (فَلَمْ تَجِدُوْا مَآءً) سره لګی او مریض ته چونکه اُوبه ملاویږی لیکن عدم قدرت د هغه په منزله د عدم د اُوبو دے۔

أَوْ عَلٰى سَفَرٍ: یا مسافر دے چه اُوبه ورته نهٔ ملاویږی۔

مِنَ الْغَآئِطِ: غائط ژورے کندے ته وائی او دا د الله تعالیٰ ادبی کلمات دی چه د قضاءِ حاجت دپاره ئے استعمال کړیدی، ژوره کنده کی خلك خپل حاجت پوره کوی۔

أَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ: دلته د جنابت بل علت بیانوی چه کله سړے په احتلام سره جنب کیږی او کله د خپلی بی بی سره د ملاویدو په وجه۔

د ملامسه څه معنیٰ؟

أَوْلَامَسْتُمْ: کلمه د مُلَامَسَه نه اخستلے شویده او ملامسه دوه معنے لری (۱) لاس وروړل۔

(۲) جنسي تعلقات قائمول۔ د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه نقل دي چه دلته د ملامسه نه مراد جماع كول دي او همدا غوره تفسير دے، (ابن كثير ۱/ ۵۰۰)

پدے کی امام شافعیؒ اوله معنیٰ هم مراد کړیده چه د هغه قول پدے باب کی د دلائلو په اعتبار سره ضعیف دے، ځکه چه رسول الله ﷺ به خپلے بعض بيبيانو ته لاس وروړو او بیا به ئے مونځ کولو او اودس به ئے نۀ کولو۔ (النسائی ۲/ ۳۹رقم : ۱۵۵)

او دا قول دوه صحابه کرامو (ابن مسعود او ابن عمر رضی الله عنهما) ته هم منسوب دے (الطبراني وابن جرير) ليكن كيدے شي چه هغوى ته مرفوع روايات نۀ وى رسيدلى۔ (قاسمی ۲/ ۳۰۹)

نو دلته الله تعالیٰ د اوداسه سبب د کندے راتلل ذکر کړل او د جنابت سبب ئے په لمس النساء سره ذكر كړو او د جنابت زائل كونكے ئے غسل بيان كړو او د بی اودسئ زائل كونكے اَودس دے چه هغه ئے په سورة المائده کی ذکر کړیدے دلته ئے د هغے بدل (تیمم) ذکر کړیدے۔ نو دا د قرآن کریم بلاغت دے چه حکم ئے سره د خپل سبب نه بیان کړو۔

فَتَيَمَّمُوا : تیمم په لغت کی قصد ته وائی۔

صَعِيدًا : صعيد، وجه الارض (د زمکے مخ) ته وائي چه اصل پکی خاوره ده او نور هر شے چه په زمکه وی، شړه وی یا کانړی وی په هغے هم جائز ده۔ لکه په اُوږد حدیث کی دی : [وَجُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ كُلُّهَا مَسْجِدًا وَطَهُورًا] زما دپاره ټوله زمکه جومات او پاکونکے ګرځولے شویده۔ یعنی په هر ځای کی مونځ جائز دے او په هر ځای کی تیمم جائز دے۔ (بخاری : ۳۳۵ومسلم :۱۱۹۵)

د تیمم سببونه

د تیمم دوه قسمه اسباب دی :

(۱) وړاندے سببونه دا دی، مرض، سفر، د دشمن نه یره، د کوهی نه د اُوبو راپورته کولو د سامان نشتوالے وغیره۔

(۲) نزدے سببونه دا چه د سړی اودس مات شی یا اودس مات کړی یا پرے جنابت واوړی او ځان جنب کړی۔

نو الله تعالیٰ پدے مقام کی د دواړو قسمونو دپاره دوه دوه مثالونه ذکر کړل یو یو د اختیاری (نزدے او وړاندے) اسبابو لکه سفر او جنب کیدل او یو یو د غیر اختیار (وړاندے او نزدے) اسبابو لکه مرض او انسانی ضرورت پوره کول، که دا تفصیل ئے نۀ وے کړے نو

امکان وو چه د چا ذهن ته دا خبره راغلې وي چه کله څوك په قصد سره داسې ځای ته سفر وکړي چه هلته اُوبه نۀ وي او یا په قصد سره ځان جنب کړي نو دغسې سړي دپاره به تیمم جائز نۀ وي نو د الله په مهربانی سره دغه اشتباه د مخکې نه ختمه شوه او وې فرمایل چه الله عفوه کونکې دے او هم بخونکې دے پدې وجه ئې تاسو ته په اختیاری اسبابو کې هم د تیمم اجازه درکړه۔ (عزیز التفاسیر۳/۱۶۵)

د تیمم طریقه

فَامْسَحُوْا : دا د تیمم طریقه ده چه دواړه لاسونه به په زمکه ووهي او بیا به ئې په مخ راکاږي او بیا په لاسونو، پدې کې داسې هم جائز دي چه اول لاسونه خپل مینځ کې یو په بل راکاږي او بیا په مخ باندې۔ دواړه په حدیثونو کې راغلې دي۔

بِاَيْدِيْكُم : لاسونه خو د گوتو د سرونو نه تر ترخونو پورې وي لیکن د احادیثو په وجه باندې د لاسونو نه مراد دلته د مړوندونو پورې دي د بخاری او مسلم په روایاتو کې، او د سُنَنو په روایتونو کې تر څنگلو پورې هم راغلې دي هغه هم حسن حدیثونه دي، هغه طریقه هم جائز ده مگر اوله طریقه پکې ډیره غوره ده۔ باقي تشریح «الحق الصریح» کې وگورئ۔

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِيْنَ أُوْتُوْا نَصِيْبًا مِنَ الْكِتَابِ يَشْتَرُوْنَ
آیا تۀ نۀ گورې هغه کسانو ته چه ورکړې شویده څه حصه د کتاب نه اخلي دوی
الضَّلَالَةَ وَيُرِيْدُوْنَ أَنْ تَضِلُّوا السَّبِيْلَ ﴿٤٤﴾ وَاللهُ أَعْلَمُ
گمراهۍ لره او اراده لري چه تاسو ورکه کړئ لاره (سمه)۔ او الله تعالیٰ ډیر ښه پوهه دے
بِأَعْدَائِكُمْ وَكَفٰى بِاللهِ وَلِيًّا وَكَفٰى بِاللهِ نَصِيْرًا ﴿٤٥﴾
په دشمنانو ستاسو او کافي دے الله دوست او کافي دے الله تعالیٰ مدد گار۔

تفسیر : ددې ځای نه تر (۵۷) آیت پورې په اهل کتابو ردونه بیانیږي او د هغوی قبیح صفات ځکه چه دا هغه خلك وو چه د الله تعالیٰ د احکامو په باره کې به ئې مسلمانانو ته اشتباهات اچول او د حقې لارې نه د اړولو کوشش به ئې کولو نو الله تعالیٰ مسلمانانو ته فرمائي چه دوی وپیژنئ خطا مو نکړي او معاشره درله گنده نکړي۔

نو پدې کې شلور بد صفتونه ذکر کوي یو دا چه (أُوتُوا نَصِيبًا مِّنَ الْكِتَابِ) : دوی ته معمولي شان علم د تورات ورکړې شویدې نور جاهلان دي۔ د الله په کتاب ئې په حقیقي

معنو کې ځان نهٔ دے پوهه کړے، صرف د خپل غرض په انداز ئے ځان پوهه کړيدے.
(۲) خپله گمراهي اخلي، او د حقے لارے نه اوړيدلي دي. (۳) او اراده لري چه تاسو هم گمراه کړي او د نيغے لارے نه مو واړوي. (٤) دوي ستاسو دشمنان دي، د مؤمنانو سره دشمني کوي، کوشش کوي او فکر کوي چه مؤمنان په کومه ذريعه بې لاري کړي.
الضَّلَالَةَ : د گمراهئ نه مراد هر قسم گمراهياني او خاصکر په قرآن کريم او په آخري رسول باندے کفر کول دي. او د اشتراء نه مراد استحباب دے يعني دوي ته گمراهي ډومره خوښه ده لکه يو شے چه اخلي او ورپسے گرځي.
وَيُرِيدُونَ : يعني دوي په خپله گمراه دي او د مؤمنانو د گمراهئ کوشش کوي، لکه ابن ابي حاتمؒ د عِکرمهؒ نه نقل کړيدي چه د يهودو څه کسان به د بعض مؤمنانو خوا ته راتلل او ځانونه به ئے ورته خيرخواه خودل او دا به ئے ورته ويل چه تاسو مالونه مهٔ خرچ کوئ ځکه چه مونږ په تاسو باندے د فقيرئ نه يريږو او په خرچه کې جلتي مهٔ کوي ځکه چه پته نهٔ لگي چه روستو څه کيږي.
نو الله فرمائي چه هرکله چه دوي تاسو پسے لگيدلي دي نو تاسو ترے ځانونه بچ کړئ او الله تعالىٰ ستاسو خير خواه دے ځکه ئے درله خبر درکړو. دلته د ارادے نه مراد کوشش کول دي يا اراده ئے ذکر کړه پدے وجه چه د نورو خلکو گمراه کول د دوي په اختيار کې نهٔ دي او دا دليل دے چه د گناه او د بل چا د گمراه کولو اراده کول هم کبيره گناه ده.
وَكَفٰى بِاللهِ وَلِيًّا : يعني الله تعالىٰ ستاسو کافي دوست او کافي مددگار دے نو د دوي دوستانه مهٔ خوښوئ او دا طمع مهٔ لرئ چه دوي به په وخت د مصيبت کې ستاسو مدد وکړي بلکه د الله نه مدد غواړئ. زجاجؒ داسے معني کوي : وَاكْتَفُوا بِاللهِ وَلِيًّا وَاكْتَفُوا بِهٖ نَصِيْرًا - فَثِقُوْا بِوَلَايَتِهٖ وَنَصْرِهٖ. يعني الله کافي دوست وگڼئ او هغه کافي مددگار وگڼئ او د هغه په ولايت او مدد باندے اعتماد وکړئ. (خازن)

مِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ وَيَقُوْلُوْنَ
بعضے د هغه کسانو نه چه يهوديان دي بدلوي کلمے د ځايونو خپلو نه او وائي دوي
سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ وَّرَاعِنَا
چه واوريدل مونږ او نافرماني کوو مونږ او واورهٔ ته تا ته دِے وانهٔ ورولے شي او (وائي دوي)

لَيًّا بِأَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا فِي الدِّيْنِ وَلَوْ أَنَّهُمْ
لفظ د راعنا په تاوولو د ژبو خپلو سره او په بد وئیلو سره په دین کی او که چرے دوی
قَالُوْا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَاسْمَعْ وَانْظُرْنَا
وئیلی وے چه واوریدل مونږ او تابعداری کوو مونږ او واورئه او اُوګوره مونږ ته
لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَقْوَمَ وَلٰكِن
نو خامخا وے به دا غوره د دوی دپاره او ډیر برابرونکے (دوی لره د الله په دین) او لیکن
لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْنَ إِلَّا قَلِيْلًا ﴿٤٦﴾
لعنت کړے دے په دوی باندے الله تعالیٰ په سبب د کفر د دوی نو ایمان نهٔ راوړی دوی مګر لږ شان۔

تفسیر: پدے کی د یهودیانو نور قبیح صفات ذکر دی۔

شان نزول

ابن جریرؒ، ابن ابی حاتمؒ اوبیهقیؒ په ((دلائل النبوة)) کی د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کریدے چه رفاعه بن زید بن تابوت لوئی شیطان د یهودیانو نه وو، کله چه به ئے د رسول الله ﷺ سره خبرے کولے نو خپله ژبه به ئے تاوولے او خبرے به ئے کولے، دے دپاره چه د الفاظو معانی بدله شی او په خپلو مجلسونو کی به ئے همیشه د اسلام پسے بدے خبرے کولے، نو دا آیت نازل شو چه دا یهودیان د هدایت په بدله کی ګمراهی اخلی، او د دنیاوی مفادو د خاطره د هغوی سره چه د رسول الله ﷺ په باره کی کوم علم دے هغه پټوی، او غواړی چه مسلمانان هم د هغوی په شان کافران شی۔

یهودیانو به د الله کلام (تورات) د خلقو د ګمراه کولو دپاره بدلولو او د نبی کریم ﷺ سره په کفر او عناد کی به ئے وئیل چه مونږ ستا خبره واوریدله او ستا نافرمانی کوو او دا به ئے هم وئیل چه (اِسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ) یعنی زمونږ خبره واوره غوږونه دِے کانړه شه چه هیڅ شے وانهٔ وریے یا – الله دِے اُوکړی چه ته زمونږ خبره وانهٔ وریے، او کله چه به هغوی رسول الله ﷺ ته د خطاب کولو په صورت کی (رَاعِنَا) وئیلو چه ددے ظاهری معنیٰ ده ((زمونږ خیال اُوساته)) نو خپله ژبه به ئے تاوولہ دے دپاره چه ددے معنیٰ بدله شی او (شپونکے یا کم عقل) شی۔ نو الله تعالیٰ هغوی ته د یهودیانو باطنی خباثت بیان کړو او دا نصیحت ئے

اُوکړو چه که دوی وئیلی وې چه مونږ ستا خبره واوریدله او ستا اطاعت کوو او وئیل ئې چه ته زمونږ خبره واوره او زمونږ خیال اُوساته نو دا د دوی دپاره بهتره وه۔ لیکن الله د دوی د کفر په وجه په دوی باندې لعنت کړې وو پدې وجه دوی به صرف د نوم دپاره ایمان راوړلو۔ یا په دوی کې ډیر لږ کسان ایمان راوړی۔

مِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا : (١) ددې عبارت نه روستو (قوم) لفظ پټ دې نو دا مبتداء او خبر شو۔ یعنی د یهودیانو نه څه خلك داسې دی چه په کلماتو کې تحریف کوی۔

(٢) یا دا متعلق دې د (اَلَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْباً مِّنَ الْكِتَابِ) سره یعنی دغه کتاب والا څوك دی؟ دا د هغه خلکو نه دی چه یهودیان دی او تحریفات کوی۔

يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ : تحریف د حرف نه اخستلې شویدې چه طرف ته وائی نو د یو شی د تحریف معنی دا ده چه یو شې د خپل اصلی ځای نه بې ځایه کړې شی او یا د خپل اصلی مِحْوَر نه یو څنډې ته ورتاؤ کړې شی۔

الکلم : اسم جنس دې او مفرد ئې (كَلِمَةٌ) دې۔ او د کلماتو نه مراد د تورات کلمات دی یا د قرآن او د رسول الله ﷺ کلمات، نو معنیٰ ئې دا کیږی چه اهل کتاب په مطلق کلمو بدلولو باندې صرفه نهٔ کوی اګرکه د آسمانی کتاب کلمې وی، کله ئې د خپل ځای نه بیخی بې ځایه کوی لکه د تورات نه ئې د رجم آیت ویستلې وو خو پټ ئې نکړې شو او کله پکې غلط تاویل کوی او کله پرې داسې طریقې سره تلفظ کوی او د ژبې په څنډه ئې ادا کوی چه خلك پرې د بلې کلمې ګمان وکړی۔ (روح المعانی٥/٤٦)

وَاسْمَعْ : دا عطف دې په (سَمِعْنَا) باندې یعنی دوی رسول الله ﷺ ته دا خبره هم کوی چه زمونږ خبره واوره او تا ته دې آوریدل ونشی۔

د غیر مسمع څه معنی؟

غَيْرَ مُسْمَعٍ : دا په ترکیب کی حال واقع شویدې د (وَاسْمَعْ) د مستتر ضمیر نه نو ددې درې مطلبونه جوړیږی (١) یو دا چه (اِسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ مَكْرُوْهًا وَلَا أَذًى) په داسې حال کی زمونږ خبره واوره چه تا ته دې بدې او د تکلیف خبرې وانهٔ وروله شی یعنی د خوشحالئ په حال کی زمونږ خبره واوره۔

(٢) یا (اِسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ خَيْرًا) په داسې حال کی زمونږ خبره واوره چه ښو خبرو لره آوریدونکې نهٔ ئې۔ یعنی داسې خبرې دې وانه ورې چه ته پرې خوشحالیږې۔ یا دا چه تهٔ دې

خبرے وانۀ ورے چه بیخی قوتِ سامعه دے ختمه شی او کونڼ شے۔ (زمخشری)
او ځینی وائی چه مطلب ئے دا وو چه تۀ دے مړ شے ځکه چه مړے هم آوریدل نشی کولے۔
نو دے لفظ دوه احتماله لرل د خیر او د شر پدے وجه به دوی دا لفظ ښکاره استعمالولو یا دا
چه دوی به دا لفظ (غَيْرَ مُسْمَعٍ) پټ روستو ورپسے وئیلو۔
(۳) او د حسنؒ او مجاهدؒ نه نقل دی چه (غَيْرَ مُسْمَعٍ په معنیٰ د (غَيْرَ مَقْبُوْلٍ مِنْكَ او غیر
مُجَاب دے (قرطبیؒ، ابن عطیهؒ فی المحرر الوجیز) یعنی ستا قبول والے او اجابت دے ونکړے
شی۔ یعنی تۀ زمونږ نه آوره او مونږ ستا خبره نشو منلے۔
وَّرَاعِنَا : دا هم په (سَمِعْنَا) باندے عطف دے یعنی دوی رسول الله ﷺ ته (رَاعِنَا) لفظ
استعمالوی۔
(لَيًّا بِأَلْسِنَتِهِمْ) دا مفعول له دے د (يَقُوْلُوْنَ) دپاره۔ یا حال دے په معنیٰ د (لَاوِيْنَ) سره۔
یعنی په غَيْرَ مُسْمَعٍ او رَاعِنَا باندے ژبی اړوی ځکه چه دا کلمات دوه احتماله لری، د خیر
او د شر دواړو۔ نو راعنا یوه معنیٰ ده : مونږ ته وګوره او زمونږ لحاظ وساته چه مونږ
درسره خبرے وکړو۔ او غلطه معنیٰ ئے دا وه چه دوی به په عبرانئ ژبه کی پدے کلمه
کنځلے کولے، یا د رُعُوْنَة نه وو په معنیٰ د کم عقلتیا سره، یا به ئے پکی یاء زیاته کړه
(رَاعِيْنَا) زمونږ شپونکے (یعنی ساده)۔
نو دوی به په دغه الفاظو ژبے ککړولے چه د دغه الفاظو ښه معنیٰ به ئے ښکاره کوله او
مقصد به ئے غلطه معنیٰ وه، دا د دوی منافقت وو۔
او دا د یهودو مرض دے چه دے امت ته هم رانقل شویدے چه روغه خبره ککړه کوی او
مهمه خبره غیر مهمه ښکاره کوی او د غیر مهمے نه ضروری جوړوی، پکار دا ده چه هره
مسئله په خپله مرتبه کی بیانه کړے شی، که چرته دینی مسائل کاږه نۀ بیانیدلے نو ډیرو
خلکو ته به هدایت کیدلے، خو افسوس چه ډیر جاهل ملیان د قرآن آیت او د رسول الله ﷺ
احادیثو کی کوږوالے پیدا کوی، خپل مذهب او پارټئ طرفته ئے راتاووی۔ صحیح حدیث به
ضعیف کوی او کله به ئے د پخوانئ زمانے سره لګوی او کله به وائی چه دا حدیث صحیح
دے لیکن د امام شافعیؒ د مذهب موافق دے، دا ټول د لَيُّ اللِّسَان مصداقات دی۔
یا لَيًّا بِأَلْسِنَتِهِمْ : مفعول مطلق دے د فعل محذوفه دپاره یعنی (يَلْوُوْنَ لَيًّا بِأَلْسِنَتِهِمْ) ۔ یعنی
دوی تاووی ژبے خپلے۔
وَطَعْنًا فِي الدِّيْنِ : دا هم د مخکی په شان حال دے په معنیٰ د طَاعِنِيْنَ سره یا مفعول له، یا

مفعول مطلق دے د پټ فعل دپاره اَیْ یَطْعَنُوْنَ طَعْنًا فِی الدِّیْنِ : یعنی دوی په دین اسلام باندے عیبونه لګوی او تورے وریورے کوی، او مطلب ئے دا دے چه دوی په دغه کلماتو کی څکه تحریف کوی چه په اسلام باندے عیب لګول ئے مقصد دے چه دا حق دین نهٔ دے، که دا حق دین وے نو مونږ به ئے سپکاوے نهٔ وے کړے۔

وَلَوْ اَنَّهُمْ : اُوس الله پدے جملے کی دوی ته ترغیب ورکوی خیر طرفته چه تاسو له دغه کارونه نهٔ وو پکار بلکه که دوی د عَصَیْنَا په ځای اَطَعْنَا وئیلے او د غَیْرَ مُسْمَعٍ لفظ ئے نهٔ وئیلے او د (رَاعِنَا) په ځای ئے (اُنْظُرْنَا) وئیلے نو دا به دوی له غوره وے څکه چه د تابعداریٔ اعلان به ئے کړے وے۔

وَاَقْوَمَ : اَیْ اَقْوَمَ لَهُمْ عَلَی الصِّرَاطِ الْمُسْتَقِیْمِ۔

او دا به دوی لره په نیغه لاره برابرونکے وے څکه چه دا اصول دی چه همیشه نیکے او صحی خبرے انسان لره نیغے لارے او حق ته راکاږی او زړونه او عملونه ورله جوړوی (وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِیْدًا یُّصْلِحْ لَکُمْ اَعْمَالَکُمْ) او په کږو خبرو باندے د انسان زړه او عملونه خرابیږی، نو څوک چه غلطے او کږے خبرے کوی نو اکثر د هغوی عملونه برباد وی۔

علامه قاسمیؒ وائی (لَکَانَ خَیْرًا لَّهُمْ) دا خبره به دوی لره په دنیا کی هم بنے وے چه وینه او مالونه به ئے محفوظ شوی وے او مرتبه به ئے پورته شوے وے څکه چه دوی به په ټولو آسمانی کتابونو ایمان راجمع کړے وے۔ او په آخرت کی به ورله دوچنده ثوابونه ورکړے شوی وے۔ (نقله عن المُهایمیؒ)

خَیْرًا : اسم تفضیل په معنیٰ د اسم فاعل دے او معنیٰ تفضیلی پکی نشته۔ یا دا چه خیریت په مُفَضَّلُ عَلَیْهِ کی د دوی په ګمان او عقیده کی مراد دے۔ یعنی که د دوی په دغه خبرو کی خیر وی نو په دغه صحیح کلماتو کی به د دوی دپاره ډیر خیر وی اګرکه په واقع کی د دوی په دغه کلماتو کی هیڅ خیر نهٔ وو۔ (قاسمیؒ وابوالسعودؒ)

وَلٰکِنْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ بِکُفْرِهِمْ : لیکن دے خلکو کی کفر او عناد موجود دے او په هغے باندے همیشوالے کوی پدے وجه الله تعالیٰ د هدایت او د خپل رحمت نه جدا کړیدی او دا توفیق ورته نهٔ ملاویږی چه ددے فسادونو نه ځانونه وساتی۔

فَلَا یُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِیْلًا : (۱) (قَلِیْلًا) دا په اعتبار د موصوفِ محذوفه سره د (لایؤمنون) نه استثناء ده یعنی لَا یُؤْمِنُوْنَ اِلَّا اِیْمَانًا قَلِیْلًا ۔ دوی ایمان نهٔ راوړی مګر لږ ایمان او لږ ایمان دا دے چه صرف په موسیٰ علیه السلام او د هغه په کتاب تورات باندے ایمان لری او په نورو

رسولانو او کتابونو باندے کفر کوی او دا ایمان د الله په نیز معتبر نهٔ دے، او پدے کامیابی نهٔ ملاویږی، دا هسے لغوی ایمان دے۔
او دا تفسیر ابوعلی الفارسیؒ راجح کړیدے ځکه چه قلیلا مفرد دے او که دلته خلك مراد وے نو بیا به جمع شوے وے لکه د (لَشِرْذِمَةٌ قَلِيْلُوْنَ) په شان۔ (قاسمی)
یا قلیل په معنیٰ د عدم سره دے یعنی بیخی ایمان نهٔ راوړی لکه عرب قلت په ځای د عدم کی استعمالوی۔ (قاسمی)
صاحب المنار وائی : (فَلَا يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا اَیْ اِيْمَانًا لَا يُعْتَدُّ بِهٖ)
یعنی دوی لږ ایمان راوړی یعنی داسے ایمان راوړی چه هغے له اعتبار نشته ځکه چه انسان په ټول ایمان باندے مکلف دے او په هغے باندے نجات ملاویږی۔ (المنار ۵/ ۱۲۰)
(۲) یا قلیلا استثناء ده د (لایؤمنون) د فاعل ضمیر نه۔ اَیْ لَا يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا مِنْهُمْ۔
یعنی دوی کی ډیر کم کسان ایمان راوړی او اکثر پکی ضدیان دی چه د حق ښکاره کیدو نه پس هم په خپل ضد کلك ولاړ وی۔
او پدے استثناء باندے سوال وجواب په تفسیر قاسمی کی وګورئ۔
مختصر دا چه خفاجیؒ پدے اعتراض کړے چه بیا خو پکار وه چه (قلیل) مرفوع وئیلے شوے وے ځکه چه دا کلام غیر موجب دے نو مرفوع دے بنا بر بدلیت)۔
او ابوالسعودؒ وائی : چه بیا پدے کی قراؤ ته دا نسبت لازمیږی چه دوی په غیر مختار باندے اتفاق کړیدے۔ جواب دا دے چه دا خبره د دوی مردوده ده ځکه چه نصب پداسے صورت کی راتلل هم جیده عربی ده او داسے قرائت په (مَا فَعَلُوْهُ اِلَّا قَلِيْلٌ مِنْهُمْ) (نساء : ٦٦) کی او (وَلَا يَلْتَفِتْ مِنْكُمْ اَحَدٌ اِلَّا امْرَاَتَكَ) (هود :٨١) کی راغلے دے، کما قاله ابن هشام فی التوضیح) قاسمی)
(۳) یا الا قلیلا منصوب دے استثناء ده د (لعنهم الله) نه اَیْ وَلٰكِنْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ اِلَّا فَرِيْقًا قَلِيْلًا مِنْهُمْ آمَنُوْا فَلَمْ يُلْعَنُوْا) یعنی لیکن په دوی باندے الله لعنت کړیدے مګر لږه ډله د دوی نه ایمان راوړو نو لعنت پرے ونشو۔ (قاسمی)

يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتَابَ آمِنُوْا بِمَا نَزَّلْنَا
اے هغه کسانو چه ورکړے شویدے دوی ته کتاب ایمان راوړئ په هغه کتاب چه نازل کړیدے مونږ

مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُم مِّنْ قَبْلِ أَنْ نَّطْمِسَ
تصديق کونکے دے د هغه څه دپاره چه تاسو سره دی مخکی ددے نه چه مونږ به هوار کړو
وُجُوهًا فَنَرُدَّهَا عَلٰى أَدْبَارِهَا أَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا
مخونه پس واپس به کړو دا په خپلو شاګانو یا به لعنت اُوکړو په دوی باندے لکه څنګه
لَعَنَّا أَصْحَابَ السَّبْتِ وَكَانَ أَمْرُ اللهِ مَفْعُولًا ﴿٤٧﴾
چه لعنت کړے دے مونږ په خالی والو باندے او دے کار د الله پوره کړے شوے۔

تفسیر : پدے آیت کی الله تعالیٰ سخت وعید ورکړیدے اهل کتابو ته په دوه خبرو یو دا چه مخونه او شکلونه درله بدلوم که ایمان نۀ راوړئ، او دویم دا چه لعنتونه درباندے کوم۔

ربط :

(۱) مخکی دوی ته د صحیح خبرو کولو دعوت وو اُوس ورته د ایمان دعوت ورکوی۔

(۲) دارنګه مخکی ئے د دوی بد صفات ذکر کړل نو اُوس وائی چه راشئ صحیح ایمان راوړئ چه د دغه بدو صفاتو نه خلاص شئ۔

(۳) مخکی ئے وویل چه اهل کتاب ضدیان دی، ایمان نۀ راوړی نو لعنتیان دی دلته وائی چه د دوی نه به لعنت هله ختمیږی چه صحیح ایمان راوړی که نۀ وی نو نور عذابونه به ورکړو۔

مطلب د آیت دا دے : اے د مدینے یهودیانو! د عناد او ضد نه لاس واخلئ کوم کتاب چه مونږ پدے زمانه کی نازل کړیدے او ستاسو د کتاب تصدیق کونکے هم دے چه اصلی مقاصد ئے سره یو دی او دا هم وائی چه ستاسو کتاب په حقه د الله کتاب دے او د رسول الله ﷺ په باره کی چه ستاسو په کتابونو کی کومے خبرے او پیشنګویانی موجودی دی د هغے تصدیق هم کوی نو ددے هرڅه باوجود تاسو ته د ایمان راوړلو ښه موقعه موجوده ده، او د انکار هیڅ معقول دلیل ستاسو سره نشته نو راشئ پدے کتاب (قرآن کریم) ایمان راوړئ او د الله د لعنت نه ځانونه خلاص کړئ که نۀ وی، د الله لعنت خو انتهاء ته نۀ دے رسیدلے او نۀ د لعنت قسمونه ختم شویدی بلکه الله به یو بل قسم لعنتونه راولیږی هغه دا چه مونږ به ستاسو سترګے، پوزه او خوله لرے کړو او ستاسو مخونه به وران او اخیر کړو، او دا به ستاسو شا ته واړو، لکه څنګه چه تاسو هدایت نۀ قبلوئ او سرچپه روان یئ، یا به

په دوی باندے لعنت اُوکړو او په پوره توګه مسخ کولو سره به د دوی شکلونه بدل کړو، لکه څنګه چه مونږ د هفتے والو سره کړی وو۔

قصه

کعب الاحبارؒ وائی په شام کی یوه شپه په لاره روان وم نو ما د یو سړی نه واوریدل چه دا آیت ئے لوستلو نو ما په خپل مخ باندے ګوتے ووهلے چه هسے نهٔ چه مخ مے مسخ شوے نهٔ وی، نو انتظار مے کولو چه صبا به کله راځی کله چه صبا شو، زهٔ د مسلمانانو خوا ته ورغلم او ایمان مے راوړو۔ (قرطبی والدر المنثور)

او په یو روایت کی دی چه ځان سره به ئے وئیل یَارَبِّ أَسْلَمْتُ يَا رَبِّ آمَنْتُ، اے الله ! ما اسلام راوړو او ما ایمان راوړو۔ ددے آیت د وعید نه یریدو۔ (بغوی)

او دغه شان عبد الله بن سلام ﷛ چه کله دا آیت واوریده نو مخامخ نبی کریم ﷺ ته ورغے او کور ته ستون نشو او ورته ئے وویل چه یارسول الله ! زما دا ګمان نهٔ وو چه زه به تا ته راورسیږم حال دا چه مخ به مے شا ته اَووښتے وی (خو د الله په فضل سره په خپل صحیح شکل کی راورسیدم او په تا مے ایمان راوړو) (تفسیر البغوی ۱/۴۳۹، وابن کثیر ۱/۵۰۸)

سوال وجواب

دلته دا سوال مفسرینو ذکر کړیدے چه الله تعالیٰ دلته د اهل کتابو سره دا وعده کړیده چه که دوی ایمان رانهٔ وړو نو مخونه ورله اخیر کوم او مسخ کوم او حال دا چه اهل کتابو خو ایمان رانهٔ وړو نو د هغوی مخونه خو مسخه نشو؟

(۱) جواب : ځینی علماء وائی چه دا په آخرت کی مراد دے، دنیا کی که مخونه مسخ نشو نو آخرت کی به مسخ شی۔ لیکن دا جواب ضعیف دے ځکه چه ﴿نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّا﴾ جمله په (نَطْمِسَ) باندے عطف ده او لعنت خو په دوی باندے په دنیا کی شویدے نو پکار ده چه طَمس هم په دنیا کی وی۔

(۲) جواب : مبرّدؒ وائی : دا وعید اُوس هم باقی دے مګر دا به د قیامت نه مخکی مخکی کیږی چه یهودیانو باندے به الله تعالیٰ مسخه راولی او مخونه به ئے شاته اوړی۔

(۳) جواب : ځینی وائی دلته د عذاب دپاره دا شرط وو چه که ټولو ایمان رانهٔ وړو نو مسخه کومه ئے او کله چه د رسول الله ﷺ په زمانه کی ځینی کسانو ایمان راوړو نو د

دوی نه عذاب پورته شو او د باقی منکرینو عذاب به په آخرت کی وی۔ (قرطبیؒ)

(٤) ځینی وائی : دا وعید دے او د وعید تنفیذ لازم نهٔ وی بلکه د الله خوښه ده که دغه عذاب ورکوی او که نهٔ۔

(٥) د ټولو نه غوره جواب دا دے چه پدے آیت کی هیڅ اشکال نشته ځکه چه الله تعالیٰ دلته دوه عذابونه ذکر کړیدی یو طَمس (مخونه اخیړ کول) او بل لعنت کول، او په دوی باندے خو په سورة بقره (١٥٩) او (١٧٤) آیت کی لعنت وئیل شویدے نو دا وعده د دوی سره پوره ده۔ نو دلته (اَوْ) د مانعة الخلو دپاره دے، نهٔ د مانعة الجمع دپاره۔

أُوتُوا الْكِتَابَ : دا لفظ هغه خلکو ته هم شامل دے چه لږ شان حصه د کتاب ورکړے شوی وی، واړه مُلیان وی او هغو ته هم شامل دے چه پوره کتاب ورکړے شوے وی، نو ددے نه مراد لوی مُلیان دی چه د دوی اصلاح ډیره ضروری ده ځکه چه واړه ملیان او عوام د دوی تقلید کونکی وی۔ (احسن الکلام)

كَمَا لَعَنَّا أَصْحَابَ السَّبْتِ : البته پدے باندے دا اشکال کیږی چه دا تشبیه د خالی والو سره ورکړے شویده او هغوی خو شادوګان شوی وو او اُوس خو ټول یهودیان شادوګان شوی نهٔ دی ؟ نو ددے جواب دا دے چه تشبیه په ټولو څیزونو کی نهٔ وی بلکه مطلب دا دے چه خالی ورځ والو باندے لعنت وشو چه شادوګان ترے جوړ شو نو په تاسو به هم لعنت وکړی، زړونه به درله سخت کړی، ذلیله به مو کړی، د هدایت نه به مو محرومه کړی نو دا وعده د الله تعالیٰ پوره شویده چه یهودی قیامته پورے ذلیله او ملعون دے۔

د مفسرینو توجیهات

(١) پدے آیت کی ځینی مفسرینو بعیده معنیٰ هم کړیده چه د (وُجُوهًا) نه مراد د اغراضو وجوه (مخونه) دی یعنی اے اهل کتابو ! ایمان راوړئ مخکی ددے نه چه د اغراضو مخونه مو شا طرفته واړه وو چه خواری به کوئ او مطلب ته به نهٔ رسیږئ او په زړه کی چه مو څه پټ ساتلی وی هغه به رسوا کړو او مسلمانان به پرے خبر کړو۔ دا د تفسیر په توګه متبادر نهٔ دے اګرکه واقعیت لری۔

(٢) مجاهدؒ وائی : ﴿مِنْ قَبْلِ أَنْ نَطْمِسَ وُجُوهًا﴾ عَنْ صِرَاطِ الْحَقِّ فَنَرُدَّهَا عَلَى أَدْبَارِهَا أَيْ فِي الضَّلَالَةِ۔ مخکی ددے نه چه مونږ به وران کړو مخونه د دوی د حق د لارے نه او راواپس به ئے کړو په ګمراهئ کی۔ او ابن ابی حاتمؒ وائی چه د ابن عباسؓ او حسنؒ نه هم داسے

روایت نقل دے۔ (ابن کثیر)

(۳) قرطبیؒ د ابی بن کعبؓ نه نقل کړیدی چه ﴿ مِنْ قَبْلِ اَنْ نَّطْمِسَ وُجُوْهًا ﴾ مِنْ قَبْلِ اَنْ نُّضِلَّكُمْ اِضْلَالًا لَا تَهْتَدُوْنَ بَعْدَهٗ)

یعنی مخکې ددې نه ایمان راوړئ چه مونږ تاسو داسې ګمراه کړو چه د هغې نه روستو به تاسو ته هیڅ قسم هدایت نهٔ کیږي۔ نو دا ئې کنائی معنیٰ اخستې ده۔

(٤) ځینی وائی چه د وجوه نه مراد سرداران او مشران او مخوریز خلك دی او د (نَرُدَّهَا عَلٰی أَدْبَارِهَا) معنیٰ دا ده چه د دوی عزت به ختم کړو او په ذلت کې به ئې اخته کړو۔

(٥) ابن زیدؒ وائی : مطلب دا دے چه ایمان راوړئ مخکې ددې نه چه مونږ به تاسو بیرته د شام (اَذْرُعَات) تـه وشړو لکه چه تاسو د هغه ځای نه حجاز ته راغلي یئ۔ (تفسیر الکشاف وابن کثیر)

(٦) غوره تفسیر هغه دے چه د رئیس المفسرین ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دے چه دلته د طَمْسُ الْوُجُوْه نه ظاهری مسخ کیدل مراد دی لکه چه فرمائی (نَجْعَلَهَا كَخُفِّ الْبَعِيْرِ) مونږ به مخونه داسې وګرځوو لکه د اوښانی د تَلی په شان چه په هغې کې به سترګې او پوزه او خوله نهٔ وی۔ نو (فنَرُدَّهَا عَلٰی أَدْبَارِهَا) دا تشریح ده د (نَطْمِسَ وُجُوْهًا) دپاره۔

یا معنیٰ دا ده چه مخونه به داسې وګرځوو لکه د څټونو په شان چه د ویښتو نه به ډك وی لکه د شادوګانو په شان، ځکه چه د انسانانو د ویښتو ځایونه شا طرفته دی او په مخامخ مخ بانـدې ویښته نهٔ وی۔ یا دا چه په څټونو کې به ورله سترګې جوړې کړم نو شا کړې به روان وی۔ (ابن کثیر، والبغوی)

نو دا د دوی جزاء من جنس العمل ده لکه څنګه چه دوی حق پریښې وو او باطل ئې غوره کړې وو او حقائق ئې التـه کړی وو، باطل ئې حق او حق ئې باطل جوړ کړې وو نو دغه شان جزاء بـه هم ورته ورکړې شی چه مخونه به ئې وران کړې شی لکه چه حق ئې وران کړې وو او مخ ئې ورله کوږ کړې وو (تفسیر السعدی ۱/۱۸۱)

وَكَانَ أَمْرُ اللهِ مَفْعُوْلًا : او د الله حکم بـه خامخا پوره کولے شی، د هغه د حکم نه نهٔ څوك مخالفت کولے شی او نهٔ هغه څوك بندولے شی۔

إِنَّ اللهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا
یقیناً الله بخنه نهٔ کوی ددې چه برخه داران جوړشی د هغه سره او بخی هغه (ګناهونه)

دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَمَنْ يُّشْرِكْ
چه ماسویٰ دی ددے نه دپاره د هغه چا چه خوښه ئے شی او چا چه برخه داران جوړ کړل
بِاللّٰهِ فَقَدِ افْتَرٰى إِثْمًا عَظِيْمًا ﴿٤٨﴾
د الله تعالیٰ سره نو یقیناً دهٔ جوړه کړه گناه لویه۔

تفسیر : پدے آیت کی الله تعالیٰ د یهودیانو بل بد صفت دا ذکر کوی چه دوی د الله سره شرك کوی او روستو آیت کی وائی چه دوی د خپل ځانونو تزکیه او صفتونه کوی او مینځ کی د الله سره برخه داران جوړوی او بیا وائی چه دوی په الله دروغ جوړوی۔

ربط

(۱) مخکی ئے یهودیانو ته د ایمان دعوت ورکړو چه دا سبب د مغفرت دے نو اُوس د ایمان راوړو علت ذکر کوی چه ایمان به ځکه راوړئ چه شرك سره مغفرت نهٔ حاصلیږی۔

(۲) دارنگه مخکی ئے وویل چه دوی ایمان ډیر کم راوړی، نو دلته وائی چه ځکه کم ایمان راوړی چه شرك ورسره کوی او کوم ایمان سره چه شرك گډ کړے شی نو هغه فائده نهٔ ورکوی، هغه هیڅ معتبر ایمان نهٔ وی۔

دا هغه څلورم آیت دے چه ابن عباسؓ وئیلی دی چه ددے امت دپاره د دنیا او مافیها نه ډیر فائده مند دے ځکه چه پدے کی دا جمله ده ﴿وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَاءُ﴾ الله د شرك نه ماسویٰ گناهونه معاف کوی که خوښه ئے شی۔

آیت نه معلومه شوه چه کفر او شرك اصل الذنوب دی، سټه او جرړه د گناهونو ده۔

او پدے آیت کی الله تعالیٰ احسانی فیصله کړیده چه بندگانو ته د شرك نه علاوه گناهونه بخښی او بله فیصله د الله قانونی ده هغه دا ده چه په هره گناه الله تعالیٰ رانیول کوی ﴿مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا يُّجْزَ بِهٖ﴾ او احسانی فیصله ئے دا ده چه یو بنده به ډیر گناهونه کړی وی نو هغه به معاف کړی۔ په قیامت کی به یو تن راوستے شی چه د گناهونو نه به ئے نهه نوی (۹۹) دفترونه ډك کړی وی او ددے په مقابله کی به یو وړوکے کاغذ په چاپړی کی واچولے شی نو دا به پریے دروند شی او دغه دفترونه به سپك شی نو الله به ئے جنت ته داخل کړی، مگر د هر چا په باره کی دا قانون نهٔ دے۔ لکه په دنیا کی هم مشرانو ته دا اختیار وی چه یو مجرم، جیلی پریدی احسان ورسره وکړی اگرکه د سزا لائق وی او بعضو

ته سزا ورکوی۔

نو د الله مغفرت ډیر فراخه دے لیکن شرك ته فراخه نهٔ دے، که انسان په هر قسمه گناه مړ شی نو د معافئ ئے څه صورت ملاوېږی مگر که د شرك په حالت کی وفات شو نو تباه دے، د معافئ ئے هیڅ صورت نشته مگر په دنیا کی توبه ئے پوره علاج دے۔

أَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ : دلته شرك لفظ کفر ته هم شامل دے ځکه چه هر کافر د الله حق راخستے وی او غیر الله ته ئے ورکړے وی، دارنگه هر کافر خپل خواهش نه اِلٰه جوړ کړے وی چه د حق په خلاف ئے عبادت کوی۔

شرك د فطرت خلاف شے دے، په دنیا کی هم انسانان په بعض څیزونو کی د ځان سره شرکت نهٔ برداشت کوی لکه په ښځه کی شرکت صحیح فطرت والا نهٔ برداشت کوی نو دغه شان الله تعالیٰ په خپله بندگئ او حقوقو کی ځان سره شریك نهٔ برداشت کوی۔ (اَنَا اَغْنَی الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ) ۔ الله فرمائی : زهٔ په ټولو شریکانو کی د شرك نه ډیر بی حاجته یم۔ (صحیح مسلم : ٧٦٦٦)

سوال وجواب

دلته وائی چه شرك نهٔ معاف کوی او په سورة الزمر (٥٣) آیت کی دی ﴿اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا﴾ الله تعالیٰ ټول گناهونه معاف کوی اگرکه شرك هم وی ؟۔

جواب دا دے چه هلته توبه مراد ده لکه روستو ﴿وَاَنِيْبُوْا اِلٰى رَبِّكُمْ وَاَسْلِمُوْا لَهٗ﴾ پرے دلیل دے نو د شرك دپاره صرف یو علاج دے چه هغه توبه ده، او باقی گناهونه په توبه هم او د الله په رحم باندے هم معاف کیږی۔ او دلته مطلب دا دے چه الله شرك نهٔ معاف کوی که چا ترے توبه ونهٔ ویستله او باقی گناهونه بغیر د توبی نه هم معاف کوی که خوښه ئے شی۔

سوال وجواب

که څوك سوال وکړی چه دلته ولے کفر ذکر نشو؟ جواب ئے دا دے چه دلته بحث د اهل کتابو په بدو صفاتو کی روان دے او دوی د خپلو ځانونو تزکیه کوله چه مونږ موحدین یو او مونږ به ضرور بخښلے کیږو نو الله د دوی دا خیال رد کړو چه تاسو موحدین نهٔ یئ، تاسو د الله سره شریکان جوړ کړیدی او مشرك دپاره معافی نشته۔

فَقَدِ افْتَرٰی : راغبؒ وائی : اِفتراء د فَرْیٌ نه دے په معنیٰ د پریکولو سره دے او دا په قرآن

کریم کې په معنیٰ د دروغو او شرك او ظلم سره استعمالیږي. نو افتراء دا سې عمل او قول کول دي چه د هغې کول مناسب نهٔ وي، نو د دروغو جوړولو او د گناه کولو دپاره استعمالیږي. (مفرداتِ راغب)

إِثْمًا عَظِيمًا : روستو په (۱۱٦) آیت کې بیا راځي ﴿فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا﴾ فرق دا دے چه هلته د امیانو شرك مراد دے چه په شرك سره د حق نه لرې کیږي او په گمراهئ کې ننوزي او دلته د ملیانو شرك مراد دے چه دوی د شرك دپاره په الله باندې افتراء کوي او دروغ وائي.

فائده : یهودیان مشرکان دي ځکه چه عزیر علیه السلام د الله ځوی گنړي، او د هغه عبادت کوي او د خپلو احبارو او رهبانو بندگي کوي، او هغوی شارعان گنړي، اگرکه د اهل کتابو احکام پرې جاري کیږي.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُزَكُّونَ أَنْفُسَهُمْ بَلِ اللّٰهُ يُزَكِّي
ایا تهٔ نهٔ گورې هغه کسانو ته چه پاکي بیانوي د خپلو ځانونو بلکه الله تعالیٰ پاکوي
مَنْ يَّشَآءُ وَلَا يُظْلَمُوْنَ
هغه چا له چه خوښه ئې شي او ظلم به نهٔ شي کولے په دوی باندې
فَتِيْلًا ﴿٤٩﴾ اُنْظُرْ كَيْفَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَكَفٰى بِهٖ إِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿٥٠﴾
په اندازه د تار د هډوکي د کجورې. اوگوره څنگه جوړوي په الله باندې دروغ او کافي دے دا گناه ښکاره

تفسیر : پدې کې د یهودیانو بل قبیح صفت دے چه شرك او کفر کوي او سره ددې نه د ځان تزکیه بیانوي.

د تزکیه اقسام او د یهودیانو د تزکیه صورتونه

سوال : تزکیه ته خو الله تعالیٰ دعوت ورکړیدے ﴿قَدْ أَفْلَحَ مَنْ زَكَّاهَا﴾ (الشمس :۹) ﴿قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى﴾ (الاعلیٰ:١٤)

جواب : تزکیه دوه قسمه ده (۱) قولي (۲) او عملي. قولي دا ده چه بنده د خپل ځان صفائي بیانوي او د خپل ځان صفتونه کوي لکه یهودیانو به ویل چه مونږ د الله ځامن یو او مونږ د هغه محبوبان یو، او مونږ د الله غوره ډله یو، او مونږ ته به صرف یو څو ورځې عذاب راکړې کیږي، مونږ جنتیان یو، زمونږ پلار نیکه پیغمبران تیر شویدي، د هغوی

په وجه به خلاصیږو، او کارونه به ئے غلط کول۔ او د داسے تزکیه کولو نه منع راغلے ده، یو پدے آیت کی او بل په سورة النجم (۳۲) آیت کی ﴿فَلَا تُزَكُّوا أَنفُسَكُمْ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقَىٰ﴾ تاسو د خپلو ځانونو تزکیه مۀ بیانوئ الله تعالیٰ په متقیانو باندے ښه پوهه دے)

یوه ورځ د یهودیانو یوه ډله نبی کریم ﷺ ته راغله او خپل ماشومان ئے ځان سره راوستل او ورته ئے وویل چه اے محمده ! آیا زمونږ په دے اولادو باندے کومه گناه شته ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: (لَا)، نشته۔ نو دوی وویل چه زمونږ ډے قسم وی چه مونږ ددے ماشومانو په شان د گناهونو نه پاك یو، که د ورځے گناهونه وکړو نو د شپے راته معاف کیږی او که د شپے ئے وکړو نو د ورځے محوه کیږی۔ (اسباب النزول للواحدی ص۱۰۳)

(۲) او عملی تزکیه دا ده چه بنده نیك اعمال کوی او د منکراتو نه ځان ساتی، یا په بل عبارت: خپل ځان په نیك عمل سره صفا کوی نو دا قسم تزکیه باندے الله تعالیٰ امر کړیدے۔

بَلِ اللّٰهُ يُزَكِّي مَن يَشَاءُ : الله په دے خلقو رد اُوکړو چه خپله تزکیه او پاکی بیانولو سره انسان ښه کیږی نۀ، بلکه الله چه چا له غواړی د مخکی نه هغه ته د ایمان او عمل صالح توفیق ورکوی، بیا د هغے په نتیجه کی د هغه تزکیه (صفائی) کوی، او دوی کی د پاکئ څه اهلیت نشته چه الله ئے پاکی بیان کړی ځکه چه دوی د کفر او د شرك او د گناهونو په گندونو اخته دی۔

وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا : یعنی الله په دوی باندے دا ظلم نکوی چه دوی پاك وی او الله ورته پاك ونۀ وائی۔

فتیل څه معنیٰ؟

فتیل : هغه تار ته وائی چه د کجورے د هډوکی په چَودی کی وی۔ لکه دا قول د ابن عباس رضی الله عنهما او عطاءؒ او مجاهدؒ نه نقل دے۔ او عرب فَتِيل، د ډیر کموالی دپاره مثال ذکر کوی۔

او بل قول د ابن عباسؓ نه دا هم روایت شویدے چه دا هغه خِیرَے دے چه د گوتو په مږلو سره غوو په مینځ کی پیدا کیږی۔

سوال وجواب

(يُزَكُّونَ أَنفُسَهُمْ) دلته خو د خپل ځان د تزکیه بیانولو نه منع وشوه نو آیا د بل چا مدح او

صفت كول به د هغه مخامخ جائز وي او كه نهٔ ؟
جواب دا دے چه ددے په باره كي دوه قسمه روايات راغلي دي (۱) يو ځل د رسول الله ﷺ په حضور كي يو سړي د بل سړي زياته مدحه (تزكيه) وكړه نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : (وَيُحَكَ قَطَعْتَ عُنُقَ صَاحِبِكَ)۔
په تا باندے افسوس دے، تا خو د خپل ملگري څټ پريكړو۔ بيا ئے وفرمايل: كه تاسو د يو چا صفت خامخا كوئ نو داسے وايئ؟ (اَحْسِبُهٗ كَذَا) زهٔ په دهٔ باندے داسے گمان كوم۔ په الله باندے د چا تزكيه مهٔ بيانوئ۔
(صحيح بخاري كتاب الشهادات والادب (۶۰۶۱)، مسلم كتاب الزهد: ۷۶۹۳)
او د مقداد بن الاسود ﷺ نه روايت دے چه نبي كريم ﷺ مونږ ته حكم وكړو :
[أَنْ نَحْثُوَ فِيْ وُجُوهِ الْمَدَّاحِيْنَ التُّرَابَ] [صحيح مسلم كتاب الزهد :۷۶۹۶]۔
چه مونږ د صفت كونكو په مخونو باندے خاورے ور واچوو۔
او بل طرفته رسول الله ﷺ د ابوبكر صديق ﷺ صفت وكړو :
[إِنَّكَ لَسْتَ مِنْهُمْ] (صحيح البخاري : ۶۰۶۲)
يقيناً ته د هغوي (متكبرينو) نه نهٔ يې۔ كله چه هغه نبي كريم ﷺ ته عرض وكړو چه اے د الله رسوله ! زما لنگ د گيټو نه ښكته ځويږي (نو ښنگري مے پكي پټيږي چه په متكبرينو كي حساب نشم)۔
نو ددے تطبيق د امام نوويؒ او حافظ ابن حجرؒ او ابن بطالؒ نه داسے نقل دے چه (۱) پكار ده چه څوك د چا مدح په تيقن سره ونكړي بلكه داسے ووائي چه زما گمان دے چه ښه به وي او حقيقت ئے الله ته معلوم دے، او دارنگه په تزكيه كي افراط (زيادت) ونكړي لكه د (اَلْمَدَّاحِيْنَ) لفظ پرے دليل دے۔ (چه ډير مدحه كونكو ته وائي)
(۲) د هغه چا مدحه منع ده چه سړے پو هيږي چه هغه پرے گمراه كيږي، او د تكبر د پيدا كيدو خطره وي، يا پكي د بل ضرر احتمال وي، كه داسے نهٔ وي نو بيا كله كله په مدحه كولو كي مصلحت هم وي۔
(۳) د نهي روايت هغه خلكو ته متوجه دي چه مدحه او تزكيه د غير مشروعو اغراضو دپاره كوي لكه چه ځيني سوالگر د همدے حيلے نه كار اخلي۔
(شرح النووي على صحيح مسلم باب النهي عن المدح، وفتح الباري باب ما يكره من التمادح ۴۷۷/۱۰)

فائده : په قرآن کریم کې د کم والي دپاره يو ځيزونه ذکر کيږي (١) فَتِيل چه دا د خِيرُو باتئ يا د کجورے د زړي تار ته وائي. (٢) نَقِير : د کجوري د زړي په يو طرف کې داغ ته وائي. (٣) قِطْمِير : د کجوري د زړي نه تاو کړے شوي پوستکي ته وائي. (٤) ذره، (٥) خردل. (٦) شيء.

اُنْظُرْ : دلته الله تعالیٰ د دوي په خبرو کې د بندګانو ته د تعجب کولو دعوت ورکوي چه دوي په حال خو تعجب کول پکار دي چه بې دليله د ځان پاکي بيانوي او د ځان نه په الله دروغ وائي چه مونږ د الله ځامن يو او مونږ غوره مخلوق يو او حال دا چه د هغه سره شرک کوي. نو دوي دروغ وائي او بيا الله تعالیٰ ته ئې نسبت کوي نو دا د دوي افتراء ده.

وَكَفٰى بِهٖٓ اِثْمًا مُّبِيْنًا : يعني د ګناه په اعتبار سره دا کافي ګناه ده چه بنده په الله باندے دروغ وتړي او هغه خبره وکړي چه الله تعالیٰ نۀ وي ويلي. دا يوه ګناه ئې هم د هلاکت دپاره کافي ده.

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يُؤْمِنُوْنَ
ايا تۀ نۀ ګورے هغه کسانو ته چه ورکړے شويده حصه د کتاب نه دوي ايمان لري
بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوْتِ وَيَقُوْلُوْنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا هٰٓؤُلَآءِ
په کوډو منترو او په شيطان او وائي دوي په باره د هغه کسانو کې چه کفرئے کړيدے دا کسان
اَهْدٰى مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا سَبِيْلًا ﴿٥١﴾ اُولٰٓئِكَ
ښه لار موندونکي دي د هغه کسانو نه چه ايمان ئې راوړيدے په اعتبار د لارے. دا
الَّذِيْنَ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ وَمَنْ
هغه کسان دي چه لعنت کړيدے په دوي باندے الله تعالیٰ او هر هغه څوك
يَّلْعَنِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ نَصِيْرًا ﴿٥٢﴾
چه لعنت اُوکړي په هغه باندے الله نو هيچرے به مونده نکړے تۀ د هغه دپاره مددګار.

تفسير : پدے کې نور بد صفتونه د اهل کتابو بيانوي چه دوي په کوډو منترو او شيطان باندے ايمان لري او مشرکان شويدي او حق ته باطل او باطل ته حق وائي.

ربط : (١) مخکې ئې اشارةً وويل چه اهل کتاب د توحيد په عقيده باندے پاتي نۀ دي نو دلته د هغې دوه دليلونه بيانوي چه دوي بتانو ته سجده کړے او بل د مشرکانو عقيدے ته د

مسلمانانو نه ښه وائي۔ (۲) مخکې ئې ووېل چه دوی د ځانونو تزکیه کوی دلته وائي چه تزکیه کوی لیکن د الله په نیز دوی ملعونین دی۔

شان نزول

ابن جریرؒ وغیره د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړیدے چه کعب بن اشرف یهودی قریشو کافرانو لره د مسلمانانو په خلاف په جنګ باندے د راپورته کولو دپاره مکے ته لاړو نو قریشو هغه ته اُووئیل چه تاسو په مدینے والو کی د ټولو نه معزز او د هغوی سرداران یئ، دے سپك او ذلیل سړی ته خو اُوګورئ چه د خپل قوم نه هم جدا شویدے او پدے ګمان کی اخته دے چه هغه زمونږ نه غوره دے حال دا چه د حاجیانو خدمت کول، هغوی ته اُوبه ورکول، او د بیت الله نګرانی کول زمونږ کار دے، نو آیا مونږ ډیر غوره یو او که هغه ؟ نو کعب اُووئیل چه تاسو د هغه نه غوره یئ، نو الله تعالیٰ ﴿ اِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْاَبْتَر ﴾ او دا آیت نازل کړو او د کعب بن اشرف او د هغه په شان د الله او د رسول د نورو دشمنانو راز ئے راښکاره کړو او د هغوی کفرئے په ډاګه کړو۔ دا واقعه امام احمدؒ د محمد بن عدیؒ نه او ابن حبانؒ په خپل کتاب «الصحیح» کی روایت کړیده۔

په بعض روایتونو کی راغلی دی چه کعب بن اشرف او حُیَیُ بن اخطب سره د اویا کسانو مشرانو نه د اُحد د غزا نه روستو د مکے مشرکانو خوا ته د مسلمانانو په خلاف په یو لوئی فیصله کن جنګ باندے راپورته کولو دپاره تلی وو۔

(چه دا د غزوه احزاب دپاره اصلی سبب جوړ شو)

نو پدے کی قریشو ورته ووېل چه تاسو خو اهل کتاب یئ او مسلمانان هم اهل کتاب دی، مونږ یریږو چه تاسو چرته زمونږ د ختمولو دپاره چل جوړ کړے وی، نو که ستاسو چل مطلب نهٔ وی نو دغه دواړو بتانو ته سجده وکړئ دے دپاره چه مونږ ته رانزدے شئ او مونږ مطمئن شو، نو د یهودیانو دغه ټولے ډلے بتانو ته سجده وکړه او مشرکان ترے جوړ شو، پدے کی ابوسفیان (چه لا مسلمان شوے نهٔ وو) د جرګے مشر (کعب بن الاشرف) ته ووېل چه تهٔ خو پوهه سړے ئے، رشتیا ووایه چه مونږ په سمه لاره یو او که مسلمانان ؟ حال دا چه مونږ حاجیانو ته پئ ورکوو او اُوښان ورله حلالوو او قیدیان آزادوو او صله رحمی قائموو او میلمنو ته میلمستیا ورکوو، او د خپل رب د کور حفاظت کوو، او د خپل پلار نیکه د معبودانو عبادت کوو، او محمد (ﷺ) مونږ ته حکم کوی چه مونږ دا پریدو، او د

هغه پسے روان شو، ؟ نو کعب ورته وویل :

أَنْتُمْ وَاللّٰهِ خَيْرٌ وَأَهْدٰى سَبِيلًا مِمَّا عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ وَأَصْحَابُهُ.

قسم په الله تاسو د محمد (ﷺ) او د هغه د ملګرو نه غوره او ډیر هدایت والا یئ)

(تفسير البغوی۱/٤٤١) والبحر المحيط۳/٦٧٥) وتفسير عبد الرزاق الصنعانی۱/٤٦٣)

د جبت او طاغوت معانی

((جبت)) نه مراد : (۱) بتان، (۲) جادوګر، (۳) جادو (٤) او هر هغه شے دے چه د هغې د الله نه سِویٰ عبادت کیدے شي۔

دغه شان ((طاغوت)) نه مراد : (۱) کاهن، (۲) شیطان، (۳) هر ګمراه کونکے شے، (٤) بت، (٥) د یهودو سرداران، (٦) او هر هغه شے دے چه د هغه د الله نه سِویٰ عبادت کیږي۔

امام بخاریؒ د عمر فاروق ﷺ نه نقل کوی چه جبت جادو، او طاغوت شیطان ته وائی۔ او دا قول د مجاهدؒ او شعبیؒ نه هم نقل دے۔

(۲) عکرمهؒ وائی چه دا دواړه د مشرکانو دوه بتان وو۔

(۳) محمد بن سیرینؒ او مکحولؒ وائی چه جبت کاهن (چه د غیبو خبرونه ورکوی چه بعض خبری ئے د شیطانانو نه آوریدلی وی) او طاغوت جادوګر ته وائی۔

(٤) سعید بن جبیرؒ او ابو العالیهؒ وائی : جبت د حبشو په ژبه کی جادوګر ته او طاغوت کاهن ته وائی۔

(٥) ضحاکؒ وائی : جبت حُیَیُ بن اَخْطَب او طاغوت کعب بن اَشْرف وو۔ (بغویؒ) او دا قول قرطبیؒ د ابن مسعودؒ نه نقل کړیدے۔

(٦) حُینی وائی : جبت بتان دی، او طاغوت د بتانو منجوران دی چه د بتانو دپاره داسے نومونه اړدی چه خلك پرے دهوکه کړی۔ (چه دا بت او بابا د فلانی مرض ذمه وار دے)

(بغوی وروح المعانی)

(۷) حُینی وائی: جبت ابلیس دے او طاغوت د هغه ملګری دی۔ (قرطبیؒ)

(۸) قرطبیؒ وائی چه پدے باره کی غوره قول د امام مالكؒ دے چه هغه فرمائی :

(هُمَا كُلُّ مَعْبُودٍ مِنْ دُونِ اللّٰهِ اَوْ مُطَاعٍ فِيْ مَعْصِيَةِ اللّٰهِ)

جبت او طاغوت هر هغه شي ته وائی چه د الله نه سویٰ د هغه عبادت کیدے شي یا د الله په نافرمانئ کی د هغه خبره منلے شي۔

(۹) ابن جریرؒ وائی : (اَلْجِبْتُ وَالطَّاغُوْتُ : كُلُّ مُعَظَّمٍ بِعِبَادَةٍ مِنْ حَجَرٍ اَوْ شَجَرٍ اَوْ اِنْسَانٍ)۔
هر هغه شے چه د هغے په عبادت سره تعظیم وکړے شی، کاڼړے وی که ونه یا انسان وی۔
نو د جبت معنیٰ ده بت، کاهن یا ساحر۔ او طاغوت دروغژن معبودان دی۔
په یو حدیث کی دی : (اِنَّ الْعِيَافَةَ وَالطُّرُقَ وَالطِّيَرَةَ مِنَ الْجِبْتِ) (سنن ابی داود، کتاب الطب)۔
یقیناً مارغان آلوزول، خطونه راښکل او بد فالی نیول د جبت نه دی۔ (یعنی دا ټول شیطانی کارونه دی)۔
لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا : ددے کافرانو نه د مکے مشرکان مراد دی۔ یعنی په باره د کافرانو کی وائی۔
هٰٓؤُلَآءِ : دے کی اشاره دهٔ د مکے مشرکانو ته۔ او په یو تفسیر په (اَهْدٰى) کی معنیٰ تفضیلی نشته بلکه په معنیٰ د نفس هدایت سره دے۔ یعنی لاره موندونکی دی۔ یا هدایت والا دی۔
مِنَ الَّذِيْنَ آمَنُوْا : دا مرض زمونږ په دے امت کی هم په ډیرو کسانو کی موجود دے چه حق پرست ورته ډیر بدی ښکاری، چه دومره ورته یهودی او نصرانی نهٔ ښکاری، او څوک چه ښه مؤمنان وی هغه دوی ته غټ ګمراهان ښکاری، افسوس په داسے حال باندے!!۔ ډیر مبتدعین د شیعه ګانو، بریلیانو سره د اهل حق، اهل الحدیث په خلاف ملګرتیا کوی۔
نَصِيْرًا : پدے کی اشاره ده چه دا خلك خو د مکے مشرکان په خپلو خبرو سره رضا کول غواړی دے دپاره چه د دوی سره مدد وکړی لیکن کله چه د الله د طرفنه څوك ملعون شو هغه سره به څوك مدد وکړی؟!۔
فائده : دا آیت دلیل دے چه امتونو باندے د الله تعالیٰ د لعنت سبب دا دے چه هغوی په خرافاتو او باطلو خبرو او طاغوت باندے ایمان راوړی، او دوی سره به مدد هله کیږی چه ددے کارونو نه ځان بچ کړی۔ او ددے نه دا خبره لازمی طور سره ثابتیږی چه کوم امتونه چه مغلوب دی هغوی جبت او طاغوت ته زیات نزدے دی، د هغه امتونو نه چه غالب او منصور دی، نو اُوس ډے مسلمانان د خپل ځان سره حساب وکړی او سوچ ډے وکړی چه د خپل رب د کتاب نه ورته د ایمان د دعوے رښتینوالے معلوم شی۔ (تفسیر المنار ۱۲۹/۵)

أَمْ لَهُمْ نَصِيبٌ مِنَ الْمُلْكِ فَإِذًا لَا يُؤْتُونَ

آیا د دوی دپاره برخه ده د بادشاهی (د الله نه) پس په دغه وخت کی به ورنکړی دوی

النَّاسَ نَقِيرًا ﴿۵۳﴾

خلقو ته په اندازه د داغ د هډوکي د کجورے (يو شے).

تفسير: پدے کی بل بد صفت بیانوی چه دوی لوی بخیلان دی، او ټوله دنیا خپل ځان ته محتاجه کول غواړی او لوی بی انصافه دی.

مطلب دا دے چه که دوی ته بادشاهی ملاؤ شی نو انسانانو ته هیڅ ورکول نهٔ غواړی بلکه ټول انسانان خپل ځان ته محتاج کول غواړی. نو آیا د دوی دپاره د الله د رحمت او د فضل د څه برخے د ویشلو واك شته چه دوی ئے چا له ورکړی او د چا نه ئے واخلی، یا چا ته چه ښه ووائی نو هغه به ښه وی او چا ته چه بد ووائی نو هغه به بد وی، آیا دا واك د دوی سره شته ؟ نشته بلکه دوی خو دومره بی انصافه دی که دوی ته څه برخه او واك او بادشاهی ورکړے شی نو په انسانانو باندے ئے هیڅ هم نهٔ پیرزو کیږی، خو دا ټول کارونه د الله په واك کی دی چا ته ئے چه خوښه شی خپل فضل ورکوی.

أَمْ: دا (ام) منقطعه دے او دا کله د اضراب (بَلْ) په معنیٰ سره وی او کله د استفهام په معنیٰ سره او دلته استفهام انکاری دے. یعنی د دوی دپاره بادشاهی نشته بلکه دوی بادشاهی په سبب د خپلو ظلمونو او طغیانونو سره ورکه کړیده.

او که د (بَلْ) معنیٰ شی نو همزه به پټه وی نو حاصل به ئے دا وی چه یهودیان سره ددے نه چه ډیر سخت مالداره دی مګر ډیر لوی بخیلان دی چه د یهودی نه علاوه د دوی نه هیڅوك فائده نشی اخستے، نو کله چه دوی ته بادشاهی ملاؤ شی نو دوی نه به خلك معمولی شان فائده هم حاصله نکړی نو دا به ورته څنګه ګرانه نهٔ تمامیږی چه د عربو نه دے یو نبی پیدا شی او د هغه ملګری دِے بادشاهان شی او په هغے کی دِے بنی اسرائیل هم ورته عاجزی وکړی، لکه دا صفت په یهودیانو کی اُوس هم ډیر ښکاره دے، ځکه چه دوی اُوس هم پدے کوشش کی دی چه بیت المقدس (ارض مقدسه) او ددے خوا و شا دوی ته راواپس شی، نو که دا ورته مکمله حاصله شی نو دوی مسلمانان او نصاریٰ د هغے نه ویاسی او د هغے نه ورته د کجوری د هډوکی د سُوری په اندازه یا د یوے کجورے د نالولو په اندازه ځای یا په زمکه یا غر کی د یو وړوکی سوری په اندازه برخه ورکول نهٔ غواړی لکه اُوس هم د دوی دا کوشش دے چه د غیر یهودی د رزق اسباب بند کړی دے دپاره چه دلته صرف یهودیان پاتی شی لکه ددے دپاره ئے مؤسسات خیریه او سیاسیه مقرر کړیدی دا خو

لا ورته بادشاهي حاصله نهٔ ده، که ورته حاصله شي بیا به د دوی څه حال وي؟! (المنار)

مِنَ الْمُلْكِ : د مُلك نه مراد یا د دنیا بادشاهي ده یا تربے د الله د کارونو ملکیت او اختیار دے لکه په آیت کی دی : ﴿قُلْ لَوْ أَنْتُمْ تَمْلِكُونَ خَزَائِنَ رَحْمَةِ رَبِّيْ إِذًا لَّأَمْسَكْتُمْ خَشْيَةَ الْإِنْفَاقِ﴾ (اسراء : ۱۰۰)۔ اووایه ! که تاسو زما د رب د رحمت د خزانو مالکان شئ نو دغه وخت به خامخا تاسو خرچه بنده کړئ د وجه د یرے د ختمیدو نه۔

فَإِذًا : دے کلمه باندے چه کله فاء عاطفه داخله شي نو دا ملغاة عن العمل ګرزي۔ (یعني بیا عمل د نصب نکوي) (فتح القدیر للشوکاني ومحرر الوجیز)

نَقِيْرًا : د نقیر یوه معنیٰ مخکی ذکر شوه او بله معنیٰ : نقیر هغه لرګی یا کانړی ته وائی چه وتوګلے شي او په هغے کی نبیذ (شراب) جوړولے شي۔ یعني خلکو ته د یو وړوکی لوښي په اندازه هم څه نهٔ ورکوي۔

أَمْ يَحْسُدُوْنَ النَّاسَ عَلٰى مَا آتَاهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ
آیا کینه کوي دوی د خلقو سره په هغه څه چه ورکړی دی دوی ته الله تعالیٰ د خپلے مهربانۍ نه
فَقَدْ آتَيْنَا آلَ إِبْرَاهِيْمَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَآتَيْنَاهُمْ
بس یقیناً ورکړے مونږ آل د ابراهیم علیه السلام ته کتاب او پوهه په دین او ورکړے مونږ دوی ته
مُلْكًا عَظِيْمًا ﴿٥٤﴾ فَمِنْهُمْ مَّنْ آمَنَ بِهٖ
بادشاهي لویه. پس بعضے د دوی نه هغه څوك دی چه ایمان ئے راوړے په هغے باندے
وَمِنْهُمْ مَّنْ صَدَّ عَنْهُ وَكَفٰى بِجَهَنَّمَ سَعِيْرًا ﴿٥٥﴾
او بعضے د دوی نه هغه څوك دی چه واوړیدل ددے نه او کافي دے جهنم اُور بل کړے شوے۔

تفسیر : پدے کی د یهودیانو بل بد صفت دے چه دوی ډیر لوی حسد ګر او ضدیان دی۔ او په (أَمْ) لفظ سره د یو بد صفت نه بل ډیر بد صفت ته انتقال دے ځکه چه حسد د بخل نه لوی عیب دے ځکه چه پدے کی د بل چا نه د الله تعالیٰ د نعمت د زائله کولو تمنا وي۔ او دا أَمْ په معنیٰ د بَلْ سره دے۔

د فضل نه څه مراد دے؟

د الناس نه مراد نبي کریم ﷺ دے او د (مِنْ فَضْلِهٖ) نه مراد نبوت دے۔ Oدارنګه دوی به

حسد کولو چه رسول الله ﷺ ولے ډیرئے بيبيانی کوی پدے به سوزيدل او په هغه کی نور ډير کمالات او فضائل وو د هغه تولو سره به يهوديانو حسد کولو۔
Oدارنگه په رسول الله ﷺ او د هغه ملگرو (صحابه کرامو) به ئے د رسول الله ﷺ نبوت او د امتِ وسط (غوره امت) جوړيدو فضيلت نهٔ پيرزو کيدو۔
Oدارنگه عربو سره به ئے حسد کولو چه دوی کی ولے نبی راغلو او زمونږ د بنو اسرائيلو نه نبوت بنی اسماعيلو ته ولے نقل شو؟!
O دارنگه فضل نه فتح او نصرت او غلبه د مسلمانانو مراد ده۔
فَقَدْ آتَيْنَا آلَ : دا فاء فصيحيه ده چه شرط دلته پټ دے يعنی كه دوی حسد كوی نو دا حسد ئے غلط دے۔ ددے جملے مناسبت د مخكی سره دا دے (۱) چه (فَلَيْسَ هٰذَا عَطَاءً بَدِيْعًا مِنَّا) يعنی دا خبره زمونږ نه ناشنا نهٔ ده بلكه زهٔ همدغه شان وركړه پيغمبرانو ته كوم، ابراهيم عليه السلام ته مے نبوت وركړو او كتاب وركړو او د تولو موحدينو سردار مے وگرزولو او خصوصا د ابراهيم عليه السلام اولادو ته مے كتاب او حكمة (با عمله علم) وركړو او د لوی ملكيت خاوندان مے وگرزول او د موسیٰ او هارون عليهما السلام مشری او بادشاهی او د داود او سليمان او يوسف عليهم السلام بادشاهی د هيچا نه پټه نهٔ ده۔ نو كله چه الله دغه شان وركړه كوی نو دا خو سبب د حسد نهٔ دے بيا خو پكار ده چه دوی د دغه پيغمبرانو سره هم حسد وكړی!!۔ صاحب المنار وائی : چه كه زمونږ په نبی د ډيرو بيبيانو اعتراض كوی نو د داود عليه السلام سل بيبيانی وے او د سليمان عليه السلام (۱۳۰۰) ديارلس سوه ښځے وے او (۷۰۰) اوه سوه وينځے وے لكه بعض مفسرينو دا نقل كړيدی نو د دوی دواړو پيغمبرانو منونكو له خو زمونږ په نبی باندے د هيڅ اعتراض حق نشته۔ (المنار)
(۲) مطلب : (فَقَدْ آتَيْنَاهُمْ مَعَ كَثْرَةِ حُسَّادِهِمْ فَلَمْ يَنْتَفِعِ الْحُسَّادُ وَلَمْ يُضَرَّ الْمَحْسُوْدُ)
يعنی دغه پيغمبرانو ته مونږ دغه كمالات او رحمتونه وركړل سره ددے نه چه حسد گر ئے زيات وو نو حسد گرو ته څه فائده ملاؤ نشوه او حسد كړے شوو ته څه ضرر ونهٔ رسيدو (روح المعانی)
نو دغه شان به دا يهوديان حسد وكړی ليكن هيڅ فائده به ورنكړی او د دوی د حسد په وجه به رسول الله ﷺ او د هغه ملگرو ته هيڅ ضرر ونهٔ رسی۔ او ددهٔ د نبوت مخنيوے به ونكړے شی، صرف د الله په غضب به اخته شی۔
(۳) مطلب : يعنی مونږ بنی اسرائيلو ته چه د ابراهيم عليه السلام آل او اولاد دی نبوت هم

ورکړے وو او لويه بادشاهي هم، ليکن بيا هم ټولو يهوديانو په هغوی باندے ايمان رانۀ وړو بلکه څه کسانو ايمان راوړو او څه کسانو اعراض وکړو، مطلب دا چه اے محمد (ﷺ) !که دا يهوديان ستا په نبوت باندے ايمان نۀ راوړی نو دا څه ناشنا خبره نۀ ده، بلکه د دوی تاريخ د انبياؤ (عليهم السلام) د تکذيب نه ډك دے تردے چه د خپل نسل انبياؤ باندے ئے هم ايمان نۀ دے راوړے۔ (ابن عادل الدمشقیؒ)

ملك عظيم څه شے وو؟

مُّلْكًا عَظِيمًا : ملك عظيم دا وو چه دوی ته ئے دنياوی سيادت ورکړے وو او هم د نبوت خاوندان ئے ګرځولی وو لکه داود او سليمان او يوسف عليهم السلام ئے مثالونه دی۔ (النکت د ماوردیؒ)

فَمِنْهُم : پدے کی تقسيم د انسانانو بيانوی دپاره د روستو تخويف او بشارت۔

(مَّنْ آمَنَ بِهِ) : ځينی مفسرينو د (بِهِ) ضمير نبی ﷺ ته راجع کړيدے يعنی ددے يهوديانو نه څه کسانو په نبی کريم ﷺ ايمان راوړو لکه عبد الله بن سلام ﷺ وغيره او ځينو انکار وکړو او د انکار کونکو انجام جهنم دے۔

(۲) يا (بِهِ) ضمير هغه شی ته راجع دے چه آل ابراهيم ته ورکړے شوی وو نو پدے کی به آخری نبی ته تسلی ورکول مقصد وی چه د آل ابراهيم د نعمتونو په باره کی خلك دوه ډله شوی وو ليکن د هغوی شان ته څه نقصان نۀ دے رسيدلے، نو دغه شان اے نبی! ستا په باره کی دا خلك دوه ډلے شويدی نو تا ته هيڅ نقصان نشی رسولے بلکه د مخالفت کونکو دپاره جهنم تيار شويدے۔

او ځينی وائی چه (بِهِ) ضمير قرآن ته راجع دے يعنی انبياؤ او د هغوی تابعدارو ايمان راوړو په دے قرآن مخکی د نزول او پس د نزول ددے نه او بعض نور کسان دی چه هغوی د قرآن نه اعراض وکړو او نورئے هم ترے منع کړل۔

صَدَّ عَنْهُ : صد لازم او متعدی دواړه راځی۔ يعنی خپله منع شوی وو او نورئے هم منع کړی وو۔

سَعِيرًا : سعير په اصل کی لمبے کولو، سوزولو او اُور بلولو ته وئيلے شی دلته سعير په معنیٰ د مفعول سره دے يعنی هغه جهنم چه بل کړے شويدے۔

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِنَا سَوْفَ نُصْلِيهِمْ نَارًا
یقیناً هغه کسان چه کفرئے کړے په آیتونو زمونږ زر دے چه داخل به کړو دوی لره اُور ته
كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُمْ بَدَّلْنَاهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا
هرکله چه وریتے شي څرمنے د دوی په بدل کی به ورکړو دوی ته څرمنے سویٰ د هغے نه
لِيَذُوقُوا الْعَذَابَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿٥٦﴾
دے دپاره چه اُوڅکی عذاب یقیناً الله غالبه حکمتونو والا دے۔

تفسیر : پدے کی کافرانو دپاره سخت تخویف او وعید بیان شویدے چه دے کافرانو جهنمیانو ته به په اُور کی داسے عذاب ورکولے شی چه کله هم د دوی څرمنے پخے شی، اُوسوزی نو الله به د دوی د څرمنو په بدله کی نورے ورکړی۔

فخر الدین رازیؒ لیکلی دی چه کیدے شی چه پدے عذاب کی دوام او عدم انقطاع طرف ته اشاره وی۔ ابن جریرؒ وغیره د صحابه کرامؓ او تابعینوؒ وغیرهم نه روایت کړیدے چه د جهنمیانو څرمنے به په ورځ یا په گینټه کی ډیر ډیر کرته بدلیږی۔ الله تعالیٰ دِے مونږ ټولو باندے د جهنم اُور حرام کړی۔ آمین یا ارحم الراحمین۔ (تیسیر الرحمن)

كَفَرُوا بِآيَاتِنَا : د آیات نه مراد هر هغه شے دے چه دلالت کوی د الله په ذات، صفاتو، افعالو او اسماؤ د هغه باندے او دغه شان ملائك او منزل کتابونه او رسولانو ته هم۔ او کفر عام دے که په طریقه د انکار سره وی، یا په شکونو او شبهاتو اچولو سره وی۔ (اللباب)

او آیاتنا دلیل دے چه مخکی آیت کی (بِهٖ) ضمیر قرآن ته راجع کیدل ظاهر دی۔

نَضِجَتْ : نضج پخولو ته وائی۔ یعنی چه په اُور باندے وریتی شی۔

سوال وجواب

د څرمنو پدے تبدیل باندے دا سوال شویدے چه الله تعالیٰ بله څرمنه راوړی نو هغے خو گناه نهٔ ده کړے نو هغے ته څنگه عذاب ورکړے شی؟

نو چا یو بعید جواب دا کړیدے چه دلته د جُلُود نه مراد د قمیصونو تبدیل دے یعنی د اُور نور قمیصونه به ورله راوړے شی۔ لیکن ظاهر دا ده چه دا تبدیل وصفی دے نهٔ ذاتی او ددے تبدیلی طریقه دا ده چه جَعْلُ غَيْرِ النَّضِيجِ مَكَانَ النَّضِيجِ ۔ یعنی د وریتی شوے په ځای به بیرته تازه کړے شی او همداسے حالت به د دوی همیشه تر ابد الآباد پورے جاری وی۔

او دے کی بل جواب علامه آلوسیؒ نقل کړیدے او هغې ته ئې غوره ویلے دے چه د کافر اصلي عذاب به روح ته ورکول کیږی خو جسد ئې ذریعه ده او پوستکی ددے دپاره بدلیږی چه عذاب ئې کم نهٔ شی ځکه چه د سوزول شوی پوستکی بیا سوزول لږ څه تخفیف پیدا کوی او د کافرانو عذاب خو د تخفیف لائق نهٔ دی۔ تفصیل دپاره روح المعانی (۵/۵۸) ته رجوع وکړه مگر هغه جواب غوره نهٔ دے۔

نبی کریم ﷺ د اُور ددے حالت داسے تشریح کړیده:

(اِنَّ غِلَظَ جِلْدِ الْكَافِرِ اِثْنَانِ وَاَرْبَعُوْنَ ذِرَاعًا بِذِرَاعِ الْجَبَّارِ وَاِنَّ ضِرْسَهٗ مِثْلُ اُحُدٍ وَاِنَّ مَجْلِسَهٗ مِنْ جَهَنَّمَ مَا بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِيْنَةَ۔) (الترمذی، الصحیحة: ۱۱۰۵) وصحیح الجامع (۲۱۱٤)۔

یقیناً د کافر د څرمنے پیړوالے به (په جهنم کی) دوه څلویښت گزه وی په گزونو د الله تعالیٰ سره او د جامے یو غاښ به ئې د اُحد د غر په شان وی او په دوزخ کی د کیناستو ځای به ئې دومره فراخه وی لکه د مکے او د مدینے ترمینځ فاصله۔

حکمة

الله تعالیٰ خو قادر دے چه همدے څرمنو ته همیشه عذاب ورکړی نو څرمنو بدلولو کی څه حکمة دے؟ (۱) جواب: پدے کی د الله تعالیٰ بل قسم قدرت ته اشاره ده۔

(۲) جواب: څرمن چه وسوزی او بله د هغې په ځای راښکاره شی نو هغه نرئ او تنکئ وی، د هغې سوزش زر او ډیر محسوسیږی۔ ځکه ئې وریسے (لِيَذُوْقُوا الْعَذَابَ) وویل چه څرمنے ورله ځکه بدلوو چه عذاب وڅکی، ولے که څرمنے بدلے نشی نو بیا به هغه وسوزی او ختمے به شی۔

عَزِيْزًا: یعنی الله پدے طریقه عذاب ورکولو باندے قادر او غالب دے۔

حَكِيْمًا: یعنی الله رحیم او کریم دے لیکن پدے کی ئې حکمتونه دی چه دے بندگانو ته دا قسم عذاب ورکړی۔

وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَنُدْخِلُهُمْ
او هغه کسان چه ایمان ئې راوړے او عملونه ئې کړی نیک زر دے چه داخل به کړو دوی
جَنَّاتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهَارُ خَالِدِيْنَ فِيْهَا
جنتونو ته چه بهیږی به لاندے د هغې نه نهرونه همیشه به وی دوی په هغې کی

أَبَدًا لَّهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَنُدْخِلُهُمْ
همیشه دپاره، د دوی دپاره به په هغے کې بیبیانے وی پاکے او داخل به کړو دوی لره
ظِلًّا ظَلِيلًا ﴿٥٧﴾
په سورې اُوږده کې (یا د آرام سورې)

تفسیر : پدے آیتِ کریمه کې د نیکبختنو انجام او عاقبت ذکر دے چه کوم خلق په محمد ﷺ، په قرآن کریم او په ټولو آسمانی کتابونو او رسولانو باندے ایمان راوړی او نیك عمل کوی نو الله به هغوی داسے جنتونو ته داخل کړی چه د هغے نه لاندے به نهرونه بهیږی او په هغے کې به دوی همیشه دپاره اُوسیږی او هلته به پاکیزه بیبیانے ملاویږی او دوی به د گڼړو باغونو لاندے آرام کوی۔

آیا په جنت کې سورې شته؟

ظِلًّا ظَلِيلًا : ظل سورې ته وائی او ظلیل صفت د ظِل دے او دا د عربو عادت دے چه کله نا کله دوی د یو شی دپاره د هغه شی د لفظ نه صفت جوړوی دے دپاره چه په زیات قوت باندے دلالت وکړی لکه ظل ظلیل یعنی گڼ سورې د آرام، او (لَيْلٌ لَيْلٌ) بنه پخه شپه۔

بعض سورې داسے وی چه پوره آرام پکې نهٔ وی نو پدے وجه ئے وفرمایل چه دا به داسے سورې وی چه آرام به ورکوی۔

او بخاریؒ او مسلمؒ د ابوسعید خدری ؓ نه مرفوع روایت کړیدے چه

((په جنت کې یوه داسے ونه ده چه که د هغے نه لاندے یو اس باندے سور انسان سلو کالو پورے مزل اُوکړی نو د هغے مسافت به رالاندے نکړی))۔

بیا دا سوال نهٔ پیدا کیږی چه سورے خو د نمر د پټیدو نه راپیدا کیږی او په جنت کې نمر نشته ؟ جواب دا دے چه ظل کلمه عامه ده چه د نمر د پټیدو د وجه نه سورے راپیدا شی او که بیخی نمر موجود نهٔ وی او سورے راپیدا شی لکه د صبح صادق نه تر نمر راختلو پورے وخت ته هم ظل وائی، البته د (فَيْءٌ) لفظ هغه سورې ته وائی چه نمر موجود وی خو د رڼا مخه ئے په څه شی باندے بنده شی۔ (عزیز التفاسیر ۱۸۸/۳)

فائده : د جهنمیانو دپاره ئے سوف لفظ استعمال کړو او د مؤمنانو دپاره د (سَنُدْخِلُ) څکه چه رحمت د الله تعالیٰ په غضب باندے مقدم دے۔

د تفسیر "**حكمة القرآن**" دریم جلد د الله په حمد او توفیق سره سرته ورسیدو

وصلى الله وسلم على نبينا محمد وآله وصحبه اجمعين

وسبحانك اللهم وبحمدك اشهد ان لا اله الا انت استغفرك واتوب اليك۔

اللهم احشرنا مع الانبياء والصديقين والشهداء والصالحين وحسن اولئك رفيقا - آمين۔

شعبان ١٥ / ١٤٣٥هجرى الموافق ٢٠١٤/جون/١٨ وكتبه **ابوزهير سيف الله**۔

يقول الشيخ :

او الحمد لله زهٔ د تصحيح او زيادت نه په يوم الاربعاء (٢/ذى القعده ١٤٣٥ هـ كى فارغ شوم،

بمدينة **الرياض** منفوحة، المملكة العربية السعودية،

اللهم تقبل منا انك انت السميع العليم وتب علينا انك انت التواب الرحيم وانفع به المسلمين والمسلمات يا رب العالمين۔

وكتبه ابو محمد امين الله البشاوري۔

خلورم جلد به ان شاء الله تعالیٰ د آیت (٥٨) إِنَّ اللهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا نه شروع كيږى بفضل الله وكرمه واحسانه وتوفيقه وامتنانه والله المستعان۔


خبردارے

ټولو ورونو مسلمانانو ته دا درخواست دے، كه زمونږ په دے كتاب يا بل كوم كتاب كى كتابتى يا علمى خطائى وينى نو د هغے نشاندهى كولو سره دِے مونږ ته خبر راكړى، يا دِئے په يو كاغذ كى ليكلو سره مونږ ته حواله كړى، د هغوى به ډير شكرگزار يو، دے دپاره چه په آينده ايډيشن كى د هغے اصلاح وشى، الله تعالىٰ دِے ورته ډير اجر وركړى۔

ستاسو ورور بنده ابوزهير سيف الله غفر له۔

المرقوم: ١٤٣٥ هـ ذى الحجه ٢٨/ الموافق : ٢٠١٤/١٠/٢٢ ليلة الخميس۔





فهرست تفسیر حکمة القرآن جلد (۳)

